تسہیلات

مشکوٰۃ

مولانا شاہ فیصل

تسهيلات

پښتو شرح

مشکواة

تاليف- مولانا شاه فيصل فاضل دارالعلوم اسلاميه چارسده

څلورم جلد (٤)

د شلو (٢٠) خصوصياتو سره چې لس (١٠) په کښې دا دی

① پيښوری پښتو سره بين القوسين د قندهاری پښتو د ګرانو ټکو اضافه
② د مشکاة د عربی او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه
③ په ترجمه کښې بين القوسين د مرقاة المفاتيح داضافی قيوداتو ترجمه
④ دحديث هرې جملې ته اود هغې ترجمې د آسانتيا دپاره نمبرې ورکول
④ په فهقی اختلافی مسئلو کښې مدلل او آسان مباحث
⑤ د اوږدو احاديثو د متن او ترجمې تقسيم
⑥ دهرحديث د صحاح سته وغيره څخه تخريج
⑦ د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتيح څخه د مشکلو لغات حل
⑧ دقوله په عنوان سره دحديث د هرې مشکلې جملې تشريح
⑨ دهرباب په اول کښې دهغې د احاديثو خلاصه
⑩ د کتاب په اول کښې د علوم الحديث مفيده مقدمه

خورنکې
فيصل کتب خانه محله جنګی پيښور
موبائل ٠٣١٥-٩٥٩٥٧١٧

دکتاب نوم : تسهيلات شرح مشكواة

شارح: مولانا پروفيسر شاه فيصل
فاضل وفاق المدارس، امدادالعلوم، جامعه اسلاميه چارسده
معاون مترجم:: عبدالكريم صديقى

د ملاويد پتې

- جديد اسلامي كتب خانه خوست
- المصباح كتب خانه كابل
- روغاليوال كتب خانه جلال آباد
- رحيمي كتب خانه خوست
- حرم كتب خانه كابل
- ديني كتب خانه ټيمر ګره
- تاج كتب خانه صوابي
- مكتبه خواجه عبدالله انصاري غزني
- مكتبه دارالاخلاص كابل
- مكتبه رحمانيه قندهار
- مكتبه رحمانيه كوئټه
- الوري كتب خانه قندهار
- نعمت كتب خانه كابل
- مكتبه علميه اكوړه خټک
- حقانيه كتب خانه ګرديز
- وطن دوست كتب خانه ګرديز
- إقرأ كتب خانه جلال آباد
- مكتبه معروفيه كوئټه
- مكتبه عمريه چمن
- مكتبه عباسيه ټيمر ګره
- مكتبه امير حمزة قندهار

اجمالی فہرست

••••••

د احادیثو د عنواناتو فهرست

....

فهرست اختلاف مذاهب

....

[٥٧/٤١]بَابُ صَلَاةِ السَّفَرِ

دَ سفر دَمونځ بيان

خلاصة الباب:-

فيه أحد وعشرون حديثاً مشتملة على تسع مسائل:

① ثبوت القصر فى الصلاة الرباعي: ١، ٢، ٤، ٥، ١٦، ١٥، ١١، ١٠، ٩، ١٧، ١٨۔

② القصر بالخروج من المصر إلى وقت الرجوع: ١، ٤۔

③ جواز القصر وقت الأمن: ٢، ٣۔

④ مدة الإقامة: ٥، ١٠۔

⑤ حكم أداء السنن فى السفر: ٦، ١١، ٢٠، ٢١۔

⑥ حكم الجمع بين الصلوتين في السفر: ٧، ١٢۔

⑦ جواز صلوة التطوع على الراحلة فى السفر: ٨، ١٣، ١٤۔

⑧ اتمام الصلاة فى السفر : ٩، ١٥، ١٦۔

⑨ مقدار مسافة السفر: ١٩۔

د صلاة السفر ثبوت:-

①وقال الله تعالى ﴿فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ﴾ [بقرة:١١٥]

② ﴿وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ﴾[نساء الايه:١٠١]

دسفر دلفظ لغوی تحقیق:- سفر یسفرنه سفرًا وسفورًا دَ سفر دَپاره روانیدوته وائی دَ لفظ سفر په ماده کښې دَانکشاف معنی پرته ده چنانچه اسفراسفارًاتفسر تفسیرًا او مسفرة ټولو الفاظو کښې کشف وانکشاف اودَوضاحت معنی پرته ده. بهرحال هغه سفرکوم کښې چه څه شرعی احکام متاثرکیږی مثلاً دَ رمضان روژې متاثرکیږی او په مونځونو باندې ددې داسې اثر پریوځی چه دَڅلوررکعتومونځ په دوؤ رکعتوکښې بدلیږی اودَسنن مؤکده تأکد ختمیږی اودَ جمع بين الصلوتين مسئله پیداکیږی چه آیا دَ سفردَ وجې نه جمع بين الصلوتين ګنجائش شته که نه؟ بهرحال دَدغه شرعی سفر یوڅو مواضع کښې تفصیل تحقیق اودَ فقهاؤ اختلاف دې. هم دا دَ یوڅومباحثو په عنوان سره بیانولې شی.

اول بحث دَ سفر مسافت:- دَ څومره فاصلې سفرکولوسره سړې شرعی مسافرجوړیږی اوده ته شرعی آسانتئ قصرصلوة اوافطارصوم حاصلیږی په دې مسافت کښې دَ فقهاؤ کرامو اختلاف دې.

د سفر په مقدار کښې مذاهب

① بعضې اهل ظواهر اوغیرمقلدین حضراتو په نیزدَ قصرصلوة دَپاره دَ سفرڅه حد متعین نه دې بلکه مطلق سفردَ قصر دَپاره کافی دې. مودودی صاحب هم تقریبًا هم دا مسلك خپل کړې دې. مګر دَعامو اهل ظواهر په نیزقصرصلوة دَپاره درې میله اندازه باندې دَ سفرکیدل ضروری دی اوهم دغه مقدارموجب قصردې

② جمهورفقهاء فرمائی چه په دومره کمه اندازه باندې سفرسره قصرصلوة جائزنه دې

داول فریق اول دلیل:- غالبًا ددوی استدلال دحضرت انس رضی الله عنه ([1])د روایت نه دې چه ((کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذاخرج مسیرة ثلاثة امیال اوثلاثة فراسخ)شعبه شك)یصلی رکعتین))

د اول فریق د دلیل جواب:-د دې مطلب دا ن دې چه صرف ددریو میلو په سفر کښې قصر اوکړه بلکه مطلب دا دې چه سفر خو ددریو میلو نه زیات به وو خوددوی ددریو میلو یا دریو فرسخو په فاصله باندې قصر کول مشروع کړی وو.بهرحال په دې باب کښې څه صریح حدیث مبارك مرفوع نشته دې

داول فریق دویم دلیل:- اهل ظواهر داؤد ظاهری اوغیرمقلدینومشکاة د باب صلاة المسافر دَ رومبی حدیث دَ ظاهری الفاظونه استدلال کړې دې چه حضوراکرم "صلی القصر بذي الحلیفة رکعتین" ذوالحلیفه کښې دوه رکعته دَقصرمونځ کړې اوذوالحلیفه دَمدینې منورې نه تقریبًا درې میله فاصله باندې ده.

داول فریق د دویم دلیل جواب:- په دې حدیث باندې استدلال غلط دې ځکه چه حضورپاك صلی الله علیه وسلم دَمدینې نه صرف ذوالحلیفه ته نه تللو بلکه دَ مدینې نه مکې ته تللو چه دَ پنځوسوو میلونه زیات سفردې.اودا خبره مونږ هم منو چې کله یوکس د سفر په مسافت باندې د خپل کلی یا ښارد آبادۍ څخه بهرشی نوهغه به قصر شروع کوی.

د دویم فریق دلائل:- ① دَ قرآن آیت ﴿أَوْعَلٰى سَفَرٍ﴾ دَ یومعتدبه سفرتقاضاکوی ځکه چه علی دَ استعلاء دَپاره دې لکه چه داسې دَ سفرپه سټ باندې یوشان سوردې.

② عن سالم ان ابن عمروخرج إلى أرض له بذات النصب فقصروهي ستة عشر فرسخا(٤٨میل)([2])

③ عن علی بن ربیعة الوالبی قال : سالت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما إلى کم تقصر الصلاة؟ فقال أتعرف السویداء قال قلت:لاولکنی قدسمعت بها،قال: هی ثلاث لیال قواصد فإذا خرجنا إلیها قصرنا الصلاة([3])

---

[1]) سنن ابی داود (ج/ ١، ص/ ١٧٠) باب متی یقصر المسافر)مرتب عفی عنه)-

[2]) مصنب ابن ابی شیبة (ج/ ٢ ، ص/ ٤٤٥) فی مسیرة کم یقصر الصلوة

[3]) قال النیموی رواه محمد بن الحسن فی الاثار واسناده صحیح اثار السنن (ج/ ، ص/ ٢١٤) باب ما استدل به علی ان مسافة القصر ثلاثة ایام،

دويم بحث:

د جمهورو په خپل مينځ کښې د سفر په مقدار کښې مذاهب

① بیا دَ جمهورو په خپل مینځ کښې لږشان اختلاف دې. امام مالك رحمه الله امام شافعي رحمه الله اوامام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي چه دَ ښار آبادي مصرنه وتلونه پس ۴۸ میله مسافت موجب قصردې دې نه کم نه دې اوصرف دَ سفراراده هم کافي نه ده بلکه دَ ښار دَ مضافات نه وتل ضروري دی. دَدې حضراتو په نیز په اصل کښې شرعي سفر څلوربرید یا شپاړس فرسخ مسافت دې یو برید دولس میله وی او یوفرسخ درې میله وی. نودَدواړو اطلاقاتو نتیجه ۴۸ میله راؤځي لهذا دَ شرعي سفرمسافت ۴۸ میله دې.اونن صبا په کلو میټروسره حساب کیږی نو ۴۸ (اته څلویښت)میله ۷۶ (شپږ اویا) کلومیټره جوړیږی.

② دَامام ابوحنیفه رحمه الله اصل مسلك درې مراحل دی دَ یواطلاق درې منازل دی دَیواطلاق دادې چه متوسط سفرسره درې ورځې سفرموجب قصرصلوة دې. دَمتوسط سفرمطلب دادې چه دَپیدل سړی چال یادَ اوښ په چال باندې دکال دَ ټولونه وړو ورځوکښې سړې دَ سحرنه دَغرمې پورې سفراوکړی دامطلب نه دې چه دَ سحرنه ترماښام پورې سفر اوکړی نو بهرحال یوه ورځ یایومنزل یادَ یوې مرحلې سفرمسافت تقریبًا ۱۶ میل وی نودَنتیجې په اعتبارسره دَامام صاحب قول هم دَ جمهورو طرف ته راګرځي صرف لفظ اختلاف دې اوکه چرې فرق هم وی نودَاحنافو علماؤدَ عوامودَ آسانئی دَپاره دَ جمهورو په قول ۴۸میل باندې یا ۷۸کلومیټرمسافت په سفرباندې اووتلواوځنګه دَخپل کلي یا ښاردَ آبادئی نه بهراووتلو نویه ده باندې به دَ قصر حکم نافذ شي.

د دويم فريق دلائل:-

① جمهورو دَ دې باب دَ فصل ثالث دَحدیث نمبر(۱۳۵۱) نه استدلال کړې دې الفاظ داسې دی: "وعن مالك بلغه ان ابن عباس كان يقصر الصلوة في مثل مايكون بين مكة والطائف وفي مثل مابين مكة وعسفان وفي مثل مابين مكة وجدة قال وذلك اربعة برد". (رواه مالك في المؤطا)

② دَ جمهورودويم دليل دَحضرت علی رضی الله عنه حدیث دې کوم چه مسلم شریف کښې دې الفاظ دادی: "جعل النبي صلي الله عليه وسلم ثلاثة ايام ولياليهن للمسافر" هم دَدې روایت نه استدلال په داسې توګه دې چه حضوراکرم دَ مسافردَ حیثیت اوشرعي احکامو دَبدلیدو دَپاره درې ورځې مقرر کړی دی. که چرته دَدریوورځوسفروی نومسح علی الخفین دریو ورځو پورې ده ګنی سفرنه دې اوکله چه دَ دریوورځونه کم سفرنه جوړیږی نومسح دَ دریو ورځوپه ځائی به یوه ورځ اویوه شپه پورې وی کوم چه دَمقیم دَپاره دې.

③ جمهورودَ حضرت ابن عمر ، حضرت سويدبن غفله رضی الله عنه دَ اثرنه هم استدلال کړې دې

الفاظ دادي: "اذا سافرت ثلاثاً فاقصر" (کتاب الآثار لمحمد) دَدې رواياتونه په واضحه توګه ثابتيږي چه موجب قصرصلوة مسافت يومعين محدود اومعدود مسافت دې نه داچه څنګه هم سفروی هغه موجب قصر دې خواه قصير وی اوکه کثير.

دريم بحث:-

د قصر په وجوب او جواز کښې مذاهب

په سفر کښې دقصر او رباعی مونځونو نصف کيدل په مشروعيت باندې اجماع ده البته دې کښې اختلاف دې چه قصر واجب دې او که جائز؟

① د امام شافعی رحمه الله په نزد قصر رخصت دې اواتمام جائز دې بلکه افضل دې.([1])

② دُ امام مالك رحمه الله اود امام محمد رحمه الله يو يو روايت د دې مطابق دې او د دوی نور روايتونه قصر افضل ګرځوی.

③ د احنافو په نزد قصر عزيمت يعنی واجب دې ، په دې وجې د قصر پريښودل او اتمام ناجائز دې.

داول فريق اول دليل:- د امام شافعی رحمة الله عليه استدلال دقران پاك د دې آيت مبارك نه دې چه ﴿وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلٰوةِ﴾ ([2]) دې کښې ﴿فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ﴾ ([3]) الفاظ دې چه دال په دې دې چه قصر کولو کښې هيڅ حرج نشته دې.اودا الفاظ د اباحت دپاره استعماليږی او د واجبو دپاره نه.

د اول فريق د اول دليل څخه جوابونه:-

① د دې جواب دا دې چه نفی دجناح يو داسې تعبير دې چه په واجبو باندې هم صادق راځی.او دا داسې ده لکه چه دسعی باره کښې فرمائی چه ﴿فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا﴾ ([4]) او حال دا دې چه سعی بالاتفاق واجب ده.

② په حقيقت کښې دا آيت د قصر فی السفر متعلق نه دې.بلکه د صلوی خوف سره متعلق دې او د دې باره کښې نازل شوې دې.ګويا دې آيت مبارك کښې قصر نه مراد قصر فی الکيفيت دې ، قصر فی الکميت نه دې.اودهغې دليل دا دې چه دې کښې مخکښې تير شو چه ﴿وان خفتم ان يفتنکم الذين کفروا﴾ قيد لګولې دې.حال دا دې چه قصر فی السفر دچا په نزد هم حالت د خوف سره مشروط نه دې ، په دې صورت کښې

---

[1]) فی مذهب الشافعی تفصيل ذا القصر افضل فی مواضع والاتمام فی مواضع انظر شرح المهذب (ج/ ٤ ، ص/ ٣٣٥ ؛ کذافی معارف السنن (ج/ ٤ ، ص/ ٤٥٤) مرتب عفی عنه)-

[2]) سوره نساء جزء نمبر ٥ رقم الايه نمبر ١٠١ مرتب عفی عنه)-

[3]) سورة بقره جزءنمبر ٢ رقم الايه نمبر١٥٨، مرتب عفی عنه)-

به البته ﴿ لیس علیکم جناح ﴾ په خپل حقیقی حالت محمول وی او دې نه به هم دا اباحت معنی مراد وی.حافظ ابن جریر رحمه الله او حافظ ابن کثیر رحمه الله هم دا تفسیر کړې دې. او دحضرت مجاهد رحمه الله او دبعضو نورو تابعینو همدا تفسیر نقل شوې دې.په احنافو کښې صاحب د بدائع هم دې ته ترجیح ورکړې ده.(١)

اشکال:- البته په دې تفسیر کښې مسلم (٢) دیو حدیث مبارک نه اشکال کیدیشی چه کوم د حضرت یعلی بن امیه نه مروی دې.((قال قلت لعمر بن الخطاب ﴿فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَوٰةِ﴾ فقد امن الناس فقال عجبت مما عجبت منه فسألت عن ذالك فقال صدقة تصدق الله بها علیکم فاقبلوا صدقته)) د دې نه په ظاهره معلومیږی چه حضور نبی کریم ﷺ هم دا آیت دصلوة السفر سره متعلق ګرځولې دې.د صلوة خوف سره نه.

د اشکال جواب:- د دې جواب دا دې چه دقصر صلوٰة اجازت د دې آیت دنزول نه مخکښې راغلې وو.(٣)

بیا چه کله دا آیت مبارک نازل شو نو دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه په ذهن داشبه پیدا شوه چه شاید دې آیت مبارک دقصر صلوة عمومی اجازت منسوخ کړو. او دصلوة خوف سره ئې مشروع کړه.په دې بناء دوی د حضور نبی کریم ﷺ نه سوال اوکړو.حضور نبی کریم ﷺ په جواب کښې اوفرمائیل چه ((صدقة تصدق الله بها علیکم فاقبلوا صدقته)) چه دهغې حاصل دا دې چه قصر سفر دالله ﷻ د طرفنه په تاسو یو صدقه ده.چه کومه اوس هم ده او دې آیت هغه منسوخ کړې نه ده ځکه چه دا آیت مبارک دقصر سفر باره کښې نه دې.بلکه د صلوة خوف باره کښې دې.

② په سنن نسائی (٤) کښې د حضرت عائشه رضی الله عنها یو روایت د دوی دلیل دې چه ((انها اعتمر مع رسول الله ﷺ من المدینة الی مکة قالت یارسول الله ﷺ! بابی انت وامی قصرت واتممت وافطرت وصمت قال احسنت یاعائشه وماعاب علی)) دې نه معلوم شوچه په سفر کښې اتمام جائز بلکه بهتر دې.

د اول فریق د دویم دلیل څخه جوابونه:-

① ړومبئ خو دې روایت کښې علاء بن زهیر متکلم فیه دې.

② حدیث مبارک مضطرب دې کما قال الماردینی (٥)

(١) تفصیل دپاره معارف السنن (ج/ ٤ ، ص/ ٤٦١) مرتب عفی عنه)-
(٢) (ج/ ١ ، ص/ ٢٤١) کتاب الصلوه المسافرین وقصرها)مرتب عفی عنه)-
(٣) معارف السنن (ج/ ٤ ، ص/ ٤٦١ تا ٤٦٣)مرتب عفی عنه)-
(٤) کتاب التقصیر فی السفر باب المقام الذی یقصر بمثله الصلوة (ج/ ١ ، ص/ ٢١٣) وسنن کبری بیهقی (ج/ ٣ ، ص/ ١٤٢) باب من ترک القصر فی السفر غیر رغبة عن السنة)-
(٥) الجوهر النقی فی ذیل السنن الکبری للبیهقی (ج/ ٣ ، ص/ ١٤٢) باب من ترک القصر فی السفر غیر رغبة عن السنة)-

③حافظ زيلعی د دې حديث مبارك متن منكر ګرځولې دې.او د صحيحينو ()په حواله سره ئې د حضرت انس ؓ روايت نقل كړې دې.((حج النبی ﷺ حجة واحدة واعتمر اربع كلهن فی ذي القعدة الا التی مع حجته))د دې نه معلوميږی چه حضور نبی كريم ﷺ يو عمره هم په رمضان كښې نه ده كړې.

د اول فريق د طرفه د دې اعتراض جواب:- بعضو شوافعو د دې دا توجيه كړې ده چه دا دفتح مكه واقعه كيديشی ځكه چه فتح مكه په رمضان كښې شوې وه.([2])

د جواب ضعف:- خودا توجيه ځكه صحيح نه كيديشی چه حضرت عائشه ؓ د حضور نبی كريم ﷺ سره نه وو.([3]) بلكه په آزواجو مطهراتو كښې حضرت ام سلمه ؓ او حضرت زينب ؓ د حضور نبی كريم ﷺ سره وې.([4]) پ دې وجې دا روايت معلول دې.او په تاريخی اعتبار سره د حضور نبی كريم ﷺ د په يو سفر هم نه منطبق كيږی. نود دې نه استدلال كول صحيح نه دی.

تسليمی جواب:- اوكه بالفرض دا حديث مبارك صحيح اوګرځولې شی او دا اومنلې شی چه د فتح مكه په وخت حضرت عائشه ؓ ورسره وه.نو دې جواب دا دې چه حضور نبی كريم ﷺ په دې سفر كښې دپنځلسو ورځو يا د دې نه زيات په مكه مكرمه كښې مقيم وو.([5]) دغه وخت حضور نبی كريم ﷺ دا خيال كړې وو چه حضور نبی كريم ﷺ به يو طويل مدت په مكه مكرمه كښې قيام نيت نه وو كړې.([6])

خوممكن ده چه حضرت عائشه صديقه ؓ داخيال كړې وی چه حضور نبی كريم ﷺ به يو طويل مدت په مكه مكرمه كښې قيام كوی په دې بناء دوی په اتمام عمل اوكړو.او روژې ئې ساتلې وې.او حضور نبی كريم ﷺ په دې حيثيت سره دحضرت عائشه ؓ تحسين كړې وی.

④په دار قطنی ([7]) د كښې د حضرت عائشه ؓ ديوبل روايت نه دې چه ((ان النبی ﷺ كان يقصر فی السفر ويتم ويفطر ويصوم)) امام دار قطنی ؒ د دې

---

[1]) صحيح بخاری (ج/١ ، ص/ ٢٣٨) ابواب العمرة باب كم عتمر رسول الله ﷺ و صحيح مسلم (ج/ ١ ، ص/ ٤٠٩) كتاب الحج بيان عدد عمر النبی ﷺ وزما نهن . شيخينو دا روايت د الفاظو په فرق سره ذكر كړی دی مرتب عفی عنه)-

[2]) لكه چه دحضرت ابن عباس ؓ نه مروی دی چه ((ان رسول الله ﷺ غزا غزوة الفتح فی رمضان صحيح بخاری (ج/ ٢ . ص/ ٦١٢) كتاب المغازی باب غزوة الفتح فی رمضان مرتب عفی عنه)-

[3]) (ج/ ٣ . ص/ ٣٧٤) قبيل باب الصلوة فی ا لكعبة مرتب عفی عنه)-

[4]) معارف السنن (ج/ ٤ ، ص/ ٤٦٠) بحواله المواهب علامه كاندهلوی ؒ سيرت المصطفی ﷺ (ج/ ٢ . ص/ ١٣) غزوة الفتح الاعظم مدينة منوره)-

[5]) اقامة خمسة عشر او سبعة عشر اوثمانية يوما علی اختلاف الروايات كذا فی المعارف (ج/ ٤ . ص/ ٤٦٠)مرتب عفی عنه)-

[6]) لانه كان يريد ان يخرج الی حنين مرتب عفی عنه)-

[7]) سنن دار قطنی (ج/ ٢ . ص/ ٤٤) كتاب الصيام باب القبلة للصائم مرتب عفی عنه)-

حدیث مبارك سند صحیح ګرځولی دی.

د اول فریق د دریم دلیل څخه جواب: -د حدیث مبارك مطلب دا کیدیشی چه حضور نبی کریم ﷺ په ورو کی سفر کښې چه کوم ددرې مراحلو نه کم وی اتمام کولو او د درې مواحلو نه زیات سفر کښې به ئې قصر کولو.

مشترکه جواب: -دحضرت عائشه رضی الله عنها د پورته ذکر شوی روایتونو نه یومشترکه جواب دا دې چه حضرت عائشه رضی الله عنها په سفر حج کښې اتمام کولو.چه د حضرت عروه رضی الله عنه نه سوال اوکړو چه ([1]) ((ما بال عائشه رضی الله عنها تتم ؟ قال تاولت ماتاول عثمان)) یعنی چه په کوم تاویل سره حضرت عثمان رضی الله عنه په مکه مکرمه کښې اتمام کولو ددغه رنګ تاویل په بناء باندې حضرت عائشه رضی الله عنها هم اتمام کوی.اوس که د حضرت عائشه رضی الله عنها سره په جواز داتمام باندې څه حدیث مرفوع وی نو حضرت عروة به دانه وئیل چه ((تاولت ما تاول عثمان ، ثم ان التشبیه فی نفس التاویل لا فی اتحاد تاویلها کما فی المعارف)).بلکه د دې حدیث مبارك حواله به ئې ورکوله.دحضرت عروة د قول نه ظاهره ده چه دحضرت عائشه رضی الله عنها سره په دې باره کښې هیڅ مرفوع حدیث مبارك نه وو([2]).بلکه دا ددوی خپل اجتهاد وو. لکه څنګه چې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په حقیقت کښې د حضرت عائشه رضی الله عنها په نزد دقصر مدار په وجود دمشقت باندې دې او دا ددوی اجتهاد دې ، لکه چه دحضرت عروه نه دحضرت عائشه رضی الله عنها باره کښې روایت دې چه ((انها کانت تصلی فی السفراربعا ، فقلت لها لوصلیت رکعتین فقالت یا ابن اختی انه لایشق علی ([3])په دې وجې پورته ذکر شوی دواړه احادیث چه کوم حضرت عائشه رضی الله عنها ته منسوب دی یا خو صحیح نه دی یا د دې څه بل مطلب دې.علامه ابن تیمیه رحمه الله خود دې په جواب کښې وضاحت سره دا وئیلی دی چه ((هو کذب علی رسول الله ﷺ.([4])

داول فریق څلورم دلیل: -دحضرت عثمان رضی الله عنه عمل دلیل دې چه هغوی به مکه مکرمه کښې اتمام کولو.([5])

د اول فریق د څلورم دلیل څخه جوابونه: --

① حضرت عثمان رضی الله عنه په مکه مکرمه کښې کور جوړ کړې وو او ددوی اجتهاد داوو چه

---

[1]) صحیح البخاری (ج/ ١ ، ص/ ١٤٨) ابواب التقصیر الصلوة باب یقصر اذا خرج من موضعه ، .)-

[2]) کما فی التلخیص الخبیر (ج/ ٢ ، ص/ ٤٤) رقم/٦٠٣، کتاب الصلوة المسافرین،)-

[3]) بیهقی (ج/ ٣ ، ص/ ١٤٣) باب من ترك القصر فی السفر غیر رغبة عن السنة کذا فی الفتح الباری (ج/ ٢ ، ص/ ٤٧١) باب یقصر اذا خرج مو موضعه

[4]) کذا فی معارف البنوری رحمه الله (ج/٤ ، ص/ ٤٥٩) مرتب عفی عنه)-

[5]) عن عبدالرحمن بن یزید قال صلی عثمان بمنی اربعا ، لیکن عبدالرحمن بن یزید فرمائی چه ((حتی بلغ ذالک عبدالله فقال لقد صلیت مع رسول الله رکعتین سنن نسائی (ج/ ١ ، ص/ ٢١٢) کتاب تقصیر الصلوة فی السفر باب الصلوة بمنی .)-

کوم ښار کښې دچا کور وی نو په هغه ښار کښې اتمام واجب دې.

② بعضو حضراتو فرمائیلی دی چه دحضرت عثمان رضی الله عنه د اتمام وجې دا وه چه هلته دحج په موقع د اعرابو اجتماع کیدله.اوکه دوی هغه ځائې کښې قصر کولې نو د دې خبرې خطره وه چه اعرابو به دا خیال کولو چه ټول مونځونه دوه رکعته کوی.په دې وجې دوی رضی الله عنه دهغوئ دتعلیم په خاطر داقامت نیت اوکړو.او اتمام ئې مناسب خیال کړو.([1])

د دویم فریق دلائل :-

① په صحیحینو([2])کښې د حضرت عائشه رضی الله عنها روایت دې فرمائی چه ((الصلوة اول ما فرضت رکعتان فاقرت صلوة السفر واتمت صلوة الحضر للبخاری)) اود مسلم په روایت کښې ((وزید فی صلوة الحضر)) الفاظ مروی دی.

دې نه معلوم شوچه سفر کښې دوه رکعته د تخفیف په بناء نه دی بلکه په خپله اصلی فریضه پاتې ده ، دې نه دا عزیمت دې نه رخصت.

② سنن نسائی ([3])کښې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه نه مروی دی چه ((صلوة الجمعة رکعتان و الفطر رکعتان والنحر رکعتان والسفر رکعتان تمام غیر قصر علی لسان النبی صلی الله علیه وسلم)).

③ په نسائی ([4])کښې د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دی چه ((قال ان الله عزوجل فرض الصلوة علی لسان نبیکم صلی الله علیه وسلم فی الحضر اربعا وفی السفر رکعتین الخ)).

④ دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه هغه حدیث مبارك مخکښې تیر شوي دي چه په هغې کښې حضور نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ([5]) ((صدقة تصدق الله بها علیکم فاقبلوا صدقته)).

⑤ دمورق روایت دې فرمائی چه ((سالت ابن عمر رضی الله عنهما عن الصلوة فی السفر فقال رکعتین رکعتین من خالف السنة کفر)).([6])

⑥ دجهوروصحابه کرام رضی الله عنهم مسلك هم داحنافو مطابق دي.والله اعلم.

....

[1]) فتح الباری (ج/ ٢ ، ص/ ٤٧١))-

[2]) بخاری (ج/ ١ ، ص/ ١٤٨) ابواب تقصیر الصلوة باب اذا خرج من موضعه صحیح مسلم (ج/ ١ ، ص/ ٢٤١) کتاب الصلوة المسافرین وقصرها ،)-

[3]) (ج/ ١ ، ص/ ٢١١) باب صلوة السفر.. مرتب عفی عنه)-

[4]) (ج/ ١ ، ص/ ٢١٢) باب صلوة السفر.. مرتب عفی عنه)-

[5]) صحیح مسلم (ج/ ١ ، ص/ ٢٤١) کتاب صلوة المسافرین وقصرها مرتب عفی عنه)-

[6]) راوه الطبرانی فی الکبیر ورجاله الصحیح مجمع الزوائد (ج/ ٢ ، ص/ ١٥٤ ، ١٥٥) باب صلوة المسافر.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٣٣٣]د نبي ﷺ د قصر مونځ

١٣٣٣-(١)[١] ١ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ٢ «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهْرَ بِالْمَدِينَةِ أَرْبَعًا، ٣ وَصَلَّى الْعَصْرَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت انس رضي الله عنه فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ په مدينه کې د ماسپښين مونځ څلور رکعاته وکړو ٣ او په ذي الحليفه کې يې د مازيګر مونځ دوه رکعاته وکړو. (بخاري، مسلم)

تسهيلات:- قوله : بِالْمَدِينَةِ أَرْبَعًا:

د غيرمقلدينو غلط استدلال:- اول خودلې شوې دې چه رسول الله ﷺ په دې سفرکښې نه يوازې دَ ذو الحليفه پورې بلکه دَمکې په سفرباندې روان وو. لهذا غيرمقلدين دَدې نه استدلال نه شي کولې چه دَ دريو ميلو په فاصله باندې سفرکښې قصر کيږي.

د ذوالحليفه او مدينې په منځ کښې فاصله:- ذوالحليفه دَ مدينې منورې نه بهر ده لهذا دَ جمهورو هم دغه مسلك دې چه کله دَښار يا کلي دَ حدود نه سرې اوځي او ٤٨ ميل يعنى ٧٨ کلوميټر په نيت باندې ځي نوهغه شرعي مسافر دې. ترکومې چه دکلي دَ حدود نه وتلې نه دې صرف دَ سفر په اراده او نيت سره سړې مسافر نه جوړيږي او نه په هغه باندې دَ مسافر احکام نافذ کيږي.

[١٣٣٤]په منى اوعرفات کښې د مونځ قصر

١٣٣٤-(٢)[٢] ١ وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ الْخُزَاعِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ٢ «صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ أَكْثَرُ مَا كُنَّا قَطُّ ٣ وَآمَنُهُ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حارثه ابن وهب خزاعي رضي الله عنه فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ مونږ ته په منى کښې دوه رکعاته مونځ راکړو او په هغه موقع مونږ په دومره تعداد کې وو چې د هغه څخه مخکې هيڅ کله نه وو ٣ او ډيرد امن په حالت کې وو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① قَطُّ: داسم ظرف صيغه ده، راځى دپاره د تاکيد دنفى په زمانه ماضى کښې، معنى ئې ده هيڅ کله هم، ② آمَنُهُ: په امن کښې،

---

[1] اخرجه البخارى كتاب الحج/باب من بات بذى الحليفة حتى أصبح (رقم-١٥٤٧) ومسلم كتاب الصلاة/باب صلاة المسافرين وقصرها (رقم-١١ - (٦٩٠) وابوداود كتاب الصلاة،باب متى يقصر المسافر؟ (رقم-١٢٠٢) والترمذى كتاب السفر/باب التقصير فى السفر (رقم-٥٤٦) والنسائى كتاب الصلاة/باب عدد صلاة الظهر فى الحضر (٤٦٩-٤٦٩)

[2] اخرجه البخارى فى كتاب الحج/باب الصلاة بمنى (رقم-١٦٥٦) ومسلم فى كتاب الصلاة/باب قصر الصلاة بمنى (رقم-٢٠ - (٦٩٦))

تسهیلات:- قوله : وَنَحْنُ أَكْثَرُمَاكُنَّا:

د مذکوره جملې ترکیب:-دا جمله حالیه اوما مصدریه دې. شیخ عبدالحق رحمه الله دَدې جملې په ترکیب کښې ډیر څه لیکلی دی او پورته چه کوم تقدیری عبارت راویستلې شوې دې دا دَټولونه آسان صورت دې. مطلب دا چه حضوراکرم ﷺ په منی کښې قصر مونځ په داسې حالت کښې ورکړو چه مونږ په هغه زمانه کښې دَ ټولو نه په زیات امن کښې وو اودَ ټولو نه په زیات شمیرکښې هم وو. په دې حدیث کښې صحابی رضی الله عنه دا خودل غواړی چه دَ قصر دَپاره دکافرانو حمله یا ویره څه شرط نه دې بلکه دَ امن په حالت کښې هم په سفرکښې قصر کولې شی.

په منی کښې د نبی صلی الله علیه وسلم د قصر په سبب کښې مذاهب

حضورپاك ﷺ چې په منٰی کښې کوم دوه رکعته کړی وو . ددې په علت کښې د فقهاؤ دوه اختلاف دې

① امام مالك رحمه الله فرمائی چه دا قصرالحج یعنی دَ حج په ورځوکښې عرفات مزدلفه اومنٰی کښې چونکه ډیره زیاته ګڼره وی په دې وجه دَ آسانتیا په وجه په دې ځایونوکښې په څلور رکعتیز مونځ کښې قصر کولې شی. بل دَ جمعې مونځ په دې ځایونوکښې نشته دې اودَ لوئی اختر مونځ هم نشته دې او په عرفات او مزدلفه کښې خو به جمع بین الصلاتین باندې عمل کیږی دا ټول دَآسانتئی پیدا کولودَ وجې نه دی.

② جمهور علماء فرمائی چه دا قصرالحج نه دې بلکه قصر مونځ دَ سفردَ وجې وو لهذا کوم سړې چه مسافر وی هغوی دې په دغه ځایونو باندې په قصر سفرباندې عمل کوی لیکن چه کوم سړې مقیم وی هغه به قصر نه کوی.

د احنافو رائې:-په تسهیلات شرح مشکاة کښې دی چې په عرفات کښې بین الصلوتین کښې هم دا اصول مخې ته ساتلوسره مقیم سړې شریکیدې نه شی ځکه چه دَمقیم دَپاره قصر جائز نه دې اودَ جمع بین الصلوتین دَپاره شرط دادې چه سړې په دغه عام اجتماع دَ امام په اجتماعی مونځ کښې شریك شی او جمع بین الصلوتین اداکړی لهذا یوحنفی ځان له په خپله یواځې باندې جمع بین الصلوتین هم نه شی کولې. دا دَ امام صاحب مسلك دې. دَ صاحبینو په نیز جماعت او اجتماع شرط نه ده ځان له هم جمع بین الصلوتین جائز دی سره دَدې چه رومبې قول راجح دې.

تنبیه:-دَاحنافودَ فقهاؤ په کتابونومثلاً شامی کښې احنافو ته مشوره ورکړې شوې ده که څوك مسافر نه وی نوخپل مونځ دې نه خرابوی اودَ قصر کوشش دې نه کوی بلکه ځان له دې کامل اومکمل مونځ اداکړی. دَ بحرالرائق په هامش باندې حاشیه شامی ابن عابدین ده په هغې کښې هم دغه شان لیکلی دی. (بحر ج٢ص٣٣٧)

په سعودي کښې معمول به مسلک: - نن صبا په عرفات او منی کښې سعودي علماء قصر کوی چه دَامام مالك رحمه الله نه علاوه دَ تولو مسالکو دَپاره دَ پریشانئی سبب دې. کله کله دَ سعودی حکومت دَ عرفات دَمونځ دَپاره داسې امام راولی چه پخپله مسافر وی دې دَپاره چه قصر مونځ صحیح شی. عموماً نن صبا هم په دې باندې عمل کیږی چه امام مسافر وی.

دامام مالك په مذهب فتوی ورکول: - دَ احنافو څه علماؤ دا هم لیکلی دی که چرې په دې مسئله کښې دَ امام مالك په مسلك باندې عمل اوکړې شی نودا عمل هم جائز دې څکه چه ځان له مونځ کولو کښې لوئی حرج دې او "الحرج مدفوع فی الشرع" یوه قاعده ده. او یادې دا اوکړی چه په دې مسئله کښې دې هم دَ امام مالك رحمه الله مسلك خپل کړې شی او په دې باندې دې فتوی ورکړې شی او اوودې وئیلې شی چه دلته قصر سفر نه دې بلکه قصر الحج دې. بهرحال په دې حدیث کښې صحابی دا خودل غواړی چه دَ قصر مونځ دَپاره دا شرط نه دې چه دکافرانو ویره دې وی بغیرد ویرې دَ امن په حالت کښې هم چه کله سفر وی نوقصر جائز دې. په آیت کښې دَ "ان خفتم" قید اتفاقی دې. چنانچه په راتلونکی روایت کښې دَدې تصریح موجود ده.

[۱۳۳۵] د قصر په آیت کښې د خوف قید او د هغې وضاحت

١٣٣٥-(١)[٣] وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قُلْتُ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، [٢] إِنَّمَا قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: ﴿أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ [٣] إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ [النساء:١٠١] [٤] فَقَدْ أَمِنَ النَّاسُ، [٥] قَالَ عُمَرُ: عَجِبْتُ مِمَّا عَجِبْتَ مِنْهُ، [٦] فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صلى الله عليه وسلم [٧] فَقَالَ: "«صَدَقَةٌ تَصَدَّقَ اللَّهُ بِهَا عَلَيْكُمْ، [٨] فَاقْبَلُوا صَدَقَتَهُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] یعلی ابن امیه رضی الله عنه فرمایي چې ما امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته عرض وکړو [٢] چې د الله جل شانه ارشاد دي چې کم مونځ کوئ (یعني قصر کوئ) [٣] که تاسو ته دا ویره وي چې کافر به تاسو ته تکلیف ورسوي [٤] (نو) اوس هر کله چې خلق په امن کې دي او د کافرانو څخه خوف نشته نو د قصر څه ضرورت دي؟ [٥] نو حضرت عمر رضی الله عنه وفرمایل په څه چې تا ته تعجب دي په دې ماته هم تعجب راغلي وو [٦] ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په دې باره کې پوښتنه وکړه [٧] نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې په (قصر په لمانځه کې) د الله یو احسان دي چې په تاسو یي کړي دي [٨] نو تاسو د هغه صدقه (یعني احسان) قبول کړئ. (مسلم)

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب صلاة المسافرین وقصرها/باب صلاة المسافرین وقصرها (رقم) ٤ - (٦٨٦) وابوداود کتاب الصلاة،باب صلاة المسافر (رقم-١١٩٩) والترمذی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة النساء (رقم-٣٠٣٤) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب تقصیر الصلاة فی السفر (رقم-١٠٦٥)

تسهيلات: - قوله: إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمْ:

د قصر د حکم اطلاق: - يعنی دَقصرحکم دکافرانودَ ويرې اودَهغوی دَ حملو او فتنوسره تړلې نه دې بلکه دا يوه آسانی ده چه الله تعالی په مسلمانانوباندې په حالت دَ سفرکښې احسان اوانعام کړې دې. دَدې حديث نه يوه خبره دامعلومه شوه چه قصر مونځ دَ کافرانو په ويره باندې موقوف نه دې بلکه دا يوه آسانی ده چه دَالله تعالی دَ طرف نه مسلمانانو مسافرانوته ورکړې شوې ده. دويمه خبره دَدې حديث نه دامعلومه شوه چه قصر فی السفر دَالله تعالی انعام اواحسان دې په بنديګانوباندې دَدې قبلول واجب دی لهذا قصر عزيمت او رخصت اسقاط دې رخصت ترفيه اختياريه نه دې اوهم دَغه دَاحنافو مسلك دې.

[١٣٣٦] دَاقامت موده

١٣٣٦ –(١)[٣] ١ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ «خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى مِنَ الْمَدِينَةِ إِلَى مَكَّةَ، ٣ فَكَانَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ، حَتَّى رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ، ٤ قِيلَ لَهُ: أَقَمْتُمْ بِمَكَّةَ شَيْئًا؟ ٥ قَالَ: "أَقَمْنَا بِهَا عَشْرًا»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ انس رضی الله عنه فرمايي ٢ چې د رسول الله ﷺ سره مونږ د حجة الوداع په موقع د مديني څخه مکي ته لاړو ٣ او حضور ﷺ (څلور رکعاته لمونځ) دوه دوه رکعاته وکړل تر دي چې مونږ مديني ته واپس راغلو ٤ د حضرت انس رضی الله عنه څخه پوښتنه وشوه چې آيا تاسو خلق په مکه کې څه ورځي پاتې شوې وئ؟ ٥ انس رضی الله عنه وفرمايل (هو) مونږ خلق په مکه کې لس ورځي پاتې شوې وو. (بخاري، مسلم)

تسهيلات: -

قوله: "أَقَمْنَا بِهَا عَشْرًا":

دسفر باطل کيدو دوه صورتونه: -

① دَ شرعی سفردَ باطل کيدو يوصورت دادې چه سړې دَ سفرنه فارغ شی منزل مقصود وطن اصلی ته اورسی

② ځوك سړې يوځائی کښې دَ اقامت نيت اوکړی. نواوس به څومره ورځې دَ اقامت نيت کولوسره شرعی سفر او قصر باطل کيږی. په دې کښې دَ فقهاؤډير زيات اقوال دی. مګر مشهور اقوال څلور دی.

---

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/باب ما جاء فی التقصير وکم يقيم حتی يقصر (رقم-١٠٨١) وابوداود فی کتاب الصلاة،باب التطوع فی السفر (رقم-١٢٢٣) والترمذی کتاب السفر/باب ما جاء فی کم تقصر الصلاة (رقم-٥٤٨) والنسائی کتاب تقصير الصلاة فی السفر/باب المقام الذی يقصر بمثله الصلاة (رقم-١٤٥٢)

په دویم صورت کښې مذاهب

① امام مالک رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نیزباندې څلور ورځې اقامت په نیت سره شرعی سفرباطل کیږی البته دَ تلو او راتلو ورځ دې نه مستثنٰی ده.

② امام احمدبن حنبل رحمه الله او داؤدظاهری په نیزدَ څلورو ورځونه زیات اقامت نیت سره قصرباطل کیږی. یعنی دَ ۲۱ مونځونوپه اندازه دَ اقامت په نیت سره قصر باطل کیږی.

③ دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په نیز ۱۹ ورځې یا دَدې نه زیات دَ اقامت نیت سره قصر باطل کیږی.

④ دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز ۱۵ ورځې یا دې نه زیات دَاقامت نیت سره شرعی سفراوقصر باطل کیږی.

داول فریق دلیل:- دې ټولو حضراتوسره څه مرفوع منصوص حکم نشته دې البته دَ صحابه کرامو دَ آثار نه ټولو استدلال کړې دې دکوم په ضمن کښې چه اجتهاد هم شامل دې. داول فریق دلیل دا دې چه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم په مکه مکرمه کښې درې ورځې حصارشوې وو
اوقصرئی کولو. لهذا دَدې نه زیات حصاریدوسره قصر باطل کیږی.

داول فریق د دلیل څخه جواب:- دَ زیربحث حضرت انس رضی الله عنه د اول فریق دلیل بالکل ختمیږی ځکه چه دَ دې حدیث مطابق دَ لسو ورځو په قیام کښې صحابه کرامو قصر کولو نودَ څلورو ورځو یا دریو ورځو دَ اقامت څه حیثیت باقی پاتې کیدې شی؟

د دویم فریق دلیل:- حضوراکرم صلی الله علیه وسلم دَ حجة الوداع په موقع مکه مکرمه کښې څلور ورځې حصارشوې اوقصرئی کولو. دې نه معلومه شوه دَدې نه په څه زیات سره قصرباطل کیږی.

د دویم فریق د دلیل څخه جواب:- دَ زیربحث حضرت انس رضی الله عنه د دویم فریق دلیل بالکل ختمیږی ځکه چه دَ دې حدیث مطابق دَ لسو ورځو په قیام کښې صحابه کرامو قصر کولو نودَ څلورو ورځو یا دریو ورځو دَ اقامت څه حیثیت باقی پاتې کیدې شی؟

د دریم فریق دلیل:- حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم په یوسفرکښې چرته تشریف یوړو او ۱۹ورځو پورې قیام اوکړو مګر هغوی صلی الله علیه وسلم قصرکولو لکه چه راتلونکې حدیث نمبر(۱۳۳۷)کښې چه راځی. لهذا دَ ۱۹ورځونه زیات نیت سره شرعی سفرباطل کیږی.

د دریم فریق د دلیل څخه جوابونه:-

① چه کله سړې نن صبا کولو سره دَ تلو اراده لری نوهلته ۱۹ ورځې خوڅه چه ۱۹میاشتو پورې سړې مسافر پاتې کیدې شی. حضرت انس رضی الله عنه فرمائی صحابه کرامو په رامهرمز کښې ۹ میاشتو پورې قصر کولو.

④ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما شپږو مياشتو پورې په آذر بائيجان کښې مقيم وو ليکن قصرئي کولو ځکه چه نن صبا کولو سره ئې دومره موده تيره شوه.

③ دغه شان حضورپاك ﷺ هم په يوسفر کښې هم دغه نيت اوکړو چه صبا به ځو ليکن په جهادی معاملاتو کښې به بيا حصارشو دغه شان ١٩ ورځې تيرې شوې. دا فعل دَ اقامت دَ مودې دَپاره دليل نه شي جوړيدې.

د څلورم فريق دلائل :-

① دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه يواثرمنقول دې چه دَ هغه الفاظ دادی: **"وعن مجاهد أن ابن عمر كان إذا جمع علي إقامة خمسة عشر يوماً أتم الصلوة"** (رواه ابن ابي شيبه بسند صحيح)

② دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما اثردې چه په طحاوی شريف کښې داسې ذکردې. **"اذا قدمت بلدة وانت مسافروفي نفسك ان تقيم خمسة عشر يوما فاكمل الصلوة بها وان كنت لاتدري متى تظعن فاقصرها"** (طحاوي)

ترجمه: ١ يعنى چه ته کله يوښار ته مسافرکيدو سره راشې اوهلته دَ ١٥ورځودَ قيام اراده وی نوته هلته پوره مونځ کوه او چه تاته مغلومه نه وی چه کله به په سفر روانيدل وی نوبيا قصرکوه.

[١٣٣٧] دابن عباس رضي الله عنهما په نيز موده داقامت

١٣٣٧-(١)[٥] ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ٢ سَافَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَفَرًا، ٣ فَأَقَامَ تِسْعَةَ عَشَرَ يَوْمًا يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ، ٤ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَنَحْنُ نُصَلِّي فِيمَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَكَّةَ، تِسْعَةَ عَشَرَ، رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ، ٥ فَإِذَا أَقَمْنَا أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ صَلَّيْنَا أَرْبَعًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي ٢ چې (يو ځل) رسول الله ﷺ چرته په سفر تشريف يوړلو ٣ او هلته يي نورلس ورځي قيام وکړو (د قيام په دوران کې به) حضور ﷺ دوه دوه رکعاته مونځ کولو ٤ ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې مونږ خلق هم چې د مکي او مديني په مينځ کې چرته نورلس ورځي قيام کوو نو دوه دوه رکعاته مونځ کوو ٥ او هر کله چې د دې څخه زيات پاتې کيږو نو څلور رکعاته مونځ کوو، (بخاري، مسلم)

تسهيلات:- قوله : يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ:

د ابن عباس مستدل :- دا حديث دَحضرت ابن عباس رضي الله عنهما دليل دې ليکن علماء فرمائی چه په دې روايت کښې چرته دَ اقامت اودَ دې دَ نيت ذکر نشته دې بلکه "على عزم الترحيل" يعنى بغيردَ قصد او ارادې دومره ورځې تيرې شوې که دغه شان چرته يوکال هم تيرشی نوبيا هم سړې نه مقيم کيږی.

(١) اخرجه البخاری فی كتاب الجمعة /باب ما جاء فی التقصير وكم يقيم حتى يقصر (رقم-١٠٨٠)

[١٣٣٨] په سفر کښې د نفلو حکم

١٣٣٨ —()[٦][١] «وَعَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ، قَالَ: [٢] صَحِبْتُ ابْنَ عُمَرَ فِي طَرِيقِ مَكَّةَ، فَصَلَّى لَنَا الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ، [٣] ثُمَّ جَاءَ رَحْلَهُ، وَجَلَسَ، [٤] فَرَأَى نَاسًا قِيَامًا، [٥] فَقَالَ: مَا يَصْنَعُ هَؤُلَاءِ؟ قُلْتُ: يُسَبِّحُونَ، [٦] قَالَ: لَوْ كُنْتُ مُسَبِّحًا أَتْمَمْتُ صَلَاتِي، [٧] صَحِبْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَانَ لَا يَزِيدُ فِي السَّفَرِ عَلَى رَكْعَتَيْنِ، [٨] وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ كَذَلِكَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حفص ابن عاصم فرمايي [٢] چې (يو ځل) د مکې او د مدينې په مينځ لار کې ماته د ابن عمر رضي الله عنه د ملګرتيا شرف حاصل شو (هر کله چې وخت شو) نو هغه مونږ ته د ماسپښين مونځ دوه دوه رکعاته راکړو [٣] او د هغې څخه وروسته چې خپلې خيمې ته واپس راغي او کيناستلو [٤] نو وي ليدل چې خلق ولاړ دي [٥] نو هغه پوښتنه وکړه چې دا خلق څه کوي؟ ما عرض وکړو چې نفل کوي [٦] نو هغه وفرمايل که ما نفل مونځ کولو نو ما به فرض مونځ پوره کولي [يعني که دا موقع د نفل لمانځه کولو وي نو فرض مونځ پوره کول زيات اهم وو خو هر کله چې د آساني په خاطر د فرض لمانځه د قصر کولو حکم شوې دي نو نفل مونځ ترک کول اولي دي ځکه چې فرض اداء کول د نفل کولو څخه اولي دي] [٧] ما ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ملګرتيا شرف حاصل دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم به د سفر په حالت کې د دوو رکعاتو څخه زيات نه کول [٨] او ما ته د حضرت ابوبکر رضي الله عنه حضرت عمر رضي الله عنه، حضرت عثمان رضي الله عنه د ملګرتيا شرف هم حاصل دي د دې حضراتو هم دا معمول وو چې په سفر کې به يې د دوه رکعاتو څخه زيات نه کول. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① رَحْلَهُ: أي مسكنه: خيمې خپلې ته. ② مُسَبِّحًا: دَ تسبيح نه دې دَ نفل مونځ کولو په معنى کښې دې.

"مسبحا" يعنى که چرې ما نفل کولې نوما به دَ هغې په ځائې فرض مکمل کولې اوکه دا مې کولې نو په فرضوکښې به مې قصر نه کولو. په سفرکښې سنت کول اونه کولوکښې دَ فقهاؤ أقوال مختلف دى.

تسهيلات: -

قوله: قَالَ: لَوْكُنْتُ مُسَبِّحًا أَتْمَمْتُ صَلَاتِي:

په سفر کښې د سنتو حکم: - که په سفرکښې دَ مشقت سختى ده يا دَ وخت تنګى ده او يوسړې دَ سنت او نوافل په سختئى سره پابندى کوى نودا جائز نه دى ځکه چه کله الله تعالى په فرائضوکښې نرمى اوفرمائيله نو په سنن او نوافل کښې په طريق اولى نرمى راغله هم په دې وجه وئيلى شوى دى: "من السنة ترك السنة في السفر" ليکن که يوسړې په سفرکښې آرام سره

[١] اخرجه البخاري في كتاب الجمعة رقم الحديث ١١٠١. وابوداود في السنن رقم الحديث ١٢٢٣

دي او په سفر کښې هم جاري نه دي بلکه څه وقفه ده نو په دغه وقفه کښې یوسړي پاسې سنت کوي نودا منع نه دی بلکه په دې باندې به زيات اجر اوثواب ملاويږي.

په سفر کښې د سنتو په کولو کښې اقوال:-

① بعضې فقهاؤ په سفرکښې سنت کول مطلقًا منع ګرځولي دی.

② بعضې مطلقاً جائز ګرځوی

③ بعضو په سنن مؤکده راتبه او نوافل کښې فرق کړې دې. چې سنن مؤکده به کوی او سنن غیرمؤکده به نه کوی.

④ په دَ ائمه اربعه کښې امام مالک رحمه الله شافعي رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز په سفرکښې هم مخکی او روستی سنت کول پکاردی.

⑤ دَ امام ابوحنيفه رحمه الله نه په دې باره کښې څه صريح قول نقل نه دې. البته دَ علماء احناف اقوال مختلف دی. ليکن بهتر قول هم دغه دې که چرې حالت دَ قرار سکون او تسلئی دې نوکول ئی پکاردی ګنی نه دی کول پکار. البته داخبره فيصله شوې ده چه دَ سحر دَ سنتونه علاوه دَ ټولو سنتو تأکد په سفرکښې ختميږي.

په رواياتو کښې تعارض:- دَحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايات هم په دې باره کښې مختلف دی. دَهغوی نه داهم نقل دی چه هغوی پخپله سنت نه دی کړی اوفرمائيلي چه حضورپاك ﷺ به هم نه کول لکه چه په دې حديث وَعَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ، قَالَ: صَحِبْتُ ابْنَ عُمَرَ فِي طَرِيقِ مَكَّةَ، فَصَلَّى لَنَا الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ جَاءَ رَحْلَهُ، وَجَلَسَ، فَرَأَى نَاسًا قِيَامًا، فَقَالَ: مَا يَصْنَعُ هَؤُلَاءِ؟ قُلْتُ: يُسَبِّحُونَ، قَالَ: لَوْكُنْتُ مُسَبِّحًا أَتْمَمْتُ صَلَاتِي، صَحِبْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَانَ لَا يَزِيدُ فِي السَّفَرِ عَلَى رَكْعَتَيْنِ، وَأَبَابَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ كَذَلِكَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ کښې ذکردی. خوپه دې

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: «صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ فِي السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ، وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ، فَصَلَّيْتُ مَعَهُ فِي الْحَضَرِ الظُّهْرَ أَرْبَعًا، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ، وَصَلَّيْتُ مَعَهُ فِي السَّفَرِ الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ، وَالْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ، وَلَمْ يُصَلِّ بَعْدَهَا شَيْئًا، وَالْمَغْرِبُ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ سَوَاءٌ ثَلَاثُ رَكَعَاتٍ، وَلَا يَنْقُصُ فِي حَضَرٍ وَلَا سَفَرٍ، وَهِيَ وِتْرُ النَّهَارِ، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. حديث کښې ذکر دې چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما به سنت کول اوحضور اکرم ﷺ هم په سفرکښې کړي دی.

د تعارض دفع کولودپاره تطبيقات:-

① په دې روايتونوکښې تطبيق دادې چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دَ سنتو کولو کومه نفی فرمائيلې ده دَهغې نه دَ عام سنتو نفی مرادنه ده بلکه دې نه دَ سنتو دَ تأکد نفی مراد ده.

② یا دا مطلب ئی دې چه حضورپاک ﷺ به په غالب حالاتو کښې نه کول کله کله به ئی کول. یا دامطلب دې لکه چه اول لیکلې شوی دی که حالت دَ قرار سکون او تسلئی وی نو په کولو کښې ثواب دې لیکن دَ نفل ثواب دې دَ سنن مؤکده نه دې او که چرې حالت دَ قرار اوسکون نه دې دَ سفر تادی ده یا دَ وخت تنګی ده او ستومانتیا تکلیف او زحمت دې نو بیا دَ نه کولو حکم دې.

[١٣٣٩] دَ جمع بین الصلوتین حکم

١٣٣٩–()[٤] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ بَيْنَ [صَلَاةِ] الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ إِذَا كَانَ عَلَى ظَهْرِ سَيْرٍ، ③ وَيَجْمَعُ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي ② چې رسول الله ﷺ چې به سفر کې وو نو د ماسپښین او مازیګر مونځ به یي یو ځاي کولو ③ دغسې د ماښام او ماسخوتن مونځ به یي هم یو ځاي کولو. (بخاري)

حل اللغات: - ① إِذَا كَانَ عَلَى ظَهْرِ سَيْرٍ: أَيْ: جَنَاحِ سَفَرٍ: چه کله به مسافر وو.

تسهیلات: - **قوله : يَجْمَعُ بَيْنَ [صَلَاةِ] الظُّهْرِ:**

د جمع بین الصلاتین دوه صورتونه: - دَ جمع بین الصلوتین دوه قسمونه دی.

① جمع بین الصلوتین صوری اوفعلی ده. دَ جمع صوری اوفعلی صورت دادې چه مثلاً ماسپښین اومازیګر په خپل وخت باندې اوکړې شی لیکن ماسپښین دَ خپل وخت بالکل آخر کښې اوکړې شی او مازیګر دَ خپل وخت بالکل اول کښې اوکړې شی. دغه شان ماښام دَخپل وخت په آخره کښې اوکړې شی او ماسخوتن دَ خپل وخت بالکل په شروع کښې اوکړې شی. دغه شان په ظاهری صورت اوعمل کښې داسې ښکاری چه دواړه مونځونه په یو وخت کښې کړې شوی دی. مګر فی الواقع هرمونځ په خپل وخت کښې اداکړې شوی دې. اووخت هم بچ شو. ② جمع بین الصلوتین حقیقی ده جمع حقیقی داسې دې چه مثلاً ماسپښین او مازیګر دواړه دَ ماسپښین په وخت اوکړې شی اوماښان اوماسخوتن دواړه دَ ماښام په وخت اوکړې شی دا جمع حقیقی ده اودې ته جمع تقدیم هم وئیلی شی. ځکه چه په دې کښې آخری مونځ مقدم کولوسره رومبې مونځ سره اوکړې شو. اوچې دماسپښین اومازیګر دواړه دَ مازیګر په وخت اوکړې شی اوماښام اوماسخوتن دواړه دَ ماسخوتن په وخت اداکړې شی دا جمع حقیقی ده اودې ته جمع تاخیرهم وائی چه اولنې مونځ آخری مونځ سره یوځائی کولوسره اوکړې شی.

---

¹) اخرجه البخاری فی کتاب التقصر الصلوة/ باب الجمع فی السفر من المغرب العشا،،، رقم الحدیث ١١٠٧

په جمع حقیقي کښې مذاهب

په جمع صوری کښې خودَ چا اختلاف نشته دې البته دَ جمع حقیقی وقتی په جواز او عدم جواز کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې

① دَ ائمه ثلاثه په نیزدَ ماسپښین اومازیګر په مینځ کښې اودَ ماښام اوماسخوتن په مینځ کښې دَ عذر په وجه جمع حقیقی جائز ده په اجمالی توګه باندې دَدې په مینځ کښې اتفاق دې لیکن په تفصیلاتو کښې دَ دې په مینځ کښې څه فرق دې. چنانچه سفرټولو عذر ګرځولې دې بعضې سفر اومطر عذر ګرځولې دې. بعضې سفرسره "جدۀایسر" دَ تیزایمرجنسی سفرقیدلګولې دې. بعضې په حضرکښې مرض عذر ګرځولې دې بعضې نه دې منلې دامعمولی اختلاف دې مګر په اجمالی توګه باندې دَ جمهورو په نیز جمع بین الصلوتین حقیقی تقدیمی اوتاخیری ټولې جائز دی. البته سحر، ماسپښین اوماسخوتن اوسحر کښې جمع کول په وجه دَ فاصلې جائز نه ده.

② دَ ائمه احناف کثرالله سوادهم په نیزدَجمع حقیقی هیڅ یوصورت هم جائز نه دې. نه تقدیم جائز دې اونه تاخیر جائز دې، نه په سفرکښې جائز دې اونه په حضرکښې جائز دې. اودَ عرفه په ورځ په میدان عرفات کښې په ماسپښین اومازیګرکښې جمع حقیقی جائز ده اودَ مزدلفه په شپه کښې ماښام اوماسخوتن کښې جمع حقیقی جائز ده. په اول الذکرکښې جمع تقدیم ده اومؤخرالذکرکښې جمع تاخیرده.

داول فریق دلائل:- زیربحث د حدیث اول فریق مستدل دې په کوم کښې چه په واضحه توګه همیشه والی سره جمع بین الصلوتین ذکر دې. "عن معاذبن جبل قال کان النبی ﷺ فی غزوة تبوك اذازاغت الشمس قبل ان یرتحل جمع بین الظهروالعصرالخ"

② دَمسلم شریف روایت هم داول فریق مستدل دې. "کان اذاجدبه السیر جمع بین المغرب والعشاء بعدان تغیب الشفق" ښکاره خبره ده چه کله شفق یعنی سوروالی دَ غیبیدونه پس دَماښام مونځ کړې شوې دې نودَماسخوتن په وخت هم جمع حقیقی اوشوه.

د دویم فریق دلائل:-دَ ائمه احناف استدلال دَ قرآن اوحدیث او امت دَتعامل نه دې.

① دلیل دَ قرآن پاك آیت دې چه ﴿إِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا﴾ [نساء: الایة:١٠٣] یعنی دَ هرمونځ خپل متعین اومقرر وخت دې. دَ هغې نه مخکښې اودَ هغې نه روستو جائز نه دې.

② دغه شان آیت ﴿حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى﴾ دلیل دې. [بقرة آلایة:٢٣٨] په دې کښې هم دَ مانځه دَ محافظت حکم دې اودا حفاظت وخت ته هم شامل دې چه په خپل خپل وخت کښې دننه دَ مونځ حفاظت اوکړئی لهذا نه جمع تقدیم جائز ده او نه جمع تاخیر جائز ده.

③ دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه حدیث مستدل دې کوم چه امام بخاری رحمه الله ذکر کړې دې، الفاظ ئی دادی: "مارأیت النبی صلی الله علیه وسلم صلی صلوة بغیر میقاتها الا الصلوتین الخ" یعنی دَ عرفات اومزدلفه نه علاوه ماکله هم حضورپاك صلی الله علیه وسلم داسې نه دې لیدلې چه حضورپاك صلی الله علیه وسلم یو مونځ دَ هغې دَ وخت نه علاوه چرته بل وخت کښې کړې وی.

④ مضبوط دلیل هغه ټول احادیث دی په کوم کښې چه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم دَ هرمونځ دَپاره خپل یو متعین وخت مقرر کړې دې اودَ هغې دَ پابندئ په سختئی سره حکم ورکړې دې.

داول فریق د دلیل څخه جواب:-

① دَدې احادیثو داسې محمل لټول پکاردی چه دَهغې آیت سره تعارض رانه شی. ځکه چه دَ قرآن کریم دَ آیت معارضه احادیثو اوخاص کر اخبار احاد سره نه شی کیدلې. په دې وجه احنافو دَ دغه ټولو احادیثو محمل دا بیان کړې دې چه دَدې جمع بین الصلوتین نه جمع حقیقی نه بلکه جمع صوری مراد ده. لهذا دا احادیث دَ جمهورو نه بلکه دَ احنافو دلائل دی او په دې باندې قرائن هم دی.

دجمع صوری کیدو قرائن:- جمع صوری مراد اخستلو باندې مختلف قرائن دی:

① دَ جمع بین الصلوتین په احادیثو کښې ځائی په ځائی "اخر الظهر وعجل العصر واخر المغرب وعجل العشاء" الفاظ راغلی دی دَ کوم نه چه معلومیږی چه دا تاخیر اوتعجیل دَ جمع صوری په صورت کښې کیږی دَ جمع حقیقی دَپاره دا الفاظ نه راځی. چنانچه دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما شاګرد ابوشعثاء هم دَدې الفاظو په رڼړا کښې دَدې احادیثو نه جمع صوری مراد اخستې ده.

② بخاری شریف کښې حدیث دې چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما به دَ ماښام مونځ کولوسره څه وخت انتظار کولو اوبیابه ئی دَماسخوتن مونځ کولو. هم دغه شان حدیث په ابوداؤد شریف کښې هم دې یوڅو الفاظ دادی: "ان مؤذن ابن عمر قال الصلوة قال سرسر حتی اذاکان قبل غیوب الشفق فصلی المغرب ثم انتظر حتی اذاغاب الشفق فصلی العشاء" (ابوداؤد) دې نه صفا معلومیږی چه دادَ جمع صوری صورت دې دَ جمع حقیقی نه دې.

③ په جمع صوری باندې یوه زبردست قرینه دَ ترمذی شریف یوحدیث دې الفاظ دادی: "جمع رسول الله صلی الله علیه وسلم بین الظهر والعصر وبین المغرب والعشاء من غیر خوف ولا مطر" په دې حدیث کښې دَ جمع بین الصلوتین ذکر دې لیکن نه سفردې نه مطر نه مرض دې نه ویره. په مدینه منوره کښې دغه شان جمع بین الصلوتین بغیردَ څه عذر نه دَ چا په نیز هم جائز نه ده. جمهور هم مجبوراً دا حدیث په جمع صوری باندې حمل کوی لهذا نور احادیث هم دغه شان په جمع صوری باندې حمل کول پکاردی. ابن حجر په فتح الباری کښې اعتراف کړې

دي چه دلته به جمع صوری مراد اخستلي شي.

په دويم فريق اعتراض:- اوډ احنافو ډپاره په يوحديث کښې مشکلات رامخې ته دی هغه ډ مسلم شريف يوروايت دي: "جمع بين المغرب والعشاء بعد ان يغيب الشفق" ښکاره خبره ده چه ډ شفق يعنی سرخئي غيبيدو نه پس ډ ماسخوتن وخت وی لهذا دا جمع حقيقی ده صوری نه ده.

داعتراض جواب:- ډدې جواب دادې چه دلته ډ شفق غيبيدلو نه مراد رانيزدې کيدل دی غائبيدل نه دی او په دې باندې ډ دارقطنی حديث دلالت کوی هلته ډ قريب لفظ موجود دې الفاظ دادی: "حتی اذاکادیغیب الشفق" بهرحال ډ دلائل دنيا هم دغه ده ليکن جمهور ډ مخ ډ زمکې نه ختمولې نه شی او په بعضې موقعوکښې ډجمع حقيقی سخت ضرورت پيښيږی. که چرې ډ امت ډ آسانتی ډپاره بعضې وخت په دې احاديثو باندې عمل اوشی نومجبوری بهرحال مجبوری ده. دلته بار بار دا سوال اوجواب هم راغلې دې چه ډ حضوراکرم جمع بين الصلوتين نه مقصد څه وو نوجواب هم دغه راغلوچه جمع بين الصلوتين نه مقصود دادې چه ډ حضورپاک ﷺ امت په حرج کښې پرينوځی. ډدې نه ډ جمع حقيقی ډ آسانتيا طرف ته واضحه اشاره ملاويږی. (څکه چه الحرج مدفوع فی الشرع).

[١٣٤٠] په سورلۍ د مانځه کولو حکم

١٣٣٠ —()[٨] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي السَّفَرِ عَلَى رَاحِلَتِهِ [٣] حَيْثُ تَوَجَّهَتْ بِهِ، يُومِئُ إِيمَاءً [٤] صَلَاةَ اللَّيْلِ إِلَّا الْفَرَائِضَ [٥] وَيُوتِرُ عَلَى رَاحِلَتِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: [١] ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي [٢] چې رسول الله ﷺ چې به په سفر کې وو نو دشپې مونځ به يي په خپله سورلۍ په اشارې سره کولو [٣] او د سورلۍ مخ چې به کوم طرف ته وو هم هغه طرف ته به د رسول الله ﷺ مخ مبارك هم وو [٤] علاوه د فرض لمانځه څخه [٥] او وتر مونځ به يي هم په سوارلۍ کولو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① يُومِئُ إِيمَاءً: اشاره به ئې کوله. ② صَلَاةَ اللَّيْلِ: مونځ دشپې يعنی نوافل.

تسهيلات:- قوله: عَلَى رَاحِلَتِهِ:

په سورلۍ د تکبير تحريمې په وخت داستقبال په حکم کښې مذاهب

يعنی ډ سورلئی مخ چه به کوم خوا ووډ رسول الله ﷺ مخ مبارك به هم هغې طرف ته وو.

① امام شافعی رحمه الله فرمائی چه ډ تکبيرتحريمه په وخت مخ ډ قبلې طرف ته کول په هرصورت ضروری او واجب دی

② ائمه جمهور فرمائی چه په شروع کښې ډ قبلې طرف ته مخ کولوسره تکبيرتحريمه وئيل

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الوتر/ باب الوتر فی السفر،، رقم الحديث ١٠٠٠ ومسلم فی کتاب الصلوة المسافرين/ باب جواز الصلاة النافل علی الدبة فی السفر،، رقم الحديث ١٦٥٠

مستحب دی واجب یا فرض نه دی

داول فریق دلیل:- راتلونکی حدیث نمبر (۳۳۵) د دوی مستدل دې په هغې کښې دَ حضرت انس دَ روایت په شروع کښې دَ استقبال قبله په بیان کښې راځی.

د دویم فریق دلیل:- دَ مونځ حکم یوشان وی که هغه په شروع کښې وی اوکه په آخره کښې په دواړو کښې څه فرق نشته.

قوله: يُومِئُ إِيمَاءً:

په سورلۍ باندې په اشاره د مونځ کولو اجازت:- یعنی په سورلئی باندې کیناستو سره رکوع اوسجدې دَپاره به حضورپاک ﷺ اشاره فرمائیله مگر دَ سجدې اشاره دَ رکوع دَ اشارې نه به زیاته ښکته وه.

قوله: صَلَاةَ اللَّيْلِ:

په سورلۍ باندې د شپې او د ورځې د نفل کولو جواز:- دا قید اتفاقی دې احترازی نه دې ځکه چه په سورلئی باندې څنګه دَ شپې نوافل کول جائز دی دَ ورځې دَ نوافلو هم دغه حکم دې ځکه چه په نورو روایاتوکښې دَ عام نوافلو ذکر دې دَ شپې قید نشته دې. لهذا دا حکم سنن مؤکده او دې نه علاوه نورو سننو او نوافلو ته هم شامل دې. سره دَدې چه دَامام ابوحنیفه رحمه الله یو قول دادې چه دَ سحر دَ سنتودَپاره که چرې ګنجائش وی نودَ سورلئی نه کوزیدو سره کول مستحب دی بلکه په یو روایت کښې دَ واجب قول هم دې ځکه چه دَ سحر په سنتوکښې ډیر زیات تاکید او کلکوالې دې.

قوله: إِلَّا الْفَرَائِضَ:

په سورلۍ باندې د فرضو ادا کولو عدم جواز:- دې حدیث نه دوه مسئلې مستنبط کیږی. یوه مسئله دا چه نوافل او سنن په سورلئی باندې کول جائز دی او فرائض په سورلئی باندې کول جائز نه دی. دلته دَ نوافل نه دَ فرائض استثناء هم دَدې مقصد دَپاره ده چه فرائض په سورلئی باندې کول بالکل جائز نه دی.

په سورلۍ د فرائضو ادا کولو صورتونه:- په دې لاندینی عذرونوکښې که چرې موجود وی نوبیا فرائض هم په سورلئی باندې کولې شی.

① که یوسړې په ځنګل کښې وی اوکوزیدوسره په سحرا کښې مونځ کولوسره هرقسم خطرې وی یا دَ نن صباسورلئی ریل ګاډې وغیره وی دکوم نه چه کوزیدل ممکن نه وی نو په داسې صورتونوکښې په سورلئی باندې فرائض کول جائز دی.

② چه داسې بوډا وی چه نه سوریدې شی اونه کوزیدې شی.

③ دَ سورلئی نه کوزیدونه پس په سورلئی باندې سوریدل ممکن نه وی.

④ یا دَ واؤرې او باران عذر وی.
⑤ په زمکه باندې ختې وغیره دومره وی چه هلته مونځ کول ممکن نه وی.
بهرحال په دې صورتونو کښې فرض مونځ په سورلئی باندې کول دَ مجبورئی دَ وجې نه جائز دې. او سورلی هم عام ده که اس وی، اوښ وی یا ریل ګاډې وی یا کشتئی وی په ټولو کښې مونځ کیدې شی.

په هوائی جهاز کښې د مونځ کولو کښې اقوال:-

① د بعضې عالمانو په نیز په هوائی جهاز کښې جائزنه دې ځکه چه دَ سجدې دپاره زمکه پکارده هوائی جهاز په فضاء معلق دې نوسجده صحیح نه ده.
② بعضې علماء فرمائی په هوائی جهاز کښې مونځ کول جائز دی اودَ هوائی جهاز دَ زمکې سره په ذریعه دَ کشش رابطه اوتعلق دې لکه چه هم په زمکه دې. دَ سعودی حکومت په جهازونو کښې دَ مونځ دپاره ځائی جوړشوې وی اوخلق مونځ کوی. پی آئی اې والا په زمکه باندې مونځ نه کوی نو فضاکښې دَدې انتظام ولې اوکړی؟

په سورلئ باندې د مونځ د جواز دپاره د سفر په شرطیت کښې مذاهب

① که چرې سړې مسافر دې نو په سورلئی باندې په روانه باندې مونځ کولې شی. اوکه مسافرنه وی نو په سورلئی باندې مونځ کول جائز نه دی هم دغه مسلك دَ جمهور فقهاؤ دې. دَ صاحبینو مسلك نیز دَ جمهورو په شان دې چه دا جواز دَ سفرسره مشروط دې دَ ښار سره مشروط نه دې.
② امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه په سورلئی باندې دَ مونځ کولو دَ جواز دَ پاره دَښارنه بهرکیدل شرط دی که سړې مسافر وی اوکه نه وی.

قوله: وَيُوتِرُ عَلَى رَاحِلَتِهِ:

په سورلئ باندې د وترو کولو په حکم کښې مذاهب

① په دې حدیث کښې دریمه مسئله دَ وتر بیان کړې شوې ده چه حضورپاك ﷺ به وتر هم په سورلئ باندې کول. دَ جمهور فقهاؤ مسلك هم دغه دې چه وتر په سورلئ باندې کولې شی.
② امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه څنګه فرائض بغیردَ سخت عذر نه په سورلئی نه کولې کیدې دغه شان وتر هم په سورلئی باندې کول جائز نه دی.

د فریق اول دلیل:- داول فریق دلیل زیر بحث حدیث دې په کوم کښې چه وتر په سورلئی باندې کولو صراحت سره ذکردې.

داول فریق د دلیل څخه جوابونه:-

① ددې جواب دادې چه ممکن ده دادَ هغه زمانې خبره وی کوم وخت چه په وترو کښې

تاکد نه وو راغلې خوچه کله په وترو کښې تاکید راغلو نو بیا دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما والا خبره راغله چه وتر به ئی په زمکه باندې کوزیدو سره کول.

② شاه انورشاه کمشیری رحمه الله ورکړې دې چه زیر بحث حدیث کښې دَ وترو اطلاق په مشهور وترو نه دی بلکه دلته دَ وتر اطلاق دَ شپې په مونځ باندې شوې دې او هم داسې کیږی.

③ دادې چه کیدې شی حضور پاک صلی الله علیه وسلم دَ څه عذر دَ وجې نه په سورلئی باندې وتر کړې وی اودَ عذر دَ وجې نه خو فرض هم په سورلئی باندې کیدې شی.

د دویم فریق دلائل :-

① دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما حدیث دې کوم چه امام طحاوی رحمه الله ذکر کړې دې دکوم الفاظ چه دادی: "عن ابن عمر رضی الله عنهما انه کان یصلی علی راحلته ویوتر علی الارض وزعم ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یفعل ذلك" (طحاوی).

② بل امام محمد رحمه الله په مؤطا محمد کښې دَ صحابه کرامو او تابعینو حضراتو آثار نقل کړی دی دکوم نه چه ثابتیږی چه هغه حضرات به دَ وتر کولو دَپاره دَ سورلو نه کوزیدل.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٣٤١] د نبی ﷺ څخه د قصر او اتمام ثبوت

١٣٤١ —(¹)[٩] ① عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «كُلَّ ذٰلِكَ قَدْ فَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ③ قَصَرَ الصَّلَاةَ وَأَتَمَّ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: ① ام المؤمنین بي بي عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمايي ② چې رسول الله ﷺ هر رنګ کړي دي ③ دسفر په حالت کې کم رکعتونه يي هم کړي دي او پوره يي هم کړي دي. (شرح السنة)

حل اللغات:- ① قَصَرَ: په سفر کښې څلور رکعتیز مونځ دوه رکعته کولو ته قصر وائی. ② أَتَمَّ: په سفر کښې څلور رکعتیز مونځ پوره کولو ته اِتمام وائی.

تسهیلات:- قوله: قَصَرَ الصَّلَاةَ وَأَتَمَّ:

په سفر کښې د قصر او اتمام په مفهوم کښې تاویلات:-

① یعنی حضور پاک صلی الله علیه وسلم په شرعی سفر کښې کله قصر کړې کله ئی نه دې کړې بلکه اتمام ئی کړې دې.

② یا مطلب دادې چه حضور پاک صلی الله علیه وسلم په سفر کښې قصر کړې دې او حضر کښې قصر نه دې کړې بلکه پوره کړې ئی دې.

③ یا مطلب دادې چه په شروع کښې دَدوارو امورو اختیار وو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم کله

(¹) اخرجه شرح السنة فی کتاب الصلوة/ باب قیام الشهر رمضان وفضله ... ٢/ ٢٢٠

قصر کړي او کله پوره. روستو به داسې نه کيدل بلکه هم قصر متعين شو. په ابتدائی مباحث کښې ددې حديث سره متعلق تفصيل تيرشوې دې.

[١٣٤٢] په يو ځائې کښې د اقامت د نيت څخه بغير د قصر حکم

١٣٤٢-(١) [١٠] ١ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ «غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَشَهِدْتُ مَعَهُ الْفَتْحَ، ٣ فَأَقَامَ بِمَكَّةَ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ لَيْلَةً لَا يُصَلِّي إِلَّا رَكْعَتَيْنِ، ٤ يَقُولُ: "يَا أَهْلَ الْبَلَدِ! صَلُّوا أَرْبَعًا، فَإِنَّا سَفْرٌ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ عمران ابن حصين رضي الله عنه فرمايي ٢ چې زه د رسول الله ﷺ سره په غزاګانو کې شامل شوې يم چنانچه د مکې په فتح کې هم زه د حضور ﷺ سره موجود وم ٣ حضور ﷺ (په دې موقع) په مکه کې اتلس شپې مقيم وو او (څلور رکعاته لمونځ) به يې دوه رکعاته کولو ٤ او دا به يې فرمايل چې اې ښاريانو! تاسو خلق څلور رکعاته مونځ وکړئ مونږ مسافريو (ځکه دوه رکعاته کوو). (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① سَفْرٌ: دَ سافر جمع ده لکه رکب دَ راکب او صحب دَ صاحب جمع ده سافر په معنی مسافر دې.

تسهيلات:-

قوله: لَا يُصَلِّي إِلَّا رَكْعَتَيْنِ

د نبی کريم ﷺ د اقامت نيت نه کول:- يعنی رسول الله ﷺ اتلس ورځې تيرې کړې مګر دَ اقامت نيت ئی نه ووکړې بلکه نن صبا کولو سره دومره ورځې تيرې شوې نو دا د اقامت حالت نه وو بلکه دَ سفر حالت وو لهذا هم قصر به ئی کولو. احناف فرمائی چه کله يو سړی دَ ١٥ ورځو دَ اقامت نيت اوکړو بيا قصر جائز نه دې او که نيت ئی نه وی کړې نو د کاله پورې سړې مقيم کيدې نه شی بلکه هم مسافروی نو هم قصر به کوی. دلته دَ فتح مکه په موقع باندې حضور پاک ﷺ سره هم داسې اوشو حضور پاک ﷺ نه غوښتل چه د کوم ښار نه دَ الله تعالی دَ رضا دَ پاره يو ځل هجرت اوکړو اوس دوباره هلته اقامت اختيار کړی.

[١٣٤٣] صرف په څلور رکعتيز مونځ کښې قصر

١٣٤٣-(٢) [١١] ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: ٢ «صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ فِي السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ، ٣ وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ، ٤ فَصَلَّيْتُ مَعَهُ فِي الْحَضَرِ الظُّهْرَ أَرْبَعًا، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ،

ترجمه: ١ ابن عمر رضي الله عنه فرمايي ٢ چې ما د سفر په حالت کې د حضور ﷺ سره د ماسپښين دوه رکعاته او د هغې څخه وروسته (يعني د سنت) دوه رکعاته کړي دي ٣ او د

(١) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب متى يتم المسافر؟ (رقم-١٢٢٩)
(٢) اخرجه الترمذی کتاب السفر /باب ما جاء فی التطوع فی السفر (رقم-٥٥٢)

يو روايت الفاظ دا دي چې ابن عمر ﷺ وفرمايل چې ما د رسول الله ﷺ سره په سفر کې هم مونځ کړي دي او په ښار (يعني حضر) کې هم [۴] ما په حضر کې خو د حضور ﷺ سره د ماسپښين څلور رکعاته او د هغې څخه وروسته (د سنت) دوه رکعاته کړي دي

[۱] وَصَلَّيْتُ مَعَهُ فِي السَّفَرِ الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ، [۲] وَالْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ، وَلَمْ يُصَلِّ بَعْدَهَا شَيْئًا، [۳] وَالْمَغْرِبُ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ سَوَاءٌ ثَلَاثُ رَكَعَاتٍ، [۴] وَلَا يَنْقُصُ فِي حَضَرٍ وَلَا سَفَرٍ [۵] وَهِيَ وِتْرُ النَّهَارِ، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او په سفر کې مې ورسره د ماسپښين دوه رکعاته کړي دي او د هغې څخه وروسته دوه رکعاته کړي دي [۲] او د مازيګر مو دوه رکعاته کړي دي او د دې څخه وروسته يې څه مونځ نه دي کړي [۳] او د ماښام مونځ به په سفر او حضر په دواړو کې يو رنګه درې رکعاته وو [۴] حضور ﷺ به په دې لمانځه کې په سفر او حضر کې هيڅ زياتي نه کولو [۵]. او د ماښام مونځ د ورځې وتر دي او دهغې څخه وروسته د سنتو دوه رکعاته به موکول. (ترمذي)

حل اللغات: - ① وِتْرُ النَّهَارِ: د ورځې وتر يعنى د ماښام مونځ.

تسهيلات: -

قوله: وَصَلَّيْتُ مَعَهُ فِي السَّفَرِ الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ،

قصر په څلور رکعتيز مونځ کښې: - دَدې حديث دَ تفصيل نه معلومه شوه چه قصر صرف څلور رکعته مونځونو کښې دې کوم چه په ماسپښين مازيګر اوماسخوتن کښې دې په ماښام او سحر کښې قصر نشته دې ځکه چه يو رکعت مونځ نه وى او نه يونيم رکعت وى.

قوله : وَهِيَ وِتْرُ النَّهَارِ:

فائده: - دَدې نه په واضحه توګه سره ثابته شوه چه وتر يوسلام سره درې رکعته دى ځکه چه دَ ماښام درې رکعته دى اويوسلام سره دى دا وتر يوشان ګرځولې شوى دى.

[١٣٤٤] په سفر کښې جمع بين الصلاتين

١٣٤٤ - ( ) [١٢] [۱] وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ: إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَرْتَحِلَ؛ [۳] جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ، [۴] وَإِنِ ارْتَحَلَ قَبْلَ أَنْ تَزِيغَ الشَّمْسُ أَخَّرَ الظُّهْرَ، حَتَّى يَنْزِلَ لِلْعَصْرِ،

ترجمه: [۱] معاذ ابن جبل ﷺ فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به په غزوه تبوک کې (داسې عمل کولو) چې کله به د کوچ کولو څخه مخکې د غرمې زوال وشو [۳] نو حضور ﷺ به د ماسپښين او مازيګر مونځ يو ځاي کولو [۴] او کله چې به يې غرمه د زوال کيدو څخه مخکې کوچ (سفر) کولو نو د ماسپښين په لمانځه کې به يې تاخير کولو او د مازيګر د

(۱) اخرجه الترمذى فى كتاب الصلوة /باب ما جا فى الجمع بين الصلاتين،... رقم الحديث ٥٥٦

پاره به ښکته کيدل (يعني د ماسپښين او د مازيګر دواړه لمونځونه به يې يو ځاي کول)

[١] وَفِي الْمَغْرِبِ مِثْلَ ذَلِكَ، [٢] إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَرْتَحِلَ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ، [٣] وَإِنِ ارْتَحَلَ قَبْلَ أَنْ تَغِيبَ الشَّمْسُ أَخَّرَ الْمَغْرِبَ [٤] حَتَّى يَنْزِلَ لِلْعِشَاءِ، ثُمَّ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او د ماښام په لمانځه کې به هم حضور ﷺ [٢] دغسې کول [٢] کله چه به نمر د حضور ﷺ د کوچ کولو څخه مخکې ډوب شو نو د ماښام او ماسخوتن دواړه لمونځونه به يې يو ځاي کول [٣] او که د نمر د غروب کيدو څخه مخکې به يې کوچ کولو نو د ماښام په لمانځه کې به يې تاخير کولو [٤] تر دې چې د ماسخوتن د لمانځه د پاره به ښکته شو نو هغه وخت به يې دواړه لمونځونه يوځاي کول. (ابوداؤد، ترمذي)

حل اللغات:- ① زَاغَتِ: زوال به اوشو، ② ارْتَحَلَ: واپس به شو.

تسهيلات:- **قوله** : جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ:

داستدلال عدم صحت:- دَدې حديث تشريح اوتوضيح وړاندې تيره شوې ده جمهور دَدې نه استدلال نشي کولې. يو خودا ډير ضعيف دې. بله دا چې په دې حديث کښې ډير احتمالات دي لهذا احتمال سره استدلال صحيح نه دې.

[١٣٤٥] په سورلۍ باندې د نفلي مونځ کولو حکم

١٣٤٥ —(١)[١٣] [١] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ وَأَرَادَ أَنْ يَتَطَوَّعَ، [٣] اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ بِنَاقَتِهِ، فَكَبَّرَ، [٤] ثُمَّ صَلَّى حَيْثُ وَجَّهَهُ رِكَابُهُ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه فرمايي [٢] چې رسول الله ﷺ چې به کله سفر کولو (يعني د ښار څخه به چې وتلو که مسافر به وو او که مقيم) او د نفل مونځ کولو اراده به يې وکړه [٣] نو د خپلي اوښې مخ به يې د قبلې طرف ته وګرځولو او تکبير تحريمه به يې ويلو [٤] بيا کوم طرف ته چې به د سوارلۍ مخ وو هغه طرف ته به يې مونځ کوي. (ابوداؤد)

تسهيلات:-

نوټ:- د دې حديث تشريح په راروان حديث نمبر ۱۳۴۶ کښې اوګورئ

[١٣٤٦] د نبی ﷺ پر سورلۍ باندې مونځ کول

١٣٤٦ —(٢)[١٤] [١] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] «بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَاجَةٍ، [٣] فَجِئْتُ وَهُوَ يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ، [٤] وَيَجْعَلُ السُّجُودَ أَخْفَضَ مِنَ الرُّكُوعِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي [٢] چې رسول الله ﷺ زه د څه کار د پاره (چېرته) وليږلم [٣] کوم وخت چې زه واپس راغلم نو ما وليدل چې رسول الله ﷺ په خپلي سورلۍ د

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلوة / باب التطوع علی الراحلة والوتر... رقم الحديث ١٢٢٧

(٢) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلوة... رقم الحديث ١٢٢٩

مشرق طرف ته مخ کړي مونځ کولو[٤] او سجده به يي د رکوع څخه زياته ټيټه کوله. (ابوداؤد)

حل اللغات:-① نَحْوَ: دنحو مختلفې معانې دی دلته په معنی دطرف دې② أَخْفَضَ: زياته ښکته (ټيټه).

تسهيلات:-

قوله: وَهُوَ يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ

په سورلۍ باندې د نفل مونځ حکم کښې اختلاف:-دامام شافعي رحمه الله په نيز په مذکوره صورت کښې قبلې ته مخ کول شرط دې.اود امام اعظم رحمه الله په نيز په فرض کښې خو شرط دې خو په نفل مونځ کښې شرط نه دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٣٤٧]دَ حضرت عثمان رضي الله عنه منی کښې دَ قصر نه کولو وجه

١٣٤٧- ()[١٥][١] عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ:[٢] «صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ،[٣] وَأَبُو بَكْرٍ بَعْدَهُ، وَعُمَرُ بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ،[٤] وَعُثْمَانُ صَدْرًا مِنْ خِلَافَتِهِ،[٥] ثُمَّ إِنَّ عُثْمَانَ صَلَّى بَعْدُ أَرْبَعًا،[٦] فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا صَلَّى مَعَ الْإِمَامِ صَلَّى أَرْبَعًا،[٧] وَإِذَا صَلَّاهَا وَحْدَهُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١] ابن عمر رضي الله عنه فرمايي[٢] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په منې کې (څلور رکعاتو والا لمونځ) دوه رکعاته کړي دي[٣] د حضور صلی الله علیه وسلم څخه وروسته حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه هم دوه رکعاته کړي دي او د هغه څخه وروسته حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هم دوه رکعاته کړي دي[٤] او حضرت عثمان رضي الله عنه هم د خلافت په ابتداء کې خو دوه رکعاته کړي دي[٥] ليکن وروسته يي څلور رکعاته کول[٦] د ابن عمر رضي الله عنه په باره کې منقول دي چې هغه به کله امام (يعني حضرت عثمان رضي الله عنه) سره مونځ کولو نوڅلور رکعاته به يي کول[٧] اوکله چې به يي يوازې (يعنی سفر کې) مونځ کولو نودوه رکعاته به يي کول.(بخاري،مسلم)

حل اللغات:- ① صَدْرًا: په ابتدا کښې.

تسهيلات:- **قوله:** وَأَبُو بَكْرٍ بَعْدَهُ، وَعُمَرُ بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ:

د شيخينو په منی کښې سفرانه مونځ کول:- مطلب دادې چې حضرت رسول کريم صلی الله علیه وسلم او حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به چې کله حج ته په سفر تلل او منی ته به اورسيدل نو هلته به ئې هم مسافرانه (يعنی قصر مونځ) ادا کولو. داشان حضرت عثمان رضي الله عنه هم دخپل خلافت په ابتدائی دور کښې دوه رکعته مونځ ادا کړې دې. خو روستو به ئې څلور رکعاته مونځ کولو.

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة /باب الصلاة بمنی (رقم-١٠٨٢) ومسلم کتاب صلاة المسافرين وقصرها /باب قصر الصلاة بمنی (رقم) ١٦ - (٦٩٤) والنسائی کتاب تقصير الصلاة فی السفر/باب الصلاة بمنی (رقم-١٤٥١)

قوله: ثُمَّ إِنَّ عُثْمَانَ صَلَّى بَعْدُ أَرْبَعًا:

دحضرت عثمان په منی کښې د اتمام کولو توجیهات:- حضرت عثمان رضی الله عنه په مکه مکرمه کښې متأهل وو. ددې تائید د امام احمد رحمه الله د روایت نه هم کیږي چې حضرت عثمان رضی الله عنه منی کښې څلور رکعته ادا کړل. نو خلق حیران شو ، دوئ اوفرمائیل چې ائې خلقو زه په مکه مکرمه کښې متأهل یم. یعنی قبیله لرم. اوما د رسول کریم صلی الله علیه وسلم نه آؤریدلی دی چې وې فرمائیل چې کوم کس په یو ښار کښې متأهل وی نو هغه دې د مقیم پشان مونځ ادا کوی. دحضرت عثمان رضی الله عنه په دې عمل باندې دخلقو حیرانتیا ددې خبرې دلیل دې چې حضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم به په سفر کښې پورا مونځ نه کولو اودا چې د سفر په حالت کښې قصر لازم دې. ګنې خلقو به د حیرانتیا اظهار ولې کولو.

② د حج په موسم کښې به ډیر زیات مسلمانان په منی کښې راجمع کیدل او په دوئ کښې داسې خلق هم وو چې نوی نوی اسلام کښې داخل شوی وو، او ددین احکامو باندې پورا نه پوهیدل. نو په دې وجه حضرت عثمان رضی الله عنه نه د هغوئ د زدکړې دپاره څلور رکعته ادا کول چې کوم مسلمانان خبر نه دی چې هغوئ ته معلومه شی چې د مونځ څلور رکعته دی. که قصر ئې کولې او دوه رکعته ئې کولې نو هغه خلقو به دا ګڼړل چې دا هم دوه رکعته فرض دی. یا دا هم وئیلې شی چې آخر کښې د حضرت عثمان رضی الله عنه عمل دحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها د رائې مطابق شوې وو. ځکه چې د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها په نزد د سفر کښې قصر او اتمام دواړه جائز وو.

[١٣٤٨] په اول کښې د دوو رکعتو مونځونو فرضیت

١٣٤٨-(١)[١٦] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② فُرِضَتِ الصَّلَاةُ رَكْعَتَيْنِ، ③ ثُمَّ هَاجَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَفُرِضَتْ أَرْبَعًا، ④ وَتُرِكَتْ صَلَاةُ السَّفَرِ عَلَى الْفَرِيضَةِ الْأُولَى، ⑤ قَالَ الزُّهْرِيُّ: قُلْتُ لِعُرْوَةَ: مَا بَالُ عَائِشَةَ تُتِمُّ؟ ⑥ قَالَ: تَأَوَّلَتْ كَمَا تَأَوَّلَ عُثْمَانُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① د بي بي عائشه صديقه رضی الله عنها په باره کې منقول دي چې هغي وفرمايل ② په ابتداءکي سفر او حضردواړو کښې) د لمانځه دوه رکعاته فرض شوې وو ③ بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم هجرت وکړو نو (د مقيم د پاره) څلور رکعاته فرض مقرر شو ④ او د سفر په حالت کې اولني دوه رکعاته فرض پاتې شو ⑤ امام زهري رحمه الله فرمايي چې ما عروه رحمه الله ته عرض وکړو چې بي بي عائشه رضی الله عنها له څه شوې دي چې هغه په سفر کې پوره څلور رکعاته مونځ

[١]) اخرجه البخارى فى كتاب الصلاة/باب: كيف فرضت الصلاة فى الإسراء؟ (رقم-٣٥٠) ومسلم فى كتاب صلاة المسافرين وقصرها/باب صلاة المسافرين وقصرها (رقم) ١ - (٦٨٥) وابوداود كتاب الصلاة،باب الصلاة المسافر (رقم-١١٩٨) ومالك فى الموطا كتاب قصر الصلاة فى السفر ، باب قصر الصلاة فى السفر (رقم-٨)

کوي ⑥ هغه وفرمایل چه هغې هم داسې تاویل کولو څنګه چې حضرت عثمان رضي الله عنه تاویل کولو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① تَأَوَّلَتْ: تاویل کوی.

تسهیلات: -

قوله: كَمَا تَأَوَّلَ عُثْمَانُ:

په اول کښې د مونځو د رکعتونو تعداد: - مطلب دادې چې په شروع کښې د مونځ دوه رکعته فرض کړې شوی وو لیکن روستو دماسپخین ، مازیګر او ماسختن څلور څلور رکعته فرض اوګرزولې شو. البته د ماښام مونځ ئې هم په اولنی حکم باندې قائم اوساتلو. ددې نه معلومه شوه چې د سفر په حالت کښې څلور رکعتی مونځ دوه رکعته کول د څلور رکعتو مشروع کیدو نه پس رخصت نه دې. بلکه په اصل کښې هم مشروع دی. چونکه دوه رکعته دی په دې وجه قصر عزیمت یعنی لازم دی رخصت په کښې نشته دې. یعنی چې د چا خوښه وی نو دوه رکعته دې ادا کړی او چې د چا خوښه وی نو پورا مونځ دې ادا کړی.

د مسلک حنفی تائید: - دې سره دامام اعظم دمسلك تائید کیږی. لهذا که څوك د سفر په حالت کښې وی او په ده باندې قصر لازم وی او پورا مونځ کوی او په اوله قعده باندې به کینی نو دابه ښه نه کوی ، او دده زیات دوه رکعته بهٔ نفل شی ، او که یو کس څلور رکعته داشان کوی چې په اوله قعده نه کیږنی ځکه چې حکماً هم دا آخری قعده ده نو دده فرض مونځ به باطل شی.

دحضرت عائشې تاویل: - د حدیث مبارك دآخری الفاظو (تَأَوَّلَتْ كَمَا تَأَوَّلَ عُثْمَانُ) مطلب دادې چې لکه څنګه حضرت عثمان رضي الله عنه به په سفر کښې څلور رکعته کول او ددې خپل عمل تاویل به ئې کولو نو داشان حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها به هم په سفر کښې څلور رکعته مونځ کولو او ددې خپل عمل تاویل به ئې کولو.

د عثمان و عائشې رضی الله عنهما تاویل: -

① حضرت عثمان رضي الله عنه او حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها دواړو به سفر کښې قصر او اتمام دواړه جائز ګنړل.

[١٣٤٩] قصر د الله تعالی جل جلاله حکم

١٣٤٩-()[١٧] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: ② «فَرَضَ اللَّهُ الصَّلَاةَ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَضَرِ أَرْبَعًا ③ وَفِي السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ، ④ وَفِي الْخَوْفِ رَكْعَةً». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابن عباس رضي الله عنهما فرمایي ② چې الله جل شانه ستاسو د نبي صلى الله عليه وسلم په ژبه په حضر

---

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الصلوة المسافرین /باب الصلاة المسافرین وقصرها... رقم الحدیث ١٦٠٧

کې څلور رکعاته مونځ فرض کړي دي[٣] او په سفر کې دوه رکعاته [٤] او د خوف په حالت کې يې يو رکعت فرض کړي دي. (مسلم)

حل اللغات: - اَلْخَوْفِ: ويره،

تسهيلات: - **قوله**: وَفِي الْخَوْفِ رَكْعَةً:

په صلاة الخوف کښې دامام سره د يو رکعت ادا کول: - يعنی دَ دښمن دَ ويرې په وخت صلوة خوف کښې يو رکعت امام سره فرض دې او يو رکعت ځان له فرض دې. کله چه سړې په سفرکښې وی په دې حديث کښې دَسفرپه حالت کښې دَصلوة خوف نقشه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما بيان کړې ده. دَدې حديث مطلب دانه دې چه صلوة خوف صرف يو رکعت دې. دامت ټول فقهاء دَ صلوة خوف دَ دوؤ رکعتوقائل دی. دَ يو رکعت خبره دَ حسن بصری رحمه الله نه علاوه بل چانه ده کړې. صلوة خوف کښې به تفصيل ان شاء الله راشي.

[١٣٥٠] د سنت څخه د قصر ثبوت

> ١٣٥٠ - (١) [١٨] [١] وَعَنْهُ، وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَا: [٢] «سَنَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ، [٣] وَهُمَا تَمَامٌ غَيْرُ قَصْرٍ، [٤] وَالْوِتْرُ فِي السَّفَرِ سُنَّةٌ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] ابن عباس او ابن عمر رضي الله عنهم فرمايي [٢] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د سفر د لمانځه د پاره دوه رکعاته مقرر کړي دي او هغه ناقص نه دي، پوره دي [٤] او په سفر کې وتر سنت دي. (ابن ماجه)

تسهيلات: - **قوله**: تَمَامٌ غَيْرُ قَصْرٍ:

د غير قصر مفهوم: - مطلب دادې چه دَ سفردَپاره هم دوه رکعته مشروع دی. داسې نه ده چه اول څلورر کعته مشروع وو اوروستو دوه رکعته کړې شو دوه پاتې شو او دوه ساقط کړې شوداسې نه ده بلکه دَ سفرهم دوه رکعته دَ شروع نه پوره راروان دی اووتر په سفرکښې سنت دی دامسئله واضحه کيږی چه که سفرنه وی نووتر واجب دی.

[١٣٥١] دَقصر دَمسافت حد

> ١٣٥١ - (٢) [١٩] [١] وَعَنْ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، [٢] بَلَغَهُ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ كَانَ يَقْصُرُ فِي الصَّلَاةِ فِي مِثْلِ مَا يَكُونُ بَيْنَ مَكَّةَ وَالطَّائِفِ، [٣] وَفِي مِثْلِ مَا بَيْنَ مَكَّةَ وَعُسْفَانَ، [٤] وَفِي مِثْلِ مَا بَيْنَ مَكَّةَ وَجُدَّةَ، [٥] قَالَ مَالِكٌ: وَذٰلِكَ أَرْبَعَةُ بُرُدٍ. رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّأِ".

ترجمه: [١] امام مالك رحمه الله راوي دي [٢] چې هغه ته د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په باره کې دا خبر رارسيدلي دي چې ابن عباس رضي الله عنهما به قصر مونځ کولو د هغه مسافت په دوران کې

(١) اخرجه ابن ماجة فى كتاب الاقامة الصلاة والسنة فيها/ باب ما جا فى الوتر فى السفر... رقم الحديث ١١٩٤

(٢) اخرجه الموطا فى كتاب الندا للصلاة... رقم الحديث ٤٩٥

چې د مکې او طائف په مینځ کې دي [٣] او د هغه مسافت چې د مکې او عسفان په مینځ کې دي [٤] او د هغه مسافت چه د مکې او جدې په مینځ کې دي ،[٥] امام مالك رحمه الله فرمايي دا مسافت (فاصله) څلور بريده ده. (موطاء)

حل اللغات: - ① بُرُدٍ: دا جمع د برید دې، د مسافت یو مقدار دې. یو برید ۴ فرسخه وی. او او یو فرسخ ۳ میله دې. نو یو برید ۴۸ میله شول.

تسهیلات: - - قوله: وَذَٰلِكَ أَرْبَعَةُ بُرُدٍ:

د برید مفهوم: - څلور بریده د شپاړسو فرسخو برابر دی ، یو فرسخ د دریو میلو برابر وی ، او یو میل د محدثینو په نزد د څلور زرو لاسونو مسافت برابر دې ، داشان څلور بریده د اته څلویښتو میلو مسافت شو. که یومنزل د دولسو میلونو اوګرزولې شی نو څلور بریده به دڅلورو منزلونو برابر وی.

د څلورو بریدو مصداق: - په ظاهره ددې حدیث پاك نه معلومیږی چې په حدیث پاك کښې دکومو دریو مسافتونو ذکر کړې شوې دې هغه یوشان دی یعنی څومره مسافت چې د مکې او طائف په مینځ کښې دې نو دومره مسافت د مکې او عسفان په مینځ کښې وی. داشان څومره مسافت چې ددې دواړو جدا جدا وی هم دومره مسافت د مکې او جدې ترمینځه به وی . حالانکه حقیقت کښې دا درې واړه مسافتونه برابر نه دی. داوئیل به ډیر مناسب وی چې د حضرت امام مالك رحمه الله قول ذلك أربعة برد یعنی دا مسافت څلور بریده دې. نو ددې تعلق د آخری مسافت سره یعنی د مکې او جدې په مینځ کښې مسافت دې چې دمکې او د جدې په مینځ کښې فاصله څلور بریده ده .

قوله: كَانَ يَقْصُرُفِي الصَّلَاةِ

د قصر په مسافت کښې د نص عدم وجود: - د حضرت ابن عباس رضی الله عنه ددې مذکور فعل باره کښې علماء کرام لیکی چې قرآن اوحدیث کښې د مسافت قصر څه حد نه دې بیان شوې بلکه مطلقا د سفر ذکر کړې شوې دې. د قصرمونځ په باب کښې چې کوم احادیث دی په هغې باندې د نظر اچولو نه پس دا خبره واضح کیږی چې کوم کوم ځائې کښې هم دقصر مونځ ذکر کړې شوې دې اود حضرت ر سول کریم صلی الله علیه وسلم قصر مونځ بیان کړې شوی دی د هغه ټولو مواقع په مسافت کښې فرق دې ، ځینې مسافتونه کم دی او ځینې مسافتونه زیات دی. د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه پس صحابه کرامو ، تابعینو او آئمه کرامو او علماء کرامو د امت آسانتیا دپاره د خپل خپل اجتهاد په ذریعه او غور وفکر کولو نه پس د مسافت دقصر حد مقرر کړې دې چې ددې حد نه په کم مسافت باندې به قصرمونځ نه کیږی. بلکه پورا مونځ به کوی. او ددې مسافت یا ددې نه زیات مسافت په صورت کښې به قصر واجب وی.

[١٣٥٢] په سفر کې سنت کولو بيان

١٣٥٢-(١)[٢٠] ١ وَعَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ «صَحِبْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَفَرًا، ٣ فَمَا رَأَيْتُهُ تَرَكَ رَكْعَتَيْنِ إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، ٤ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ حضرت براء رضي الله عنه فرمايي ٢ چې ما ته د رسول الله ﷺ سره اتلس ورځو د سفر شرف حاصل شوې دې ٣ ما په دې دوران کې داسې هيڅ کله نه دي ليدلي چې حضور ﷺ د نمر د زوال څخه وروسته د ماسپښين د لمانځه څخه مخکې دوه رکعاته پريښي وي، ابوداؤد ترمذي، ٤ امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات:- ① زَاغَتِ: زوال به اوشو.

تسهيلات:-

نوټ:- په حديث کښې څه مشکل نشته. د ترجمې څخه مطلب واضح دې.

[١٣٥٣] د فرصت په موقع په سفر کښې د نفلو کول

١٣٥٣-(٢)[٢١] ١ وَعَنْ نَافِعٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ٢ «إِنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ يَرَى ابْنَهُ عُبَيْدَ اللّٰهِ يَتَنَفَّلُ فِي السَّفَرِ ٣ فَلَا يُنْكِرُ عَلَيْهِ». رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ١ نافع رحمه الله فرمايي ٢ چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه به خپل زوي عبيدالله د سفر په حالت کې په نفل لمانځه کولو ليدلو ٣ او هغه به يي نه منع کولو. (مالك)

تسهيلات:- قوله: بْنَ عُمَرَ كَانَ يَرَى ابْنَهُ:

د حديثينو په مينځ کښې تعارض:- دې نه وړاندې په حديث نمبر ۶ کښې په واضحه توګه ذکردی چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دَ سفر په حالت کښې دَخلقو په نفلونه کولو سره حيرانتيا هم اوکړه او پخپله دَنه کولو وجه ئې هم بيان کړه ليکن دلته په زيربحث حديث کښې ذکردی چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما خپل ځوئی په سفر کښې نفل کولو سره اوکتلو او په هغه باندې څه منع والې اونه فرمائيلو دَدې څه وجه ده؟

دتعارض جوابونه:-

① کيدې شی چه دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما ځوئی دَ سنت مؤکده مونځ کولو په دې وجه ئې نه منع کړو اونه ئې اوټوکلو.

---

(١) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب التطوع فى السفر (رقم-١٢٢٢) والترمذى كتاب السفر /باب ما جاء فى التطوع فى السفر (رقم-٥٥٠)

(٢) اخرجه مالك فى الموطا كتاب قصر الصلاة فى السفر ، باب صلاة النافلة فى السفر، بالنهار والليل، والصلاة على الدابة (رقم-٢٤)

② ډیر ممکن دی چه دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما خوئی عبید الله رحمه الله په داسې وخت کښې مونځ کولو په کوم کښې چه کافی وسعت وه اوهغه دغه شان فارغ وخت کښې کله سرې خپل ځان په بل څه کار کښې نه لګوی بلکه په مونځ کولو کښې مشغول کیږی نو هغه بندونکې به څوک وی؟

③ یا دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په ذهن کښې به دا آیت ﴿ اَرَءَيْتَ الَّذِيْ يَنْهٰى ۙ عَبْدًا اِذَا صَلّٰى ﴾ [علق الایه:١٠] په کوم کښې چه دَ عام مانځه نه بندولو باندې دَسخت وعید ذکردې په دې وجه هغوی دَمانځه نه بند نه کړو اوعبید الله رحمه الله په نوافلو کښې مشغول پاتې شو.

[٥٨/٢٤]بَابُ الْجُمُعَةِ

دَ جمعې بیان

خلاصة الباب:-

فيه أربعة عشر حديثاً مشتملة على مسئلتين:

① فضيلة يوم الجمعة و ليلتها: ١، ٢، ٥، ٧، ٨، ٩، ١٠، ١١، ١٢، ١٣، ١٤

② فضيلة ساعة في يوم الجمعة: ٣، ٤، ٥، ۶، ٨، ، ١٠.

د جمعې د مونځ ثبوت:- قال الله تعالى ﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ﴾[جمعة الایه:٩] وقال الله تعالى ﴿ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ۙ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ﴾[بروج آلایه:٣]

دجمعه د لفظ لغوی تحقیق:- په لفظ دَ جمعه کښې مختلف لغات دی دَ ټولو نه ښه لغت دَ جیم اومیم ضمه "جُمُعه" ده. دې نه پس ښکلې لغت جیم باندې ضمه اومیم سکون دې بیا دَ جیم ضمه اودَمیم فتح دَ هُمَزَه په شان دې. دَ جمعه په لفظ کښې تاء دَ تانیث دَپاره نه ده بلکه دَ مبالغه دَپاره ده.

په زمانه جاهلیت کښې د جمعې نوم:- دَ جمعه نوم دَدې اسلامی نوم دې په جاهلیت کښې دَدې نوم "یوم العروبة" ووعروبه دَ رحمت په معنی کښې ده اوس دا خبره په جمعه باندې

دجمعې په وجه تسمیه کښې مختلف اقوال:- دَ جمعه نوم کیخودلو وجه ده که نه، نوعلماؤ یوڅو وجوهات بیان کړی دی.

① په دې ورځ دَ حضرت آدم عليه السلام دَ بدن مبارک ختیه راجمع کړې شوې وه.

② په دې ورځ چونکه دَخلقو ډیره اجتماع وی خلق راجمع کیږی نودې ته جمعه اووئیلې شوه. یعنی "یوم الفوج المجموع"

③ بعضې حضرات وائی چه کعب بن لوئی په دې ورځ خلق راجمع کولو سره وعظ کولو

دَدې جمع کیدلودَ وجې نه جمعه شوه.

④ په دې ورځ په زمکه باندې دَ حضرت حوا علیهما السلام او حضرت آدم علیه السلام دَ جنت دَخروج نه پس په ړومبی ملاقات کښې اجتماع شوې وه.

دجمعې ورځ دالله تعالی لوئې نعمت: - بهرحال دَمسلمانانودَپاره جمعه مبارکه ورځ دَ الله تعالی دَ طرف نه یولوئی نعمت او لوئی رحمت دې. یهود اونصاریٰ الله تعالی دَدې ورځ نه محروم کړل او مسلمانانوته ئی دا عظیم دولت ورکړوچه دې کښې دَ روحانی برکتونو نه علاوه بې شمیره مادی فوائدهم دی. دَ پیسو خرچ کولونه بغیرتقریبًا پنځوس کروړه نه زیات مسلمانان په ټوله دنیاکښې دَ جمعو په اجتماعاتوکښې په هفته کښې یوځل رایوځائی کیږی دَجماتونوطرف ته مخ کوی اودَخطیبانو حضراتو نه وعظ اوری او قرآن اوحدیث اودین اسلام سره اینختی وی. پنځوس کروړه انسانان په هفته کښې یوځل دَ دنیاکوم یومذهب راجمع کولې شی؟ اوکه رایوځائی هم کړی نو په دې به څومره خرچه راځی واقعی دَالله تعالی دین رحمت دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٣٥٤] د جمعې د فضیلت څخه د یهودو او نصاري اعراض

١٣٥٣-()[١] ①عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"«نَحْنُ الْآخِرُونَ السَّابِقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ③ بَيْدَ أَنَّهُمْ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا، وَأُوتِينَاهُ مِنْ بَعْدِهِمْ، ④ ثُمَّ هٰذَا يَوْمُهُمُ الَّذِي فُرِضَ عَلَيْهِمْ - يَعْنِي الْجُمُعَةَ - ⑤ فَاخْتَلَفُوا فِيهِ، فَهَدَانَا اللّٰهُ لَهُ، ⑥ وَالنَّاسُ لَنَا فِيهِ تَبَعٌ، ⑦ الْيَهُودُ غَدًا، وَالنَّصَارَى بَعْدَ غَدٍ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② مونږ (په دنیا کي) وروسته راغلي یو او د قیامت په ورځ به (په شرف او مرتبه کي) د ټولو څخه مخکې یو ③ داجدا خبره ده چې اهل کتابو یعنی یهود اونصارٰی ته (د الله جل جلاله د طرف څخه) زمونږ څخه مخکې کتاب ورکړل شوې دي او مونږ ته وروسته کتاب راکړل شوې دي ④ بیا دا ورځ (یعنی د جمعې ورځ) په دي اهل کتابو باندې فرض شوې وه ⑤ خو هغوئ په دي کې اختلاف وکړو نو الله تعالی جل جلاله د دې ورځې (یعني د جمعې) په باره کې مونږ ته هدایت وکړو [په دي طور چې مونږ د الله تعالی جل جلاله د حکم فرمانبرداري کولو سره دا ورځ د الله تعالی جل جلاله د عبادت د پاره اختیار کړه] ⑥ او خلق (یعني یهود اونصارٰي) زمونږ تابع دي ⑦ یعنی یهودو صبا ورځ (یعني د جمعې څخه وروسته د خالي ورځ) اختیار کړه او نصارٰي

١) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة /باب فرض الجمعة (رقم-٨٧٦) ومسلم فی کتاب الجمعة /باب هداية هذه الأمة ليوم الجمعة (رقم-١٩ - (٨٥٥)) والنسائی کتاب الجمعة /باب إيجاب الجمعة (رقم-١٣٦٧)

ود صبا څخه بله ورځ (یعني د خالي څخه وروسته د یکشنبي ورځ) اختیار کړه. (بخاري مسلم)

[١] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ، قَالَ: "نَحْنُ الْآخِرُونَ الْأَوَّلُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [٢] وَنَحْنُ أَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ، بَيْدَ أَنَّهُمْ" [٣] وَذَكَرَ نَحْوَهُ إِلَى آخِرِهِ.

ترجمه: [١] او د مسلم په یو روایت کښې دی چې نبی کریم ﷺ اوفرمائل: مونږ آخرني یو (په وجود دنیاوی کښې او) اولنی به یو د قیامت په ورځ [٢] مونږ به جنت ته په داخلیدونکو کښې اولنی یو. خو دومره ده چې هغوي به..... [٣] او ددې پشان روایت ئې آخره پورې ذکر کړې دې.

حل اللغات:- ① بَيْدَ: دا دَ غیر په معنی کښې دې. ② تَبَعٌ: تابع، ③ غَدًا: صبا ورځ، ④ بَعْدَ غَدٍ: بله ورځ.

تسهیلات:-

نوټ:- د دې حدیث تشریح په راروان حدیث نمبر ١٣٥٥ کښې راروانه ده.

[١٣٥٥] داولین او آخرین مختلف اعتبارات

١٣٥٥-()[١] [١] وَفِي أُخْرَى لَهُ عَنْهُ، وَعَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَا: [٢] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي آخِرِ الْحَدِيثِ: [٣] «نَحْنُ الْآخِرُونَ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا، [٤] وَالْأَوَّلُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمَقْضِيُّ لَهُمْ قَبْلَ الْخَلَائِقِ.»

ترجمه: او د مسلم په یو بل روایت کې د ابوهریره رضي الله عنه او حذیفه رضي الله عنه څخه داسې منقول دي دواړو اوویل [٢] چې حضور ﷺ د حدیث په آخر کې وفرمایل [٣] چې (دنیا ته د راتلو په اعتبار سره) مونږ د ټولو څخه وروسته راغلي یو [٤] او د قیامت په ورځ به د ټولو څخه مخکې یو چې د ټول مخلوقات څخه مخکې به زمونږ د پاره (د حساب او په جنت کې د داخلیدو) حکم وشي.

حل اللغات:- ① الْآخِرُونَ : په آخر کښې راتلونکی، ② الْأَوَّلُونَ : اول تلونکی، ③ الْمَقْضِيُّ : د اسم مفعول صیغه ده. فیصله کړې شوې. ④ الْخَلَائِقُ: ټول مخلوق.

تسهیلات:- قوله: نَحْنُ الْآخِرُونَ:

دوجود په اعتبار سره د امت محمدی روسته والې:- یعنی مونږ په دنیا کښې دَ ټولونه په آخر کښې راپیدا شوی یو لیکن په عزت، منزلت او مرتبه اومقام په اعتبار سره دَ قیامت په ورځ مونږ دَ ټولو نه مخکښې یو. دَ ټول مخلوق نه مخکښې به زمونږ فیصله کیږی او مونږ به دَ ټولو نه مخکښې جنت کښې داخلیږو.

علماؤ دَ احادیثو په رڼا کښې داخبره په وضاحت سره لیکلې ده چه رسول الله ﷺ دَ ظهور اوبعثت په اعتبار سره اګرچه دَ ټولونه په آخره کښې راغلي وو لیکن په نبوت باندې سرفراز کیدو اودَ نبوت دَ برکتونو دَ ظهور په اعتبار سره حضورپاک ﷺ دَ ټولو نه

---

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب الجمعة /باب هداية هذه الأمة ليوم الجمعة (رقم) ٢٢ - (٨٥٦)

مخکښې اومقدم وو. ځکه چه "کنت نبیاً وادم بین الماء والطین" دَ حدیث هم دغه مطلب دی.

قوله: فَرَضَ عَلَيْهِمْ:

د فرض علیهم په مطلب کښې دوه اقوال:-

① یعنی الله تعالی چه په مسلمانانو باندې څنګه دَ جمعې په ورځ عبادت فرض کړې دې دغه شان دَدې ورځې عبادت په اهل کتاب او یهود اونصاریٰ باندې هم فرض ګرځولې شوې وو اوهغوی ته حکم ورکړې شوې وو چه په دې ورځ جمع شئی اودَ الله تعالی په عبادت کښې مشغول شئ.اودَدنیا کارونه پرېږدئ لیکن دغه خلقو دَخپل کم عقلئ اودَ فساد نه ډك ذهن په بنیاد باندې دَدې نه مخ واړولو نوالله تعالی دا ورځ مسلمانانوته ورکړه.

② یا دَ دې جملې مطلب دادې چه الله تعالی دَ خپل علم مطابق دَجمعې ورځ یهودیانو اونصاریٰ باندې دَ عبادت دَپاره پیش کړه اوحکم ئې ورکړو چه الله تعالی دَ عبادت دَپاره یوه ورځ ستاسو دَپاره خوښه کړې ده. دَ دې وجې نه تاسو دَخپل فکری قوت او اجتهادی سوچ نه کارواخلئ اودغه ورځ خوښه کړئ. لکه چه په دې صورت کښې دَ یهودیانو او نصاریٰ امتحان وو چه هغوی په خپل اجتهادسره دَ صحیح خبرې پورې رسیدو صلاحیت لری او که نه او په دې امتحان کښې هغوی پاس کیدې شی او که نه.

حال دادې چه دَ دغه دواړو فرقو سوچ غلط طرف ته لاړو او صحیح څیز ئې حاصل نه کړې شو بلکه په صحیح څیزکښې ئې اختلاف اوکړو او ناکام شو.

د جمعې دورځې په انتخاب کښې د اهل کتابو اختلاف:-

"فأختلفوا" یعنی اهل کتاب دَدغه ورځې په انتخاب کښې اختلاف اوکړو اودَخپل عقل سرکش اسونه ئې غلط طرف ته اوزغلول.

① نویهودیانو دَ هفتې یعنی سنیچر ورځ اختیارکړه او دا اجتهاد ئې اوکړو چه په دې ورځ الله تعالی دَ کائنات دَ تخلیق نه فارغ شوې وو نوموږ هم په دې ورځ دَ ټولو کارونو نه فارغیدو سره به عبادت کښې مشغول کیږو نویهودیانوته دَ هفتې ورځ ورکړې شوه اوهغوی تر ننه پورې یوم السبت دَ مقدس ورځې په توجه نمانځی.

② په اهل کتاب کښې بله لویه فرقه نصاریٰ اجتهاد اوکړو چه دَ اتوار په ورځ چونکه الله تعالی دَ کائنات دَتخلیق شروع کړې ده اوحال دادې هم دغه ورځ دکمالاتو او انعاماتو شروع ده په کوم کښې چه الله تعالی په خپل مخلوق باندې دَ فیض رسولو دَپاره متوجه شو اوهغوی ته ئې وجود ورکړو دَدې وجې نه دَ الله تعالی دَعبادت دَپاره هم دغه ورځ افضل او غوره ده. نو نصاریٰ دَ اتوار ورځ په توګه دَمقدس ورځې نمانځل شروع کړه او ترننه پورې ئې نمانځی. یهودیان او نصاریٰ دَ خپل غلط سوچ او سرکش عادتونو دَ وجې نه دَجمعې حقیقت حاصل نه کړې شو اوهغوی دَ دې دولت نه محروم پاتې شو. لهذا الله تعالی دَ

جمعې ورځ مسلمانانوته ورکړه. مسلمان امت هم خیرالامم دي اودا دَ جمعې ورځ هم سیدالایام ده په دې وجه الله تعالیٰ امت محمدیه له دا عزت ورکړو. اوس اوشوه داسې چه دَ جمعې دَ ورځې نه دَ پوره هفتې دَ ورځو شروع کیږي. نومسلمانان په اول نمبر باندې په جمعه راغلل دویم نمبر دَ هفتې ورځ باندې یهودیان پاتې شو او نصاریٰ په دریم نمبر دَ اتوار په ورځ راغله. "وذلك فضل الله يؤتيه من يشاء".

قوله: والناس لنا فيه تَبَعٌ:

د تابعداری مفهوم:- یعنی په عبادت کښې خلق زمونږ تابع دی ځکه چه دَ جمعې ورځ دَ تخلیق آدم او انسانی تخلیق شروع اوشوه. دَ انسان وجود هم په دې ورځ راغلو اودَ انسان وجود دَعبادت دَپاره دې لهذا په عبادت کښې دَ جمعې ورځ مبتوع اودَ ټولو نه اوله ورځ ده اوهفته او اتوار دَدې تابع دی. دَ تبع مطلب هم دغه دې اوپورته چه کوم مطلب لیکلې شوې دې چه جمعه دَ هفتې دَ اووه ورځو دَپاره ړومبې ورځ ده اوهم دَدې نه هفته شروع کیږی دغه مطلب اخستل هم صحیح دی.

[١٣٥٦] دَ جمعه دَ ورځې فضیلت

١٣٥٦ –(¹)[٢] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، [٣] فِيهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ، وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا، [٤] وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې سردار د دواړو جهانو ﷺ وفرمایل [٢] هغه ورځې چې په هغې کې نمر راخیجي د ټولو څخه بهتره ورځ جمعه ده [٣] په دي ورځ حضرت آدم علیه السلام پیدا شو (یعني د هغه تخلیق مکمل شو) په دي ورځ په جنت کې داخل شو او په دي ورځ د جنت څخه ویستل شو (او زمکې ته راښکته کړل شو) [٤] او قیامت به د جمعي په ورځ قائمیږي. (مسلم)

تسهیلات:- قوله: يَوْمُ الْجُمُعَةِ: په راتلونکی احادیث کښې هم دَدې قسم ډیرو څیزونو تذکره دَ جمعه په فضیلت کښې کړې شوې ده چه جمعه ځکه دَ ټولو ورځونه افضل ده چه په دې کښې لوئی لوئی واقعات شوی دی یابه کیږی.

د خروج آدم او د قیام قیامت په فضیلت اشکال:- اشکال دادې چه دَحضرت آدم علیه السلام دَ جنت نه راوتل په ظاهره څه دَ فضیلت خبره نه ده دَدې دَجمعې فضیلت سره څه تعلق دې؟ بل دَ قیامت قائم کیدل یوآفت اومصیبت دې دَدې دَ جمعه فضیلت سره څه کاردې؟

(¹) اخرجه مسلم فی کتاب الجمعة/باب فضل یوم الجمعة (رقم-١٨ - (٨٥٤) والترمذی کتاب الجمعة/باب فضل یوم الجمعة (رقم-٤٨٨)

داشکال دوه جوابونه :-

① دَ حضرت آدم علیه السلام دَ جنت نه راوتل دَ یوعظیم منصوبې دَ پوره کیدو دَپاره وو چه انسان دې دنیاته راشي اوآبادشي دَالله تعالی دَ کائنات نه فائده اوچته کړي اوعبادت کولوسره دَ الله تعالی رضاحاصله کړي جنت ته لاړشي. دغه شان دَ قیامت قائم کیدوسره هم دَانسانانورسیدل الله تعالی ته کیږي اودَ الله تعالی په رضااو رحمت سره جنت ملاویږي دَدې وجې نه داڅیزونه هم دَجمعې دَ فضیلت ذریعه ده.

② حضورپاک ﷺ دَ جمعې فضیلت په دې انداز سره بیان کړې دې چه جمعه کښې لوئی لوئی واقعات او انقلابات شوی دی اوبیابه هم په دغه عظیمه ورځ کښې عظیم واقعات ښکاره کیږي او په کومه ورځ چه دومره یادګاری اوتاریخي واقعات ښکاره شوی دی هغه ورځ به پخپله څورمه لويه وي. هم په دې سلسله کښې دَحضرت آدم علیه السلام دَ پیدائش عظیم الشان واقعه بیادَ جنت نه دَهغوی دَ وتلو ډیره لويه واقعه بیاقیامت کښې دکائنات دړې وړې کیدلوغوندې لوئی واقعات رسول الله ﷺ دَ جمعه ورځې سره یو ځائی کول دَجمعې انقلابی شان بیان کړې دې. داډیرښه جواب دې او په دې ټولو احادیثوکښې جاری کیدې شي په کوموا حادیثوکښې چه دَدې قسم واقعاتوذکرراغلې دې.

د عرفې اویوم الجمعې په افضلیت کښې اختلاف:- اوس بحث په دې کښې دې چه دَعرفې ورځ افضل ده که دَ جمعې ورځ افضل ده. علامه طیبی رحمه الله فرمائی بعضې حضرات وائی دَ عرفې ورځ افضل ده اوبعضې وائی دَ جمعې افضل ده.

په قولینو کښې تطبیق:- بهرحال په دې کښې داسې تطبیق کیدې شی چه په کال کښې دټولونه افضل ورځ دَعرفې ده اودَ هفتې په ورځوکښې دَ ټولونه افضل دَ جمعې ورځ ده نوځه تضادبه نه وي.

[١٣٥٧] دَجمعې په ورځ کښې د دعا د قبلیدو وخت

١٣٥٧-([1])[٣] [١] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «إِنَّ فِي الْجُمُعَةِ لَسَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ [٣] يَسْأَلُ اللَّهَ فِيهَا خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، [٤] وَزَادَ مُسْلِمٌ: قَالَ: «وَهِيَ سَاعَةٌ خَفِيفَةٌ». [٥] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا، قَالَ: «إِنَّ فِي الْجُمُعَةِ لَسَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا مُسْلِمٌ [٦] قَائِمٌ يُصَلِّي يَسْأَلُ اللَّهَ خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ».

ترجمه: [١] ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] د جمعي په ورځ یو داسې ساعت راځي که یو مؤمن بنده یي اومومي [٣] او په هغې کي د الله تعالی جل جلاله څخه د خیر سوال وکړي نو الله تعالی جل جلاله ورته هغه خیر عطا کوي (یعني په هغه ساعت کي

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/باب الساعة التی فی یوم الجمعة (رقم-٩٣٥) ومسلم کتاب الجمعة/باب فی الساعة التی فی یوم الجمعة (رقم-١٥ - (٨٥٢) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أنه یخفی التشهد (رقم-٢٩١) والنسائی کتاب الجمعة/باب ذکر الساعة التی یستجاب فیها الدعاء یوم الجمعة (رقم-١٤٣١) ومالک فی الموطا کتاب الجمعة /باب العمل فی غسل یوم الجمعة

غوښتل شوې دعا ضرور قبلیږي) بخاري مسلم،[۴] په یو روایت کې مسلم دا الفاظ مزید نقل کړي دي چې حضور ﷺ وفرمایل هغه ساعت ډیر لږ وي،[٥] او د بخاري او مسلم په یو بل روایت کې دا الفاظ منقول دي چې حضور ﷺ وفرمایل بغیر د شك شُبهې د جمعې په ورځ یو داسې ساعت راځي کوم مومن بنده یې چه وموني [٦] چې د لمانځه د پاره ولاړوي او د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهٗ څخه د خیر د پاره دعا وغواړي نو الله تعالی جَلَّ جَلَالُهٗ ورته هغه خیر ضرورو ورکوي.

حل اللغات:- ① خَفِيفَةٌ: قِلت مراد دي یعنی لږ وخت.

تسهیلات:-

قوله: إِنَّ فِي الْجُمُعَةِ لَسَاعَةً:

دَدې حدیث نه دا خبره معلومه شوه چه دَ جمعې په ورځ یو ساعت داسې دې چه که یو بنده په هغې کښې دَ الله تعالی نه سوال کوی نو الله تعالی هغه قبلوی. مطلب دا چه الله تعالی په خپل حکمت سره دغه ګهړئی او ساعت پټ ساتلې دې دې دَپاره چه هرسړې دَ جمعې ټوله ورځ عبادت او دعاګانو کښې بښه محنت اومشقت اوکړی اودَ یو خاص مختصر وخت انتظار اونه کړی.

قوله: إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ:

د دعا د قبولیت درې صورتونه:-

① چه کومه دعادې اوغوښتله الله تعالی په دنیاکښې پوره کړه اوانسان ته دَهغې دَ نتیجې علم اوشو.

② چه په دنیاکښې دَ هغې دَ قبولیت اثر نه ښکاره کیږی مګر دَقیامت په ورځ الله تعالی دَ دې دعا په بدله کښې دغه سړی ته ثواب ورکوی

③ د دعا د قبولیت یو صورت دا هم چې کله دَ دعادَ قبولیت صورت دا وی چه دعا غوښتونکی باندې یوغیبی آفت راتلونکې وی مګر دَ دعادَ برکت نه دا مصیبت او آفت اخواشی دا هم "الااعطاه" یوصورت دې. بهرحال دَ مسلمان دعا ضائع کیږی نه.

قوله: قَائِمٌ يُصَلِّي:

د مذکوره جملې په مطلب کښې درې اقوال:-

① واقعی هغه سړې په مانځه باندې ولاړ وی او سوال کوی اوهم دا ګهړئی رارسیدلې وی.

② هغه سړې دَ مونځ په انتظارکښې ناست وی ځکه چه داهم حکماً په مونځ کښې شمیرلې کیږی.

③ هغه صرف هم مونځ کوی یعنی دَ مونځ ډیره پابندی کوی. مطالب دَدې دَپاره بیان کړې شوې دې چه په دې باره کښې ټولو احادیثوکښې تطبیق راشی.

[١٣٥٨]دَ جمعې په ورځ دَ دعا د قبليدو د وخت مصداق

١٣٥٨–()[٤][١] وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى، قَالَ: [٢]«سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي شَأْنِ سَاعَةِ الْجُمُعَةِ: [٣]"هِيَ مَا بَيْنَ أَنْ يَجْلِسَ الْإِمَامُ إِلَى أَنْ تُقْضَى الصَّلَاةُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] ابي برده ابن ابي موسي راوي دي[٢] چې ما د خپل پلار بزرګوار (حضرت ابو موسٰي رضي الله عنه) څخه واوريدل فرمايل يي چې ما د رسول الله ﷺ څخه د جمعې د قبوليت د ساعت په باره کې اوريدلي دي[٣] چې هغه ساعت (د خطبې د پاره) د امام په منبر د ناستې او د لمانځه پوره کولو پورې په درمياني حصه کې دي. (مسلم)

تسهيلات:- قوله: هِيَ مَا بَيْنَ أَنْ يَجْلِسَ الْإِمَامُ:

د جمعې په ورځ د دعا د قبليدو د وخت په تعيين کښې درې اقوال:- دَ جمعې په ورځ دَ دعادَقبليدو ساعت اوداوخت خويقينى دې په دې کښې دَ چاهم اختلاف نشته دې اونه په دې کښې څه شك شته ليکن په دې کښې په علماؤکښې اختلاف دې چه هغه ساعت په کوم وخت کښې راځي.

① څنګه الله تعالى اسم اعظم پټ ساتلې دې اوشب قدرئى پټه ساتلې ده دغه شان ئى هغه دَ جمعې وخت هم پټ ساتلې دې. او

② هغه ساعت په هره جمعه کښې بدليږي. په يوه جمعه کښې دَسحروخت بله کښې دَ ماسپښين يا زوال وخت کښې راځي اوپه يوه جمعه کښې دَمازيګرنه پس راځي.

③ دَاکثروعلماؤ رائې داده چه هغه ساعت دَ جمعې په يوخاص وخت کښې راځي.

د مختلفو وختونو دلائل:-

① په زيربحث حديث کښې خودلې شوى دى چه دَامام دَ خطبې دَوخت نه واخله دَ مانځه ختميدوپورې کوم وخت دې په دې وخت کښې هغه ساعت موجود دې.

② حديث نمبر ٥ کښې حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه تصريح فرمائى چه دا ساعت دَ مازيګردَ مانځه نه پس وى. مظاهرحق کښې دَ ٣٥ اقوالو په رنړاکښې دَ ټولو وختونو ذکر کړې شوې دې هم هلته اوګورئى ليکن په زيربحث حديث کښې چه دَ يووخت متعلق تصريح راغلې داکافى ده.

....

[١]) اخرجه مسلم فى كتاب الجمعة /باب فى الساعة التى فى يوم الجمعة (رقم) ١٦ - (٨٥٣) وابوداود كتاب الصلاة،باب الإجابة أية ساعة هى فى يوم الجمعة (رقم-١٠٤٨)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٣٥٩] دَ جمعې فضيلت او دَ قبوليت وخت

١٣٥٩ — (¹)[٥] [١] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [٢] «خَرَجْتُ إِلَى الطُّورِ، فَلَقِيتُ كَعْبَ الْأَحْبَارِ، فَجَلَسْتُ مَعَهُ، [٣] فَحَدَّثَنِي عَنِ التَّوْرَاةِ، وَحَدَّثْتُهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [٤] فَكَانَ فِيمَا حَدَّثْتُهُ أَنْ قُلْتُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٥] "خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، [٦] فِيهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيهِ أُهْبِطَ، وَفِيهِ تِيبَ عَلَيْهِ، [٧] وَفِيهِ مَاتَ، وَفِيهِ تَقُومُ السَّاعَةُ،

ترجمه: [١] ابوهريره رضی الله عنه فرمايي [٢] چې (يوه ورځ) زه د كوه طور طرف ته لاړم او هلته مې د كعب احبار سره ملاقات وكړو زه د هغه سره كيناستم [٣] هغه زما په مخكې د تورات څه خبرې بيان كړې او ما د هغه په مخكې د رسول الله ﷺ حديثونه بيان كړل [٤] كوم حديثونه چې ما هغه ته بيان كړل په هغه كې يو دا هم وو چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي [٥] چې په هغه ورځو كې چې په هغې كې نمر راخيجي د ټولو څخه بهترينه ورځ د جمعې ورځ ده [٦] د جمعې په ورځ حضرت آدم علیه السلام پيدا شو، په دې ورځ د جنت څخه زمكې ته راښكته كړل شو په هغه ورځ (يعني په كومه جمعه چې د جنت څخه راښكته كړل شو) د هغې جمعې په آخري وخت كې يا دا چې د بلې جمعې په ورځ د هغه توبه قبوله شوه [٧] په دې ورځ هغه وفات شو او د جمعې په ورځ به قيامت قائميږي.

[١] وَمَا مِنْ دَابَّةٍ إِلَّا وَهِيَ مُصِيخَةٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ [٢] مِنْ حِينِ تُصْبِحُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، [٣] شَفَقًا مِنَ السَّاعَةِ، [٤] إِلَّا الْجِنَّ وَالْإِنْسَ، [٥] وَفِيهِ سَاعَةٌ لَا يُصَادِفُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ [٦] وَهُوَ يُصَلِّي يَسْأَلُ اللَّهَ شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ، [٧] قَالَ كَعْبٌ: ذَلِكَ فِي كُلِّ سَنَةٍ يَوْمٌ؟ فَقُلْتُ: بَلْ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ. [٨] فَقَرَأَ كَعْبٌ التَّوْرَاةَ، فَقَالَ: صَدَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

ترجمه: [١] او داسې هيڅ چوپايه (حيوان) نشته چې د جمعې په ورځ د قيامت كيدو منتظر نه وي [٢] د نمر ختو څخه تر نمر پريوتو پورې [يعني چوپايه ته هم دا معلومه ده چې قيامت به د جمعې په ورځ راځي ځكه هغه د جمعې ټوله ورځ په دې خوف كې مبتلا وي چې چېرته نن قيامت نشي] [٣] د قيامت د ويرې په وجه [٤] علاوه د پيريانو او انسانانو څخه (يعني جن او انس د دې د انتظار څخه غافله شوي دي) [٥] او د جمعې په ورځ يو داسې ساعت راځي كه يو مسلمان بنده هغه اومومي [٦] او هغه (حقيقتاً يا حكماً) مونځ كوي (يعني د لمانځه انتظار كوي يا دعا غواړي) او د الله تعالى جل جلاله څخه د څه شي سوال وكړي نو هغه شي

¹) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب فضل یوم الجمعة ولیلة الجمعة (رقم-١٠٤٦)والترمذی باب فی الساعة التی ترجی فی یوم الجمعة (رقم-٤٩١) والنسائی کتاب الجمعة /باب ذکر الساعة التی یستجاب فیها الدعاء یوم الجمعة (رقم-١٤٣٠)ومالک فی الموطا کتاب الجمعة /باب ما جاء فی الساعة التی فی یوم الجمعة (رقم-١٦)

ضرور ورکول کیږی (یعني هغه وخت چې څه دعا غواړي هغه قبلیږي) [٧] کعب احبار دي اوریدو سره ماته اوویل چې دا ورځ (چې ساعت قبولیت پکې پټ پروت دي) په کال کې یو ځل راځي ما ورته اوویل چې نه دا ورځ خو په هره هفته کې یو ځل راځي [٨] کعب (د دې خبري د تصدیق د پاره) تورات اولوستلو او د هغې څخه وروسته یي اوویل چې هو، رسول الله ﷺ ربښتیا ویلي دي

حل اللغات: - ① مُصِیخَةٌ: دَباب افعال نه دي غوږ لګولوسره دَ څه آواز وغیره اوریدو او انتظارکولوته وائي. دلته دَ انتظار په معنی کښې دې ② شَفَقًا: ویره، ③ لَایُصَادِفُهَا: أی لایدرکها: نه بیاموميی، نه رالاندې کوی.

[١] قَالَ أَبُوهُرَيْرَةَ: لَقِيتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ سَلَامٍ، [٢] فَحَدَّثْتُهُ بِمَجْلِسِي مَعَ كَعْبِ الْأَحْبَارِ وَمَا حَدَّثْتُهُ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ، [٣] فَقُلْتُ لَهُ: قَالَ كَعْبٌ: ذَلِكَ فِي كُلِّ سَنَةٍ يَوْمٌ؟ [٤] قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ: كَذَبَ كَعْبٌ، [٥] فَقُلْتُ لَهُ: ثُمَّ قَرَأَ كَعْبٌ التَّوْرَاةَ، فَقَالَ: بَلْ هِيَ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ. [٦] فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ: صَدَقَ كَعْبٌ. [٧] ثُمَّ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ: قَدْ عَلِمْتُ أَيَّةَ سَاعَةٍ هِيَ؟

ترجمه: [١] ابوهریره رضي الله عنه فرمايي [٢] چې (د دي څخه وروسته) ما د عبدالله ابن سلام رضي الله عنه سره ملاقات وکړو او هغه ته مي د کعب سره د ملاقات کولو تذکره وکړه او د جمعي په باره کې کعب ته چې مي کوم حدیث بیان کړي وو هغه مي هغه ته هم اووئیل [٣] بیا ما عبدالله ابن سلام ته دا هم اوویل چې کعب وایي چې دا ورځ په کال کې یو ځل راځي [٤] عبدالله بن سلام رضي الله عنه اوویل کعب دروغ ویلي دي [٥] بیا ما اوویل لیکن کعب وروسته تورات اولوستلو او هغه اوویل (چې رسول الله ﷺ صحیح ویلي دي چې) دا ساعت د هري جمعي په ورځ راځي [٦] عبدالله بن سلام رضي الله عنه وفرمایل چې کعب دا ربښتیا اووئیل [٧] بیا یي اوویل ما ته معلومه ده چې هغه کوم ساعت دي

[١] قَالَ أَبُوهُرَيْرَةَ: فَقُلْتُ: أَخْبِرْنِي بِهَا وَلَا تَضِنَّ عَلَيَّ، [٢] فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ هِيَ آخِرُ سَاعَةٍ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ، [٣] قَالَ أَبُوهُرَيْرَةَ: فَقُلْتُ: وَكَيْفَ تَكُونُ آخِرَ سَاعَةٍ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ، وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [٤] لَا يُصَادِفُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّي فِيهَا "؟

ترجمه: [١] ابوهریره رضي الله عنه وايي ما ورته اوویل چې ماته یي هم وښایه او د بخل څخه کار مه اخله [٢] نو عبدالله ابن سلام رضي الله عنه وفرمایل چې هغه د جمعي د ورځي آخري ګهړۍ ده [٣] ابوهریره رضي الله عنه وايي ما ورته اوویل چې هغه د جمعي د ورځي آخري ګهړي څنګه کیدي شی حالانکه د رسول الله ﷺ دا ارشاد دي [٤] چې کوم مؤمن بنده دا اوموميی او په هغې کې مونځ کوي (او ته وايي چې هغه ساعت د جمعي د ورځي آخري ګهړي ده هغه وخت خو مونځ نه کیږي ځکه چې مکروه دي)

حل اللغات: - ① تَضِنَّ: ضن یضن کنجوسئ او بخل ته وائي.

١ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَلَامٍ: أَلَمْ يَقُلْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "مَنْ جَلَسَ مَجْلِسًا يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ، فَهُوَ فِي صَلَاةٍ حَتَّى يُصَلِّيَ"؟ ٣ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: فَقُلْتُ: بَلَى، قَالَ: فَهُوَ ذٰلِكَ». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، ٤ وَرَوَى أَحْمَدُ إِلَى قَوْلِهِ: صَدَقَ كَعْبٌ.

ترجمه: ١ عبد الله ابن سلام رضي الله عنه وفرمايل (دا صحيح ده ليکن) آيا دا د رسول الله ﷺ ارشاد نه دي چې ٢ کوم سړي د لمانځه په انتظار کې په خپل ځاي ناست وي نو هغه (حکماً) د لمانځه په حکم کښې دي تر دي چې هغه (حقيقتاً) مونځ وکړي ٣ ابوهريره رضي الله عنه وايي چې دي اوريدو سره ما ورته اوويل چې هو حضور ﷺ دا فرمايلي دي نو عبد الله ابن سلام رضي الله عنه وفرمايل بس د لمانځه څخه مراد د لمانځه انتظار کول دي (او د ورځې په آخري حصه کې د لمانځه په انتظار کې ناسته ممنوع نه ده دا وخت که څوك دعا وغواړي نو هغه قبليږي) مالك، ابوداؤد، ترمذي، نسايي ٤ او امام احمد هم دا روايت د صدق کعب پورې نقل کړي دي.

تسهيلات:- قوله: مَنْ جَلَسَ مَجْلِسًا:

د کعب احبار تعارف:- کعب احبار دَ اهل کتاب لوئی عالم وو دَ حضورپاك ﷺ په زمانه کښې ئی اسلام قبول نه کړو. روستو مسلمان شو لهذا تابعی دې صحابی نه دې.

د قبوليت د وخت په تعين کښې يو مناظره:- په دې حديث کښې حضرت عبد الله بن سلام رضي الله عنه اوحضرت ابوهريره رضي الله عنه دَ جمعې دَ ورځې فضيلت والا دَ ګهړئی دَ هغه ساعت دَ خاصوالی متعلق يوه مکالمه بلکه مناظره ذکر کړې شوې ده. حضرت عبد الله بن سلام رضي الله عنه فرمائيل چه دا ساعت دَ مازيګرنه پس وی. حضرت ابوهريره رضي الله عنه په دې باندې اشکال اوکړو چه دَ مازيګرنه پس خومونځ کول منع دی حالانکه دَ دغه ساعت حاصلولودپاره حضورپاك ﷺ اوفرمائيل چه کوم سړې مونځ کوی نودعاقبليږی حالانکه مونځ کولې نه شی. حضرت عبد الله بن سلام رضي الله عنه په جواب کښې اوفرمائيل چه کوم سړې دَ مونځ په انتظار کښې ناست وی ولې هغه په مونځ کښې نه دې؟ حضرت ابوهريره رضي الله عنه اوفرمائيل چه او په مونځ کښې دې. حضرت عبد الله بن سلام رضي الله عنه اوفرمائيل چه دَ حضورپاك ﷺ هم دغه مقصد دې چه هغه سړې دَ مازيګر نه پس دَمونځ په انتظار کښې ترکومې پورې وی هغه په مونځ کښې وی. علماؤ ليکلی دی چه دَعام علماؤ رحجان هم دې طرف ته دې چه دَ قبوليت دا ساعت دَ مازيګرنه پس وی.

[١٣٦٠] د دعا دقبليدو اميد

١٣٦٠-()[١] ١ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«الْتَمِسُوا السَّاعَةَ الَّتِي تُرْجَى فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ ٣ بَعْدَ الْعَصْرِ إِلَى غَيْبُوبَةِ الشَّمْسِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

[١]) اخرجه الترمذی کتاب الجمعة /باب فی الساعة التی ترجی فی يوم الجمعة (رقم-٤٨٩)

ترجمه: [١] انس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د جمعې د ورځې هغه ساعت چې په هغې کې د دعا د قبلېدو اميد دی [٣] د مازيګر څخه وروسته تر نمر ډوبېدو پورې تلاش کوئ. (ترمذي)

حل اللغات: - ① اِلْتَمِسُوا: تلاش کړئ.

تسهيلات: -

قوله: بَعْدَ الْعَصْرِ إِلَى غَيْبُوبَةِ الشَّمْسِ

تخصيص بعد التعميم: - داحديث پاك دتخصيص بعد التعميم د قبيل نه دی چې اول د مطلق ساعة ذکر اوشو اوس دلته دهغه ساعت تخصيص اوکړې شو چې هغه د جمعې په ورځ د مازيګر نه پس وی.

[١٣٦١] دَ جمعې فضيلت

١٣٦١-()[٧] [١] وَعَنْ أَوْسِ بْنِ أَوْسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "إِنَّ مِنْ أَفْضَلِ أَيَّامِكُمْ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، [٣] فِيهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيهِ قُبِضَ، [٤] وَفِيهِ النَّفْخَةُ، [٥] وَفِيهِ الصَّعْقَةُ، [٦] فَأَكْثِرُوا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ فِيهِ، [٧] فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ مَعْرُوضَةٌ عَلَيَّ". [٨] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَكَيْفَ تُعْرَضُ صَلَاتُنَا عَلَيْكَ وَقَدْ أَرَمْتَ؟ [٩] قَالَ: يَقُولُونَ بَلِيتَ، [١٠] قَالَ: "إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ".

ترجمه: [١] اوس ابن اوس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د جمعې ورځ ستاسو د بهترينو ورځو څخه ده [٣] ځکه چې په دې ورځ حضرت آدم عليه السلام پيدا شوی وو په دې ورځ د هغه روح قبض شو [٤] په دې ورځ به دويمه شپيلي صور پوکيږي (چې د هغې د آواز سره به مړي راژوندي کيدو سره د حشر په ميدان کې جمع شي) [٥] په دې ورځ به (اولني) صور (شپيلي) وپوکل شي چې د هغې د آواز سره به قيامت قائم شي او ټول مخلوق به فنا شي [٦] نو په دې (يعني د جمعې) په ورځ تاسو په ما زيات درود ليږئ [٧] ځکه چې ستاسو درود ماته پيش کول کيږي [٨] صحابه ؤ رضي الله عنهم عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ زمونږ درود ستا ﷺ مخې ته څنګه پيش کول کيږي؟ حالانکه (زمونږ درود ليږلو په وخت به) ستا هډوکي بوسيده شوي وي؟ [٩] راوي وايي چې د لفظ ارمت څخه د صحابه ؤ رضي الله عنهم مراد لفظ بليت وو يعنی ستا ﷺ جسم مبارك به بوسيده شوي وي [١٠] حضور ﷺ وفرمايل الله تعالى جل جلاله د زمکې د پاره د انبياءو عليهم السلام جسم حرام کړي دي (يعنې د انبياءو عليهم السلام جسم زمکه فناء کولي نشي). (ابوداؤد، نسايي، ابن ماجه، دارمي، بيهقي)

[١]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب فضل يوم الجمعة وليلة الجمعة (رقم-١٠٤٧) والنسائی کتاب الجمعة/باب ذکر فضل يوم الجمعة (رقم-١٣٧٣) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی الصلاة بين المغرب والعشاء (رقم-١٣٧٣)

حل اللغات:- ① النَّفْخَةُ: شپیلۍ پوک وهل، د اسرافیل علیه السلام شپیلۍ پوک وهل مراد دی. ② الصَّعْقَةُ: سخت آواز، دتندر آواز، ③ أَرَمْتَ: تاسو به رژیدلی یئ؛ ④ بَلِيتَ: تاسو به خراب شوې یئ،(داد راوی دطرف نه دَ أَرَمْتَ تفسیراوترجمه ده)

تسهیلات:- قوله: فَأَكْثِرُوا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ فِيهِ:

د جمعې په ورځ په نبی ﷺ د کثرت درود وئیلو حکمت:- یعنی دَ جمعې ورځ دَ ډیرو فضیلتونو برکتونـو او لویولویوواقعـاتو ورځ ده پـه دې کـبنې پـه مابانـدې د زیـات نـه زیـات درود رالیږئی. دَ جمعې ورځ دَ ورځوسرداره ده په دې کښې یوه نیکی اویا درجوتـه رسیږی نـو پـه درودوئیلوسره به ډیره فائده رسیږی. جمعـه هم عظیم نعمت دې اودرودهم عظیم نعمت دې. دَ جمعې په ورځ زیـارت القبور فـضیلت دې نـودَ درود پـه ذریعـه بـه دَمحمـدعربی ﷺ زیارت اوشی په سترګه نه سهی زړه دماغو روح اوژبې سره به زیارت اوشی.

قوله: وَقَدْ أَرَمْتَ:

د ارمت لفظ تحقیق:- دَدې لفظ په اصل ماده کښې او بیاپه صیغه کښې ډیراختلاف دې. ډیرواضح اوصحیح دادی چه ارمت ضرب یضرب نه سخاکیدوته وائی لکه ﴿مَنْ يُحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ﴾ شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې لیکلی دی چه ارمت په اصل کښې ارممت وو یومیم حذف کړې شو ارمت پاتې شو. بهرحال داماده چه په کوم باب باندې هم یوسې دَدې په مفهوم کښې سخاکیدل پراته دی. [اشعة المعات]

د صحابی د تپوس مقصد:- دَصحابی رضی الله عنه دَ سوال مطلب دادې یارسول الله ﷺ زمونږ درودبه په تاسو باندې څنګه پیش کولې شی حالانکه تاسو په به قبرکښې ژوندی نه ئی بلکه ذره ذره بـه شـوی ئـی. دَدې پـه جـواب کـښې حـضورپاك ﷺ ارشـاد اوفرمائیـل دَ انبیـاء کرامـو بدنونه الله تعالی په زمکه باندې حرام کړی دی چه هغه ئی اوخوری. دا جواب دَ سائل دَ سوال مطابق دې. سائل اووئیل چه تاسو به دَ مرګ نه پس ژوندی نه ئی. حضورپاك ﷺ اوفرمائیل انبیاء ژوندی وی اوزه به هم ژوندې یم. دَ بدن دَ حفاظت جواب دَ سائل دَ سوال جواب دې هغه دَ مرګ خبره اوکړه نوحضوردَ حیات خبره اوکړه. دَدې مسئلې تحقیق باب التشهد کښې شوې دې.

[١٣٦٢] دَ جمعې په ورځ د دعا قبلیدل

١٣٦٢ ــ(١)[٨] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "الْيَوْمُ الْمَوْعُودُ يَوْمُ الْقِيَامَةِ، [٣] وَالْيَوْمُ الْمَشْهُودُ يَوْمُ عَرَفَةَ، [٤] وَالشَّاهِدُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، [٥] وما طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَلَا غَرَبَتْ عَلَى يَوْمٍ أَفْضَلَ مِنْهُ، [٦] فِيهِ سَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُؤْمِنٌ يَدْعُو اللهَ بِخَيْرٍ إِلَّا اسْتَجَابَ اللهُ لَهُ، [٧] وَلَا يَسْتَعِيذُ مِنْ

[١]) اخرجه الترمذی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ومن سورة البروج (رقم-٣٣٣٩)

شَيْءٍ إِلَّا أَعَاذَهُ مِنْهُ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، ٨ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا يُعْرَفُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ وَهُوَ يُضَعَّفُ.

ترجمه: ١ ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چه رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ چې ورځ وعده كړل شوي د قيامت ورځ ده ٣ مشهود د عرفه ورځ ده ٤ او شاهد د جمعې ورځ ده ٥ نمر په داسې هيڅ ورځ باندې نه طلوع او غروب كيږي (راخيجي او پريوځي) چې د جمعې د ورځې څخه افضله وي (يعني د جمعې ورځ د ټولو څخه افضله ده) ٦ په دې ورځ كې داسې يو ساعت راځي كه يو مؤمن بنده يې اومومي او په هغې كې د الله تعالىٰ جل جلاله څخه د خير سوال وكړي نو الله تعالىٰ جل جلاله هغې ته ضرور خير عطا كوي ٧ يا د كوم شي څخه پناه وغواړي نو الله تعالىٰ جل جلاله ضرور د هغې څخه پناه وركوي، احمد ترمذي، ٨ امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث غريب دي نه پيژندل كيږي مګر د يو سړي موسىٰ بن عبيده څخه او دا (موسىٰ د محدثينو په نيز د حديث په روايت كې) ضعيف شميرل كيږي.

حل اللغات:- ① اَلْيَوْمُ الْمَوْعُودُ: وعده كړې شوې ورځ (يعنى قيامت) ② اَلْيَوْمُ الْمَشْهُودُ: هغه ورځ چه خلق ورته حاضريږي (يعنى د عرفې ورځ). ③ الشَّاهِدُ: هغه ورځ چه حاضريږي (يعنى دجمعې ورځ).

تسهيلات:- قوله: اَلْيَوْمُ الْمَوْعُودُ

د سورة بروج د ايت تفسير:- اصل كښې په حديث پاك كښې دسورة البروج دآيت مبارك تفسير مقصود دې (وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ۙ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ۙ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ۗ) چې د يوم الموعود نه مراد د قيامت ورځ ده، اود شاهد نه مراد دجمعې ورځ ده. اود مشهود نه مراد د عرفې ورځ ده.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٣٦٣] دَ جمعې فضيلت

١٣٦٣ – (١) [٩] ١ عَنْ أَبِي لُبَابَةَ بْنِ عَبْدِ الْمُنْذِرِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: «قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "إِنَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ سَيِّدُ الْأَيَّامِ وَأَعْظَمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ، ٣ وَهُوَ أَعْظَمُ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ يَوْمِ الْأَضْحَى وَيَوْمِ الْفِطْرِ، ٤ فِيهِ خَمْسُ خِلَالٍ: ٥ خَلَقَ اللّٰهُ فِيهِ آدَمَ، ٦ وَأَهْبَطَ اللّٰهُ فِيهِ آدَمَ إِلَى الْأَرْضِ، ٧ وَفِيهِ تَوَفَّى اللّٰهُ آدَمَ، ٨ وَفِيهِ سَاعَةٌ لَا يَسْأَلُ الْعَبْدُ فِيهَا شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ، مَا لَمْ يَسْأَلْ حَرَامًا، ٩ وَفِيهِ تَقُومُ السَّاعَةُ، ١٠ مَا مِنْ مَلَكٍ مُقَرَّبٍ وَلَا سَمَاءٍ وَلَا أَرْضٍ وَلَا رِيَاحٍ وَلَا جِبَالٍ وَلَا بَحْرٍ إِلَّا هُوَ مُشْفِقٌ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ ابو لبابه ابن عبدالمنذر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ د جمعې ورځ د الله تعالىٰ جل جلاله په نيز د ټولو ورځو سرداره ده او په ټولو ورځو كې زياته باعظمته ده ٣ او د الله تعالىٰ جل جلاله په نيز د جمعې د ورځې عظمت د عيد الفطر او بقر عيد (وړوكي او لوي اختر) د ورځې څخه هم زيات دي ٤ او په دې ورځ كښې پنځه خبري (خوبيانې) دي

[1] اخرجه ابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب في فضل الجمعة (رقم-١٠٨٤)

(چې د دې د عظمت او فضیلت دلیل دی)[٥] ① په دي ورځ الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ حضرت آدم علیه السلام پیدا کړو [٦] ② په دي ورځ الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ حضرت آدم علیه السلام زمکې ته راښکته کړو [٧] ③ په دي ورځ الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ حضرت آدم علیه السلام وفات کړو [٨] ④ په دي ورځ کې یو ساعت داسې راځي چې په هغې کې بنده د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ څخه د حرام شي څخه علاوه څه چې هم غواړي الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ یي ورته ضرور عطا کوي (یعنی حرام شي غوښتل مقبول نه دي)[٩] ⑤ او په دي ورځ به قیامت قائمیږي [١٠] ټولي مقربي فرښتي، آسمان، زمکه، هوا، غرونه او دریابونه ټول د جمعي د ورځي څخه ویریږي (په دي وجه چې قیامت د جمعي په ورځ راتلونکي دي معلومه نه ده چه کوم وخت راځي)[١] (ابن ماجه)

حل اللغات:- ① خِلَالٍ: خوبیاني، صفات. ② أَهْبَطَ: راکوز ئې کړو، ③ مُقَرَّبٍ: نژدې کړې شوې، عزتمند. ④ مُشْفِقٌ: صیغه داسم فاعل ده، ویریدونکې

تسهیلات:-

قوله: وَهُوَ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ يَوْمِ:

د جمعې د ورځې افضلیت:- د حدیث مبارک الفاظو (وَهُوَ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ يَوْمِ الْأَضْحَى وَيَوْمِ الْفِطْرِ) نه معلومیږی چې یا خود عرفې ورځ دجمعې نه افضل ده یا د فضیلت په اعتبار سره دواړه مساوی دی. لیکن دحضرت رزین رحمه الله روایت کښې صراحت سره فرمائیلې شوی دی چې په ټولو ورځو کښې د ټولونه افضله ورځ د عرفې ورځ ده.

قوله: فِيهِ خَمْسٌ:

د جمعې د ورځې پنځه خصوصیات:- او په دې کښې ورځ کښې پنځه خبرې دی) دا د جمعې دورځې د فضائیلو په بیان کښې تحدید او حصر دپاره نه دی فرمائیلې شوې چې مطلب دا وی چې د جمعې په ورځ صرف دا پنځه خبرې د فضیلت دی. بلکه ددې ورځې نورې خبرې هم داسې دی چې دفضیلت په اعتبار اودعظمت په اعتبار جمعې ته په ټولو ورځو باندې فضیلت ورکوی. لکه منقول دی چې په جنت کښې به د الله ﷻ د ملاقات شرف هم د جمعې په ورځ وی یا داشان نورې خبرې هم منقول دی.

١٣٦٣-(١)[٥] [١] وَرَوَى أَحْمَدُ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ: [٢] «أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: [٣] أَخْبِرْنَا عَنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مَاذَا فِيهِ مِنَ الْخَيْرِ؟ [٤] قَالَ: "فِيهِ خَمْسُ خِلَالٍ» وَسَاقَ إِلَى آخِرِ الْحَدِيثِ.

ترجمه: [١] او امام احمد د حضرت سعد ابن عباده رضی الله عنه څخه داسې نقل کړي دي [٢] چې یو انصاري صحابي د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو او عرض یي وکړو [٣] چې یا رسول الله ﷺ ماته د جمعې په باره کښې وښایه چې په دي کې څه څه خوبیاني دي؟ [٤]

[١]) اخرجه احمد في المسند ٥/٢٨٤

حضور ﷺ ورته وفرمايل د دې ورځې ښځه خبري دي باقي حديث يي تر آخر پورې نقل کړي دي (څنګه چې پورته ذکر شوې دي).

حل اللغات:- ① خِلَالِ: خوبيانې، صفات. ② سَاقَ الحديث :أى سرده: دحديث تر آخره پورې بوتلل اوبيانول مراد دى.

تسهيلات:-

نوټ:- د دې حديث تشريح په تير حديث نمبر ١٣٦٣ کښې اوګورئ.

[١٣٦٥]دَ جمعې وجه تسميه

١٣٦٥-(¹)[١٠] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قِيلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ لِأَيِّ شَيْءٍ سُمِّيَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ؟ ٣ قَالَ ; لِأَنَّ فِيهَا طُبِعَتْ طِينَةُ أَبِيكَ آدَمَ، ٤ وَفِيهَا الصَّعْقَةُ وَالْبَعْثَةُ، ٥ وَفِيهَا الْبَطْشَةُ، ٦ وَفِي آخِرِ ثَلَاثِ سَاعَاتٍ مِنْهَا سَاعَةٌ ٧ مَنْ دَعَا اللّٰهَ فِيهَا اسْتُجِيبَ لَهُ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ١ ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه ٢ چې د جمعې نوم جمعه په کوم سبب ايښودل شوې دي؟ ٣ حضور ﷺ وفرمايل په دې وجه چې په دې ورځ ستاسو دپلار حضرت آدم عليه السلام خاوره جمع کړل شوه او د هغه خمير جوړ کړل شو ٤ په دې ورځ به (اولنى) صور (شپيلي) پوکل کيږي (چې د هغې د آواز سره به د ټولې دنيا والامړه شي) او (دويم) صور به پوک کړل شي (چې د دې په آواز سره به ټول مړي دوباره راژوندي کړل شي) ٥ او په دې ورځ به (د قيامت) سخت نيول وي ٦ او د دې ورځ په آخري دري ساعتونو کې يو داسې ساعت دي (يعني د جمعې آخري ساعت) ٧ چې هغه وخت د الله تعالى جل جلاله څخه څه دعا څوك وغواړي نو د هغه دعا قبليږي. (احمد)

حل اللغات:- ① طُبِعَتْ : جمع کړې شوه، ② طِينَةُ : خاوره، خټه، ③ الصَّعْقَةُ : سخت آواز،اولنۍ شپيلۍ، ④ الْبَعْثَةُ: دوباره راژوندى کيدل، ⑤ الْبَطْشَةُ: سخت نيول.

تسهيلات:-

قوله: لِأَيِّ شَيْءٍ سُمِّيَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ:

دجمعې وجه تسميه:- جمعې ته جمعه په دې وجه وائى چې په دې ورځ باندې دامذکوره امور راجمع کيږي. يعنى په دې ورځ به دا ټول کارونه کيږي ، مړه کيدل ، راژوندى کيدل ، او سخت رانيول وغيره.

قوله: لِأَنَّ فِيهَا طُبِعَتْ طِينَةُ أَبِيكَ آدَمَ:

دجمعې په ورځ د آدم عليه السلاد جمعې په ورځ د حضرت آدم عليه السلام د خاورې خميره جوړ کړې شوه.

¹) اخرجه احمد فى المسند ٣١١/٢

قوله: وَفِيهَا الصَّعْقَةُ:
دنفخې څخه مراد نفخه اولی ده چې په دې سره به ټوله دنیا مړه شی. (مرقاة ج/٣ص/٢٤١).
قوله: وَالْبَعْثَةُ:
ددې نه مراد نفخه ثانیه ده چې په دې سره به ټول مړی راژوندی کړې شی اګر چې خاورې سره خاورې شوی وی.

[١٣٦٦] دَ جمعې په ورځ د کثرت درود لوستلو فضیلت

١٣٦٦ —(¹)[١١] [١] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] أَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ [٣] فَإِنَّهُ مَشْهُودٌ تَشْهَدُهُ الْمَلَائِكَةُ [٤] وَإِنَّ أَحَدًا لَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ إِلَّا عُرِضَتْ عَلَيَّ صَلَاتُهُ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهَا"، [٥] قَالَ: قُلْتُ: وَبَعْدَ الْمَوْتِ؟ [٦] قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَنْ تَأْكُلَ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ [٧] فَنَبِيُّ اللَّهِ حَيٌّ يُرْزَقُ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] ابو درداء رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [٢] د جمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود راليږئ [٣] ځکه چې د جمعې ورځ مشهود (يعني حاضر کړې شوې) ده په دې ورځ ملائکې حاضريږي [٤] او کوم سړي چې په ما درود ليږي د هغه درود زما په مخکې (په ذريعهٔ مکاشفه يا بذريعهٔ ملائکه) ما ته پيش کول کيږی تر دې چې هغه د دې معاملې څخه فارغ شی [٥] ابو درداء رضي الله عنه وايي چې (د دې په اوريدو سره) ما عرض وکړو چې يا رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرګ څخه وروسته به هم درود تا صلی الله علیه وسلم ته پيش کول کيږی؟ [٦] رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې الله تعالی جل جلاله د انبياءو علیهم السلام جسمونه (اجسام) خوړل په زمکه حرام کړي دي [٧] نو د الله تعالی جل جلاله نبيان علیهم السلام (په خپلو خپلو قبرونوکې په برزخي ژوند سره) ژوندي دي او رزق ورکول کيږی. (ابن ماجه)
حل اللغات:- ① مَشْهُودٌ: حاضر کړې شوې، د جمعې ورځ مراد ده.

تسهيلات:- قوله: مَشْهُودٌ:
د شاهد او مشهود مصداق:- داحديث دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَ تفسير تائيد کوی هغوی دَ سورت بروج دَ آيت ﴿ وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ ﴾ [بروج: ٢] کښې دَمشهودنه دَ جمعې ورځ مراد اخستې ده ليکن حضرت علی رضي الله عنه دَ "شاهد" دَ لفظ نه دَجمعې ورځ مراد اخستې ده اوهم دغه راجح اوصحيح دې. دلته هم احتمال دې چه مشهودنه دَجمعې ورځ مراد ده.
قوله: عُرِضَتْ: يعنی هسې خودَهرې ورځې راليګلې شوې درود ماته پيش کولې شی ليکن دَجمعه دَ ورځې درود په خصوصی توګه ماته پيش کولې شی.
د حياة الانبياء ثبوت:- صحابی تپوس اوکړو چه يارسول الله صلی الله علیه وسلم دَ وفات نه پس به هم

(¹) اخرجه ابن ماجه فی کتاب الجنائز /باب ذکر وفاته ودفنه صلی الله علیه وسلم (رقم-١٦٣٧)

درود پیش لیږلی شی حالانکه تاسو به وفات شوی ئی؟ حضور پاك ﷺ په جواب کښې اوفرمائیل چه انبیاء کرام ژوندی وی ځکه چه الله تعالی دَ انبیاء کرامو بدنونه په زمکه باندې حرام کړځولی دی. دَحیات الانبیاء سره متعلق تول بحث باب التشهد کښې شوی دې. زیربحث حدیث کښې دَحتی یرزق الفاظ سره په واضحه توګه حیات الانبیاء ثابتیږی په دې کښې دَ کمی زیاتی ضرورت نشته. دامت په حیات الانبیاء باندې اتفاق دې په دې کښې اختلاف نه دی کول پکار.

[١٣٦٧] دَ جمعې په ورځ دَمرګ فضیلت

١٣٦٧—(١) [١٣] ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوْلَيْلَةَ الْجُمُعَةِ ③ إِلَّا وَقَاهُ اللّٰهُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ» "). رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ ④ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ.

ترجمه: ① عبدالله ابن عمرو رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② داسې هیڅ مسلمان نشته چې د جمعې په ورځ یا د جمعې په شپه وفات شی ③ او الله تعالی جل جلاله هغه د قبر د فتنې څخه (یعنې د قبر د سوال او د قبر د عذاب څخه) بچ نه کړي، احمد ترمذي، امام ترمذي رحمه الله فرمایي چه دا حدیث غریب دي او د دې اسناد متصل نه دي.

حل اللغات:- ① وَقَاهُ: بچ ساتی هغه لره.

تسهیلات:-

قوله: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوْلَيْلَةَ الْجُمُعَةِ:

د جمعې د ورځې بشارت صرف د مسلمان دپاره:- دَ جمعې په ورځ خوبه ډیرزیات کافران هم مری مګر دَ حدیث دې بشارت کښې کافران شامل نه دی بلکه دا بشارت مسلمانانو سره خاص دې یعنی یوخوش قسمته مسلمان دَ جمعې په ورځ مړ کیږی نوهغه دَ جمعې په وجه دَ الله تعالی په بې پناه رحمتونو او نعمتونو کښې وی اودَ قبردَ عذاب نه محفوظ پاتې کیږی.

د جمعې په ورځ د مرګ فضیلت:-

① یوبل حدیث کښې دی چه دَ جمعې په ورځ مړ کیدونکی مسلمان ته دَ قبر دَعذاب نه نجات ملاویږی اوهغه دَمحشر په میدان کښې به په داسې حال کښې راځی چه په هغه باندې به دَ شهیدانو مهر وی.

② په یوبل روایت کښې دی چه دَجمعې په ورځ کوم مسلمان مړ کیږی دَهغه دَپاره دَ شهید اجر اوثواب لیکلې کیږی اودَ قبردَ عذاب نه هغه بچ کولې شی.

③ په یوبل روایت کښې دی چه دکوم سړی یا ښځې دَ جمعې په ورځ انتقال کیږی یا دَ

[1]) اخرجه الترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فیمن مات یوم الجمعة (رقم-١٠٧٤)

جمعې په شپه کیږي نوهغه ښځه اوسړې دَ قبردَ عذاب نه بچ کولې شی. او الله تعالی سره به دَهغه ملاقات په داسې حال کښې کیږي چه هغه سره به څه حساب نه کیږي ځکه چه هغه سره به ګواه وی یابه په هغه باندې دَ شهیدانو مهر لګیدلې وی. دَ دې حدیث زیرې یو مسلمان سره دې چه دَمسلمان دَ جمعې په ورځ مړکیدلوسره دا فائده کیږي. یوکافر یا زندیق یا منافق ته دَدې نه څه فائده نشته. "او" دَ شك دَپاره نه دې بلکه دَقسم بیانولو دَپاره دې.

[١٣٦٨] جمعه دَمسلمان دَاختر ورځ

١٣٦٨-()[١٣] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّهُ قَرَأَ: [٢] ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ﴾ [المائدة: ٣] الْآيَةَ، [٣] وَعِنْدَهُ يَهُودِيٌّ. فَقَالَ: [٤] لَوْ نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ عَلَيْنَا لَاتَّخَذْنَاهَا عِيدًا. [٥] فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَإِنَّهَا نَزَلَتْ فِي يَوْمِ عِيدَيْنِ، فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ، وَيَوْمِ عَرَفَةَ. [٦] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] د ابن عباس رضی الله عنهما په باره کې منقول دي چې هغه يوه ورځ دا آيت اولوستلو [٢] ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ الْآيَةَ﴾ (نن ورځ مونږ ستاسو د پاره ستاسو دين مکمل کړو په تاسو مو خپل ټول نعمتونه پوره کړل او مونږ ستاسو د پاره دين داسلام خوښ کړو) [٣] د هغه سره هغه وخت يو يهودي ناست وو هغه (د ابن عباس رضی الله عنهما څخه دا آيت اوريدو سره) اوويل [٤] چې که دا آيت په مونږ نازل شوې وې نو مونږ به دا ورځ (چې دا آيت پکې نازل شوې دې) اختر مقرر کړې وو، [٥] ابن عباس رضی الله عنهما ورته وفرمايل چې دا آيت د دوو اخترونو په ورځ (يعني د حجة الوداع په موقع) د جمعې او عرفې په ورځ نازل شوې دې، [٦] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړې دې او ويلې يې دي چې دا حديث حسن غريب دي.

حل اللغات:- ① عِيدًا: ورځ د خوشحالۍ.

تسهيلات:- قوله: لَاتَّخَذْنَاهَا عِيدًا:

د يو يهودی اعتراض:- يعنى ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ﴾ [مائده: ٣] چه کوم آيت په تا نازل شوې دې دا دومره دَ لوئی شان والا آيت دې چه که په مونږ يهودو باندې نازل شوې وی نومونږ به دا ورځ دَ يادګار په توګه اودَ تاريخی ورځ په توګه نمانځله مګر تاسو مسلمانان هيڅ هم نه کوئ؟

جواب: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائيل چه تاسو دَ يواختر خبره کوئی حالانکه چه کله دا آيت نازل شو هغه وخت مونږ مسلمانانو دوه اخترونه کول. يوخودَ دې دَپاره چه دَ جمعې ورځ وه او جمعه دَ مسلمانانودَ اختر ورځ وی.

[1]) اخرجه البخاري فی کتاب تفسير القرآن/باب قوله: «اليوم أكملت لكم دينكم_ [المائدة: ٣] (رقم-٤٦٠٦) والترمذی کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة المائدة (رقم-٣٠٤٤)

اودویم اختر داسې چه هغه وخت دَ عرفې ورځ وه اوعرفه دَمسلمانانو دَپاره دَ اختر ورځ ده. یوروایت کښې دی چه یو یهودی سره دا مکالمه حضرت عمر رضی الله عنه شوې وه. هغوی اوفرمائیله پریږده مونږ خپل اخترونه پخپله پیژنو ستا ضرورت نشته دې. مونږ ته دا هم معلومه ده چه وخت کوم یو وو ورځ کومه وه. یاد ساتئی دَ عرفې ورځ وه اودَ جمعې دَ ورځې دَمازیګر وخت وو.

[۱۳۶۹] دَ جمعې د شپې او ورځې فضیلت

۱۳۶۹ —()[۱۴] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [۲] كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ رَجَبُ قَالَ: [۳] "«اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ»". [۴] قَالَ: وَكَانَ يَقُولُ: "«لَيْلَةُ الْجُمُعَةِ لَيْلَةٌ أَغَرُّ [۵] وَيَوْمُ الْجُمُعَةِ يَوْمٌ أَزْهَرُ»". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ".

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه فرمایي [۲] چې هر کله د رجب میاشت به راغله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به دعا غوښتله [۳] چې اې الله تعالی جل جلاله د رجب او شعبان په میاشت کې (زمونږ په طاعت او عبادت کې) برکت واچوي او مونږ رمضان ته ورسوي [۴] او حضرت انس رضی الله عنه وایي چې حضور صلی الله علیه وسلم به دا هم فرمایل چې د جمعې شپه روښانه شپه ده [۵] او د جمعې ورځ ځلانده (ښائسته) ورځ ده. (بیهقي)

حل اللغات:- ① أَغَرُّ: غره دَ اس په تندی باندې سپین داغ ته وائی بیا هر روښانه او مبارك مخ ته اغراووئیلې شو. ② أَزْهَرُ: روښانه مخ.

تسهیلات:- قوله: وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ:

رمضان پورې د ژوندې پاتې کیدو دعا:- دا دَامر صیغه ده چه دَ دې تقاضا داده چه یو انسان وائی اې پروردګار مونږ ته دا سعادت رانصیب کړه چه مونږ رمضان ته اورسو او په پوره رمضان کښې عبادت اوکړو تراویح اوکړو تلاوت اوکړو اوپه اعتکاف کښې کینو.

قوله: لَيْلَةٌ أَغَرُّ: دَ اغرپه ځائی غراء وئیل وو مګر دَاغرموصوف زمان محذوف دې لیلة موصوف نه دې.

....

[۱]) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان حدیث رقم ۳۸۱۵

[٥٩/٣٤]بَابُ وُجُوبِهَا]

دَ جمعې د مونځ دَ فرضيت بيان

خلاصة الباب:-

فيه تسعة أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① الزجر على من ترك الجمعة: ١، ٢، ٧، ٨.

② من تجب عليه الجمعة: ٤، ٥، ٦، ، ٩.

③ الكفارة بفوات صلاة الجمعة: ٣.

④ من لا تجب عليه الجمعة : ٦، ٩.

د جمعې د فرضيت ثبوت:- قال الله تعالى ﴿ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ﴾ [جمعه: ٩]

د جمعې د مانځه حکم:- علامه يحيى رحمه الله فرمائي چه دَجمعې مونځ محکم فريضه ده چه دَ قرآن کريم، ګنړو احاديثو او اجماع دَامت نه ثابت دې. ﴿ فَاسْعَوْا إِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ﴾ [جمعه: ٩] آيت دَ جمعې دَ فرضيت دليل دې. اواحاديث هم راغلى په کوم سره چه دَ جمعې فرض کيدل په واضحه توګه ثابتيږي لهذا دَ جمعه دَ فرضيت نه انکارکونکې کافردې اوپريخودونکې فاسق دې. کوموعلماؤ چه جمعې ته فرض کفايه وئيلې هغوى ډيره لويه غلطى کړې ده. جمعې فرض عين ده اويوڅوکسان دَ جمعې نه مستثنى دى.

د جمعې اولنې مونځ:- مدينه منوره کښې دَ ټولونه وړاندې اسعدبن زراره رضي الله عنه په کورکښې دَجمعې مونځ قائم شو. دَبعضې رواياتونه معلوميږي چه هغوى دَ حضوراکرم په حکم باندې جمعه قائم کړې وه مګر تردغه وخته پورې حضورپاک عليه السلام هم په مکه کښې ووهجرت ئى نه ووکړې ليکن بعضې رواياتوکښې دى چه اسعدبن زراره رضي الله عنه په خپل اجتهاداودَ ايمان فراست اوکشف صادق سره جمعه شروع کړې وه.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٣٧٠]دَجمعې مونځ دپريخودلو وعيد

١٣٧٠-(١)[١] ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ أَنَّهُمَا قَالَا: ٢ سَمِعْنَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَلَى أَعْوَادِ مِنْبَرِهِ: ٣ " «لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ، ٤ أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللّٰهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ، ٥ ثُمَّ

[١]) اخرجه مسلم فى كتاب الجمعة/باب التغليظ فى ترك الجمعة (رقم)٤٠ - (٨٦٥) والنسائى كتاب الجمعة/باب التشديد فى التخلف عن الجمعة (رقم-١٣٧٠) وابن ماجة كتاب المساجد والجماعات/باب التغليظ فى التخلف عن الجماعة (رقم-٧٩٤)

لَيَكُونُنَّ مِنَ الْغَافِلِينَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] ابن عمر او ابوهریره رضي الله عنهما دواړه راویان دي [٢] چې مونږ د رسول الله ﷺ څخه د خپل لرګي په منبر (یعني د هغه په ځینو دا فرمایلي) اوریدلي دي چې [٣] خلق دې د جمعي مونځ پریښودلو څخه منع شي [٤] ګیني الله تعالی جل جلاله به د هغوئ په زړونو مهر ولګوي [٥] او هغوي به په غافلو کې شمیر شي. (مسلم)

حل اللغات:- ① أَعْوَادِ: دَ عودجمع ده لرګی ته وائی. ② وَدْعِهِمُ: دَ فتحهِ یفتح نه ودع پریخودو او ترك کولو په معنی کښې دې. ③ لَيَخْتِمَنَّ: مهر به اولګوی.

تسهیلات:- **قوله**: على أَعْوَادِ مِنْبَرِهِ:

د منبر د ذکر حکمت:- چونکه په کال ٢ هجری کښې دَ حضورپاك ﷺ په اجازت سره دَ عائشه انصاریه رضي الله عنها په حکم باندې دَهغې غلام باقوم رومی کوم منبر تیار کړې وو هغه دَ غابه ځنګل دَ جاړې دارې ونې دَ لرګی نه جوړشوې وو په دې وجه صحابی دَ لرګی ذکراوکړو اودې طرف ته ئی اشاره اوکړه چه دا حدیث په ښه پوهه او هوش اوحواس سره بیانوم چه
هغه منبردَ لرګی نه جوړوو دَ څه اوسپنې یاکانړی نه وو.

قوله: وَدْعِهِمُ: یعنی خلق دې دَ جمعې پریخودو نه په لازمی توګه منع شی ګنی کَ هغوی په زړونوباندې به الله تعالی دَ جباریت مهراولګوی بیا به داخلق هم په غفلت کښې پراته وی اوبیابه په عذاب کښې راګیرشی.

د تارك الجمعة حکم:- دَ جمعه دَ فرضیت نه که یوسړې انکاراوکړی نوهغه کافردې او که په سستئی سره ئی پریږدی نو هغه فاسق دې. راتلونکی دَدې نه هم سخت وعیدات راروان دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٣٧١] د جمعي د مانځه د پریښودلو سزا

١٣٧١-(١)[٢] [١] عَنْ أَبِي الْجَعْدِ الضَّمْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «مَنْ تَرَكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا بِهَا، [٣] طَبَعَ اللّٰهُ عَلَى قَلْبِهِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١] ابو الجعد ضمري رضي الله عنه راوي دي چې سرتاجِ دوعالم ﷺ وفرمایل [٢] کوم سړي چې محض د سستي په بناء دري جمعي مونځ پریږدي [٣] الله تعالی جل جلاله به د هغه په زړه

[1]) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب التشدید فی ترک الجمعة (رقم-١٠٥٢) والترمذی کتاب الجمعة/باب ما جاء فی ترک الجمعة من غیر عذر (رقم-٥٠٠) والنسائی کتاب الجمعة/باب التشدید فی التخلف عن الجمعة (رقم-١٣٦٩) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب فیمن ترک الجمعة من غیر عذر (رقم-١١٢٥) والدارمی کتاب الصلاة /باب فی فضل یوم الجمعة

مهر ولګوي، (ابوداؤد، ترمذي، نسايي، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات:- ① تَهَاوُنًا: دَ سستئی په وجه.

تسهیلات:-

قوله: تَهَاوُنًا بِهَا: یعنی چه دَ سستئی په وجه ئی درې جمعې ترک کړې نودَهغه سړي په زړه باندې به دَ نفاق مهر اولګی. اوکه چرې دَ انکار په صورت کښې ترک کړی نودې سره به هغه سړی کافرشی.

١٣٧٢—(¹)[٥] ١ وَرَوَاهُ مَالِكٌ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ.

ترجمه: ١ او امام مالك دا روایت د صفوان ابن سلیم څخه نقل کړي دي.

١٣٧٣—(²)[٥] ١ وَأَحْمَدُ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ.

ترجمه: ١ او امام احمد د ابو قتاده څخه نقل کړي دي.

[١٣٧٤] بغیرعذره د جمعې په پریخود د صدقې کول

١٣٧٤—(³)[٣] ١ وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ٢: "«مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ، فَلْيَتَصَدَّقْ بِدِينَارٍ، ٣ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَبِنِصْفِ دِينَارٍ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ سمره ابن جندب رضي الله عنه راوي دي چې سردار د دواړو جهانو ﷺ وفرمایل ٢ کوم سړي چې بغیر د عذر څخه د جمعي مونځ پریږدي هغه ته پکار دي چې یو دینار صدقه ورکړي ٣ او که یو دینار ورسره نه وي نو نیم دینار دي ورکړي، (احمد، ابوداؤد، ابن ماجه)

تسهیلات:- قوله: فَلْيَتَصَدَّقْ بِدِينَارٍ:

دَ جمعې د مونځ قضا کیدو کفاره:- یعنی که چادَ سستئی دَ وجې نه دَ جمعې مونځ پریخودو نوهغه لـه دَ کفارې په توګه یودینارخرچ کول پکاردی خوکه سړې غریب وی نونصف دیناردې اداکړی. نن صباد کویت دینار ١٩٠روپې پاکستانی سره نیزدې دې. په دې صدقه سره خودَ جمعې دَترك كولوګناه خو ختمیدې نه شی البته په هغې به تخفیف راشی اودې پریخودونکی ته به بنه تنبیه اوشی چه ده دګناه ارتکاب کړې دې اوس جرمانه اداکوی.

¹) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الجمعة /باب القراءة فی صلاة الجمعة، والاحتباء، ومن ترکها من غیر عذر (رقم-٢٠)

²) اخرجه احمد فی المسند ٣٣٢/٣

³) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب کفارة من ترکها (رقم-١٠٥٣) والنسائی کتاب الجمعة /باب کفارة من ترک الجمعة من غیر عذر (رقم-١٣٧٢) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها /باب فیمن ترک الجمعة من غیر عذر (رقم-١١٢٨)

[١٣٧٥] دَ جمعې اذان اوريدو سره جمات ته د تلو وجوب

١٣٧٥—()[٣][١] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [٢] "«الْجُمُعَةُ عَلَى مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] عبدالله ابن عمرو رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] کوم سړي چې د جمعې اذان واوري په هغه د جمعې مونځ واجبیږي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① النِّدَاءَ: نداء مطلق آواز ته وائی. د ندانه مراد دلته اذان دې.

تسهیلات: - **قوله:** مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ:

د من سمع النداء په توجیه کښې مختلف اقوال: -

① مطلب دا چه کوم خلق دَ جمعې په ورځ دَ مؤذن اذان اوری نو په هغوی باندې په جمعه کښې شرکت کول واجبیږی اوس هغه دَ جمعه نه بهر نه شی پاتې کیدې.

② شیخ عبدالحق رحمه الله فرمائی دَدې حدیث مطلب دادې چه کوم خلق دَ جمعې په ورځ اذان واوری نو په هغوی باندې دَ جمعې تیاری او په جمعه کښې حاضریدل لازمی دی. [اشعة المعات: ١/۴١٨]

③ ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی دا حدیث دَ دې په ظاهری معنی باندې حمل کولو سره به ډیرزیات اشکالات پیداشی. په دې وجه به دَدې دا مطلب اخستې شی چه جمعه په هغه سړی باندې واجب ده چه په یوداسې مقام باندې وی چرته چه دَ ده او دَ ښار په مینځ کښې دومره فاصله وی که په ښار کښې څوك په زوره آواز اوکړی نو چه دې ځائی پورې آواز راؤرسی.

④ دَ منیة المصلی په شرح کښې لیکلی دی چه جمعه په هغه سړی باندې لازم ده چه دَ ښار په اطرافو کښې په یوداسې ځائی کښې مقیم وی چه دَ ښار او دَ ده په مینځ کښې متصل آبادی وی او دَ مکانونه یو بل سره لګیدلې وی که هغه اذان واؤری او که وانوری او که دَ هغه او دَ ښار په مینځ کښې پټی او دَ څرن ځایونه وی نو په ده باندې دَ جمعې مونځ واجب نه دې سره دَدې چه هغه اذان اوری.

د څلورم قول تضعیف: - دا توجیه او تعبیر ډیر ښه دې لیکن دَدې آخری جمله چه اذان واؤری که وانوری دا ظاهر دَ حدیث سره بالکل متعارض ده چه دا نه شی قبلولې مګر که لاره کښې منع کونکې څیز وی چه په هغې تیریدل ګران او مشکل وی مثلاً لوئی نهر دې یادریاب وغیره دې. بهرحال کوم خلق چه اذان اوری په هغوی جمعه کښې حاضری لازم ده. په دې

[١]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب کفارة من ترکها (رقم-١٠۵٣) والنسائی کتاب الجمعة /باب کفارة من ترک الجمعة من غیر عذر (رقم-١٣٧٢) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها /باب فیمن ترک الجمعة من غیر عذر (رقم-١١٢٨)

وجه امام محمد رحمه الله فرمائی چه کوم سړې اذان اوري په هغه واجب دی چه په جمعه کښې حاضرشي اوفتویٰ هم په دې دَ امام محمد رحمه الله قول باندې ده. په راتلونکی حدیث کښې هم دغه مسئله راځي.

[١٢٧٦] د جمعې په وجوب مکلف خلق

١٣٧٦–(١)[٥] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ٢ "«الْجُمُعَةُ عَلَى مَنْ آوَاهُ اللَّيْلُ إِلَى أَهْلِهِ»". ٣ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ.

ترجمه: ١ ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ د جمعې مونځ په هغه سړي فرض دي چې د جمعې مونځ وکړي او د شپې خپل اهل او عيال ته ورسيږي، ٣ امام ترمذي دا روايت نقل کړي دي او ويلي يې دی چې د دې حديث اسناد ضعيف دي.

حل اللغات:- ① آوَاهُ: ځای یا پناه ورله ورکړی، یعنی اورسیږی.

تسهیلات:- قوله: عَلَى مَنْ آوَاهُ اللَّيْلُ إِلَى أَهْلِهِ:

د حدیث د جملې مطلب:- یعنی چه یوسړې په ښارکښې دَ جمعې مونځ کولونه پس کورته روان شی اودَ شپې خپل کورته اورسی نو په داسې مقام باندې اوسیدونکی مسلمان باندې په جمعه کښې شرکت کول ضروری او واجب دی. دَهغه مونځ په خپل مقام باندې دَ جمعې نه علاوه دَ ماسپښین په وخت جائز نه دې.

د دوؤ مسئلو تمهيد:- دلته دوه جدا مسئلې دی په کوم کښې چه دَ ګډوډ کیدونه بچ کیدل ضروری دی اوهره یوه جدا جدا ګڼړل ضروری دی. یوه مسئله خوداده چه آیاهغه کوم مقامات دی چرته چه جمعه ادا کول صحیح اودَ دې ادا کول جائز وی. آیا دَ جمعې دَ صحت دَپاره مصر کیدل شرط دې یا لوئی کلې ضروری دې یا په هره آبادئی کښې جمعه صحیح وی که هغه مصر وی یا لوئی کلې وی اویا وړوکې کلې وی.

دلته دویمه مسئله داده چه په کومو مواضع کښې جمعه کیږی مثلاً ښاریه ده یا لوئی کلې دې نودَ دې په دننه آبادو خلقو باندې خو شرکت واجب دې په دې کښې دَ چاهم اختلاف نشته دې. لیکن کوم خلق چه ښارېې سره نیزدې اوسیږی یا لوئی کلې سره نیزدې اوسیږی. دَهغوی دَپاره دَ څومره فاصلې نه دَ جمعې دَپاره حاضریدل ضروری او واجب دی په دې کښې دَ فقهاؤ کرامو اختلاف دې.

ښار سره نزدې خلقو باندې د جمعې د مونځ په فرضیت کښې مذاهب

① امام شافعی رحمه الله او په یوقول کښې امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه کوم سړې دَ جمعې اذان اوری په هغه دَ جمعې حاضری واجب ده کنی نه ده. مګر دَ اذان دَپاره دا شرط

---

(١) اخرجه الترمذی کتاب الجمعة /باب ما جاء من کم تؤتی الجمعة (رقم-٥٠٢)

دي چه هغه دې په اوچت ځائی باندې وی او خلقوته رسیدو کښې څه مانع نه وی مثلاً دَ هوا سخت دباؤ بل طرف ته نه وی چه خلقوته آواز اونه رسی.

② امام ابویوسف رحمه الله فرمائی چه یوسړې دَ جمعې دَ اداکولو نه پس که چرې دَ شپې کورته رسیدې شی نو په ده باندې په جمعه کښې شرکت کول فرض دی.

③ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه کوم سړې دَ ښار په اطراف، خواؤشا کښې اوسیږی په هغه باندې جمعه فرض ده مثلاً په کومو طرفونو کښې چه دَ حکومت دَ کارکونکو دفترې وی تهانه اوتحصیل وی اوحکومتی چوکئی وی داسې مقامات دَ ملحقات ښارېې نه دی. دَدې په شان مقاماتو کښې چه کوم خلق اوسیږی په هغوی باندې جمعه فرض ده.

داول فریق دلائل:- دَدې حدیث نه مخکښې حدیث نمبر ۳ داول فریق مستدل دې په کوم کښې چه په واضحه توګه دَ اذان اوریدل په جمعه کښې دَحاضریدو دَپاره شرط ګرځولې شوې دې.

داول فریق ددلیل جواب:- امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه دَ دواړو حدیثو نه دَ ښار اطراف او دَ ښارسره پیوست آبادی مراد ده. هم دَدې مقصد دَ واضح کولودَپاره دا حدیث دې چه څوك اذان واؤری او هم دَدې مقصد دَ بیانولودَپاره دا تعبیردې چه دَجمعې کولونه پس کوره پورې راؤرسیدې شی. دَدې نه مخکښې چه دَ کوم حدیث توضیح کړې شوې ده په هغې کښې هم دَ امام ابوحنیفه رحمه الله مسلك بیان کړې شوې دې څکه چه که چرې دَ دې احادیثونه عوالی او مضافات دَ ښارېې آبادی مراد وانخستلې شی نودیره ممکن ده چه بالکل دَ ښار په مینځ کښې یوسړې دَ اذان آواز وانوریدې نوولې په هغه باندې به جمعه نه وی څه؟

د دویم فریق دلیل:- ددویم فریق دلیل دَ زیر بحث حدیث دې په کوم کښې چه په واضحه توګه باندې دَ شپې پورې کورته رسیدلو ذکر دې.

د دویم فریق د دلیل څخه جواب:- دَ شپې پورې کورته رسیدو فاصله هم دومره وی چرته چه دَ ښار ملحقات اومضافات واقع وی. معلومه شوه چه په دې دواړو احادیثو کښې کوم حد او اندازه ده. دا په حقیقت کښې دَ ښارمضافاتو اوملحقاتو آبادی ذکر کولو یوتعبیردې.

خلاصه دا چې د اول فریق د لیل چې کوم جواب دې هم هغه د دویم فریق د لیل جواب هم دې.

د دریم فریق دلائل: ①وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "«الْجُمُعَةُ عَلَى مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

②وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "«الْجُمُعَةُ عَلَى مَنْ آوَاهُ اللَّيْلُ إِلَى أَهْلِهِ»"

ددې دواړو احادیثوڅخه د دریم فریق مذهب ثابتیږی.تفصیل ئې د اول او دویم فریق د دلائلو په جواب کښې تیرشو.

په کلي کښې د جمعې د مونځ په جواز اوعدم جواز کښې مذاهب

دَ ټولو نه اول په دې خبره باندې پوهیدل پکاردی چه دَ ټولو فقهاؤ متبوعین په نیزدَ جمعې دَ اداکولودَپاره څه شرائط دی. دَ شرائطونه بغیر غیرمقلدینونه چا هم دَ جمعې دَ فرضیت خبره نه ده کړې. اوس دَ جمعې دَ اداکولودَ صحت دَپاره هغه شرائط څه دی په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① امام شافعي رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله په نیزپه هرهغه کلي کښې جمعه جائز ده چرته چه ژمې اوړې څلویښت کلي آباد وي اوڅلویښت عاقل بالغ دَ جمعې په مونځ کښې شریك وي. که چرې ۳۹ کسان شریك شو نو جمعه به صحیح نه وي.

② امام مالك رحمه الله په نیز په کوم کلي کښې چه ژمې اوړې ۵۰ کورونه آباد وي په هغې کښې جمعه جائز ده ګني نه. او چه آبادي هم متصل وي. غیرمقلدین وائي چه جمعه هرځائی کښې فرض ده دَ هیڅ یو ښار کلي وغیره څه شرط نشته دې. زمونږ په نیز بدعتي هم دغه شان وائي.

③ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائي چه دَ جمعې ادا کولودَ صحت دَپاره مصرکیدل شرط دې اوکه چرې مصر نه وي نوکم نه کم لوئي کلي کیدل شرط دی دې نه بغیر وړوکې کلي اومحلوکښې جمعه جائزنه ده.

د(مصر) ښارپه تعریف کښې اقوال:- دَ ائمه احناف دَ ښار په تعریف کښې مختلف اقوال دی اودَ ښار ټول تعریفات په حقیقت کښې رسومات دی یعنې دَ پوهیدلودَپاره دَعرف عام لاندې مختلف تعبیرات دی. هم دغه تعبیرات ملاحظه کړئ.

① دَ مصراطلاق په هغه لوئي ښارباندې کیږي چرته چه بازار وي اوهلته داسې حاکم اوسیږي چه دَ متهو په زور باندې دَ ظالم نه دَ مظلوم حق ورکولې شي اوخلق په خپلو مسئلوکښې دَ هغه طرف ته رجوع کوي. صاحب دَ بدائع دا تعریف دَ ټولو نه ښکلې او صحیح ګرځولې دې.

② دَ احنافوپه نیزدَ ښاریوتعریف دادې چه ښار هغې ته وائي چرته چه مفتي وي چرته چه قاضي چه دَ دین احکام او حدود مقرر کولوباندې قدرت لري اوهلته دومره آبادي وي څومره آبادي چه په منی کښې وي. په خلاصة الفتاوی کښې هم دا تعریف قابل اعتماد خودلې شوې دې. البته دَ تنفیذ احکام نه مراددا دې چه په دې باندې قدرت وي سمدستي مقرر کول شرط نه دې.

③ مصر هغه دې چرته چه بازار وي کوڅې وي اودومره ګنړه آبادي وي چه هلته دَ سړي دَ ورکیدو خطره وي اودَ ضرورت ټول څیزونه ملاویږي.

④ مصر هغه ځائې دې چرته چه دومره خلق اوسیږي چه که ټول خلق دَ علاقې دَ ټولو

جماتونو نه په یولوئی جمات کښې راجمع شی او په دغه لوئی جمات کښې راځائی نه شی صاحب شرح وقایه دا تعریف راجح ګرځولې دې.

⑤ بعضو دا تعریف کړې دې چه مصر هغه دې چرته هره ورځ یو انسان پیدا کیږی او یو مړ کیږی.

⑥ بعضو دا تعریف کړې دې چه مصر هغه دې چرته چه لس زره آبادی وی.

⑦ حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله دا تعریف کړې دې چه مصر هغه وی چرته چه دَ مردم شمارئی په اعتبار سره کم و زیات درې زره کسان اوسیږی. (بهشتی زیور)

⑧ بعضې دا تعریف کړې دې چه مصر هغه دې چه که چرې یو طاقتور دښمن ناڅاپی حمله اوکړی نو دَ دغه ښار خلق ځان له حفاظت کولې شی.

⑨ مفتی الهند حضرت مولانا مفتی کفایت الله صاحب رحمه الله فرمائی چه دَ دریو زرو په ځائی دوه نیمه زره کسان هم وی مګر ټیلی فون موجود وی ډاکخانه موجود وی دَ ماشومانو سکول موجود وی دَ اوړو مشین وی دَ ضرورت څیزونو اخستلو دکانونه وی موچی، کولال، لوهار او دهوبی موجودوی نو په داسې مقام باندې جمعه صحیح ده. فقهاؤ لیکلی دی چه دَ آبادئی نه مراد متصل آبادی ده چه په مینځ کښې نهر پټی وغیره حائل نه وی.

داول فریق دلائل :-

① دَ قرآن عظیم دا آیت د اول فریق مستدل دې. ﴿يَآأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوٓا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلٰوةِ مِن يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلٰى ذِكْرِ اللهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾ [جمعه] طرز دَ استدلال داسې دې چه فاسعوا دَ امر صیغه ده په دې کښې مصر یا قریه کبیره هیڅ قید نشته دې. لهذا جمعه دَ څه شرائطو سره هرځائی جائز ده. نیزدې نیزدې دا شان استدلال غیرمقلدینو هم کړې دې اودَ صوبه خیبرپختونخوا په کلی والو علاقو کښې جمعه کونکی اهل بدعت هم دغه شان استدلال کوی.

د اول فریق د اول دلیل ځخه جواب:- دا آیت مطلق نه دې بلکه مشروط اومقید دې. دَ حضورپاک ﷺ او صحابه کرامو عمل کول دا ښار یا لوئی کلی سره مقید کړې دې. اوهسې هم په دې آیت کښې ډیر داسې اشارات موجود دی دکوم په موجودګئی کښې چه آیت مطلق کیدې نه شی لکه چه دَ ائمه احناف دَ دلیل نمبر① لاندې په تفصیل سره لیکلې شوی دې.

داول فریق دویم دلیل :- ② دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما حدیث دې ((ان اول جمعة جمعت فی الاسلام بعد جمعة جمعت فی مسجد رسول الله صلی الله علیه وسلم بالمدینة لجمعة جمعت بجوائی قریة من قری البحرین)) (رواه ابوداؤد ص: ٢٨٠) دا حدیث دَ الفاظو دکمی بیشی سره امام بخاری رحمه الله په خپل کتاب کښې ذکرکړې دې په دې حدیث کښې دَ "قریة" لفظ راغلې دې چه دَ کلی په معنی کښې دې لهذا دَ ښار ضرورت نشته دې.

داول فریق د دویم دلیل څخه جواب:-په بحرین کښې واقع جواثی څه کلې نه وو بلکه هغه لوئی کلې وو بلکه هغه لوئی ښار وو او هلته یوه لویه تجارتی منډئی قائمه وه. هغه یوبندرګاه وو کلې چرته وو؟ اوکه چرې هغه حضرات دا اووائی چه په هغې باندې دَ قریه اطلاق شوې دې نوهل لغت قریه کلی سره خاص نه ده منلې بلکه دَ قریه اطلاق په ښار باندې هم کیږی لکه چه قرآن کښې ﴿ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ﴾[زخرف:۳۱] کښې طائف اومکې ته دَ قریه نوم سره یاد کړی دی حالانکه دا لوئی ښارونه وو. ﴿ وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ الَّتِي كُنَّا فِيهَا ﴾[یوسف:۸۲]کښې دَ قریه اطلاق په ملك دَمصر باندې شوې دې اومصر قریه نه بلکه ښار وو. دَ انصاف تقاضا خوداده چه جواثی والاحدیث خودَ احنافو دلیل دې ځکه چه ټول کلی ئی پریخودو سره په جواثی کښې جمعه قائمول دَدې دَ ښارکیدو دلیل دې.

داول فریق دریم دلیل:-

③حضرت عمر فاروق رضی الله عنه یوفرمان دې هغوی ته صحابه کرامو خط اولیکلو الفاظ دادی:

((عن ابی هریرة رضی الله عنه انهم کتبوا الی عمر یسئلون فی الجمعة فکتب عمر رضی الله عنه ان جمعوا حیث ماکنتم)) (بیهقی ومصنف ابن ابی شیبه)

داول فریق د دلیل څخه جوابونه:-

①د دې جواب دادې چه دَ "حیث کنتم" عموم دَ نورو نصوص دَ وجې نه په خاص کولې شی مطلب دا چه حضرت عمر رضی الله عنه فرمائی چه تاسو چرته هم په ښار کښې یئ نو جمعه قائمه کړئ.

②داچه هغه وخت حضرت ابوهریره رضی الله عنه دَهغه ځائی ګورنر وو چرته چه دَحضرت عمر رضی الله عنه فرمان تلې وو او ګورنر په ښار کښې وی کلو او جهونپړو کښې نه وی لهذا دَ حیث ماکنتم نه مراد ښار دې.

داول فریق څلورم دلیل:-

④ حضرت اسعدبن زراره رضی الله عنه په نقیع الخضمات کښې جمعه قائم کړه. "وهی قریة علی میل من المدینة" معلومه شوه چه لوئی کلی اومحله کښې جمعه جائز ده. (رواه ابوداؤد)

داول فریق د څلورم دلیل څخه جواب:-حضرت اسعدبن زراره رضی الله عنه دَ مدینې په عوالی کښې کومه جمعه قائم کړې وه دا دَ حضوراکرم صلی الله علیه وسلم په اجازت سره نه وه بلکه تردغه وخته پورې خو جمعه فرض شوې هم نه وه هغوی په خپل اجتهاد او مضبوطه رائی او روحانی انکشاف سره دا په ذهن کښې راغله او قائم ئی کړه.

حافظ ابن حجر رحمه الله فتح الباری کښې لیکی: جمع اهل المدینة قبل ان یقدمها رسول الله صلی الله علیه وسلم وقبل ان نزل الجمعة یعنی دَ حضورپاك صلی الله علیه وسلم راتلل خو څه چه تردغه وخته پورې جمعه فرض شوې هم نه وه.

بهر حال په کلو کښې جمعه قائم کول دَ جمعې دَ شان توهين دي او دَ سلف صالحين دَعملی نمونې خلاف ورزی ده. البته په کومو علاقو کښې چه سړکونه موجود وی بجلی وی ټیلی فون وی پبلك سکول وغيره ضروريات موجود وی نو هلته په جمعه کښې سختی نه دی کول پکار. دَ جمعې په قائم کولو سره امت ته لويه فائده کيږی. عوامو ته دَ حق آواز رسيږی او دَ اسلام دَ عظمت جهنډا اوچتيږی.

د دويم فريق دلائل:-

① د قرآن کريم آيت مبارك د دويم فريق دليل دي: ① ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾ طرز دَ استدلال داسې دي چه په دې آيت کښې ډيرې اشارې دی دکوم نه چه اشاره ملاويږی چه دَ جمعې دَ صحت دَپاره دا آيت مطلق نه دې بلکه مقيد دي او دَ ډيرو قيوداتو او شرائطو نه پس دَ جمعې قائمول صحيح کيږی. مثلاً "الذين" کښې کم نه کم درې کسان راغلل "اذانودي" کښې يو اذان ورکونکې راغلو "يوم الجمعة" کښې يومعتدبه او قابل ذکر اجتماع طرف ته اشاره ده. "فاسعوا" کښې کم نه کم درې کسان راغلل "الی ذکرالله" نه اشاره ملاويږی چه هلته په جمات کښې دَ اول نه څوك نه څوك ذکرکونکې موجود وی. "وذروا" هم دَ جمع صيغه ده دکوم نه چه کم نه کم درې کسان کيدې شی. "البيع" دالفظ دَداسې بازار طرف ته اشاره کوی چرته چه ښه رونق وی لوئی بازار وی او دوکاندارانو ته حکم ورکولې شی چه بازار بند کړئی. دَ دومره اشاراتو نه پس نه شی وئيلې کيدې چه دَ جمعې دَپاره دَ څه شرط ضرورت نشته دې. هم دغه وجه او هم دا مجبوری وه چه ائمه ثلاثه هم دَ جمعې دَ قائم کولو دَپاره صرف صحرا او ځنګل کافی نه دې منلې بلکه هغه هم څلويښت پنځوس کورونو او کسانو ته په جمع کښې دَ شموليت دَپاره شرط ګرځولې دې. دلته حيرانتيا صرف په غيرمقلدينو او اهل بدعت حضراتو باندې ده چاته چه دومره زيات خدائی اشارې نه ښکاری او هغوی دَ هيڅ يو قيدنه بغير دَغر په څوکه باندې دَجمعې په شان دَمسلمانانو عظيم اجتماع او دَ اسلام شوکت په بې دردئی سره ذبح کوی.

② دَ حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها حديث دې دکوم الفاظ چه دا دی: ((کان الناس ينتابون الجمعة من منازلهم والعوالي)) (بخاری باب الجمعة) دا صريح حديث دې چه اهل قری کلی او محلو په خلقو باندې جمعه نشته ګنی دَ عوالی مدينه خلق به کله هم وار په وار نه راتلل بلکه دَ فرض کيدو په صورت کښې به ټول حاضريدل او حضورپاك صلی الله عليه وسلم پسې به ئی دَ جمعې مونځ کولو او بيا به واپس کلوته تلل. خو دَدې حديث مطلب دادې چه خلق به دَ مدينې دَ اطرافو او کلونه په نمبر باندې راتلل. (متفق عليه)

③ ((عن ابن عباس رضي الله عنهما قال ان اول جمعة جمعت بعدالجمعة فی مسجد رسول الله صلی الله عليه وسلم فی مسجد

عبدالقیس بجواثی من البحرین)) (بخاری ص: ۱۲۲) داحدیث په دې باره کښې واضح دلیل دې چه دَ مسجد نبوی نه پس رومبۍ جمعه دَ بحرین ښار جواثی کښې قائم کړې شوې وه. که چرې جمعه په کلی اومحله کښې وې نودَمدینې اوبحرین په مینځ کښې دَ سونو کلو آبادی وه په هغې کښې ولې اونه شوه اوصرف په بحرین کښې هغه وخت جمعه قائم شوه. په کال ۸هجری کښې دا ښار دَ اسلام دَ جهنډې لاندې راغلو. دَ سوچ مقام دې په دومره اوږده موده کښې په دومره زیاتو کلوکښې دا فریضه دَ صحابه په دورکښې بلکه په عهد نبوی کښې ولې نظر انداز کړې شوه؟

④ ((عن حذیفة قال لیس علی اهل القری جمعة فانما الجمعة علی اهل الامصار)) (رواه ابن ابی شیبة مرسل) دا واضح دلیل دې اودَ جمهورو په نیز حدیث مرسل حجت دې.

⑤ ((عن علی قال لاجمعة ولاتشریق ولافطر ولااضحی الافی مصر جامع اومدینة عظیمة)) (رواه عبدالرزاق في مصنفه وابن ابی شیبة) دې روایت ته سره دَدې چه امام نووی رحمه الله وغیره ضعیف وئیلې دې چه دَدې مرفوع طرق نه دی ملاؤ لیکن علامه عینی رحمه الله په جواب کښې فرمائیلی چه دَحدیث صحیح مرفوع طرق موجود دی او اثبات دَ مرفوع کیدو په انکار دَ مرفوع کیدو باندې مقدم وی. بلکه داحدیث موقوف هم وی نوغیرمدرك بالقیاس حکم سره متعلق روایت دَمرفوع حدیث په حکم کښې وی. لهذا دَ حضرت دا روایت دَ مرفوع حدیث په حکم کښې دې.

⑥ صحابه کرامو په زرګونوښارونه فتح کړل لیکن جمعه ئې په بعضې بعضې مقاماتوکښې قائم کړه. څنګه چه شاه ولی الله رحمه الله فرمائی حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ۳۶زره ښارونه فتح کړل لیکن جمعه ئې صرف په ۹۰۰ جامع مسجدونوکښې قائم کړه. بل چه حضورپاك ﷺ کله دَمدینې طرف ته هجرت اوکړو نودَ بنی عمرو بن عوف په محله کښې یولس یا دَدې نه هم زیاتې ورځې تیرې کړې او حضورپاك ﷺ په وجه دَ کلی کیدو هلته په مسجد قباکښې جمعه اوکړه. بل دَ عرفات په میدان کښې دَ جمعې ورځ وه څلویښت زره نفوس قدسیه یا دَدې نه هم زیات حضورپاك ﷺ سره وو او حضورپاك ﷺ هلته جمعه اونه کړه. دَدې صرف هم دغه وجه کیدې شی چه عرفات کلې دې مزدلفه کلې دې منٰی کلې دې نن هم هلته جمعه نه کیږی.

[۱۳۷۷] دجمعې په وجوب غیر مکلف خلق

۱۳۷۷-(۱)[۲] ۱ وَعَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ۲ «اَلْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فِي جَمَاعَةٍ، إِلَّا عَلَى أَرْبَعَةٍ: ۳ عَبْدٍ مَمْلُوكٍ، أَوِ امْرَأَةٍ، أَوْصَبِيٍّ، أَوْمَرِيضٍ» " رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، ۴ وَفِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" بِلَفْظِ "الْمَصَابِيحِ" عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي وَائِلٍ.

[1] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب الجمعة للمملوک والمرأة (رقم-۱۰۶۷)

ترجمه:[١] طارق ابن شهاب رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[٢] جمعه حق ده او په جماعت سره په هر مسلمان باندې واجب ده علاوه د څلور قسمه خلقو څخه[٣] ① غلام چې د چا په ملك كې وي ② ښځه ③ ماشوم ④ او مريض (په دوي باندې جمعه واجب نه ده) (ابوداؤد)[۴] او په شرح السنه د مصابيح په الفاظو سره د بنو وائل د يو سړي نه نقل دي.

تسهيلات: - قوله: حَقٌّ وَاجِبٌ: په دې دواړو الفاظوسره دَ فرض اراده كړې شوې ده ځكه چه دَ جمعې مونځ دَ كتاب الله اوسنت رسول الله ﷺ په واضح نصوص سره فرض دې يعنى دَ مذكوره اشخاصونه علاوه په ټولو انسانانو باندې جمعه فرض ده.

قوله: فِي جَمَاعَةٍ: يعنى په جمع سره فرض ده ځكه چه جمعه په انفرادى توګه باندې نه شى قائم كيدې.

عبد: –چونكه غلام دَبل په حق كښې وى اودَبل په ملكيت اوتصرف كښې اوسيږى په دې وجه په ده باندې جمعه فرض نه ده په آزادوخلقوباندې فرض ده.

قوله: امْرَأَةٍ:

په ښځه د جمعې د عدم فرضيت وجوهات: -

① په ښځه باندې يوخوپه دې وجه باندې جمعه فرض نه ده چه هغه دَ خپل خاوند په خدمت كښې اوسيږى كورنئى نظام دَ هغې په ذمه دې. دَجمعه په مونځ كښې دَ شركت دَ وجې نه دا حقوق ضائع كيدې شى په دې وجه په هغې باندې جمعه فرض نه ده. دَدې نه معلومه شوه چه په ښځوباندې دَ خاوندانو خدمت څه دَ رضاخبره نه ده بلكه په هغوى باندې فرض دى اودَهغوى ذمه وارى ده دَ جمعې دَپاره به نه ځى خدمت به كوى.

② په ښځه باندې په جمعه كښې شركت كول په دې وجه هم فرض نه دى چه په جامع مسجدونو كښې او په لاروكښې دَ ښځو دَ سړو سره ګډوډوالى خطره ده. دَ جمعې په ورځ دَ سړو ګڼره وى په دې وجه دَ ښځو شموليت دَ فتنې اوفساد ذريعه جوړيدې شى په دې وجه په هغوى باندې ضرورى نه ده.

قوله: صَبِيٌّ: ماشوم چونكه غيرمكلف وى په دې وجه په هغه باندې جمعه فرض نه ده.

قوله: ،أَوْمَرِيضٍ: دَ مريض نه مراد هغه بيمار سړې دې چه په داسې بيمارئى كښې اخته وى دَ څه په وجه چه هغه په جمعه كښې شركت نه شى كولې يا شريك كيدل دَ هغه دَپاره ګران وى. دَ ماشوم په حكم كښې ليونې او بې عقل سړې هم دې په دوى باندې هم دَ ماشوم په شان جمعه فرض نه ده. دغه شان په ګوډ شل باندې هم دَ جمعه مونځ فرض نه دې.

دغه شان دَ بيمار خيال ساتونكى سړى باندې هم فرض نه ده چه دَ يوداسې مريض په خدمت كښې مشغول وى چه كه لاړشى نومريض ته نقصان رسيدې شى. بل په مسافر باندې هم جمعه فرض نه ده اوكه داخلق په جمعه كښې حاضرشو نوجمعه اداكول جائزدى.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٣٧٨] دَ جمعې پرېخودو نکی با ندې سخت وعید

١٣٧٨-()[٧] [١] عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، [٢] أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِقَوْمٍ يَتَخَلَّفُونَ عَنِ الْجُمُعَةِ: [٣] "«لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ رَجُلًا يُصَلِّي بِالنَّاسِ، [٤] ثُمَّ أُحَرِّقَ عَلَى رِجَالٍ يَتَخَلَّفُونَ عَنِ الْجُمُعَةِ بُيُوتَهُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] ابن مسعود رضي الله عنه راوي دي [٢] چې رسول الله ﷺ د هغه خلقو په باره کښې چې د جمعې د لمانځه څخه وروسته پاتې کیږي (یعنې د جمعې مونځ نه کوي) وفرمایل [٣] یقینا زه قصد کوم چې یو سړي ته اووایم چې هغه خلقو ته مونځ ورکړي [٤] او بیا زه تلو سره د هغه خلقو کورونه وسوزوم چې (بغیر د عذر څخه) جمعه پرېږدي. (مسلم)

حل اللغات: - ① يَتَخَلَّفُونَ: روسته پاتې کیږی (د جمعې دمونځ نه)، ② هَمَمْتُ: قصد مې کړې دې. ③ أُحَرِّقَ: اوسوزوم.

تسهیلات: - **قوله: لَقَدْ هَمَمْتُ:**

د جمعې د پرېخودو تهدید: - دَدې حدیث په شان باب جماعة کښې احادیث تیرشوی دی. دلته داحدیث دَ جمعه دَ پرېخودونکی باره کښې دې لیکن شارحین حدیث فرمائی چه داحکم جمعه سره خاص نه دې بلکه دې نه وړاندې په عمومی احادیثو کښې داوعید هغه خلقوته هم اوروليې شوې د چه کوم بوهم چه بغیردَ عذر نه پرېږدی. نولکه څنګه چه دا حکم دَ تارك الجمعه دَپاره دې دغه شان دَعام مونځونو جمع پرېخودونکودَپاره هم دې. رسول الله ﷺ تمنا اوخواهش ښکاره کړو او په دې باندې ئې عمل اونه کړو. دَدې ډیر وجوهات وو هلته په تفصیل سره تسهیلات کښې لیکلې شوی دی باب الجماعة کښې اوګورئی. په دې حدیث کښې دَهغه خلقو دَپاره هم سخت وعید دې چه دَ جمعې په مونځ کښې دَ جمع دَ شریکیدلونه روستوپاتې کیږی.

[١٣٧٩] بغیردَ شرعی عذر نه درې جمعې پرېخودو نکې منافق دې

١٣٧٩-()[٨] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [٢] "«مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ ضَرُورَةٍ، [٣] كُتِبَ مُنَافِقًا فِي كِتَابٍ لَا يُمْحَى وَلَا يُبَدَّلُ» [٤] "وَفِي بَعْضِ الرِّوَايَاتِ "ثَلَاثًا". رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ

ترجمه: [١] ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] کوم سړي چې بغیر د څه عذر څخه جمعه پرېږدي [٣] هغه په داسې کتاب کې منافق لیکل کیږی چې نه چېرته ورانیدې شی او نه تبدیل کیدې شی [٤] او په بعضې روایاتو کې دا هم دې چې کوم سړې

---

[1] اخرجه مسلم فی کتاب المساجد/باب فضل صلاة الجماعة، وبیان التشدید فی التخلف عنها(رقم) ٢٥٤ - (٦٥٢)
[2] اخرجه الشافعی فی مسنده کتاب ایجاب الجمعة / باب ترک الجمعة من غیر الضرورة،.. رقم الحدیث ٢٨١

دري جمعې پريږدي (دا وعيد يعنې سزا د هغه د پاره ده) (شافعي)

حل اللغات:- ① كِتَابٍ: دلته د كتاب نه مراد عمل نامه ده. ② لَا يُمْحَى: نه ورانيږي.

تسهيلات:- قوله: مِنْ غَيْرِ ضَرُورَةٍ:

بغير د عذر د جمعې پريخودنکې عملي نفاق:- يعنې چه دَ شرعي عذر نه چابغير يوشان درې جمعې پريخودلې نوهغه سړې په داسې رجسټر كښې منافق ليكلې كيږي په كوم كښې چه ليكلې شوې يوځيز نه شي ورانيدې. داسړې به عملي منافق جوړيږي ځكه چه اعتقادي منافقان به هغه وخت وو كوم وخت چه حضورپاك ﷺ ژوندې وو اودَ وحي نزول به كيدلو. دَ حضورپاك ﷺ دَ وفات او دنيا نه تللونه پس عملي منافقان پاتې شودَ چاتذكره چه اكثر په قرآن كښې كيږي.

قوله: كتب منافقا فِي كِتَابٍ:

د كتاب څخه مراد:- دې نه مراد عمل نامه ده. ثلاثاً يعنې زير بحث حديث كښې دَ يوې جمعې دَ ناغه كولو ذكر دې ليكن بعضې نورو روايتونو كښې دَ دريوجمعو پريخودو دَ وعيدخبره كړې ده. سوچ كونكوله سوچ پكار دې چه څومره سخت وعيددې دَ جمعې په پريخودو باندې اودَ هغوې دَ طرف نه دَجمع كولو څومره قدرې سستي ده.

[١٣٨٠] د جمعې مونځ پريښوونكې خپل نقصان كوي

١٣٨٠-(١)[٩] ① وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ② "«مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، ③ فَعَلَيْهِ الْجُمُعَةُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، ④ إِلَّا مَرِيضٌ، أَوْ مُسَافِرٌ، أَوِ امْرَأَةٌ، أَوْ صَبِيٌّ، أَوْ مَمْلُوكٌ. ⑤ فَمَنِ اسْتَغْنَى بِلَهْوٍ أَوْ تِجَارَةٍ اسْتَغْنَى اللّٰهُ عَنْهُ، ⑥ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيدٌ»". رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: ① حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② كوم سړي چې د الله تعالى جل جلاله په ذات او صفاتو او د آخرت په ورځ ايمان او اعتقاد لري ③ په هغه د جمعي د ورځي مونځ فرض دي ④ علاوه د مريض او مسافر اوښځي او غلام څخه (چي په دوي د جمعي مونځ فرض نه دي) ⑤ نو كوم سړي چې په لوبو او تماشو او تجارت وغيره كي مشغول ليدو سره د جمعي د لمانځه څخه بي پروايي اختياروي ⑥ نو الله تعالى د هغه څخه بي پروا دي او الله تعالى جل جلاله بي پروا او تعريف كړل شوې دي (دارقطني)

حل اللغات:- ① اِسْتَغْنَى: بې پرواهي ئې اوكړه، يعنې مشغوله شو. ② لَهْوٌ: لوبې، عبث كارونه. ③ غَنِيٌّ: بې پرواه.

---

(١) اخرجه الدقطني فى السنن رقم الحديث ١ من باب من تجب غلية الجمعة

تسهیلات: - **قوله:** بِلَهْوٍ أَوْتِجَارَةٍ اِسْتَغْنَى اللّٰهُ عَنْهُ:

د جمعې د مونځ څخه لاپرواهی خپل نقصان دې: - یعنی که یوسړې په لوبو ټوقو یاتجارت یا نورو مشغولیاتو دَ وجې نه دَجمعې مونځ په لاپرواهئی سره کوی اودَ جمعې پریخودو او هغه ته څه احساس نه وی نوداسې سړې هم خپل نقصان کوی څکه چه الله تعالی دَدې نه بې نیاز دې اوهغه به دَخپل رحمت نه اوباسی پریږدی به. نودَ داسې سړی په تباهئی اوبربادئی کښې څه شک کیدې شی دَ هغه دنیا هم تباه ده اوآخرت ئی هم تباه برباد شو.

[٤٤/٦٠] بَابُ التَّنْظِيفِ وَالتَّبْكِيرِ

د صفائی او وختی تلو په بیان کښې

خلاصة الباب: -

فيه ثمانية عشر حديثاً مشتملة على ثلاث مسائل:

① فضائل التنظيف: ١، ٢، ٣، ٧، ٨، ٩، ١٧، ١٨۔

② فضائل التكبير والحث عليه: ٦، ٨، ١٠، ١١، ١٤۔

③ الأمربالانصات والزجر عن موانعه: ١، ٢، ٣، ٥، ٧، ٨، ١٢، ١٣، ١٥، ١٦۔

حل اللغات: - ① التنظيف: نظافة نه دې پاکوالې حاصلولوته وائی. ② التبكير: دَبکورة نه دې سحروختی وتلوته وائی.

قوله: التَّنْظِيفِ: دې نه دَ جمعې په ورځ غسل کول اودَ غسل په ذریعه بدن پاکول، مسواك استعمالول، بریت صفا کول، نوکونه پرې کول، دَ نامه لاندې ویښته لرې کول، دَ ترخونوویښته صفاکول او کپړې صفاکولوسره اغوستل اوخوشبو استعمالول مراددی. داټول څیزونه دَ جمعې په ورځ مسنون دی.

قوله: وَالتَّبْكِيرِ: دَ جمعه دَ مانځه دَپاره دَ جمات طرف ته دَ وختی وتل مراددی یعنی دَ جمعې دَ مونځ دَپاره په اول وخت کښې تلل مراددی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٣٨١] دَ جمعې دَ مونځ آداب

١٣٨١ - (١)[١] ① عَنْ سَلْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«لَا يَغْتَسِلُ رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، ③ وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ، ④ وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِهِ، ⑤ أَوْيَمَسُّ مِنْ طِيبِ بَيْتِهِ، ⑥ ثُمَّ يَخْرُجُ فَلَا يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ، ⑦ ثُمَّ يُصَلِّي مَا كُتِبَ لَهُ، ⑧ ثُمَّ يُنْصِتُ إِذَا تَكَلَّمَ الْإِمَامُ، ⑨ إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ

[١]) اخرجه البخاری کتاب الجمعة /باب الدهن للجمعة (رقم-٨٨٣) والنسائی کتاب الجمعة /باب فضل الإنصات وترك اللغو يوم الجمعة (رقم-١٤٠٣) والدارمی کتاب الصلاة /باب فی فضل الجمعة والغسل والطيب فيها

الْأُخْرَى»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت سلمان رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] کوم سړي چې د جمعي په ورځ ولمبيږي [٣] او څومره چې کيدي شي پاکي حاصله کړي [۴] او د خپلو تيلو څخه (يعني په کور کې چې کوم بلا تکلف ميسر شي) تيل اولګوي [۵] او د خپل کور څخه عطر ولګوي [٦] او بيا مسجد ته ووځي او (مسجد ته رسيدو سره) د دوه سړو په مينځ کې جداوالي ونه کړي [٧] او څومره هم چې د هغه په مقدر کې وي (يعني د جمعي سنت ونوافل يا قضاء) مونځ وکړي [٨] او د امام د خطبي ويلو په وخت خاموش وي [٩] نو د دې جمعي او د تيري جمعي په مينځ کې د هغه ګناه بخښل کيږي. (بخاري)

حل اللغات: - ① دُهْن: تيل، ② يَمَسّ: اولګوي. ③ يَتَطَهَّرُ: ښه پاکی حاصله کړی، دې نه دَ جمعې په ورځ د غسل په ذريعه بدن پاکول، نوکه اخستل وغيره صفائی مراد ده کوم چه دجمعې دپاره مسنون دی.

تسهيلات: - **قوله: دُهْنِهِ:**

په دهنه کښې د اضافت فائده: - يعنی چه دکورنی ساخت تيل استعمال اوکړی يا داسې تيل اوخوشبوئی وی کومه چه مسلمانانو جوړ کړې وی او په هغې کښې دَ څه حرام څيز ملاوټ نه وی. کيدې شی دَمسلمان او مونځ ګذار طرف ته دَدې تيلو دَاضافت مقصد دَ رسول الله ﷺ په زمانه کښې خودَدې اضافت فائده زياته نه معلوميدله ليکن نن خودَدې قيد سخت ضرورت محسوسيږی ځکه چه په عطرونو کښې خو حرام څيزونه ملاوولې شی. دَ غيرمسلمو کمپنيانې دَ عطرسازئی کار کوی او ښه په قصدسره مسلمانان ناپاکه جوړولو کوشش کوی اوداهم ممکن ده چه "من دهنه يامن دهن بيته" دَ اضافت قيد اتفاقی اودَ قيد واقعی په توګه باندې وی چه په هغه زمانه کښې به تيل اوعطر هم کورنی جوړ وو. والله اعلم.

قوله: ثُمَّ يَخْرُجُ فَلَا يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ:

د تفريق بين الاثنين په مفهوم کښې درې اقوال: -

① چه مثلاً دوه کسان په يوځائی ناست وی هغه دوستان او محبت کونکی دی. يا پلار ځوئی دی يا دَ يوبل نه جدا کيدو او ورکيدو خطره وی او څوك دريم سړې راشی اودَ هغوی په مينځ کښې باوجود دَ ځائی دَ نشتوالی سره ديکه ورکولوسره کينی دا جائز نه دی. په حرمين کښې دا حديث ښه په پوهه کښې راځی.

② چه يوسړې ناوخته راځی او دَ خلقو په سرونو باندې اوړی وړاندې کيږی اوهغه دَ دوو کسانو په مينځ کښې خامخا جدائی اچولوسره خپله لاره جوړه وی او وړاندې کيږی اوخلقو ته تکليف رسوی. ددې مشاهده هم په حرمين شريفين کښې ښه کيږی. اوکه چرې په وړاندې صفونو کښې خالی ځائی ښکاری نوبيا ددې سړی وړاندې تلل جائز دی ځکه چه

قصور دَ هغه خلقو دې چه شاته ناست دی او وړاندې ځائی خالی پریخودې دې.

③ دا هم کیدې شی چه دَ دوو کسانو په مینځ کښې جدائی او نفرت پیدا نه کړی.

قوله: ثُمَّ يُنْصِتُ:

دجمعې په ورځ په جمات کښې د خاموشی حکم: - چونکه په جمعه او اخترونو کښې ګڼره وی هلته خاموشی دَ ټولو نه زیات ښه ځیز وی دې دَپاره چه نظم او ضبط په ځائې پاتې شی. په دې وجه دَ جمعې دَ اضافی ثواب دَ حاصلولو دَپاره دا بنیادی شرط لګولې شوې دې چه سړې دې په ژبه باندې هیڅ هم نه وائی بلکه خاموش دې پاتې وی تردې چه څه نیکه خبره دې هم نه کوی. مثلاً چاته دا وینا کول چه چپ شه دا امر بالمعروف دې مګر دا هم جائز نه ده.

قوله: غُفِرَلَهُ:

د ګناهونو مغفرت: - یعنی دَدې جمعې نه واخله تر راتلونکې جمعې پورې دَدې سړی ټول ګناهونه معاف کولې شی. دې نه واړه ګناهونه مراد دی او که چرته ربښتونې توبه ئی اوکړه نو لوئی ګناهونه به ئی هم معاف شی ګنی کمزورې خو به شی.

قوله: إِلَّا غُفِرَلَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى:

د جمعة الاخری څخه مراد: - شیخ عبدالحق رحمه الله لیکی چه دَ دویمې جمعې پورې نه هغه جمعه مراد ده چه دَدې جمعې نه مخکښې تیره شوې ده. لکه چه دَ اُخری مطلب او معنی داده چه یوه بله جمعه. اوس دا ضروری نه ده چه هغه بله جمعه هم هغه وی کومه چه وړاندې راځی بلکه تیره شوې جمعه هم کیدې شی. دا توجیه شارحین ځکه کوی چه راتلونکی څه احادیثو باندې پوهیدل په دې باندې موقوف دی. [اشعة المعات]

[١٣٨٢] د ګناهونو بخښش

١٣٨٢ - (١)[٢] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ② "«مَنِ اغْتَسَلَ، ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَصَلَّى مَا قُدِّرَ لَهُ، ③ ثُمَّ أَنْصَتَ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهِ، ④ ثُمَّ يُصَلِّيَ مَعَهُ، غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى، ⑤ وَفَضْلُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم سړي چې غسل وکړو بیا جمعي ته راغې او څومره چې د هغه په نصیب کې وو مونځ یي وکړو ③ بیا د امام خطبي څخه تر فارغیدو پورې چپ وو ④ او د ده سره يي مونځ وکړو نو د دې جمعي څخه تر تیري جمعي پورې ⑤ بلکه د دې څخه دري ورځي زيات د هغه ګناه بخښل کیږی. (مسلم)

تسهیلات: -

قوله: وَفَضْلُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ:

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الجمعة /باب فضل من استمع وأنصت فی الخطبة (رقم-٢٦ - (٨٥٧)

د جمعې د ورځې فضیلت:- دَدې وجه داده چه دَ یوې جمعې نه دَ بلې جمعې پورې اووه ورځې جوړيږی اودَدې امت یوه نیکی په لس چنده باندې زیاتیږی. لهذا دَ جمعې یوه ورځ دَ لسو ورځو برابرکیدل پکار دی. په دې وجه په اووه ورځو باندې دَدریو ورځو اضافه کولوسره ﴿مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾ په دې سره پوره کړې شو.

[۱۳۸۳] د خطبې په دوران کښې د نورو کارونو لغویت

۱۳۸۳-()[۳] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ [۳] ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ، [۴] غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ [۴] وَمَنْ مَسَّ الْحَصَى فَقَدْ لَغَا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې اودس وکړو او ښه اودس یي وکړو (یعني د اوداسه د آدابو د رعایت سره) [۳] بیا جمعي ته راغي او (که نزدي وو نو) خطبه یي واوریده او (که لرې وو خطبه یي نشوه اوریدي نو) چپ کیناستو [۴] نو د ددې (جمعې) او د تیري جمعي په مینځ کې بلکه د دې څخه هم دري ورځي زیات د هغه ګناه بخښل کیږی [۵] او چا چې د خطبي په وخت یا په لمانځه کښې د سنګ ریزو وغیره سره شغل وکړو هغه لغو کار وکړو. (مسلم)

حل اللغات:- ① الْحَصَى: کاڼړی، ② لَغَا: فضول او عبث کار.

تسهیلات:- قوله: مَسَّ الْحَصَى:

په مس الحصی کښې دوه احتماله:--

① کاڼړوته لاس لګول دې نه مراددی چاچه په مانځه کښې داشغل اوکړواوکاڼړوسره ئې لوبې کول شروع کړه یعنی دَ سجدې دَ ځائی نه دَ یوځل په ځائی باربار کاڼړی اخواکول شروع کړه نوهغه فضول کاراوکړو اوچاچه فضول کاراوکړو دَهغه دَ جمعه اضافی ثواب ضائع شو. په دې سره دَعربواوعجموهغه سلفی رونړو ته تنبیه ورکول دی چه دَبل دَ جیب نه ټشو پیپر راؤباسی اوپوزه پاکوی اوموبائل فون هم اوری. په مانځه کښې اخوا دیخوا تلل اوڅوك راښکل اوخپل طرف ته راوستل خودَهغوی معمولی خبره ده.

② بعضې شارحینودَ دې حدیث مطلب دااخستې دې چه دَ خطبې دوران کښې یوسړې دَ خطبې اوریدوپه ځائی کاڼړوسره لوبې کوی دَهغه ثواب ضائع کیږی دامطلب ډیرواضح دې.

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الجمعة/باب فضل من استمع وأنصت فی الخطبة (رقم-۲۷ - (۸۵۷)

[۱۳۸۴] دَ جمعې په ورځ په اول وخت کښې دَ راتلو فضیلت

۱۳۸۴-(۱)[۴] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، وَقَفَتِ الْمَلَائِكَةُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ، [۳] يَكْتُبُونَ الْأَوَّلَ فَالْأَوَّلَ، [۴] وَمَثَلُ الْمُهَجِّرِ كَمَثَلِ الَّذِي يُهْدِي بَدَنَةً، [۵] ثُمَّ كَالَّذِي يُهْدِي بَقَرَةً، [۶] ثُمَّ كَبْشًا، [۷] ثُمَّ دَجَاجَةً، [۸] ثُمَّ بَيْضَةً، [۹] فَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ طَوَوْا صُحُفَهُمْ، وَيَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] هر کله چې د جمعې ورځ راځي نو فرښتې د مسجد په دروازه اودرېږي [۳] نو څوک چې مسجد ته په اول وخت کې راځي مخکې د هغه نوم لیکي بیا د دې څخه وروسته د مخکې راتلونکو نومونه لیکي [۴] او کوم سړي چې مسجد ته اول (وخت) په جمعه کې راشي د هغه مثال داسې دي لکه یو سړي چې مکې ته د قرباني د پاره اوښ لیږي (چې د هغې ډېر زیات ثواب دي) [۵] بیا د هغې څخه وروسته چې کوم سړي جمعې ته راځي د هغه مثال داسې دي لکه یو سړي چې د قرباني د پاره غوا لیږي [۶] بیا د هغه څخه وروسته چې کوم سړي راځي د هغه مثال داسې دي لکه یو سړي چې پسه لیږي [۷] بیا د هغه څخه وروسته چې کوم سړي راځي د هغه مثال داسې دي لکه یو سړي چې په صدقه کې چرګ لیږي [۸] بیا د هغه څخه وروسته چې کوم سړي راځي هغه صدقه کې د اګي ورکونکي پشان وي [۹] او هر کله چې امام د خطبې د پاره منبر ته راشي نو هغه (یعني فرښتې) خپلې صحیفې ونغاړي او خطبه آوري. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① إِذَاكَانَ: دا کان تامه دي لهذا دَدې دَپاره دَخبر ضرورت نشته دې. ② الْمُهَجِّر: دَ باب تفعیل نه دې، تهجیر هاجره نه دې دَ غرمې دَنمر دَ زوال وخت ته هاجره وائي. دلته زر او اول وخت کښې راتلل مراد دی. ③ بَدَنَةً: د قربانئ اوښ، ④ كَبْشًا: ګډ، پیسه. ⑤ طَوَوْا: راؤنغاړی،

تسهیلات:- قوله: فَالْأَوَّلَ: دا منصوب دې کوم چه دَ "یکتبون" دَپاره مفعول به دې او "فاء" دَ ترتیب دَپاره ده.

دحدیث مقصد:- دَدې حدیث مطلب دادې چه مثلاً دَ زوال دَ نمر نه پس دَ جمعې وخت کیږی اوس دَدغه وخت نه واخله دَ امام په منبر باندې دَ کیناستو پورې چه کوم وخت دې. دا وخت فرښتو په پنځو حصو کښې تقسیم کړې دې. هم دَدغه پنځو حصو بیان په دې حدیث کښې کړې شوې دې. یعنی چه کوم سړې دَدغه وخت په اوله حصه کښې دَ جمعې دَپاره راغلو

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة /باب الاستماع إلى الخطبة (رقم-۹۲۹) ومسلم فی کتاب الجمعة /باب فضل التهجير يوم الجمعة (رقم-۲۴ - (۸۵۰) وابوداود كتاب الطهارة /باب فی الغسل یوم الجمعة(رقم-۳۵۱) والترمذی کتاب الجمعة /باب ما جاء فی التبكير إلى الجمعة (رقم-۴۹۹) والنسائی کتاب الجمعة /باب التبكير إلى الجمعة (رقم-۱۳۸۵) وابن ما جة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها /باب ما جاء فی التهجير إلى الجمعة (رقم-۱۰۹۲) ومالک فی الموطا كتاب الجمعة /باب العمل فی غسل یوم الجمعة(رقم- ۱۴)

لکه چه هغه دَ بیت الله دَ قربانئی دپاره دَ هدیه په توګه صدقه اوخیرات کښې اوښ اولیګلو اوکوم سړې چه په دویمه حصه کښې راغلو هغه لکه چه دَ بیت الله دَ قربانئی دپاره غوا صدقه کړه اوڅوك چه په دریمه حصه کښې راغلو نوهغه لکه دَ ګډ صدقه اولیګله او څوك چه په څلورمه حصه کښې راغلو هغه لکه چه دَ چرګ صدقه اوکړه اوڅوك چه په پنځمه حصه کښې راغلو نوهغه لکه چه دَ هګئی صدقه اوکړه. دې نه پس دَ صدقاتو دروازه بنده شي ځکه چه امام راوځي خطبه شروع کیږي. اوس دَ انسانانوپه شان فرښتې هم دَخطبې دَ اوریدو پابند کیږي. لهذا رجسټر بندکړي اودَ خطبې اوریدو دپاره کیني.

[۱۳۸۵]دَ خطبې په وخت د امر معروف اونهی عن المنکر مما نعت

۱۳۸۵-()[۵][۱]وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲]"«إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ: أَنْصِتْ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ»[۳]فَقَدْ لَغَوْتَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د جمعي په ورځ چې امام خطبه وايي که تا د ځان سره ناست نزدي سړي ته دا هم اوویل چې چپ شه[۳] نو تا هم لغو کار وکړو. (بخاري،مسلم)

حل اللغات:- ①لَغَوْتَ: تا فضول او عبث کار اوکړو.

تسهیلات:- قوله : فَقَدْ لَغَوْتَ:

دخطبې په دوران کښې د امر بالمعروف عدم جواز:- ښکاره خبره ده چه کله یوسړې بل سړي ته په زوره سره وائی چه چپ شه نوهغه پخپله هم شور اوکړو. لهذا داهم دَ لغو په زمره کښې راځی په کوم سره چه دَ جمعې اضافی ثواب ختمیږي. سره دَدې چه دا نیك کار دې لیکن دغه وخت په اشاره سره پوهه کول پکاردی په ژبه سره څه نه دی وئیل پکار. دَ سوچ مقام دې چه کوم فضول قسم خلق په دې دوران کښې شورکوی یا په امام وغیره باندې اعتراض اوکړي دَهغوی به څه حال وی.

داحنافو په نیز د خطبې په دوران کښې د خاموشی حکم:- کوم وخت چه امام خطبه ورکوی نودَ اکثر علماؤ په نیز بالکل خاموش پاتې کیدل واجب دی. دَ امام ابوحنیفه رحمه الله هم دغه مسلك دې هغوی فرمائی چه دَ امام دَ خطبې دوران کښې نه مونځ جائز دې اونه څه بل کلام جائز دې ځکه چه "اذاخرج الامام فلا صلاة ولاکلام".

امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه په ژبه سره په اوچت آواز دې دوران کښې درود شریف وئیل هم جائز نه دی بلکه په زړه کښې دې وائی اوکوم خلق چه دَ خطبې آواز نه اوری بلکه لرې

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/باب الإنصات یوم الجمعة والإمام یخطب(رقم-۹۳۴) ومسلم کتاب الجمعة/باب فی الإنصات یوم الجمعة فی الخطبة (رقم-۱۱ - (۸۵۱)

ناست وی او لاؤډسپیکر نه وی نو هغوی له هم چپ کیناستل پکاردی. دَ فقه دَ عبارت "والنائي كالقريب" هم دغه مطلب دې.

د خطبې په دوران کښې د لیکلو ممانعت: -علماؤ دَ خطبې په آدابو کښې لیکلی دی چه دغه وخت کښې لیکل لوستل هم منع دی بلکه دَ انتروشی جواب ورکول هم مکروه دی. درمختار کښې دا قاعده لیکلې ده "وكل شئ حرم في الصلوة حرم في الخطبة" بهرحال په دې حدیث کښې دَ جمعې دپاره آدابو خیال ساتلو سره دَ وختـه تلل دَ لوئی فضیلت څیز دې. مسلمانانو له په دې باندې عمل کول پکاردی "ومن بطاء به عمله لم يسرع به نسبه" کوم سړې چه دَ هغه عمل شاته کړو هغه دَ ده نسب نه شی وړاندې کولې.

[١٣٨٦] جمات کښې څوک دَهغه دَځائی نه اخواکولو ممانعت

١٣٨٦-()[٦] ١ وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ «لَا يُقِيمَنَّ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، ٣ ثُمَّ يُخَالِفُ إِلَى مَقْعَدِهِ، فَيَقْعُدَ فِيهِ، ٤ وَلَكِنْ يَقُولُ: افْسَحُوا» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ جابر ﷜ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ په تاسو کې دې یو سړې د جمعي په ورځ (جامع مسجد ته د رسیدو سره) خپل مسلمان ورور د هغه د ځاي څخه نه لرې کوي ٣ چې هلته بیاخپله د ناستې اراده کوي ٤ هو خلقو ته دې دا اووائي چې (ورونو) ځاي څه کشاده کړي. (مسلم)

حل اللغات: - ① مَقْعَدِهِ: د کیناستلو ځائ، ② افْسَحُوا: ځائ فراخه کړئ.

تسهیلات: -

قوله: افْسَحُوا: داحدیث مونږ ته داتعلیم راکوی چه دَ یوبل ځائی نیولو په ځائی بهترداده چه تاسو په خپل مینځ کښې دَ کولاویدل او وسعت پیداکولو کوشش کوئی مه څوک پاره کوئی اومه څوک پاسوئی.

په حرمین شریفینو کښې د خپل ځائې پریښودو صورتونه: -په توضیحات شرح مشکاة کښې مولانا فضل محمد صاحب مدظله العالی فرمائیلی دی دَ جمعې په ورځ دَ کنړې دَوجې نه دَ ځائی مسئله پیداکیږی او خاص کر په حرمین شریفین کښې دامسئله یوسنګین صورت اختیاره وی داحکم دَټولو مونځونودپاره دې لیکن دَدې صورت په جمعه یا اخترونو کښې ډیر پیښیږی په دې وجه ئی دا په جمعه کښې ذکر کړو. صورت داسې وی چه یوسړې راشی او بل سړې دَهغه دَ ځائی نه په زور سره پاسوی او بخپله په هغه ځائی باندې کینی داخو خالص حرام کاردې او کوهغه سړې په خپله مرضئی سره دغه ځائی پریږدی نو ظاهراوباطن دَدواړو رضا ضروری ده نه دا چه دَ ویر اوحیا، امید اوطمع دَ وجې نه هغه اجازت ورکوی. او که

[1]) اخرجه مسلم في باب تحريم إقامة الإنسان من موضعه المباح الذى سبق إليه (رقم-٣٠-(٢١٧٨)

یوسړي بل سړي ډ وړاندي نه جمات لیګی او هغه سړي ځی او ډ هغه ډپاره په جمات کښي ځائی ګیره وی او بیخپله په هغه ځائی کښي کیني بیا هغه سړي راځی او په دغه ځائی کښي کیني او بیخپله دغه ځائی نیونکي سړي ځی نو دا صورت هغه وخت جائزدي کله چه راتلونکي سړي عالم فاضل وی او مخدوم او بزرګ وی نو ډ دغه کمزور خادم ډپاره دا قربانی ورکول جائزدی. لیکن که هغه سړي عالم فاضل نه دي او نه په درجه کښي ډده نه لوئی دي نو ډ هغه کیناستل او ډ ده پاسیدل او ځائی پریخودل مکروه دی. دا صورت هغه وخت ډیر زیات خراب ښکاری کله چه ډ ځائی نیونکي سړي ډهغه کس ډپاره ځائی ګیره وی چه هغه به ده له څه پیسي ورکړی لکه نن صبا چه په رمضان کښي ډ عربو شیخانو تکرونی غریبانانو توریانو مسلمانانو سره هم دغه معامله ده. او کیدي شی چه پخوا زمانه کښي هم دغه معامله چرته په بل صورت کښي وه نو ځکه خو حضورپاک ﷺ منع فرمائیلي. نن صبا خودا صورت ډ ظلم ډ حدپوري رسیدلي دي. هم په دي وجه یو الله والا او وئیل چه ډ کومو خلقو په عبادت کښي دا ظلم کیږی ډ عبادت نه علاوه به ډهغوی ډ ظلم او ګناه څه حال وی؟

په جمات کښي خپل ځائي بل ته پریخودل: - ډ جماتونو زمکي وقف دی کوم سړي چه وړاندي راغلو ډهغه حق دي چه هلته دي کیني. اوس مسئله ډ ایثار بالتبرع ده یعني یو طالب خپل استاذ په مخکښي صف کښي په خپل ځائی باندي اودروی او پخپله ایثار او قربانی کولو سره ډ ثواب نه لاس اخلی روستو صف ته ځی. ډدي متعلق بعضي علماء فرمائی چه جائزدی بعضي وائی ایثار بالتبرع مکروه دي.

[١٣٨٧] ډ جمعي په ورځ ښکلي لباس اچول

١٣٨٧ –(١)[٧] ⟦١⟧ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⟦٢⟧ "«مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَلَبِسَ مِنْ أَحْسَنِ ثِيَابِهِ ⟦٣⟧ وَمَسَّ مِنْ طِيبٍ إِنْ كَانَ عِنْدَهُ، ⟦٤⟧ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ، فَلَمْ يَتَخَطَّ أَعْنَاقَ النَّاسِ، ⟦٥⟧ ثُمَّ صَلَّى مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ، ⟦٦⟧ ثُمَّ أَنْصَتَ إِذَا خَرَجَ إِمَامُهُ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ صَلَاتِهِ، ⟦٧⟧ كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ جُمُعَتِهِ الَّتِي قَبْلَهَا»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⟦١⟧ ابو سعید او ابوهریره رضی الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ⟦٢⟧ کوم سړي چې د جمعي په ورځ غسل وکړو ښه لباس يي واغوستو ⟦٣⟧ او که میسر وي نو خوشبو يي ولګوله ⟦٤⟧ بیا جمعي ته راشي او هلته د خلقو په څټونو (غاړو) ټوپ نه وهي ⟦٥⟧ بیا څومره چې الله جل جلاله د هغه په مقدر کې لیکلي وي عبادت وکړي ⟦٦⟧ او کله چې امام د خطبي د پاره لاړ شي نو دي خاموشي اختیار کړي تر ډي چې د لمانځه څخه فراغت حاصل کړي ⟦٧⟧ نو دا به د ده د پاره د دې جمعي او د دې څخه د مخکې جمعي په مینځ کې د ګناهونو کفاره شي (ابوداؤد)

[١] اخرجه ابوداود فی کتاب الطهارة/باب فی الغسل یوم الجمعة(رقم-٣٤٣)

حل اللغات: - ① يَتَغَطّ: توپ وهل، آوريدل ② أَحْسَن ثِيَابِهِ: ښائسته جامې، پاكې صفا جامې مراد دي.

تسهيلات: - **قوله:** إِنْ كَانَ عِنْدَهُ:

د قيد فائده: - په دې جمله كښې چه كومې اشارې اوفائدې دى هغه اول ليكلې شوى دى. يوه فائده داهم ده چه په خپلو عطرو اوخوشبوسره حضورپاك ﷺ اشاره اوكړه كه چرې خپل دې نه وى نودَچانه په سوال مه غواړه ثواب هم په دې كښې دې چه خپل عطر او تيل اولګوى اودَ چانه په غوښتلوسره نه دى لګول پكار.

قوله:

كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ جُمُعَتِهِ الَّتِي قَبْلَهَا:

د ګناهونو مغفرت: - په دې حديث كښې تصريح ده چه تيره شوې جمعه اودَدې جمعه په مينځ كښې كومه ګناه كولې شى وړاندې چه كوم ليكلى دى چه دَ اخرىٰ نه مراد راتلونكې جمعه نه ده هغه دَدې حديث په رڼا كښې ليكلې شوې دى ځكه چه دا حديث ښائى چه تيره شوې جمعې او دَ دې جمعې په مينځ كښې ګناهونه به معاف كيږى.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٣٨٨] جامع مسجدته د پيدل تلل افضل

١٣٨٨-(١)[٨] ① وَعَنْ أَوْسِ بْنِ أَوْسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "② «مَنْ غَسَّلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ، ③ وَبَكَّرَ وَابْتَكَرَ ④ وَمَشَى وَلَمْ يَرْكَبْ، ⑤ وَدَنَا مِنَ الْإِمَامِ، ⑥ وَاسْتَمَعَ وَلَمْ يَلْغُ، ⑦ كَانَ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ عَمَلُ سَنَةٍ: أَجْرُ صِيَامِهَا وَقِيَامِهَا»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① اوس ابن اوس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② كوم سړي چې د جمعې په ورځ بل څوك اولمبولو او خپله ئې هم اولمبل ③ او د وختـه (جامع مسجد ته) لاړ شى چې د شروع څخه خطبه لاندې كړي او پيدل (په پښو) لاړ شى ④ او امام ته نزدې كيني ⑥ او خطبه واوري او څه بيهوده خبره د ژبې څخه ونه باسي ⑦ نو د هغه د هر قدم په بدله كې د يو كال د روژو او د شپې د عبادت كولو ثواب ليكل كيږي.

(ترمذي،ابوداؤد ،نسايي،ابن ماجه)

حل اللغات: - ① بَكَّرَ وَابْتَكَرَ: وختى تلل، (دادواړه لفظونه دَ يو بل دَپاره تاكيد دي.) ② يَلْغُ: فضول او عبث كار ته وائى.

تسهيلات: - **قوله:** غَسَّلَ:

د جمعې په شپه د جماع كولو استحباب او ددې حكمت: - دَباب تفعيل نه دَ لامبلو په معنى كښې

---

[1]) اخرجه ابوداود فى كتاب الطهارة/باب فى الغسل يوم الجمعة(رقم-٣٤٥) والترمذى كتاب الجمعة/باب ما جاء فى فضل الغسل يوم الجمعة (رقم-٤٩٦) والنسائى كتاب الجمعة/فضل المشى إلى الجمعة (رقم-١٣٨٤) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة. والسنة فيها/باب ما جاء فى الغسل يوم الجمعة (رقم-١٠٨٧)

دي. دَدي مطلب دادي چه پخپله دې هم غسل کوی او په خپله ښځه دې هم غسل کوی. دَ ښځې لامبول دا چه جماع دې کوی دې دَپاره چه هغه هم دَ جنابت دَ وجې نه غسل اوکړی نولکه چه هغه ښځه اولامبوله. په دې کښې دَدې خبرې طرف ته اشاره ده چه دَ جمعې په شپه یاپه ورځ کښې صحبت کول مستحب دی. دې دَپاره چه دَ شيطاني وسوسو اودَ زنا دَ خطرې نه ښځې او سړی دواړه محفوظ پاتې شی ځکه چه دَ جمعې په ګنړه کښې دَ ګډوډ کیدو زیاتې خطرې دی.

قوله: وَبَكَّرَ وَابْتَكَرَ:

د بکر وابتکر په معنی کښې درې احتمالات:-

① دادواړه لفظونه دَ یوبل دَپاره تاکید دې مطلب دا چه هغه سړې دې دَ وختـه جمات ته لاړشی.

② یا "بكّر" مطلب دادې چه پخپله وختی لاړو "وابتكر" او خطبه ئی دَ شروع نه حاصله کړه

③ یا "بكّر" مطلب وختی تلل نه دی بلکه صدقه کول دی چه دَ جمعې په ورځ ئی صدقه اوکړه او بیا دَوخته لاړو خطبه ئی واؤریده.

قوله: وَمَشَى وَلَمْ يَرْكَبْ:

جمات ته د پیدل تلو فضیلت:- په دې کښې هم دویم لفظ دَ اول لفظ مشی دَ پاره تاکید دې یعنی پیدل لاړو او بالکل سور نه شو. بهرحال که جامع مسجد ډیر لرې نه وی نو پیدل تلوکښې ثواب زیات دې ځکه چه قدمونه لیکلې کیږی. دَ دوړو پریوتلو ثواب جدا دې. اوکه جمات لرې وی نوبیا سوریدو سره تلل منع نه دی.

[۱۳۸۹] دَجمعې اواخترو نودَپاره ښکلې کپړې ساتل

۱۳۸۹-(¹)[۹] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَا عَلَى أَحَدِكُمْ إِنْ وَجَدَ أَنْ يَتَّخِذَ ثَوْبَيْنِ لِيَوْمِ الْجُمُعَةِ [۳] سِوَى ثَوْبَيْ مِهْنَتِهِ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن سلام رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په تاسو کې چې د چا وس وي که هغه د جمعې د لمانځه د پاره علاوه د کارو بار د کپړو څخه دوه کپړې نوري جوړي کړي [۳] نو په دي کې څه حرج نشته. (ابن ماجه)

حل اللغات:- مِهْنَتِهِ: محنت مشقت، کار روزګار.

تسهيلات:- قوله: سِوَى ثَوْبَيْ مِهْنَتِهِ:

دعیدین او جمعې دپاره دخاص لباس استعمال حکم:- یعنی دَ عام خدمت اوکارروزګار دَلباس

¹) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب اللبس للجمعة (رقم-۱۰۷۸) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی الزينة يوم الجمعة (رقم-۱۰۹۵)

نه علاوه خاص دَ جمعه او اخترونودَپاره که څوك لباس تیاره وی او ایږدی نو منع نه دی بلکه محمود دی. شرط دادې چه الله تعالی دې سړی ته په وسعت سره ورکړې وی دا په اسراف کښې داخل نه دی او نه دَ زهد او تقویٰ منافی دی. په دې کښې دَ شعائر اسلام جمعه او عیدین اعزاز هم دې او اولوئی شان هم دې. رسول الله ﷺ دَ خپل دې مبارك فرمان په ذریعه اودَ خپل مبارك فعل په ذریعه هم دَدې تعلیم ورکړې دې. رسول الله ﷺ مبارك به دَ جمعه اودَ عیدین دَپاره خاص لباس او جبه ساتله اوبیابه ئی استعمالوله. نن صباددَ دنیادارودَپاره دَ یونیفارم رواج دې. دَعدالت کمرې ته چه کله یوانګریزیادَ انګریزپه شان جج داخلیږی نو په لازمی توګه هغه جُبه اوقبه استعمالوی. دَ وکیلانو اوسکول کالج یونیفارم وی دَ جمعې او اخترونودَپاره جبه استعمالول او پټکې تړل اسلامی یونیفارم دې په هرخطیب باندې لازم دی چه هغه دې دَ اسلام دا امتیازی اعزازی لباس استعمال کړی اوشرم دې نه کوی. په عوام الناس کښې په دې سره دَدین عظمت زیاتیږی او په وعظ اونصیحت باندې باور اویقین زیاتیږی. ډیردَ افسوس مقام دې چه دَ برصغیر عام خطیبانودا سنت ترك کړی دی سره دَدې چه دَ سنن زوائدنه ولې نه وی.

۱۳۹۰—(١)[٥] ١ وَرَوَاهُ مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ.

توجمه: ١ او امام مالك رحمه الله دا روایت د یحیي ابن سعید څخه نقل کړي دي.

[۱۳۹۱] په خطبه کښې امام څخه د لرې کیناستو وعید

۱۳۹۱—(٢)[١٠] ١ وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ٢ «احْضُرُوا الذِّكْرَ، وَادْنُوا مِنَ الْإِمَامِ، ٣ فَإِنَّ الرَّجُلَ لَا يَزَالُ يَتَبَاعَدُ ٤ حَتَّى يُؤَخَّرَ فِي الْجَنَّةِ وَإِنْ دَخَلَهَا» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

توجمه: ١ سمره ابن جندب رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ د خطبي په وخت زر حاضریږي او امام ته نژدي کیني ٣ ځکه چې سړي (د خیر د ځاي څخه چې بلا عذره) څومره لرې کیږي ٤ د جنت په داخلیدو کښې به وروسته وي اګر که په جنت کې داخل شی هم (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① يَتَبَاعَدُ: لرې کیږی.

تسهیلات: - **قوله:** فَإِنَّ الرَّجُلَ لَا يَزَالُ يَتَبَاعَدُ:

په نیکۍ کښې شرم نه کول: - داحدیث مسلمانانوته داتعلیم ورکوی چه هغوی دې همیشه اعلی اواوچتې حوصلې خپله وی اوپه هره نیکئی کښې دَ ښکته والی په ځائی اوچتوالی ته اوړاندې کیږی اودَ خپلو عظمتونو پروازدې ښکته نه ساتی بلکه اوچت دې ساتی.

---

[١]) اخرجه مالك فی الموط فی كتاب الجمعة /باب الهيئة وتخطى الرقاب، واستقبال الإمام يوم الجمعة (رقم-١٧)

[٢]) اخرجه ابوداود فی كتاب الصلاة،باب الدنو من الإمام عند الموعظة (رقم-١١٠٨)

[١٣٩٢] د خطبې په دوران کښې په څټونو باندې د تيريدو وعيد

١٣٩٢ —(¹)[١١] [١] وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«مَنْ تَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، [٣] اتَّخَذَ جِسْرًا إِلَى جَهَنَّمَ»". [٤] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] معاذ رضي الله عنه ابن انس جهني رضي الله عنه د خپل پلار بزرگوار څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] کوم سړي چې د جمعي په ورځ (په جامع مسجد کې د ځاي حاصلولو د پاره) د خلقو په څټونو (گردنونو، غاړو) تيوپ وهي [٣] هغه به د جهنم طرف ته پل جوړ کړي، [٤] ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړي دي او ويلې يې دی چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات: - ① جِسْرًا: پُل.

تسهيلات: - **قوله**: مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ:

دحديث په سند کښې غلطی: - شيخ سيد رحمه الله فرمائيلی دی چه دَدې حديث په سند کښې معاذ بن انس عن ابيه وئيل سهو ده ځکه چه دَ معاذ پلار انس نه صحابی دې نه هغه دَ يوحديث راوی دې. په دې وجه صحيح اسناد داسې دی عن سهل بن معاذ رضي الله عنه عن ابيه. دَ حديث الفاظ "اتخذ جسرا" يعنی دا سړې به دَ دوزخ دَپاسه پل جوړولې شی.

د اتخاذ الجسر مطلب: - دَدې مطلب دادې چه څنگه دې سړی مسلمانان تنگ کړل اودَ خلقو په ستونو باندې اؤختو سره هغوی ته تکليف اورسولو اوس به دَ قيامت په ورځ دا سړې په جهنم باندې دَ پل په توگه کيخودې شی اوخلقوته به وئيلی شی چه دَدې سړی دَپاسه تيريږئی نوخلق به تيريږی اوهغه به دَ خپلو لاندې کوی.

[١٣٩٣] دَ خطبې دوران کښې دَ کيناستو يوممنوع صورت

١٣٩٣ —(²)[١٢] [١] (وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ: [٢] أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«نَهَى عَنِ الْحُبْوَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ).

ترجمه: [١] معاذ ابن انس رضي الله عنه راوي دي [٢] چې رسول الله ﷺ د جمعي په ورځ کله چې امام خطبه وايي دواړي گونډي د خيټي سره د لگولو څخه منع فرمايلي ده، (ترمذي، ابوداؤد)

حل اللغات: - ① الْحُبْوَة: پرلت کيناستل.

د راوي مختصر تعارف: - نوم معاذ دَ پلار نوم انس قبيله جهنيه سره ئی تعلق لرلو دَ مصر په خلقو کښې دَ هغوی شمير کيدلو او هم په اهل مصر کښې دَهغوی روايات موندلې شی دَ هغوی ځوئ سهل دَ هغوی نه روايات نقل کوی.

¹) اخرجه الترمذی کتاب الجمعة /باب ما جاء فی کراهية التخطی يوم الجمعة (رقم-٥١٣)

²) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب الاحتباء والإمام يخطب (رقم-١١١٠) والترمذی کتاب الديات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم /باب ما جاء فی الموضحة (رقم-٣٩٠)

تسهیلات:-

قوله: نَهَى عَنِ الْحُبْوَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ:

د حبوة معنی او ددې د منعې وجه:- دا یوشان کیناستل دی کوم ته چه پرلت وهلوسره کیناستل وائی. حضورپاک ﷺ دې نه ځکه منع فرمائیلې ده چه داسې کیناستوسره خوب غالب راځی کوم سره چه اودس ماتیږی. یا سړی په یواړخ باندې ناڅاپی پریوځی یا په ناسته ناسته اودس ماتیږی او هغه ته احساس هم نه کیږی.

[١٣٩٤] د پرکالی په راتلو د ځائې بدلول

١٣٩٤-(١)[١٣] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] "«إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَلْيَتَحَوَّلْ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ»". (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

ترجمه: [١] ابن عمر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هر کله چې په تاسو کې يو سړي د جمعې په ورځ (په مسجد کې ناستي سره) نيم خوابه شی (د خوب جوتپه ورشي) نو هغه ته پکار دي چې خپل ځاي بدل کړي (يعني کوم ځاي چې ناست وي د هغه ځاي څخه دي پاځي او په بل ځاي کې دي کيني دغسې د خوب غلبه به يې کمه شي). (ترمذي)

حل اللغات:- ① نَعَسَ: د خوب جوتې، پرکالی، ② فَلْيَتَحَوَّلْ: نو لاړ دې شی.

تسهیلات:-

قوله: فَلْيَتَحَوَّلْ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ

دځائې بدلولو په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① ځائې بدلولوسره به د خوب غلبه ختمه شی. ځکه چې ګرزیدو سره خوب تبنتی.

② د اودس ځائې ته دې لاړ شی او مخ لاس دې اووينځی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٣٩٥] يوکس د هغه د ځائې څخه د پاسولو ممانعت

١٣٩٥-(٢)[١٤] [١] عَنْ نَافِعٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُولُ: [٢] «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يُقِيمَ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَقْعَدِهِ وَيَجْلِسَ فِيهِ» [٣] قِيلَ لِنَافِعٍ: فِي الْجُمُعَةِ. قَالَ: فِي الْجُمُعَةِ وَغَيْرِهَا». (وَمُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه: [١] نافع رحمه الله فرمايي [٢] چې ما د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه اوريدلي دي چې

---

[1] اخرجه ابوداود فی كتاب الصلاة، باب الرجل ينعس والإمام يخطب (رقم-١١١٩) والترمذى باب فيمن ينعس يوم الجمعة أنه يتحول من مجلسه (رقم-٥٢۶)

[2] اخرج البخارى فی كتاب الاستئذان/باب (إذا قيل لكم تفسحوا فی المجلس. فافسحوا يفسح الله لكم وإذا قيل انشزوا فانشزوا) الآية (رقم-۶٢٧٠) ومسلم فی كتاب السلام/باب تحريم إقامة الإنسان من موضعه المباح الذى سبق إليه (رقم ٢٧ - (٢١٧٧) وابوداود فی كتاب الأدب/باب فی الرجل يقوم للرجل من مجلسه (رقم-۴٨٢٨)

رسول الله ﷺ د دې خبرې څخه منع فرمايلې ده چې هيڅ سړې دې بل سړې د خپله ځاى څخه نه پاڅوي چې بيا پخپله هلته كيني[٣] د نافع رحمه الله څخه پوښتنه وشوه چې آيا دا ممانعت د جمعې د پاره دې؟ هغه وفرمايل جمعې د پاره هم دې او د جمعې څخه علاوه هم دې. (بخاري)

حل اللغات:- ① مَقْعَدِهِ: د كيناستلو ځاى.

تسهيلات:-

قوله: أَنْ يُقِيمَ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَقْعَدِهِ

مونځگذار دخپل ځائې څخه د پاسولو د ممانعت وجه:- دداسې فعل نه منع كړې شوې ده په كوم سره چې يو مسلمان رور ته تكليف رسى.لهذادا ممانعت د جمعې او غير جمعې ټولو متعلق دې . ددې حديث مبارك نه دا هم معلومه شوه چې دا دواړه كارونه جدا جدا كول منع دى. څوك ئې صرف پورته كړى او د هغه په ځائې ناسته او نه كړى نو د يوې گناه مرتكب به وى. او چې څوك ناسته اختيار كړى نو د دوه گناهونو مرتكب بۀ وى.

دحديث د حكم څخه بعضې مستثنيات:- ددې حكم نه هغه صورتونه مستثنى نه دى كوم ځائې كښې چى شرعا پورته كول جائز وى ،

① امام د خپل ځائې نه بل كس پاڅولې شى.

② مؤذن د خپل تكبير وَالاځائې نه بل كس پاڅولې شى.

③ چې په دغه ځائې باندې وړاندې نه څوك ناست وو بيا دې د څه تقاضې دپاره لاړو يا ئې په دې ځائې باندې خپله څه كپړا كيخوده او اودس دپاره لاړو ، بل كس راغلو او دده په ځائې كښيناستو نو دې هغه پاڅولې شى .

④كه څوك د چا كور ته لاړ شى د صاحب خانه دعزت په ځائې دناستى نه هم منع كړې شوې ده. په دې وجه نبى كريم ﷺ حديث مبارك كښې من مقعده اوفرمائيل ناست دهغه د ځائې نه مه پاڅوه. لهذا كوم ځائې كښې چې دپاڅولو ضرورت دې هغه ځائې نه پاڅولې شى .

[١٣٩٦] جمعې ته د حاضريدونكو درې قسمونه او درجات

١٣٩٦-()[١٥][١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] يَحْضُرُ الْجُمُعَةَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ[٣] فَرَجُلٌ حَضَرَهَا بِلَغْوٍ فَذَلِكَ حَظُّهُ مِنْهَا،[٤] وَرَجُلٌ حَضَرَهَا بِدُعَاءٍ[٥] فَهُوَ رَجُلٌ دَعَا اللَّهَ إِنْ شَاءَ أَعْطَاهُ، وَإِنْ شَاءَ مَنَعَهُ،[٦] وَرَجُلٌ حَضَرَهَا بِإِنْصَاتٍ وَسُكُوتٍ،[٧] وَلَمْ يَتَخَطَّ رَقَبَةَ مُسْلِمٍ،[٨] وَلَمْ يُؤْذِ أَحَدًا ;[٩] فَهِيَ كَفَّارَةٌ إِلَى الْجُمُعَةِ الَّتِي تَلِيهَا،[١٠] وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ،[١١] وَذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ يَقُولُ: مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

[1]) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب الكلام والإمام يخطب (رقم-١١١٣)

ترجمه: [١] عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د جمعې (لمانځه ته) دري قسمه خلق راځي [٣] ① يو هغه سړي چې د لغو کلام او بيکاره کار سره راځي ايعني د خطبي په وخت په لغو او بيهوده کلام او بيکاره کار کې مشغوليږي) نو د جمعي په حاضري کې د هغه دا حصه ده (يعني هغه د جمعي د ثواب څخه محروم شي او د لغو کار او فعل وبال د هغه په حصه کې راځي) [٤] ② دويم هغه سړي دي چې په جمعه کې د دعا د پاره راځي (نو هغه د خطبي په وخت په دعا کې مشغول وي تر دي چې د هغه دعا هغه د خطبي د اوريدو يا د خطبي د کمال ثواب څخه منع کوي) [٥] نو هغه دعا غواړي برابره ده که الله تعالى جل جلاله (د خپل فضل وکرم په صدقه کي) د هغه دعا قبوله کړي او قبوله يې نه کړي [٦] ③ دريم هغه سړي جمعي ته راځي (چې د خطبي په وخت امام ته نزدې وي نو د خطبې اوريدو د پاره) چپ وي او (که د امام څخه لرې وي او د خطبي آواز هغه ته نه رسيږي بيا هم د خطبي په احترام کې هغه (سکوت (يعني خاموشي) اختيار روي [٧] نو نه خو د خلقو په څټونو (غاړو) ټوپ وهي [٨] او نه چا ته تکليف رسوي [٩] نو د هغه د پاره دا جمعه د هغه (يعني اولني) جمعي پورې چې د دې سره لګيدلي ده [١٠] بلکه تر نورو دريو ورځو زياتو پورې کفاره جوړيږي [١١] ځکه چې الله تعالى جل جلاله فرمايي: مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا (څوک چې يوه نيکي وکړي هغه ته به د هغه نيکي لس چنده ثواب ورکول شي). (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① لَغْو: فضول اوعبث کار، ② حَظٌّ: حصه،

تسهيلات: - **قوله: ثَلَاثَةُ نَفَرٍ:**

د دريو کسانو تفصيل: - يعنی په جمعه کښې حاضری کونکی خلق دری قسمه وی يو هغه قسم خلق وی چه دَ جمعې کولودَ پاره نه راځی بلکه دَ سياسی مقاصد دنياوی اغراض، شرارت فساداوشورزوک دَپاره راځی. دَ دغه خلقو هم دغه حصه ده دَ کوم دَپاره چه راغلی دی ثواب وغيره هيڅ نشته بلکه دَلغويات دَپاره راغلی وو او هم هغه ئی ځان سره يوړل واپس لاړل ځکه چه په خطبه کښې خبرې اترې منع دی سره دَدې چه ښه خبرې اترې ولې نه وی.

د خطبې په دوران کښې د دعا کولو حکم: - دويم هغه خلق دی چه دَدعا په غرض په جمعه کښې حاضريږی او په خطبه کښې په دعاغوښتو کښې مشغول کيږی. اوس که داخلق په ژبه سره په اوچت آواز باندې دعاغواړی نودا يقيناً ناجائزدی اوکه په زړه کښې په خاموشئی سره دعاغواړی نوبياهم داخلق په خپل کار کښې مشغول اودَ خطبې دَ آدابوخلاف ورزی کوی. نوکه الله تعالى غواړی په خپل فضل اوکرم سره به دَهغوی دعاقبوله کړی ګنی دَعدل اوانصاف قاعدې اوقانون مطابق به دَدوی دَ خراب فعل په وجه دَهغوی دعا رد کړی. دَ احنافو په نيز په خطبه کښې دعا کول مکروه دی اودَ نورو ائمه حضراتو په نيزحرام دی.

قوله : تَلِيهَا:

د تلی مفهوم : -تلی دَ نیزدې په معنی کښ دې اودَ نیزدې مطلب دادې دې نه وړاندې چه کومه نیزدې جمعه تیره شوې ده دَهغې پورې دَ ټولو ګناهونودَپاره کفاره ده. په دې توجیه سره به په ټولو احادیثوکښې تطبیق راشی ځکه چه په احادیثوکښې راتلونکې جمعه مرادنه ده بلکه تیره شوې جمعه مرادده مګر دَ ظاهری الفاظونه راتلونکې جمعه هم مراد کیدې شی. په دې وجه چه کله دَ قریب معنی واخستې شوه نواوړاندې روستو دواړو جمعوته به حدیث شامل شی او په ټولو احادیثوکښې به تطبیق راشی ځکه چه داخبره ښکاره ده چه راتلونکې جمعې پورې خو لاګناه شوې هم نه ده دَ دې دَمغفرت مطلب واضح نه دې لهذا هم تیره شوې جمعه مراد ده.

[۱۳۹۷]په خطبه کښې د خبرې کونکې د خر سره تشبیه ورکول

١٣٩٧-()[١٦] [١]وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[٢]" «مَنْ تَكَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ; [٣]فَهُوَ كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا، [٤]وَالَّذِي يَقُولُ لَهُ: أَنْصِتْ. لَيْسَ لَهُ جُمُعَةٌ» "). (رَوَاهُ أَحْمَدُ)

ترجمه :[١] ابن عباس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] کوم سړي چې د جمعې په ورځ په داسې حالت کې چې امام خطبه وايي په خبرو اترو کې مشغول شی [٣] نو هغه د خره په شان دي چې په هغه کتابونه اېښېول شوې وي [٤] او کوم سړي چې هغه (په خبرو اترو کې مشغوليدونکي سړي) ته اووائي چې چپ شه نو د هغه د پاره د جمعې ثواب نشته. (احمد)

حل اللغات: - ① أَسْفَارًا: د سِفرٌ جمع ده،صحيفې اوکتابونو ته وائی، يعنی بوج، بار.

تسهيلات: -

قوله : كَمَثَلِ الْحِمَارِ: يعنی په خطبه کښې په خبرواتروکښې مشغول سړی مثال حضورپاك ﷺ دَهغه خرپه شان بيان کړې دې په کوم چه دَ کتابونو بار تړلې شوې وی اوهغه ته پخپله معلومه نه وی چه په هغه باندې څه بارکړې شوی دی اودَ عالم بې عمل هم دغه مثال دې.

قوله : وَالَّذِي يَقُولُ لَهُ: أَنْصِتْ. لَيْسَ لَهُ جُمُعَةٌ:

د خطبې په دوران کښې د امر بالمعروف د فريضې سقوط : - يعنی دغه جټ اوجاهل سړی ته څوك سړې دَ شفقت دَ وجې نه دَ امربالمعروف اونهی عن المنکرلاندې دَخاموشه کيدو دَپاره اووائی نودَهغه دَ جمعې ثواب هم ضائع شو ځکه چه په خطبه کښې هرقسم خبره منع ده.

يواشکال او دهغې جواب : - باقی په خطبه کښې که دَحضوراکرم نه څه خبرې ثابتې وی نوهغه دَ رسول الله ﷺ خصوصيت وو ياهغوی ﷺ دَخطبې نه وړاندې خبرې کړی وی روستوئی

١) اخرجه احمد فی المسند ١/٢٣٠

خطبه شروع کړی وی یا به ئی هغه خبرې دَ خطبې په ختمیدو باندې کړې وی. لهذا په خطبه کښې مطلقًا خبرې اترې کول منع دی.

[۱۳۹۸] اختر اود جمعې ورځ

۱۳۹۸—(¹)[۱۷] [۱] وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ السَّبَّاقِ مُرْسَلًا قَالَ: [۲] «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي جُمُعَةٍ مِنَ الْجُمَعِ: [۳] يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ، إِنَّ هَذَا يَوْمٌ جَعَلَهُ اللَّهُ عِيدًا فَاغْتَسِلُوا، [۴] وَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ طِيبٌ فَلَا يَضُرُّهُ أَنْ يَمَسَّ مِنْهُ، [۵] وَعَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ». (رَوَاهُ مَالِكٌ، وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْهُ).

ترجمه: [۱] عبید ابن سباق بطریق ارسال روایت کوي [۲] چې رسول الله ﷺ یوه جمعه وفرمایل [۳] اي د مسلمانانو جماعته! دا (جمعه) هغه ورځ ده چې الله تعالی ﷻ (د مسلمانانو) اختر مقرر کړي دي نو په دي ورځ غسل کوئ [۴] اوکوم سړي ته چې خوشبو مینسر (حاصله) شی که هغه دا استعمال کړي نو څه حرج نشته [۵] او تاسو مسواك ضرور کوئ، مالك او ابن ماجه هم دا حدیث د عبیدالله ابن سباق څخه.

حل اللغات: - ① عِيدًا: د خوشحالئ ورځ، اختر.

۱۳۹۹-[۱۹] [۱] (وَهُوَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ مُتَّصِلًا).

ترجمه: [۱] او هغه دا روایت ابن عباس رضی الله عنهما نه متصل منقول دی.

تسهیلات: - **قوله: عِيدًا:**

دجمعې په ورځ د اختر د اطلاق وجه: - دَجمعې ورځ په حدیث کښې دَ اختر کرځولې شوې ده دا په کوم اعتبارسره اختر دې؟ په دې باره کښې علماء لیکی دَفقیرانو مسکینانو بې کسواوبې وسو دَاولیاء الله اوصلحاء اوصالحین دَپاره دَخوشحالئی او زیب اوزینت اختیارولوورځ ده. دَدې ورځې په خوشحالو کښې دَټولونه غریب سړې هم شرکت کولې شی اودې نه خوند اخستې شی. هغوی په دې ورځ لامبی غسل کوی کپړې اغوندې جامع مسجدته ځی عطراستعمالوی. لهذا که دَ مسلمانانو کم خرچ اوبالانشین اختر وی نوهغه دَ جمعې ورځ ده په دې وجه دا دَمسلمانانودَاختر په ورځ سره یاده کړې شوه.

قوله: فَلَا يَضُرُّهُ أَنْ يَمَسَّ مِنْهُ:

اشکال: - په دې جمله باندې سوال پیداکیږی چه دَدې قسم جملو استعمالولو مواقع هغه وی چرته چه دګناه احتمال وی دلته داقسم جمله ولې استعمال کړې شوه؟ دَ کوم مطلب چه دا دې چه دَجمعې په ورځ چادَ خپل کور عطر استعمال کړل نو په دې کښې هیڅ ګناه نشته دې.

¹) اخرجه ابن ماجة فی کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی الزینة یوم الجمعة (رقم-۱۰۹۸) ومالک فی الموطا کتاب الطهارة . باب ما جاء فی السواک (رقم-۱۱۳)

د اشکال جواب: - دَدې جواب دادې چه دَ جمعې په ورځ دَعطرو لګولو کله حکم اوشو نوسړو په عطرو استعمالولو کښې تکلیف محسوس کړو چه عطر استعمالول خودَ ښځو کاردې دَ سړو دَپاره کیدې شی په دې کښې ګناه وی. نودَدې جواب داورکړې شو چه عطر استعمالولو کښې هیڅ ګناه نشته دې.

[۱٤۰۰] د جمعې په ورځ د غسل کولو او خوشبو لګولو اهمیت

۱۴۰۰ – ()[۱۸] [۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «حَقًّا عَلَى الْمُسْلِمِينَ أَنْ يَغْتَسِلُوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ [۳] وَلْيَمَسَّ أَحَدُهُمْ مِنْ طِيبِ أَهْلِهِ، [۴] فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَالْمَاءُ لَهُ طِيبٌ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.

ترجمه: [۱] حضرت براء رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په مسلمانانو د جمعې په ورځ لمبیدل واجب دي [۳] او مسلمانانو ته پکار دي چې په هغوئ کې هر سړي د خپل کور خوشبو استعمال کړي [۴] او که چا ته خوشبو حاصل نه وي نو د هغه د پاره اوبه خوشبو ده، دا روایت احمد او ترمذي نقل کړي دي او ویلي یې دی چې دا حدیث حسن دي.

تسهیلات: -

قوله: حَقًّا عَلَى الْمُسْلِمِينَ أَنْ يَغْتَسِلُوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ:

دا دَمصدریت په وجه منصوب دې اصل عبارت داسې دې "اي حق حقا" یعنی په مسلمانانو باندې حق او واجب دی چه هغوی دې په هفته کښې یوه ورځ غسل کوی صفائی دې حاصلوی اوخوشبوئی دې استعمالوی. که کورنئی خوشبوئی نه وی نوبیا صفاسترا اوخالص اوبه به دَ خوشبوئی په ځائی شی کومې سره چه صفائی اوپاکی راځی.

....

۱) اخرجه الترمذی فی کتاب الجمعة /باب فی السواک والطیب یوم الجمعة (رقم-۵۲۸)

[٦١/٤٥] بَابُ الْخُطْبَةِ وَالصَّلَاةِ

دَخطبې او جمعې دَ مونځ بیان

خلاصة الباب: –

فيه تسعة عشر حديثاً مشتملة على تسع مسائل:

① وقت صلوة الجمعة: ١، ٣-

② الاهتمام للجمعة: ٢-

③ زيادة النداء الثالث لصلاة الجمعة: ٤-

④ الخطبتان للجمعة: ٥، ١٣-

⑤ آداب الخطبة :

، منها الجلسة بين الخطبتين: ٥، ١٣، ١٥-

- ومنها الجلسة بينهما : ١٣،

. ومنها جلوس الناس للخطبة: ١٨-

/ ومنها قصر الخطبة٦- . ومنها إنذار الناس : ٧- ، ومنها العمامة: ١٠- ، ومنها استقبال الوجوه: ١٤- ، ومنها القيام: ١٥- ، ومنها الإشارة بالأصبع: ١٧-

⑥ قدر قراءة القران فى الخطبة: ٥، ٨، ٩-

⑦ الصلوة وقت الخطبة: ١١-

⑧ إدراك الجمعة: ١٢، ١٩-

⑨ الرد على بعض البدع فى الخطبة كالخطبة قاعداً : ١٦، ١٧-

د خطبې لغوى او شرعى تعريف: – په لغوى اعتبارسره خطبه اوخطاب صرف تقرير او خبرو اترو اوکلام ته وئیلې شى دَ کوم په ذریعه چه خلق مخاطب کولې شى. لیکن دَ شریعت په اصطلاح کښې خطبه دَهغه مجموعه کلام نوم دې چه وعظ اونصیحت، ذکرالله اوشهادت د توحید اورسالت باندې مشتمل وى. دَجمعې دَمونځ دَصحت دَپاره خطبَه فرض اوشرط دې.

دخطبې په مقدار کښې مختلف اقوال: – بیا په دې کښې بحث دې چه دَ فرض خبطې مقدار څه دې.

① امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائى چه دَ فرض خطبې کم نه کم مقدار یو ځل سبحان الله یا الحمدلله یا لااله الاالله وئیل کافى دى دې نه زیاتى سنت دى. دَ صحت جمعې دَپاره داشرط نه دې چه اوږدې خطبې نه بغیر دَ جمعې مونځ نه صحیح کیږى.

② لیکن امام ابویوسف رحمه الله اوامام محمد رحمه الله فرمائى چه دَ فرض خطبې مقدار دومره

پکاردي په کوم کښې چه اوږد ذکر وی او په هغې کښې پند اونصیحت وی کومې ته چه په عرف عام کښې خطبه وئیلی شی صرف سبحان الله ته خطبه نه شی وئیلې دَ احنافو عمل دَ صاحبینو په قول باندې دې.

③ دَامام شافعی رحمه الله په نیز دوه اوږدې خطبې فرض دی که دوه خطبې نه شی نودَجمعې مونځ جائزنه دې. بهرحال داسې معلومیږی چه شریعت دوه خطبې دَ ماسپښین څلورر کعتـه مونځ دَدوو رکعتو په بدله کښې کیخودې دی په دې وجه دا ضروری دی. په عربو کښې هم دغه دوه خطبې دَهغوی تقریر دې

په عجمی ژبه کښې د خطبې حکم: -لیکن عجم عربی باندې نه پوهیږی په دې وجه اول په عام ژبه کښې تقریر کیږی اوبیا په عربی کښې خطبه وئیلی کیږی دا ښه طریقه ده. لیکن په حدیث باندې دَعمل دعویدار غیرمقلدین حضراتو په نیز په اردو کښې خطبه وی هم دغه خطبه ده اوهم دغه تقریردې. هغوی اودریږی او په اردو کښې تقریر کوی اوهم دې ته خطبه وائی. داهم عجیبه ده چه دَهغوی په مهراب اومنبر کښې بدعت داخل شو. صحابه کرامو دنیا فتح کړه مګر په هیڅ یوفتح شوی علاقه کښې ئی دَعربی نه سوا خطبه جاری نه کړه.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٤٠١]دَ جمعې دَ مانځه وخت

١٤٠١ – ()[١]① عَنْ أَنَسٍ: «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يُصَلِّي الْجُمُعَةَ② حِينَ تَمِيلُ الشَّمْسُ» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:① حضرت انس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ به د جمعې مونځ هغه وخت کولو ② کله چې به نمر په زوال شو، (بخاري)

حل اللغات: - ① تَمِيلُ: زوال به اوشو.

تسهیلات: - **قوله : تَمِيلُ الشَّمْسُ:**

د میل الشمس مطلب: - یعنی عین دَ زوال په وخت رسول الله ﷺ به خطبه وئیلوسره دَ جمعې مونځ ورکولو. نن صبا په سعودی عرب کښې هم داسې کیږی اوداسې کول ډیر ښه دی. افسوس چه زمونږ په عجمو کښې هم داسې کیدې. بهر حال عین دَ زوال په وخت کښې چه کوم مونځ ورکړې شوې دې دا به په یخنئی کښې کیدلو کوم چه دَ یخنئی نقشه ده. په ګرمئی کښې به حضورپاك ﷺ دَ یخ وخت انتظار کولو لکه چه راتلونکی دَ حضرت انس رضي الله عنه حدیث نمبر(١٤٠٣) کښې دَدې بیان راغلې دې.

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/باب وقت الجمعة إذا زالت الشمس (رقم-٩٠٤) وابوداود فی کتاب الصلاة/باب فی وقت الجمعة (رقم-١٠٨٤)

دنمر د زوال څخه وړاندې دخطبې او جمعې ادا کولو کښې مذاهب

د جمعې په ورځ دَ زوال الشمس اوماسپښین وخت راتلونه وړاندې دَ جمعې مونځ او خطبې په جائزاو عدم جواز مذاهب دي.

① دَامام احمدبن حنبل رحمه الله او اسحاق بن راهویه رحمه الله په نیز دَ جمعې مونځ دَ زوال الشمس نه وړاندې جائز دې دَهغوی په نیز دَ جمعې په ورځ کښې مکروه وخت هم شته لهذا دَ وخت دَ راتلونه وړاندې جمعې کول جائز دی.

② امام ابوحنیفه رحمه الله امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله جمهور فقهاؤ په نیز دَ وخت راتلونه وړاندې دَ جمعه مونځ نه شي اداکیدې او نه جائز دې.

داول فریق دلیل: - دَدې باب دَ فصل اول حدیث نمبر(۱۳۰۲) د اول فریق مستدل دې په کوم کښې چه حضرت سعدبن سهل رضي الله عنه فرمائی چه مونږ به دَ غرمې خوراك اوقیلوله دَ جمعې دَ مونځ نه پس کولو.

د دویم فریق دلیل: - دَدې نه وړاندې دَحضرت انس رضي الله عنه دَ حدیث نمبر(۱۳۰۱) د دویم فریق مستدل دې په کوم کښې چه واضح الفاظو کښې ذکردی چه حضورپاك صلی الله علیه وسلم به دَ زوال الشمس نه پس دَ جمعه مونځ اداکولو.

داول فریق د دلیل څخه جواب: - امام احمد رحمه الله چه دَ کوم حدیث نه استدلال کړې دې هغه استدلال واضح نه دې په دې حدیث کښې دَ دې خبرې طرف ته اشاره هم نشته دې چه دَ وخت نه وړاندې حضورپاك صلی الله علیه وسلم جمعه اداکړې ده بلکه هلته دا بیان دې چه دَ جمعې په ورځ به مونږ قیلوله ورستوکوله اوخوراك به مو روستو خوړلو نو په دې سره چرته لازمیږی چه دَ وخت نه وړاندې جمعه کیدله. هسې خوالله تعالی ټول مونځونه دَهغې وختونوسره تړلی دی دې نه وړاندې روستو مونځ جائزنه دې. ﴿ إِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا۝ ﴾

[۱٤۰۲] دجمعې په ورځ د خوب او قیلولې وخت

۱۳۰۲–()[۲] وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: [۲] مَا كُنَّا نَقِيلُ وَلَا نَتَغَدَّى إِلَّا بَعْدَ الْجُمُعَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه: [۱] سهل ابن سعد رضي الله عنه فرمایي [۲] چې مونږ خلقو به د جمعي په ورځ د جمعي لمانځه څخه مخکښې نه قیلوله کوله او نه به مو ډوډۍ خوړله. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① نَقِيلُ: دَ قیلوله نه دي اوقیلوله دَ غرمې په وخت لږ ساعت دَپاره اوده کیدو ته وائی.

② وَلَا نَتَغَدَّي: د غرمې نه مخکښې روټۍ خوړلو ته وائي، یعنی ناشته کول.

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/باب قول الله تعالی: «فإذا قضیت الصلاة فانتشروا فی الأرض وابتغوا من فضل الله_ [الجمعة: ۱۰] (رقم-۹۳۹) وابوداود کتاب الصلاة/باب فی وقت الجمعة (رقم-۱۰۸٦) والترمذی کتاب الجمعة/باب فی القائلة یوم الجمعة (رقم-۵۲۵) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی وقت الجمعة (رقم-۱۰۹۹)

تسهیلات:-

قوله: مَا كُنَّا نَقِيلُ وَلَا نَتَغَدَّى إِلَّا بَعْدَ الْجُمُعَةِ:

د جمعې په ورځ د خوراک مسنون وخت:- یعنی صحابه کرامو به دَ جمعې دَمونځ نه مخکښې قیلوله او خوراك کښې نه مشغول کیدل. دا دواړه څیزونه به دَ جمعې دَ مونځ نه پس کیدل. دې نه معلومیږی چه د جمعې مونځ وختی او زر به کیدلو لیکن دَدې مطلب دا هیڅ کله نه دې چه دَ وخت راتلونه مخکښې جمعه جائز ده. دَ جمعې دَپاره ضروری دی چه دَ دې وخت راشی اوهغه دَ نمر زوال دې لکه چه وړاندې راځی. لهذا دَ جمهورو مسلك دادې چه دَ زوال نه مخکښې جمعه ناجائز ده. امام احمد بن حنبل رحمه الله او اسحاق ابن راهویه رحمه الله په نیز جمعه دَ زوال نه مخکښې هم جائز ده اګرچه عمل پرې نه کیږی.

[١٤٠٣] په یخنی او ګرمی کښې د جمعې د مونځ وختونه

١٤٠٣-(١) [٣] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: [٢] «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا اشْتَدَّ الْبَرْدُ بَكَّرَ بِالصَّلَاةِ، [٣] وَإِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ أَبْرَدَ بِالصَّلَاةِ»، يَعْنِي الْجُمُعَةَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ).

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه فرمایي [٢] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د یخنۍ په موسم کې د جمعي مونځ د وخته کولو [٣] او چې سخته ګرمي به وه نو په تاخیر (ځنډ) سره به یي کولو. (بخاري)

حل اللغات:- ① الْبَرْدُ: یخنی، ② بَكَّرَ: تادی کولو ته بکر او تبکیر وائی.

تسهیلات:-

قوله: إِذَا اشْتَدَّ الْبَرْدُ بَكَّرَ بِالصَّلَاةِ:

د جمعې وختی کول:- دې حدیث نه معلومه شوه چه حضورپاك صلی الله علیه وسلم به په سخته ګرمئ کښې دجمعې په مونځ کښې هم او نورو مونځونو کښې هم تاخیر کولو.

[١٤٠٤] په عهد نبوی کښې د جمعې د مانځه دپاره یو اذان

١٤٠٤-(٢) [٤] وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ: [٢] كَانَ النِّدَاءُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوَّلُهُ إِذَا جَلَسَ الْإِمَامُ عَلَى الْمِنْبَرِ [٣] عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ، [٤] فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ وَكَثُرَ النَّاسُ، [٥] زَادَ النِّدَاءَ الثَّالِثَ عَلَى الزَّوْرَاءِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ).

ترجمه: [١] حضرت سائب ابن یزید رحمه الله فرمایي [٢] چې د جمعي اولني اذان هغه وو چې د امام په منبر باندې د کیناستلو څخه وروسته به کولي شو [٣] د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د حضرت

[١]) اخرجه البخاری فی كتاب الجمعة /باب إذا اشتد الحر يوم الجمعة (رقم-٩٠٦)
[٢]) اخرجه البخاری فی كتاب الجمعة /باب الأذان يوم الجمعة (رقم-٩١٢) وابوداود كتاب الصلاة،باب النداء يوم الجمعة (رقم-١٠٨٧) والترمذی كتاب الجمعة /باب ما جاء فی أذان الجمعة (رقم-٥١٦)

ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه په زمانه کې ۴ خو کوم وخت چې حضرت عثمان رضی الله عنه خلیفه شو او د خلقو کثرت شو ۵ نو د دریم اذان اضافه یې اوکړه چې په زوراء ۶ مقام باندې به کیدو. (بخاري)

حل اللغات:- ① النِّدَاءُ: آواز ته وائی دلته ترې اذان مراد دې. ② الزَّوْرَاءِ: په مدینه کښې د یو مقام نوم دې.

تسهیلات:-

قوله: زَادَ النِّدَاءَ الثَّالِثَ عَلَى الزَّوْرَاءِ:

د آذان ثالث څخه مراد:- دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې به دَ جمعې دَپاره هم یو اذان هغه وخت کیدلو کوم وخت چه به حضورپاك صلی الله علیه وسلم په منبر باندې کیناستلو. دَ حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې هم دغه طریقه وه. بیا چه کله دَ حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه دور راغلو اوخلق زیات شو اومشاغل هم زیات شو اودَ خلقو کورونه هم دَ مسجدنبوی نه ښه لرې لاړل. نو دغه وخت دَخلقو دَپاره دَ جمعې په مونځ کښې شامل کیدل ګران شو ځکه چه په منبر باندې دَ کیناستو په وخت دَ اذان نه پس په دغه لږ وخت کښې به خلق دَ خطبې اوریدونه هم محروم پاتې کیدل او په جمع کښې شریکیدل هم مشکل کیدل. په دې وجه حضرت عثمان رضی الله عنه دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم په مشوره باندې دَ مدینې نه بهر په یو اوچت مقام زوراء باندې دَ وخت په شروع کیدو باندې دَ اذان ورکولو حکم ورکړو اودَ حضورپاك صلی الله علیه وسلم دَ زمانې والا اول اذان ئې هم په هغه وخت باندې په ځائې اوساتلو. په دې سره خلقو ته دا آسانی حاصله شوه چه دَ وخت په شروع کیدو باندې به جمات کښې راجمع کیدل او بیا دَ خطبې دَ اذان په وخت هم په جمات کښې حاضر وو او په خطبه او جمعه کښې به شریك وو.

په آذان ثانی باندې د صحابؤ اجماع:- ترننه پورې په مسلمانانو کښې هم دغه طریقه روانه ده. په دغه مبارکه زمانه کښې چاهم په حضرت عثمان رضی الله عنه باندې اعتراض اونه کړو. صحابه کرامو اوکتلو اوریدل ئې اوخاموش پاتې شو. دغه شان په دې باندې دَ صحابه کرامو اجماع هم اوشوه لهذا دې اذان ته بدعت نه شی وئیلې کیدې. ځنګه چه غیر مقلدین حضرات وائی او په خپلو جماتونوکښې په دې عمل هم نه کوی. ما پخپله دَ یوغیرمقلد نه واؤریده چه دا اذان حضرت عثمان رضی الله عنه دَ ذان نه جوړ کړې دې. حیرانتیاده په دې باندې چه حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه دَ خلفاء راشدین نه دې دَ هغه پخپله یو شرعی حیثیت او اختیار دې. دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دې ((علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین)) یعنی زما سنت او طریقه خپله کړئی اودَ خلفاء راشدین سنت او طریقه په مضبوطیاسره خپله کړئی. بیا د صحابه کرامو اجماع هم اوشوه او ټولو مسلمانانو دا قبوله هم کړه. په حرمین شریفین کښې په دې باندې عمل کیږی بیا دې ته دَ ذان نه جوړشوې وئیل او په دې باندې عمل نه

کول ډیره لویه ګستاخي او بې ادبي ده.
مګر حقیقت خو دادې چه غیر مقلدین دَهرې یوې مسئلې نه انکار کړې دې کومه چه دَ صحابه کرامو دَ یوجماعت نه ثابته وی یا دَ خلفاء راشدین په قول اوفعل سره رائج شوې وی مثلاً شل رکعته تراویح او طلقات ثلاثه واقع کیدل دَ جمعې دَ دریم اذان اونورو ډیرو مسئلو هغوی څکه انکارکوی چه دادَ صحابه کرامو دَ زمانې نه رائج شوی دی.
اشکال:- دلته په دې حدیث کښې دې اذان ته "النداءالثالث" په نوم سره یاد کړې دې حالانکه دَ جمعې په ورځ دوه اذانونه کیږی دریم چرته دې؟
جواب:- دَدې جواب دادې چه دَ ضرورت په وجه کله دا دریم اذان دَ جمعې په ورځ دَ ماسپښین وخت راتلو باندې وئیلی شی نودا دَ ټولو نه اول اذان جوړشو دې نه پس دَمنبر مخې ته دَ خطیب په راتلو باندې دَ خطبې دَپاره چه کوم ذان وو هغه دَ ترتیب په اعتبارسره دویم اذان شو اودې نه پس دَ مونځ دَپاره اقامت دریم اذان جوړ شو څکه چه اقامت هم اذان الحاضرین دې. نن صبا خلق هم په دې ترتیب باندې پوهیږی او شمیر کولو کښې هم دغه شان شمیرکوی.
لیکن دَحقیقت په اعتبارسره اولنې اذان هم هغه وو چه دَ رسول الله ﷺ په مخکښې په وخت دَ خطبې وو. دې نه پس اقامت په دویم اذان سره یاد کړې شو اوچه کله دا اذان دَ حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کښې شروع شو نودادَ اصل ترتیب په اعتبارسره دریم اذان وو دَ دې دَپاره زیر بحث روایت کښې دې ته اذان ثالث وئیلې شوې دې. خلاصه دا چه اقامت ته دَ اذان وئیلودَ وجې نه اذانونه درې شو او دَ اصل ترتیب په اعتبارسره دا زیاتی اذان په دریم نمبر باندې دَ دریم اذان په نوم سره یاد کړې شو. نو نن صباچه مونږ کوم اذان ته ړومبې اذان وایو دا دریم اذان دې او کوم ته چه مونږ دویم اذان وایو هغه اولنې دې.
قوله: فَلَمَّاكَانَ: دا کان تامه دې یاخبرمحذوف دې. "اي فلماكان عثمان خليفة".

دبیع او شراء د حرمت تعلق په د کوم اذان سره وی دې کښې مذاهب

① شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات ج۴ص۱۸۴ باندې لیکلی دی چه دَ بعضې علماؤ په نیز دَدې ممانعت تعلق هم دغه اذان سره دې کوم چه دَ خطیب مخې ته په وخت دَ خطبې وی.
② لیکن عام علماء او فقهاء فرمائی چه صحیح خبره داده چه وجوب سعی اوحرمت دَ بیع او شراء کښې هم دَ دغه نوی اذان اعتباردې چه دَ حضرت عثمان رضي الله عنه په دور کښې شروع شوې وو څکه چه اصل مدار په دې باندې دې چه خلق په وخت کښې دننه دَ جمعې اذان واوری نو په هغوی باندې لازم کیږی چه سعی دې شروع کړی اوخرڅول اخستل دې پریږدی. اعلان هم په دې نوی اذان سره کیږی اوخلق هم دغه اذان اوری. لهذا هم دَدې اعتباربه کیږی. په هدایه کښې هم دغه شان لیکلی دی. [اشعة المعات]

[۱۴۰۵] دَ جمعې خطبه په عربی کښې

۳۰۵ -(¹)[۵] [۱] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: [۲] كَانَتْ لِلنَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- خُطْبَتَانِ، [۳] يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيُذَكِّرُ النَّاسَ، [۴] فَكَانَ صَلَاتُهُ قَصْدًا، وَخُطْبَتُهُ قَصْدًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه: [۱] د حضرت جابر بن سمره رضی الله عنه څخه روایت دې [۲] فرمائی چه نبی کریم ﷺ به دوه خطبې وئیلې [۳] د هغې دواړو په مینځ کښې په کیناستلو قرآن پاک به ئې لوستلو اوخلقو ته به ئې نصیحت کولو. [۴] نود دوی مونځ به درمیانه وو. او خطبه به ئې هم درمیانه وه. (مسلم)

حل اللغات:- ① قَصْدًا: معتدل، درمیانه.

تسهیلات:- قوله: يَقْرَأُ الْقُرْآنَ:

په خطبه کښې د قراءت مسنونیت:- یعنی حضورپاک ﷺ به دَ جمعه دَ مونځ نه وړاندې دوه خطبې فرمائیلې اودَ دواړو په مینځ کښې به لږساعت دَپاره کیناستو اودواړه خطبې به مختصروې اودَ جمعې مونځ به هم مختصر وو.

په دې حدیث سره یوڅو فوائد او یوڅو مسائل ثابتیږی:

دعربۍ څخه علاوه په بله ژبه کښې د خطبې حکم:- یوه مسئله داثابته شوه چه په عربی کښې به ئې خطبه ورکوله دَ حضورپاک ﷺ وعظ به دَ حضورپاک ﷺ خطبه وه اودَ حضورپاک ﷺ ژبه عربی وه. دَحضوراکرم نه پس صحابه کرامو په مشرق اومغرب کښې مختلف ملکونه فتح کړل اوهلته ئې جمعې قائم کړې. حضرت عمر فاروق ﷺ ۳۶ زره ښارونه فتح کړل څلور زره عام مسجدونه ئې جوړکړل اونهه سوه جامع مسجدونه ئې جوړکړل. او په هغې کښې جمعات شروع کړل لیکن په تاریخ کښې چرته هم داثابت نه دی چه حضورپاک ﷺ یا صحابه کرامو تابعین یا تبع تابعین خیرالقرون کښې چرته دَجمعې په خطبو کښې دَعربی په ځائی عجمی ژبه استعمال کړې وی. په ټولومقاماتو کښې سره دَدې چه دَعربی ژبې نه واقف نه وو په عربی کښې به خطبه جاری کیدله اوچونکه منبر اومحراب مرکزاسلام دی اودَ اسلام ژبه عربی ده نو ډیره نامناسب ده چه دَاسلام په مرکز کښې دَهغې دَ خپلې ژبې په ځائی په بل څه ژبه کښې جاری شی. علماؤ لیکلی دی دَعربی په ځائی په عجمی ژبه کښې خطبه ورکول بدعت دې. غیرمقلدینو له پکاردی چه هغوی دې دَ دغه بدعت نه خپل ځانونه بچ کړی او په خپلو جماتونو کښې دې عین دَ جمعه مبارکې په وخت

---

[1]) اخرجه مسلم فی كتاب الجمعة /باب ذكر الخطبتين قبل الصلاة وما فيهما من الجلسة (رقم-۳۴ - (۸۶۲) وابوداود فی كتاب الصلاة، باب الخطبة قائما (رقم-۱۰۹۴) والترمذی كتاب الجمعة /باب ما جاء فی قصر الخطبة (رقم-۵۰۷) والنسائی كتاب الجمعة /باب القراءة فی الخطبة الثانية والذكر فيها (رقم-۱۴۱۸) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها /باب ما جاء فی الخطبة يوم الجمعة (رقم-۱۱۰۶)

کښې منبر او محراب کښې دَ بدعت دَ ارتکاب نه اجتناب اوکړی. دَ محققین علماؤ په نیز دَعربی نه علاوه په بله هره یوه ژبه کښې خطبه ورکول مکروه تحریمی دی.

د جمعې دپاره د خطبه په تعداد کښې مذاهب

① دَامام شافعی رحمه الله په نیزدوه خطبې فرض دی او په مینځ کښې دَ لږشان ساعت دَپاره کیناستل هم فرض دی او په خطبه کښې څه قرآن لوستل هم فرض دی.

② دَ احنافو په نیز مطلق یوه خطبه دَ جمعې دَ مونځ دَصحت دَپاره شرط دې.

دخطبه په مقدار کښې مذاهب:

① امام ابوحنیفه رحمه الله بالکل مختصر خطبه هم جائزمنی

② صاحبین فرمائی چه خطبه دومره اوږده کیدل پکاردی کوم ته چه په عرف عام کښې خطبه وائی او په کوم کښې چه اوږد ذکر وی اودَ قرآن پاك آیاتونه وی. [١٤٠٦] **د خطبې اختصار د خطیب هوښیارتیا**

١٣٠٦—(١)[٦] ١ وَعَنْ عَمَّارٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ٢ «إِنَّ طُولَ صَلَاةِ الرَّجُلِ، وَقِصَرَ خُطْبَتِهِ مَئِنَّةٌ مِنْ فِقْهِهِ؛ ٣ فَأَطِيلُوا الصَّلَاةَ وَاقْصُرُوا الْخُطْبَةَ، ٤ وَإِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ عمار رضی الله عنه وایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي ٢ چې اوږد مونځ کول او مختصره خطبه ویل د سړي (یعني د امام) د هوښیارتیا علامت دي ٣ نو تاسو مونځ اوږدوئ او خطبه مختصره کوئ ٤ څکه چې بعضې بیان سحر دي (یعني د سحر په شان تاثیر لري). (مسلم)

حل اللغات:- ① مَئِنَّةٌ: دَعلامت اودلیل په معنی کښې دې. ② فِقْهِهِ: هوښیارتیا، پوهه.

تسهیلات:- **قوله: فَأَطِيلُوا الصَّلَاةَ وَاقْصُرُوا الْخُطْبَةَ:**

د جمعې مونځ مختصر کول او خطبه اوږدول:- یعنی کوم سړې چه خطبه مختصر لولی اودَ جمعې مونځ اوږد کوی دادَهغه سړی دَ فقاهت هوښیارتوب اوحکمت علامت اودلیل دې په دې شرط چه مونځ دَ سنت مطابق وی نه زیات اوږد اونه زیات مختصر وی اوخطبه هم ددې سره مختصروی. ددې وجه داده چه دَ جمعې مونځ اصل دې اوخطبه ددې دَپاره فرع ده اودَ اصل اهتمام دَ فرع نه زیات کیدل پکادی اوهسې هم خطیب چه کله خطبه ورکوی نوپخپله هم دَعجب ښکار کیدې شي اودَخلقو توجو هم په څائی دَ خالق په مخلوق پریوتلې شی. او په مونځ کښې خطیب هم دَ عُجب نه عجزطرف ته راځی اودَ عوامو توجو هم دَ مخلوق نه دَ خالق طرف ته واپس کیږی په دې وجه په خطبه کښې دکم نه کم وخت په درجه دَ ضرورت لګول پکاردی اوباقی وخت په مانځه کښې خرچ کول پکاردی. بعضې خطیبان یوه نیمه ګهینټه په تقریر باندې خرچ کوی او بیا په سورت کوثر اوسورت اخلاق باندې درې منټه

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الجمعة /باب تخفیف الصلاة والخطبة (رقم) ٤٧ - (٨٦٩) والدارمی کتاب الصلاة /باب فی قصر الخطبة

کښې دَ جمعې مونځ ورکوی دا ډیرلوئی ظلم او نادانی ده.

قوله: لَسِحْرًا:

په خطبه د سحر په اطلاق کښې دوه وجوهات:-دَدې کلام دوه اړخونه دی په یو کښې دَمدح صورت دې او په دویم کښې دَ مذمت صورت دې

① که په خطبه سره دَ خلقو زړونه خپل طرف ته مائل کوی مقصدوی نودا دهوکه باز اوجادوګرخطیب دې دادَ مذمت صورت دې

② اوکه دَخلقو زړونه دَالله تعالی طرف ته متوجی کول مقصود وی نودا شیرین کلام اودجادولرونکې بیان دې دادَمدح صورت دې. بهرحال په خطیب کښې چه کله اخلاص وی الله تعالی سره ژورتعلق وی نودَهغه بیان دَ خلقو په زړونو باندې اثرکولې شی او الفاظی خوږ آواز یووقتی اثر لری مګر پائیدار نه وی.

[١٤٠٧] په خطبه کښې دَ نبی کریم ﷺ کیفیت

١٤٠٧-()[٤] ١ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: ٢ «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا خَطَبَ احْمَرَّتْ عَيْنَاهُ، ٣ وَعَلَا صَوْتُهُ، ٤ وَاشْتَدَّ غَضَبُهُ، ٥ حَتَّى كَأَنَّهُ مُنْذِرُ جَيْشٍ يَقُولُ: ٦ صَبَّحَكُمْ وَمَسَّاكُمْ ٧ وَيَقُولُ بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ، ٨ وَيَقْرُنُ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ حضرت جابر رضی الله عنه فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ چې به د جمعي يا يوه بله خطبه ارشاد فرمايله نو سترګي مبارکي به يي سري شوې ٣ آواز به يي اوچت شو ٤ او غصه به يي تيزه شوه ٥ تر دي چې (داسي به محسوسيده) لکه چې حضور ﷺ خلق (د دښمن د لښکر څخه) اويروی ٦ او فرمايي چې په سحر او ماښام کې په تاسو د دښمن لښکر حمله کونکي دي ٧ او حضور ﷺ به په خطبه کې دا ارشاد هم فرمايلو چې زه او قيامت داسې يو ځاي راليږل شوي يو ٨ د دې فرمايلو سره به حضور ﷺ خپلي دوه ګوتي (يعني د شهادت ګوته او مينځني ګوته) يو ځاي کړي. (مسلم)

حل اللغات:- ① احْمَرَّتْ: سرې به شوې، ② عَلَا: اوچت، ③ مُنْذِر: داسم فاعل صيغه ده، ويرونکې، ④ صَبَّحَكُمْ: سحر په وخت تاسو د دښمن لښکر حمله کونکې دې. ⑤ مَسَّاكُمْ: دماښام په وخت تاسو د دښمن لښکر حمله کونکې دې.

تسهيلات:- **قوله**: احْمَرَّتْ عَيْنَاهُ:

د نبی کريم ﷺ د سترګو سرې کيدو وجه:- يعنی دَامت غم او دَ ګناه کثرت او دکفر او شرک تياري او په دې کښې دَامت دَ راګيريدو مشاهده کولو دَ وحې نه به په خطبه کښې دَ حضور پاک ﷺ سترګې مبارکې سرې وې. دغه شان دَخپل امت دَهدايت په فکر کښې او دَ

[1]) اخرجه مسلم فی صحيحه رقم الحديث ٤٣/ ٨٦٧ وابن ماجة رقم الحديث ٤٥

حاضرينو غوږونو ته آواز رسولو دَ وجې نه به دَ حضورپاك ﷺ آواز اوچت وو لکه چه هغوی په ايمرجنسی کښې دَ يو دښمن حمله کولونه خپل قوم ويرونکې وو په کوم سره چه آواز اوچتيدلو.

قوله :يَقُولُ: صَبَّحَكُمْ وَمَسَّاكُمْ:

په خطبه کښې د لښکر څخه ويرولو انداز : – يعنی دَدغه لښکرنه خپل قوم ويرونکې لکه چه وائی "صبحکم" يعنی په تاسوباندې دَ سحرپه وخت دښمن حمله کونکې دې "مساکم" يعنی په تاسوباندې دَ ماښام په وخت دښمن حمله کونکې دې.دلته دا احتمال هم شته چه دَيقول ضميردَ حضورپاك ﷺ طرف ته راګرځی مطلب داچه حضورپاك ﷺ به په خپله إعلان کولو چه "صبحکم" په تاسو باندې دَ سحرپه وخت دښمن حمله کونکې دې يا ماښام کښې په تاسو دښمن حمله کونکې دې.

په اوچت آواز سره د خطبې مسنونيت : – دَدې حديث نه معلومه شوه چه حضورپاك ﷺ به په اوچت آواز سره او په زوردار اندازکښې خطبه ورکوله. اوداجائز دی او په ښه محنت سره به ئی سامعين پوهه کول څکه چه بيدارخطيب دَ قوم دَ بيدار ساتلودَپاره بيداره خطبه ورکوی. **قوله :** وَيَقْرُنُ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى:

د قيامت د نزديکت تعليم ورکول : – يعنی مينځمی او مسواکه ګوته ملاوولوسره به ئی اشاره کوله چه زه اوقيامت داسې نيزدې نيزدې يو لکه څنګه چه مينځمې ګوته مسواکې سره ده. يعنی چه څنګه دا دواړه ګوتې يوځائی شوی دی او مينځمې لږه شان وړاندې ده دغه شان قيامت ماسره ملاؤ شوې دې صرف زه لږشان وړاندې يم. په دې حديث کښې حضورپاك ﷺ قرب قيامت خودلې دې.

[١٤٠٨] په خطبه کښې د قرآنی آياتونه لوستلو فضيلت

١٤٠٨ – ()[٨] ١ وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ: ٢ «سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقْرَأُ عَلَى الْمِنْبَرِ: " ٣ ﴿وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ﴾ [الزخرف:٧٧]» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ يعلی ابن اميه رضی الله عنه وايي ٢ چې ما د رسول الله ﷺ څخه په منبر دا آيت اوريدلي دي ٣ يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ (اي سرداره ته خپل پروردګار ته اووئيلو چې هغه زمونږ کار تمام کړي). (بخاري اومسلم)

حل اللغات: – ① لِيَقْضِ : چه پوره کړی، تول کړی.

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب تفسير القرآن/باب قوله: ونادوا يا مالک ليقض علينا ربک، قال: إنکم ماکثون۔ [الزخرف: ٧٧] (رقم-٤٨١٩)

تسهيلات:-

قوله: وَنَادَوْا يَا مَالِكُ

په خطبه کښې د عذاب آياتونه لوستل:- د حديث مبارك حاصل دادې چې نبي كريم ﷺ به دخطبې په دوران كښې دا آيت مبارك لوستو چې ﴿وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ﴾ ، اصل كښې دا د دوزخيانو د سوال او جواب بيان دې چې دوزخيان به د دوزخ داروغه فرښتې ته اووائي چې زمونږ سفارش اوكړئ چې الله ﷻ مونږ ته مرګ راكړي چې د عذاب نه بچ شو. ددې دوزخ داروغه به جواب وركړي چې ﴿إِنَّكُم مَّاكِثُونَ﴾ تاسو به دې ځائې كښې ايسار يئ. نو نبي كريم ﷺ به د خلقو د ويرولو دپاره دا آيت مبارك بار بار لوستو. ددې نه معلومه شوه چې د خطبې په دوران كښې ويرولو والا آيت لوستل زيات بهتر دي.

[١٤٠٩] د جمعې په خطبه كښې د سورة ،، ق ،، لوستل

١٤٠٩–(١)[٩] [١] وَعَنْ أُمِّ هِشَامٍ بِنْتِ حَارِثَةَ بْنِ النُّعْمَانِ قَالَتْ: [٢] «مَا أَخَذْتُ ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ إِلَّا عَنْ لِسَانِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٣] يَقْرَؤُهَا كُلَّ جُمُعَةٍ عَلَى الْمِنْبَرِ إِذَا خَطَبَ النَّاسَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] د حارثه ابن هشام لور بي بي ام هشام رضي الله عنها فرمايي [٢] چې ما سورة ق والقرآن المجيد د حضور ﷺ د ژبې مباركې څخه داسې زده كړې دې [٣] چې حضور ﷺ به هره جمعه په منبر هر كله چې د خلقو په مخكې به يې خطبه ارشاد فرمايله نو دا سورت به يې ويلو (او ما به اوريدلو سره يادولو). (مسلم)

تسهيلات:- قوله: يَقْرَؤُهَا كُلَّ جُمُعَةٍ:

د رواياتو په مينځ كښې د تعارض دفع:- دا مطلب نه دې چه هميشه به حضور پاك ﷺ سورت "ق" لوستلو بلكه مراد دادې چه په كسرت سره به ئې سورت "ق" د جمعه په ورځ لوستلو ددې نه علاوه سورتونه په مانځه كښې لوستل هم ثابت دي هيڅ منع نه دی.

[١٤١٠] په تورپټكی كښې د جمعې مونځ كول

١٤١٠–(٢)[١٠] [١] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ: [٢] «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- خَطَبَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ [٣] قَدْ أَرْخَى طَرَفَيْهَا بَيْنَ كَتِفَيْهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] عمرو ابن حريث رضي الله عنه وايي [٢] چې رسول الله ﷺ د جمعې په ورځ په دې حال كې خطبه ارشاد فرمايلې وه چې د حضور ﷺ په سر مبارك توره عمامه وه [٣] چې د هغې دواړه څاكونه (شملې) حضور ﷺ د خپلو دواړو اوږو په مينځ كې پريښې وو. (مسلم)

حل اللغات:- ① أَرْخَى: رازوړند كړى وو.

---

[١]) اخرجه مسلم فى كتاب الجمعة/باب تخفيف الصلاة والخطبة (رقم) ٥٢ - (٨٧٣)

[٢]) اخرجه مسلم فى كتاب الحج/باب جواز دخول مكة بغير إحرام (رقم-٤٥٢ - (١٣٥٩) وابوداود فى كتاب اللباس/ باب فى العمائم (رقم-٤٠٧٧) والنسائى كتاب الزينة/باب إرخاء طرف العمامة بين الكتفين (رقم-٥٣٤٦) وابن ماجة كتاب الجهاد/باب لبس العمائم فى الحرب (رقم-٢٨٢١)

تسهیلات:- قوله: وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ:

دجمعې په ورځ د مسنون لباس اهتمام: دامت ټولو فقهاؤ اوعلماؤ له پکاردی چه هغوی دې دَدې حدیث نه تعلیم حاصل کړی اودَ جمعې په ورځ دې اسلامی لباس خپل کړی په کوم کښې چه جبه (عبا) اوعمامه وغیره شامل دی. حضورپاك ﷺ دَ جمعه په ورځ سپین پټکې هم استعمال کړې دې اوتور ئی هم استعمال کړې دې.

د شین پټکی حکم:-شین پټکې استعمالول دَ حضورپاك ﷺ نه ثابت نه دی. اهل بدعت شین پټکې دَ ډیروخت نه پس اوس استعمالوی لیکن هغوی دَ رسول الله ﷺ دَ روضې مبارکې نقل کوی دَ حضورپاك ﷺ سنت سره ئی هیڅ کارنشته دې.

[١٤١١] د خطبې دوران کښې دَتحیة المسجد کولومسئله

١٤١١ - (١)[١١] [١] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] «إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ، [٣] وَلْيَتَجَوَّزْ فِيهِمَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه: [١] حضرت جابر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ په خطبه کې وفرمايل [٢] هر کله چې په تاسو کې څوك د جمعي په ورځ (مسجد ته راشي) او امام خطبه وايي نو دوه رکعاته دي وکړي [٣] خو دواړه رکعاته دي مختصر وکړي. (مسلم)

حل اللغات:- ① لِيَتَجَوَّزْ: مختصر دې اوکړی.

تسهیلات:-

قوله: فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ: په مشکوة شریف کښې داحدیث مختصردې. په مسلم شریف کښې دَ حضرت جابر رضی الله عنه نه دا حدیث نقل کړې شوې دې چه اوږدحدیث دې او په دې کښې داسې قصه ده چه یوځل حضورپاك ﷺ دَ جمعې مبارکې خطبه ورکوله چه په دې کښې سلیك غطفانی رضی الله عنه جمات ته داخل شو اوکیناستو. حضوراکرم اوفرمائیل اې سلیك پاسه اودریږه اومختصرشان دوه رکعته اوکړه. بیا حضوپاك اوفرمائیل چه کله تاسونه څوك سرې دَ جمعې په ورځ راشی او امام خطبه ورکوی هغه له پکاردی چه دوه رکعته مختصرمونځ اوکړی. دَدې حدیث نه معلومیږی چه دَ خطبې دوران کښې دَ تحیة المسجددوه رکعته مونځ کول پکاردی په دې کښې دَ فقهاؤ سخت اختلاف دې.

دخطبې په دوران کښې د تحیة المسجد په حکم کښې مذاهب

① امام شافعی رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه په خطبه کښې هم دوه رکعته تحیة المسجد کول پکاردی دې نه پس کیناستل او خطبه اوریدل پکاردی. دامستحب دی. اودَغیرمقلدینو په نیز دَ تحیة المسجددوه رکعته عندالخطبه واجب دی.

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الجمعة /باب التحیة والإمام یخطب (رقم) ٥٩ - (٨٧٥)

② امام ابوحنیفه رحمه الله امام مالك رحمه الله امام محمد رحمه الله امام ابویوسف رحمه الله امام اوزاعی شام رحمه الله او سفیان ثوری رحمه الله ټول فرمائی چه په خطبه کښې په بل څه کار کښې مشغول کیدل مکروه تحریمی دی سره دَدې چه مونځ ولې نه وی. لهذا دوه رکعته تحیة المسجد هم جائزنه دی. حضرت عمر حضرت عثمان او حضرت علی رضی الله عنهم په شان اکابر صحابؤ نه هم دغه شان نقل دی. (معارف السنن)

داول فریق دلائل :-

① زیربحث دحضرت جابر رضی الله عنه روایت د دوی دلیل دې کوم چه قولی حدیث دې او په کوم کښې چه په توګه دَ قاعده او ضابطه بیان کړې شوې ده چه په دوه رکعته مختصر کول پکاردی.

د اول دلیل څخه جوابونه :-

① ددې په جواب کښې خو بعضو حضراتو دا وئیلی دی چه دا روایت دشعبه تفرد دې او دعمر بن دینارنه په مذکوره الفاظ سره دې روایت نقل کولو ده ته وهم راغلې دې ، اصل کښې دا وهم دحضرت سلیك واقعه ده . چه دوی په غلطئ سره داقولی حدیث مبارك اوګرځولو([1]). امام دار قطنی د کتاب التتبیع علی الصحیحین په نوم یو کتاب لیکلې دې چه هغې کښې ئې دصحیحینو متکلم فیه روایات راجمع کړې دی . او دا روایت هم په هغې کښې شامل دې .

د دارقطنی تردید: خوحافظ ابن حجر رحمه الله په هدی الساری مقدمة فتح الباری کښې په امام دار قطنی رحمه الله مدلل رد کړې دې او د ده دیو یو اعتراض ئې مفصل جواب ورکړې دې او هغې کښې د امام دارقطنی په دې حدیث مبارك دا اعتراض شافی جواب ورکړې شوې دې . لکه چه د اهل علم په دې اتفاق دې چه په صحیحینو کښې یو روایت هم ضعیف نشته او ددې ټول احادیث صحیح دی ، په دې وجه دحضرت جابر رضی الله عنه ددې قولی حدیث مبارك باره کښې هدو صحیح هم نه دې او څنګه به صحیح شی چه شعبه امیر المومنین فی الحدیث دې ده ته بلا دلیله وهم صحیح نه دې چه منسوب شی نوددې حدیث په صحت شك صحیح نه دې اوبیا چه حافظ ابن حجر رحمه الله ددې یو متابع هم ذکر کړې دې . ([2])

---

[1]) اود ابن جریج رحمه الله، ابن عینه رحمه الله ، حمادبن زید رحمه الله ، ایوب رحمه الله ، ورقاء رحمه الله او حبیب بن یحیی رحمه الله داهمد عمرو بن دینار نه د فعلی حدیث په طور روایت کوی اوګورئی معارف السنن (ج/ ٤ ، ص/ ۳۷۷)-

[2]) ثم اجاب عند الحافظ بمتابعة روح بن قاسم شعبة عند الدار قطنی فی سننه معارف السنن (ج/ ٤ ، ص/ ۳۷۷ ، ۳۷۸) لکه چه امام دار قطنی دا متابع په خپل سنن (ج/ ۲ ، ص/ ۱۵ رقم/۱۸) باب فی الرکعتین اذاجاء الرجل والامام یخطب کښې ذکر کړی دی . ((حدثنا محمد بن نوح الجند یسابوری حدثنا الفصل بن عباس الصواف حدثنا یحیی بن غیلان حدثنا عبدالله ابن یزیع عن روح بن القاسم نه علاوه سفیان رحمه الله عینیه رحمه الله هم دشعبه متابعت کړې دې ....

② ددې حديث مبارك صحيح جواب دادې چه دا دقران پاك د آيت ((واذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا)) او دهغه احاديثو معارض دې چه احنافو په خپل استدلال کښې ذکر کړې دی (چه کوم مونږ مخکښې ذکر کړل) او س که د تطبيق طريقه اختيار کړې شی نودا به اووئيلې شی چه ((والامام يخطب)) څخه مراد ((يريد الامام ان يخطب)) يا ((کاد الامام ان يخطب)) دې او که د ترجيح طريقه اختيار شی نو روايات دنهی دڅو وجوهاتو نه راجح دی .

د اول فریق دویم دلیل :-

② دَ دې حديث دَ نورو طرق نه قاعده او ضابطه په توګه حکم نشته دې بلکه دَ يوجزئی واقعه په توګه ئی بيان کړې دې. يو سړې راغلو چه دهغه نوم سليك بن هدبه الغفانی وو.اوحضوراکرم خطبه لوستله هغه کيناستو حضورپاك ﷺ اوفرمائيل پاسه اومختصردوه رکعته تحية المسجد اوکړه. اوس که چرې

جوابونه :-

① دا واقعه دا د خطبی نه مخکښې وه دهغې تفصيل دادې چه حضرت نبی اکرم ﷺ يو خل دخطبې وئيلو دپاره دجمعې په منبر ناست وو خو لا خطبه شروع شوې نه وه . چه دې کښې يوصاحب چه دهغه نوم سليك بن هدبه الغفانی وو ، ډيرې زړې کپړې ئې اغوستې وې چه په مسجد ته داخل شو. حضرت نبی اکرم ﷺ چه دهغه د فقرو اوفاقې دا حالت اوليدو نو مناسب ئې اوګڼړلو چه ټول صحابه کرام رضي الله عنهم ددې حالت ښه اووينی ، په دې و چه ئې دوی ته د اودريدو اودمونځ حکم ورکړو ([1]). اوچه څومره ده مونځ کولو نو تر هغه وخت پورې حضرت نبی اکرم ﷺ خاموش وو([2]). او خطبه ئې نه شروع کوله . بيا روستو حضرت نبی اکرم ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته دصدقې ورکولو ترغيب ورکړو([3]) . نويه دې موقع صحابه کرام رضي الله عنهم ده ته ښه صدقه ورکړه . ددې نه معلومه شوه چه اول خودا يو خاص واقعه وه چه دعمومی قواعدو کليه خلاف نه شسی پيش کولې .

.... بلکه سنن دار قطنی (ج/ ۲ ، ص/ ۱٤ ، قم ۳) کښې دا روايت خپله دحضرت سليک غطفانی نه مروی دې اوددې سند کښې دشعبه واسطه شته دې اونه دعمروبن دينار . مرتب عفی عنه)-

[1]) لکه دحضرت جابر رضي الله عنه په روايت کښې داالفاظ مرو دی چه ((فقال له النبی ﷺ صليت ؟ قال لا . قال قم فارکع سنن نسائی(ج/ ۱. ص/ ۲۰۸) باب مخاطبة الامام رعيته وهوعلی المنبر مرتب عفی عنه)-

[2]) لکه چه محمد بن قيس فرمائی چه ((ان النبی ﷺ حيث امره ان يصلی الرکعتين امسک عن الخطبة حتی فرغ من رکعته الخ . مصنف ابن ابی شيبه (ج/ ۲ . ص/ ۱۱۰) فی يحيئ يوم الجمعة والامام يخطب يصلی رکعتين . علامه زيلعی رحمه الله نصب ا لرايه (ج/ ۲ . ص/ ۲۰٤) باب صلوة الجمعه کښې ليکی چه ((و بوب النسائی فی سننه الکبری علی حديث سليک رضي الله عنه باب الصلوة قبل الجمعة رشيد اشرف عفی عنه)-

[3]) لکه چه يو روايت کښې دا الفاظ مروی دی چه ((وحث النبی ﷺ الناس علی الصدقة فالقوا ثيابهم الخ سنن نسائی (ج/ ۱ . ص/ ۲۰۸) باب حث الامام علی الصدقة يوم الجمعة فی خطبة مرتب عفی عنه)-

بله دا چه دحضرت سلیك دراتلو په وخت حضرت نبی اکرم ﷺ خطبه شروع کړې نه وه.
اودهغې دلیل دادې چه په صحیح مسلم (١) کښې یوروایت کښې دا الفاظ مروی دی چه
((جاء سليك الغطفانی يوم الجمعة ورسول الله ﷺ قاعدا على المنبر)) اودا معلوم شو چه حضرت نبی اکرم ﷺ به همیشه په ولاړه خطبه ورکوله (٢)
. په دې وجه دناستې مطلب همدادې چه حضرت نبی اکرم ﷺ لا خطبه نه وه شروع کړې (٣) اودا خبره چه حضرت سلیك رضي الله عنه په ډیر خراب حالت کښې وو نودا په ترمذی کښې (٤) دحضرت ابوسعید خدری رضي الله عنه د روایت نه ثابته ده چه هغې کښې دې فرمائی چه ((رجلا جاء يوم الجمعة فی هيئته بذة (ای هيئة تدل على الفقر) اودا خبره چه حضرت نبی اکرم ﷺ

---

(١) (ج/ ١ ، ص/ ٢٨٧) کتاب الجمعه مرتب عفی عنه)-
(٢) وعن ابى عبيه بن كعب بن عجرةً قال دخل المسجد و عبدالرحمان ابن ام الحكم يخطب قاعدا فقال الى هذه يخطب قاعدا وقد قال الله عز وجل واذا راو تجارة او لهو انفضو ا ليها وتركوک قائما . سنن نسائی (ج/ ١ . ص/ ٢٠٧) قيام الامام فی الخطبة
وعن ابن عمر رضي الله عنه قال كان النبی ﷺ يخطب قائما يقعد ثم يقوم كمنا تفعلی ان الان صحيح بخاری (ج/ ١ . ص/ ١٢٥) باب ا لخطبة قائما)-
(٣) قال الحافظ فی الفتح (ج/ ٢ . ص/ ٢٣٩) واجيب بان القعود على المنبر لا يختص بالابتداء بل يحتمل ان يكون بين الخطبتين ايضا وتعقبه البدر العينی فی العمدة فقال والاصل ابتداء قعود ، وقعوده بين الخطبتين متحمل فلا يحكم به على الاصل على ان امره ﷺ اياه بان يصلی ركعتين سؤاله اياه . هل صليت ؟ وامره الناس بالصدقة قد يضيق عن القعود على المنبر لا يختص بالابتداء بل يحتمل ان يكون بين الخطبتين ايضا . و تعقبه البدر العينی فی العمدة فقال : والاصل ابتداء وقعوده . وقعوده بين الخطبتين محمتل فلا يحكم به الى الاصل على ان امره رسوالله ﷺ اياه بان يصلی ركعتين وسؤله اياه هل اصليت؟ وامر للناس بالصدقة يضيق عن القعود بين الخطبتين هذا ملخص مافی معارف السنن (ج/ ٤ . ص/ ٢٧٠. ٢٧١)
خو په دې جواب (چه صلاه وكلام قبل الشروع فی الخطبه وو) بانډې په سنن دارقطنی (ج/ ٢ . ص/ ١٥) رقم ٩ باب فی الركعتين اذا جاء والامام يخطّب)) كښې دحضرت انس رضي الله عنه نه روايت نه اشكال كيای چه هغه فرمائی چه ((دخل رجل من قيس ورسول الله ﷺ يخطب فقال له البنی ﷺ قم فاركعتين وامسک عن الخطبة حتى فرغ من صلوته)) ددې روايت نه معلوميای چه دوی ته نبي دمونځ كولو حكم وركړو. نودغه وخت حضرت نبی اكرم ﷺ خطبه نه وئيلې.
حضرت کشیمری رحمه الله دمسلم روايت د قعود اود دارقطنی په دې روايت كښې داسې تطبيق كړې دې چه ((بانه صلى الله عليه وسلم كان قعد على المنبر وكان دان يقوم فيشرع فجاء سليک فاخر الخطبة واسلک عنها وهذا الجمع غير بعيد قال الراقيم (اى شيخ بنوری رحمه الله) فاالتاويل فی قوله وكان يخطب وكان على اشرف الشروع فيها هذا اقريب من تاويلهم القعود على الجلسة الخفيفة بين الخطبيتی كما لا يخفی والله اعلم . وعلى كل حال هذه صورة الجمع وذالک ان تجعله جوابين كما تقدم انفا كذافی معارف السنن (ج/ ٤ . ص/ ٣٧١)
مصنف ابی ابی شيبة (ج/ ٢ . ص/ ١١٠) باب فی الرجل يحجيئ يوم الجمعة والامام يخطب يصلی ركعتين كښې د محمد بن قيس په روايت كښې د ((مسلک عن الخطبة حتى افرغ من ركعتيه)) دا الفاظ سره د (ثم عاد الى خطبة)) جمله هم مروی ده . ددې مطلب داسې هم بيان دې شی چه ((ان النبی ﷺ كان قعد على المنبر وكان دان ان يقوم فيشرع فجاء سليک فاخر الخطبة وامسک عنها حتى فرغ هو من ركعتيه ثم عاد الى الشروع فی الخطبة)) —
(٤) (ج/ ١ . ص/ ٩٣) باب ا لركعتين اذا جاء الرجل والامام يخطب)) داشانتې اوګورئی سنن نسائی (ج/ ١. ص/ ١٠٨) باب حث الامام على الصدقة يوم الجمعة فی خطبته مرتب عفی عنه)-

دده دمونځ په دروان کښې خطبه بنده کړې وه، د دارقطنی رحمه الله ([1]) د روايت نه ثابت ده.

② بيا دې روايت نه په تحية المسجد سره استدلال هم مشکل دې . اول خو ځکه چه د قم فارکع ([2]) ظاهر دی او دامعلوميږی چه حضرت سليك رضي الله عنه راغلې وو او ناست وو بيا ئې حضرت نبی اکرم ﷺ اودرولو([3]). او ظاهر ده چه دناستې نه پس تحية المسجد فوت کيږی . دويم دابن ماجه ([4]) په روايت کښې مروی دی چه حضرت نبی اکرم ﷺ دوی نه تپوس اوکړو چه ((أصليت ركعتين قبل أن تجيئ)) نودوی اوفرمائيل چه لا . نو حضرت نبی اکرم ﷺ ورته اوفرمائيل چه ((فصل ركعتين)) نو ددې نه صفا واضحه شوه چه حضرت نبی اکرم ﷺ دوی ته د تحية المسجد حکم نه وو کړې بلکه دسنن قبليه حکم ئې ورته کړې وو.

خلاصه د جواب:- بهرحال دايو مخصوص واقعه ده . دو ددې نه دعمومی حکم مستنبط کول غلط دی چه د خطبې په دوران کښې همشيه تحية المسجد کول مستحب دی.

زمونږ په دې مذکوره شرح سره دحضرت سليك رضي الله عنه د واقعې جواب اوشو ([5])

د دويم فريق پنځه دلائل:-

① د قران پاك([6]) آيت مبارك دې چه ﴿ وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ

---

[1]) (ج/ ٢ ، ص/ ١٥ ، باب فی الركعتين اذا جاء الرجل والامام يخطب ، د روايت دا الفاظ مونږ مخکښې ذکر کړی دی مرتب عفی عنه)-

[2]) صحيح مسلم (ج/ ١ ، ص/ ٢٨٧) مرتب عفی عنه)-

[3]) بلکه صحيح (ج/ ١ ، ص/ ٢٨٧) کتاب الجمعة کښې په روايت کښې دا تصريح ده چه ((فقعد سليک قبل ان يصلی النبی فقال لها البنی ﷺ اركعت ركعتين ؟ قال لا قال لم فاركعها . رشيد اشريف عفی عنه)-

[4]) (ج/ ، ص/ ٧٨) باب ماجاء فيمن دخل المسجد والامام يخطب مرتب عفی عنه)-

[5]) چه دهغې خلاصه داده چه :

①چه ترکومې دحضرت سليك رضي الله عنه مونځ کولو نو ترهغه وخت پورې حضرت نبی اکرم ﷺ خاموش وو . ((کما فی رواية المصنف ابن ابی شيبة (ج/ ٢ ، ص/ ١١٠) فی الرجل يجيئ يوم الجمعة الخ ، و رواية دارقطنی (ج/ ٢ ، ص/ ١٥ ، رقم/٩) باب فی الركعتين اذا جاء الرجل الخ ، او په دې خاموشئ دخطبې احکام به جاری نه وو.

② دا واقعه دخطبې دشروع کولو نه مخکښې وه ((کما يفهم من رواية مسلم (ج/ ١ ، ص/ ٢٨٧) جاء سليک الغطفانی يوم الجمعة ورسول الله ﷺ قاعدا علی المنبر.

③ د حضرت نبی اکرم ﷺ مقصد دده غربت اصحابو کرمو رضي الله عنهم ته ښکاره کول وو. چه ددوی مدداوش اوددې اظهار دټولو نه بهتره ذريعه دا مونځ وو.

④ داواقعه حال لا عموم لها دقسم نه ده چه د کلی قواعدو مقابله نه شی کولې .

دڅلورو واړو جوابونو تفصيل مونږ مخکښې کړې دې .

⑤ يو جواب داهم ورکړې شوې دې چه دا واقعه دهغه وخت ده چه کله دکلام فی الصلوة اجازت اوچه خطبه دصلوة په درج کښې ده . په دې و جه دې کښې همس دغه وخت صلوة دکلام جائز وو . ((وانظر لتفصيل هذا الجواب ،التعليق الحسن علی اثارالسنن (ج/ ، ص/ ٢٤٩) باب التنفل حين يخطب الامام)-

[6]) سورة اعراف جزء حضرت عبدالله ابن عباس ايت ٢٠٤ مرتب عفی عنه)-

تُرْحَمُونَ﴾ دې باره کښې بحث مخکښې تیر شوې دې چه د جمعې خطبه هم دې حکم کښې شامل ده بلکه شوافعو خودا آیت مبارك دجمعې دخطبې پورې خاص کړې دې البته مونږ دا خبره ثابته کړې وه چه د آیت مبارك د مونځ باره کښې نازل شوې دې خوددې په عموم کښې خطبه هم شامل ده .

② (١)د حضرت ابوهریره ﷺ روایت دې چه ((ان رسول الله ﷺ قال یوم الجمعة والإمام یخطب إنصت فقد لغا)) چه هغې کښې حضرت نبی اکرم ﷺ د امر بالمعروف نه منع کړې ده ، حال دادې چه امر بالمعروف فرض دی . اوتحیة المسجد مستحب دی نو تحیة المسجد په طریق اولی سره ممنوع شو.

③ (٢) په مسند احمد کښې دحضرت نبیشه هذلی ﷺ روایت دې چه دې دنبی کریم ﷺ نه نقل کوی چه : ((إن المسلم إذا إغتسل یوم الجمعة إلی المسجد لا یؤذی أحدا فالم یجد الإمام خرج صلی مابدا له وإن وجد الإمام خرج جلس فاستمع وانصت حتی یقضی الإمام جمعة الخ))

حدیث مبارك کښې صراحت سره خودلې شوی دی چه مونځ هله مشروع دې چه کله امام د خطبې دپاره نه وی راوتلې اوکه امام راوځی نوبیا خاموش ناسته پکار ده .

علامه هیثمی ﷫ په مجمع الزوائد کښې ددې حدیث مبارك دنقل کولو نه پس لیکی چه ((رواه احمد ورجاله رجال الصحیح خلا أحمد وهوثقة))

اعتراض:-البته په دې روایت باندې علامه منذری دا اعتراض کړې دې چه دحضرت عطاء خراسانی سماع د حضرت نبشه ﷺ نه نشته دې (٣).

جواب:-خو ددې اعتراض حاصل به زیات نه زیات داشی چه محدثینو په مینځ کښې ددې حدیث مبارك په تصحیح کښې اختلاف دې اوداسې صورت کښې حدیث مبارك د استدلال قابل دې .

④ (٤) په معجم طبرانی کښې د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ نه مرفوعا مروی دی چه ((قال سمعت النبی ﷺ یقول إذا دخل أحدکم المسجد والإمام یخطب فلا صلوة ولا کلام حتی یفرغ الإمام)) ددې حدیث مبارك سندا گر چه ضعیف دې (٥) خو متعدد قرائن ددې مؤید دې.

---

(١) باب ماجاء فی کراهیة الکلام والامام یخطب ترمذی (ج/ ١، ص/ ٩٤) مرتب عفی عنه)-

(٢) انظر مجمع الزوائد (ج/ ٢، ص/ ١٧١) باب حقوق الجمعة من الغسل والطیب ونحو ذالک مرتب غفی عنه)-

(٣) فقال اوعطا لم یسمع من نبشه فی ما اعلم ، الترغیب والترهیب (ج/ ١ ، ص/ ٤٨٧) رقم ٨ کتاب الجمعة الترغیب فی صلوة الجمعة والسعی الیها وماجاء فی فضل یومها وساعتها مرتب عفی عنه)-

(٤) مجمع الزوائد (ج/ ٢ ، ص/ ١٨٤) باب فیمن یدخل المسجد والامام یخطب مرتب عفی عنه)-

(٥) علامه هیثمی ددې روایت دنقل کولو نه پس لیکی چه ((وراه الطبرانی فی ا لکبیر وفیه ایوب بن نهیک وهومتروک ضعفه جماعة وذکره ابن حبان فی الثقات وقال یخطئ کذا فی الزوائد للهیثمی (ج/ ٢ ، ص/ ١٨٤) مرتب عفی عنه)-

دحديث مؤيدات :-

(الف) ددې په بناء چه مصنف ابن ابی شيبه[1] کښې ابن عمر ﷺ خپل مسلك هم ددې مطابق مروی دې ،

(ب) دعلامه نووی ﷫ داعتراف [2] مطابق دحضرت عمر فاروق ﷺ، حضرت عثمان ﷺ اوحضرت علی ﷺ مسلك هم دا وو چه دوی د خروج الامام نه پس مونځ اوکلام جائز نه ګڼړلو. اوهم دا مسلك د بعضو نورو اصحابو[3] او........

د تابعينو[4] نه هم مروی دې . او دا اصول څو ځل تير شو چه كه ضعيف حديث مبارك مؤيد بالتعامل وی نو هغه قابل استدلال دې .

⑤ د حديث د باب واقعې نه سوا د حضرت نبی اکرم ﷺ نه چرته هم دا ثابت نه دی چه حضرت نبی اکرم ﷺ دخطبې په دوران کښې راتلونکی کس ته دمونځ کولو دپاره وئيلی وی د دې مؤيدات دا دی.

(الف) لکه د استسقاء حديث [5] کښې چه کوم اعرابی د قحط شکايت راوړې وو ، بيا يو هفته پس دوباره ئې دسيلاب شکايت راوړې وو. هغه په دواړه واقعو کښې دخطبې په دوران کښې راغلی اورارسيدلې وو. خو حضرت نبی اکرم ﷺ دوی ته دمونځ حکم نه وو ورکړې .

(ب) دغه شان يوسړې د خطبې په دوران کښې تخطی رقاب کوله او روان وو نو حضرت نبی اکرم ﷺ هغه ته اوفرمائيل چه ((إجلس [6] فقدآذيت)) داشان په ابوداؤد [7] کښې د حضرت عبد لله ابن مسعود ﷺ واقعه ذکر کړې ده چه ((عن جابر قال لما استوی رسول

---

[1]) (ج/ ٢ . ص/ ١٢٤) باب الكلام اذا صعد المنبر وخطب وعن ابن عباس ﷺ وابن عمر ﷺ انهما يكرهان خرج الامام يوم الجمعة بعد خروج الامام عن ابن عمر ﷺ انه كان يصلی يوم الجمعة فاذا خرج الامام لم يصلی رشيد اشرف عفی عنه)-

[2]) اوګورئی شرح دصحيح مسلم (ج/ ١ . ص/ ٢٨٧) فصل من دخل المسجد والامام يخطب اوخرج للخطبة فليصل ركعتين الخ مرتب عفی عنه)-

[3]) كما نقلنا عن ابن عباس ﷺ وابن عمر ﷺ مرتب عفی عنه)-

[4]) عن سعيد بن المسيب قا خروج الامام يقطع الصلاة وكلامه يقطع الكلام انظر مصنف لابن ابی شيبه (ج/ ٢ . ص/ ١٢٤، ١٢٥) فی الكلام اذا صعد المنبر وخطب مرتب عفی عنه)-

[5]) انس بن مالک يذكر ا ن رجلا دخل يوم الجمعة من باب و كان جاء المنبر ﷺ قام يخطب فاستقبل رسول الله ﷺ فقال يارسول ا لله ﷺ هلكت الاموال وانقطعت السبل فادع الله ان يغيثنا فا فرع رسول الله ﷺ يديه فقال اللهم اسقنا الی ان قال الراوی ثم امطرت قال فوالله مارأينا الشمس ستا ثم دخل رجل من ذالک الباب فی الجمعة المقبلة ورسول الله ﷺ قائم يخطب فاستقبله قائما فقال يارسول الله ﷺ هلكت الاموال وانقطعت السبل فادع الله ان يمسكها الخ صحی بخاری (ج/ ١ . ص/ ١٣٧) ابواب الاستسقاء باب الاستسقاء فی المسجد الجامع مرتب عفی عنه)-

[6]) سنن نسانی (ج/ ١ . ص/ ٢٠٧) باب النهی عن تخطئ رقاب الناس والامام علی المنبر يوم الجمعة وسنن ابی داود (ج/ ١ . ص/ ١٥٩) باب خطئ رقاب الناس يوم ا لجمعة مرتب عفی عنه)-

[7]) (ج/ ١ . ص/ ١٥٦) باب الامام يكلم الرجل فی خطبته مرتب عفی عنه)-

الله ﷺ ای جلس مستویاً علی المنبریوم الجمعة قال : اجلسوا فسمع ذالك ابن مسعود رضي الله عنه فجلس علی باب المسجد فراه رسول الله ﷺ فقال تعال یا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه)) دلته هم حضرت نبی اکرم ﷺ ده ته دمونځ کول حکم اونه کړو.

(ج)دغه شان د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دخطبې دوران کښې دحضرت عثمان رضي الله عنه تشریف راوړو نو حضرت عمرفاروق رضي الله عنه دوی ته په ناوخته راتلو او په غسل نه کولو تنبیه ورکړه . خود مونځ حکم ئې ورته اونه کړو(١) دا ټول واقعات په دې دلالت کوی چه دخطبې په دوران کښې د مونځ حکم نه وو.

د نهی روایاتو دترجیح وجوه:

① چه کله محرم او مبیح کښې تعارض راشی نو ترجیح به محرم ته وی .
② روایات دنهی مودید بالقران دی نو ترجیح به همدې لره وی .
③ روایات دنهی موید بالاصول کلیه دی .ځکه په ترجیح دې لره وی.
④ روایات دنهی دا مویدبتعامل الصحابه او تابعین دی (٢)
⑤ په دې عمل کولو کښې احتیاط دې ځکه چه تحیة المسجد دچا په نزد هم واجب نه دی . نو ددې په ترك دچا په نزد دګناه نه متحقق کیږی . اودنهی عن الصلاة والکلام داحادیثو په ترك سره دګناه احتمال شته دې ، په دې بناء احنافو احتیاط دې کښې اوګنړل چه دنهی په احادیثو عمل راشی .هم دا وجه ده چه دخطبې په وخت دوی ترك دصلاة اختیار کړو ، والله اعلم .

[١٤١٢]دامام سره دیو رکعت مونځ رالاندې کولو حکم

١٤١٣ — (٣)[١٢] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ «مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلَاةِ مَعَ الْإِمَامِ ٣ فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: ١ ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایلو ٢ کوم سړي چې د لمانځه یو رکعت د امام سره ونیولو ٣ هغه پوره مونځ وموندلو ، (بخاري،مسلم)

(١) د حضرت عثمان رضي الله عنه واقعه مخکښې د باب ماجاء فی الاغتسال فی ا لجمعه لاندې په حواله د مسلم (ج/ ١، ص/ ٢٨٠) کتاب الجمع تیره شوې ده مرتب عفی عنه)-

(٢) کما روی عن عمر h و عثمان h ذکره النووی m فی شرح مسلم(ج/ ١ ، ص/ ٢٨٧) داشان دنوروروایاتو اود اثارو دپاره اوګګورئی مصنف ابن ابی شیبه (ج/ ٢ ، ص/ ١١١) من کان یقول اذا خطب الامام فلا تصل . او شرح معانی الاثار (ج/ ١ ، ص/ ١٧٨ تا ١٨١) باب الرجل یدخل المسجد یوم الجمعة والامام یخطب هل ینبغی له ان یرکع ام لا ؟ مرتب عفی عنه)-

(٣) اخرجه البخاری فی کتاب مواقیت الصلاة/باب من أدرک من الصلاة رکعة(رقم-٥٨٠) و ابوداود فی کتاب الصلاة،باب من أدرک من الجمعة رکعة (رقم-١١٢١) والنسائی کتاب المواقیت/باب من أدرک رکعة من الصلاة (رقم-٥٥٣) والترمذی کتاب الجمعة/باب فیمن أدرک من الجمعة رکعة (رقم٥٢٤) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فیمن أدرک من الجمعة رکعة (رقم-١١٢٢) ومالک فی الموطا کتاب الجمعة /باب فیمن أدرک رکعة یوم الجمعة (رقم-١١)

تسهيلات:-

قوله: مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً:

د مذكوره حديث په باب الجمعة كښې د ذكر وجه:- دَدې حديث مضمون والاحديث باب ماعلى المأموم كښې تيرشوې دې. هلته په دې باندې بحث هم شوې دې. دلته صاحب مشكوة دا حديث دَ جمعې په باب كښې درج كړو حالانكه دا حديث مطلق دَ مونځونو دَ بيان دَپاره دې دَ جمعې متعلق نه دې. ليكن چونكه امام شافعي رحمه الله زير بحث حديث جمعې سره مقيد كړې دې په دې وجه صاحب مشكوة دا دلته درج كړو.

دجمعې مانځه كښې مدرك د آخرى قعدې مدرك د جمعې دې كه د ماسپښين. دې كښې مذاهب

دَ حديث مطلب دادې چه كوم سړى دَ مونځ يو ركعت لاندې كړو هغه ټول مونځ رالاندې كړو. اوس دلته دَ فقهاؤ كرامو په مينځ كښې دَ جمعې په مونځ كښې لږ شان اختلاف دې چه مثلاً يوسړى ته دَ دويم ركعت څه حصه ملاؤ نه شوه بلكه په قعده يا سجده كښې شريك شو نو اوس به هغه دَ جمعې دوه ركعته پوره كوى كه دَماسپښين مونځ به كوى؟

① دَ بعضې سلف مسلك دادې چه كه دَ يوسړى نه دَ جمعې خطبه هم لاړه نو دغه وخت دې دې دَ ماسپښين مونځ اوكړى دَ جمعې نه ② جمهور داسې نه وائى.

مدرك د آخرى قعدې مدرك د جمعې دې كه نه دې كښې د جمهورو مذاهب

دَ جمهورو په خپل مينځ كښې اختلاف دې.

① امام مالك رحمه الله امام شافعي رحمه الله امام احمدبن حنبل رحمه الله او امام محمد رحمه الله يعنى جمهور فرمائى چه دَ جمعې په مونځ كښې تركومې پورې سړې يوركعت پوره نه لاندې كوى نوهغه ته جمعه نه ملاويږى يعنى كه يو سړى ته آخرى ركعت پوره ملاؤ نه شى بلكه په سجده يا قعده كښې شريك شو نودَ هغه دَ جمعې مونځ فوت شو اوس دې هغه دَ ماسپښين مونځ له پاسى او اودې كړى.

② دَ امام ابوحنيفه رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله په نيز كه يوسړى ته دَ جمعې په مونځ كښې آخرى قعده هم ملاويږى نوهغه دې دَ جمعې نيت اوكړى دَ ماسپښين مونځ دې نه كوى ځكه چه هغه ته جمعه حاصله شوه.

د اول فريق دليل:- زير بحث د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث د دوى مستدل دې ليكن استدلال ئى دَ مفهوم مخالف په توګه باندې كړې دې يعنى چاچه يو ركعت لاندې كړو هغه مونځ رالاندې كړو اوچاته چه يو ركعت هم ملاؤ نه شو نو هغه ته مونځ هم ملاؤ نه شو. سره دَدې چه په زير بحث حديث كښې دَ جمعې ذكر نشته دې مګر هم په دې باب كښې وړاندې دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث نمبر ١٩ راځى په هغې كښې دَ جمعې ذكر موجود دې. لهذا جمهور په توګه دَ مفهوم مخالف دَدې روايت نه استدلال كوى.

داول فریق د دلیل جواب: – دویم فریق وائی مونږ هم دغه حدیث منو. په دې کښې دا ذکر دې چاچه یو رکعت لاندې کړو هغه مونځ رالاندې کړو. مونږ هم دغه وایو چه په دې حدیث کښې خودې نه زیاتی هیڅ هم نشته دې. که چرې دا حضرات دَ مفهوم مخالف نه دَ استدلال کوشش کوی نو ادب سره عرض دې چه مونږ دَ مفهوم مخالف قاعده نه منو. لهذا مفهوم مخالف په مونږ باندې حجت نه دې خاص کر په هغه وخت کښې چه زمونږ دَ دلیل مخالف هم وی.

د دویم فریق دلائل: –

① دَحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه اثر د دوی مستدل دې چه په مصنف ابن ابی شیبه کښې ذکردې الفاظ دادی: ((من ادرك التشهد فقد ادرك الصلوة)). هم په دې مصنف ابن ابی شیبه کښې دَحضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه دا روایت هم دې کوم چه دَ هغه اثر دې فرمائی: ((اذادخل فی صلوة الجمعة قبل التسليم وهوجالس فقد ادرك الجمعة وعن الضحاك رضی الله عنه اذا ادرك الناس يوم الجمعة جلوساً صلى ركعتين)).

② دَدوی مستدل دا حدیث دې.. ((اذاسمعتم الاقامة فامشوا الى الصلوة وعليكم السكينة والوقار ولا تسرعوا فما ادركتم فصلوا وما فاتكم فاتموا)) (بخاری) په دې حدیث کښې "فما ادركتم" کښې کلمه ماء عام ده چه څومره ئی هم رالاندې کړو که په تشهد کښې شامل شو هغه مونځ رالاندې کړو دلته سره دَدې چه دَ جمعې ذکر نشته دې لیکن دا حکم دَ ټولو مونځونودَپاره ارشاد شوې دې لهذا دا جمعې ته هم شامل دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٤١٣]دَرسول الله ﷺ دَ خطبې طریقه

١٤١٣–(¹)[١٣]وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ:[٢]«كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ،[٣]كَانَ يَجْلِسُ إِذَا صَعِدَ الْمِنْبَرَ[٤]حَتَّى يَفْرُغَ أُرَاهُ الْمُؤَذِّنُ ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ،[٥]ثُمَّ يَجْلِسُ وَلَا يَتَكَلَّمُ،[٦]ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:[١] ابن عمر رضی الله عنهما فرمایي [٢] چې رسول الله ﷺ به دوه خطبې داسې ویلې [٣] چې کله به منبر ته وختلو نو (مخکې) به کیناستلو [٤] تر دې چې فارغ به شو راوي وایي زما ګمان دا دې چې ابن عمر رضی الله عنهما دا ویلې وو چې تر دې چې مؤذن به فارغ شو بیا به حضور ﷺ پاڅیدلو او (اولنۍ) خطبه به یې ارشاد فرمایله [٥] بیا به (لږ ساعت) کیناستلو لیکن (د دې ناستې په مینځ کې) به یې څه کلام نه کولو [٦] بیا به ودریدلو او دویمه خطبه به یې ویلهږ (ابوداؤد)

حل اللغات: – ①صَعِدَ: اوختلو (ممبرته).

¹) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب الجلوس إذا صعد المنبر (رقم-١٠٩٢)

تسهیلات:-

قوله: وَلَا يَتَكَلَّمُ:

د خطبتینو په مینځ کښې خبرې نه کول:- یعنې دَ دوو خطبوپه مینځ دکیناستلودوران کښې به حضورپاك ﷺ کلام نه کولو. دَ دوو خطبو دوران دَ کیناستلو دَمقدار متعلق ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دَ سورت اخلاص دَ لوستلو په اندازه باندې کیناستل پکاردی.

په خطبه کښې دَبادشاه بې ځایه تعریف کولو حکم:- مسئله داده چه په دویمه خطبه کښې دَ نبی اکرم a دآل اصحاب او ازواج مطهرات اوخلفاء راشدین حمزه عباس رضی الله عنهم دَپاره دعاکول مستحب دی لکه دادَ شاهی خاندان خلق دی. په دوی باندې نور خلق نه شی قیاس کولې. دَ وخت دَ خلیفه دَپاره هم په خطبه کښې دعاکول جائزدی. لیکن دَ منیه په شرح کښې لیکلی دی چه دَ بادشاهانو داسې تعریف کول چه دروغ اوغلط وی یادَهغوی داسې صفتونه بیانول په کوم سره چه هغوی صفت نه کیږی دامکروه تحریمی دی ځکه چه په عبادت کښې دروغ ملاؤکړې شو. په دې مسئله کښې دَزمانې تیریدوسره نورسختوالې هم راغلو لهذا زمونږ بعضې ائمه حضراتو فرمائیلی دی زمونږ دَ زمانې بادشاهانوته عادل وئیل دَ کفرحدته دَ نیزدې کیدو په شان دی. (کذافی مظاهرحق)

[١٤١٤] په خطبه کښې خطیب طرف ته متوجه کیدل

١٤١٤-(١)[١٣] [١] وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: [٢] «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا اسْتَوَى عَلَى الْمِنْبَرِ [٣] اسْتَقْبَلْنَاهُ بِوُجُوهِنَا»). [٤] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ الْفَضْلِ، وَهُوَ ضَعِيفٌ، ذَاهِبُ الْحَدِيثِ.

ترجمه: [١] عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي [٢] چې رسول الله ﷺ چې به د خطبې په وخت منبر ته تشریف یوړو [٣] نو مونږ به خپل مخونه د حضور ﷺ طرف ته متوجه کول، [٤] امام ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړي دي او ویلې یې دی چې مونږ دا حدیث بغیر د محمد بن الفضل دسند څخه علاوه دبل څه سند څخه نه پیژنو اوهغه ضعیف دي هغه ته حدیث یاد نه پاتې کیدل.

حل اللغات:- ① اسْتَوَىٰ: چه کله به برابر شو (په منبر).

تسهیلات:- **قوله: اسْتَقْبَلْنَاهُ بِوُجُوهِنَا**

د خطبې په دوران کښې خطیب ته مخ کول:- ددې حدیث مبارك نه معلومه شوه چې خلقو دپاره دا مستحب دی چې هغوئ دې د خطبې په وخت دخطبې آؤریدو دپاره خپل مخونه خطیب ته واړوی او ناسته دې اختیار کړی، اوداشان خطیب دې هم خلقو طرفته متوجه شی او خطبه دې اووائی.

[١]) اخرجه الترمذی کتاب الجمعة /باب فی استقبال الإمام إذا خطب (رقم-٥٠٩)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٤١٥] خطبه کښې په ولاړه ورکول

١٤١٥-()[١٥] ١ «عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: ٢ كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَخْطُبُ قَائِمًا ثُمَّ يَجْلِسُ، ٣ ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ قَائِمًا، ٤ فَمَنْ نَبَّأَكَ أَنَّهُ كَانَ يَخْطُبُ جَالِسًا فَقَدْ كَذَبَ ٥ فَقَدْ وَاللّٰهِ صَلَّيْتُ مَعَهُ أَلْفَيْ صَلَاةٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: ١ جابر ابن سمره رضي الله عنه وايي ٢ چې رسول الله ﷺ به په ولاړه (اولني) خطبه ارشاد فرمايله بيا به کيناستلو ٣ بيا به يي (دويمه) خطبه هم په ولاړه ارشاد فرمايله ٤ که تا ته څوك دا اووائي چې حضور ﷺ به په ناسته خطبه ورکوله نو بلا شبه هغه سړي دروغجن دي ٥ قسم په الله ما د رسول الله ﷺ سره د دوه زره څخه زيات لمونځونه کړي دي. (مسلم)

تسهيلات:-

قوله: يَخْطُبُ قَائِمًا ثُمَّ يَجْلِسُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ قَائِمًا:

په قرآني آيت استشهاد:- په قرآن کريم کښې ﴿ وَتَرَكُوكَ قَآئِمًا ﴾ الفاظوسره په يقيني توګه معلوميږي چه دَ حضورپاك ﷺ خطبه به په ولاړه باندې وه. اسلام يوژوندې اوآباد مذهب دې ځکه چه دَدې دَاصول اوفروع نه معمولي شان خبره هم پټه نه ده. دلته اوګورئې چه په خطبه کښې دَ حضورپاك ﷺ په منبرباندې دَ قيام ذکرهم موجوددې.

قوله: وَاللّٰهِ صَلَّيْتُ مَعَهُ أَلْفَيْ صَلَاةٍ:

د مونځونو څخه مراد:- دَ دوو زرو مونځونو نه عام مونځونه او جمعې مراددی صرف دَ جمعې مونځونه مرادنه دی ځکه چه دَ جمعې مونځ په مدينه منوره کښې شروع شوې وو اوهلته دَ حضورپاك ﷺ دَ ژوند مبارك موده لس کاله وه او په لسو کالو کښې دَ پنځوسوونه زيات جمعات نه شي کيدې لهذا حضرت جابر رضي الله عنه عام مونځونه مراد اخلي او په دې کلام سره دَهغوی مقصد داخودل دی چه دَ حضورپاك ﷺ سره دَهغوی اوږد رفاقت پاتې دې.

د خطبې آداب:-

① دَخطيب دَپاره مستحب دی چه دَهغه په لاس کښې نيزه يا توره وی په کوم سره چه اشاره کيږی چه دَدې دين احکام محفوظ دی ځکه چه دَ جهادعمل جاری دې.

② په شرح منيه کښې ليکلی دی چه کوم ښاردَ تورې په زور فتح شوې وی لکه مکه نوهلته دې دَ جمعې په ورځ خطيب په خپل لاس کښې توره اخستوسره خطبه لولی. اوکوم ښارچه په صلح سره فتح شوې وی هلته دې بغيردَ تورې نه خطبه لوستلې شی.

③ ينابيع کښې ليکلی دی چه دويمه خطبه لږ په رو آواز سره ورکول پکاردی.

---

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الجمعة /باب ذکر الخطبتين قبل الصلاة وما فيهما من الجلسة (رقم-٣٥ - (٨٦٢)

[١٤١٦] په ناسته د خطبې ورکولو کراهت

١٣٧٢ —()[١٦] ١ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ: أَنَّهُ دَخَلَ الْمَسْجِدَ ٢ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أُمِّ الْحَكَمِ يَخْطُبُ قَاعِدًا. ٣ فَقَالَ: انْظُرُوا إِلَى هَذَا الْخَبِيثِ يَخْطُبُ قَاعِدًا، ٤ وَقَدْ قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا ٥ انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا﴾ [الجمعة: ١١]. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ د کعب ابن عجره رضي الله عنه په باره کې منقول دي چې هغه یوه ورځ د جمعې په ورځ په مسجد کې په داسې وخت داخل شو ٢ کله چې عبدالرحمن ابن ام الحکم (چې د بني امیه څخه وو) په ناسته خطبه ورکوله ٣ نو کعب ابن عجره رضي الله عنه اوویل (لس) د دې خبیث طرف ته وګورئ چې په ناسته خطبه ورکوي ٤ حالانکه د الله تعالی جل جلاله ارشاد دي ﴿وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا﴾ (یعني هر کله چې خلق سوداګري یا لوبه تماشه ویني ٥ نو د هغې طرف ته ورزغلي او تا د غسې ولاړ پریږدي). (مسلم)

حل اللغات: - ① انفَضُّوا: خواره واره کیدل، په منډه ورتلل.

تسهیلات: - **قوله:** وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أُمِّ الْحَكَمِ يَخْطُبُ قَاعِدًا:

په منکر باندې د رد کول او صحابه کرام: — داسې د بنو امیه نه وو د وخت د حاکم د طرف نه کورنروو. ده په ناسته خطبه ورکوله په کوم چه د شان والاصحابه کرامو سختو الفاظو کښې اعتراض اوکړو او په منکر باندې رد کول د صحابه کرامو یو امتیازی شان وو.

قوله: وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً:

د آیت شان نزول: — په مدینه منوره کښې یو ځل سخت قحط راغلو. هم د دغه قحط په وخت د شام نه یو قافلې غله راوړله مدینې ته راغله. د جمعې ورځ وه د جمات والو ته چه کله معلومه شوه نو د مجبورئ په وجه د قافلې طرف ته وربه منډه شو. حضورپاک صلی الله علیه وسلم په منبر باندې ولاړ وو یو څو صحابه کرام هم وو مګر اکثر بهر لاړل هم دې سره متعلق دا آیاتونه نازل شو په کوم چه د حضورپاک صلی الله علیه وسلم په منبر باندې د ولاړې بیان دې. الحمد لله د دین اسلام یو یو شعبه او د هغې پوره نښې نښانې محفوظ او مامون دی. د دنیا د یو مذهب والا د خپل نبی یا دینی پیشوا د حالاتو داسې کلکه نقشه نه شی پیش کولې نه هیڅ کله نه، دا نعمت صرف اسلام او اهل اسلام ته حاصل دې.

[١٤١٧] په خطبه کښې د لاسونو خوزولو حکم

١٣٧٤ —(٢)[١٧] ١ «وَعَنْ عُمَارَةَ بْنِ رُوَيْبَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: ٢ أَنَّهُ رَأَى بِشْرَ بْنَ مَرْوَانَ عَلَى الْمِنْبَرِ رَافِعًا يَدَيْهِ، فَقَالَ: ٣ قَبَّحَ اللَّهُ هَاتَيْنِ الْيَدَيْنِ، ٤ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَا يَزِيدُ عَلَى أَنْ يَقُولَ بِيَدِهِ هَكَذَا، ٥ وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ الْمُسَبِّحَةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1]) اخرجه مسلم فی باب فی قوله تعالی: ﴿وإذا رأوا تجارة أو لهوا انفضوا إليها وتركوك قائما﴾ [الجمعة: ١١] (رقم -٣٩ - (٨٦٤)

[2]) اخرجه مسلم فی کتاب الجمعة/باب تخفيف الصلاة والخطبة (رقم) ٥٣ - (٨٧٤)

ترجمه: [۱] د عماره ابن روبيه په باره کې منقول دي [۲] چې هغه يو ځل بشر ابن مروان په منبر (د خطبې په وخت) خپل لاسونو پورته کولو سره وليدلو (څنګه چې نن صبا مقررين او واعظين د تقرير په دوارن کې د خطابت په جوش کې خپل لاسونه پورته کوي) نو وي فرمايل [۳] الله تعالىٰ جَلَّ جَلَالُهُ دي دا دواړه لاسونه برباد کړي [۴] ما رسول الله ﷺ ليدلي دي چې حضور ﷺ به په خپل لاس سره د دې څخه زياته اشاره نه کوله [۵] دې ويلو سره هغه د خپل شهادت په ګوتې سره اشاره وکړله. (مسلم)

حل اللغات: - ① قَبَّحَ: برباد دې کړي، ② الْمُسَبِّحَة: مسواکه، دشهادت ګوته.

تسهيلات: -

قوله : قَبَّحَ اللّٰهُ هَاتَيْنِ الْيَدَيْنِ.

په دې حديث کښې دې صحابی دَ وخت حکمران ته په يو منکربانډې په سختو الفاظو اعتراض کړې دې. هغه سرې په خطبه کښې دواړه لاسونه دَ ضرورت نه زيات خوزول.

په عادی عمل باندې د رټلو وجه: - علماء کرامو ليکلی دی چه په خطبه کښې لاسونه خوزول يا اوچتول يانه اوچتول يو طبعي اوعادی معامله ده حضورپاک ﷺ به دَ خپل عادت مبارک مطابق صرف په ګوته سره اشاره فرمائيله زيات لاس به ئې نه خوزولو. په دغه شان عادتونو خپلولو کښې څوك په سختئی سره پابند کولې نه شی خوصحابه کرام چه دَ رسول الله ﷺ عاشقان وو هغوی دَ حضورپاك ﷺ په ادا اوانداز کښې لږشان بدلون هم نه شو برداشت کولې په دې وجه په عادی امر کښې خلاف ورزی کولوباندې ئې هغه سړې اوټوکلو اوسختې جملې ورته ارشاداوفرمائيلې. فجزاه الله خيرا

[۱٤۱۸] حضرت ابن مسعود رضي الله عنه او د نبی عليه السلام تابعداری

١٤١٨ – ()[١٨] [١] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «لَمَّا اسْتَوَى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى الْمِنْبَرِ قَالَ: [٣] " اجْلِسُوا " فَسَمِعَ ذَلِكَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَجَلَسَ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ، [٤] فَرَآهُ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ " تَعَالَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مَسْعُودٍ ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ (يو ځل) د جمعي په ورځ (د خطبي د پاره) په منبر ودريدلو او صحابه ؤ ﷺ ته يي وفرمايل [۳] (د خطبي اوريدو د پاره کيني) عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه چې دا ارشاد واوريدلو هغه د مسجد په دروازه کښې کيناستلو [۴] حضور ﷺ چې هغه وليدلو نو ورته يي وفرمايل چې اي عبدالله ابن مسعود! (رضي الله عنه) دلته راشه. (ابوداؤد)

[۱]) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب الإمام يكلم الرجل فى خطبته (رقم-۱۰۹۱)

تسهيلات:-

قوله: فَجَلَسَ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ:

اتباع نبوی او صحابه كرام:-دَ صحابه کرامو رضي الله عنهم اطاعت ته او گورئی چه غوږونو ته دَ "اجلس" آواز راځی نو بیا نه گوری چه چاته وائی یا ځائی هم دَ ناستې دې که نه دې بلکه صرف حکم ته گوری چه د کیناستو حکم شوې دې اوس بس کیناستل دی.

دلته حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه هم دغه شان کړی دی او جمات په دروازه کښې کیناستو. بیا حضورپاك ﷺ په شاندار الفاظوسره آواز کوی "تعال یا عبد الله بن مسعود رضي الله عنه". علماؤ لیکلی دی چه دا خبرې اترې به دَ خطبې شروع کیدونه وړاندې وی ځکه چه روستو په خطبه کښې خطیب هم خبرې نه شی کولې.

فائده: په دې حدیث سره په واضحه توګه سره دا خبره ثابته شوه چه په خطبه کښې تحیة المسجد جائز نه دې ګنی حضورپاك ﷺ به ابن مسعود رضي الله عنه ته حکم فرمائیلو چه دوه رکعته اوکړه.

[١٤١٩] دَ جمعې مونځ نه ملاویدلو په صورت کښې دَ ماسپښین مونځ ادا کول

١٤١٩-(١)[١٩] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«مَنْ أَدْرَكَ مِنَ الْجُمُعَةِ رَكْعَةً فَلْيُصَلِّ إِلَيْهَا أُخْرَى، ٣ وَمَنْ فَاتَتْهُ الرَّكْعَتَانِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا» ٤ " أَوْقَالَ: "الظُّهْرَ". رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: ١ ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ کوم سړي چې د جمعې یو رکعت (د امام سره) لاندي کړي نو هغه دي ورسره دویم رکعت یو ځاي کړي (یعني دویم رکعت دي تنها ودریدو سره پوره کړي) ٣ او کوم سړي چې دواړه رکعاته لاندي نه کړي نو هغه ته پکار دي چې هغه څلور رکعاته وکړي ٤ یا وي فرمایل چې د ماسپښین مونځ دي پوره کړي. (دار قطني)

تسهيلات:- قوله: وَمَنْ فَاتَتْهُ الرَّكْعَتَانِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا:

د رکعتینو نه لاندې کول:- یعنی که دَجمعې په دوه رکعته کښې څه ملاؤنه شی نه تشهد ملاؤشو نه سجده نواوس دې سړی ته دَ جمعې دَمونځ په ځائی دَماسپښین څلور رکعته مونځ کول پکاردی. دَدې حدیث دَ ظاهری الفاظونه هم جمهورو استدلال کړې دې چه دَ یو رکعت ملاویدل دَ جمعې دَ حاصولول دَپاره ضروری دی. دَدې مسئلې تفصیل وړاندې تیر شوې دې.

(١) اخرجه الدار قطني في باب: فيمن يدرك من الجمعة ركعة أو لم يدركها (رقم-١٥٩٥)

[٦٢/٤٦] بَابُ صَلَاةِ الْخَوْفِ

د ویرې د مونځ بیان

خلاصة الباب:-

فیه ستة أحادیث مشتملة علی ثلاث مسائل:

① کیفیة صلوة الخوف: ١، ٢، ٣، ۴، ۵.

② کیفیة الصلوة وقت شدة الخوف: ١.

③ وقت نزول حکم صلوة الخوف : ۶.

د قرآن څخه د صلاة الخوف ثبوت:- قال الله تعالی ﴿ وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓا۟ أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُوا۟ فَلْيَكُونُوا۟ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا۟ فَلْيُصَلُّوا۟ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا۟ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَٰحِدَةً وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓا۟ أَسْلِحَتَكُمْ وَخُذُوا۟ حِذْرَكُمْ إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴾ [سورت نساء]

د صلاة الخوف مشروعیت کښې اقوال:- دَ صلوة خوف مشروعیت کله شوې؟ په د کښې مختلف اقوال دی:

① دَ بعضې علماؤقول دې چه دَ صلوة خوف مشروعیت په څلورمه هجری کښې شوې وو

② بعضې پنځم   ③ اوبعضې شپږم

④ اوبعضېودَ اووم هجرئی قول کړې دې

⑤ جمهوردَ څلورمې هجرئی قول ته ترجیح ورکوی.

د تولو څخه اول د صلاة الخوف د ادا کولو مقام:- دَ ټولونه اول دا مونځ دَمکې اوجدې په مینځ کښې یومقام کښې شوې دَ کوم نوم چه عسفان دې. په حدیث کښې داشان تصریح ده چه ضجنان غراو عسفان په مینځ کښې په ړومبی ځل صلوة خوف شوې دې. دَ کافرانودَ ویرې اودَ دښمن دَحملې کولوپه وخت چه کوم مونځ اداکولې شی هغې ته صلوة خوف وائی. دَ ویرې

د قرآن او حدیث نه د صلاة الخوف ثبوت:- دا مونځ دکتاب الله نه ثابت دې اودَ یوحدپورې په کتاب الله کښې دَدې دَاداکولوطریقه هم بیان کړې شوې ده. دا مونځ دَ سنت رسول الله ﷺ نه هم ثابت دې.

د صلاة الخوف مختلفې طریقې:- البته دَ حالاتو اومقاماتو دَ وجې دَ دې مختلف طریقې راغلی دی.

① امام ابوداؤد رحمه الله په خپل سنن کښې دَدې مونځ اته طریقې بیان کړې دی.
② ابن حبان رحمه الله نهه طریقې ذکر کړې دی.
③ ابن حزم رحمه الله دَدې متعلق مستقل جزلیکلې دې په دې کښې هغوی څوارلس طریقې بیان کړې دی
④ بعضېو ١٦ او ١٧ طریقوپورې بیان کړې دی. په دې باندې دَامت اتفاق او اجماع ده چه صلوة خوف یو مشروع او جائز مونځ دې او دَ حضورپاك ﷺ دَعمل نه ډیر خلې ثابت دې.

د نبی کریم ﷺ د وفات نه پس د صلاة الخوف په مشروعیت کښې مذاهب

① دَ حضورپاك ﷺ دَ وفات نه پس هم خلفاء راشدین او صحابه رضی الله عنهم په دور کښې دَدې مشروعیت باقی پاتې دې په دې باندې هم دَجمهورو اتفاق دې
② دَامام ابویوسف رحمه الله نه یو روایت دې هغه فرمائی چه صلوة خوف حضورپاك ﷺ سره خاص وو کله چه دَ حضورپاك ﷺ انتقال اوشو نودا مونځ مشروع پاتې نه شو.

داول فریق دلیل:- دَ قرآن آیت ﴿ وَإِذَا كُنْتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ ﴾ د دوی مستدل دې. چه په دې کښې په خاص توګه حضورپاك ﷺ ته خطاب دې او دَ حضورپاك ﷺ موجودګئی طرف ته واضح اشاره ده لکه چه دَ صلوة خوف دَپاره دَ حضور پاك موجودګی قیداو شرط دې. کله چه حضورپاك ﷺ په دنیا کښې پاتې نه شو نو حضورپاك ﷺ سره مخصوص دا مونځ هم پاتې نه شو.
② دَحضوراکرم په موجودګئی به خلقو دَ حضورپاك ﷺ نه علاوه بل چاپسې مونځ کول نه شو برداشت کولې لهذا دَ جدا جدا جمعو ګنجائش نه وو. دَ حضورپاك ﷺ دَ وصال نه پس صورت داسې پاتې نه شولهذا دَ یوې جمع په ځائی جمع ځان ځانله کولې شی نودَ صلوة خوف ضرورت پاتې نه شو.

د مذهب یوسفی تضعیف:- لیکن په دې مسئله کښې دَامت نه چاهم دَ امام ابویوسف رحمه الله ملګرتیانه ده کړې په دې وجه دَهغوی دا رائې صرف دَ ده نه نقل کړې شوې خبرو کښې شمیر کړې شوې ده.

د صلاة الخوف ادا کولو په طریقه کښې مذاهب

بیا دَ جمهورفقهاؤ په نیزدَ صلوة خوف دَ اداکولو په طریقو کښې څه اختلاف دې.
① امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه په احادیثو کښې څومره طریقې راغلی دی دَ موقع مقام حالت اوزمانې په وجه ټولې طریقې جائز دی. علماء وائی چه دَ یودوو طریقونه علاوه دَ امام احمد رحمه الله په نیزټولې طریقې جائز دی.
② دَ امام مالك رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نیز هم دَ صلوة خوف ټولې طریقې جائز دی البته دَهغوی په نیز یوه طریقه راجح او خوښه کړې شوې ده. هغه داسې چه پیش امام به خلق په

دوو ډلوکښې تقسیم کولوسره یوه ډله دَدښمن په مقابله کښې اودره وی اویوې ډلې سره به یورکعت اوکړی دا ډله دې خپل دویم رکعت اوکړی اولاړه دې شی اودَ مقابلې والا ډله دې مانځه له راؤلیږی اوامام دې دَهغوی په انتظارکښې ولاړوی کله چه هغه ډله راشی نوامام سره دې یورکعت اوکړی. اوس امام مالك رحمه الله فرمائی چه امام دې دَقعدې نه پس سلام اوګرځوی اوفارغ دې شی مګر امام شافعي رحمه الله فرمائی چه امام دې سلام نه ګرځوی بلکه دَمقتدیانوانتظاردې اوکړی کله چه دا دویمه ډله خپل مونځ مکمل کړی نوامام دې هغوی سره یوځائی سلام اوګرځوی اودَ مانځه نه دې فارغ شی. دَ امام مالك رحمه الله امام شافعي رحمه الله په منیځ کښې دغه لږشان فرق دې. په دې طریقه کښې دا خوبی خوشته چه په دې کښې دَ مقتدیانو په مانځه کښې تګ راتګ نشته دې لیکن په دې کښې دا نقصان شته چه مسئله به اولته شی هغه داسې چه امام دَمقتدیانو انتظارکوی نوپیش امام به "شا" امام جوړشی. دویم نقصان دا چه رومبې ډلې مقتدیان دَ خپل امام نه وړاندې دَ مانځه نه فارغ کیږی داهم دَ مسئلې اولتیه والې دې چه امام تردغه وخته پورې په مانځه کښې دې اومقتدیان فارغ شو مورچه اومیدان جنګ ته اورسیدل.

③ دَ احنافوپه نیزدَ صلوة خوف یوه طَریقه په اصل کتابونو کښې ذکرده او یوه طریقه په شروحاتو کښې ذکرده دواړه طریقې غوره کړې شوی دی.

د حنفی متونو د صلاة الخوف طریقه :- دَ احنافوپه کتابونوکښې چه په اصل کتاب کښې کومه طریقه ذکرده هغه داسې ده چه امام دې ټول خلق په دوو ډلوکښې تقسیم کړی. اوله ډله دې دَمونځ طرف ته راشی اودویمه ډله دې دَښمن په مقابله کښې اودریږی. اوله ډله دې یورکعت مونځ امام سره اوکړی او دَدښمن دَمقابلې دَپاره دې هم دَ مانځه په حالت کښې مورچې طرف ته لاړه شی. دَهغه ځائی نه دې دویمه ډله راشی اوامام سره دې یورکعت اوکړی. امام دې دَ قعدې نه پس سلام اوګرځوی فارغ دې شی ځکه چه دادَ سفردَ حالت مونځ دې کوم چه دوه رکعته دې. بهرحال دا ډله دې هم دَ مانځه په حالت کښې مورچې اودَ جنګ میدان ته لاړه شی اودَهغه ځایه دې رومبې ډله راشی خپل دویم رکعت دې پوره کړی لاړدې شی او هغه بله ډله دې راشی خپل مونځ دې مکمل کړی. په دې طریقه کښې تګ راتګ ډیر دې اودا طریقه قرآن حکم ته ډیره نیزدې ده ځکه چه دَ قرآن په آیت کښې هم زیات تګ راتګ ذکردې. احنافو هم دَدې ابن عمر رضی الله عنه دَ حدیث نه دا طریقه اخستې ده.

چونکه دَ مانځه باره کښې دا فیصله شوې ده چه په کوم ځائی دې شروع کړې هم هلته به ئی ختموې په دې وجه تګ راتګ زیات شوخو دلته به داخیال ساتل وی چه رومبې ډله کوم وخت خپل دویم رکعت اوکړی نوهغه به قرآءت نه وی بلکه خاموش به ولاړوی ځکه چه هغوی لاحقین دی او لاحق په خپل مونځ کښې قراءت نه شی کولې.

د حنفی شروحاتو د صلاة الخوف طریقه: -دَ احنافودَ شرحو کتابونوکښې چه کومه مختار طریقه لیکلې ده هغه داده چه دویمه ډله کوم وخت یورکعت اوکړی نودَ مورچې طرف ته دې بغیردَ مونځ نه نه ځی بلکه خپل دویم رکعت دې پوره کړی بیادې ځی. اوس دې دواړو طریقوته دَ احنافو په نیز غوره ځکه وئیلی شوی دی چه په اول طریقه کښې تګ راتګ زیات دې او په دویمه طریقه کښې سره دَدې چه نقل وحرکت کم دې لیکن په دې کښې دا نقصان دې چه دَ لاحقین نه مسبوقین وړاندې فارغ شو حالانکه لاحقینوته دَ اصولو مطابق دَ مسبوقین نه وړاندې فارغ کیدل پکاردی. غرض دا چه په دواړو طریقو کښې څه خوبیانې او څه نقصانات دی لهذا دواړه په مختارکیدوکښې برابردی.

نوټ: -دامام احمد رحمه الله په نیز چونکه ټولې طریقې جائز دی ځکه د هغوی د دلائلو ذکر کولو ته ضرورت نشته.

د دویم فریق دلیل: -دَ مشکاة حدیث نمبر(١٤٢١) د دوی مستدل دې چه دَحضرت یزیدبن رومان رضی الله عنه نه روایت دې اوبخاری رحمه الله دا دَ سهل بن حثمه رحمه الله نه روایت کړې دې.

د دویم فریق د د لیل جواب: -په مانځه کښې تګ راتګ او نقل وحرکت کول دَ شریعت دَ قواعدو په رڼاکښې دَ مجبورئی په وخت صحیح دی او مشهوراومعروف دی لکه چه دَ مار لړم دَ وژلودَپاره یا دَ بې اودس دَپاره دَ اودس تل راتلل ثابت دی. خوشوافع اومالکیه چه کومه طریقه خپله کړې ده هغه خودَاصول امامت خلاف ده او په دې کښې مسئله اولټه ده چه امام تابع کیږی اودَ مقتدی تابعدار کیږی لهذا هغه طریقه افضل نه ده بلکه کومه طریقه چه مونږ اختیارکړې ده هغه افضل ده. بهرحال دادَ اولی اوغیراولی اختلاف دې دَ جواز اوعدم جواز اختلاف نه دې.

د دریم فریق دلیل: -دَ دې باب ړومبی حدیث د دوی مستدل دې کوم چه دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه نقل دې. دَ ابن عمر رضی الله عنهما دا روایت دَ قرآن کریم سیاق اوسباق سره ډیر نیزدې دې لهذا دَ احنافو غوره طریقه قرآن ته ډیره نیزدې ده.

دوه غیرمعمول بهما طریقې: -اوپه دې ټولو طریقوکښې دوه طریقې داسې دی په کوم چه عمل ممکن نه دې.

① اوله طریقه داده چه هره ډله دې یویورکعت اوکړی لاړه دې شی او دَ امام به دوه رکعته شی اودَ قوم به یویورکعت شی دا طریقه دَ جمهورو په نیزجائزنه ده اګرچه امام احمدبن حنبل رحمه الله دې ته هم جائزوائی. په دې طریقه کښې مشکل دادې چه یورکعت مونځ په شریعت کښې مشهور او معروف نه دې.

② دویمه غیرمعمول به طریقه داده چه هره ډله دې دوه دوه رکعته اداکړی دَ امام څلوررکعته شو اودَ مقتدیانو دوه دوه رکعته شو. په دې کښې مشکل دادې چه حضورپاک

ﷺ دوو رکعتو باندې سلام ګرځولې دې که چرې داد مسافر مونځ وو نو څلور رکعته نې ولې کړې اوکه د دَمقيم مونځ وو نو په مينځ کښې سلام ولې ګرځولې دې؟ بهرحال په دې کښې به دا تاويل کولې کيږي چه داد هغه وخت خبره ده چه فرض مونځ دوه ځل اداکيدې شو.دا طريقه صاحب مشکوة دَ فصل ثاني رومبي حديث نمبر(١٤٢٣) کښې دَ حضرت جابر ﷺ دَ روايت په حواله سره ذکرکړې ده. هم هلته دَدې نوره تشريح توضيح اوتوجيه ذکر ده.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٤٢٠]د صلاة الخوف طريقه

١٤٢٠ــ()[١] ١ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيهِ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ، قَالَ: ٢ «غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قِبَلَ نَجْدٍ، ٣ فَوَازَيْنَا الْعَدُوَّ، فَصَافَفْنَا لَهُمْ، ٤ فَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يُصَلِّي لَنَا، ٤ فَقَامَتْ طَائِفَةٌ مَعَهُ، وَأَقْبَلَتْ طَائِفَةٌ عَلَى الْعَدُوِّ، ٥ وَرَكَعَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-بِمَنْ مَعَهُ وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ،

ترجمه: ١ سالم ابن عبدالله ابن عمر ﷺ د خپل پلار (عبدالله ابن عمر ﷺ) څخه روايت کوي ٢ چې مونږ (يو ځل) د رسول الله ﷺ سره د نجد طرف ته د جهاد د پاره لاړو ٣ (کوم وخت چې) مونږ دښمن ته مخامخ شو نو مونږ د هغوئ (د مقابل کيدو) د پاره صفونه وتړل ٤ حضور ﷺ مونږ ته د لمانځه راکولو د پاره ودريدلو ٥ نو يو جماعت د حضور ﷺ سره (د لمانځه کولو د پاره) ودريدلو او بل جماعت د دښمن مد مقابل ودريدلو ٥ حضور ﷺ د هغه خلقو سره چې د حضور ﷺ سره (د لمانځه په جماعت کې) شريك وو يو رکوع وکړله او دوه سجدې يې وکړلې.

حل اللغات: - ① نَجْدٍ: ما ارتفع من الارض وصلب: يعنې د زمکې اوچته حصه.خو دلته د يوځاى نوم مراد دې. ② وَازَيْنَا: فوازينا: دا صيغه دَ موازات نه متکلم مع الغير صيغه ده. دَمدمقابل کيدو په معنى کښې ده. ③ صَافَفْنَا: صفونه مو جوړ کړل.

١ ثُمَّ انْصَرَفُوا مَكَانَ الطَّائِفَةِ الَّتِي لَمْ تُصَلِّ، ٢ فَجَاءُوا، فَرَكَعَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-بِهِمْ رَكْعَةً، ٣ وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ، ٤ فَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ، ٥ فَرَكَعَ لِنَفْسِهِ رَكْعَةً، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ». ٦ وَرَوَى نَافِعٌ نَحْوَهُ. ٧ وَزَادَ: فَإِنْ كَانَ خَوْفٌ هو أَشَدَّ مِنْ ذٰلِكَ صَلَّوْا رِجَالًا، ٨ قِيَامًا عَلَى أَقْدَامِهِمْ، ٩ أَوْ رُكْبَانًا مُسْتَقْبِلِي الْقِبْلَةِ، أَوْ غَيْرَ مُسْتَقْبِلِيهَا، ١٠ قَالَ نَافِعٌ: لَا أُرَى ابْنَ عُمَرَ ذَكَرَ ذٰلِكَ إِلَّا عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[١]) اخرجه البخاری فی أبواب صلاة الخوف (رقم-٩٤٢) والنسائی کتاب صلاة الخوف (رقم-١٥٣٩) والدارمی کتاب الصلاة/باب فی صلاة الخوف

ترجمه: ١ بیا هغه خلق (چې د حضور ﷺ سره په لمانځه کې وو) د هغه خلقو ځای ته ورغلل چې هغوئ مونځ نه وو کړي ٢ هغه راغلل (او د حضور ﷺ سره په لمانځه کې شریك شو) نو حضور ﷺ د هغه خلقو سره یوه رکوع اوکړه ٣ او دوه سجدي یې وکړلي بیا یي سلام وګرځولو ٤ بیا دا خلق ودریدل ٥ او هر یو خپله یوه یوه رکوع او دوه دوه سجدي پوره کړي ٦ نافع رحمه الله هم دغسې روایت بیان کړي دي ٧ خو دومره یې نور زیات بیان کړي دي چې که (عین د جنګ حالت وو او) خوف د دې څخه هم زیات وو (چې په مذکوره طریقي سره مونځ کول ممکن نه وي) نو خلق دي پیاده مونځ وکړی ٨ په ولاړه ولاړه ٩ یا که (پیاده نشي کیدي نو) په سوارلئ باندې (که ممکنه وي نو) د قبلې طرف ته (او که ممکنه نه وي نو) کوم طرف ته چې مخ کړي مونځ دي وکړي ١٠ نافع رحمه الله وایي چې زما خیال دي چې ابن عمر رضی الله عنهما به دا الفاظ د رسول الله ﷺ څخه نقل کړي وي. (بخاري)

د راوي مختصر تعارف:- نوم سالم ابوعمر کنیت. دَ حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې چه دَ ایران بادشاه کومې جینکئی راګیرې کړې شو په هغې کښې یوه حضرت عبدالله رضی الله عنه ته ورکړې شوه او حضرت سالم رحمه الله هم دَ هغې نه پیداشو. (٢) په تفسیر حدیث او فقه کښې خپل مثال پخپله وو.(یعنی د ده پشان څوک نه وو) امام مالك رحمه الله به فرمائیل چه دَ سالم په زمانه کښې دَ هغهٔ نه زیات تقوی دار اود سلف صالحین په شان څوك نه وو.(٣) علامه ذهبی رحمه الله فرمائی سالم فقهی حجت دې.دَهغه مخصوص علماؤنه وودکومو ذات چه دَعلم اوعمل مجموعه وه.(٤)

علامه نووی رحمه الله فرمائی دَ سالم امامت جلالت زهد او دَ الله تعالی نه ویره اوپه اوچته مرتبه باندې ټول متفق دی. (٥) دَ هغوی ژوندډیر ساده وو په هغوی کښې تکلف اوځان خودل هډو وونه.حافظ ذهبی رحمه الله لیکی دهغوی ژوند ډیر ساده وو دَ ورځ جامې به ئی اغوستلې دَ ټولوجامو قیمت به دوه درهمونه زیات نه ووپه خوراك کښې به ئی صرف روټئی او دَ زیتونوتیل وو.

وفات:- ذی الحجه ١٠٦ھ کښې مدینه منوره کښې وفات شو. هشام بن عبدالملك چه دَ حج نه پس مدینې ته راغلې ووهغوی ئې دَ جنازې مونځ اوکړو په جنازه کښې ډیر زیات خلق وو. دَ جنت البقیع په میدان کښې جنازه اداکړې شوه (٦) دَ نورو حالاتودپاره اوګورئی ① طبقات ابن سعد ١٤٨/٥ ② تذکرة الحفاظ ٧٧/١ ③ ابن خلکان ١٩٨/١ ④ تهذیب الاسماء ٧٧/١ ⑤ تهذیب التهذیب ٤٣٧/٣ وغیره.

تسهيلات:-

قوله: فَصَافَفْنَا لَهُمْ: یعنی دَ دښمن په مقابله کښې دَ جنګیدلودَپاره مونږ دَهغوی سره دَ مقابلې کولودَپاره صفونه اوتړل.

قوله : قِبَلَ نَجْدٍ:

د نجد مصداق :- نجد اوچتې زمکې ته وائي دَ نجد نه دلته مراد نجد حجاز دې نجد یمن نه دې. نن صباپه سعودی باندې دَ نجد دَ اوسیدونکو حکومت دې دَ ریاض په اطراف کښې نجد دې.

قوله : فَرَكَعَ لِنَفْسِهِ:

د صلاة خوف یوه طریقه :- په حدیث کښې چه دا دَ ویرې دَمونځ کومه طریقه ذکر ده دادَ احنافو په نیز مختار ده اودا اقرب الی القرآن ده. په دې حدیث کښې سره دَدې چه هغه پوره طریقه موجود نه ده کومه چه احناف اخستې ده لیکن په حضرت ابن عباس رضي الله عنهما باندې موقوف یو حدیث کښې هغه طریقه په مکمل توګه باندې موجود ده کومه چه امام محمد رحمه الله په خپل کتاب الآثار کښې ذکر کړې ده.

احناف فرمائی چه که چرته دَ ماښام مونځ وی نواوله ډله دې دوه رکعته اوکړی لاړدې شی او دویمه ډله به یو رکعت کوی. "رجال قیاما علی اقدامهم" یعنی چه ویره زیاته سخته شی نوبیا پیدل تلوتلو کښې مونځ کولې شی په دې کښې به دَ رکوع او سجدې دَپاره اشاره کولې شی اوکه چرې سور وی نوهغه به په سورلئی باندې اشاره سره فرض مونځ کوی که دَقبلې طرف ته ئی مخ وی او که نه وی.

د صلاة الخوف مذکوره طریقه د مطلوب دپاره ګیدل :- ائمه احناف فرمائی چه دَدې په شان صورت کښې مونځ هغه سړې کولې شی کوم چه مطلوب وی یعنی دښمن هغه پسې لګیدلې وی او ورپسې شاته منډې وهی. احناف فرمائی دَ طالب دَپاره داسې مونځ کول جائز نه دی یعنی کوم سړې چه دښمن پسې لګیدلې وی او دښمن ترې وړاندې منډې وهی.

دَدې حدیث نه معلومه شوه چه فرض مونځ څومره اهم څیز دې اوداد الله تعالی څومره اهم حکم دې چه په دې حالت کښې هم نه شی پریخودې. بل دَدې حدیث نه داهم معلومه شوه چه جهاد څومره اهم حکم دې ځکه چه دَ عبادتونو ټولې نقشې ماتیږی لیکن جهاد موقوف یا مؤخر کولې نه شی. دَ دې حدیث نه داهم معلومه شوه چه فرض مونځ په یو وخت کښې په دویم ځل نه شی کیدې ګنی امام به جدا جدا دوه ځل ورکولو.

په مذکوره طریقه د مونځ کولو صورت :- علماء لیکی چه دَ صلوة خوف دا صورت هغه وخت دې چه کوم وخت په یو امام پسې خلق په مونځ کولو اصرار کوی او په بل امام پسې شاته نه کول غواړی. لکه څنګه چه دَ حضورپاك ﷺ په زمانه کښې وو. لیکن که په جدا جدا امامانو پسې خلق مونځ کوی نوبیا به دَ دې صلوة خوف په دې صورت کښې ضرورت نه پیښیږی. بهرحال دا حدیث په جزوی توګه دَ احنافو دلیل دې.

[۱۴۲۱] دَ ويرې دَ مونځ دويمه طريقه

۱۴۲۱ —(¹) [۲] [۱] وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ، «عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ، عَمَّنْ [۲] صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "يَوْمَ ذَاتِ الرِّقَاعِ صَلَاةَ الْخَوْفِ: [۳] أَنَّ طَائِفَةً صَفَّتْ مَعَهُ، [۴] وَطَائِفَةٌ وِجَاهَ الْعَدُوِّ، [۵] فَصَلَّى بِالَّتِي مَعَهُ رَكْعَةً، [۶] ثُمَّ ثَبَتَ قَائِمًا، وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ، [۷] ثُمَّ انْصَرَفُوا، فَصَفُّوا وِجَاهَ الْعَدُوِّ،

ترجمه: [۱] يزيد ابن رومان د حضرت صالح ابن خوات څخه او هغه د هغه سړي څخه نقل کوي [۲] چې هغه د رسول الله ﷺ سره د ذات الرقاع په ورځ د خوف مونځ کړي وو (د خوف د لمانځه دا طريقه نقل کوي) [۳] چې (يوه ورځ) يو جماعت د رسول الله ﷺ سره (د لمانځه د پاره) صف بندي وکړه [۴] او دويم جماعت د دښمن په مقابله کې صف بسته شو [۵] نو حضور ﷺ د هغه جماعت سره چې د حضور ﷺ سره وو يو رکعت مونځ يې وکړو [۶] حضور ﷺ د يو رکعت پوره کولو سره ودريدلو او هغه جماعت خپله خپل مونځ پوره کړو (يعني دويم رکعت جماعت خپله تنهاء وکړو) [۷] بيا د دې څخه وروسته دا جماعت (د لمانځه څخه فارغيدو سره) واپس شو او د دښمن مقابل صف بسته شو

حل اللغات: - ① ذَاتِ الرِّقَاعِ: "رقاع" دَ کپړې ټکړو او چيرړو ته وائي چونکه په دې غزوه کښې صحابه کرامو ﷺ سره خو يا څپلئی نه وې يا شليدلي وې، يا هغه علاقه مختلفي ټکړې او رنګونه وو، په دې وجه دغه غزوه ته ذات الرقاع اووئيلی شو. ② وِجَاهَ: مخامخ (دشمن ته).

[۱] وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الْأُخْرَى، [۲] فَصَلَّى بِهِمُ الرَّكْعَةَ الَّتِي بَقِيَتْ مِنْ صَلَاتِهِ، [۳] ثُمَّ ثَبَتَ جَالِسًا وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ، ثُمَّ سَلَّمَ بِهِمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۴] وَأَخْرَجَ الْبُخَارِيُّ بِطَرِيقٍ آخَرَ عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -.

ترجمه: [۱] او هغه جماعت چې د دښمن په مقابل کښې صف بسته وو (د لمانځه د پاره) راغې [۲] نو حضور ﷺ هغه دويم رکعت چې باقي پاتې شوې وو د دې جماعت سره وکړو [۳] او (په التحيات کې) کيناستلو او هغه جماعت خپل هغه اولني رکعت چې باقي وو هغه يې تنهاء اداء کړو او په التحيات کې د حضور ﷺ سره شريك شو بيا رسول الله ﷺ د هغوئ سره سلام وګرځولو، بخاري ومسلم، [۴] بخاري رحمه الله دا روايت د يو بل سند سره نقل کړي دي يعنى داسې چې قاسم د صالح ابن خوات څخه او هغه د حضرت سهل ابن ابي حثمه څخه او هغه د حضور ﷺ څخه نقل کوي.

¹) اخرجه البخاري فى كتاب المغازى/باب غزوة ذات الرقاع (رقم-۴۱۲۹) ومسلم كتاب صلاة/باب صلاة الخوف (رقم-۳۱۰ - (۸۴۲) وابوداود كتاب الصلاة،باب من قال: إذا صلى ركعة «وثبت قائما أتموا لأنفسهم ركعة. ثم سلموا، ثم انصرفوا فكانوا وجاه العدو. واختلف فى السلام» (رقم-۱۲۳۸) والترمذى كتاب السفر/باب ما جاء فى صلاة الخوف (رقم-۵۶۵)والنسائى كتاب صلاة الخوف (رقم-۱۵۳۷)

تسهیلات:-

قوله: يَوْمَ ذَاتِ الرِّقَاعِ:

د ذات الرقاع د غزوه پس منظر:- دادَ يوغزوه نوم دې چه په ٥هجرى كښې واقع شوې وه. چونكه په دې غزوه كښې صحابه كرامو رضي الله عنهم سره خو يا څپلئى نه وې يا شليدلې وې اوهغوى په خپې ابله خپو سفركولو په كوم سره چه دَ هغوى خپې زخمى شوې وې او په هغې كښې سورې شوى وو. نوهغوى خپو پورې دَ كپړو چيرړې تړلې وې په دې وجه دَ دغه غزوه نوم ذات الرقاع شو. بعضې علماء وائى چه په كومه زمكه باندې مجاهدينو سفركولو په هغه زمكه كښې مختلف رنګونه او ټكړې وې په دې وجه دې غزوه ته ذات الرقاع وئيلې شوې.

د امام مالک او شافعی مستدل:- په دې حديث كښې چه دَ ويرې دَ مونځ كومه طريقه ذكر ده دا دَ امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله دَ مسلك موافق ده. دا حديث دَهغوى دليل دې لكه څنګه چه دې نه مخكښې حديث دَ احناف دليل دې. او دَ حنابله په نيز ټولې طريقې جائز دى.

[١٤٢٢] د نبی علیه السلام حلم (صبر) اوبهادری

١٤٢٢-(١)[٣] ١ وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ٢ «أَقْبَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حَتَّى إِذَا كُنَّا بِذَاتِ الرِّقَاعِ، ٣ قَالَ: كُنَّا إِذَا أَتَيْنَا عَلَى شَجَرَةٍ ظَلِيلَةٍ تَرَكْنَاهَا لِرَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٤ قَالَ: فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَسَيْفُ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مُعَلَّقٌ بِشَجَرَةٍ، ٥ فَأَخَذَ سَيْفَ نَبِيِّ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَاخْتَرَطَهُ،

ترجمه: ١ جابر رضي الله عنه فرمايي ٢ چې مونږ د رسول الله ﷺ سره جهاد (غزا) ته روان شو تر دې چې ذات الرقاع ته ورسيدو ٣ جابر رضي الله عنه وايي چې (زمونږ دا قاعده وه چې) كله به مونږ څه سايه (سورې) داره ونه موندله نو مونږ به د رسول الله ﷺ د پاره پريښوده (چې حضور ﷺ د هغې په سايه (سورې) كې استراحت يعنى آرام وكړي) ٤ نو داسې وشوه چې په ذات الرقاع كې رسول الله ﷺ د يوې ونې لاندې آرام كولو چه يو مشرك راغې او هغه د حضور ﷺ توره چې په ونه كې ځوړنده وه، ٥ راښكته كولو سره د تيكې څخه راوښكله (حضور ﷺ په دې خبر نه شو ځكه چې يا خو حضور ﷺ اوده وو يا د دې طرف څخه بې پروا وو)

حل اللغات:- ① ظَلِيلَةٍ: سورى والاوونه، ② فَاخْتَرَطَهُ: اخترط توره دَ تيكى نه راويستل او خودلو په معنى كښې دې.

١ فَقَالَ لِرَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "أَتَخَافُنِي؟ قَالَ: "لَا". ٢ قَالَ: فَمَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي قَالَ: "اللهُ يَمْنَعُنِي مِنْكَ، ٣ فَتَهَدَّدَهُ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَغَمَدَ السَّيْفَ وَعَلَّقَهُ، ٤ قَالَ: فَنُودِيَ بِالصَّلَاةِ، فَصَلَّى بِطَائِفَةٍ رَكْعَتَيْنِ، ٥ ثُمَّ تَأَخَّرُوا وَصَلَّى بِالطَّائِفَةِ الْأُخْرَى رَكْعَتَيْنِ. ٦ قَالَ: فَكَانَتْ لِرَسُولِ اللهِ -

[١]) اخرجه البخاري فى كتاب المغازى /باب غزوة ذات الرقاع (رقم-٤١٣٦) ومسلم كتاب صلاة /باب صلاة الخوف (رقم) ٣١١-(٨٤٣)

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَرْبَعُ رَكَعَاتٍ، وَلِلْقَوْمِ رَكْعَتَانِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] هغه مشرك حضور ﷺ ته اوویل چې آیا ته زما څخه ویرېږې حضور ﷺ ورته وفرمایل چې نه (زه ستا څخه ولې ویریږم هر کله چې زما د رب څخه ماسوا بل څوك ما ته نه څه نفع رسولي شي نه څه نقصان) [۲] نو هغه مشرك اوویل بیا تا به اوس زما څخه څوك بچ کوي؟ حضور ﷺ وفرمایل ما به ستا څخه الله جل جلاله بچ کوي [۳] جابر رضي الله عنه وايي صحابه ؤ رضي الله عنهم چې دا ولیدل نو هغه ته یې دهمکي ورکړله هغه توره په تیکي کې کیښودله او په وونه کې یې زوړنده کړه [۴] جابر رضي الله عنه وايي چې بیا (د ماسپښین یا د مازیګر) د لمانځه د پاره اذان (او تکبیر) وشو حضور ﷺ مخکې د یو جماعت سره دوه رکعاته وکړل [۵] او هغه جماعت دوه رکعاته مونځ کولو سره د دښمن د مقابلې د پاره واپس شو بیا حضور ﷺ د دویم جماعت سره دوه رکعاته وکړل [۶] جابر رضي الله عنه وايي چې دغسې د حضور ﷺ څلور رکعاته شو او د خلقو دوه دوه رکعاته شو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ③ فَتَهَدَّدَهُ: دهمکی ئې ورکړه هغه ته، ③ فَغَمَدَ: توره په تیکی کښې ایخودلو ته غمد وائی. یعنی توره ئې کیخودله.

تسهیلات:- قوله: قَالَ: "لَا":

دې نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ اشجع العرب اوډ ټولو نه زیات بهادر وو. هم دغه وجه ده چه حضرت خالدبن ولید رضي الله عنه غوندې ډ عربو لوئی لوئی بهادر خلقو په حضورپاك ﷺ باندې ایمان راوړو اوډ حضورپاك ﷺ تابع شو ګنی ډ انسانی طبیعت داسې واقعې شوی دی چه بهادر سړې کله هم ډ بزدل سړی تابعداری نه کوی.

د مذکور سړی په ایمان راوړو کښې اختلاف:- ډ علامه واقدی رحمه الله وینا ده چه دا مشرك کله عاجز راغلو نوبیا مسلمان شو اوډ ده ډ وجې نه ډیرزیات خلق مسلمانان شو. لیکن ابوعوانه رحمه الله غوندې محدثین حضرات فرمائی چه دا سړې مسلمان شوې نه دې او هغه وعده کړې وه چه بیابه مقابله نه کوم. حضورپاك ﷺ هغه معاف کړو او هیڅ سزا ئی ورنه کړه.

اشکال:- شیخ مظهر رحمه الله فرمائی چه ډ ویرې ډدې مونځ واقعه هم ذات الرقاع کښې راغلې ده په کوم کښې چه حضورپاك ﷺ څلورر رکعته مونځ ورکړې وو اوډدې نه مخکښې ډحدیث نمبر ۲ واقعه هم ډ ذات الرقاع ده حالانکه هلته دوه رکعته ډ صلوة خوف ذکردې. دا په دې دواړو روایتونو کښې تضاد دې حالانکه واقعه یوه ده.

جواب:- کیدې شی په غزوه ذات الرقاع کښې ډ ویرې ډ مونځ واقعه دوه ځل پیښه شوې وه. نو سهل بن حثمه چه کومه طریقه بیان کړې ده هغه ډ سحر په مونځ باندې محمول ده او زیر بحث حدیث کښې حضرت جاب رضي الله عنه چه د کومې طریقې ذکرکړې دې کیدې شی دا ډ ماسپښین یا مازیګر په مونځ باندې محمول ده. دویم جواب دادې چه ډ دواړو روایتونو

تعلق يوځائي يا يو واقعه سره نه دي بلکه جدا جدا غزوات ترې نه مراد دي

دويم اشکال: -زير بحث حديث کښې حضوراکرم ﷺ څلور رکعته ولې اوکړل؟ حالانکه په سفرکښې دوه رکعته قصرسره وي.

جواب: - کوم ځائي حضورپاك ﷺ څلور رکعتونه کړي دي هغه مقام دَ قصر نه وو. دويم جواب داکيدې شي چه هغه وخت دَ قصر حکم نازل شوې نه وي.

[١٤٢٢] دَ صلوة خوف بل کيفيت

١٤٢٢-(١)[٣] ١ وَعَنْهُ قَالَ: ٢ «صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَلَاةَ الْخَوْفِ، ٣ فَصَفَفْنَا خَلْفَهُ صَفَّيْنِ، ٤ وَالْعَدُوُّ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ، ٥ فَكَبَّرَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَكَبَّرْنَا جَمِيْعًا، ٦ ثُمَّ رَكَعَ وَرَكَعْنَا جَمِيْعًا، ٧ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ، وَرَفَعْنَا جَمِيْعًا، ٨ ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُوْدِ وَالصَّفُّ الَّذِيْ يَلِيْهِ، ٩ وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ فِيْ نَحْرِ الْعَدُوِّ،

ترجمه: ١ حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ (يو ځل) مونږ ته د خوف مونځ راکړو ٣ مونږ په حضور ﷺ پسې دوه صفونه وتړل ٤ او دښمن زمونږ او د قبلې په مينځ کې وو ٥ حضور ﷺ تکبير اووئيلو مونږ ټولو هم (يعني دواړو صفونو) تکبير اووئيلو ٦ بيا حضور ﷺ (د قراءت څخه وروسته) رکوع وکړه نو مونږ ټولو هم رکوع وکړه ٧ بيا حضور ﷺ د رکوع څخه سر مبارك پورته کړو نو مونږ ټولو (دواړو صفونو) هم خپل سرونه د رکوع څخه پورته کړل ٨ بيا حضور د سجدې د پاره د هغه صف سره ښکته شو ٩ کوم چې حضور ﷺ ته نزدې وو (يعني اولني صف) او دويم صف د دښمن په مقابله کې (په قومه کې) ولاړوو

حل اللغات: - ① انْحَدَرَ: انحط من علو الى سفل: د بره نه لاندې راتلل، يعنى سجدې ته لاړل. ② نَحْرِ الْعَدُوِّ: په مقابله د دشمن کښې.

١ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - السُّجُوْدَ وَقَامَ الصَّفُّ الَّذِيْ يَلِيْهِ، ٢ انْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُوْدِ، ثُمَّ قَامُوْا، ٣ ثُمَّ تَقَدَّمَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ، وَتَأَخَّرَ الْمُقَدَّمُ، ٤ ثُمَّ رَكَعَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَرَكَعْنَا جَمِيْعًا، ٥ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ وَرَفَعْنَا جَمِيْعًا، ٦ ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُوْدِ، وَالصَّفُّ الَّذِيْ يَلِيْهِ الَّذِيْ كَانَ مُؤَخَّرًا فِي الرَّكْعَةِ الْأُوْلٰى، ٧ وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ فِيْ نَحْرِ الْعَدُوِّ، ٨ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السُّجُوْدَ وَالصَّفُّ الَّذِيْ يَلِيْهِ، ٩ انْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُوْدِ فَسَجَدُوْا، ١٠ ثُمَّ سَلَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَلَّمْنَا جَمِيْعًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او بيا چې حضور ﷺ سجده وکړه او د حضور ﷺ سره هغه صف ولاړ وو چې حضور ﷺ ته نزدې وو (يعني اولني صف) ٢ نو وروستني صف والا سجدې ته لاړل بيا دوي ودريدل ٣ د دې څخه وروسته مخکيني صف والا راوروسته شو او (وروستني صف والا

---

[1] اخرجه مسلم فى كتاب صلاة/باب صلاة الخوف (رقم) ٣٠٧ - (٨٤٠)

مخکې شو ۴ بیا حضور ﷺ قیام (یعني په ولاړه کې) قرآءت وکړو او رکوع یې وکړله نو مونږ ټولو هم رکوع وکړله ۵ بیا حضور ﷺ د رکوع څخه سر پورته کړو نو مونږ ټولو هم د رکوع څخه سر پورته کړو ٦ بیا حضور ﷺ سجدې ته لاړلو او هغه صف هم چې حضور ﷺ ته نزدې وو او په اولني رکعت کې وروسته وو د حضور ﷺ سره سجدې ته لاړو ۷ او وروستني صف (چې په مخکني رکعت کې مخکې وو) د دښمن په مقابله کې ودریدلو ۸ بیا چې حضور ﷺ او د حضور ﷺ سره نزدې ټول خلق د سجدې څخه فارغ شو ۹ نو وروستني صف سجده وکړه ۱۰ بیا د دې څخه وروسته حضور ﷺ او مونږ ټولو (یعني دواړو صفونو التحیات ویلو سره) سلام وګرځوي. (مسلم)

تسهیلات:- قوله : الصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ:

د صلاة الخوف بله طریقه:- دَ صلوة خوف دایوه بله طریقه ده. په دې کښې دا صورت وو چه دښمن دَ قبلې طرف ته وو نودې وخت کښې دَ اسلام لښکریل طرف ته دَ متوجه کولو ضرورت نه وو په دې وجه ټول صحابه کرامو ﷺ حضورپاك ﷺ پسې په صلوة خوف کښې دَ قبلې طرف ته مخ کړواودریدل. وسله ورسره وه دښمن کنړل چه داخلق ټول زمونږ په مقابله کښې ولاړدی. دَ رکوع پورې خو ټول صحابه کرام یوشان ولاړوو خوچه کله حضورپاك ﷺ رکوع ته لاړو نودَ صحابه کرامو دوه ډلې شوې کوم خلق چه حضورپاك ﷺ سره خواکې صفونو کښې وو هغه حضورپاك ﷺ سره رکوع ته لاړل اودَ روستو صفونووالا صحابه کرام ولاړ پاتې شو اودښمن ته ئې سترګ برندې کړې وې کله چه یورکعت پوره شو نوچه کوموخلقویورکعت اوکړو هغوی شاته صفونوته لاړل اوکوم چه شاته وو هغوی وړاندې شو او حضورپاك ﷺ سره ئې یورکعت اوکړو اودَ شاته صفونووالادَ دښمن په مقابله کښې ولاړوو. کله چه دَ حضورپاك ﷺ مونځ مکمل شو نوصحابه کرامو خپل باقي رکعتونه پوره کړل. حضورپاك ﷺ په عسفان کښې داشان صلوة خوف کړې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٤٢٤] د ماسپخین په ما نځه کښې دَ صلوة الخوف طریقه

١٤٢٣ —(١)[٥] ١ عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: ٢ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ صَلَاةَ الظُّهْرِ فِي الْخَوْفِ بِبَطْنِ نَخْلٍ، ٣ فَصَلَّى بِطَائِفَةٍ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ، ٤ ثُمَّ جَاءَ طَائِفَةٌ أُخْرَى، فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: ١ حضرت جابر ﷺ راوي دي ٢ چې رسول الله ﷺ په مقام بطن نخل کې د خوف په وخت د ماسپښین مونځ وکړو ٣ حضور ﷺ خلقو ته داسې مونځ ورکړو چې یو

[١]) اخرجه النسائی کتاب صلاة الخوف (رقم-١٥٥١) والدار قطنی فی باب صفة صلاة الخوف وأقسامها

جماعت ته يي دوه رکعاته مونځ ورکولو سره سلام وګرځولو ④ بيا چي دويم جماعت راغي نو هغه ته يي هم دوه رکعاته مونځ ورکولو سره سلام وګرځولو. (شرح السنه)

حل اللغات:- ① بِبَطْنِ نَخْلٍ: دَ مکې اوطائف په مينځ کښې دَ يومقام نوم دې.

تسهيلات:- قوله : بِبَطْنِ نَخْلٍ:

په احنافو باندې اعتراض:- په دې حديث کښې چه دَ صلوة خوف کومه طريقه ده داعجيبه ګرانه طريقه ده. دَ حنفيه دَپاره ګرانه داده چه په دې کښې څلوررکعته صلوة خوف شوې دې که دادَ سفرمونځ وو نوڅلوررکعته ولې شوی اوکه چرې دَ حضر مونځ وو نودَ دوو رکعتونه پس سلام ولې اوګرځولې شو؟

دَ شوافع حضراتودَپاره خو دَ پريشانئ څه خبره نه ده ځکه چه هغوی فرمائي حضوردوه رکعته دَ قصرَّ اوکړل دَ خلقو يوې ډلې دَهغوی اقتدااوکړه بيا حضورپاک ﷺ دوه رکعته نفل اوکړل بلې ډلې حضورپاک ﷺ پسې شاته دوه رکعته فرض اوکړل اونفل کونکی پسې دَ فرض کونکی مونځ صحيح دې لهذا هيڅ پريشاني نشته دې.

د اعتراض درې جوابات:-

① دامونځ نه دَ سفروو نه دَفرض کونکی مونځ نفل کونکی پسې وو بلکه دادَحضر مونځ وو بيا په دې کښې چه کله په دوو رکعتوباندې سلام اوګرځولې شو احناف فرمائي چه دادَ حضورپاک ﷺ خصوصيت وو دَ نورو دَپاره جائزنه دې.

② دَ صلوة خوف دَ ١٦ يا ٢٤ طريقونه يوه طريقه داهم ده کوم چه معمول به ده لکه چه په شروع کښې ليکلې شوی دی.

③ امام طحاوي رحمه الله دَدې حديث ډيره ښکلې توجيه فرمائيلې ده هغه فرمائي چه دادَهغه وخت خبره ده کوم وخت چه يوفرض مونځ دوه ځل کولې شو لهذا اوس اشکال پاتې نه شو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٤٢٥] د صلاة الخوف ښودلو دپاره د جبريل عليه السلام راتلل

١٤٢٥ -([1])[٦] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: ② «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَزَلَ بَيْنَ ضَجْنَانَ وَعُسْفَانَ، ③ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ: هَؤُلَاءِ صَلَاةٌ هِيَ أَحَبُّ إِلَيْهِمْ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَبْنَائِهِمْ، ④ وَهِيَ الْعَصْرُ فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ، ⑤ فَتَمِيلُوا عَلَيْهِمْ مَيْلَةً وَاحِدَةً،

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه وايي ② چې رسول الله ﷺ (د جهاد د پاره) د ضجنان او عسفان په مينځ کې ښکته شو ③ نو مشرکانو (په خپل مينځ کې) اوويل چه د مسلمانانو يو مونځ دي چې د هغوئ په نيز د پلار او زوي څخه هم دوي ته زيات محبوب دي ④ او هغه دمازيګر

[1]) اخرجه النسائي کتاب صلاة الخوف (رقم-١٥٤٩)

مونځ دي نو تاسو د خپل مقصد (یعني جنګ) د پاره تیار اوسي ⑤ (نو هر کله چې مسلمانان په هغه مانځه کې مشغول شي نو) په یو ځل پرې حمله وکړئ.

حل اللغات:- ① ضَجْنَانَ: دَمکې اومدینې په مینځ کښې دَ یوغرنوم دې. ② عُسْفَانَ: د مکه او جده په مینځ کښې دَ یوې علاقې نوم دې. ③ مَيْلَةً: په یوځل،

١ وَإِنَّ جِبْرِيلَ أَتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ فَأَمَرَهُ أَنْ يَقْسِمَ أَصْحَابَهُ شَطْرَيْنِ، فَيُصَلِّيَ بِهِمْ، ٣ وَتَقُومَ طَائِفَةٌ أُخْرَى وَرَاءَهُمْ ٤ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ، ٥ فَتَكُونَ لَهُمْ رَكْعَةٌ، وَلِرَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَكْعَتَانِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ١ نو حضور ﷺ ته جبرائیل علیه السلام راغې ٢ او وې فرمایل چې خپل اصحاب په دوو حصو کې تقسیم کړه یوې حصې ته خو مونځ ورکړه ٣ اودویمه حصه دې په هغوئ پسې د هغوئ څخه وروسته د دښمن د خطرناکو ارادو جواب ورکولو د پاره ودریږي دغسې دویمې حصې ته مونځ ورکړه نو اولنې حصه دې د دښمن مد مقابل وي ٤ او ټولو مونځ کونکو ته پکار دي چې د خپل دفاع سامان (یعني ډهال او هتیار وغیره) د خپل ځان سره ساتي ٥ دغسې د خلقو خو به (د امام سره) یو یو رکعت شي او د حضور ﷺ به دوه رکعاته شي، (ترمذي، نسایي)

حل اللغات:- ② شَطْرَيْنِ: د شطر جمعه ده، دوه حصې.

تسهیلات:- قوله: فَأَمَرَهُ أَنْ يَقْسِمَ أَصْحَابَهُ:

دجهاد اهمیت:- بهرحال دَ ویرې دَ مونځ پوره منظر او پوره بحث نه دا خبره واضح کیږي چه جهاد دَ الله تعالی ډیره لویه فریضه ده اودَدې قیام سره دَ باقي فرائض حفاظت کیږي. لهذا دا په هرحالت کښې به قائم ساتلې شي که دَدې دَ وجې نه دَ نورو عباداتو نقشې بدلې ولې نه شي. چنانچه دَ مونځ کولو نقشې بدلې شوې دَ مونځ دَ اوقاتو نقشې بدلې شوې لکه څنګه چه په خندق کښې اوشو. دَ روژې نقشې بدلې شوې مګر جهاد باقي اوساتلې شو. نن صبا مسلمان دَهرڅه دَپاره تیاردې مګر دَ جهاد دَپاره نه دې. اوکافران دَ ټولو عباداتو دَ مراعاتو دَ اجازت ورکولو دَپاره تیاردی بلکه په کوشش کښې دی لیکن دَ جهاد قطعاً هیڅ ګنجائش او اجازت ورکولو ته تیارنه دی.

....

[٦٣/٤٧] بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ]

دَ اخترونو دَ مونځونو بيان

خلاصة الباب:-

فيه ستة وعشرون حديثاً مشتملة على ثلاث عشرة مسئلة:

① الإبتداء بالصلوة والخطبة بعد ها: ١، ٣، ٩، ١٦، ٢٠، ٢٦-
② تعجيل الصلاة يوم الأضحى وتاخيرها يوم الفطر: ٢٣-
③ الخروج إلى المصلى: ١، ٥-
④ جواز الصلوة فى المسجد لعذر: ٢٢-
⑤ كون العيدين للمسلمين: ١٣-
⑥ جواز تاخير الصلوة إلى اليوم الثانى لعذر: ٢٤-
⑦ أداء صلوة العيدين بلا أذان وإقامة : ٢، ٣، ٢٠، ٢٥-
⑧ النهى عن الصلوة التطوع قبل صلاة العيدين وبعدها: ٤-
⑨ جواز الدف يوم العيد: ٦-
⑩ آداب الخروج والرجوع فى الفطر والأضحى: ٧، ٨، ١٤، ٢١-
⑪ التكبيرات في صلوة العيدين: ١٥، ١٦، ١٧-
⑫ وقت الذبح و مكانه: (٩، ١٠)، ١١، ١٢-
⑬ الاعتماد على شئ وقت الخطبة : ١٨، ١٩، ٢٠-

د صلاة العيدين ثبوت:- قال الله تعالى ﴿ اللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اَنْزِلْ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ تَكُوْنُ لَنَا عِيْدًا لِّاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا﴾ [سورت مائده] وقال الله تعالى ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾ [سورت الكوثر] وقال الله تعالى ﴿ وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ﴾

د عيدينو د مشروعيت پس منظر:- رسول الله ﷺ چه كله دَ مكې نه مدينې منورې ته هجرت اوكړو نوحضورپاك هلته اوكتل چه خلق په يوه ورځ خوشحالى كوى. حضورپاك تپوس اوكړو دادَ څه ورځ ده او په كوم كښې چه تاسو لوبې كوئى اوخوشحالى كوئى؟ هغوى جواب وركړو چه دَ اسلام نه وړاندې به مونږ دې دوو ورځو يعنى نيروز اومهرجان كښې دَ جاهليت په زمانه كښې لوبې كولې اوخوشحالى به موكوله. په دې باندې حضورپاك اوفرمائيل چه اوس الله تعالى ستاسو دَدې دواړو ورځو په بدله كښې تاسو ته دوه بهترين ورځې دركړې په هغې كښې يوه دَ وړوكى اختر ورځ او دويمه دَ لوئى اختر ورځ ده.

د دې تفصیل د مشکاة په حدیث نمبر کښې موجود دې چې الفاظ ئې دا دی.

عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَدِمَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمَدِينَةَ، وَلَهُمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُونَ فِيهِمَا، فَقَالَ: (مَا هَذَانِ الْيَوْمَانِ)؟ قَالُوا: كُنَّا نَلْعَبُ فِيهِمَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَدْ أَبْدَلَكُمُ اللَّهُ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا: يَوْمَ الْأَضْحَى، وَيَوْمَ الْفِطْرِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

د مسلمانانو او غیر مسلمو په اخترونو کښې فرق: - اسلام چونکه کامل مکمل بلکه اکمل دین دې په دې وجه په دې کښې دَ خوشحالئی او غم ټول قواعد او احکام موجود دی. دَدنیا خلق څوک دَ دیوالی په ورځ خوشحالی کوی څوک دَ کرسمس په ورځ او څوک په نورونومونوسره په نورو ورځو کښې دَ خوشحالو اهتمام کوی. په اسلام کښې هم الله تعالی دَ مسلمانانو دَپاره په کال کښې دوه ورځې دَ خوشحالئی مقرر کړې دی. خو اسلام چه مسلمانانوته کوم دَ اخترورځې ورکړې دی هغه دَ نورو قومونودَ اخترونو په شان نه ده په کوم کښې چه دَالله تعالی نافرمانئی کیږی عیاشئی اوبدمعاشئی کولې شی اودَ غفلت پوره انتظامات وی. دَ مسلمانانودَ اختر شروع دَالله تعالی دَ اطاعت نه کیږی په کوم کښې چه سحروختی ټول مسلمانان یک جان او یک زبان کیدوسره دَالله تعالی دکورونو یعنی جماتونوطرف ته متوجه کیږی اودَخپل مذهبی مشرانو نه دَ خوشحالئی کولواو خوشحالئی خپلولودَ هدایت اولارخودلې خبرې اوری بیادَ اخترمونځ کوی. دَ محبت اظهارکوی دَالله تعالی شکر اداکوی دَ یوبل کوتاهئی معاف کوی. دَ مشرانو احترام کوی قبرستان کښې دَ خپلو مړو دَ ایصال ثواب دَ پاره ځی دعاګانې کوی بیاپه شرعی حدودوکښې ټوله ورځ خپلې خوشحالیانې کوی ځکه چه دادواړه تاریخی ورځې دی.

د وړوکی اختر خوشحالی: - دَ وړوکی اختر په ورځ مسلمانان ځکه خوشحالی کوی چه دې نه وړاندې دَ پوره رمضان مسلمانانو روژې ساتلی وی اودَ الله تعالی دَ رضادَپاره ئی یو کران عبادت پوره کړې وی. اوس هغوی ته دَ خوشحالئی کولو اجازت ورکړې شو ځکه چه هغوی دَ الله تعالی حکم پوره کړو نواوس په هغې باندې دَالله تعالی شکراداکوی.

د لوئې اختر خوشحالی: - په لوئی اخترکښې مسلمانانوته دَ حضرت ابراهیم علیه السلام دَ هغه لوئی قربانئی دَ یادګارپه توګه دَخپلولوحکم ورکړې شوې دې دَ پاره چه مسلمانان دَ خپلوبزرګانو او مذهبی مشرانو سره تړلې پاتې شی اولکه څنګه چه دَهغوی مذهبی مشران په لوئی امتحان کښې کامیاب شو اوهغوی دَالله تعالی شکر اداکړو اودَ خوشحالئی اظهارئی اوکړو دغه شان دَهغوی منونکی هم دَالله تعالی دَ راضی کولودَپاره اودَ قربانئی کولو عادت پیداکولودَپاره قربانی اوکړی او په هغې کښې کامیابیدو باندې په هغه ورځ په شرعی حدود کښې دننه خوشحالی اوکړی.

د صلاة العيدين په حکم کښې مذاهب

① د امام مالك رحمه الله امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله په نيز د اخترونو مونځ سنت مؤکده دي. صاحبين هم د سنت مؤکده قائل دی. د امام احمد رحمه الله يو قول د فرض کفايه هم دي.

② د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د اخترونو مونځ واجب دي.

د اول فريق اول دليل :-

① د اخترونو د مونځ د پاره اذان نشته او اقامت نشته دي دا د سنت کيدو دليل دي.

د اول فريق د اول دليل جوابونه :-

① د دليل د موجود کيدو سره حضور پاك اذان او اقامت او نه کړو د حضور پاك عمل نه کول د نه جائز کيدو دليل دي د اختر وجوب سره د اذان هيڅ تعلق نشته دي او نه په يو حديث کښې د اذان ممانعت راغلي دي

② اذان د فرض اعتقادی د پاره وی د اختر مونځ فرض اعتقادی نه دي بلکه فرض عملی يعنی واجب دي.

② د ضمام بن ثعلبه رضی الله عنه روايت دي په کوم کښې چه دا الفاظ دی "الاان تطوع" يعنی د پنځو مونځونو نه علاوه ټول نفل او سنت دی.

داول فريق د دويم دليل جوابونه :-

① دا د اسلام د شروع د زمانې خبره ده هغه وخته پورې د اختر وجوب نه وو شوې

② يا دا چه په دې حديث کښې د فرائض قطعيه خبره ده عيدين ته مونځ فرض قطعی نه وايو بلکه واجب ورته وايو.

د دويم فريق دلائل :-

① ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾ نه هم د اختر مونځ مراد دې او امر د وجوب د پاره دې لهذا دا مونځ واجب دې دا د امام ابوحنيفه رحمه الله دويم دليل دي.

② دغه شان د قرآن پاك آيت ﴿وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ﴾ د دوی مستدل دې د دې آيت مطلب د اخترونو د مونځونو تکبيرونه دی. کله چه تکبيرات د امر صيغې سره واجب او ګرځولې شو نو په تکبيرات باندې مشتمل د اختر مونځ هم واجب شو.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٤٢٦] د اخترونو مونځ په عيدګاه کښې ادا کول

١٤٢٦ - (١)[١] ١ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَالْأَضْحَى إِلَى الْمُصَلَّى، ٣ فَأَوَّلُ شَيْءٍ يَبْدَأُ بِهِ الصَّلَاةُ، ثُمَّ يَنْصَرِفُ، ٤ فَيَقُومُ مُقَابِلَ النَّاسِ، ٥

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الجمعة /باب الخروج إلى المصلى بغير منبر (رقم-٩٥٦) ومسلم في كتاب صلاة العيدين (رقم-٩ - (٨٨٩) والنسائي كتاب صلاة العيدين /باب استقبال الإمام الناس بوجهه في الخطبة (رقم-١٥٧٦) وابن ما جة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها /باب ما جاء في الخطبة في العيدين (رقم-١٢٨٨)

وَالنَّاسُ جُلُوسٌ عَلَى صُفُوفِهِمْ فَيَعِظُهُمْ، [٦] وَيُوصِيهِمْ، وَيَأْمُرُهُمْ، [٧] وَإِنْ كَانَ يُرِيدُ أَنْ يَقْطَعَ بَعْثًا قَطَعَهُ، [٨] أَوْ يَأْمُرُ بِشَيْءٍ أَمَرَ بِهِ، [٩] ثُمَّ يَنْصَرِفُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دي [٢] چې رسول الله ﷺ چې به د عيد الفطر او عيد الاضحٰي (ورو‌كى او لوي آختر) د لمانځه د پاره تشريف راوړلو [٣] نو هلته به يي د ټولو څخه مخکې دا کار کولو چې (د خطبي څخه) مخکې به يي مونځ اداء کولو بيا چې د لمانځه څخه به فارغ شو [٤] نو د خلقو په مخکې به ودريدلو [٥] او خلق به په خپلو صفونو کې ناست وو نو هغوئ ته به يي وعظ کولو [٦] او نصيحت به يې کولو او احکام به يي بيانول [٧] او که د جهاد د پاره به چېرته لښکر ليږل وو نو دهغې د روانګئ حکم به يي ورکولو [٨] دغسې که (د خلقو د معاملاتو او مقدماتو په باره کې) څه حکم به ورکول وو نو حکم به يي فرمايلو [٩] بيا به (کورته) واپس راتلو، (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① بَعْثًا: لښکر ، جماعت ته بعث وائي. ② قَطَعَهُ: تشکيل به ئې اوکړو، اوبه ئې ليږلو.

تسهيلات:

قوله : إِلَى الْمُصَلَّى:

په عيدګاه کښې د اختر د مونځ حکم:- دَ اختر دَ مونځ افضليت په عيد ګاه کښې دې په وجه دَمجبورئى نه په جمات کښې جائز دې. نن صبا دوه مجبورئى مخې تـه دى يودا چه خلق دومره زيات شوى دى چه دَ جماتونونه عـلاوه دَټولودَپاره اجتمـاعى ځائى نشته دې اوکه چرې ځائى پيداهم شى نونن صبا مسلمانان دَدومره فتنو ښکارشوى دى چه دَهغوى په خپل مينځ کښې دَ يو بل لريوالې هم پيداشوې دې اوعقيدې هم خرابې شوې دى. بدعتيان بريليان ديوبنديان او غيرمقلدين جدا جدا عقيدې دى په دې وجه دَ بعضېو سره بغض هم پيدا شوې دې. اوس يوبريلى ا

مام پسې مونږ ديوبنديان مونځ نه شو کولې نوهغوى مونږ پسې هم نه کوى لهذادَ خپل خپل مسلك جماتونوته ځى اومونځ کوى.

قوله : ثُمَّ يَنْصَرِفُ:

دعيدين او جمعې په خطبه کښې فرق:- دَ جمعې خطبه فرض ده دَ اخترونو خطبې سنت دى. دويم فرق دادې چه دَجمعې خطبه دَمونځ نه مخکښې ده اودَ اخترونو خطبه روستو ده.

قوله : أَنْ يَقْطَعَ بَعْثًا قَطَعَهُ:

د اختر د مونځ په اجتماع کښې د اجتماعى کارونو آسانتيا:-. دَ جمعې اودَ اخترونو اهم مقاصد نه يومقصد داهم دې چه په مسلمانانو باندې جهاد هروخت فرض دې اوجمعه او اخترونو کښې مختلف خلق حاضريدو سره اجتماع جوړيږى. نورسول الله ﷺ بـه دَدغـه اجتماع په موقع باندې که چرې ضرورت محسوس کولو نودَ جهادټولى به ئى روانول.

[١٤٢٧] دَاخترونو د مانځه دپاره د اذان عدم مسنونیت

١٤٢٧-(١)[٢] [١] «وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الْعِيدَيْنِ غَيْرَ مَرَّةٍ وَلَا مَرَّتَيْنِ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] جابر ابن سمره رضي الله عنه فرمايي [٢] چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د وړوکی او لوي اختر مونځ بغیر د اذان او تکبیر څخه یو ځل دوه نه بلکه ډیر ځله اداء کړي دي. (مسلم)

تسهیلات: قوله: بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ:

د اختر دپاره د اذان د عدم مشروعیت وجه:- چونکه دَخلقودَ راغوښتلودَپاره دلیل موجود وو اودَ دلیل دَ ضرورت باوجود حضورپاك اذان اونه کړو نودَ حضورپاك عمل نه کول دَ عدم جواز دلیل دې ګڼی په یوقولی حدیث کښې نشته دي چه اذان منع دې. دغه شان په عیدګاه کښې دَ سحرپه وخت دَ چاشت یا اشراق مونځ هم جائزنه دي. نه دَاخترد مونځ نه وړاندې جائز دې اونه روستو جائزدې اودَ اخترنه پس په کورکښې جائزدې.

[١٤٢٨] دَاخترونوپه مونځونوکښې د خطبې محل

١٤٢٨-(٢)[٣] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [٢] كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، يُصَلُّونَ الْعِيدَيْنِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي [٢] چه رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه به د آخترونو مونځ د خطبي څخه مخکې کولو. (بخاري مسلم)

تسهیلات:

قوله: يُصَلُّونَ الْعِيدَيْنِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ:

د اخترونو خطبه د مانځه نه روسته:- د ابن المنذر رحمه الله قول دي چې د فقهاء کرامو په دې خبره باندې اتفاق دي چې د وړوکی اختبر او لوئې اختر خطبه د مونځ نه پس وئیل پکاردی. د مونځ نه وړاندې خطبه وئیل جائز نه دی. لیکن که یو کس د مونځ نه وړاندې خطبه اووئیله نو د ټولو علماء کرامو په نزد به مونځ جائز وی. منقول دی چې مروان ابن حکم چې کله دمدینې منورې حاکم جوړ شو او هغه خطبه د مونځ نه وړاندې أووئیله نو دده دا فعل صحابه کرامو ډیر بد اوګڼړلو.

[١] اخرجه مسلم فی کتاب صلاة العیدین (رقم) ٧ - (٨٨٧) وابوداود کتاب الصلاة، باب ترک الأذان فی العید (رقم-١١٤٨)
[٢] اخرجه البخاری فی کتاب العیدین /باب الخطبة بعد العید (رقم-٩٦٣) ومسلم ٨ - (٨٨٨) والنسائی کتاب صلاة العیدین /باب صلاة العیدین قبل الخطبة (رقم-١٥٦٤) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها /باب ما جاء فی صلاة العیدین (رقم-١٢٧٦) ومالک فی الموطا کتاب العیدین /باب الأمر بالصلاة قبل الخطبة فی العیدین (رقم-٣)

[١٤٢٩] د اخترونو د مانځه د پاره د اذان او اقامت عدم مشروعيت

١٤٢٩ —(١)[٤] ١ «وَسُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ: أَشَهِدْتَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْعِيدَ؟ ٢ قَالَ: نَعَمْ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَصَلَّى، ثُمَّ خَطَبَ، ٣ وَلَمْ يَذْكُرْ أَذَانًا وَلَا إِقَامَةً، ٤ ثُمَّ أَتَى النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ، وَذَكَّرَهُنَّ، ٥ وَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ، ٦ فَرَأَيْتُهُنَّ يَهْوِينَ إِلَى آذَانِهِنَّ، وَحُلُوقِهِنَّ، ٧ يَدْفَعْنَ إِلَى بِلَالٍ، ٨ ثُمَّ ارْتَفَعَ هُوَ وَبِلَالٌ إِلَى بَيْتِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ (روايت دي چې يو ځل) د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه پوښتنه وشوه چې آيا تاسو د رسول الله ﷺ سره د اختر په لمانځه کې شريك شوې يئ؟ ٢ هغه وفرمايل چې هو (بيا هغه دا تفصيل بيان کړو چې) حضور ﷺ عيدګاه ته تشريف يوړو هلته يې د اختر مونځ ورکړو بيا يې خطبه وفرمايله ٣ ابن عباس رضي الله عنه (د حضور ﷺ د لمانځه د تفصيل د بيانولو په دوران کې) د تکبير او اذان ذکر ونه کړو ٤ (بيا يې وفرمايل چې) د دې څخه وروسته حضور ﷺ د ښځو د جماعت طرف ته راغې [حضرت بلال رضي الله عنه هم ورسره وو] حضور ﷺ هغوئ ته نصيحت وکړو د دين احکام يې ورياد کړل او د ثواب او عذاب په باره کې ورته اووئيل ٥ او هغوئ ته يې د صدقې (يعني د سرسايې، د زکوٰة يا محض د الله جل جلاله په نوم) د ورکولو حکم وفرمايلو ٦ نو ما ښځې وليدلې چې هغوئ به خپل لاسونه د غوږونو او غاړو طرف ته اوږده کول او زيورات يې راخلاصول ٧ او حضرت بلال رضي الله عنه ته به يې حواله کول (چې هغه يې د هغوئ د طرف څخه په فقراؤ تقسيم کړي) ٨ د دې څخه وروسته حضور ﷺ او بلال رضي الله عنه خپل کور ته تشريف راوړو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① يَهْوِينَ: دَ ضرب يضرب نه دَجمع مؤنث صيغه ده. دَ ټيټيدو او ګګيدو په معنی کښې ده. ② وَحُلُوقِهِنَّ: دَحلق جمع ده دې نه مرئ مراد دی.

تسهیلات: قوله: يَهْوِينَ:

د يهوين صرفی تحقيق: - مراد دَغوږونو دَ والوطرف ته لاسونه اوچتول دی. علامه طيبی رحمه الله دا صيغه دَ باب افعال نه دَ جمع مؤنث صيغه ګرځولې ده. مګر شيخ عبدالحق رحمه الله دَ دواړو ابوابو نه ګرځولی دی ليکن ضرب سره به يهوين په ياء باندې فتحه وی. [اشعة المعات]

دزنانو دپاره د غوږونو سوری کولو حکم: - علماؤ دَدې حديث نه استدلال کړې دې چه دَښځودپاره غوږونه سوری کول جائز دی ځکه چه که غوږ سورې کول جائز نه وو نو صحابياتو به غوږو نه سوری کولوسره کالی څنګه استعمالول؟ دغه شان په يو روايت کښې دَ پوزې سورې کولو ذکرهم ملاويږی لهذا داهم جائز دی.

(١) اخرجه البخاري في كتاب العيدين /باب المشي والركوب إلى العيد، والصلاة قبل الخطبة بغير أذان ولا إقامة (رقم-٩٦١) ومسلم كتاب صلاة العيدين (رقم) ٢ - (٨٨٤) وابوداود كتاب الصلاة،باب ترک الأذان في العيد (رقم-١١٤٦) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء في صلاة العيدين (رقم-١٢٧٣) والدارمي في باب، الحث على الصدقة يوم العيد

[١٤٣٠]د اختر د مانځه نه مخکښې او وروستو د نفلو حکم

١٤٣٠-(١)[٥] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: [٢] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَلَّى يَوْمَ الْفِطْرِ رَكْعَتَيْنِ [٣] لَمْ يُصَلِّ قَبْلَهُمَا وَلَا بَعْدَهُمَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ به د وړوکی آختر په ورځ (د آختر لمونځ) دوه رکعاته کولو [٣] نه به يي د دې څخه مخکې نفل کول او نه وروسته. (بخاري مسلم)

تسهيلات: قوله: لَمْ يُصَلِّ قَبْلَهُمَا وَلَا بَعْدَهُمَا:

د اختر په ورځ د نفلی مونځ کراهت:- يعنی دَ عيدګاه تلونه مخکښې خونفل نه په جمات کښې جائز دی نه په کور کښې جائز دی نه په عيدګاه کښې جائز دی. اودَ اخترد مونځ نه پس په عيدګاه کښې کول مکروه دی مګر کورته راتلو سره کولې شی. دليل هم دغه دې چه حضورپاك نه دی کړی.

[١٤٣١]عيدګاه ته د ښځو د تلو حکم

١٤٣١-(٢)[٦] [١] «وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [٢] أُمِرْنَا أَنْ نُخْرِجَ الْحُيَّضَ يَوْمَ الْعِيدَيْنِ، [٣] وَذَوَاتِ الْخُدُورِ فَيَشْهَدْنَ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَدَعْوَتَهُمْ، [٤] وَتَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ عَنْ مُصَلَّاهُنَّ، [٥] قَالَتِ امْرَأَةٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِحْدَانَا لَيْسَ لَهَا جِلْبَابٌ؟ [٦] قَالَ: "لِتُلْبِسْهَا صَاحِبَتُهَا مِنْ جِلْبَابِهَا"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] بي بي ام عطيه رضي الله عنها فرمايي [٢] چې مونږ ته حکم شوې وو چې مونږ د دواړو اخترونو په ورځ هغه ښځي هم چې ايام والا وي (يعني په حيض کې وي [٣] يا دا چې بالغي وي) او هغه ښځي هم چې پرده نشيني وي (لکه چې ټولي ښځي) عيدګاه ته بوځو او دا ټولي د مسلمانانو په جماعت او په دعا کې شريکي شی [٤] او کومې ښځې چه په حيض کښې (د حيض جامو کيدو په ورځو کي) وي هغوی دي د لمانځه کولو د ځاي څخه جدا وي [٥] يو ښځي عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ په مونږ کې چې د چا سره څادر (پړوني) نه وي (هغه څه وکړي؟) [٦] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې خپله ملګري دي هغه په خپل څادر کي دي ځان سره پټه کړي. (بخاري مسلم)

---

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب العيدين /باب الخطبة بعد العيد (رقم-٩٦٤) ومسلم کتاب صلاة العيدين /باب ترک الصلاة قبل العيد وبعدها فی المصلی (رقم) ١٣ - (٨٨٤) وابوداود کتاب الصلاة،باب الصلاة بعد صلاة العيد (رقم-١١٥٩) والترمذی کتاب العيدين /باب لا صلاة قبل العيدين ولا بعدها (رقم-٥٣٧) والنسائی کتاب صلاة العيدين /باب الصلاة قبل العيدين وبعدها (رقم-١٥٨٧)

[٢]) اخرجه البخاری فی کتاب العيدين /باب خروج النساء والحيض إلى المصلى (رقم-٩٧٤) ومسلم کتاب صلاة العيدين /باب ذکر إباحة خروج النساء فی العيدين إلى المصلى وشهود الخطبة، مفارقات للرجال (رقم) ١٠ - (٨٩٠) وابوداود کتاب الصلاة،باب خروج النساء فی العيد (رقم-١١٣٦) والترمذی کتاب العيدين /باب فی خروج النساء فی العيدين (رقم-٥٣٩) والدارمی فی باب خروج النساء فی العيدين

حل اللغات:- ① الْحُيَّضَ: دَ حائض جمع ده. دَمياشتې په بيمارئى كښې اخته ښځو ته وئيلى شي او په بالغه ښځه باندې هم دَدې اطلاق كيږي. ② ذَوَاتَ الْخُدُورِ: خدر بكسر الخاء په كوركښې دننه دَ پردې والاكمرې ته وائى. دلته ترې پرده كونكې ښځې مراد دى. ③ تَعْتَزِلُ: جدا دې اوسيږي، ④ جِلْبَابٌ: پړوني، غټ څادر.

تسهيلات: قوله : وَدَعْوَتَهُمْ: معلومه شوه چه دَ مسلمانانو په اجتماع كښې عام مسلمانان، سړي ښځې او په سرحدونو باندې مصروف مجاهدين په دعاكښې يادولې شي.

قوله : جِلْبَابٌ: دا لوئى څادرته وائى. معزز ښځې دا اچوى. دادَ سرنه ترخپو پورې وى. دَ درنې كپړې نه جوړولې شى. دَ تور رنګ كپړه وى دَدې په غاړو باندې سرې پټئى وى او ښځې په دې كښې پوره رانغښتې وى.

اشكال:- دَدې حديث نه په واضحه توګه باندې معلوميږي چه مسلمانانې ښځې دَ اخترونو په مونځونو كښې عيدګاه ته دَمونځ دَپاره تللې اوس علماء ولې اجازت نه وركوى؟

داشكال جواب:- دَ حضورپاك په زمانه كښې به دَ احكام اسلام نازليدل دَسړو په شان ښځوله دَ احكام زده كولو ضرورت وو. دَخلقو ګڼړه به كمه وه. دَوحى دَ نزول بركات عام وو. دَ جبرائيل آمين به دَ مدينې منورې پاكې زمكې ته تلل راتلل وو. دَحضورپاك وجود مبارك موجود وو. دَ صحابه كرامو رضي الله عنهم پاك جماعت وو اودَ ټولو احتياطى تدابيرو نه پس ښځوله عامو مونځونو اودَ اختر مونځونو كښې دَ شركت اجازت وو. بياهم دَ صحابه كرامو په دوركښې په دې باندې پابندى اولګيدله. حضرت عائشه رضي الله عنها دَ ممانعت حمايت اوكړه په دې وجه علماؤ مساجد او عيدګاه ته دَ ښځو تلل په وجه دَ فساد دَ زمانې غيرمستحب اوګرځول. دَدې نه باوجود كه چرې اوس هم په يومقام بائدې دَ پردې مكمل انتظام وى نودې ته بالكل ممنوع نه شي وئيلې كيدې.

[١٤٣٢] دَاخترونو په موقع دسندرو ونيلو حكم

١٤٣٢-(¹) [٧] [١] «وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [٢] إِنَّ أَبَا بَكْرٍ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا جَارِيَتَانِ فِي أَيَّامِ مِنًى [٣] تُدَفِّفَانِ وَتَضْرِبَانِ. [٤] وَفِي رِوَايَةٍ: تُغَنِّيَانِ بِمَا تَقَاوَلَتِ الْأَنْصَارُ يَوْمَ بُعَاثٍ، [٥] وَالنَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُتَغَشٍّ بِثَوْبِهِ، [٦] فَانْتَهَرَهُمَا أَبُو بَكْرٍ، فَكَشَفَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ وَجْهِهِ، فَقَالَ: [٧] "دَعْهُمَا يَا أَبَا بَكْرٍ: فَإِنَّهَا أَيَّامُ عِيدٍ. [٨] وَفِي رِوَايَةٍ: يَا أَبَا بَكْرٍ، إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا، وَهَذَا عِيدُنَا". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ام المؤمنين (د مؤمنانو مور) بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي [٢] چې د منې په ورځوكي (يعني په كومو ورځو كې چې حاجيان صاحبان په منې كې قيام كوي او ايام تشريق

¹) اخرجه البخارى فى كتاب العيدين /باب سنة العيدين لأهل الإسلام (رقم-٩٥٢) ومسلم كتاب صلاة العيدين /باب الرخصة فى اللعب الذى لا معصية فيه فى أيام العيد (رقم) ١٦ - (٨٩٢) والنسائى كتاب صلاة العيدين /باب الرخصة فى الاستماع إلى الغناء وضرب الدف يوم العيد (رقم-١٥٩٧)

ورته ویل کیږي د هغې څخه د بقر عید (لوي اختر) په ورځ یا د هغې څخه په وروسته ورځو کي) حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه زما طرف ته تشریف راوړو هغه وخته زما سره (د انصارو د جینکو څخه) دوه وړې جینکۍ ناستي وي ③ تنبل به یي غږولو ④ او په بل روایت کې (د دي الفاظو په ځاي یا دا چې مزید) دا الفاظ دي چې جینکو هغه اشعار ویل چې انصارو د بعاث د جنګ متعلق) ویلي وو ⑤ او حضور صلی الله علیه وسلم (هغه وخت) په مخ مبارك کپړه اچولي (پورت) وو⑥ حضرت ابوبکر رضي الله عنه هغه جینکۍ اوټلې (یعني د سندرو د ویلو څخه یي منع کړي) نو حضور صلی الله علیه وسلم خپل مخ مبارك ښکاره کړو او وي فرمایل ⑦ چې اي ابوبکر! رضي الله عنه دوي پریږده (هیڅ ورته مه وایه) ځکه چه دا د اختر (د خوشحالي) ورځي دي ⑧ په یو بل روایت کې دا الفاظ دي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې اي ابوبکره! د هر قوم اختر وي دا زمونږ اختر دي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① تُدَفِّفَانِ: تنبل ئې وهلو، ② تُغَنِّيَانِ: لوبې او شعرونه ئې وئیل، ③ تَقَاوَلَتِ: وئیلی وو، ④ يَوْمَ بُعَاثَ: بُعاث د یوځائ نوم دي دلته دجاهلیت په زمانه کښې د قبیله اوس او خزرج په مینځ کښې جنګ شوې وو هغه ورځ ته یوم بُعاث وائی. ⑤ مُتَغَشٍّ: د اسم فاعل صیغه ده، یعنی په کپړه کښې ئې مخ پټ کړې وو. ⑥ انْتَهَرَهُمَا: منع ئې کړې دواړه، اوئې رټلې.

تسهيلات:

قوله: فِي أَيَّامِ مِنًى تُدَفِّفَانِ:

د اختر د خوشحالۍ اظهار:- دادَ ایام تشریق او منی کښې دَ جمراتو دَ ویشتلو دَ ورځو ذکر دې چه په دې ورځو کښې دوو ماشومانو جینکو تنبل وهلو اوحضورپاك خاموش وو. صدیق اکبر رضي الله عنه راغلو او هغوی اورټلې. حضورپاك اوفرمائیل پریږده دا دَ اختر ورځې دی.

د تنبل وهلو حکم:- اوس مسئله داسې ده چه یوصرف په ژبه سره اشعار وئیل دی دغه داسې معامله ده چه کله چرې اشعار ښه دی نوونیل ئی ښه دی اوکه چرې اشعار خراب دی نو وئیل ئی هم بد دی. لکه چه اشعارد خبرو په شان څیز دې. "فحسنه حسن وقبيحه قبيح" بل که چرې اشعارو باجې ډولکی شپیلئی ستارونه ربابونه هارمونیم او میوزك وی نودَهغې په حراموالی کښې هیڅ شك نشته دې. دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دې ((الغناء حرام في الاديان كلها)) یو بل حدیث دې ((الغناء ينبت النفاق في القلب كما ينبت الماء البقل)).

فتاوی قاضی خاص کښې لیکلی دی چه: "استماع صوت الملاهي حرام ومعصية لقوله عليه السلام استماع الملاهي معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها من الكفر".

د ګانو بجانو د حرمت په باره کښې مفید کتابونه:- په دې سلسله کښې "كتاب كف الرعاع عن محرمات اللهو والسماع لابن حجر الهيتمي" ډیر ښکلې کتاب دې او په لویه پیمانه باندې میوزك سره متعلق

احاديث په دې کښې جمع دی. حضرت مولانا محمد شفیع رحمه الله هم احکام القرآن جزخامس کښې دَ سورت لقمان په شروع کښې په دې مسئله باندې ډیر تفصیل سره کلام کړې دې. ما تسهیلات څلورم جلد کښې کتاب النکاح کښې څه لیکلی دی اوڅه به انشاء الله باب الشعر کښې لیکلې کیږي. مظاهرحق کښې دَدې حدیث لاندې ډیر تفصیل سره لیکلی دی زه تفصیل دلته نه شم کولې. پورته ذکرشوې دَ دوو صورتونونه علاوه دریم صورت دَ دغه تنبل غږولو دې کوم سره چه اشعار وی خوچه په دغه تنبل کښې څه دَ شرنګاری او غږیدونکی څیزنه وی. ګنی که لوبوتوقو آلې ورسره وی نودا تنبل دَ اخترونو په موقعو کښې سنتونو ودونو او دَ خوشحالو ورځو کښې جائز دې اګرچه بچ کیدل دَدې نه هم بهتردی خوبیاهم مباح دی لکه څنګه چه دلته دغه ماشومانو وهلو او صدیق اکبر رضی الله عنه پوهه کولې چه حضورپاك ته پته اونه لګی په دې وجه ئی هغوی اورټلې. نو رسول الله ﷺ دَ اختر ذکر اوکړو او اجازت ئی ورکړو. چونکه دلته ساده تنبل وو دَ کوم آواز چه دف دف وی، بل وړې جینکئی وې او شعرونه هم دَ مړانې او بهادرئی درس ورکونکې وو په دې وجه حضورپاك منع نه کړې. په دې باندې دَ غتیو ښځو ګډاګانې سرودونه اوباجې ډانسونه نه شی قیاس کولې لکه څنګه چه اهل باطل قیاس کولوسره دَ ډانس دَپاره دَ جواز پیدا کولو کوشش کوی. باقی دَ اوریدو یوه بله مسئله ده دکوم تفصیل چه به ان شاء الله باب الشعر کښې راځی.

قوله : بِمَا تَقَاوَلَتِ الْأَنْصَارُ يَوْمَ بُعَاثَ:

دَ یوم بعاث تاریخی پس منظر :- دَجاهلیت دَ جنګونونه دَ یو جنګ طرف ته اشاره ده چه دَحضورپاك دَ هجرت نه وړاندې دَمدینې دَ انصارو دوو قبیلو اوس او خزرج په مینځ کښې مقام بعاث کښې شوې وو. دَ شپږشلو کالوپورې اورد راروان وو په کوم کښې چه ډیرې لوئی وینې توئی شوې وې. اوچه کله اسلام راغلو نودَ هغې رحمت عام شو او په حضوراکرم ﷺ باندې ایمان راوړلوسره په عربو کښې دَ دغه اورد جنګ صلح اوشوه دَ کوم طرف ته چه قرآن پاك داشان اشاره کوی. ﴿ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا﴾ دَمقام بعاث باره کښې شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې لیکلی دی چه دا مقام دَمدینې منورې نه دَدوو ورځو په فاصله باندې واقع دې یا دادَ قبیله اوس دَ یوې قلعه نوم دې اویا دَ بنوقریظه دَ علاقو نه دَ یوځائی نوم دې. [اشعة المعات: ١/٦٤٠]

[١٤٣٣] په وړوکی اختر کښې د مانځه څخه وړاندې خوراك كول

١٤٣٣-()[٨] [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَا يَغْدُو يَوْمَ الْفِطْرِ [٣] حَتَّى يَأْكُلَ تَمَرَاتٍ، [٤] وَيَأْكُلُهُنَّ وِتْرًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

---

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب العیدین / باب الأکل یوم الفطر قبل الخروج (رقم-٩٥٣) والترمذی کتاب العیدین /باب فی الأکل یوم الفطر قبل الخروج (رقم-٥٤٣)

ترجمه: ١ حضرت انس رضي الله عنه فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ به د وړوکی اختر په ورځ عيدګاه ته تلو ٣ نو مخکې به يې کجوري (خورما) خوړلې ٤ او طاق کجوري به يې خوړلي (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① وِتْرًا: طاق، ناتکې،

تسهيلات:

قوله : لَا يَغْدُو يَوْمَ الْفِطْرِ حَتَّى يَأْكُلَ تَمَرَاتٍ:

د اختر د مانځه څخه وړاندې د خوراک کولو وجه: - حضرت رسول کريم ﷺ به د اختر په ورځ عيدګاه تګ نه وړاندې کهجورې خوړلې يعنی په خوراك کښې ئې به جلدی کوله چې د مخکښې ورځو يعنی ايام رمضان کښې امتياز راشی ځکه چې په رمضان کښې نه خوړل واجب دې داشان د اختر په ورځ خوراك کول پکار وی.

قوله : وَيَأْكُلُهُنَّ وِتْرًا:

ناتکې قجورې خوړل: - حضرت رسول اکرم ﷺ به کهجورې طاق يعنی درې، پنځه، اووۀ يا ددې نه کم او زياتې خوړلې. چونکه په هر کار کښې د طاق رعايت ساتل بهتر دی په دې وجه حضرت رسول اکرم ﷺ به په دې معامله کښې هم د طاق لحاظ ساتلو. او ددې وجه داده چې (إن الله وتر يحب الوتر) يعنی الله ﷻ طاق دې او طاق لره خوښوی.

دقجورو خوړولو وجوهات: -

① د اختر به ورځ په حضرت رسول اکرم ﷺ کهجورې په دې وجه خوړلې چې هم دا به موجودې وی.

② کهجورې خوږې وی او خوږ څيز د بصر د تقويت ذريعه ګرځی. خصوصا د خلو معده په وخت خو دا نظر ته ډير زيات تقويت ورکوی او ډير زود اثر دی. لهذا د روژو په وجه به چې کوم ضعف راغلې وی د کهجورواثر په هغه ختميږی.

د خوږ څيز فائده: - بيا دا شرينی يعنی خوږوالی د مقتضاء ايمان موافق دې. چنانچه علماء کرام ليکی چې کوم کس په خوب کښې اووينی چې خوږ څيز خوری نو ده ته به د ايمان حلاوت نصيب کيږی. خوږ څيز زړه نرموی، په دې وجه خوږ څيز سره افطار کول افضل دی.

[١٤٣٤] د اختر په ورځ عيدګاه ته په تګ راتګ کښې د لارې بدلول

١٤٣٤ - (١)[٩] ١ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدٍ خَالَفَ الطَّرِيقَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[1] اخرجه البخاری فی كتاب العيدين /باب من خالف الطريق إذا رجع يوم العيد (رقم-٩٨٦) والترمذی كتاب العيدين /باب ما جاء فی خروج النبی صلى الله عليه وسلم إلى العيد فی طريق، ورجوعه من طريق آخر (رقم-٥٤١) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها /باب ما جاء فی الخروج يوم العيد من طريق والرجوع من غيره (١٣٠١)

ترجمه: ١ حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي ١ چې هر كله به د اختر ورځ شوه نو رسول الله ﷺ به په لارو كې فرق كولو. (بخاري)

حل اللغات: - ① خَالَفَ الطَّرِيقَ: لار به ئي بدلوله.

تسهيلات:

قوله: إِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدٍ خَالَفَ الطَّرِيقَ:

د اختر په ورځ د لارې په بدلولو كښې حكمت: - يعني عيدګاه ته دَتلو په وخت په يوه لاره تشريف اوړلو ليكن واپس به په بله لار راتلو. په دې كښې حكمت داوو چه مختلف لارې په عبادت باندې ګواه جوړې شي او په دې لاروكښې فرښتې او جنات او ملاويدونكي انسانان ګواه جوړشي. بعضې علماؤ څه نور وجوهات ليكلي دي ليكن دا ټولې اندازې دي حقيقت دادې چه دَدې حقيقت دَ شارع عليه السلام نه بغير بل هيچاسره نشته دې.

[١٤٣٥] په لوئي اختركښې دَ قربانئ وخت

١٤٣٥ - (١) [١٠] ١ «وَعَنِ الْبَرَاءِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ خَطَبَنَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ النَّحْرِ فَقَالَ: ٣ إِنَّ أَوَّلَ مَا نَبْدَأُ بِهِ فِي يَوْمِنَا هَذَا أَنْ نُصَلِّيَ، ٤ ثُمَّ نَرْجِعَ فَنَنْحَرَ، ٥ فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ فَقَدْ أَصَابَ سُنَّتَنَا، ٦ وَمَنْ ذَبَحَ قَبْلَ أَنْ نُصَلِّيَ، ٧ فَإِنَّمَا هُوَ شَاةُ لَحْمٍ، ٨ عَجَّلَهُ لِأَهْلِهِ لَيْسَ مِنَ النُّسُكِ فِي شَيْءٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت براء رضي الله عنه راوي دي ٢ چې رسول الله ﷺ د يوم النحر (يعني د قرباني په ورځ) زمونږ په مخكې په خطبه كې ارشاد وفرمايل ٣ چې په دې ورځ اولني كوم كار چې مونږ ته كول پكار دي هغه دا دي چې مونږ (د لوي اختر) مونځ اوكړو ٤ بيا كور ته واپس راشو او قرباني اوكړو ٥ نو كوم سړي چې داسې عمل وكړو (چې د قرباني څخه مخكې د لمانځه او د خطبې څخه فراغت حاصل كړي) هغه زمونږ سنت اختيار كړل ٦ او كوم سړي چې د لمانځه څخه مخكې قرباني وكړه ٧ هغه قرباني نه ده بلكه هغه د غوښو والا بزه ده ٨ چې هغه د خپل كور والو د پاره په تلواري سره ذبح كړي ده د قرباني سره د دې هيڅ تعلق نشته. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① فَنَنْحَرَ: چه مونږ قرباني اوكړو. ② النُّسُكِ: قرباني.

تسهيلات: نوټ: - د قربانۍ باره كښې د مذاهبو بيان به په ((بَابُ الْأُضْحِيَةِ)) كښې راشي.

د اختر په احكامو كښې ترتيب: - دَ لوئی اختر شرعی ترتيب داسې دې چه دَ قربانئی په ورځ اول مونځ اوكړې شی بيا خطبه واؤريدې شی بيا لاړشی قربانی اوكړی. قربانی دَ مونځ نه پس ده. كه چرې چا اول اوكړه نوهغه قربانی نه ده بلكه دَ خوراك غوښه ده. په ښاركښې چه كله په يو ځائی دَ اختر مونځ اوشی نودَ ټولو ښاروالودپاره اوس قربانی كول جائز شو. كوم

(١) اخرجه البخاري في كتاب العيدين /باب التبكير إلى العيد (رقم-٩٦٨)

خلق چه په کلوکښې اوسيږی اوهلته دَاختر مونځ نه کيږی نوهغه خلق دَ سحر دَمونځ نه پس قربانی کولې شی.

د قربانۍ ورځې: -دَ احنافو په نيز دَ قربانئ تولې ورځې لسم ذوالحجه يولسم دولسم ذوالحجه درې ورځې دی. ليکن شوافع او غيرمقلدين لسونه ديارلسو ورځوپورې قربانی کولوته جائز وائی. په آخری ورځ اوښ ذبح کوی او تماشه ښکاره کوی.

[١٤٣٦] دَقربانئ د وجوب دليل

١٤٣٦-(¹)[١١] ١ وَعَنْ جُنْدَبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيِّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ «مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا أُخْرَى، ٣ وَمَنْ لَمْ يَذْبَحْ حَتَّى صَلَّيْنَا، ٤ فَلْيَذْبَحْ عَلَى اسْمِ اللهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ جندب ابن عبدالله بجلي راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ کوم سړي چې (د قرباني حيوان) د اختر د لمانځه څخه مخکې ذبح کړي نو هغه ته پکار دي چې د هغې په بدله کې (د قرباني د پاره) دويم حيوان ذبح کړي ٣ او کوم سړي چې د لمانځه کولو پورې ذبح ونه کړي ٤ نوهغه ته پکار دي چې هغه [د لمانځه څخه وروسته] د الله تعالی جل جلاله په نامه (د قرباني حيوان) ذبح کړي (دا قرباني به درست وي چې د هغې به ورته ثواب حاصليږي) (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا أُخْرَى:

د اختر د مانځه څخه وړاندې د قربانۍ کولو عدم جواز: -يعنی کوم کس چې قربانی د مونځ نه وړاندې اوکړه نوهغه له پکار دی چې ددې په ځائې بله قربانی اوکړی. او چا چې مونځ نه پس اوکړه هغه صحيح ده. دارنګ قربانۍ والاله پکار دی چې د قربانۍ ذبح کولو په وخت کښې دالله ﷻ نوم واخلی.

[١٤٣٧] دمانځه څخه مخکښې قربانی کول

١٤٣٧-(²)[١٢] ١ وَعَنِ الْبَرَاءِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ، فَإِنَّمَا يَذْبَحُ لِنَفْسِهِ، ٣ وَمَنْ ذَبَحَ بَعْدَ الصَّلَاةِ، فَقَدْ تَمَّ نُسُكُهُ، ٤ وَأَصَابَ سُنَّةَ الْمُسْلِمِينَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت براء رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ کوم سړي چې (د قرباني

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الذبائح والصيد/باب قول النبی صلی الله عليه وسلم: «فليذبح علی اسم الله» (رقم-٥٥٠٠) ومسلم کتاب الأضاحی/باب وقتها (رقم) ٢ - (١٩٦٠) والنسائی کتاب الضحايا/باب ذبح الناس بالمصلی (رقم-٤٣٦٨) وابن ماجة باب النهی عن ذبح الأضحية، قبل الصلاة (رقم-٣١٥٢)

²) اخرجه البخاری فی کتاب الأضاحی/باب سنة الأضحية (رقم-٥٥٤٦) ومسلم کتاب الأضاحی/باب وقتها (رقم) ٤ -(١٩٦١)

حيوان، د لمانځه څخه مخکې ذبح کړې نو لکه چې هغه محض د خوراک د پاره ذبح اوکړه (ځکه چې هغه ته د قرباني ثواب حاصل نشو) [٣] اوکوم سړي چې دلمانځه څخه وروسته ذبح کړه نوبيشکه دهغه قرباني ادا شوه [٤] او (دغسې) هغه د مسلمانانو طريقه اختيار کړه. (بخاري مسلم)

تسهيلات: قوله: فَإِنَّمَا يَذْبَحُ لِنَفْسِهِ:

د مانځه څخه وړاندې قرباني باندې عدم ثواب:- کوم کس چې قرباني د مونځ نه وړاندې اوکړه نوهغه خپل ځان دپاره اوکړه يعنى هغه ته به څه ثواب نه ملاويږي. او چا چې د اختر دمونځ نه پس قرباني اوکړه نو هغه ته به ثواب ملاويږي. او قرباني ئې هم اوشوه. زمونږ په نيز د اختر د مانځه وړاندې چې کومه قرباني اوشوه دهغې اعاده واجب ده . د مونځ نه وړاندې ذبيحه عادت دې. او دمونځ نه روستو ذبيحه عبادت دې.

[١٤٣٨] په عيدګاه کښې قرباني کول

١٤٣٨-()[١٣] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَذْبَحُ وَيَنْحَرُ بِالْمُصَلَّى». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت ابن عمر رضي الله عنهما راوي دي [٢] چې رسول الله ﷺ به په عيدګاه کې ذبح او نحر کولو. (بخاري)

تسهيلات:

قوله: وَيَنْحَرُ:

د قرباني ځناروی او د نحر طريقه:- دَ قربانئی دَپاره په شريعت کښې ګډ، چيلئی، ګډه، غوا، ميخه او اوښ متعين دی که هغه نر وی اوکه ښځه هيڅ فرق نه کوی. دَدې ځناورو نه علاوه بل دَ هيڅ قسم ځناور قرباني نه شی کيدې.

دَ اوښ نه علاوه دَ نورو ځناوروډَپاره ذبح مقرر ده چه سملولې شی اودَهغې په مرئی چاړه رابښکلې شی البتـه دَ اوښ دَپـاره نحـر دې اودَ نحـر طريقـه داده چـه دَ اوښ پـه وړانـدينو خپوکښې يوه راکړه کړې شی زنګون سره اوتړلې شی. دې وخت کښې اوښ تختيدې نه شی ولاړ به وی نوبيا دې سړې نيزه يا چاړه يا دَتورې په څوکه باندې دَ اوښ مرئی وهی اودَ هغه دَ مرئی نه وينه بهيږی. دَ زياتې وينې بهيدو سره بيا اوښ پخپله راپريوځی اومړشی. دا دَ نحر طريقه ده.

[١]) اخرجه البخارى فى كتاب العيدين /باب النحر والذبح يوم النحر بالمصلى (رقم-٩٨٢)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٤٣٩] دَمسلمانانو دوه اخترونه

١٤٣٩ – (١) [١٤١] ١ عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «قَدِمَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمَدِينَةَ، وَلَهُمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُونَ فِيهِمَا، ٣ فَقَالَ: (مَا هٰذَانِ الْيَوْمَانِ)؟ ٤ قَالُوا: كُنَّا نَلْعَبُ فِيهِمَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ. ٥ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَدْ أَبْدَلَكُمُ اللّٰهُ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا: ٦ يَوْمَ الْأَضْحَى، وَيَوْمَ الْفِطْرِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ حضرت انس رضي الله عنه فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ چې مديني منوري ته تشريف راوړو نو اهل مدينه دوه ورځي مقرري کړي وي چې په هغې کې به هغوئ لهو ولعب کول (لوبي تماشي او خوشحالي کولي) ٣ (د دې په ليدو سره) حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې دا دوه ورځي دڅه دي؟ ٤ صحابه وؤ رضي الله عنهم عرض وکړو چې په دي ورځو کې به مونږ د جاهليت په زمانه کې لوبي تماشي کولي ٥ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې الله تعالىٰ جل جلاله ستاسو د پاره د دې دوو ورځو په بدله کې د دې څخه بهتري دوه ورځي مقرري کړي دي ٦ اوهغه د عيد الاضحیٰ او عيد الفطر (د لوي اختر او وړوکی اختر) ورځي دي. (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: كُنَّا نَلْعَبُ فِيهِمَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ:

د اسلام څخه وړاندې د عربو دوه اخترونه: - دَ اسلام نه وړاندې به دَ مديني خلقو په کال کښې دوه دَ خوشحالئی ورځې مناوولې دَ يوې ورځ نوم نوروز وو اودَ بلې مهرجان وو. دادَ فارس والو دَاختر اوخوشحالئی ورځې وې په کوم کښې چه به هوا معتدل اوموسم مزيدار وو. دَ فارس والودا ورځې په عربو کښې هم راغلې اوهغوی هم دا دَ اختر په توګه مناوول شروع کړې لکه نن صبا ايران شام اوعراق وغيره بعضې ملکونو کښې دَدې رواج دې.

رسول الله ﷺ دَمدينې والونه دَدې دَحقيقت باره کښې معلومات غوښتل نوهغوی صفا اووئيل په دې باندې حضورپاك په جواب کښې اوفرمائيل چه اوس الله تعالى تاسو تـه دَدې په بدلـه کښې دوه جدا ورځې دَ خوشحالئی کولودَپاره درکړې دی يـودَ عيـدالفطريعنی وړوکی اختر ورځ او دويم دَ عيدالاضحی يعنی دَ قربانئی اختردې.

د غير مسلمو په رسوماتو کښې د مسلمان د شرکت حکم: - اوس يومسلمان دَپاره جائزنه دی چه هغه دې دَغيرمسلمو په اخترونو کښې شرکت اوکړی ياهغوی ته تحفه ورکړی يا هغوی ته مبارکی ورکړی ځکه چه په دې سره به دَ غيرمسلمو دَ تهوارونو يعنی ميلو تعظيم اوشی کوم چه حرام دې بلکه دکفرخطره ده. ځکه چه کـه يومسلمان دَ کـافرانو پـه ميلـه کښې دَتعظيم په توګه شريك شی نوهغه به کافرشی اوکه صرف دَ لوبوتوقو پـه توګـه شرکت کوی

[1] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب صلاة العيدين (رقم-١١٣٤) والنسائی كتاب صلاة العيدين (رقم-١٥٥٦)

نوبیاهم مکروه تحریمي دی ځکه چه په دې سره دَ کافرانو مشابهت راځي.

د غیر مسلمو په رسوماتو کښې د شرکت حرمت:- فتاویٰ ذخیره کښې لیکلی دی چه کوم سړې دَ هولی او دیوالی دَ کتلو دَپاره په خاص توګه اوځي هغه د کفر حدودته ورنیزدې کیږي. نوادرالفتاویٰ کښې لیکلی دی کوم سړې چه دَ غیرمسلم رسومات ښه ګنړي هغه کافر کیږي. بهرحال په مسلمانانو باندې لازم دی چه هغوی دې دَغیرمسلمو په محبت کښې وراندې کیدو سره دَهغوی په رسمونو کښې شرکت نه کوي. داډیرخطرناك دی اونه دَهغوی دَ تهوارونو اومیلو څه اهمیت شته. دادَهغې نه زیات خطرناك دی. روافظ او اهل بدعت اودَ اهل باطل محافل اومجالس اوجلوسونو کښې شرکت کول هم سخت منع دی. څوك چه نه منع کیږي هغه دې نه منع کیږي دَهغوی خپل نقصان دې. دَهدایت دروازې کولاؤ دی که څوك راځي اوکه نه راځي.

[١٤٤٠] په ورو کی اولونې اختر کښې د خوراك کولو وختونه

١٤٤٠-()[١٥] [١] وَعَنْ بُرَيْدَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَا يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتَّى يَطْعَمَ، [٣] وَلَا يَطْعَمُ يَوْمَ الْأَضْحَى حَتَّى يُصَلِّيَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت بریده رضي الله عنه راوي دي [٢] چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به په وړوکی اختر کې بغیر د څه خوړلو څښلو عیدګاه ته تشریف نه وړو [٣] او د لوي اختر په ورځ به يي بغیر د لمانځه کولو څه خوړل څښل نه. (ترمذي، ابن ماجه، دارمي)

تسهیلات: قوله: لَا يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتَّى يَطْعَمَ:

د وړوکی او لوئې اختر په ورځ د خوراک په وختونو کښې د فرق وجه:- دَ پوره رمضان روژې ساتلونه پس سړې دَ وړوکی اختر په ورځ دَ اختردَ مونځ نه وړاندې خوراك ته ډیر په شوق سره ګوري. په دې وجه شریعت اجازت ورکړو چه دا سړې خوراك کولې شي. چونکه دَ اختر دَ مونځ نه پس بل څه شغل نه وی لهذادَ اختردَ مونځ نه مخکښې چه سړې خوراك اوکړي اودَ روژې ماتی مزه اخستو سره مونځ لـه ځي. لیکن په لوئی اختر کښې دَمونځ نه پس دَ قربانئی لوئی کاردې لهذا بهترهم دغه ده چه مونځ په تادئی سره هم وی اودې نه مخکښې خوراك کول هم نه وی روستودَ خپلې قربانئی دَ غوښې نه څه پخه کړي پخپله هم اوخوري او میلمنو باندې دې هم اوخوري.

---

[١] اخرجه الترمذی کتاب العیدین /باب فی الأکل یوم الفطر قبل الخروج (رقم-٥٤٢) وابن ماجة کتاب الصیام /باب فی الأکل یوم الفطر قبل أن یخرج (رقم-1756)

[١٤٤١]دَاخترونودَتكبيرونوشمير

١٤٤١-()[١٦][١] وَعَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ: [٢]«أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَبَّرَ فِي الْعِيدَيْنِ فِي الْأُولَى سَبْعًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ[٣] وَفِي الْآخِرَةِ خَمْسًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه:[١] كثير ابن عبدالله د خپل پلار څخه او هغه د كثير د نيكه يعنى د خپل پلار بزرګوار څخه نقل كوي [٢] چې نبي كريم ﷺ به د اخترونو په لمانځه كې په اولني ركعت كې د قراءت څخه مخكې اوه تكبيرونه ويل [٣] او په دويم ركعت كې به يي د قراءت څخه مخكې پنځه تكبيرونه ويل. (ترمذي، ابن ماجه، دارمي)

تسهيلات:

قوله: فِي الْأُولَى سَبْعًا:

دعيدينو د تكبيراتو په تعداد كښې مذاهب

په دې باندې دَ ټولو اتفاق دې چه دَاخترونو په مونځونوكښې څه زياتى تكبيرات دى مګر په دې كښې اختلاف شوې دې چه په هرركعت كښې دَ دغه تكبيراتو شميرڅه دې؟

① امام مالك رحمه الله امام احمدبن حنبل رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نيزدَ اخترونو په مونځونوكښې په اول ركعت كښې دَ فاتحې وئيلونه مخكښې تكبير تحريمه سره اووه تكبيرات دى او په دويم ركعت كښې پنځه تكبيرات دى. دَ جمهورو په خپل مينځ كښې دومره فرق ضرور دې چه امام مالك رحمه الله په نيز اووه او پنځه تكبيراتو سره اصل تكبير هم شامل دې يعنى تكبيرتحريه او تكبير ركوع ليكن امام شافعي رحمه الله په نيز اووه اوپنځه تكبيرات زياتى دى. تكبيرتحريمه او ركوع په دې كښې شمير نه دى.

② امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په اول ركعت كښې دَ فاتحې دَ وئيلو نه مخكښې درې تكبيرات دى اودريواړه زياتى دى او دويم ركعت كښې دَ قرأت نه پس ركوع ته تلونه مخكښې په ولاړه ولاړه زياتى تكبيرونه درې دى يعنى ټول شپږ تكبيرات زوائد دى.

داول فريق دليل:- زير بحث دكثير بن عبدالله رضي الله عنه روايت د دوى مستدل دې چه په خپله مدعا باندې واضح دليل دې.

داول فريق د دليل جوابونه:-

① زياتى تكبيرونه كيدې شى دَ بيان دَ جواز دَپاره شوې وى

② دَحضورپاك دَ شروع معمول وى. هسې خودا عجيبه ده چه كثير بن عبدالله رضي الله عنه شوافع

() اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة،باب التكبير في العيدين (رقم-١١٥١) والترمذى كتاب العيدين/باب فى التكبير فى العيدين (رقم-٥٣٦) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فى كم يكبر الإمام فى صلاة العيدين (رقم-١٢٧٧) والدارمى باب التكبير فى العيدين

پخپله کمزورې کړځوی بعضې په هغوی باندې دَ دروغژن الزام لګولې دې اوبیا هم دَ هغه دَ روایت نه استدلال کوی. دا امر هم دَحیرانتیا نه خالی نه ده چه دَدې متفق علیه ضعیف راوی دې روایت ته امام ترمذی رحمه الله حسن وئیلې دې کوم چه دَ ترمذی رحمه الله دَپاره دَ حیرانتیا سبب دې.

د دویم فریق دلائل :-

① حدیث نمبر(۱۴۴۳) د دوی مستدل دې چه دَحضرت سعیدبن العاص رضی الله عنه روایت دې او په کوم کښې چه دَ سوال اوجواب او پوره بحث اوتحقیق نه پس دَلوئې شان صحابی حضرت ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه ډیر په وضاحت سره اوخودل چه حضورپاك دَ جنازې دَ مونځ په شان په اخترونو کښې څلور تکبیرونه وئیل یعنی یو اصل تکبیر او درې زیاتی تکبیرونه وو. حضرت حذیفه رضی الله عنه اوفرمائیل چه صدق یعنی ابوموسیٰ رضی الله عنه رښتیا اووئیل هم داسې معامله وه.

② دغه شان دَ مغیره بن شعبه رضی الله عنه روایت هم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دَ دریو زیاتی تکبیرونو ذکر دې. نصب الرایه

③ دَحضرت ابن مسعود رضی الله عنه یوروایت هم د دوی مستدل دې (نصب الرایه)

④ دغه شان امام طحاوی رحمه الله یوه واقعه نقل کړې ده چه حضرت عمر رضی الله عنه صحابه کرام راجمع کړل اودَ اخترونو تکبیرونه په شمیر باندې خبرې اترې اوشوې اتفاق په څلورو تکبیراتو باندې اوشو لکه چه په څلورو تکبیراتو باندې اجماع منعقد شوې ده.

⑤ دغه شان امام طحاوی دَ قاسم بن عبدالرحمان رضی الله عنه حدیث نقل فرمائیلې دې په کوم کښې چه هغوی په ګوتو باندې شمیرلوسره اوخودل چه په اخترونو کښې څلور څلور تکبیرات دی یواصل او درې زیاتی دی.

⑥ عقلی دلیل هم د دوی مستدل دې چه زیاتی تکبیرات دَ عام مونځونو برعکس دی اوکوم څیز چه دَ عام معمول برعکس وی په هغې کښې په قلیل باندې اکتفا کول زیات بهتردی. لهذا دَ اووه په ځائی په څلورو باندې اکتفاء زیاته بهتر ده یو تکبیر اصلی او درې زیاتی دی.

[۱٤٤۲] دَاخترونوپه مونځونوکښې په قراءت باندې جهرکول

> ۱۴۴۲—(۱)[۱۷] [۱] وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ مُرْسَلًا: [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ، كَبَّرُوا فِي الْعِيدَيْنِ وَالِاسْتِسْقَاءِ سَبْعًا وَخَمْسًا، [۳] وَصَلَّوْا قَبْلَ الْخُطْبَةِ، [۴] وَجَهَرُوا بِالْقِرَاءَةِ». رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت جعفر ابن محمد مرسلاً روایت کوي [۲] چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوحضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه به د اخترونو او استسقاء په لمانځه کي اوه او پنځه

[۱] اخرجه الشافعی فی کتاب العیدین /باب کبروا فی العیدین والاستسقاد سبعا وخمسا، وصلوا قبل الخطبة،،، رقم الحدیث ۳۱۳

تكبيرونه ويل ٣ او (د اخترونو او د استسقاء) مونځ به يي د خطبي څخه مخکې کولو ٤
او قراءت به يي په پورته آواز سره کولو. (شافعي)

حل اللغات:- ① الِاسْتِسْقَاءِ: دباران دپاره دعا كول، يعنى د الله نه باران غوښتل.

تسهيلات:

قوله: جَعْفَرِبْنِ مُحَمَّدٍ:

دجعفر مصداق:- جعفر نه مراد امام جعفر رحمه الله بن صادق ابن محمد باقر رحمه الله ابن على يعنى امام زين العابدين ابن حضرت امام حسين رضي الله عنه ابن على رضي الله عنه دي.

قوله: سَبْعًا وَخَمْسًا:

د اختر په مانځه کښې د اووؤ تکبیرونو روایت:- دې حديث مبارك كښې د پنځواو اووؤ وضاحت دماقبل حديث د تاكيد دپاره دې چې په اول ركعت كښې به ئې قراءت نه اول اووه تكبيرونه او په دويم ركعت كښې به ئې د قراءت نه اول پنځه تكبيرونه وئيل. او دا دامام شافعي مسلك دې.

[١٤٤٣] د اخترونو د تکبیرونو تعداد

١٤٤٣-(١) [١٨] ١ وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «سَأَلْتُ أَبَا مُوسَى وَحُذَيْفَةَ: كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُكَبِّرُ فِي الْأَضْحَى وَالْفِطْرِ؟ ٣ فَقَالَ أَبُو مُوسَى: كَانَ يُكَبِّرُ أَرْبَعًا تَكْبِيرَهُ عَلَى الْجَنَائِزِ. ٤ فَقَالَ حُذَيْفَةُ: صَدَقَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ حضرت سعيد ابن عاص فرمايي ٢ چې ما د حضرت ابو موسىٰ رضي الله عنه او حذيفه رضي الله عنه څخه پوښتنه وكړه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به د وړوكى او لوي اختر په لمانځه كې څو تكبيرونه ويل؟ ٣ نو ابو موسىٰ رضي الله عنه په جواب كې اوويل چې څنګه رسول الله صلى الله عليه وسلم به د جنازي په لمانځه كې څلور تكبيرونه وئيل دغسې د اخترونو په لمانځه كې به يي هم څلور تكبيرونه ويل ٤ (د دي په اوريدو سره) حضرت حذيفه رضي الله عنه اوويل چې ابو موسىٰ رښتيا وويل. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① الْأَضْحَى: قرباني (دلته د لوئې اخترمونځ مراد دې). ② الْفِطْرِ: وړوكې اختر (دلته د وړوكى اختر مونځ مراد دې).

تسهيلات: قوله: كَانَ يُكَبِّرُ أَرْبَعًا:

د تکبیراتو تعداد:- اصلى تكبيرونه پريخودوسره دَ احنافو په نيزدَ اخترونو ټول زياتى تكبيرونه شپږ دى. امام مالك رحمه الله اوامام احمد رحمه الله په نيززياتى تكبيرونه ټول لس دى. دَ امام شافعى رحمه الله په نيزټول زياتى دولس دى.

---

[1]) اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة،باب التكبير فى العيدين (رقم-١١٥٣)

[١٤٤٤] د خطبې په دوران کښې په همسا تکیه وهل

١٤٤٤—(١)[١٩] ١ وَعَنِ الْبَرَاءِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -: ٢ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نُووِلَ يَوْمَ الْعِيدِ قَوْسًا ٣ فَخَطَبَ عَلَيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ حضرت براء رضی الله عنه راوي دي ٢ چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې یوه لینده پیش کړل شوه ٣ نو حضور ﷺ د هغې په اډانه سره خطبه اوفرمایله. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① نُووِلَ: پیش کړې شوه، ② قَوْسًا: لینده.

تسهیلات: قوله: نُووِلَ يَوْمَ الْعِيدِ قَوْسًا:

د خطبې په دوران کښې د همسا وغیره نیولو حکم: - رسول الله ﷺ مبارك نیزه یا کمان په لاس کښې صرف دَدې دَپاره نه ده اخستې چه حضورپاك دَخطبې دَپاره دَ تکیه اخستلونه بغیر اودریدې نه شو بلکه حضورپاك په دې څیزونوسره اشاره اوفرمائیله چه دَاسلامی احکاماتو دَ حفاظت دَپاره جهادضروری دې اودَ جهاددَپاره توره نیزه اوکمان ضروری دې. هم دغه وجه ده چه حضور پاك وسله او اوزار په استعمال کښې راوړلې دی ګنی دَتکیه دَپاره خو همساوی دَکوم ملاویدل چه څه ګران کار نه دې. علماء لیکلی دی چه مسلمانانو کومې علاقې دَجهادپه ذریعه فتح کړی دی هلته نیزه او لنده په لاس کښې ساتل پکاردی اوپه نورو علاقوکښې دې دَ همسانه کار واخلی. بهرحال نَن صبا په حرمین شریفین کښې ائمه په لاس کښې همسا اخلی دادَ تکیه دَپاره نه بلکه صرف دَ سنت پوره کولودَپاره وی.

علامه آلوسی او د قرآن پاک ادب: - علامه روح المعانی رحمه الله دَ قرآن کریم یوحرف ته چه کله زائد وئیلې دې نو دَ ادب په توګه دَدې تشبیه دَخطیب تورې سره ورکوی چه هذاالحرف سیف خطیب یعنی صرف دَ خودلوتوره ده دَ کارنه ده. په راتلونکی روایت کښې عنزه نوم راغلې دې یعنی نیزه، دا نیزه هم تارخی نیزه وه چه دَحضرت زبیر رضی الله عنه وه. په بدر کښې یومشهورکافر په سترګه وهلې وو اودا په هغې کښې انختې وه. په راویستلوکښې په زور سره دا کګه شوه کومه چه نوره تاریخی جوړه شوه. حضورپاك دَ سُترې وغیره دَپاره دادیره زیاته استعمال کړې بیاخلفاء راشدین رضی الله عنهم استعمال کړه.

[١٤٤٥] د خطبې په دوران کښې په نیزه باندې تکیه وهل

١٤٤٥—(٢)[٢٠] ١ وَعَنْ عَطَاءٍ مُرْسَلًا: ٢ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا خَطَبَ ٣ يَعْتَمِدُ عَلَى عَنَزَتِهِ اعْتِمَادًا». رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت عطاء بطریق ارسال روایت کوي ٢ چې نبي کریم ﷺ چې به خطبه

---

[1] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب ترک الأذان فی العید (رقم-١١٤٥)

[2] اخرجه الشافعی فی کتاب العیدین /باب کان اذا خطب... رقم الحدیث ٣١٨

ارشاد فرمایله [۳] نو په خپله نیزه باندې تیك (تکیه) لګولو سره به ودریدلو (شافعي)

حل اللغات:- ① يَعْتَمِدُ: تکیه او سهاره به ئې اخستله، ② عَنَزَة: نیزه.

تسهیلات:

نوټ: د دې حدیث تشریح په مخکې حدیث نمبر ۱۴۴۴ کښې اوګورئ صرف دومره فرق دې چې هلته د عصا ذکر دې اودلته د عنزه باقي د دواړو حکم یو دې.

[١٤٤٦] د اذان او اقامت څخه بغیر د اخترونو مونځونه کول

۱۴۴۶-(¹)[۲۱][۱] «وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] شَهِدْتُ الصَّلَاةَ مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي يَوْمِ عِيدٍ، [۳] فَبَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ، بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ، [۴] فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ قَامَ مُتَّكِئًا عَلَى بِلَالٍ، [۵] فَحَمِدَ اللَّهَ، وَأَثْنَى عَلَيْهِ، [۶] وَوَعَظَ النَّاسَ، وَذَكَّرَهُمْ، [۷] وَحَثَّهُمْ عَلَى طَاعَتِهِ، [۸] وَمَضَى إِلَى النِّسَاءِ وَمَعَهُ بِلَالٌ، [۹] فَأَمَرَهُنَّ بِتَقْوَى اللَّهِ، [۱۰] وَوَعَظَهُنَّ، وَذَكَّرَهُنَّ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضی الله عنه راوي دي [۲] چې د اختر په ورځ زه د نبي کریم ﷺ سره په لمانځه کې شریك شوم [۳] حضور ﷺ د اذان او تکبیر څخه بغیر د خطبې څخه مخکې یې مونځ شروع کړو [۴] کوم وخت چې د لمانځه څخه فارغ شو نو (د خطبې د پاره) د بلال رضی الله عنه سهاره اخستو سره ودریدلو [۵] حضور ﷺ د الله تعالی جل جلاله حمد او د هغه تعریف بیان کړو [۶] خلقو ته یې نصیحت وکړو او د عذاب او ثواب احکام یې ورياد کړل [۷] او د الله تعالی جل جلاله د بندګۍ کولو ترغیب یې ورکړو [۸] بیا حضور ﷺ د ښځو د جماعت طرف ته متوجه شو بلال رضی الله عنه هم د حضور ﷺ سره وو [۹] (هلته هم) حضور ﷺ ښځو ته د الله تعالی جل جلاله څخه د ویرېدو حکم ورکړو [۱۰] اوهغوئ ته یې نصیحت وکړو او هغوئ ته یې د عذاب او ثواب (احکام) ورياد کړل. (نسایي)

حل اللغات:- ① وَحَثَّهُمْ: تیزول ئې هغوی، ترغیب ئې ورکولو هغوی ته.

تسهیلات:

نوټ:- د دې حدیث تشریح په حدیث نمبر ۱۴۲۹ کښې تیره شوې ده.

[١٤٤٧] عیدګاه ته د تلو طریقه

۱۴۴۷-(²)[۲۲][۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا خَرَجَ يَوْمَ الْعِيدِ فِي طَرِيقٍ [۳] رَجَعَ فِي غَيْرِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

---

¹) اخرجه البخاري فی کتاب العیدین /باب المشی والرکوب، إلی العید، والصلاة قبل الخطبة بغیر أذان ولا إقامة (رقم-۹۶۱) ومسلم کتاب صلاة العیدین (رقم) ٤ - (۸۸۵) والنسائی کتاب صلاة العیدین /باب قیام الإمام فی الخطبة متوکئا علی إنسان (رقم-۱۵۷۵)

²) اخرجه الترمذی کتاب العیدین/باب ما جاء فی خروج النبی صلی الله علیه وسلم إلی العید فی طریق، ورجوعه من طریق آخر (رقم-٥٤١) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی الخروج یوم العید من طریق والرجوع من غیره (۱۳۰۱)

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي [٢] چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم به د اختر په ورځ (عيدګاه ته) په يوه لاره تشريف يوړلو [٣] نو په دويمه لار به واپس راتلو. (ترمذي دارمي)

حل اللغات:- ① رَجَعَ فِي غَيْرِهِ: په بله لار به واپس كيدلو.

تسهيلات: قوله : رَجَعَ فِي غَيْرِهِ:

عيدګاه ته د تلو آداب:- عيدګاه ته د تللو دپاره يوه لاره او د واپس راتلو دپاره دويمه لار اختيار كول پكاردي. د دې حكمت او وجه مخكښې حديث نمبر ١٤٤٣ كښې بيان كړې شوې ده.

عيدګاه ته د پيدل تلو استحباب:- فقهاؤ ليكلي دي چه عيدګاه پورې پيدل تلل مستحب دي. سوريدل بغير د ضرورت نه غيراولى دى. د اختر مونځ دپاره په تلو راتلو كښې په اوچت آواز سره تكبيرات تشريق وئيل بهتر دى. په لوئى اختر كښې خود ټولو اتفاق دې البته په وړوكى اختر كښې صاحبين د دې قائل دى او امام ابوحنيفه رحمه الله قائل نه دې هغه فرمائي چه په مزه مزه وئيل پكار دى.

[١٤٤٨] د عذر په وجه په جمات كښې د اختر د مونځ كولو جواز

١٤٤٨—(١)[٢٣] [١] وَعَنْهُ: [٢] «أَنَّهُ أَصَابَهُمْ مَطَرٌ فِي يَوْمِ عِيدٍ، [٣] فَصَلَّى بِهِمُ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- صَلَاةَ الْعِيدِ فِي الْمَسْجِدِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوي دي [٢] چې (يو ځل) د اختر په ورځ باران وشو [٣] نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم صحابه ؤ رضي الله عنهم ته په مسجد كې مونځ وركړو. (ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① مَطَرٌ: باران.

تسهيلات:

قوله : صَلَاةَ الْعِيدِ فِي الْمَسْجِدِ:

په جمات كښې د اختر د مونځ جواز:- مطلب دادې چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم به د اخترونو مونځ بهر په صحرا (په فراخه ميدان كښې) ادا كولو خو چې كله به باران وغيره وو نو نبى كريم صلى الله عليه وسلم به مسجد نبوى كښې مونځ ادا كولو. ددې نه معلومه شوه چې د اختر مونځ دې په عيدګاه كښې ادا كړې شي او كه څه عذر وى نو بيا په جمات كښې هم ادا كول جائز دى.

[١٤٤٩] په وړوكى اختر كښې د تاخير اولوئى اختر كښې د تعجيل مسنونيت

١٤٤٩—(٢)[٢٤] [١] وَعَنْ أَبِي الْحُوَيْرِثِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-: [٢] «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَتَبَ إِلَى عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ وَهُوَ بِنَجْرَانَ: [٣] عَجِّلِ الْأَضْحَى، وَأَخِّرِ الْفِطْرَ، [٤] وَذَكِّرِ النَّاسَ». رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ.

[١]) اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة، باب يصلى بالناس العيد فى المسجد إذا كان يوم مطر (رقم-١١٦٠) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فى صلاة العيد فى المسجد إذا كان مطر (رقم-١٣١٣)

[٢]) اخرجه الشافعى فى كتاب العيدين /باب ان عجل الاضحى... رقم الحديث ٢٩٩

ترجمه: [۱] حضرت ابو الحويرث رحمه الله راوي دي [۲] چې رسول الله ﷺ عمرو ابن حزم ته چې په نجران کې وو دا (حکم) ليکلي اوليږلو [۳] چې د لوي اختر مونځ په تلواري سره او د وړوکی اختر مونځ په تاخير سره اداء کوه [۴] او (په خطبه کې) خلقو ته پند او نصيحت کوه. (شافعي)

حل اللغات: - ① نَجْرَانَ: په يمن کښې د يو ځای نوم دی. ② عَجِّلِ: جلتي کوئ (يعنی وختی کوئ). ③ أَخِّرِ: روسته کوه.

تسهيلات:

قوله: عَجِّلِ الْأَضْحَى، وَأَخِّرِ الْفِطْرَ:

په عيد الفطر کښې د تاخير او عيد الاضحى کښې د تعجيل صلاة حکمت: - نجران دَ يو ښار نوم دي دې وخت کښې دَ سعودی عرب په حکومت کښې دې. حضورپاك حضرت عمرو بن حزم رضي الله عنه دَ هغه ځائی ګورنر مقرر کړې وو دَ هغوی عمر هغه وخت اوياکاله وو. حضورپاك هغه ته حکم ورکړو چه دَ وړوکی اخترمونځ په تاخيرسره اداکړو مقصد داووچه خلق صدقه فطر دَ مانځه نه وړاندې اداکړی روژه ماتې هم اوکړی او دَ لوئی اخترمونځ په تادئی سره اداکړی مقصد دا ووچه خلق روستو قربانئی دَپاره فارغ شی.

[۱۴۵۰] دَ زوال ځخه روسته د اختر د مياشتې ليدلو په صورت کښې د اختر د مونځ ادا کولو ورځ

١٤٥٠ - (¹)[٢٥] [۱] وَعَنْ أَبِي عُمَيْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ عُمُومَةٍ لَهُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «أَنَّ رَكْبًا جَاءُوا إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] يَشْهَدُونَ أَنَّهُمْ رَأَوُا الْهِلَالَ بِالْأَمْسِ، [۴] فَأَمَرَهُمْ أَنْ يُفْطِرُوا، [۵] وَإِذَا أَصْبَحُوا أَنْ يَغْدُوا إِلَى مُصَلَّاهُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] ابو عمير ابن انس د خپلو ترونو ځخه چې د نبي کريم ﷺ د صحابه ؤ رضي الله عنهم ځخه وو نقل کوي [۲] چې يوه قافله د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضره شوه [۳] او دا شهادت يي ورکړو چې هغوئ پرون د اختر مياشت ليدلي ده [۴] نو حضور ﷺ صحابه ؤ رضي الله عنهم ته د روژې ماتولو حکم ورکړو [۵] او وي فرمايل چې صبا عيدګاه ته لاړشي. (ابوداؤ نسايي)

حل اللغات: - ① رَكْبًا: جمع د راکب ده مراد ترې قافله ده.

تسهيلات: **قوله: فَأَمَرَهُمْ أَنْ يُفْطِرُوا:**

په عهد رسالت کښې په يکم شوال د اختر اعلان: - دَ رمضان په ديرشم تاريخ دَ شپې مدينه منوره کښې دَ رسول الله ﷺ په زمانه کښې سپوږمئی ښکاره نه شوه په دې وجه دَ مدينې خلقو ديرشم رمضان روژه اوساتله. اتفاقی توګه باندې هم په هغه ورځ دَ بهرنه يوه قافله

---

¹) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة /باب إذا لم يخرج الإمام للعيد من يومه يخرج من الغد (رقم-١١٥٧) وابن ماجة کتاب الصيام/باب ما جاء فی الشهادة علی رؤية الهلال (رقم-١٦٥٣) والنسائی کتاب صلاة العيدين/باب الخروج إلی العيدين من الغد (رقم-١٥٥٧)

مدینې منورې ته راغله او هغوی د حضورپاك په وړاندې شهادت ورکړو چه مونږ پرون میاشت لیدلې ده.

د اختر په دویمه ورځ د اختر مونځ :- حضورپاك د دغه قافلې شهادت قبول کړو او صحابه کرامو ته ئې حکم ورکړو چه روژې ماتې کړئې خو دا خبر د زوال نه پس راغلې وو په دې وجه حضورپاك د اختر د مونځ باره کښې اوفرمائیل چه مونځ به صباله اداکیږي ځکه چه د اختر د مونځ وخت پاتې شوې نه وو په دې وجه حضورپاك په هغه ورځ د اختر مونځ ورنه کړو. هم په دې باندې د امام ابوحنیفه رحمه الله مسلك قائم دې چه د نمر د زوال نه پس که تیره شوې شپه باندې د میاشت د لیدو خبر راشي نو د اختر مونځ به صباله اداکولې شی ځکه چه د اختر د مونځ وخت د نمر د راؤچتیدو نه واخله ترزوال پورې دې. دغه شان که څه عذر پیښ شي نو د اختر مونځ په دویمه ورځ اداکولې شي په دریمه ورځ جائزنه دې او د لوئی اختر مونځ د دویمې دریمې ورځې پورې اداکولې شي سره د دې نه چه مکروه دې مګر جائزدې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٤٥١] د اخترونو په مونځونو کښې د اذان او اقامت نشتوالې

١٤٥١ ـ ( ) [٢٦] [١] عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ: أَخْبَرَنِي عَطَاءٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَا: [٢] لَمْ يَكُنْ يُؤَذَّنُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَلَا يَوْمَ الْأَضْحٰى، [٣] ثُمَّ سَأَلْتُهُ - يَعْنِي عَطَاءً - بَعْدَ حِينٍ عَنْ ذٰلِكَ، فَأَخْبَرَنِي قَالَ: [٤] أَخْبَرَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ: أَنْ لَا أَذَانَ لِلصَّلَاةِ يَوْمَ الْفِطْرِ حِينَ يَخْرُجُ الْإِمَامُ [٥] وَلَا بَعْدَ مَا يَخْرُجُ وَلَا إِقَامَةَ، [٦] وَلَا نِدَاءَ وَلَا شَيْءَ، لَا نِدَاءَ يَوْمَئِذٍ وَلَا إِقَامَةَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] ابن جریج رحمه الله وایي چه عطاء رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنه او جابر ابن عبدالله رضي الله عنه څخه نقل کړي دي چې هغوی اوویل [٢] نه خو به د وړوکی اختر په ورځ (د اختر د لمانځه د پاره) اذان کیدو او نه د لوي اختر په ورځ [٣] ابن جریج رحمه الله وایي چې څه موده وروسته بیا ما دوباره د عطاء رحمه الله څخه د دې مسئلې پوښتنه وکړه نو هغه وفرمایل [٤] ما ته جابر ابن عبدالله رضي الله عنه ویلي دي چې د وړوکی اختر په ورځ د اختر د لمانځه د پاره اذان نشته نه خو د امام د بهر راوتلو په وخت [٥] او نه د امام راتلو نه پس او نه تکبیر [٦] او نه نداء شته او نه څه بل څه په دې ورځ نه نداء شته او نه تکبیر. (مسلم)

حل اللغات:- ① نِدَاءٌ: آواز.

تسهیلات:

قوله : ثُمَّ سَأَلْتُهُ - يَعْنِي عَطَاءً :

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب العیدین /باب المشی والرکوب إلی العید، والصلاة قبل الخطبة بغیر أذان ولا إقامة (رقم-٩٦٠) ومسلم کتاب صلاة العیدین (رقم) ٥ - (٨٨٦)



دتپوس او جواب پس منظر: - دَدې جملې مطلب دادې چه ابن جريج رحمه الله دَ خپل استاذ شيخ عطاء رحمه الله نه دَدې مسئلې پوښتنه کړې وه نوعطاء رحمه الله جواب ورکړې وو چه حضرت ابن عباس اوحضرت جابر رضي الله عنهما دواړو فرمائيلې ووچه اذان خوبه نه وړوکی اخترکښې کولې شو اونه په لوئی اخترکښې. ابن جريج رحمه الله کيدې شی دَ تفصيل معلومولوپه غرض دوباره هم دغه مسئله بيا دَحضرت عطاء رحمه الله نه پوښتنه اوکړه نودې وخت کښې شيخ عطاء رحمه الله صرف دَ جابر رضي الله عنه په حواله سره حديث بيان کړو اودَ ابن عباس رضي الله عنهما نوم ئې وانخستلو.

دغه شان جابربن عبدالله رضي الله عنه دې ځل صرف دَ عيدالفطرذکر اوکړو او دَعيدالاضحی ذکرئې اونه کړوځکه چه دَ دواړو مسئله اوذکرهم يوشان وو.

يو اشکال او په دوه طريقو د هغې حل: - ليکن دلته په دې حديث کښې باربار تاکيدونه راغلی دی دَدې څه وجه ده؟ چنانچه يوتاکيد خو ولانداءولاشيئ کښې دې کوم چه ان لااذان ولااقامة کښې دې داجمله لانداء ولاشيئ په تاکيد کښې راغلې ده. اوس سوال دادې چه دَدغه تاکيداتووجه څه ده آخردَدې تاکيداتو مقصد څه دې؟

په دې سوال دَ پوهيدلودَپاره بلکه په دې حديث باندې دَ پوهيدلودَپاره شيخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله اوملاعلی قاری رحمه الله تحقيق طرف ته رجوع کول ضروری دی دَدواړو ځان ځانله تحقيق دې.

داشکال د دفع کولو اوله طريقه: - شيخ عبدالحق رحمه الله فرمائی چه په دې حديث کښې "نداء" نه الصلوة الصلوة يادغه شان نور الفاظ مراددی چه دَ مونځ دَ خبرداری ورکولودَپاره کولې شی. دې نه پس لاشيئ لانداء دَتاکيددَپاره راوړلې شوې دې بياهم دَدغه تاکيددَپاره دَحديث آخری الفاظ لانداءيومئذولااقامة راوړلې شوې دې.

دَحديث مطلب دادې چه دَ اخترونودَمونځونودَپاره نه اذان شته اونه اقامت اونه دَدې نه علاوه دَ الصلوة الصلوة وغيره اعلانونه دی داټول ناجائزدی. دَشيخ عبدالحق رحمه الله مقصد دا دې چه په خلقو کښې کوم رواج دې چه اذان خونه کوی ليکن دَاخترونو دَمونځونودَپاره نور اعلانونه کوی په دې حديث سره ټول ممنوع ګرځی. دَ شيخ عبدالحق رحمه الله داتحقيق ډيرښکلې دې اوپه حديث باندې دَ پوهيدلودَپاره يوصفاکلام دې. [اشعة اللمعات: ۱/۹۴۶]

داشکال د دفع کولو دويمه طريقه: - دَدې په مقابله کښې دَ ملاعلی قاری رحمه الله تحقيق چه دَدې برعکس دې هغه فرمائی چه "ولانداء" نه واخله ترآخره پورې جمله دَ رومبی کلام دَپاره تاکيددې اودابه زيات مناسب وی چه نداء نه اذان مراد واخستې شی اوهم دَ اذان دَ نفی بار بار تاکيدمقصوددې ځکه چه دَاذان نه علاوه الصلوة الصلوة جامعة وغيره په الفاظ سره خلق دَ اختر دَ مونځ دَپاره راغوښتل مستحب دی لهذا دَدې نفی نه ده کيدل پکار نودَ نداء

نه اذان مراد اخستل زیات بهتردی.

دَملاعلي قاري رحمه الله دَ تشريح مقصد دادې چه بار بار کومه نفي شوې ده داصرف دَ اذان اواقامت نفي ده دې نه علاوه دَاعلاناتونفي نه ده.

په دواړو اقوالو کښې تطبيق :- اوس دا دواړه اقوال په خپل مينځ کښې متضاد دی. دَدې دَ تطبيق دَپاره دا وئيلې شي چه شيخ عبدالحق رحمه الله چه دکومې نفي حکم ورکړې دې هغه دَ دغه نداء نفي ده کومه چه په التزام سره عيدګاه کښې کولې شي په عيدګاه کښې دننه دغه شان په يوساچغي وهل جائزنه دی.اودَ ملاعلي قاري رحمه الله مطلب به داشي چه دَ عيدګاه نه بهرکله کله دغه شان الصلوة جامعة آواز لګولوسره خلق راغوښتې شي نوزيات حرج نشته دې.

بهرحال دَ ملاعلي قاري رحمه الله تحقيق دَ ظاهرحديث موافق نه دې. دَ شيخ عبدالحق رحمه الله تحقيق واضح اوبهتردې. نن صبادا بدعت پاکستان کښې موجودنه دې کيدې شي نورو ملکونوکښې وی.

[۱٤٥٢] په اخترونوکښې د خطبې محل

۱۴۵۲-(¹)[۴۷] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-: [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يَخْرُجُ يَوْمَ الْأَضْحَى وَيَوْمَ الْفِطْرِ فَيَبْدَأُ بِالصَّلَاةِ، [۳] فَإِذَا صَلَّى صَلَاتَهُ، قَامَ فَأَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، [۴] وَهُمْ جُلُوسٌ فِي مُصَلَّاهُمْ، [۵] فَإِنْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ ببعث ذَكَرَهُ لِلنَّاسِ، [۶] أَوْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ بِغَيْرِ ذَلِكَ أَمَرَهُمْ بِهَا، [۷] وَكَانَ يَقُولُ: تَصَدَّقُوا، تَصَدَّقُوا، تَصَدَّقُوا، [۸] وَكَانَ أَكْثَرَ مَنْ يَتَصَدَّقُ النِّسَاءُ. ثُمَّ يَنْصَرِفُ»،

ترجمه: [۱] ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د وړوکی او لوي اختر په ورځ (عيدګاه ته) تللو نو (مخکې) به يې مونځ کولو [۳] د لمانځه څخه چې به فارغ شو نو (د خطبې دپاره) به اودريدلو خلقو ته به متوجه شو [۴] خلق به د خپل لمانځه په ځاي ناست وو [۵] نوکه حضور صلی الله علیه وسلم به چرته لښکر ليږلو نو (هغه وخت به يې) د خلقو په مخکې د هغې ذکر کولو (اولښکر به يې ليږلو) [۶] يا دخلقو به څه بل حاجت وو (يعني د مسلمانانو د څه فائدې خبره به وه) نو د هغې په باره کې به يې حکم ورکولو [۷] او حضور صلی الله علیه وسلم به (د خپلې خطبې په دوران کي) دا فرمايل صدقه ورکړئ صدقه ورکړئ صدقه ورکړئ [۸] نو ښځو به زياته صدقه او خيرات ورکولو د دې څخه وروسته به حضور صلی الله علیه وسلم خپل مکان ته تشريف راوړو.

[۱] فلم يزل كَذَلِكَ حَتَّى كَانَ مَرْوَانُ بْنُ الْحَكَمِ [۲] فَخَرَجْتُ مُخَاصِرًا مَرْوَانَ حَتَّى أَتَيْنَا الْمُصَلَّى، [۳] فَإِذَا كَثِيرُ بْنُ الصَّلْتِ قَدْ بَنَى مِنْبَرًا مِنْ طِينٍ وَلَبِنٍ، [۴] فَإِذَا مَرْوَانُ يُنَازِعُنِي يَدَهُ، [۵] كَأَنَّهُ يَجُرُّنِي نَحْوَ الْمِنْبَرِ وَأَنَا أَجُرُّهُ نَحْوَ الصَّلَاةِ، [۶] فَلَمَّا رَأَيْتُ ذَلِكَ مِنْهُ قُلْتُ: [۷] أَيْنَ الِابْتِدَاءُ بِالصَّلَاةِ؟! [۸] فَقَالَ: لَا يَا أَبَا سَعِيدٍ، قَدْ تُرِكَ مَا تَعْلَمُ. [۹] قُلْتُ: كَلَّا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، [۱۰] لَا تَأْتُونَ بِخَيْرٍ مِمَّا أَعْلَمُ ثَلَاثَ مِرَارٍ، [۱۱] ثُمَّ انْصَرَفَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

¹) اخرجه مسلم كتاب صلاة العيدين (رقم) ۹ - (۸۸۹)

ترجمه: ١ [د حضور ﷺ زمانه مبارکه او د حضور ﷺ څخه وروسته د څلور خلفاؤ رضي الله عنهم په دور خلافت کې او د هغې څخه وروسته هم] دا معمول جاري وو (چي خطبه به د لمانځه څخه وروسته وه او خطبه به په منبر نه بلکه په زمکه ودریدو سره ویل کیده) تر دي چې (د امیر معاویه رضي الله عنه د طرف څخه د مدینې حاکم) مروان ابن حکم مقرر شو ٢ (یو ځل د اختر په ورځ) ما د مروان ابن حکم لاس په خپل لاس کې نیولي عیدګاه ته راغلو ٣ کوم وخت (چي عیدګاه ته راورسیدو نو څه ګورو چي) هلته کثیر ابن صلت د خاورو او کچه خښتو منبر جوړ کړي وو ٤ ناڅاپه مروان زه پخپل لاس سره راکښ کړم ٥ لکه چې هغه زه د منبر طرف ته ورکښولم (چي د لمانځه څخه مخکې خطبه اووائي) او ما هغه د لمانځه طرف ته کښولو (چي هغه مونځ مخکې وکړي او د هغه څخه وروسته خطبه اووائي) ٦ هر کله چې ماولیدل (چي هغه په خطبه ویلو باندې ټینګ دي) نو ما اوویل ٧ د اختر په ورځ مخکې د لمانځه کولو هغه عمل چرته دي؟ (چي په هغې د حضور ﷺ او خلفاء راشدینو د زماني څخه عمل کیدو) ٨ مروان اوویل چې اي ابوسعیده! رضي الله عنه جګړه مه کوه کومه خبره چې تا ته معلومه ده اوس هغه متروك ده (یعني ما د مصلحت په خاطر د خطبي څخه مخکې مونځ کول پریښې دي او مصلحت دا دي چه که خطبه د لمانځه څخه وروسته اوویل شي نو خلق به په ودریدو ودریدو سره تلل شروع کړي) ٩ ما ورته اوویل هیڅ کله نه، قسم دي په هغه ذات چې د هغه قبضه کې زما ساه ده ١٠ کوم شي چې زه پیژنم تاسو د هغې څخه بهتر شي نه شئ راوړلي ما دا خبره درې ځله هغه ته وکړه ١١ بیا (د مروان د دې فعل په وجه) ابوسعید رضي الله عنه (د عیدګاه څخه) لاړو او په جماعت کې شریك نشو. (مسلم)

حل اللغات: - ① مُخَاصِرًا: لاس په لاس اچول اوډ دوو سړو تللوته محاصره وائی چه لاس ئی ډډی ته نیزدې وی. ② طِينٍ : ختیه، ③لَبِنٍ: خښتته، ④يُنَازِعُنِي: نزاع جګړې ته وائی خو دلته ترې نه په زور راښکل مراد دی.

تسهيلات:

قوله: تَصَدَّقُوا:

د تکرار وجه: - تکرار دَتاکید دَپاره دې یادَ مختلف اقوالوطرف ته اشاره ده. یعنی ① صدقه ورکړه دَخپل ژوندَ پاره ② صدقه ورکړه دَخپل مرګ دَپاره ③ اوصدقه ورکړه دَخپل آخرت دَپاره.

قوله: مَرْوَانُ بْنُ الْحَكَمِ:

د مروان تعارف او بدکرداري: - داسړې دَ مدینې منورې ګورنرو دَحضرت معاویه رضي الله عنه دَ خلافت زمانه وه . مروان دَحضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کښي ډیرزیات نقصانات کړی دی. په جنګ جمل کښي ئی ډیر نقصان اوکړو دا ډیر هوښیار سړې وو اول ګورنروو بیابادشاه

شو. حضرت ابوسعيد خدری ﷺ يو ډير بهادر اوحق ويونکې انسان وو اودَ صحابی هم دغه شان وی.
دَ مروان خطبه به دَ يوځو شکايتونو غيبتونو مجموعه وه الاماشاء الله خلق به دَ مانځه نه پس اوريدو ته نه کيناستل. اوس خطبه اوتقرير په زور باندې اوريدلودَپاره مروان دا کوشش اوکړو چه خطبه دَ اختردّ مانځه نه وړاندې اوشی. صحابی ئی په راښکلو باندې دَممبر طرف ته بوتللوچه اول تقرير اوشی اوبيا مونځ. حضرت ابوسعيد خدری h هغه ته اوفرمائيل چه هغه دَ مانځه دَ شروع څه چل اوکړو؟ نوهغه اووئيل چه اول به هم دغه شان ووچه مونځ به اول اوخطبه به روستو کيدله ليکن اوس دغه طريقه پريخودې شوې ده. په دې باندې حضرت ابوسعيد خدری h اوفرمائيل په الله قسم ته دَ سنت په مقابله کښې هيڅ کله هم څه خيرنه شی راوړلې. دَدغه صحابی بهادرئی اوحق ويناته پوره سلام کول پکاردی. هم دغه هغه خلق دی دَ چاباره کښې چه الله تعالی ارشاد فرمائيلې دې ﴿وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ﴾ مروان په دو هجری کښې پيداشوې وو دا صحابی نه دې.

[۶۴/۴۸] بَابٌ فِي الْأُضْحِيَّةِ

دَقربانئی بيان

خلاصة الباب:-

فيه ثلاثة وعشرون حديثاً مشتملة على إحدى عشر مسئلة:

① آداب الأضحية: ۱، ۲، ۳-
② ثبوة الأضحيم عن عن النبی ﷺ: ۱، ۲، ۵، ۹، ۲۲-
③ ما تجوز به الأضحية: ۱، ۲، ۳، ۴، ۶، ۹، ۱۰، ۱۶، ۱۷-
④ أفضل مكان الأضحية: ۵-
⑤ بعض الأداب عند إرادة الأضحية: ۷-
⑥ فضيلة الأيام العشرمن شهر ذالحجة: ۸، ۱۹-
⑦ جواز الأضحية عن الميت: ۱۰-
⑧ أوصاف الأضحية ثبوتا ونفيا: ۱، ۹، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴
⑨ عدد الشركاء فی الأضحية: ۶، ۱۷-
⑩ فضيلة الأضحية: ۱۸، ۲۳-
⑪ وقت الأضحية وأيامها: ۲۰، ۲۱-

د ماقبل سره ربط:- صاحب مشکوة چه کله دَ عيدين په باب کښې دَدې اعمال اوافعال تذکره مکمل کړه او چونکه په عيدين کښې عيدالاضحی په اعمالو کښې دَټولونه اهم عمل

دقربانئی عمل وو په دې وجه ئې دهغې بیان شروع کړو.

د قربانئ ثبوت د قرآن پاک څخه :-

① قال الله تعالى ﴿إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْآخَرِ﴾ [سورة المائدة: ٣٧]

② وقال الله تعالى وقال الله تعالى ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾ [سورة الكوثر: ٢]

③ ﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝ لَا شَرِيكَ لَهُ﴾ [سورة الانعام: ١٦٢]

د الاضحية په تلفظ کښې لغات مختلفه :- شيخ اصمعی رحمه الله فرمائی چه په لفظ اضحيه کښې مختلف لغات دی:

① اضحيه دهمزه د ضمه سره

② اضحيه کسره سره ددې دواړو لغتونو جمع اضاحی راځی.

③ ضحية په ضمه د ضاد ددې جمع ضحايا راځی.

④ اضحاة بفتح الهمزه.

د قربانئ په حکم کښې مذاهب

په دې خبره باندې د ټولو اتفاق او اجماع ده چه د الله تعالى په نيز په يوم الاضحى کښې قربانی يو ډير زيات محبوب او مقبول عمل دی مګر د فقهاؤ په دې کښې اختلاف دی چه آيا قربانی کول واجب دی که سنت.

① دعلامه ابن رشد رحمه الله دتحقيق مطابق د ائمه ثلاثه په نيز د قربانئی عمل سنت مؤکده دی.

② د ائمه احناف په نيز په مالدار او مقيم باندې قربانی واجب ده البته امام طحاوی رحمه الله فرمائيل چه د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز واجب ده او د صاحبين حضرات په نيز سنت مؤکده ده.

د اول فريق دلائل :-

① د دې باب د فصل اول حضرت ام سلمه رضي الله عنها حديث نمبر ١٣٥٩ د دوی مستدل دی. په کوم کښې چه دا الفاظ راغلی دی (اذا دخل العشر واراد بعضكم ان يضحى الخ) په دې حديث کښې د اراد د الفاظو نه معلوميږی که څوك د قربانئی اراده اونه کړی نو ضروری نه دی. دا د سنت کيدو دليل دی.

د اول فريق د اول دليل جواب:- د اراد الفاظ سره د وجوب نفی مراد اخستل مناسب نه دی. په يو حديث کښې دی حضور پاك فرمائيلی (من اراد الحج فليعجل) دلته د اراد نه نفی د وجوب څنګه اخستلې شی؟ يو حديث کښې راغلی دی چه (ومن اراد الجمعة فليغتسل) دلته د جمعې په باره کښې د اراد لفظ راغلې دی.

د اول فريق دويم او دريم دليل :-

② د دې باب حديث نمبر ١٣٧٦ د دوی مستدل دی (سنة ابيكم ابراهيم) کښې د سنت اطلاق

شوې دې. په کوم کښې چه په قربانئ باندې دَ سنت دَ لفظ اطلاق شوې دې
③دَ حضرت براء بن عازب ﷜ روايت نمبر ٢٣ د دوی مستدل دې (اصاب سنة المسلمين) په کوم کښې چه په قربانئ باندې دَ سنت دَ لفظ اطلاق شوې دې
داول فريق د دويم او دريم دليل مجموعی جواب: -دَ سنت نه اصطلاحی سنت مرادنه دې بلکه سنت دَ طريقې په معنی کښې اخستې شوې دې دادَوجوب منافی نه دې.
د دويم فريق دلائل: -دَ قرآن کريم آيت دې ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾ [سورة الکوثر: ٢] د دوی مستدل دې. دلته داصيغه دَ امرده اودَ قربانئ حکم دې اوامردَوجوب دَپاره دې. لهذا قربانی واجب ده.
②دَ حضرت ابوهريره ﷜ حديث د دوی مستدل دې دَ کوم الفاظ چه دادی (من كان سعة ولم يضح فلا يقربن مصلانا) (ابن ماجه)
په قربانئ نه کولوباندې داسې سخت وعيدنه اندازه کيږی چه قربانی کول واجب دی سنت نه دی.
③دَدې باب فصل ثالث حديث نمبر ١٣٧٢دې په کوم کښې چه دا الفاظ راغلی دی (من كان ذبح قبل ان نصلی فليذبح مكانها اخری) دلته امرهم دې کوم چه دَ وجوب دليل دې. دَ يوې قربانئ په خرابيدوباندې حضورپاك دَهغې په ځائی دَ دويمې قربانئ کولوحکم ورکړې داقضاکول هم دَ وجوب دليل دې.
④دَمشکوة دَ فصل ثالث حديث نمبر ١٣٧٦هم د دوی مستدل دې. چه حضوراکرم په مدينه منوره کښې لس کالوپورې مسلسل قربانی کړې ده اودائی کله هم نه ده پريخودې داهم دَ وجوب دليل دې.
⑤دَحضرت انس ﷜ مرفوع حديث الفاظ دای (من ذبح قبل الصلوة فليعد) [بخاری کتاب العيدين ص ١٨٩] دَ قربانئ دَ دوباره کولو دا حکم دَ قربانئ دَواجب کيدو دليل دې.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[١٤٥٣]دقربانئ څاروې په خپل لاس قربانی کول

١٤٥٣ –()[١] ١ عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «ضَحَّى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِكَبْشَيْنِ

[١]) اخرجه البخاری فی كتاب الأضاحی/باب وضع القدم علی صفح الذبيحة (رقم-٥٥٦٤) ومسلم كتاب الأضاحی/باب استحباب الضحية، وذبحها مباشرة بلا توكيل، والتسمية والتكبير(رقم-١٧ - (١٩٦٦) وابوداود كتاب الضحايا/باب ما يستحب من الضحايا (رقم-٢٧٩٤)والترمذی كتاب الأضاحی عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الأضحية بكبشين (رقم-١٤٩٤) والنسائی كتاب الضحايا/باب الكبش (رقم-٤٣٨٧) وابن ماجة كتاب الأضاحی/باب أضاحی رسول الله صلی الله عليه وسلم (رقم-٣١٢٠) والدارمی من كتاب الأضاحی/باب السنة فی الأضحية

أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، [٣] ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ وَسَمَّى وَكَبَّرَ [٤] قَالَ: رَأَيْتُهُ وَاضِعًا قَدَمَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا وَيَقُولُ: بِسْمِ اللهِ، وَاللهُ أَكْبَرُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه راوي دي [١] چې رسول الله ﷺ د دوو ښکرونو والا پسونو (يعني چې د هغې ښکرونه اوږده وو يا دا چې ښکرونه يې مات نه وو) او کمر (برګ يعني د تور او سپين رنګ وو) قرباني وکړه [٣] رسول الله ﷺ بسم الله والله اکبر ويلو سره په خپل لاس مبارك سره هغه ذبح کړل [٤] حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې ما وليدل چې رسول الله ﷺ د هغې په اړخ يا په غاړه باندې پښه مبارکه ايښي وه او بسم الله والله اکبر يې وئيل. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① كَبْشَيْنِ: دګبش تثنيه ده. دوه ګډان، ② أَمْلَحَيْنِ: برګې دوه ګډان، دَ تور اوسپين رنګ برګې ته املح وائي. ③ أَقْرَنَيْنِ: ښکرونو والادوه ګډان، ④ صِفَاحِهِمَا: صفاح اړخ ته هم وئيلې شي اوهم دغه شان صفاح مخ او اننګې ته هم وئيلې شي.

تسهيلات:

قوله: ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ:

دَ قربانئ کونکي دَپاره مستحب دي چه که هغه دَ قربانئ کولو آداب پيژني نوهغه دې په خپل لاس باندې پخپله ذبح اوکړي ګني په بل صورت کښې دې په يوبل سړي باندې ذبح اوکړي او پخپله دې هلته موجود وي يا چه دَهغه دَ طرف نه اجازت وي.

قوله: وَسَمَّى وَكَبَّرَ:

د قربانۍ په وخت بسم الله او تکبير وئيل: - باقي دَ ذبح کولو په وخت بسم الله وئيل دَ احنافو په نيز شرط دې او الله اکبر وئيل دَ ټولو علماؤ په نيز مستحب ده. بسم الله والله اکبر واؤ سره اداکول زيات بهتردی. دَ ذبح په وخت درودشريف وئيل دَ جمهورفقهاؤ په نيز مکروه دی.

[١٤٥٤] دَقربانئ دګډ صفات

١٤٥٤-(١)[٢] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا-: [٢] «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَمَرَ بِكَبْشٍ أَقْرَنَ، [٣] يَطَأُ فِي سَوَادٍ، [٤] وَيَبْرُكُ فِي سَوَادٍ، [٥] وَيَنْظُرُ فِي سَوَادٍ، [٦] فَأُتِيَ بِهِ لِيُضَحِّيَ بِهِ، [٧] قَالَ: يَا عَائِشَةُ، هَلُمِّي الْمُدْيَةَ، [٨] ثُمَّ قَالَ: اشْحَذِيهَا بِحَجَرٍ، فَفَعَلَتْ، [٩] ثُمَّ أَخَذَهَا وَأَخَذَ الْكَبْشَ، [١٠] فَأَضْجَعَهُ ثُمَّ ذَبَحَهُ، ثُمَّ قَالَ: [١١] بِسْمِ اللهِ اللَّهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُحَمَّدٍ، وَآلِ مُحَمَّدٍ، [١٢] وَمِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ، [١٣] ثُمَّ ضَحَّى بِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] بي بي عائشه رضي الله عنها راويت کوي [٢] چې رسول الله ﷺ (د قرباني د پاره) د يو داسې ښکرور پسه د راوستلو حکم وکړو [٣] چې په سياهي کې ګرځي (يعني د هغې پښې

[١] اخرجه مسلم في كتاب الأضاحى /باب سن الأضحية (رقم) ١٩ - (١٩٦٧) وابوداود كتاب الضحايا/باب ما يستحب من الضحايا (رقم-٢٧٩٢)

توري وي) ۴ په سياهي کې کيني (يعني د هغې نس او سينه توره وي) ۵ او په سياهي کې ويني (يعني د هغه د سترګو شاوخوا توروالي وي) ۶ نو (هر کله) چې د قرباني د پاره ورته دغسې پسه راوستل شو ۷ (نو) وي فرمايل چې اي عائشه! رضي الله عنها چاړه راوړه ۸ (کله چې چاړه راوړل شوه نو) وي فرمايل چې دا په کاڼړي (مبنولو سره) ښه تيره کړه ما چاړه تيره کړه ۹ نو حضور ﷺ هغه چاړه واخسته او پسه يي اونيولو ۱۰ هغه يي څملولو بيا چې د هغې د ذبح کولو اراده يي وکړه نو دا يي وفرمايل: ۱۱ بِسْمِ اللّٰهِ اللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُحَمَّدٍ وَآلِ مُحَمَّدٍ وَمِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ (اي الله! دا قبوله کړې د محمد ﷺ او آل محمد ﷺ د طرف څخه ۱۲ او د امت محمد ﷺ د طرف څخه قبول کړې) ۱۳ بيا يي هغه ذبح کړو. (مسلم)

حل اللغات:- ① كَبْش: ګډ، پيسه، ② أَقْرَن: ښکرونو والا، ③ يَطَأُ: دَ خپولاندې کولو په معنی کښې دې مراد تلل دی. ④ يَبْرُكُ: دَ کيناستو په معنی کښې دې. ⑤ هَلُمِّي: راوړه، ⑥ الْمُدْيَةَ: چاړه، ⑦ اشْحَذِيهَا: چاړه تيره کولو ته تشحيذ وائی. ⑧ فَأَضْجَعَهُ: هغه ئې څملولو.

تسهيلات: قوله : يَطَأُ فِي سَوَادٍ:

دحديث دبعضې جملوو ضاحت:-

① فِي سَوَادٍ: يعنی هغه ګډ برګ وو دَ خپو غاړې ئې توري وې باقي سپين وو. خله اودَ سترګو دائرې ئې توري وې اوباقي سپين وو. سينه وغيره ښکته حصه ئې توره وه باقي سپين وو. ددې رنګ څاروې دَ ټولو نه زيات ښائسته ښکاری.

② اشْحَذِيهَا: فقهاؤ ليکلی دی چه دَ يو څاروی مخامخ بل څاروې ذبح کول مکروه دی. دغه شان چاړه تيره کول اوذبح کول مستحب دی.

③ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ: دَامت په ثواب کښې دَ شرکت دعاغوښتلې شوې ده ګنې دَ يو ګډ په قربانئی کښې پوره امت څنګه شريکيدې شي؟

[۱۴۵۵] په ګډو کښې دعمر حد

۱۴۵۵ - (۱) [۳] ۱ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «لَا تَذْبَحُوا إِلَّا مُسِنَّةً، ۳ إِلَّا أَنْ يَعْسُرَ عَلَيْكُمْ، فَتَذْبَحُوا جَذَعَةً مِنَ الضَّأْنِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ تاسو (په قرباني کې) يوازي مسنه (يوکلن) حيوان ذبح کوئ ۳ که مسنه نه وي نو بيا د پسه جذعه (شپږ مياشتو بچي) ذبح کوئ. (مسلم)

---

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الأضاحی/باب سن الأضحية (رقم) ۱۳ - (۱۹۶۳) وابوداود کتاب الضحايا/باب ما يجوز من السن فی الضحايا (رقم-۲۷۹۷) والنسائی کتاب الضحايا/باب المسنة والجذعة (رقم-۴۳۷۸) وابن ما جة کتاب الأضاحی/باب ما تجزئ من الأضاحی (رقم-۳۱۴۱)

حل اللغات: - ① مُسِنَّةً: دعمر په لحاظ سره مختلفو څاروو ته مسنه وائی لکه پنځه کلیز اوښ، دغه شان نور څاروی چې تفصیل ئې لاندې په شرح کښې راځی. ② جَذَعَةً: دیو کال څخه کم او د شپږو میاشتو څخه زیات عمر والا څرب ګډ، ③ الضَّانِ: ګډ.

تسهیلات: قوله : مُسِنَّةً:

د جذعه او مسنه تعریفونه: - جذعۀ او مسنۀ دَ څه خاص څاروی نوم نه دې بلکه اصطلاحی الفاظ دی چه دَ قربانئې دَ څاروی دَعمر دَ پاره استعمالولې شی. چنانچه دَحنفی مذهب مطابق دَدې الفاظ تشریح داسې ده چه په اوښانو کښې مسنۀ هغه اوښ وی چه دَ کوم دَ عمر پنځه کاله چه پوره شوی وی او هغه په شپږم کال کښې داخل شوې وی. په غوا غوئی او میخه کښې مسنه هغه وی چه دوه کاله ئې پوره کړې وی او په دریم کښې داخل شوې وی. چیلئی ګډه او ګډ کښې مسنه هغه وی چه دَخپل عمر یو کال ئې پوره کړې وی او په دویم کښې داخل شوې وی او که دَ ګډ او ګډې چرته جذعه هم وی نو دَهغې قربانی هم جائز ده. جذعه دَ ګډې او ګډ هغه بچې وی دَ کوم عمر چه دَ یو کال نه کم مګر شپږ میاشتې یا دَدې نه زیات وی. داتفصیل دَ احنافو دَ مسلك مطابق دې.

بعضې علماء فرمائی چه جذعه یعنی دَ ګډې دَ شپږو میاشتو بچې دې دَهغې قربانی په هغه صورت کښې جائز کیږی چه هغه دومره څورب اوچاق وی چه که دَ یو کال بچې هغې سره اودرولې شی نو هغه بالکل دَهغې برابر معلومیږی.

[١٤٥٦] دَ چیلئی دَ بچې قربانی کول

١٤٥٦ — (١) [٣] ١ «وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: ٢ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَعْطَاهُ غَنَمًا يَقْسِمُهَا عَلَى صَحَابَتِهِ ضَحَايَا، ٣ فَبَقِيَ عَتُودٌ، فَذَكَرَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٤ فَقَالَ: ضَحِّ بِهِ أَنْتَ. ٥ وَفِي رِوَايَةٍ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَصَابَنِي جَذَعٌ. ٦ قَالَ: (ضَحِّ بِهِ)» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت عقبه ابن عامر ﷛ څخه روایت دي ٢ چې نبي کریم ﷺ هغه ته د بزو یوه رمه ورکړله چې هغه په صحابه ؤ ﷡ کې د قرباني د پاره تقسیم کړي نو هغه تقسیم کړه ٣ د تقسیم څخه وروسته د بزي (چیلئ) یو بچي باقي پاتې شو هغه په دي باره کې حضور ﷺ ته ذکر وکړو ٤ نو حضور ﷺ وفرمایل چې هغه ته قرباني کړه ٥ او د یو روایت الفاظ دا دي چې ما عرض وکړو یا رسول الله ﷺ ماته یو بچي ملاو شوې دي ٦ حضور ﷺ وفرمایل هغه قرباني کړه. (بخاري مسلم)

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الأضاحی /باب قسمة الإمام الأضاحی بین الناس (رقم-٥٥٤٧) ومسلم کتاب الأضاحی /باب سن الأضحیة (رقم-١٦ - (١٩٦٥) والترمذی کتاب الأضاحی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی الجذع من الضأن فی الأضاحی (رقم-١٥٠٠) والنسائی کتاب الضحایا /باب المسنة والجذعة (رقم-٤٣٧٩) وابن ماجة کتاب الأضاحی /باب ما تجزئ من الأضاحی (رقم-٣١٣٨)

حل اللغات: - ① عَتُودٌ: دَ چیلئ هغه بچی ته عتود وائی چه چاق اوتازه وی اودَ یوکال وی. ② جَذَعٌ: دشپږوْ میاشتو څخه زیات عمر والاځرب ګڼوري،

تسهیلات: قوله : فَبَقِيَ عَتُودٌ:

د عتود په تشریح کښې اقوال: -

① دَدې حدیث نه معلومه شوه چه دَ چیلئ دَ یوکال بچی قربانی جائز ده او هم دغه دَامام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دې خو امام شافعي رحمه الله دَ چیلئ دپاره دوو کالوعمر ضروی ګڼړی.

② بعضې علماء فرمائی چه عتوددَ چیلئی هغه بچی ته وائی چه دَ شپږو میاشتونه زیات وی اود کال نه کم وی.

په عتود باندې د قربانۍ د جواز خصوصی حکم: - په دې صورت کښې دَ عتود دَ قربانئی دَپاره قبلـول دَحـضوراکرم ﷺ خـصوصیت هـم وو اودَ دغـه سـړی خـصوصیت هـم وو. دَعـامو مسلمانانودَپاره دَ چیلئی دَ دغه شان بچی قربانی کول جائز نه دی لکه څنګه چه دَ نورو روایتونو نه په واضح توګه معلومیږی چه دادَدې سړی دَپاره خصوصی حکم وو.

[١٤٥٧] په عیدګاه کښې دقربانی افضلیت

١٣٥٧ — (١) [٥] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [٢] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَذْبَحُ وَيَنْحَرُ بِالْمُصَلَّى». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] ابن عمر رضی الله عنهما فرمايي [٢] چې رسول الله ﷺ به په عیدګاه کې د قرباني حیوان ذبح او نحر کولو. (بخاري)

علماء لیکي چې په عیدګاه کې قرباني کول افضل دي.

حل اللغات: - ① يَنْحَرُ: د اوښ ذبح کولو ته نحر وائی. ② الْمُصَلَّى: دمونځ ځائ (عیدګاه مراد ده).

تسهیلات:

قوله : وَيَنْحَرُ بِالْمُصَلَّى :

د مصلی څخه مراد: - مصلی نه مراد قرب مصلی دی یعنی عیدګاه ته ئې نزدې ذبح کړه.

[١٣٥٨] په یواوښ کښې داووه کسانو شرکت

١٣٥٨ — (٢) [٦] [١] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] «الْبَقَرَةُ عَنْ سَبْعَةٍ، [٣] وَالْجَزُورُ عَنْ سَبْعَةٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَاللَّفْظُ لَهُ.

---

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب العیدین /باب النحر والذبح یوم النحر بالمصلی (رقم-٩٨٢)

[٢]) اخرجه مسلم فی کتاب الحج /باب الاشتراک فی الهدی وإجزاء البقرة والبدنة کل منهما عن سبعة (رقم-٣٥٢-١٣١٨) وابوداود کتاب الضحایا /باب فی البقر والجزور عن کم تجزئ؟ (رقم-٢٨٠٨) والنسائی کتاب الضحایا/باب ما تجزئ عنه البقرة فی الضحایا (رقم-٤٣٩٣)

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د قرباني د پاره يو غوا د اوو سړو د طرف څخه کافي ده [٣] او يو اوښ د اوو سړو د طرف څخه کافي دي. (مسلم ابوداؤد)

حل اللغات: - ① الْبَقَرَةُ: غوا، ② الْجَزُورُ: اوښ

تسهیلات: قوله : وَالْجَزُورُ عَنْ سَبْعَةٍ

د اوښ د قربانۍ د شرکاؤ په تعداد کښې مذاهب

ګډه چيلئ کښې صرف يوسړې قرباني کولې شي. غوا غوئې او ميخه کښې اووه کسان شرکت کولوسره قرباني کولې شي.

اوس مسئله دَ اوښ پاتې شوه نودې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① دَامام مالك رحمه الله او غيرمقلدينو په نيزپه يواوښ کښې دکورنئ لس کسان شريکيدو سره قرباني کولې شي.

② دَ جمهورو په نيزداصحيح نه ده بلکه اوښ غوا غوئې اوميخه کښې صرف اووه کسان قرباني کولې شي.

داول فريق دلائل: - دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما روايت حديث نمبر١٣٦٩ د دوی مستدل دې په دې کښې په اوښ کښې دَ لسو کسانو دَ شرکت سره دَ قربانئ کولوواضح ثبوت موجوددې.

داول فريق د اول دليل جوابونه: -

① دا نفلي قرباني ده واجب قرباني نه ده مثلاً دَحصول ثواب دَپاره څه خلق جمع شي اوقرباني اوکړي دغه شان قربانئ کښې لس دولس کسان شريکيدلې شي.

② دَ اوښ دَ قربانئ باره کښې مختلف روايتونه دي. بعضې کښې دَ اووه کسانوذکر دې بعضې کښې دَ لسو ذکردې نواحتياط په دې کښې دې چه اووه واخستې شي اودَ لسوصورت اختلافي دې هغه دې نه اخلي.

③ دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما روايت دَ زيربحث روايت مقابله نه شي کولې بلکه په دې سره هغه منسوخ شوې دې لهذا دغه د پريخودې شي اوَزير بحث حديث به قبلولې شي. بهرحال دَ لسو کسانو شرکت په هغه قرباني کښې جائزدې کومه قرباني چه دَ ثواب په توګه وی دَ وجوب په توګه نه وی. اوکه دَ ثواب په توګه په يواوښ کښې لس کسان شريك شي نوتيك ده مقصدئې صرف ثواب دې قرباني واجب نه ده.

د دويم فريق دليل: - زيربحث حديث نمبر١٣٥٨ د دوی مستدل دې چه په خپل مطلب باندې واضح دې.

[١٤٥٩] دَقربانی کونکی دَپاره دویښتو او نوکانو نه کټ کول

١٣٥٩ — (¹) [٧] ١ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ، وَأَرَادَ بَعْضُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ ٣ فَلَا يَمَسَّ مِنْ شَعْرِهِ وَبَشَرِهِ شَيْئًا، ٤ وَفِي رِوَايَةٍ: فَلَا يَأْخُذَنَّ شَعْرًا، ٥ وَلَا يَقْلِمَنَّ ظُفْرًا، ٦ وَفِي رِوَايَةٍ: مَنْ رَأَى هِلَالَ ذِي الْحِجَّةِ وَأَرَادَ أَنْ يُضَحِّيَ، ٧ فَلَا يَأْخُذْ مِنْ شَعْرِهِ وَلَا مِنْ أَظْفَارِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

توجمه: ١ بي بي ام سلمه رضي الله عنها راويه ده چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ هر كله چې د ذي الحجه اولني عشره شروع شی نو په تاسو کې چې کوم سړي د قرباني اراده کوي ٣ هغه (دي تر هغه وخته پورې چې قرباني ونه کړي) خپل ويښتان او نوکونه دي بالکل نه پرې کوي ٤ په يو روايت کې داسې دي چې نه دي ويښتان کټ کوی ٥ او نه دي نوکونه کټ کوي ٦ د يو بل روايت الفاظ دا دي چې کوم سړي د لوي اختر مياشت ووينی او هغه د قرباني کولو اراده لري ٧ نو هغه (دي تر قرباني کولو پورې) خپل ويښتان او نوکونه نه پرې کوي. (مسلم)

حل اللغات: - ① شَعْر: ويښته، ② بَشَر: چمړې ته وائی يعنی خپل بدن نه دې څه نه اخلی، (دلته نوکان مراد دی). ③ لَا يَقْلِمَنَّ: نه دې کټ کوی، ④ ظُفْرًا: نوکان، ⑤ اظفاره: نوکان.

تسهيلات:

قوله: فَلَا يَمَسَّ مِنْ شَعْرِهِ:

د نهي محمل: —

په حديث کښې چې کومه نهی راغلې ده چې څوک د قربانۍ اراده لری نو اولسمه ذی الحجه داخله شی نو خپل نوکان وغيره دې نه کټ کوی علامه ظفر عثمانی رحمه الله فرمائيلی دی چې دا په نهی تنزيهی باندې حمل ده که څوک د لسمې ذالحجې د داخليدو نه پس نوکان وغيره د خپل بدن زياتی حصې نه کټ کړی نو دا مستحب خبره ده. څه واجب نه ده. (فتاوی دارالعلوم ديوبند بتغير)

[١٤٦٠] د لسمې ذي الحجه د نيکو اعمالو فضيلت

١٣٦٠ — (²) [٨] ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ مِنْ هَذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشَرَةِ ٣ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الأضاحی/باب نهی من دخل عليه عشر ذی الحجة وهو مريد التضحية أن يأخذ من شعره، أو أظفاره شيئا(رقم) ٣٩ - (١٩٧٧) وابوداود کتاب الضحايا/باب الرجل يأخذ من شعره فی العشر وهو يريد أن يضحی (رقم-٢٧٩١) والترمذی کتاب الأضاحی عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ترک أخذ الشعر لمن أراد أن يضحی (رقم-١٥٢٣) والنسائی کتاب الضحايا (رقم-٤٣٦٣)

²) اخرجه البخاری فی کتاب العيدين /باب فضل العمل فی أيام التشريق (رقم-٩٦٩) وابوداود کتاب الصوم/باب فی صوم العشر (رقم-٢٤٣٨) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی العمل فی أيام العشر(رقم-٧٥٧) وابن ماجة کتاب الصيام/باب صيام العشر (رقم-١٧٢٧)

اللّٰهِ؟ ④ قَالَ: وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ، ⑤ إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذٰلِكَ بِشَيْءٍ» . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② په ورځو کښې داسې هيڅ ورځ نشته چې په هغې کې نيك عمل کول د الله ﷻ په نيز د دې لسو ورځو (د ذي الحجه اولني عشره) څخه زيات محبوب وي ③ صحابه و رضي الله عنهم عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ (د دې ورځو څخه علاوه په نورو ورځو کي) د الله ﷻ په لار کې جهاد کول هم (د دي ورځو د نيك اعمالو برابر) نه دي؟ ④ وي فرمايل چې هو، د الله ﷻ په لار کې جهاد کول هم (د دي ورځو د نيك اعمالو برابر) نه دي ⑤ مګر د هغه سړي جهاد چې د خپل سر ومال سره (د الله په لار کې د جنګ د پاره) وتلي وو او بيا راواپس نشو (د دي ورځو د نيک اعمالو څخه هم زيات افضل دي) (بخاري)

تسهيلات:

قوله: وَلَا الْجِهَادُ:

د عشر ذی الحجې په جهاد فوقيت: -دَ صحابه کرامو په زړه اودماغو کښې دَ جهادنقشه ډيره اوچته وه. چونکه دَدې فضائل ډيرزيات دی په دې وجه شك پيدا شو چه آيا دَ جهادنه هم دَدې عشرې اعمال اوچت دی؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه اودَ جهاد نه هم افضل دی. الاّ دا چه مجاهد جهاد ته لاړشی او پخپله شهيدشی او اس ئی هم مړشی. دَ پوره سرمايه قربانی اولګوی دکوم باره کښې چه دا اووئيلې شی:

دعشر ذی الحجه او د رمضان آخری عشرې په فضيلت کښې متضاد روايات اوپه هغې تطبيق: -اوس دلته دا بحث دې چه دَ رمضان آخری عشره دَ زيات فضيلت والاده که دَ ذوالحجهٔ اول عشره زياته دَ فضيلت والاده. دَ زير بحث حديث نه خومعلوميږی چه دَ ذوالحجه عشره دَ رمضان دَعشرې نه افضل ده. مګر علماؤ دَتطبيق په توګه داسې ليکلی دی چه ممکن ده چه دَ ذوالحجې دَ عشرې فضيلت دَ رمضان نه علاوه ايام باندې وی دَ عشره رمضان سره ئی مقابله نه وی. دويمه توجيه داده چه دواړه عشرې په جدا جدا حيثيت سره په يو بل باندې اوچتوالې حاصل وی. مثلاً عشره ذوالحجه په دې اعتبارسره افضل اوغوره ده چه په دې کښې دَ عرفې ورځ ده اودَ رمضان آخری عشره په دې اعتبارسره غوره ده چه په دې کښې شب قدر دې. که دَعشرې ذوالحجې نه دَ عرفې ورځ اخوا شی نوعشره رمضان غوره ده اوکه دَعشره دَ رمضان نه شب قدر اخواشی نو دَ عشره دَ ذوالحجې افضل ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٤٦١] د قربانۍ دعا

١٤٦١ - ()[٩] [١] عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «ذَبَحَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ الذَّبْحِ كَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، [٣] أَمْلَحَيْنِ، مَوْجُوءَيْنِ، [٤] فَلَمَّا وَجَّهَهُمَا قَالَ: إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي [٥] فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ عَلَى مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا، [٦] وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، [٧] إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ [٨] لَا شَرِيكَ لَهُ، وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ،

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي [٢] چې نبي کريم ﷺ د ذبح په وخت (يعني د لوي اختر په ورځ) دوه پسونه ذبح کول وغوښتل چې هغه ښکرور وو [٣] اوکمر (برګ) او خصي وو [٤] نو هغه يي مخ په قبله کړل او دا يي اوويل: إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ عَلَى مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ اللّٰهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ عَنْ مُحَمَّدٍ وَأُمَّتِهِ بِاسْمِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ (يعني زه خپل مخ د هغه ذات طرف ته متوجه کوم [٥] چې هغه آسمانونه او زمکه پيدا کړل په دي حال کې چې زه په دين ابراهيم يم چې توحيد منونکي وو [٦] او زه هم دمشرکينو څخه نه يم [٧] بيشکه زما مونځ، زما ټول عبادتونه، زما ژوند او زما مرګ (هرڅه) الله جل جلاله لره دي چې د ټولو جهانو پروردګار دي [٨] د هغه څوک شريك نشته او ما ته د دې حکم شوي دي او زه د مسلمانانو څخه يم.

حل اللغات: - ① أَقْرَنَيْنِ: ښکرونو والا، ② أَمْلَحَيْنِ: برګې دوه ګډان، دَ تور اوسپين رنګ برګې ته املح وائي، ابلق هم ورته وائي. ③ مَوْجُوءَيْنِ: وجأ يوجأ ووجاءً فهو موجوءٌ: دَ ټکولو او ټکړې کولو په معنى کښې دې، دوه خصي ګډان مراد دی. ④ حَنِيفًا: په حق دين باندې کلک اودريدونکې ⑤ نُسُك: د نسک څخه دلته قرباني مراد ده.

[١] اللّٰهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ، [٢] عَنْ مُحَمَّدٍ وَأُمَّتِهِ، [٣] بِسْمِ اللّٰهِ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ ذَبَحَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ. [٤] وَفِي رِوَايَةٍ لِأَحْمَدَ، وَأَبِي دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيِّ: «ذَبَحَ بِيَدِهِ وَقَالَ: بِسْمِ اللّٰهِ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، [٥] اللّٰهُمَّ هَذَا عَنِّي وَعَمَّنْ لَمْ يُضَحِّ مِنْ أُمَّتِي».

ترجمه: [١] اي الله دا قرباني ستا د ورکړې څخه ده او خالص ستا د رضا د پاره ده [٢] ته دا دمحمد ﷺ او د هغه د امت د طرف څخه قبوله کړي [٣] د الله جل جلاله په نامه سره او الله جل جلاله ډير لوي دي) د دې څخه وروسته حضور ﷺ ذبح وکړه، احمد ابوداؤد ابن ماجه دارمي، [٤] او د احمد، ابوداؤد او ترمذي په يو روايت کې دا الفاظ دي چې رسول الله ﷺ (دواړه

[١]) اخرجه ابوداود فى كتاب الضحايا/باب ما يستحب من الضحايا (رقم-٢٧٩٥) والترمذى كتاب الأضاحى/باب (رقم-١٥٢١) وابن ماجة كتاب الأضاحى/باب أضاحى رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-٣١٢١)

پسونه) په خپل لاس مبارك سره ذبح كړل او بسم الله والله اكبر یې وویل، [٥] ووې ویل اې الله دا قرباني زما د طرف څخه ده او زما د امت د هغه فرد د طرف څخه ده چې هغه قرباني نه ده كړي.

تسهیلات: "مَوْجُوءَيْنِ" هګئی چه كله دَ دوو كانړو په مینځ كښې ښه اوټكولې شی هغې ته وجاء وائی دلته هم دغه مراد دي. موجوء دَ اسم مفعول صيغه ده او موجوئین دَدې تثنیه ده.

دحدیث مطلب: - مطلب دا چه هغه دواړه ګډان خصی وو. چه كله یو ځناور دواړه هګئی اوویستلې شی هغې ته په عربی كښې خصی وائی. مګر چه كله هګئی په كانړی اوټكولې شی هغې ته وجاء وائی. بهرحال په دې عمل سره دَ قربانئی په ښاروی كښې غوښه كمیږی نه بلكه مزیداره كیدوسره زیاتیږی په دې وجه جائز بلكه احسن دی.

قوله: عَمَّنْ لَمْ يُضَحِّ مِنْ أُمَّتِي:

غریبانو خلقو ته تسلی: - دَ دې مطلب دادې چه زما دَ امت دَ كسانونه چه كوم خلق غریب اوبې وسه دی اودَ قربانئی طاقت نه لری دَهغوی دَ طرف نه دا قربانی ده چه ماسره هغوی له هم ثواب ورکړې شی. دَدې جملې دا مطلب نه دې چه دا قربانی دَهغوی دَ طرف نه هم قربانی ده ځكه چه پوره امت په یوه قربانئی كښې شریكیدې نه شی. البته په ثواب كښې شركت كیدې شی. او كه چرې دَ ټولو فقیرانو او غریبانانودَ طرف نه حقیقی قربانی مراد واخستې شی نوبیا دا دَ رسول الله ﷺ دَ خصوصیاتونه به شمیرلې كیږی. دَ نورو دَپاره به قاعده نه جوړیږی.

[١٤٦٢] دَمړو دپاره د قربانی جواز

١٤٦٢ — ()[١٠] [١] وَعَنْ حَنَشٍ قَالَ: [٢] رَأَيْتُ عَلِيًّا - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - يُضَحِّي بِكَبْشَيْنِ، [٣] فَقُلْتُ لَهُ: مَا هَذَا؟! [٤] فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَوْصَانِي أَنْ أُضَحِّيَ عَنْهُ، [٥] فَأَنَا أُضَحِّي عَنْهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه: [١] حضرت حنش فرمایي [٢] چې ما حضرت علي كرم الله وجهه دوه پسونه قرباني كونكي ولیدلو [٣] نو ما هغه ته اوویل چې دا څه دي؟ (یعني هر كله چې د یو پسه قرباني كافي ده نو دوه پسونه ولي قرباني كوي؟) [٤] هغه وفرمایل چې رسول الله ﷺ ما ته دا وصیت كړي وو چې (د هغه د وصال څخه وروسته) د هغه ﷺ د طرف څخه قرباني وكړم [٥] نو زه د هغه ﷺ د طرف څخه قرباني كوم. (ابوداؤد ترمذي)

[١]) اخرجه ابوداود كتاب الضحايا/باب الأضحية عن الميت (رقم-٢٧٩٠) والترمذى كتاب الأضاحى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الأضحية عن الميت (رقم-١٤٩٥)

تسهیلات:

قوله: فَأَنَا أُضَحِّي عَنْهُ:

دحضرت علی په قربانۍ کښې دوه احتمالات:-

① حضرت علی ﷺ د خپلې قربانۍ نه علاوه دوه ګډان د حضرت رسول کریم ﷺ د طرفه قرباني کول لکه څنګه چې به حضرت رسول کریم ﷺ په خپل ژوند مبارک کښې دوه ګډان قرباني کول.

② حضرت علی ﷺ به یوه قرباني د خپل طرفه کوله او یو ګډ به ئې د حضرت رسول کریم ﷺ د طرفه قرباني کولو. او په ظاهره دا معلومیږي چې دحضرت علی ﷺ دا د همیشه معمول وو چې هغوئ به هر کال د حضرت رسول کریم ﷺ د طرفه قرباني کوله.

د مړي د طرفه په قربانۍ کښې د ابن مبارک قول:- دا حدیث مبارک په دې خبره باندې دلالت کوي چې د مړي طرفنه قرباني کول جائز دي. اګرچې ځینې علماء کرام دا جائز نه ګڼړي. د ابن مبارک ﷫ قول دې چې ما ته دا خوښ دي چې د مړي دطرفه د الله ﷻ په لار کښې خرچ اوکړې شي. دهغه د طرفه دې قرباني اونه کړې شي ، او که د مړي د طرفه قرباني اوکړې شي نو هغه غوښه دې پخپله بالکل نه خوري بلکه ټوله دې دالله ﷻ په نوم تقسیم کړي.

[١٤٦٣] دَعیب دار څاروی د قربانۍ عدم جواز

١٤٦٣-()[١] ﴿١﴾ «وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ﴿٢﴾ أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ نَسْتَشْرِفَ الْعَيْنَ وَالْأُذُنَ، ﴿٣﴾ وَأَلَّا نُضَحِّيَ بِمُقَابَلَةٍ وَلَا مُدَابَرَةٍ ﴿٤﴾ وَلَا شَرْقَاءَ وَلَا خَرْقَاءَ». ﴿٥﴾ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، ﴿٦﴾ وَانْتَهَتْ رِوَايَتُهُ إِلَى قَوْلِهِ: وَالْأُذُنَ.

ترجمه: ﴿١﴾ حضرت علي کرم الله وجهه فرمايي ﴿٢﴾ چې رسول الله ﷺ مونږ ته حکم کړي دي چې مونږ د قرباني د حيوان سترګي او غوږ په ښه شان وګورو (چې څه داسې عيب او نقصان خو به پکې نه وي چې د هغې په وجه قرباني درست نه وي ﴿٣﴾ او دا حکم يې هم کړي دي چې) مونږ دهغه حيوان قرباني وکړو چې د هغه غوږ د مخ طرف څخه يا د شا د طرف څخه پرې شوې نه وي ﴿٤﴾ او نه د هغه حيوان چې د هغه غوږ په اوږدوالي کې څيرل شوې وي او نه په ګولايي (پلن والي) کې شليدلي وي، ﴿٥﴾ دا روايت ترمذي، ابوداود، نسايي، دارمي او ابن ماجه نقل کړي دي ﴿٦﴾ ليکن د ابن ماجه روايت په لفظ والأذن باندې ختم شوې دي.

حل اللغات:- ① نَسْتَشْرِفَ: استشراف وراوچتيدو سره کتل اود لټون په معنی کښې دې. ② بِمُقَابَلَةٍ: هی التي قطع من قبل اذنها شيء ثم يترك معلقا: يعنی مقابله هغه څناور دې د کوم د غوږ د وړاندې طرف نه څه حصه پرې کړې شوې وی اوبيا زوړند کړې شوې پريخودې شوی وی. ③ لَا مُدَابَرَةٍ: مدابر هغه

---

[1]) اخرجه الترمذی کتاب الأضاحی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما لا یجوز من الأضاحی (رقم-١٤٩٨) والنسائی کتاب الضحایا/باب المقابلة: وهی ما قطع طرف أذنها (رقم-٤٣٧٢)

څناور دي د کوم دغوږ د شاتنۍ حصې نه څه حصه پرې کړې شوې وي اوبیا زوړند کړې شوې پرېخودې شوی وي. ④ لَا شَرْقَاءَ: اي المشقوقة الاذن باثنين: یعني چه د څناور غوږ په اوږدوالی څیرلې شوې وي. ⑤ لَا خَرْقَاءَ: المثقوبة الاذن ثقبا مستديرا: یعنی د کوم غوږونه په ګولانی کښې شلیدلې وی او په هغې کښې ګول سورې کړې شوې وی.

تسهیلات: قوله : أَنْ نَسْتَشْرِفَ الْعَيْنَ وَالْأُذُنَ:

د غوږکټ شوی څناور په قربانۍ کښې مذاهب

① شوافع حضرات فرمائی چه د کوم څناور غوږ لږشان هم پرې شوې وی د هغې قربانی جائز نه ده.

② احناف فرمائی که نصف یا د نصف نه زیات غوږ پرې شوې وی نو قربانی جائز نه ده او که د دې نه کم پرې شوې وی نو د هغې قربانی جائز ده البته که ښکرئی مات وی نو د ټولو په نیز قربانی جائز ده.

په کومو څاروو چې قربانی جائز نه ده: - د احنافو چه کوم مسلك دې په هغې کښې دی چه د داسې څاروی قربانی جائزنه ده د کوم غوږ چه دریمه حصه یا د دې نه زیات پرې شوې وی اودکوم څاروی چه پیدائشی نه وی د هغې هم جائزنه ده. دغه شان لکئی یا پوزه که دریمه حصه یا د دې نه زیات پرې شوی وی د هغې قربانی هم جائز نه ده. د روند اوګُنډ څاروی قربانی صحیح نه ده. دغه شان دریمه حصه یا د دې نه زیات نظر ئی که تلې وی نو د هغې هم جائز نه ده.

دحدیث الباب څخه جواب: - که چرې غوږ ئی پرې شوې وی او زوړندوی نو د هغې قربانی جائز ده. د احنافو په کتابونو کښې هم دغه شان لیکلی دی. لیکن په زیربحث حدیث کښې د دې ممانعت معلومیږي. احناف فرمائی په داسې صورت کښې د دې حدیث ممانعت په کراهت تنزیهی باندې محمول دې.

[١٤٦٤] د ښکرماتی او غوږ کټ شوی څاروی د قربانی حکم

١٤٦٤ - (١) [١٢] ① وَعَنْهُ قَالَ: ② «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ نُضَحِّيَ بِأَعْضَبِ الْقَرْنِ وَالْأُذُنِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① حضرت علي کرم الله وجهه راوي دي ② چې رسول الله ﷺ منع فرمایلي ده چې مونږ دي داسې حیوان قرباني کړو چې د هغه ښکرمات وي اوغوږیې پري شوې وي. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① أَعْضَبِ: ضرب یضرب نه اعضب هغه څاروی ته وائی د کوم ښکرچه مات وی یاغوږئی پرې شوې وی. ② الْقَرْنِ: ښکر.

[1]) اخرجه ابوداود في كتاب الضحايا/باب ما يكره من الضحايا (رقم-٢٨٠٥) والنسائی کتاب الضحایا/باب العضباء (رقم-٤٣٧٧) وابن ماجة كتاب الأضاحی/باب ما یکره أن یضحی به (رقم-٣١٤٥)

تسهیلات: قوله : بِأَعْضَبِ الْقَرْنِ:

دښکر ماتی څاروی د قربانۍ حکم: -دَ احنافو دَ مسلك مطابق دَداسې څاروی قربانی جائزده دَ کوم چه ښکر پیدائشی توګه باندې نه وی یا مات شوې وی یا دَ ښکرقوله دَبره نه لرې شوې وی یا که چرې ښکر دومره دَ بیخ نه وتلې وی په کوم سره چه دَ څاروی غوښه متاثر شوې وی نودَهغې قربانی جائزنه ده. دَ مذکوره حدیث په ممانعت سره کیدې شی چه داسې څاروې مراد وی دَ کوم ښکرچه دَ بیخ نه مات شوې وی نودَ احنافو مسلك به دَ حدیث موافق شی یا داممانعت کراهت تنزیهی یعنی په خلاف اولی باندې محمول دې.

[١٤٦٥] دَ څلورقسم څاروود قربانی ممانعت

١٤٦٥—()[١٣] ١ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: ٢ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سُئِلَ: مَاذَا يُتَّقَى مِنَ الضَّحَايَا؟ ٣ فَأَشَارَ بِيَدِهِ فَقَالَ: أَرْبَعًا: ٤ الْعَرْجَاءُ الْبَيِّنُ ظَلْعُهَا، ٥ وَالْعَوْرَاءُ الْبَيِّنُ عَوَرُهَا، ٦ وَالْمَرِيضَةُ الْبَيِّنُ مَرَضُهَا، ٧ وَالْعَجْفَاءُ الَّتِي لَا تُنْقِي». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت براء ابن عازب رضي الله عنه راوي دي ٢ چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې کوم حیوان د قرباني لائق نه دي؟ ٣ نو حضور ﷺ د لاس په ګوتو سره اشاره کولو سره وفرمایل چې څلور قسمه حیوانات د قرباني کولو قابل نه دي ٤ ① ګوډ چې د هغې ګډ توب ظاهر وي یعنی چې تلي نشي ٥ ② په سترګه ړوند چې د هغه ړوندوالي ظاهر وي یعنی په یوه سترګه بالکل نه ویني یا نیمه یا د نیمي څخه زیاته رڼا یي تلي وي ٦ ③ بیمار چې بیماري یي ظاهره وي چې د هغه بیماري په وجه واښه نشي خوړلي ٧ ④ داسې تپ کمزوري حیوان چې په هډوکو کې یي نلي (ماغزه) نه وي. (مالك، احمد ، ترمذي، ابوداؤد، نسايي، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات: - ① الْعَرْجَاءُ: ګوډ څاروې، ② الْبَيِّنُ: چه ښکاره وی. ③ عرجها: دَ ګوډ څاروی ګوډوالی ته ظلع وائی. ④ الْعَوْرَاءُ: دَ اعور نه دې هغه څاروی ته وائی چه کانړا وی. ⑤ الْعَجْفَاءُ: دَ بیمارئ دَ وجې نه چه کله څاروې اوچ شی مانده شی هغې ته عجفاء وائی. ⑥ لَاتُنْقِی: دَباب افعال نه دې. نِقْیٌ: دَ هډوکی په مینځ کښې مغزته وائی. دَلاتنقی معنی داشوه دکوم په هډوکوکښې چه مغز ختم شوې وی.

تسهیلات:

قوله : فَقَالَ: أَرْبَعًا:

په څلورقسمه څاروو باندې د قربانۍ عدم جواز: -په دې حدیث کښې نبی علیه السلام فرمائی

() اخرجه ابوداود فی کتاب الضحایا/باب ما یکره من الضحایا (رقم-٢٨٠٢) والترمذی کتاب الأضاحی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما لا یجوز من الأضاحی (رقم-١٤٩٧) وابن ماجة کتاب الأضاحی/باب ما یکره. أن یضحی به (رقم-٣١٤٤) ومالك فی الموطا کتاب الضحایا/باب ما ینهی عنه من الضحایا (رقم-١)

چې په څلور قسمه څاروو باندې قرباني نه کيږي.

① الْعَرْجَاءُ: په ګوډ څاروی چې ګوډوالي ئې ښکاره وی په تګ کښې ئې پته لګی.
② الْعَوْرَاءُ: کانړې څاروی چې په نظر کښې ئې فرق وی ښکاره معلومیږی چې نظر ئې نه لګی.
③ الْمَرِيضَةُ: داسې بیمار څاروې چې بیماری ئې ښکاره وی او ګیاه نشی خوړلې.
④ الْعَجْفَاءُ: داسې څاروې چې د تپ والی د وجې ئې په هډوکو کښې مغز نه وی. (خیر التوضیح)

[١٤٦٦] دَ څرب څاروی قربانی کول

١٣٦٦-(١)[١٣] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُضَحِّي بِكَبْشٍ أَقْرَنَ فَحِيلٍ، ③ يَنْظُرُ فِي سَوَادٍ، ④ وَيَأْكُلُ فِي سَوَادٍ ⑤ وَيَمْشِي فِي سَوَادٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① حضرت ابو سعید فرمایي ② چې رسول الله ﷺ به د داسې ښکرور او چاغ پسه قرباني کوله ③ چې په سیاهي کې به يي لیدل يعنی د سترګو شاوخوا به يي سیاهي (توروالي) وو ④ په سیاهي کې به يي خوړل يعنی د هغې مخ به تور وو ⑤ او په سیاهي کې به تلو يعنی د هغه پښې به هم توري وي. (ترمذي، ابوداؤد، نسايي، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① كَبْشٍ: ګډ، ② أَقْرَنَ: ښکرنو والا، ③ فَحِيلٍ: ککریم وزناومعنا هو القوي خلقة والكثير لحماً يعنی چاق اوډك ښکلې ښائسته صورت والا طاقتور نر ګډ، ④ سَوَادٍ: يعنی دَ خپو غاړې ئی توري وې، د خله اودَ سترګو دائرې ئی توري وې، باقی سپین وو(يعنی ښائسته برګ ګډ وو).

تسهيلات:

قوله: فَحِيلٍ:

د يو څرب څاروی قربانی د دوو لاغرو قربانو څخه افضليت:- د ښائسته صورت والا طاقتور نر ګډ قربانی به حضورپاك ﷺ کوله. فقهاؤ لیکلی دی چه چاق تازه اودَ ښکلی څاروی قربانی مستحب ده. لکه چاقه تازه يوه چيلئی وی او کمزورې مانده چيلئی دوه وی نودَ يو قربانی دَ داسې کمزوری اومانده څاروی نه بهتر ده.

د غلام په آزادولو کښې د کثرت عدد افضليت:- ليکن که دَ غلامانودَ آزادئی خبره وی نوهلته دَ دوو کمزورو غلامانو آزادول دَ يو چاق تازه غلام دَ آزادولونه بهتردی.

دَدې وجه داده چه دَ څناور قربانی په حقيقت دَ حضرت اسماعيل عليه السلام دَ ځان دَقربانئی په بدله کښې الله تعالی په انسانانوباندې مهربانی کولوسره قبوله کړې ده. لهذا دَ څناور بدن

[1]) اخرجه ابوداود في كتاب الضحايا/باب ما يستحب من الضحايا (رقم-٢٧٩٦) والترمذى كتاب الأضاحى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء ما يستحب من الأضاحى (رقم-١٤٩٦) وابن ماجة كتاب الأضاحى/باب ما يستحب من الأضاحى (رقم-٣١٢٨)

او ښائست کښې دَدې صفاتو خیال ساتل ضروري دی کوم چه دَ بدني اودَ ښائست صفات چه دَ حضرت اسماعیل علیه السلام دَ قربانئی په وخت کښې وو.

[۱٤٦٧] دَ شپږو میاشتو دَ ګډ قربانۍ کولو جواز

۱۴۶۷-(١)[١٥] [١] وَعَنْ مُجَاشِعٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ: [٢] «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يَقُولُ: [٣] إِنَّ الْجَذَعَ يُوفِي [٤] مِمَّا يُوفِي مِنْهُ الثَّنِيُّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] د قبیله بني سلیم (یو سړي) مجاشع رضي الله عنه راوي دي [٢] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٣] چې جذع (یعني هغه وري یا ګډوري چې د هغه عمر د شپږ میاشتو څخه زیات وي) کافي دي [٤] دهغه بچي څخه چې کفایت وکړي هغه ته ثني. (ابوداؤد، نسایي، ابن ماجه)

حل اللغات: - ① اَلْجَذَعَ: دشپږو میاشتو څرب ګډوري، ② يُوفِي: چه کفایت اوکړي، ③ الثَّنِيُّ: دعمر په لحاظ سره مختلفو څاروو ته ثنی وائی لکه یو کلیز ګډ، وغیره،

تسهیلات:

قوله: إِنَّ الْجَذَعَ يُوفِي مِمَّا يُوفِي مِنْهُ الثَّنِيُّ:

د جزع د لفظ تحقیق: - دَ شپږو میاشتو ګډې ته جذع وائی دَدې عمر دَ ګډې قربانی جائزده. دَ چیلئی جائزنه ده اوکه چیلئی دَ یوکال وی نو دَهغې قربانی جائزده. خلاصه دا چه څنګه دکال دَ چیلئی قربانی کول جائز ده دغه شان دَ شپږو میاشتو دَ ګډې قربانی هم جائزده. په دې حدیث کښې هم دامسئله بیان کړې شوې ده. اودَ "یوفی" ترجمه اومطلب هم دغه دې چه دَ شپږو میاشتو ګډه دَ کال دَ چیلئی په شان کافی ده.

قوله: الثَّنِيُّ:

د ثنی د لفظ تحقیق: - داهم یو اصطلاحی لفظ دې چیلو کښې ثنی هغې ته وائی کومې چه یوکال پوره کړې وی او په دویم کښې ئی قدم کیخودې وی. په غوا او غوئې کښې ثنی هغه وی دَ کوم چه دوه کاله عمر پوره شوې وی او په دریم کال کښې ئی قدم کیخودې وی او په اوښ کښې ثنی هغه دې چه دَ پنځو کالو پوره کولونه پس ئی په شپږم کال کښې داخل شوې وی.

[۱٤٦٨] د شپږ میاشتیزې ګډې قربانی

۱۴۶۸-(٢)[١٦] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [٣] «نِعْمَتِ الْأُضْحِيَةُ الْجَذَعُ مِنَ الضَّأْنِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

---

[١]) اخرجه ابوداود في كتاب الضحايا/باب ما يجوز من السن في الضحايا (رقم-۲۷۹۹) والنسائي كتاب الضحايا/باب المسنة والجذعة (رقم-٤۳۸٤) وابن ماجة كتاب الأضاحي/باب ما تجزئ من الأضاحي (رقم-۳۱٤۰)

[٢]) اخرجه الترمذي في كتاب الأضاحي عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الجذع من الضأن في الأضاحي (رقم-۱٤۹۹)

ترجمه: [١] ابوهريره رضي الله عنه وايي [٢] چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي [٣] چې د پسه د جذع (يعني د شپږو مياشتو د بچي) قرباني بهتره ده. (ترمذي).

حل اللغات: - ① الْجَذَعُ: دشپږو مياشتو څرب ګډوري، ② الضَّأْنِ: ګډ، پيسه.

تسهيلات:

قوله: نِعْمَتِ الأُضْحِيَةُ الْجَذَعُ مِنَ الضَّأْنِ:

د ګډ په شپږمياشتيز بچی د قربانۍ جواز: - د شپږ مياشتيز ګډ د قربانۍ بيانولو مقصد خلقوته دا بيانول دی چې د ګډ دشپږو مياشتو بچی باندې قرباني جائز ده په خلاف د چيلۍ د جذع چې دهغې قرباني جائز نه ده.

[١٤٦٩] په اوښ کښې دَلسوکسانودَشرکت حکم

١٤٦٩ - (١) [١٧] [١] «وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [٢] كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي سَفَرٍ، فَحَضَرَ الأَضْحَى، [٣] فَاشْتَرَكْنَا فِي الْبَقَرَةِ سَبْعَةٌ، وَفِي الْبَعِيرِ عَشَرَةٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي [٢] چې د رسول کريم ﷺ سره (مونږ) په يو سفر کې وو چې د قرباني اختر راغي [٣] نو د غوا په قرباني کې مونږ اوه سړي او د اوښ په قرباني کې زمونږ لس سړي شريك شو. (ترمذي، نسايي، ابن ماجه، امام ترمذي فرمايي چې دا حديث حسن غريب دي)

حل اللغات: - ① الْبَعِيرِ: اوښ.

تسهيلات: قوله: وَفِي الْبَعِيرِ عَشَرَةٌ:

(**نوټ**) د اوښ په قربانۍ کښې د شرکاؤ په تعداد کښې د مذاهبو بيان هم په دې باب کښې وړاندې تير شوي دي.

[١٤٧٠] دَقربانی کولو فضيلت

١٤٧٠ - (٢) [١٨] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «مَا عَمِلَ ابْنُ آدَمَ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللَّهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ، [٣] وَإِنَّهُ لَيُؤْتَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ، بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلَافِهَا، [٤] وَإِنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللَّهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ بِالأَرْضِ، [٥] فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

---

[1]) اخرجه الترمذى فى كتاب الأضاحى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الاشتراک فى الأضحية (رقم-١٥٠١) والنسائى كتاب الضحايا/باب ما تجزئ عنه البقرة فى الضحايا (رقم-٤٣٩٣) وابن ماجة كتاب الأضاحى/باب عن، كم تجزئ البدنة والبقرة (رقم-٣١٣١)

[2]) اخرجه الترمذى فى كتاب الأضاحى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل الأضحية (رقم-١٤٩٣) وابن ماجة كتاب الأضاحى/باب ثواب الأضحية (رقم-٣١٢٦)

ترجمه:[١] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د ابن آدم د نحر (يعني د قرباني کولو د ورځې) داسې هيڅ عمل نشته چې د الله جل جلاله په نيز د ويني بهيولو (يعني قرباني کولو) څخه زيات محبوب وي[٣] او(د قرباني) هغه ذبحه شوې حيوان به د قيامت په ورځ د خپلو ښکرونو، ويښتانو او نوکونوسره راشي [٤] اودقرباني وينه قبل د دې څخه چې په زمکه وغورځيږي (يعني د ذبح کولو د ارادي په وخت) په بارگاه الهی کې قبليږي [٥] نو تاسو د دې په وجه (يعني په قرباني کولو سره) خپل نفس خوشحاله کړئ. (ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات:- ① إِهْرَاقِ: بهيول، تويول، ② أَظْلَافِهَا: نوکان، ③ طِيبُوا: خوشحاله کړئ.

تسهيلات:

قوله: مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ:

د اختر په ورځ محبوب عمل:- دحديث مبارك حاصل دادې چې د قربانۍ په ورځ الله ﷻ ته محبوب ترين څيز د قربانۍ عمل دې. ددې نه علاوه بل څه کار محبوب نه دې.

د قربانۍ د څاروی ښکرونو سره د راتلو په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① د قيامت په ورځ به هغه قربانی شوې څناور خپلو ښکرو ، ويښتو سره راځی يعنی دا کنايه ده د ثواب نه ②دا په حقيقت باندې محمول دی.

د قربانۍ مقصد:- ددې نه معلومه شوه چې په قربانۍ کښې مقصود وينه تويول دی. لهذا که يو کس د قربانۍ د څناورقيمت ادا کړی يا ددې څناور نه دوچنده غوښه خيرات کړی نو دده قربانی به بالکل ادا نه وی. څکه چې قربانی خو نقل دې د حضرت ابراهيم عليه السلام هغوئ وينه توې کړې وه،رقم ئې نه وو ادا کړې يائې غوښه نه وه خيرات کړې . لهذا کوم خلق چې دا وائی چې د قربانۍ په ځائې غريبانانوسره تعاون زيات بهتر دی نو دا غلط سوچ دې.

[١٤٧١]دَذوالحجې دَلسو شپوورځو فضيلت

١٤٧١-(¹)[١٩] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢]«مَا مِنْ أَيَّامٍ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ أَنْ يُتَعَبَّدَ لَهُ فِيهَا مِنْ عَشْرِ ذِي الْحِجَّةِ، [٣] يَعْدِلُ صِيَامُ كُلِّ يَوْمٍ مِنْهَا بِصِيَامِ سَنَةٍ، [٤] وَقِيَامُ كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْهَا بِقِيَامِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ.

ترجمه:[١] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] داسې هيڅ ورځ نشته چې په هغې کې عبادت کول د عشرۀ ذي الحجه څخه زيات افضل وي[٣] په دي کې د هري ورځي روژه د يو کال د روژو برابر گرځول کيږی [٤] او په دي کې د هري شپې عبادت د شب قدر د عبادت برابر گرځول کيږی، [مطلب دادي چې د الله جل جلاله په نزد په دي ورځو

¹) اخرجه الترمذی فی كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى العمل فى أيام العشر(رقم-٧٥٨) وابن ماجة كتاب الصيام /باب صيام العشر (رقم-١٧٢٨)

کې عبادت کول د نورو ورځو د عبادت کولو څخه زيات محبوب دي.] (ترمذي ابن ماجه، امام ترمذي فرمايي چې د دې اسناد ضعيف دی)

تسهيلات: قوله: مِنْ عَشْرِ ذِي الْحِجَّةِ

د ذوالحجې د لسو ورځو فضيلت:- په دې حديث مبارك کښې د ذوالحجه د ورځو باره کښې فضيلت راغلې دې. د ذوالحجې د لسو ورځو روژې د يو کال د روژو برابر دی. او د هرې شپې قيام دليلة القدر د قيام برابر دې.

اشکال:- په ظاهره خو په دې کښې درمضان په فضيلت کمې ښکاري، يعنی چې دا لس ورځې د رمضان نه بهترې دی؟

داشکال دوه جوابونه:-

① دا د رمضان د ورځو نه ماسوا باندې محمول دی.

② ددې فضيلت جزوی دې. او د رمضان فضيلت کلی دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٤٧٢] دلوئی اختر دمانځه څخه وړاندې د قربانی کولو عدم صحت

١٤٧٢-()[٢٠] ١ «عَنْ جُنْدَبِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ شَهِدْتُ الْأَضْحَى يَوْمَ النَّحْرِ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٣ فَلَمْ يَعْدُ أَنْ صَلَّى وَفَرَغَ مِنْ صَلَاتِهِ وَسَلَّمَ، ٤ فَإِذَا هُوَ يَرَى لَحْمَ أَضَاحِي قَدْ ذُبِحَتْ قَبْلَ أَنْ يَفْرُغَ مِنْ صَلَاتِهِ، ٥ فَقَالَ: مَنْ كَانَ ذَبَحَ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ - أَوْ نُصَلِّيَ - فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا أُخْرَى

ترجمه: ١ حضرت جندب ابن عبدالله رضی الله عنه فرمايي ٢ چې (يو ځل) په لوی اختر کې چې د نحر (يعني د قرباني) ورځ وه زه د رسول الله ﷺ سره په عيدګاه کې حاضر شوم ٣ اوس لا حضور ﷺ د لمانځه او خطبې څخه په پوره طور سره فارغ شوې نه وو (يعني لاخطبه يې نه وه شروع کړې) ٤ څه ګوری چې د قرباني غوښه پرته ده او د لمانځه کولو څخه مخکې قرباني شوې ده ٥ حضور ﷺ وفرمايل چا چې قبل د دې څخه چې مونځ وکړي يا دا يې وفرمايل چې قبل د دې څخه چې مونږ مونځ وکړو (د قرباني حيوان) ذبح کړې دي هغه ته پکار دي چې هغه د دې په ځاي دويم حيوان ذبح کړي

١ وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: صَلَّى النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ النَّحْرِ، ٢ ثُمَّ خَطَبَ، ثُمَّ ذَبَحَ، وَقَالَ: ٣ مَنْ كَانَ ذَبَحَ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ، فَلْيَذْبَحْ أُخْرَى مَكَانَهَا، ٤ وَمَنْ لَمْ يَذْبَحْ فَلْيَذْبَحْ بِاسْمِ اللّٰهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب العيدين /باب كلام الإمام والناس فى خطبة العيد، وإذا سئل الإمام عن شيء وهو يخطب(رقم-٩٨٥) ومسلم كتاب الأضاحى /باب وقتها (رقم) ١ - (١٩٦٠) والترمذى كتاب الأضاحى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى الذبح بعد الصلاة (رقم-١٥٠٨) والنسائى كتاب الضحايا /باب ذبح الناس بالمصلى (رقم-٤٣٦٨) وابن ماجة باب النهى عن ذبح الأضحية، قبل الصلاة (رقم-٣١٥٢)

ترجمه: [١] او په یو روایت کې دي چې جندب رضي الله عنه اوویل چې رسول الله ﷺ د بقر عید (لوی اختر) په ورځ مونځ اوکړو [٢] او خطبه یي وفرمایله بیا (د قرباني حیوان یي) ذبح کړو او وي فرمایل [٣] چا چې قبل د دې څخه چې مونځ وکړي ذبح وکړي نو هغه ته پکار دي چې هغه د دې په بدله کې دویم حیوان ذبح کړي [٤] او کوم سړي چې د لمانځه څخه مخکې ذبح ونکړه نو هغه ته پکاردي چې (د لمانځه څخه وروسته د قرباني حیوان) د الله په نامه سره ذبح کړي. (بخاري، مسلم)

تسهیلات: قوله : قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ :

د اختر د مونځ څخه وړاندې د قربانۍ عدم جواز :- یعنی ترکومې پورې چه دَ لوئی اختر مونځ نه وی شوې دَهغې ته مخکښې قربانی جائز نه ده. که چرې چامخکښې قربانی اوکړه نو هغه قربانی نه ده بلکه دَ غوښې دَپاره به څاروې ذبح کول شمیرلې کیږی.

علماء کرامو فرمائیلی دی چه پوره ښارکښې دَ صحیح وخت مطابق که یوځائی کښې هم مونځ اوکړې شی نودَ ښار په هریوځائی کښې به دَ قربانئی کولواجازت اوشی او په کومو علاقو کښې چه دَ اختر مونځ نه کیږی هلته قربانی دَ سحر دَ مونځ نه پس کول جائز کیږی.

[١٤٧٣] دقرباني ورځې (ایام قرباني)

١٤٧٣-(١)[٢١] [١] وَعَنْ نَافِعٍ: أَنَّ ابْنَ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [٢] الْأَضْحَى يَوْمَانِ بَعْدَ يَوْمِ الْأَضْحَى. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: [١] نافع رحمه الله راوي دي چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه وفرمایل [٢] چې د بقر عید د ورځې څخه وروسته د قرباني دوه ورځې وي. (مالک)

تسهیلات: قوله : الْأَضْحَى يَوْمَانِ بَعْدَ يَوْمِ الْأَضْحَى :

د لوئي اختر د قربانۍ د جواز په آخری وخت کښې مذاهب

① دَعلامه ابن سیرین رحمه الله اوځه نورو علماؤ په نیزدَ لوئی اخترد قربانئی صرف یوه ورځ ده اوهغه هم دغه دَاختروځ ده.

② دَامام شافعی رحمه الله حسن بصری رحمه الله او اهل ظواهر په نیزدَ لوئی اختر نه پس درې ورځې قربانی جائزده یعنی ١١، ١٢ او ١٣ ذوالحجه پورې جائز ده.

③ دَجمهورو په نیزدَاخترد ورځې نه پس صرف دوه ورځې ١١، ١٢ ذوالحجه پورې قربانی جائزده.

داول فریق دلیل :- دې حضراتو سره څه صریح حدیث نشته دې. صرف رائې او اجتهاددې لهذا دَدوی قول نه دَ التفات قابل دې اونه دَ جواب قابل دې.

(١) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الضحایا/باب الضحیة عما فی بطن المرأة وذكر أيام الأضحى (رقم-١٢)

د دویم فریق دلائل:-

① دَحضرت جبیربن معطم رضی الله عنه روایت د دوی دلیل دې کوم چه ابن حبان رحمه الله په خپل صحیح کښې نقل کړې دی الفاظ دادی: (قال النبی صلی الله علیه وسلم وفی کل ایام التشریق ذبح) (رواه ابن حبان)

ایام تشریق دَاخترنه پس ١١، ١٢ او ١٣ درې ورځې وی اویوه ورځ دَ اخترشوه نو ټولې څلور ورځې شوې.

جواب:- دَ جبیربن معطم رضی الله عنه روایت منقطع دې. (کماقال البزان)

② دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت دې (قال الاضحی ثلاثة ایام بعد ایام النحر) (رواه البیهقی)

جواب:- دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ روایت په مقابله کښې پخپله هم دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه امام طحاوی رحمه الله په سند جیدسره دا روایت نقل کړې دې دَ کوم الفاظ چه پورته ذکر دی. په دې وجه شوافع دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ روایت نه استدلال نه شی کولې.

③ (عن ابی سعید الخدری انه علیه الصلوة والسلام قال ایام التشریق کلها ذبح) (رواه ابن عدی فی الکامل)

جواب:- دا روایت یحیی بن معین، نسائی او علی بن مدینی ضعیف ګرځولې دې. بلکه ابن ابی حاتم رحمه الله دَ خپل والد په حواله سره وئیلی دی چه دا حدیث په دې سندسره موضوع دې. بهرحال زیربحث حدیث چه دَ مرفوع حدیث په حکم کښې دې دا په شوافع باندې حجت دې.

د دریم فریق دلائل:- زیربحث دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما روایت د د وی دلیل دې چه په خپل مطلب باندې ډیر واضح دې.

② دَحضرت علی رضی الله عنه روایت دلیل دې (قال ایام النحر ثلثة اولهن افضلهن) (مختصر کرخی)

③ دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت دلیل دې الفاظ دادی (وعن ابن عباس قال الاضحی ثلاثه ایام یومان بعد یوم النحر) (رواه الطحاوی بسند جید)

④ دَحضرت انس رضی الله عنه روایت دلیل دې (وعن انس قال الذبح بعد یوم النحر یومان) (رواه البیهقی)

⑤ دَ حضرت ابن عمر او حضرت ابن عباس رضی الله عنهم مشترکه روایت دلیل دې (قال النحر ثلاثة ایام اولها افضلها)

١٤٧٣ —(١)[٥] [١] وَقَالَ: وَبَلَغَنِي عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ مِثْلُهُ.

ترجمه: [١] امام مالك دا روایت نقل کولو سره فرمایلي دي چې ماته د حضرت علي ابن ابي طالب کرم الله وجهه څخه هم د دې قسم روایت رارسیدلي دي.

(١) هاخرجه مالک فی الموطا ٢/ ٢٨٧

[١٤٧٥] په مدني دور کښې د رسول الله ﷺ په قرباني کولو هميشوالې

١٤٧٥ –(١)[٢٢] ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ٢ «أَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ يُضَحِّي». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ په مدينه منوره کې لس کاله قيام وکړو او هر کال به يي قرباني کوله. (ترمذي)

تسهيلات: قوله : يُضَحِّي:

د قربانۍ د وجوب دليل:- دَدې حديث نه په واضحه توګه باندې دا خبره ثابتيږي چه قرباني واجب ده سنت نه ده ځکه چه په کوم اهتمام اوپه کوم استمرار اوهميشه والي سره حضورپاك په مدينه منوره کښې لس کالوپورې په دې باندې عمل کړې دې داد وجوب دليل دې. دَدې حديث نه دويمه خبره دا ثابته شوه چه حضورپاك په مدينه منوره کښې په هميشه والي سره قرباني کړې ده په دې سره په هغه خلقو باندې رد کيږي دَ چاچه فاسد خيال دې چه حضورپاك په مدني دور کښې دَ قربانئي عمل پريخودې وو.

[١٤٧٦] قرباني سنت ابراهيمي

١٤٧٦ –(٢)[٢٣] ١ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، مَا هٰذِهِ الْأَضَاحِيُّ؟ ٣ قَالَ: سُنَّةُ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٤ قَالُوا: فَمَا لَنَا فِيهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ ٥ قَالَ: بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةٌ. ٦ قَالُوا: فَالصُّوفُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ ٧ قَالَ: بِكُلِّ شَعْرَةٍ مِنَ الصُّوفِ حَسَنَةٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ زيد ابن رقم رضي الله عنه راوي دي چې د رسول الله ﷺ اصحابو رضي الله عنهم پوښتنه وکړه ٢ چې يا رسول الله ﷺ دا قرباني څه شي ده؟ ٣ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ستاسو د پلار ابراهيم عليه السلام طريقه (يعني د هغه سنت) ده ٤ صحابه ؤ رضي الله عنهم عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ بيا په دي کې زمونږ دپاره څه ثواب دي؟ ٥ وي فرمايل د غوا او بزي (چيلۍ) په قرباني کولو کې چې د هغې څومره ويښتان وي د هر ويښته په بدله کې يوه نيکي ده ٦ هغوئ عرض وکړو چې صوف (يعني دپسه ميږي او اوښ وړئ اودهغې په بدله کې څه ثواب حاصليږي؟ ٧ وي فرمايل چې د وړي (اون) د هر ويښته په بدله کې يوه نيکي. (احمد ، ابن ماجه)

حل اللغات: – ① شَعْرَةٍ: ويښته، ② الصُّوفُ: وړئ.

---

[١] اخرجه الترمذى فى كتاب الأضاحى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب الدليل على أن الأضحية سنة (رقم-١٥٠٧)

[٢] اخرجه ابن ماجة كتاب الأضاحى /باب ثواب الأضحية (رقم-٣١٢٧)

تسهيلات: قوله: سُنَّةُ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ:

قرباني سنت ابراهيمي: - قرباني يوعظيم يادګاردې چه دَحضرت ابراهيم عليه السلام په امتحان کښې دَ لوئې کاميابئ دَ ياد دَپاره دَ عبادت په توګه مسلمانان کوي. اصل بنياد دَ قربانۍ هم دغه دې او هم دَدې طرف ته په دې حديث کښې اشاره هم ده ليکن مسلمانان چه دَ لوئې اختر په ورځ په دې عمل کوي هغه دَ نبي کريم سنت او دَهغوي ﷺ اطاعت او دَ حضورپاک دَ فرمان په نتيجه کښې کوي چه په حقيقت کښې دَ شريعت محمدي يوه حصه ده.

[٤٩/٦٥]بَابُ الْعَتِيرَةِ

دَ عتيره بيان

خلاصة الباب: -

فيه ثلاثة أحاديث مشتملة على مسئلتين:

① النهي عن ذبح العتيرة والمنيحة: ١، ٣-

② وجوب العتيرة: ٢-

قال الله تعالى ﴿ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴾ [سورة الانعام الايه: ١٣٧]

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٤٧٧]دَ فرع او عتيره ممانعت

١٤٧٧ -()[1] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ -، «عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② لَا فَرَعَ وَلَا عَتِيرَةَ. ③ قَالَ: وَالْفَرَعُ: أَوَّلُ نِتَاجٍ كَانَ لَهُمْ ③ كَانُوا يَذْبَحُونَهُ لِطَوَاغِيتِهِمْ، ④ وَالْعَتِيرَةُ: فِي رَجَبٍ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ② د فرع او عتيره په اسلام کې هيڅ حقيقت نشته ③ ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې فرع د حيوان هغه اولني بچي دي چې د کافرانو په نيز پيدا شي ③ نو هغه به يې د بتانو په نامه ذبح کولو ④ او عتيره هغه حيوان دي چې په رجب کې به يې ذبح کولي. (متفق عليه)

حل اللغات: - ① فَرَعَ: دَ جاهليت په زمانه کښې چه به د څاروی رومبې بچې پيدا کيدو نوهغه به دَ بتانو په نوم باندې ذبح کيدو دې ته به ئې فرع وئيلې، ② عَتِيرَةَ: دَ جاهليت په زمانه کښې به دَرجب په شروع کښې دَ خپلو باطل معبودانو د خوشحالولو دَپاره يو چيلۍ ذبح کوله. دې ته به ئې عتيره وئيلې. ③ نِتَاجٍ: د څاروی بچې، ④ لِطَوَاغِيتِهِمْ: "طواغيت" دَ طاغوت جمع ده مراد بت دې.

[1]) اخرجه البخاري في كتاب العقيقة/باب العتيرة (رقم-٥٤٧٤) ومسلم كتاب الأضاحى/باب الفرع والعتيرة (رقم-٣٨-(١٩٧٦) وابوداود كتاب الضحايا/باب في العتيرة (رقم-٢٨٣١)

تسهیلات:

قوله: لَافَرَعَ وَلَاعَتِيرَةَ: دَ جاهلیت په وخت کښې دا طریقه وه چه چاکره به کله دَ څاروی ړومبې بچې پیدا کیدو نوهغه به دَ بتانو په نوم باندې ذبح کیدو. دَ اسلام په شروع کښې دَ فرع رواج جاری وو مگر مسلمانانو به دغه فرع دَ الله تعالی په نوم باندې ذبح کولو. لیکن چونکه په دې عمل کښې دَ جاهلیت او اهل جاهلیت سره مشابهت راتلو په دې وجه په اسلام کښې دَ فرع رواج منع اوګرځولې شو لکه دَ دې حکم منسوخ کړې شو.

د عتیره تعریف: - دَ جاهلیت په دور کښې یو رسم وو چه عاموخلقو به دَرجب دَ شروع عشره کښې دَ خپلو باطل معبودانو دَ خوشحالولو دَپاره یوچیلئ ذبح کوله. هم دا به ئی دَ عتیره په نوم باندې یادوله. هغه خلقو به په دې سره دَ بتانو تقرب حاصلولو. دَ اسلام په شروع کښې به مسلمانانو هم عتیره دَ ماه رجب په اوله عشره کښې ذبح کوله لیکن کافرانو چه به دا دَخپلو بتانو په نوم باندې ذبح کوله مسلمانانو به دا دَ الله تعالی دَ تقرب ذریعه ګنړلو سره ذبح کوله. څه مودې پورې دا سلسله روانه وه بیا عتیره هم دَ فرع په شان منسوخ شوه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

[١٤٧٨] دعتیره عدم جواز

١٤٧٨ -()[٢] [١] «عَنْ مِخْنَفِ بْنِ سُلَيْمٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] كُنَّا وُقُوفًا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِعَرَفَةَ، فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: [٣] يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ عَلَى كُلِّ أَهْلِ بَيْتٍ فِي كُلِّ عَامٍ أُضْحِيَّةً وَعَتِيرَةً، [٤] هَلْ تَدْرُونَ مَا الْعَتِيرَةُ؟ [٥] هِيَ الَّتِي تُسَمُّونَهَا الرَّجَبِيَّةَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. [٦] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، ضَعِيفُ الْإِسْنَادِ، [٧] وَقَالَ: أَبُو دَاوُدَ: وَالْعَتِيرَةُ مَنْسُوخَةٌ.

ترجمه: [١] مخنف ابن سلیم وایي [٢] مونږ د رسول الله ﷺ سره (د حج په موقع) په عرفات کې ولاړ وو ما واوریدل چې حضور ﷺ فرمایل [٣] چې اي خلقو په هر کوروالا باندې هر کال قرباني کول او عتیره کول واجب دي [٤] او تاسو ته پته شته چې عتیره څه ده؟ [٥] عتیره هغه ده چې تاسو ورته رجبیته وایئ (ترمذي ابوداؤد نسایي ابن ماجه) [٦] امام ترمذي رحمه الله فرمایلي دي چې دا حدیث غریب او ضعیف الاسناد دي [٧] ابوداؤد رحمه الله فرمایي چې عتیره منسوخ شوې ده (اوس دا جائز نه ده).

حل اللغات: - ① عَتِيرَةٌ: دَ جاهلیت په زمانه کښې به دَرجب په شروع کښې دَ خپلو باطل معبودانو دَ خوشحالولو دَپاره یو چیلئ ذبح کوله. دې ته به ئی عتیره وئیلې. ② الرَّجَبِيَّةَ: عتیره ته به ئې رجبیه هم وئیلې.

() اخرجه ابوداود كتاب الضحايا/باب ما جاء في إيجاب الأضاحي (رقم-٢٧٨٨) والترمذي كتاب الأضاحي عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-١٥١٨) وابن ماجة كتاب الأضاحي/باب الأضاحي، واجبة هي أم لا (رقم-٣١٢٥)

تسهیلات: قوله: بِعَرَفَةَ:

اشكال: -دا حدیث دحجة الوداع دې ، په هغه وخت کښې خو ټول احکامات نازل شوی وو نو بیا عتیره څنګه منسوخ شوه؟

داشكال دوه جوابونه: -

① د ابوهریره ﷺ حدیث (لافرع ولاعتیرة) ددې نه پس دې.

② ددې حدیث پاك آخر کښې فرمائیلې شوی دی چې هذا حدیث غریب ضعیف. نو دا حدیث ضعیف شو.

قوله: عَلَى كُلِّ أَهْلِ بَيْتٍ فِي كُلِّ عَامٍ أُضْحِيَّةٌ

اشكال: - ټول کور والو باندې یوه قربانی څنګه کیږی؟

جواب: -دا حکم هم منسوخ شوې دې په دې وجه دا حدیث پاك قابل د استدلال نه دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٤٧٩] په غریب د قربانی عدم وجوب

١٤٧٩-(١)[٣] [١] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] أُمِرْتُ بِيَوْمِ الْأَضْحَى عِيدًا جَعَلَهُ اللّٰهُ لِهٰذِهِ الْأُمَّةِ. [٣] قَالَ لَهُ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ أَجِدْ إِلَّا مَنِيحَةً أُنْثَى، أَفَأُضَحِّي بِهَا؟ [٤] قَالَ: لَا. وَلٰكِنْ خُذْ مِنْ شَعْرِكَ وَأَظْفَارِكَ، [٥] وَتَقُصُّ مِنْ شَارِبِكَ، [٦] وَتَحْلِقُ عَانَتَكَ، [٧] فَذٰلِكَ تَمَامُ أُضْحِيَّتِكَ عِنْدَ اللّٰهِ. رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] عبدالله ابن عمرو رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] ماته حکم شوې دې چې زه د بقر عید (د قربانې د اختر) په ورځ اختر وکرځوم او الله تعالی جل جلاله دا ورځ د دې امت د پاره اختر مقرر کړې ده [٣] یو سړي عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ که ماته ماده منیحه څخه علاوه بل (حیوان) میسر نشي نو آیا زه هغه قربانې کړم؟ [٤] حضور ﷺ ورته وفرمایل نه، خو که ته خپل ویښتان جوړ کړې، خپل نوکونه پرې کړې [٥] او د شونډو ویښتان [بریت] صفا کړې [٦] او تر نامه لاندې ویښتان صفا کړې [٧] نو د الله تعالی جل جلاله په نیز به دا ستا قربانې شی یعنی تا ته به د قربانې په مثل ثواب حاصل شي. (ابوداؤد نسایي)

حل اللغات: - ① مَنِيحَةً: دالفظ دَ منح نه مشتق دې دَ دې معنی ورکړه اوبخشش ده. ② أُنْثَى: ماده چیلئ، ③ شَارِبَكَ: د شونډو ویښتان، بریت ④ عَانَتَكَ: دنامه نه لاندې ویښتان.

تسهیلات:

قوله: مَنِيحَةً: دَ عربو دا عادت وو چه هغوی به دَ همدردئی په توګه خپل دَ پیئو والا چیلئی یا

(١) اخرجه ابوداود كتاب الضحايا/باب ما جاء في إيجاب الأضاحي (رقم-٢٧٨٩)

اوښه وغیره محتاج اوغریبانانوته حواله کولې هغه سړی به دې نه پښې څکل اودهغې دَ ورښې نه به ئې فائده اوچتوله په هغې سره به ئې دَ بچوپالنه کوله اودَ دې نه به ئې فائده اوچتوله او بیا به ئې دا واپس کوله.

په منیحه د قربانۍ د عدم جواز وجه:- چونکه دَ منیحة لفظ په مؤنث اومذکر دواړوباندې یادولې شی په دې وجه دغه سړی دا مقید کولوسره سوال اوکړو چه ماسره یومؤنث منیحهٔ دې آیا په هغې باندې قرباني کولې شم. رسول الله ﷺ دغه سړې منع کړو ځکه چه منیحهٔ دَ قاعدې مطابق دَ دغه سړی ذاتی مال نه وو بلکه دَ څه مودې دَپاره دَ دې نه فائده اوچتول اوبیا واپس ورکول وو. په دې وجه دَ هغې دَ قربانی کولو اجازت ئې ورنه کړو ځکه چه دادَ بل مال وو. دویمه وجه دا چه کوم سړې پخپله دَمنیحة اخستلو محتاج وی نوهغه به قربانی څنګه اوولې کوی؟ معلومه شوه چه په غریب سړی قربانی نشته دې.

بهرحال دَ جمهور علماؤ مسلك دادې چه غریب اولاس تنګې سړی باندې قربانی واجب نه ده البته دَ احنافو په نیز دَ قربانئی دَپاره دَ دومره زیات مال ضرورت نشته دې معمولی شان مالداری کافی ده مګرچه فقیرخونه وی.

[۶۶/۵۰] بَابُ صَلَاةِ الْخُسُوفِ

دَ خسوف دَ مونځ بیان

خلاصة الباب:-

فيه ثلاثة عشر حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① ثبوت صلوة الخسوف : ۱، ۳، ۴، ۶، ۷، ۸، ۱۰، ۱۲، ۱۳۔

② كيفية صلاة الخسوف من حيث الركعات والسجدات: ۶، ۵، ۳، ۱، ۷، ۱۲، ۱۳۔

③ القرأة في صلاة الخسوف سراً وجهراً: ۱، ۱، ۱۰۔

④ الخطبة بعدصلاة الخسوف: ۳، ۴، ۵، ۱۳۔

⑤ فضل التصدق يوم الكسوف : ۴، ۹۔

⑥ صلوة الكسوف عند رؤية آيات الكسوف: ۱۱۔

قال الله تعالى ﴿ وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا ﴾ [بنی اسرائیل: ۵۹]

په خسوف او کسوف کښې فرق:- خسوف اوکسوف دوه لفظونه دی ائمه دَ لغت په دې دواړو لفظونو کښې فرق بیان کړې دې. امام لغت شیخ ثعلب رحمه الله فرمائی چه دکسوف اطلاق زیات تردَنمرپه تندر باندې کیږی اودَ خسوف زیات تر اطلاق دَ سپوږمئی په تندرباندې کیږی. علامه جوهری رحمه الله دا افصح ګرځولې دې.

فقهاء کرامو دَ فقه کتابونوکښې هم دغه طریقه اختیار کړې ده چه دَ نمر تندرنیولودپاره کسوف او دَ سپوږمئی تندر دپاره دَ خسوف الفاظ استعمال کړی دی. هسې هم خسف په زمکه کښې ورډوبیدوته وائی دَدې سپوږمئی سره څه نه څه علاقه هم ده چه زمکه د سپوږمئی او نمر په مینځ کښې راځی نودَ سپوږمئی رڼرا ختمیږی. په قرآن کښې آیت دی ﴿فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ۝ وَخَسَفَ الْقَمَرُ ۝﴾ [سورة القيامة الايه:٧]

د خسوف او کسوف د ترادف قول: - بعضې اهل لغت په دې دواړو الفاظوکښې دَترادف قول کړې دې څکه چه دَدې په یوبل باندې اطلاق کیږی. دلته دَ زیربحث باب بعضې احادیثو کښې دَخسوف لفظ استعمال کړې شوې دې په بعضې کښې دَ کسوف لفظ یادکړې شوې دې. حالانکه په ټولو احادیثوکښې دَ نمردَتندر کیدوواقعه بیان کړې شوې ده. دَ سپوږمئی دَ تندر نیولو ذکر په صراحت سره په یوحدیث کښې نشته. او په حدیث نمبر۱۴۸۰صرف احتمال دې لهذا صاحب مشکوة له پکاروو چه هغه دَ صلوة الخسوف په ځائی دَ صلوة الکسوف عنوان لګولې وې لیکن کیدې شی چه دَهغه په ذهن کښې دَ ترادف تصور وواودا اشاره کول وو چه په احادیثوکښې دَخسوف لفظ په حقیقت دَ کسوف په معنی کښې راغلې دې. لهذا په عنوان کښې هم دَخسوف لفظ دَ کسوف په معنی کښې دې. محدثین حضرات په عام توګه په دې دواړو لفظونوکښې فرق نه کوی. محدثین حضرات په عام توګه په دې دواړو لفظونوکښې فرق نه کوی.

په عهد نبوی کښې د کسوف الشمس وقوع: - مشهورماهرفلکیات علامه محمودپاشا مصری رحمه الله په خپل کتاب "نتائج الافهام فی تقویم العرب قبل الاسلام" کښې تصریح ده چه دَ قواعد ریاضیه په رڼراکښې دَحضورپاك په مبارکه زمانه کښې کسوف شمس یعنی دَنمر تندر نیول صرف یو ځل شوی دی دَدې نه زیات ممکن نه ده. دَ اکثرعلماؤ هم دغه قول دې البته دَ سپوږمئی دَ تندر نیولو واقعه دَ رسول الله ﷺ په زمانه کښې ډیر ځل شوې ده. دَ کسوف الشمس موقع باندې په حضورپاك باندې دَ ویریدوکیفیت راغلودَې څه وجه ده؟ بیا دَ نمر تندر نیول او دَ سپوږمئی تندر نیولوپه موقع باندې حضورپاك څنګه مونځ اداکړو؟ په جاهلیت کښې دَ نمرتندر نیولوپه موقع باندې به عربوڅه تصور قائم کولو؟ دا ټول مباحث به راتلونکی احادیثو په ضمن کښې راتلونکی دی اوګورئی.

....

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[١٤٨٠]د نمر توريدو په وخت دوه ركعته مونځ كول

١٤٨٠ — (١)[١] ١ عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: ٢ «إِنَّ الشَّمْسَ خُسِفَتْ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٣ فَبَعَثَ مُنَادِيًا: الصَّلَاةُ جَامِعَةٌ، ٤ فَتَقَدَّمَ فَصَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِي رَكْعَتَيْنِ، ٥ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ. ٦ قَالَتْ عَائِشَةُ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا -: مَا رَكَعْتُ رُكُوعًا قَطُّ، ٧ وَلَا سَجَدْتُ سُجُودًا قَطُّ كَانَ أَطْوَلَ مِنْهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ٢ چې د رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کې (د هجرت څخه وروسته يو ځل) نمر ترنځ (تندر) ونيولو ٣ نو حضور ﷺ يو اعلان کونکي (خلقو ته) وليږلو چې هغه دي اعلان وکړي چې اَلصَّلٰوةُ جَامِعَةٌ يعنى مونځ جمع کونکي دي (ټول خلق راجمع شو نو) ٤ حضور ﷺ مخکي شو او دوه رکعاته مونځ يي ورکړو چې په هغې کې يي څلور رکوع وکړي ٥ او څلور سجدي يي وکړي ٦ بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي (چې څومره طويل رکوع او سجدي چې ما په هغه ورځ په نماز کسوف کې کړيدي) د هغې څخه زياته وږده چېرته ما نه رکوع کړي ده ٧ او نه مي چېرته سجده کړيده. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: فَبَعَثَ مُنَادِيًا:

د کسوف دپاره د اذان عدم مشروعيت: - دَ صلوة کسوف دَپاره اذان او اقامت نشته دې او دَ خلقو دَ رايوځائى کولو دَپاره په اوچت ځائى باندې داسې آواز کول پکاردى. "الصلوة جامعة" چنانچه نن صبا حرمين شريفين کښې دَدې قسم آواز په لاوډ سپيکر باندې ورکولې شى په حديث کښې هم دې طرف ته اشاره ده.

قوله: عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د ابرهيم ولد محمد ﷺ وفات او کسوف الشمس: - دَ رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کښې هم يو ځل نمر تندر نيولې وو او په اتفاق سره په هغه ورځ دَ حضور پاك دَ ځوئى حضرت ابراهيم رضي الله عنه انتقال شوې وو. دا دَ کال ١٠ هجرى واقعه وه. دَ عربودَ جاهليت دا عقيده وه چه دَ سپوږمئى او نمر تندر نيول چرته دَ يو لوئى سړى دَ مړ کيدو دَ وجې نه کيږى. دَ ابراهيم رضي الله عنه په وفات سره دا غلطه عقيده نوره پخه کيدې شوه. لکه بعضې نوى مسلمانانو يا دَ کمزورې عقيدې والا مسلمانانو ويناهم شروع کړې وه. په دې باندې حضور پاك دَ دوو رکعتو مونځ نه پس يوه اوږده خطبه ورکړه او دَ جاهليت دَدې عقيدې په سختئى سره ترديد اوکړو.

---

[١]) اخرجه البخاري فى كتاب الجمعة/باب طول السجود فى الكسوف (رقم-١٠٥١) ومسلم كتاب الكسوف/باب ذكر النداء بصلاة الكسوف الصلاة جامعة (رقم-٢٠ - (٩١٠) وابوداود كتاب الصلاة،باب ينادى فيها بالصلاة (رقم-١١٩٠)

قوله: فَصَلّٰى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ:

د صلاة الكسوف په حكم كښې مذاهب

① دَ صلوة كسوف مشروعيت اوجواز كښې دَ چا اختلاف نشته ځكه چه احاديث او دجماع امت نه دا مونځ ثابت دې بلكه بعضې فقهاء دَ دې دَ وجوب قائل شوې هم دی.

② جمهور فقهاء فرمائی چه صلوة كسوف سنت دې

د صلاة الكسوف د ادا كولو په كيفيت كښې مذاهب

دَ جمهورو په خپل مينځ كښې دَدې مونځ دَ كولو په طريقه كښې اختلاف دې اودَ اختلاف وجه داده چه په مختلف احاديثو كښې دَ مختلف طريقوذكر دې. دَ يونه واخله تر پنځو ركوع پورې ثبوت ملاويږی.

① د امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه په احاديثوكښې چه دَ څومره طريقو ذكر راغلې دې ټولې جائز دی. دَ موقع او محل په اعتبارسره كومه طريقه هم ملاؤ شوه خپلولې شی تركومې پورې چه نمر روښانه نه شی دغه طريقې استعمالول پكاردی او په ركوع كښې مشغول كيدل پكاردی.

② امام مالك رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نيزپه يوركعت كښې صرف دوه ركوع كول پكار دی دې نه زيات نه.

③ د احنافو په نيز چه دَ صلوة كسوف طريقه دَ عامو مونځونو په شان ده په يوركعت كښې هم يوه ركوع ده.

داول فريق دلائل: - امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه په كومو احاديثوكښې دَ څومره ركوع ګانو ذكر راغلې دې ټولې طريقې جائز دی تركومې پورې چه په نمر كښې رونړوالې نه راځی ترهغه وخته پورې په ركوع ګانو كښې مشغل كيدل پكاردی.

د دويم فريق دليل: - دَدوی دليل د باب اول حديث دې چه په خپله دعوی باندې واضح دې.

داول او دويم فريق د دلائلو څخه معاً جوابونه: -

① صلاة كسوف كښې په يو مقام باندې نه په ډيرومقاماتو باندې داسې افعال ښكاره شوی دی مونږ دا سواد پيغمبرئی دَ خصوصيت نه نور هيڅ نه شو وئيلې. مونږ تپوس كوو چه په دې مونځ كښې حضور اكرم ﷺ وړاندې تلې دې روستو راغلې دې په دوارو لاسونوكښې دَ څه څيز دَ نيولوكوشش كړې دې. كه دا افعال دَ بل چا نه ښكاره شی نوهم دَحضورپاك په حكم سره دَدغه سړی مونځ فاسد كيږی. معلومه شوه چه دلته معامله دَ پيغمبرئی دَ خصوصيت وه نودَ ډيرو ركوع ګانو په حالت كښې هم كتل پكاردی چه صلوة كسوف كښې حضورپاك كوم عمل كړې دې هغه بيشكه دې ليكن مونږ ته چه كوم حكم راكړې شوې دې مونږ په هغې باندې دَ عمل كولو پابند يو. دَ قول اوفعل دَ تضاد په وخت

ترجيح قول ته ورکولې شي.

② چه دَ صلوة کسوف واقعه دَ حضوراکرم ﷺ په زمانه کښې يوځل پيښه شوې ده او په دې کښې فعلي احاديثو نه خپل مينځ کښې متعارض دی. اوس داخو ممکن نه دی چه دا متعارض فعلی روايات په يوه واقعه باندې منطبق کړې شی لهذا ممکن حل صرف دادې چه دا فعلی روايات په وجه دَ تعارض اوتضاد پريخودې شی او دَ حضورپاك په قولی روايت باندې عمل اوکړې شی او په قولی روايت کښې تصريح ده چه تاسو اوس داکوم مونځ کړې دې هم دغه شان دَ کسوف مونځ کوئی اوهغه دَ سحر مونځ وو.

احناف فرمائی چه مونږ په واضح الفاظو کښې وئيل غواړو چه صلوة کسوف کښې دَ يو نه زيات رکوع ګانې شوی دی. دَ يو نه واخله دوه درې څلور پنځو پورې ذکردې چه حضوراکرم ﷺ دغه شان عمل کړې دې. مونږ له دَدې نه قطعاً انکار نشته اونه زمونږ په دې کښې څه شك دې ليکن حضورپاك چه مونږ ته کوم حکم راکړې دې مونږ به هم په هغې باندې تګ کوو او کوم چه حضورپاك پخپله عمل کړې دې هغه په حضورپاك باندې پريږدو.

③ دَ حضورپاك په خصوصی توګه کوم په کثرت سره رکوع ګانې کړی دی دا رکوع ګانې دَ مونځ نه وې بلکه دَ آياتونو رکوع ګانې وې چه دَ الله تعالی عظيم آيات په صلوة کسوف کښې کتلو باندې بار بار رکوع فرمائيلې دی کوم چه خالص خصوصيت دې. خلاصه دا چه دَمونځ رکوع حضورپاك صرف يوه کړې ده دې نه زياتی چه څومره رکوع ګانې وو هغه رکوع ګانې دَ مونځ نه بلکه دَ آياتونو رکوع ګانې وې. والله اعلم.

د دريم فريق دلائل:- دَ حضرت قبيصه هلالی رضی الله عنه روايت د دوی دليل دې کوم چه امام ابوداؤد رحمه الله او امام نسائی رحمه الله په خپل خپل کتاب کښې ذکرکړې دې. الفاظ دادی: ((اذا رئيتموها فصلوا کاحدث صلوة صليتموها من المکتوبة)) (ابوداؤد)

② دحضرت نعمان بن بشير رضی الله عنه روايت دليل دې فرمائی ((ان النبی صلی الله عليه وسلم کان يصلی فی کسوف الشمس کما تصلون رکعة وسجدتين)) (ابوداؤد نسائی وطحاوی)

③ ډير زيات روايات دی په کومو کښې چه دَ يو رکوع ذکر دې. امام طحاوی رحمه الله هم دَدې ذکر کړې دې او زجاجة المصابيح هم دَ لسو نه زيات رواياتو ذکرکړې دې. په ټولو کښې نيزدې نيزدې هم دغه الفاظ دی: ((فصلی کما تصلون بأمثل صلوتکم بأنحوا من صلوتکم)) حضرت نعمان بن بشير رضی الله عنه فرمائی ((ان رسول الله صلی الله عليه وسلم صلی فی کسوف الشمس نحوا من صلوتکم يرکع ويسجد رواه احمد ونسائی)) (زجاجة المصابيح ج١ص ٤١٥)

[۱۴۸۱] په صلاة کسوف کښې دَ قراءت حکم

۱۴۸۱-(۱)[۲] [۱] وَعَنْهَا قَالَتْ: [۲] «جَهَرَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي صَلَاةِ الْخُسُوفِ بِقِرَاءَتِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې نبي کريم ﷺ په نماز خسوف کې يعنی دسپوږمي په تندر نيولولمانځه کې په اوچت آواز سره قراءت کړي وو. (بخاري مسلم)

تسهیلات:

قوله: جَهَرَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الْخُسُوفِ بِقِرَاءَتِهِ:

په صلاة الکسوف کښې د قراءت په جهراً او سراً کښې مذاهب

په صلوة کسوف کښې د قرآءت په اوچت آواز سره قرأت اوپه مزه آواز سره قراءت کولو کښې د روایاتود اختلاف په وجه د فقهاؤ هم لږ شان اختلاف دې.

① امام احمدبن حنبل رحمه الله اسحاق بن راهویه اوصاحبینو په نیز صلوة کسوف کښې جهری قرأت سره مونځ کول پکاردی.

② جمهور فقهاء فرمائی چه نماز کسوف کښې په مزه قرأت کول پکاردی.

داول فريق دليل:- زیر بحث بخاری اومسلم حدیث نمبر۱۴۸۱ دلیل ددې چه خپله دعوی باندې ډیر واضح دلیل دې.

د دويم فريق دليل:- دَدويم فريق دليل دَ دويم فصل حضرت سمره رضي الله عنه حديث نمبر۱۴۹۰ دې. دکوم الفاظ چه دادی: «صلی بنارسول الله صلی الله علیه وسلم فی کسوف لانسمع له صوتاً» (ترمذی. ابوداؤد)

د دواړو طريقو د جواز انصافي خبره:- دَ احنافو کتابونو کښې ليکلی دی چه دواړه شان عمل جائز دې. خو امام احمد رحمه الله او صاحبين حضراتو دليل دَ بخاری اومسلم حديث دې چه په خپله دعویٰ باندې ښه واضحه دې او په روایاتو کښې ښه قوی دې. جمهورو سره مضبوط دليل نشته دې ځکه چه دَ "لانسمع لـه صوتاً" نه دا خو ثابتيږی چه مونږ نه اوريدو ليکن نه اوريدل خودَ جهرنه کولو قطعی دلیل نه دې. ډیر ممکن دی چه قرأت جاری وی اودَ لريوالی دَ وجې نه ئې بنده نه اوري. دواړه طريقې جائز دی د جواب ورکولو څه ضرورت نشته.

[۱۴۸۲] دَ نمر تندر نیولو حقیقی سبب

۱۴۸۲-(۲)[۳] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] «انْخَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ،

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/باب الجهر بالقراءة فی الکسوف (رقم-۱۰۶۵) وابوداود کتاب الصلاة،باب القراءة فی صلاة الکسوف (رقم-۱۱۸۸) والنسائی کتاب الکسوف/باب نوع آخر (رقم-۱۴۸۲) والترمذی کتاب السفر/باب: کیف القراءة فی الکسوف (رقم-۵۶۳) والنسائی کتاب الکسوف/باب الجهر بالقراءة فی صلاة الکسوف (رقم-۱۴۹۴)

[2]) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/باب صلاة الکسوف جماعة وصلی ابن عباس لهم فی صفة زمزم وجمع علی بن عبد الله بن عباس وصلی ابن عمر (رقم-۱۰۵۲) ومسلم کتاب الکسوف/باب ما عرض عَلی النبی صلی الله علیه وسلم فی صلاة الکسوف منْ أمر الجنة والنار(رقم-۱۷ - (۹۰۷) وابوداود کتاب الصلاة،باب القراءة فی صلاة الکسوف (رقم-۱۱۸۹) والنسائی کتاب الکسوف/باب نوع آخر (رقم-۱۴۸۲) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی صلاة الکسوف (رقم - ۱۲۶۵) ومالک فی الموطا کتاب صلاة الکسوف/باب العمل فی صلاة الکسوف (رقم-۲)

٣ فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَالنَّاسُ مَعَهُ، ٤ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا نَحْوًا مِنْ قِرَاءَةِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ، ٥ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا، ٦ ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا، ٧ وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ، ٨ ثُمَّ رَفَعَ، ثُمَّ سَجَدَ، ثُمَّ قَامَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا، ٩ وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ، ١٠ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا، وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ، ١١ ثُمَّ رَفَعَ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ انْصَرَفَ ١٢ ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدْ تَجَلَّتِ الشَّمْسُ،

ترجمه: ١ عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي ٢ چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې نمر ترنځي (تندر) ونيولو ٣ حضور ﷺ خلقو سره (داسې) مونځ وکړو ٤ چې د سورة بقره د قراءت په قدر يي قيام وفرمايلو (يعني تر دومره وخت پورې ولاړ وو تر څومره وخت پورې چې سورة بقره ويل کيږي) ٥ بيا حضور ﷺ رکوع وکړه رکوع هم دومره طويل وه ٦ د رکوع څخه يي سر مبارک اوچت کې او تر ډير وخته پورې ولاړ وو ٧ او دا قيام د اولني قيامه څخه کمه وو ٨ بيا (دوباره) يي رکوع وکړه دا رکوع هم طويل وه خو د مخکني رکوع څخه کموه بيا ودريدلو او سجده يي وکړه بيا (د دويم رکعت د پاره) ودريدلو او ډير طويل قيام يي وکړو ٩ خو دا قيام د اولني قيام څخه کم وو ١٠ بيا رکوع ته لاړو دا رکوع هم اوږده وه خو د اولني رکوع څخه کمه ١١ بيا ئې سجده يي وکړه ١٢ د دې څخه وروسته (يعني د التحيات او سلام څخه وروسته) د لمانځه څخه فارغ شو نو نمر روښانه شوې وو.

١ فَقَالَ: إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ، ٢ لَا يَخْسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ، ٣ فَإِذَا رَأَيْتُمْ ذَلِكَ فَاذْكُرُوا اللهَ. ٤ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، رَأَيْنَاكَ تَنَاوَلْتَ شَيْئًا فِي مَقَامِكَ هَذَا، ٥ ثُمَّ رَأَيْنَاكَ تَكَعْكَعْتَ، ٦ فَقَالَ: إِنِّي رَأَيْتُ الْجَنَّةَ، ٧ فَتَنَاوَلْتُ مِنْهَا عُنْقُودًا، ٨ وَلَوْ أَخَذْتُهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا، ٩ وَرَأَيْتُ النَّارَ فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ مَنْظَرًا قَطُّ أَفْظَعَ، ١٠ وَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ. ١١ قَالُوا: بِمَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: بِكُفْرِهِنَّ. ١٢ قِيلَ: يَكْفُرْنَ بِاللهِ؟! ١٣ قَالَ: يَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ، وَيَكْفُرْنَ الْإِحْسَانَ، ١٤ لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ: ١٥ مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضور ﷺ وفرمايل چې نمر او سپوږمي د الله جل جلاله (د قدرت) د نښنو څخه دوه نښاني دي ٢ نه دا د چا د مرګ په وجه ترنځ (تندر) نيسي او نه د چا د پيدا کيدو په وجه ٣ هر کله چې تاسو ووينې (چې دا تندر نيولي دي) نو د الله جل جلاله په ياد کې مشغول شئ ٤ صحابه و رضي الله عنهم عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ (د لمانځه په دوران کې) مونږ وليدل چې تا ﷺ د خپل ځاي څخه د څه شي د اخستلو اراده وکړه ٥ بيا مونږ ته ﷺ په وروسته کيدو وليدلې؟ ٦ حضور ﷺ وفرمايل چې (کله تاسو زه د څه شي آخستو د پاره په مخکې کيدو ليدلي ووم) هغه وخت ما جنت ليدلي وو ٧ او د هغې څخه مې د انګورو يوه غنچه شوکولو اراده کړې وه ٨ که ما د انګورو هغه غنچه شوکولې وې نو بلاشبه تاسو به هغه خوړلې ترڅو چې دنيا پاتې وې ٩ او کله چې تاسو زه به وروسته کيدو ليدلې ووم (هغه وخت) ما دوزخ ليدلې وو (د هغې د ګرمي د رسيدو د ويرې څه شاته شوې وم) او د نن ورځ

په شان په هيڅ ورځ کې ما داسې هولناك ځاى [سخته] هيڅ کله نه وو ليدلي ⑩ او په دوزخ کې ما زياتې ښځې وليدلو ⑪ صحابه ؤ ﷺ عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ په څه وجه؟ حضور ﷺ وفرمايل چې د هغوئ د کفر په وجه ⑫ صحابه ؤ ﷺ عرض وکړو چې آيا ښځې د الله ﷻ په کفر کې مبتلا دي؟ ⑬ وي فرمايل چې نه بلکه هغوى د خاوندانو د نعمتو او د احسان کفران کوي (يعني د خاوندانو ناشکري او نافرماني کوي او د چا احسان نه مني) ⑭ که تاسو په هغوئ کې د چا سره تر مودو پورې نيکي کوئ خو هر کله چې هغه څه شي [د خپلې مرضئ خلاف] ووينې نو دا وايي ⑮ چې ما هيڅ کله ستا څخه خير نه دي ليدلي. (بخاري مسلم)

حل لغات: ① **تَكَعْكَعْتَ:** تاسو وړاندې وروسته کيدئ.

تسهيلات:

قوله: تَكَعْكَعْتَ: چونکه حضورپاك دَ کسوف په مونځ کښې وړاندې روستو تلې راغلې وو لهذا هم دغه سوال صحابه کرامو اوکړو.

قوله: لَا يَخْسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ:

د خلقو دغلطې عقيدې اصلاح: - لکه څنګه چه اول ليکلې شوې دی چه دَ جاهليت په زمانه کښې دَ عربو داغلطه عقيده وه چه نمر تندر ځکه نيسی چه څوك لوئی سړې مړکيږی. په اتفاق سره په هغه ورځ دَ حضرت ابراهيم ﷺ انتقال شوې وو چه دَ ماريه قبطيه ﷺ نه پيدا شوې وو کومه چه دَحضورپاك وينځه وه. په دې انتقال سره دَ جاهليت دا عقيده نوره هم پخه کيدې شوه چه واقعی دَ يولوئی سړی په مړکيدو سره نمرتندر نيسی. په دې وجه حضورپاك دَ هغه خلقو دَ ترديد دَپاره باقاعده خطبه ورکړه اواعلان ئی اوکړو چه په نمر سپوږمئی کښې بدلون راوستل دَ الله تعالی کاردې. دَ الله تعالی دَ وحدانيت او قدرت کامله نښې دی. دا بدلون دَ يو سړی دَ مرګ دَ وجې نه نه راځی بس په تاسو باندې لازم دی چه کله په سپوږمئی يا نمر کښې داسې بدلون اوګورئی نومونځونه کوئی دَ الله تعالی ذکرکوئی او دَ الله تعالی په مخکښې زاری کوئی.

د صلاة الکسوف دپاره د خطبې حکم: - دَ سپوږمئی معامله دَ شپې وی په دې وجه په هغې کښې په جمع سره مونځ نشته بلکه په کورونو کښې ځان ځانله مونځ کولې شی. لهذا دَدې مسائل جدا اوکم دی اودَنمر تندر نيول چونکه دَ ورځې وخت کښې وی او په ورځ کښې دَ دې دَپاره جمع وی لهذا دَدې مسائل زيات دی. باقی دَ امام ابو حنيفه رحمه الله په نيز صلوة کسوف کښې خطبه نشته دې. چرته چه حضورپاك خطبه ورکړې ده نوهغه دَ اهل جاهليت دَ رسوماتو اودَ نمر تندر نيولو باره کښې دَعربو دَ غلطې عقيدې ترديد مقصود وو. دَ شوافع حضراتو په نيز کسوف خطبه ده. خو په ظاهر احاديثو کښې دَ خطبې ذکرموجود دې.

[١٤٨٣] په صلاة كسوف كښې د رسول الله ﷺ خطبه

١٤٨٣ —()[٣] ١ «وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - نَحْوُ حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَقَالَتْ: ٢ ثُمَّ سَجَدَ فَأَطَالَ السُّجُودَ، ٣ ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدِ انْجَلَتِ الشَّمْسُ، ٤ فَخَطَبَ النَّاسَ، فَحَمِدَ اللَّهَ، وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ٥ ثُمَّ قَالَ: إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ، ٦ لَا يَخْسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ،

ترجمه: ١ او بي بي عائشه رضي الله عنها څخه (هم) د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د مذكوره بالا روايت پشان روايت منقول دي په هغې كې يي دا هم فرمايلي دي ٢ چې بيا حضور ﷺ سجدي ته لاړو نو ډيره طويله سجده يي وكړه ٣ بيا چې د لمانځه څخه فارغ شو نو (نمر) روښانه شوې وو ٤ د دې څخه وروسته حضور ﷺ د خلقو په مخكې خطبه وفرمايله نو (مخكې حضور ﷺ د الله جل جلاله حمد وثنا بيان كړه ٥ بيا يي وفرمايل چې نمر او سپوږمي د الله جل جلاله دنښو څخه دوه نښاني دي ٦ نه خو د چا د مرګ په وجه يي ترنخ (تندر) نيسي او نه د چا د پيدايش په وجه.

١ فَإِذَا رَأَيْتُمْ ذَلِكَ فَادْعُوا اللَّهَ، ٢ وَكَبِّرُوا، وَصَلُّوا، وَتَصَدَّقُوا، ٣ ثُمَّ قَالَ: يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ، وَاللَّهِ مَا مِنْ أَحَدٍ أَغْيَرُ مِنَ اللَّهِ ٤ أَنْ يَزْنِيَ عَبْدُهُ أَوْ تَزْنِيَ أَمَتُهُ. ٥ يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ وَاللَّهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ ٦ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا، وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ هركله چې تاسو تندر نيول ووينئ نو د الله جل جلاله څخه دعا غواړئ ٢ تكبير وائي او مونځ كوئ او د الله په لار كې خيرات كوئ ٣ بيا يي وفرمايل چې اي امت د محمد! (ﷺ) قسم دي د پروردګار د الله تعالى جل جلاله څخه زيات هيڅ څوك غيرت مند نشته ٤ هر كله چې د هغه يو غلام [بنده] زنا كوي يا د هغه يوه وينزه (بندي) په زنا كې مبتلا كيږي ٥ او اي امت د محمد! (ﷺ) قسم دي په الله جل جلاله كه تاسو خلق هغه شي وپيژنئ كوم چې زه پيژنم (يعني د آخرت د ورځې هولناكي او د پرودرګار غضب) ٦ نو په دې كې هيڅ شك نشته چې ستاسو خندا به كمه شي او ژړا به مو زياته شي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① نَحْوُ: په معنى د مثل سره يعنى پشان، ② انْجَلَتِ: روښانه شو.

تسهيلات:

قوله: مَا مِنْ أَحَدٍ أَغْيَرُ مِنَ اللَّهِ:

د الله تعالى د غيرت مفهوم:- د غيرت اصلي معنى ده ، خپل حق كښې د غير شركت لره بد ګڼل. او د الله ﷻ د غيرت مطلب دادې چې په خپلو احكاماتو كښې د بندګانو نافرماني

[١]) اخرجه البخارى فى كتاب الجمعة/باب الصدقة فى الكسوف (رقم-١٠٤٤) ومسلم كتاب الكسوف/باب صلاة الكسوف (رقم-٣ - (٩٠١) والنسائى كتاب الكسوف/نوع آخر من صلاة الكسوف (رقم-١٤٧٤) ومالك فى الموطا كتاب صلاة الكسوف/باب العمل فى صلاة الكسوف (رقم-١)

اود امراونهى خلاف کول بد ګڼرل. ددې ارشاد حاصل دادې چې د الله ﷻ يو بنده نارينه يا زنانه کله چې زنا اوکړى نو دې معامله کښې چې تاسو څومره غيرت محسوسوئى او ددې دواړو نه چې ستاسو څومره نفرت کوې ، دالله ﷻ غيرت ددې نه زيات شديد او د هغه نفرت ستاسو د نفرت نه زيات سخت دې.

قوله: وَاللَّهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ:

په روايت الباب کښې زيات: -په دې روايت کښې د سجدې د طوالت د خطبې، دعا، تکبير، د مونځ اود خيرات کولو ذکر او حکم دې اوپه دې حديث آخرى څه الفاظ نور زياتى هم منقول دى، حالانکه د ابن عباس ﷺ په روايت کښې ددې ذکر نشته دې.

[١٤٨٤] د کسوف په وخت کښې د نبى عليه السلام کيفيت

١٤٨٣-()[٥] ١ وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «خُسِفَتِ الشَّمْسُ، فَقَامَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَزِعًا ٣ يَخْشَى أَنْ تَكُونَ السَّاعَةَ ٤ فَأَتَى الْمَسْجِدَ، فَصَلَّى بِأَطْوَلِ قِيَامٍ وَرُكُوعٍ وَسُجُودٍ، ٥ مَا رَأَيْتُهُ قَطُّ يَفْعَلُهُ، ٦ وَقَالَ: هَذِهِ الْآيَاتُ الَّتِي يُرْسِلُ اللَّهُ، ٧ لَا تَكُونُ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ، ٨ وَلَكِنْ يُخَوِّفُ اللَّهُ بِهَا عِبَادَهُ، ٩ فَإِذَا رَأَيْتُمْ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ، ١٠ فَافْزَعُوا إِلَى ذِكْرِهِ وَدُعَائِهِ وَاسْتِغْفَارِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ ابو موسى ﷺ فرمايي ٢ چې کوم وخت چې نمر ترنڅ (تندر) ونيولو نو نبي کريم ﷺ خوف زده ودريدلو ٣ او داسې خوف به ورباندې خور شو لکه چې قيامت راغلې وي ٤ حضور ﷺ مسجد ته تشريف راوړو او د طويل قيام، رکوع او سجود سره يې مونځ وکړو ٥ ما هيڅ کله حضور ﷺ (په دومره طويل قيام، رکوع او سجود کولو باندې نه دي ليدلي) ٦ بيا رسول الله ﷺ وفرمايل چې دا نښانې چې الله تعالى ﷻ راليږي ٧ نه خو د چا د مرګ په سبب ظاهريږي اونه دچا د پيدائش په وجه دي ٨ ليکن د دې په ذريعه الله تعالى ﷻ خپل بندګان ويروي ٩ هر کله چې تاسو د دې نښو څخه څه نښه ووينئ ١٠ نو د الله تعالى ﷻ څخه خوف کولو سره د هغه ذکر کوئ دعا غواړئ او په استغفار کې مشغوليږئ. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① فَزِعًا: د ويرې نه، ② يَخْشَى: ويريدلو، ③ يُخَوِّفُ: ويروى، ④ افْزَعُوا: اويريږئ

تسهيلات:

قوله: فَقَامَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَزِعًا: يعنى کله چه دنمر تندر نيول شروع شو نوحضورپاك ويريدو سره اودريدو او په حضورپاك باندې داسې ويره راغله لکه چه قيامت قائم شوې وى.

[1]) اخرجه البخارى فى کتاب الجمعة/باب الذکر فى الکسوف (رقم-١٠٥٩) ومسلم کتاب الکسوف/باب ذکر النداء بصلاة الکسوف الصلاة جامعة (رقم) ٢٤ - (٩١٢) وابوداود کتاب الصلاة،باب صلاة الکسوف (رقم-١١٧٧) والنسائى کتاب الکسوف/باب الأمر بالاستغفار فى الکسوف (رقم-١٥٠٣) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فى صلاة الکسوف (رقم - ١٢٦٣)

اشکال:- دَ نمر تندر نیول خو یو عادی امر دیِ چه "حیلولة الارض بین الشمس والقمر" کیږی په دې کښې دَ ویریدو څه خبره وه اودَ دومره پریشانه کیدو څه ضرورت وو؟

داشکال جواب:- کسوف الشمس دَ قیامت دَ نښانونه یوه نښه ده په کوم کښې چه دا اشاره ده چه دا لوئی لوئی غرونه دا لوئی لوئی دریابونه اودا نظام علوی او سفلی اودا نظام سماوی به دَ سترګو په رپ کښې ذره ذره شی. دا ستوری او دا سپوږمئی نمر اودَدې دغه شان بې نوره کیدل دا دَ قیامت دَ علاماتو یوه نمونه ده اودَ قیامت ویره یوعکس دې ځکه حضورپاك اوویریدو اودَ جمات طرف ته راغلو اوامت ته ئی هم حکم ورکړو چه تاسو هم ویریدو سره جمات ته لاړشئی او مونځ اوکړئی ذکرکوئی چرته هم دَ دغه وخت نه قیامت قائم کیدل شروع نه شی.

[١٤٨٥] دَ کسوف په مونځ کښې دَ رکوع اوسجدو تعداد

١٤٨٥—(١)[٦] [١] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَوْمَ مَاتَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٣] فَصَلَّى بِالنَّاسِ سِتَّ رَكَعَاتٍ بِأَرْبَعِ سَجَدَاتٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضی الله عنه فرمایي [٢] چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې په کومه ورځ چې د حضور ﷺ صاحبزاده حضرت ابراهیم وفات شوې وو نمر ترنخ (تندر) نیولي وو [٣] نو حضور ﷺ خلقو ته په شپږ رکوع او څلورو سجدو سره مونځ ورکړو. (مسلم)

تسهیلات:

قوله: مَاتَ إِبْرَاهِيمُ:

د ابراهیم تعارف:- دا ماریه قبطیه رضی الله عنها دَ بطن نه وو داتلسو میاشتو په عمرکښې دَهغه انتقال شوې وو. په کال ٨هجری کښې پیداشوې وو او په ١٠هجری کښې په ماشوموالی کښې وفات شو. په دې روایت کښې په یورکعت کښې درې رکوع کولوبیان دې.

[١٤٨٦] په صلاة کسوف کښې څلور رکوعګانې اودوه سجدې

١٤٨٦—(٢)[٧] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [٢] «صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حِينَ كُسِفَتِ الشَّمْسُ ثَمَانِ رَكَعَاتٍ فِي أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ».

ترجمه: [١] ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي [٢] چې رسول الله ﷺ د نمر ترنخ (تندر) نیولو په وخت دوه رکعاته مونځ د اتو رکوع او څلورو سجدو سره داسې ورکړو [چې په هر رکعت کې څلور

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب الکسوف/باب ما عرض علی النبی صلی الله علیه وسلم فی صلاة الکسوف من أمر الجنة والنار(رقم) ١٠ - (٩٠٤)

[٢]) اخرجه مسلم فی کتاب الکسوف/باب ذکر من قال: إنه رکع ثمان رکعات فی أربع سجدات (رقم) ١٨ - (٩٠٨) کتاب الکسوف/باب ذکر النداء بصلاة الکسوف الصلاة جامعة (رقم) ٢٦ - (٩١٣)

څلور رکوع او دوه دوه سجدي يي وکړلي]

حل اللغات: - ① كُسِفَتِ: تندر اونيولو.

۱۴۸۷-()[٥] [١] وَعَنْ عَلِيٍّ مِثْلُ ذٰلِكَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او دغسې د حضرت علي رضی الله عنه څخه منقول دي. (مسلم)

تسهيلات:

قوله: وَعَنْ عَلِيٍّ مِثْلُ ذٰلِكَ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: -

① حضرت علی رضی الله عنه هم دا روايت نقل کړې دي چې حضرت رسول كريم صلی الله علیه وسلم داشان مونځ کړې دي

② د حضرت علی رضی الله عنه باره کښې دامنقول دی چې هغوئ دا شان مونځ ادا کړو.

[۱۴۸۸] د کسوف په وخت کښې د نبی علیه السلام طریقه

۱۴۸۸-()[۸] [١] «وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ- رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [٢] كُنْتُ أَرْتَمِي بِأَسْهُمٍ لِي بِالْمَدِينَةِ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللّٰهِ- صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٣] إِذْ كُسِفَتِ الشَّمْسُ، فَنَبَذْتُهَا فَقُلْتُ: [۴] وَاللّٰهِ لَأَنْظُرَنَّ إِلَى مَا حَدَثَ لِرَسُولِ اللّٰهِ- صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي كُسُوفِ الشَّمْسِ.

ترجمه: [١] حضرت عبدالرحمٰن ابن سمره رضی الله عنه فرمايي [٢] چې ما به د رسول کريم صلی الله علیه وسلم په ژوند مبارك کې د خپلو غشو سره تير اندازي کوله (يوه ورځ په تير اندازي کې مشغول ووم) [٣] چې نمر ترنځ (تندر) ونيولو ما غشي وغورځول او په زړه کې مي اوويل [۴] چې قسم په الله زه به ضرور ګورم چې نمر ترنځ (تندر) نيولو سره د حضور صلی الله علیه وسلم څه حالت وی (يعني دا به ګورم چې حضور صلی الله علیه وسلم په دي وخت کې څه کوي؟)

حل اللغات: - ① أَرْتَمِي: تير اندازی مې کوله، ② نَبَذْتُهَا: اومې غورزول دا غشی، ③ حَدَثَ: څه نوې خبره راپيښه شوه،

[١] قَالَ: فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ قَائِمٌ فِي الصَّلَاةِ رَافِعٌ يَدَيْهِ [٢] فَجَعَلَ يُسَبِّحُ وَيُهَلِّلُ، وَيُكَبِّرُ وَيَحْمَدُ، [٣] وَيَدْعُو حَتَّى حُسِرَ عَنْهَا، [۴] فَلَمَّا حُسِرَ عَنْهَا قَرَأَ سُورَتَيْنِ وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ». [٥] رَوَاهُ مُسْلِمٌ فِي صَحِيحِهِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ، [٦] وَكَذَا فِي شَرْحِ السُّنَّةِ عَنْهُ. [٧] وَفِي نُسَخِ الْمَصَابِيحِ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ.

ترجمه: [١] عبدالرحمٰن رضی الله عنه وايي چې (په دي سوچ) زه د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شوم (نو ومي ليدل) چې حضور صلی الله علیه وسلم دواړه لاسونه پورته کړي وو او په لمانځه کې ولاړ وو [٢] بيا (ما واوريدل چې) حضور صلی الله علیه وسلم سبحان الله، لا اله الا الله، الله اکبر او الحمد لله ويل

---

[١]) اخرجه مسلم كتاب الكسوف/باب ذكر من قال: إنه ركع ثمان ركعات فى أربع سجدات (رقم) ۱۸ - (۹۰۸)
[٢]) اخرجه مسلم فى كتاب الكسوف/باب ذكر النداء بصلاة الكسوف الصلاة جامعة (رقم) ۲۶ - (۹۱۳)

٣ او دعا يي كوله تر دې چې نمر د تندر نيولو څخه راوتلو ٤ كوم وخت چې د نمر څخه تور والي [ظلمت] لرې شو نو حضور ﷺ دوه سورتونه اوويل او دوه ركعاته مونځ يي اداء كړو (يعني حضور ﷺ دوه ركعاته مونځ وكړو چې په هغې كې يي دوه سورتونه قراءت كړل) ٥ دا حديث مسلم رحمه الله په خپل صحيح مسلم كې د عبدالرحمٰن ابن سمره رضي الله عنه څخه نقل كړي دي ٦ او په شرح السنة كې هم دا روايت دغسې د عبدالرحمٰن رضي الله عنه ابن سمره څخه منقول دي ٧ او د مصابيح په نسخو كې دا روايت د جابر ابن سمره څخه نقل شوې دي.

حل اللغات: -④ يُهَلِّلُ: تهليل يعنى لَاإِلٰهَ إِلَّاالله، وئيل. ⑤ حُسِرَ: لرې شو (توروالي د نمر) يعنى روښانه شو.

تسهيلات:

قوله: فَأَتَيْتُهُ وَهُوَقَـائِمٌ فِي الصَّلَاةِ:

د مذكوره جملې په مفهوم كښې دوه اقوال: -

① حضور نبی كريم ﷺ دواړه لاسونه اوچت كړی وو او د مونځ په انداز كښې ولاړ وو او قبلې ته ئې مخ وو. او خلقو صفونه جوړ كړی وو.

② دې ځائې د صلوة نه مراد دعا ده. داتاويل په دې وجه كيږی چې د يو مسلك نه هم دا نه معلوميږی چې حضور نبی كريم ﷺ دنمر تندر نيولو په وخت كښې د مونځ په حالت كښې ذكر كولو او لاسونه ئې اوچت كړی وو.

د تعدد ركوع د رواياتو ضعف: - دكسوف دمونځ د ركوع دشمير باره كښې مختلف احاديث مروی دی. كومو روايتونو نه چې په هر ركعت كښې د ډيرو ډيرو ركوع ګانو اثبات كيږی هغه ټول مضطرب دی. هم دا وجه ده چې دې باره پخپله راويان هم مضطرب دې. ځينو دريو ركوع ګانې بيان كړی دی ، ځينو څلور او ځينو دا شمير پنځه بيان كړې دې او دا قاعده ده چې اضطراب موجب دضعف وی. نو د هغه رواياتو ترك كول واجب شو كوم چې د تعدد د ركوع ثابتوی.

[١٤٨٩] دَكسوف په وخت كښې د غلام آزادول

١٤٨٩ —(١)[٩] ١ وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَتْ: ٢ «لَقَدْ أَمَرَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِالْعَتَاقَةِ فِي كُسُوفِ الشَّمْسِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه لور بي بي اسماء رضي الله عنها فرمايي ٢ چې نبي كريم ﷺ د نمر په تندر نيولو كې د غلام د آزادولو حكم فرمايلي دي. (بخاري)

حل اللغات: - ① اَلْعَتَاقَة: غلام آزادول.

---

(١) اخرجه البخاری فی كتاب الجمعة /باب من أحب العتاقة فی كسوف الشمس(رقم-١٠٥٤)

تسهيلات:

قوله: بِالْعَتَاقَةِ فِي كُسُوفِ الشَّمْسِ:

د كسوف په وخت كښې د غلام آزادولو ترغيب:- د نمر تندر نيولو په وخت دنورو عملونو هم ذكر دې چې مونځ سره سره دې څه صدقه هم وركړى. څكه چې صدقې سره هم مصيبتونه رفع كيږى. او اعلى صدقه داده چې غلام آزاد كړې شى.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٤٩٠] دَ كسوف په مونځ كښې د قراءت بالجهر او بالسر حكم

١٤٩٠-()[١٠] ١ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي كُسُوفٍ ٣ لَا نَسْمَعُ لَهُ صَوْتًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ سمره رضي الله عنه ابن جندب فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ د نمر د تندر نيولو په وخت مونږ ته داسې مونځ راكړو ٣ چې مونږ د حضور ﷺ آواز نه اوريدلو. (ترمذي، ابوداؤد، نسايي ابن ماجه)

تسهيلات:

قوله: لَا نَسْمَعُ لَهُ صَوْتًا:

په صلاة الكسوف په قراءت عدم:- دا حديث مبارك او ددې په شان نور احاديث په دې خبره باندې دلالت كوى چې د كسوف د مونځ په وخت كښې به د امام قرآء ت په اوچت آواز نه وى.

[١٤٩١] د عجيبه واقعه په ظهور سجده كول

١٤٩١-()[١١] ١ وَعَنْ عِكْرِمَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قِيلَ لِابْنِ عَبَّاسٍ: ٢ مَاتَتْ فُلَانَةٌ، بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٣ فَخَرَّ سَاجِدًا، ٤ فَقِيلَ لَهُ: تَسْجُدُ فِي هَذِهِ السَّاعَةِ؟! ٥ فَقَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «إِذَا رَأَيْتُمْ آيَةً فَاسْجُدُوا» ٦ وَأَيُّ آيَةٍ أَعْظَمُ مِنْ ذَهَابِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؟! رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ عكرمه رضي الله عنه راوي دي چې ابن عباس رضي الله عنه ته اوويل شو ٢ چې د نبي كريم ﷺ د بيبيانو مباركو څخه فلانې بي بي (يعني بي بي صفيه رضي الله عنها) وفات شوه ٣ نو هغه (د دې عظيمې حادثې د خبر په اوريدو سره) په سجده پريوتلو (يا دا چې هغه مونځ وكړو) ٤ هغه

[1]) اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة،باب من قال أربع ركعات (رقم-١١٨٤) والترمذى كتاب السفر/باب: كيف القراءة فى الكسوف (رقم-٥٦٢) والنسائى كتاب الكسوف/باب نوع آخر (رقم-١٤٨٤) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فى صلاة الكسوف (رقم - ١٢٦٤)

[2]) اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة،باب السجود عند الآيات (رقم-١١٩٧) والترمذى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى فضل أزواج النبى صلى الله عليه وسلم (رقم-٣٨٩١)

ته عرض وشو چې ته دا وخت سجده ولې کوې؟[٥] هغه وفرمايل چې د رسول الله ﷺ ارشاد گرامي دي چې هرکله تاسو څه نښه (یعني کرشمهٔ الهی) ووینئ نو سجده کوئ[٦] او دحضور ﷺ د بیبیانو مبارکو د دائمي جدا والي څخه زیاته لویه نښه بله کومه کیدي شي. (ترمذي ابوداؤد)

حل اللغات:- ① خَرَّ: پریوتلو (په سجده). ② ذَهَابِ: تلو ته وائی دلته ترې وفات کیدل مراد دی.

تسهیلات: قوله :مَاتَتْ فُلَانَةُ بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَخَرَّ سَاجِدًا:

د حادثې په وخت سجده کول:- دې نه ام المؤمنین حضرت صفیه رضي الله عنها مراد ده. دا چه کله وفات شوه نوچا حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ته خبر اوکړو نوهغه په سجده کښې راپریوتلو. دغه سړی تپوس اوکړو چه داکوم وخت دې اوڅه سبب دې چه تاسو سجده اوکړه؟ په دې باندې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائیل چه دَحضورپاك ارشاد دې چه کله تاسو څه نښه اوڅه نشانی اَوګورې نو فوری توګه باندې سجده کوه او دَ رسول الله ﷺ دَ بی بی دَ انتقال نه بل څه لویه نښه کیدې شی.

د سجدې په مراد کښې دوه احتمالات:- علامه طیبی رحمه الله لیکی چه په حدیث کښې "ایة" لفظ مطلق مذکور دې

① اوس که چرته دا دَ سپوږمئی او نمر په تندر باندې حمل کړې شی نو دَ سجدې نه مراد به مونځ وی چه دکسوف مونځ اوکړه ② اوکه دَ آیت نه نورې نښې مثلاً طوفان سلئی یا زلزله مراد وی نوبیابه دَ سجدې نه هم سجده مراد اخستې شی مونځ به مراد نه وی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٤٩٢] دَکسوف په مونځ کښې رکوع

١٤٩٢ —()[١٢][١] عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ:[٢] «انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَصَلَّى بِهِمْ،[٣] فَقَرَأَ بِسُورَةٍ مِنَ الطُّوَلِ،[٤] وَرَكَعَ خَمْسَ رَكَعَاتٍ،[٥] وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ،[٦] ثُمَّ قَامَ الثَّانِيَةَ فَقَرَأَ بِسُورَةٍ مِنَ الطُّوَلِ،[٧] ثُمَّ رَكَعَ خَمْسَ رَكَعَاتٍ، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ،[٨] ثُمَّ جَلَسَ كَمَا هُوَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ يَدْعُو[٩] حَتَّى انْجَلَى كُسُوفُهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه :[١] حضرت ابي ابن کعب رضي الله عنه فرمايي[٢] چې د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کې نمر ترنځ (تندر) ونیولو نو حضور ﷺ صحابه ؤ رضي الله عنهم ته مونځ ورکړو[٣] چې په هغې کې حضور ﷺ په اولنې رکعت کې د طویل سورتونو څخه یو سورت قراءت وفرمایلو[٤] او پنځه رکوعي یې وکړې[٥] او دوه سجدې یې وکړې[٦] بیاد دویم رکعت د پاره ودریدلو

[١] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب من قال أربع رکعات (رقم-١١٨٢) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی صلاة الکسوف (رقم - ١٢٦٢)

نو په هغې کې هم د طويل سورتونو څخه يو سورت يي قراءت کړو [٧] او پنځه رکوعي او دوه سجدې يي وکړې [٨] بيا دغسې قبله رخ (قبله ته مخامخ) ناست وو او دعا يي غوښتله [٩] تر دې چې نمر روښانه شو. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① انْجَلَى: چه روښانه شو.

تسهيلات:

قوله: وَرَكَعَ خَمْسَ رَكَعَاتٍ:

په لسو رکعتونو کښې لس رکوع ګانې:- په دې حديث پاک کښې پنځه رکوع ګانې په يو رکعت کښې ذکر شوي دي. يعنې په لسو رکعتونو کښې لس رکوع ګانې دي.

[١٤٩٣] د احنافو مستدل

١٤٩٣-()[١٣] [١] وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [٢] «كُسِفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] فَجَعَلَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ، [٤] وَيَسْأَلُ عَنْهَا، حَتَّى انْجَلَتِ الشَّمْسُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. [٥] وَفِي رِوَايَةِ النَّسَائِيِّ: أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «صَلَّى حِينَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ مِثْلَ صَلَاتِنَا: يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ».

ترجمه: [١] نعمان رضي الله عنه ابن بشير فرمايي [٢] چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې نمر ترنځ (تندر) ونيولو [٣] نو حضور ﷺ دوه دوه رکعاته مونځ کول شروع کړل (يعني دوه رکعاته مونځ کولو سره به يي کتل که ترنځ (تندر) به ختم نه وو نو بيا به يي دوه رکعاته مونځ کولو دغسې د تندر تر ختميدو پورې يي مونځ کولو) [۴] او د الله تعالى جل جلاله څخه يي دا دعا غوښتله [چې الله نمر روښانه کړي يا دا چې د هر دوه رکعاته څخه وروسته خلقو څخه به يي د تندر نيولو په باره کې پوښتنه کوله چې تندر ختم شو که نه؟ که خلقو به اوويل چې اوس لا باقي دي نو بيا به لمانځه کې مشغول شو] تر دې چې نمر روښانه شو، ابوداؤد، [٥] او د نسايي يو روايت دي چې نمر ترنځ (تندر) ونيولو نو حضور ﷺ زمونږ په شان مونځ وکړو چې په هغې کې يي رکوع او سجده کوله.

حل اللغات:- ① انْجَلَتِ: چه روښانه شو،

[١] وَلَهُ فِي أُخْرَى: أَنَّ «النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَرَجَ يَوْمًا مُسْتَعْجِلًا إِلَى الْمَسْجِدِ [٢] وَقَدِ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ، [٣] فَصَلَّى حَتَّى انْجَلَتْ، [۴] ثُمَّ قَالَ: إِنَّ أَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ كَانُوا يَقُولُونَ: [٥] إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَا يَنْخَسِفَانِ إِلَّا لِمَوْتِ عَظِيمٍ مِنْ عُظَمَاءِ أَهْلِ الْأَرْضِ، [٦] وَإِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَا يَنْخَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ، [٧] وَلَكِنَّهُمَا خَلِيقَتَانِ مِنْ خَلْقِهِ، [٨] يُحْدِثُ اللَّهُ فِي خَلْقِهِ مَا شَاءَ، [٩] فَأَيُّهُمَا انْخَسَفَ فَصَلُّوا حَتَّى يَنْجَلِيَ، [١٠] أَوْ يُحْدِثَ اللَّهُ أَمْرًا».

---

[1]) اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة،باب من قال: يركع ركعتين (رقم-١١٩٣) والنسائى كتاب الكسوف/باب نوع آخر (رقم-١٤٨٧)

ترجمه:[١]د نسايي د يو بل روايت الفاظ دا دي چې يو ورځ حضور ﷺ په تلواري سره مسجد ته تشريف راوړو[٢] چې نمر ترنځ (تندر) نيولي وو[٣] نو مونځ يي وکړو تر دي چې نمر روښانه شو[٤] بيا حضور ﷺ وفرمايل چې د جاهليت د زماني خلقو به ويل[٥] چې په زمکه اوسيدونکو کې د لويو سړيو څخه د يو سړي د مرګ په وجه نمر او سپوږمي ته تندر لګى[٦] حالانکه (حقيقت دا دي چې) نمر او سپوږمي نه د چا د مرګ په وجه ترنځ (تندر) نيسي او نه د چا د پيدايش په وجه،[٧] دا دواړه د الله ﷻ د مخلوقاتو څخه دوه مخلوق دي[٨] الله تعالى ﷻ چې څنګه غواړي په خپل مخلوق کې تغير [مثلًا تندر نيول رڼا او تياره] پيدا کوي[٩] هر کله چې په دي کې يو تندر ونيسي نو تاسو مونځ کول شروع کړئ تر دي چې هغه روښانه شى[١٠] يا د الله تعالى ﷻ څه حکم ظاهر شي (يعني عذاب راشي يا قيامت شروع شي) (نسايي) .

حل اللغات:-② مُسْتَعْجِلًا: په جلتئ سره.

د راوي مختصر تعارف:- نوم نعمان ابوعبدالله كنيت دَ پلار نوم ئى بشير اودې دَ ډيرو اوچتو صحابه كرامو نه وو.دَ هغوى دَ پلار عبدالله بن رواحه خور وه.دَ هجرت نه پس انصاروكښې دَ ټولونه اول هم دا پيداشوې وه.بيا شپږ مياشتې پس حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه پيدا شوي وو.كله چه څه قدرې هوښيار شو نو منبر سره نيزدې به كيناستو او وعظ به ئى اوريدو. (٥)

په ٥٩ هـ كښې اميرمعاويه رضي الله عنه هغه دَ كوفې حاكم مقرر كړو بيادَ حمص هم اميرمقرر شو.دَ هغوى باره كښې صاحب قهرى فرمائى كان حليمًا ناسكًا يحب العافية هغه بوج اوچتونكې،عابداو عافيت خوښونكې وو. دې سره دَبهادرئى او بسالت هم مثال نه لرلو.

وفات:- ٦٥ هـ حمص په خواشا كښې په بيران نومې كلى كښې وو دَ ابن زبير رضي الله عنه مروان سره جنګ كيدلو په كوم كښې چه هغه دَ ابن زبير رضي الله عنه ملګرتيا اوكړه.په دې باندې دَ مروان سړى خالد بن عدى الكلامى هغه قتل كړو اودَ هغه سر ئى پرې كړو.دَ هغه بى بى دَ هغه سر په خپله غيږ كښې اونيولو هغه وخت دَ ده عمر ٦٤ كاله وو.(١)

روايات:- دَهغه نه ١٢٤ روايات نقل دى.٥ كښې بخارى اومسلم دواړه متفق دى. بخارى په يو كښې او مسلم په څلورو كښې منفرد دې.

(١) استيعاب ٣١٠۔ (٢) فى الإستيذان باب لاتترك النار فى البيت عند النوم رقم، ٥٨٢٠، ومس، فى الأشربة باب الأمر بتغطية الإناء وإيكاء السقاء إلخ، رقم، ٣٧٦٠، وكذا،حم، اول مسند الكوفيين رقم، ١٨٧٤٩). (٣)فتح البارى شرح بخارى. (٤) روضة المتقين ٢٠٦/١. (٥)ابوداؤد.

تسهیلات:

قوله: مِثْلَ صَلَاتِنَا:

په صلاة الکسوف کښې د مسلک حنفی تائید:- داحدیث په واضح توګه دَ احنافو دَمسلک تائید کوی وائی چه دَ کسوف مُونځ دَعام مونځونو په شان یومونځ دي دَدې څه جدا طریقه نشته. مونږ له قولی حدیث ته کتل پکاردی اوعام ضابطه داده چه دَ مونځ یورکعت کښې هم یوه رکوع ده.

[۶۷/۵۱] بَابٌ فِي سُجُودِ الشُّكْرِ

وهذاالباب خال عن الفصل الأول والثالث

دَشکردَسجدې بیان

خلاصة الباب:-

فيه ثلاثة أحاديث مشتملة على مسئلة واحدة:

① ثبوت سجود الشكر عن النبي ﷺ : ۱، ۲، ۳۔

د سجدې قسمونه:- په مانځه کښې دننه سجدو نه علاوه دَ مونځ نه بهرڅوقسم سجدې دی تفصیل ته اوګورئ:

① یوه سجده سهوده دادَ مونځ دَ صحیح کولودَپاره ده کوم چه دَ صلوة په حکم کښې ده په دې کښې هیڅ اختلاف نشته دې.

② دویمه سجده دَتلاوت ده دا سجده دَ قرآن دَ تلاوت په وخت واجب وی دَدې په جوازکښې هم څه کلام نشته دې.

③ دریمه سجده دَمناجات ده کومه چه دَ مانځه نه بهر وی. دَ اکثرو علماؤدَ ظاهری اقوال نه معلومیږی چه دا مکروه ده. عوام الناس دَمانځه نه پس داکوی. بعضې خلق دواړه لاسونه په زمکه باندې ایږدی الته کیخودوسره دَ دعا شکل جوړه وی دامکروه ده.

④ څلورمه سجده دَ شکرده چه دَ حصول نعمت یا مصیبت لرې کیدو په وخت کولې شی په دې کښې دَ علماؤ اختلاف دې.

د سجده شکر په حکم کښې مذاهب

① امام شافعی رحمه الله امام احمدبن حنبل رحمه الله اودَ احنافو نه امام محمد رحمه الله فرمائی چه کله څه دَ خاص خوشحالئی موقع راشی نوسجده دَ شکرکول سنت ده.

② امام مالک رحمه الله اوامام ابوحنیفه رحمه الله دَ بعضې اقوال نه معلومیږی چه سجده دَ شکرمکروه ده.

داول فریق دلائل :-

① دَدې باب مذکوره دریواړه احادیث د دوی مستدلات دی په کومو کښې چه دَ سجدې دَ شکر واضح ثبوت موجود دې.

② دَ جنګ بدر په موقع چه کله دَ ابوجهل سر دَ حضورپاك مخې ته راوړلې شو نوحضورپاك دَ شکرسجده ادا کړه اوبیائې اوفرمائیل چه دَدې امت فرعون مړکړې شو. "فخرساجدا" الفاظ راغلی دی.

③ دغه شان صدیق اکبر رضی الله عنه ته چه کله دَ مسلمه کذاب دَ قتل خبر اورسیدو نوهغوی دَ شکر سجده دَ شکراداکړه.

④ دغه شان په ډیروموقعو باندې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دَ شکرسجده ادا کړې ده کله چه به هغوی ته دَمسلمانانو دَ فتح خبر رسیدلو.

⑤ دغه شان کله چه دَ خوارج مشر قتل کړې شو نوحضرت علی رضی الله عنه دَ شکرسجده اداکړه داټول دَ سجدهٔ شکردَ مسنون کیدو دلائل دی.

د دویم فریق دلائل :- دَالله تعالی نعمتونه بې شمیره دی اوهروخت رابښکاره کیږی که په هریونعمت باندې مسلمانانوته دَ سجدهٔشکر کولو حکم کړې دې نودا به یوډیر لوئی تکلیف شی.

دامام ابوحنیفه د قول په تشریح کښې مختلف اقوال :- امام محمد رحمه الله دَ امام ابوحنیفه رحمه الله متعلق په دې سلسله کښې یوه جمله نقل کړې ده (انه کان لایراها شیأ) (کذا فی الذخیرة) یعنی امام صاحب سجدهٔ شکر هیڅ نه ګنړله. دَ امام ابوحنیفه رحمه الله دَدې کلام څه مطلب دې په دې کښې دَ احنافو دَعلماؤ مختلف رائې دی. چې دامام صاحب د دې قول مطلب او مراد څه دې.

① د دې د مسنونیت نفی ده.

② دَ سجدهٔ شکر دَ وجوب نفی ده.

③ دَ سجدهٔ شکر دَ جواز نفی ده.

④ دَ شکرتام نفی کول غواړی چه صرف سجده کول پوره شکر نه دې بلکه کامل شکردادې چه دوه رکعته دَ شکرانې مونځ اداکړی. داټول اقوال په خپل ځائی

د احنافو په نیزمفتی به قول :- لیکن دَ احنافو فتوی په دې باندې ده چه سجده دَ شکر کول مستحب دی ځکه چه په ډیرو احادیثو کښې دَدې ثبوت موجود دې او امت دا قبول کړی دی. او په هریونعمت باندې سره دَدې چه تکلیف مالایطاق دې لیکن په لویولویو نعمتونو باندې کله کله دَ شکرسجده کول څه ګران کار نه دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

داعجیبه باب دې چه په دې کښې فصل اول هم نشته دې او فصل ثالث هم نشته دې صرف فصل ثانی دې په کوم کښې چه صرف درې احادیث دی کوم چه حاضر خدمت دی.

[١٤٩٤] دَ خوشحالۍ په وخت سجده د شکر

١٤٩٣—(١)[١] ① عَنْ أَبِي بَكْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا جَاءَهُ أَمْرٌ سُرُوراً -③ أَوْ يُسَرُّ بِهِ- ④ خَرَّ سَاجِدًا، شَاكِرًا لِلّٰهِ تَعَالَى». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ ⑤ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① حضرت ابوبکره رضي الله عنه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ ته چې به څه خوشحالي پيښه شوه ③ يا راوي د لفظ سُرُورًا په ځاي يُسَرُّبِهِ ويلي دي يعنی حضور ﷺ ته چې به څه داسې امر پيښ شو چې په هغې سره به خوشحاله شو ④ نو د الله جل جلاله د شکر اداء کولو د پاره به په سجده پريوتلو، ابوداؤد ترمذي، ⑤ امام ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث حسن غريب دي.

حل اللغات:- ① سُرُورًا: دا لفظ منصوب دې دَدې فعل "يوجب" محذوف دې. يا حال دې يعنی ساراً. خوشحالي ته وائی. ② خَرَّ: پريوتلو (په سجده).

تسهیلات:

قوله: خَرَّسَاجِدًا:

د سجده شکر دپاره دليل:- کوم حضرات چه سجده شکر سنت گرځوی هغوی دَ دې حديث نه استدلال کوی. حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله "خرساجدا" نه دوه رکعته مونځ مراد اخلی اودَحديث په الفاظو کښې دَدې مفهوم پوره پوره گنجائش شته دې. خو احناف په نيزفتوی په دې باندې ده چه ځان له سجده دَشکر اداکول مستحب دی.

[١٤٩٥] د مصيبت زده په ليدو سره سجدهٔ شکر اداکول

١٤٩٥—(٢)[٢] ① وَعَنْ أَبِي جَعْفَرٍ: أَنَّ «النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَأَى رَجُلًا مِنَ النُّغَاشِينَ، ② فَخَرَّ سَاجِدًا». ③ رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ مُرْسَلًا، وَفِي شَرْحِ السُّنَّةِ لَفْظُ الْمَصَابِيحِ.

ترجمه: ① ابو جعفر رضي الله عنه فرمايي چې نبي کريم ﷺ يو پست قد (لنډي) سړي وليدلو ② نو په سجده پريوتلو، ③ دارقطني دا روايت بطريق ارسال نقل کړي دي او په شرح السنة کې د

---

[1]) اخرجه ابوداود فی کتاب الجهاد/باب فی سجود الشکر (رقم-٢٧٧٤) والترمذی کتاب السیر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی سجدة الشکر (رقم-١٥٧٨) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة والسنة فیها/باب ما جاء فی الصلاة والسجدة عند الشکر (رقم-١٣٩٤)

[2]) اخرجه الدار قطنی باب السنة فی سجود الشکر(رقم-١٥٢٨)

مصابیح په الفاظو سره منقول دي.

حل اللغات:- ① النُّغَاشِيِّنَ: النغاش هغه سړی ته وائی دَ چا قد چه ډیرزیات وړوکې وی او هغه ناقص الخلقت او ضعیف الحرکت وی.

د راوي مختصر تعارف:- نوم عبدالله، ابوجعفر کنیت. دا دَ رسول الله ﷺ دَ تره خوئ حضرت جعفر طیار رضی الله عنه خوئی دې. کله چه دَهغه پلار حضرت جعفر رضی الله عنه دَحبشه طرف ته هجرت اوکړو نوعبدالله رضی الله عنه دَهجرت په دوران کښې حبشه کښې پیداشو. کله چه په ۷ھ کښې حضرت جعفر رضی الله عنه مدینې منورې ته راغلونودَحضرت عبدالله رضی الله عنه عمر هم اووه کاله وو په هغه وخت رسول الله ﷺ دَ هغه نه بیعت هم اوفرمائیلو. (۲)

بیا څه موده پس حضرت جعفر رضی الله عنه په غزوه موته کښې شهید کړې شوې دې وجه رسول الله ﷺ به حضرت عبدالله رضی الله عنه سره ډیره زیاته مینه کوله. حضور ﷺ په یوموقع باندې فرمائیلی وو چه عبدالله بن جعفر رضی الله عنه خوصورتًا او سیرةً زما په شان دې. علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی عبدالله بن جعفر کریم النفس فیاض، خوش طبع خوش اخلاق پرهیزګار او پاك دامن او رښتونې وو. (۳)

بیاچه کله ابن ملجم حضرت علی رضی الله عنه شهیدکړو نودَهغوی په قصاص کښې هم عبدالله بن جعفر رضی الله عنه دَ هغه پښې لاسونه پرې کولوسره بدله اخستې وه.(۴)

وفات:- ۸۰ھ کښې په مدینه منوره کښې وفات شو. دَمدینې ګورنر ابان بن عثمان په خپل لاس هغه ته کفن واچولو او جنازې له ئی اوګه ورکړه. په جنت البقیع کښې خښ کړې شو. دَ هغوی په جنازه کښې ډیره زیاته ګڼړه وه. (۵)

مرویات:- کله چه دَ رسول الله ﷺ وفات اوشونوهغه وخت کښې دَحضرت عبدالله بن جعفر رضی الله عنه عمر تقریبًا لس کاله وو خودَ وړوکوالی په دې زمانه کښې هم هغه یوڅو احادیث یادکړی وو. د هغې نه دوه په بخاری اومسلم کښې هم دی. دَنوروحالاتودپاره اوګورئی ① اسدالغابة ۱۳۴/۳ ② اصابه ۴۸/۴ ③ مستدرك ۵۲۷/۳ ④ استیعاب ۳۵۴/۱ ⑤ تهذیب الکمال ۱۹۳ وغیره.

تسهیلات:

قوله :مِنَ النُّغَاشِيِّنَ:

د نغاشین د لفظ تحقیق او معنی:- په یوروایت کښې نغاشین هم دې اوالنغاشی هم دې په دې صیغه کښې په نون باندې ضمه ده او په غین باندې شدنشته دې بلکه زبر دې. النغاش هغه سړی ته وائی دَ چا دَ قدحدچه ډیرزیات وړوکې وی او دَ هغه ناقص الخلقت او ضعیف الحرکت وی هم دَدې قسم یوسړې چه حضورپاك اولیدلو نودَالله تعالی په دربارکښې دَ شکرانې په

توګه په سجده پریوتلو. ښکاره ده چې د اوږد قدسرې کله په لار روان وی نوځومره ښائسته اوښکلې ښکاریږی لکه دَ سروې ونه یادَ صنوبر اوږد ښاخ په زمکه باندې روانیدوسره وړاندې کیږی. په دې باندې دَالله تعالی شکر په ځائی راوړل خو ډیر په ځائی دې.

د سجدهٔ شکر مقصد: - لیکن علماؤ لیکلی دی چه دَ داسې سړی په مخکښې دې دَ شکرسجده نه کوئی دې دَپاره چه هغه ته تکلیف اونه رسی ځکه چه دَدې سجده دَ شکرمطلب دانه دې چه په نورو باندې فخراوکړې شی بلکه دَدې مقصددادې چه پخپله دَالله تعالی دَنعمت شکر اداکړې شی اودَالله تعالی دَ عظمتونو اعتراف اوکړې شی. علماؤ دا هم لیکلی دی چه دَ داسې فاسق اوفاجر په مخکښې سجده کول پکاردی چه الله تعالی زه دَدې فسق نه محفوظ اوساتلم خوبیاهم دَ فاسق مخې ته سجده کول زیات بهتردی دې دَپاره چه هغه ته تنبیه اوشی. دَ شیخ شبلی رحمه الله باره کښې مشهور دی چه هغه کله یوفاسق فاجر په خوندونوکښې ډوب اولیدلو نودَهغه په وړاندې ئی اوفرمائیل ‹الحمدلله الذی عافانی مما ابتلاك به› یعنی په کوم فسق اوفجورکښې چه الله تعالی ته راګیرکړې اوزه ئی محفوظ کړم په دې باندې دَالله تعالی په لاکهونو لاکهونو شکردې.

[١٤٩٦] دَامت دپاره دَرسول الله ﷺ دعا

١٤٩٦ — (١) [٣] [١] وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ مَكَّةَ نُرِيدُ الْمَدِينَةَ، [٣] فَلَمَّا كُنَّا قَرِيبًا مِنْ عَزْوَزَاءَ، [٤] نَزَلَ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ، فَدَعَا اللَّهَ سَاعَةً، [٥] ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا، فَمَكَثَ طَوِيلًا، [٦] ثُمَّ قَامَ فَرَفَعَ يَدَيْهِ سَاعَةً، [٧] ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا، فَمَكَثَ طَوِيلًا، [٨] ثُمَّ قَامَ فَرَفَعَ يَدَيْهِ سَاعَةً، ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا،

ترجمه: [١] حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه فرمايي [٢] چې مونږ د رسول الله ﷺ سره د مديني په اراده د مکي څخه روان شو [٣] کوم وخت چې مونږ عزوزاء ته نژدې (چې د مکي او مديني په مينځ کې يو مقام دي) ورسيدو [٤] نو حضور ﷺ (د اوښي څخه) راښکته شو او دواړه لاسونه يي پورته کړه د لږ ساعت د پاره خپل لاسونه يي پورته کړي وو (دعا يي غوښتله) [٥] بيا په سجده پريوتلو او تر ډير وخته پوري په سجده کې وو [٦] بيا ودريدلو او تر لږ وخته پوري يي خپل دواړه لاسونه پورته کړه او دعا يي غوښتله [٧] بيا په سجده پريوتلو او ډير وخت ئې تير کړو [٨] بيا اودريدلو نوڅه وخته پورې ئې لاسونه پورته کړی وو. [٩] وبيا په سجدې کښې پريولو.

حل اللغات: - ① عَزْوَزَاءَ: دَمکې اومديني په مينځ کښې جحفه سره نيزدې دَ يومقام نوم عزوزا دې.

---

[1] اخرجه ابوداود كتاب الجهاد/باب فى سجود الشكر (رقم-٢٧٧٥)

[١] قَالَ: إِنِّي سَأَلْتُ رَبِّي، وَشَفَعْتُ لِأُمَّتِي، [٢] فَأَعْطَانِي ثُلُثَ أُمَّتِي، [٣] فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّي شُكْرًا، [٤] ثُمَّ رَفَعْتُ رَأْسِي، فَسَأَلْتُ رَبِّي لِأُمَّتِي، [٥] فَأَعْطَانِي ثُلُثَ أُمَّتِي، [٦] فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّي شُكْرًا، [٧] ثُمَّ رَفَعْتُ رَأْسِي، فَسَأَلْتُ رَبِّي لِأُمَّتِي، [٨] فَأَعْطَانِي الثُّلُثَ الْآخِرَ، [٩] فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّي شُكْرًا». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [١] بيا د هغې څخه وروسته يې وفرمايل چې ما د خپل پروردګار څخه دعا وغوښتله او د خپل امت (د ګناهونو د بخشش، د عيبونو د پرده پوشۍ او د درجاتو د بلند كيدو) دپاره مې شفاعت وكړو [٢] نو ماته د دريمي برخي د امت [مغفرت] راكړل شو [٣] زه د خپل رب د شكر د اداء كولو دپاره په سجده پريوتم [٤] بيا ما خپل سر پورته كړو او د خپل پروردګار څخه مې د خپل امت د پاره (د هغه د رضا او د مغفرت) خواست وكړو [٥] نو الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ ماته د نورو دريمي حصي امت مغفرت عطا كړو [٦] زه د خپل رب د شكر د اداء كولو د پاره په سجده پريوتم [٧] بيا ما سر پورته كړو او د خپل پرودرګار څخه مي د خپل امت د پاره دعا وغوښتله [٨] نو الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ ماته د باقي دريمي حصي امت مغفرت هم راكړو [٩] نو زه د خپل پروردګار د شكر اداء كولو د پاره په سجده كښې پريوتم. (احمد ابوداؤد)

تسهيلات: قوله: ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ:

د دعا په وخت د لاسونو پورته كولو حكم: -دَدعا په دې موقع باندې حضورپاك باربار دواړه لاسونه اوچت كړي دی دَ كوم نه چه معلوميږی دَ دعا په موقع باندې لاسونه اوچتول دَ دعادَ آداب نه دی لكه چه فقهاؤ ليكلی دی په دې سره دَعربو مسلمانانوله په هوش كښې راتلل پكار دی چه لاسونه اوچتول لكه چه ګناه ئی ګڼړی اودَ سلفيت په فتنه كښې دَ ايمان دَ حلاوت نه محروم شوی دی.

قوله: فَأَعْطَانِي الثُّلُثَ الْآخِرَ:

درې ځله دالله په دربار كښې سوال كول: - يعنی درې ځل ئی دَالله تعالى نه دعا اوغوښتله هرځل الله تعالى ماته زما دَ امت دريوكښې يوه حصه راكړه چه داخلق به دَ عذاب نه محفوظ وی. كله چه درې په دريوحصوكښې پوره راكړه نوما دَشكر په توګه سجده اداكړه. الله تعالى دَاعلى درجې خلق په ړومبی ځل سوال باندې معاف كړل. درميانه درجې خلق ئی په دويم ځل سوال كولوپه موقع معاف كړل اودَادنی درجې خلق ئی په دريم ځل سوال باندې معاف كړل.

اشكال: - دَ قرآن اوحديث نه په واضحه توګه معلوميږی چه دَ قيامت په ورځ به بعضې مسلمانان ګناهګاران دوزخ ته ځی اودَخپلو كړو سزابه خوری ليكن دَدې حديث نه معلوميږی چه پوره امت معاف شوې دې.

جوابونه :-

① دَ دغه شفاعت اودَحضورپاك دَدې دعا تعلق دَدنيا سزاګانو اودَهغې عذاب سره دې يعنى په دې امت باندې داسې په زمکه کښې دَ ننوتلوعذاب يادَ شکلونودَ مسخ کيدلو عذاب دې يانور عذابونه دى. دَدې نه به دا امت په مجموعى توګه باندې محفوظ پاتې وى اولکه څنګه چه سابقه امتونودې قسم عذابونوتباه کړې وو. په دې امت باندې خسف اوقذف اومسخ اوغرق اجتماعى عذابونه هم نه راځى. دَدې شفاعت او دعا مطلب دانه دې چه دَ قيامت په ورځ کښې به دَدې امت ګناهګاران دوزخ ته نه ځى.

② دَدې شفاعت اودعا تعلق بيشکه دَ آخرت عذاب سره نه دې ليکن دَحضورپاك شفاعت اودعاسره داګارنټى ملاؤ شى چه څوك مسلمان ګناهګار کوم چه دوزخ ته تلې دې هغه به هميشه دَپاره دوزخ ته نه ځى بلکه الله تعالى وعده اوفرمائيله چه دَ سزا تيرولونه پس به دې دَ دوزخ نه راويستلې شى.

[۶۸/۵۲]بَابُ الإِسْتِسْقَاءِ

دَاستسقاء دَمونځ بيان

خلاصة الباب :-

فيه أربعة عشر حديثاً مشتملة على ثماني مسائل:

① ثبوت صلوة الاستسقاء: ۱-

② تحويل الرداء في صلاة الاستسقاء: ۱، ۶، ۷، ۱۲-

③ كيفية رفع اليدين فى الاستسقاء: ۲، ۳، ۱۲-

④ الدعاء وقت المطر: ۴-

⑤ العمل المسنون وقت المطر: ۵-

⑥ الدعاء في الاستسقاء وكلماتها: ۱، ۶، ۷، ۸، ۱۰، ۱۱، ۱۲-

⑦ التضرع إلى الله تعالى فى الاستسقاء: ۹-

⑧ استسقاء الحيوانات : ۱۴-

قال الله تعالى ﴿ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ۝ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ۝﴾ [سورت نوح:۱۱-۱۰]

داستسقاء لغوى معنى:- استسقاء باب دَاستفعال مصدر دې په مجرد کښې دَدې مصدر "السقى" دې چه دَ خړوبوالى په معنى کښې دې. په استسقاء کښې سين اوتاء دَ طلب دَپاره دې. مطلب داشوچه "طلب السقى" يعنى خړوبوالې او باران غوښتل.

د استسقاء شرعی تعریف: -دَ شریعت په اصطلاح کښې دَ استسقاء تعریف داسې دې. (طلب السقی بوجه مخصوص بأنزال المطر ودفع الجدب والقحط) په پښتو کښې تعریف داسې دې چه په اوچ کالئ کښې دَ باران دَغوښتلو دَپاره دَ خودلې شوې طریقې مطابق مونځ کول اودعا کول.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[١٤٩٧] دَحضورپاک دَاستسقاء دَ مونځ طریقه

١٤٩٧ – (¹)[١] ١ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ٢ «خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ بِالنَّاسِ إِلَى الْمُصَلَّى يَسْتَسْقِي، ٣ فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ، جَهَرَ فِيهِمَا بِالْقِرَاءَةِ، ٤ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ يَدْعُو، وَرَفَعَ يَدَيْهِ، ٥ وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ حِينَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت عبدالله بن زید رضي الله عنه فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ د خلقو سره د باران د طلب د پاره عیدګاه ته تشریف یوړلو ٣ حضور ﷺ هلته دوه رکعاته مونځ ورکړو چې په هغې کې په اوچت آواز سره یي قراءت وکړو ٤ او مخ په قبله کیدو سره یي دعا وغوښتله او حضور ﷺ (د دعا د پاره) دواړه لاسونه اوچت کړي وو ٥ او قبلې ته مخ ګرځولو په وخت یي خپل څادر واړولو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① يَسْتَسْقِي: باران ئې غوښتلو، ② حَوَّلَ: واې ړولو، ③ رِدَاءَ: څادر.

تسهیلات:

قوله: يَسْتَسْقِي:

د استسقاء درې صورتونه: --دَ قرآن اوحدیث نه دَ استسقاء درې صورتونه معلومیږی.

① دَ مونځ کولونه بغیر صرف استغفار کول اودعا غوښتل.

② دَ جمعې دَ خطبې دوران کښې اودَ فرض مونځونونه پس دَباران دَ پاره دعا کول.

③ دَ باران دَپاره باقاعده توګه باندې دَ استسقاء مونځ کول اودَدې نه پس دعا کول.

داستسقاء غوره صورت: - بهرحال دَ استسقاء درې طریقې دی دَموقع اومحل په اعتبارسره چه کومه موجود شی په هغې باندې عمل کول جائز دی. البته بهترپه استسقاء کښې ښه صورت هم دغه دې چه ټول خلق کولاؤ میدان ته راوځی دکافرانو او ذمی خلقو نه علاوه ټول مسلمانان میدان ته راشی او په ډیرښکلی انداز او په عاجزئی سره مونځ اوکړی او ښه توبه او استغفار اوکړی اوبیا دَ باران دَپاره دعا اوغواړی اوصدقه اوخیرات اوکړی.

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/باب الجهر بالقراءة فی الاستسقاء (رقم-١٠٢٤) ومسلم کتاب صلاة الاستسقاء (رقم-١ - (٨٩٤) وابوداود کتاب الصلاة/باب فی أی وقت یحول رداءه إذا استسقی (رقم-١١٦٦) والترمذی کتاب السفر/باب ما جاء فی صلاة الاستسقاء (رقم-٥٥٦) والنسائی کتاب الاستسقاء/باب تحویل الإمام ظهره إلی الناس عند الدعاء فی الاستسقاء (رقم-١٥٠٩)

د مسنون استسقاء په صورت کښې مذهب:-

دَ استسقاء دغه پورته ذکرشوې دريواړه صورتونه دَ ټولو په نيز ثابت هم دی او جائز هم. اختلاف په دې کښې دې چه اعلى درجه کومه يوه ده اوآيا دَ استسقاء سنت صرف مونځ سره مخصوص دې که نه، په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① دَ جمهورو فقهاؤ او صاحبينو په نيز دَ استسقاء سنت پوره کيدل صرف په مونځ کښې داخل دی که چرې مونځ اونه شي نودَ استسقاء سنت پاتې شواودَ مونځ طريقه داده چه اول دې امام دوه رکعته مونځ ورکړی اوبيادې ښه په زارئی سره دعا اوغواړی او څادر دې اولټه واړوی.

② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه استسقاء صرف په مانځه کښې منحصر نه ده. يعنی دَ استسقاء سنت کيدل په مانځه کښې بند نه دی بلکه دا سنت په دعاسره هم پوره کيږی او پوره ذکر شوو دريواړو طريقوسره هم دَاستسقاء عمل پوره کيږی.

داول فريق دلائل:-

① هغه ټول احاديث د دوی مستدلات دی په کومو کښې چه دَمانځه ذکردې لکه زير بحث حديث په دې کښې دَ مونځ ذکرموجود دې.

② دې نه علاوه يوځو احاديث داسې هم دی چه حضورپاك دَ استسقاء دَپاره عيدګاه ته تشريف اوړلې دې دَمونځ کولو ذکر خونشته دې ليکن دَعيدګاه تللو نه هم دا معلوميږی چه هم مونځ ئی مقصود وو.

③ دغه شان دَ فصل الثالث حديث نمبر١٥٠٨ کښې "فصلى رکعتين" سره دَ مونځ ذکرکړې شوې دې.

د دويم فريق دلائل:-

① دَ قرآن کريم دا آيت دې: ﴿اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ۝ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ۝﴾ د دوی مستدل دې. په دې آيت کښې دَ باران غوښتو دَپاره صرف دَ استغفارذکر کړې شوې دې اوباران صرف استغفار سره معلق کړې شوې دې.

② دغه شان دَبخاری دَ اعرابی والاحديث خومشهوردې چه هغه دَ اوچ کالئی شکايت اوکړو نوحضورپاك لاسونه مبارك اوچت کړل او په خطبه کښې دعااوفرمائيله په هغې کښې هم دَ مونځ ذکرنشته دې.

③ سعيد بن منصور رحمه الله دَ امام شعبی رحمه الله نه نقل کوی چه: "اخرج عمر يستسقى فلم يزد على الاستغفار فقالوا ما رئيناك استسقيت فقال لقد طلبت الله الغيث بمجاديح السماء الذي يتنزل به المطر ثم قرأ ﴿اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ۝ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ۝﴾" دَدې روايت نه هم معلومه شوه چه حضرت عمرفاروق رضي الله عنه دَ استسقاء دَپاره صرف استغفار کافی ګڼړلې وو مونځ ئی لازم نه وو ګڼړلې. داعمل دَ ټولو صحابه کرامو په مخکښې وو لکه چه په دې باندې دَ صحابه

کرامو اجماع اوشوه.

④ په دې باب کښې هم صاحب مشکوة دَ اکثرو احاديثو داسې نقل کړې دی په کوم کښې چه صرف دَ دعا ذکر دې اودَ مانځه هیڅ تذکره نشته دې. معلومه شوه چه دَ استسقاء دَپاره صرف مونځ متعين نه دې بلکه دې نه علاوه هم څه داسې طريقې دی په کوم سره چه دَ استسقاء سنت پوره کيږی. مصنف ابن ابی شيبه کښې يو روايت داسې دې: ((وعن عطاء بن ابی مروان الاسلمی عن ابيه قال خرجنا مع عمر بن الخطاب يستسقی فما زاد علی الاستغفار))(ابن ابی شيبه زجاجة المصابيح ج ١ ص ٤٢٢)

مفتی به قول: -امام ابوحنيفه رحمه الله دَ استسقاء هيڅ کله انکار نه کوی بلکه هغه په مونځ کښې دَ استسقاء داخليدلو او بنديدلو قائل نه دې. دَدې نه باوجود دَ احنافو فتوىٰ دَ صاحبينو په مسلك باندې ده دَ امام صاحب رحمه الله په قول باندې نه ده ځکه چه په استسقاء کښې دَ رسول الله ﷺ نه مونځ ثابت دې. طريقه هم هغه ده په کومه کښې چه دَ مانځه په ضمن کښې استسقاء وی او هم په دې باندې دَ احنافو فتوىٰ ده.

قوله: جَهَرَ فِيهِمَا بِالْقِرَاءَةِ:

د استسقاء په مونځ کښې جهر بالقراءة: -معلومه شوه چه دَ استسقاء په مونځ کښې قرأت په اوچت آواز سره دې.

قوله: وَرَفَعَ يَدَيْهِ:

په دعا کښې د لاسونو پورته کولو ادب: -دلته دَ دعا دَپاره حضورپاك دَ حد نه زيات لاسونه مبارك اوچتولو سره دعا غوښتې ده. معلومه شوه چه لاسونه اوچتول دَ دعا دَ آدابو نه يو ادب دې. دَ غيرمقلدينو دَ ليوتتوب دَ وجې نه په جزيرة العرب کښې په دعا کښې لاسونه اوچتول ختم کړې شوی دی نو دَهغوی دَ زړونو نه دَ ايمان خوږوالې هم تلې دې ځکه چه سلفيت هغوی خراب کړې دی. دَ استسقاء په مونځ کښې افضل دادی چه په اول رکعت کښې سورت ق يا سورت اعلیٰ نه يو سورت اووئيلې شی او په دويم رکعت کښې غاشيه اووئيلې شی.

قوله: وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ:

په صلاة الاستسقاء کښې د څادر اړول: -څادر راښکل دَ استسقاء څه لازمی حصه نه ده. دَ احنافو په نيز څادر اولټه کول دَ مونځ په توګه نه دی بلکه دَ تفاول او حالات بدلولو طرف ته اشاره ده. دَ څادر ګرځولو طريقه معروف ده مګر لږه شان مشکل ده.

....

[١٤٩٨] دَاستسقاء په دعاکښې لاسونه اوچتول

١٤٩٨—(١)[٢] [١] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي شَيْءٍ مِنْ دُعَائِهِ إِلَّا فِي الِاسْتِسْقَاءِ [٣] فَإِنَّهُ يَرْفَعُ حَتَّى يُرَى بَيَاضُ إِبِطَيْهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه فرمايي [٢] چې نبي كريم ﷺ به د استسقاء څخه علاوه په بله مزقع باندې د دعا د پاره لاسونه دومره زيات نه پورته كول [٣] او د استسقاء د پاره د دعا په وخت لاسونه مبارك به يې دومره زيات پورته كول چې د حضور ﷺ د بغلونو [ترخونو] سپين والي به په نظر راتلو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① اَلْاِسْتِسْقَاءُ: باران غوښتل، ② إِبِط: ترخ.

تسهيلات: قوله: لَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ:

اشكال:- سوال دادې چه رسول الله ﷺ دَ استسقاء نه علاوه په ډيرو موقعو كښې لاسونه اوچت كړي دي دلته دَنفى څه مطلب دې؟

جواب:- دَدې جواب علماؤ دا وركړې دې چه دلته په دې حديث كښې دَصرف لاس اوچتولو نفي مراد نه ده بلكه چه په استسقاء كښې به ئې څومره لاسونه اوچتول هغه شان به ئې په نورو موقعو كښې نه اوچتول.

قوله: حَتَّى يُرَى بَيَاضُ إِبِطَيْهِ:

دترخونو د سپين والى مطلب:- هم دغه وجه ده چه په دې روايت كښې د ترخونو په نظر راتلو ذكر راغلې دې. راوى دا بيانول غواړى چه حضورپاك په استسقاء كښې لاسونه دومره اوچت كړل چه دَ رسول الله ﷺ دَ ترخونو مباركو سپينوالې ښكاره شو. دادَ ډير زيات ښائست دَ وجې نه يو چمك وو حالانكه دَ خلقو ترخونه سپين نه وى. دَدې نه دَ رسول الله ﷺ ډير زيات ښائست ثابتول هم مقصود دى اودَ استسقاء په دعاكښې دَ غيرمعمولى لاسونو اوچتولو بيان هم مقصود دې.

[١٤٩٩] دَدعاپه وخت دَلاسونوكيفيت اوحالت

١٤٩٩—(٢)[٣] [١] وَعَنْهُ: أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- اسْتَسْقَى [٢] فَأَشَارَ بِظَهْرِ كَفَّيْهِ إِلَى السَّمَاءِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې نبي كريم ﷺ د باران د پاره دعا وغوښتله [٢] نو د خپلو دواړو لاسونو شا يي د آسمان طرف ته كړه. (مسلم)

حل اللغات:- ① اِسْتَسْقَى: باران ئې اوغوښتلو.

[١]) اخرجه البخاري في كتاب الجمعة/باب رفع الإمام يده في الاستسقاء (رقم-١٠٣١) ومسلم صلاة الاستسقاء /باب رفع اليدين بالدعاء في الاستسقاء (رقم-٨٩٥) وابوداود كتاب الصلاة،باب رفع اليدين في الاستسقاء (رقم-١١٧٠) والنسائى كتاب الاستسقاء/باب كيف يرفع (رقم-١٥١٣) والدارمي-كتاب الصلاة/باب رفع الأيدي في الاستسقاء

[٢]) اخرجه مسلم في كتاب صلاة الاستسقاء /باب رفع اليدين بالدعاء في الاستسقاء (رقم)٧ - (٨٩٥)

تسهيلات: قوله: بِظَهْرِ كَفَّيْهِ:

د استسقاء په دعا کښې د لاسونو اړولو حکمت: - په استسقاء کښې دَ لاسونوشا دَ آسمان طرف ته کول هم يوتفاول دې چه دې طرف ته اشاره ده چه څنګه لاسونه اولټه شوی دی اوتلی دَ زمکې طرف ته شوی دی. دغه شان دَاوريځو حالت بدلولوسره باران اووره وه.

[١٥٠٠] دَباران په وخت دَحضورپاک يوه دعا

١٥٠٠—(١)[٤] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [٢] إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «كَانَ إِذَا رَأَى الْمَطَرَ قَالَ: [٣] اللَّهُمَّ صَيِّبًا نَافِعًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي [٢] چې رسول الله ﷺ چې به باران وليدلو نو دا دعا به يې کوله [٣] اللّٰهُمَّ صَيِّبًا نَافِعًا (يعني اې الله نفع رسونکي باران ووروې) (بخاري)

حل اللغات: - ① صَيِّبًا: راؤ رسوې مونږ ته (باران).

تسهيلات: قوله: قَالَ: اللّٰهُمَّ صَيِّبًا نَافِعًا:

د باران د نافعيت دعا: - يعنی د باران په وخت کښې دالله ﷻ رحمت راوريږي. په دې وجه په دې وخت کښې دباران نه د نفع حاصليدو دپاره دعا اوکړئی.

[١٥٠١] دَباران په وخت کښې دَ حضورپاک يل عمل

١٥٠١—(٢)[٥] [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «أَصَابَنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَطَرٌ [٣] قَالَ: فَحَسَرَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ثَوْبَهُ [٤] حَتَّى أَصَابَهُ مِنَ الْمَطَرِ. [٥] فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِمَ صَنَعْتَ هَذَا؟! [٦] قَالَ: لِأَنَّهُ حَدِيثُ عَهْدٍ بِرَبِّهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه فرمايي [٢] چې [يو ځل] مونږ د رسول الله ﷺ سره وو چې باران شروع شو [٣] حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې حضور ﷺ (د خپل سر يا د شا څخه) کپړه لرې کړه [٤] تر دې چې د حضور ﷺ (په سر مبارك يا په شا مبارکې) د پاسه د باران اوبه غورځيدې [٥] دې ليدو سره مونږ عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ تاسې داسې ولې وکړل؟ [٦] حضور ﷺ وفرمايل ځکه چې دا اوبه د خپل پروردګار څخه اوس اوس راغلې دې. (مسلم)

حل اللغات: - ① حَسَرَ: لرې ئې کړه (کپړه) يعنی د بدن څه حصه ئې راښکاره کړه. ② حَدِيثُ عَهْدٍ بِرَبِّهِ: اوس اوس (دَبره نه) دَالله تعالى دَ خوانه راغلې دې.

---

[١]) اخرجه البخارى فى كتاب الجمعة/باب ما يقال إذا مطرت (رقم-١٠٣٢) والنسائى كتاب الاستسقاء/باب القول عند المطر (رقم-١٥٢٣) وابن ماجة كتاب الدعاء/باب ما يدعو به الرجل إذا رأى السحاب والمطر (رقم-٣٨٩٠)

[٢]) اخرجه مسلم فى كتاب صلاة الاستسقاء /باب الدعاء فى الاستسقاء (رقم-١٣ - (٨٩٨) وابوداود كتاب الأدب/باب ما جاء فى المطر (رقم-٥١٠٠)

تسهيلات:

قوله: لِأَنَّهُ حَدِيثُ عَهْدٍ بِرَبِّهِ:

په ميدان جهاد او باران کښې د دعا قبليدل: - باران کښې حضورپاك اودريدو اوزياتي کپړې ئې اخواکړې مثلاً په سرمبارك ئې توپئي پاتې نه شوه اودَمتونه ئې کپړه اخواکړه اوباران دَ حضورپاك په بدن مبارك باندې نيغ په نيغه وريدلو. صحابه کرامو دَ دې عمل دَ وجې معلومول اوغوښتل نو حضورپاك په جواب کښې اوفرمائيل چه دا باران اوس اوس دَ بره نه دَالله تعالى دَ ذات دَخوانه راغلې دې دَدې اوبه مبارکې دى په دې وجه دا حضورپاك په خپل بدن باندې اومړلې بـل دَدې اوبوسره تراوسه پورې دَ يوګناهګار لاس نه دې لګيدلې. يوحديث کښې دى چه دَ جهادپه ميدان کښې په جنګ کښې يادَ باران لاندې دعاقبليږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٥٠٢] په استسقاء کښې د څادر اړولو طريقه

١٥٠٢ - (١)[٦] [١] عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [٢] «خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى الْمُصَلَّى فَاسْتَسْقَى، [٣] وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ حِينَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، [٤] فَجَعَلَ عِطَافَهُ الْأَيْمَنَ عَلَى عَاتِقِهِ الْأَيْسَرِ، [٥] وَجَعَلَ عِطَافَهُ الْأَيْسَرَ عَلَى عَاتِقِهِ الْأَيْمَنِ، [٦] ثُمَّ دَعَا اللَّهَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] عبدالله ابـن زيد رضي الله عنه فرمايي [٢] چې رسول الله ﷺ عيدګاه تـه تشريف يوړلو او هلته يې باران وغوښتو [٣] کوم وخت چې حضور ﷺ قبله رخ (مخ په قبله) شو نو خپـل څادر يې راتاؤ کړو [٤] نود خپل څادر ښي طرف ګرځولو سره يې په خپلي ګسه اوږي باندې راوستو [٥] او د څادر ګس طرف ګرځولـو سره يې په خپلي ښي اوږي باندې راوستو [٦] بيا الله تعالى جل جلاله څخه يې (د باران د پاره) دعا وغوښتله. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① عِطَافَهُ: دڅادر يو اړخ ته عطاف وائي.

[١٥٠٣] په صلاة استسقاء کښې د څادر اړولو طريقه

١٥٠٣ - (٢)[٧] [١] وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: [٢] «اسْتَسْقَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] وَعَلَيْهِ خَمِيصَةٌ لَهُ سَوْدَاءُ، [٤] فَأَرَادَ أَنْ يَأْخُذَ أَسْفَلَهَا فَيَجْعَلَهُ أَعْلَاهَا، [٥] فَلَمَّا ثَقُلَتْ قَلَبَهَا عَلَى عَاتِقَيْهِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] حضرت عبدالله رضي الله عنه فرمايي [٢] چې (يو ځل) رسول الله ﷺ د باران طلب کولو د پاره دعـا وکـړه [٣] نو هغـه وخت د حضـور ﷺ پـه بـدن مبارك د تـور رنـګ څـادر وو [٤] حضور ﷺ دا اراده وکړه چې د څادر د لاندې پلسکي (څاک) ګرځولو سره هغه پورته طرف

(١) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة/جماع أبواب صلاة الاستسقاء وتفريعها (رقم-١١٦٣)

(٢) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة/جماع أبواب صلاة الاستسقاء وتفريعها (رقم-١١٦٤) والنسائى كتاب الاستسقاء/باب الحال التى يستحب للإمام أن يكون عليها إذا خرج (رقم-١٥٠٧)

ته راولي (څنګه چې د څادر ګرځولو طریقه ده) [٥] خو په دي کې چې کله حضور ﷺ ته تکلیف محسوس شو نو حضور ﷺ په خپلي اوږي باندې څادر وګرځوو. (احمد ابوداؤد)

حل اللغات:- ① خَمِيصَةٌ: څادر، ② ثَقُلَتْ: درووند شو، په تکلیف شو. ③ قَلَبَهَا: واړې رولو.

تسهیلات:

① فَأَرَادَ أَنْ يَأْخُذَ أَسْفَلَهَا فَيَجْعَلَهُ أَعْلَاهَا:

دڅادر اړته کول: دې ته د فقهاء په اصطلاح کښې تحویل الرداء وائی.

څادر الټه کول دَ استسقاء څه لازمی حصه نه ده. دَ احنافو په نیز څادر اولټه کول دَ مونځ په توګه نه دی بلکه دَ تفاول اوحالات بدلولو طرف ته اشاره ده. دَ څادر ګرځولو طریقه معروف ده مګر لړه شان مشکل ده.

دحدیث دبعضې جملوو ضاحت:-

② وَعَلَيْهِ خَمِيصَةٌ، دَ یمن ښائسته نقش دار څادر ته خمیصه وئیلی شی په مقامات حریری نومی کتاب کښې خمیصه ذکراغلې دې.

③ فَلَمَّا ثَقُلَتْ،چونکه دَ څادراولټه کیدو عمل مشکل شو نوحضورپاك څادر په اوګو باندې په آسانه طریقه سره واچول اومعامله ختمه شوه.

[١٥٠٤] په صلاة استسقاء کښې د لاسونو د اوچتولو مقدار

١٥٠٤-(١)[٨] [١] وَعَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -: [٢] أَنَّهُ «رَأَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَسْتَسْقِي عِنْدَ أَحْجَارِ الزَّيْتِ، [٣] قَرِيبًا مِنَ الزَّوْرَاءِ، [٤] قَائِمًا يَدْعُو يَسْتَسْقِي، [٥] رَافِعًا يَدَيْهِ قِبَلَ وَجْهِهِ لَا يُجَاوِزُ بِهِمَا رَأْسَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه: [١] حضرت عمیر رضي الله عنه چې د آبي اللحم آزاد کړي غلام وو روایت کوي [٢] چې هغه نبي کریم ﷺ داحجار الزیت سره د باران په غوښتلو باندې ولیدلو [٣] چې د زوراء سره نزدې دي [٤] حضور ﷺ ولاړ وو د باران د پاره یي دعا غوښتله [٥] او خپل دواړه لاسونه مبارك یي خپل د مخ طرف ته اوچت کړي وه چه د سر څخه اوچت نه وه. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① أَحْجَارِ الزَّيْتِ: کانړیزې زمکه، په مدینه کښې د یو ځائې نوم وو. ② الزَّوْرَاءِ: په مدینه کښې د یو ځای نوم دې.

تسهیلات:

قوله: لَا يُجَاوِزُ بِهِمَا رَأْسَهُ: یعنی دواړه لاسونه ئی دومره نه وو اوچت کړی چه دَ سرنه ئی لاسونه اړولوسره بره لاړشي.

---

(١) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب رفع الیدین فی الاستسقاء (رقم-١١٦٨) والترمذی کتاب السفر/باب ما جاء فی صلاة الاستسقاء (رقم-٥٥٧) والنسائی کتاب الاستسقاء/باب کیف یرفع (رقم-١٥١٤)

اشکال: – حدیث نمبر ۱۴۹۸ کښې د حضرت انس رضي الله عنه د روایت نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ به په استسقاء کښې ډیر زیات لاسونه اوچتول اودلته په دې روایت کښې لاسونه دومره نه اوچتول بلکه د سرنه به ئې ښکته وو په دې دواړو روایتونو کښې تضاد او تعارض دې. بل په دې روایت کښې دا دی چه د حضورپاك لاسونه به د مخ طرف ته وو خود حضرت انس رضي الله عنه په حدیث نمبر ۱۴۹۹ کښې دی چه لاسونه به ئې د زمکې طرف ته او شاګانې به ئې پورته د آسمان طرف ته وې؟

د اشکال جواب: – په استسقاء کښې چه کومې طریقې حضورپاك اختیار کړې دی ټولې جائز دی. کله ئې یوه طریقه اختیار کړې ده او کله بله. په دې کښې د تضاد څه خبره نشته دې بلکه د وسعت او رحمت خبره ده.

[۱۵۰۵] د استسقاء په وخت د رسول الله ﷺ عاجزی

۱۵۰۵–(١)[۹] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: [٢] «خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَعْنِي فِي الإِسْتِسْقَاءِ-[٣] مُتَبَذِّلًا، مُتَوَاضِعًا، [٤] مُتَخَشِّعًا، مُتَضَرِّعًا»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي [٢] چې رسول الله ﷺ د استسقاء د پاره بهر ووتلو [٣] او هغه وخت د حضور ﷺ کیفیت دا وو چې [په ظاهر کې يې] زينت ترک کړي وو او متواضع وو [٤] (په باطن کې) عاجزي او بيچارګي او (په ذکر الله کې د ژبې د مشغوليت سره) تضرع يې اختيار کړي وه. (ترمذي، ابوداؤد، نسايي، ابن ماجه)

حل اللغات: – ① مُتَبَذِّلًا: زړې کپړې، ② مُتَوَاضِعًا: په ظاهری اندامونوسره عاجزی کولو ته تواضع وائی. ③ مُتَخَشِّعًا: په باطنی اندامونوسره هم ئې مکمل عاجزی اختیار کړې وه. ④ مُتَضَرِّعًا: عاجزی کونکې.

تسهیلات:

قوله: مُتَبَذِّلًا: یعنی زړې کپړې اچولې وې د شان اوشوکت والالباس نه وو بلکه چه د محنت په وخت کوم لباس وی هغه ئې اغوستې وو.

قوله: مُتَخَشِّعًا: یعنی د باران د دعا د پاره چه به کله حضورپاك بهر وتلو نو د حضورپاك ظاهر اوباطن او د ژبې او زړه لکه چه پوره وجود مبارك د سادګئی او عاجزئی نمونه جوړیدلو دې د پاره چه الله تعالی ئې دعا قبوله کړی.

د عاجزئ انتهاء: – رسول الله ﷺ چه یو طرف ته د شان اوشوکت ترك کولوسره د سر نه ترخپو پورې د عاجزئی یوه نمونه جوړشوې وو نو بل طرف ته په باطنی توګه باندې هم د

[١] اخرجه ابوداود فی كتاب الصلاة/جماع أبواب صلاة الاستسقاء وتفريعها (رقم-۱۱٦٥) والترمذی كتاب السفر/باب ما جاء فی صلاة الاستسقاء (رقم-٥٥٨) والنسائی كتاب الاستسقاء/باب جلوس الإمام على المنبر للاستسقاء (رقم-۱٥٠٨) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی صلاة الاستسقاء (رقم-۱۲٦٦)

حضورپاك زړه مبارك دَ الله تعالى دَ ويرې نه ړچيدلو او ژبه مبارکه ئې په تضرع عاجزئي او زارئي کښې مشغوله وه.

[١٥٠٦] دَباران غوښتلو دپاره دعا

١٥٠٦ –(١)[١٠] ١ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: ٢ «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا اسْتَسْقَى قَالَ: ٣ اللَّهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ، وَبَهِيمَتَكَ، ٤ وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ، ٥ وَأَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ عمرو ابن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل نيکه (يعني حضرت عبدالله صحابي ﷺ) څخه روايت کوي ٢ چې نبي کريم ﷺ به چه کله باران غوښتلو نو دا دعا به يي کوله: ٣ اللَّهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ وَبَهِيمَتَكَ وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ وَأَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ (يعني اي الله! خپل بندګان او خپل حيوانات په اوبو سره اوبه کړې ٤ خپل رحمت وغوړوي ٥ او خپلو مړو (وچو) زمکو ته ژوند (يعني ښائسته والي او سرسبزي) راکړې. (مالك ابوداؤد)

حل اللغات:- ① اسْقِ :اوبه کړې، خړوب کړې، ② بَهِيمَة: حيوانات، ③ انْشُرْ: خور کړې، ④ الْمَيِّت:مړ، (دلته اوچه زمکه مراد ده).

تسهيلات: قوله :اللَّهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ، وَبَهِيمَتَكَ:

اشکال:- په دې حديث پاك کښې د څناور ذکر دې ، څناورو په بندګانو کښې څنګه داخل دی ، دا خود مقام عبديت خلاف دی. بيا په انسان او څناور کښې څه فرق دې؟

داشکال جواب:- څناورئې د بندګانو په دعا کښې ځکه شامل کړو چې څناور بې ګناه دی، مونږ ګناه ګار يو، د هغوئ د بې ګناهۍ په وجه مونږ باندې رحمتونه راوريږی او زمونږ د ګناهونو په وجه هغوئ ته تکليف رسی . په دې وجه ئې د څناورو ذکر اوکړو.

[١٥٠٧] دَباران غوښتلو دپاره يوه بله عجيبه دعا

١٥٠٧ –(٢)[١١] ١ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُوَاكِئُ فَقَالَ: ٣ اللَّهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيثًا، ٤ مَرِيئًا مُرِيعًا، ٥ نَافِعًا، غَيْرَ ضَارٍّ، ٦ عَاجِلًا غَيْرَ آجِلٍ ٧ قَالَ: فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ حضرت جابر ﷺ فرمايي ٢ چې ما وليدل چې نبي کريم ﷺ د استسقاء د پاره لاس مبارك اوچت کړي وو او دا دعا يي کوله: ٣ اللَّهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيثًا مَرِيئًا مَرِيعًا نَافِعًا غَيْرَ ضَارٍّ

---

[١]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب رفع اليدين فی الاستسقاء (رقم-١١٧٦) ومالک فی الموطا کتاب الاستسقاء/باب ما جاء فی الاستسقاء(رقم-٢)

[٢]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب رفع اليدين فی الاستسقاء (رقم-١١٦٩) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی الدعاء فی الاستسقاء (رقم-١٢٧٠)

عَاجِلًا غَيْرَ آجِلٍ (يعني اي الله ته مونږ په باران سره سيراب كړې چې فرياد رسي وكړي ۴ او د هغې انجام بهتر وي او ارزاني كونكي وي ۵ او نفع رسونكي وي ضرر رسونكې نه وي ۶ او زر راتلونكي وي په تاخير سره راتلونكي نه وي ۷ حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې د دې دعا څخه وروسته په آسمان باندې وريځ خوره شوه. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① يُوَاكِئُ: واكأ يواكئ مواكأة، د باب مفاعله نه دې د دعا د پاره دواړه لاسونه داسې اوچتول لكه چه په دې باندې تكيه لګولې شي. ② غَيْثًا: اى مطرا: باران، غيث هغه باران ته وائى چه د سختې ګرمئ او اوچ كالئى نه پس ډير فريادونه او دعاګانو په نتيجه كښې راغلې وى. ③ مُغِيثًا: أى مشبعا منقذا من الشدة: چه د ډيروالى په وجه خړوبونكې، اوچ كالى لرې كونكې وى. ④ مَرِيئًا: داسې باران وى د كوم انجام چه ښه وى. ⑤ مُرِيعًا: اى آتيا بالريع والخصب، داسې باران چه ارزانى او ښه شينوالې راوړونكې وى. ⑨ عَاجِلًا: زر راتلونكې، ⑦ آجِلٍ: تاخير سره راتلونكې، ⑧ فَأَطْبَقَتْ: څلورو واړو طرفونو نه اوريځو په خپله ګيره كښې واخستلو. مراد ترې نه ګنړې اوريځې راتلل او باران كيدل دى.

تسهيلات:

قوله: اللّٰهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيثًا:

په باران باندې مجازاً د مغيث اطلاق: - اصل فرياد رس الله تعالى دې باران ته مجازاً مغيث فرمائيلې شوې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۵۰۸] د استسقاء د دعا تفصيل

۱۵۰۸ — (¹) [۱۳] ۱ عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: ۲ «شَكَا النَّاسُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قُحُوطَ الْمَطَرِ، ۳ فَأَمَرَ بِمِنْبَرٍ فَوُضِعَ لَهُ فِي الْمُصَلَّى، ۴ وَوَعَدَ النَّاسَ يَوْمًا يَخْرُجُونَ فِيهِ، ۵ قَالَتْ عَائِشَةُ: فَخَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حِينَ بَدَا حَاجِبُ الشَّمْسِ، ۶ فَقَعَدَ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَكَبَّرَ وَحَمِدَ اللّٰهَ، ۷ ثُمَّ قَالَ إِنَّكُمْ شَكَوْتُمْ جَدْبَ دِيَارِكُمْ، ۸ وَاسْتِئْخَارَ الْمَطَرِ عَنْ إِبَّانِ زَمَانِهِ عَنْكُمْ، ۹ وَقَدْ أَمَرَكُمُ اللّٰهُ أَنْ تَدْعُوهُ، ۱۰ وَوَعَدَكُمْ أَنْ يَسْتَجِيبَ لَكُمْ

ترجمه: ۱ بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ۲ چې خلقو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د باران نه كيدو شكايت وكړو ۳ نو حضور صلى الله عليه وسلم حكم وكړو چې په عيدګاه كې دې منبر كيښودل شي كله چې په عيدګاه كښې منبر كيښودل شو ۴ نو حضور صلى الله عليه وسلم خلقو ته د يوې ورځې په باره كې وفرمايل چې ټول عيدګاه ته لاړ شى ۵ بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چې (په مقرره ورځ) حضور صلى الله عليه وسلم د نمر څنډه ظاهريدو سره عيدګاه ته تشريف يوړلو ۶ او په منبر باندې كيناستل تكبير يې وويلو او د الله تعالى جل جلاله حمد وثناء يې بيان كړه ۷ او وې فرمايل چې

¹) اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة، باب رفع اليدين فى الاستسقاء (رقم-۱۱۷۳)

تاسو (د الله او د هغه د رسول څخه) د خپلو ښارونو د قحط سالي شکایت کړې وو ٨ او تاسو په وخت د باران نه کیدو شکایت کړي وو ٩ اوس الله تعالیٰ جل جلاله تاسو ته دا حکم درکوي چې تاسو د هغه څخه (د باران د پاره) دعا وغواړئ ١٠ او هغه وعده کړې ده چې ستاسو دعا به قبوله کړي.

حل اللغات: - ① قُحُوطَ الْمَطَرِ: اوچ کالی، باران نه کیدل. ② بَدَا: ښکاره شوه، ③ حَاجِبُ: طرف، ④ جَدْبَ: ⑤ وَاسْتِئْخَارَ: ای تأخیر المطر تأخیرا بعیدا: یعني ډیرې مودې پورې باران اونه شو. ⑥ إِبَّانِ: "اِبان الشئ حینه" یعنی ابان حین او وخت په معنی کښې دی.

١ ثُمَّ قَالَ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، ٢ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ، ٣ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ، ٤ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ، ٥ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ اللّٰهُ، ٦ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ الْغَنِيُّ، وَنَحْنُ الْفُقَرَاءُ، ٧ أَنْزِلْ عَلَيْنَا الْغَيْثَ، ٨ وَاجْعَلْ مَا أَنْزَلْتَ لَنَا قُوَّةً وَبَلَاغًا إِلَى حِينٍ، ٩ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ، فَلَمْ يَتْرُكِ الرَّفْعَ حَتَّى بَدَا بَيَاضُ إِبِطَيْهِ، ١٠ ثُمَّ حَوَّلَ إِلَى النَّاسِ ظَهْرَهُ، وَقَلَبَ أَوْ حَوَّلَ رِدَاءَهُ، ١١ وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ،

ترجمه: ١ بیا حضور ﷺ وفرمایل چې ټول تعریفونه د الله تعالیٰ جل جلاله د پاره دي چې د ټول جهانونو پروردګار دي ٢ مهربان او بخښش کونکي دي ٣ او د جزاء د ورځې مالك دي ٤ د الله جل جلاله څخه سوا بل معبود نشته هغه چې څه غواړي هغه کوي ٥ اې الله جل جلاله ته معبود يې ٦ ستا څخه سوا بل معبود نشته ته غني (بې پروا) یې او مونږ فقیران او محتاج یو ٧ په مونږ باران وورَوي ٨ او کوم شي چې ته نازل کړې (یعني باران) هغه د یوې اوږدې مودې د پاره زمونږ قوت (دخوراك ذریعه) او (د هغې په ذریعه خپلو مقاصد او منافع ته) د رسیدو سبب جوړ کړي ٩ د دې څخه وروسته حضور ﷺ خپل دواړه لاسونه مبارك اوچت کړل او دومره یې اوچت کړل چې د بغلونو [ترخونو] سفیدي یې په نظر راغله ١٠ بیا خپله شا مبارکه یې خلقو ته ګرځولو سره خپل څادر یې واړولو یا دا چې وې ګرځولو ١١ او خپل لاس یې دغسې اوچت کړي وو

حل اللغات: - ⑦ بَلَاغًا: رسونکې، سبب، ⑧ حِينٍ: زمانه، اوږده موده، ⑨ الرَّفْعَ: اوچتول، ⑩ قَلَبَ أَوْ حَوَّلَ: الفاظ بدل دی خو معنی ئې یوشان ده، اړول،

١ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ وَنَزَلَ، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ٢ فَأَنْشَأَ اللّٰهُ سَحَابَةً، ٣ فَرَعَدَتْ وَبَرَقَتْ، ٤ ثُمَّ أَمْطَرَتْ بِإِذْنِ اللّٰهِ، ٥ فَلَمْ يَأْتِ مَسْجِدَهُ حَتَّى سَالَتِ السُّيُولُ، ٦ فَلَمَّا رَأَى سُرْعَتَهُمْ إِلَى الْكِنِّ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ، ٧ وَقَالَ: «أَشْهَدُ أَنَّ اللّٰهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، ٨ وَأَنِّي عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُولُهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ بیا د خلقو طرف ته مخ کولو سره (د منبر څخه) ښکته یې تشریف راوړو او دوه رکعاته مونځ یې وکړو ٢ نو الله تعالیٰ جل جلاله وریځ راوستله ٣ چې ګړځیدله او بریښنا پکې ځلیدله ٤ د الله تعالیٰ جل جلاله په حکم سره باران شروع شو ٥ تر دې چې حضور ﷺ خپل مسجد ته لا راغلي نه وو چې نالې وبهیدلې ٦ هر کله چې حضور ﷺ خلق د پناه ځاي

(يعني د باران څخه د بچ کيدو د پاره د محفوظ مقام) په تلاش کولو کې تلواري کونکي وليدل نو په خندا شو (يعني په مسکا شو) تر دي چې د حضور ﷺ مخکني غاښونه مبارك ښکاره شول[٧] بيا يي وفرمايل چې زه ګواهي ورکوم چې الله تعالى ﷻ په هر شي باندې قادر دي[٨] او دا چې زه د الله تعالى ﷻ بنده او د هغه رسول يم. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ⑪ رَعَدَتْ: ګرځيدله، ⑫ بَرَقَتْ: بريښنا ئې کوله، ⑬ السُّيُولُ: نالې، لختى، ⑭ الْكِنِّ: دَدې جمع اکتان دې، پناه ګاه، ⑮ نَوَاجِذُهُ: هغه غاښونه چه په وخت دخندا کښې ښکارى.

تسهيلات:

قوله: "عَنْ إِبَّانٍ" په همزه باندې زيردې او باء باندې شد دې نون دَ اصلى کلمې حصه ده. دَ ابان اضافت دَ زمانې طرف ته اضافت خاص الى العام دې يعنى يو مودې نه دَباران په خپل وخت نه وريدلو تاسوشکايت اوکړو. په يوبل حديث کښې دَ ابان لفظ دَ وخت دَپاره داسې استعمال کړې شوې دې. "هذاابّان نجومه اى وقت ظهوره" يعنى دا وخت دَ محمدعربى ﷺ دَ ظهور اوبعثت وخت دې.

قوله: إِلَى الْكِنِّ: په کاف زيردې او په نون شد دې دَدې جمع اکتان دې. په قرآن کريم کښې دَ اکتان لفظ راغلې دې. په غرونو کښې چه کوم قدرتى غار جوړشوې وى په اصل کښې دَ کن اطلاق هم په دې اداکيږى بيادا دَهرهغه څيزدَپاره اووئيلې شو دَ کوم په وجه چه انسان خپل ځان ګرمئى اويخنئى او دَ واورې او باران نه بچ کوى که هغه قدرتى پناه ګاه وى يا دَ انسان تعمير کړې شوې مقامات اومکانات وى.

د استسقاء څخه روسته د خطبو لوستلو حکم: -

① حضرت امام مالك رحمه الله امام شافعى رحمه الله او امام احمد رحمه الله يوروايت فرمائى چه دَ استسقاء دَ مونځ نه پس دوه خطبې لوستل سنت دى البته دَ استسقاء دَ خطبو په شروع کښې استغفار لوستل پکاردى. لکه څنګه چه دَ اخترونو کښې دَ خطبو په شروع کښې تکبيرات عيدين لوستل مناسب دى يعنې دَ خطبې شروع هم دَ دغه مناسب څيزونوسره کول پکاردى.

② دَ ائمه احناف په نيزاستسقاء کښې خطبه نه وه صرف په دعااو استغفارباندې اکتفاکول پکاردى.

قوله: ضَحِكَ:

د نبى کريم ﷺ د خنداوجه: - حضورپاك دَدې دَپاره مسکې شوچه انسان څومره کمزورې دې. اوس خوتا فريادکولوچه باران نشته او اوس چه باران اوشو نوچه کوم څيزپه ډيرو سفارشونو غوښتې وو هم دَ هغې نه تختى.

په یوروایت کښې دی چه کله ښه باران شروع شونوحضورپاك اوفرمائیل که ابوطالب ژوندې وې نود باران دې نظارې کتلوسره د خوشحالیدو وجه داده چه ابوطالب د حضورپاك په شان کښې یوه ښکلې قصیده وئیلې ده.

وابيض يُستقى الغمام بوجهه　　　ثمال اليتامى عصمة للارامل

ترجمه: [١] هغه داسې ښائسته دې چه دهغه د ښکلی مخ د خاطره د اوریځونه اوبه غوښتلې شی هغه د یتیمانو غمخوار او د کونډو محافظ دې.

[١٥٠٩] په وسیله سره دباران دپاره دعا

١٥٠٩-(١)[١٣] [١] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-: [٢] أَنَّ عُمَرَبْنَ الْخَطَّابِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- كَانَ إِذَا قُحِطُوا اسْتَسْقَى بِالْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَقَالَ: [٣] اللّٰهُمَّ إِنَّا كُنَّا نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّنَا فَتَسْقِينَا [٤] وَإِنَّا نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ بِعَمِّ نَبِيِّنَا فَاسْقِنَا. [٥] قَالَ: فَيُسْقَوْنَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضی الله عنه راوي دي [٢] چې کله به د باران نه کیدو په وجه قحط سالي وه نو امیر المؤمنین حضرت عمر ابن خطاب رضی الله عنه به د حضرت عباس رضی الله عنه ابن عبد المطلب په وسیله د باران د پاره دعا کوله هغه به فرمایل [٣] چې اي الله مونږ به ستا د نبي په وسیله ستا څخه دعا غوښتله نو تا به مونږ سیراب کولو [٤] اوس مونږ ستا د نبي د تره (اکا) په وسیله دعا کوو نو ته مونږ سیراب کړي (په اوبو مو اوبه کړي) [٥] حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه [دي دعا سره به] باران کیدلو. (بخاري)

حل اللغات:- ① نَتَوَسَّلُ: مونږ وسیله نیسو.

تسهیلات: قوله: نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ:

په نیکو اعمالو سره د وسیلې نیولو جواز:-- د نیکواعمالو په وسیله کولو کښې دچا اختلاف نشته دې اودحدیث الغار واقعه په دې باندې واضح دلیل دې. په دریو کسانو کښې هریو دخپل نیك عمل په وسیله سره د الله تعالی نه دعا اوغوښتله چه دا ناګهانی آفت لرې شی نوهغه آفت لرې شو. نود نیکو اعمالو وسیله جوړولو کښې د هیچا اختلاف نشته دې. او ذوات فاضله وسیله جوړول څنګه دی په دې کښې اختلاف دې

حضرت مولانا محمدیوسف لدهیانوی شهید رحمه الله په اختلاف امت او صراط مستقیم کښې دا مسئله ښه په تفصیل سره بیان کړې ده. هغې مراجعت اوکړئ.

دحضرت عباس رضی الله عنه دعا:- نقل دی چه صحابه کرامو او حضرت عمر رضی الله عنه کوم وخت د حضرت عباس رضی الله عنه په وسیله سره د باران دعا د الله تعالی نه غوښتله نو حضرت عباس رضی الله عنه به داسې دعا غوښتله. اې زما پروردګاره ستاد پیغمبر امت زما وسیله اختیار کړې ده اې کریم ذات ته زما دا بوډاوالي مه رسوا کوې اوما دې خلقو په مخکښې د شرمندګئ نه

[١]) اخرجه البخاري في كتاب الجمعة/باب سؤال الناس الإمام الاستسقاء إذا قحطوا (رقم-١٠١٠)

بچ کړي نوچه دا الفاظ دَ حضرت عباس رضي الله عنه دَ خلې نه وتل او بل طرف ته باران شروع کيدل. (لمعات)[اشعة المعات: ١/٦٦٩]

[١٥١٠]دَاستسقاء په سلسله کښې دَيو نبي او ميږي واقعه

١٥١٠ –( )[١٤][١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [٢]«خَرَجَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ بِالنَّاسِ يَسْتَسْقِي،[٣] فَإِذَا هُوَ بِنَمْلَةٍ رَافِعَةٍ بَعْضَ قَوَائِمِهَا إِلَى السَّمَاءِ[٣] فَقَالَ: ارْجِعُوا فَقَدِ اسْتُجِيبَ لَكُمْ مِنْ أَجْلِ هَذِهِ النَّمْلَةِ». رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه:[١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې ما د نبي کريم ﷺ څخه دا اوريدلي دي چې په انبياؤ کې يو نبي د خلقو سره د استسقاء د پاره اوتلو نو هغه نبي ناڅاپه يو ميږي وليدلو چې خپلې پښې يې د آسمان طرف ته اوچتې کړي ولاړ وو، د دې په ليدو سره هغه نبي وفرمايل واپس راځئ د دې ميږي په وجه ستاسو دعا قبوله شوه. (دارقطني)

حل اللغات:- ① نَمْلَةٍ: ميږې، ② قَوَائِمِهَا: د قائمة جمع ده، خپې.

تسهيلات: قوله : خَرَجَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ:

د حديث فوائد:-

① وئيلى شى چه دانبى حضرت سليمان عليه السلام وو. دَدې واقعه نه يوه خبره داثابته شوه چه دَالله تعالى ډيرلوئى شان دې اودَهغه رحمت دَ کائنات په ذره ذره باندې راخوردې که هغه انسان وى يادَ حشرات الارض نه يوه ذره دَ ميږى برابروى.

② مسبب الاسباب اوقاضى الحاجات صرف يودَ الله تعالى ذات دې.

③ دَالله تعالى علم دکائنات ذره ذره راګيره کړې ده اوهغه دَ کائنات ټول موجوداتواحوال اوکوائف باندې محيط دې..

④ دَدغه ميږى دَ دعا الفاظ داوو. (اللهم انا خلق من خلقك لاغنیٰ بنا عن رزقك فلا تهلكنا بذنوب بنى آدم)

ترجمه:[١] اې پروردګار! ستاپه مخلوقاتو کښې مونږ هم يومخلوق يو ستادَ رزق نه مونږ مستغنى اوبې نيازه نه وو لهذا دَ اولاد آدم دَ ګناهونودَ وجې نه مونږ تباه برباد مه کړې.

....

[١]) اخرجه الدارقطنى فى السنن رقم الحديث ١ من كتاب الاستسقا

[٦٩/٥٣]بَابٌ فِي الرِّيَاحِ وَالْمَطَرِ

دَهواګانو او باران بیان

خلاصة الباب:-

فيه أربعة عشر حديثاً مشتملة على ثماني مسائل:

① ثبوت صلوة الاستسقاء: ١-
② تحويل الرداء في صلاة الاستسقاء: ١، ٦، ٧، ١٢-
③ كيفية رفع اليدين فى الاستسقاء: ٢، ٣، ١٢-
④ الدعاء وقت المطر: ٤-
⑤ العمل المسنون وقت المطر: ٥-
⑥ الدعاء في الاستسقاء وكلماتها: ١، ٦، ٧، ٨، ١٠، ١١، ١٢-
⑦ التضرع إلى الله تعالى فى الاستسقاء: ٩-
⑧ استسقاء الحيوانات : ١٤-

قال الله تعالى ﴿ وَأَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ لَوَاقِحَ ﴾ [سورت الحجر:٢٢] وقال الله تعالى ﴿ أَنْ يُرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرٰتٍ ﴾ [سورت روم:٤٦] وقال الله تعالى ﴿ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ ۝ ﴾ [سورت ذاريات:٤١]

د مشکاة د نسخو اختلاف:- دَمشکوة شريف په اکثرو نسخوکښې دلته صرف لفظ بابٌ دې. تنوين سره ليکلې شوې دې. دَصاحب مشکوة عادت دې چه کله کله هغه صرف لفظ باب کيخودلوسره عنوان قائم کوی. دا په حقيقت کښې دَ وړاندينی باب مُتَمِّمات او مکملات نه وی څه مستقل باب نه وی دلته هم ممکن ده چه معامله هم دغه شان وی. ليکن دَ مشکوة په يوه صحيح نسخه کښې دلته دَ باب في الرياح عنوان موجود دې اودَ شارحينو حضراتو نه تقريباً ټولو دَ باب سره هم دَ رياح عنوان لګولې دې. لهذا په دې باب کښې په مستقل توګه باندې دَ هواګانو بيان وی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٥١١]هوا رحمت هم دې او عذاب هم

١٥١١-(١)[١] ① عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «نُصِرْتُ بِالصَّبَا، ③ وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُورِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

(١) اخرجه البخارى فى كتاب الجمعة/باب قول النبى صلى الله عليه وسلم نصرت بالصبا (رقم-١٠٣٥) ومسلم كتاب صلاة الاستسقاء/باب فى ريح الصبا والدبور(رقم) ١٧ -(٩٠٠)

ترجمه: ① ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د جنوب (يا د سوئيل) د غاړې د هوا په ذريعه زما مدد وکړل شو ③ او قوم عاد د دبور هلاکونکې هوا په ذريعه هلاك شو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① الصَّبَا: باد صبا هغه هوا کومه چه د مشرق طرف نه راځي، ② الدَّبُور: هغه هوا کومه چه د مغرب طرف نه راځي.

تسهيلات:

قوله: نُصِرْتُ بِالصَّبَا:

دهوا په ذريعه د امت مدد: - هوا دَ الله تعالى تابعدار مخلوق دې دَ الله تعالى په حکم او فرمان مطابق چليږي او هم دَ هغه په حکم باندې بنديږي هم دَ هغه په حکم سره چاته راحت رسوي او څوك سخت عذاب سره مخ کوي. په غزوه خندق کښې چه کوم وخت کافرانو يو لوئې طاقت راوستو او دَ مدينې منورې نه ئې ٢٨ ورځې سخته محاصره کړې وه نو په دې موقع باندې الله تعالى دَ مسلمانانو امداد اوکړو او دَ بادصبا په ذريعه سره کافران ذليل او خوار کړل. هغه هوا دومره سخته اوچليدله چه ٢٧ ورځو پورې بې يارومددګار دَ ستړې ستومانه کافرانو سردار ابوسفيان او دَ هغه دَ لښکر په تابوت کښې آخرى ميخ ټکوهلې شو او هغه ټول اوتختيدل. رسول الله ﷺ په ټول ژوند کښې دَ الله تعالى دَ دې انعام شکر اداکولو او په اکثر مقاماتو کښې ئې دَ دې په خاص توګه ذکر کړې دې.

قوله: وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُورِ:

په هوا باندې د قوم عاد هلاکت: - دغه شان قوم عاد په پخوانو قومونو کښې ډير سرکش او طاقتور قوم تيرشوې دې. دَ دغه خلقو دولس دولس ګزه اوږده قدونه وو. کله چه دا قوم دَ الله تعالى په نافرمانئى او سرکشئى کښې راغلو او دَ الله تعالى عذاب له ئې دعوت ورکړو نو الله تعالى په هغوى باندې راخلاصونکې هوا مسلط کړه کومې چه دا دَ لوئې قد والا بدنونه په هواګانو کښې لکه دَ ډکو په شان والوزول او په زمکه ئې راخلاص کړل په کومې سره چه دَ هغوى خيټې اوشليدلې او دَ هغوى سرونه چورى چورى شو.

[١٥١٢] وريځ او هوا ليدو سره د نبى عليه السلام کيفيت بدليدل

١٥١٢ - (١) [٢] ① وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: ② «مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ضَاحِكًا ③ حَتَّى أَرَى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ، إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ ④ فَكَانَ إِذَا رَأَى غَيْمًا أَوْ رِيحًا عُرِفَ فِي وَجْهِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ② چې ما رسول الله ﷺ هيڅ کله داسې په خندا نه

(١) اخرجه البخاري فى كتاب تفسير القرآن/باب قوله: «فلما رأوه عارضا مستقبل أوديتهم قالوا: هذا عارض ممطرنا بل هو ما استعجلتم به ريح فيها عذاب أليم» [الأحقاف: ٢٤] (رقم-٤٨٢٨) ومسلم كتاب صلاة الاستسقاء /باب التعوذ عند رؤية الريح والغيم، والفرح بالمطر (رقك-١٤ - (٨٩٩) وابوداود فى كتاب الأدب/باب ما يقول إذا هاجت الريح (رقم-٥٠٩٨)

دي ليدلي [٣] چې ما ته دحضور ﷺ ژبۍ (چي په مري کې اويزانده وي) په نظر راغلې وي حضور ﷺ به صرف مُسکي کيدلو [٤] او کله چې به يي وريځ يا هوا وليده نو د مخ مبارك تغير به يي (صفا) معلوميدو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① لَهَوَاتِهِ: په حلق کښې ورې ژبې ته وائي. ② غَيْمًا: وريځ.

تسهيلات:

قوله: عُرِفَ فِي وَجْهِهِ:

د هوا د تيزۍ په وخت د نبي کريم ﷺ د ويرې وجه:- دَ هواګانو او وريځو په وخت به دَ حضورپاك پريشانی په دې وجه سره وه چه هم دَ دې وريځو اوهواګانو نه په تيرو شوو قومونو باندې قسم قسم عذابونه نازل شوی وو. په دې وجه دَ عامو انسانانو دَ کفر او ګناه په وجه سره به رسول الله ﷺ دَ عذاب دَ نزول دَ وجې نه پريشان کيدو. کله چه به باران شروع شو نو دَ حضورپاك طبيعت به خوشحال شو لکه څنګه چه دې سره حديث کښې بيان کړې شوې دې.

[١٥١٣] دَتيزې هوا په وخت دَرسول الله ﷺ دعا

١٥١٣-()[٣] [١] وَعَنْهَا، قَالَتْ: [٢] كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «إِذَا عَصَفَتِ الرِّيحُ قَالَ: [٣] اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا، وَخَيْرَ مَا فِيهَا، [٤] وَخَيْرَ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ، [٥] وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا، وَشَرِّ مَا فِيهَا، [٦] وَشَرِّ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ"، [٧] وَإِذَا تَخَيَّلَتِ السَّمَاءُ، تَغَيَّرَ لَوْنُهُ، [٨] وَخَرَجَ وَدَخَلَ، [٩] وَأَقْبَلَ وَأَدْبَرَ، [١٠] فَإِذَا مَطَرَتْ سُرِّيَ عَنْهُ،

ترجمه: [١] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي [٢] چې هر کله تيزه هوا به چليده نو حضور ﷺ به دا دعا کوله [٣] (ترجمه: اي الله زه ستا څخه خير غواړم د هغه څيز چې د دې (هوا) په ذات کې دي او خير د هغه شي چې په دې کې دي (يعني د دې منافع) [٤] او خير د هغه شي چې د هغې د پاره دا هوا راليږل شوې ده (يعني د دې مدد) [٥] او پناه غواړم ستا په ذريعه د دې د بدۍ او د هغه شي د بدي څخه چې په دې کې ده (يعني دا د عذاب باعث نشي) [٦] او د هغه شی د بدۍ نه چه د څه د پاره دا راليږلې شوې دې [٧] او هر کله چې به په آسمان وريځ خوره شوه نو د حضور ﷺ د مخ مبارك رنګ به بدل شو [٨] نو د اضطراب او خوف په وجه به يو ځاي نه پاتې کيدلو بلکه کله به د کور څخه بهر وتلو او کله به د بهر څخه دننه راتلو [٩] دغسې به تلو او بيا به راتلو [١٠] او کله چې به باران شروع شو نو د حضور ﷺ خوف او اضطراب به ختم شو.

حل اللغات:- ① عَصَفَتِ: عصف يعصف عصفاً وعصوفاً فهی عاصفة په سختئی سره چليدو ته وائی.

② تَخَيَّلَتِ: خيلت وتخيلت دَ آسمان باران دَپاره تياريدو ته وائی.

---

¹) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق /باب ما جاء فی قوله: (وهو الذی أرسل الرياح نشرا بين يدی رحمته) (رقم-٣٢٠٦)

١ فَعَرَفَتْ ذٰلِكَ عَائِشَةُ فَسَأَلَتْهُ، ٢ فَقَالَ: "لَعَلَّهُ يَا عَائِشَةُ، كَمَا قَالَ قَوْمُ عَادٍ: ٣ ﴿فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ ٤ قَالُوا هٰذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا﴾ [الأحقاف: ٢٤]". ٥ وَفِي رِوَايَةٍ: وَيَقُولُ إِذَا رَأَى الْمَطَرَ: "رَحْمَةٌ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ (يو ځل) بي بي عائشي رضي الله عنها چې دا (تغير او اضطراب) محسوس کړو نو د حضور ﷺ څخه يې د دې د سبب پوښتنه وکړه ٢ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې اې عائشې! څه خبر دا وريځ هغسې نه وي چې د هغې په نسبت قوم عاد ويلي وو ٣ هر کله هغوئ وريځ خپلو خوړونو ته راتلونکي وليده ٤ نو هغوئ اوويل چې دا وريځ ده چې په مونږ به وريږي [نو په دې آيت کې د قوم عاد حال بيان شوې دې چې هر کله هغوئ وريځ خپلو خوړونو ته راتلونکي وليده نو هغوئ اوويل چې دا وريځ ده چې په مونږ به وريږي] ٥ او په يو روايت کې په ځايي د فَإِذَا مُطِرَتْ سُرِّيَ عَنْهُ دا الفاظ دي چې هر کله به حضور ﷺ باران وليدلو نو دا به يې فرمايل چې دا باران دې د رحمت باعث وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ③ مُسْتَقْبِلَ: مخامخ راروانه ده، ④ عَارِضٌ: وريځ.

تسهيلات: -

قوله: هٰذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا:

د عاديانو د هلاکت منظر: - حضرت هود عليه السلام چه د کوم قوم طرف ته نبي جوړولو سره ليګلې وو د هغه قوم عاد وو. د دغه قوم د سرکشئ د وجې نه الله تعالى په هغوى باندې د آسمان نه باران بند کړو اودا قوم په اوچ کالئ او قحط کښې راګيرشو. حضرت هود عليه السلام هغوى ته د عذاب د نازليدو ويره هم واوروله ليکن هغوى د هغه په خبره باندې غوږ اونه لګولو. يوځل د دغه قوم يومعزز وفد د مکې مکرمې طرف ته په دې غرض سره لاړو چه هلته به د الله تعالى نه بيت الله سره د باران دعا اوغواړي. کله چه دا وفد مکې مکرمې ته اورسيدو نود هغې ځائى بعضې عقلاء او عرفاء هغوى ته اووئيل تاسو واپس لاړشئى او په خپل نبى باندې د باران دعا اوکړئى. دغه خلقو وئيل هغه سره زمونږ دښمنى ده مونږ هغه منونه نودعا به پرې څنګه اوغواړو. دې نه پس په آسمان باندې درې قسمه اوريځې راښکاره شوې يعنى سپينه توره او سره. بيا دوى ته اووئيلې شو چه په دې کښې يوه اوريځ خوښه کړئى هغوى وئيل چه په تورو اوريځو کښې اوبه کمې وى او په سره اوريځ کښې عموماً عذاب وى نوسپينې اوريځې ئى خوښې کړې. دا خلق ورانډې روان وو اوشاته ورپسې اوريځې راتلې. دا خلق د وخت د پيغمبر په توهين او سپکاوى باندې راغله چه ګورئى د ده نه بغيرڅنګه اوريځې مونږ سره راروانې دى. کله چه خپلو ښارونو ته اورسيدل نو هم د دغه اوريځو نه عذاب نازل شو او ټول ئى نيست او نابود کړل. هم د دغه واقعې طرف ته په قرآن

عظیم کښې بار بار اشاره کړې شوې ده کومه چه حضورپاك وئیلو سره واؤروله: ﴿ هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ؕ بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ؕ رِيْحٌ فِيْهَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۙ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍۭ بِاَمْرِ رَبِّهَا ﴾ خلاصه دا چه مونږ له پکاردی چه مونږ دَ الله تعالی دَعذاب نه بې ویرې او بې غوره نه شو.

[١٥١٤] دَغیبو پنځه خزانې

١٥١٣-(¹)[٣] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«مَفَاتِيحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ» [٣] ثُمَّ قَرَأَ: ﴿إِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ [٤] وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ﴾ [لقمان: ٣٤] الْآيَةَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] ابن عمر ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] چې د غیبو پنځه خوانې دي [٣] بیا حضور ﷺ دا آیت اووئیلو [چې د هغې ترجمه دا ده] الله تـه د قیامت علم دي [٤] او هغه باران وروي. (بخاري)

حل اللغات:- ① مَفَاتِيحُ: دمفتاح جمع ده، چابی، ② السَّاعَةِ: قیامت، ③ الْغَيْثَ: باران.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ:

د خزانو څیزونو وضاحت:- دغیبو پنځه خزانې دی چې دهغې علم صرف الله ﷻ ته دي. بل هیچا ته ددې علم نشته دې. همدغه پنځه څیزونه ئې په دې آیت مبارك بیان فرمائیلی دی (إِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ ۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ۚ إِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ)

① د قیامت د قائمیدوعلم

② د باران د کیدو علم دې

③ د (دمور په) خیټه کښې څه دی (یعنی هلك دې که جینۍ ، تور دې که سپین ، نیمګړې دې که پورا وغیره وغیره)

④ صبا ته په یو کس څه کوی ، (یعنی دنیا کښې به ښیګړه کوی یا بدی ، او آخرت کښې به ورته ثواب ملاویږی که عذاب)

⑤ دا چې یو کس به په کومه زمکه باندې مری ،

[١٥١٥] حقیقی قحط

١٥١٥-(²)[٥] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«لَيْسَتِ السَّنَةُ بِأَنْ لَا تُمْطَرُوا، [٣] وَلَكِنِ السَّنَةُ أَنْ تُمْطَرُوا وَتُمْطَرُوا وَلَا تُنْبِتُ الْأَرْضُ شَيْئًا» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

¹) اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب +وعنده مفاتح الغیب لا یعلمها إلا هو_ [الأنعام: ٥٩] (رقم-٤٦٢٧)

²) اخرجه مسلم فی کتاب الفتن وأشراط الساعة/باب فی سکنی المدینة وعمارتها قبل الساعة (رقم-٤٤-(٢٩٠٤)

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] سخت قحط د دې نوم نه دي چې په تاسو باران نه كيږي [٣] بلكه سخت قحط دا دي چې په تاسو باران كيږي خو زمكه هيڅ نه زرغونوي. (مسلم)

حل اللغات: - ① السَّنَةُ: قحط، اوچ كالي، ② لَا تُمْطَرُوا: چه په تاسو باران اونه كړې شي.

تسهيلات:

قوله: وَلَا تُنْبِتُ الْأَرْضُ شَيْئًا:

د قحط حقيقت: -نبي كريم صلى الله په دې حديث كښې فرمائي چې حقيقي قحط دا دې چې باران كيږي او زمكه څه نه راټوكوي. لكه څنګه چې نبي كريم په يوبل حديث كښې فرمائيلي دی پهلوان هغه نه دې چې بل څوک راوغورځوي. بلكه حقيقي پهلوان هغه دې چې د غصې په وخت كښې خپله غصه اوزغمي. اود غصې په مقتضا عمل اونكړي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٥١٦] هواته ته د كنځلو كولو ممانعت

١٥١٦ - ( )[٦] [١] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " [٢] «الرِّيحُ مِنْ رَوْحِ اللَّهِ تَعَالَى، [٣] تَأْتِي بِالرَّحْمَةِ وَبِالْعَذَابِ، [٤] فَلَا تَسُبُّوهَا وَسَلُوا اللَّهَ مِنْ خَيْرِهَا، [٥] وَعُوذُوا بِهِ مِنْ شَرِّهَا» " رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي " الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ ".

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي [٢] چې هوا د الله تعالى جل جلاله د رحمت څخه ده [٣] هغه رحمت هم راولي او عذاب هم [٤] نو كه (تاسو ته د هغې څخه څه نقصان ورسيږي) نو هغې ته بد مه وايئ تاسو د الله جل جلاله څخه د هغې خير طلب كوئ [٥] او په الله جل جلاله سره د هغې د نقصان څخه پناه غواړئ. (شافعي، ابوداؤد، ابن ماجه، بيهقي)

حل اللغات: - ① تَسُبُّوهَا: د سبّ يسبّ نه، سبّ كنځلو ته وائي. ② عُوذُوا: د عاذ يعوذ نه، پناه غوښتل.

تسهيلات:

قوله: الرِّيحُ مِنْ رَوْحِ اللَّهِ تَعَالَى:

د روح الله مطلب: - دا مصدر دې په معنى د اسم فاعل الرائح يعنى راتلونكې. يعنى هوا دهغه ځيزونو څخه ده چې دا د الله تعالى د طرفه راځي. يو ځائې كښې رحمت شي نوپه بل ځائې ترې عذاب جوړ شي. او كله په يوځائې كښې هم عذاب نه جوړيږي. لهذا په اجمال او تفصيل كښې به مطابقت راشي.

[١]) اخرجه ابوداود فى كتاب الأدب/اب ما يقول إذا هاجت الريح (رقم-٥٠٩٧) وابن ماجة كتاب الأدب/باب النهى عن سب الريح (رقم-٣٧٢٧)

قوله: تَأْتِي بِالرَّحْمَةِ:

اشکال:- په هوا کښې خو عذاب وی نو دې ته ئې رحمت څنګه اووئيل؟

داشکال جواب:- هغه هوا چې په چا باندې مسلط کړې شوه نو هغه دهغوئ دپاره عذاب دې يعنی د کافرانو او منکرينو دپاره. اود مسلمانانو دپاره داشان رحمت دې چې دکافرانو نه ورته نجات ملاؤ شو.

د هواګانو اته قسمونه:- مرقات کښې دی چې دهوا ګانو اته اقسام دی. څلور قسمه رحمت دې ① ناشرات. ② ذاريات. ③ مرسلات. ④ مبشرات او دا څلور قسمه دعذاب دی. ⑤ عاصف. ⑥ قاصف. ⑦ صرصر. ⑧ عقيم. عاصف، قاصف دواړه سمندرونو کښې عذاب راولی. او صرصر، عقيم په اوچه باندې عذاب راولی.

[١٥١٧] په هواد لعنت ليږلو ممانعت

١٥١٧-()[٧] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا -: ② «أَنَّ رَجُلًا لَعَنَ الرِّيحَ عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: ③ "لَا تَلْعَنُوا الرِّيحَ; فَإِنَّهَا مَأْمُورَةٌ، ④ وَإِنَّهُ مَنْ لَعَنَ شَيْئًا لَيْسَ لَهُ بِأَهْلٍ، ⑤ رَجَعَتِ اللَّعْنَةُ عَلَيْهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① ابن عباس رضی الله عنهما فرمايي ② چې (يو ځل) د نبي کريم ﷺ په مخکې يو سړي په هوا لعنت ووېلو نو حضور ﷺ ورته وفرمايل ③ چې په هوا لعنت مه وايه ځکه چې هغه (خو د رحمت يا عذاب د پاره) د الله جل جلاله د طرف څخه ماموره ده ④ او کوم سړي چې په داسې شي باندې لعنت کوي چې هغه د لعنت مستحق نه وي ⑤ نو هغه لعنت هغه لعنت کونکي ته واپس ګرځي. (دا روايت امام ترمذي رحمه الله نقل کړي دي او ويلې يې دی چې دا حديث غريب دي)

حل اللغات:- ① مَأْمُورَةٌ: ای محکومة، د الله دحکم تابع ده.

تسهيلات:

قوله: لَا تَلْعَنُوا الرِّيحَ:

قابل لعنت درې څيزونه:- حضرت امام غزالی رحمه الله فرمائی چې د لعنت باعث درې څيزونه دی. ① کفر ② بدعت ③ فسق. او ظاهره خبره ده چې په هوا کښې په دې درې واړو څيزونو کښې يو هم موجود نه دې. په دې وجه رسول کريم ﷺ په هوا باندې د لعنت وئيلو نه منع فرمائيلې ده.

[1]) اخرجه ابوداود فی کتاب الأدب/باب فی اللعن (رقم-٤٩٠٨) والترمذی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی اللعنة (رقم-١٩٧٨)

[١٥١٨] د هوا او طوفان په وخت کښې دعا

١٥١٨ - ()[٨] [١] وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«لَا تَسُبُّوا الرِّيحَ، [٣] فَإِذَا رَأَيْتُمْ مَا تَكْرَهُونَ فَقُولُوا: [٤] اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِهِ الرِّيحِ، وَخَيْرِ مَا فِيهَا، [٥] وَخَيْرِ مَا أُمِرَتْ بِهِ، [٦] وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ الرِّيحِ، وَشَرِّ مَا فِيهَا، [٧] وَشَرِّ مَا أُمِرَتْ بِهِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] ابي ابن كعب رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هوا ته بد مه وايئ [٣] هو هر كله چې تاسو دا ووينئ چې (د هغې د سوځونکو چپو يا يخو هواګانو په وجه) تاسو ته هغه ناګوار محسوسيږي (يا د هغې د تيزي وتندي په وجه تاسو ته تکليف يا نقصان کيږي) نو دا دعا کوئ [٤] چې يا الله مونږ ستا څخه د دې هوا د خير او څه چې په دې کې دي د هغې د خير [٥] او د څه شي د پاره چې دا ماموره کړل شوې ده د هغې خير غواړو [٦] او مونږ ستا څخه د دې هوا د بدي څخه او څه چې په دې کې دي د هغې بدي څخه [٧] او د څه شي دپاره چه دا ماموره کړې شوې د هغې د بدئ څخه پناه غواړو، (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: فَقُولُوا: اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ:

د هوا راتلو په وخت کښې دعا:- يعنی هوا ته بد وئيل نه دی پکار ، بلکه کله چې هوا راشی نو دا دعاغوښتل پکار دی. (اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِهِ الرِّيحِ، وَخَيْرِ مَا فِيهَا، وَخَيْرِ مَا أُمِرَتْ بِهِ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ الرِّيحِ، وَشَرِّ مَا فِيهَا، وَشَرِّ مَا أُمِرَتْ بِهِ

[١٥١٩] د تيزې هوا په وخت مسنون دعا

١٥١٩ - [٩] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [٢] «مَا هَبَّتْ رِيحٌ قَطُّ إِلَّا جَثَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَقَالَ: [٣] "اللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا رَحْمَةً، وَلَا تَجْعَلْهَا عَذَابًا، [٤] اللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا رِيَاحًا، وَلَا تَجْعَلْهَا رِيحًا» [٥] ". قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فِي كِتَابِ اللّٰهِ تَعَالَى: ﴿إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا﴾ [القمر: ١٩] [٦] وَ: ﴿أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيحَ الْعَقِيمَ﴾ [الذاريات: ٤١] [٧] وَ: ﴿وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ﴾ [الحجر: ٢٢] [٨] وَ: ﴿أَنْ يُرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرَاتٍ﴾ [الروم: ٤٦]. رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ".

ترجمه: [١] ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي [٢] چې کله به تيزه هوا چليده نو نبي کريم ﷺ [به د الله جل جلاله په مخکې د عجز وانکساري اظهار، د امت د طرف څخه د خوف او تعليم په خاطر چې نور خلق هم داسې وکړي] په زنګونانو کيناستلو او دا دعا به يې کوله [٣] اي الله دا هوا رحمت جوړ کړې، عذاب يې جوړه مه کړې [٤] اي الله دا هوا رياح (يعني درحمت هواګاني) جوړه کړې ريح (يعني عذاب) يې جوړه مه کړې [٥] ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې د قرآن کريم دا آيت کريمه (چې د هغې ترجمه دا ده) او مونږ په هغوئ تيزه او تنده هوا وليږله

[١] اخرجه الترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی النهی عن سب الرياح (رقم-٢٢٥٢)

٦ او مونږ په هغوئ شنډه هوا ولیږله (یعني داسې هوا چې ونې به یې میوه کولو ته نه پریښودلي) ٧ او مونږ په هغوئ وریځې د کوونکي هواګانې ولیږلي ٨ او دا چې الله تعالی جل جلاله (د باران) زیرې راوړونکي هواګاني رالیږي. (شافعي بیهقي)

حل اللغات:- ① هَبَّتْ: تیزه هوا به اوچلیده، ② جَثَا: جلس علی رکبتیه: په زنګونانو کیناستل. ③ رِيَاحًا: دَدې جمع ریاح ده، هوا ته وائی. ④ صَرْصَرًا: تیزه او تنده هوا، طوفان، ⑤ الْعَقِيمَ: شنډه هوا، خشکه هوا، ⑥ لَوَاقِحَ: د کونکې،

تسهیلات:

قوله: وَلَا تَجْعَلْهَا رِيحًا:

د ریح او ریاح په استعمال کښې فرق:- دلته دا بحث اوتحقیق دې چه دَ ریح اوریاح په مواقع استعمال کښې څه فرق شته که نشته؟ په زیر بحث حدیث کښې دَحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما تحقیق دادې چه په دواړو الفاظو کښې دافرق دې چه کوم ځائې په قرآن کریم کښې دَ ریاح لفظ دَ جمع دَ صیغې سره راغلې دې هغه دَ رحمت اوبشارت دَپاره استعمال کړې شوې دې اوچرته چه دَ ریح لفظ مفرد راغلې دې دَعذاب دَپاره استعمال کړې شوې دې. چنانچه زیربحث روایت کښې دَ استشهاد په توګه دَ قرآن کریم آیاتونه پیش کړې دی او په دې سره ئې په دې خبره باندې استدلال کړې دې چه ریح دَ عذاب دَپاره دې اوریاح دَ رحمت او بشارت دَپاره استعمال کولې شی.

دامام طحاوی اختلاف:- امام طحاوی رحمه الله دَحضرت ابن عباس رضي الله عنهما دې تحقیق سره اختلاف کړې دې اودااشکال ئې پیش کړې دې چه په قرآن کریم کښې ریح دَمفرد صیغې سره دَ رحمت اوبشارت دَپاره استعمال شوې دې. لکه ﴿ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ ﴾ هم دغه شان په بعضې احادیثو کښې الریح من روح الله الفاظ راغلی دی د کوم نه چه معلومیږی چه دَ ریح لفظ دَ رحمت او ښیګړې دَپاره استعمالیږی.

د اختلاف تطبیق:- دَدې اختلاف په تطبیق کښې علامه خطابی رحمه الله فرمائیلی چه په زیر بحث حدیث کښې دا تاویل ممکن دې چه حضوراکرم چه دَ ریح کومه نفی اوریاتح دعاغوښتې ده. دَدې مطلب دا چه په یوریح کښې کمه ښیګړه راځی او ریاح چه کله جمع شی نو په دې مجموعه کښې زیاته ښیګړه راځی په دې وجه حضورپاك دَ ریح نفی اوفرمائیله. دا جواب دَ زړه ورتیا نه زیات حیثیت نه لری او په دې کښې یو ډیر بعید تاویل کړې شوې دې لهذا دا تطبیق مفیدنه دې.

د امام طحاوی داشکال جواب:- علامه طیبی رحمه الله دَ ابن عباس رضي الله عنهما رائې راجح ګرځولې ده اودَ امام طحاوی رحمه الله دَ اشکال ئی دا جواب ورکړې دې چه دَ قرآن کریم په عمومی اصطلاح په خپل ځائی صحیح ده اوحضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَ قرآن عظیم اصطلاح واضح کړې ده اودَ

قرآن عظیم اصطلاح داده چه کله لفظ صرف ریح ذکرشي اودې سره څه قیدنه وي نو داد عذاب دپاره استعمالیږي او ریاح په عام توګه رحمت ښیګړې او بشارت دپاره استعمالیږي.

ریح سره د طیبة قید لګولو:- کبعضې روایاتو کښې ریح مطلق مذکورنه دي بلکه طیبه سره مقیددي او په احادیثو کښې هم مطلق ریح د رحمت دپاره استعمال نه کړې شو بلکه (الریح من روح الله) مقید جمله ده یاکه داسې اووئیلې شي حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د قرآن پاک اصطلاح بیان کړې ده. دحدیث نه بهرحال دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما رائې بهترده. والله اعلم

[١٥٢٠] داوریځې د وخت دعا

١٥٢٠- (١)[١٠] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [٢] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَبْصَرْنَا شَيْئًا مِنَ السَّمَاءِ - تَعْنِي السَّحَابَ - [٣] تَرَكَ عَمَلَهُ وَاسْتَقْبَلَهُ، وَقَالَ: [٤] " اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيهِ "، [٥] فَإِنْ كَشَفَهُ حَمِدَ اللَّهَ، [٦] وَإِنْ مَطَرَتْ قَالَ: " سَقْيًا نَافِعًا» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالشَّافِعِيُّ وَاللَّفْظُ لَهُ.

ترجمه: [١] بي بي عائشه رضی الله عنها فرمايي [٢] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به په آسمان وریځ ولیده [٣] نو (مباح) کار پریښودلو سره اخوا به متوجه کیدو او دا دعا به یې کوله [٤] چه اي الله څه چې په دې کې شر وي د هغې څخه ستا پناه غوارم [٥] که الله تعالٰی (به بغیر د ورولو) آسمان صفا کړو نو حضور صلی الله علیه وسلم به د الله جل جلاله حمد بیانولو [٦] او که به باران شروع شو نو دا دعا به یې کوله چې اي الله نفع ورکونکي اوبه ووروي. (ابوداؤد، نسایي، ابن ماجه، شافعي الفاظ د شافعي دي)

حل اللغات:- ① كَشَفَهُ: ښکاره به ئې کړو، صفا به ئې کړو(آسمان). ② سَقْيًا: باران،

تنبیه:- په دې حدیث کښې ناشئا لفظ راغلي دې په نشاءینشاء نه پیدا کیدو په معنی کښې دي. کاتبانودې په لیکلو کښې ډیر ګربړکړې دي. په اصل کښې ابصرجدا صیغه ده اوناشئا جدا اسم فاعل دې دکوم تفسیرحضرت عائشه رضی الله عنها السحاب سره فرمائیلې دي.

[١٥٢١] دبریښنا په وخت کښې دعا

١٥٢١- (٢)[١١] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا -: [٢] أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «كَانَ إِذَا سَمِعَ صَوْتَ الرَّعْدِ وَالصَّوَاعِقِ قَالَ: [٣] " اللَّهُمَّ لَا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ، [٤] وَلَا تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ، [٥] وَعَافِنَا قَبْلَ ذَلِكَ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] ابن عمر رضی الله عنهما فرمايي [٢] چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې به (د بجلي) د تنا (د ګړزهار)

[١] اخرجه ابوداود فی کتاب الأدب/اب ما یقول إذا هاجت الریح (رقم-٥٠٩٩) والنسائی کتاب الاستسقاء/باب القول عند المطر (رقم-١٥٢٣) وابن ماجة کتاب الدعاء/باب ما یدعو به الرجل إذا رأى السحاب والمطر (رقم-٣٨٨٩)

[٢] اخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله علیه وسلم/باب ما یقول إذا سمع الرعد (رقم-٣٤٥٠)

آواز واوریدو او بریښنا [تندر پریوتل] به یي ولیدله نو دا دعا به یي ؤکوله ③ چې اي الله مونږ په خپل غضب سره هلاك مه کړي ④ او په خپل عذاب سره مو هلاك مه کړي ⑤ او مونږ په عافیت کې لري (یعني مونږ ته د عافیت مرګ راکړي) مخکې د دې څخه (چې ستا عذاب نازل شي) (ترمذي رحمه الله، او ترمذی ویلي دي چې دا حدیث غریب دي)

حل اللغات:- ① الرَّعْدِ: ګړزار، ② الصَّوَاعِقَ: د صاعقة جمع ده، تندرونه. ③ عَافِنَا: د امر صیغه ده یعنی عافیت راکړې مونږته.

تسهیلات:

قوله: إِذَاسَمِعَ صَوْتَ الرَّعْدِ وَالصَّوَاعِقَ

په آسمان کښې د پړقا حقیقت: -کله چې فرښته وریځې په کوړا باندې وهی نو آواز راځی، کله چې ئې اووهی نو دا پړقیږی کوم چې مونږ ته ښکاری. بیا د وریځو نه آواز راځی. څومره زور سره چې ئې هغوئ وهی دومره زور سره ترې آواز راځی. څینې وختونو کښې د تندر هغه پړق ونې هم سوزی. په دې وجه به نبی کریم په سخت تندر او پړقاری کښې دعا غوښته. مونږ ته هم پکار دی چې ددې دعاګانو اهتمام اوکړو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٥٢٢] دَ رعد فرښتې تسبیح

١٥٢٢ —( )[١٢] ① عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ: ② أَنَّهُ كَانَ إِذَا سَمِعَ الرَّعْدَ تَرَكَ الْحَدِيثَ وَقَالَ: ③ سُبْحَانَ الَّذِي يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ، ④ وَالْمَلَائِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِ. رَوَاهُ مَالِكٌ.[1]

ترجمه: ① د عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه په باره کې منقول دي ② چې هغه به د بجلي د ګړزهار آواز واوریدو نو خبري اتري کول به یي پریښودل او دا کلمات به یي ویل ③ چې پاك دي هغه ذات چې رعد د هغه تسبیح کوي د هغه د ثنا سره ④ او فرښتي د هغه د خوف څخه د هغه ثنا وایي. (مالك)

حل اللغات:- ① الرَّعْدَ: ګړزاري، ② خِيفَتِهِ: د ویرې دالله نه.

تسهیلات: قوله: إِذَاسَمِعَ الرَّعْدَ:

د رعد په تفسیر کښې دوه ډلې:-

① دَ قرآن کریم په تفسیر کولو کښې دَمفسرینو دوه طبقې دی. طبقه اولی اثری دې یعنی چه کوم حدیث او اثرنه دَ قرآن کریم تفسیر کوی او هغه خالص نقل تابع ګرځی لکه ابن جریر ابن کثیر او قرطبی وغیره رحمهم الله مفسرین دی.

[1]) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الکلام/باب القول إذا سمعت الرعد (رقم-٢٦)

② دویمه طبقه فلسفي ده داهغه مفسرین دي کوم چه نقل سره فلسفیانه عقل ته هم دخل ورکوی لکه فخرالدین رازی رحمه الله قاضي بیضاوی رحمه الله وغیره دی.

د اولې طبقې تفسیر: -اوس په قرآن کښې ﴿وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ﴾ کښې رعد لفظ راغلې دې. دَدې لفظ باره کښې اَثري مفسرین فرمائی لکه څنګه چه په احادیث اوآثار کښې راغلی دی چه داد یوې فرښتې نوم دې چه دَ اوریځو په شړلواو روانولو باندې مقرردی. دَهغې په لاس کښې یو چمکداره کوړه ده هغه خوزه وی په اوریځوکښې پړق او بجلی راځی اوپخپله دا فرښته دَالله تعالی تسبیح لولی دکوم نه چه دَ ګړزګړوز آواز پیداکیږی. زیربحث حدیث هم دَدغه مفسرینو دلیل اوتائیددې.

د دویمې طبقې تفسیر: -فلسفي مفسرین فرمائی چه دَاوریځو په خپل مینځ کښې یو کیفیت دې کله چه دَ ګرم اونرم مزاج اوریځې خپل مینځ کښې جنګیږی نودَدې نه دَ بجلئی دکرنټ په شان پړق هم راپیداکیږی اوهم دَدې نه دا سخت آواز راځی.

د رعد د آواز په وخت دعائیه کلمات: -بهرحال صحابه کراموکښې دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه یوروایت نقل دې چه په حالت دَ سفرکښې یوځل مونږ ګړزګړوز پړق پړوق او یخنئی راګیر کړو نوحضرت کعب رضی الله عنه اوفرمائیل چه کوم سړې دَ ګړزګړوز آواز واوری درې ځل دې دا اولولی هغه به دَ آفات او خطرات نه محفوظ اومامون اوسیږی. نوچه مونږ لوستل شروع کړه ویره لاړه هغه کلمات دادی. (سبحان الله من يسبح الرعد بحمده والملائكة من خيفته) (موطامالك)

دَدې نه معلومه شوه چه رعددَ فرښتې نوم دې او ګړزګړوز دَهغې آواز دې. دَدې حدیث نه داهم معلومه شوه چه دَ اوریځې پړق او ګړزګړوز اودَ بجلئی اوتندر آواز دې که چرې ویره اواضطراب یوه چپه دَ چاپه زړه کښې پیداکړی نودا مبارك کلمات اودغه بابرکت معمولات نه به ډیره فائده کیږی.

....

[٥] كِتَابُ الْجَنَائِزِ

د جنازې بیان

د جنازې ثبوت:- قال الله تعالى ﴿ كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴾ [سورت قیامة الایه:٢٧] وقال الله تعالى ﴿ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ ﴾ [سورت توبه:٨٤]

د جنازې لغوی تحقیق:- جنائزد جنازة جمع ده او په جنازه کښې په جیم باندې کسره هم ده او فتحه هم ده مګر کسره سره لوستل فصیح لغت دې دواړه جائزدی. بعضې اهل لغت لیکلی دی چه د جیم فتحه سره د مړی په کټ باندې وئیلې شی او د جیم کسره سره د مړی نعش ته وئیلی شی. داخبره یادساتئی چه جنائزجمع په لفظ کښې په جیم باندې صرف فتحه جائزده کسره نه ده.

د جنازې حکم:- جنازه واجب علی الکفایه ده البته چه کله حاضرشی نو بیا په حاضرینو باندې فرض عین کیږی.

[١] بَابُ عِيَادَةِ الْمَرِيضِ وَثَوَابِ الْمَرَضِ

د مریض د پوښتنې بیان

خلاصة الباب:-

فيه أربع وسبعون حديثاً مشتملة على ثلاث عشر مسئلة:

① الأمر بعيادة المريض وكونها حق المسلم: ١، ٢، ٣، ٤، ٦،

② ثواب العيادة: ٥، ٢٨، ٣٠، ٥٢، ٥٩-

③ كيفية العيادة: ٧، ٨، ٣١، ٣٤، ٥٠، ٦٢، ٦٥، ٦٦، ٦٧، ٦٨، ٦٩-

④ ثبوت الرقية والدواء للأمراض: ٨، ٩، ١٠، ١١، ١٢، ١٣، ، ٢، ٣٢، ٣٤، ٦٠-

⑤ فضيلة الصبرعلى الأمراض والمصائب: ،١٤، ١٥، ١٦، ٢١، ٢٢، ٢٣، ٢٤، ٢٥، ٢٧، ٣٥، ٣٧، ٣٧، ٣٨، ٣٩، ٤٠ ، ٤٣، ٤٤، ٤٥، ٤٦، ٤٨، ٤٩ ،٥١، ٥٥، ٥٦، ٥٧، ٥٨، ٦١، ٦٢، ٦٣، ٦٤، ٧٠، ٧١، ٧٢، ٧٣، ٧٤-

⑥ أشدية المصائب على المقربين: ١٧، ١٨، ١٩، ٢٠ ، ٤٠، ٤١، ٤٢، ٤٥،

⑦ عدم القدوم إلى أرض الطاعون: ٢٦، ٧٥ -

⑧ العيادة عن الأمراض المخصوصة: ٢٩-

⑨ أسباب المصائب والأمراض: ٣٦، ٤٣، ٤٦-

⑩ لزوم المصائب مع حياة بني آدم: ٤٧-

⑪ عيادة الكفار: ٥٢-

⑫ كيفية الإخبار عن المريض بعد عيادته: ٥٤-

⑬ إطعام المريض ما يشتهى: ٦٩-

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٥٢٣] د مريض پوښتنه كول

١٥٢٣ ـ (١) [١] عَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«أَطْعِمُوا الْجَائِعَ، [٣] وَعُودُوا الْمَرِيضَ، [٤] وَفُكُّوا الْعَانِيَ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت ابوموسى رضي الله عنه راوي دي چې رسول اكرم ﷺ وفرمايل [٢] په اوږي (يعني مضطر او مسكين او فقير) باندې طعام خورئ [٣] د بيمار پوښتنه كوئ [٤] او قيدى (د دښمن د قيد څخه) خلاصوئ. (بخاري)

حل اللغات: - ① الْجَائِعَ: اوږي، ② عُودُوا: عيادت او پوښتنه كوئ، ③ فُكُّوا: فك يفك دَنصر نه دَامر صيغه ده دَ قيدى راخلاصول، ④ الْعَانِيَ: دَمعانات نه دي دا هغه قيدى ته وائى چه دَقيد دَ وجې نه ذليل او خوار شي.

تسهيلات: قوله: أَطْعِمُوا الْجَائِعَ:

وږى ته روټى وركول: - په دې حديث كښې درې پريشان حال خلقو امداد كول په مسلمانانو باندې لازم ګرځولې شوى دى. په دې كښې اول سړې فقيراومجبورمسلمان دې په هغه خوراك كول په ټولو مسلمانانو باندې فرض كفايه درجه كښې ده په دې شرط چه دغه سړې په حالت دَ اضطرار اومخمصه كښې وى ګنى سنت دى اوكه چرې په محله كښې يوسړې مالدار وى باقى مفلس وى او اوږې سړې داسې مجبور وى چه دَهغه دَمړكيدوخطره وى نوپه دغه مالدار سړى باندې خوراك وركول فرض عين كيږى. دادَ هغه مقاماتو خبره ده چرته چه دَ هوټل انتظام نه وى ياكه هوټل خو وى ليكن دغه اوګى سړى سره پيسې نه وى. [الكاشف: ٢٩٧/٣]

قوله: وَعُودُوا الْمَرِيضَ:

د بيمار تپوس كول: - دادَ پوښتنې نه دې. دَمريض تپوس كول سنت او دَ ثواب كار دې ليكن دا په هغه صورت كښې دى چه كله دَ بيمار څوك تپوس كونكې موجودنه وى اودَ خدمت دَپاره څوك موجود نه وى او بيمارى سخته وى. هغه وخت په عامو مسلمانانو باندې دَ هغه تپوس كول واجب على الكفايه دى.

قوله: وَفُكُّوا الْعَانِيَ:

د قيدى څخه مراد: - ابن ملك فرمائى چه دَدې نه مراد دَ كافرانو په قيد كښې ګرفتار مسلمان وى. په دې حديث كښې چه كوم اوامردى دا دَ لازم على الكفايه په درجه كښې دى. مطلب دادې چه بعضې مسلمانانو دا كار اوكړو نو باقى نه ذمه ساقط كيږى ګنى ټول به ګناهګار وى. (كذا فى تعليق الصبيح). په يوحديث كښې دى حضورپاك ﷺ فرمائى

[١] اخرجه البخارى فى كتاب المرضى/باب وجوب عيادة المريض (رقم-٥٦٤٩) والدارمى باب: فى باب فكاك الأسير

چاچه څوك قيدي د کافرانو د قيدنه راخلاص کړو نوزه هم پخپله دغه قيدي يم يعنی هغه دومره لوئی ثواب اوګټلو لکه چه زه ئی د قيد نه راخلاص کړم.

[١٥٢٤] د يومسلمان په بل مسلمان باندې پنځه حقوق

١٥٢٤—(١)[٢] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[٢] «حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ: [٣] " رَدُّ السَّلَامِ، [٤] وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ، [٥] وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ، [٦] وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ، [٧] وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابوهريره ﷺ راوي دي چې رسول ﷺ وفرمايل [٢] د يو مسلمان په بل مسلمان پنځه حقونه دي [٣] ① د سلام جواب ورکول [٤] ② د بيمار پوښتنه کول [٥] ③ د جنازي سره تلل [٦] ④ د عوت قبلول [٧] ⑤ د تريچلو (انتهوشې، پرنجې، نوړې) جواب ورکول. (بخاري ومسلم)

حل اللغات:- ① تَشْمِيتُ: د انتهوشی کونکی د الحمد لله په وئيلو باندې يرحمك الله سره جواب ورکولوته تشميت وائی. ② الْعَاطِسِ: انتهوشې يعنی پرنجې کونکې،

تسهيلات: قوله: حَقُّ الْمُسْلِمِ:

د سلام اچول:- دلته په دې حديث کښې د پنځو حقونو ذکرکړې شوې دې چه په مسلمانانو باندې خپل مينځ کښې لازم کړې شوی دی. راتلونکو رواياتو کښې څه نور حقوق هم ذکر دې. د يومسلمان بل مسلمان ته سلام کول سنت اود ثواب کاردې ليکن د دې سلام جواب ورکول واجب دی. په راتلونکی باب السلام کښې ان شاء الله تفصيل راتلونکې دې. دلته دا حقوق د جنازې په ضمن کښې بالتبع مذکوردی.

تنبيه:-په سلام کولوکښې داخيال ساتل پکاردی چه مخې ته سړې فاسق مجاهر نه وی رافضی اوبدعتی نه وی. که چرې داسې وی نو بيا په سلام کښې رومبې والې نه دی کول پکار. بل په داسې حالاتوکښې هم سلام نه دی کول پکار په کوم کښې چه جواب ورکول مشکل کيږی

قوله: وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ:

عيادت کول:- دې نه هم داسې مريض مراد دې چه مسلمان وی رافضی آغاخانی يا بدعتی يا قاديانی وغيره نه وی ګنی د داسې خلقو جنازه او تپوس کول لازم نه دی.

قوله: وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ:

د مسلمان دعوت قبلول:- د خوراك دعوت قبول کول واجب دی ليکن شرط دادې چه دعوت په اختياری توګه باندې وی او په دعوت کښې غيرشرعی کارونه نه وی اوچاته چه دعوت

---

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب الأمر باتباع الجنائز (رقم-١٢٤٠) ومسلم کتاب السلام/باب من حق المسلم للمسلم رد السلام (رقم-٤ - (٢١٦٢) وابوداود فی کتاب الأدب/باب فی العطاس (رقم-٥٠٣٠)وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی عيادة المريض (رقم-١٤٣٥)

ورکولې شی هغه پخپله په شرعی توګه معذور اومجبور نه وی. اصل وجه داده چه دَدې ځیزونو قائم کولوسره په مسلمانانوکښې محبت زیاتیږی او دَدغه ځیزونو په پریخودو سره نفرت پیدا کیږی. په دې وجه اسلام صحیح لارخودنه اوکړه. اودَ تپوس پوښتنې کولو او سلام کولو اودَ دعوت قبلولوترغیب ئې ورکړې دې. [الکاشف:٢٩٨/٣.]

قوله : وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ:

د اټهوشی جواب ورکول :- د اټروشي کونکی د الحمد لله په وئیلو باندې يرحمك الله سره جواب ورکولوته تشميت وائی. دا جواب ورکول هم واجب دی لیکن شرط دادې چه اټروشې کونکې سړې په اټروشی باندې الحمد لله وئیلې وی ګنی څه لازم نه دی. داخبره هم یاد ساتئی چه دَ اټروشی جواب یوځل واجب دې دویم ځل اودریم ځل لازم نه دی.

[١٥٢٥] دَ مسلمان په مسلمان باندې شپږ حقوق

١٥٢٥-(١)[٣] [١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[٢] " «حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ" [٣] قِيلَ: مَا هُنَّ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ [٤] قَالَ: " إِذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ [٥] وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ [٦] وَإِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ [٧] وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللّٰهَ فَشَمِّتْهُ [٨] وَإِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ [٩] وَإِذَا مَاتَ فَاتَّبِعْهُ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول ﷺ وفرمايل [٢] د يو مسلمان په بل مسلمان شپږ حقونه دي [٣] عرض وشو چې يا رسول الله ﷺ هغه څه دي؟ [٤] وي فرمايل چې ① هر كله چې ته د يو مسلمان سره ملاقات وكړې نو هغه ته سلام كوې [٥] ② هر كله چې تا څوك (د خپل مدد يا ضيافت د پاره) وبلي نو هغه قبول كړي [٦] ③ هر كله چې ستا نه څوك خيرخواهي وغواړي نو د هغه په حق كې خيرخواهي وكړه [٧] ④ هر كله چې څوك وترچي ((اټهوشي، پرنجي، نوړي)) اوكړي او الحمدلله اووائي نو (يرحمك الله ويلو سره) د هغه جواب وركړه [٨] ⑤ هر كله چې څوك مريض (ناجوړه) شي نو د هغه پوښتنه كوه [٩] ⑥ هر كله چې څوك مړشي نو (د هغه دجنازي مونځ اوددفن كولو دپاره) ورسره لاړ شي. (مسلم)

حل اللغات:- ① اِسْتَنْصَحَكَ: استنصاح دَ باب استفعال نه دَ نصيحت طلب كولو په معنى كښې دې. ② عَطَسَ: اټهوشې اوكړي، ③ فَشَمِّتْهُ: دهغه دالحمد لله جواب وركړه يعنى يرحمك الله اووايه، ④ فَعُدْهُ: دهغه عيادت، پوښتنه اوكړه، ⑤ فَاتَّبِعْهُ: ورسره لاړ شه يعنى كفن دفن او جنازه ئې اوكړه.

تسهيلات: قوله : حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ:

اعتراض :- په زيربحث حديث كښې شپږ حقونوذكر دې خودَدې نه وړاندې په حديث كښې دَ پنځوذكر وو دا تعارض دې دَدې څه جواب دې؟

---

[١]) اخرجه مسلم فى كتاب السلام /باب من حق المسلم للمسلم رد السلام (رقم) ٥ - (٢١٦٢) والنسائى كتاب الجنائز /باب النهى عن سب الأموات (رقم-١٩٣٨) وابن ماجة كتاب الجنائز /باب ما جاء فى عيادة المريض (رقم-١٤٣٣)

جوابونه:- ① داتعارض نه دې ځکه چه يوعدد دَ بل عدد منافي نه وي.

② داچه په دې احاديثوکښې حصربيان کول مقصودنه بلکه مختلف مواقع کښې مختلف ښيګړې اوحقوق ذکر دې.

③ داچه څنګه حضورپاک ته دَ وحې په ذريعه سره دَحقوق اوخودلې شو. حضورپاك امت ته اوخودل نواول دَ الله تعالى په نيز حقوقو تعداد کم اوخودلې شو روستو اضافه اوشوه.

[١٥٢٦] دَاووه څيزونو حکم کول اودَاوو نه منع کول

١٥٢٦—(١)[٣] [١] وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «أَمَرَنَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِسَبْعٍ، وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ. [٣] أَمَرَنَا: بِعِيَادَةِ الْمَرِيضِ، [٤] وَاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ، [٥] وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ، [٦] وَرَدِّ السَّلَامِ، [٧] وَإِجَابَةِ الدَّاعِي، [٨] وَإِبْرَارِ الْمُقْسِمِ، [٩] وَنَصْرِ الْمَظْلُومِ، [١٠] وَنَهَانَا عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ، [١١] وَعَنِ الْحَرِيرِ، [١٢] وَالْإِسْتَبْرَقِ، [١٣] وَالدِّيبَاجِ، [١٤] وَالْمِيثَرَةِ الْحَمْرَاءِ وَالْقَسِّيِّ»، [١٥] وَآنِيَةِ الْفِضَّةِ - [١٦] وَفِي رِوَايَةٍ: - وَعَنِ الشُّرْبِ فِي الْفِضَّةِ؛ [١٧] فَإِنَّهُ مَنْ شَرِبَ فِيهَا فِي الدُّنْيَا لَمْ يَشْرَبْ فِيهَا فِي الْآخِرَةِ - مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] اوحضرت براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي [٢] چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم مونږ ته د اوو څيزونو حکم را کړي دي او د اوو څيزونو څخه يې منع کړې يو هغه دا دي چې [٣] ① د مريض پوښتنه کول [٤] ② د جنازي سره تلل [٥] ③ ترجلو (انتبوشي کونکی) ته جواب ورکول [٦] ④ د سلام جواب ورکول [٧] ⑤ د بلونکي دعوت قبلول [٨] ⑥ د قسم خوړونکي قسم پوره کول [٩] ⑦ د مظلوم مدد کول، [١٠] او د کومو څيزونو څخه چې منع فرمايلي ده هغه دا دي ① د سروزرو ګوتمي په ګوته کول [١١] ② ريښميني جامي اچول ③ [١٢] د اطلس جامي اچول [١٣] ④ لاهي (ديباج) جامي اچول [١٤] ⑤ سور زين پوښ استعمالول [٥] ⑥ د سپينو زرو د لوښو استعمالول [٦] او په يو روايت کې دا الفاظ هم دي چې د سپينو زرو په لوښو کې د څکلو څخه يي (هم منع فرمايلی ده) [٧] ځکه چې کوم سړي د سپين زرو په لوښی کې په دنيا کې اوبه څکي په آخرت کې به يي د سپينو زرو په لوښي کې څکل نصيب نه شي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① تَشْمِيتِ: د انتبوشی کونکی د الحمد لله په وئيلو باندې يرحمك الله سره جواب ورکولوته تشميت وائی. ② الْعَاطِسِ: انتبوشې، پرنجې کونکې، ③ إِبْرَارِ الْمُقْسِمِ: دَ قسم خوړونکی قسم پوره کول او رښتياکول. ④ خَاتَمِ: ګتمه، ⑤ الْإِسْتَبْرَقِ: اعلى ريښموته وائی. ⑥ الدِّيبَاجِ: د استبراق يعنی اعلى ريښمو پسې دويم نمبر ريښم دی يعنی درميانه ريښم، ⑦ الْمِيثَرَةِ: هغه زين اوکتې يعنی ګدئ ته وائی په کوم کښې چه مالوچ ډك کړې شوې وی. ⑧ الْقَسِّيِّ: د ديباج نه پس

١) اخرجه البخارى فى كتاب الجنائز/باب الأمر باتباع الجنائز (رقم-١٢٣٩) ومسلم باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء، وخاتم الذهب والحرير على الرجل، وإباحته للنساء، وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع (رقم) ٣ - (٢٠٦٦) والترمذى كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية لبس المعصفر للرجل والقسى (رقم-٢٨٠٩) والنسائى كتاب الجنائز/باب الأمر باتباع الجنائز (رقم-١٩٣٩)

ددې درجه ده، یعنی دا د ریښمو په دریم نمبر کښې دی یعنی بیکاره ریښم. دَ ریښم او کتان نه جوړې شوې جامو ته هم قسی وائی. ⑨آنِيَة: لوښی یعنی کاسه، پیالۍ وغیره.

قوله: وَالْإِسْتَبْرَقِ: دا ټول دَ حریر یعنی ریښمو قسمونه دی چه دَ ښځو دَپاره جائز اودَ سړو دَپاره حرام دی.

قوله: وَالْمِيثَرَةِ الْحَمْرَاءِ: میثره دَهغه زین اوکتې اولمسی نوم دې په کوم کښې چه مالوچ ډك کړې شوې وی او وړه شان وی کوم چه دَ اس وغیره په زین باندې اچولې شی او په هغې باندې کینی هغې ته نمده هم وائی. دَ دنیادارو عادت دې چه دَ کبر لوئئی او فخر اومباهات دَ وجې نه دَ ریښمونه میثره جوړولوسره په هغې باندې کینی.

قوله: وَالْقَسِّيِّ: دَ ریښم او کتان یعنی ټاسرې سره مخلوط کولوسره یوه کپړه به جوړولې شوه دا دَ قس طرف ته منسوب دې چه په مصر کښې دَ سمندر په غاړه دَ یوځائی نوم دې. په ریښمینه کپړه کښې به دا بیکاره کپړه وه.

تسهیلات: قوله: وَإِبْرَارِ الْمُقْسِمِ:

دابرار المقسم په تفسیر کښې دوه اقوال:-

①په دې حدیث کښې دَ ابرار المقسم اضافه ده یعنی دَ قسم خوړونکی قسم پوره کول او رښتیاکول مثلاً یوسړی بل سړی ته اوونیل ترکومې پورې چه ته زما خبره نه منې په الله قسم خوراك به اونه کړم. اوس دغه سړی له دَده خبره منل پکاردی دې دَپاره چه دَ هغه قسم پوره شی اوهغه حانث نه شی. په دې کښې شرط دادې چه هغه کارد دې سړی په وس او طاقت کښې وی که هغه په دې باندې قادرنه وی نوهغه به مجبوره کولې نه شی.

②بعضې علماؤ دَدې دا مطلب هم بیان کړې دې چه یوسړې بل ته قسم ورکړی چه ته به نن شپه مونږ سره تیره وې یا تاله زه قسم درکوم چه مونږ سره خوراك اوکړه نودَدې سړی دَپاره مستحب دی چه حصار شی اوخوراك اوکړی. دَ حدیث دَ الفاظونه دواړه مطلبونه اخستې شی.

قوله: وَنَصْرِ الْمَظْلُومِ:

مظلوم سره مدد کول:- دَ مظلوم نه مراد مسلمان او غیرمسلم ذمی دواړه کیدې شی. اودا امداد کول دَخپل طاقت مطابق واجب دې. بیا داامداد هم عام دې چه قول سره وی که فعل سره یا بل څه صورت وی. "الاتفعلوه تكن فتنة فی الارض وفساد عريض" [الکاشف: ٢٩٩/٣.]
یعنی که چرې تا دَ مظلوم امداد اونه کړو نو په زمکه کښې فتنه خور شی او اوږدفساد به خورشی.

قوله: وَنَهَانَا عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ:

د سرو دپاره د ګوتمې اچولو حکم:- دَ سرو زرو ګوتې اچول دَ ښځو دَپاره جائز دی مګر دَ سړو دَپاره حرام دی. دَ سړو دَ پاره دَ اوسپنې ګوتمه هم ناجائز ده. شوافع ئې جائز ګنړی. علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه دَدې څیزونو دَ حرمت اوحلت مختلف درجات دی. چنانچه دَ سړو دَپاره دَ چاندئی ګوتمه جائز ده اودَ سرو زرو او سپینوزرو لوښی دَ سړو او ښځو ټولو دَپاره حرام دی. [الکاشف:٢٩٩/٣.]

د ریښمو د لمسی حکم:- اوس مسئله داده چه که دغه زین او لمسې دَ ریښمو وی نودَ هغې استعمال حرام دې که دَهغې رنګ سور وی اوکه سپین یا تور لیکن که ریښم نه وی نوبیا دَ سور رنګ دَ استعمال نه ممانعت راغلې دې ځکه چه سور رنګ کپړه باندې کیناستل مکروه دی حرام نه دی. چنانچه دَ ارجوان قید هم دَدې دَپاره دې په کوم کښې چه ریښم نه وی. قاضی عیاض رحمه الله فرمائی په حدیث کښې دَ ارجوان لفظ دَ غالب استعمال په توګه راغلې دې ځکه چه عجمو به هم سور رنګ استعمالولو کوم چه به دَ ریښمو وو. [الکاشف:٣.]

قوله: "لَمْ يَشْرَبْ فِيهَا فِي الْآخِرَةِ:

اعتراض:- دَدې حدیث دَ ظاهری الفاظونه معلومیږی چه دا سړې به جنت ته نه ځی ځکه چه دا نعمتونه دَ جنت دی دکوم نه چه دا سړې محروم شو حالانکه په ارتکاب دَ کبیره ګناه سړې کافر کیږی نه؟

جوابونه:- ① علامه مظهری رحمه الله فرمائی چه کوم سړی دَدې استعمال حلال اوګنړلو پوهه شه چه هغه کافرشو اوکه یوسړی حلال اونه ګنړل نوبیا داحدیث په زجر توبیخ تشدید اوتغلیظ باندې محمول دې.

② جنت ته دَ داخلیدو نه پس به څه موده داسړې دَ دغه نعمتونونه محروم پاتې وی دهمیشه دَپاره به نه وی.

③ دا سړې جنت ته داخلیدوسره به دَدې نعمت نه محروم وی اوهغه داسې چه دَدې سړی دَ زړه اودماغونه به دَ دغه څیزونو خیال او تصور ویستلې شی نو نه به ئې خواهش وی اونه به څیز ملاویږی. [الکاشف:٣٠٠/٣.]

[١٥٢٧] دَعیادت یعنی پوښتنې فضیلت

١٥٢٧ –(١)[٥] ① وَعَنْ ثَوْبَانَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«إِنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا عَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ ③ لَمْ يَزَلْ فِي خُرْفَةِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَرْجِعَ»" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1] اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب فضل عیادة المریض (رقم)٤١ - (٢٥٦٨) والترمذی فی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی عیادة المریض (رقم-٩٦٧) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی ثواب من عاد مریضاً (رقم-١٤٤٢)

ترجمه: [١] حضرت ثوبان رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هر كله چې يو مسلمان د يو (مريض) ورور پوښتنه كوي [٣] نو (لكه چې) هغه د جنت په ميوو خوړلو كې (مشغول) وي څو پورې چې هغه (د عيادت څخه) واپس رانه شي. (مسلم)

حل اللغات: - ① خُرْفَةِ: په اصل باغ كښې په ديوال باندې كيناستو سره ميوې شوكول اوډ چانړكولو په معنى كښې راځي او كله په مجازي توګه باندې باغ ته هم وائي.

تسهيلات: قوله : فِي خُرْفَةِ الْجَنَّةِ:

دحديث مطلب: - دلته دَ باغ معنى اخستل زيات واضح دي. يعني دَ يو مسلمان دَ پوښتنې دَپاره تلل عبادت كول او هلته كيناستل داسې دي چه لكه دا سړې دَ جنت په باغ كښې كيناستل ميوه شوكول او خوري. تركومې چه په عيادت كښې اوسيږي دَ جنت هم په دې ميوو خوړلو كښې به وي.

[١٥٢٨] دَعيادة المريض لوئې اهميت

١٥٢٨ - (١) [٢] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] " «إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: [٣] يَا ابْنَ آدَمَ، مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْنِي. [٤] قَالَ: يَا رَبِّ، كَيْفَ أَعُودُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ؟ [٥] ! قَالَ: أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ عَبْدِي فُلَانًا مَرِضَ فَلَمْ تَعُدْهُ، [٦] أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ عُدْتَهُ لَوَجَدْتَنِي عِنْدَهُ؟

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] الله تعالى جل جلاله به د قيامت په ورځ (بنده ته) فرمايي [٣] چې اې بني آدمه! زه مريض شوم او تا زما پوښتنه ونه كړه؟ [٤] بنده به عرض وكړي چې زما ربه ما ستا پوښتنه څرنګه كړې وى، ته خو د دواړو جهانونو پروردګار يې (او د مريضۍ څخه پاك يې) [٥] الله تعالى جل جلاله به وفرمايي چې آيا تا ته معلومه شوې نه وه چې زما فلاني بنده مريض وو؟ او تا د هغه پوښتنه ونه كړه [٦] تا ته معلومه نه وه كه تا د هغه مريض بنده پوښتنه كړې وى، نو زه (يعني زما رضا) به دې د هغه سره موندلې وى.

[١] يَا ابْنَ آدَمَ، اسْتَطْعَمْتُكَ فَلَمْ تُطْعِمْنِي. [٢] قَالَ: يَا رَبِّ، كَيْفَ أُطْعِمُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ؟ ! [٣] قَالَ: أَمَا عَلِمْتَ أَنَّهُ اسْتَطْعَمَكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تُطْعِمْهُ؟ [٤] أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ أَطْعَمْتَهُ لَوَجَدْتَ ذَلِكَ عِنْدِي؟ [٥] يَا ابْنَ آدَمَ، اسْتَسْقَيْتُكَ فَلَمْ تَسْقِنِي. [٦] قَالَ: يَا رَبِّ، كَيْفَ أَسْقِيكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ؟ ! [٧] قَالَ: اسْتَسْقَاكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تَسْقِهِ، [٨] أَمَا إِنَّكَ لَوْ سَقَيْتَهُ وَجَدْتَ ذَلِكَ عِنْدِي؟» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] (بيا به الله تعالى جل جلاله وفرمايي چه) اې ابن آدم! ما ستا څخه طعام (رو ټى وغيره) وغوښته او تا په ما باندې طعام ونه خوړلو؟ [٢] بنده به عرض وكړي چې اې زما ربه ما په تا باندې طعام څرنګه خوړلې وى، ته خو د دواړو جهانونو پروردګار يې (او د څه شي

(١) اخرجه مسلم فى كتاب البر والصلة والآداب /باب فى فضل الحب فى الله (رقم-٤٣ - (٢٥٦٩)

محتاج نه يي) [٣] الله تعالى جل جلاله به وفرمايي آيا تا ته ياد نه دي چې ستا څخه زما فلاني بنده طعام وغوښتلو او تا په هغه باندې طعام نه وو خوړلي [٤] آيا تاته معلومه نه وه چه كه تا په هغه باندې طعام خوړلي وی، نو هغه به دي (يعني هغه ثواب به دي) بيا ما سره موندلي وو [٥] (بيا به الله تعالى جل جلاله فرمايي چه) اي بني آدمه! ما ستا څخه اوبه وغوښتلې او تا په ما باندې اوبه ونه څکلي؟ [٦] بنده به عرض وکړي چې اي زما پرورد ګاره ما په تا اوبه څرنګه څکلې وی؟ ته خو د دوارو جهانو پروردګار يی (تا ته خو د اوبو څکلو ضرورت نشته او نه د بل يو شي) [٧] الله تعالى جل جلاله به وفرمايي ستا څخه زما فلاني بنده اوبه وغوښتلې او تا په هغه باندې اوبه ونه څکلي [٨] آيا تا ته معلومه نه وه كه تا پرې اوبه څکلي وي نو هغه به دي (يعني د هغې ثواب به دي) ما سره موندلې وو. (مسلم)

حل اللغات:- ① اِسْتَسْقَيْتُكَ: زه طلب د اوبو كومه ستانه،

تسهيلات: قوله : لَوَجَدْتَنِي عِنْدَهُ؟:

الله تعالى لره د خوشحاله كولو درې مواقع:- يعنى كه دَ دغه مجبورئى عيادت كولونو دَهغه دَ خفه اومات زړه سره به ئی زه ليدلم. يوحديث كښې دى (اناعندالمنكسرة قلوبهم لاجلي). په دې حديث كښې دَ دريوخبرو بيان دې. ① دَ مريض عيادت ② اوګى باندې خوراك كول ③ اوتږى باندې اوبه څكول ليكن ثواب بيانولو كښې فرق دې ځكه چه خوراك اوڅښاك وركونكي ته اووئيل چه "لوجدت ذلك عندي". يعنى ماسره به دَدې ثواب تاته ملاويدو ليكن عيادت والاته ئى اوفرمائيل چه تابه هلته زه ليدلم.

اشكال او دهغې جواب:- په دې حديث كښې په څو مقاماتو كښې داسې الفاظ راغلى دى كوم چه دَ بارى تعالى دَصفات منافى دې. نودَدې جواب دادې چه دا ټول هرڅه "مايليق بشأنه" لاندې به وى يعنى چه څه دَالله تعالى دَ شايان شان وى هم هغه مراد دې. [الكاشف: ٣/٣٠١.]

[١٥٢٩] مريض ته تسلى وركول

١٥٢٩—(١) [٧] [١] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: [٢] أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى أَعْرَابِيٍّ يَعُودُهُ، [٣] قَالَ: وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ عَلَى مَرِيضٍ يَعُودُهُ فَقَالَ لَهُ: [٤] «لَا بَأْسَ، طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللهُ» [٥] قَالَ: قُلْتَ: كَلَّا، بَلْ هِيَ حُمَّى تَفُورُ، عَلَى شَيْخٍ كَبِيرٍ، [٦] تُزِيرُهُ الْقُبُورَ، [٧] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَنَعَمْ إِذًا»

ترجمه: [١] د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى [٢] چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم (يو ځل) د يو اعرابي (صحرايي) د مريضى د حال پوښتلو د پاره تشريف يوړلو [٣] د حضور صلى الله عليه وسلم (دا طريقه وه چه

(١) اخرجه البخاري في كتاب المرضى /باب ما يقال للمريض، وما يجيب (رقم-٥٦٦٢)

کله به یي د یو بیمار پوښتنې لره تشریف وړلو نو هغه ته به یي فرمایل [٤] چې هیڅ پروا نشته (یعني د بیمارۍ څخه غم مه کوه ځکه چه) دا مریض (د ګناهونو څخه) پاکونکي ده که الله ﷻ وغواړي [٥] نو حضور ﷺ (هغه وقت) هغه دیهاتي ته هم دا وفرمایل چې هیڅ خوف نشته دا مریض (د ګناهونو څخه) پاکونکي ده که الله ﷻ وغواړي [٦] دیهاتي اوویل چې هیڅ کله نه بلکه دا تبه ده چې په یو بوډا (زاړه) راغلې ده [٧] نو د قبر زیارت به پرې کوي (یعني مرګ ته یي رسوي) [٧] حضور ﷺ (د دي آوریدو سره) ورته وفرمایل چې ښه دي (که ته داسې ګڼې نو) هم دغه شان به شي. (بخاري)

حل اللغات:- ①لَابَأْسَ: هیڅ باک او پرواه نشته، ②طَهُورٌ: پاک به شي (دګناهونونه).

تسهیلات:

قوله: دَخَلَ عَلَى أَعْرَابِيٍّ:

فائده:- د اعراب معنیٰ کلی وال ده په دې سره امت ته دا تعلیم ورکړې شو چه اعلی او ارفع انسان له پکاردی چه کله کله دې د ادنٰی حقیر کمزور فقیر تپوس هم کوی لکه څنګه چه نبی کریم ﷺ د ناپیژند ګلو کلی وال تپوس اوکړو.

قوله: قال کلا:

د نبی کریم نصیحت نه قبلول:- دا شار شپږ جتې کلی وال وو چه د تپوس پوښتنې د آداب د تعلق ساتلو د آداب نه پوره خبر نه وو. هغه د حضورپاك نصیحت قبول نه کړو بلکه د بې صبرئی مظاهره کولو سره لکه د کاهنانو په شان ئی مسجع کلام استعمال کړو او هغه نعمت ئی قبول نه کړو چه حضورپاك څه اوفرمائیل چه زه تیك یم اوګناهونه به مې اووینځلې شی بلکه په هغه بوډها باندې خو د تبې زور وو چه هم اوس به قبرونه د هغه زیارت اوکړی یعنی زردې چه دې به د قبر زیارت اوکړی یعنی مړبه شی.

قوله: فنعم اذا:

د فنعم اذا مطلب:- دلته د دغه سرې د جواب پوره مضمون دې یعنی ما تاته د صبر کولواوویل او تبه مې د اجر او ثواب ذریعه اوخودله مګر تا هغه قبول نه کړه نوتیك ده تبه به ستا د ګناهونو کفاره نه جوړیږی اوته به مړشې. حضورپاك دغه کلی وال غصه کړو نو رسول الله ﷺ دا کلام ارشاد اوفرمائیلو "فنعم اذا" ترجمه داده یعنی ښه ده چه که ته هم دا ګڼړې نو دغه شان صحیح ده، "اذا" په یوه نسخه کښې "اذن" نون سره دي.

....

[١٥٣٠] د مریض د پاره د شفاء دعا کول

١٥٣٠ — (١) [٨] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا اشْتَكَى مِنَّا إِنْسَانٌ، مَسَحَهُ بِيَمِينِهِ، [٣] ثُمَّ قَالَ: " أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ، [٤] وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِي [٥] لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ام المؤمنين بي بي عايشه صديقه ﷺ فرمايي [٢] چې د رسول الله ﷺ (دا طريقه وه چه) په مونږ کې به څوک مريض شو نو حضور ﷺ به په هغه خپل ښي لاس مبارک راتيرولو [٣] او دا (دعا) به يې کوله (ترجمه) اي د خلقو پروردګاره مريض لرې کړې [٤] او شفاء ورکړي ته شفاء ورکونکي يې [٥] ستا څخه سوا د هيچا شفاء داسې نشته چې مريض لرې کړي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① مَسَحَهُ: راښکلوبه ئې په هغه، ② أَذْهِبِ: بوځې، لرې کړې، ③ الْبَاسَ: بيماری، ④ يُغَادِرُ: چه لرې کړی، ⑤ سَقَمًا: بيماری.

تسهيلات: قوله: مَسَحَهُ بِيَمِينِهِ:

کله چې به نبی کريم ﷺ د يو مريض عيادت کولو نو نبی کريم ﷺ به خپل ښي لاس مبارک په مريض باندې راښکلو او دا پورتنۍ دعا به ئې وئيله. (اذهب الباس، اى شدة المرض) اي ربه! دمرض شدت لرې کړه.

قوله: أَذْهِبِ الْبَاسَ:

د مرض د شدت لرې کولو دعا:- کله چې به نبی کريم ﷺ د يو مريض عيادت کولو نو نبی کريم ﷺ به خپل ښي لاس مبارک په مريض باندې راښکلو او دا پورتنۍ دعا به ئې وئيله.

قوله: لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا:

د مذکوره جملې مطلب:- شفاء اوسقماً مفعول مطلق دې. د ((شفاءک شفاء)) مطلب دا دې چې د ډاکټراوطبيب دوائی بيمار او زنځور ته ترهغه وخته پورې شفاء نشي ورکولې ترڅو پورې چې ستاسو قدرت ورسره شامل حال نه وی.

[١٥٣١] په مريض باندې دم اچول

١٥٣١ — (٢) [٩] [١] وَعَنْهَا قَالَتْ: [٢] كَانَ «إِذَا اشْتَكَى الْإِنْسَانُ الشَّيْءَ مِنْهُ [٣] أَوْ كَانَتْ بِهِ قَرْحَةٌ أَوْ جُرْحٌ، [٤] قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِإِصْبَعِهِ: [٥] " بِسْمِ اللّٰهِ، تُرْبَةُ أَرْضِنَا، بِرِيقَةِ بَعْضِنَا، [٦] لِيُشْفَى سَقِيمُنَا، بِإِذْنِ رَبِّنَا»

[١] اخرجه البخارى فى كتاب المرضى/باب دعاء العائد للمريض (رقم-٥٦٧٥) وابوداود فى كتاب الطب/باب كيف الرقى (رقم-٣٨٩٠) والترمذى كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى التعوذ للمريض (رقم-٩٧٣) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فى ذكر مرض رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-١٦١٩)

[٢] اخرجه البخارى فى كتاب الطب/باب رقية النبى صلى الله عليه وسلم (رقم-٥٧٤٥) ومسلم كتاب السلام/باب استحباب الرقية من العين والنملة والحمة والنظرة (رقم-٥٤ - (٢١٩٤) وابوداود كتاب الطب/باب كيف الرقى (رقم-٣٨٩٥) وابن ماجة كتاب الطب/باب ما عوذ به النبى صلى الله عليه وسلم، وما عوذ به (رقم-٣٥٢١)

". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١] بي بي عايشه صديقه رضي الله عنها فرمايي[٢] چې هر کله يو سړي به د خپل بدن په يوه حصه کې د درد شکايت کولو [٣] يا د هغه د بدن په يو آندام به دانه (وړکی دانه يا چينجکی) يا زخم وو [٤] نو نبي کريم ﷺ به د خپلي ګوتي په اشارې سره دا دعا کوله [٥] د الله جل جلاله په نامه سره زه برکت حاصلوم، دا خاوره زمونږ د بعضو سړو د خلي د لاړو سره ګکړه ده [٦] (دا مونږ ځکه وايو چه) د پروردګار په حکم سره زمونږ مريض روغ او جوړ شي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ①قَرْحَةٌ: دانه، ②جُرْحٌ: زخم، ③تُرْبَةٌ: خاوره، ④رِيقَةٌ: لاړې،

تسهيلات:

قوله : بِأُصْبُعِهِ: يعنی په ګوته سره به ئی اشاره کوله او د تبرک په توګه به ئی بسم الله وئيله.

قوله: تُرْبَةُ أَرْضِنَا: ممکن ده چه دا خاص د مدينې زمکه مراد وی اوکيدې شی چه عام زمکه مراد وی.

د دم اچولو حکم: - علامه قرطبی رحمه الله فرمائی چه د دې حديث نه ثابته شوه چه د هر قسم درد د پاره دم کول او پوك وهل جائز دی اودا خبره په صحابه کرامو کښې عام وه او ټولو ته د دې علم وو. علامه اشرف علی تهانوی رحمه الله فرمائی د دې حديث نه د دم پوك وهل ثابتيږی په دې شرط چه په دې کښې څه د جادو کلماتو استعمال نه وی.

علماؤ ليکلی دی چه د کومو کلماتو معنی واضح نه وی يا د شرك په معنی سره وی په داسې کلماتو باندې دم کول هم جائزنه دی. اوکه حضورپاك د يو دم اجازت ورکړې وی او په هغې کښې څه د شرك کلمه هم نه وی مګر معنی ئی معلومه نه وی هغه جائز دی لکه حضورپاك د لړم د منتر اجازت ورکړې دې. "شجة قرنية ملحة بحر". د حضورپاك د دم کولو طريقه داسې وه چه هغوی به اول په ګوته باندې د خلې لاړې مبارکې لګولې بيابه ئی دا په خاوره کيخودو کله چه به دې سره خاوره اولګيده نودا به ئی د بيمار د درد په ځائی باندې کيخوده او په حديث کښې ذکرشوې دعابه ئی وئيله. بهرحال دغه پورتنې عمل په يقين سره کول پکاردی فائده به ضرور کيږی.

د دم د اثر يوه واقعه: - يوځل پخوا زمانه کښې يو الله والا يو بيمار دم کولو چه په دې کښې يو مشهور فلسفی راغلو او فوری ئی د مسخرې په توګه اووئيل "اذاترفض فتلاشي" يعنی دا پوکې وهې نودا پوکې وهل خو هوا ده کله چه د خلې نه اوځی نوختمه به شی د دې څه اثر وی. دغه الله والابنده دې فلسفی ته د مور پلار ډير سخا کنځل اوکړه هغه ډير غصه شو او مخ ئی تك سور شو د ستې رګونه ئی اوپړسيدل. هغه الله والا ورته اووئيل په تا څه چل اوشو او دا دومره غصه ولې؟ دا سترګې دې ولې دومره سرې شوې؟ هغه ورته وئيل چه لاتپوس

هم کوي دا تا څومره سختې کنځلې اوکړې الله والاورته اووئیل "اذاتـرفض فتلاشی" یعنی داکنځلې خو هم هوا ده دَخلې نه وتلو سره ختمیږي. فلسفی وئیل نه جی زما په بدن باندې خو ډیر زیات اثر اوشو. نوبیا ورته الله والاووئیل چه کله زما دکلام او خبرې په تا باندې دومره اثر اوشو نودَ الله تعالی په کلام کښې به څومره لوئی اثر وی؟

[۱۵۳۲] په قرآنی آیاتونوسره د دم کولو جواز

۱۵۳۲ــ(۱)[۱۰] ١ وَعَنْهَا قَالَتْ: ٢ «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا اشْتَكَى نَفَثَ عَلَى نَفْسِهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ ٣ وَمَسَحَ عَنْهُ بِيَدِهِ، ٤ فَلَمَّا اشْتَكَى وَجَعَهُ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ، ٥ كُنْتُ أَنْفِثُ عَلَيْهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ الَّتِي كَانَ يَنْفِثُ، ٦ وَأَمْسَحُ بِيَدِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» - مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وفی روایة لمسلم: قالت: کان اذا مرض احد من اهل بیته نفث علیه بالمعوذات

ترجمه: ١ بي بي عایشه صدیقه ﷺ فرمایي ٢ چې نبي کریم ﷺ چې به مریض شو نو معوذات ویلو سره به یي په ځان دم کولو ٣ او خپل لاس به یي په ځان (تر کومه چې رسیدو به) تیرولو ٤ نو هر کله چې حضور ﷺ په هغه مریضي کې مبتلا وو په کوم کې چې وفات شو ٥ نو ما به معوذات ویلو سره په حضور ﷺ دم کولو څرنګه چې حضور ﷺ به پخپله معوذات ویلو سره په ځان دم کولو ٦ [دغه شان ما به معوذات ویلو ویلو سره د حضور ﷺ په لاسونو مبارکو دم کولو او بیا به د حضور ﷺ دواړه لاسونه مبارك به مي د حضور ﷺ په بدن مبارك ګرځول]. او مسلم په روایت کښې دی چې کله به ناجوړه شویو کس د نبی ﷺ د کورد خلقو څخه نوبوک وهلو به نبی ﷺ په هغه باندې معوذات.

حل اللغات:- ① نَفَثَ: دم سره توکانړې ملاوول اودَ توکانړو څاڅکی ورکولوته نفث وائی یعنی دمول. ② وَجَعَهُ: درد، تکلیف.

تسهیلات: قوله: نَفَثَ عَلَى نَفْسِهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ:

په سورة فلق اوناس باندې د معوذتین د اطلاق وجه:- دې نه سورت فلق او سورت الناس مراد دې. دا دوه سورتونه دی په حدیث کښې دا دَ جمع په صیغه سره یاد کړې شوی دی. دا دَدې سورتونو دَ آیاتونودَ وجې نه دی کوم چه یوولس دی. بعضې معوذات کښې قل هوالله احد هم شامل کړې دې لهذا دَ جمع صیغه صحیح ده. بعضې سورت الکافرون هم شامل کړې دې. [الکاشف]

قوله: بِيَدِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د عایشي ﷺ د کمال ادب مظاهره:- دادَ کمال ادب اوکمال برکت طرف ته اشاره ده چه

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الطب/باب رقیة النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۵۷۴۵) ومسلم کتاب السلام/باب استحباب الرقیة من العین والنملة والحمة والنظرة (رقم-۵٤ - (۲۱۹٤) وابوداود کتاب الطب/باب کیف الرقی (رقم-۳۸۹۵) وابن ماجة کتاب الطب/باب ما عوذ به النبی صلی الله علیه وسلم، وما عوذ به (رقم-۳۵۲۱)

عائشه صديقه رضي الله عنها به پخپله وئيل ليكن كوم بركت چه د حضورپاك په لاسونو مباركو كښې وو هغه بل ځائې كښې نه وو. لهذا هم د حضورپاك په لاسونو مباركوباندې به ئې دم پوك وهلو او د حضورپاك مبارك لاس به ئې د هغوى په بدن مبارك باندې راښكلو. د دې حديث نه دم كول ثابتيږي. انكار كونكى بې كاره خلق دي. [الكاشف: ٣/٣٠٥.]

[١٥٣٣] د هر قسم درد د ختمولو د پاره نبوى دعا

١٥٣٣ــ(١)[١][١] «وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: [٢] أَنَّهُ شَكَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَجَعًا يَجِدُهُ فِي جَسَدِهِ [٣] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذِي يَأْلَمُ مِنْ جَسَدِكَ [٤] وَقُلْ: بِسْمِ اللَّهِ ثَلَاثًا، وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ: [٥] أَعُوذُ بِعِزَّةِ اللَّهِ وَقُدْرَتِهِ [٦] مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ" [٧] قَالَ: فَفَعَلْتُ. فَأَذْهَبَ اللَّهُ مَا كَانَ بِي». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] د حضرت عثمان رضي الله عنه ابن ابي العاص په باره كې روايت دي [٢] چې هغه (يو ځل) رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د درد شكايت اوكړو چې هغه د خپل بدن په يوه حصه كې محسوسولو [٣] حضور صلى الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل چې ستا د بدن په كومه حصه كې چې درد دي هلته خپل لاس كيږده [٤] (اول) دري ځله بسم الله الرحمٰن الرحيم اووايه او (بيا) اووه ځله دا (كلمات) اووايه [٥] (ترجمه) زه د الله جل جلاله ښخه د هغه د عزت او د هغه د قدرت په ذريعه پناه غواړم [٦] د هغه بدئ (يعني درد) ښخه چې زه يي (دا وقت) محسوسوم او (آينده د دې د ډيريدو ښخه) يريږم، [٧] حضرت عثمان رضي الله عنه فرمايي چې د حضور صلى الله عليه وسلم د ارشاد مطابق ما دغه شان وكړل نو الله تعالى جل جلاله زما تكليف لري كړو. (مسلم)

حل اللغات: - ① وَجَعًا: درد، تكليف، ② ضَعْ: كيږده، ③ أُحَاذِرُ: ويريږم.

تسهيلات:

قوله: ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذِي يَأْلَمُ مِنْ جَسَدِكَ:

دخپل ځان پخپله د دم اچولوجواز: - د حديث مبارك دادې چې د حضور صلى الله عليه وسلم په وړاندې حضرت عثمان بن ابى العاص رضي الله عنه د يو بيمارۍ د تكليف شكايت اوكړو. نبى كرم صلى الله عليه وسلم حضرت عثمان رضي الله عنه ته اوفرمائيل چې د تكليف په ځائې باندې لاس كيږده او دا مذكوره دعا اووايه. په دې باندې حضرت عثمان رضي الله عنه فرمائي چې ما هم دا سې اوكړل نو زما تكليف ختم شو. ددې نه معلومه شوه چې انسان خپل ځان هم دم كولې شى بلكه دا بهتر دى.

(١) اخرجه مسلم فى كتاب السلام/باب استحباب وضع يده على موضع الألم مع الدعاء (رقم-٦٧ - (٢٢٠٢)وابوداود فى كتاب الطب/باب كيف الرقى (رقم-٣٨٩١)وابن ماجة كتاب الطب/باب ما عوذ به النبى صلى الله عليه وسلم، وما عوذ به (رقم-٣٥٢٢)

[١٥٣٤] دَحضرت جبرائیل ﷺ دم

١٥٣٤—()[١٢][١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: [٢]«أَنَّ جِبْرِيلَ أَتَى النَّبِيَّ فَقَالَ: [٣] يَا مُحَمَّدُ، أَشْتَكَيْتَ؟ فَقَالَ: " نَعَمْ ". [٤] قَالَ: بِسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ، [٥] مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ، أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ اللَّهُ يَشْفِيكَ، [٦] بِسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه راوي دي [٢] چې (يو ځل) حضرت جبرایل ﷺ نبي کریم ﷺ ته راغي او (د مزاج پرسي په طور يې) اوويل [٣] چې اي محمد! (ﷺ) آيا ته ناروغه يې؟ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې هو [٤] جبرایل ﷺ اوويل چې د الله ﷻ په نامه سره په تا دم اچوم د هر هغه څيزونو نه چې تا ته تکليف رسوي [٥] او د هر هغه سړي د بدي او هر حاسد د سترګي (نظر) څخه دي الله تا ته شفاء درکړي [٦] د الله په نامه سره په تا دم اچوم. (مسلم)

حل اللغات: - ① أَرْقِيكَ: دَ رقيه نه دې دَ دم کولو په معنی کښې دې.

تسهيلات:

قوله: مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ، أَوْ عَيْنٍ:

د او په نوعيت کښې دوه اقوال: - دا جمله دَ ماقبل جملې سره بدل واقع شوې دې. دَ نفس نه خبيث نفس مرادې.

① په دې جمله کښې دا احتمال دې چه دَ "او" لفظ دَ شك دَپاره وی ځکه چه راوی ته په نقل کولو کښې شك شوې چه حضوراکرم کوم کوم لفظ اداکول فرمائيلې وو.

② په تعليق الصحيح کښې ليکلی دی چه ښکاره خبره داده چه "او" حرف دَ تنويع دَپاره دې.

د نفس په مصداق کښې دوه اقوال: - ① بل خوا نفس نه دَ انسان نفس مراد اخستې شی

② داهم ممکن ده چه دَ نفس نه سترګه مراد وی ځکه چه په سترګه باندې دَ نفس اطلاق کيږی. وئيلې شی "رجل منفوس" يعنی دَ چا بدنظر ورته اولګيدو په دې صورت کښې "اوعين" به دَ تاکيد دَپاره شی.

قوله: بِسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ: داجمله دَ مبالغه په توګه راسردوباره کړې ده.

د دعا د قبوليت بعضې ضروری خبرې: - پورتنی حديث کښې دَ رسول الله ﷺ عجيبه دعاذکرده چه دَ هرقسم دردونودَپاره اکسيردې. په دې حديث کښې دَحضرت جبرائيل ﷺ هغه دعامذکور ده کومه چه هغوی دَ حضورپاك دَ بيمارئی په وخت دَ علاج په توګه لوستلوسره په حضورپاك باندې دم کړې وه. دا هم اکسيرحيات دې مګردَدې دعاګانودَپاره

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب السلام /باب الطب والمرض والرقی (رقم-٤٠ - (٢١٨٦) وابن ماجة کتاب الطب /باب ما يعوذ به من الحمی (رقم-٣٥٢٧)

يو خو دَيقين كامل ضرورت دي ځكه چه دَ تردد او شبه په وخت هيڅ يوه دعا اثر نه كوي. دويمه خبره دا ضروري ده چه سړي دې دا دعاګانې هروخت لولي. دا نه چه يو ځل دوه ځل لوستلو سره دا ثر انتظار شروع كړي ځكه چه په دنياوي دوايانو كښې تجربه داده چه دا يوشان استعمالولې كيږي نو دَ روحاني دعاګانو دَپاره هم ضروري ده چه كم نه كم سړې دَ اووه ورځو پورې اوزيات نه زيات څلويښتو ورځو پورې دَدې استعمال اوكړي او بيا دې دَ اثر انتظار كوي دا دعاګانې كله بې اثره نه ځي. مفسرينو ليكلي دي چه دَحضرت موسىٰ عليه السلام دعا الله تعالى قبوله كړه مګر دَدې اثر څلويښت كاله نه پس ښكاره شو.

[١٥٣٥] دَبد نظرۍ څخه د حفاظت مجربه استعاذه

١٥٣٥-()[١٣] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُعَوِّذُ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ: [٣] " أُعِيذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّةِ، [٤] مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، [٥] وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ " [٦] وَيَقُولُ: " إِنَّ أَبَاكُمَا كَانَ يُعَوِّذُ بِهَا إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ، [٧] وَفِي أَكْثَرِ نُسَخِ " الْمَصَابِيحِ ": " بِهِمَا " عَلَى لَفْظِ التَّثْنِيَةِ.

ترجمه: [١] حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي [٢] چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به حضرت حسن او حضرت حسين رضي الله عنهما د دې الفاظو په ذريعه (د الله جل جلاله) په پناه کې ورکول [٣] زه تاسو د کلمات الله تعالى په ذريعه چې کامل دي [٤] د هر شيطان د بدي، هر هلاکونکي هر زهرجن ځاروی [٥] او د هر نظر لګونکي سترګي څخه (د الله جل جلاله) په پناه کې ورکوم. [٦] او حضور صلى الله عليه وسلم به دا (هم) فرمايل چې ستاسو پلار (حضرت ابراهم عليه السلام) به د دې کلماتو په ذريعه خپل بچي حضرت اسماعيل عليه السلام او حضرت اسحاق عليه السلام د الله جل جلاله په پناه کې ورکول. (بخاري)[١] [٧] د مصابيح په اکثرو نسخو کې (د لفظ بها په ځاي) بهما د تثنيه په ضمير سره راغلي دي. (بخاري)

حل اللغات: - ① يُعَوِّذُ: د الله په پناه کښې ورکول، يعنی دمول. ② التَّامَّةِ: کامل او پوره (دهر نقص نه پاک دی). ③ شَيْطَانٍ: دې نه مراد انساني او جني دواړه قسم شيطانان مراددي. ④ هَامَّةٍ: دَدې جمع "هوام" ده. دا هرهغه ځناورته وائی په کوم کښې چه شر او خراب قسم زهر وی. ⑤ لَامَّةٍ: لَمّ والَمّ دَميم شد سره، د جمع کولو په معنی کښې راځي.

تسهيلات: قوله : "وَهَامَّةٍ" په ميم باندې شددې، په حشرات الارض کښې چه په کومو ځيزونو کښې زهر قاتل وی هغې دَپاره هامه وئيلی کيږی کله مطلق حشرات الارض باندې دَ هوام اطلاق کيږی.

[١] اخرجه البخارى فى كتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى: {واتخذ الله إبراهيم خليلًا_ [النساء: ١٢٥](رقم-٣٣٧١) والترمذى كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٠٦٠) وابن ماجة كتاب الطب/باب ما عوذ به النبى صلى الله عليه وسلم، وما عوذ به (رقم-٣٥٢٥)

دَ "وهامّ" مطلب دادې "اي من شرهما" يعنى دَ شيطان اوانسان دواړو دَ شر نه پناه غواړم. دلته دَ يو بزرګ يوه جمله ډيره مفيد اوكارآمد ده فرمائى چه كله چرته ځې نودا دعا كوه اې الله ستادَ هرمخلوقاتو دَ هرمكروه نه ستا پناه غواړم.

قوله : لَامَّةٍ "اي جامعة للشر على المعيون، لامه په اصل كښې دَ باب افعال نه ملمه اسم فاعل وو ليكن دَهامه مناسبت او سجع دَ وجې نه لامه اووئيلې شو.

قوله : يُعَوِّذُ الْحَسَنَ: حضوراكرم ﷺ په توګه دَ تعوذ او پناه دا دعا وئيلوسره حضرت حسن اوحضرت حسين رضي الله عنهما دم كړې دې. وړاندې يو روايت راځى چه حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه به دَدې تعويذ جوړولوسره دَ وړو ماشومانو په غاړه كښې اچولو دې نه دَ تعويذاتو دَ جائز كيدو ثبوت ملاويږى.

قوله : بِكَلِمَاتِ اللهِ:

د ،، كلمات،، څخه مراد:- د كلمات نه دلته دَ الله تعالى بشكلې نومونه مراد دى. هسې كلمات الله دَ توحيد په دلائلو او الله تعالى په خصوصى صفاتو باندې يادولې شى اودَ الله تعالى په معلوماتو باندې هم يادولې شى.

قوله : "التَّامَّةِ" دَ الله تعالى كلمات ته تامه ځكه اوفرمائيلې شو چه دَ انسان په كلمات كښې په يونه يو اړخ كښې نقص كيدې شى اودَ الله تعالى كلمات دَهرنقص نه پاك دى په دې وجه كامل اومكمل دى.

قوله : وَفِي أَكْثَرِ نُسَخِ "الْمَصَابِيحِ":

د نسخو اختلاف:- په دې كلام سره دې خبرې طرته اشاره كول دى چه مصابيح په اكثر نسخو كښې "بها" دَمفرد ضمير په ځائى دَ "بهما" تثنيه ده. علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه دَتثنيې ضمير مراد كول بې ځايه تكلف دې دَ يو كاتب نه سهوشوې ده دلته "بها" دَمفرد ضمير دې كوم چه په دې دعاكښې دَ كلمات طرف ته راګرځى. [الكاشف: ٣٠٦.]

[١٥٣٦] د الله تعالى د چا دپاره د خير اراده كول

١٥٣٦ —(١) [١٣] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُصِبْ مِنْهُ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت أبوهريره رضي الله عنه راوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] الله تعالى جل جلاله چي كوم سړي ته د خير رسولو اراده كوي نو هغه (د هغه د خير د حاصلولو د پاره) په مصيبت كي مبتلا كوي. (بخاري)

حل اللغات:- ① يُصِبْ: دَ باب افعال نه ده، په مصيبت كښې دَ اخته كيدو په معنى كښې ده.

(١) اخرجه البخاري فى كتاب المرضى /باب ما جاء فى كفارة المرض (رقم-٥٦٤٥)

تسهیلات: قوله : يُصِبْ مِنْهُ: دا صیغه علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه په صاد باندې فتحه زیاته بهتر ده. په دې صورت کښې دا دَ مجهول صیغه ده. علامه میرك رحمه الله فرمائی چه دا صیغه مجزوم ده دَ شرط په جواب کښې ده. [الکاشف: ۳/۳۰۷.]

بعضې تکلیف د درجاتو پورته کیدو ذریعه: - قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه دَ حدیث مطلب دادې چه الله تعالی کله یو بنده سره دَ نیکئی اراده غواړی نوهغه په مصیبت کښې راګیر کړی دې دَپاره چه په دې سره دَ هغه ګناه اووینځلې شی او درجات ئې اوچت شی.

بهرحال مصیبت عام دې که دَ بیمارئی په صورت کښې وی یا دَ څه حادثه وی یا دَ څه غم وی اودا ټول صورتونه انسان ته صرف په دې وجه نه پیښیږی چه دا دَ الله تعالی دَ طرف نه دَ څه عذاب په شکل کښې وی بلکه اکثر وخت الله تعالی دَ یوسړی دَ درجاتو اوچتولودَپاره په هغه باندې مصیبتونه راولی دې دَپاره چه هغه صبر اوکړی او درجات حاصل کړی. نوچه کوم سړې په مصیبت راتلو باندې صبرکوی اوالله تعالی نه شکایت اوګیلې نه کوی نو دا دَدې خبرې دلیل وی چه دامصیبت دَهغه دَپاره دَ رحمت سبب وی اوکه چرې هغه شکایت اوګیلې کوی چغې صورې وی جزع اوفزع کوی نودا دَ دې خبرې علامت دې چه دا مصیبت رحمت نه بلکه دَهغه دَپاره زحمت اوعذاب دې. (بحواله مظاهرحق، اشعة المعات)

بهرحال نه هرمصیبت وهلې محبوب وی او نه هرمصیبت وهلې معتوب وی.

[۱۵۳۷] د مؤمن هرمصیبت دَاجر او ثواب سبب کیدل

١٥٣٧-()[١٥][١] وَعَنْهُ، وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ، وَلَا وَصَبٍ، وَلَا هَمٍّ، وَلَا حُزْنٍ، وَلَا أَذًى، وَلَا غَمٍّ، [٣] حَتَّى الشَّوْكَةُ يُشَاكُهَا، [٤] إِلَّا كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا خَطَايَاهُ»" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهریره او حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنهما راویان دي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] مسلمان ته چي کله څه پریشاني، درد، تکلیف، حزن، ایذا او غم رسي [٣] تر دي که ازغي يي په پښه کي مات شي [٤] نو الله تعالی جل جلاله دهغي په ذریعه دهغه ګناهونو نه لري کوي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① يُصِيبُ: دَ باب افعال نه ده، په مصیبت کښې دَ اخته کیدو په معنی کښې ده. ② نَصَبٍ: نصب دَهغه تکلیف نوم دې کوم چه دَ انسان په اندامونو باندې راځی لکه زخم وغیره چه وی. ③ وَصَبٍ: اوږدې بیمارئ ته وائی. ④ هَمٍّ: هغه غم ته وائی چه سړې ویلی کوی، کمزورې کوی. ⑤ حُزْنٍ: دَ زړه هغه پریشانی چه دَ "هَمْ" نه لږ شان سپك وی دَ کوم سبب چه معلوم نه وی صرف

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب المرضی/باب ما جاء فی کفارة المرض (رقم-٥٦٤١) ومسلم کتاب البر والصلة والآداب/باب ثواب المؤمن فیما یصیبه من مرض، أو حزن، أو نحو ذلک حتی الشوکة یشاکها (رقم) ٥٢ - (٢٥٧٣) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی ثواب المریض (رقم-٩٦٦)

پریشانی وی. ⑥ أَذًى: هره بیماری چه نفس ورسره موافقت نه خوری یعنی ټولو بیمارو ته شامل دي ⑦ غَمٍّ: غمه تکلیف چه دَانسان په زړه باندې راځی مثلاً مال اولاد ضائع کیدو باندې چه کوم غم راځی هغې ته غم وائی مثلا "مغمی علیه" یعنی بې هوشه جوړوی. ⑧ الشَّوْكَةُ: ازغې، ⑨ كُفِّرَ: رژوی.

تسهیلات: قوله: وَلَاحُزْنٍ: دا دَ زړه دَ پریشانئ نوم دې چه دَ "هم" نه لږ شان سپك وی دكوم سبب چه معلوم نه وی صرف پریشانی وی یا مفسرین لیکی چه خوف او حزن کښې دا فرق دې چه حزن په مافات باندې وی او خوف په مایاتی باندې وی یعنی مثلاً رور ئی بیمار دې دَهغه دَ مرگ چه کوم فکر دې داویره ده خوف دې اوکله چه مړ شی او روستو کوم خفگان وی دا حزن دې. [الکاشف: ٣/٣٠٨.]

قوله: حَتَّى الشَّوْكَةُ يُشَاكُهَا:

د ترکیب حل: - شوکة ازغی ته وائی دا لفظ مرفوع هم کیدې شی نوهغه وخت به مبتداء وی او مجرور هم کیدې شی نودَ حتی کلمه "الی ان" په معنی کښې به شی. [١٩/٤ الکاشف: ٣/٣٠٨.]

قوله: يُشَاكُهَا: -دا ضمیر دَمفعول ثانی دې اومفعول اول مضمردې کوم چه دَ فاعل قائمقام دې. عبارت داسې دې "حتی الشوکة یشاك المسلم تلك الشوکة" یعنی دَمسلمان په یو اندام کښې چه ازغې لاړشی نودَهغې هم ثواب ملاویږی. [الکاشف: ٣/٣٠٨.]

[١٥٣٨] دَ پیغمبرانو دَ مصیبتونو دوچندی

١٥٣٨ - (١)[١٦] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ يُوعَكُ، [٣] فَمَسِسْتُهُ بِيَدِي فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، [٤] إِنَّكَ لَتُوعَكُ وَعْكًا شَدِيدًا. [٥] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "أَجَلْ، إِنِّي أُوعَكُ كَمَا يُوعَكُ رَجُلَانِ مِنْكُمْ". [٦] قَالَ: فَقُلْتُ: ذَلِكَ لِأَنَّ لَكَ أَجْرَيْنِ؟ فَقَالَ: "أَجَلْ". [٧] ثُمَّ قَالَ: "مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى مِنْ مَرَضٍ فَمَا سِوَاهُ، [٨] إِلَّا حَطَّ اللهُ تَعَالَى بِهِ سَيِّئَاتِهِ، [٩] كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمايي [٢] چې (يو ځل) زه د نبي كريم صلی الله علیه وسلم په خدمت اقدس کې حاضر شوم هغه وخت دحضور صلی الله علیه وسلم تبه وه [٣] ما خپل لاس په حضور صلی الله علیه وسلم راتیرولو سره عرض وکړو چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم [٤] ستا ډیره سخته تبه وی؟ [٥] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل هو زما ستاسو د دوه سړو برابر تبه وي [٦] ابن مسعود رضی الله عنه فرمايي چې ما عرض وکړو چې دا به په دې وجه وي چې تا ته دوچنده ثواب حاصليږي؟ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې هو [٧] بیا یې وفرمایل چې کوم مسلمان ته د مریضي په وجه یا د دې څخه علاوه په يوه بله وجه څه تکلیف رسي [٨] نو الله جل جلاله د هغې په ذريعه د هغه گناهونه

---

(١) اخرجه البخاری فی كتاب المرضی/باب: أشد الناس بلاءً الأنبیاء، ثم الأمثل فالأمثل (رقم-٥٦٤٨) ومسلم فی كتاب البر والصلة والآداب/باب فضل عیادة المریض (رقم) ٤١ - (٢٥٧١) والدارمی فی باب: أجر المریض

(داسي) لري کوي ⑨ څرنګه چې ونه خپلې پاڼې رژوي. (بخاري)

حل اللغات:- ①يُوعَكُ: أي حَرَارَةُ الْحُمّى وَأَلَمُهَا: يعنى د تبې ګرمى او تكليف، ②فَمَسِسْتُهُ: لاس مې پرې كيخودو، ③أَجَلْ: أيْ: نَعَمْ، په معنى د نعم سره يعنى آو، ④حَطَّ: رژوى، ⑤وَرَقُهَا: د ورق جمع ده، د وونو پاڼې.

تسهيلات:

قوله: إِنِّي أُوعَكُ كَمَا يُوعَكُ رَجُلَانِ مِنْكُمْ:

دتبې ګرموالى او شدت:- دنبى كريم ﷺ تبه دومره زياته وه چې وې فرمائيل چې څومره تبه د دوؤ كسانو وى دومره زما تبه هم وى. خو دې سره ګناهونه معاف كيږى. حالانكه نبى كريم ﷺ دګناهونو نه پاك وو. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې ددې نه رفع درجات مراد دى او امت ته د صبر تلقين دې.

قوله: إِلَّا حَطَّ اللهُ بِهِ سَيِّئَاتِهِ:

د ګناهونو معاف كيدو تشبيه:- په حديث مبارك كښې تشبيه ده. دې دلته په حديث پاك كښې د مريض حالت او ددۀ د مرض نه محو سئيات مراد اخستې شوى دى. دې ته تيزې هوا سره او د ونې نه پاڼې غورزيدلو سره تشبيه وركړې شوې ده. لكه څنګه د ونې پاڼې په تيزى سره رژيږى داشان د انسان بيمارئى سره دده ګناهونه رژيږى يا ئې د رجات اوچتيږى. او ددې نه معلومه شوه چې هيڅ يو انسان هم د بيمارئى نه خالى نه دې.

[١٥٣٩] دَمرګ سختى دَ درجاتو اوچتوالي

١٥٣٩-(١)[١٧] ①وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: ②«مَا رَأَيْتُ أَحَدًا الْوَجَعُ عَلَيْهِ أَشَدُّ مِنْ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». -مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بي بي عايشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ② چې ما يو داسې سړى نه دى ليدلى چې د هغه مريضي د حضور ﷺ د مريضى څخه زياته سخته او شديده وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ①الْوَجَعُ: درد، تكليف.

تسهيلات:

قوله: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا الْوَجَعُ عَلَيْهِ أَشَدُّ مِنْ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د مذكوره جملې تركيب:- امام طيبى رحمه الله فرمائى چې الوجع مبتداء او اشد خبر دې. مبتداء چې خبر سره يوځائې شى نو د رأيت مفعول ثانى به وى. او من زائده دې. عبارت به داشان

(١) اخرجه البخارى فى كتاب المرضى/باب شدة المرض (رقم) ٥٦٤٦ ومسلم كتاب البر والصلة والآداب/باب ثواب المؤمن فيما يصيبه من مرض، أو حزن، أو نحو ذلك حتى الشوكة يشاكها (رقم) ٥٢ - (٢٥٧٠) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فى ذكر مرض رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-١٦٢٢)

وی (أي ما رأيت أحدا أشد وجعا من رسول الله ﷺ) ما د نبی کریم ﷺ نه زيات په تکليف کښې څوك نه دی ليدلی.

د مذکوره روايت پښان بل حديث:-داشان روايت بيهقی په شعب الايمان کښې دابو سعد رضی الله عنه نه روايت کړې دې چې هغه نبی کريم سره ناست وو. د نبی کريم ﷺ ډيره زياته تبه وه نو هغه خپل لاس د نبی کريم ﷺ په څادر مبارك کيښودو (کوم چې نبی کريم ﷺ اغوستې وو) نو د تبې ګرموالې د څادر دپاسه هم محسوسيدو. وې فرمائيل چې ستاسو ﷺ خو ډيره زياته تبه ده. نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې د انبياء عليهم السلام جماعت په دوچند آزميښت کښې اچولې کيږی. او هغوئ ته اجر هم دوچند ملاويږی. ما عرض اوکړو چې يارسول الله ﷺ انبياء کرامو نه پس کومو خلقو باندې زيات آزميښت کيږی ، نبی کرم ﷺ اوفرمائيل چې الأنبياء ثم الصالحون ، اول انبياء کرام او بيا صالحين. يو حديث پاك کښې فرمائی چې علماء کرامو ته . (مرقاة ج/٣ ص/٣٥٦).

[١٥٤٠] د مرګ سختې د درجاتو د بلندی ذريعه

١٥٤٠-(١)[١٨] ١ وَعَنْهَا قَالَتْ: ٢ «مَاتَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بَيْنَ حَاقِنَتِي وَذَاقِنَتِي، ٣ فَلَا أَكْرَهُ شِدَّةَ الْمَوْتِ لِأَحَدٍ أَبَدًا بَعْدَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»-. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ بي بي عايشه صديقه رضی الله عنها فرمايي ٢ چې نبي کريم ﷺ زما د سيني او د غاړې په مينځ کې وفات شو ٣ زه د نبي کريم ﷺ څخه روسته د يو سړي د مرګ سختي هيڅ کله بده نه ګڼم. (بخاري)

حل اللغات:- ① حَاقِنَتِي: دَ ذاقنه نه ښکته (يعنی د سينې نه ښکته) چه کومه حصه راځی هغه "حاقنه" ده. ② ذَاقِنَتِي: دَ انسان زنه چه دَ سينې کومې حصې پورې رسيږی هغه حصې ته "ذاقنه" وائی. دَ سټ او حلقوم حصه.

تسهيلات: قوله : حَاقِنَتِي وَذَاقِنَتِي:

د نبی کريم وفات د عائشې په غيږ کښې:- دَ حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها مقصد دا بيانول دی چه دَ حضورپاك انتقال دَهغې په غيږ کښې شوې هغه داسې چه رسول الله ﷺ حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها ته ډېره لګولې وه او دَ حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها دَ مرئی او سينې په مينځ کښې حضورپاك سرمبارك کيخودې وو. لکه څنګه چه عام عادت دې چه مريض په بستره باندې پروت وی او خيال ساتونکې او خدمت کونکې دَهغه سر په خپله غيږه کښې اخلی. حضرت عائشه رضی الله عنها داخودل غواړی چه دَوصال په وخت په حضورپاك باندې د زنکندن دَحالت دَ پوره کيفيت ماته ښه اندازه ده چه په حضورپاك باندې څومره تکليف وو.

(١) اخرجه البخاری فی کتاب المرضی/باب ما جاء فی کفارة المرض (رقم-٥٦٤٣) ومسلم باب مثل المؤمن کالزرع ومثل الکافر کشجر الأرز (رقم-٥٩ - (٢٨١٠)

قوله : فَلَاأُكْرِهُ شِدَّةَ الْمَوْتِ:

د زنکدن سختی د ګناه وجه نه ده: - دَدې خایه حضرت عائشه صدیقه ﷞ داخودل غواړی چه ما به دَدې نه مخکښې ګنړل چه دَ مرګ آسانی دَ ګناهونو دَ نه کیدو نښه ده اودَ مرګ سختی دَ ګناهونوعلامت دې لیکن رسول الله ﷺ خو معصوم وو دَهغه دَ زنکدن تکلیف چه کله ما اولیدلو نوماته اندازه اوشوه چه دَ زنکدن تکلیف دَ درجات اوچتولودَپاره هم وی ګنی حضورپاك ته به کله هم تکلیف نه وو. دې نه مخکښې حدیث نمبر١٥٣٨ او١٥٣٩ کښې هم دغه بیان کړې شوې دی چه دَ حضورپاك دَ بیمارئی شان هم جدا وو چه تبه به ئی دوچند وه. دادَ حضورپاك دَ اوچت شان علامت وو اودَ درجات دَ اوچتیدو ذریعه وه.

[١٥٤١] دَ دنیاوی مصیبتونو په اعتبارسره دَمؤمن اومنافق مثال

١٥٣١ —()[١٩]١ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "٢«مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الْخَامَةِ مِنَ الزَّرْعِ،٣ تُفَيِّئُهَا الرِّيَاحُ،٤ تَصْرَعُهَا مَرَّةً وَتَعْدِلُهَا أُخْرَى،٥ حَتَّى يَأْتِيَهُ أَجَلُهُ،٦ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ الْأَرْزَةِ الْمُجْذِيَةِ الَّتِي لَا يُصِيبُهَا شَيْءٌ٧ حَتَّى يَكُونَ انْجِعَافُهَا مَرَّةً وَاحِدَةً» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:١ حضرت کعب ابن مالك ﷛ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل٢ د مومن مثال د فصل (کیتی) د ترو تازه او نرم څانګي په شان دي ٣ چې بادونه يي راټيټوي ٤ کله يي راغورځوي او کله يي سيده کوي ٥ تر دي چې د هغې وخت پوره شي ٦ او د منافق مثال د صنوبر د اوني په شان دي چې کلکه ولاړه وي هغه ته څه جتيکه نه لګی (يعني نه خو هغه د هوا و باد څخه نړيږي اونه راټيټيږي)٧ تر دي چې هغه دفعةً په زمکه راوغورځيږي. (بخاري او مسلم)

حل اللغات:- ١ الْخَامَةِ: دَ هرې يوې ونې شين ښاخ اونرم وانبه اوګلدستې ته خامه وائی. دلته شين اوتازه فصل مراد دې. ٢ الزَّرْعِ: فصل، وونی بوټی، ٣ تُفَيِّئُهَا: دَباب تفعيل او تفعل نه دې ښی طرف اوګس طرف اړولو راړولو اوښکته کولو په معنی کښې دې. ٤ تَصْرَعُهَا: صرع وتصريع دَ ښکته راغورزولو په معنی کښې دې ګس طرف اوښی طرف ته تاوول او ښکته کول مراد دی. ٥ تَعْدِلُهَا: دَ باب افعال نه هم لوستې کيدې شی اودَ باب تفعيل نه هم دَ نيغ او برابرولو په معنی کښې ده. ٦ أَجَلُهُ: نيتيه، آخر وخت، ٧ الْأَرْزَةِ: دَ ځنګل يو مضبوطې ونې ته وائی چه په خپل مضبوطيا کښې دَ غوز دَ ونې په شان مضبوط وی. ٨ الْمُجْذِيَةِ: د جذا دَ يجزو نه دې په مضبوطه زمکه کښې استقامت سره قائم داسې ونې ته وائی چه په زمکه کښې کلکه ولاړه وی. ٩ انْجِعَافُهَا: انقطاع او انقلاع اودَ بيخه راوتو په معنی کښې دې.

[١] اخرجه البخاری فی کتاب المرضی/باب ما جاء فی کفارة المرض (رقم-٥٦٤٢) ومسلم باب مثل المؤمن کالزرع ومثل الکافر کشجر الأرز

تسهیلات: قوله: مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الْخَامَةِ:

د مومن ژوند او مشکلات: - دَ حدیث مطلب دادې چه دَمؤمن مسلمان دَ ژوند مثال داسې دې چه کله خوشحاله او تازه اوسیږی او کله په مصیبتونو اوتکلیفونو کښې راګیرېږی لکه څنګه چه دَ هوا په چپو کښې شنه ښاخونه کله پریوځی او کله راؤچتیږی. لیکن دَ منافق په ژوند کښې په هغه باندې په ظاهری توګه مصیبتونه اوتکلیفونه نه راځی هغه هروخت خوشحاله اوسیږی او مضبوط او په صحت کښې وی هیڅ یو مصیبت هغه نه خوزوی. لکه څنګه چه دَ صنوبر، غوز مضبوطې ونې هواګانې نه شی خوزولې لکه چه دې هم دَ قربانئی سنډا او ګډ دې کوم چه تازه اوچاق ساتلې شی لیکن چه کله دَ ده مرګ راځی نو صحیح سالم دې دَبیخ نه راویستوسره غورزولې شی. او ټول ګناهونه خپل ځان سره اوړی. نو مسلمان دَ مصیبتونو مرضونودَ وجې نه دَ ګناهونونه پاکیږی او منافق سره دَ ګناه اوچتولې شی اوځی. لهذا دَ مرضونو ډیروالې دَ الله تعالی دَ ناراضګئی علامت نه دې او نه همیشه صحت مند پاتې کیدل دَ مقبولیت نښه ده. [الکاشف: ٣/٣١١.]

د یوې ښځې د خاوند نه د طلاق مطالبه: - یوې صحابیه بی بی دَخپل خاوند نه دَ طلاق مطالبه اوکړه لیکن ناڅاپی په خاوند باندې څه مصیبت راغلونوښځې خپله مطالبه ترک کړه او ورته ئی اوویل چه کله ما اوکتل چه په تا باندې څه بیماری نه راځی نوزما شك شو چه ته چرته منافق خو نه ئی لیکن اوس راته معلومه شوه چه ته مؤمن ئی ځکه چه دا مصیبت دَ ایمان نښه ده. دې سره چه کوم حدیث دې دَدې هم دغه مطلب دې. [الکاشف: ٣/٣١١.]

[١٥٤٢] د مؤمن او منافق فرق

١٥٤٢-([1])[٢٠] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ "«مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الزَّرْعِ ٣ لَا تَزَالُ الرِّيحُ تُمِيلُهُ، ٤ وَلَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ يُصِيبُهُ الْبَلَاءُ، ٥ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ شَجَرَةِ الْأَرْزَةِ ٦ لَا تَهْتَزُّ حَتَّى تَسْتَحْصِدَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ٢ د مؤمن مثال د فصل (کیتی) په شان دي ٣ چې (څرنګه) بادونه هغه همیشه راټیټوي ٤ (دغه شان) مؤمن همیشه بلاګانو راګیرکړي وي ٥ او د منافق مثال د صنوبر د ونې په شان دي ٦ اګر چې هغه د بادونو د زور څخه خوزي هم نه خو (آخر د ویخ څخه) راوغورځیږي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① الزَّرْعِ: فصل، وونې بوټی، ② تُمِيلُهُ: مائل کوی او راټیټوی ئې (زمکې ته) ③ الْبَلَاءُ: مصیبتونه، ④ الْأَرْزَةِ: دَ ځنګل یو مضبوطې ونې ته وائی چه په خپل مضبوطیا کښې دَ غوز دَ ونې

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب المرضی/باب ما جاء فی کفارة المرض (رقم-٥٦٤٤) ومسلم باب مثل المؤمن كالزرع ومثل الكافر كشجر الأرز (رقم-٥٨ - (٢٨٠٩) والترمذی کتاب الأمثال عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی مثل المؤمن القارئ للقرآن وغیر القارئ(رقم-٢٨٦٦)

په شان مضبوط وي. ⑤ لَا تَهْتَزُّ: نه خوزيږي، ⑥ تَسْتَحْصِدَ: د بيخه کټ کړې شي.

تسهيلات:

قوله: مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الزَّرْعِ لَا تَزَالُ الرِّيحُ تُمِيلُهُ:

دحديث مقصد: – مطلب دادې چې منافق په دنياوي ژوند کښې د مصيبتونو او تکليفونو سره زيات نه مخ کيږي او تکليفونه او سختي په ده باندې زيات اثر نه کوي، او ددې وجه دا ده چې ددې ځائې د مصيبتونو په بدله کښې ورته دآخرت عذاب سپك يا کم نه شي، او د مسلمان په دنيا کښې په مصيبتونو او غمونو کښې اخته کيدل ددې خبرې علامت دې چې هغه ته به په آخرت کښې پرسکون او د خوشحالي ژوند ملاويږي.

[١٥٤٢] بيمارئی ته د کنځلو کولو ممانعت

١٥٤٣–(١)[٢١] [١] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «دَخَلَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى أُمِّ السَّائِبِ فَقَالَ: [٣] مَا لَكِ تُزَفْزِفِينَ؟! " [٤] قَالَتِ: الْحُمَّى - لَا بَارَكَ اللّٰهُ فِيهَا - [٥] قَالَ: " لَا تَسُبِّي الْحُمَّى؛ فَإِنَّهَا تُذْهِبُ خَطَايَا بَنِي آدَمَ، [٦] كَمَا يُذْهِبُ الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي [٢] چې (يو ځل) حضور ﷺ بي بي ام سايب رضي الله عنها ته چې (سره تبه کې مبتلا وه) تشريف راوړو او (د هغې حالت ليدلو سره يې) وفرمايل [٣] چې په تا څه شوي دي چې ته کپيږې [رپيږې]؟ [٤] هغې عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ زما تبه ده الله دې ته برکت نه ورکوي [٥] حضور ﷺ وفرمايل چې تبې ته بد مه وايه ځکه چې تبه د بني آدم (انسان) ګناهونه داسې لرې کوي [٦] څرنګه چې بهټي د اوسپنې خيري صفا کوي. (مسلم)

حل اللغات: – ① تُزَفْزِفِينَ: باب فعلله دحرج په شان دَ واحدمؤنث صيغه ده دَ رچيدلو شروع کيدو په معنی کښې دې. ② الْحُمَّى: تبه، ③ الْكِيرُ: هوا ورکونکې مشکيزې ته کيروائی، بهټي. ④ الْحَدِيدِ: اوسپنه.

تسهيلات: **قوله:** كَمَا يُذْهِبُ الْكِيرُ: دا يوه آله ده چه دوه مشکيزې يوې نلکې سره يوځائی کړې اودَ کوئلې ډيرې طرف ته ئی مخ کړی اوپه دې سره هوا ورکولې شی دې دَپاره چه په کوئله کښې دننه اوسپنه ګرمه شی اودَهغې نه کالې او اوزار جوړکړې شی. په دې عمل سره دَ اوسپنې زنګ وغيره ختم شی اواوسپنه صفاشی، بهټي. [الکاشف: ٣/٣١١]

بهرحال دَ حديث مطلب دادې چه يوې بيمارئی ته کنځلې مه کوئی بلکه صبرکوئی دادَ انسان دَ ګناهونودَپاره کفاره جوړيږي.

(١) اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب ثواب المؤمن فيما يصيبه من مرض، أو حزن، أو نحو ذلک حتی الشوکة يشاکها (رقم) ٥٢ - (٢٥٧٣)

[١٥٤٤] په بيمارۍ کښې دَ صحت د اعمالو ثواب ملاويدل

١٥٤٤-(١)[٢٢] ١ وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ إِذَا مَرِضَ الْعَبْدُ أَوْ سَافَرَ، ٣ كُتِبَ لَهُ بِمِثْلِ مَا كَانَ يَعْمَلُ مُقِيمًا صَحِيحًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت ابوموسي رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ هر کله چې يو بنده مريض شي يا په سفر ځي (او د هغه د مريضی يا د سفر په وجه د هغه اوراد او نوافل فوت شي) ٣ نو د هغه په عمل نامه کې هغومره عمل ليکل کيږي کوم چې به هغه د مقيموالي په حالت کې او د تندروستي په زمانه کې کول. (بخاري)

تسهيلات: قوله: كُتِبَ لَهُ بِمِثْلِ مَا كَانَ يَعْمَلُ:

د صحت د معمولاتو ثواب په مرض کښې:- دَحديث مطلب دادې چه مثلاً يوسړې دَ سخت او تندرستئی په وخت دَ فرضو نه علاوه سنت او نفلونه عبادتونه او په خپلو وظائفو کښې او تهجد کښې ښه محنت کوی. ليکن چه کله بيمار شی يا دَ سفر په حالت کښې وی نو دَهغه معمولات قضاء کيږی هغه خپل معمولات پوره کولې نه شی. نو په دې حديث کښې اوخودلې شوه چه دې سړی ته به په مرض او سفرکښې دَهغه اعمالو پوره ثواب ملاويږی کوم چه هغه په صحت کښې کول. دَمعمولاتو پاتې کيدو نه ثواب نه کټ کيږی بلکه جاری پاتې کيږی

[١٥٤٥] په طاعون کښې دَ مړ کېدو فضيلت

١٥٤٥-(٢)[٢٣] ١ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «الطَّاعُونُ شَهَادَةٌ لِكُلِّ مُسْلِمٍ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت انس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ په طاعون (کې مړ کيدل) د هر مسلمان د پاره شهادت دي. (بخاري ومسلم)

حل اللغات:- ١ الطَّاعُونُ: طاعون يو وبائی مرض دې چه په دې کښې په بدن مثلاً ترخ، پنډئی اوخيټه وغيره باندې زخم پيداکيږی.

تسهيلات: قوله: الطَّاعُونُ شَهَادَةٌ:

د طاعون علامات او اثرات:- دا وبائی بيماری چه په کومو علاقوکښې خوره شی نودَهغه ځائی ټولو ځيزونو باندې اثرکيږی. دَ انسانی بدن نه علاوه اوبه او هوا هم خرابوی. غرض داچه په هرڅيزکښې دَهغې جراثيم داخليږی. دَ طاعون علامت هم بعضې شارحينودا ليکلې دې چه دَدې بيمارئی په وجه سره د بدن نرمې حصې مثلاً ترخ، پنډئی اوخيټه وغيره باندې زخم پيداکيږی اودَدې زخمونونه چاپيره تور يا سرې يا شنې دائرې جوړيږی.

---

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسير /باب يکتب للمسافر مثل ما کان يعمل فی الإقامة (رقم-٢٩٩٦)

(٢) اخرجه البخاری فی کتاب الطب /باب ما يذکر فی [ص:١٣٠] الطاعون (رقم-٥٧٣٢) ومسلم کتاب الإمارة /باب بيان الشهداء (رقم-١٦٦ - (١٩١٦)

په طاعون کښې مرګ شهادت ولې؟:- په طاعون کښې مړکیدونکی ته دَ شهادت درجه ځکه ملاویږی چه دا واقعی شهیددې. دا ځکه چه په حقیقت کښې دَ څه جناتو یا شیطانانو دَ نیزې وهلو سره دازخم لګی نو ښکاره خبره ده چه دې قتل کړې شوې دې لهذا شهید دې. تفصیل وړاندې راغې.

[١٥٤٦] حقیقی او حکمی شهیدان

١٥٤٦-()[٢٣] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [٢] «الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ: الْمَطْعُونُ، [٣] وَالْمَبْطُونُ، [٤] وَالْغَرِيقُ، [٥] وَصَاحِبُ الْهَدْمِ، [٦] وَالشَّهِيدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

ترجمه: [١] حضرت ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [٢] شهيدان په پنځه قسمه دي ① طاعون څپلی [٣] ② د خيټې مريضي (يعني په دست او استقاء) کې مړ کيدونکي [٤] ③ په اوبو کې بی اختياره ډوبيدو سره مړکيدونکي [٥] ④ د ديوال يا چت لاندې راتلو سره مړ کيدونکي [٦] ⑤ د الله جل جلاله په لار کې شهيد کيدونکي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① الْمَطْعُونُ: د طاعون مريض ته مطعون وائی په دې مرض کښې په بدن مثلاً ترخ، پنډئی او خيټه وغيره باندې زخم پيدا کيږی، او مريض پکښې مړ کيږی. ② الْمَبْطُونُ: دَ خيټې په مرض لکه هيضه وغيره سره مړکيدونکی ته وائی. ③ الْغَرِيقُ: درياب نهر يا سمندر کښې ډوبيدو سره مړکيدونکې. ④ الْهَدْمِ: هغه سړې چه دَ اوچت ځائ نه يعنی غر يا ديوال وغيره نه راپريوځی او مړشی.

تسهيلات: قوله: الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ:

د شهيد قسمونه:- يو شهيد حقيقی دې او بل حکمی دې. حقيقی شهيد هغه دې څوک چه کافرانو سره په جنګ کښې اووژلې شی يا په ظلم سره دَ يوظالم دَ لاسه په تيره آله سره مړ کړې شوې وی او دَ دنياوی فائدې اوچتولو نه بغيردَ دنيا نه تلې وی. حقيقی شهيدبه بغيردَ غسل نه او بغيردَ کفن نه په خپلو اغوستې شوو کپړو کښې خښولې شی دا دَدنيا او آخرت دواړو شهيددې. شهيدحکمی هغه وی چه دَدې نه علاوه په يوڅو خاص احوالو او افعالو کښې وفات شی. په دې حديث کښې دَ څلور قسم حکمی شهيدانو ذکرکړې شوې دې. ليکن په نورو احاديثوکښې دَدې نه علاوه ډير خلق حکمی شهيدان ګرځولې شوی دی. مثلاً "**ذات الجنب، نمونيه**" کښې مړکيدونکې، په اور کښې سوزيدونکې، دَ بچی پيدا کيدو په وخت کښې مړه کيدونکې ښځه، دَ سفرپه حالت کښې مړکيدونکې، په جهاد کښې په خپل مرګ باندې مړکيدونکې، دَ شهادت رښتونې خواهش کونکې، ميعادی تبه سره مړکيدونکې، دَ ځناورو په شلولوسره مړکيدونکې، دَ يوظالم دَظلم دَ تشدد په نتيجه کښې دَ زخمونو طاقت نه لرونکې مړکيدونکې، دَ ظالم په جيل کښې بې ګناه مړ

[1] اخرجه البخاري فی کتاب الجهاد والسير/باب: الشهادة سبع سوى القتل (رقم-٢٨٢٩) ومسلم کتاب الإمارة/باب بيان الشهداء (رقم) ١٦٤ - (١٩١٤) والنسائی کتاب الجنائز/باب الشهيد (رقم-٢٠٥٤)

کیدونکې او په علمي شغل کښې مړ کیدونکې. په نورو احادیثو کښې ذکرشوې یوڅو نیک اعمال کولونه پس مړ کیدونکې دا ټول خلق حکمي شهیدان دی.

د حکمي شهید احکام: - دَدوی حکم دادې چه دوی به دَ آخرت شهیدان شمیرلې کیږی او دَ دنیا شهیدان نه دی. لهذا دَ دوی جنازه به کیږی دوی ته به غسل ورکولې کیږی او کفن کولو سره به خښبیږی. لکه چه دَحقیقي شهیدانو دَ ثواب په شان به ورته یوه درجه ثواب ورکولې شی. دَحدیث مطلب دانه دې چه دا ټول خلق حقیقي شهیدان دی. دې خلقو ته دَ شهیدانو ثواب څکه ورکړې شو چه شهید ډیر مشقتونه اوچتولو سره مړ کیږی. دَدې خلقو مرګ هم چونکه په ډیره سختئی او سختو مصیبتونو سره راځی لهذا دوی هم شهید سره یوځائی اوګرځولې شو. دَمطعون تفصیل تیرشوې دې.

[١٥٤٧] په طاعون ځپلی علاقه کښې د صبر او ثبات فضیلت

١٥٤٧ -(١)[٢٥] ١ وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: ٢ «سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنِ الطَّاعُونِ فَأَخْبَرَنِي: ٣ "أَنَّهُ عَذَابٌ يَبْعَثُهُ اللهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ، ٤ وَأَنَّ اللهَ جَعَلَهُ رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِينَ، ٥ لَيْسَ مِنْ أَحَدٍ يَقَعُ الطَّاعُونُ فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهِ صَابِرًا مُحْتَسِبًا، ٦ يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يُصِيبُهُ إِلَّا مَا كَتَبَ اللهُ لَهُ، ٧ إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ شَهِيدٍ» "رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ".

ترجمه: ١ بي بي عایشه رضي الله عنها فرمایي ٢ چي ما د حضور ﷺ څخه د طاعون حقیقت وپوښتلو نو حضور ﷺ ماته وفرمایل ٣ چي (هسي خو) دا عذاب دي الله جل جلاله چي په چا یي غواړي لیږي یي ٤ (لیکن) الله تعالی جل جلاله دا د مومنانو د پاره د رحمت باعث ګرځولي دي (کوم چي په دي کې د مبتلا کیدو په وخت صبر کوي) ٥ او په کوم ښار یا ځاي کې چي طاعون وي او (یو مومن) په خپل ښارکي پاتې شي او صبرکونکي او د الله جل جلاله څخه د ثواب طالب وي (یعني په هغه طاعون ځپلی علاقه کې د یو بل غرض او مصلحت څخه نه بلکه محض د ثواب په خاطر پاتې شوی وي) ٦ او په دي پوهیږي هم چې هغه ته هیڅ شي (یعنی هیڅ اذیت او مصیبت) نه رسیږي خو هغه چې الله جل جلاله (د هغه په مقدر کي) لیکلی وي ٧ او د هغې څخه هیڅ چیرته مفر (تیښته) نشته نو هغه مؤمن ته به د شهید په مثل ثواب حاصلیږي. (بخاري)

حل اللغات: - ① صَابِرًا: صبرکونکې، ② مُحْتَسِبًا: دثواب دپاره.

تسهیلات:

قوله: عَنِ الطَّاعُونِ:

د طاعون په راتلو کښې حکمت: - حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی چې د ما نبی کریم ﷺ نه د طاعون د حکمت په باره کښې تپوس اوکړو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې دا

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الطب/باب أجر الصابر فی الطاعون (رقم-٥٧٣٤)

د الله ﷻ د طرفه عذاب دې د مؤمنانو نه وي او كه د كافرانو نه چې په چا غواړي نو راليږي ئې خو دا د مؤمنانو دپاره رحمت جوړوي

قوله: فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهِ صَابِرًا مُحْتَسِبًا:
دا دواړه د يمكث د ضمير **فاعل** نه حال دې يعني هغه د ښار نه په وتلو قادر دې خو الله ﷻ باندې بهروسه كوي او د ثواب په نيت نه اوځي او هغه په دې خبره باندې عقيده لري چې ده هغه ځيز نه شي رسيدلې چې كوم الله تعالى دده دپاره نه وي مقدر كړې نوده دپاره دشهيد د اجر برابر اجر ليكلې كيږي

قوله: يَعْلَمُ: دا ديمكث دريم حال دې يا ددې بدل دې

قوله: إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ شَهِيدٍ إِلَّا: مستثنى مفرغ دې .

[١٥٤٨] طاعونى علاقې څخه د تيښتې او هغې ته د ورتګ ممانعت

١٥٤٨-()[٢٦] ١ وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ٢ «الطَّاعُونُ رِجْزٌ أُرْسِلَ عَلَى طَائِفَةٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، ٣ أَوْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، ٤ فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ، ٥ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ، وَأَنْتُمْ بِهَا، ٦ فَلَا تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت اسامه ابن زيد رضي الله عنه راوي دي چې حضور ﷺ وفرمايل ٢ طاعون عذاب دي چې د بني اسرائيلو په يو جماعت ليږل شوي وو ٣ يا وي فرمايل په هغه خلقو باندې چې ستاسو څخه مخكې وو (يعني راوي ته شك شوي دي چې حضور ﷺ مخكني جمله ارشاد فرمايلي وه يا دويمه) ٤ هر كله چې تاسو د يوي علاقي په باره كې واورئ چې هلته طاعون خور شوي دي نو هلته مه ځئ ٥ او په كومه طاعون ځپلى علاقه كې چې تاسو (د مخكې څخه) موجود يي ٦ نو د هغه ځايه مه وځئ. (بخاري ومسلم)

حل اللغات:- ① رِجْزٌ: عذاب، ② فِرَارًا: تختيدل.

تسهيلات: **قوله: الطَّاعُونُ رِجْزٌ:**
يعني طاعون يو آسماني عذاب دې الله تعالى په بنى اسرائيلوباندې دا عذاب هغه وخت مسلط كړې وو كوم وخت چه هغوى نافرماني اوكړه او په بيت المقدس كنبې ئې دَ جهاد كولونه انكاراوكړو. په قرآن پاك كنبې دا آيت هم دې باره كنبې دې. ﴿فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ السَّمَاءِ﴾ [الاعراف الايه: ١٦٢] يعني په هغوى باندې طاعون راؤليكلو.

د وبائى علاقې څخه د تيختې ممانعت:- په دې حديث كنبې امت ته دوه حكمونه وركړې شوى دى. يوحكم دادې چه دَ طاعون دَعلاقونه دَتختيدو كوشش مه كوئى مرګ په مقرر وخت باندې دَ تقدير

( ) اخرجه البخارى فى كتاب الحيل/باب ما يكره من الاحتيال فى الفرار من الطاعون (رقم-٦٩٧٤) ومسلم كتاب السلام/باب الطاعون والطيرة والكهانة ونحوها (رقم-٩٢ - (٢٢١٨)

مطابق راځي. نوچه کوم سرې دَ طاعون نه تختی هغه لکه چه دَتقدیر باره کښې دَ تذبذب ښکار دې اودَ تقدیر دَ فیصلې نه دَ تیختې لار اختیاروي. دویم حکم په دې حدیث کښې دا بیان کړې شوې دې چه کوم ځائی کښې طاعون او یا بل څه وبائی مرض خورشوې وی نوخامخا هلته دَ تلو کوشش مه کوئی دا خپل ځان په هلاکت کښې دَ اچولو په شان دی کوم چه منع دې. بل په دې سره دَ عقیدې دَخرابیدو خطره هم ده خلق به دا وائی چه که دغه ځائی ته تلې نه وې نومرګ به ورله نه راتلو. دا خبره په ذهن کښې ساتل پکاردی چه دَ وبائی مرض نه علاوه دَ نورو خطرناکو مواقع نه تختیدل جائز دی. مثلاً چرته اور لګیدلې دې یا سیلاب راروان دې یا زلزله ده یا چت راپریوځی دَ هغه ځائی نه تختیدل منع نه دی.

[١٥٤٩] په ړوندتوب باندې د نابینا د صبر فضیلت

١٥٤٩ــ(¹)[٢٧] [١] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [٢] "«قَالَ اللّٰهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى: إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ ثُمَّ صَبَرَ، [٣] عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ» "يُرِيدُ عَيْنَيْهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه وايي چې ما د نبي کريم ﷺ څخه واوريدل [٢] چې الله سبحانه وتعالی فرمايي هر کله چې زه کوم بنده د هغه په دوو محبوبو څيزونو کې مبتلا کړم او هغه صبر پرې وکړي [٣] نو زه د هغه دواړو په بدله کې هغه لره جنت ورکوم (راوي وايي چې د دوو محبوب څيزونو څخه) د حضور مراد د هغه دوه سترګې دي. (بخاري)

حل اللغات: - ① بِحَبِيبَتَيْهِ: دې نه مراد هغه محبوب سترګې دی چه هغه دَ "کريمتيه" په نوم سره هم يادولې شی.

تسهيلات: قوله: عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ:

په نابينا توب باندې د صبر بدله: - دَ حدیث مطلب دادې چه کله الله تعالی دَ يو بنده نه سترګې واخلی هغه نابينا کړی اوهغه په دې باندې صبرکوی نه دَ الله تعالی نه څه ګيله کوی اونه څوك ملامته کوی بلکه دا خيال کوی چه دا مصيبت الله تعالی زما دَ ګناهونو دَ ختمولودَ پاره اودَ درجو دَ اوچتولو دَپاره په ما باندې اچولې دې. داسې سړی ته به الله تعالی دَ هغه دَ سترګو په بدله جنت ورکوی. [الكاشف: ٣/٣١٤.]

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٥٥٠] دَبيمار په پوښتنه داويا زره فرښتو دعا

١٥٥٠ــ(²)[٢٨] [١] عَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [٢] "«مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُودُ مُسْلِمًا غُدْوَةً [٣] إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُمْسِيَ، [٤] وَإِنْ عَادَهُ عَشِيَّةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ

¹) اخرجه البخاری فی کتاب المرضی/باب فضل من ذهب بصره (رقم-٥٦٥٣)
²) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز/باب فی فضل العیادة علی وضوء (رقم-٣٠٩٨) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی عیادة المریض (رقم-٩٦٩) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی ثواب من عاد مریضًا (رقم-١٤٤٢)

سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُصْبِحَ، ٥ وَكَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الْجَنَّةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ حضرت علي كرم الله وجهه راوي دي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي ٢ چې كوم مسلمان (د بل مريض) مسلمان د ورځې په اولني حصه كې (يعني د سحر په وخت كې) عيادت كوي ٣ نو اويا زره فرښتې هغه د پاره تر ماښام كيدو پورې د رحمت او مغفرت دعاء كوي ٤ او كوم مسلمان چې د ورځې په آخرى حصه كې يعنى د زوال څخه روسته عيادت كوى نو اويا زره فرښتې تر سحره د هغه د پاره د رحمت او مغفرت دعاء كوي ٥ او په جنت كې د هغه د پاره يو باغ مقررولې شى. (ترمذي ابوداود)

حل اللغات: - ① يَعُودُ: چه عيادت پوښتنه كوى، ② غُدْوَةً: د ورځې اول وخت يعنى دسحروخت، ② يُمْسِيَ: چه ماښام شى، ③ عَشِيَّةً: دشپې اوله حصه، ④ خَرِيفٌ: باغ.

تسهيلات:

نوټ: - د ترجمې څخه مطلب ښكاره دې. د شرحې ضرورت نشته.

[١٥٥١] د ستركو په مرض كښې عيادت

١٥٥١ - ()[٢٩] ١ «وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ عَادَنِي النَّبِيُّ مِنْ وَجَعٍ كَانَ بِعَيْنِي». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ حضرت زيد رضي الله عنه ابن ارقم فرمايي ٢ چې نبي كريم ﷺ زما عيادت (پوښتنه) وكړو كله چې زما په ستركو كې درد وو. (احمد ابوداود)

حل اللغات: - ① وَجَعٍ: درد.

تسهيلات: قوله: عَادَنِي النَّبِيُّ مِنْ وَجَعٍ:

په معمولى بيمارۍ كښې د تپوس كولو سنتيت: - دَدې حديث نه معلومه شوه چه حضورپاك په يومعمولى بيمارئى هم دَ زيدبن ارقم رضي الله عنه پوښتنه كړې وه يعنى چه كوم وخت دَ هغه ستركه خوږيدله هغه وخت حضورپاك پوښتنه اوكړه. په دې سره امت ته داتعليم ملاؤشو چه بيمارى كه وړه ولې نه وى تپوس سنت دې ثواب ملاويږى.

اشكال: - جامع صغير كښې يوروايت راغلې دې په كوم كښې چه دَ دريوبيمارو په وخت دَ بيمار تپوس نه كولو وئيلې شوى دى. يعنى كوم وخت چه دَ چاستركه خوږيږى يا ئى غاښ خوږيږى يا چرته پولئى دانه وى حالانكه دلته حضور پاك دَ ستركې دَ درددَ وجې نه عيادت كړې دې؟

د اشكال جواب: - په كوم روايت كښې چه دَدې دريواړو بيمارو په وخت دَ عيادت نه منع راغلې ده هغه عام نه ده بلكه خاص هغه خلق ئى دَ تپوس كولونه منع كړې دى دَ كوم دَ

() اخرجه ابوداود فى كتاب الجنائز /باب فى العيادة من الرمد (رقم-٣١٠٢)

وجې نه چه بیمارته دَ نور تکلیف خطره وی مثلاً که یوداسې مشر دَ تپوس دَپاره لاړشی دَ چاد پاره چه مریض له سترګې کولاوولو باندې مجبوره کیږی یا په خبره کولوباندې مجبور کیږی او په نیغ کیناستو باندې مجبورکیږی. په دې دریواړو صورتونوکښې دَ مریض دَ سترګو، غاښونو تکلیف زیاتیدې شی په دې وجه منع کړې شوې ده. لهذا دَ دواړو احادیثو مطلب جدا جدا دې نوتعارض نشته دې.

[۱۵۵۲] په اودس کښې دَ عیادت کولو فضیلت

۱۵۵۳—()[۳۰] [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ [٣] وَعَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ مُحْتَسِبًا [٤] بُوعِدَ مِنْ جَهَنَّمَ مَسِيرَةَ سِتِّينَ خَرِيفًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] کوم سړي چې په ښه شان (یعنی پوره) اودس وکړی [٣] او بیا د ثواب (حاصلولو) په اراده د خپل مسلمان ورور عیادت (پوښتنه) یي وکړه [٤] نو هغه به د دوزخ څخه د شپیتو کلونو (د مسافت یعنی فاصلې) په اندازه لرې ساتل کیږي، (ابوداود)

حل اللغات: - ① مُحْتَسِبًا: دثواب دپاره، ② بُوعِدَ: لرې به اوساتلې شی. ③ مَسِيرَةَ: مسافت، فاصله، ④ خَرِيفًا: خریف دَ خزان موسم ته وائی اودا موسم په کال کښې یوځل راځی لهذا یوخریف دَ یو کال برابر دې.

تسهیلات: قوله: فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ:

د عیادت دپاره د اودس کولو استحباب: - اودس کول ښه څیزدې هرمسلمان له په هرممکن وخت کښې په اودس کښې پاتې کیدل پکاردی. دغه شان که دَ چا پوښتنې دَپاره تلل وی نواودس کولوسره تلل مستحب دی ځکه چه هلته دَ دعا کولوضرورت راتلې شی دَ څه دَ پاره چه اودس ډیر ښه دې. بل دَ مونځ دَ ادا کولوصورت هم پیښیدې شی نوتیارتلل پکاردی.

فائده: د دې حدیث څخه معلومه شوه چې د عیادت د پاره اودس کول سنت دي او غالبًا د دې حکمت دادي چې فرمایلي يي دي چې عیادت (پوښتنه) عبادت دي اودا ظاهره ده چې په اودس سره عبادت کامل او افضل کیږي علماء لیکي چې که په داسې حالت کې دعاء وکړل شي نو هغه قبلیږي.

[۱۵۵۳] د عیادت په وخت کښې د مریض د پاره دعا

۱۵۵۳—()[۳۱] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُودُ مُسْلِمًا فَيَقُولُ سَبْعَ مَرَّاتٍ: [٣] أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ [٤] أَنْ يَشْفِيَكَ، إِلَّا شُفِيَ، [٥]

---

[1]) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز /باب فی فضل العیادة علی وضوء (رقم-۳۰۹۷)

[2]) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب الدعاء للمریض عند العیادة (رقم-۳۱۰۶) والترمذی کتاب الطب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب (رقم-۲۰۸۳)

إِلَّا أَنْ يَكُونَ قَدْ حَضَرَ أَجَلُهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هر كله چې يو مسلمان د يو مريض عيادت كوي او اوه ځله دا كلمات اووائي [٣] أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ يعنى زه د الله بزرګ وبرتو څخه چې د عرش عظيم مالك دي دعا غواړم [٤] چې هغه تا ته شفاء دركړي نو الله تعالى جل جلاله هغه ته شفاء وركوي [٥] په شرط د دې چې د هغه (د مرګ) وخت نه وي راغلې (يعني د هغه مرض لاعلاجه نه وي) (ابوداؤد ترمذي)

حل اللغات:- ① أَجَلُهُ: نيټه دده يعنى آخرت وخت،

تسهيلات:

قوله: إِلَّا شُفِيَ:

د شفاء نه ملاويدو وجه:- دا حكم تغليبى دې چې عام طور شفا ملاويږى كه چرته شفا او نشى نو دا به زمونږ د كوتاهئ په وجه وى يا به ددې وخت ختم شوې وى

قوله: أن يكون قد حضر أجله:

د مذكوره دعا دوه فائدې:- ① ملا على قارى رحمه الله فرمائى كه چرې دا دعا په قريب المرګ باندې اووئيلې شى نو ددې دعا په بركت سره به د هغه ساه په آسانه سره اوځى

② او خاتمه به ئې بالايمان اوشى.

[١٥٥٤] د تبې او دردونو د پاره يو عجيبه دم

١٥٥٤-(¹)[٣٢] [١] وَعَنْهُ: [٢] «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُعَلِّمُهُمْ مِنَ الْحُمَّى وَمِنَ الْأَوْجَاعِ كُلِّهَا أَنْ يَقُولُوا: [٣] "بِسْمِ اللَّهِ الْكَبِيرِ، أَعُوذُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ، [٤] مِنْ شَرِّ كُلِّ عِرْقٍ نَعَّارٍ، [٥] وَمِنْ شَرِّ حَرِّ النَّارِ» " [٦] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، [٧] لَا يُعْرَفُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ إِسْمَاعِيلَ، وَهُوَ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي [٢] چې نبي كريم ﷺ به صحابه ؤ ته ښودل چې هغوى (يعني مريض خلق دي) د تبى بلكه د هر درد (څخه د شفاء د پاره) دا رنګه دعا كوي [٣] بِسْمِ اللَّهِ الْكَبِيرِ أَعُوذُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ مِنْ شَرِّ كُلِّ عِرْقٍ نَعَّارٍ وَمِنْ شَرِّ حَرِّ النَّارِ (يعني زه د الله بزرګ وبرتر په نامه سره بركت غواړم او پنا غواړم د الله بزرګ وبرتر [٤] او د هر رګ جوش وهونكي د بدي (يعنى تكليف) څخه [٥] او د اور د بدي څخه [د الله بزرګ وبرتر پناه غواړم] ، [٦] امام ترمذي رحمه الله دا حديث نقل كړي دي او فرمايلي يي دي چې دا حديث غريب دي [٧] ځكه چې مونږ دا حديث د ابراهيم ابن اسمعيل څخه علاوه په بلې ذريعې سره نه پيژنو او هغه (يعنى ابراهيم) د حديث د روايت په باره كې ضعيف شميرل كيږى.

¹) اخرجه الترمذى فى كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب (رقم-٢٠٧٥) وابن ماجة كتاب الطب /باب ما يعوذ به من الحمى (رقم-٣٥٢٦)

حل اللغات:- ① الْحُمّٰى :تبه، ② الْأَوْجَاعِ : د وجع جمع ده، هرقسم درد ، ③ عِرْقٍ : رګ، ④ نَعَّارٍ: ویني سره دَ جوش وهلو په معنی کښې دې.

تسهیلات: قوله : مِنْ شَرِّ كُلِّ عِرْقٍ نَعَّارٍ:

د نعار وضاحت:- عرب وائی "نعرالعرق" یعنی په رګ کښې وینې جوش اوهلو یا په تبه کښې هم داسې کیږی چه په رګونوکښې دَ وینې دباؤ زیاتیږی کوم چه خطرناك دې. دغه شان "جرح نعار" دَزخم نه چه کله وینه دَ فوارې په شان راوځی او آواز اوچتیږی دې ته نعار وائی.

[١٥٥٥] دَهرې بیمارۍ دپاره مجرب عمل

١٥٥٥-(١)[٣٣] [١] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [٢] "«مَنِ اشْتَكَى مِنْكُمْ شَيْئًا أَوِ اشْتَكَاهُ أَخٌ لَهُ، فَلْيَقُلْ: [٣] رَبُّنَا اللّٰهُ الَّذِي فِي السَّمَاءِ، [٤] تَقَدَّسَ اسْمُكَ، أَمْرُكَ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، [٥] كَمَا رَحْمَتُكَ فِي السَّمَاءِ، [٦] فَاجْعَلْ رَحْمَتَكَ فِي الْأَرْضِ، [٧] اغْفِرْ لَنَا حُوبَنَا وَخَطَايَانَا، [٨] أَنْتَ رَبُّ الطَّيِّبِينَ، [٩] أَنْزِلْ رَحْمَةً مِنْ رَحْمَتِكَ، [١٠] وَشِفَاءً مِنْ شِفَائِكَ، عَلَى هَذَا الْوَجَعِ [١١] فَيَبْرَأُ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] حضرت ابو درداء ﷺ راوي دي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي [٢] چې په تاسو کې چې کوم سړي ته څه مریضی وي یا د هغه یو ورو مریض وي نو هغه ته پکار دي چې دا دعا وايي [٣] (ترجمه) زمونږ پروردګار الله دي داسې الله چې په آسمان کې دي [٤] (د ټولو نقصاناتو څخه) ستا نوم پاك دي، ستا حکومت په آسمان او زمکه (دواړو) کې دي [٥] څرنګه چې ستا رحمت په آسمان کې دي [٦] دغه شان ته خپل رحمت په زمکه نازل کړي [٧] زمونږ وړوکي او لوي ګناهونه وبخښې [٨] ته د پاکیزه خلقو پروردګار یي [یعني د هغوئ محب او کار جوړونکی یي] [٩] او ته د خپل رحمت څخه (چې په هر څیز باندې خور دي) رحمت عظیمه نازل کړي [١٠] او د دې مریضی څخه خپله شفاء ورکړي [١١] (د دی دعا د په ویلو سره به بیمار انشاء الله) ښه شي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① تَقَدَّسَ : پاك دې دهرقسم عیب نه، ② حُوبَنَا :لوئې ګناه ته حوب وائی. ③ خَطَايَانَا: خطاء وړه او لویه، پټه، ښکاره ټولو ګناهونو ته وائی. ④ الْوَجَعِ: درد ، ⑤ فَيَبْرَأُ: نوښه شی.

تسهیلات:

قوله : اغْفِرْ لَنَا حُوبَنَا وَخَطَايَانَا:

په حوب او خطایا کښې فرق:- حوب:لوئی ګناه ده حوب وائی خطایا نورو وړوګناهونوته وائی یعنی زمونږ لوئی واړه ټول ګناهونه معاف کړې که هغه په قصدسره وی او که خطأسره وی.

---

[١] اخرجه ابوداود فی کتاب الطب/باب کیف الرقی (رقم-٣٨٩٢)

[١٥٥٦] دَ جهاد دَپاره دَ صحت دعا

١٥٥٦—(١)[٣٤] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- " [٢] «إِذَا جَاءَ الرَّجُلُ يَعُودُ مَرِيضًا فَلْيَقُلْ: [٣] اللَّهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ يَنْكَأُ لَكَ عَدُوًّا، [٤] أَوْ يَمْشِي لَكَ إِلَى جِنَازَةٍ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] حضرت عبد الله ابن عمرو رضی الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] کله چې څوک د یو سړي (د یو مریض) عیادت ته ورشي نو هغه ته دي دا دعا کوي [٣] اللّٰهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ يَنْكَأُ لَكَ عَدُوًّا أَوْ يَمْشِي لَكَ إِلَى جَنَازَةٍ (یعني اي الله خپل بنده ته شفاء ورکړي چې هغه ستا دښمن ته تکلیف ورسوي (یعني د دین د دښمنانو سره جنګ وجدال کولو سره هغه زخمي او قتل کړي) [٤] یا ستا د خوښۍ او رضا د خاطره جنازې طرف ته (یعني د جنازې د مانځه د پاره) لاړ شي. (ابوداود)

حل اللغات: - ① اشف: دَ شفانه دَ امرصیغه ده "عبدك" دې نه بیمار او ناجوړه بنده مراددی. ② يَعُودُ: عیادت اوپوښتنه کوی، ③ يَنْكَأُ: باب فتح يفتح نه دښمن وژل او عبرتناك سزا ورکولویه معنی کښې ده.

تسهیلات:

قوله: اللّٰهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ يَنْكَأُ لَكَ عَدُوًّا:

د صحت دپاره الله تعالی ته جهاد وسیله کول: - مطلب داچه حضورپاك دَ دغه مریض دَ صحت دَپاره جهاد وسیله اوذریعه جوړه کړې ده. اي الله دې بنده ته شفا ورکړه دې به ستا په لار کښې جهادکوی دَ جهاد په برکت باندې ده ته صحت ورکړې. داسړې به ستادښمنانوته سزا ورکوی زخمي کوی به ئې اوهغوی سره به جنګیږي. اوکه دَ نوبت رانغلو نوکم نه کم دَ یومسلمان جنازې ته به لاړشی یابه دَ یوشهید جنازه اوکړی. دَدې حدیث نه دَ جهاددَ عظمت اندازه لګی چه حضورپاك دې وسیلې اوذریعې جوړولوسره دَالله تعالی نه دَ قبلیدو دعا درخواست اوکړو چه که دابنده ټیك شو نودې به دَ جهاد په شان غټ کار کوی اودَ الله تعالی دَ دښمنانوسریه ښکته کوی.

[١٥٥٧] دَ بیمار تکلیف اودَ ګناهونو کفاره

١٥٥٧—(٢)[٣٥] [١] وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، «عَنْ أُمَيَّةَ: أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- عَنْ قَوْلِ اللهِ -عَزَّ وَجَلَّ- [٢]: ﴿وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللهُ﴾ [البقرة: ٢٨٤] [٣] وَعَنْ قَوْلِهِ: ﴿مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ﴾ [النساء: ١٢٣] ". [٤] فَقَالَتْ: مَا سَأَلَنِي عَنْهَا أَحَدٌ مُنْذُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٥] فَقَالَ: " هَذِهِ مُعَاتَبَةُ اللهِ الْعَبْدَ بِمَا يُصِيبُهُ مِنَ الْحُمَّى وَالنَّكْبَةِ، [٦] حَتَّى الْبِضَاعَةِ يَضَعُهَا فِي يَدِ قَمِيصِهِ، [٧] فَيَفْقِدُهَا،

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب الدعاء للمریض عند العیادة (رقم-٣١٠٧)
(٢) اخرجه الترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب: ومن سورة البقرة (رقم-٢٩٩١)

فَيَفْزَعُ لَهَا، ٨ حَتَّى إِنَّ الْعَبْدَ لَيَخْرُجُ مِنْ ذُنُوبِهِ ٩ كَمَا يَخْرُجُ التِّبْرُ الْأَحْمَرُ مِنَ الْكِيرِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت علي ابن زيد (بصري تابعي) د أميه څخه روايت كوي چې هغه د بي بي عايشي صديقي رضي الله عنها څخه د الله تعالى د دې ارشاد معنى وپوښتله ٢ **إِنْ تُبْدُوا مَا فِيْ أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللهُ** (كه تاسو هغه څيز چې ستاسو په زړونو كې دي ظاهروئ يا پټوئ الله جل جلاله به ستاسو څخه د هغې حساب اخلي) ٣ او د دې آيت معنى هم وپوښتله **وَمَنْ يَعْمَلْ سُوْءًا يُجْزَ بِهِ** (كوم سړي چې بد عمل كوي (يعني خواه صغيره گناه كوي خواه كبيره گناه) نو د هغې سزا (يعني د هغې سزا په دنيا او آخرت كې) وركول كيږي) ٤ بي بي عايشي رضي الله عنها وفرمايل چې دڅه وخت څخه ما په دې باره كې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه كړې وه دهغه وخت څخه هيڅا زما څخه د دې مسئلي په باره كې پوښتنه نه ده كړې ٥ نو حضور صلى الله عليه وسلم (زما په سوال كولو) وفرمايل چې دا (يعني محاسبه او سزا چې په دواړو آيتونه كې مذكور دي) د الله تعالى جل جلاله عتاب دي چې په هغې كې بنده د تبې او رنځ (د تكليف) په صورت كې مبتلا كيږي ٨ تر دې چې يو بنده خپل څه مال د خپل قميص په لستوڼي (يا جيب) كې ايږدي او (بيا هغه مال ورك شي چه) هغه يي پيدا نه كړي نو هغه د هغې د نه پيدا كيدو څخه غمجن كيږي (نو د دې په وجه د هغه گناه لرې كيږي او هميشه دا سلسله جاري وي چې بنده په څه تكليف او رنځ كې مبتلا وي) ٨ تر دې چې هغه بنده د خپلو گناهونو څخه داسې پاك شي لكه سره او سپين زر چه د بهټي څخه (د اور رسيدلو د وجهې څخه) صفا راوځي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① مُعَاتَبَةُ: دَ دوو دوستانو په مينځ كښې دَ محبت باوجود رټنې ته عتاب وئيلى شي. ② النَّكْبَةِ: تكليف اومصيبت اودَ حادثاتو په معنى كښې دې. ③ الْبِضَاعَةِ: معمولى سامان ته وائى. ④ بِدِ قَمِيصِهِ: دَ قميص دَ لاس نه مراد لستوڼړې دې. ⑤ فَيَفْقِدُهَا: ورک شى هغه يعنى پيدا ئې نه كړى، ⑥ فَيَفْزَعُ: أَيْ: يَحْزَنُ: هغه غمجن شى، خفه شى، ⑦ التِّبْرُ: سره او سپين زر.

تسهيلات:

قوله: يَدِ قَمِيصِهِ: پخوانئى زمانه كښې به دَ سامان كيخودودَپاره په لستوڼړى كښې جيب وو په هغې كښې به سامان كيخودې شو. بيا جيب مخامخ په سينه راغلو بيا په ترخ كښې راغلو او اوس په پرتوگ كښې هم راغلو.

د دوو آياتونو په وجه اشكال:- دې صحابى دَ دوو آياتونو باره كښې دَ حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها نه دَدې دَپاره سوال اوكړوچه دَ دغه آياتونو په مطلب كښې هغه په يو پريشانئى كښې اخته وو. لكه هغه صحابى گنړل چه په اول آيت كښې دى چه دَ زړه دَ پټوخبره به حساب كيږى نودېره گرانه ده ځكه چه دَ زړه دَخيالاتو او وسوسو نه بچ كيدل ممكن نه دى. دَ دويم آيت مطلب دادې چه دا سړې كوم عمل هم

کوي دَ هغې بدله به ورکولې شي. نو په دې سره به سړې په ورو ګناهونوکښې اخته کیدو دَ وجې نه په عذاب کښې راګیرېږی حالانکه دَ صغائر نه بچ کیدل ډیر ګران دی.

د عائشې جواب: - دَدې په جواب کښې حضرت عائشه صدیقه ﷺ اوفرمائیل چه دَ کله نه ما دَدې آیاتونو باره کښې دَ رسول الله ﷺ نه تپوس کړې وو دَهغې نه پس مانه چا دَدې باره کښې پوښتنه نه ده کړې صرف تا تپوس اوکړو. حضورپاك ماته په جواب کښې اوفرمائیل "هذه" یعنی دا محاسبه اودا سزا کوم چه په دواړو آیاتونو کښې ذکر دی په دې سره دَالله تعالی دَهغه رټنې طرف ته اشاره ده چه سړی ته دَ تبې په شکل کښې کیږی یا دَ بل څه مصیبت په صورت کښې کیږی. تردې چه دَ قمیص په لستونړی کښې که څه معمولی شان څیز کیخودې وی اوهغه پریوتو سره ورك شی او سړې په دې وجه باندې پریشانه شی نودا تول څیزونه دَ هغه زړه دَ خیالاتو او وړوکو اعمالو بدله ده. تردې چه په دې ورو سزاګانو سره سړې دَ ګناهونونه داسې پاك شی اوپړقیږی لکه چه سره زر دَ بهټئی نه پاك او صفا راؤځی.

[۱۵۵۸] د تکلیفونو اسباب

۱۵۵۸ — (¹) [۳۶] [۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] " «لَا يُصِيبُ عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا أَوْ دُونَهَا إِلَّا بِذَنْبٍ» [۳] وَمَا يَعْفُو اللَّهُ عَنْهُ أَكْثَرُ، وَقَرَأَ: [۴] ﴿وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ﴾ [الشورى: ۳۰]». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابو موسٰی ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] بنده ته چې څه معمولي ضرر رسيږي يا څه تکليف ورته رسيږي خواه هغه د دی څخه کم وي يا زيات وي دا د هغه د ګناهونو نتيجه وي [۳] او هغه ګناهونه چې الله تعالى ﷻ (بغير د سزا ورکولو) په دنيا او آخرت کې بخښي د هغه ګناهونو څخه ډير زيات وي چې په هغې هغه ته سزا ورکوي او حضور ﷺ دا آيت تلاوت کړو. [۴] ﴿وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُوا عَنْ كَثِيرٍ﴾ (او هر قسم مصيبت کوم چې تاسو ته رسيږي هغه ستاسو د لاسونو پيدا کړده دي او الله تعالى ﷻ ډير (ګناهونه يا ګنهګاران) معاف کوي) (ترمذي)

حل اللغات: - ① نَكْبَةٌ: تکليف اومصيبت اودَ حادثاتو په معنى کښې دې.

تسهيلات:

قوله: لَا يُصِيبُ عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا أَوْ دُونَهَا إِلَّا بِذَنْبٍ:

دعافيت دپاره د ګناهونو پريخودل: - يعنى کوم تکليف چه تاته رسيدلې دې داستادَ بدو اعمالو دَوجې نه دې او الله تعالى دَ ډيرو زياتو ګناهونو نه معافى کوى. لهذا که راحت او

(¹) اخرجه الترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة حم عسق (رقم-۳۲۵۲)

سکون غواړي نو د ګناهونو نه منع شه. د دي نه معلومه شوه چه ازمیښت او حادثې د ګناهونو د وجې نه راځي. لیکن کوم خلق چه په ظاهر باندې د لویو ګناهونو مرتکب کیږي نه نو که په هغوی باندې څه مصیبت راځي نو هغه د هغوی د پاره په توګه د امتحان او د درجو د اوچتیدو ذریعه وي. علماؤ لیکلي دي چه بعضې آسماني آفتونه داسې وي د کوم د پاره چه څه ظاهري سبب وي دا د انسان د خپل طرف نه د څه کوتاهو نتیجه وي.

[١٥٥٩] د صحت د عمل په بیمارۍ کښې ثواب

١٥٥٩-(١)[٤٧] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " [٢] «إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا كَانَ عَلٰى طَرِيْقَةٍ حَسَنَةٍ مِنَ الْعِبَادَةِ، [٣] ثُمَّ مَرِضَ، قِيْلَ لِلْمَلَكِ الْمُوَكَّلِ بِهٖ: [٤] اُكْتُبْ لَهٗ مِثْلَ عَمَلِهٖ إِذَا كَانَ طَلِيْقًا [٥] حَتّٰى أُطْلِقَهٗ، أَوْ أَكْفِتَهٗ إِلَيَّ» ".

ترجمه: [١] حضرت عبدالله ابن عمرو رضی الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] هر کله چې بنده د عبادت په نیکه لار وي [٣] او بیا مریض شي (او د هغه عبادت په کولو باندې قادر نه وي) نو هغه فرشتي ته چې د هغه بنده (د هغه د نیکو اعمالو په لیکلو) مقرره وي وئیل کیږي [٤] (یعني الله تعالی جل جلاله ورته فرمايي چه) د دې بنده د پاره (د هغه په اعمال نامه کې) د هغه عمل په مثل ولیکه چې هغه به د تندرستي په حالت کې کول [٥] تر دي چې زه ده ته تندرستي ورکړم (صحت ورکړم) یا دي (ځان ته) را وغواړم.

حل اللغات: - ① اَلْمُوَكَّلِ: چه مقرر ده (هغه فرشته مراد ده چه دده د نیکو لیکلو د پاره مقرر ده). ② طَلِيْقًا: طلیق او مطلق د آزاد په معنی کښې دې. یعنی کوم وخت چه داسړې د بیمارئی نه آزاد وو. ③ أُطْلِقَهٗ: د باب افعال نه د واحد متکلم صیغه ده. یعنی دې د بیمارئی نه خلاص کړه او دې آزاد کړه. ④ أَكْفِتَهٗ: همزه مفتوح ده کفت ضرب یضرب سره د راغونډولو معنی کښې دې مراد مرګ ورکول دی.

تسهیلات:

قوله: اُكْتُبْ لَهٗ مِثْلَ عَمَلِهٖ إِذَا كَانَ طَلِيْقًا:

د صحت د اعمالو ثواب په بیمارۍ کښې: - د دې قسم حدیث وړاندې ۲۲ تیر شو او د هغې توضیح هم شوې ده. مطلب دا چه د بیمار باره کښې الله تعالی د عمل نامې لیکونکو فرښتو ته حکم ورکوي چه دې بیمار به په صحت کښې عبادت کولو د هغې لیکل اوس هم جاري او ساتئی سره د دې چه هغه عمل اوس نه کیږي. دا د الله تعالی ډیر لوئی احسان دې. "اکفته" دا د ضرب یضرب نه واحد متکلم صیغه ده د یو څیز راغونډولو ته وائی مراد مرګ دې.

---

(١) اخرجه الدارمی فی السنن ٤٠٧/٢ حدیث رقم ٢٧٧٠

[١٥٦٠] په بیمارۍ کښې د صحت نیک اعمال لیکل

١٥٦٠ –(١) [٣٨] [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«إِذَا ابْتُلِيَ الْمُسْلِمُ بِبَلَاءٍ فِي جَسَدِهِ، [٣] قِيلَ لِلْمَلَكِ: اكْتُبْ لَهُ صَالِحَ عَمَلِهِ الَّذِي كَانَ يَعْمَلُ، [٤] فَإِنْ شَفَاهُ غَسَّلَهُ وَطَهَّرَهُ، [٥] وَإِنْ قَبَضَهُ غَفَرَ لَهُ وَرَحِمَهُ». " رَوَاهُمَا فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] کله چې یو مسلمان په جسماني مرض کې مبتلا کیږي [٣] نو الله تعالی جل جلاله (د هغه بنده نیکي لیکونکي) فرشتي ته فرمایي چې د ده په عمل نامه کې ته هغه نیک عمل لیکه چې ده (د دی مریضي څخه مخکې) کولو [٤] که الله تعالی جل جلاله هغه مسلمان ته شفاء ورکړي نو د هغه ګناهونه وینځي او پاکوي یې [٥] او که هغه واخلي (وفات شي) نو هغه بخښي او په هغه رحم کوي، دا دواړه روایتونه بغوي رحمه الله په شرح السنه کې نقل کړي دي.

حل اللغات:- ① بَلَاءٍ: تکلیفونه، جسماني مرضونه مراد دي.

تسهیلات:

قوله: اكْتُبْ لَهُ صَالِحَ عَمَلِهِ الَّذِي كَانَ يَعْمَلُ:

د نیک عمل په لیکلو کښې دوه اقوال:- ① ددې حدیث مبارك تشریح واضح ده (الذی کان یعمل أنه یکتب له نفس العمل) یعنی دده دپاره به نفس عمل لیکلې کیږی

② بعضې عالمانو وئیلی دی چې ثواب به لیکلې کیږی اول مطلب زیات أبلغ دې

[١٥٦١] دَ شهیدانو قسمونه

١٥٦١ –(٢) [٣٩] [١] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [٢] «الشَّهَادَةُ سَبْعٌ، سِوَى الْقَتْلِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ: [٣] الْمَطْعُونُ شَهِيدٌ، [٤] وَالْغَرِيقُ شَهِيدٌ، [٥] وَصَاحِبُ ذَاتِ الْجَنْبِ شَهِيدٌ، [٦] وَالْمَبْطُونُ شَهِيدٌ، [٧] وَصَاحِبُ الْحَرِيقِ شَهِيدٌ " [٨] وَالَّذِي يَمُوتُ تَحْتَ الْهَدْمِ شَهِيدٌ، [٩] وَالْمَرْأَةُ تَمُوتُ بِجُمْعٍ شَهِيدٌ» " رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه ابن عتیك راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] د هغه شهادت څخه علاوه چې د الله جل جلاله په لارکې وي د شهادت نور اووه قسمونه دي [٣] ① کوم سړي چې په طاعون کې مړ شي هغه شهید دي [٤] ② کوم سړي چې ډوبیدو سره مړ شو هغه شهید دي [٥] ③ کوم سړي چې په ذات الجنب (یعني نمونیا (یوزخم دي چې دانسان په اړخ کې ترغوبني لاندي پیدا کیږي) کې) مړ شو هغه شهید دي [٦] ④ کوم سړي چې د خیټي په

(١) اخرجه احمد فی المسند ١٤٨/٣

(٢) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز/باب فی فضل من مات فی الطاعون (رقم-٣١١١) والنسائی کتاب الجنائز/باب النهی عن البکاء علی المیت (رقم-١٨٤٦) ومالك فی الموطا کتاب الجنائز/باب النهی عن البکاء علی المیت (رقم-٣٦)

مريضي (يعني په دست او وباء کي) مړ شي هغه شهيد دي [٧] ⑤ کوم سړي چې سوځيدلو سره مړ شي هغه شهيد دي [٨] ⑥ کوم سړي چې د ديوال وغيره لاندي کيدو سره مړ شي هغه شهيد دي [٩] ⑦ او هغه ښځه چې د حمل په حالت کې يا پيغله وي مړه شي هغه شهيده ده، مالك ابوداود نسائي.

حل اللغات:- ① اَلْمَطْعُونُ: د طاعون مريض ته مطعون وائی په دې مرض کښې په بدن مثلاً ترخ، پنډئی اوخيټه وغيره باندې زخم پيداکيږي، او مريض پکښې مړ کيږي. ② اَلْغَرِيقُ: درياب نهر يا سمندر کښې ډوبيدو سره مړ کيدونکي. ③ ذَاتِ الْجَنْبِ: دَ نمونيه بيماریٔ ته وائی په دې سره په پوښتئ، سينه او زړه سره پولئی پيداکيږي په کوم سره چه مريض تو خيږي اوساه ئی بنديږي. ④ اَلْمَبْطُونُ: دَ خيټې په مرض لکه هيضه وغيره سره مړکيدونکی ته وائی. ⑤ اَلْحَرِيقُ: چه په اور اوسوزی او مړشی. ⑥ اَلْهَدْمِ: هغه سړې چه دَ اوچت ځایٔ نه يعنی غر يا ديوال وغيره نه راپريوځی او مړشی. ⑦ جُمْعٍ: بِمَعْنَى الْمَجْمُوعِ: دا لفظ مجموعي طرف ته اشاره کوی مرادهغه ښځه ده چه په خيټه کښې بچی سره مړه شی.

تسهيلات:

قوله: وَالْمَرْأَةُ تَمُوتُ بِجُمْعٍ شَهِيدٌ: دې نه دَ بچی پيداکيدو ټول احوال مراددی که هغه دَ پيدائش نه وړاندې حالت دَحمل کښې مړه شی یادَ بچی پيداکيدوپه وخت مړه شی اويا دَ پيدائش نه پس څلويښت ورځوکښې دننه دننه مړه شی داټول صورتونه دَ حکمی شهادت دی.

د حکمی شهيدانو شمير:- مطلب داچه حقيقی شهيدخوهغه وی چه کافرانوسره په مقابله کښې اووژلې شی ليکن دَدې نه علاوه دَ حکمی شهيدانو شميراوه دې.

[١٥٦٢] مصيبت په اندازه د مرتبې

١٥٦٢-()[٣٠] [١] وَعَنْ سَعْدٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: «سُئِلَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلَاءً؟ [٣] قَالَ: "الْأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ [٤] يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ، [٥] فَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ صُلْبًا اشْتَدَّ بَلَاؤُهُ، [٦] وَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ رِقَّةٌ هُوِّنَ عَلَيْهِ، [٧] فَمَا زَالَ كَذَلِكَ حَتَّى يَمْشِيَ عَلَى الْأَرْضِ مَا لَهُ ذَنْبٌ» " [٨] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [١] حضرت سعد رضي الله عنه فرمايي چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه [٢] چې په خلقو کې کوم سړي (د محنت او مصيبت) په زياتي سختي بلا کې مبتلا کيږي؟ [٣] حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې انبياء بيا هغه خلق چې د انبياؤ سره ډير زيات مشابه وي بيا هغه خلق چه دوی سره زيات مشابهه وی [٤] (بيا حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چه) انسان د خپل دين مطابق (په مصيبت کي) مبتلا کيږي [٥] که يو سړي په خپل دين کې سخت وي نو د هغه مصيبت هم

---

(١) اخرجه الترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الصبر علی البلاء (رقم-٢٣٩٨) وابن ماجة کتاب الفتن/باب الصبر علی البلاء (رقم-٤٠٢٣) والدارمی فی باب: فی أشد الناس بلاءً (رقم-٢٨٢٥)

سخت وي ٦ او که يو سړي په خپل دين کې نرم وي نو د هغه مصيبت هم معمولي وي ٧ [نو په خپل دين کې سخت سړي] دغه شان هميشه په مصيبت او بلا کې گرفتار وي [چې د هغې په وجه د هغه مغفرت کيږي] تر دي چې هغه په زمکه باندې په داسې حال کې گرځي چې د هغه په عمل نامه کې څه گناه نه وي، ٨ ترمذي، ابن ماجه، دارمي، امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث حسن صحيح دي.

حل اللغات:- ① بَلَاءً: تکليفونه، جسماني مرضونه مراد دی. ② الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ: أي: الْأَشْبَهُ بِهِمْ، وَالْأَعْلَى فَالْأَعْلَى رُتْبَةً وَمَنْزِلَةً، يعنی څوک چه په مرتبه کښې ددوی پشان وی يا ددوی نه په مرتبه کښې زيات وی ③ صُلْبًا: دَسختئ اومضبوطيا په معنی کښې دې چه په دين کښې مضبوط دی. ④ رِقَّةٌ: يعنی دين نرم دې ايمان کمزورې دې معيار کم دې. ⑤ هَوِّنَ: نرمی کول او آسانی ورکولو په معنی کښې دې.

تسهيلات: قوله : يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ:

مصيبت په قدر د عظمت :- دَدې حديث مطلب دادې چه په انبياء کرامو باندې دَ ټولو نه زيات مصيبتونه راځی. په هغوی کښې چه کوم يو هم په زيات اوچت مقام باند وی په هغوی باندې زيات مشقتونه راځی. چنانچه نبی کريم ﷺ دَټولو نه زيات په تکليفونو کښې وو ځکه چه دَ حضورپاك مقام ډير اوچت وو. نوحصه په قدر دَ جثه وی اودَ درجود اوچتوالی په بنياد مصيبتونه راځی. لکه څنګه چه دَ دورهٔ حديث دَ طلباء امتحان دَهغوی دَ معيار مطابق وی اودَ درجه اولی دَ طلباء امتحان دَهغوی دَ معيارمطابق وی. دغه شان دَ انبياؤ کرامونه پس دَ انبياء کرامو دَ وارثينو علماؤ، اولياؤ اوصلحاؤ معامله ده.

قوله :يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ:

د مصيبتونو په اعتبار سره نيک اونافرمان سره جدا جدا معامله :- د دنيا سزا بهر صورت د آخرت د سزا نه بهتر ده په دې وجه کوم نيکان خلق چې په څه گناه کښې اخته شي نو الله ﷻ دا خپل بندگان په د نياوی مصيبت او تکليف يا بيمارۍ وغيره کښې اخته کوی او په دې صورت کښې ورته سزا ورکوی او داسې چې د دنيا عذاب آسان دې او په دې و جه چې ددنيا وخت کم دې او په څه نه څه صورت کښې به تير شي خو هغه خلق چې مسلسل دالله ﷻ نافرماني کوی او په دې وجه دالله ﷻ په عذاب کښې گرفتاريږی او د آخرت په بدبختئ کښې اخته کيږی الله ﷻ دوئ ته په دنيا کښې سزا نه ورکوی بلکه دوئ باندې پرېږی ورسست کړی چې دوئ د آخرت په عذاب کښې گرفتار کړی کوم چې ددنيا د عذاب نه ډير زيات دردناك او شديد دې.

[١٥٦٣] د زنكدن د سختئ عدم قباحت

١٥٦٣—(¹)[٤١] [١] «وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [٢] مَا أَغْبِطُ أَحَدًا بِهَوْنِ مَوْتٍ [٣] بَعْدَ الَّذِي رَأَيْتُ مِنْ شِدَّةِ مَوْتِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي [٢] زه په هيچا د مرګ د آساني غبطه نه کوم [٣] د کله نه چي ما د رسول ﷺ د مرګ سختي ليدلي ده. (ترمذي نسايي)

حل اللغات: - ① أَغْبِطُ: دَ پسنبيدو په معنی کښې دې. ② بِهَوْنٍ: دا دَ نرمئ آسانئ او سهولت په معنی کښې دې.

تسهيلات: قوله: بَعْدَ الَّذِي رَأَيْتُ مِنْ شِدَّةِ مَوْتِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:

د زنګدن سختئ او مسلمان: - دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها دکلام مطلب دادې چه ما به مخکښې دَمرګ سختی او دَ زنکدن دَحالت تکليف دَ مسلمانانو دَپاره خراب څيز ګڼړلو خوچه کله مې دَ حضورپاك دَ زنكدن دَ حالت تکليف اوليدلو نو اوس زه دَ چا دَ مرګ په آسانئ سره نه پسنبيږم ځکه چه دا دَ درجو دَ اوچتيدو ذريعه ده.

[١٥٦٤] په زنکدن کښې د نبی علیه السلام عمل

١٥٦٤—(²)[٤٢] [١] وَعَنْهَا قَالَتْ: [٢] «رَأَيْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَهُوَ بِالْمَوْتِ، [٣] وَعِنْدَهُ قَدَحٌ فِيهِ مَاءٌ، [٤] وَهُوَ يُدْخِلُ يَدَهُ فِي الْقَدَحِ، [٥] ثُمَّ يَمْسَحُ وَجْهَهُ، ثُمَّ يَقُولُ: [٦] (اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى غَمَرَاتِ الْمَوْتِ [٧] أَوْ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي [٢] چي ما نبي کريم ﷺ وليدلو چې کوم وخت په سکرات الموت کې مبتلا وو [٣] نو يوه پياله ورسره پرته وه چې په هغې کې اوبه وې [٤] حضور ﷺ به په پياله کې خپل لاس مبارك اچولو [٥] بيا به يي په خپل مخ مبارك تيرولو او دا به يي فرمايل: [٦] اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى غَمَرَاتِ الْمَوْتِ أَوْ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ (اي الله جل جلاله د مرګ د سختي په لري کولو کې زما مدد وکړي [٧] يا د مرګ د سختي په ځاي يې د مرګ شدت فرمايلی) (ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات: - ① قَدَحٌ: غټه پيالئ، ② مُنْكَرَاتِ الْمَوْتِ: تکليفونه د مرګ، ③ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ:

تسهيلات: قوله: سَكَرَاتِ الْمَوْتِ:

په نبی کريم ﷺ د زنکدن د سختئ حکمت: - دَ سکرة جمع ده دې نه مراد دَمرګ سختی ده. رسول الله ﷺ به دَ پيالئ نه اوبه اخستو سره لوند لاس په مخ مبارك باندې ځکه رانښکلو

---

¹) اخرجه الترمذی فی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی التشدید عند الموت (رقم-٩٧٩)
²) اخرجه الترمذی فی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی التشدید عند الموت (رقم-٩٧٨) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی ذکر مرض رسول الله صلی الله علیه وسلم (رقم-١٦٢٣)

دي دپاره د سختئی د وجې نه چه په بدن مبارك كښې گرمائش پیدا شوې وو په هغې كښې كمې راشی. په رسول الله ﷺ باندې د زنكدن دا تكليف ځكه راغلو چه په دې كښې امت ته یوه نمونه ملاؤ شی چه د زنكدن تكليف یو طبعی څیز دې كه چرې په چا باندې راشی نوهغه دې د حضورپاك تكليف اوحالت یادولوسره تسلی حاصله كړی اود نااميدئی ښكارنه شی.

[١٥٦٥] دآخرت په مقابله كښې د دنيا د سزا بهتری

١٥٦٥ - (') [٤٣] [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «إِذَا أَرَادَ اللّٰهُ تَعَالَى بِعَبْدِهِ الْخَيْرَ [٣] عَجَّلَ لَهُ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا، [٤] وَإِذَا أَرَادَ اللّٰهُ بِعَبْدِهِ الشَّرَّ [٥] أَمْسَكَ عَنْهُ بِذَنْبِهِ [٦] حَتَّى يُوَافِيَهُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضی الله عنه راوي دي چې رسول اكرم ﷺ وفرمايل [٢] كله چې الله تعالى جل جلاله د خپل بنده د خير اراده كوی [٣] نو د هغه د گناهونو سزا زر په دنيا كې وركوی [٤] او كله چې د يو بنده د بدئ اراده كوی [٥] نو د هغه د گناهونو سزا مؤخركوي [٦] تر دی پوری چې د قيامت په ورځ به هغه ته د هغه د گناهونو پوره پوره سزا وركوی. (ترمذی)

حل اللغات: - ① عَجَّلَ: زر وركوی (په دنيا كښې). ② الْعُقُوبَةَ: سزاكانې، ③ يُوَافِيَهُ: پوره بدله وركوی (موافق دعمل).

تسهيلات: قوله : إِذَا أَرَادَ اللّٰهُ تَعَالَى بِعَبْدِهِ الْخَيْرَ:

گناهونه رژيدلې الله تعالى سره ملاويدل: - الله تعالى چې كوم مؤمن بنده ته يا مؤمنې بندې ته څه تكليف يا مصيبت اورسی او هغه هم په دغه تكليف كښې مړ شی يا مړۀ شی نو الله ﷻ ته به په داسې حالت كښې پيش كيږی چې دۀ گنی گناه نه ده كړې ددې نه معلومه شوه چې مصيبتونه او انسانی حالات د گناهونو كفاره دی.

د گناهونو په سزا كښې نيك اوبدسره دالله تعالى معامله: - ددنيا سزا بهر صورت د آخرت د سزا نه بهتر ده. په دې وجه كوم نيكان خلق چې په څه گناه كښې اخته شی نو الله ﷻ دا خپل بندگان په د نياوی مصيبت او تكليف يا بيماری وغيره كښې اخته كوی او په دې صورت كښې ورته سزا وركوی. او داسې چې د دنيا عذاب آسان دې. او په دې وجه چې ددنيا وخت كم دې او په څه نه څه رنگ به تير شی . خو هغه خلق چې مسلسل دالله ﷻ نافرمانی كوی الله ﷻ دوئ ته په دنيا كښې سزا نه وركوی بلكه دوئ باندې پړی ورسست كوی چې دوئ د آخرت په عذاب كښې گرفتار كړی . كوم چې ددنيا د عذاب نه ډير زيات دردناك او شديد دې.

(') اخرجه الترمذى فى كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الصبر على البلاء (رقم-٢٣٩٦)

[١٥٦٦] دَ الله تعالى په قضا راضي اوسيدل

١٥٦٦—(١)[٤٤] [١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«إِنَّ عِظَمَ الْجَزَاءِ، مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ، [٣] وَإِنَّ اللّٰهَ - عَزَّ وَجَلَّ - إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ، [٤] فَمَنْ رَضِيَ فَلَهُ الرِّضَا، [٥] وَمَنْ سَخِطَ فَلَهُ السَّخَطُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] د حضرت انس ﷛ څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي [٢] د غټو مصيبتونو اجر غټ دي [٣] او كوم قوم چې د الله تعالى ﷻ ډير خوښ وي نو هغه (قوم په مصيبتونه كې) مبتلا كوي [٤] نو څوك چې (په مصيبتونو او بلاګانو كښې راضي وي نو د هغه د پاره د الله تعالى ﷻ رضا ده [٥] او څوك چې (د مصيبتونو د ابتلاء څخه ناراضه وي) نو د هغه د پاره د الله ﷻ ناراضګي ده. (ترمذي او ابن ماجه)

حل اللغات: - ① عِظَمَ الْجَزَاءِ: أَيْ: عَظَمَةُ الْأَجْرِ وَكَثْرَةُ الثَّوَابِ، ډيرې بدلې او ثوابونه، ② عِظَمِ الْبَلَاءِ: لويې مصيبتونه، ③ السَّخَطُ: ناراضګي.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ عِظَمَ الْجَزَاءِ، مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ:

مصيبت او خوشحالى امتحان خداوندى: - په دې حديث كښې دَ مصيبت په وخت دَ انسان دَ ژوند دوه اړخونه ذكر كړې شوى دى چه الله تعالى كله دَ يوانسان نه خوشحاله شى نوهغه هم په مصيبت كښې راګيروى اوچانه چه خفه شى هغه هم په مصيبت كښې راګيروى.
په دې كښې صرف دَ اول اړخ ذكر كړې شوې دې ليكن دويم طرف ئى هم دَ مخكنى حكم نه معلوميږى. دَحديث حاصل مطلب دادې چه دَ مصيبت په وخت كه چرې بنده دَ الله تعالى په رضا باندې راضى وى نو دادَې خبرې علامت دې چه الله تعالى دَ دې بنده نه خوشحاله او راضى دې او كه دَ خفګان اظهاركوى نودادَې خبرې دليل دې چه الله تعالى دَدې بنده نه خوشحال نه دې. خلاصه دا چه دَ الله تعالى محبوب سړې په مصيبتونو كښې راګيروى اوهغه په دې باندې صبركوى اواجرحاصلوى.

[١٥٦٧] په دنياوى مصيبت سره د ګناه وينځلي كيږى

١٥٦٧—(٢)[٤٥] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«لَا يَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ أَوِ الْمُؤْمِنَةِ فِي نَفْسِهِ وَمَالِهِ وَوَلَدِهِ، [٣] حَتَّى يَلْقَى اللّٰهَ تَعَالَى وَمَا عَلَيْهِ مِنْ خَطِيئَةٍ» ". [٤] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَرَوَى مَالِكٌ نَحْوَهُ، [٥] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره ﷛ څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د مومن

(١) اخرجه ابن ماجة فى كتاب الفتن /باب الصبر على البلاء (رقم-٤٠٣١)
(٢) اخرجه الترمذى فى كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى الصبر على البلاء (رقم-٢٣٩٩)

سړي یا مومني ښځي ځان اود هغه مال او د هغه اولاد ته همیشه مصیبت او بلا رسي ٣ تر دي چې (کله) هغه (د مرګ څخه پس) د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ سره ملاقات کوي نو په هغه (یعنی د هغه په عمل نامه کي) هیڅ ګناه نه وي [ځکه چه د مصیبت او بلاء په وجه د هغه ټول ګناهونه بخښل کیږي] ، ٤ امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ دا روایت نقل کړي دي او امام مالك رَحِمَهُ اللهُ هم دغه شان روایت نقل کړي دي ٥ او امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې دا حدیث حسن صحیح دي.

تسهیلات:

قوله: حَتَّى يَلْقَى اللهَ تَعَالَى وَمَا عَلَيْهِ مِنْ خَطِيئَةٍ:

په مصیبتونو د ګناهونو رژیدل:- کوم مؤمن بنده ته یا مؤمنې بندې ته څه تکلیف یا مصیبت اورسی نو او هغه هم په دې تکلیف کښې مړ شی یا مړۀ شی نو الله ﷻ ته به په داسې حالت کښې پیش کیږی چې دۀ کنی ګناه نه ده کړې . ددې نه معلومه شوه چې مصیبتونه او انسانی حالات د ګناهونو کفاره دی.

[١٥٦٨] د بیماری په ذریعه لوئې درجات ملاویدل

١٥٦٨-()[٣٦] ١ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ خَالِدٍ السُّلَمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ " «إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا سَبَقَتْ لَهُ مِنَ اللهِ مَنْزِلَةٌ لَمْ يَبْلُغْهَا بِعَمَلِهِ، ٣ ابْتَلَاهُ اللهُ فِي جَسَدِهِ، أَوْ فِي مَالِهِ، أَوْ فِي وَلَدِهِ، ٤ ثُمَّ صَبَّرَهُ عَلَى ذَلِكَ ٥ حَتَّى يُبَلِّغَهُ الْمَنْزِلَةَ الَّتِي سَبَقَتْ لَهُ مِنَ اللهِ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ١ محمد ابن خالد سلمي د خپل پلار څخه او هغه د هغه د نیکه (یعني د خپل والد مکرم) څخه نقل کوي چې رسول ﷺ وفرمایل ٢ د بنده د پاره د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ د جانب څخه (په جنت کي) چې کومه عظیمه درجه مقدر وي او هغه د خپل عمل په ذریعه هغه نشي حاصلولي ٣ نو الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ هغه د بدن یا د مال یا د اولاد (په مصیبت کي) مبتلاء کوي ٤ او بیا هغه ته د صبر توفیق ورکوي ٥ تر دي چې هغه هغه درجي ته رسوي چې د هغه د پاره د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ د جانب څخه مقدر وي، (احمد، ابوداود)

حل اللغات:- ① مَنْزِلَةٌ: أي: الْمَرْتَبَةُ الْعُلْيَا: یعنی لویه مرتبه.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا سَبَقَتْ لَهُ مِنَ اللهِ مَنْزِلَةٌ لَمْ يَبْلُغْهَا بِعَمَلِهِ:

مصیبت د رفعې درجې سبب:- دحدیث مطلب دادې چه یوسړې د یوې اندازې مطابق نیک اعمال کوی لیکن دالله تعالی په نیز په جنت کښې دهغه دومره اوچته درجه مقررشوې وی

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب الأمراض المكفرة للذنوب (رقم-٣٠٩٠)

چه هغه دَخپلو نیکواعمالو په وجه دغه درجه نه شی حاصلولې نوالله تعالی دغه سړې په بیمارو کښې راګیر کړی دې دپاره چه هغه دَ جنت هغه اوچت مقام حاصل کړی کوم چه الله تعالی دَده دپاره دَوړاندې نه مقرر کړې دې.

[١٥٦٩] دَبوډاوالی څخه نه خلاصیدل

١٥٦٩–()[٤٧] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الشِّخِّيرِ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " [٢] «مُثِّلَ ابْنُ آدَمَ وَإِلَى جَنْبِهِ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ مَنِيَّةً، [٣] إِنْ أَخْطَأَتْهُ الْمَنَايَا وَقَعَ فِي الْهَرَمِ حَتَّى يَمُوتَ» ". [٤] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] د حضرت عبدالله ابن شخیر رضی الله عنه روایت دي چې حضور ﷺ وفرمایل [٢] ابن آدم (انسان) په داسې حال کې پیدا شوي دي چې د هغه په اړخ کې (یعني هغه ته نزدي) یو کم سل ٩٩ دهلاکت ځایونه او بلاګاني دي [٣] که هغه بلاګاني هغه ته نه رسي نو په بوډاتوب کې مبتلا کیږي تر دي چې مړ شي، [٤] ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړي دي او ویلې یې دی چې دا حدیث غریب دي.

حل اللغات: – ① مُثِّلَ: أَيْ: صُوِّرَ وَخُلِقَ: یعنی پیدا کړې شوې دې، ② جَنْبِهِ: أَيْ: بِقُرْبِهِ: دهغه په اړخ کښې یعنی هغه ته نزدې، ③ الْمَنَايَا: جَمْعُ مَنِيَّةٍ: أَيْ بَلِيَّةٌ مُهْلِكَةٌ: هلاکونکی مصیبتونه، ④ الْهَرَمِ: بوډاتوب،

قوله: عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الشِّخِّيرِ:

د راوي مختصر تعارف: – دَ دوی پوره نوم عبدالله بن الشخیر بن عوف بن کعب بن وفدان وو. دَدوی شمیر په بصریانو کښې کیدلو. دې دَنبی کریم ﷺ په خدمت کښې دَ بنی عامر قبیلې په وفد کښې حاضریدودَپاره شامل شوې وو. دَده دوه ځامن وو ① مطرف ② یزید هم دا دواړه دَده نه روایت کوی.

رویات: دَده نه شپږ روایات نقل دی. بعضې اسماء الرجال عالمانو وئیلې دی دَده نه نهه (٩) احادیث نقل دی.

تسهیلات:

قوله: وَقَعَ فِي الْهَرَمِ حَتَّى يَمُوتَ:

د مرګ څخه نه بچ کیدل: – مطلب دادې الله تعالی انسان په داسې حال کښې پیدا کړې دې چه دَ ده نه چاپیره ٩٩ هلاکونکې او تباه کونکې بلاګانې ګرځی. که چرې فرض کړه دې دَ دغه ټولو بلاګانونه بچ شو نو بوډاوالې داسې مصیبت او بلا ده چه دې نه بچ کیدل ممکن نه دی. بوډاوالې به راشی او بیا به دا سړې مړشی.

[١] اخرجه الترمذی فی کتاب القدر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٢١٥٠)

[١٥٧٠] د صحت مندو خلقو د قیامت په ورځ د بیمارئی خواهش کول

١٥٧٠-(١)[٣٨] ١ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ "«يَوَدُّ أَهْلُ الْعَافِيَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ٣ حِينَ يُعْطَى أَهْلُ الْبَلَاءِ الثَّوَابَ، ٤ لَوْ أَنَّ جُلُودَهُمْ كَانَتْ قُرِضَتْ فِي الدُّنْيَا بِالْمَقَارِيضِ» " ٥ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ حضرت جابر رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ اهلِ عافیت (یعني هغه خلق چې په دنیا کې د مصیبت او بلاګانو څخه محفوظ وو او د هغوئ ژوند په ډیر عیش او عشرت سره تیر شو) به د قیامت په ورځ دا ارزو کوي ٣ کله چې په مصیبت او بلاء کې مبتلاء خلق په زیات اجر او ثواب سره ونازول شي ٤ [دا آرزو به کوی چې] کاشکي په دنیا کې د هغوئ د بدن چمړې په قینچیانو سره کټ کړل شوي وي (چې څرنګه په مصیبت کې مبتلاء نن په دومره زیات اجر او ثواب سره نازول کیږي دغه شان به مونږ ته هم زیات ثواب حاصلیدي) ٥ امام ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړي دي او فرمایلي یي دي چې دا حدیث غریب دي.

حل اللغات:- ① أَهْلُ الْعَافِيَةِ: هغه خلق چې په دنیا کې مصیبتونو او تکلیفونو څخه محفوظ وو. ② قُرِضَتْ: دَمجهول صیغه ده. قرض دَ پرې کولو په معنی کنبې دي. ③ الْمَقَارِيضِ: دَمقراض جمع ده چه دَ قینچئی په معنی کنبې دي.

تسهیلات:

قوله: يَوَدُّ أَهْلُ الْعَافِيَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

د مصیبت ثواب په آخرت کنبې: - مطلب دادې چه کله دَ قیامت په ورځ بیمارانو خلقو ته دَ بیمارئی دَوجې نه ثواب ملاویدل شروع شی نو هغه خلق چاته چه په دنیا کنبې کله څه تکلیف او بیماری نه ده رسیدلې هغوی به خواهش کوی چه افسوس په دنیا کنبې دَ بیمارئی دَ وجې نه زمونږ څرمنې په قینچو باندې پرې کړې شوې وې دې دَپاره چه نن مونږ ته دا اجر ملاویدلو لیکن دا خواهش کول بې فائدې دی.

[١٥٧١] بیماری د عبرت سبب

١٥٧١-(٢)[٣٩] ١ وَعَنْ عَامِرٍ الرَّامِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ ذَكَرَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْأَسْقَامَ، فَقَالَ: ٣ "«إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَصَابَهُ السَّقَمُ، ثُمَّ عَافَاهُ اللّٰهُ - عَزَّ وَجَلَّ - مِنْهُ، ٤ كَانَ كَفَّارَةً لِمَا مَضَى مِنْ ذُنُوبِهِ، ٥ وَمَوْعِظَةً لَهُ فِيمَا يَسْتَقْبِلُ ٦ وَإِنَّ الْمُنَافِقَ إِذَا مَرِضَ ثُمَّ أُعْفِيَ، ٧ كَانَ كَالْبَعِيرِ إِذَا عَقَلَهُ أَهْلُهُ ثُمَّ أَرْسَلُوهُ، ٨ فَلَمْ يَدْرِ لِمَ عَقَلُوهُ، وَلِمَ أَرْسَلُوهُ" ٩ فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، وَمَا الْأَسْقَامُ؟ ١٠ وَاللّٰهِ مَا مَرِضْتُ قَطُّ. ١١ فَقَالَ: "قُمْ

(١) اخرجه الترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٢٤٠٢)
(٢) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب الأمراض المکفرة للذنوب (رقم-٣٠٨٩)

عَنَّا فَلَسْتَ مِنَّا»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:[١] عامر رامي ﷺ وايي [٢] چې رسول الله ﷺ د بعضو مرضونو ذکر اوفرمايلو نو وېې فرمائيل:[٣] مومن چې کله په مريضي کې مبتلاء شي اوبيا الله تعالیٰ ﷻ د هغه مريضي څخه نجات ورکړي [٤] نوهغه مرض (نه يواځې دا چه) دهغه د تيرو ګناهونو کفاره شي [٥] (بلکه) د آينده زماني دپاره د نصحيت (هم) باعث شي[يعنی مرض هغه متنبه کوي يعنې خبرداره کوي يي نو هغه آينده ګناهونوڅخه بچ کيږي][٦] او کله چې منافق مريض شي او بيا د هغه مريضی څخه نجات ورکول شي [٧] نو د هغه مثال د هغه اوښ په شان وي چې هغه مالك تړلي وي او بيا يي پريږدي [٨] نو اوښ په دي نه پوهيږي چې مالك هغه ولې تړلی وو او ولې يي پريخودو؟[٩] (د دی په اوريدو سره) يو سړي عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ مرض څه څيز ده؟[١٠] زه خو هيڅکله نه يم مريض شوي؟[١١] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې زمونږ څخه پاسه ځکه چې ته زمونږ څخه نه يي. (ابواؤد)

حل اللغات:- ①الْأَسْقَامَ: أَيِ: الْأَمْرَاضَ، مرضونه، ②السَّقَمُ:مرض، بيماری، ③عَافَاهُ: محفوظ ئې کړی، ④كَفَّارَةً: مـا يستغفربـه الآثـم: څه سره چه ګناهونه معـاف کيـږی هغې تـه وائی لکه صدقه وغيره، ⑤الْبَعِيرِ: اوښ، ⑥عَقَلَهُ: أَيْ:شَدُّوهُ وَقَيَّدُوهُ: يعنی اوئې تړی.

تسهيلات:

قوله: ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-الْأَسْقَامَ:

د بيمارۍ اثر په مومن او منافق:-دَ دې حديث مطلب دادې چه دَ حضورپاك دَ ارشاد مبارك خلاصه داده يوه ورځ رسول پاك ﷺ دَ بيمارو تذكره اوكړه اودَ مؤمن اومنافق بيماری اوبيا دَ صحت مندكيدو ذكرئی اوفرمائيلو چه دَ مؤمن بيماری دَ هغه دَ تيرو شوو ګناهونوكفاره وی اودَ بيادپاره دَ عبـرت اونـصيحت سبب جـوړيږی اوهغـه توبـه اواستـغفاركوی. خوچـه منافق كله بيماری اوبيا صحت مندشی نوهغه دَ دغه بيمارئی نه هيڅ عبرت نه حاصلوی بلكه دَ يوځناور يعنی اوښ په شان وی چه هغـه مالك اوتړلو نوولې؟ اوچـه خـلاص ئـی كـړو نوولې؟ منـافق نه توبـه كـوی اونـه عبرت حاصلوی اونـه استغفار كـوی. دَ حضورپاك پـه مجلس كنبې يوسړی تپوس اوكړو يارسول الله ﷺ دا بيماری څه څيزوی؟ زه خوكلـه هم بيمارشوې نه يم. حضورپاك اوفرمائيل زمونږ نه لاړشه ځكه چه تـه دَ مصيبتونو او آفتونو په اعتبارسره زمونږ په طريقه نه ئی يعنی سره دَدې چه باقی په اسلام باندې قائم ئی كافرنه ئی ليكن په دې خاص شعبه كنبې دَ مسلمانانو په طريقه نه ئی ځكه چه مسلمان پـه آفتونو اوبلاګانوكنبې راګيروی. [الكاشف: ٣/٣٢٦.]

[١٥٧٢] دَ پوښتنې په وخت بیمارته تسلي ورکول

١٥٧٢–()[٥٠][١]وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢]"«إِذَا دَخَلْتُمْ عَلَى الْمَرِيضِ فَنَفِّسُوا لَهُ فِي أَجَلِهِ،[٣]فَإِنَّ ذَلِكَ لَا يَرُدُّ شَيْئًا، وَيَطِيبُ بِنَفْسِهِ»". [٤]رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه:[١] حضرت ابو سعید رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل[٢] کله چې تاسو مریض ته (د هغه د حال د پوښتلو د پاره) ورشئ نو د هغه د زندګی په باره کې د هغه غم لري کړئ (یعني تسلي او تشفي ورکړئ چې فکر او غم مه کوه ته به ډیر زر صحت یاب شي او ستا عمر به اوږدوي)[٣] ځکه چې دا (تسلي او تشفي اګر که) یو څیز ته (یعني د مقدر لیك ته)تال نشي ورکولي (وروسته کولي نشي) خود مریض زړه (ضرور) خوشحالیږي [٤].ترمذي، ابن ماجه، امام ترمذي رحمه الله فرمایلي دي چې دا حدیث غریب دي.

حل اللغات:- ① فَنَفِّسُوا:تنفیس دلته دَ غم لرې کولو او تسلئي ورکولو په معنی کښې دی.

تسهیلات: قوله : فَنَفِّسُوالَهُ فِي أَجَلِهِ:

د مریض غم غلطولو حکمت:- مطلب دا چه کله تاسو دَ یو مریض پوښتنه کوئی نودَ پوښتنې په وخت مریض ته دَ هغه دَ ژوند باره کښې تسلی ورکوئی چه ته خو بالکل تیك ئی هیڅ دَ فکر خبره نشته دې. تاته به الله تعالی ډیر زر صحت درکړی. په دې تسلئی سره دَ تقدیر فیصله نه بدلیږی لیکن مریض خوشحالیږی اوتسلئ ورکونکی هیڅ پیسې هم نه خرچ کیږی.

دَ انسان طبیعت عجیبه دې چه څه اوری دَ هغې نه څه نه څه اثر قبلوی او"من یسمع یخل" یومتل دې کله چه څه اوریدې شی نو څه نه څه په سوچ کښې پریوځی. هم دغه وجه ده چه ډاکټر او هوښیار طبیب مریض دَ خطرناك صورت حال نه نه خبروی.

نفسیاتی اثر قبلول:- دَ حضرت اشرف علی تهانوی رحمه الله متعلق یوه قصه مشهوره ده چه دَهغوی خادم دَهغوی دَ بیمارئی کیفیت دَ یو طبیب مخې ته بیان کړو. طبیب اووئیل چه دَدې کیفیت سرې تر دې وخته پورې څنګه ژوندې دې؟ دا خو سخت تشویشناك صورت حال دې. خادم راغلو او حضرت تهانوی رحمه الله ته ئی هم هغه الفاظ واؤرول. حضرت تهانوی رحمه الله ډیر پریشان شو او وئی فرمائیل چه دا طبیب بې عقله دې. دَ مریض باره کښې داسې نه دی وئیل پکار. اوس ته لاړشه او لږ شان لرې تلو نه پس واپس راشه اوماته اووایه چه طبیب وئیلی دی چه ستاسو حالت ښه دې دَ هیڅ پریشانئی ضرورت نشته دې. کله چه دَ حضرت تهانوی رحمه الله په مخکښې خادم راغلو اودا خبرې ئی اوکړې نوهغوی ترو تازه شو اوخوشحال شو. دا زیر بحث حدیث هم په دې حکمت باندې دې.

---

[١]) اخرجه الترمذی فی کتاب الطب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٢٠٨٧) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی عیادة المریض (رقم-١٤٣٨)

[١٥٧٣] د خيټې په مرض کښې مرګ د عذاب قبر څخه حفاظت

١٥٧٣–(١) [٥١] [١] وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[٢] «مَنْ قَتَلَهُ بَطْنُهُ لَمْ يُعَذَّبْ فِي قَبْرِهِ» ". [٣] رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] سليمان ابن صرد رضي الله عنه روايت کوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٢] کوم سړي چې د خيټې په مريض (مثلاً په دست او استسقاء وغيره) کې مړ شي نو هغه به د قبر د عذاب څخه خلاص وي، [٣] احمد ترمذي، او امام ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات: - ① بَطْنُهُ: بطن خيټې ته وائي دلته خيټې طرف ته د مرګ نسبت مجازی دې د خيټې امراض او تکليف مراد دي.

د راوي مختصر تعارف: د حديث د راوی نوم سليمان دپلار نوم صرد کنيت ئې ابو معرف دې د مکې دفتحې نه وړاندې مسلمان شوې وو د جاهليت په زمانه کښې د ده نوم يسار وو. نبی کريم صلى الله عليه وسلم ورته نوم بدل کړو او سليمان ئې کيخودو د اسلام راوړلو نه پس د نبی کريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې اورسيدلو.

په جنګ صفين کښې د حضرت علی رضي الله عنه په پرجوش ملګرو کښې وو. په دې جنګ کښې دوی زخمی شوی هم وو. او په کوفه کښې د حضرت حسين د حاميانو په ډله کښې وو. د حضرت حسين رضي الله عنه د راغوستلو خطونه به هم د دوی د کور نه ليکلی شو کله چه د کربلا واقعه پيښه شوه نو دوی ډير زيات خفه شو دا عجيبه اتفاق وو چه د حضرت حسين رضي الله عنه په راتلو باندې دوی د هغه مدد اونکړې شو دحضرت حسين رضي الله عنه د قتل د انتقام اخستلو دپاره ئې څلور زره کسان واخستل او د مروان بن حکم د فوځ سره اوجنګيدوتردې چه شهيد شو د دوی سر کټ کړې شوی او د مروان بن حکم ته اوليږلې شو په دغه وخت کښې د دوی عمر ٩٣ کاله وو.(٢)

د دوی نه پنځلس احاديث منقول دی بخاری او مسلم په پورتنی حديث باندې اتفاق کړې دې او په بخاری کښې د دې نه علاوه يو بل حديث دې په سنن کښې څلور روايات مذکور دی اوباقی د حديثو په نورو کتابونو کښې ذکر دی.

تسهيلات:

قوله: وَمَنْ قَتَلَهُ بَطْنُهُ لَمْ يُعَذَّبْ فِي قَبْرِهِ

بطن ته د قتل په نسبت کښې دوه وجوهات: - ①دا دې لفظی ترجمه داده چې چا لره دهغه خيټې

---

(١) اخرجه الترمذی فی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی الشهداء من هم (رقم-١٠٦٤)

(٢) استيعاب (١١\٥٧٤)-(٢) روضة الصاحين (١١\١٨٣)- (٣) رواه ابوداود فی الأدب باب من کظم غيظاً رقم ٤١٤٧، والترمذی فی صفة القيامة باب فضل الرفق بالضعيف والوالدين والمملوک رقم ٢٤١٧، وکذا جه فی الزهد رقم،٤١٧٦، وحم، مسندالمکيين رقم،١٥٠٥٦٦) - (٤) جامع الصغير(١٢\١٧٩)_

قتل كړو حالانكه خيټه څوك نه شي قتل كولې نو مطلب به دا وي چې (أي من مات من وجع بطنه) يعنى څوك چې د خيټې د بيمارۍ په وجه مړ شي لكه اسهال استطلاق بطن وغيره ② ځيني حضراتوتوئيلي دي چې چاچې خپله خيټه د حراموا ومشتبه څيزونونه په حفاظت كښې اوساتله ګويا چې دده خيټې دې قتل كړو مطلب دادې چې هر كله ده خيټه كښې دحلال څيز اچولو كوشش اوكړو او هغه ورته كم ملاؤ شو يا ورته ملاؤ هم نشو نو ګويا چې د اولږې په وجه دده خيټې دې قتل كړو (تعليق الصبيح ج/٢ص/٢٧٠)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٥٧٤] دغيرمسلم دَ عيادت جواز

١٥٧٤ – (١)[٥٢] ١ عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «كَانَ غُلَامٌ يَهُودِيٌّ يَخْدُمُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٣ فَمَرِضَ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَعُودُهُ، ٤ فَقَعَدَ عِنْدَ رَأْسِهِ، فَقَالَ لَهُ: "أَسْلِمْ". ٥ فَنَظَرَ إِلَى أَبِيهِ وَهُوَ عِنْدَهُ، ٦ فَقَالَ: أَطِعْ أَبَا الْقَاسِمِ. فَأَسْلَمَ. ٧ فَخَرَجَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ يَقُولُ "الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَنْقَذَهُ مِنَ النَّارِ» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت انس ﷛ فرمايي ٢ چې يو يهودي هلك وو چې د حضور ﷺ خدمت به يې كولو ٣ كله چې هغه ناجوړه شو نو حضور ﷺ د هغه پوښتنې ته تشريف يوړو ٤ او د هغه سر ته نزدې كيناستلو او هغه ته يې وفرمايل چې ته مسلمان شه ٥ هلك د پلار طرف ته وكتل چې د هغه سره نزدې ناست وو ٦ پلار ورته اوويل چې د ابو القاسم (يعني د حضور ﷺ) حكم ومنه نو هغه هلك په اسلام مشرف شو ٧ بيا حضور ﷺ د دې فرمايلو سره ووتلو چې د هغه الله حمد او ثناء ده چې دې هلك ته يې (داسلام په ذريعه) د اورڅخه خلاصون وركړو. (بخاري)

حل اللغات: – ① أَطِعْ: اطاعت اوكړه، اومنه، ② أَبَا الْقَاسِمِ: دا كنيت دې حضور ﷺ، ③ أَنْقَذَهُ: أي: خَلَّصَهُ وَنَجَّاهُ: يعنى نجات ئې وركړو.

تسهيلات: قوله : فَنَظَرَ إِلَى أَبِيهِ:

د يهودي ماشوم ايمان راوړل: – دې ځوان دَ خپل پلار دَ طرف نه دَ هغوى نه دَ اجازت اخستلو په غرض سره اوكتل پلار ئې سره دَ دې چه يهودى وو مګر هغه دَ حضورپاك حقانيت پيژندلو اودَ زنكدن په حالت كښې دَ ځوئى دَ پاره دَ هغه زړه نرم شوې هم وو په دې وجه هغه دَ مسلمانيدو اجازت ځوئى ته وركړو.

د حديث فوائد: – دَ دې حديث نه يوڅو فائدې معلوميږي:

---

(١) اخرجه البخاري في كتاب الجنائز/باب إذا أسلم الصبي فمات، هل يصلى عليه، وهل يعرض على الصبي الإسلام (رقم-١٣٥٦) وابوداود كتاب الجنائز/باب في عيادة الذمي (رقم-٣٠٩٥)

① داده چه دَ پوښتنې کونکي له پکاردي چه دَ مريض سر طرف ته کيني ځکه چه حضوراکرم ﷺ کيناستو.

② داچه دَ ذمي يهودي پوښتنه کول جائز دي بلکه دَعام يهودي په پوښتنه کښې گناه نشته دې. کتاب خزانه کښې هم داسې ليکلي دي. البته دَ مجوسيانو په پوښتنه کښې دَ علماؤ اختلاف دې بعضې ورته جائز اوبعضې ناجائز وائي. دغه شان راجح دادي چه دَ فاسق دَ پوښتنې دَپاره تلوکښې هيڅ گناه نشته دې.

③ داده چه دَخپل طاقت مطابق دَ يوانسان خيرخواهي کول پکاردي. دَ ژوند په آخري لمحه کښې هدايت نصيب کيدې شي.

④ داده چه دَخدمت دَپاره څوك يهودي ساتل جائز دي په دې شرط چه څه دَ بهرنه منع کونکې خبره نه وي.

⑤ داده چه مشرانوله په خپلو کشرانو باندې زور نه دى كول پكار.

⑥ دا چه کشرانوله پکاردي چه دَمشرانونه په هره فيصله کښې دَ اجازت اخستلو کوشش اوکړي.

⑦ داده چه دَ نابالغ اسلام قبلول معتبر دی لکه چه دَ امام ابوحنيفه رحمه الله مسلك دې دَ دغه خوش قسمت هلك نوم عبدالقدوس وو.

⑧ دا چه دَ يوكافر په مسلمان كيدو باندې دَ الله تعالى شكر اداكول پكاردي.

[١٥٧٥] دَبيمارتپوس کونکی دپاره د فرښتو دعا

١٥٧٥–(١)[٥٣] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«مَنْ عَادَ مَرِيضًا نَادَى مُنَادٍ فِي السَّمَاءِ: [٣] طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ، [٤] وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلًا»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [٢] کله چې سړي د يو مريض عيادت کوي نو آواز کونکي (يعني فرشته) د آسمان څخه آواز کوي [٣] چې په دنيا او آخرت کې دې تا ته خوشحالي وي ستا تلل ښه وی(په آخرت کې يا په دنيا کې) [٤] او تا ته دې په جنت کې لويه درجه او مرتبه حاصله وي. (ابن ماجه)

حل اللغات:- ① عَادَ: پوښتنه ئې اوکړه، ② مُنَادٍ: آواز کونکې (فرشته)، ③ طِبْتَ: په دنيا او آخرت کې دې تا ته خوشحالي وی. ④ طَابَ: ښه شو، ⑤ مَمْشَاكَ: تلل ستا (کنايه ده د آخرت دلارې نه)، ⑥ تَبَوَّأْتَ: أَيْ: تَهَيَّأْتَ: تا ځان له ځائ جوړ کړو.

تسهيلات: قوله : نَادَى مُنَادٍ فِي السَّمَاءِ:

دحديث د بعضې جملووضاحت:-

① نَادَى مُنَادٍ فِي السَّمَاءِ: کله چې څوك دبيمار تپوس ته ځی نو هغه دپاره فرښتې دعا کوی.

(١) اخرجه الترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلي الله عليه وسلم /باب ما جاء فى زيارة الإخوان (رقم-٢٠٠٨) وابن ماجة كتاب الجنائز /باب ما جاء فى ثواب من عاد مريضا (رقم-١٤٤٣)

① طِبْتَ: چې په دنیا کښې او آخرت کښې خوشحالی سره پاتې شې
② وَطَابَ مَمْشَاكَ: دا کنایه ده د آخرت په منزلونو کښې د سیل کولو نه امام طیبی رحمه الله فرمائی چې په آخرت کښې د خوشحاله اوسیدو دعا ده چې لکه څنګه ته په دنیا کښې خوشحاله یې داشان په آخرت کښې خوشحاله اوسې دا ټول فضائل به هله وی چې کله په عیادت سره دالله ﷻ رضا مقصود وی دنیاوی مفاد او لالچ نه وی.

[١٥٧٦] دَ مریض باره کښې د صحت د ښه کیدو خبر ورکول

١٥٧٦ - (١)[٥٤] ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ٢ «إِنَّ عَلِيًّا خَرَجَ مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي وَجَعِهِ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ، ٣ فَقَالَ النَّاسُ: يَا أَبَا الْحَسَنِ، كَيْفَ أَصْبَحَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؟ ٤ قَالَ: أَصْبَحَ بِحَمْدِ اللّٰهِ بَارِئًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي ٢ چې کوم وخت حضور ﷺ په مرض الموت (د مرګ په مرض) کې مبتلا وو حضرت علي کرم الله وجهه چې کله د حضور ﷺ څخه پاڅیدو سره بهر تشریف راوړو ٣ نو خلقو څني پوښتنه وکړه چې اي ابو الحسن (دا د حضرت علي کرم الله وجهه کنیت وو) په حضور ﷺ باندې سحر څرنګه تیرشو ٤ هغه وفرمایل چې د الله جل جلاله شکر دي حضور ﷺ د مریضي څخه د ښه کیدونکو په شان سحر تیر کړو (یعني شکر دي چې حضور ﷺ نن ښه دي) (بخاري)

حل اللغات: - ① أَبَا الْحَسَنِ: کنیت دي دحضرت علی کرم الله وجهه، ② بَارِئًا: اسْمُ فَاعِلٍ مِنَ الْبُرْءِ، یعنی نن ډیر ښه دي.

تسهیلات: قوله: أَصْبَحَ بِحَمْدِ اللّٰهِ بَارِئًا بَارِئًا:

د حضرت علی د نبی کریم د طبیعت باره کښې خبر ورکول: - یعنی حضورپاك نن تیك دي صحت مند دې دَ بیمارئی حالت ئی ښه دې. داخبره حضرت علی هغه وخت اوخودله کوم وخت چه خلقو دَهغوی نه دَ حضورپاك دَ بیمارئی متعلق معلومات غوښتل. حضرت علی رضی الله عنه دَ خلقو حوصله راکلکه کړه چه حضورپاك تیك دي. داجمله حضرت علی رضی الله عنه دَ خپلې اندازې نه فرمائیلي اویا دَ ناامیدئی نه باوجود په توکه دَ نیك فالئی حضرت علی رضی الله عنه داسې اوفرمائیل حالانکه هم په غه ورځ دَ حضورپاك وصال شوې وو.

[١٥٧٧] د صحت په مقابله کښې په بیمارئی د صبر افضلیت

١٥٧٧ - (٢)[٥٥] ١ وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ: قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ: ٢ «أَلَا أُرِيكَ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟ قُلْتُ: بَلَى. ٣ قَالَ: هَذِهِ الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ أَتَتِ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَتْ: ٤ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، إِنِّي أُصْرَعُ، وَإِنِّي

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الاستئذان/باب المعانقة، وقول الرجل کیف أصبحت (رقم-٦٢٦٦)
[٢] اخرجه البخاری فی کتاب المرضی/باب فضل من یصرع من الریح (رقم-٥٦٥٢) ومسلم کتاب البر والصلة والآداب/باب ثواب المؤمن فیما یصیبه من مرض، أو حزن، أو نحو ذلک حتی الشوکة یشاکها (رقم) ٥٤ - (٢٥٧٦)

أَتَكَشَّفُ. فَادْعُ اللَّهَ لِي،٥ فَقَالَ: "إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ الْجَنَّةُ،٦ وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللَّهَ أَنْ يُعَافِيَكِ". فَقَالَتْ: أَصْبِرُ.٧ فَقَالَتْ: إِنِّي أَتَكَشَّفُ، فَادْعُ اللَّهَ أَنْ لَا أَتَكَشَّفَ،٨ فَدَعَا لَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ عطاء بن ابي رباح وايي چې (يوه ورځ) ابن عباس رضي الله عنهما ماته وفرمايل ٢ چې آيا زه تا ته يوه جنتي ښځه اونه ښايم؟ ما عرض وکړو هو، ضرور يي را وښايه ٣ هغه وفرمايل چې دا توره ښځه ده (بيا يي وفرمايل چې يو ځل) دا ښځه د حضور ﷺ په خدمت کې حاضره شوه او دې اوويل ٤ چې يا رسول الله ﷺ زه د ميرګي په مرض کې مبتلا يم (هر کله چې ميرګي پورته شي) نو زه يريږم چې چيرته په حالت د بيهوشي کې زما ستر خلاص نشي نو ته ﷺ د الله تعالى جل جلاله څخه زما د پاره دعا وغواړه (چې زما مريضي ختمه شي) ٥ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې که غواړې نو صبرکوه چې جنت درته حاصل شي ٦ او که غواړې نو زه درته دعا کوم چې الله تعالى جل جلاله تا ته شفاء درکړي دی ښځې عرض وکړو چې زه صبرکوم ٧ بيا يي اوويل خو زه د ستر د کولاويدو څخه يريږم ته ﷺ د الله جل جلاله څخه بس دا دعاء وغواړه چې (د مرض د شدت او د بيخودئ په حالت کې) زما ستر کولاو نه شي ٨ نو حضور ﷺ د دې د پاره دعاء وکړله. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ: توره ښځه، ددې نوم شُعَيْرَةُ، يا شُقَيْرَةُ، يا شُكَيْرَةُ، وو، او بی بی خديجې له به ئې سر ګمنزولو. ② أُصْرَعُ: د متکلم صيغه ده، صرع ميرګی ته وائي، دې مرض کښې په انسان بې هوشي راځي راغورزيږي اوپه ځان نه پوهيږي، ③ أَتَكَشَّفُ: دمتکلم صيغه ده، کشف ښکاره کيدو ته وائي يعنې بدن مې ښکاره شي.

تسهيلات: قوله: أَلَا أُرِيكَ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟:

د مذکوره ښځې نوم:- دَ هغه مبارکې بی بی نوم سعيره يا سقيره يا سکيره وه. دې به دَ حضرت خديجې رضي الله عنها کمنزه کوله. دغه ښځې ته حضورپاك دَ صبر تلقين اوکړو او په صبر کولوباندې ورته دَ جنت زيرې ورکړو.

د علاج او ترک علاج په افضليت کښې اقوال:- دَ علماؤ او صوفيانو يوه طبقه دې طرف ته تلې ده چه ترک علاج افضل دې علاج نه دی کول پکار ليکن دَ امت عام فقهاء دې طرف ته تلی دی چه علاج کول سنت او جائز دی. او واجب او لازم نه دی. اصل خبره داده چه دَ خلقو طبيعتونه او شغلونه مختلف وی. دَ بعضې طبيعتونودَپاره علاج کول بهتر دی اودَ بعضې دَپاره نه کول بهتر دی. بله خبره دا چه بعضې خلق دَ نورو دَپاره نافع وی مثلاً علماء چه دی نودَداسې خلقو دَپاره دَ بيمارئی په ځائی روغ اوجوړ اوسيدل زيات بهتر دی دې دَپاره چه دَ الله تعالى مخلوق ته نفع اورسوی. دَدې حديث نه دا هم معلومه شوه چه علاج کول جائز او مسنون دی.

دې ښځې صبر کول او بيمار پاتې کيدلو ته ترجيح ورکړه دې دَپاره چه جنت ورته ملاؤ شی

ليکن يو خبره ئې عرض کړه چه د دې مرګې دوري راتلو په وخت زه خپلې کپړې شلوم په کوم سره چه ستر ښکاره کيږي. رسول الله ﷺ د الله تعالی نه دعا اوغوښتله چنانچه هغه ښځه بيماره خو وه ليکن کپړې به ئې نه شلولې.

[١٥٧٨] د مرګ څخه وړاندې د بيمارۍ راتلو فضيلت

١٥٧٨ ـ (١) [٥٦] [١] وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ: [٢] «إِنَّ رَجُلًا جَاءَهُ الْمَوْتُ فِي زَمَنِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] فَقَالَ رَجُلٌ: هَنِيئًا لَهُ، مَاتَ وَلَمْ يُبْتَلَ بِمَرَضٍ. [٤] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "وَيْحَكَ، [٥] وَمَا يُدْرِيكَ لَوْ أَنَّ اللَّهَ ابْتَلَاهُ بِمَرَضٍ فَكَفَّرَ عَنْهُ مِنْ سَيِّئَاتِهِ» " رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا.

ترجمه: [١] يحيي ابن سعيد رحمه الله فرمايي [٢] چې د رسول كريم ﷺ په زمانه کې يو سړي اچانك مړ شو [٣] يو دويم سړي اوويل چې د ده دې مرګ مبارك وي داسې مړ شو چې په څه مرض کې مبتلاء نه شو [٤] دې اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل چې په تا افسوس دې [٥] تا ته څه معلومه ده (يعني بغير د مرض او مريضي اچانك مرګ ښه مه ګڼه) که الله تعالی جل جلاله ده ته د مرض سره مرګ ورکړې وې، نو (د مرض څخه روسته په بدله کې به يې) د ده خطاګاني معاف کړې وې، دا رويت امام مالك رحمه الله بطريق ارسال نقل کړې دې.

حل اللغات: - ① هَنِيئًا: مبارک دې وي، ② لَمْ يُبْتَلَ: مبتلا نه شو (په بيمارۍ کښې)، ③ وَيْحَكَ: په تا افسوس دې، ④ كَفَّرَ: رژولې وې، وران کړې وې (ګناهونه).

تسهيلات: قوله: وَيْحَكَ وَمَا يُدْرِيكَ:

د مذكوره جملې مطلب: - دا کلمه د ترحم ده مطلب دادې چې دده په عدم المرض باندې تعريف مه کوئی بلکه که دې بيمار وې نو دده دپاره بهتره وه ځکه چې بيمارى دده د ګناهونو کفاره جوړيږي يا د رفع درجات سبب جوړيږي.

[١٥٧٩] د صابر مريض فضيلت

١٥٧٩ ـ (٢) [٥٧] [١] وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ، وَالصُّنَابِحِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا -: [٢] أَنَّهُمَا دَخَلَا عَلَى رَجُلٍ مَرِيضٍ يَعُودَانِهِ، [٣] فَقَالَا لَهُ كَيْفَ أَصْبَحْتَ [٤] قَالَ: أَصْبَحْتُ بِنِعْمَةٍ). [٥] قَالَ شَدَّادٌ: أَبْشِرْ بِكَفَّارَاتِ السَّيِّئَاتِ، وَحَطِّ الْخَطَايَا؛ [٦] فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "«إِنَّ اللَّهَ - عَزَّ وَجَلَّ - يَقُولُ: [٧] إِذَا أَنَا ابْتَلَيْتُ عَبْدًا مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنًا، [٨] فَحَمِدَنِي عَلَى مَا ابْتَلَيْتُهُ، [٩] فَإِنَّهُ يَقُومُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ مِنَ الْخَطَايَا، [١٠] وَيَقُولُ الرَّبُّ - تَبَارَكَ وَتَعَالَى -: أَنَا قَيَّدْتُ عَبْدِي وَابْتَلَيْتُهُ، [١١] فَأَجْرُوا لَهُ مَا كُنْتُمْ تُجْرُونَ لَهُ وَهُوَ صَحِيحٌ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] د شداد بن اوس او صنابحي رضي الله عنهما په باره کې روايت دي [٢] چې دا دواړه يو مريض سړي ته ورغلل او د هغه عيادت يې وکړو [٣] دواړو د مريض څخه پوښتنه وکړه چې

---

[1] اخرجه مالک فی الموطا كتاب العين /باب ما جاء فی أجر المريض (رقم-٨)
[2] اخرجه احمد فی المسند ١٢٣/٤

تا څنګه سحر کړو؟ [په تا شپه څرنګه تیره شوه] ۴ مریض اوویل چې ما (د رضاء او تسلیم او د صبر او د شکر) په نعمت سره سحر کړو (یعني د مرض او تکلیف په وجه زه پریشانه نه یم بلکه درضاء بالتقدیر او د صبر لمن می نیولي ده چې د هغې په وجه زما زړه خوشحاله او مطمئن دي) ۵ حضرت شداد وفرمایل چې د ګناهونو د رژیدو او د خطاګانو د لرې کیدو په بشارت سره خوشحاله شه ۶ ځکه چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چې الله جل جلاله فرمایي ۷ هر کله چې زه په خپلو بنده ګانو کې یو مومن بنده (په مریضي او مصیبت کې) مبتلا کوم ۸ (او هغه بنده په دې ابتلاء دلګیر او ناخوښه نه وي بلکه) زما تعریف کوي ۹ نو هغه د مریضي د بستر څخه داسې پاك صفا پاځیږي څرنګه چې هغه په هغه ورځ د ګناهونو څخه پاك صاف وو په کومه ورځ چې د مور څخه پیدا شوي وو ۱۰ او پروردګار بزرګ وبرتر (فرشتو ته) فرمایي چې ما خپل بنده په قید کې اچولي دي او هغه مي په آزمایش کې مبتلاء کړي دي ۱۱ نو تاسو [د ده په اعمال نامه کې] هغه نیك اعمال لیکل جاري ساتئ کوم چې تاسو د ده د تندرستي په زمانه کې لیکل جاري ساتل. (احمد)

حل اللغات:- ① كَفَّارَاتٍ: رژونکې (دګناهونو). ② السَّيِّئَاتِ: ګناهونه، ③ حَطِّ: لرې کونکې، ④ الْخَطَايَا: خطاګانې چه په طاعاتو او عباداتو کښې کوم نقصان شوې وی، ⑤ ابْتَلَيْتُ: مبتلا کړم، ⑥ مَضْجَعِهِ: د ملاستې ځائ، بستره، ⑦ قَيَّدْتُ: قید کړې مې وو (په مرض کښې)، ⑧ فَأَجْرُوا: أَمْرٌ مِنَ الْإِجْرَاءِ: یعنی جاری ساتئ (نیک اعمال دده).

تسهيلات:

قوله : شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ :

د شداد بن اوس تعارف:- دا دحسان بن ثابت ﷺ ورارۀ دې عبیده بن صامت ﷺ او حضرت درداء ﷺ ددې باره کښې اوفرمائیل چې دۀ ته علم اوحکمت ورکړې شو

قوله : وَالصُّنَابِحِيِّ :

د عبدالله صنابحی مصداق:- د صنابحی نوم عبدالله دې ځینو وئیلی دی چې ابو عبدالله ئې نوم دې دلته د صنابحی نه مراد ابو عبدالله تابعی دې عبدالله صحابی مراد نه دې ددوئ نه امام مالك رحمه الله په موطا او امام نسائی رحمه الله په سنن نسائی کښې روایت کړې دې .

قوله: أَصْبَحْتُ بِنِعْمَةٍ:

بیماری نعمت خداوندی:- یعنی زه اګر چې بیمار یم خو دالله ﷻ د یاد نه غافله نه یم مصیبت کښې ګرفتار یم دمعصیت نه آزاد یم دالله ﷻ نیک بندګان په معصیت باندې مصیبت لره ترجیح ورکوی د حضرت شیخ الهند رحمه الله باره کښې راځي چې کله انګریز حکومت دې ګرفتار کړونو شکر ئې اوویستلو چې د مصیبت په وجه ګرفتار شوم د معصیت په وجه نه یم زمونږ اکابر لکه حضرت یوسف علیه السلام دعا اوکړه چې (رب السجن أحب إلى) اې الله

※ ؛ څه جيل لره په معصيت باندې ترجيح ورکوم ددې نه معلومه شوه چې درب طرفه کومه بيمارى راځي نو هغه هم نعمت دې ځکه چې دا بيمارى د مختلفو کفاراتو مجموعه ده باقي د حديث پاك حاصل دادې چې بيمارى د ګناهونو کفاره ده خو هرکله چې په دې باندې فرياد اونه کړې شى بلکه صبر اوکړې شى

[١٥٨٠] د ګناهونو د مغفرت دپاره د تکليفونو راتلل

١٥٨٠—(١)[٥٨] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] " «إِذَا كَثُرَتْ ذُنُوبُ الْعَبْدِ، [٣] وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَا يُكَفِّرُهَا مِنَ الْعَمَلِ، [٤] ابْتَلَاهُ اللَّهُ بِالْحَزَنِ لِيُكَفِّرَهَا عَنْهُ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] بي بي عايشه صديقه رضي الله عنها روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هر کله چې د يو بنده ګناهونه زيات شي [٣] او د هغه په اعمالو کې څه داسې نيك عمل نه وي چې د هغه ګناهونه لرې کړي [٤] نو الله تعالى جل جلاله هغه په غم او حزن کې مبتلا کوي چې د دې په ذريعه د هغه بنده ګناهونه لرې کړي. (احمد)

حل اللغات:- ① ذُنُوبُ: ګناهونه، ② الْحَزَنِ: پريشانۍ او غمونه، تکليفونه.

تسهيلات:

قوله: ابْتَلَاهُ اللَّهُ بِالْحَزَنِ:

په غمونو سره د ګناهونو معاف کيدل:- د کوم کس نه چې ګناهونه ډير اوشى نو الله ﷻ دده د ګناهونو د بخښنې دپاره دې په غم کښې مبتلا کړى. د طبرانى په روايت کښې دى الله ﷻ ته غمګين زړه خوښ دې. په دې وجه علماء کرام فرمائى چې په غم کښې درود او استغفار کثرت سره وائي ځکه چې غم د ګناهونو د وجې راځى. او د درود او استغفار په برکت سره ګناهونه ختميږى. هرکله چې ګناه ختمه شوه نو غم هم ختم شو.

[١٥٨١] عيادت کونکي د الله تعالى په رحمت کښې

١٥٨١—(٢)[٥٩] [١] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] " «مَنْ عَادَ مَرِيضًا، لَمْ يَزَلْ يَخُوضُ الرَّحْمَةَ حَتَّى يَجْلِسَ، [٣] فَإِذَا جَلَسَ اغْتَمَسَ فِيهَا» ". رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَحْمَدُ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هر کله چې يو سړي د يو مريض پوښتنې ته ورځي نو تر څو پورې چې هغه ناست نه وي د رحمت په درياب کې ننوزى [٣] او هر کله چې د مريض سره کيني نو د رحمت په درياب کې غوپه شي. (احمد مالك)

حل اللغات:- ① يَخُوضُ: ور ننوځى (په درياب د رحمت کښې)، ② اغْتَمَسَ: غوپه وهى.

(١) اخرجه احمد فى المسند ٦

(٢) اخرجه مالک فى الموطا کتاب العين/باب عيادة المريض والطيرة (رقم-١٧)

تسهيلات:

قوله :مَنْ عَادَ مَرِيضًا:

په عيادت سره د ګناهونو معاف کيدل :- يعنی کله چې دې د مريض د عيادت کولو دپاره ورځی نو تر کومې چې کور ته واپس نشی نو تر هغه وخت پورې رحمت دې پخپله ګيره کښې اخستې وی او د ګناهونو نه ئې پاکوی.

[١٥٨٢] د تبې د علاج دپاره نبوی نسخه

١٥٨٢—(١)[٢٠] ١ وَعَنْ ثَوْبَانَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ ٢ إِذَا أَصَابَ أَحَدَكُمُ الْحُمَّى فَإِنَّ الْحُمَّى قِطْعَةٌ مِنَ النَّارِ، ٣ فَلْيُطْفِئْهَا عَنْهُ بِالْمَاءِ، ٤ فَلْيَسْتَنْقِعْ فِي نَهْرٍ جَارٍ وَلْيَسْتَقْبِلْ جِرْيَتَهُ، ٥ فَيَقُولُ: بِسْمِ اللَّهِ، اللَّهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ، وَصَدِّقْ رَسُولَكَ. ٦ بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ، ٧ وَلْيَنْغَمِسْ فِيهِ ثَلَاثَ غَمَسَاتٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ٨ فَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِي ثَلَاثٍ فَخَمْسٍ، ٩ فَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِي خَمْسٍ فَسَبْعٍ، ١٠ فَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِي سَبْعٍ فَتِسْعٍ، ١١ فَإِنَّهَا لَا تَكَادُ تُجَاوِزُ تِسْعًا بِإِذْنِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ» " ١٢ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ حضرت ثوبان ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ هر کله چې په تاسو کې يو سړي په تبه کې مبتلا وي او تبه چونکه د اور يوه ټکړه ده ٣ نو څکه هغه په اوبو سره وژل پکار دي ٤ نو هغه سړي چې په تبه کې مبتلا دي پکار دي چې هغه په جاري نهرکي خکته شي او د اوبو بهيدلو طرف ته ودريږي ٥ او دا دعاووايي بِسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ وَصَدِّقْ رَسُولَكَ (د الله په بابرکت نامې سره زه شفاء طلب کوم اې الله خپل بنده ته شفاء ورکړي او خپل رسول يعنی د هغه قول ريښتني کړې (په دې طور چې ماته شفاء راکړې) ٦ او دا عمل دې د سحر د مانځه څخه روسته د نمرختلو څخه مخکې وکړي ٧ او تر دريو ورځو پورې دې په اوبو کې غوپه (غوټه) وهي ٨ که په دريو ورځو کې ښه نه شو نو بيا (دا عمل) دې تر پنځو ورځو پورې وکړی ٩ که په پنځو ورځو کې هم ښه نشو نو بيا دې تر اووه ورځو پورې (دا عمل) وکړي ١٠ او که په اووه ورځو کې هم ښه نه شو نو بيا دې تر نهو ورځو پورې (دا عمل) وکړي ١١ د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ په حکم سره به تبه د نهو ورځو څخه تجاوز نه کوي (يعني ددې عمل څخه روسته به تبه لاړه شي) ١٢ امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ دا روايت نقل کړي دي او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات:- ① فَلْيُطْفِئْهَا: مړه کړئ دا (ګرمائش د تبې)، ② فَلْيَسْتَنْقِعْ: استنقاء په اوبو کښې د کوزيدو په معنی کښې ده، ③ جِرْيَتَهُ: کوم طرف ته چه اوبه بهيږي، ④ غَمَسَاتٍ: دغمسة جمع ده، غوپې وهل.

تسهيلات: قوله : فَلْيُطْفِئْهَا عَنْهُ بِالْمَاءِ: يعنی تبه دَ اور ټکړه ده. په دې سره دَ بدن په ګرمائش ډيره زياته تيزی کيږی په کوم سره چه دَ د ماغو دَ رګونو شليدو خطره کيږی. په دې وجه

---

١) اخرجه الترمذی فی کتاب الطب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٠٨٤)

گرمائش دَ اوبو په ذريعه مړ کړئی.

قوله: "وَلْيَسْتَقْبِلْ" يعنی دَ اوبو تلو طرف ته دې تبې نيولې سړې اودرېږی او دغه ذکرشوې دعادې اووائی. داعمل دَ سحر دَ مونځ نه پس دَ نمر دَ راختونه مخکښې اوکړی.

قوله: وَلْيَنْغَمِسْ فِيهِ ثَلَاثَ غَمَسَاتٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: - "ثلاثه ايام" ① دَدې جملې يومطلب دادې چه دريو ورځو پورې دې روزانه درې درې غوپې لګوی

② دا احتمال هم دې چه دريو ورځو پورې روزانه يوه يوه غوپه لګوی. که چرې په دې سره ټيك نه شو نوپنځو ورځو پورې دې داعمل اوکړی که ټيك نه شو نو اووه ورځو پورې دې دا عمل اوکړی. بيا که چرې ټيك نه شو نو نهه ورځو پورې دې دا عمل اوکړی او دَ نهوو ورځو نه به ان شاء الله تبه نه زياتيږی.

تنبيه: - دلته دا خبره دَ ياد ساتلو ده چه دَتبې ډيرزيات قسمونه وی. دَهرې تبې دَپاره دا علاج نه دې. بعضې تبه کښې غسل کولوسره مرض زياتيږی اوسړې مړکيږی. دا دَ يو مخصوص تبې متعلق دا علاج خودلې شوې دې کومه چه به په حجاز کښې وه کومې ته چه صفراوی تبه وائی. دَدې دَپاره اوبو سره غسل ډير فائده مند وی. ما يوځل کراچئی کښې دَ تبې په حالت کښې غسل اوکړو. اوس لا دَ غسل نه فارغ شوې نه ووم چه تبه ختمه شوه.

د يو قسم تبې علاج په اوبو سره: - بهرحال په دې جديد دور کښې هم دَ تبې سختی په اوبوسره کمولې شی. او ماهرين ډاکټران دَ دوائی په ځائی اوبه او واوړې سره مريض دَ يخولودَپاره ويناکوی. توليه لمدولوسره په تندی او سټ باندې اينغښتلې شی او ډيره فائده ورسره کيږی. بهرحال دَ مذکوره علاج نه دَ طبيب نه معلومول پکار دی چه تبه دَ کوم قسم ده. که چرې صفراوی حجازی تبه وی نو بيا هم دغه علاج دې کوم چه ډيرکامياب دې اوکه چرې بل څه تبه وی اوپه غسل سره زياته شی نوبيا په حديث باندې ملامتيا مه کوه بلکه خپله ناپوهی او بې تدبيری ملامته کړه.

[١٥٨٣] تبې ته د کنځلو کولو ممانعت

١٥٨٣ـ(١)[٦١] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «ذُكِرَتِ الْحُمَّى عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَسَبَّهَا رَجُلٌ ;[٣] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "لَا تَسُبَّهَا [٤] فَإِنَّهَا تَنْفِي الذُّنُوبَ كَمَا تَنْفِي النَّارُ خَبَثَ الْحَدِيدِ» "رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره ﷺ فرمايي [٢] چې (يو ځل) د رسول الله ﷺ په مخکې د تبی ذکر وشو نو يو سړي هغې ته بد اوويل [٣] (په دي آوريدو سره) حضور ﷺ وفرمايل چې

(١) اخرجه ابن ماجة فی کتاب الطب /باب الحمی (رقم-٣٤٦٩)

تبې ته بد مه وایه [۴] ځکه چې تبه ګناهونه داسې لرې کوي څرنګه چې اُور د اوسپنې څخه زنګ لرې کوي. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① فَسَبَّهَا: کنځل ئې ورته اوکړل، بدرد ئې ورته اووئیل، ② تَنْفِي: لرې کوی، ③ الذُّنُوبَ: ګناهونه، ④ خَبَثَ الْحَدِيدِ: أَيْ: وَسَخَهُ. یعنی زنګ د اوسپنې.

تسهیلات:

قوله: لَاتَسُبِّيهَا فَإِنَّهَا تَنْفِي الذُّنُوبَ:

تبې ته کنځلو کولو څخه ممانعت: - مطلب دادې چې هرکله تبه ګناه لره لرې کوی نو د عقل دا تقاضا پکار ده چې شکر اوباسی ، ناشکرې دې نه کوی . مشائخ کرامو لیکلی دی چې په مصیبت او تکلیف کښې هم دې هغه شان شکر ادا کړې شی څنګه چې په نعمت او راحت باندې شکر ادا کیږی . ځکه چې کله الله ﷻ په چاباندې څه مصیبت نازلوی نو په دې مصیبت کښې هم د هغه لوې ذات څه نه څه حکمت پټ وی.

[١٥٨٤] په تبه کښې د مبتلاء کیدو غرض

١٥٨٤—(١)[٦٢][١] وَعَنْهُ قَالَ: «إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَادَ مَرِيضًا [٢] فَقَالَ: "أَبْشِرْ; فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ: [٣] هِيَ نَارِي أُسَلِّطُهَا عَلَى عَبْدِي الْمُؤْمِنِ فِي الدُّنْيَا [۴] لِتَكُونَ حَظَّهُ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [١] حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ د یو مریض عیادت وکړو (چې په تبه کې مبتلاء وو) [٢] او هغه ته یي وفرمایل چې تا ته دي زیرې وي ځکه چې الله تعالی جل جلاله فرمایي [٣] تبه زما یو اور دي زه یي په خپل بنده ځکه مسلط کوم [۴] چې تبه د هغه په حق کې د قیامت په ورځ د دوزخ د اُور بدله او حصه شي. (احمد ، ابن ماجه، بیهقي)

حل اللغات: - ① حَظَّهُ: أَيْ: نَصِيبَهُ: خپله حصه،

تسهیلات:

قوله: هِيَ نَارِي أُسَلِّطُهَا عَلَى عَبْدِي الْمُؤْمِنِ فِي الدُّنْيَا:

مطلب دادې چې په قران کریم کښې دالله ﷻ ارشاد دې (وَإِنْ مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا) یعنی تاسو کښې داسې هیڅوك نشته دې چې (دقیامت په ورځ به) دوزخ کښې داخل نشی ، لهذا مؤمن بنده په دنیا کښې کښې ددې داخلیدو نه د بچ کیدو دپاره په تبه کښې اخته کولې شی . داشان دې ددې تبې په وجه د هغه عذاب نه کوم چې به ده ته دوزخ ته په داخلیدو ورکړې کیږی بچ شی اګر چې داخلیدل به یولو دپاره وی چې پل صراط باندې به د دوز دپاسه تیریږی کوم

[1] اخرجه الترمذی فی کتاب الطب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٢٠٨٨) وابن ماجة کتاب الطب/باب الحمی (رقم-٣٤٧٠)

چې ددوزخ دپاسه جوړ شوې دې.

ددې پورتني تشريح پيش نظر د مؤمن لفظ سره د كامل لفظ لګول يكار وو ، ددې مطلب به داوي چې د حديث دمفهوم تعلق د مؤمن كامل سره دې. څكه ځيني ګناهګار مؤمنان به هم د دوزخ اوور كښې اچولې كيږي. داشان هغه مؤمن چې به دخپلو ګناهونو په وجه د دوزخ په عذاب كښې اچولې كيږي ، هغه ددې حديث د مفهوم او مصداق نه به خارج شي.

[١٥٨٥] فقيري اوبيماري دَ ګناهونو د كفارې سبب

١٥٨٥—(١)[٦٣] [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«إِنَّ الرَّبَّ - سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى - يَقُولُ: وَعِزَّتِي وَجَلَالِي، [٣] لَا أُخْرِجُ أَحَدًا مِنَ الدُّنْيَا أُرِيدُ أَنْ أَغْفِرَ لَهُ، [٤] حَتَّى أَسْتَوْفِيَ كُلَّ خَطِيئَةٍ فِي عُنُقِهِ بِسَقَمٍ فِي بَدَنِهِ، [٥] وَإِقْتَارٍ فِي رِزْقِهِ». رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [١] د انس رضي الله عنه څخه روايت دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل الله بزرګ وبرتر فرمايي [٢] چې زما دې په خپل عزت او بزرګي قسم وي [٣] كوم بنده چې زه بخښل غواړم هغه زه د دنيا څخه تر هغه وخته پورې نه اوچتوم [٤] تر څو پورې چې د هغه د هري ګناه بدله چې د هغه په ذمه وي ورنكړم د هغه بدن په مريضي كې مبتلا كولو سره [٥] او هغه د رزق په تنګي كې مبتلا سره. (رزين)

حل اللغات: - ① أَسْتَوْفِيَ: پوره بدله به وركړم (دهرې ګناه). ② عُنُقِهِ: أي فِي ذِمَّتِهِ، په څټ كښې يعنى چه دهغه په ذمه وى. ③ سَقَمٍ: بيمارى، ④ إِقْتَارٍ: أَيْ: تَضْيِيقٍ، د رزق تنګسيا ، يعنى بدنى مرضونه لوګي تندې سره به دَهغه ګناه معاف كوم.

تسهيلات:

نوټ: - د دې حديث تسهيل په بل ځائې كښې ذكر شوې ده.

[١٥٨٦] دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د زنكدن واقعه

١٥٨٦—(٢)[٦٤] [١] وَعَنْ شَقِيقٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] مَرِضَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - فَعُدْنَاهُ [٣] فَجَعَلَ يَبْكِي، فَعُوتِبَ. [٤] فَقَالَ: إِنِّي لَا أَبْكِي لِأَجْلِ الْمَرَضِ; [٥] لِأَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "«الْمَرَضُ كَفَّارَةٌ»" [٦] وَإِنَّمَا أَبْكِي لِأَنَّهُ أَصَابَنِي. عَلَى حَالِ فَتْرَةٍ، [٧] وَلَمْ يُصِبْنِي فِي حَالِ اجْتِهَادٍ [٨] لِأَنَّهُ يُكْتَبُ لِلْعَبْدِ مِنَ الْأَجْرِ إِذَا مَرِضَ مَا كَانَ يُكْتَبُ لَهُ قَبْلَ أَنْ يَمْرَضَ; [٩] فَمَنَعَهُ مِنْهُ الْمَرَضُ. رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [١] شقيق فرمايي [٢] كوم وخت چې عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه مريض شو نو مونږ خلق پوښتني ته ورغلو[٣] نو هغه په ژړا شو [خلقو دا ګمان وكړو چې هغه دمريضى د تكليف او د مريضى په وجه نه ژاړم [٥] څكه چې ما پخپله د حضور ﷺ څخه اوريدلي دي چې د ژوند سره د محبت په وجه ژاړي] نو په هغه د ناګوارئ [٤] ابن مسعود رضي الله عنه وفرمايل چې زه

(١) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ٩٨٤٥

(٢) رواه رزين

مریضی د ګناهونو د لري کولو سبب دي ٦ خو دي د پاره ژاړم چې زه د بوډاتوب په حالت کې مریضي کې مبتلا شوم ٧ د ځواني په حالت کې په مریضي کې ولي مبتلا نه شوم ٨ ځکه چې بنده مریض شی نو د هغه د مریضي په ورځو کې د هغه اعمال لیکل کیږی کوم چې د هغه د مریض کیدو څخه مخکې لیکل کیدل ٩ او اوس مریضي هغه د هغه عمل څخه منع کړی وی. (رزین)

حل اللغات:- ① فَعُوتِبَ: ملامته کړې شو. ② فَتْرَةٍ: کټ کیدو او منقطع کیدو ته وائی، یعنی ځوانی ختمه شوه او بوډاتوب شروع شو. مراد بوډاتوب دې.

تسهیلات:

قوله: فَجَعَلَ يَبْكِي:

د عبدالله بن مسعود د ژړا وجه:- حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دَبیمارئی په حالت کښې ژړل چاملامته کړوچه ته دومره لوئی سړې ئی اوبیمارئی ته ژاړې. هغوی اوفرمائیل دَ بیمارئی دَ وجې نه نه ژاړم بلکه په دې وجه ژاړم چه دَدې بیمارئی نه وړاندې زه بوډا اوکمزورې ووم نوکم عمل به مې کولو. افسوس چه زه ځوان ووم او په عبادت کښې مې ښه محنت کولو اوبیابیمار شوې ووم نودَ بیمارئی په حالت کښې به راته زیات ثواب ملاویدلو اوس به ماته کم ثواب ملاوېږی ځکه چه دَ بوډاوالی دَ وجې نه دَ صحت په حالت کښې مې زیات محنت نه دې کړې ځکه چه دَحضورپاك ارشادمبارك مطابق بیمارته دَ بیمارئی په حالت کښې هم هغه ثواب ملاوېږی کوم چه به هغه په صحت کښې کولو.

[۱۵۸۷] درې ورځې پس د مریض عیادت کول

> ۱۵۸۷-(١)[٦٥] ١ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ٢ «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَا يَعُودُ مَرِيضًا إِلَّا بَعْدَ ثَلَاثٍ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ١ انس رضي الله عنه فرمايي ٢ چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به دري ورځي وروسته د مریض پوښتنه کوله. (ابن ماجه بیهقي)

تسهیلات: قوله: إِلَّا بَعْدَ ثَلَاثٍ:

درې ورځې پس د بیمار عیادت کولو حکم:- دَدې روایت ظاهری حکم هم دغه دې چه حضورپاك به دَ یومریض پوښتنه درې ورځې پس کوله دې نه وړاندې به نه ورتللو. ترکومې چه دَ مسئلې تعلق دې نودَ عیادت حکم څه زمانې سره مقیدنه دې هروخت سړې دَ بیمار پوښتنې دَپاره تللې شی.

ترکومې چه دَحدیث تعلق دې نوعلماء وائی دا ضعیف غیرمعمول به دې. بلکه بعضې

(١) اخرجه ابن ماجة فی کتاب الجنائز /باب ما جاء فی عیادة المریض (رقم-١٤٣٧)

علماء وائی چه داحدیث موضوعی دې یعنی د ځان نه دي او په مشکوة کښې هم دغه یوحدیث موضوعی دې. "لکل جواد کبوة ولکل سیف نبوة" یعنی هرښکلي اس کله تندك خوری او ډهرې ښکلې تورې کله مخ اوړی.

[١٥٨٨] دَبیماردعا دَ فرښتو دَ دعا په شان

١٥٨٨ –(١)[٦٦] [١] وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [٢] «إِذَا دَخَلْتَ عَلَى مَرِيضٍ فَمُرْهُ يَدْعُو لَكَ، [٣] فَإِنَّ دُعَاءَهُ كَدُعَاءِ الْمَلَائِكَةِ» " رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت عمر فاروق رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] هر کله چې ته مریض ته ورشې نو هغه ته اووایه چې ستا د پاره دعاء وکړی [٣] ځکه چې د هغه دعاء د فرشتو د دُعاء په شان ده. (ابن ماجه)

تسهیلات: بیمارله پکاردی چه هغه دې هروخت دَخپل ځان دَپاره اودَخپلو رشته دارانودَپاره اودَعام مسلمانانودَپاره دعاکوی او پوښتنه کونکوله هم پکاردی چه په هغه باندې دعاکوی ځکه چه هغه دَخپلو مخصوص حالاتو په ذریعه سره فرښتوته نیزدې شوې هم دې اودَهغوی په شان شوې هم دې په دې وجه دَ هغه دعادَفرښتو په شان مقبول ده.

[١٥٨٩] مریض سره دَ شورکولو ممانعت

١٥٨٩ –(٢)[٦٧] [١] «وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: مِنَ السُّنَّةِ تَخْفِيفُ الْجُلُوسِ، [٢] وَقِلَّةُ الصَّخَبِ فِي الْعِيَادَةِ عِنْدَ الْمَرِيضِ. [٣] قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمَّا كَثُرَ لَغَطُهُمْ وَاخْتِلَافُهُمْ، قُومُوا عَنِّي». رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي چې سنت دی د مریض سره کم کیناستل [٢] او شور او غوغا نه کول د عیادت په وخت کې [٣] او د ابن عباس رضی الله عنهما روایت دي چې رسول الله ﷺ هغه وخت هر کله چې په صحابه و رضی الله عنهم کې شور او غوغا او اختلاف زیات شو وفرمایل چې زما څخه پا څئ. (رزین)

حل اللغات: - ① تَخْفِيفُ الْجُلُوسِ: کم کیناستل، ② قِلَّةُ الصَّخَبِ: شور، آواز کمول، ③ لَغَطُهُمْ: شور او غوغا، په داسې حالت څوک دچا په خبره نه پوهیږی دې اللغط وائي.

تسهیلات: قوله : مِنَ السُّنَّةِ تَخْفِيفُ الْجُلُوسِ:

بیمار سره د ناستې په باره کښې دوه صورتونه: - ① حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه پوښتنه کښې سنت طریقه داده چه مریض سره کم کیناستل پکاردی. دا هغه وخت دی کوم وخت چه مریض ته دَ تپوس کونکی نه بوج محسوس کیږی او کوروالوته تکلیف کیږی. ② که پوښتنه کونکې څوك داسې سړې وی چه بیمارته ترې سکون اوراحت حاصلیږی نو بیا دَ ډیر وخت

(١) اخرجه ابن ماجة فی کتاب الجنائز /باب ما جاء فی عیادة المریض (رقم-١٤٤١)
(٢) رواه رزین

پورې کیناستل پکاردی. "الصخب" شور شغب اوچغو ته صخب وائی. دا په هرحالت کښې ناجائز دی. حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په خپله دعوی باندې دَحدیث قرطاس نه استدلال کړې دې چه هغه وخت کوم شور شو نوحضورپاك اوفرمائیل زما نه لاړشئ. دَ حدیث قرطاس واقعه دَ مشکوة دویم جلد آخری ابواب کښې "باب النبی ﷺ" لاندې راځی بیا اوګورئ.

[١٥٩٠] په عیادت کښې داختصار مسنونیت

١٥٩٠– (١)[٦٨] [١] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«الْعِيَادَةُ فُوَاقُ نَاقَةٍ»"

ترجمه: [١] د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] د عیادت افضله مرتبه د اوښی د دوه څله د لوشلو د درمیاني وقفي په قدر ده.

١٥٩١– (٢) – [١] وَفِي رِوَايَةِ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ مُرْسَلًا: [٢] «أَفْضَلُ الْعِيَادَةِ سُرْعَةُ الْقِيَامِ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ اهـ.

ترجمه: [١] اود سعید بن مسیب د روایت چې بطریق ارسال منقول دي دا الفاظ دي چې [٢] بهترین عیادت هغه دي چې په هغې کې عیادت کونکي زر پاڅیږي. (بیهقی)

حل اللغات: – ① فَوَاقُ نَاقَةٍ: د اوښې دوه ځله د لشلو په مینځ کښې وقفې ته فواق وائي.

تسهیلات: قوله: فَوَاقُ نَاقَةٍ:

د فواق ناقه تحقیق: – دَدې جمله تشریح به ان شاء الله کتاب الجهاد کښې راځی دلته دا اوګنړئ چه دَ اوښې دَپیئو دَ راویستودَپاره چه کله سرې ورځی اودَ اوښې بچې دَهغې غولانزې ته ورپریږدی نواوښه دَخپل بچی دَپاره پیئی راپریږدی خوانسان کوم چه چالاك دې هغه ورشی اودَ اوښې بچې جدا کړی اوپیئی راؤباسی. دَ غولانزې نه راوتلی پیئی واپس تینوته نه شی تللې خواوښه نور پیئی بندکړی دې دَپاره چه پیئی دَهغې بچی ته ملاؤشی. انسان دَاوښې نه زیات چالاك دې دې بیادَاوښې بچې تینوته ورپریږدی اوښه بیا دَ بچی دَپاره پیئی راپریږدی ولې انسان بیاورشی اوپیئی ترې راوباسی. دغه شان دوه یا درې ځل داعمل کیږی. دَپیئوراویستو اودَ بچی پریخودو مینځ کښې چه کومه وقفه ده هم دَهغې وقفې نوم فواق ناقه دې. دا مختصر وخت دې په دې وجه دَقیامت دَ شپیلئی باره کښې دَالله تعالی ارشاد دې ﴿ وَمَا لَهَا مِنْ فَوَاقٍ ﴾ یعنی دَ فواق په اندازه وقفه به هم نه وی.

[١٥٩١] دبیمار د خواهش پوره کول

١٥٩٢– (٣)[٦٩] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَادَ رَجُلًا [٢] فَقَالَ لَهُ: مَا تَشْتَهِي قَالَ أَشْتَهِي خُبْزَ بُرٍّ. [٣] قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "مَنْ كَانَ عِنْدَهُ خُبْزُ بُرٍّ فَلْيَبْعَثْ إِلَى أَخِيهِ [٤] ثُمَّ قَالَ

---

(١) اخرجه البهیقی فی شعب الایمان حدیث رقم ٩٢٢٢
(٢) اخرجه البهیقی فی شعب الایمان حدیث رقم ٩٢٢١
(٣) اخرجه ابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی عیادة المریض (رقم-١٤٣٩)

النَّبِيُّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "إِذَا اشْتَهَى مَرِيضُ أَحَدِكُمْ شَيْئًا فَلْيُطْعِمْهُ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې نبي کريم ﷺ د يو سړي عيادت وکړو [۲] بيا يې ترې نه پوښتنه وکړه چې زړه دې کوم شي خوړل غواړي؟ هغه اوويل د غنمو روټۍ. ته مې زړه کيږي [۳] حضور ﷺ وفرمايل چې د چا سره چې د غنمو روټۍ وي هغه ته پکار دي چې خپل ورور (يعني دې مريض) ته يې راوليږي [۴] بيا حضور ﷺ وفرمايل چې هر کله چې په تاسو کښې څوک مريض شي او د يو شي خواهش اوکړي نو هغه څيز پرې خوړل پکار دي. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① خُبْز: روټۍ، ② بُرّ: غنم.

تسهیلات:

قوله: إِذَا اشْتَهَى مَرِيضُ أَحَدِكُمْ شَيْئًا فَلْيُطْعِمْهُ:

يعنی يوسړې سخت بيماردې اودډيرې مودې نه دَ پرهيزژوند تيره وی. ده دَ څه څيزدَ خوړلوسخته تمنا شوه او په کامله اشتهاء سره دَدغه څيزمطالبه کوی نوپه دې حديث کښې خودلې شی چه په هغه باندې دغه څيزاوخورئی اودَ هغه دَ پرهيزپرواه مه کوئی.

اعتراض: - دلته داسوال پيداکيږی چه دَ طب دَ اصولوقاعده خوداده چه دَ بيماردَپاره پرهيزډيرضروری دې اوبعضې وخت دَ مريض دَ خواهش مطابق څه ورکولوسره هغه ته نقصان هم کيږی حالانکه دَحديث نه اجازت ثابتيږی؟

جوابونه: - ① علماء کرامودَ دې سوال داجواب ورکړې دې کله چه دَبيمارطلب صادق وی اودَخواهش مطابق لږ شان څيز ورکړې شی نوعموماً هغه دَمريض دَپاره نقصانی نه وی بلکه فائده مندثابتيږی. داحديث څه عام ضابطه نه ښائی او نه عام حکم ورکوی بلکه دَدې حکم په جزوی او انفرادی توګه باندې دې. لهذا مريض دَپاره بدپرهيزئی معامله نه دی کول پکار. اګرچه بعضې وخت دغه بدپرهيزئی سره دَ بيمار بيماری ختميږی.

يو حکايت: - مولانا فضل محمد صاحب فرمائی. ماپخپله يوځل دَدې تجربه اوکړه. هغه داسې چه زمونږ يوخپلوان بيمارشو. ما چه کله دَهغه پوښتنه اوکړه نوهغه بالکل دَ ژوندپه آخری مرحله کښې وو اوفريادکولوسره دَ څکلودَپاره لسی غوښتله. مادَ ده کور والوته اوونيل چه داسړې خوهسې هم مری نودَ ده خواهش پوره کړئی اوده باندې لسی اوڅکئی. دَ کورخلقو په بيمار باندې ښه لسی اوڅکله ځنګه چه هغه لسی اوڅکله دَ بيمارئی نه ښه شو اودَ ډيروکالونوپورې ژوندې وو. آخره کښې بيا مرګ حاضری اولګوله او هغه ئی يوړو. معلومه شوه چه زير بحث حديث بعضې جزئی احوالوسره متعلق دې.

② علامه طيبی رحمه الله دا جواب ورکړې دې چه داحديث دَهغه سړی متعلق دې دَ چادَ ژوندنه چه ټول خلق نااميده شوی وی اوهغه پخپله هم نااميده شوې وی. نودَداسې سړی دَ پرهيز

هيڅ ضرورت نشته دي. دهغه د خواهش والاخيز په هغه خوروني اوڅکوئی دي دپاره چه هغه په خپل ژوند کښې خپل ارمان پوره کړی مخکښې الله مالك دي. [الكاشف: ٣/٣٣٥]

[١٥٩٣] دَسفرپه حالت کښې دَمرګ راتللوفضيلت

١٥٩٣ — (¹)[٧٠] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: [٢] «تُوُفِّيَ رَجُلٌ بِالْمَدِينَةِ مِمَّنْ وُلِدَ بِهَا ; فَصَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] فَقَالَ: يَا لَيْتَهُ مَاتَ بِغَيْرِ مَوْلِدِهِ. [٤] قَالُوا: وَلِمَ ذَاكَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ [٥] قَالَ: " إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا مَاتَ بِغَيْرِ مَوْلِدِهِ [٦] قِيسَ لَهُ مِنْ مَوْلِدِهِ إِلَى مُنْقَطَعِ أَثَرِهِ فِي الْجَنَّةِ» ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] عبدالله ابن عمرو ﷺ فرمايي [٢] چې يو سړي په مدينه کښې وفات شو چې په مدينه کښې پيدا شوي وو نبی کريم ﷺ د هغه د جنازي مونځ ورکړو [٣] بيا يي وفرمايل آرمان چې دا سړي د خپل پيدا کيدو د ځاي څخه علاوه په يو بل ځاي کښې مړ شوي وي [٤] صحابۇ ﷺ عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ دا ولي؟ [٥] حضور ﷺ وفرمايل کوم سړي چې د خپل وطن څخه علاوه په يو بل ځاي کښې مري [٦] نو د هغه د وطن څخه د هغه د مړکيدو تر مقام پورې د هغه د پاره په جنت کې پيمايش کيږي. (نسايي ابن ماجه)

حل اللغات: - ① يَالَيْتَهُ: هاځ افسوس، ② قِيسَ: پيمائش کيږی، ③ إِلَى مُنْقَطَعِ أَثَرِهِ: أَي إِلَى مَوْضِعِ قَطْعِ أَجَلِهِ، د مړکيدو مقام پورې،

تسهيلات: قوله : يَالَيْتَهُ مَاتَ بِغَيْرِ مَوْلِدِهِ:

دسفر د مرګ فضيلت: - يعنی افسوس چه داسړې دَخپل پيدائش دَ ځائی نه علاوه چرته دَ سفر په ځائی کښې مړشوي وې. صحابه کرامو تپوس اوکړو يارسول الله! په دې کښې څه فائده اوحکمت دي؟ حضورپاك اوفرمائيل کوم سړې چه دَ وطن نه لرې دَ سفرپه حالت کښې مړکيږی نودَهغه دَ وطن اوکور نه واخله دَهغه دَ مرګ دَ ځائی پورې دَ زمکې ناپ کولې شی او په جنت کښې هم دومره زمکه هغه ته ملاويږی. دَ سفرپه حالت کښې دَ مرګ خفګان ډير سخت وی په دې وجه ورته دا اجر ملاويږی.

دسفرمذکورپه مصداق کښې درې اقوال: - ① چه دَدې سفرنه دَ جهاد سفرمراد دې
② دَدې څخه د علم دَ حصول سفرمراددې
③ دَدې څخه دينی سفرمراددې مثلاً دحج وغيره عباداتو، دَ ګناه اونافرمانۍ سفرمرادنه دې.

[١٥٩٤] دسفر مرګ شهادت حکمي

١٥٩٤ — (²)[٧١] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] " «مَوْتُ الْغُرْبَةِ شَهَادَةٌ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

¹) اخرجه االنسائی فی کتاب الجنائز/باب الموت بغير مولده (رقم-١٨٣٢) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فيمن مات غريبًا (رقم-١٦١٤)
²) اخرجه ابن ماجة فی کتاب الجنائز/باب ما جاء فيمن مات غريبًا (رقم-١٦١٣)

ترجمه:[١] ابن عباس رضي الله عنهما روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل[٢] د مسافرۍ د حالت مرګ شهادت دي. (ابن ماجه)

حل اللغات:- ①الْغُرْبَةِ: مسافري.

تسهیلات: قوله: مَوْتُ الْغُرْبَةِ شَهَادَةٌ:

د سفر په مرګ د شهادت اطلاق:- د مسافرت مرګ د شهادت مرګ دي. ځکه چې په دې کښې انسان تکلیفونو او پریشانو سره مخ کیږي. او د مسافرت مرګ زیات شدید وي. الحاصل د مسافرت مرګ د وطن د مرګ څخه افضل دې. ټول علماء کرام په دې باندې متفق دې چې د مدینې منورې مرګ د مکې مکرمې مرګ نه بهتر دې.

[١٥٩٥] په بیمارۍ کښې د مرګ راتلو فضیلت

١٥٩٥-(١)[٤٢] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] «مَنْ مَاتَ مَرِيضًا مَاتَ شَهِيدًا، [٣] وَوُقِيَ فِتْنَةَ الْقَبْرِ [٤] وَغُدِيَ، وَرِيحَ عَلَيْهِ بِرِزْقِهِ مِنَ الْجَنَّةِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه:[١] ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل[٢] کوم سړي چې د مرض په حالت کښې مړی هغه شهید مړي[٣] او د قبر د فتنو څخه بچ کیږي [٤] او هر سحر او ماښام هغه ته د جنت څخه رزق ورکول کیږي. (ابن ماجه بیهقي)

حل اللغات:- ①وُقِيَ: أَيْ: حُفِظَ: چه محفوظ اوساتلې شو، ②فِتْنَةَ الْقَبْرِ: أَيْ: عَذَابَهُ: یعنی د قبر عذاب، ③غُدِيَ: دَ الْغُدْوَةِ نه دې دَ سحر خوراک ته وائی. ④رِيحَ: مِنَ الرَّوَاحِ: دَ ماښام خوراک ته وائی.

تسهیلات: قوله: مَنْ مَاتَ مَرِيضًا مَاتَ شَهِيدًا:

د مشکاة د نسخې تحقیق:- دَ مشکوة په ټولو نسخو کښې لفظ هم مریض لیکلې شوې دې او بعضې نسخو کښې لفظ غریب لیکلې شوې دې. لیکن دَ صحیح نسخې مطابق لفظ "مرابطا" دې کوم چه دَ رباط نه دې. دَ یو اسلامی ملک په سرحداتو باندې څوکیداری کولو نوم رباط دې. علامه میرک رحمه الله دَمشکوة شریف دَخپلې نسخې په حاشیه کښې لیکلی دی چه "صوابه مرابطًا" یعنی صحیح لفظ مرابطا دې مریضًا نه دې. ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه دلته راوی په غلطئی سره مرابطا په ځائی مریضا لیکلې دې او بیائی دَابن ماجه حواله ورکړې ده چه هغې دَ دې حدیث تخریج کړې دې. په ډیرو احادیثو کښې راغلی دی چه مرابط ته دَ شهادت ثواب ملاویږی سره دَدې چه هغه په خپله بستره باندې مړشی.

د شهید برزخی ژوند:- یعنی شهیدانو ته چه پس دَ شهادت نه برزخی ژوند ملاویږی نو دغه مرابط ته هم ملاویږی او دې سره سره دَهغوی رزق هم جاری کیږی اودَ جنت خوراک پرې

(١) اخرجه ابن ماجة فی کتاب الجنائز /باب ما جاء فیمن مات مریضًا (رقم-١٦١٥)

کولې شي. یادلرئې دَ شهداؤ درجه دَهغوی نه اوچته ده اودَ انبیاء کرامو علیهم السلام دَ دې تولونه اوچت مقام دې. لهذادَهغوی ژوند اودَهغوی رزق به دَ تولونه اعلی وی.

[١٥٩٦] دَطاعون مرګ شهادت حکمی

١٥٩٦ –( )[٤٣]١ وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢ «يَخْتَصِمُ الشُّهَدَاءُ وَالْمُتَوَفَّوْنَ عَلَى فُرُشِهِمْ إِلَى رَبِّنَا - عَزَّ وَجَلَّ - ٣ فِي الَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنَ الطَّاعُونِ، ٤ فَيَقُولُ الشُّهَدَاءُ: إِخْوَانُنَا قُتِلُوا كَمَا قُتِلْنَا. ٥ وَيَقُولُ الْمُتَوَفَّوْنَ: إِخْوَانُنَا مَاتُوا عَلَى فُرُشِهِمْ كَمَا مِتْنَا. ٦ فَيَقُولُ رَبُّنَا: انْظُرُوا إِلَى جِرَاحِهِمْ فَإِنْ أَشْبَهَتْ جِرَاحَتُهُمْ جِرَاحَ الْمَقْتُولِينَ فَإِنَّهُمْ مِنْهُمْ وَمَعَهُمْ، ٧ فَإِذَا جِرَاحُهُمْ قَدْ أَشْبَهَتْ جِرَاحَهُمْ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت عرباض ابن ساریه رضی الله عنه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ٢ شهداء او هغه خلق چې په خپلو بسترو باندې (یعني په خپلو کورونو کښې) مري (او حقیقي شهید شوي نه وي) د خپل پروردګار بزرګ وبرتر په مخکې به جګړه کوی ٣ د هغه خلقو په معامله کښې چې طاعون ځپلی کیدو سره مړه شوي وي ٤ نو شهداء خو به دا وایي چې دا خلق (چې د طاعون په مرض مړه شوی وی) زمونږ ورونه دي (یعني زمونږ سره مشابهت لري نو دوي زمونږ په مرتبه کیدل پکار دي) ځکه چې څرنګه مونږ قتل شوي وو همدا رنګه دوي هم قتل کړل شوي وو ٥ او کوم خلق چې د خپل اهل او عیال په مینځ کې (په بستره) مړه شوي دي وایي به چې زمونږ ورونه دي (یعني زمونږ په شان دي) ځکه چې دا خلق داسې په خپله بستره مړه شوي دي څرنګه چې مونږ مړه شوي یو ٦ نو زمونږ پروردګار به فرمایي چې د دوي زخمونه دي وکتل شي که د دوي زخمونه د شهداؤ د زخمونو په شان وي نو دوي د شهداؤ څخه دي (یعني په اعتبار د ثواب د شهداؤ په مرتبه کې دي) او د هغوئ سره دي ٧ هر کله چې وکتل شي نو د هغوئ زخم به د شهداؤ د زخم په شان وي. (احمد نسایي)

حل اللغات: - ① يَخْتَصِمُ: جګړه به کوی، ② فُرُشِهِمْ: فرش بسترې ته وائی. ③ جِرَاحِهِمْ: جَمْعُ جِرَاحَةٍ بِالْكَسْرِ، زخم ته وائي.

قوله: الطَّاعُونِ:

د طاعون په مرګ مړ شوې د شهیدان سره: - دَطعن نه دې اوطعن نیزه وهلوته وائی چونکه دابیماری دَ ابلیس نیزه وهلوسره پیداکیږی په دې وجه دَدې په ماده کښې دَ طعن لفظ پریوتې دې.

() اخرجه النسائی فی کتاب الجهاد/باب مسألة الشهادة (رقم-٣١٦٤)

تسهيلات: قوله: يُتَوَفَّوْنَ مِنَ الطَّاعُونِ:

د حديث خلاصه: - دَدې حديث خلاصه داده چه دَ قيامت په ورځ به دَ الله تعالى په حضور کښې دَ طاعون نه مړه کيدونکو باره کښې شهداء او هغه خلق کوم چه په خپل کټ پوزې مړه شوی دی جګړه کوی شهداء به وائی دازمونږ ملګرې دې او زمونږ رور دې دې مونږ سره کيدل پکاردی ځکه چه زمونږ په شان دې هم قتل کړې شوې دې. په خپل مرګ مړه کيدونکی به وائی دازمونږ ملګرې دې اوزمونږ رور دې مونږ سره کيدل پکاردی ځکه چه زمونږ په شان يوبيمارئی سره داخلق په خپل مرګ مړه شوې دی. الله تعالى به فرمائی چه دَده زخمونه اوګورئی چه دَ چا په شان دی. کله چه اوکتلې شی نودَهغه زخمونه به دَ شهيدانودَزخمونوپه شان وی لهذا دې به هغوی سره وی. بهرحال کوم سړې چه په دنيا کښې دَ طاعون په بيمارئی سره مری هغه به دَ قيامت په ورځ شهداؤ سره وی.

[١٥٩٧] دَطاعون څخه دَتختيدلو مذمت

١٥٩٧–(¹)[٤٣] [١] وَعَنْ جَابِرٍ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٢] «الْفَارُّ مِنَ الطَّاعُونِ كَالْفَارِّ مِنَ الزَّحْفِ، [٣] وَالصَّابِرُ فِيهِ لَهُ أَجْرُ شَهِيدٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] حضرت جابر ﷺ روايت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [٢] د طاعون د مريضي څخه (يعني چيرته چې دا وبا خوره شي د هغه ځاي څخه) تښتيدونکي په جهاد کښې د کفارو د مقابلې څخه د تښتيدونکي په شان دي [٣] او په طاعون کښې صبرکونکي ته د شهيد ثواب حاصليږي. (احمد)

حل اللغات: - ① الْفَارُّ: تختيدونکي، ② الزَّحْفِ: الجيش الكثير: ګڼړې لښکرې يعنى جنګ.

تسهيلات: قوله: الْفَارُّ مِنَ الطَّاعُونِ:

د طاعون او جهاد څخه تختيدونکی کښې وجه د تشبيه: - علامه طيبى رحمه الله فرمائی چه دَ جهاد دَ ميدان نه تختيدونکی اودَ طاعون نه تختيدونکی په شان دَ کبيره ګناه په اعتبار سره دی يعنی څنګه چه دَ جهاد دَ ميدان نه تختيدل کبيره ګناه ده هم دغه شان دَ طاعون نه تختيدل هم کبيره ګناه ده. اوپه طاعون باندې صبر کول لکه چه دَ شهادت درجه حاصليدل دی. اوکه دَطاعون نه تختيدونکی دا عقيده لری که چرې زه دَ طاعون علاقې ته لاړم نومړبه شم اوکه لاړنه شم نو بچ به شم. دا ډيره خطرناکه عقيده ده بلکه کفرسره نيزدې ده. [الكاشف]

....

(¹) اخرجه احمد فى المسند ٣/٣٢٤

[٢] بَابُ تَمَنِّي الْمَوْتِ وَذِكْرِهِ

دَمرګ تمنا اوذهغې يادول

خلاصة الباب:-

فيه سبعة عشر حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① النهي عن تمنى الموت : ١، ٢، ٣، ١٥، ١۶، ١٧-

② محبة لقاء الله تعالى: ۴، ٨-

③ كون الموت راحة للمؤمن والتحفة له : ۵، ١١-

④ فضيلة ذكر الموت: ۶، ١٠-

⑤ حسن الظن عند الموت: ٧، ١۴-

⑥ كيفية موت المؤمن والكافر: ١٢، ١٣-

قال الله تعالى ﴿إِنْ زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَاءُ لِلَّهِ مِنْ دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ۝﴾[سورة الجمعة الايه:۶]

د مرګ د تمنا کولو حکم:- بدنى تکليفونه اولوګه تنده دَ مصيبتونو اوازميښتونو دَ وجې نه دَمرګ تمنا کول مکروه دی ځکه چه دا په غير شعوری توګه دَالله تعالى په تقديرياندې دَ نه راضى کيدوعلامت دې. اودآخرت شوق دَالله تعالى دَ ديدار خوند، دَ جنت نعمت اودَ خوښو خلقو سره ملات دَ وجې نه دَمرګ خواهش کول دکمال ايمان نښه ده کوم چه جائزده.[الکاشف:٣٣٨-٣/٣٣٧]

بل دينى ضرر او امتحان او نقصان دَ وجې نه هم دَ مرګ تمنا کول جائزدی. دَ امام شافعی رحمه الله باره کښې نقل دی چه مړکيدل په شروع کښې نه خوښول خوچه کله داتصور پيداشوچه ابنياء کرام عليهم السلام صحابه کرام رضي الله عنهم اواولياء الله اوعلماء کرام سره به ملاقات کيږی نوبياهغوی دَ مرګ تمناکوله.

د مرګ د تمنا په باره کښې يوه قاعده:- دَدې باب په احاديثوکښې يوه قاعده هم بيان کړې شوې ده هغه داچه دَ مرګ معامله دې په الله تعالى باندې پريخودې شى اووائى دې چه ياالله که چرې ستاپه علم کښې په مرګ کښې زما فائده وی نومرګ راکړې اوترکومې چه ستا په نيزپه ژوند کښې فائده ده نو په ژوند کښې مې اوساتې.

دَدې باب دويم عنوان تذکرة الموت دې. دَ مرګ يادساتلومطلب دادې چه سړې دې هروخت دَدې دَپاره تياروی اودَ مرګ په وجه چه پس دَمرګ نه کوم حالات راتلونکى دی هغه هرڅه دې هروخت مخې ته ساتى اودَ دنياژوندې داسې تير کړی چه کوم وخت هم دَ مرګ آواز

اوشي نوچه داسې ډمرګ دپاره تیارولاړوی. ډ یومسلمان ادنی درجې ډعالم دپاره دا ضروری دی چه هغه دې په هره شعبه کښې په هروخت آخرت په دنیاباندې مقدم اوساتی.

علامه شامی رحمه الله ډ مرګ تمنا سره متعلق داسې ضابطه لیکلې ده. (قال فی ردالمختار قال فی النهرویکره تمنی الموت بضرر نزله به للنهی عن ذلك فان کان لابد فلیقل اللهم احینی ماکانت الحیاة خیرالی وتوفنی ماکانت الوفاة خیرالی)

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٥٩٨] ډمرګ د تمنا ممانعت

١٥٩٨ -()[1] [١] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«لَا يَتَمَنَّى أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ) [٣] إِمَّا مُحْسِنًا فَلَعَلَّهُ أَنْ يَزْدَادَ خَيْرًا، [۴] وَإِمَّا مُسِيئًا فَلَعَلَّهُ أَنْ يَسْتَعْتِبَ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] په تاسو کښې دې هیڅوک د مرګ آرزو نه کوي [٣] ځکه که هغه [د مرګ آرزو کونکي] نیکوکار دي نو کیدي شي چې (د هغه عمر د اوږدیدو په وجه) د هغه په نیکو اعمالو کښې زیاتوالی اوشي [۴] او که بدکار دي نو کیدي شي چې هغه [توبه کولو سره او د خلقو حقوق ادا کولو سره] د الله رب العزت رضا او خوښي حاصله کړي. (بخاري)

حل اللغات: - ① مُحْسِنًا: نیک کونکي، نیکوکار، ② مُسِيئًا: بدعمله، بدکاره، ③ يَسْتَعْتِبَ: توبه کولو سره د الله رب العزت رضا او خوښي حاصله کړي.

تسهیلات: قوله: لَا يَتَمَنَّى أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ:

د مرګ تمنی نه کولو حکمت: - دا ډ نفی په صورت کښې نهی ده ډ مبالغه په توګه داسې وئیلی شوی دی. قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه دې نهی سره قید لګیدلې دې ځکه چه په څه صورتونو کښې ډمرګ ارزو کول جائز دی په څه کښې مکروه دی. علماء لیکی چه ډ مرګ خواهش نه منع کولو وجه داده چه ژوند یو نعمت دې کوم چه الله تعالی دې سړی ته ورکړې دې. ډدې نعمت ډ وجې نه دا سړې ډیر نیك اعمال سر ته رسولې شی نو ډ الله تعالی ډدې نعمت ناقدری نه دی کول پکار. لهذا ډ مرګ خواهش کول مکروه دی. په ژوند کښې ډ انسان ښائسته کیدل او صحیح کیدل ممکن دی که چرې انسان نیك وی نو په نیکئی کښې به ئی زیاتوالې اوشی اوکه چرې بد دې نو ډیره ممکن ده چه یو وخت کښې ډ هغه ډ توبې توفیق اوشی اوهغه په مکمل هدایت باندې راشی په مرګ کښې دا موقعې ډ لاس نه ځی اوهرقسم اعمال بندیږی.

---

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المرضی/باب تمنی [ص:١٢١] المریض الموت (رقم-٥٦٧٣) والنسائی کتاب الجنائز/باب تمنی الموت (رقم-١٨١٨) باب: لا یتمنی أحدکم الموت (رقم-٢٨٠٠)

قوله: فَلَعَلَّهُ أَنْ يَسْتَعْتِبَ:

د استعتاب د لفظ تحقيق: - دَ باب استفعال نه. دَعذاب په معنی کښې دې سين اوتاء سلب مأخذ دَپاره دې يعني سلب العتبى خفګان لرې کول او رضامندی حاصلول، دا هغه وخت کیدې شي چه کله الله تعالى دغه سړی ته دَ توبې کولو توفيق ورکړی اودا په ژوند کښې کيدې شي دَ مرګ نه پس نه شي کيدې لهذا دَ مرګ تمنا کول مکروه دی. دَ عتاب سره متعلق ساحر شاعر وائی:

لناعندهذاالدهرحق يلطه وقدقل اعتاب وطال عتاب

يعنى زمونږ په زمانه باندې يوحق دې دکوم نه چه هغه انکار کوی اودَ هغې مونږ راضی کول کم دی او خفه کول ډير اوږده دی.

[١٥٩٩] دَ مؤمن د ژوند اوږدوالي د خير ذريعه

١٥٩٩-(¹)[٢] [١] وَعَنْهُ قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «لَا يَتَمَنَّى أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ، [٣] وَلَا يَدْعُ بِهِ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَهُ؛ [٤] إِنَّهُ إِذَا مَاتَ انْقَطَعَ أَمَلُهُ، [٥] وَإِنَّهُ لَا يَزِيدُ الْمُؤْمِنَ عُمْرُهُ إِلَّا خَيْرًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] په تاسو کښي دي هيڅ يو سړي نه خو په زړه سره د مرګ آرزو کوي [٣] او نه دي په ژبه د مرګ دعا غواړي مخکي د دې څخه چې دهغه مرګ راشي [٤] څکه چې کله انسان مړشي نو (د خيرد زياتوالی دپاره) د هغه اُميدونه منقطع کيږی [٥] او د مومن د عمر درازي (اوږد والی) د هغه په خيرکي زياتوالی کوي. (مسلم)

حل اللغات: - ① انْقَطَعَ: کټ شی، ختم شی، ② أَمَلُهُ: أَيْ: رَجَاؤُهُ: اميدونه.

تسهيلات:

قوله: وَإِنَّهُ لَا يَزِيدُ الْمُؤْمِنَ عُمْرُهُ إِلَّا خَيْرًا

داوږد عمر فضيلت: - ظاهره خبره ده چې کله د انسان ژوند ختم شی نو د نيکی اود ښيګړې لارې هم منقطع شی. څکه که ژوند وی نو نيك اعمال به وی او کله چې نيك عملونه وی نو سعادت اوښګړې به زياتې وی، په دې وجه ئې اوفرمائيل چې کله د مؤمن بنده ژوند زيات کړې شی نو ددې په وجه دده ښګړې او سعادت کښې هم زياتوالې راځی. څکه چې مؤمن بنده په مصيبت او پريشانی باندې صبر کوی، د نعمتونو شکر ادا کوی، د الله ﷻ به تقدير باندې راضی وی او د الله ﷻ اود هغه درسول ﷺ د احکامو فرمانبرداری کوی. اوددې په وجه دده په ثواب کښې زياتوالې راځی.

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار /باب کراهة تمنی الموت لضر نزل به (رقم-١٣ - (٢٦٨٢)

[١٦٠٠] د مرګ غوښتلو په باره کښې غوره دعا

١٦٠٠-(١)[٣] [١] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«لَا يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ مِنْ ضُرٍّ أَصَابَهُ، [٣] فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ فَاعِلًا فَلْيَقُلْ: [٤] اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي، [٥] وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] په تاسو کښې دې هيڅ يو سړي (د جسماني او مالي) ضرر او تکليف په وجه چې هغه ته ورسيږي د مرګ آرزو نه کوي [٣] او که د دې قسم آرزو ضروري وي نو بيا دا دعا دې غواړي: [٤] اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي (اې الله جل جلاله ما تر هغه پورې ژوندي لرې تر څو پورې چې زما د پاره ژوند د مرګ ښخه بهتر وي [٥] او ما ته هغه وخت مرګ راکړې هر کله چې زما د پاره مرګ د ژوند ښخه بهتر وي. (بخاری مسلم)

حل اللغات: - ① لَا يَتَمَنَّيَنَّ: آرزو دې نه کوي، ② لَا بُدَّ: أَيْ: أَلْبَتَّةَ وَلَا مَحَالَةَ، که خامخا ضروری وی.

تسهيلات: قوله : لَا يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ مِنْ ضُرٍّ أَصَابَهُ:

د مرګ د تمنا ممانعت مقيد ګيدل: - دَدې حديث نه يوه خبره خودا معلومه شوه چه دَ مرګ دَ تمنا ممانعت مطلق نه دې بلکه مقيد دې. دلته "من ضر اصابه" نه دې طرف ته اشاره کړې شوې ده. دويمه خبره دَدې حديث نه دا معلومه شوه که يوسړې دَمرګ تمنا کول غواړي نو بيا دَ هغې صحيح طريقه داسې ده کومه چه په دې حديث کښې بيان کړې شوې ده. [الکاشف: ٣/٣٣٨.]

[١٦٠١] مرګ دَ الله تعالى دَ ديدار ذريعه

١٦٠١-(٢)[٤] [١] وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ أَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ، [٣] وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللهِ كَرِهَ اللهُ لِقَاءَهُ". [٤] فَقَالَتْ عَائِشَةُ أَوْ بَعْضُ أَزْوَاجِهِ: إِنَّا لَنَكْرَهُ الْمَوْتَ. [٥] قَالَ: "لَيْسَ ذٰلِكَ، وَلٰكِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا حَضَرَهُ الْمَوْتُ [٦] بُشِّرَ بِرِضْوَانِ اللهِ وَكَرَامَتِهِ، [٧] فَلَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا أَمَامَهُ [٨] فَأَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ وَأَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ، [٩] وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا حُضِرَ بُشِّرَ بِعَذَابِ اللهِ وَعُقُوبَتِهِ، [١٠] فَلَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَهَ إِلَيْهِ مِمَّا أَمَامَهُ [١١] فَكَرِهَ لِقَاءَ اللهِ، وَكَرِهَ اللهُ لِقَاءَهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

[١] اخرجه البخاری فی کتاب المرضی/باب تمنی [ص:١٢١] المريض الموت (رقم-٥٦٧١) ومسلم فی کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب كراهة تمنى الموت لضر نزل به (رقم) ١٠ - (٢٦٨٠) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی النهی عن التمنی للموت (رقم-٩٧١) وابوداود فی کتاب الجنائز/باب فی کراهية تمنی الموت (رقم-٣١٠٨) والنسائی کتاب الجنائز/باب تمنی الموت (رقم-١٨٢١) وابن ماجة کتاب الزهد/باب ذکر الموت والاستعداد له (رقم-٤٢٦٥)

[٢] اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب من أحب لقاء الله أحب الله لقاءه (رقم-٦٥٠٧) ومسلم کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب كراهة تمنى الموت لضر نزل به (رقم) ١٥ - (٢٦٨٤) والترمذی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء من أحب لقاء الله أحب الله لقاءه (رقم-٢٣٠٩) والنسائی کتاب الجنائز/فيمن أحب لقاء الله (رقم-١٨٣٨) ومالک فی الموطا کتاب الجنائز/باب جامع الجنائز (رقم-٥٠)

ترجمه: [١] عباده ابن صامت رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] كوم سړي چې د الله تعالی جل جلاله ملاقات خوښوي نو الله تعالی جل جلاله هم د هغه ملاقات خوښوي [٣] او كوم سړي چې د الله تعالی جل جلاله ملاقات نه خوښوي نو الله تعالی جل جلاله هم د هغه ملاقات نه خوښوي [۴] (په دي اوريدو سره) د مومنانو مور بي بي عايشی صديقي رضي الله عنها يا د حضور ﷺ يوي بلي بي بي عرض اوكړو چې مونږ خو مرګ نه خوښوو؟ [۵] حضور ﷺ وفرمايل چې دا مراد نه دي بلكه مراد دا دي چې كله مومن ته مرګ راځي [٦] نو د دې خبري زيري وركول شي چې الله جل جلاله د هغه څخه راضي دي او الله به د هغه اكرام كوی [٧] نو هغه د هغه ځيز څخه چې د هغه وړاندي راتلونكي دي (يعني د الله په نزد د خپل دي فضيلت او مرتبي څخه) زيات څه شي (يعني دنيا او د دنيا زيب وزينت) محبوب نه ګڼي [٨] په دې وجه مومن بنده د الله تعالی جل جلاله ملاقات خوښوي او الله تعالی جل جلاله د هغه ملاقات خوښوي [٩] او هر كله چې كافر ته مرګ راځي نو هغه ته (په قبر كښې) د الله تعالی جل جلاله د عذاب او (د دوزخ د سخت ترينی) سزا خبر وركول كيږی [١٠] نو هغه ته د هغه ځيز څخه چې د هغه مخي ته راتلونكي دي يعنی د عذاب او سزا څخه زيات يو بل هيڅ ځيز ناخوښه نه وی [١١] په دې وجه هغه د الله تعالی جل جلاله ملاقات نه خوښوي او الله جل جلاله د هغه ملاقات نه خوښوي (يعني هغه د خپل رحمت او د نعمت د زياتوالی څخه لرې ساتي) دا روايت بخاري او مسلم نقل كړي دي

حل اللغات:- ① لِقَاءَ: ملاقات، يعنی كور د آخرت تـه تلل. ② رِضْوَانِ: رضامندی، ③ أَمَامَهُ: أَيْ: قُدَّامَهُ: وړاندې راتلونكی ځيزونه.

قوله: لَيْسَ ذٰلِكَ: اي ليس الأمر كذلك دا دَ حضورپاك جواب دې. په كوم سره چه حضورپاك دَ حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها دَ سوال وضاحت بيان كړې دې.

تسهيلات: قوله: فَقَالَتْ عَائِشَةُ:

د عائشې د تپوس علت: - حضوراكرم ﷺ چه كله دا بيان اوفرمائيلو چه كوم سړې دَ الله تعالى ملاقـات خوښـوی نـو الله تعـالی هـم دَهغـه ملاقـات خوښـوی اوكـوم سـړې چـه دَ الله تعـالی ملاقات نه خوښوی نو الله تعالی هم دَ هغه ملاقات نه خوښوی.

دَدې كلام په ضمن كښې دَ مرګ تـصور پخپله راځی ځكه چه دَ الله تعـالی سره ملاقات دَ مرګ نه مخكښې ممكن نه دې. كله چه دَ الله تعالی دَملاقات په ضمن كښې دَ مرګ تصور لازم شو نواوس دهر سړی په زړه كښې يواعتراض او سوال راؤچتيږی چه مرګ په طبعی توګه باندې هرسړې ناخوښه كوی او چاچه مرګ ناخوښه كړو لكه چه هغه دَ الله تعالی ملاقات ناخوښه كړو كوم چه يوخطرناك تصور دې. حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها تـه هم دغه اشكال مخې تـه شو چه كله مونږ خپل مرګ ناخوښه كوو نو لكه چه مونږ دَ الله تعالی ملاقات ناخوښه كړو.

د نبی کریم جواب: حضورپاک دَدې جواب داسې اوفرمائیلو چه مومن کله مرګ ته نیږدې شي اودَخپل آخرت کامیابی وینی دَ جنت نعمتونه وینی نودَ هغه شوق پیدا کیږی چه مرګ ورله زر راشی دې دَپاره چه هغه دغه نعمتونوته اورسی اودَ خپل خالق اومالك دیدار اوکړی. هم په دې وجه وئیلی شوی دی "الموت تحفة المؤمن یوصل الحبیب الی الحبیب"مګر دَ مؤمن برعکس فاجر اوکافر چه کله دَمرګ په وخت دَ آخرت دَ مصیبتونو حالت ګوری، دوزخ اودَهغې عذابونه ګوری نوهغه ویریږی اودَ زړه نه مرګ ناخوښه ګنړی ځکه چه دَهغه دَپاره هم دغه مرګ دَ تولو سزاګانو پورې دَ رسیدو پل دې. په دې وجه هغه سړې دَ الله تعالی طرف ته دَ تلو او الله تعالی ته مخامخ کیدل ناخوښه کوی نوالله تعالی هم دَهغه ملاقات ناخوښه کوی.

١٦٠٢-(١)[٠] ١ وَفِي رِوَايَةِ عَائِشَةَ: ٢ «وَالْمَوْتُ قَبْلَ لِقَاءِ اللَّهِ».

ترجمه: ١ او د بي بي عايشي رضی الله عنها په روايت كښې منقول دي ٢ چې مرګ د الله تعالی جل جلاله د ملاقات څخه مخكې دي.

[١٦٠٣] دَمؤمن اوفاجر د مرګ په مخلوق باندې اثر

١٦٠٣-(٢)[٥] ١ وَعَنِ ابْنِ قَتَادَةَ: أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ: ٢ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مُرَّ عَلَيْهِ بِجِنَازَةٍ ٣ فَقَالَ: مُسْتَرِيحٌ أَوْ مُسْتَرَاحٌ مِنْهُ. ٤ فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا الْمُسْتَرِيحُ؟ وَمَا الْمُسْتَرَاحُ مِنْهُ؟ ٥ فَقَالَ: الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ يَسْتَرِيحُ مِنْ نَصَبِ الدُّنْيَا وَأَذَاهَا إِلَى رَحْمَةِ اللَّهِ، ٦ وَالْعَبْدُ الْفَاجِرُ يَسْتَرِيحُ مِنْهُ الْعِبَادُ، وَالْبِلَادُ، وَالشَّجَرُ، وَالدَّوَابُّ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ ابوقتاده رضی الله عنه دا حديث بيانوي ٢ چې (يو ځل) د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخكې يوه جنازه راوړل شوه ٣ نو وي فرمايل چې دا راحت موندونكې دي يا دا چې د ده څخه نورو ته راحت نصيب شو؟ ٤ صحابه ؤ عرض اوكړو چې يا رسول الله صلی الله علیه وسلم راحت موندونكې څوك دي؟ او هغه څوك دي چې د هغه څخه نورو ته راحت نصيب كيږي؟ ٥ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې مومن بنده د خپل مرګ په ذريعه د دنيا د غم او تكليف څخه راحت بيا مومي او د الله تعالی جل جلاله رحمت طرف ته ځي ٦ او د فاجر بنده (يعني د ګنهګار) د مرګ په ذريعه د هغه د شر او فساد څخه بندګان، ښارونه، ونې او څاروی (ټول) راحت بيا مومي. (بخاري مسلم)

١) اخرجه مسلم فى كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب كراهة تمنى الموت لضر نزل به (رقم) ١٦ - (٢٦٨٤)

٢) اخرجه البخارى فى كتاب الرقاق/باب سكرات الموت (رقم-٦٥١٢) ومسلم فى كتاب الجنائز/باب ما جاء فى مستريح ومستراح منه(رقم) ٦١ - (٩٥٠) كتاب الجنائز/باب ما جاء فى مستريح ومستراح منه(رقم) ٦١ - (٩٥٠) والنسائى فى كتاب الجنائز/باب استراحة المؤمن بالموت (رقم-١٩٣٠) ومالك فى الموطا كتاب الجنائز/باب الحسبة فى المصيبة (رقم-٥٤)

حل اللغات:- ① مُرَّ: دمجهول صیغه ده، تیره کړې شوه، ② مُسْتَرِيحٌ: راحت موندونکې، ③ مُسْتَرَاحٌ: دَ اسم مفعول صیغه ده یعنی دَ هغه مرګ سره نورو ته راحت ملاؤ شو. ④ نَصَبِ: أَيْ: تَعَب: ستړې والې او تکلیفونه.

تسهیلات: قوله : مُسْتَرِيحٌ:

د مومن مرګ د هغه دپاره راحت:- راحت حاصلونکې یعنی کله چه دَمؤمن انتقال کیږي نوهغه دَ دنیا مصیبتونه اودَ خلقو تکلیفونه اودَ تکلیفونو والااحکامو دَ ذمه دارئی نه راحت بیامومي. دَ آخرت توښه اودَ سفرخرچ خپل ځان سره موجود دې اودَ دنیا دَ مصیبتونونه دَ هغه ځان خلاص شو په دې وجه مؤمن دَ مرګ نه پس آرام موندونکې دې.

قوله : أَوْمُسْتَرَاحٌ مِنْهُ:

د فاسق مرګ د خلقو دپاره راحت:- دَ اسم مفعول صیغه ده یعنی دَ هغه مرګ سره نورو ته راحت ملاؤ شو هغه داسې چه دې فاسق فاجر به خلق تنګول دَ هغه په قول اوفعل سره دَ الله تعالی مخلوق په یوپریشانئی کښې راګیروو. چاته به ئی کنځلې کولې څوک به ئی وهل دَ چانه به ئی په زور مال اخستلو یابه ئی غلا کوله یابه ئی فحاشي او بې حیائی خوروله کله چه مړ شو نو ټولو خلقو ته دَ ده دَ بدو اعمالونه راحت حاصل شو. بلکه ونې مارغانو اوځناورو ته راحت حاصل شو، په دې وجه دَ هغه مړکیدل دَ راحت سبب دې. دَخرابو خلقو دَ ګناهونو اثر په باران باندې پریوځی اوچ کالی راځی. دغه شان په زمکه کښې زلزلې اوطوفانونه راځی په دې واقعاتوسره ټول ځناور ونې بوټې او پخپله زمکه باندې اثر کیږي.

[١٦٠٤] په دنیا کښې د مسافرپشان دژوند تیرولو حکم

١٦٠٤-(١)[٢] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: ٢ «أَخَذَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِمَنْكِبِي، فَقَالَ: ٣ كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ، أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ، ٤ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ: إِذَا أَمْسَيْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الصَّبَاحَ، ٥ وَإِذَا أَصْبَحْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الْمَسَاءَ، ٦ وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ، وَمِنْ حَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ» . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ (اول خو) زما وږه ونیوله (چې زه متنبه شم) بیا یي وفرمایل ٣ چې ته په دنیا کښې داسې اوسه لکه چې ته مسافر یي بلکه په لاره تیریدونکی یي ٤ د دې څخه روسته به ابن عمر رضي الله عنه خلقو ته فرمایل چې هر کله چې ماښام شي نو د سحر انتظار مه کوئ ٥ او چې سحر شي نو د ماښام انتظار مه کوئ ٦ او خپل صحت د مریضی څخه مخکې غنیمت وګنئ او خپل ژوند د مرګ څخه مخکې غنیمت وګنئ. (بخاري)

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «کن فی الدنیا کأنک غریب أو عابر سبیل» (رقم-٦٤١٦) والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی قصر الأمل (رقم-٢٣٣٣) وابن ماجة فی کتاب الزهد/باب مثل الدنیا (رقم-٤١١٤)

حل اللغات: - ① مَنْكِبِي: دا لفظ مفرد هم دي او په بعضې نسخو کښې په ياء مشدد سره تثنيه دي. ② غَرِيبٌ: مسافر، نا آشنا، ③ عَابِرُ سَبِيلٍ: دلارې تيريدونکې.

تسهيلات: قوله: غَرِيبٌ: مسافر او نا آشناسړی ته غريب وئيلې شي ځکه چه څه کور وغيره نه وي د اوسيدو ځائی نه وي او څوك پيژندګلو خپلوان ئې نه وي.

قوله: أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ:

د ،،أو،، د کلمې مقصد: - راجح او بهتر دادی چه دا "بل" د ترقئی او اضراب دپاره وی، مطلب دا چه مسافرخو بياهم د يوڅو ورځو دپاره چرته حصاريږی تاسو خوداسې جوړشئی لکه چه ګرځيدونکی مسافر وی چه چرته دحصاريدو هډو نوم نه اخلی بس خپل کارسره کار لری او هغه د دنيا خوندونو او نعمتونو طرف ته هډو خيال نه کوی او ضروری کارونه پوره کولو سره ځی.

هم ددې مضمون او مفهوم مطابق حضرت ابن عمر رضي الله عنهما اوفرمائيل چه د دنيا ژوند يود غير تسلئی غير اختياری ژوند دې لهذا د سحر ماښام پورې باقی پاتې کيدو څه ضمانت نشته او د صحت او بيمارئی هيڅ اعتبار نشته. لهذا چه څه ملاؤ شو هغه غنيمت ګڼړلو سره د هغه نه فائده اوچتول غواړی د هيڅ يوڅيز ګارنتی نشته دې.

[١٦٠٥] دالله تعالی د ذات څخه د رحمت اميد ساتل

١٦٠٥ - (١)[٧] [١] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: [٢] «سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَبْلَ مَوْتِهِ بِثَلَاثَةِ أَيَّامٍ يَقُولُ: [٣] "لَا يَمُوتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللهِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه وايي [٢] چې ما د رسول الله ﷺ د وفات څخه درې ورځې مخکې دا تري نه واوريدل [٣] چې په تاسو کښې دې هيڅ سړې په داسې حال کښې نه مري چې هغه د الله تعالى جل جلاله سره نيک ګمان نه ساتي. (مسلم)

حل اللغات: - ① الظَّنَّ: ګمان.

تسهيلات: قوله: يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللهِ

د مرګ په وخت کښې په الله د ښه ګمان مطلب: - علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه يحسن الظن مطلب دادې چه اوس په ژوندون کښې خپل اعمال ښه اوساته دې دپاره چه د مرګ په وخت ته په الله تعالى باندې ښه ګمان اوساتې ځکه چه کوم سړې خراب اعمال کوی د مرګ په وخت په الله تعالى باندې خراب ګمان کوی. علماء کرامو ليکلی دی چه ويره او رجا دانسان (د الوت دوه وزرې دی) کومو چه د آخرت په سفر کښې په کار راځی خوچه کله سړې

---

(١) اخرجه مسلم فى باب الأمر بحسن الظن بالله تعالى عند الموت (رقم) ٨١ - (٢٨٧٧) وابوداود فى كتاب الجنائز، باب ما يستحب من حسن الظن بالله عند الموت (رقم-٣١١٣) وابن ماجة فى كتاب الزهد /باب التوكل واليقين (رقم-٤١٦٧)

څوان وی او صحت مند وی نو هغوی له پکاردی چه په خپل ځان باندې د الله تعالی ویره غالب او ساتی دې د پاره چه په عبادت کښې ښه محنت او کړی. او کله چه د مرګ وخت رائیزدې کیږی بوډا والې هم راځی نو بیا امید او رجا غالب ساتل پکاردی ځکه چه اوس د سخی او فیاض بادشاه طرف ته روانیدل دی نو ښه امید او ښه توقع ساتل پکاردی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٦٠٦] د قیامت په ورځ د الله تعالی د انسان څخه رومې تپوس

١٦٠٦ــ(١)[٨] عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] «إِنْ شِئْتُمْ أَنْبَأْتُكُمْ مَا أَوَّلُ مَا يَقُولُ اللّٰهُ لِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [٣] وَمَا أَوَّلُ مَا يَقُولُونَ لَهُ» قُلْنَا: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، [٤] قَالَ: "إِنَّ اللّٰهَ يَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ: هَلْ أَحْبَبْتُمْ لِقَائِي؟ [٥] يَقُولُونَ: نَعَمْ يَا رَبَّنَا. فَيَقُولُ: لِمَ؟ [٦] فَيَقُولُونَ: رَجَوْنَا عَفْوَكَ وَمَغْفِرَتَكَ. [٧] فَيَقُولُ: قَدْ وَجَبَتْ لَكُمْ مَغْفِرَتِي». [٨] رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ، وَأَبُو نُعَيْمٍ فِي الْحِلْيَةِ.

ترجمه: [١] معاذ ابن جبل رضي الله عنه روایت کوي چې (یوه ورځ) رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ مخاطب کولو سره وفرمایل [٢] که تاسو غواړئ نو زه تاسو ته هغه خبره ښایم چې الله تعالی جل جلاله به یې د قیامت په ورځ د ټولو څخه مخکې مومنانو ته فرمایي [٣] او هغه خبره هم درته ښایم چې د ټولو څخه مخکې به مومنان یې الله تعالی جل جلاله ته عرض کوي مونږ عرض اوکړو چې هو یارسول الله صلی الله علیه وسلم (ضرور یې مونږ ته راوښایه) [٤] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې الله تعالی جل جلاله به مومنانو ته فرمایي چې آیا تاسو زما ملاقات خوښولو؟ [٥] مومنان به عرض وکړي چې هو اې زمونږ ربه! (مونږ ستا ملاقات خوښولو) بیا به الله تعالی جل جلاله فرمایي چې تاسو زما ملاقات ولې خوښولو؟ [٦] مومنان به عرض وکړي چې ځکه چې مونږ ستا څخه د معافي، عفو، بخشش او مغفرت اُمید لرلو [٧] نو الله تعالی جل جلاله به فرمایي چې ستاسو د پاره زما بخشش (بخښنه) واجب شو، [٨] دا روایت په شرح السنه کښې او ابو نعیم رحمه الله په حلیه کښې نقل کړي دي.

حل اللغات:- ① أَنْبَأْتُكُمْ: اى أَخْبَرْتُكُمْ: تاسو ته خبر درکوم، ② رَجَوْنَا: مونږ امید لرلو، ③ عَفْوَكَ: ستا دمعاف کولو (مونږ لره).

تسهیلات: قوله: مَا يَقُولُ اللّٰهُ لِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

دالله تعالی بندګانو ته په خطاب کښې دوه احتمالات:- ① الله جل جلاله به مؤمنانو نه بغیر د واسطې ② د فرښتو په واسطه دعا اوفرمائی.

قوله: هَلْ أَحْبَبْتُمْ لِقَائِي؟:

دمذکوره قول په مصداق کښې دوه اقوال:- ① ددې نه دار آخرت طرفته سفر مراد دې.

---

(١) اخرجه احمد فی المسند ٥٨٢٣٨

② ددې نه مراد رؤيه باري تعالى دى. او دا دواړه اقوال صحيح دى.

دالله تعالى په استفهام کښې حکمت:- يعنى الله ﷻ باندې حسن ظن زيات بهتر دى. دې ځائې کښې الله ﷻ استفهاما کلام ذکر کړو حالانکه الله ﷻ ته د ټولو څيزونو علم شته دې. ددې وجه داده چې د سامعينو په وړاندې خپل محبت ښکاره کول وو. په دې وجه ئې دا ذکر کړو لکه څنګه چې قرآن پاك کښې دى (أَوَلَمْ تُؤْمِنْ قَالَ بَلَى) يا ئې نور دهغه کلام آؤريدو دپاره د تلذذ په طور دا ذکر اوفرمائيل. (مرقاة ايضا)

دنبى عليه السلام په امت باندې شفقت:- ددې حديث پاك نه د نبى کريم ﷺ د خپل امت دپاره رحمت کيدل ثابت شو چې نبى کريم ﷺ د خپل امت په هره معامله کښې رهنمائى کړې ده تر دې چې د قبر سوال وجواب ئې ورته هم اوخودل. او دحشر د سوال و جواب رهنمائى ئې هم اوکړه. دا خبرې اترې صورة خبر دې او معنا امر دى.

[١٦٠٧] د مرګ ډير ډير يادولو حکم

١٦٠٧-()[٩] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ "«أَكْثِرُوا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ ابوهريره ﷺ روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ د دنيا خوندونه قطع کونکې شي چې مرګ دې په کثرت سره يادوئ. (ترمذي نساني ابن ماجه)

حل اللغات:- ① هَاذِمِ اللَّذَّاتِ: أَيْ: قَاطِعِهَا: د ضَرَبَ يَضْرِبُ نه دَ قطع کولو او پرې کولو په معنى کښې دې.

تسهيلات: قوله : هَاذِمِ: بعضې شارحينو دا لفظ "هاذم" دال سره نقل کړې دې چه دَ راغورزولو او ورانولو په معنى کښې دې مګر بعضې شارحين وائى چه هاذم دَ معنې په اعتبارسره دَدې چه صحيح دې ليکن دَ نقل په اعتبارسره دال صحيح نه دې بلکه ذال دې.

دَحديث مطلب:- دَحديث مطلب دادې چه مرګ ډير ډير يادول پکاردى. کله چه دَ مرګ تصور دَ انسان په زړه او دماغو باندې پروت وى نودَ انسان دنياوى ژوندون به دَ آخرت په تيارې کښې تيريږى او انسان به هر وخت دَنيکو اعمالودَ کولو اودَ بدو عملونونه دَ بچ کيدو دَپاره تيار اوتکړه وى.

قوله : أَكْثِرُوا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ:

د مرګ ياد ګيرنه د دنيا د مينې د کموالى سبب:- يعنى دَ زيات مال په وخت دَ مرګ په ياديدوسره مرګ دَهغه مال کموى يعنى هغه دَدنيا نه بې پرواه او پرهيزګار جوړوى. اوکه چرې مال کم وى سړې فقير وى دَمرګ په يادولو سره مرګ هغه کم مال زياتوى څکه چه

---

١) اخرجه الترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی ذکر الموت (رقم-٢٣٠٧) وابن ماجة فی کتاب الزهد/باب ذکر الموت والاستعداد له (رقم-٤٢٥٨)

سړي سوچ کوی چه مرګ په سر ولاړ دې دا زما آخری وخت دې کوم مال چه موجود دې داهم ددې لړ وخت دپاره ډیر دې. دغه شان سړې صبرناك جوړېږی. دَ مرګ دَ يادولو يوه فائده داهم ده چه سړې دَ دنيا ټول خوندونه اوخواهشات فانی ګنړی. لهذا دَهغه دَ زړه نه دَمال مَحبت اوځی اودَ مال محبت دَهرې بدئی جرړه ده. کله چه دَ بدئی جرړه پرې کړې نوبيا به ټولې هم نيکئی وی.

[۱٦٠۸] دَالله تعالى څخه دَحيا کولوحق

١٦٠٨ـ(۱)[١٠] [١] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ: «أَنَّ نَبِيَّ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ لِأَصْحَابِهِ: [٢] اسْتَحْيُوا مِنَ اللهِ حَقَّ الْحَيَاءِ. [٣] قَالُوا: إِنَّا نَسْتَحْيِي مِنَ اللهِ يَا نَبِيَّ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ. [٤] قَالَ: لَيْسَ ذَلِكَ وَلَكِنْ مَنِ اسْتَحْيَى مِنَ اللهِ حَقَّ الْحَيَاءِ [٥] فَلْيَحْفَظِ الرَّأْسَ وَمَا وَعَى، [٦] وَلْيَحْفَظِ الْبَطْنَ وَمَا حَوَى، [٧] وَلْيَذْكُرِ الْمَوْتَ وَالْبِلَى [٨] وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ تَرَكَ زِينَةَ الدُّنْيَا [٩] فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ اسْتَحْيَى مِنَ اللهِ حَقَّ الْحَيَاءِ». [١٠] رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] ابن مسعود رضي الله عنه روايت کوي چې (يوه ورځ) رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو صحابه ؤ ته وفرمايل [٢] چې د الله جل جلاله څخه حيا کوئ ځرنګه چې د حيا حق دي [يعني ځرنګه چې د الله جل جلاله څخه حيا کول واجب ذي او د کومي حيا چې هغه لايق دي د هغه د حيا حق ادا کړئ؛ مطلب دا دي چې د الله تعالٰى جل جلاله څخه د ويرېدو کوم حق دي هغه حق ادا کړئ!] [٣] صحابه ؤ رضي الله عنهم عرض اوکړو يا رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ بيشکه د الله تعالٰى جل جلاله څخه حيا کوو (په دي طور چې في الجمله د هغه په اوامرو باندې عمل او د نواهيو څخه پرهيزکوو) او تعريف الله جل جلاله لره دي [يعنى د الله جل جلاله شکر دي چې هغه مونږ ته دا توفيق راکړې دی]، [٤] حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د حيا حق دا نه دي کوم چې تاسو يي وايي چې مونږ د الله جل جلاله څخه حيا کوو [بلکه د حيا حق خو دا دي چې کوم سړي د الله جل جلاله څخه په حيا کولو کښې د حيا حق ادا کړي نو هغه ته پکار دي] [٥] چې هغه د سر او څه چې د سر سره دي د هغې محافظت وکړي [٦] د خيتې او څه چې د خيتې سره دي د هغې محافظت وکړي [٧] او هغه ته پکار دي چې مرګ او د هډوکو بوسيده کيدل [وراسته کيدل] ياد ساتي [٨] او کوم سړي چې د آخرت د خير اراده لري هغه د دنيا زينت او آريش پريږدي [٩] نو کوم سړي چې په مذکوره بالا هدايت عمل وکړي هغه د الله تعالٰى جل جلاله څخه حيا وکړه او د حيا حق يي ادا کړو، [١٠] (احمد، ترمذي) او ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات:- ① اسْتَحْيُوا: حيا اوکړئ، دالله تعالى نه دحيا کولو مطلب دادې چه دهغه نه ويره اوکړې شي او دهغه نافرمانی اونه کړې شی. ② حَقَّ الْحَيَاءِ: أی حَقَّ تُقَاتِهِ، يعنی څنګه چه دهغه نه دحياء کولو يعنی د ويريدو حق دې. ③ وَمَا وَعَى: دَ يادولو او يوځائی کولو په معنی کښې ده، څه چه سر

---

(١) اخرجه الترمذی فی کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب (رقم-٢٤٥٨)

کښې دی، سترګې، غوږونه، ژبه وغیره. ④ وَمَاحَوٰي: حوي یحوي د جمع کولو او رایوځائی کولو په معنی کښې دې، یعنی خیټې سره یوځائ څیزونه مثلاً خپې، لاسونه، زړه، شرمګاه وغیره. ⑤ وَالْبِلٰی: زوړوالې (زاړه هډوکی).

تسهیلات: قوله: اسْتَحْيُوامِنَ اللّٰهِ حَقَّ الْحَيَاءِ:

د حیا وسیع مفهوم د نبی کریم ﷺ په ژبه: - د تسهیلات اول جلد د شروع په صفحاتو کښې د حیا متعلق په تفصیل سره کلام شوې دې دلته د دوباره کولو ضرورت نشته دې. البته دلته د حیا وسیع مفهوم حضورپاک ﷺ پیش کړې دې کوم چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم په ذهنونو کښې ددې نه مخکښې نه وه. په دې وجه چه کله صحابه کرامو رضی الله عنهم په جواب کښې اوفرمائیل چه الحمد لله مونږ حیاکوو نو حضورپاک اوفرمائیل چه "لیس ذلك" یعنی تاسو دحیاء مطلق مفهوم اخلئی هغه سره ددې چه حیا ده لیکن اصل اوحق حیا نه ده اصل حیاداده:

قوله: فَلْيَحْفَظِ الرَّأْسَ وَمَاوَعٰى:

د سر دحفاظت مطلب: - سر اوپه سر کښې دننه د څیزونو حفاظت اوکړئی نود سر حفاظت دادې چه د الله تعالی نه بغیر د بل چا په مخکښې ټیټ نه کړې شی او نه د غیر الله په مخکښې دې سره سجده اوکړئی او نه د ریاکارئی په توګه د الله تعالی په وړاندې په دې سره سجده اوکړئی او نه په کبر او غرور سره دا اوچت کړئی.

مراد دادې چه سر کوم اندامونه راجمع کړې دی د هغې هم حفاظت اوکړئی مثلاً دماغی سوچ خالص د الله تعالی د رضاد پاره وی سترګې پوزه ژبه او غوږونه د هرقسم ګناهونونه بچ کړې شی چه نه غلط نظر وی نه غلطې خبرې وی او نه د غلطو فرمائشونو اوریدل وی.

قوله: وَلْيَحْفَظِ الْبَطْنَ وَمَاحَوٰي:

د خیټې د حفاظت مطلب: - د خیټې د حفاظت مطلب دادې چه دا د حرام مال د خوراك نه بچ کړئی ځکه چه د مرګ نه پس د ټولو نه اول د انسان په بدن کښې خیټه پرسیږی او شلیږی. لهذا په دې کښې حلال مال کیدل پکاردی نه چه د حرامو مرکز جوړشی.

خیټه چه په کومو اعضاؤ باندې مشتمل ده هغه اندامونه مراد دی مثلاً لاسونه خپې زړه وغیره نوددې اندامونو حفاظت کول اودا د ګناهونونه لرې ساتل د حیا حقیقت دې. لهذا دخپو په ذریعه د ګناه طرف ته مه ځئی په لاس سره ګناه مه کوئی زړه د خرابو خیالاتو ګنده عقیدو نه لرې اوساتئی. د حقیقی حیاداهم حصه ده چه مرګ هروخت یاد اوساتلې شی اود مرګ نه پس خرابوالې خپلې مخې ته اوساتئی. [الکاشف: ۳۴۹/۳.]

قوله: فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ: یعنی اول چه د کومو څیزونو اوخصلتونو ذکراوکړې شو چاچه په دې باندې عمل اوکړو نودا اصل اوحقیقی حیاده.

د عوامو دپاره د حديث افاديت: - دَدې حديث نه معلومه شوه چه انسان دَ خپلو جوړښ په اعتبار سره اودَ خپل بدن په اعتبارسره دَ عيبونو اونقصانونو مجموعه ده او الله تعالى ته معلومه ده چه دَ انسان په کوم اندام کښې کوم يو عيب پروت دې. کله چه انسان دَدې ټولو اندامونوحفاظت کوی نولکه چه هغه په مکمل توګه باندې دَ الله تعالى نه حيا کوی. امام نووی رحمه الله ليکلی دی چه علماؤ له پکاردی چه دا حديث دَ زيات نه زيات عواموته بيان کړی.

[١٦٠٩] مرګ دَ مؤمن تحفه

١٦٠٩ - (١)[١١] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «تُحْفَةُ الْمُؤْمِنِ الْمَوْتُ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ١ عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ د مومن تحفه مرګ دي، دا روايت بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کښې نقل کړي دي.

تسهيلات: قوله : تُحْفَةُ الْمُؤْمِنِ الْمَوْتُ: انسان دَخپلې نيکئی ميوه په آخرت کښې حاصلوی اودَ آخرت پورې دَ رسيدلودَپاره ضروری دی چه سړې مرګ اووينی. ترکومې چه مرګ نه راځی سړې جنت ته نه شی رسيدلې. لهذا دَ جنت دَ نعمتونودَحاصلولوذريعه اووسيله مرګ دې نودَمؤمن دَپاره دَهغه مرګ دَ نتيجې په اعتبارسره تحفه ده اوهم دَدې ذکر په دې حديث کښې دې.

[١٦١٠] د مؤمن مرګ د تندی دَ خولې سره

١٦١٠ - (٢)[١٢] ١ (وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ " «الْمُؤْمِنُ يَمُوتُ بِعَرَقِ الْجَبِينِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ).

ترجمه: ١ حضرت بريده رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ مومن د تندي د خولي سره مري (يعنی مومن ته د زکندن په وخت سخت تکليف وی چې په تندی يې خوله راځي او دا د نيکۍ علامت دی) (ترمذي نسايي ابن ماجه)

حل اللغات: - ① عَرَقِ: خوله، ② الْجَبِينِ: تندې،

تسهيلات: قوله : الْمُؤْمِنُ يَمُوتُ بِعَرَقِ الْجَبِينِ:

د موت بعرق الجبين په مفهوم کښې درې اقوال: - يعنی دَ تندی په خوله سره دَمؤمن وفات کيږی دَدې کلام ډير مفهومونه دی. ① اول دا چه دَ مؤمن ژوند دَمشقتونوالادې. حلال رزق ګټلوکښې محنت کوی اودَبدن نه دَمحنت په وجه سره خوله ځی اوهم په دغه مشقت

---

(١) اخرجه البهقى فى شعب الايمان ١٧١/٧ حديث رقم ٩٨٨٤

(٢) اخرجه الترمذى فى كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء أن المؤمن يموت بعرق الجبين (رقم-٩٨٢) والنسائى كتاب الجنائز/باب علامة موت المؤمن (رقم-١٨٢٩) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فى المؤمن يؤجر فى النزع (رقم-١٤٥٢)

کېږي مرګ راځي يعنې مؤمن جفاکش وي په کسب معاش کښې هم او په عباداتو کښې هم.

④ مؤمن ته دَ مرګ دَ وجې نه زيات تکليف او مشقت نه رسي اودَ سا وتلو صرف هم دومره تکليف وي په کوم سره چه دَ ده په تندي باندې خله راځي.

③ دَمؤمن مرګ کله واقع کيږي نو په تندي باندې معمولي شان خوله راځي دادَ خوش بختئ نيک بختئ اودَ ايمان دَ سلامتيا علامت وي په عوامو کښې هم دغه مشهوره ده.

[١٦١١] د ناڅاپه مرګ قباحت

١٦١١-(١)[١٣] ١ وَعَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ " «مَوْتُ الْفَجْأَةِ أَخْذَةُ الْأَسَفِ» ". ٣ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَزَادَ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ: وَرَزِينٌ فِي كِتَابِهِ «أَخْذَةُ الْأَسَفِ لِلْكَافِرِ، وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِ».

ترجمه: ١ عبيد الله رضي الله عنه ابن خالد راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ ناګهاني مرګ د الله جل جلاله د غضب نيول دي، ٣ ابوداؤد، بيهقي په شعب الايمان کښې او رزين په خپل کتاب کښې دا الفاظ نقل کړي دي چې د غضب نيول د کافر د پاره دي خو د مومن د پاره رحمت دي.

حل اللغات: - ① الْفَجْأَةِ: أي بَغْتَةً: ناڅاپه، ② أَخْذَةُ الْأَسَفِ: أي: أَخْذَةُ سُخْطٍ: يعنې د غضب نيول.

تسهيلات: قوله: أَخْذَةُ الْأَسَفِ: غضب اوغصې دَپاره دالفظ استعماليږي. لکه قرآن پاك کښې چه دی ﴿غَضْبَانَ أَسِفًا﴾ دلته په حديث کښې دالفظ دَغضب دَ نيولو په معنی کښې استعمال کړې شوې دې. [اعراف: ١٥٠]

د ناڅاپه مرګ څخه پناه غوښتل: - مطلب دا چه ناګهانی دَ الله تعالی دَ غضب دَ نښونه يوه نښه ده څکه چه په ناڅاپې مرګ کښې نه دَ شهادت دکلمې وئيلو موقع ملاويږي نه دَ وصيت او ضروري کلام کولو موقع ملاويږي. علماء ليکلي دی چه غضب نيونکې مرګ دَ کافرانو دَپاره دې دَمسلمانانو دَپاره نه دې. خلاصه دا چه ناڅاپې مرګ دَ خو خلقو دَپاره ښه څيزدې او خرابو خلقو دَپاره خراب څيزدې.

[١٦١٢] دَمرګ په وخت دَالله تعالی دَرحمت اميدساتل پکاردی

١٦١٢-(٢)[١٤] ١ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: ٢ «دَخَلَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى شَابٍّ وَهُوَ فِي الْمَوْتِ ٣ فَقَالَ: كَيْفَ تَجِدُكَ؟ ٤ قَالَ: أَرْجُو اللَّهَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَإِنِّي أَخَافُ ذُنُوبِي. ٥ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " لَا يَجْتَمِعَانِ فِي قَلْبِ عَبْدٍ فِي مِثْلِ هَذَا الْمَوْطِنِ ٦ إِلَّا أَعْطَاهُ اللَّهُ مَا يَرْجُو، وَآمَنَهُ مِمَّا يَخَافُ» . ٧ رَوَاهُ

---

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب موت الفجاءة (رقم-٣١١٠)

(٢) اخرجه الترمذی فی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب (رقم-٩٨٣) وابن ماجة کتاب الزهد/باب ذکر الموت والاستعداد له (رقم-٤٢٦١)

التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضی الله عنه فرمايي [٢] چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ يو زلمي ته تشريف يوړلو چې په سكرات الموت (يعني په زنكدن) كښې مبتلا وو [٣] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ته ځان په كوم حال كښې بيامومې (يعني دا وخت آيا ستا په زړه كې د الله تعالى جل جلاله د رحمت اميد دى يا د غضب الهى خوف دي؟) [٤] هغه عرض اوكړو چې يا رسول الله ﷺ د الله تعالى جل جلاله څخه اُميد لرم (يعني خپل ځان د الله تعالى د رحمت څخه اُميدوار وينم) ليكن د دې باوجود د خپلو ګناهونو څخه خوف زده هم يم [٥] حضور ﷺ وفرمايل چې هر كله په داسې وخت كښې د بنده په زړه كښې خوف او اميد (دواړه) جمع وي [٦] نو الله تعالى جل جلاله ورته هغه څيز وركوي د كوم چې اُميد لري (يعني خپل رحمت) او هغه د هغه څيز څخه (يعنى د عذاب څخه) په آمان كښې لرى چې د هغې څخه ير يږي، [٧] ترمذي ابن ماجه، امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث حسن غريب دي.

حل اللغات: - ① شَابٍّ: ځوان، ځلمي، ② هَذَا الْمَوْطِنِ: أَيْ: فِي هَذَا الْوَقْتِ، په داسې وخت يعنى په وخت د زنكدن كښې،

تسهيلات:

قوله: كَيْفَ تَجِدُكَ؟:

د مرګ په وخت كښې ويره او اميد: - يعنى خپل ځان څنګه وينې؟

قوله: قَالَ أَرْجُو اللَّهَ: - مطلب دادې چه دې ځوان صحابى رضی الله عنه دَ حضورپاك دَ سوال په جواب كښې اوفرمائيل دَ الله تعالى دَ رحمت اميد لَرم ليكن دَ خپلو ګناهونو دَ نتائج نه ويريږم. رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دَسكرات الموت په وخت دَ ويرې اورجاء په يوسرې كښې رايوځائې كيدل دَدې خبرې ضمانت دې چه دكوم څيز نه هغه ويريږى الله تعالى هغه د هغې نه بچ كوى اودَ كوم څيزچه اميدلرى هغه ورته الله تعالى وركوى.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٦١٣] دَنيک عمل دَپاره داوږدعمر نعمت

١٦١٣ - (١) [١٥] [١] عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «لَا تَمَنَّوُا الْمَوْتَ ; فَإِنَّ هَوْلَ الْمُطَّلَعِ شَدِيدٌ، [٣] وَإِنَّ مِنَ السَّعَادَةِ أَنْ يَطُولَ عُمُرُ الْعَبْدِ [٤] وَيَرْزُقَهُ اللَّهُ - عَزَّ وَجَلَّ - الْإِنَابَةَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د مرګ آرزو مه كوئ ځكه چې د زكندن وخت سخت دي [٣] اوبيشكه دا نيک بختي ده چې د بنده عمر اوږد وي [٤] او الله تعالى جل جلاله هغه د طاعاتو طرف ته وګرځوي، (احمد)

(١) اخرجه احمد فى المسند ٣/٣٣٢

حل اللغات: - ① هَوْلَ: دَمرګ سختتو او تکلیفونو ته هول وئیلې شی. ② الْمُطَّلَعِ: مطلع هغه اوچت ځائی ته وائی په کوم ختلوسره چه اخوا دیخوا کتلې شی. المطلع نه دَ مرګ سکرات او سختئی مراد دی. ③ السَّعَادَةِ: خوش بختی، ④ -الْإِنَابَةَ: أَيِ الرُّجُوعَ إِلَى طَاعَةِ اللّٰهِ تَعَالَى: دالله اطاعت طرف ته ګرځیدل.

تسهیلات:

قوله: لَا تَمَنَّوُا الْمَوْتَ:

د مرګ د تمنا د ممانعت وجوهات: -

مطلب داچه دَ مرګ غوښتنه مه کوئی ځکه چه دَ مرګ سختئی اوتکلیفونه سړې ډیرزیات تنګوی.

① دَمرګ سختئی ډیرې زیاتې دی کله چه دَمرګ نه وړاندې سختونه ویریدوسره دَمرګ خواهش کوی نودَ مرګ اصل سختئی به څنګه برداشت کړې شی؟

علامه میرک رحمه الله فرمائی چه په دې حدیث کښې دَمطلع نه مراد ملك الموت یادَمنکرنکیر اطلاع اوخبردارې مراد دې چه هغه پوانسان ته دَ هغه په مرګ باندې راتلوسره ورکوی.

② دَمرګ تمنا کولودَممانعت یوه وجه هم داده چه په اوږدعمر کښې نیك اعمال او دَ توبې اواستغفار زیاته موقع ملاویږی. انسان دَعبادت دَپاره پیدادې اودَهغه ټوله سرمایه دَالله تعالی دَ رضاحاصلول دی اودا دولت دَعمر او حیات په ذریعه حاصلیدې شی. نوچه کوم سړې دَ مرګ خواهش اوکړو نوهغه دَ سرمایه لګولو اصل میدان ختم کړو. آیا چاداسې سوداګرلیدلې دې چه دَ خپل اصل مال دَ ضائع کولوکوشش ئی کړې وی؟

قوله: وَيَرْزُقَهُ اللّٰهُ-عَزَّوَجَلَّ-الْإِنَابَةَ:

د انابت مفهوم: -انابت دَ رجوع په معنی کښې دې دَدې مفهوم داسې بیان کړې شوې دې (الانابة الرجوع من الكل الى من له الكل) یعنی ټول دَ دنیالانجې او انسانان پریخودوسره دَهغه رب طرف ته متوجه کیدل چاسره چه ټول هرڅه دی. په نورو الفاظوکښې داوئیل شی بابا ټولوسره رشته پریږده او رب سره رشته جوړه کړه.

[١٦١٤] نیک عمل او اوږد عمر

> ١٦١٤-(¹)[١٢] [١] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: «جَلَسْنَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] فَذَكَّرَنَا وَرَقَّقَنَا [٣] فَبَكَى سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ فَأَكْثَرَ الْبُكَاءَ، فَقَالَ يَا لَيْتَنِي مِتُّ. [٤] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "يَا سَعْدُ، أَعِنْدِي تَتَمَنَّى الْمَوْتَ [٥]" فَرَدَّدَ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ قَالَ: "[٦] يَا سَعْدُ، إِنْ كُنْتَ خُلِقْتَ لِلْجَنَّةِ فَمَا طَالَ عُمُرُكَ [٧] وَحَسُنَ مِنْ عَمَلِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] ابو امامه رضی الله عنه فرمايي چې (یوه ورځ) مونږ رسول الله ﷺ ته متوجي کيناستو [٢]

---

¹) اخرجه احمد في المسند ٥/٢٦٧

حضور ﷺ پند او نصيحت اوکړو او (د آخرت خوف ورکولو سره يې) زمونږ زړونه نرم کړل ٣ نو سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه په ژړا شو او ډير يې وژړل بيا يې اوويل چې آرمان زه (په وړوکوالي کښې) مړشوي وې (نو ګنهګاره کيدم به نه او د آخرت د عذاب څخه به مې دخلاصي لار پيدا کړي وې) ٤ حضور ﷺ (د دې په اوريدو سره) وفرمايل چې اې سعده! آيا ته زما په مخکې د مرګ آرزو کوې؟ ٥ او حضور ﷺ دا الفاظ درې ځله وفرمايل بيا يې وفرمايل ٦ چې اې سعده! که ته جنت د پاره پيدا شوې يې نو ستا عمر چې څومره اوږد وي ٧ او اعمال دې چې څومره ښه وي هغه قدر به ستا د پاره بهتر وي. (احمد)

حل اللغات:- ① رَقَّقَنَا: أَيْ: رَقَّقَ أَفْئِدَتَنَا بِالتَّذْكِيرِ: په ذکراو نصيحت سره ئې زمونږ زړونه نرم کړل.

تسهيلات:

قوله: فَذَكَّرَنَا وَرَقَّقَنَا فَبَكَى سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ:

دحضرت سعد د ژړا وجه:- صوفيا ء کرام فرمائی چې د کمو خلقو خبره غوږ ته رسی او د دماغو خبره دماغو ته رسی ، خو کومه خبره چې د زړه نه راأوځی هغه په زړه لګی. په دې وجه د نبی کريم ﷺ کلام مبارك دصحابه کرامو ايمان تازه ، دماغ ئې خوشحاله ، او زړونه ئې ورله نرم کړی وو. حضرت سعد رضي الله عنه هم په دې وجه په ژړا شوې وو.

قوله: يَا سَعْدُ، أَعِنْدِي تَمَنَّى الْمَوْتَ":

د نبی عليه السلام د قول په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① اې سعد! آيا ته زما په موجودګی کښې د مرګ خواهش کوې، زما ديدار ستا دپاره د هر نعمت نه اوچت او اعلى دې. البته زما د مرګ نه پس ته د مرګ خواهش کولې شې.

② ما د مرګ د خواهش کولو نه منع فرمائيلې ده او ته زما په موجودګی کښې دمرګ خواهش کوې .(مرقاة ج/٤ص١٠).

قوله: "يَا سَعْدُ، إِنْ كُنْتَ خُلِقْتَ لِلْجَنَّةِ:

اشکال:- حضرت سعد رضي الله عنه په عشرهٔ مبشره صحابه کرامو کښې شامل دې. هغه ته خود جنت زيرې ورکړې شوې وو. بيا نبی کريم ﷺ (إن کنت) ولې اوفرمائيل چې په شك باندې دلالت کوی؟.

داشکال درې جوابونه:- ① د الله ﷻ د جلال نه بې ويرې کيدل د شان عبوديت خلاف دی.

② دا قول د بشارت نه قبل دې.

③ دا بشارت په مطلق حالت کښې نه دې بلکه په خاص حالت کښې دې ، او ممکن ده چې هغه حالت دهغه وی يا لفظ د إن شکيه نه دې بلکه بيان واقع دپاره دې. لکه څنګه چې قرآن کريم کښې دی (وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ) نه د صحابه کرامو ايمان مشکوك دې ، او

نه د الله ﷻ د صحابه کرامو د ايمان نه بې خبره دي ، د رسول کريم ﷺ د فرمان مقصد دادې چې تاسو چونکه جنت دپاره پيدا کړې شوي يئ ، لهذا طول عمر بهتر دې.

[١٦١٥] دحضرت خباب رضي الله عنه د مرګ د تمنا په باره کښې قول

١٦١٥-(١)[١٧] ١ وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ مُضَرِّبٍ قَالَ: ٢ «دَخَلْتُ عَلَى خَبَّابٍ وَقَدِ اكْتَوَى سَبْعًا ;٣ فَقَالَ: لَوْلَا أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ٤ لَا يَتَمَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ لَتَمَنَّيْتُهُ، ٥ وَلَقَدْ رَأَيْتُنِي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَا أَمْلِكُ دِرْهَمًا، ٦ وَإِنَّ فِي جَانِبِ بَيْتِيَ الْآنَ لَأَرْبَعِينَ أَلْفَ دِرْهَمٍ.

ترجمه: ١ حارثه ابن مضرب رحمه الله (تابعي) فرمايي ٢ چې زه دحضرت خباب رضي الله عنه (صحابي) په خدمت کښې حاضر شوم هر کله چې هغه مريض وو او هغه په خپل بدن اووه خايه داغونه لګولي وو ٣ هغه ماته وفرمايل چې که ما د رسول الله ﷺ څخه دا ارشاد ګرامي نه وې اوريدلي ٤ چې په تاسو کښې دي هيڅوک د مرګ آرزو نه کوي نو ما به ضرور د مرګ آرزو کړې وه ٥ ما ځان د رسول الله ﷺ په زمانه کې ليدلی دی چې هغه وخت زه د يو درهم مالک هم نه وم ٦ او اوس دا حال دي چې زما د کور په ګوټ کښې څلويښت زره درهمه پراته دي.

١ قَالَ: ثُمَّ أُتِيَ بِكَفَنِهِ فَلَمَّا رَآهُ بَكَى وَقَالَ: ٢ لَكِنَّ حَمْزَةَ لَمْ يُوجَدْ لَهُ كَفَنٌ إِلَّا بُرْدَةٌ مَلْحَاءُ، ٣ إِذَا جُعِلَتْ عَلَى رَأْسِهِ قَلَصَتْ عَنْ قَدَمَيْهِ، ٤ وَإِذَا جُعِلَتْ عَلَى قَدَمَيْهِ قَلَصَتْ عَنْ رَأْسِهِ، ٥ حَتَّى مُدَّتْ عَلَى رَأْسِهِ وَجُعِلَ عَلَى قَدَمَيْهِ الْإِذْخِرُ». ٦ رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: ثُمَّ أُتِيَ بِكَفَنِهِ إِلَى آخِرِهِ.

ترجمه: ١ حارثه رحمه الله فرمايي چې بيا حضرت خباب رضي الله عنه ته د هغه کفن راوړل شو (چې ډير اعلي او نفيس وو) هغه چې اوليدلو نو په ژړا شواو وي فرمايل ٢ [چې اګر چې دا کفن جائز دي ليکن] امير حمزه رضي الله عنه ته (پوره) کفن حاصل نه شو صرف يو تور او سپين لکيردار څادر وو ٣ او (هغه هم دومره کوچني وو) چې سر به يي ورپټولو نو پښې به يي ښکاره پاتې شوي ٤ او که پښې به يي ورپټولي نو سر به يي ښکاره پاتې شو ٥ آخر په هغه څادر سره د هغه سر پټ شو او په پښو يي اذخر واچول شو، ٦ دا روايت احمد او ترمذي نقل کړي دي ليکن ترمذي د ثُمَّ أُتِيَ بِكَفَنِهِ څخه تر آخره پورې الفاظ نه دي نقل کړي.

حل اللغات:- ① اكْتَوَى: په اور سره داغونه ورکولو ته وائی. ② بُرْدَةٌ: څادر، ③ مَلْحَاءُ: أَيْ: فِيهَا خُطُوطٌ بِيضٌ وَسُودٌ. يعنی برګ څادر، ④ قَلَصَتْ: أَيْ: قَصُرَتْ: کم به شو، ⑤ الْإِذْخِرُ: هُوَحَشِيشَةٌ طَيِّبَةُ الرَّائِحَةِ، يو قسم خوشبودار وابنه دی، (پښتو کښې ورته سرګړې وائی.) دا وابنه د چتو په تختو اواريږی او په ډيرو نورو کارو کی هم استعماليږی.

---

(١) اخرجه احمد فی المسند ٥/١١١

تسهیلات:

قوله: وقداکتوی:

د يو اشکال جواب:-په اورسره داغ ورکولونه په احادیثوکښې ممانعت راغلې دې لیکن هغه نهي ارشادي ده په وخت دَ ضرورت ممانعت نه دې.

قوله: "قَلَصَتْ":مراددادې چه دغه وړوکې شان څادر په سرباندې اچولوسره خپې ښکاري او په خپوباندې اچولوسره سر ښکاري. حضورپاك دَ سرپټولو دَپاره اوفرمائیل او په خپو باندې دَ وښو اچولو حکم ورکړو.

قوله: الْإِذْخِرُ:

د اذخر د لفظ تشريح:- يوقسم واښه دی کوم چه جماتونوکښې په فرش باندې اچولې شی او دَ لوهارانو په بهټئی کښې دَ اور بلولودَپاره به استعمالیدل ځکه چه په دې باندې اور زر لګی. لهذا دَدې په ذریعه باندې به ئی په سکاروباندې اور لګولو. بل که دَ قبر زمکه به لمده وه نو په هغې کښې به هم خورولې شو. اوس هم دا واښه دَ کلو جماتونو کښې اچولې شی اوخلق په دې باندې کینی او په دې واښوکښې یوقسم خوشبوئی وی.

د حضرت حمزه دپاره کفن نه ملاویدل:- حضرت خباب رضی الله عنه امت ته دا تعلیم پریخودې دې دَ مالدارشاکرنه فقیرصابر ښه او افضل دې. صحابه کرامو رضی الله عنهم ته دَ جهاد دَ وجې نه الله تعالی په ډیر مقدارکښې دنیاهم ورکړې وه اوآخرت ئی هم ورکړو. حضرت حمزه رضی الله عنه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم رضاعی رور او خوربِ تره وو. دَ احد په میدان کښې دَ وحشی بن حرب دَ لاسه شهید شوې وو. بدن ئی مثله کړې شوې وویعنی اندامونه ئی ترې پرې کړې وو اودَ کفن دَپاره څه کپړا نه وه شهیدته دَ جدا کفن اچولوضرورت نه وی بلکه هغه په خپلو کپړو کښې خښولې شی لیکن دلته معامله داسې ده چه دَ حضرت حمزه رضی الله عنه په بدن باندې دَ دغه وړوکی څادر نه علاوه څه نه وو په دې وجې په وښو باندې دَ بدن پټولو ضرورت شو.

....

[٣]بَابُ مَا يُقَالُ عِنْدَ مَنْ حَضَرَهُ الْمَوْتُ]

مرګ ته نيزدې سړي ته د کلمۀ توحيد تلقين

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية عشر حديثاً مشتملة على عشر مسائل:

① تلقين الكلمة الكلمة الطيبة عند المحتضر: ١، ٧، ١١-

② ذكر الميت بخير والدعاء له: ٢، ۴-

③ الدعاء عند المصيبة: ٣-

④ تسجية الموت: ۵-

⑤ الخاتمة بالتوحيد: ۶ وهي من فوائد التلقين-

⑥ تقبيل الميت: ٨، ٩-

⑦ التعجيل بدفن الميت: ١٠-

⑧ تفصيل حالة نزع الروح: ١٣،١٢، ١۴، ١۵-

⑨ محل أرواح المؤمنين: ١۶، ١٧-

⑩ إرسال السلام إلى الأموات: ١۶، ١٧-

د قريب الموت تعريف:- مرګ ته نيزدې سړی نه هغه بيمار سړې مراددې په کوم چه دَ مرګ آثار ښکاره شوی وی. دَ مرګ دَعلاماتونه خپې چيچرېدل، هغه وخت دَ پوزې شپېلئ کږيدل اودَ سردَ قوتوکيناستل دی. مرګ ته نيزدې سړی په مخکښې لوستلې کيدونکی څيز کلمه توحيد اوکلمه شهادت ده او سورت ياسين وغيره دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٦١٦] مرګ ته نيزدې کس ته دَکلمې طيبې ونيلو حکم

١٦١٦-()[١] ١ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ "«لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ ابوسعيده رضي الله عنه او ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ کوم خلق چې قريب المرګ وي هغوئ ته (کلمه) لااله الاالله تلقين کوئ. (مسلم)

حل اللغات:- ① لَقِّنُوا: أَيْ: ذَكِّرُوا: تلقين اوکړئ. يعنی قريب المرګ ته کلمه ورياده کړئ.

[١] اخرجه مسلم فی كتاب الجنائز/باب تلقين الموتى لا إله إلا الله (رقم-١ - (٩١۶) وابوداود كتاب الجنائز باب فی التلقين (رقم-٣١١٧) والترمذی كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی تلقين المريض عند الموت. والدعاء له عنده (رقم-٩٧۶) والنسائی فی كتاب الجنائز/باب تلقين الميت (رقم-١٨٢۶) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فی تلقين الميت لا إله إلا الله (رقم-١۴۴۵)

تسهیلات: قوله : لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ:

په قريب الموت د ميت د اطلاق وجه :- په قريب المرګ باندې په اعتبار راتلونکې وخت سره دَ مړی نوم اخستې شوې دې مطلب دا چه په حالت دَ ساه ختلو کښې مرګ ته نيزدې سړی په وړاندې کلمه وغيره لولئی دې دَپاره چه هغه ئی واورې اولوستل شروع کړی. دلته دَ کلمې وئيلو نه هم دغه تعليم مراددې.

قريب المرګ ته کلمه وئيل نه مطالبه د وئيلو :- علماؤليکلی دی چه بيمارته اوره وه خو دا حکم ورته مه کوه چه ته اولوله هسې نه چه پريشانئی کښې هغه چرته انکاراونه کړی. دَ مرګ نه پس په قبرباندې دَ کلمې وئيلو مسئله وړاندې راځی. دلته مرګ ته دَنيزدې سړی دَ کلمې وئيلو بيان دې. داکلمه وئيل مستحب دې. دَ احنافو په نيز قبرونوسره کلمه وئيل راجح قول نه دې. ظاهرالرواية هم دغه دې چه تلقين قبوردې اونه کړې شی.(درمختارمع ردالمحتار ج١ص٦٢٨ وامداد الفتاوی ج١ص٤٩٩).

[١٦١٧] مرګ ته نيزدې کس سره د خير خبرې کول

١٦١٧ –(١)[٢] [١] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] " «إِذَا حَضَرْتُمُ الْمَرِيضَ أَوِ الْمَيِّتَ فَقُولُوا: خَيْرًا; [٣] لِأَنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلَى مَا تَقُولُونَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] بي بي أم سلمه ﷞ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هر کله چې تاسو يو مريض يا قريب المرګ ته ورشئ نو د خلي څخه د خير او د نيکي کلمات اوباسي (يعنی وايئ) [٣] ځکه چې تاسو څه وايئ (هغه که د خير او د ښيګړی دعا وي يا د بدو او د شر دعا وی) فرښتې پرې آمين وايي. (مسلم)

حل اللغات:- ① يُؤَمِّنُونَ: أَيْ: يَقُولُونَ آمِينَ: فرښتې پرې آمين وائی.

تسهیلات: قوله : أَوِ الْمَيِّتَ:

دَمريض نه پس دَ مړی ذکرکړې شوې دې دې نه حقيقی مرګ مراداخستل به زيات بهتروی يعنی که په تاسوکښې يوسړې يوبيمار يا مړی ته حاضرشی.

قوله : فَقُولُوا: خَيْرًا:

د بيمار دپاره دعا ګول :- يعنی ښه کلمات اداکوئی چه ستاسودَپاره اودَ بيماردَپاره بل دَ مړی دَپاره يوشان فائده مند وی. هغه داسې چه دَخپل ځان دَپاره دَخير دَ بيماردَپاره دَ شفا او دَ مړی دَپاره دَمغفرت دعاغواړئی نوداددَريواړودَپاره دَخيردعاده اوځنګه چه ددَې

١) اخرجه مسلم فی کتاب الجنائز /باب ما يقال عند المريض والميت (رقم-٦ - (٩١٩) وابوداود کتاب الجنائز، باب ما يستحب أن يقال عند الميت من الکلام (رقم-٣١١٥) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/ ما جاء فی تلقين المريض عند الموت، والدعاء له عنده (رقم-٩٧٧) والنسائی کتاب الجنائز /باب کثرة ذکر الموت (رقم-١٨٢٥) *وابن ماجه* کتاب الجنائز /باب ما جاء فيما يقال عند المريض إذا حضر (رقم-١٤٤٧)

حدیث تعلیم دې فرښتې د هغه په ښه دعا او کلماتو باندې آمین وائی او د فرښتو د آمین والا دعا قبلیږی او هم دغه لوئی نعمت او دولت دې.

[١٦١٨] په مصیبت باندې د کلمه استرجاع ویلو فضیلت

١٦١٨-()[٣][١] وَعَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[٢] "«مَا مِنْ مُسْلِمٍ تُصِيبُهُ مُصِيبَةٌ[٣] فَيَقُولُ مَا أَمَرَهُ اللَّهُ بِهِ، إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ،[٤] اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي،[٥] وَاخْلُفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا،[٦] إِلَّا أَخْلَفَ اللَّهُ لَهُ خَيْرًا مِنْهَا،[٧] فَلَمَّا مَاتَ أَبُو سَلَمَةَ قُلْتُ: أَيُّ الْمُسْلِمِينَ خَيْرٌ مِنْ أَبِي سَلَمَةَ،[٨] أَوَّلُ بَيْتٍ هَاجَرَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -،[٩] ثُمَّ إِنِّي قُلْتُهَا فَأَخْلَفَ اللَّهُ لِي رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[١] بي بي أم سلمه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هر کله چې يو مسلمان په يو (لويي يا وړوکي) مصيبت کښې مبتلا شي[٣] او د الله تعالى جل جلاله د حکم مطابق دا الفاظ اووائي انا لله وانا اليه راجعون مونږ د الله تعالى جل جلاله يو او د هغه طرف ته زمونږ ورتلل دي[٤] اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي وَاخْلُفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا اي الله زما په مصيبت باندې ماته ثواب راکړي [٥] او (په دې مصيبت کښې) چې کوم شي زما د لاس څخه تلي دي د هغې نعم البدل راته راکړې [٦] نو الله تعالى جل جلاله د هغه ځيز څخه بهتره بدله ورکوي [٧] بي بي أم سلمه رضي الله عنها فرمايي چې کله ابو سلمه (يعني زما مخکني خاوند) وفات شو نو ما اوويل چې د ابو سلمه څخه به بهتر کوم مسلمان وي [٨] هغه ابو سلمه چې هغه د ټولو څخه مخکې خپل د اهل او عيال سره د حضور ﷺ طرف ته هجرت اوکړو[٩] او بيا ما مذکوره بالا کلمات اوويل نو الله تعالى جل جلاله د ابوسلمه رضي الله عنه په بدله کښې ماته حضور ﷺ راکړو (يعني زه د حضور ﷺ په نکاح کښې راغلم) (مسلم)

حل اللغات:- ① أْجُرْنِي: ثواب راکړې ماته، ② اخْلُفْ: دا د باب افعال نه دې، أي: اجْعَلْ لِي خَلَفًا مِمَّا فَاتَ عَنِّي: کوم څه چه زما د لاس څخه وتلی دی د هغه نعم البدل راته راکړی.

تسهيلات: قوله : وَاخْلُفْ: دا د باب افعال نه دې او دا باب په دې امورو کښې مستعمل کيږی د کوم حصول چه متوقع وی لکه مال اولاد زوجه وغيره او د کوموځيزونو حصول چه متوقع نه وی په هغې کښې خلف باب تفعيل نه استعماليږی.

قوله : أَيُّ الْمُسْلِمِينَ: دا استفهام د استبعاد د پاره دې. ام سلمه رضي الله عنها تعجب اوکړو چه د ابوسلمه رضي الله عنه نه زيات څوک ښه کيدې شی.

قوله : أْجُرْنِي: دا کلمه أُجُرْنی هم نقل ده يعنی د همزې د جزم سره او د جيم پيش سره او د همزې مد او د جيم زير سره هم نقل ده هم دغه مشهوردی.

[1] اخرجه مسلم فی کتاب الجنائز/باب ما يقال عند المصيبة (رقم) ٣ - (٩١٨) وابوداود کتاب الجنائز/باب فی الاسترجاع (رقم-٣١١٩)

قوله : وَعَنْهَا اي أُمِّ سَلَمَةَ:

د ام سلمه محدثانه شان :- حضرت ام سلمه رضی الله عنها دامهات المؤمنين نه ده. داحاديثو بيانولو كښې ددوى مقام حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها سره نيزدې نيزدې دې. هغې دحضورپاك نه دا حديث رومبې اوريدلې وو چه دمصيبت په وخت مسلمان له انالله الخ وئيل پكاردى او دې سره داكلمات هم اداكول پكاردى چه د فوت شوى څيزپه بدله كښې الله تعالى دهغې نه بهتربدله وركړى. دام سلمه رضی الله عنها خاوندیود شان والاصحابى وو په اخلاص ئى هجرت اوكړو اوبيا انتقال شو. دام سلمه رضی الله عنها په خيال كښې هغه د ډيرو خوبيانومالك ووپه دې وجه هغه خفه وه چه زماد خاوندنه بهترڅوك كيدې شى. ليكن د شريعت حكم وو په دې وجه ام سلمه رضی الله عنها دابوسلمه رضی الله عنه په وفات باندې داكلمات اداكړل. د دې اثردا اوشو چه دالله تعالى دطرف نه ام سلمه رضی الله عنها ته دهغې دخاوندنه بهترخاوند سيدالاولين والاخرين ورنصيب كړو.

قوله : إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ:

د كلمه استرجاع وسعت :- مفهوم دادې چه دادمصيبت په وخت مصيبت وهلې سړې وائى چه زه دامصيبت خوراغلو ليكن مونږ زمونږ اولاد اوزمونږ خان اومال ټول هم دالله تعالى دى. او آخركار ټولوله هم دغه رب ته واپس تلل دى. دادعادمسلمانانود پاره يولوئى راحت اونعمت دې چه د ډير لوئى مصيبت خفگان هم برداشت كول آسانيږى. اوكوموخلقوسره دا مرهم دوائى اوتسلى نشته دې دهغوى نه پوښتنه اوكړئى چه په هغوى باندې غم څنګه تيريږى نوهغوى به اوښائى چه نااميدى اوحوصله بيلل اود درد اوغم نه سوا هيڅ هم نه ملاويږى. علماؤ ليكلى دى چه كله هم سړى ته تيرشوې مصيبت رايادشى هغه له پكاردى چه داكلمات اداكړى الله تعالى به ورته نوې ثواب وركړى. [الكاشف: ۴/۳۵۳.]

[١٦١٩] دابوسلمه دپاره د نبى كريم صلی الله علیه وسلم دعا

١٦١٩—(١)[٣] [١] وَعَنْهَا قَالَتْ: [٢] «دَخَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَلَى أَبِي سَلَمَةَ وَقَدْ شَقَّ بَصَرَهُ فَأَغْمَضَهُ [٣] ثُمَّ قَالَ: إِنَّ الرُّوحَ إِذَا قُبِضَ تَبِعَهُ الْبَصَرُ; [٤] فَضَجَّ نَاسٌ مِنْ أَهْلِهِ فَقَالَ: [٥] "لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ إِلَّا بِخَيْرٍ; [٦] فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلَى مَا تَقُولُونَ": [٧] ثُمَّ قَالَ: "اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَبِي سَلَمَةَ، [٨] وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّينَ، [٩] وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِينَ، [١٠] وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ، [١١] وَأَفْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ، وَنَوِّرْ لَهُ فِيهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] بي بي ام سلمه رضی الله عنها فرمايي [٢] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم (زما مخكني خاوند) ابو سلمه رضی الله عنه ته هغه وخت تشريف راوړه كله چې د هغه ستركي خلاصي پاتې شوي وي نو حضور صلی الله علیه وسلم د هغه ستركي بندي كړي [٣] او وي فرمايل هر كله چې روح قبض كيږى نو ستركي په هغه پسي ګوري اوروني پاتې شي [۴] د ابو سلمه رضی الله عنه اهل بيت (د دي اوريدو

[1]) اخرجه مسلم فى باب فى إغماض الميت والدعاء له إذا حضر (رقم-٧ - (٩٢٠) ابوداود كتاب الجنائز، باب تغميض الميت (رقم-٣١١٨)وابن ماجة كتاب الجنائز /باب ما جاء فى تغميض الميت (رقم- ١٤٥٤)

سره) پوهه شو چې ابو سلمه رضي الله عنه وفات شو نو هغه ټول په ژړا شو حضور ﷺ ورته وفرمايل [٥] چې د خپلو نفسونو په باره کښې د خير او د نيکې دعا کوئ (يعني واويلا او بد دعا مه کوئ) [٦] چې تاسو (ښه يا بد) د کومې دعا د پاره هم الفاظ د خُلې څخه اوباسئ فرښتې په هغې آمين وايي [٧] بيا حضور ﷺ دا دعا ارشاد وفرمايله: اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَبِي سَلَمَةَ وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّيْنَ وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِيْنَ وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ وَافْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ وَنَوِّرْ لَهُ فِيْهِ

(ترجمه: [١]) اې الله ابو سلمه رضي الله عنه وبخښې [٨] او د هغه مرتبه بلنده کړې هغه په هغه خلقو کښې شامل کړې چې هغوئ ته سيده لار ښودل شوې ده [٩] د هغه د پسمانده ګانو (چې باقي پاتې شوي دي د هغوی) کار ساز شې [١٠] او اې د دواړو جهانو پروردګاره مونږ او دې وبخښې [١١] او دده په قبر کښې فراخي راولې او د هغه د پاره قبر منور کړې. (مسلم)

حل اللغات:- ① شَقَّ: دمرګ په وخت سترګې کولاؤ پاتې کيدل او شليدلو په معنى کښې دې، ② فَأَغْمَضَهُ: نو سترګې ئې ورله بندې کړې، ③ فَضَجَّ: د ضَرَبَ يَضْرِبُ نه دې، أَيْ: رَفَعَ الصَّوْتَ بِالْبُكَاءِ: خلقو په زوره ژړا شروع کړه، ④ يُؤَمِّنُوْنَ: أَيْ: يَقُوْلُوْنَ آمِيْنَ: فرښتې پرې آمين وائى. ⑤ الْمَهْدِيِّيْنَ: أَيْ: الَّذِيْنَ هَدَاهُمُ اللّٰهُ لِلْإِسْلَامِ سَابِقًا: چاته د اسلام نيغه لار مخکښې نه ورنصيب شوې ده، ⑥ وَاخْلُفْهُ: أَيْ: كُنْ خَلَفًا أَوْ خَلِيْفَةً لَهُ: ته ددوى کارساز شې، ⑦ عَقِبِهِ: أَيْ: فِي أَوْلَادِهِ: د مړى پسمانده ګان او اهل وعيال، ⑧ الْغَابِرِيْنَ: أَيْ: الْبَاقِيْنَ فِي الْأَحْيَاءِ مِنَ النَّاسِ، دمړى کوم پسمانده ګان چه ژوندى دى. ⑨ أَفْسِحْ: أَيْ: وَسِّعْ: فراخه کړې (قبر دده).

تسهيلات: قوله: وَقَدْ شَقَّ بَصَرُهُ فَأَغْمَضَهُ:

د مړى سترګو بندولو وجه:- اوبيائې دَ سترګو دَ غړيدلو وجه بيان کړه چه روح کله اوځى نو نظر هغې پسې ځى لکه چه سترګې داګورى چه روح څنګه اوځى. کله چه روح اوځى نو نظر هم ختم شى او دَ سترګو حرکت هم ختميږى نو سترګې هم غړيدلې پاتې کيږى. په دې وجه حضورپاک امت ته تعليم ورکړو چه دَمړى سترګې بنده وئى ځکه چه غړيدلې پاتې کيدو کښې اوس دَ ليدلو فائده نشته دې او دَمړى شکل ښه نه پاتې کيږى. دا دَ اسلام دَ خوبيانو نه دى چه دَانسان دَښائست دَ مرګ نه پس هم خيال اوساتلې شى.

قوله: فَضَجَّ نَاسٌ مِنْ أَهْلِهِ:

په مړى پسې په چغو د ژړا حرمت:- حضورپاک چه کله دا اوفرمائيل چه روح اوځى نو سترګې کولاؤ پاتې کيږى په دې سره دَ کور خلقو ته اندازه بلکه يقين اوشو چه ابوسلمه رضي الله عنه وفات شوې دې په دې وجه ئې په چغو اوژړل. په دې باندې حضورپاک هغوى ته تسلى ورکړه چه په چغو سره ژړل نه دى پکار او په ژبه سره خراب کلمات هم نه دى اداکول پکار ځکه چه فرښتې آمين وائى. بيا حضورپاک دَ ابوسلمه رضي الله عنه او دَ هغه غريبانانو ګانو دَپاره يوه جامع دعا اوفرمائيله کومه چه صرف ابوسلمه رضي الله عنه سره خاص نه ده بلکه دَامت دَ ټولو

کسانو دپاره عام ده.

[١٦٢٠] د نبی علیه السلام په لاش یمنی څادر اچول

١٦٢٠ – (١) [٥] ١ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حِينَ تُوُفِّيَ ٢ سُجِّيَ بِبُرْدٍ حِبَرَةٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ بي بي عایشه ﷞ فرمایي چې کوم وخت رسول الله ﷺ وفات شو ٢ نو (په بدن مبارك) باندې يې یمني څادر واچول شو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① سُجِّيَ: دَمجهول صیغه ده، أيْ: غُطِّيَ وَسُتِرَ: پټ کړې شو، ② بُرْدَةٍ: څادر، ③ حِبَرَةٍ: بِوَزْنِ عِنَبَةٍ بُرْدٌ يَمَانٍ، د عنبة په وزن دې یمنی څادر ته وائی. مُوَشًّى مُخَطَّطًا: ګلکاری او کربښې دار یعنی برګ څادر.

تسهیلات: قوله: سُجِّيَ بِبُرْدٍ حِبَرَةٍ:

د نبی کریم ﷺ ژوند او د مرګ د هر کیفیت حفاظت: - مطلب دا چه دَ حضورپاك دَ وفات نه پس په حضورپاك باندې يو نقش دار یمنی څادر اچولې شوې وو. دَدنیا دَ ټولو مذهبونو منونکوله منل پکاردی چه اسلام څومره خور مذهب دې اودَدې نبنې نبناني څومره محفوظ دی. په اسلام کښې دا ضمانت هم ورکولې شی چه دَ مسلمانانو پیغمبر علیه السلام دَ وفات نه پس په کوم حال کښې وو يويو کیفیت ئی څنګه وو او يوه يوه لمحه ئی څنګه تیره کړې ده اوڅنګه محفوظ پاتې شوی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٦٢١] د مرګ په وخت کښې د کلمه طیبه وئیلو فضیلت

١٦٢١ – (٢) [٦] ١ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ معاذ ابن جبل ﷛ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ د کوم سړي آخري کلام چې لا اله الا الله شي هغه به په جنت کښې داخلیږي. (ابوداؤد)

تسهیلات: قوله دَخَلَ الْجَنَّةَ:

په دخول جنت کښې دوه احتمالات: - مراد دادې چې کوم کس په آخری وخت کښې لا إله إلا الله محمد رسول الله اووائي نو هغه به جنت ته داخلیږي.

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز /باب الدخول علی المیت بعد الموت إذا أدرج فی أکفانه (رقم-١٢٤١) ومسلم فی کتاب الجنائز /باب تسجیة المیت (رقم) ٤٨ - (٩٤٢) وابوداود کتاب الجنائز /باب فی المیت یسجی (رقم-٣١٢٠)
[2] اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز باب فی التلقین (رقم-٣١١٦)

① دا دخول جنت د عـذاب نـه وړانـدې دي ځکـه د خـول خـاص دي دا احتمـال صـحيح معلومیږی چې په هغـه مؤمنـانو کښې څوک کلمـه طيبـه اووائـی او خپـل ځـان الله تـه حوالـه کړی، او په هغه مؤمنانو کښې څوک چې کلمـه طيبـه او نـه وئيـه پـه دې دواړو کښې امتيـار پيدا شی.

② د دا دخول د خپلو ګناهونو په قدر عذاب تیرولو نه پس.

[١٦٢٢] مرګ ته نيزدې سړی ته دَ سورت ياسين لوستلو حکم

١٦٢٢-(١)[٧] ① وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«اقْرَءُوا سُورَةَ يس عَلَى مَوْتَاكُمْ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① معقل رضی الله عنه ابن يسار روايت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ② د خپلو مړو په مخکي سورة يسين وايئ. (احمد، ابوداؤد، ابن ماجه)

د راوي مختصر تعارف:- نوم معقل ابوعبدالله کنيت دَ پلار نوم يسار بن عبدالله بن صغير بن حراق. دَ صلح حديبيه نه وړاندې مسلمان شوې او بيا په صلح حديبيه کښې دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم هم رکاب هم پاتې وو. اوکله چه حضور صلی الله علیه وسلم بيعت رضوان کښې دَ صحابه کرامو رضوان الله اجمعين نه دَ مرګ بيعت اخستلو نو په يوښاخ سره ئی په حضور صلی الله علیه وسلم باندې سورې کړې وو. (٢)

نبی کريم صلی الله علیه وسلم هغه دَ قبيله مزينه قاضی جوړول غوښتل نو هغه دوه ځل انکار اوکړو بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائيلوچه الله تعالی قاضی سره سره وی کله چه هغه ظلم اونه کړی بيا دې قاضی جوړشو

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه سره دَ هغه ډير قدر اوعزت وو په اهم کارونوکښې به ئی هغوی سره مشهوره کوله. کله چه حضرت عمر رضی الله عنه ابوموسی اشعری رضی الله عنه ته په بصره کښې دَ نهر کنستلو دپاره حکم ورکړو چه دَ تياريدو نه پس دَ معقل په لاس باندې په دې کښې اوبه روانې کړه. بيا دَ حضرت اميرمعاويه رضی الله عنه په زمانه کښې دا نهر زياد صحيح کړو نو په دې کښې ئی دَ حضرت معقل رضی الله عنه په لاس اوبه روانې کړې.(٣)

وفات:- دَ حضرت اميرمعاويه رضی الله عنه په زمانه کښې وفات شو دغه وخت دَ هغه عمر دَ شپيتو اوياؤ په مينځ کښې وو. (٤)

مرويات:- دَ هغوی نه ٣٣ احاديث نقل دی يومتفق عليه په يوکښې امام بخاری او په دووکښې امام مسلم رحمه الله منفرددی(٥)

---

[1] اخرجه ابوداود كتاب الجنائز، باب القراءة عند الميت (رقم-٣١٢١) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فيما يقال عند المريض إذا حضر (رقم-١٤٤٨)

[2] مسنداحمد ٢٥/٥). (٢)مستدرک حاكم ٥٧٧/٣) (٣) فتوح البلدان ٣٦٦) (٤)اصابه١٢٦/٦)

(٥) تهذيب الكمال٣٨٣) (٦) مسلم فی الأمارة باب فضيلة الإمام العادل. ..)

تسهيلات: قوله : اقْرَءُوا سُورَةَ يس عَلَى مَوْتَاكُمْ:

قريب الموت ته د سورة يسين وئيلو حکمت: - اول اوخودلې شو چه دَ موتي نه مراد مرګ ته نيزدې سړې دې. سورت ياسين خوبي داده چه دَهغه نه الله تعالى دَ سختئ تکليف آسانوی ځکه چه دَ قرآن کريم په ټولو سورتونو کښې داسورت ياسين داسې دې چه په دې کښې الله تعالى په عجيبه اندازکښې قيامت ثابت کړې دې مثلاً دَ ذکرالله پوره نقشه ده دَ دفن کړې شوی سړی دَ احوالو ذکر دې دَقيامت دَ احوال ذکر دې په جهنم باندې تيريدو اودَ نورو واقعاتوذکر دې. او په عجيبه دلائلوسره دې حشر اونشر ثابت کړې دې. چونکه سورت ياسين اهمو اصول باندې مشتمل دې بالخصوص دَ حشر اونشر واقعات په دې کښې ډير په تفصيل سره بيان کړې شوی دی. په دې وجه په خصوصيت سره مرګ ته نيزدې کس ته خواکې دَدې دَ لوستلو حکم شوې دې اوهم په دې وجه دې ته قلب قرآن وئيلې شوې دې. دادَ تکليف په وخت کښې هم مفيددې مړی سره خواکې لوستل هم دَمړی دَپاره مفيددی او په کورکښې دَدې لوستل هم دَ فائدې دی. خلق هم دَدې حديث دَ وجې نه دَمړودَپاره سورت ياسين خاص کوی. بعضې وهمی خلق دَ سورت ياسين نه دَ تختيدو کوشش کوی.

د سورة ياسين د تلاوت څخه د يو کس ويريدل: - حضرت تهانوی رحمة الله عليه په خپل ملفوظاتوکښې ليکلی دی چه په هندوستان کښې يوسړې ووهغه به دَ سورت ياسين دَ نوم نه ويريدلو اوخلقوته ئی وئيلې وو چه په کومه ورځ حافظ صاحب سورت ياسين لولی دَهغې نه مخکښې ماته وايئی چه زه په هغه شپه په تراويح کښې شرکت نه کوم ځکه چه دادَمړو سورت دې ځوک ئی چه اوری مړه کيږی به. هغه په انتظار کښې وو خوچاورته اونه وئيل او سورت ياسين اولوستلې شو يوځوورځې پس هغه پوښتنه اوکړه چه تردغه وخته سورت ياسين نه دې راغلې نوچاورته اووئيل چه هغه خو تيرشوې دې. هغه اووئيل چه زه په هغه شپه حاضرووم او ما اوريدلې دې. جواب ورکونکی اووئيل اوته حاضر وې اوتااوريدلې هم دې. په دغه سړی دَ ويرې دومره اثر اوشو چه په رڼچيدوشو او په رڼ رڼ کښې مړشو.

[١٦٢٣] د مسلمان د لاش ښکلولو جواز

١٦٢٣-(١)[٨] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: [٢] «إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَبَّلَ عُثْمَانَ بْنَ مَظْعُونٍ وَهُوَ مَيِّتٌ [٣] وَهُوَ يَبْكِي حَتَّى سَالَ دُمُوعُ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَى وَجْهِ عُثْمَانَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي [٢] چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د عثمان ابن مظعون د وفات څخه روسته هغه ښکل کړو [٣] او په هغه يي وژړل تر دې چې د حضور صلى الله عليه وسلم اُښکي مبارکي

---

(١) اخرجه ابوداود كتاب الجنائز/باب فى تقبيل الميت (رقم-٣١٦٣) كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ما جاء فى تقبيل الميت(رقم-٩٨٩) وابن ماجة كتاب الجنائز / باب ما جاء فى تقبيل الميت(رقم-١٤٥٦)

د عثمان رضي الله عنه په مخ (څخيدلو سره) وبهيدلي. (ترمذي ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات:[1] - ① قَبَّلَ: ښکل ئې کړو، ② سَالَ: وبهيدلې.

تسهيلات: قوله: قَبَّلَ عُثْمَانَ بْنَ مَظْعُونٍ:

د عثمان بن مظعون رضي الله عنه په مرګ د نبي کريم ﷺ ژړا: - دې صحابي رضي الله عنه سره دَ رسول الله ﷺ ډير محبت وو. حضورپاك دې دَ خپل رور په نوم باندې ياد كړې دې. مهاجرينو كښې دا اولنې انسان دې دَ چاچه په مدينه منوره كښې انتقال شوې وو اودې اولنې انسان دې دَ چا په وجه چه دَ جنت البقيع بنياد كيخودې شو. دَ ټولو نه اول په بقيع كښې هم دې دفن كړې شو او حضورپاك يو لوئي كاڼې راوړو دَ ده قبر سره ئې خښ كړو او وئې فرمائيل چه په دې سره به زما دَ رور قبر معلوم وی او زما اهل عيال به ده سره نيزدې دفن كيږي.

د حديث فوائد: - ① په يومړی باندې ژړل او اوښكې تويول جائز دی. چغې صورې ويناګانې اوجزع فزع كول جائز نه دی.

② مسلمان مړې ښكلول جائز دی په عام توګه په تندی باندې ښكلولې شي.

③ دَدې حديث نه داخبره هم ثابته شوه چه دَخپل خاندان خلق نيزدې نيزدې خښول جائز دی. ④ دَ قبر معلومولو په غرض باندې په هغې باندې څه نښه كيخودل جائز دی.

[١٦٢٤] د ابوبكر صديق رضي الله عنه د رسول الله ﷺ بدن مبارك ښكلول

١٦٢٤ - ( ) [٩] [١] وَعَنْهَا قَالَتْ: [٢] إِنَّ أَبَا بَكْرٍ قَبَّلَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ مَيِّتٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي [٢] چې ابو بكر صديق رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د وفات څخه روسته د حضور ﷺ بدن مبارك ښكل كړو. (ترمذي ابن ماجه)

تسهيلات:

قوله: إِنَّ أَبَا بَكْرٍ قَبَّلَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ مَيِّتٌ

د مړي څخه د بوسې اخستلو جواز: - د بوسې اخستلو والادويم روايت ئې متصل ذكر كړو چې حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه حضرت نبي كريم ﷺ څخه بوسه واخسته چې كله نبي كريم ﷺ ددې فاني دنيا څخه رحلت اوفرمائيلو. امام احمد رحمه الله يو روايت نقل كړې دې چې حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه نبي كريم ﷺ ته د سر د طرفه راغلو او تندی مبارك نه ئې ترې بوسه واخستله. بيا ئې اوفرمائيل چې وانبياه. بيا ئې خپل سر پورته كړو او خپل مخ ئې ټيټ

[1] اخرجه البخاری فی كتاب الجنائز/باب الدخول علی الميت بعد الموت إذا أدرج فی أكفانه (رقم-١٢٤٢) والترمذی كتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/ ما جاء فی تقبيل الميت(رقم-٩٨٩) والنسائی كتاب الجنائز/تقبيل الميت (رقم-١٨٤٠) وابن ماجة كتاب الجنائز / باب ما جاء فی تقبيل الميت(رقم-١٤٥٧)

کړو. بیا ئې د نبی کریم ﷺ د مخ مبارك څخه بوسه واخستله او وې فرمائیل چې واصفیاه. بیا حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپل سر پورته کړو او مخ ئې ټیټ کړو او تندی مبارك څخه ئې بوسه واخستله او وې فرمائیل واخلیلاه. داشان ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دې چې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ په تندي مبارك باندې خپله خله کیخودله او بوسه ئې اخستلې. او ورسره ئې ژړل هم او فرمائیل به ئې چې زما مور پلار دې ستاسو څخه قربان وی ، ستا حیات او وفات قابل رشك دی. (مرقاة ج۴ ص۱۷).

ددې څخه معلومه شوه چې مړی څخه بوسه اخستل جائز دی. لیکن ښځه د خاوند څخه او خاوند د ښځې څخه د مرګ څخه پس بوسه نشی اخستې.

[١٦٢٥] په کفن دفن کښې د تادی کولو حکم

١٦٢٥-()[١٠] ① وَعَنْ حُصَيْنِ بْنِ وَحْوَحٍ: ② «أَنَّ طَلْحَةَ بْنَ الْبَرَاءِ مَرِضَ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَعُودُهُ ③ فَقَالَ: إِنِّي لَا أَرَى طَلْحَةَ إِلَّا قَدْ حَدَثَ بِهِ الْمَوْتُ ④ فَآذِنُونِي بِهِ وَعَجِّلُوا، ⑤ فَإِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِجِيفَةِ مُسْلِمٍ أَنْ تُحْبَسَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ أَهْلِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① حصین رضی الله عنه ابن وحوح فرمايي ② چې طلحه رضی الله عنه ابن براء مریض شو نو نبی کریم ﷺ د هغه پوښتنې ته تشریف راوړو ③ او (د هغه اهل بیت ته) يې وفرمایل چې زما خیال دي چه د طلحه رضی الله عنه مرګ راغلي دي (یعني په هغه د مرګ علامت ظاهر شوي دي) ④ نو کله چې وفات شي نو ما (سمدستي) خبر کړئ [چې د جنازې مونځ ته راورسيږم] او تاسو په تجهیز او تکفین او تدفین کښې جلتي کوئ ⑤ ځکه چې د مسلمان مړي دبدن د پاره مناسب نه دي چې هغه د خپل اهل په مينځ کښې زيات ايسار کړې شي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① حَدَثَ: أَيْ: ظَهَرَ: یعنی دمرګ علامات ئې ښکاره شوی دی. ② عَجِّلُوا: جلتی کوئ (په غسل اوکفن دفن کښې). ③ لِجِيفَةِ: أَيْ: جُثَّة: د مړی بدن، ④ تُحْبَسَ: أَيْ: تُقَامُ وَتُوقَفُ: ایسارکړې شی. ⑤ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ أَهْلِهِ: أَيْ: بَيْنَ أَهْلِهِ: په خپل اهل وعیال کښې.

د راوي مختصر تعارف: - نوم حصین دَ پلار نوم وحوح. دا انصاری صاحبی رضی الله عنه دې دَهغه روایتونو په مدینه منور کښې ډیر مشهور دی. په جنګ قادسیه کښې شهید کړې شو وئیلی شی چه هغه ته ډیرزیات تکلیفونه رسولوسره شهید کړې شو.

تسهیلات: قوله : فَآذِنُونِي بِهِ وَعَجِّلُوا:

په تدفین کښې د تاخیر دممانعت وجه: - کله چې انسان مړشی اوپه ده باندې ډیر وخت تیرشی نو دده نعش بدبوئې داره کیږی کوم چې د خلقو د نفرت سبب ګرځی اوانسان الله تعالی په ژوندونی اومړونی قابل عزت پیدا کړې دې. ددې وجې نبی علیه السلام په تدفین کښې د تاخیر څخه منع اوفرمائیله.

[١] اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب التعجیل بالجنازة وکراهیة حبسها(رقم-٣١٥٩)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٦٢٦] قريب المرګ ته د يوې کلمې تلقين کول

١٦٢٦ ـ (١) [١] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، [٣] سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ، [٤] اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ. [٥] قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ، كَيْفَ لِلْأَحْيَاءِ؟ [٦] قَالَ: أَجْوَدُ وَأَجْوَدُ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] عبدالله ابن جعفر رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] تاسو خلق قريب المرګ ته د دې کلمې تلقين کوئ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ (**ترجمه**) د الله جل جلاله څخه ماسوا بل معبود نشته چې بردبار او بزرګ دي [٣] پاک دي الله جل جلاله چې د عرش عظيم مالک دي [٤] ټول تعريفونه الله جل جلاله لره دي چې د دواړو جهانونو پروردګار دي، [٥] صحابه ؤ عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ تندرستو ته دا کلمه ښودل څرنګه دي؟ [٦] حضور ﷺ وفرمايل چې بهتر او ډير بهتر دي. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① لَقِّنُوا: أَيْ: ذَكِّرُوا: تلقين اوکړئ، يعنى قريب المرګ ته کلمه وريادہ کړئ. ② أَجْوَدُ وَأَجْوَدُ: أَيْ: أَحْسَنُ: يعنى ډيرښه دي، (تکرار د مبالغې اوتاکيد دپاره دې).

تسهيلات:

قوله: سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ:

عرش لره د عظيم په صفت د موصوف کولووجه: - عرش عظيم ئې په دې وجه اووئيل چې دا د ټول مخلوقاتو نه لوې دې. اود ټول کائنات احاطه ئې کړې ده. او ټول تعر يفونه هغه ذات دپاره دی کوم چې په حيات او مرګ ورکولو باندې قادر دې. هغه داسې رب دې چې د ټول جهان مربی او خالق دې. صحابه کرامو عرض اوکړو چې دا کلمات د ژوندو دپاره څنګه دی ، نو حضرت نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې ډير ښه ځيز دې.

قوله: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ

د مرګ په وخت کښې لاندېنی کلمات وئيل: - يعنی ښۀ نه ښه ، مکرر تاکيد او مبالغې دپاره دې. امام طيبی رحمه الله فرمائی چې تکرار استمداد دپاره دې. امام سيوطی ، ابن عساکر رحمه الله د حضرت علی رضي الله عنه روايت نقل کړې دې چې نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې کوم کس دا لاندې کلمات د مرګ په وخت کښې اووائې نو الله ﷻ به ئې جنت ته داخل کړی . (لا اله الا الله الحليم الكريم) درې ځل (الحمد رب العالمين) درې ځل (تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ).

(١) اخرجه ابن ماجة في كتاب الجنائز ، باب ما جاء في تلقين الميت لا إله إلا الله (رقم-١٤٤٦)

[۱۶۲۷] د روح قبض کولو په وخت کښې د مومن او کافر فرق

۱۶۲۷–(١)[۱۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «الْمَيِّتُ تَحْضُرُهُ الْمَلَائِكَةُ فَإِذَا كَانَ الرَّجُلُ صَالِحًا قَالُوا: [۳] اخْرُجِي حَمِيدَةً أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الطَّيِّبِ، [۴] اخْرُجِي وَأَبْشِرِي بِرَوْحٍ وَرَيْحَانٍ [۵] وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ، [۶] فَلَا تَزَالُ يُقَالُ لَهَا: ذٰلِكَ حَتَّى تَخْرُجَ [۷] ثُمَّ يُعْرَجُ بِهَا إِلَى السَّمَاءِ فَيُفْتَحُ لَهَا [۸] فَيُقَالُ: مَنْ هٰذَا؟ فَيَقُولُونَ: فُلَانٌ. [۹] فَيُقَالُ: مَرْحَبًا بِالنَّفْسِ الطَّيِّبَةِ فِي الْجَسَدِ الطَّيِّبِ، [۱۰] ادْخُلِي حَمِيدَةً، [۱۱] وَأَبْشِرِي بِرَوْحٍ وَرَيْحَانٍ، [۱۲] وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ، [۱۳] فَلَا تَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذٰلِكَ حَتَّى تَنْتَهِيَ إِلَى السَّمَاءِ الَّتِي فِيهَا اللهُ،

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې قريب المرګ وي نو هغه ته فرښتي راځي که هغه نيک او صالح وي نو (د هغه روح ته د رحمت فرښتي وايي [۳] چې اې پاکه روحه چې په پاک بدن کښې وې په دې حال کښې (د بدن څخه راووزه چې د الله جل جلاله او د مخلوق په نزد ستا تعريف شوي دي [۴] او تا ته دې زيرې وي د دايمي راحت او سکون، د جنت د پاک رزق [۵] او د الله جل جلاله سره د ملاقات چې (په تا) غضبناک نه دي [۶] د قريب المرګ مخې ته فرښتي بيابيا دا خبره کوي تر دې چې روح (په خوشحالي خوشحالي سره) بهر راووزي [۷] بيا فرښتي هغه د آسمان طرف ته وړي دآسمان دروازه دهغه دپاره (د فرشتو د ويلو سره يا د مخکې نه) خلاصه وي [۸] د آسمان دربان پوښتنه کوي چې دا سړي څوک دي؟ فرښتي ورته (د هغه نوم، نسب ښودلو سره) وائي چې دا د فلاني سړي روح دي [۹] نو ويل کيږي چې په دې پاک روح دې افرين وي چې په پاک بدن کښې وو [۱۰] او (اې پاک روحه په آسمان کښې) داخل شه په داسې حال کښې چې ستا تعريف شوي دي [۱۱] او تا ته دې زيرې وي د راحت، د پاک رزق [۱۲] او د پروردګار سره د ملاقات چې غضبناک نه دي، [۱۳] د هغه روح سره برابر دا خبره کيږي تر دې چې هغه آسمان (يعني عرش) ته ورسي چيرته چې د الله رب العزت ذات (کما يليق بشانه) دي.

[۱] فَإِذَا كَانَ الرَّجُلُ السُّوءُ قَالَ: [۲] اخْرُجِي أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْخَبِيثَةُ [۳] كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الْخَبِيثِ، [۴] اخْرُجِي ذَمِيمَةً، [۵] وَأَبْشِرِي بِحَمِيمٍ وَغَسَّاقٍ، [۶] وَآخَرَ مِنْ شَكْلِهِ أَزْوَاجٌ، [۷] فَمَا تَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذٰلِكَ حَتَّى تَخْرُجَ، [۸] ثُمَّ يُعْرَجُ إِلَى السَّمَاءِ فَيُفْتَحُ لَهَا [۹] فَيُقَالُ: مَنْ هٰذَا؟ فَيُقَالُ: فُلَانٌ. [۱۰] فَيُقَالُ: لَا مَرْحَبًا بِالنَّفْسِ الْخَبِيثَةِ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الْخَبِيثِ، [۱۱] ارْجِعِي ذَمِيمَةً فَإِنَّهَا لَا تُفْتَحُ لَكِ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، [۱۲] فَتُرْسَلُ مِنَ السَّمَاءِ ثُمَّ تَصِيرُ إِلَى الْقَبْرِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او که هغه خراب (يعني کافر) وي نو ملک الموت ورته وايي [۲] چې اې خبيث روحه [۳] چې په خبيث بدن کښې وې [۴] په داسې حال کښې د بدن څخه راووزه چې ستا

---

(١) اخرجه ابن ماجة فی کتاب الزهد/باب ذکر الموت والاستعداد له (رقم-٤٢٦٢)

بدي بيان شوي ده ⑤ او دا خرابه خبره واوره چې ايشيدلي اوبه، نوونه (پيپ) ⑥ او د دې څخه علاوه نور عذابونه ستا منتظر دي ⑦ د دې بد بخت قريب المرګ مخې ته په وار وار دا اوويل کيږي تر دي چې د هغه روح (په ناخوښې) بهر راووزي ⑧ بيا هغه د آسمان طرف ته ورل کيږي (چې د هغه ذلت او خواري په هغه ظاهر کړل شي) هر کله چې د هغه د پاره د آسمان دروازي کولاؤ کړل شي ⑨ د دربانانو د طرف څخه پوښتنه کيږي چې دا سړي څوک دي؟ جواب ورکول شي چې فلاني سړي دي ⑩ نو ويل کيږي چې په دي خبيث روح دي لعنت وي چې په مردار جسم کښې وو⑪ او (اي خبيث روحه) واپس ولاړ شه په داسې حال کښې چې ستا بدي بيان شوي ده او ستا د پاره د آسمان دروازي نشي خلاصيدلي ⑫ نو هغه د آسمان څخه راوېشتل کيږي نو واپس هغه د قبر طرف ته راځي. (ابن ماجه)

حل اللغات:- ① حَمِيدَةً: أَيْ: مَحْمُودَةً جَمِيلَةً: يعنى دَالله تعالى اودَهغه دَمخلوق په نيزخو محمود اوتعريف كړې شوې دې. ② رَوْح: أَيْ: رَاحَةٍ: دَهميشه راحت اوسكون تـه وائى. ③ رَيْحَانٍ: أَيْ: رِزْقٍ: دَ جنت صفا ستره رزق مراددې. ④ يُعْرَجُ: مجهوله صيغه ده، خيجولې شى، ⑤ مَرْحَبًا: په خير راغلې دې وى. ⑥ ذَمِيمَةً: أَيْ: مَذْمُومَةً: چه بدى ئې بيان شوې ده، ⑦ حَمِيمٍ: أَيْ: مَاءٍ حَارٍّ: ايشيدلي خوټكيدلي اوبه ⑧ غَسَّاقٍ: اى مِنْ صَدِيدِ أَهْلِ النَّارِ: د دوزخيانو وينې زوې، (پيپ او نوونه)، ⑨ شَكْلِهِ: أَيْ: مِثْلُ مَا ذُكِرَ: ددې په شان نور عذابونه، ⑩ فَتُرْسَلُ: أَيْ: تُرَدُّ: واپس كولې شى، ⑪ تَصِيرُ: أَيْ: تَرْجِعُ: واپس راځى.

تسهيلات: قوله: "إِلَى السَّمَاءِ": معلومه شوه چه دَ جنت پوره نظام په آسمانونوكښې دې اوهم هلته عليين دې چرته چه دَمؤمنانو روحونه جمع كيږى. "رب غيرغضبان": يعنى دَداسې رب دَ ملاقات دې تاته زيرې وى چه په تاباندې به كله هم نه غضبناك كيږى.

قوله: فِيهَا اللهُ: يعنى په كوم آسمان كښې چـه الله تعالى دې داكلمـه دَمتشابهات نـه ده په دې زمونږ ايمان دې. تفصيل كښې تلل منع دى. "اى مايليق بشأنه"

د دوزخ نظام د زمكو لاندې:- داسې معلوميږى چه دَدوزخ ټول نظام دَزمكولاندې دې. بعضې روايتونوكښې دَعرش پورې دَ روحونوارولو ذكرراغلې دې، بعضې كښې دَ قبرونوپورې دَ روحونـو رسيدل ذكـر دى. نوتطبيق دادې چـه بعضې روحونـه دَعرش پـورې ځى بعضې قبرونوسره وى او عام په عليين كښې وى.

[١٦٢٨] دَمؤمن اوكافر دَروح قبض كولوبيان

١٦٢٨-(¹)[١٣] ① وَعَنْهُ: "أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «إِذَا خَرَجَتْ رُوحُ الْمُؤْمِنِ تَلَقَّاهَا مَلَكَانِ يُصْعِدَانِهَا. ③ قَالَ حَمَّادٌ: فَذَكَرَ مِنْ طِيبِ رِيحِهَا وَذَكَرَ الْمِسْكَ. ④ قَالَ: وَيَقُولُ أَهْلُ السَّمَاءِ: رُوحٌ طَيِّبَةٌ ⑤ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ الْأَرْضِ صَلَّى اللهُ عَلَيْكِ، ⑥ وَعَلَى جَسَدٍ كُنْتِ تَعْمُرِينَهُ ;⑦ فَيُنْطَلَقُ بِهِ إِلَى رَبِّهِ ثُمَّ يَقُولُ:

(¹) اخرجه مسلم كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب عرض مقعد الميت من الجنة أو النار عليه، وإثبات عذاب القبر والتعوذ منه(رقم-٧٥ - (٢٨٧٢)

[٨] انْطَلِقُوا بِهِ إِلَى آخِرِ الْأَجَلِ.

ترجمه: [١] ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] هر کله چې د مومن روح د هغه د جسم څخه وځي نو دوه فرښتې هغه د آسمان طرفته وړي [٣] حماد (چې دا حدیث د ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت کوي) وایي چې د دې څخه روسته حضور ﷺ یا ابوهریره رضی الله عنه د هغه روح د خوشبو او مشک ذکر اوکړو [یعنی چې د هغه روح څخه د مشک خوشبوي راځي دا الفاظ حماد ځکه اوویل چې هغه ته هغه الفاظ بعینه یاد نه وو کوم چې هغه اوریدلي وو] [٤] بیا حضور ﷺ وفرمایل (هر کله چې فرښتې د مومن روح آخستلو سره آسمان ته رسي) نو آسمان والا فرشتې وایي چې دا پاک روح د زمکې څخه راغلي دي [٥] بیا هغه روح مخاطب کولو سره داسې وایي چې الله تعالی جل جلاله دې په تا باندې خپل رحمت وکړي [٦] او ستا په بدن باندې چې تا آباد کړي وو [٧] بیا فرښتې هغه پروردګار ته (یعني عرش) ته وړي او پروردګار دا حکم فرمایي [٨] چې دې بوزئ او د قیامت تر ورځې پورې مهلت ورکړئ.

[١] قَالَ: وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا خَرَجَتْ رُوحُهُ [٢] قَالَ حَمَّادٌ: وَذَكَرَ مِنْ نَتْنِهَا، وَذَكَرَ لَعْنًا، [٣] وَيَقُولُ أَهْلُ السَّمَاءِ: رُوحٌ خَبِيثَةٌ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ الْأَرْضِ، [٤] فَيُقَالُ: انْطَلِقُوا بِهِ إِلَى آخِرِ الْأَجَلِ. [٥] قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: فَرَدَّ رَسُولُ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَيْطَةً كَانَتْ عليه عَلَى أَنْفِهِ هَكَذَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې د دې څخه روسته حضور ﷺ وفرمایل چې هر کله چې د کافر روح د هغه د بدن څخه راوزي [٢] (حماد وایي) د دې څخه روسته حضور ﷺ یا ابوهریره رضی الله عنه د هغه د بدبویي او د لعنت ذکر اوکړو [٣] بیا حضور ﷺ وفرمایل چې هر کله د کافر روح آسمان ته رسي نو اهل آسمان وایي چې یو ناپاک روح د زمکې څخه راغلي دي [٤] حماد وایي چې ابوهریره یانبي علیه السلام دهغه دبدبویي اوپه هغه باندې دلعنت ذکر وکړو بیا (د هغه ناپاک روح په باره کښې) دا فیصله اوروي کیږي چې دې بوزئ او د قیامت تر ورځې پورې مهلت ورکړئ [٥] حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایي چې د دې څخه روسته حضور ﷺ د خپل څادر څاک [کوټ] (چې د حضور ﷺ په بدن مبارک وو) خپلې پوزې مبارکې باندې داسې کیښودلو. (مسلم)

حل اللغات:- ① يُصْعِدَانِهَا: خیجوی دا روح، ② تُعَمِّرِينَهُ: چه تا آباد کړي وو (په نیک عمل سره)، ③ نَتْنِهَا: أَيْ: عَفَنِهَا: بدبوئی ته وائی، ④ الْأَجَلِ: نیټه یعنی آخرت وخت (دلته دقیامت ورځ مراد ده)، ⑤ -رَيْطَةٌ: څادر

تسهیلات: قوله: تُعَمِّرِينَهُ:

دَ آسماني فرښتو دَطرف نه دَ مؤمن دَ روح اودَهغه دَبدن دَپاره دانیکه دعاده. تعمرینه مطلب هم دغه دي چه الله تعالی دې په تاباندې اوپه دغه بدن باندې رحمت نازل کړی کوم

بدن چه به تـا آبادساتلو. تعمیر اوعمارت دعمر نه دي د آبادولو په معنی کښي دي.[الکاشف۳/۳۵۹.]

قوله :نَتْنِهَا : نـتن: کله کله په دنیاکښي د خښبولونه وړاندې دمؤمن اومنافق اوکافرد بدنونونه خوشبوئی اود بدبوئي دامناظر په کتلوکښې راځي. دکافرد روح دومره سخته بدبوئی ده چه په هغې سره د هغه بدن بدبودارکیږي.

د کافر د روح په بدبوئی کښې دوه اقوال :- ① مطلب داچه حضورپاك د کشف اومعجزه په توګه واقعی د کافر د روح دغه بدبوئی محسوس کړه دکوم چه حضورپاك بیان فرمائیلو.

② اوداهم ممکن دی چه دا صرف یوتشبیه اوتمثیل وی که چرې هغه بدبوئی څوك محسوس کړی نود څادر ګوټ به په پوزه کیخودونه بغیرپاتې نه شی. لکه چه حضورپاك دهغه وخت د کیفیت طرف ته اشاره اوفرمائیله دواړه مفهوم کیدې شی.

[١٦٢٩] دکافراود مومن دروح حالات

١٦٢٩ –()[١٣] ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② " «إِذَا حُضِرَ الْمُؤْمِنُ أَتَتْ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ بِحَرِيرَةٍ بَيْضَاءَ ③ فَيَقُولُونَ: اخْرُجِي رَاضِيَةً مَرْضِيًّا عَنْكِ إِلَى رَوْحِ اللهِ وَرَيْحَانٍ، ④ وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ، ⑤ فَتَخْرُجُ كَأَطْيَبِ رِيحِ الْمِسْكِ ⑥ حَتَّى إِنَّهُ لَيُنَاوِلُهُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا ⑦ حَتَّى يَأْتُوا بِهِ أَبْوَابَ السَّمَاءِ،

ترجمه: ① د ابوهریره ﷛ څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② هر کله چې د مومن د مرګ وخت راشي نو د رحمت ملایکي سپینه ریښمینه کپړه اخستو سره راځي ③ او روح ته وایي چې ته د بدن څخه راووزه په داسې حال کښې چې ته د الله تعالی ﷻ څخه راضي یي او الله تعالی ﷻ ستا څخه راضی دی او د الله تعالی ﷻ رحمت او مهرباني اوبهترین رزق ④ او د پروردګار طرف ته چې په تا غضبناک نه دي څه ⑤ نو روح د مشک د بهترینې خوشبو په شان (د بدن څخه) وزي ⑥ او فرښتي هغه (د تعظیم او تکریم په وجه) لاس په لاس اخستي ځي ⑦ تر دي چې هغه د آسمان تر دروازې پورې راوړي

① فَيَقُولُونَ: مَا أَطْيَبَ هَذِهِ الرِّيحَ الَّتِي جَاءَتْكُمْ مِنَ الْأَرْضِ! ② فَيَأْتُونَ بِهِ أَرْوَاحَ الْمُؤْمِنِينَ. ③ فَلَهُمْ أَشَدُّ فَرَحًا بِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ بِغَائِبِهِ ④ يَقْدُمُ عَلَيْهِ فَيَسْأَلُونَهُ ⑤ مَاذَا فَعَلَ فُلَانٌ؟ مَاذَا فَعَلَ فُلَانٌ؟ ⑥ فَيَقُولُونَ: دَعُوهُ فَإِنَّهُ كَانَ فِي غَمِّ الدُّنْيَا. ⑦ فَيَقُولُ: قَدْ مَاتَ أَمَا أَتَاكُمْ؟ ⑧ فَيَقُولُونَ: قَدْ ذُهِبَ بِهِ إِلَى أُمِّهِ الْهَاوِيَةِ،

ترجمه: ① هلته فرښتي په خپلو کښې وایي چې دا څومره ښه خوشبویي ده چې ستاسو سره د زمکي څخه راځي ② بیا یي د مومنانو د ارواحو سره [په علیین کښې یا په جنت کښې یا د جنت په دروازه یا د عرش څخه لاندې چیرته چې د مومنانو روحونه د خپلو خپلو مرتبو او درجاتو مطابق وي]هلته راوړي ③ نو هغه روحونه د هغه روح راتلو سره دومره خوشحالیږي

() اخرجه النسائی فی کتاب الجنائز /باب ما یلقی به المؤمن من الکرامة عند خروج نفسه (رقم-۱۸۳۳)

څرنګه چې په تاسو کښې يو سړي هغه وخت خوشحاله وي هر کله چې هغه ته د هغه غايب راشي [يعنى په تاسو کښې چې څوک سړي د سفر څخه واپس راشي نو څرنګه چې د هغه اهل وعيال د هغه په راتلو خوشحاليږي دغه شان په آسمان کښې د مومنانو روحونه هغه وخت ډير خوشحاليږي څه وخت چې د يو مومن روح د زمکي څخه هغوئ ته راځي] ④ بيا ټول روحونه د هغه څخه پوښتنه کوي ⑤ چې فلاني څه کوي او فلاني څه کوي [يعنى روحونه د هغه متعارفينو په باره کښې چې هغوئ په دنيا کښې پريښي وو نامه په نامه پوښتنه کوي چې د فلاني فلاني سړي څه حال دي؟] ⑥ خو بيا هغه روحونه په خپلو کښې وايي چې دا روح پريږدئ (اوس څيني هيڅ پوښتنه مه کوئ) ځکه چې دي د دنيا په غم او الم کښې وو [هر کله چې ده ته لږ سکون حاصل شي نو بيا تري نه پوښتنه اوکړئ روح چې سکون اومومى] ⑦ نو خپله وايي چې فلاني سړي (چي بدکاره وو او د هغه په باره کښې تاسو پوښتنه کوله) مړ شوي دي آيا هغه تاسو ته نه دي راغلي؟ ⑧ نو هغه روحونه هغه ته وايي چې هغه خو د هغه ځاى طرف ته چې هغه د دوزخ اور دي ليږل شوي دي

حل اللغات:- ① يَقْدُمُ: چه دسفر نه راشي، ② غَمِّ الدُّنْيَا: ددنيا غمونه اوفکرونه، ③ أُمِّهِ الْهَاوِيَةِ: أي: النَّارِ: دهغه ځاى د دوزخ اُوردي.

① وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا احْتُضِرَ أَتَتْهُ مَلَائِكَةُ الْعَذَابِ بِمِسْحٍ ② فَيَقُولُونَ: اخْرُجِي سَاخِطَةً مَسْخُوطًا عَلَيْكِ إِلَى عَذَابِ اللهِ - عَزَّ وَجَلَّ - ③ فَتَخْرُجُ كَأَنْتَنِ رِيحِ جِيفَةٍ ④ حَتَّى يَأْتُونَ بِهِ إِلَى بَابِ الْأَرْضِ ⑤ فَيَقُولُونَ: مَا أَنْتَنَ هَذِهِ الرِّيحَ؟ ⑥ حَتَّى يَأْتُونَ بِهِ أَرْوَاحَ الْكُفَّارِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او هر کله چې د کافر مرګ راشي نو د عذاب فرښتي هغه ته د ټاټ فرش راوړلو سره راځي ② او د هغه روح ته وايي چې اي کافر روحه د الله عزوجل عذاب طرف ته را ووځه په داسې حال کښې چې الله تعالى ﷻ ستا څخه ناراضه دي او په تا د ناراضګي ګزار دي ③ نو روح (د کافر د بدن څخه) د مرداري د بدبويه په شان راوځي ④ بيا فرښتي يي د آسمان د دروازو طرف ته راوړي ⑤ هلته فرښتي وايي چې دا بدبويي څومره خرابه ده ⑥ بيا د دې څخه روسته هغه زمکي طرفته د کافرو د ارواح طرف ته اُوړي. (احمد نسايي)

حل اللغات:-④ بِمِسْحٍ: اى الْبِلَاسُ: ټاټ، ⑤ سَاخِطَةً: أَيْ: كَارِهَةً: چه نه دي خوښوو الله تعالى، ⑥ مَسْخُوطٌ: أَيْ: مَغْضُوبًا: چه الله درنه خفه اوناراضه دي، ⑦ أَنْتَنِ: زيات بدبوداره، ⑧ جِيفَةٍ: مردار، سخاشوي،

تسهيلات: قوله: بِمِسْحٍ: دَمؤمن روح په عزت سره په سپينه ريښمنه کپړه کښې کيخودوسره اوړى مګر دکافرروح دَ ټاټ يا بوجې په شان يوه ګنده کپړه کښې راغونډولوسره اوړى.

قوله: إِلَى بَابِ الْأَرْضِ: اى الى باب سماء الارض يعنى دَ زمکي دروازه مرادنه ده بلکه دَ زمکي والا دآسمان دروازه مرادده. لکه څنګه چه په ړومبى حديث کښې ذکردى چه دَدنياد

آسمانونو دَ دروازونه دکافر روح دَ سجین طرف ته راغورزولوسره واپس کولې شي.
[الکاشف: ۴/۳۶۱.]

قوله: مَاذَا فَعَلَ فُلَانٌ؟:

د زړو مړو د تازه مړی څخه تپوسونه کول: - یعنی په عالم برزخ کښې دَمؤمنانو روحونه دَدغه نوی راغلی روح نه دَ خپل پیژنګلو خلقوباره کښې پوښتنې کوی چه فلانکی څه اوکړل اوفلانکې څنګه وو یعنی که چرې نیك وی نوچه مونږ خوشحاله شو اوکه بدوی نوخفه شو.
[الکاشف: ۳/۳۶۰.]

قوله: دَعْوَةً:

د مړی پریخودو مطلب: - یعنی بعضې خلق وائی چه دَدغه نوی روح نه دومره زر سوالونه مه کوئی څکه چه دې تردغه وخته پورې سترې ستومانه دې. دَدنیا مصیبتونه اودَ زنکدن سختئی وغیره ئی زغملې راغلې دې. دَ لږ آرام کولونه پس پوښتنه کوئی. دَدې حدیث نه په واضحه توګه معلومیږی چه دَعالم برزخ یومستقل ژوندون دې اوهلته روحونوته یوقسم جثه ورکولې شي اوهغه ژوندتیره وی.

قوله: ذُهِبَ بِهِ:

په علیین کښې د روح نه موجودیدل: - یعنی دا نوې راغلې روح دَ یوسرې باره کښې ښائی چه هغه خوزمانه وړاندې دَ دنیانه راغلې دې ولې هغه تاسوسره نه دې ملاؤشوې. په دې باندې سوال کونکی وائی افسوس هغه سړې دوزخ ته بوتللې شوې دې.

[١٦٣٠] دَمؤمن روح په آسانئ سره وتل

١٦٣٠-()[١٥] [١] وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: [٢] «خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي جِنَازَةِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ [٣] فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَبْرِ، [٤] وَلَمَّا يُلْحَدْ فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ [٥] كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِنَا الطَّيْرَ وَفِي يَدِهِ عُودٌ يَنْكُتُ بِهِ فِي الْأَرْضِ، [٦] فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ: اسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا،

ترجمه: [١] براء رضی الله عنه بن عازب فرمايي [٢] چې (يو ځل) مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د يو انصاري سړي د جنازي سره لاړو [٣] مونږ قبر ته ورسيدو [٤] (د قبر نه تياريدو په وجه) اوس لا جنازه خاورو ته سپارل شوي نه وه رسول الله صلی الله علیه وسلم يو ځاي تشريف فرما شو مونږ هم د حضور صلی الله علیه وسلم سره شا وخوا کينا ستو [٥] لکه چې زمونږ په سرونو مارغان دي (يعني مونږ بالکل خاموش سرونه خکته کړي کينا ستلو) د حضور صلی الله علیه وسلم په لاس کښې يو لرګي وو چې په هغې سره يې زمکه ګروله (څرنګه چې يو سړي د انتهايي فکر په حالت کښې وي) [٦] بيا

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب السنة /باب فی المسألة فی القبر وعذاب القبر (رقم-٤٧٥٣) واحمد فی المسند ٤/ ٢٨٧

حضور ﷺ خپل سر مبارک اوچت کړو او مونږ مخاطب کولو سره يي وفرمايل چې د قبر د عذاب څخه د الله ﷻ پناه غواړئ حضور ﷺ دا دوه يا دري ځله وفرمايل.

حل اللغات:- ① لَمَّا يُلْحَدْ: لحد يعنی قبر لا تيارنه وو، ② عُودٌ: لرګی او څوکې ته عودوائی. ③ يَنْكُتُ: په لرګی باندې زمکه کرولو ته وائی.

[١] ثُمَّ قَالَ: إِنَّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ إِذَا كَانَ فِي انْقِطَاعٍ مِنَ الدُّنْيَا [٢] وَإِقْبَالٍ مِنَ الْآخِرَةِ نَزَلَ إِلَيْهِ مَلَائِكَةٌ مِنَ السَّمَاءِ، [٣] بِيضُ الْوُجُوهِ، كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الشَّمْسُ، [٤] مَعَهُمْ كَفَنٌ مِنْ أَكْفَانِ الْجَنَّةِ، [٥] وَحَنُوطٌ مِنْ حَنُوطِ الْجَنَّةِ، [٦] حَتَّى يَجْلِسُوا مِنْهُ مَدَّ الْبَصَرِ، [٧] ثُمَّ يَجِيءُ مَلَكُ الْمَوْتِ -عَلَيْهِ السَّلَامُ- [٨] حَتَّى يَجْلِسَ عِنْدَ رَأْسِهِ فَيَقُولُ: [٩] أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ اخْرُجِي إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنَ اللهِ. [١٠] قَالَ: فَتَخْرُجُ تَسِيلُ كَمَا تَسِيلُ الْقَطْرَةُ مِنَ السِّقَاءِ، [١١] فَيَأْخُذُهَا فَإِذَا أَخَذَهَا لَمْ يَدَعُوهَا فِي يَدِهِ طَرْفَةَ عَيْنٍ [١٢] حَتَّى يَأْخُذُوهَا فَيَجْعَلُوهَا فِي ذَلِكَ الْكَفَنِ، وَفِي ذَلِكَ الْحَنُوطِ، [١٣] وَيَخْرُجُ مِنْهَا كَأَطْيَبِ نَفْحَةِ مِسْكٍ وُجِدَتْ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ،

ترجمه: [١] بيا يي وفرمايل هر کله چه مومن بنده د دنيا څخه خپل تعلق ختمونکي وي [٢] او د آخرت طرف ته متوجه کيږي (يعني مرګ ته نزدي وي) نو هغه ته د آسمان څخه فرښتي راخکته کيږي [٣] ډير روښانه مخ والا (چي د هغوئ د مخ رڼا داسې وي) لکه چې د هغوئ مخونه لکه نمر دي [٤] دهغوئ سره د جنت (د ريښمني کپړي) کفن وي [٥] او د جنت خوشبو (يعني د مشک وعنبر وغيره په شان خوشبويي) وي [٦] او هغوی (د کمال ادب په سبب او د روح وتلو په انتظار کښې) د هغه مخې ته دومره لرې پورې چې د تر هغې پورې د هغه نظر رسيدي شی کيني [٧] بيا ملک الموت عليه السلام راځي [٨] او د هغه سر ته نزدي کيناستو سره ورته وايي چې [٩] اي پاک روحه د الله بزرګ وبرتر د طرف نه د مغفرت او بخشش او د هغه د رضا طرف ته د رسيدو د پاره د بدن څخه راووځه [١٠] حضور ﷺ فرمايي چې د دې اوريدو سره د مومن بنده روح د هغه د بدن څخه داسې (په آساني او سهولت سره) راوزي څرنګه چې د مَشک څخه د اوبو قطره رابهيږي [١١] نو ملک الموت هغه واخلي بيا نوري فرښتي هغه روح د ملک الموت عليه السلام د لاس څخه د ډير شوق په بنا سمدستي په خپل لاس کښې واخلي [١٢] او هغه په کفن کښې او په هغه خوشبوي کښې (چي هغوئ د ځان سره راوړي وه) يي کيږدي [١٣] او د هغه روح څخه هغه بهترينه خوشبوي وځي چې د زمکي په مخ (د زمکي د پيدا کيدو څخه د هغه تر فنا کيدو پورې) د پيدا کيدونکي مشک د بهترينې خوشبو په شان وي.

[١] قَالَ: فَيَصْعَدُونَ بِهَا فَلَا يَمُرُّونَ يَعْنِي بِهَا عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا قَالُوا: [٢] مَا هَذَا الرُّوحُ الطَّيِّبُ؟ [٣] يَقُولُونَ: فُلَانُ ابْنُ فُلَانٍ بِأَحْسَنِ أَسْمَائِهِ الَّتِي كَانُوا يُسَمُّونَهُ بِهَا فِي الدُّنْيَا، [٤] حَتَّى يَنْتَهُوا بِهَا إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، [٥] فَيَسْتَفْتِحُونَ لَهُ فَيُفْتَحُ لَهُمْ [٦] فَيُشَيِّعُهُ مِنْ كُلِّ سَمَاءٍ مُقَرَّبُوهَا إِلَى السَّمَاءِ الَّتِي تَلِيهَا، [٧] حَتَّى يُنْتَهَى بِهِ إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ فَيَقُولُ اللهُ -عَزَّ وَجَلَّ-: [٨] اكْتُبُوا كِتَابَ عَبْدِي فِي عِلِّيِّينَ، وَأَعِيدُوهُ إِلَى الْأَرْضِ، [٩] فَإِنِّي مِنْهَا خَلَقْتُهُمْ، وَفِيهَا أُعِيدُهُمْ، [١٠] وَمِنْهَا أُخْرِجُهُمْ تَارَةً أُخْرَى.

ترجمه: [١] حضور ﷺ فرمايي چې بيا هغه فرښتي (هغه روح آخستو سره آسمان طرف ته ځي) او چه د فرښتو د يو جماعت سره نژدي تيرېږي نو هغه جماعت تري نه پوښتنه کوي [٢] چې دا پاک روح د چا دي؟ [٣] نو هغه فرښتي چې هغه روح وړي وايي چې دا د فلاني سړي د فلاني ځوی (يعنی د هغه روح) دي او هغه فرښتي د هغه بهترين نوم او لقب (او د هغه اوصاف) ښايي چې د هغې په ذريعه اهل دنيا د هغه ذکر کوي [٤] (دغه شان سوال جواب کيږي) تر دي چې هغه فرښتي ددي روح سره د دنيا آسمان (يعني اولنی آسمان) ته ورسی [٥] او د آسمان د دروازې د کولاؤلو مطالبه کوی نو د هغوی د پاره خلاصيږی (او د غه رنګه د هر آسمان دروازه د هغه د پاره خلاصوی) [٦] او د هر آسمان مقربی فرښتی تر دويم آسمان پوری د هغه سره ځی [٧] تر دي چې تراووم آسمانه پوری (په دغه شان اعزاز او اکرام سره) رسول کيږی نو الله تعالی جل جلاله (فرښتو ته) فرمايي چه [٨] د دې بنده اعمال نامه په عليين کې وليکئ او دا روح د زمکي طرف ته (يعني د هغه په بدن کښې چې په زمکه کې دفن دي) واپس يوسئ (چې دا خپل بدن ته رسيدو سره د قبر د سوال او جواب د پاره تيار وي) [٩] (الله جل جلاله فرمايي چه) بيشکه ما د زمکي څخه جسمونه پيدا کړي دي او زمکي ته به د دوي اجسام او ارواح واپس ليږم [١٠] او بيا د زمکي څخه به يي دوباره راوباسم

[١] قَالَ: فَتُعَادُ رُوحُهُ فِي جَسَدِهِ فَيَأْتِيهِ مَلَكَانِ [٢] فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُولَانِ لَهُ: مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُولُ: رَبِّيَ اللَّهُ. [٣] فَيَقُولَانِ لَهُ: مَا دِينُكَ؟ فَيَقُولُ: دِينِيَ الْإِسْلَامُ. [٤] فَيَقُولَانِ لَهُ: مَا هَذَا الرَّجُلُ الَّذِي بُعِثَ فِيكُمْ؟ [٥] فَيَقُولُ: هُوَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -. [٦] فَيَقُولَانِ لَهُ: وَمَا عِلْمُكَ؟ فَيَقُولُ: قَرَأْتُ كِتَابَ اللَّهِ فَآمَنْتُ بِهِ وَصَدَّقْتُ، [٧] فَيُنَادِي مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ أَنْ صَدَقَ عَبْدِي، [٨] فَأَفْرِشُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ، [٩] وَأَلْبِسُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ، [١٠] وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ [١١] قَالَ: فَيَأْتِيهِ مِنْ رَوْحِهَا وَطِيبِهَا [١٢] فَيُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ مَدَّ بَصَرِهِ.

ترجمه: [١] حضور ﷺ وفرمايل چې د دې څخه روسته هغه روح خپل بدن ته رسول کيږی بيا هغه ته دوه فرښتي (يعني منکر او نکير) راځي [٢] چې هغه کينوي او پوښتني ځيني کوي چې ستا رب څوک دي؟ مومن بنده جواب ورکوي چې زما رب الله جل جلاله دي [٣] بيا هغه پوښتنه وکړي چې ستا دين کوم يو دي؟ هغه جواب ورکوي چې زما دين اسلام دي [٤] بيا هغه پوښتنه کوي چې دا (رسول الله ﷺ) څوک دي چې تاسو ته راليږل شوي وو؟ [٥] هغه جواب ورکوي چې دا د الله تعالی جل جلاله رسول ﷺ دي [٦] بيا هغه پوښتنه کوي تا څرنګه وپيژندل چې دا د الله جل جلاله رسول دي؟ هغه جواب ورکوي چې ما د الله جل جلاله کتاب وئيلې وو په هغه مي ايمان راوړي وو او په زړه سره مي رښتيني وګڼلو چې د هغې په وجه ماته د رسول الله ﷺ رسول کيدل معلوم شو [٧] بيا يو اعلان کونکي د آسمان څخه اعلان کوي (يعنی د الله تعالی جل جلاله د طرف څخه اعلان کوی) چې دا زما رښتني بنده دي [٨] د ده د پاره د جنت بستره خوره کړئ [٩] ده ته د جنت لباس ورواغوندئ [١٠] او دده د پاره د جنت

دروازه کولاو کړئ [١١] حضور ﷺ وفرمايل چې [د هغه طرف ته د جنت دروازه کولاو کړل شي چې] د هغې څخه د جنت هوا او خوشبويي ورته راځي [٢] بيا د هغه قبر د نظر تر حده پورې فراخ کړل شي.

[١] قَالَ: وَيَأْتِيهِ رَجُلٌ حَسَنُ الْوَجْهِ، [٢] حَسَنُ الثِّيَابِ طَيِّبُ الرِّيحِ. [٣] فَيَقُولُ: أَبْشِرْ بِالَّذِي يَسُرُّكَ، [٤] هَذَا يَوْمُكَ الَّذِي كُنْتَ تُوعَدُ [٥] فَيَقُولُ لَهُ مَنْ أَنْتَ فَوَجْهُكَ الْوَجْهُ يَجِيءُ بِالْخَيْرِ، [٦] فَيَقُولُ: أَنَا عَمَلُكَ الصَّالِحُ. [٧] فَيَقُولُ: رَبِّ، أَقِمِ السَّاعَةَ، رَبِّ أَقِمِ السَّاعَةَ [٨] حَتَّى أَرْجِعَ إِلَى أَهْلِي وَمَالِي.

توجمه: [١] حضور ﷺ وفرمايل چې د دې څخه روسته هغه ته يو خوبصورته سړي راځي [٢] چې ښې کپړې يې اغوستي وي او خوشبو يې لګولي وي [٣] او هغه ته وايي چې تاته دې زيرې وی د هغه څيز چې تا خوشحالونکي دي [يعنی ستا د پاره هغه نعمتونه تيار دي چې نه يوې سترګي ليدلي دي نه يو غوږ آوريدلي دي] [٤] نن هغه ورځ ده چې د هغې (په دنيا کښې) ستا سره وعده شوي ده [٥] مومن بنده د هغه څخه پوښتنه کوي چې ته څوک يې ستا مخ په حسن وجمال کې کامل دي او تا خوخير راوړي دي او د هغې زيرئ اوروي [٦] هغه سړي جواب ورکوي چې زه ستا نيک عمل يم [چې په دې شکل او صورت کښې راغلي يم] [٧] دې اوريدو سره مومن بنده وايي چې اي زما پروردګاره قيامت قايم کړې، اي زما پروردګاره قيامت قايم کړې [٨] چې زه د خپل اهل وعيال طرف ته لاړ شم.

[١] قَالَ: وَإِنَّ الْعَبْدَ الْكَافِرَ إِذَا كَانَ فِي انْقِطَاعٍ مِنَ الدُّنْيَا [٢] وَإِقْبَالٍ مِنَ الْآخِرَةِ [٣] نَزَلَ إِلَيْهِ مِنَ السَّمَاءِ مَلَائِكَةٌ سُودُ الْوُجُوهِ، [٤] مَعَهُمُ الْمُسُوحُ فَيَجْلِسُونَ مِنْهُ مَدَّ الْبَصَرِ، [٥] ثُمَّ يَجِيءُ مَلَكُ الْمَوْتِ حَتَّى يَجْلِسَ عِنْدَ رَأْسِهِ [٦] فَيَقُولُ: أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْخَبِيثَةُ [٧] اخْرُجِي إِلَى سَخَطٍ مِنَ اللهِ. [٨] قَالَ: فَتُفَرَّقُ فِي جَسَدِهِ فَيَنْتَزِعُهَا [٩] كَمَا يُنْزَعُ السَّفُّودُ مِنَ الصُّوفِ الْمَبْلُولِ، [١٠] فَيَأْخُذُهَا فَإِذَا أَخَذَهَا لَمْ يَدَعُوهَا فِي يَدِهِ طَرْفَةَ عَيْنٍ [١١] حَتَّى يَجْعَلُوهَا فِي تِلْكَ الْمُسُوحِ، [١٢] وَتَخْرُجَ مِنْهَا كَأَنْتَنِ رِيحِ جِيفَةٍ وُجِدَتْ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ،

توجمه: [١] بيا حضور ﷺ وفرمايل او هرکله چې کافر بنده د دنيا څخه خپل تعلق ختموي [٢] او د آخرت طرف ته ځي (يعني د هغه د مرګ وخت نزدي شي) [٣] نو هغه ته د آسمان څخه (د عذاب) تورمخي فرښتي راځي [٤] د هغوئ سره ټاټ وي او هغه دومره لرې پورې کيني تر کومه پورې چې نظر رسيدي شی [٥] بيا ملک الموت راځي او د هغه سر ته نزدي کيني [٦] او ورته وايي چې اي خبيث روحه [٧] د الله ﷻ د طرف څخه په عذاب کښې (مبتلا کيدو د پاره د بدن څخهبهر) راووزه [٨] حضور ﷺ وفرمايل چې (د کافر روح دې اوريدو سره) د هغه په بدن کښښخور شی [يعني د کافر روح چې د خداوندي عذاب آثار ويني نو د هغې د ويريدلوڅخه د خپل بدن څخه د وتلو د پاره تيار نه وي بلکه په ټول بدن کښښپټ ګرځي په خلاف د مومن د روح چې هغه انوار الهي اود پروردګار دکرم آثار ليدوسره دبدن څخه په خوشحالي خوشحالي سره راوزي] نو ملک الموت د هغه روح په سختي او زور

سره بَهر اوباسي[٩] لكه څه رنګه چې ازغي د لوندې وړې څخه را اوخكل كيږي [يعني څنګه چې دوړې څخه ازغبهٔ ير په سختي او مشكل سره راويستل كيږي او په سختي سره درا ويستلو په وجه د وړي څه اجزا هم د هغه ازغي سره لګيدلي بَهر راوزي نو دا حال وي لكه چې د روح سره د رګونو څه اجزا لګيدلي بَهر راغلي وي][١٠] هر كله چې ملک الموت هغه روح ونيسي نو نوري فرښتي هغه روح د ملک الموت څخه فوراً اخلی [١١] او په ټاټ كښېنغاړي [١٢] هغه روح څخه داسې د ورستې مرداري بدبوي څومره بدبو راوزي چې د زمكي په مخ مو ندل كيږي.

حل اللغات: -④ حَنُوطٌ: مخلوط مشك اوعنبر خوشبوته حنوط وائی. ⑤ السِّقَاءُ: أي: القِرْبَةُ: داوبو مشكيزه

[١] فَيَصْعَدُونَ بِهَا فَلَا يَمُرُّونَ بِهَا عَلَى مَلَأٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا قَالُوا: [٢] مَا هَذَا الرُّوحُ الْخَبِيثُ؟ [٣] يَقُولُونَ: فُلَانُ ابْنُ فُلَانٍ بِأَقْبَحِ أَسْمَائِهِ الَّتِي كَانَ يُسَمَّى بِهَا فِي الدُّنْيَا، [٤] حَتَّى يُنْتَهَى بِهِ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيُسْتَفْتَحُ لَهُ، [٥] فَلَا يُفْتَحُ لَهُ ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٦] ﴿لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ [٧] حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ﴾ [الأعراف: ٤٠] [٨] فَيَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: اكْتُبُوا كِتَابَهُ فِي سِجِّينٍ، فِي الْأَرْضِ السُّفْلَى، [٩] فَتُطْرَحُ رُوحُهُ طَرْحًا، [١٠] ثُمَّ قَرَأَ: ﴿وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ [١١] فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ [١٢] أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ﴾ [الحج: ٣١]

ترجمه: [١] هغه فرښتي هغه روح آخستو سره د آسمان طرف ته وړي هر كله چې هغه فرښتي د يو جماعت سره تيريږي نو هغه جماعت پوښتنه ځينی كوي [٢] چې دا كوم ناپاک روح دي؟[٣] هغه فرښتي چې دا روح وړي جواب وركوي چې دا د فلاني سړي ځوی دي (يعني د فلاني سړي روح دي) او د هغه بد نوم او خراب اوصافو سره د هغه ذكر كوي چې كوم نوم او اوصافو سره هغه په دنيا كښې بلل كيدو [٤] تر دي چې هغه دنيا آسمان ته ورسول شي او د هغه د پاره د آسمان د دروازی كولا ويدو د پاره ويل كيږی [٥] نو د هغه د پاره د آسمان دروازه نشي خلاصولې بيا حضور ﷺ (د استدلال په طور) دا آيت اووئيلو: [٦] لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ (**ترجمه**) د آسمانونو دروازی به د كافرانو د پاره نشي خلاصيدلی او نه به هغوی په جنت كې داخل شي [يعنی د هغوئ په جنت كې داخليدل ناممكن دی][٧] تر دی پورې چې اوښ د ستن په سوری كې داخل شي، [٨] (بيا حضور ﷺ وفرمايل) بيا الله تعالىٰ جل جلاله وفرمايي چې د دی روح اعمال نامه په سجين كې وليكئ چې د ټولو څخه خكته زمكه ده [٩] نو د كافر روح به خكته وغورځول شي [١٠] بيا حضور ﷺ (د استدلال په طور) دا آيت اووئيلو: وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ اَوْ تَهْوِيْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ مَكَانٍ سَحِيْقٍ (**ترجمه**) كوم سړي چې د الله جل جلاله سره شرک اوكړو هغه داسې دي لكه د آسمان څخه (يعني د ايمان او توحيد د بلندي څخه د كفر او شرک په

کوهی (ځاکی) کښې وغورځيدلو[١١] نو مارغان هغه وشوکوی (یعني هلاک شي)[١٢] يا هوا هغه الوځولو سره لرې غورځوي [یعني د رحمت خداوندي ځخه لرېکيږي) په دي کښېدي طرف ته اشاره ده چې هغه شيطان په ګمراهي کښېوغورځولو چې د هغه په وجه هغه قرب د مقام ځخه لرې وغورځيدلو]،

حل اللغات: - ⑥ الْمُسُوحُ: جَمْعُ الْمِسْحِ بِالْكَسْرِ، وَهُوَ اللِّبَاسُ الْخَشِنُ: ازغی داري ستغې او زيګه جامې، ⑦ سَخَطٍ: غضب او ناراضګی، ⑧ السَّفُّودُ: أَيِ الشَّوْكُ أَوِ الْحَدِيدُ: ازغی، ستنې، ⑨ الْمَبْلُولِ: د اسم مفعول صيغه ده، لوند کړې شوې، ⑩ يَلِجَ: أَيْ يَدْخُلَ: ننوځی، ⑪ سَمِّ: أَيْ: خَرْقَةُ وَثَقْبَةُ: د ستنې سوره، ⑫ سمومها: د دوزخ ګرمې هوا ته سموم وائی. ⑬ الْخِيَاطِ: اى الْإِبْرَةِ: ستن (کوم باندې چه کپړې ګنډلې شی) ⑭ سِجِّينٍ: هُوَ مَوْضِعٌ فِيهِ كِتَابُ الْفُجَّارِ مِنْ قَعْرِ النَّارِ: هغه ځای چرته چه د فاسقانو فاجرانو عمل نامې پرتې دی يعنی دجهنم په بيخ کښې. ⑮ طَرْحًا: أَيْ: رَمْيًا شَدِيدًا: ډيرپه سختئ سره ورغورزولې شی، ⑯ خَرَّ: راوغورځيدلو، ⑰ فَتَخْطَفُهُ: اوئې شوکوی، ⑱ تَهْوِي: لرې ئې غورځوی، ⑲ سَحِيقٍ: أَيْ: بَعِيدٌ أَوْ عَمِيقٌ: لرې په ژوره کنده کښې،

[١] فَتُعَادُ رُوحُهُ فِي جَسَدِهِ، وَيَأْتِيهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ [٢] فَيَقُولَانِ لَهُ: مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُولُ: هَاهْ هَاهْ، لَا أَدْرِي. [٣] فَيَقُولَانِ لَهُ: مَا دِينُكَ؟ فَيَقُولُ: هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِي. [٤] فَيَقُولَانِ: مَا هَذَا الرَّجُلُ الَّذِي بُعِثَ فِيكُمْ؟ [٥] فَيَقُولُ: هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِي. [٦] فَيُنَادِي مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ أَنْ كَذَبَ [٧] فَأَفْرِشُوهُ مِنَ النَّارِ [٨] وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى النَّارِ فَيَأْتِيهِ حَرُّهَا وَسَمُومُهَا، [٩] وَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ قَبْرُهُ حَتَّى تَخْتَلِفَ فِيهِ أَضْلَاعُهُ،

ترجمه: [١] بيا حضور ﷺ وفرمايل چې د هغه روح د هغه بدن ته راځي او هغه ته دوه فرښتي راځي او هغه کينوي [٢] او پوښتنه ځيني کوي چې ستا رب څوک دي؟ هغه وايي هاه هاه ماته نه ده معلومه [٣] بيا هغه فرښتې د هغه ځخه پوښتنه کوي چې ستا دين څه دي؟ هغه وايي هاه هاه ماته نه ده معلومه [٤] بيا هغه فرښتې د هغه ځخه پوښتنه کوي چې دا سړي (يعني حضور ﷺ) چې تاسو ته راليږل شوي وو څوک دي؟ [٥] هغه وايي هاه هاه ماته نه ده معلومه [٦] (دي سوال وجواب ځخه پس) يو اعلانچي د آسمان د طرف ځخه اعلان کوي چې دي دروغجن دي [٧] نو د ده د پاره د اُور فرش خور کړئ [٨] او د ده د پاره د دوزخ دروازه کولاؤ کړئ (نو د هغه د پاره د دوزخ دروازه کولاؤ شي) چې د هغې ځخه ورته د دوزخ ګرمي او د هغې ګرمه هوا راځي [٩] او د هغه د پاره د هغه قبر دومره تنګ کړل شي (چې دواړه غاړې يې يو خاي کيدو سره) دهغه پښتي ديخوا ځخه اخوا ته او د اخوا ځخه دي خوا ته راووزي.

حل اللغات: - ⑳ هَاهْ: هُوَ كَلَامُ الْمَبْهُوتِ الْمُتَحَيِّرِ فِي الْجَوَابِ: دډيرې حيرانتيا په وخت وئيلې شی هاه هاه، ㉑ فَأَفْرِشُوهُ: خوره کړئ ده لره بستره (د اُور). ㉒ حَرُّهَا: مطلق ګرمئ ته وائی. ㉓ أَضْلَاعُهُ: أَيْ: عِظَامُ جَنْبَيْهِ: پښتئ، ㉔ الْعُرُوقِ: رګونه،

[١] وَيَأْتِيهِ رَجُلٌ قَبِيحُ الْوَجْهِ، [٢] قَبِيحُ الثِّيَابِ، مُنْتِنُ الرِّيحِ، [٣] فَيَقُولُ: أَبْشِرْ بِالَّذِي يَسُوءُكَ، هَذَا يَوْمُكَ الَّذِي كُنْتَ تُوعَدُ. [٣] فَيَقُولُ: مَنْ أَنْتَ، فَوَجْهُكَ الْوَجْهُ يَجِيءُ بِالشَّرِّ؟ [٤] فَيَقُولُ: أَنَا عَمَلُكَ الْخَبِيثُ، [٥] فَيَقُولُ: رَبِّ لَا تُقِمِ السَّاعَةَ».

ترجمه: [١] بیا هغه ته یو بد صورته سړي راځي [٢] چې خرابې کپړې یې اغوستې وي او د هغه څخه بدبويي راځي [٣] او هغه هغه ته وایي چې ته خرابه خبره واوره چې تا په رنځ او غم کښې اخته کړي نن هغه ورځ ده چې د هغې تا سره (په دنیا کښې) وعده شوې وه [٣] هغه پوښتنه څیني کوي ته څوک یې؟ ستا مخ خو ډیر خراب دي چې دبد خبر راوړلو سره راغلي یې [٤] هغه سړي ورته وایي چې زه ستا خراب عمل یم [٥] (دی اوریدو سره) مړي وایي چې اې زما پروردګاره قیامت قایم مه کړې.

[١] وَفِي رِوَايَةٍ نَحْوُهُ، وَزَادَ: [٢] «إِذَا خَرَجَ رُوحُهُ صَلَّى عَلَيْهِ كُلُّ مَلَكٍ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، وَكُلُّ مَلَكٍ فِي السَّمَاءِ، [٣] وَفُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ بَابٍ إِلَّا وَهُمْ يَدْعُونَ اللَّهَ [٤] أَنْ يُعْرَجَ بِرُوحِهِ مِنْ قِبَلِهِمْ، [٥] وَتُنْزَعُ نَفْسُهُ يَعْنِي الْكَافِرَ مَعَ الْعُرُوقِ [٦] فَيَلْعَنُهُ كُلُّ مَلَكٍ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، وَكُلُّ مَلَكٍ فِي السَّمَاءِ، [٧] وَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ بَابٍ إِلَّا وَهُمْ يَدْعُونَ اللَّهَ [٨] أَنْ لَا يُعْرَجَ رُوحُهُ مِنْ قِبَلِهِمْ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] په یو بل روایت کښې هم داسې منقول دي خو په هغې کښې دا الفاظ هم دي [٢] چې کله د مومن روح (د هغه د بدن څخه) وزي نو هره هغه فرښته چې د آسمان او زمکې په منځ کښې ده او هره هغه فرښته چې په آسمان کښې ده په هغه رحمت لیږي [٣] د هغه د پاره آسمان دروازې خلاصیږي او د هر آسمان دروازي والا فرښتې الله تعالی ﷻ ته دا خواست کوي [٤] چې د مومن روح دې د هغوې د طرف څخه آسمان ته یوړل شي (چې هغوی د دې مومن د روح سره د تلو شرف حاصل کړي شي) [٥] او د کافر روح د رګونه سره ویستل کیږي [٦] نو د زمکې او آسمان په مینځ کښې ټولې فرښتې او هغه فرشتې چې (په اول آسمان کښې دي) په هغه لعنت لیږي [٧] د هغه د پاره د آسمان دروازې بندول کیږي او د اول آسمان ټولو دروازو والا الله تعالی ﷻ ته خواست کوي [٨] چې د دې کافر روح د هغوئ د طرف څخه ونه خیژول شي. (احمد)

تسهیلات: قوله: "تَسِيلُ".

د مؤمن د روح وتلو آساني: – یعني دَمؤمن روح دومره په آسانئی سره دَ بدن نه جدا کیږي لکه څنګه چه اوبه دَ مشکیزې په آسانئی سره راپریوځي.

قوله: هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِي:

د مذکوره جملې قائل: – داجمله کافروائي یعني هائې افسوس زه نه پیژنم ماته هیڅ نه دي معلوم خپل خالق اومالك ئې چه په دنیا کښې نه دي پیژندلې نو په قبر کښې به ئې څه اوپیژني.

د احاديثو په مينځ کښې تعارض:- په نورو روايتونو کښې راغلي دي چه دَ مؤمن روح هم دَ وتلو په وخت کښې تکليف او مصيبت برداشت کوي. دلته خودلې شي چه هيڅ تکليف نه وي داتعارض دې.

د تعارض جواب:- په دواړو روايتونو کښې تطبيق دادې چه دَمؤمن دَ روح وتلو مرحله چه کله شروع کيږي هغه وخت هغه دَ جنت نعمتونوته په کتلو سره ډير په آسانئ سره راوځي ليکن دآخرت دُمشاهده نه وړاندې اودَوتلو دَعمل شروع کيدو نه وړاندې تکليف کيږي نودَتکليف اوراحت وختونه مختلف دي لهذا څه تعارض نشته دې.

قوله: وَمَا عِلْمُكَ؟:

د نيک مړي په د فرشتو په جواب کښې ثابت قدمي:- يعنى تاته دکوم ځائي نه معلومه شوه چه الله تعالى ستا رب دې اومحمد ﷺ دَ الله تعالى رسول دې. هغه جواب ورکوي چه داهرڅه دَ قرآن نه معلوم شوي دي. دَدې حديث نه معلوميږي چه په قبر کښې به صرف درې سوالونه نه وي بلکه نور سوالونه هم کيدې شي لکه څنګه چه دلته سوال کړې شوې دې.

قوله: "مناد": يعنى دَالله تعالى دَ طرف نه مقررشوې فرښته آواز ورکوي اودَ خوشحالئ اعلان کوي.

قوله: "إِلَى أَهْلِي وَمَالِي":

د اهل په مراد کښې دوه اقوال:- ① دې نه مراد خو په جنت کښې حاصليدونکې اهل وعيال دې په کوم کښې چه به حورې اوغلمان وي نودا اهل هم دې اومال هم دې. په دې صورت کښې که ما موصوله واخستې شي نومعنى به داشي چه کوم څه هلته زما دَپاره مقرردي نومال مرادنه دې.

② دويم مطلب داهم کيدې شي چه دَاهلي نه مراددَخپل کور اهل اوعيال وي اودَ مالي نه مراد حورې اوغلمان وي.

قوله: فَتَفَرَّقُ فِي جَسَدِهِ:

د دنياوي مشاغلو کثرت د ژنکدن د سختئ سبب:- يعنى دَ خوف اوويرې دَ وجې نه به دکافر روح په بدن کښې دَ پټيدو دَپاره په بدنى رګونو کښې خوريدو سره ورخښيږي اوس چه څنګه خورشوې او ورخښ شوې دې هم دغه شان به راويستلې شي نوسخت تکليف به وي. اودَبدن غوښنه به ذره ذره شي. بل دَ انسان روح چه په کوم کار کښې اينختې دې دَهغه ځائي نه به راويستې شي نو ډبل ډبل تکليف به وي. دَ جائيدادنه به راوځي دوکانونه مکانونه ښځې بچې کارخانې تجارتونو اوجاګيرونو اومناصب نه به راوځي نوتکليف به کيږي. [الکاشف: ۳۶۴-۳/۶۳.]

[١٦٣١] د ام بشر رضي الله عنها برزخ کښې خپل رشته دارته سلام لیږل

١٦٣١ –(١)[١٢] ١ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ كَعْبٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: ٢ «لَمَّا حَضَرَتْ كَعْبًا الْوَفَاةُ ٣ أَتَتْهُ أُمُّ بِشْرٍ بِنْتُ الْبَرَاءِ بْنِ مَعْرُورٍ فَقَالَتْ: ٤ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ، إِنْ لَقِيتَ فُلَانًا فَاقْرَأْ عَلَيْهِ مِنِّي السَّلَامَ، ٥ فَقَالَ: غَفَرَ اللّٰهُ لَكِ يَا أُمَّ بِشْرٍ، نَحْنُ أَشْغَلُ مِنْ ذٰلِكَ. ٦ فَقَالَتْ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ، أَمَا سَمِعْتَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ٧ إِنَّ أَرْوَاحَ الْمُؤْمِنِينَ فِي طَيْرٍ خُضْرٍ تَعْلُقُ بِشَجَرِ الْجَنَّةِ؟ ٨ قَالَ: بَلَى. قَالَتْ: فَهُوَ ذَاكَ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ.

ترجمه: ١ عبدالرحمٰن ابن کعب د خپل پلار بزرګوار (حضرت کعب رضي الله عنه) په باره کښې روایت کوي ٢ چې کوم وخت د حضرت کعب رضي الله عنه د مرګ وخت نزدې شو ٣ نو د براء ابن معرور لور بي بي أم بشر رضي الله عنها هغه ته راغله ورته يي اوويل ٤ چې اي ابو عبدالرحمٰن (دا د حضرت کعب رضي الله عنه کنيت دي) که ته د مرګ څخه روسته په عالم برزخ کښې د فلاني سړي سره يو ځاي شي نو هغه ته زما سلام وايه ٥ حضرت کعب رضي الله عنه جواب ورکړو چې اي أم بشر الله جل جلاله دي تا وبخښي هلته به زمونږ مشغوليت د دې څخه زيات وي ٦ بي بي أم بشر رضي الله عنها اوويل چې اي ابو عبدالرحمٰن آيا تا د رسول صلى الله عليه وسلم څخه دا نه دی اوريدلي ٧ چې (په عالم برزخ کښې) به د مومنانو روحونه د شنو مارغانو په کاتب کې وي او د جنت د ونو ميوي به خوري ٨ حضرت کعب رضي الله عنه اوويل چې هو (ما دا ارشاد ګرامي اوريدلي دي) نو أم بشر رضي الله عنها ورته وفرمايل چې دا هغه (فضل او کرامت) دي (چې د هغې سره ستاسو د يوځاي کيدلو أميد دي) (ابن ماجه بيهقي)

حل اللغات: – ① خُضْرٍ: د أَخْضَرُ جمع ده، ددې مؤنث خَضْرَاء راځی، شين، ② تَعْلُقُ: رازوړند به وی.

تسهیلات: قوله: فَاقْرَأْ عَلَيْهِ مِنِّي السَّلَامَ:

قريب الموت ته د سلام رسولو پيغام حواله کول: – عبدالرحمن بن کعب رحمه الله ډير جليل القدر تابعی دې دَهغه دَپلار نوم حضرت کعب رضي الله عنه دې چه يودَشان والاصحابی دې. ام بشر رضي الله عنها دَ شان والاصحابيه ده چه دَ براء بن معرور رضي الله عنه جليل القدر صحابی لورته. ام بشر رضي الله عنها حضرت کعب رضي الله عنه ته دَ وفات په وخت خپل پلار براء بن معرور رضي الله عنه يا خپل خوئی بشر رضي الله عنه ته سلام ليګل غوښتل دَ چا انتقال چه شوې وو. دَ ام بشر رضي الله عنها خيال ووچه کعب رضي الله عنه اوس دَ دنيا نه سفرکونکې دې اوصحابی دې خلاصې يقينی دې لهذا دَهغوی په لاس دَخپل رشته دار په نوم دَسلام پيغام روان کړو. ام بشر رضي الله عنها به نوم اخستې وی ليکن راوی دَ نوم په ځائی دَ فلانکی لفظ اداکړې دي.

(١) اخرجه ابن ماجه فى كتاب الجنائز، باب ما جاء فيما يقال عند المريض إذا حضر (رقم-١٤٤٩)

قوله: نَحْنُ أَشْغَلُ:

مونږ به په خپلو څولو کښې څوپ يو: -حضرت کعب رضي الله عنه جواب ورکړوچه الله تعالی دې تا اوبخښی مونږ به دَ سلام رسولو په فرصت کښې چرته يو اوږدسفردې حساب کتاب دې مونږ به په خپلو شغلونو کښې راګيريو خپل فکرکښې به اخته يو څوك به دَ چا تپوس کوی. ام بشر رضي الله عنها دَمؤمن دَ شان او جنت کښې دَهغوی دَ روحونو آرام اوکاميابئی ذکرکولوسره اوفرمائيل او اشاره ئی اوکړه چه په تابه هيڅ پريشانی نه وی لهذا زماسلام اورسوه. ستاسو شان دَدې نه لوئی دې چه ته به پريشان ئی. دَدې حديث نه هم معلوميږی چه په عالم برزخ کښې ژوندون يو لوئی حقيقت دې صرف دَخوب ژوندون نه دې لکه روح ته يوقسم جثه ورکولې شی په کوم سره چه هغه ژوند تيره وی اوداهم ممکن دی چه روح ته بدن ملاويدونه بغير په هغه کښې داسې حيثيت پيداکيږی چه دَهغې په ذريعه هغه دَ اقوال اوافعال قابل جوړيږی.

[١٦٣٢] په جنت کښې د مومنانو روحونه

١٦٣٢-(¹)[١٧] [١] وَعَنْهُ عَنْ أَبِيهِ: أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [٢] «إِنَّمَا نَسَمَةُ الْمُؤْمِنِ طَيْرٌ تَعَلَّقُ فِي شَجَرِ الْجَنَّةِ [٣] حَتَّى يُرْجِعَهُ اللهُ فِي جَسَدِهِ يَوْمَ يَبْعَثُهُ». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ.

ترجمه: [١] عبدالرحمٰن د خپل پلار بزرګوار څخه نقل کوي چې هغه (يعني د عبدالرحمٰن پلار حضرت کعب رضي الله عنه) د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ارشاد ګرامي بيانولو [٢] چې په عالم برزخ کښې د مومن روح د مارغه په قالب کښې د ونو ميوې خوري [٣] تر دې پورې چې الله تعالٰی په هغه ورځ چې کله هغه پورته کوی (يعني د قيامت په ورځ) نو هغه به د هغه بدن ته واپس ليږي. (مالک، نساني، بيهقي)

حل اللغات: - ① نَسَمَةٌ: قَالَ النَّوَوِيُّ: النَّسَمَةُ تُطْلَقُ عَلَى ذَاتِ الْإِنْسَانِ جِسْمًا وَرُوحًا: نسمه انسانی بدن ته هم وائی اونسمه روح ته هم وائی.

تسهيلات: قوله: إِنَّمَا نَسَمَةُ الْمُؤْمِنِ طَيْرٌ:

روحونه د شنو مارغانو په صورت کښې: - دلته روح مراددې چه دَ خاوږو دَ بدن نه به دا روح اوځی شين مارغه اوپه شنه مرغئی کښې به ورشی لکه چه مرغئی دَدغه روحونودَپاره تيار ظروف يعنی لوښی دی.

اشکال: - که څوك دا اشکال اوکړی چه انسان او بيادَ مؤمن روح په يوځناور او حيوان کښې

¹) اخرجه النسائی فی کتاب الجنائز/باب أرواح المؤمنين (رقم-٢٠٧٣)وابن ماجة کتاب الزهد/باب ذکر القبر والبلی (رقم-٤٢٧١) ومالک فی الموطا کتاب الجنائز/باب جامع الجنائز(رقم-٤٩)

ورځی او سیوری ولې داد ده تذلیل او تحقیر نه دی؟

داشکال جوابونه:- ① داتعلق داسې نه دې چه روح انسانی ځناروکښې تللوسره ورځښ شی اوځناور په ده باندې تصرف شروع کړی بلکه داتعلق دَ هغه څیز په شان دې چه لوښی کښې پروت وی. دَ روح دَ پاره شنه مرغئی په منزله دَ ظرف ده لکه څنګه چه دَ سرو زرو دَ پاره ښکلې صندوقچه او ظروف وی دا نه ده چه صندوقچه په دې کښې څه تصرف کوی. یا څنګه چه په هیلی کاپټر کښې مخامخ دَ شیشې په محل کښې دوه درې کسان ناست په مزه الوزی دا هیلی کاپټر دَ انسان دَ عظمت او عزت دَپاره دې دانه ده چه انسان په هیلی کاپټر کښې ورننوتلو اوحل شو. نودلته چه په حدیث کښې دَ کومې مرغئی ذکردې ممکن ده چه دَدې نه یوقسم سورلی مرادوی څنګه چه هیلی کاپټردې. دا دویم جواب شو.

② قاضی عیاض رحمه الله او علامه قرطبی رحمه الله فرمائی چه دا روحونه به په خپله شکل اختیاریدو سره مرغئی جوړه شی بله څه مرغئی نه ده. دَدې حضراتو په دې قول باندې زیربحث حدیث په واضحه توګه دلالت کوی چه انما نسمة المؤمن طیر. دا روایت نسائی او موطامالك کښې هم نقل کړې شوې دې. دا حضرات دې روایت ته ترجیح ورکوی او په نورو روایتونو کښې تاویل کوی یا دَدې نه انکار کوی.

③ خوملاعلی قاری رحمه الله په دواړو روایتونو کښې داسې تطبیق کړې دې چه دَ مؤمنانو روحونه به په جنت کښې پخپله مرغئی وی او دَ شهیدانو روحونه شنومرغو کښې داخلیدو سره دَ جنت په نهرونو اوباغونو کښې په ذریعه دَ سورلئی ګرځی راګرځی.

دتناسخ د عقیدې دپاره استدلال:- یوه ګمراه ډله دَ تناسخ قائل ده اوهغوی دَدې قسم احادیثونه په تناسخ باندې استدلال کړې دې. تناسخ دادې چه مثلاً په دنیاکښې روح خراب عمل اوکړو نوهغه ته به خراب بدن ملاویږی مثلاً سپې پیشو یاخر په بدن کښې به ورننوځی خلق به دغه ځناور وهی هم دَدغه دَدوی سزاده اوهم دغه دَدوی دوزخ دې. اوکه چرې روح ښه وی اوښه عمل ئی کړې وی نودا روح به دَ یوښه بادشاه په بدن کښې ورتللوسره داخلیږی اوهلته دَعیش او آرام ژوند تیره وی هم دغه دَده دَپاره جنت دې. نوآیا دَدغه خلقو داعقیده صحیح ده؟

داستدلال تضعیف:- دَ تناسخ عقیده باطل ده ځکه چه دَ دنیاخبره کوی چه دلته تناسخ کیږی هغه خلق دَ بیا راژوندی کیدو هډوقائل نه دی اودلته په حدیث کښې دَ آخرت بیان دې دَ کوم چه دَ دنیاتناسخ سره څه واسطه نشته دې. دَدې حدیث نه تناسخ والاڅنګه استدلال کوی؟ بل په تناسخ کښې خو روح په یوجدا بدن کښې ځی ورننوځی لکه څنګه چه دَاهل تناسخ عقیده ده او په حشر کښې به روحونه په خپل مخکینی بدن کښې داخلیږی

نوَدهغوی استدلال دَحدیث نه صحیح نه دي. دامسئله دې نه وړاندې باب عذاب قبر کښې په تفصیل سره لیکلې شوې ده دلته هسې دوباره اولیکلې شوه.

[١٦٣٣] مړی ته د سلام لیږلو ثبوت

١٦٣٣–()[١٨] [١] وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ: [٢] دَخَلْتُ عَلَى جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ وَهُوَ يَمُوتُ [٣] فَقُلْتُ: اقْرَأْ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّلَامَ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] محمد ابن منکدر فرمایي [٢] چې زه د حضرت جابر رضي الله عنه په خدمت کښې حاضر شوم کله چې هغه مرګ ته نزدې وو [٣] ما هغه ته عرض اوکړو چې ته (عالم برزخ ته رسیدو سره) رسول الله ﷺ ته زما سلام عرض کړه. (ابن ماجه)

تسهیلات: قوله: اقْرَأْ: دَدې حدیث نه هم په واضحه توګه ثابتیږي چه مسلمان ته کوم ژوندون په برزخ کښې ملاویږي هغه یوحقیقت دې هلته ملاقاتونه کیږي.

دَروح حقیقت: – روحونو ته په یوخاص کیفیت سره ژوند ملاویږي په کوم سره چه هغه سلام کلام کولې شي داځه لرې خبره نه ده چه هغه په یوخاص جسم کښې مجسم کولو سره ژوندون ورکړي. مسلمانان دَ انسان په بدن کښې روح یوځان له حقیقت په توګه مني

د روح مثال: – اودَدې مثال داسې دې لکه یوفیکټري ده په هغې کښې پوره مشینري لګیدلې ده خو په دې کښې حرکت نشته دې کله چه په دې کښې پاور اوبجلي راپریخودې شي نو پوره کارخانه په حرکت کښې راځي روح هم په حقیقت کښې دَ انساني بدن دکارخانې دَپاره په منزله دَ پاور اوبجلۍ دې. دَ انسان بدن بالکل یوتیاره مشینري خو بې حس اوبې حرکت دې اوځنګه چه په دې کښې روح راغلو دا پوره مشینري په حرکت کښې راغله. هم دا یوآسان تعبیر دې په کوم سره چه دَ یوحدپورې مونږ دَ روح حقیقت پیژنو ګنی دَ قرآن پاك اعلان دې ﴿ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ [سورت بني اسرائیل الایه:٨٥]

....

[١] اخرجه ابن ماجة في كتاب الجنائز، باب ما جاء فيما يقال عند المريض إذا حضر (رقم–١٤٥٠)

[٤] بَابُ غُسْلِ الْمَيِّتِ وَتَكْفِينِهِ

دَمړی لمبولواوکفن کولوبیان

خلاصة الباب :-

فيه أحدعشر حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① كيفية الغسل: ۱، ۴۔
② ثياب الكفن و كيفيته: ۲، ۵، ۸، ۱۰، ۱۱۔
③ تحسين الكفن دون المغالاة: ۳، ۶۔
④ تكفين المحرم: ۴۔
⑤ بعث الميت يوم القيامة فى ثيابه : ۷۔
⑥ كفن الشهيد: ۹۔

دباب مقصد: په دې باب کښې به هغه احاديث بيانولې شی دَ کومونه چه به دَمړی لمبولواوکفن کولواودَهغې دَآدابو علم حاصليږی. دَ ټولو علماء کرامو په نيز مړی ته غسل ورکول فرض کفايه ده اودادَمړی حق دې. که څه خلقوداحق اداکړو نودَ باقی دَذمه نه به ساقط شی. خوکه ټولو پريخودو نوټول په ټول به ګناهګاروی.

مړی ته دغسل ورکولو سبب کښې دوه اقوال :-

① مړی ته دَغسل ورکولوسبب څه دې؟ په دې کښې دوه قوله دی يوداچه دَ غسل ورکولوسبب دا دې چه دَ مرګ دَ وجې نه دَ مړی ټول بدن کښې نجاست خوريږی په دې وجه غسل ورکول ضروری شو دې دَپاره چه پوره بدن ئی پاک شی.

② په مرګ سره رګونه سست شی اواسترخاء سره اودس ماتيږی لهذا اودس کول ضروری دی خو په ژوند کښې په وجه دَحرج دَ اودس صرف څلور اندامونه وينځل کافی ګڼړلې شو اودَمرګ نه پس چونکه حرج نشته نوپه اصل باندې عمل اوکړې شو اواصل دادې چه دَ پوره بدن اودس اوشی اوهغه غسل دې. دَدې قول مطابق مړی ته غسل ورکول په وجه دَ نجاست نه دې اودَ اول قول مطابق غسل ورکول په وجه دَ نجاست دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٦٢٤] حضرت زينب رضي الله عنها ته دَغسل ورکولوواقعه

١٦٢٣—()[١] ① عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ: ② «دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَغْسِلُ ابْنَتَهُ ③

[١] اخرجه البخارى فى كتاب الجنائز/باب ما يستحب أن يغسل وتراً (رقم-١٢٥٤) ومسلم فى باب فى غسل الميت (رقم) ٣٦ - (٩٣٩) وابوداود كتاب الجنائز. باب كيف غسل الميت (رقم-٣١٤٢)والترمذى كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى غسل الميت (رقم-٩٩٠) والنسائى كتاب الجنائز/غسل الميت بالماء والسدر (رقم-١٨٨١) وابن ماجة كتاب الجنائز / باب ما جاء فى غسل الميت(رقم-١٤٥٨) ومالک فى الموطا كتاب الجنائز/باب غسل الميت (رقم-٢)

فَقَالَ: "اغْسِلْنَهَا ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكِ إِنْ رَأَيْتُنَّ ذٰلِكَ، [۴] بِمَاءٍ وَسِدْرٍ، [۵] وَاجْعَلْنَ فِي الْآخِرَةِ كَافُورًا أَوْ شَيْئًا مِنْ كَافُورٍ، [٦] فَإِذَا فَرَغْتُنَّ فَآذِنَّنِي". [۷] فَلَمَّا فَرَغْنَا آذَنَّاهُ، [۸] فَأَلْقَى إِلَيْنَا حَقْوَهُ، فَقَالَ: أَشْعِرْنَهَا إِيَّاهُ». [۹] وَفِي رِوَايَةٍ: " «اغْسِلْنَهَا وِتْرًا: ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ سَبْعًا، [۱۰] وَابْدَأْنَ بِمَيَامِنِهَا وَمَوَاضِعِ الْوُضُوءِ مِنْهَا " [۱۱] وَقَالَتْ: فَضَفَرْنَا شَعْرَهَا ثَلَاثَةَ قُرُونٍ، [۱۲] فَأَلْقَيْنَاهَا خَلْفَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي أم عطيه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ مونږ لره تشريف راوړو هر کله چې مونږ د حضور ﷺ لور بي بي زينب رضي الله عنها ته غسل ورکولو [۳] حضور ﷺ وفرمايل چې تاسو يي درې ځله يا پنځه ځله او که مناسب وګڼئ (يعني ضرورت وي) نو د دې څخه هم زيات ورته غسل ورکړئ [۴] په اوبو او د بيرې په پاڼو سره (يعني د بيرې پاڼو لره په اوبو کښې جوش ورکولو سره يي) ولمبوئ (څکه چې د بيرې پاڼوته جوش ورکړې اوبو سره ډيره زياته پاکي او صفايي حاصليږي) [۵] او آخر ځل کافور يا وي فرمايل چې د کافرو څه حصه په اوبو کښې واچوئ [٦] او هر کله چې د غسل څخه فارغ شئ نو ما خبر کړئ [۷] مونږ چې فارغ شو نو حضور ﷺ ته مو اطلاع ورکړله [۸] حضور ﷺ خپل تهبند (لنګ) مونږ طرف ته رامخکې کړو او وي فرمايل چې دا تهبند (لنګ) د هغې د بدن سره ولګوئ [يعنى دا تهبند (لنګ) داسې د هغې تر کفن لاندې کيږدئ چې هغه د زينب رضي الله عنها د بدن سره لګيدلې وي] [۹] او د يو دويم روايت الفاظ دا دي چې حضور ﷺ وفرمايل چې هغې لره طاق يعنى درې ځله يا پنځه ځله يا اووه ځله غسل ورکړئ [۱۰] او غسل د هغې د ښي طرف څخه او د هغې د اودس د اعضاؤ څخه شروع کړئ [۱۱] بي بي أم عطيه رضي الله عنها فرمايي چې مونږ د هغې د ويښتانو درې کمڅې وتړلې [۱۲] او د هغې وروسته (شاته) مو واچولې. (بخاری مسلم)

حل اللغات: - ① سِدْرٍ: بيرې (د بيرې پاڼې مراد دي). ② كَافُورًا :نبت طيب زهرة: يو خوشبودار بوټې دې. ③ حَقْوَهُ: الْحَقْوُ: فِي الْأَصْلِ مَعْقِدُ الْإِزَارِ، ثُمَّ سُمِّيَ بِهِ الْإِزَارُ لِمُجَاوَرَتِهِ: حقوه د لنګ تړلو ځاۍ ته وائى خو د اتصال په وجه لنګ ته هم وائى. ④ أَشْعِرْنَهَا : الثَّوْبُ الَّذِي يَلِي الْجَسَدَ لِأَنَّهُ يَلِي شَعَرَهُ: کومه کپړه چه بدن سره نزدې وى هغې ته شعار وائى، يعنى تهه بند دَ کفن دَ نورو کپړو دَ لاندې دَ هغه بدن سره لګولوسره واغوندوئ ⑤ فَضَفَرْنَا : وَالضَّفْرُ: فَتْلُ الشَّعَرِ، مِنَ الضَّفِيرَةِ، وَهِيَ النَّسْجُ: د ويښتو نه کمڅۍ جوړول ⑥ قُرُونٍ: أَيْ: أَقْسَامٌ: کمڅۍ.

تسهيلات: قوله : وَنَحْنُ نُغَسِّلُ ابْنَتَهُ:

د ابنة مصداق: - واضح اوراجح هم دغه دې چه دَحضورپاك لوربى بى حضرت زينب رضي الله عنها وه چه دَ حضرت ابوالعاص رضي الله عنه په نکاح کښې وه . دَحضورپاك دَ دويمې لوربى بى نوم حضرت رقيه رضي الله عنها وه دَ دريمې نوم ام کلثوم رضي الله عنها وه دا دواړه يوې بلې پسې دَ حضرت عثمان رضي الله عنه بيبياني وې او څلورمه لوربى بى فاطمة الزهرى رضي الله عنها وه چه دَحضرت على رضي الله عنه په نکاح

کښې راغلې وه. شیعه شنیعه او رافضه مرفوضه دَ حضوراکرم ﷺ دَ یوې لور نه دَ زیاتو انکار کوي.

قوله: اغْسِلْنَهَا ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا:

د مړی په غسل کښې د تثلیث حکم:- لفظ او صرف دَ ترتیب دَپاره دې دَ تخییر دَپاره نه دې دلته اصل مدار پاکی حاصلولو باندې ده. علماؤ لیکلی دی چه که پاکی په یو ځل یا دوو ځلو اوبو بهیولوسره حاصله شی نو بیا په دریم ځل اوبه اچول مستحب دی زیاتې مکروه دی او که پاکی په دریم ځل وینځلوسره حاصله شوه نو بیا پنځه ځل پورې اوبه اچول او غسل ورکول مستحب دی دې نه زیاتې مکروه دی او که چرې پاکی پنځه ځل وینځلوسره حاصله شوه نو اووه ځل اوبه استعمالول مستحب دی اودې نه زیاتې مکروه دی. دَ اووه ځل نه زیاتې نقل نه دی.

قوله: بِمَاءٍ وَسِدْرٍ:

د بیرې په پاڼړو سره د غسل ورکولو طریقه:- دَ بیرې پاڼړو ته سدر وئیلې شوې دې په دې کښې ترتیب دادې چه په پاکو اوبو کښې دَ بیرې پاڼړې واچولې شی اوبه اوخوټکولې شی اوبیا په مناسب ګرمو اوبوسره مړی ته غسل ورکړې شی. بیا په دریم ځل اوبو کښې کافور ملاوولوسره په هغې غسل ورکړې شی.

د بیرې د پاڼړو فائدې:- ① دَدې په استعمال سره حشرات الارض مړی ته نیزدې نه راځی
② په دې سره په ښه شان سره صفائی حاصلیدې شی.
③ دَدې په استعمال سره نعش زر نه خرابیږی. دَ کافور ملاوولومطلب دادې چه په اوبو کښې دا یوځائی کړې شی یا په مړی باندې اوشندلې شی.

قوله: فَأَلْقَى إِلَيْنَا حَقْوَهُ، فَقَالَ: أَشْعِرْنَهَا إِيَّاهُ:

په آثار الصالحین د برکت حاصلولو حکم:- نبی علیه السلام خپل لنګ هغه غاسلاتو زنانو ته ورکړو. د دې دَپاره چه په دې سره برکت راشی. دې نه دَبرکت ثبوت ملاؤ شو چه دَ بزرګانو په استعمال شوی څیزونو کښې برکت وی او برکت ورکونکې هم دَ الله تعالی ذات دې. امام بخاری رحمه الله دَ برکات اوتبرکات دَپاره بخاری شریف کښې مستقل ابواب ساتلی دی مثلاً باب برکة التحلة. البته دَ بزرګانوجامې یا تبرکات په کفن کښې شاملولوسره اغوستل پکاردی د کفن نه زیاتی څه څیز یا جامه بدن سره کیخودل جائز نه دی.

قوله: وَابْدَأْنَ بِمَيَامِنِهَا:

د مړی په تغسیل کښې د ښی طرف نه د شروع کولو مسنونیت:- یعنی مړې دَ هغه دَ ښی لاس ښې خپې او ښی اړخ نه لامبول پکاردی. علماؤ دَ غسل په ترتیب کښې داسې لیکلی دی چه سړې دې اول خپلو لاسونوته دکپړې دستانې واچوی بیا په تیارو اوبوسره دَمړی دَ اودس

اندامونه اووینځی. دَمړی دَ ستر په مقام باندې کپړا اچول پکاردی اومکمل اودس ورله جوړول پکاردی. دَ اودس دَ اندامونونه هغه اندامونه مراد دی دکوم وینځل چه په اودس کښې فرض دی. لهذا په خُله او پوزه کښې اوبه نه دی اچول پکار البته په سر باندې مسح کول پکاردی.

قوله: فَضَفَّرْنَا شَعْرَهَا:

د ښځې درې کونسی جوړول:- یعنی مونږ دَهغوی دَ سر ویښته په دریو حصوکښې تقسیم کړل مطلب دا چه درې چونټې جوړولوسره شاته دَملا طرف ته واچول.

دَ شوافع حضراتو مسلك داسې دې لیکن امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه دنیا دَ زینت کور دې دکوم تعلق چه ژوند سره دې اودَ مرګ نه پس "دارالبلی" ده هلته زینت نشته خرابیدل دی. لهذا ترك زینت اولی دې. زیر بحث حدیث کښې چه ویښتو سره کومه معامله کړې شوې ده دادَ صحابیاتو اجتهادی عمل وو لهذا ویښته په دوو حصوکښې تقسیم کول او په سینه باندې اچول پکاردی لکه چه دَ بعضې روایاتونه معلومیږی. دَ فقهاؤ دا فیصله دَ دوو طرفو نه دَ اجتهاد په بنیاد باندې ده دادَ جواز اوعدم جواز مسئله نه ده بلکه دَ اولی او غیر اولی مسئله ده.

[۱٦٢۵] دَ رسول الله ﷺ په درې جامو کښې تکفین

۱٦٢۵-()[۲] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: [۲] «إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُفِّنَ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ [۳] يَمَانِيَةٍ بِيضٍ سَحُولِيَّةٍ، مِنْ كُرْسُفٍ، [۴] لَيْسَ فِيهَا قَمِيصٌ وَلَا عِمَامَةٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي عایشه رضي الله عنها فرمایي [۲] چي رسول ﷺ ته په دریو کپړو کښي کفن ورکول شوي وو [۳] چي سپیني یمني او د سحول د جوړ شوي پنبی وي [۴] نه په هغې کښې (ګنډل شوی) قمیص وو نه پټکی. وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① سَحُولِيَّةٍ: یا خو دیمن یوې قبیلې ته نسبت دې، یا جمع دسُحل ده او سُحل سپینو کپړو ته وائی چه د مالوچونه جوړیږی. ② کُرْسُفٍ: سپینو مالوچوته کرسف وائی. مطلب دا چه سپیني کپړې دَخالص سفینو مالوچو وې.

تسهیلات:

قوله: فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ يَمَانِيَةٍ بِيضٍ سَحُولِيَّةٍ:

---

[۱] اخرجه البخاری فیکتاب الجنائز /باب الثیاب البیض للکفن(رقم-۱۲٦۴)و مسلم فی باب فی کفن المیت (رقم) ۴۵-(۹۴۱) وابوداود کتاب الجنائز /باب فی الکفن (رقم-۳۱۵۱) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی کفن النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۹۹٦) والنسائی کتاب الجنائز /باب کفن النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۸۹۸) وابن ماجة کتاب الجنائز / باب ما جاء فی کفن النبی صلی الله علیه وسلم(رقم-۱۴٦۹) ومالک فی الموطا کتاب الجنائز /باب ما جاء فی کفن المیت (رقم-۵) واحمد فی المسند ۹۳/٦

د سحولیة تحقیق: - په دې کلمه کښې سین باندې فتحه هم وئیلې شوې ده او ضمه هم وئیلې شوې ده. ابن همام رحمه الله او امام نووی رحمه الله فرمائی [الکاشف: ٣٦٨/٣] چه فتحه زیاته مشهوره ده. دَ لغت کتاب فائق کښې لیکلی دی که په سین باندې فتحه اووئیلې شی نودا به دَ شیخ سحول طرف ته منسوب شی چه یو دهوبی وو او داسې کپړې به ئی وینځلې. بل په دې صورت کښې دا دَ یو کلی طرف ته هم منسوب کیدې شی سحول دَیمن دَ یو کلی نوم دې اودا کپړې به هلته جوړیدلې. اوکه چرې لفظ سحول باندې ضمه اووئیلې شی نودا دَ سحل جمع ده چه خالص سپینې کپړې ته وئیلی شی. بهرحال زیات ظاهر خبره داده چه سحول یا سحولی په یمن کښې دَ یوځائی نوم دې اوهم دَهغې طرف ته داکپړا منسوب ده.

قوله :لَيْسَ فِيهَا قَمِيصٌ:

د حدیث دمذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: - دَدې جملې دوه مفهوم اخستې شی

① دَ رسول الله ﷺ دَ کفن صرف هم درې کپړې وې په هغې کښې پټکې اوقمیص نه وو بلکه صرف درې کپړې وې.

② دَ حضورپاك دَ کفن په دغه دریو کپړوکښې پټکې اوقمیص نه وو بلکه هغه دَدې دریو کپړو نه علاوه وو لهذا دَ مړی په کفن کښې پنځه کپړې پکاردی. دَ مفهوم په دې اختلاف کښې دَ فقهاؤ هم لږ شان اختلاف راغلې دې.

د مړی د کفن د جامو په تعداد کښې مذاهب:-

① امام مالك رحمه الله امام شافعی رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله جمهور فرمائی چه په کفن کښې دې صرف درې لفافې وی یعنی درې څادرونه وی په کوم کښې چه مړې راغونډ کړې شی په دې کښې دَ قمیص اوپټکی ګنجائش نشته دې.

② ائمه احناف فرمائی چه په کفن کښې هم درې کپړې کیدل پکاردی. ① ازار یعنی لنګ ② قمیص یعنی کفنی قمیص ③ لفافه یعنی څادر.

د مذاهبو په مینځ کښې تطبیق: - دا اختلاف صرف په تعبیرکښې دې ګنی په څادرونوکښې هیڅ فرق نه وی صرف دَ قمیص یوشکل شان وی کولاؤ څادر نه وی. په حدیث کښې چه کوم دَقمیص نفی کړې شوې ده هغه دَ سلائی شوې قمیص نفی ده. دَ احنافو په نیز چه کوم قمیص دې هغه کفنی دې هغه باقاعده قمیص نه وی البته دَ قمیص شکل وی.

......

[١٦٣٦] دَمړي دکفن ښائسته کولو حکم

١٦٣٦ ــ (١) [٣] [١] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«إِذَا كَفَّنَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُحْسِنْ كَفَنَهُ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] هر کله چه په تاسو کښې څوک خپل وررورته کفن ورکوي نو هغه ته پکار دي چې ښه کفن ورکړي (مسلم)

تسهيلات: قوله : فَلْيُحْسِنْ كَفَنَهُ:

د ښه کفن مصداق: - دَ ښـه کفن نه مراددادې چه دکفن کپړه پوره وی اوکفن سپین وی دَ اسراف نه بغیرمزیداره کپړه وی که نوې وی اوکه وینځلې شوې وی.

په کفن کښې داسراف مفهوم: - علامه توریشتی رحمه الله فرمائی په اسراف کونکوکښې چه کومه طریقه عمل کښې ده هغه داده چه ډیره زیاته قیمتی کپړه په کفن کښې استعمالوی کومه چه په شرعی اعتبارسره منع ده ځکه چه په دې سره خامخا مال ضائع کیږی. بهرحال دَښه کفن نه مراد هغه اعلی اوقیمتی کپړه نه ده چه دَ دنیادارو په نیزدَتکبراو دَ ریاکارئی په توګه او دَ ځان خودلودَ پاره عمل کښې دی.

[١٦٣٧] دَمحرم دَکفن مسئله

١٦٣٧ ــ (٢) [٤] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: [٢] «إِنَّ رَجُلًا كَانَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٣] فَوَقَصَتْهُ نَاقَتُهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ فَمَاتَ، [٤] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اغْسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ، [٥] وَكَفِّنُوهُ فِي ثَوْبَيْهِ، [٦] وَلَا تَمَسُّوهُ بِطِيبٍ، [٧] وَلَا تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ ; [٨] فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّيًا» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [٩] وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ خَبَّابٍ: قُتِلَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ فِي "بَابِ جَامِعِ الْمَنَاقِبِ" إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى.

ترجمه: [١] عبدالله ابن عباس رضی الله عنه فرمایي [٢] چې یو سړي (د حج د سفر په دوران کښې) د حضور ﷺ سره ملګري وو [٣] دهغه اوښې (هغه راوغورځولو او) د هغه څټ (مغځی) یي مات کړو هغه سړي محرم (یعني د حج په نیت سره او احرام یي تړلي) وو هم په دې حال کښېمړ شو [٤] رسول الله ﷺ وفرمایل چې دي د اوبو او د بیرود پاڼو په اوبو سره ولمبوئ [٥] او په خپلو دواړو جامو کښېيي کفن کړئ [٦] مه ورته خوشبو لګوي [٧] او مه ورلره

---

(١) اخرجه مسلم فی باب فی تحسین کفن المیت (رقم) ٤٩ - (٩٤٣) وابوداود فی السنن کتاب الجنائز /باب فی الکفن (رقم-٣١٤٨) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب منه (رقم-٩٩٥) وابن ماجة کتاب الجنائز /باب ما جاء فیما یستحب من الکفن (رقم-١٤٧٤) والنسائی فی السنن کتاب الجنائز /الأمر بتحسین الکفن (رقم-١٨٩٥) واحمد فی المسند ٢٩٥/٣

(٢) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز /بباب: کیف یکفن المحرم؟ (رقم-١٢٦٧) ومسلم فی کتاب الحج /باب ما یفعل بالمحرم إذا مات (رقم) ٩٣ - (١٢٠٦) والترمذی فی السنن کتاب الحج عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی المحرم یموت فی إحرامه (رقم-٩٥١) والنسائی کتاب الجنائز /باب کیف یکفن المحرم إذا مات (رقم-١٩٠٤) والدارمی کتاب الطهارة /باب فی دم الحیض یصیب الثوب واحمد فی المسند ٢١٥/١

سر پټوي [۷] ځکه چې دي به د قیامت په ورځ لبیک ویلو سره راپورته کیږي. (بخاري مسلم). [۹] اوزرده چې مونږ په د خباب رضی الله عنه د مصعب بن عمیر د قتل حدیث په باب جامع الدعاء کښې ذکرکړو انشاء الله تعالی

حل اللغات:- ① فَوَقَصَتْهُ: أَيْ: أَسْقَطَتْهُ فَانْدَقَّ عُنُقُهُ: یعنی راوئې غورځولو نوخټ ئې مات شو. ② وَلَا تُخَمِّرُوا: أَيْ: لَا تُغَطُّوا وَلَا تَسْتُرُوا: یعنی مه ئې پټوئ. ③ مُلَبِّيًا: أَيْ: قَائِلًا: لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ: یعنی تلبیه ویونکې به وی.

تسهیلات:

قوله: وَكَفِّنُوهُ فِي ثَوْبَيْهِ:

د محرم د کفن په حکم کښې مذاهب:-

دې سړی سره دَ وفات نه پس هم هغه معامله اوکړې شوه کومه چه یومحرم سره په ژوند کښې کولې شی چه خوشبوئی مه لګوه سر مه پټه وه بلکه دَ احرام په کپړو کښې خښ کړئی. دَدې حدیث ظاهر ته په کتلوسره فقهاؤ کښې اختلاف راغلې دې.

① امام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه دَدې حدیث دَ ظاهری الفاظو مطابق دې سړی سره به هم هغه معامله کولې شی نه خوشبوئی نه کفن او نه سر پټول.

② امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام دارالهجرة امام مالک رحمه الله په نیزیه کفن دفن کښې محرم اوغیرمحردواړه یوشان دی هیڅ فرق نشته.

د اول فریق دلیل:- زیربحث حدیث داول فریق مستدل دې کوم چې په خپله مدعی باندې واضع دلیل دې.

داول فریق د دلیل جوابونه:- ① دې سړی سره کومه معامله کړې شوې ده دا دَ ده خصوصیت وو لهذا نور مړی به په دې باندې نه شی قیاس کولې.

② دا هم ممکن ده چه د کفن کولو دَپاره هغه سره بل څه کپړا نه وه نو هم دغه شان ئې په احرام کښې خښ کړو. بهرحال دَخصوصیت خبره ډیره راجح ده ځکه چه دَحضورپاك په زمانه کښې دَدې سړی نه علاوه هیچاسره داسې معامله نه ده کړې شوې اونه روستو بیا صحابه کرامو رضی الله عنهم دا ضابطه جوړولو سره عمل کړې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۶۳۸] دَکفن دَپاره د سپینې کپړې غوره والې

۱۶۳۸-()[۵] [۱] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «الْبَسُوا مِنْ

[1]) اخرجه ابوداود کتاب اللباس/باب فی البیاض (رقم-٤٠٦١) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما یستحب من الأکفان (رقم-٩٩٤) والنسائی کتاب الجنائز/أی الکفن خیر (رقم-١٨٩٦) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فیما یستحب من الکفن (رقم-١٤٧٢) واحمد فی المسند ٢٤٧/١

ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضَ ; فَإِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ، [٣] وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ، [٤] وَمِنْ خَيْرِ أَكْحَالِكُمُ الْإِثْمِدُ ; [٥] فَإِنَّهُ يُنْبِتُ الشَّعْرَ، وَيَجْلُو الْبَصَرَ» " [٦] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ إِلَى "مَوْتَاكُمْ".

ترجمه: [١] ابن عباس رضي الله عنهما روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] چې تاسو سپیني کپړې اغوندئ څکه چې دا ستاسو د پاره بهترینې کپړې دي [٣] او خپلو مړو ته هم سپین کفن ورکوئ [٤] او ستاسو د پاره بهترین رانجه سرمه (اثمد رانجه) دي [٥] څکه چې دا ستاسو بانه زرغونوي او د سترګو بینایي زیاتوي، [٦] (ابوداؤد ترمذي) او ابن ماجه دا روایت تر لفظ موتاکم پورې نقل کړې دي.

حل اللغات: - ① أَكْحَالِكُمُ: ستاسو دباره بهترین رانجه، ② الْإِثْمِدُ: حَجَرٌ لِلْكُحْلِ: دا یو کاڼړې دي دکوم په اوړه کولوسره چه رانجه جوړولې شي. ③ يَجْلُو الْبَصَرَ: أَيْ: يَزِيدُ نُورَهُ: دسترګو نظر تیزوی.

تسهیلات: قوله: وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ:

د سپین کفن استحباب: - دَمړو دَپاره سپین کفن دَ استحباب په توګه دي دَ ښځودَپاره هم دغه مستحب دي او په دي حدیث کښې دَ کفن په معامله کښې سرې اوښځې تول یو شان ساتلی دی. البته که دَ سپینې کپړې په ځائی دَ سرو دَپاره پټیداره کپړې نه کفن جوړ شي اویا بله څه رنګین کپړا وی کومه چه هغه په ژوند کښې استعمالوله نوهغه هم جائز ده اودَ ښځودَپاره دَهغوی دَرنګ مطابق کپړا استعمالول جائز دی.

[١٦٣٩] دَ قیمتی کپړې څخه دَکفن جوړولو ممانعت

١٦٣٩- (¹) [٦] [١] وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] " «لَا تَغَالَوْا فِي الْكَفَنِ [٣] فَإِنَّهُ يُسْلَبُ سَلْبًا سَرِيعًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] حضرت علي رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] په کفن کښې ډیره قیمتي کپړه مه لګوئ [٣] څکه چې هغه ډیر زر اخستل کیږی. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① لَا تَغَالَوْا: زیاته قیمتي کپړه مه لګوئ، ② سَلْبًا: واپس اخستلې کیږی، (دجامې ډیر زر زوړوالی طرف ته مبالغةً اشاره ده).

تسهیلات: قوله: لَا تَغَالَوْا فِي الْكَفَنِ:

د کفن په کپړه کښې اعتدال کول: - ددې مطلب دادې چې په کفن کښې دې درمیانه کپړا استعمال کړې شي. ډیره قیمتی کپړا دې استعمال نه کړې شی هسې نه چې غریبانان د نورو خلقو سره حرص اوکړی او قرض واخلی ، او ډیره حقیره کپړا دې هم استعمال نه کړې شي چې هغې سره د مړی سپکاوې اوشي.

(¹) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب کراهیة المغالاة فی الکفن(رقم - ٣١٥٤)

قوله: فَإِنَّهُ يُسْلَبُ سَلْبًا سَرِيعًا:

د قیمتی کفن د ممانعت وجه: -یعنی هغه ډیر زر خړیدو والا ده نوبیا د ډیرې قیمتی کپړې استعمالولو ضرورت نشته دې.

[١٦٤٠] د مړی په هغه جامو کښې راژوندی کیدل په کومو کښې چې مړ شوې وی

۱۶۴۳-()[۷] [۱] «وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ [۲] أَنَّهُ لَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ دَعَا بِثِيَابٍ جُدُدٍ فَلَبِسَهَا، [۳] ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۴] "الْمَيِّتُ يُبْعَثُ فِي ثِيَابِهِ الَّتِي يَمُوتُ فِيهَا"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] د ابو سعید خدري رضی الله عنه په باره کښې منقول دي [۲] چې د هغه د مرګ وخت چې نژدې شو نو هغه نوي کپړې راوغوښتلې او هغه يې واغوستې [۳] بیا يې وفرمایل چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي [۴] چې مړي به په هغه کپړو کښې راپورته کول کیږی په کومو کښې چې هغه مري. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① جُدُدٍ: جَمْعُ جَدِيدٍ: یعنی بالکل نوې کپړې ئې واچولې.

تسهیلات: قوله: -الْمَيِّتُ يُبْعَثُ فِي ثِيَابِهِ:

د روایاتو په مینځ کښې د تعارض د دفعې دپاره دوه توجیهات: - ① دَدې بعثت او پاسیدلو نه مراد دَ قبرونو نه اوچتیدل دی ځکه چه په میدان حشر کښې خو به دَ چا په بدن باندې کپړه نه وی بلکه بربنډ به پاسی. لهذا دَدې حدیث به نورو احادیثو سره تعارض نه پاتې کیږی.

② دَحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه په کلام کښې کوم لفظ ثیاب راغلې دې دَهغې نه مراد اعمال اخستې شی. ذکرخوئی دَ ثوب اوکړومګر مراد ترې نیك اعمال واخستل او په عربی کښې نیك اعمال په ثیاب سره یادولې شی.

وانی بحمدالله لاثوب فاجر لبست ولاعن غدراتقنع

بل ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾ [سورت مدثر الایه: ۴] کښې بعضې مفسرینو اعمال مراد اخستی دی. بهرحال ابوسعید خدری رضی الله عنه محض دَ صفائی اوپاکوالی دَپاره نوې کپړې راؤغوښتلې اوبیا دَهغوی په ذهن کښې داحدیث راغلو نوهغوی داحدیث بیان کړو. دَدې دامطلب نه دې چه ابوسعید خدری رضی الله عنه داحدیث دَ دلیل په توګه په خپله دعوی باندې پیش کوی. سړې به په قیامت کښې اوپه حشراونشرکښې هم په هغه کپړوکښې اوچتیږی په کوم کښې چه دَهغه انتقال شوې وی.

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب ما یستحب من تطهیر ثیاب المیت عند الموت (رقم-٣١١٤)

[١٦٤١] بهترین کفن اوبهترینه قرباني

١٦٤١-(١)[٨] [١] وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [٢] «خَيْرُ الْكَفَنِ الْحُلَّةُ، [٣] وَخَيْرُ الْأُضْحِيَةِ الْكَبْشُ الْأَقْرَنُ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] عباده ابن صامت ﷺ روایت کوی چې رسول اللهﷺ وفرمایل [٢] بهترین کفن حُله دي [٣] او بهترینه قرباني ښکرور پسه دي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① الْحُلَّةُ: دحلل جمع ده، د یوجنس (یا یو رنګ) دوه کپړو ته حله وائی. او بعضې وائی دا د مالوچو یوقسم کپړې دی چه لکیرداري وی. ② الْكَبْشُ: ګډ، ③ الْأَقْرَنُ: ښکرونو والا.

تسهیلات: **قوله: خَيْرُ الْكَفَنِ الْحُلَّةُ**

د غوره کفن مصداق: - ښکاره خبره ده چه بهتر کفن هم هغه وی چه په یورنګ کښې وی لفافه هم سپینه قمیص هم سپین او ازار هم سپین وی. په دې حدیث کښې دې طرف ته هم اشاره کیدې شی چه بهترین کفن هغه دې په کوم کښې چه دوه کپړې استعمال کړې شی کوم چه کفن کفایه ادنی درجې سنت دې چه دې نه کمه کپړا نه وی یعنی یوه کپړا نه وی. نو اعلی درجه کمال سنت درې کپړې دی ادنی درجه کمال دوه کپړې دې نه کم بهتر نه دې بلکه هغه دَ ضرورت کفن دې دَ سړی دَپاره دَ ضرورت کفن یوه کپړا اودَ ښځې دَپاره دَ ضرورت کفن دوه کپړې دی.

١٦٤٢-(٢)[٠] [١] وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ.

ترجمه: [١] ترمذي او ابن ماجه دا روایت د حضرت ابو امامه څخه نقل کړې دي.

[١٦٤٣] دشهیدانو په خپلو کپړو کښې دفن کول

١٦٤٣-(٣)[٩] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: [٢] «أَمَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلَى أُحُدٍ [٣] أَنْ يُنْزَعَ عَنْهُمُ الْحَدِيدُ وَالْجُلُودُ، [٤] وَأَنْ يُدْفَنُوا بِدِمَائِهِمْ وَثِيَابِهِمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي [٢] چې رسول اللهﷺ د جنګ احد دِ شهداؤ په باره کښې وفرمایل [٣] چې د هغوئ د اوسپني (هتیار زغري) او د چمړي (پوستین وغیره یعنی هغه اشیاء چې په وینو لړلې شوې نه وي) د هغوئ د بدن څخه خکته کړئ [۴] بیا دې هغوی د هغوئ (په وینو لړلې شوو) کپړو او د وینو سره دې دفن کړل شي. (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات: - ① يُنْزَعَ: ویستلې به شی (دشهید نه)، ② الْحَدِيدُ: أَيِ: السِّلَاحُ وَالدُّرُوعُ: اوسپنې ته وائی دلته ترې وسله او زغرې وغیره مراد دی. ③ الْجُلُودُ: څرمن ته وائی.

---

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب کراهیة المغالاة فی الکفن(رقم-٣١٥٦)

(٢) اخرجه الترمذی فی کتاب الأضاحی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-١٥١٧)

(٣) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز /باب فی الشهید یغسل (رقم-٣١٣٤) وابن ماجة رقم الحدیث ١٥١٥

تسهیلات: قوله : وَأَنْ يُدْفَنُوا الْجُلُودُ:

د جلود څخه دلته مراد: - دې نه مراد په بدن باندې زیاتي کپړې دي مثلاً کوټ واسکټ یا استر په کوم کښې چه څرمن استعمال شوې وي.

قوله : بِدِمَائِهِمْ:

د شهیدانو په وینو کښې د ښخولو حکمت: - یعنی هغه ته دَغسل ورکولونه بغیر په وینو کښې لړلړ ښخ کړئی دې دَپاره چه الله تعالی ته هم په دغه حالت کښې راشي.

فائده: د امام شافعي رحمه الله په مسلک کښې د شهید د پاره نه غسل شته نه د جنازې مونځ شته خو د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په نزد د شهداء د پاره غسل خو نشته خو د جنازې مونځ شته.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٦٤٤] د حضرت مصعب رضي الله عنه او حضرت امیر حمزه رضي الله عنه کفن

١٦٤٤ — (¹)[١٠] [١] عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِيهِ: [٢] أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ أُتِيَ بِطَعَامٍ وَكَانَ صَائِمًا، [٣] فَقَالَ: قُتِلَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَهُوَ خَيْرٌ مِنِّي، [٤] كُفِّنَ فِي بُرْدَةٍ، إِنْ غُطِّيَ رَأْسُهُ بَدَتْ رِجْلَاهُ، [٥] وَإِنْ غُطِّيَ رِجْلَاهُ بَدَا رَأْسُهُ، [٦] وَأُرَاهُ قَالَ: وَقُتِلَ حَمْزَةُ وَهُوَ خَيْرٌ مِنِّي، [٧] ثُمَّ بُسِطَ لَنَا مِنَ الدُّنْيَا مَا بُسِطَ، [٨] أَوْ قَالَ: أُعْطِينَا مِنَ الدُّنْيَا مَا أُعْطِينَا، [٩] وَلَقَدْ خَشِينَا أَنْ تَكُونَ حَسَنَاتُنَا عُجِّلَتْ لَنَا، [١٠] ثُمَّ جَعَلَ يَبْكِي حَتَّى تَرَكَ الطَّعَامَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] سعد بن ابراهیم دخپل پلار بزرګوار (ابراهیم) څخه نقل کوي [٢] چې حضرت عبدالرحمٰن بن عوف رضي الله عنه ته کله چې د هغه روژه وه (د افطاري د پار) طعام (ډوډئ وغیره) راوړل شو [٣] نو هغه وفرمایل چې حضرت مصعب بن عمیر رضي الله عنه چې شهید شو زما څخه بهتر وو [٤] هغه یواځې په یو څادر کښې کفن شوي وو چې دومره وړوکې وو که سر به یې ورلره پټولی نو پښې به یې ښکاره پاتې شوي [٥] او که پښې به یې ورلره پټولي نو سر به یې ښکاره پاتې شو [آخر د هغه سر په څادر سره پټ کړل شو او په پښو ورلره اذخر (یو قسم وابنه) واچول شو (څرنګه چې د باب جامع المناقب په حدیث کښې د دې تفصیل دي] [٦] ابراهیم (د حدیث راوي) وایي چې زما ګمان دي چې حضرت عبدالرحمٰن بن عوف رضي الله عنه دا هم وفرمایل چې حضرت حمزه رضي الله عنه چې شهید کړل شوي وو زما څخه بهتر وو [او هغه ته هم داسې کفن نصیب شو څرنګه چې مصعب بن عمیر رضي الله عنه ته او هر کله چې د مسلمانانو د تنګدستي او پریشاني دا دور د الله جل جلاله په فضل سره ختم شو] [٧] نو بیا مونږ د پاره دنیا دومره فراخه شوه چې ظاهره ده [٨] یا وي فرمایل چې دنیا مونږ ته دومره راکړې شوه څومره چې راکړې شوي ده [٩] مونږ سره ددې خبرې خوف دي چې چیرته زمونږ د نیکیو بدله مونږ

¹) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب غزوة أحد (رقم-٤٠٤٥)

ته زر (په دنيا كښې) راكړې شوي نه وي ⑩ بيا عبدالرحمن (د دي خوف په وجه) په ژړا شوتر دي چې طعام (روټۍ وغيره) يې پريښودل. (بخاري)

حل اللغات: - ① بُرْدَةٍ: څادر، ② بُسِطَ: أَيْ: وُسِّعَ وَكُثِّرَ: فراخه شوه، (مال دولت زيات شو).

تسهيلات: قوله: وَلَقَدْ خَشِينَا أَنْ تَكُونَ حَسَنَاتُنَا عُجِّلَتْ لَنَا:

عبدالرحمن بن عوف ته د مالدارۍ احساس: - حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه يو ډ شان والا صحابي دي دَعشره مبشره نه دې ټوله ورځ به ئې روژه ساتله دَ روژې ماتي په وخت چه خوراك راغلو هغه خوراك ته اوكتل او دَ دنيا دَ زياتوالي احساس په زړه باندې يوګذار شان اولګيدو او دَ تيرو شوو خپلو فقيرانو ملګرو خيال ورته راغلو نوژړلې او دَ سخت ضرورت نه باوجود ئې خوراك پريخودو چه چرته دَ دنيا دَ خوندورو اومزيدارو خواركونوسره زمونږ دَ آخرت درجاتوته نقصان اونه رسي. هغوی دَ حضرت حمزه رضي الله عنه دَ شهادت او كفن دَ نه ملاويدو ذكر اوفرمائيلو اوحضرت مصعب بن عمير رضي الله عنه دَ تيرشوي نازاو تنعم دَ ژوندون ذكر ئې اوكړو اوبيائې دَ اسلام نه پس دَ فقر اوفاقه نقشه راښكله اوبيائې خوراك پريخودو داد صحابه كرامو رضي الله عنهم شان وو.

[١٦٤٥] دَرسول الله ﷺ دَ رئيس المنافقين سره حسن سلوك

١٦٤٥ - (¹)[١١] ① وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: ② «أَتَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ ③ بَعْدَمَا أُدْخِلَ حُفْرَتَهُ، ④ فَأَمَرَ بِهِ، فَأُخْرِجَ، فَوَضَعَهُ عَلَى رُكْبَتَيْهِ، ⑤ فَنَفَثَ فِيهِ مِنْ رِيقِهِ، ⑥ وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ، ⑦ قَالَ: وَكَانَ كَسَا عَبَّاسًا قَمِيصًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ عبدالله ابن ابي ته هغه وخت تشريف راوړو ③ كله چې هغه په خپل قبر كښې خكته كړل شوی وو ④ حضور ﷺ د هغه د قبر څخه د راوخكلو حكم اوكړو هغه چې راويستل شو نو حضور ﷺ په خپلو ګونډو كينولو ⑤ او د خپلي خُلي مباركي لاړي يي د هغه په خُله كښې واچولي ⑥ او خپل قميص مبارك يي ورواغوستو ⑦ حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې عبدالله ابن أُبي حضرت عباس رضي الله عنه ته د بدر په غزا كې چې قيدي شوی وو خپل قميص ورواغوستي وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① حُفْرَتَهُ: أَيْ: قَبْرَهُ: حفر كندې ته وائي، دلته ترې قبر مراد دې. ② فَنَفَثَ: وائې چولې، ③ رِيقِهِ: لاړې مباركې،

تسهيلات:

قوله: وَكَانَ كَسَا عَبَّاسًا قَمِيصًا:

---

¹) اخرجه البخاری فی كتاب اللباس/باب لبس القميص (رقم-٥٧٩٥) ومسلم فی كتاب صفات المنافقين وأحكامهم (رقم) ٢ - (٢٧٧٣) والنسائی كتاب الجنائز /القميص فی الكفن (رقم-١٩٠١) واحمد فی المسند

٥عبدالله بن ابی بدل خلاصول: عبدالله بن ابی ابن سلول رئیس المنافقین وو حضورپاك هغه سره دَ مرګ نه پس عجیبه دَ حسن سلوك معامله اوکړه هغه ئی دَ قبر نه راویستو او په خپلو مبارکو زنګونونو ئی سملولو اودَ خولې مبارکې لاړې ئی دَ هغه په مخ یا سترګو باندې واچولې اوخپل قمیص ئی هغه ته واچولو اوپه هغه باندې دَ جنازې مونځ اوکړو اودَ هغه دَپاره ئی بنه استغفار اوکړو. دَدې وجه دا وه چه کله په جنګ بدرکښې حضرت عباس رضی الله عنه جنګی قیدی جوړشو نو دَ هغه په بدن باندې قمیص نه وو دَهغوی قد لوئی وو صرف دَ عبدالله بن ابی قمیص په هغوی باندې پوره راغلو نو هغه حضرت عباس رضی الله عنه ته واغوستو. رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتل چه دَ عبدالله بن ابی دَدې احسان بدله ورکړی او دویمه وجه دا وه چه دَ عبدالله بن ابی یو ځوئی وو دَ کوم نوم چه هم عبدالله وو هغه نیك اوډیر مخلص صحابی وو حضورپاك غوښتل چه دَهغه زړه اوساتی. چنانچه دومره لوئی زړه او معافی چه خلقو اولیدله نو نقل دی چه په هغه ورځ ډیرو زیاتو منافقانو اسلام قبول کړو.

[٥]الْمَشْيُ بِالْجَنَازَةِ وَالصَّلَاةُ عَلَيْهَا]

دَ جنازې اوچتولو او اوړلو بیان

خلاصة الباب:-

فيه خمسة و أربعون حديثاً مشتملة على أحد و عشرين مسئلة:

① حكم إسراع الجنازة: ١-
② الفرق بين الجنازة الصالحة وغيرها: ٢-
③ حكم القيام للجنازة : ٣، ٤، ٥، ٣٣، ٣٤، ٣٥، ٣٦، ٣٧، ٣٨، ٣٩، ٤٠-
④ ثواب اتباع الجنازة: ٦-
⑤عدد تكبيرات الجنازة: ٧، ٨-
⑥ الفاتحة فى الجنازة: ٩، ٢٧-
⑦ الدعاء فى صلاة الجنازة والإخلاص فيها- ١٠، ٢٨، ٢٩، ٣٠ ، ٤١، ٤٢، ٤٣-
⑧ حكم الجنازة فى المسجد: ١١-
⑨ مقام القيام على الميت للجنازة: ١٢، ١٣-
⑩ حكم الصلوة على القبر: ١٣، ١٤-
⑪ ثواب عدد معين من المصلين على الجنازة: ١٥، ١٦-
⑫ الإعتبار لشهادة المؤمنين: ١٧، ١٨-
⑬ كيفية دفن الشهيد وتجهيزه: ٢٠-
⑭ الركوب وقت الرجوع عن الجنازة: ١٢-

⑮ حکم الصلوة علی الطفل: ۲۲، ۴۴.
⑯ کیفیة السیر مع الجنازة: ۲۲، ۲۳، ۲۴.
⑰ حکم الرکوب علی الدابة خلف الجنازة: ۲۲، ۲۶.
⑱ کون اتباع الجنازة من حق المسلم وبیان کیفیة حملها: ۲۵.
⑲ کیفیة ذکر الأموات : ۳۱.
⑳ عدد صفوف الجنازة: ۴۰.
㉑ منع قیام الإمام في موضع فوق القوم: ۴۵.

د جنازې د مونځ حکم: -دَ جنازې مونځ فرض کفایه ده کله چه بعضې اوکړو نودَ باقی ذمه خلاصه شوه.

د جنازې شرطونه: -دَجنازې دَپاره یوڅو شرطونه دی ① دَمړی مسلمان کیدل شرط دې.
② دَ طهارت په حالت کښې کیدل شرط دې.
③ دَ جنازې مخې تـه کیخودل شرط دی. لهذا دَ غائب جنازه صحیح نه ده. دې کښې اختلاف راځی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱٦٤٦] د جنازې په تادئی سره د اوړلو حکم

۱٦٤٦ —(١)[١] ① عَنْ أَبِی هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: ② " «أَسْرِعُوا بِالْجَنَازَةِ، ③ فَإِنْ تَكُ صَالِحَةً فَخَیْرٌ تُقَدِّمُونَهَا إِلَیْهِ، ④ وَإِنْ تَكُ سِوَی ذٰلِكَ فَشَرٌّ تَضَعُونَهُ عَنْ رِقَابِكُمْ» " مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ".

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② جنازه آخستو سره زر ځئ ③ که جنازه د نیک سړي وي نو د هغه د پاره په دې کښې خیر دی نو هغه به خیر او نیکي ته زر ورسوئ ④ او که داسې نه وي یعنی بد سړی وي نو هغه زر د خپلو غاړو څخه خکته کولو سره کیږدئ. (بخاري مسلم)

تسهیلات: قوله: أَسْرِعُوا بِالْجَنَازَةِ:

په جنازه د تلوار کولو مطلب: -جنازه په تادئی سره دَ اوړلو مطلب دادې چه کله دَکفن اودفن کار مکمل شی نوبیا مړی په کور کښې مه حصاره وئی بلکه زر ئی قبرستان تـه اوړئی دې

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب السرعة بالجنازة (رقم-۱۳۱۵) ومسلم فی کتاب الجنائز/باب الإسراع بالجنازة (رقم) ۵۰ - (۹٤٤) والترمذی فی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی الإسراع بالجنازة (رقم-۱۰۱۵) وابن ماجة فی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی الإسراع بالجنازة (رقم-۱۰۱۵) واحمد فی المسند ۱٤۰/۲

دَپاره چه زر دفن شی ځکه چه که هغه نیک سړې وی نوهغه دَ جنت دَ نعمتونو نه ولې محروم کړې شی اوکه چرې بد سړې وی نوتاسو دا بوج په خپلو اوږو باندې ولې اخستې ګرځئی. پخپله هم نیک ؤمن سړې مطالبه کوی چه ما زر یوسئی لیکن مونږ نه شو اوریدې اوبدکاره سړې هم شور کوی چه ما چرته اوړئی لکه چه په راتلونکی حدیث کښې ذکر دې.

[١٦٤٧] دَ نیکوکار اوبدکار د جنازې وینا

١٦٤٧ـ(١)[٢] ١ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«إِذَا وُضِعَتِ الْجَنَازَةُ فَاحْتَمَلَهَا الرِّجَالُ عَلَى أَعْنَاقِهِمْ، ٣ فَإِنْ كَانَتْ صَالِحَةً قَالَتْ: قَدِّمُونِي، ٤ وَإِنْ كَانَتْ غَيْرَ صَالِحَةٍ قَالَتْ لِأَهْلِهَا: ٥ يَا وَيْلَهَا أَيْنَ تَذْهَبُونَ بِهَا؟ ٦ يَسْمَعُ صَوْتَهَا كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا الْإِنْسَانَ، ٧ وَلَوْ سَمِعَ الْإِنْسَانُ لَصَعِقَ» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ ابو سعید رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ هر کله چې جنازه تیاره کړل شي او خلق یې په خپلو غاړو اوچتوي ٣ نو که جنازه د نیک بخته سړي وي نو خپلو خلقو ته وایي چې ما خپل منزل ته زر ورسوئ ٤ او د که د بدبخته سړي جنازه وي نو خپلو خلقو ته وایي ٥ هاي افسوس ما چیرته وړئ ٦ د جنازی دغه آواز سوا د انسان څخه هر شی اوری ٧ او که انسان هغه اواز واوري نو بیهوشه کیدو سره به راوغورځیږي یا به مړشي. (بخاري)

حل اللغات:- ① فَاحْتَمَلَهَا: اوچتوی دا جنازه، ② لَصَعِقَ: أَيْ: لَمَاتَ أَوْغُشِيَ عَلَيْهِ: نویا به مړشي یا به بیهوشه کیدو سره راوغورځیږی.

تسهیلات:

قوله: قَالَتْ: قَدِّمُونِي:

د قدمونی په مطلب کښې دوه احتمالات:- ① یعنی ما خپل منزل طرفته زر یوسئ. اوس د مړی دا وینا په حقیقت باندې محمول ده. ځکه چې الله ﷻ په دې خبره باندې قادر دې چې د مړی په خله باندې دا راولی لکه څنګه چې نبی کریم ﷺ د ثابت قدمی دعا اوکړه. داشان ماقبل روایت کښې (إنه یسمع قرع نعالهم أتاه ملکان) والا حدیث نه معلومیږی چې مرده حقیقت کښې آؤری.

② یادمړی وئیل په مجاز باندې محمول دی. او دا د مایؤول الیه په اعتبار سره دی چې فرښتې به دده څخه سوال کوی او مړې به جواب ورکوی ،

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب حمل الرجال الجنازة دون النساء (رقم-١٣١٤) والنسائی کتاب الجنائز/السرعة بالجنازة (رقم-١٩٠٩) واحمد فی المسند ٣/٣

قوله : وَلَوْسَمِعَ الْإِنْسَانُ لَصَعِقَ :

د انسان د مړی آواز لره نه اوریدو دوه وجوهات :- ① که انسان دا آواز واؤری نو هغه به بې هوشه شی . دا په دې خبره باندې دلالت کوی چې انسان کښې د مرده د آواز زغملو طاقت نشته دې.

② په دې باندې به ایمان بالغیب باقی پاتې نشی . لیکن کله کله الله ﷻ دخپل عذاب څه نښې خلقو ته ښائی . کوم چې عقل مند وی هغه پوهه شی او کوم چې بې وقوفه وی هغه پوهه نشی .

[١٦٤٨] د جنازې په لیدو اودریدل

١٦٤٨-()[٣] ١ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ " «إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا، ٣ فَمَنْ تَبِعَهَا فَلَا يَقْعُدْ حَتَّى تُوضَعَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ١ ابو سعید رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ هر کله چې تاسو جنازه ووینئ نو اودریږئ ٣ او کوم سړي چې د جنازی سره وي نو هغه دي تر هغه وخته پورې نه کیني تر څو پورې چې جنازه (د خلقو د اوږو څخه په زمکه یا په قبر کښې) کیښنودل شوی نه وي. (بخاري مسلم)

تسهیلات: قوله : إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا:

د مړی د جنازې دپاره اودریدو کښې توجیهات :- ① دَمړی دَ جنازې دَپاره اودریدل دَ اسلام په شروع کښې وو بیا منسوخ شو. وړاندې دَحضرت علی رضی الله عنه په روایت نمبر ٣٥ کښې چه دا کوم راغی دجمهورعلماؤ په نیز هغه دَدې حدیث دَپاره ناسخ دې.

② بعضې علماء احناف فرمائی که چرې سړې جنازې سره تلل غواړی یا اوږه ورکوی نو هغه دې اودریږی ګنی نه دې اودریږی. که چرې دا مقصد ئی نه وی نوهسې دَ جنازې دَپاره اودریدل مکروه دی.

③ بعضې علماؤ فرمائیلی دی چه سړی ته دَ اودریدو او نه اودریدو دواړو اختیاردې.
بهرحال په دې باره کښې مختلف روایتونه راغلی دی بعضې کښې دَ اودریدو ذکر دې او بعضې کښې نه دې. بعضې کښې دَ قیام یوه وجه بیان کړې شوې ده بعضې کښې بله وجه بیا کړې شوې ده.

دبحث خلاصه :- اوس خلاصه دا شوه که یوسړې دَ مرګ دَ حادثه یا ویرې او سختې فزع دَ

١) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز /باب: من تبع جنازةً، فلا یقعد حتی توضع عن مناکب الرجال، فإن قعد أمر بالقیام رقم-١٣١٠) ومسلم فی کتاب الجنائز /باب القیام للجنازة (رقم) ٧٣ - (٩٥٨) کتاب الجنائز، باب القیام للجنازة (رقم-٣١٧٣) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی القیام للجنازة (رقم-١٠٤٣) وابن ماجة

وجې نه اودريږي يا د فرښتو د احترام د وجې نه اودريږي يا د اوږې وركولو په غرض سره اودريږي نو مضائقه نشته دې. بغير د څه مقصد نه اودريدو كښې څه فائده نشته دې. په زيربحث حديث كښې دا آدب هم بيان كړې شوې دې كه يو سړې جنازې سره تلل غواړي نو تركومې چه جنازه په زمكه نه ده كيخودې شوې دا سړې دې د هغې نه مخكښې نه كينې ممكن دى چه د جنازې په كوزولو او كيخودلو كښې د امداد ضرورت پيښ شي.

[١٦٤٩] د نبى عليه السلام د جنازې د پاره اودريدل

١٦٤٩ – (١)[٤] [١] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [٢] «مَرَّتْ جَنَازَةٌ، فَقَامَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقُمْنَا مَعَهُ، [٣] فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهَا يَهُودِيَّةٌ. [٤] فَقَالَ: "إِنَّ الْمَوْتَ فَزَعٌ، فَإِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي [٢] چې يوه جنازه تيره شوه نو رسول الله ﷺ د هغې په ليدو سره ودريدلو مونږ هم د حضور ﷺ سره ودريدلو [٣] بيا مونږ عرض اوكړو چې يا رسول الله ﷺ دا خو د يوې يهودي ښځې جنازه وه (د يو مسلمان جنازه خو نه وه چې ته د هغې د تعظيم او تكريم د پاره پاڅيدلو) [٤] حضور ﷺ وفرمايل چې مرګ د ويرې شې دې هر كله چې تاسو يوه جنازه ووينئ (اګر كه هغه د يو كافر وي) نو اودريږئ. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① فَزَعٌ: اى ذُوفَزَعٍ: د ويرې څيز.

تسهيلات: قوله: فَإِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا:

د نبى عليه السلام د اودريدو دوه وجوهات:-

① امام ابن الملك رحمه الله فرمائى چې جنازې ليدلو سره اودريدل د ويرې اظهار دې او زړه كښې د ويرې سبب دې. او چې د چا په زړه كښې ويره نه راځى نو دا ددې علامت دې چې د هغه زړه سخت دې. قيام نه مراد دخپل زړه حالت بدلول دى.

② د نبى كريم ﷺ اودريدل د تعظيم په طور نه وو بلكه حضرت نبى كريم ﷺ په دې وجه اودريدلو چې د يهودى ښځې جنازه د حضرت نبى كريم ﷺ په سر باندې تيره نشى.

[١٦٥٠] د نبى عليه السلام د جنازې سره اودريدل

١٦٥٠ – (٢)[٥] [١] وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: [٢] «رَأَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ فَقُمْنَا، [٣] وَقَعَدَ فَقَعَدْنَا، يَعْنِي

[١] اخرجه البخارى فى كتاب الجنائز/باب من قام لجنازة يهودى (رقم) ١٣١١. وابوداود فى السنن كتاب الجنائز، باب القيام للجنازة (رقم-٣١٧٤) . والنسائى كتاب الجنائز/باب القيام لجنازة أهل الشرك (رقم-١٩٢٢) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فى القيام للجنازة (رقم-١٥٤٣) واحمد فى المسند ٣١٩/٣

[٢] اخرجه مسلم فى كتاب الجنائز/باب نسخ القيام للجنازة (رقم) ٨٤ - (٩٦٢) كتاب الجنائز، باب القيام للجنازة (رقم-٣١٧٥) والترمذى فى كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ الرخصة فى ترك القيام لها (رقم-١٠٤٤) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فى القيام للجنازة (رقم-١٥٤٤) ومالك فى الموطا كتاب الجنائز/باب الوقوف للجنائز، والجلوس على المقابر (رقم-٣٣)

فِي الْجَنَازَةِ». [۴] رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَفِي رِوَايَةِ مَالِكٍ، وَأَبِي دَاوُدَ: قَامَ فِي الْجَنَازَةِ ثُمَّ قَعَدَ بَعْدُ.

ترجمه: [۱] حضرت علي رضي الله عنه فرمايي [۲] چې مونږ رسول الله ﷺ د يوې جنازې سره ولاړ وليدلو نو مونږ هم د حضور ﷺ سره ودريدلو [۳] کوم وخت چې حضور ﷺ کينا ستو نو مونږ هم کينا ستلو يعنی په يوه جنازه کښې، [۴] مسلم، او د امام مالک رحمه الله او د ابوداؤد رحمه الله د روايت الفاظ دا دي چې حضور ﷺ جنازه ليدلو سره ودريدلو او د هغې څخه روسته کيناستلو.

تسهيلات: قوله: قَامَ فَقُمْنَا وَقَعَدَ فَقَعَدْنَا:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: - دَدې جملې دوه معانی دی ① ړومبې معنی داده چه دَ جنازې په راتلوسره به حضورپاك اودريدو نومونږ به هم اودريدو. اوچه کله به جنازه لاړه اوغائب به شوه نوحضورپاك به کيناستو نومونږ به هم کيناستو

② دويمه معنی داده چه حضورپاك خوبه دَ جنازې دَ وجې نه څه ساعت اودريدو نومونږ به هم پاسيدو بيا هغوی پاسيدل پريخودل حضورپاك به دَ جنازې دَپاره نه اودريدو بلکه ناست به وو نو مونږ به هم ناست وو. دادويمه معنی زياته واضح ده او په دې کښې دَ جنازې دَپاره دَ پاسيدلو دَحکم منسوخ کيدوطرف ته اشاره ده.

[١٦٥١] د تدفين پورې مړی سره ايسارېدو باندې د دوچنده ثواب ملاويدل

١٦٥١- ()[٦] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنِ اتَّبَعَ جَنَازَةَ مُسْلِمٍ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، [۳] وَكَانَ مَعَهُ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهَا، وَيُفْرَغَ مِنْ دَفْنِهَا، [۴] فَإِنَّهُ يَرْجِعُ مِنَ الْأَجْرِ بِقِيرَاطَيْنِ، [۵] كُلُّ قِيرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ، [۶] وَمَنْ صَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ رَجَعَ قَبْلَ أَنْ تُدْفَنَ [۷] فَإِنَّهُ يَرْجِعُ بِقِيرَاطٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې د يو مسلمان د جنازې سره د مومن کيدو په حيثيت سره (يعني د شريعت په فرمان باندې د عمل کولو په غرض سره) او د طلبِ ثواب له خاطره لاړ شي [۳] او د جنازې سره وي تر دې چې د هغه د جنازې مونځ وکړي او د هغه د تدفين څخه فارغه شي [۴] نو هغه سړی دوه قيراطه ثواب سره واپس کيږی [۵] چې په هغې کښې هر قيراط د اُحد د غره برابر دي [٦] او کوم سړي چې يواځې د جنازې مونځ کولو سره راشي او په تدفين کښې شريک نشي [۷] نو هغه د يو قيراط ثواب سره واپس کيږی. (بخاری مسلم)

حل اللغات: - ① اِحْتِسَابًا: أَيْ: طَلَبًا لِلثَّوَابِ: دثواب دپاره. ② قِيرَاطٍ: اَلْقِيرَاطُ جُزْءٌ مِنْ أَجْزَاءِ الدِّينَارِ: اصل کښې قيراط د دينار څه حصه ده، خو دلته ترې مراد د اُحد دغر هومره ثواب دي لکه چه فرمائي: أَيْ: وَلَوْ

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز /باب من انتظر حتی تدفن (رقم-١٣٢٥) ومسلم فی کتاب الجنائز /باب فضل الصلاة علی الجنازة واتباعها (رقم) ٥٢ - (٩٤٥) ابوداود کتاب الجنائز، باب فضل الصلاة علی الجنائز وتشييعها(رقم-٣١٦٨)، والنسائی کتاب الجنائز /باب فضل من يتبع جنازة (رقم-١٩٤٠) واحمد فی المسند: ٢/٢

صُوَرِ جِئْتُمَا يَكُونُ مِثْلَ جَبَلِ أُحُدٍ اهـ.

تسهیلات: قوله : فَإِنَّهُ يَرْجِعُ بِقِيرَاطٍ:

د قیراط د لفظ تحقیق :- دَ معمولي مقدار سکې نوم دې چه دَ اوربشو دَ پنځو دانو برابر وی دَ قیراط ذکر کله دَ تحقیر او تقلیل دَپاره کیږی او کله دَ تکثیر دَپاره کیږی کله چه دَتکثیر دَپاره کیږی نو یو قیراط دَ احد دَ غر برابر وی لکه چه دلته دې. او چه کله دَتقلیل دَپاره کیږی نو دَ څلورانیز یا اتانیز په معنی کښې وی لکه چه حضورپاک دَ قریشو چیلئی څرولو دَ کمې معاوضې طرف ته دا شان اشاره فرمائیلې ده "کنت ارعی غنما لقریش علی قراریط" ما به دَ قریشو چیلئی په څلورانیز اتانیز څرولې.

[١٦٥٢] د نجاشي باچا د جنازي غائبانه مونځ

١٦٥٢-(١)[٤٧] ١ وَعَنْهُ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَى لِلنَّاسِ النَّجَاشِيَّ ٢ الْيَوْمَ الَّذِي مَاتَ فِيهِ، ٣ وَخَرَجَ بِهِمْ إِلَى الْمُصَلَّى ٤ فَصَفَّ بِهِمْ وَكَبَّرَ أَرْبَعَ تَكْبِيرَاتٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ ابوهریره رضی الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ د نجاشي د وفات خبر خلقو ته په هغه ورځ ورسولو ٢ په کومه ورځ چې هغه وفات شوي وو ٣ بيا د صحابه ؤ سره عيدګا ته يي تشريف يوړلو ٤ هلته يي د ټولو سره [د جنازي مونځ کولو د پاره] صف بندي وکړه او څلور تکبيرونه يي وکړل. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① نَعَى: أَيْ: أَخْبَرَهُمْ بِمَوْتِهِ: حضورپاک دَ نجاشی دَ مرګ خبر صحابه کرامو رضی الله عنهم ته ورکړې وو. (دَ چاد مرګ خبرته نعی وائی). ② النَّجَاشِيَّ: دَ حبشې دَ بادشاه لقب وو، دده خپل نوم "اصحمه" وو، ده نبی علیه السلام لیدلې نه وو او مسلمان شوې وو. ③ الْمُصَلَّى: جنازګاه.

تسهیلات: قوله : خَرَجَ بِهِمْ إِلَى الْمُصَلَّى:

د نجاشی تعارف :- نجاشی به دَ حبشې دَ بادشاه لقب وو لکه قیصر دَ روم بادشاه او کسری دَ فارس بادشاه او فرعون دَمصر بادشاه او تبع دَ یمن بادشاه او خاقان دَترکو بادشاه او راجه دَ هندوستان بادشاه لقب وو. دَ نجاشی نوم "اصحمه" وو او ودې مسلمان شوې وو

په غائبانه جناره کښې مذاهب:-

دَهغه په مرګ باندې حضورپاک دَ مدينې منورې په عيدګاه کښې غائبانه جنازه ورکړې وه. اوس دَ غائبانه جنازې دَ مونځ په جواز او عدم جواز کښې دَ فقهاؤ اختلاف پيدا شوې دې.

---

(١) اخرجه البخاري فی کتاب المناقب/باب موت النجاشی (رقم-٣٨٨٧) ومسلم فی کتاب الجنائز/باب فی التکبیر علی الجنازة (رقم) ٦٢ - (٩٥١) وابوداود کتاب الجنائز/باب فی الصلاة علی المسلم یموت فی بلاد الشرک(رقم-٣٢٠٤) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی التکبیر علی الجنازة(رقم-١٠٢٢) والنسائی کتاب الجنائز/باب عدد التکبیر علی الجنازة (رقم-١٩٨٠) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی الصلاة علی النجاشی (رقم-١٥٣٤) ومالک فی الموطا کتاب الجنائز/باب التکبیر علی الجنائز(رقم-١٤) واحمد فی المسند ٢٨١/٢

① دَ شوافع اوغیر مقلدینو حضراتو په نیز غائبانه دَ جنازې مونځ کول جائز دی.
② جمهور علماء فرمائی چه غائبانه نماز جنازه جائز نه ده.

داول فريق دليل: -زير بحث حديث د دوی مستدل دې.

د دويم فريق دلائل: -دَ صحابه کرامو اودَ امت تعامل د دوی مستدل دې. چه خلفاء راشدين کله دَ چاغائب جنازه نه ده کړې اونه په مشرق اومغرب کښې یومسلمان دَ خلفاء راشدين غائبانه جنازه کړې ده.

② حضورپاك په ټول ژوند کښې دَ نجاشی اومعاويه منی نه علاوه دَ یوصحابی غائبانه جنازه نه ده کړې. معلومه شوه چه جائز نه ده.

داول فريق د دليل جواب: -دَ نجاشی دَ جنازې کولودَپاره په حبشه کښې څوك موجود نه وو. بل په نجاشی او معاويه مزنی باندې دَ جنازې مونځ دَ حضوراکرم ﷺ خصوصيت وو دَعام امت دَپاره جائز نه ده. خصوصيت داسې اوشو چه نجاشی او معاويه مزنی دواړو جنازې دَ حضورپاك مخې ته راوړلې شوې وې نودَ حضورپاك دَپاره دا جنازه غائبانه نه وه کومه چه ئی کړې وه هغه دَ حاضر جنازه وه لکه چه رسول الله ﷺ کله هم غائبانه جنازه نه ده کړې اوکومه چه کړې هغه غائبانه نه وه بلکه حاضرانه وه. په دې باندې دليل هم اوګورئی.

دخصوصيت دليل: -ابن عبدالبر رحمه الله دَ عمران بن حصين رضی الله عنه یوروايت نقل کړې دې دکوم الفاظ چه دادی: ((عن عمران حصين إن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال ان اخاكم النجاشی قدمات فصلواعليه فقام فصففنا خلفه فكبر اربعا ومانحسب الجنازة الابين يديه)) (التعليق الصبيح) بعضې علماؤ ليکلی دی چه الله تعالى دَ حضورپاك په مخکښې ټول حجابات اخوا کړل نو حضورپاك دَ نجاشی جنازې مشاهده کوله او ادا کوله ئی لکه چه بيت المقدس دَ حضورپاك په مخکښې منکشف شو اوحضورپاك دکافرانودَ سوالاتو جواب ورکولو. بهرحال دَ نجاشی جنازې ته غائبانه جنازه وئيل صحيح نه دی. اوچه کله دا پيغمبری خصوصيت وو نو په دې باندې بل څوك قياس کول جائزنه دی. لهذا غائبانه جنازه جائز نه ده اوکوم خلق چه دَ سياسی مقاصدودَپاره غائبانه جنازې کوی نوهغه سياست دې شريعت نه دې. دغه شان دَ احنافو په نيزډير ځل جنازه کول هم جائز نه دی. فقهاؤ ليکلی دی که دَ ولی دَ اجازت نه بغير جنازه اوکړې شوه نوهغه دا جنازه واپس راګرځولې شی. دَدې مطلب دادې چه اول جنازه صحيح نه وه لهذا چه څوك دويمه يا دريمه جنازه وائی دَ دې مطلب به داشی چه اولنې جنازه صحيح نه وه په دې وجه جنازه واپس راګرځولې شی. او که دَ حضرت حمزه رضی الله عنه جنازه بار بار کړې شوې وه نو هغه پيغمبری خصوصيت وو.

فائده: -دَ زير بحث حديث نه داخبره هم ثابته شوه چه جنازه دَ جمات په ځائی عيدګاه کښې کول پکاردی. دې نه وړاندې راغی. دې حديث نه دا خبره هم واضحه شوه چه دَ

جنازې تکبیرات څلور دی.

[١٦٥٣] دَ جنازې دَمونځ تکبیرات

١٦٥٣-()[٨] [١] وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ: [٢] «كَانَ زَيْدُ بْنُ أَرْقَمَ يُكَبِّرُ عَلَى جَنَائِزِنَا أَرْبَعًا، [٣] وَأَنَّهُ كَبَّرَ عَلَى جَنَازَةٍ خَمْسًا فَسَأَلْنَاهُ [٤] فَقَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] عبدالرحمن بن ابي ليلي وايي [٢] چې حضرت زيد بن ارقم ﷺ (صحابي) به زمونږ د جنازو په مانځه کښې څلور تکبیرونه کول [٣] په يوي جنازي باندې هغه پينځه تکبيرونه وکړل نو مونږ د هغه څخه پوښتنه وکړه [چې ته خو همیشه څلور څلور تکبیرونه کوي نن دی پينځه تکبيرونه څرنګه وکړل؟] [٤] وي فرمايل چې رسول الله ﷺ به پنځه تکبیرونه کول. (مسلم)

تسهیلات:

قوله: أَرْبَعًا:

د جنازې په مونځ کښې د څلورو تکبیرونو حکم: - ائمه اربعه دَ جنازې په څلورو تکبیراتو باندې متفق دی. دَ څلورونه زيات تکبیرات متروك شوي دی ځکه چه دَ نبی کریم ﷺ آخری عمل په څلورو تکبيراتو باندې دې اوټول روایتونه هم په دې باندې دی. البته په بعضې روایاتو کښې پنځه یا دَدې نه زیات تکبیراتوذکر دې نوعمل په څلورو تکبيراتو باندې دی. اودې نه زياتي چه چا لوستلی دی نوکیدې شی چه دَ شهداء دَ تکریم دَپاره داسې کړې شوي وی.

د زيربحث حديث په مطلب کښې دوه اقوال: - ① دَ حضرت زيدبن ارقم ﷺ دَ زيربحث حديث مطلب هم دغه دې چه حضورپاك کله کله پنځه تکبیرونه کړی دی

② یادامطلب ئی دې حضورپاك به اول پنځه کول روستوئی پريخودل. دَ صحابه کرامو ﷺ یا عوامو دَحضرت زيد بن ارقم ﷺ نه دَ زياتي تکبیرونوپه وَئيلو سوال کول پخپله دَدې خبرې دليل دې چه دَڅلورو تکبیرونونه زیاتي عمل امرنه وو. حضرت عمر ﷺ په څلورو تکبیرونو باندې امت راجمع کړې وو. تعلیق الصبیح کښې تفصيل موجوددې.

....

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الجنائز/باب الصلاة علی القبر (رقم) ٧٢ - (٩٥٧) وابوداود کتاب الجنائز، باب التكبير على الجنازة (رقم-٣١٩٧) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی التکبیر علی الجنازة(رقم-١٠٢٣) والنسائی کتاب الجنائز/باب عدد التکبیر علی الجنازة (رقم-١٩٨٢) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فیمن کبر خمسًا (رقم-١٥٠٥) واحمد فی المسند: ٤/٣٦٧

[١٦٥٤] دَ جنازې مونځ کښې دَ سورت فاتحه لوستل

١٦٥٣—([1]) [٩] ١ «وَعَنْ طَلْحَةَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ: ٢ صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عَبَّاسٍ عَلَى جَنَازَةٍ ٣ فَقَرَأَ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ. ٤ فَقَالَ: لِتَعْلَمُوا أَنَّهَا سُنَّةٌ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ طلحه بن عبدالله بن عوف رحمه الله (تابعي) وايي ٢ چې ما په ابن عباس رضي الله عنهما پسې د جنازې مونځ اوکړو ٣ هغه (د تکبير اولى څخه پس) سورة فاتحه وويله ٤ او وى فرمايل چې ما سورة فاتحه ځکه ويلي ده چې تاسو خلقو ته معلومه شي چې دا سنت ده. (بخاري)

حل اللغات: - ① سُنَّةٌ: أَيْ: لَيْسَ بِدْعَةً: يعنى فاتحه وئيل سنت دى بدعت نه دى.

تسهيلات: **قوله:** فَقَرَأَ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ:

په جنازه کښې د سورة فاتحې په لوستلو کښې مذاهب:-

دَ جنازې په مونځ کښې فاتحه وئيل پکاردى که نه؟ دې کښې دَعلماؤ اختلاف دې.

① امام شافعى رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز دَ اول تکبير نه پس فاتحه وئيل واجب دى او په مزه وئيل افضل دى. نن صبا حرمينو شريفينو ائمه کله فاتحه وائى مګر دَ ډيرې ګنړې په وخت نه وائى.

② امام مالك رحمه الله او امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز جنازه کښې فاتحه په دې وجه چه دَ قرأت قرآن وئيل جائز نه دى او په توګه دَ حمد اوثنا که چرې څوك وئيل غواړى نو هغه جدا خبره ده.

داول فريق دلائل:

① زيربحث دَحضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَ دوى مستدل دې. اودَ سنت الفاظ دَ واجب په معنى باندې اخلى. مطلب دا چه فاتحه وئيل واجب دى مګر مسنون طريقه سره ثابت دى.

داول فريق د دليل حواب: - دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په دې روايت کښې هغوى فاتحه سنت ګرځولې ده ليکن علماء ليکى چه دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په عام توګه په خپل اجتهادى فعل اوعمل باندې دَ سنت اطلاق کوى. دلته هم هغوى خپل اجتهاد ته سنت وئيلى دى. هم دغه وجه ده تاسو فاتحه فى صلوة الجنازة معامله کښې منفرد ئى هيچا دَ هغوى ملګرتيا نه ده کړې بلکه اولتيه په هغوى دَ سوالونو باران کړې دې.

داول فريق دويم دليل: - ② جنازې ته صلوة وائى اوکوم څيزچه هم صلاة وى دَهغې دَ پاره "لاصلوة الابفاتحة الكتاب" حکم دې.

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب الجنائز /باب قراءة فاتحة الكتاب على الجنازة (رقم) ١٣٣٥، وابوداود كتاب الجنائز، باب ما يقرأ على الجنازة (رقم-٣١٩٨) والترمذى كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى القراءة على الجنازة بفاتحة الكتاب (رقم-١٠٢٦) والنسائى كتاب الجنائز /باب الدعاء (رقم-١٩٨٨) وابن ما جة كتاب الجنائز /باب ما جاء فى القراءة على الجنازة (رقم-١٤٩٥)

د اول فريق د دويم دليل جواب: - ((لاصلاة الابفاتحة الكتاب)) د كامل مونځ په باره كښې وراد شوې دې اوجنزه كامل مونځ نه دې هم دا وجه ده چې ركوع او سجده په كښې نشته.

د دويم فريق دلائل: - ① دَ رسول الله ﷺ نه پخپله په جنازه كښې فاتحه وئيل ثابت نه دی.

② موطاامام مالك كښې روايت دې چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په نماز جنازه كښې فاتحه نه وئيله.

③ جنازه خود عاء ده اودَ دعادَ آداب نه دی چه اول دې حمدباری تعالی وی بيا نبی پاك ﷺ باندې درود وی اوبيا دَ مړی وغيره دَ پاره دعا اوكړی نو په دې دعاكښې دَ فاتحه دَ وئيلو څه مطلب؟ او په توګه دَ حمداو ثناء كه څوك فاتحه اووائی نوهغه جدا خبره ده. (كذا قال ابن همام)

[١٦٥٥] دَمړی دَپاره دَ جنازې مونځ كښې دَ نبی عليه السلام دعا

١٦٥٥—()[١٠] ١ وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: ٢ «صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جَنَازَةٍ، ٣ فَحَفِظْتُ مِنْ دُعَائِهِ وَهُوَ يَقُولُ: ٣ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، وَارْحَمْهُ، ٤ وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ، ٥ وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ، وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ، ٦ وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، ٧ وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، ٨ وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ ٩ وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ ١٠ وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ أَوْ مِنْ عَذَابِ النَّارِ، ١١ وَفِي رِوَايَةٍ: «وَقِهِ فِتْنَةَ الْقَبْرِ وَعَذَابَ النَّارِ. ١٢ قَالَ: حَتَّى تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ أَنَا ذٰلِكَ الْمَيِّتَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ عوف رضي الله عنه بن مالک فرمايي ٢ چې [يو ځل] رسول الله ﷺ د جنازې مونځ وكړو ٣ ما د حضور ﷺ هغه دُعا ياده كړله چې حضور ﷺ به [د دريم تكبير څخه روسته] فرمايله (او هغه داده) ٣ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ أَوْ مِنْ عَذَابِ النَّارِ اي الله د ده ګناه وبخښې، په ده رحم وكړي (يعني د ده عبادات او طاعات قبول كړي) ٤ دي په عافيت كښې ولري، د ده لغزشونه معاف كړي ٥ (په جنت كښې) د ده ښه ميلمستيا وكړي، د ده قبر فراخه كړي ٦ او دی په اوبو سره او په واورې سره او په ږلي سره پاک كړي ٧ (يعني په قسم قسم مغفرت سره د ده ګناه صفا كړې) او د ګناهو څخه پي داسې پاكيزه كړي څرنګه چې سپينه كپړه د خيرې څخه پاكول كيږی ٨ ده ته د دنيا د دې كور څخه د آخرت بهتر كور وركړي ٩ د ده د خادمانو څخه بهتر خادمان ورته وركړي او د ده د ښځي څخه بهتره ښځه ورته وركړي ١٠ دي بغير د عذاب څخه په جنت كښې داخل كړي او ده ته د قبر د

---

[1]) اخرجه مسلم فی كتاب الجنائز /باب الدعاء للميت فی الصلاة (رقم) ٨٥ - (٩٦٣). والنسائی كتاب الجنائز /باب الدعاء (رقم-١٩٨٣) ابن ماجة كتاب الجنائز /باب ما جاء فی الدعاء فی الصلاة علی الجنازة (رقم--١٥٠٠)

عذاب څخه يا وي فرمايل چې د دوزخ د عذاب څخه پناه ورکړي،⑪ او د يو روايت دا الفاظ دي چې د قبر د فتني څخه [يعنى د فرشتو په جواب کښې د حيرانيدو څخه] او د اُور د عذاب څخه يي بچ کړي ⑫ حضرت عوف رضي الله عنه فرمايي چې هر کله ما د حضور ﷺ د ژبي مبارکي څخه دهغه مړي د پاره دا دعا واوريده نو ماته ډيره رشک راغي اوپسخيدم او بي اختياره زما په زړه کښې دا آرزو پيدا شوه چې کاش دا مړي زه وي او حضور ﷺ زما د پاره دا دعا کړي وی. (مسلم)

حل اللغات:- ① عَافِهِ: أَيْ: سَلِّمْهُ مِنَ الْعَذَابِ وَالْبَلَايَا: يعنی دعذابونو او مصيبتونو نه ئي خلاص کړې. ② وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ: يعنی دده ښه ميلمستيا اوکړې، ③ مُدْخَلَهُ: أَيْ: قَبْرَهُ: يعنی قبر. ④ الثَّلْجِ: واؤره، ⑤ الْبَرَدِ: يخ يعنی ږلئ، ⑥ نَقِّهِ: پاک صفا ئي کړې، ⑦ الدَّنَسِ: أَيْ: الْوَسَخِ: خيرې،

تسهيلات: قوله : وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ:

د زوجا څخه مراد:- يعنی په جنت کښې ده ته دَده دَ ښځې نه بهترښځه ورکړې دې نه مرادَ جنت حورى دى. علماؤ ليکلى دى چه نيکه اومؤمنه ښځه به په جنت کښې داسې حوره جوړه شى چه دَجنت دَحورونه به غوره وی.

په جنازه کښې د مړی دپاره بهترينه دعا:- دَ يوخيزدَ صفائى اوپاکوالى دَپاره چه کومې اوبه استعماليږى هغه يا دَ واؤرې وی يا دَ ږلې وی يادَ چينوعام اوبه وی په دې حديث کښې دَ دغې دَټولو قسمونوذکرکړې شوې دې.

دا يوه عجيبه دعاده دَاحنافو علماؤ له پکاردی چه داپه جنازوکښې عام کړی. دَخپلې جامع مانع جنازې دعا هم اولوئى مګرچه دادعاهم ورسره وی. دَعربوعلماؤ دا لولى. زمونږ دَ جنازې دعاډيره مختصر ده. اوس اوس مسجد نبوی کښې دَ ماسپښين مونځ نه پس دَ جنازې مونځ اوشو په اعلان کښې اوخودلې شوچه دَډيرو مړو جنازه ده. کله اعلان کيږی چه ښځه ده اوکله دَ ماشوم اعلان کيږی. دَدې تصريح اوتعيين ضرورت ځکه پيښيږی چه داخلق مړی ته دعاکښې ضمير راګرځوی. که چرې يووی نودَمفردضميروی اوښځه وی نودَ مؤنث ضمير راګرځولې شی.

د عوف بن مالک تمنا کول:- عوف بن مالک رضي الله عنه فرمائی چه کله داعجيبه دعامادَ مړی دَپاره دَحضورپاک نه واؤريده نوماوئيل چه افسوس دا مړې خوزه وې نودادعابه ماته حاصله شوې وه. يادلرئى چه نبى کريم ﷺ به کله کله دَ امت دَتعليم دَپاره په زوره هم دَ جنازې دعا لوستله. امام بخارى رحمه الله فرمائى چه دَجنازې څومره دعاګانې هم دى په هغې کښې دامذکوره دعادَ ټولو نه زيات صحيح اومستند ده.

[١٦٥٦] په جمات کښې د ننه دَ جنازې مونځ کول

١٦٥٦-(١)[١١] ١ وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ: ٢ «أَنَّ عَائِشَةَ لَمَّا تُوُفِّيَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَتْ: ٣ ادْخُلُوا بِهِ الْمَسْجِدَ حَتَّى أُصَلِّيَ عَلَيْهِ، ٤ فَأُنْكِرَ ذٰلِكَ عَلَيْهَا فَقَالَتْ: ٥ وَاللهِ، لَقَدْ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ابْنَيْ بَيْضَاءَ فِي الْمَسْجِدِ سُهَيْلٍ وَأَخِيهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ ابي سلمه بن عبدالرحمٰن وايي ٢ چې کوم وخت حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ وفات شو [او د هغه جنازه د هغه د مکان څخه بقيع (مقبرې) ته د دفن کولو د پاره راوړل شوه] نو بي بي عايشي ﷺ وفرمايل ٣ چې هغه مسجد ته راوړئ چې زه هم مونځ وکړم ٤ خلقو د دې دا کار بي ډوله وګڼلو او انکار يي پرې اوکړو [چې په مسجدکي د جنازي مونځ څرنګه کيدي شي] بي بي عايشي ﷺ وفرمايل ٥ چې قسم په خداي حضور ﷺ د بيضا د دواړو زامنو سهيل او د هغه د ورور د جنازي مونځ په مسجد کښې کړي دي. (مسلم)

تسهيلات: قوله: قَالَتْ: ادْخُلُوا بِهِ الْمَسْجِدَ:

دحديث شان ورود: - حضرت سعيدبن ابی وقاص ﷺ فاتح عراق دَحضورپاک ماما دې. حضرت عائشې ﷺ دَهغوی جنازه جمات ته دَ راوړلودپاره اوفرمائيل، دې دَپاره چه پخپله په جنازه کښې شريکه شی. صحابه کرامو دا خوښ نه کړل نوهغې دَ دليل په توګه دَ بيضاء دَدوو ځامنوجنازه پيش کړه چه دَدواړو جنازه په مسجدنبوی کښې حضورپاک اداکړې دی. بيضاء دَ دغه دواړو دَمورنوم دې. دَ يورور نوم سهيل ﷺ دې اودَ بل نوم دلته ذکرنه دې ليکن دَهغه نوم سهل ﷺ دې.

دسعد بن ابی وقاص مدفن: - دَحضرت سعدبن ابی وقاص ﷺ وفات په وادی عقيق کښې دَهغه په کورکښې شوې وو. دَهغه ځائی نه جنت البقيع ته راوړلې شو دفن کړې شو. په مدينه باندې دَ مروان حکومت وو اوعام خلافت دَ حضرت معاويه ﷺ وو. اوس په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې چه دَ جنازې مونځ په جمات کښې جائزدې که نه؟

په جمات کښې د جنازې مونځ ادا کولو کښې مذاهب: -

① دامام شافعی ﷺ په نيزپه جمات کښې دَ جنازې مونځ کول جائزدې.

② دَ احنافو په نيزپه جمات کښې جنازه کول مکروه دی. بيادَ احنافو په نيز يوقول دَمکروه تحريمی دې ليکن ابن همام ﷺ کراهت تنزيهی ته ترجيح ورکړې ده.

داول فريق اول دليل: - زيربحث حديث د دوی مستدل دې. چه حضرت عائشه ﷺ فرمائی

---

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الجنائز /باب الصلاة علی الجنازة فی المسجد (رقم) ١٠١ - (٩٧٣) وابوداود کتاب الجنائز. باب الصلاة علی الجنازة فی المسجد (رقم-٣١٩٠)

ادخلوه چه دا دننه راوړئی دي دپاره چه زه هم په جنازه کښې شريکه شم.
د اول فريق د اول دليل جواب: - دَحضرت عائشې رضي الله عنها دا فرمان عام صحابه کرامو خوښ نه کړو بلکه دَدې نه ئې انکاراوکړو. بيا حضرت عائشه رضي الله عنها قسم اوخوړلو دَ دليل په توګه ئې دَحضرت سهيل اوحضرت سهل رضي الله عنهما دَ جنازې حواله ورکړه. دَحضرت سعد رضي الله عنه دَجنازې نه دَ صحابه کرامو رضي الله عنهم انکار دَدې حديث نه دَ جواب دَپاره کافي دې.
داول فريق دويم دليل: - دغه شان دَ بيضاء دَدوو ځامنوجنازې په جمات کښې شوی وې دا هم د دوی مستدل دې.
د اول فريق د دويم دليل جواب: - رسول الله ﷺ دَ بيضاء دَ دوو ځامنوجنازه دَ کومې مجبورئی لاندې کړې وه؟ نوعلماء ليکی چه حضورپاك خويا په اعتکاف کښې وويا دَ سخت باران دَ وجې نه داسې شوی دی. نودادَعذر صورت وو اودَ عذر په صورت دَ عام حالاتو قياس کول صحيح نه دی. په يوروايت کښې تصريح موجودده چه حضورپاك په اعتکاف کښې وو په دې وجه جنازه دننه اوکړې شوه.
د دويم فريق دلائل: - ① دَحضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث د دوی مستدل دې (عن أبي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من صلى على جنازة في المسجد فلا شئ له اوفلا اجرله) (سنن ابوداؤد ج٢ص٩٨)
② دَ صحابه کرامو تعامل هم په دې باندې دليل دې چه دَجنازو مونځونه دَ جماتونونه بهرکيدل. لهذادَ سخت عذرنه بغيردَجنازې مونځ په جمات کښې دننه مکروه دې.
③ جماتونه دَ جنازودَپاره نه دی جوړشوی. دَحضورپاك په زمانه کښې دَجمات نه جدا يوځائی جوړشوې وو چرته چه به جنازې کيدلې.
په جمات کښې د جنازې د مونځ د کراهت دوه علتونه: - بيادَ احنافو په نيزپه جمات کښې دَ جنازې دَ کراهت دوه علتونه دی دَهريواثر جداجدادې.
① دَ جمات سخا کيدل دی يعنی داخطره ده چه جنازه دننه راوړلوسره دَ مړی نه څه وينه وغيره پريوځی په کوم سره چه به جمات خراب شی. دَدې علت په رڼاکښې که چرې مړې دَ جمات بهرکيخودې شوې وی اومونځ ګذار دننه وی نوجنازه به جائزشی.
② دَ جماتونو جوړولومقصد جنازې نه بلکه نور عبادات دی. دَدې علت په رڼاکښې مطلقًا په جمات کښې دَ جنازې مونځ کول صحيح نه دی که جنازه په جمات کښې دننه وی اوکه بهر وی.

[١٦٥٧] دَ جنازې مونځ کښې د امام د اودریدو مقام

١٦٥٧ – (¹) [١٢] [١] وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ: [٢] «صَلَّيْتُ وَرَاءَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ مَاتَتْ فِي نِفَاسِهَا [٣] فَقَامَ وَسَطَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] سمره رضي الله عنه بن جندب فرمايي [٢] چې ما په رسول الله ﷺ پسې د يوې ښځې د جنازې مونځ اوکړو چې د نفاس په حالت کښې وفات شوې وه [٣] حضور ﷺ د مانځه د پاره د جنازې په مينځ کښې ودريدلې وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: – ① نِفَاسِهَا: أَيْ: حِينَ وِلَادَتِهَا: د ماشوم په ولادت کښې.

تسهیلات: قوله: فَقَامَ وَسَطَهَا:

مرده سره د امام د اودريدو په محل کښې مذاهب: –

په دې لفظ کښې که په سين باندې فتحه اووئيلې شي نود دوو طرفو بالکل دَمينځ خاص نقطه به مراد اخستې شي اوکه چرې سين ساکن اووئيلې شي نود دوو طرفونو دَ مينځ څه حصه به مراد اخستې شي. اوس په دې کښې اختلاف دې چه امام دَ جنازې په محاذاتو کښې کوم طرف ته اودريږي.

① شوافع حضرات فرمائي که چرې مړې سړې دې نوامام دې دَهغه دَ سر طرف ته اودريږي اوکه چرې ښځه وي نو شاته حصه يعنى کوناټو او عجز سره دې اودريږي.

② دَ احنافو په نيز په ښځه او سړي کښې هيڅ فرق نشته دې امام لـه پکاردى چه دَمړي دَ سينې طرف ته دې اودريږي.

د اول فريق دليل: – شوافع دا د «وسط» د لفظ په عجيز باندې حمل کړې دې يعنى دا مقام مائل په طرف دَ اسفل دې. بهرحال دادَ اولى اوغير اوغيراولى مسئله ده هيڅ جګړه نه ده.

ددويم فريق دليل: – دَمذکوره حديث ظاهرى الفاظ خودَ احنافو په حق کښې دى ځکه چه سينه په مينځ کښې ده اوپورته سر دواړه لاسونه او اوږې دى او ښکته دوه خپې کوناټې او فتونان دى دا نصف نصف دى کوم چه وسط دې.

[١٦٥٨] د تدفين څخه پس په قبر د جنازه کولو حکم

١٦٥٨ – (²) [١٣] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: [٢] «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِقَبْرٍ دُفِنَ لَيْلًا [٣] فَقَالَ: مَتَى

---

¹) اخرجه البخارى فى كتاب الجنائز/باب الصلاة على النفساء إذا ماتت فى نفاسها (رقم-١٣٣١) ومسلم فى كتاب الجنائز/باب أين يقوم الإمام من الميت للصلاة عليه (رقم) ٨٧ - (٩٦٤) وابوداود كتاب الجنائز. باب أين يقوم الإمام من الميت إذا صلى عليه (رقم-٣١٩٥) والنسائى كتاب الجنائز/باب الصلاة على الجنازة قائمًا (رقم-١٩٧٦) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فى أين يقوم الإمام إذا صلى على الجنازة (رقم-١٤٩٣) واحمد فى المسند ١٤/٥

²) اخرجه البخارى فى كتاب الجنائز/باب الإذن بالجنازة (رقم) ١٢٤٧ ومسلم فى كتاب الجنائز/باب الصلاة على القبر (رقم) ٦٩ - (٩٥٤) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فى الصلاة على القبر (رقم-١٥٣٠)

دُفِنَ هٰذَا؟ قَالُوا: الْبَارِحَةَ.[٤] قَالَ: أَفَلَا آذَنْتُمُونِي؟ قَالُوا: دَفَنَّاهُ فِي ظُلْمَةِ اللَّيْلِ فَكَرِهْنَا أَنْ نُوقِظَكَ.[٥] فَقَامَ فَصَفَفْنَا خَلْفَهُ فَصَلَّى عَلَيْهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١] حضرت ابن عباس ﷺ روایت کوي [٢] چې یو ځل رسول الله ﷺ د یو داسې قبر سره تیر شو چې په هغې کښې د شپې مړي دفن شوي وو[٣] حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې دي کله دفن شوي دي؟ صحابه ؤ جواب ورکړو چې په نن شپه کښې [٤] حضور ﷺ وفرمايل چې تاسو زه ولې خبر نه کړم؟ صحابه ؤ عرض اوکړو چې مونږ دي دشپې په تیاره کښې دفن کړي وو هغه وخت ستا ویښول مونږ ته ښه معلوم نه شو[٥] بیا حضور ﷺ ودریدلو نو مونږ وریسې هم صف وتړلو او حضور ﷺ د هغه د جنازې مونځ اوکړو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① الْبَارِحَةَ: أَيِ: اللَّيْلَةَ الْمَاضِيَةَ: یعنی تیره شپه، ② أَفَلَا آذَنْتُمُونِي؟: أَفَلَا أَعْلَمْتُمُونِي؟ یعنی تاسو ماته خبر ولې نه راکولو.

تسهیلات: قوله : فَكَرِهْنَا أَنْ نُوقِظَكَ:

دحدیث فوائد: - ① حضورپاك عالم الغیب نه وو کنی دَ تپوس ضرورت نه وو اونه دَ قبر معلومولوضرورت وو

② دَصحابه کرامو معاشره کښې دومره بې تکلف وو چه دَ کفن دفن دا اوږدې قصې او اعلانونه نه وو.

③ مشران اوبزرګان بې ځایه په تکلیف کښې نه اچول غوښتل

④ دَ تدفین نه پس په قبرباندې جنازه کول جائزده

نو په دې کښې دا تفصیل دې که دَ یومړی دَ جنازې نوبت رانغلو او هغه بغیردَ جنازې نه خښ کړې شو نو په دریو ورځوکښې دننه دَهغه په قبر باتندې تلو سره جنازه کول پکاردی. دَ دریو ورځو نه پس جائز نه ده

صلاة بعد التدفین کښې مذاهب: -

① شوافع اوحنابله فرمائی چه که جنازه شوې وی اوکه نه وی شوې په هرصورت کښې په قبر باندې جنازه کول صحیح دی

② دَ احنافو اومالکیانوپه نیز که چرې اول جنازه شوې وی نو په قبرباندې جنازه کول جائز نه دی

داول فریق دلیل: - زیر بحث حدیث د دوی مستدل دې

داول فریق د لیل جوابونه: - ① دادَ حضوراکرم ﷺ خصوصیت وو دَهغوی ﷺ دَ دعا او استغفار شان جدا وو. دَ نورو خلقو معامله داسې نه ده

② بعضې علماؤ لیکلی دی چه دَ حضورپاك په مبارکه زمانه کښې دَ حضورپاك په موجودګئ کښې دَ حضورپاك نه بغیر دَ جنازې مونځ جائز نه وو. لهذا دَحضورپاك نه بغیر چه کومه جنازه کړې شوې هغه هم داسې وه لکه چه جنازه هډو شوې نه ده او په دې کښې دَ ټولو اتفاق دې چه کله جنازه اونه کړې شی نودَ هغه مړی په قبربانديِ دَمړی سخا کیدو نه مخکښې جنازه کول ضروری دی. ددې دا حدیث په استدلال کښې نشی پیش کولې.

د مړی د عدم تغیر د مودې اعتبار:- اوس دا تعین چه څومره ورځو پورې مړې محفوظ پاتې کیدې شی دَدې فیصله دَعلاقې دَموسمیاتو اوحالاتوماهرین کولې شی چه په دې علاقه کښې او په دې موسم کښې مړې څومره ورځو پورې محفوظ پاتې کیدې شی. احنافو دَ دریو ورځو قول په عام توګه کړې دې.

[١٦٥٩] د تدفین څخه وروسته دوباره د جنازې مونځ کول

١٦٥٩-(١)[١٣] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: ٢ «أَنَّ امْرَأَةً سَوْدَاءَ كَانَتْ تَقُمُّ الْمَسْجِدَ ٣ أَوْ شَابٌّ فَفَقَدَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَ عَنْهَا أَوْ عَنْهُ. ٤ فَقَالُوا: مَاتَ. قَالَ: أَفَلَا كُنْتُمْ آذَنْتُمُونِي؟ ٥ قَالَ: فَكَأَنَّهُمْ صَغَّرُوا أَمْرَهَا أَوْ أَمْرَهُ. ٦ فَقَالَ: دُلُّونِي عَلَى قَبْرِهِ. فَدَلُّوهُ فَصَلَّى عَلَيْهَا ٧ ثُمَّ قَالَ: إِنَّ هَذِهِ الْقُبُورَ مَمْلُوءَةٌ ظُلْمَةً عَلَى أَهْلِهَا، ٨ وَإِنَّ اللهَ يُنَوِّرُهَا لَهُمْ بِصَلَاتِي عَلَيْهِمْ». مُتَّفَقٌ، وَلَفْظُهُ لِمُسْلِمٍ.

ترجمه: ١ ابوهریره رضی الله عنه فرمایي ٢ چې یوه توره ښځه وه چې مسجد نبوي به یي جارو کولو ٣ یا راوي وایي چې یو زلمي هلك وو چې مسجد به یي جارو کولو رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ هغه غایب ولیدلو نو د هغه ښځي یا سړي په باره کښې یي پوښتنه اوکړه چې هغه چیرته دي؟ ٤ عرض وشو چې هغه مړه شوي ده یا هغه مړ شوي دي حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې زه مو خبر ولي نکړم (چې ما یي هم د جنازي مونځ کړي وی) ٥ ابوهریره رضی الله عنه وایي چې خلقو د هغه ښځي یا د هغه سړي مرګ ته څه اهمیت ورنه کړو چې د هغې د پاره حضور صلی الله علیه وسلم ته تکلیف ورکول شوي وي [ګویا د حضور صلی الله علیه وسلم تعظیم مقصود وو] ٦ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ښه ماته یي قبر وښایي چیرته دي؟ [حضور صلی الله علیه وسلم ته یي چې قبر وښودل شو نو هلته یي تشریف یوړلو] او په قبر یي مونځ اوکړو ٧ بیا یي وفرمایل چې دا قبرونه د خپلو مړو د پاره د دتیارو څخه ډک وي ٨ په دې قبرونو زما د مانځه کولو په وجه الله تعالی جل جلاله هغه روښانه کوي. دا روایت بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله نقل کړي دي او الفاظ د مسلم رحمه الله دي.

حل اللغات:- ① تَقُمُّ: أَيْ: تَكْنِسُهُ وَتُطَهِّرُهُ: "تقم" د قم‌یقم‌نصرینصر نه دې. یعنی دَ جارو په ذریعه سره به ئی دَ

---

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز /باب الصلاة علی القبر بعد ما یدفن (رقم-١٣٣٧) ومسلم فی کتاب الجنائز /باب لصلاة علی القبر (رقم) ٧١ - (٩٥٦) وابن ماجة کتاب الجنائز /باب ما جاء فی الصلاة علی القبر (رقم-١٥٣٣) واحمد فی المسند ٣٨٨/٢

مسجدنبوي نه کچره او ډکي وغيره صفاکول ② شَابٌ : خوان، زلمي، ③ فَفَقَدَهَا : غائب ئې اوموندلويعني اوئې نه ليدلو، ؟ ④ صَغَّرُوا: أَيْ: حَقَّرُوا: يعني معمولي ئې اوګڼړلو، ⑤ دُلُّونِي: اوښايئ ماته، ⑥ مَمْلُوءَةٌ: ډک وي.

تسهيلات:

قوله : بِصَلَاتِي عَلَيْهِمْ: يعني زما په دعا اودَ جنازې په مونځ سره قبرونه روښانه کيږي. دَدې نه معلومه شوه چه په قبرکښې دَ خښولونه پس په قبر باندې جنازه کول دَحضورپاك خصوصيت وو که اول جنازه شوې وي اوکه نه وي شوې.

د دواړو احاديثو د مضمون اتحاد: – دَدې حديث مضمون اودَدې نه مخکښې حديث مضمون يوشان دې البته دانه شي ونيلې کيدې چه دَدې دواړو احاديثو مصداق هم يوسړې وو ځکه چه په اولنى حديث کښې دَ ضمائر نه پته لګى چه څوك سړې وو او په دويم حديث کښې په يواضحه توګه دَ ښځې اوسړى ذکر دې. بهرحال په دې کښې دا احتمال موجود دې چه دا هم دَ يو خادم قصه وى. راوى ته په بيان کولوکښې شك پيداشوې دې. دا يوه ښځه وه چه په مسجد نبوى کښې به ئې جارو وهله. هم دَ دغه خوش قسمت ښځې قصه په زيربحث حديث کښې ده.

[١٦٦٠] په جنازه کښې دَ څلويښتو کسانو د شريکيدو فضيلت

١٦٦٠—(١)[١٥] ① وَعَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ: ② أَنَّهُ مَاتَ لَهُ ابْنٌ بِقُدَيْدٍ أَوْ بِعُسْفَانَ فَقَالَ: ③ يَا كُرَيْبُ، انْظُرْ مَا اجْتَمَعَ لَهُ مِنَ النَّاسِ. ④ قَالَ: فَخَرَجْتُ فَإِذَا نَاسٌ قَدِ اجْتَمَعُوا لَهُ، فَأَخْبَرْتُهُ ⑤ فَقَالَ: تَقُولُ: هُمْ أَرْبَعُونَ. قَالَ: نَعَمْ. ⑥ قَالَ: أَخْرِجُوهُ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ⑦ «مَا مِنْ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَمُوتُ فَيَقُومُ عَلَى جَنَازَتِهِ أَرْبَعُونَ رَجُلًا ⑧ لَا يُشْرِكُونَ بِاللهِ شَيْئًا، إِلَّا شَفَّعَهُمُ اللهُ فِيهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① د عبدالله بن عباس رضي الله عنه آزاد کړى غلام کريب د عبدالله بن عباس رضي الله عنه په باره کښې روايت کوي ② چې کوم وخت په مقام قُديد يا په مقام عسفان کښې (چي مکّي ته نزدې ځايونه دي) دهغه ځوى وفات شو [او جنازه تياره شوه] نو هغه اوويل ③ چې اې کريب! لاړ شه وګوره چې د جنازي د مانځه د پاره څومره خلق جمع شوي دي؟ ④ حضرت کريب وايي چې زه بَهر د خلقو د کتلو د پاره ووتم نو ما وليدل چې ډير خلق راجمع شوي دي واپس راغلم ابن عباس رضي الله عنه ته مى اوويل چې کافي خلق جمع شوي دي ⑤ ابن عباس رضي الله عنه وفرمايل چې ستا په خيال کښې به د هغه خلقو تعداد څلويښت وي؟ ما عرض اوکړو چې هو ⑥ نو ابن عباس رضي الله عنه وفرمايل چې بيا خو جنازه بهر وباسئ ځکه چې ما د رسول

(١) اخرجه مسلم فى كتاب الجنائز/باب من صلى عليه أربعون شفعوا فيه (رقم) ٥٩ - (٩٤٨) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فيمن صلى عليه جماعة من المسلمين (رقم-١٤٨٩) واحمد فى المسند ٢٧٧/١

الله ﷺ څخه اوریدلي دي [٧] کله چې یو مسلمان مړ شي او د هغه د جنازې مونځ داسې څلویښت سړي اوکړي [٨] چې د الله ﷻ سره څوک نه شریک کوي نو الله تعالی ﷻ د هغه مړي په حق کښې د هغوئ شفاعت قبلوي. (مسلم)

حل اللغات:- ① بِقُدَيْدٍ: بِالتَّصْغِيْرِ: مَوْضِعٌ قَرِيْبٌ بِعُسْفَانَ، عسفان سره نزدې د یو ځای نوم دې. او عسفان د مکه او جده په مینځ کښې دَ یوې علاقې نوم دې.

تسهیلات:

قوله: فَيَقُوْمُ عَلَى جَنَازَتِهِ أَرْبَعُوْنَ رَجُلًا،

دڅلویښتو مسلمانانو په دعا د مړی د مغفرت وجه:- ددې حدیث مبارك نه معلومه شوه چې په کوم مړی باندې څلویښت کسانو دجنازې مونځ ادا کړو نو د هغوئ شفاعت به ددې مړی باره کښې قبول شی ، ددې حکمت دادې چې څلویښت مسلمانان چرته وی نو په هغوئ کښې یو ولی الله ضرور موجود وی او دهغه دعا قبلیږی او دهغه په برکت دنورو دعا هم قبلیږی.

[١٦٦١] دَ جنازې مونځ کښې دَ سلو کسانو د شریکیدو فضیلت

١٦٦١ –([1])[١٢] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [٢] «مَا مِنْ مَيِّتٍ تُصَلِّي عَلَيْهِ أُمَّةٌ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ يَبْلُغُوْنَ مِائَةً [٣] كُلُّهُمْ يَشْفَعُوْنَ لَهُ إِلَّا شُفِّعُوْا فِيْهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] بي بي عایشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] د کوم سړي د جنازې مونځ چې د مسلمانانو یو داسې جماعت اوکړو چې د هغوئ تعداد سلو ١٠٠ ته ورسي [٣] او هغه جماعت د مړي د پاره شفاعت وکړي (یعني د مغفرت د پاره دعا وکړي) نو د هغوئ شفاعت قبلیږي یعنی د مړي مغفرت (بخښنه) کیږی. (مسلم)

تسهیلات: قوله: يَبْلُغُوْنَ مِائَةً:

بین الحدیثین تعارض:- دې نه وړاندې حدیث کښې دَ څلویښتو کسانو دَ شرکت دَ فضیلت ذکر راغلې دې او په زیربحث حدیث کښې دَ سلو کسانو دَ شرکت دَ فضیلت دَحاصلولو ذکر کړې شوې دې؟

په دوؤ طریقو د تعارض دفع:-

① علماء فرمائی چه کیدې شی چه وړاندې الله تعالی دَ سلو کسانو په شرکت باندې دَ دغه ثواب وعده فرمائیلې وی او بیا دَ الله تعالی کرم نور زیات شوې وی او دَ سلو په ځائی باندې دَ څلویښتو په شرکت باندې دَدې ثواب حصول وعده فرمائیلې وی.

---

[1]) اخرجه البخاری فی صحیحه رقم الحدیث ١٣٦٧ مسلم فی کتاب الجنائز /باب من صلی علیه مائة شفعوا فیه(رقم) ٦٠ - (٩٤٩) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی الصلاة علی الجنازة والشفاعة للمیت (رقم-١٠٢٩) والنسائی کتاب الجنائز /فضل من صلی علیه مائة (رقم-١٩٩١) واحمد فی المسند ٢٨١/٣

② یا دا اعداد اودَدې ذکر دَ تعیین اوتحدید دپاره نه دې بلکه دتکثیر په توګه دې نونه سل مراددی اونه څلویښت مرادی بلکه دَ ډیروکسانو جماعت مراددې.

[١٦٦٢] دَ خلقو وینا دَ خدائی نغاره

١٦٦٢ –(١٧) [١] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: [٢] «مَرُّوا بِجَنَازَةٍ فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا [٣] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَجَبَتْ. [٤] ثُمَّ مَرُّوا بِأُخْرَى فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا شَرًّا. [٥] فَقَالَ: وَجَبَتْ. فَقَالَ عُمَرُ: مَا وَجَبَتْ. [٦] فَقَالَ: هَذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ خَيْرًا فَوَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ، [٧] وَهَذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ شَرًّا فَوَجَبَتْ لَهُ النَّارُ. [٨] أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [٩] وَفِي رِوَايَةٍ: «الْمُؤْمِنُونَ شُهَدَاءُ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ».

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه فرمايي [٢] چې صحابه رضي الله عنهم د يوې جنازه سره تير شو نو د هغه تعريف يي اوكړو [٣] نبي كريم صلى الله عليه وسلم (د صحابه ؤ د ژبي څخه د مړي تعريف اوريدو سره) وفرمايل چې واجب شو [٤] دغه شان صحابه رضي الله عنهم د يوې دويمې جنازې سره تير شو د هغه بدي يي بيانول شروع كړل [٥] رسول الله صلى الله عليه وسلم (د صحابه ؤ د ژبي څخه د مړي بدي آوريدو سره) وفرمايل واجب شو حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه وكړه چې يا رسول الله صلى الله عليه وسلم څه شي واجب شو؟ [٦] حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د كوم سړي چې تاسو تعريف اوكړو د هغه د پاره جنت واجب شو [٧] او د كوم سړي چې بدي بيانوئ د هغه د پاره دوزخ واجب شو [٨] بيا يي وفرمايل چې تاسو په زمكه د الله تعالى جل جلاله ګواهان يي، بخاري مسلم. [٩] د يوبل روايت الفاظ دا دي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې مؤمنان په زمكه كې د الله تعالى جل جلاله ګواهان دي.

حل اللغات:- ① فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا: أَيْ: ذَكَرُوهَا بِأَوْصَافٍ حَمِيدَةٍ: يعنى هغوی په ښه صفاتو او ښه اخلاقو سره دهغه تذكره اوكړه. ② وَجَبَتْ: أَيْ: ثَبَتَتْ لَهُ الْجَنَّةُ: يعنى دَدې سړی دَپاره جنت واجب شو.

تسهیلات: قوله: وَجَبَتْ:

د وجبت په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① مطلب دا چه ته دکوم سړی تعریف بیانوې که چرې ستا بیان صحیح دې اودَ دغه سړی مرګ هم په دغه نیکئی کښې راغلو دَ کوم چه تاسو بیان کوئی نودَ هغه دَپاره دَ جنت نیك بختی ثابته شوه او دکوم سړی چه تاسو بدی بیانوئی که چرې دا بیان صحیح دې او دَ دغه سړی مرګ هم په دغه بدئی کښې راغلو نودَ هغه دَ پاره دَ دوزخ سزا ثابته شوه

② شیخ مظهر رحمه الله فرمائی چه دَجنت دوزخ داحکم داسې نه دې چه دَخلقو ښه اوبد وئیلوسره په یقینی توګه باندې هغه سړې جنتی یا دوزخی شو بلکه مطلب دادې چه کله په خلقوکښې دَ یوسړی باره کښې عام خیال او عام تاثر ښه اونیك وی اوخلق دَهغې اظهار هم

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب ثناء الناس علی المیت (رقم) ١٣٦٧ ومسلم فی کتاب الجنائز/ باب فی من یثنا علیه خیر او شر من الموت... رقم الحدیث ٢٢٤٣

کوی نوَ دغه سړی دَپاره دَ جنت امید ترلې کیدې شی. دغه شان که چرې دَ عام خلقو تاثر دَ دغه سړی دَ بدئی وی نوخطره کیدې شی چه هغه سړې دوزخ ته لاړ شی.

دثناء الخیر معیار:- زین العرب فرمائی چه دَ یوسړی باره کښې دَ خلقو دَ شر اوبدئی سره ذکرکول یا دَ خیر او ښیګړې سره ذکر کول دا سړې جنت یا دوزخ ته نه بوځی بلکه دَ خلقو دَ خلې خبره دَ الله تعالی اعلان دې چه دَ دغه سړی دَ ښه یا بد کیدو علامت او نښه ده. هم دَدې طرف ته دَ دې حدیث په آخره کښې حضورپاک ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه ((انتم شهداء الله فی الارض)) ته دَ الله تعالی دَ طرف نه په زمکه کښې په خلقو ګواه نی. بیا دلته په دې خبره باندې هم پوهیدل ضروری دی که چرې څوک دنیادار او فاسق فاجر سړې دَ څه دنیاوی اغراضو په رڼا کښې دَ یوخراب او بدکار او بدکردار سړی تعریف او توصیف اوکړی اودَ هغه باره کښې اوږدې اوږدې قصې او ښه تاثرات قائم کړی یا دَ یونیک متقی پرهیزګار سړی باره کښې دَ بدئی تاثرات بیان کړی نوَ هغه دَ ښه او بدو هیڅ اعتبار نشته دې او نه دا سړې دَ دغه کاردَ پاره معیار دې. خلاصه دا چه ګواهی ورکول دَ یو معتدل خداترس انصاف پسند متقی او پرهیزګارسړی کار دې.

[١٦٦٣] دخلقوژبه دخدائې نغاره

١٦٦٣-(١)[١٨] [١] وَعَنْ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٢] «أَيُّمَا مُسْلِمٍ شَهِدَ لَهُ أَرْبَعَةٌ بِخَيْرٍ [٣] أَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ. [٤] قُلْنَا: وَثَلَاثَةٌ؟ قَالَ. وَثَلَاثَةٌ؟ [٥] قُلْنَا: وَاثْنَانِ؟ قَالَ: وَاثْنَانِ" [٦] ثُمَّ لَمْ نَسْأَلْهُ عَنِ الْوَاحِدِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت عمر رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] د کوم مسلمان په باره کښ چې څلور سړي د نیکي ګواهي ورکړي [٣] الله تعالی جل جلاله به هغه په جنت کښې داخل کړي [٤] مونږ اوویل چې که دري سړي ګواهي ورکړي؟ وي فرمایل چې که دري سړي ګواهي ورکړي نو هم [٥] مونږ اوویل چې که دوه سړي ګواهي ورکړي؟ وي فرمایل هو دوه هم [٦] بیا مونږ څیني د یو د حال پوښتنه ونه کړه. (بخاري)

تسهیلات:

قوله: شَهِدَ لَهُ أَرْبَعَةٌ بِخَيْرٍ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ:

دڅلورومسلمانانوپه ګواهی جنت ته داخلیدل:- ابن الملك رحمه الله فرمائی چې ددې نه دې خلقو جنازه او دهغوئ دعا او شفاعت مراد دې چې الله ﷻ به ددې خلقو اعمال ددهٔ په حق قبول کړی او دې به جنت ته داخل کړی. داشان د دوؤ مسلمانانو یو کس ته ښه وئیل ددې مسلمان د جنتی کیدو علامت دې.

---

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب ثناء الناس علی المیت (رقم) ١٣٦٨ والنسائی کتاب الجنائز/باب الثناء (رقم-١٩٣٤) واحمد فی المسند ٢٢/١

قوله: قَالَ: وَالثَّنَانِ:

د دوؤ مسلمانانو په ګواهي جنت ته داخليدل: -ملا علی قاري رحمه الله فرمائي چې په شريعت کښې د ګواهي نصاب دوه سړي دی. ﴿وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِّنكُمْ﴾ نو لکه څنګه چې دوه ګواهانو باندې مقدمه ثابتيږي نو داشان د دوؤ کسانو په ګواهي سره هم جنتي کيدل ثابتيږي.

[١٦٦٤] د مړو د ګناهونو يادولو ممانعت

١٦٦٣ –(¹)[١٩] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٢] "«لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ; [٣] فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] بي بي عايشه رضي الله عنها روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] مړو ته بد مه وايي [٣] ځکه چې بيشکه هغوی د هغه څيز جزا ته رسيدلي دي کوم چې هغوئ مخکې ليږلی دی. (بخاري)

حل اللغات: - ① لَا تَسُبُّوا : أَيْ: بِاللَّعْنِ وَالشَّتْمِ: يعنی کنځلې او بدې ردې ورته مه کوئ (اګرچه فاسق اوفاجر ولې نه وی، البته که يقيني معلوم وی چه دهغه مرګ په کفر باندې شوې دې، نو په تعين سره پرې لعنت کولې شي. لکه فرعون، ابوجهل، ابولهب وغيره(مرقات)، ② أَفْضَوْا : أَيْ: وَصَلُوا: رسيدلي دی هغوی (خپلې جزاء ته).

تسهيلات: **قوله**: لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ:

بعضې مړو ته د بد رد ويلو جواز: -مړو ته بد مه وائې يعنی هغوئ ته کنځل مه کوئی اګر چې هغه کافر فاجر ولې نه وی. خو که د هغوئ کفر قطعي وی لکه د فرعون کفر، دابوجهل کفر، د ابولهب کفر او د منکرين صحابه و اهل بيت وغيره کفر وی نو بيا جائز دی.

[١٦٦٥] په شهيدباندې دَ جنازې د مونځ کولو حکم

١٦٦٥ –(²)[٢٠] [١] وَعَنْ جَابِرٍ: «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، [٢] ثُمَّ يَقُولُ: "أَيُّهُمْ أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ؟ [٣] " فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ، [٤] وَقَالَ: "أَنَا شَهِيدٌ عَلَى هَؤُلَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" [٥] وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ بِدِمَائِهِمْ، [٦] وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ، وَلَمْ يُغَسَّلُوا» . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه روايت کوی چه رسول الله ﷺ به د اُحد دوه دوه شهيدان په يوه کپړه کښې جمع کول [٢] بيا به يي فرمايل چې په دوي کښې چا ته قرآن زيات ياد دي؟

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز /باب ما ينهی من سب الأموات (رقم-١٣٩٣) والنسائی کتاب الجنائز /باب النهی عن سب الأموات (رقم-١٩٣٦) والدارمی باب: فی النهی عن سب الأموات واحمد فی المسند ١٨٠/٦

²) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز /باب من يقدم فی اللحد (رقم) ١٣٤٧ والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/ ما جاء فی ترک الصلاة علی الشهيد(رقم-١٠٣٦) والنسائ کتاب الجنائز/ترک الصلاة عليهم (رقم-١٩٥٥) وابن ماجة کتاب الجنائز /باب ما جاء فی الصلاة علی الشهداء ودفنهم (رقم-١٥١٤)

[٣] بیا چې به کوم یو د پاره اشاره وشوه نو هغه به یي په قبر کښې مخکي کولو [٤] او فرمایل به یي چې زه به د قیامت په ورځ د دوی د پاره ګواهي ورکوم [٥] او حکم یي وفرمایلو چې هغوی د خپلو وینو سره دفن کړي شي [٦] او نه یي پري مونځ اوکړو او نه غُسل ورکړل شو. (بخاري)

حل اللغات:- ① قَتْلٰی: دقتیل جمع ده، مقتول ته وائی مراد تري شهیدان دی. ② أَخْذًا لِلْقُرْآنِ: أَيْ: حِفْظًا أَوْقِرَاءَةً: یعنی زیات قرآن ورته یاد وی په حفظ یا په ناظره. ③ لَمْ يُصَلِّ: دجنازې مونځ ئې پرې اونه کړو.

تسهیلات: قوله: وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ:

د شهداء احد په اجتماعی قبرونو کښې تدفین:- په دې حدیث کښې یوخودا خبره اوخودلې شوه چه داَحد دَ شهیدانو دَپاره اجتماعی قبرونه کنستلې شوې وو. ځکه چه دَ ٧٠ شهیدانو دَپاره جدا جدا قبرونه کنستل ګران وو ځکه چه کوم صحابه ژوندی وو هغوی دَ زخمونونه چوری چوری وو په دې وجه چه یو قبر به کنستلې شو نوبیا به دَ قبلې طرف ته اوږد لحد جوړولې شو په کوم کښې چه به دوه درې یاڅلور کسان وړاندې روستو کیخودلې شو.

د قاری لحد کښې اول کیخودل:- په دې کښې حضورپاك داحکم ورکړو چه کوم سړی ته قرآن زیات یاد وی یا دَ قرآن زیات قاری اوعالم وی هغه دَ قبلې طرف ته مخې ته کیږدئی. دغه شان حکم ورکولوسره حضورپاك دَ قرآن کریم تعظیم او دَدې اعزاز ښکاره کول غوښتل دې دَپاره چه قرآن کریم دَ معاشرې په هره شعبه کښې په توګه دَ رواج او دَ دستور په توګه داخل شی. دلته په یو قبر کښې بغیردَ لباس دوه دوه یوځائی نه کړل بلکه لباس سره ئی دفن کړی وو. اوس په دې باندې اتفاق دې چه کوم سړې دَ الله تعالی په لارکښې شهید شی دَهغه کپړې دَ بدن نه جدا کولې نه شی بلکه هم په هغه کپړو کښې دفن کولې شی.

دشهید بلا غسل تدفین:- په دې باندې هم اتفاق دې چه شهید ته غسل نه شی ورکولې.

د شهید صلاة الجنازې په حکم کښې مذاهب:-

اوس په دې کښې اختلاف راغلو چه دَ شهید جنازه به کیږی که نه به کیږی؟

① دَ امام شافعی رحمه الله امام مالك رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیز لکه څنګه چه شهید ته غسل نه شی ورکولې دغه شان به دَ شهید دَ جنازې مونځ هم نه شی کولې.

② ائمه احناف فرمائی دَ شهید دَپاره غسل خو فرض نه دې لیکن دَاحادیثو دَ وجې نه به دَ شهید جنازه کولې شی.

داول فریق اول دلیل:- ① زیر بحث حدیث د دوی مستدل دې په کوم کښې "لم یصل علیهم" الفاظ راغلی دی. امام بخاری رحمه الله امام ابوداؤد رحمه الله او امام ترمذی رحمه الله ټولو دا الفاظ په خپلو کتابونو کښې نقل کړی دی.

داول فریق د اول دلیل جوابونه:- ① حضرت جابر رضی الله عنه دَ احد دَ شهیدانو دَ جنازې دَمونځ ټول په ټوله نفی نه ده کړې بلکه دَ یوخاص صورت نفی فرمائیلې هغه دا چه څنګه په حضرت حمزه رضی الله عنه باندې بار بار دَ جنازې مونځ کړې شوې دغه شان ئی دَ باقی شهیدانو نه ده کړې.
② په اکثرو روایاتو کښې دَ جنازې دَ مونځ اثبات موجود دې اودَ حضرت جابر رضی الله عنه په روایت کښې نفی ده اوقاعده داده چه کله نفی او اثبات کښې تعارض راشی نوترجیح به اثبات ته ورکولې شی.
③ نفی او اثبات په مختلف اوقاتو کښې دی. په شروع کښې حضورپاک جنازه نه ده کړې. کوم وخت چه خلقو خپل شهیدان کورونوته اوړل نوحضورپاک دَ اوړلونه منع اوفرمائیله او واپس کولوسره ئی بیا جنازه اوکړه.
④ حضورپاک پخپله نه ده کړې څکه چه حضورپاک زخمی وو صحابه کرام رضی الله عنهم کړې ده.
داول فریق دویم دلیل:- ② یو عقلی دلیل هم د دوی مستدل دې هغه دا چه دَ جنازې مونځ دَمغفرت اوشفاعت دَپاره وی اوشهید دَمخکښې نه بخښلې شوې دې نودَده دَپاره دَجنازې دَ مونځ ضرورت نشته دې. بل الله تعالی شهیدته دَمړ وئیلو نه منع فرمائیلې ده اودَ جنازې دَ مونځ په دعا کښې ده ته مړ وئیلې کیږی لهذا دَ جنازې مونځ پرې نه دی کول پکار.
داول فریق د دویم دلیل جواب:- بیشکه "السیف محاءللذنوب" دې ګناه په مکمل توګه دَ تورو په وار سره وینځلې شوې لیکن دَ جنازې مونځ خودَ درجات دَ اوچتیدو دَپاره هم وی لکه چه دَ انبیاء کرام علیهم السلام جنازه کولې شی اودَ وړوکی ماشوم جنازه کیږی. دا ټول دَ درجاتو دَ اوچتولودَپاره دی ګنی دالته خودَ ګناهونو تصور هم نشته دې. باقی دَ جنازې دَمونځ په دعاکښې دَمړی لفظ مه اختیاروئی دَ جنازې نورې دعاګانې هم ډیرې شته.
د دویم فریق دلائل:- ① دَ حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې کوم چه امام بخاری رحمه الله هم نقل کړې دې دکوم الفاظ چه دادی: ((ان النبی صلی الله علیه وسلم خرج یومافصلی علی اهل احد صلوته علی المیت)) (بخاری ج٢ص٥٨٥) هم دَدې حدیث نه په واضحه توګه باندې ثابتیږی چه حضورپاک دَ وفات نه څه وړاندې دَ احد په شهیدانو باندې څو کاله پس دَ جنازې مونځ دَ هغوی په قبرستان کښې تلو سره اوکړو. کله چه دا ثابته ده نوڅنګه دا وئیلې شی چه حضورپاک دَ دفن کولونه مخکښې دَ دغه شهیدانو جنازه ترک کړې وه.
② دَ احد شهیدان به لس لس راوړلې شو او حضورپاک به دَهغوی جنازه کوله. حضرت حمزه رضی الله عنه به هر ځل په جنازه کښې شامل کولې شو. دَ حدیث الفاظ داسې دی: ((اتی بهم رسول الله صلی الله علیه وسلم فجعل یصلی علی عشرة عشرة وحمزة هوکماهو یرفعون وهوکماهوموضوع)) (ابن ماجه ص:١٠٩)
دَ احد شهیدان به حضورپاک له راوړلې شو حضورپاک به په لسو لسو کسانو باندې جنازه کوله او حضرت حمزه رضی الله عنه به هرځل لسو کسانو سره کیخودې شو

④ دَمراسیل ابوداؤد یو روایت هم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دَ احد په شهیدانو باندې دَ جنازې دَمونځ تفصیل موجود دې.

د تطبیق صورت:- بهرحال دا مسئله په سرحداتو کښې په جهاد کښې مشغول مجاهدین بهتر پیژنی دا دَ هغوی دَ میدان مسئله ده. بعضې احوال کښې دَ جنازې کولو ماحول اوامکان وی لیکن بعضې وخت بالکل ممکن نه وی. دَ دښمن دَ طرف نه ګوله باری او بمباری جاری وی نو په کولاؤ میدان کښې دَ جنازې مونځ ممکن نه وی

[١٦٦٦] د قبرستان څخه په سورلی راتلو کښې عدم کراهت

١٦٦٦-(١)[٢١] ① وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: ② «أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِفَرَسٍ مَعْرُورٍ ③ فَرَكِبَهُ حِينَ انْصَرَفَ مِنْ جَنَازَةِ ابْنِ الدَّحْدَاحِ، ④ وَنَحْنُ نَمْشِي حَوْلَهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① جابر بن سمره ﷺ روایت کوی ② چې رسول الله ﷺ ته بغیر د زین څخه آس راوستل شو ③ نو په هغې هغه وخت سور شو چې د ابن دحداح د جنازې څخه واپس شو ④ او مونږ د حضور ﷺ خواؤ شاه روان وو. (مسلم)

حل اللغات:- ① مَعْرُورٍ: أَيْ: عَارٍ مِنَ السَّرْجِ: د زین نه بغیر، شا توری اس.

تسهیلات: قوله: فَرَكِبَهُ:

د جنازې څخه په واپسی کښې په سورلۍ د سوریدو اجازت:- دې نه داخبره ثابته شوه چه دَ جنازې نه واپس راتلونکی ته اختیاردې که پیدل راځی اوکه سور راځی. البته جنازې سره سوریدل څنګه دی نوراتلونکی حدیث نمبر ١٦٦٧ کښې دَدې تفصیل راتلونکې دې سورله پکاردی چه جنازې پسې شاشاته راځی وړاندې دې نه ځی اوپیدل تلونکی ته اختیاردې که وړاندې ځی اوکه روستوځی یوحدیث دَ وړاندې ١٦٧٣لاندې راوران دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٦٦٧] جنازې سره د تلو طریقه

١٦٦٧-(٢)[٢٢] ① عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ② «الرَّاكِبُ يَسِيرُ خَلْفَ الْجَنَازَةِ، ③ وَالْمَاشِي يَمْشِي خَلْفَهَا وَأَمَامَهَا، ④ وَعَنْ يَمِينِهَا وَعَنْ يَسَارِهَا، قَرِيبًا مِنْهَا ⑤ وَالسِّقْطُ يُصَلَّى عَلَيْهِ، ⑥ وَيُدْعَى لِوَالِدَيْهِ بِالْمَغْفِرَةِ وَالرَّحْمَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، ⑦ وَفِي رِوَايَةِ أَحْمَدَ، وَالتِّرْمِذِيِّ، وَالنَّسَائِيِّ، وَابْنِ مَاجَهْ:

---

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الجنائز/باب رکوب المصلی علی الجنازة إذا انصرف (رقم) ٨٩ - (٩٦٥) وابوداود کتاب الجنائز. باب الرکوب فی الجنازة (رقم-٣١٧٨) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی الرخصة فی ذلک (رقم-١٠١٣)

(٢) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز. باب المشی أمام الجنازة (رقم-٣١٨٠) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ما جاء فی الصلاة علی الأطفال (رقم-١٠٣١) والنسائی کتاب الجنائز/باب مکان الراکب من الجنازة (رقم-١٩٤٢) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی شهود الجنائز (رقم-١٤٨١) واحمد فی المسند ٢٤٧/٤

قَالَ: "[٨] «الرَّاكِبُ خَلْفَ الْجَنَازَةِ، وَالْمَاشِي حَيْثُ شَاءَ مِنْهَا، وَالطِّفْلُ يُصَلَّى عَلَيْهِ»". [٩] وَفِي الْمَصَابِيحِ: عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ زِيَادٍ.

ترجمه: [١] د مغيره بن شعبه رضي الله عنه څخه روايت دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [٢] سور دي په جنازي پسې وروسته ځي [٣] او پياده دي د جنازي وروسته او مخكي ځي [۴] او ښى او ګس اړخ ته دي ځي نژدې هغې ته [٥] او په نامكمل بچي دي د جنازي مونځ وكړل شي [٦] او د هغه د مور او پلار د پاره دي د بخشش (بخښنې) او د رحمت دعا اوشي. (ابوداؤد) [٧] او د احمد ، ترمذي، نسايي او ابن ماجه په روايت كښې داسې دي چې وي فرمايل [٨] سور دي په جنازه پسې وروسته ځي او پياده چې كوم طرف ته غواړي د جنازي سره دي ځي كه ماشوم مړ شي نو د جنازي مونځ دي پري وشي [٩] او په مصابيح كښې دا روايت د مغيره بن زياد څخه دي.

حل اللغات: - ① السِّقْطُ: اى الْوَلَدُ لِغَيْرِ تَمَامٍ: نا تمام ماشوم چه بعضې اندامونه ئې نه وى.

تسهيلات: قوله : الرَّاكِبُ خَلْفَ الْجَنَازَةِ:

د حديث خلاصه: - دَدې حديث خلاصه داده چه كه يو سړې سوريدو سره جنازې سره ځى نو هغه له پكاردى چه جنازې پسې شاشاته ځى. اوكوم سړې چه جنازې سره پيدل روان وى هغه له اختياردې چه دَ جنازې نه مخكښې ځى او كه شاته ځى ښى طرف ته ځى اوكه ګس طرف ته. وړاندې حديث نمبر١٦٦٨ كښې دا مسئله راځى چه آيا دَ جنازې نه مخكښې تلل بهتردى كه روستو تلل بهتردى.

قوله : وَالسِّقْطُ يُصَلَّى عَلَيْهِ: سقط نامكمل بچى ته وائى دې ته كچه بچې هم وائى.

دڅلورو مياشتو څخه وړاندې ساقط شوى بچى باندې د جنازې په مونځ كښې مذاهب:-

كه دَ څلورو مياشتونه مخكښې بچې ساقط شو نو په اتفاق سره په هغه باندې دَ جنازې مونځ نشته دې ليكن كه دَدې مودې نه پس دَ بچى اسقاط اوشى نو آيا په هغه باندې دَ جنازې مونځ كول پكاردى كه نه؟ په دې كښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① امام احمدبن حنبل رحمه الله اسحاق بن راهويه رحمه الله او ابن سيرين رحمه الله فرمائى چه په كچه بچى باندې به دَ جنازې مونځ كولې شى سره دَدې چه كه مړ پيدا شوې وى.

② امام ابوحنيفه رحمه الله امام مالك رحمه الله اوامام شافعي رحمه الله يعنى جمهورفرمائى چه تركومې پورې په بچى كښې دَ پيدائش په وخت دَ حيات او ژوند آثار نه وى په هغه باندې به د جنازې مونځ نه وى اوكه چرې دَ حيات معمولى آثار هم ملاؤ شونوجنازه به كيږى.

د اول فريق دليل: - مذكوره روايت د دوى مستدل دې. دَ كوم ظاهرى الفاظ په دې دلات كوى چه دَ ساقط شوى بچى جنازه به كيږى.

داول فريق د دليل جواب: - دَدي ساقط شوي بچي نه هغه بچي مراد دي په کوم کښې چه دَ پيدائش په وخت دَ ژوند آثار موجودوي. دي حديث سره به دَ نورو احاديثو په وجه دَ بحياة قيدلګولې شي څکه چه کله په مقيد او مطلق کښې تعارض راځي نومقيدته ترجيح ورکولې شي مطلب به داشي: "اي والسقط الذي فيه آثار الحياة يصلى عليه".

دويم فريق دلائل: - ① دَ دې باب آخري حديث نمبر١٦٩١د دوی مستدل دې په کوم کښې چه صفاالفاظ راغلي دي "الطفل لا يصلى عليه ولا يرث ولا يورث حتى يستهل"

② دَ مستدرك حاكم روايت هم د دوی مستدل دي الفاظ ئې دا دي: ((ان عليه السلام قال اذا استهل الصبي صلى عليه وورث رواه حاكم وقال اسناده صحيح))

[١٦٦٨] دَ جنازې څخه مخکښې د تلو حکم

١٦٦٨-()[٢٣] [١] وَعَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: [٢] «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ يَمْشُونَ أَمَامَ الْجَنَازَةِ». [٣] رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، [٤] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: وَأَهْلُ الْحَدِيثِ كَأَنَّهُمْ يَرَوْنَهُ مُرْسَلًا.

ترجمه: [١] د زهري څخه روايت دي چې د سالم څخه يي روايت اوکړو هغه د خپل پلار څخه چې عبدالله اوويل [٢] ما رسول الله ﷺ ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه وليدل چې د جنازي څخه مخکي به تلل. [٣] (احمد، ابوداؤد، ترمذي، نسايي، ابن ماجه) [٤] او ترمذي رحمه الله اوويل چې محدثين دا حديث مرسل ګڼي.

تسهيلات: قوله: يَمْشُونَ أَمَامَ الْجَنَازَةِ:

دجنازې شاته اومخې ته د تلو جواز: - يعنی حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه به دَ جنازې نه وړاندې وړاندې تلو. که چرې ضرورت وی نو په وخت دَ ضرورت دَ جنازې نه وړاندې تلل هم جائز دی او شاته تلل هم جائز دی.

د جنازې څخه وړاندې او روسته د تلو علتونه: - ① دَ وړاندې تلو علت دې چه کوم خلق جنازې سره دی دوی دَالله تعالی په وړاندې دَ دې دَپاره شفعاء او سفارشی دی او سفارشی وړاندې وړاندې ځی. بل وړاندې تلونکې دَ جنازې څه امدادهم کولې شی.

② دَ روستو تلو علت دادې چه هغه خلق به خپلې مخې ته جنازه وينی نودې نه به عبرت حاصلوی،

---

[1] اخرجه ابوداود فی كتاب الجنائز، باب المشی أمام الجنازة (رقم-٣١٧٩) والترمذی كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی المشی أمام الجنازة (رقم-١٠٠٧) والنسائی كتاب الجنائز/بمكان الماشی من الجنازة (رقم-١٩٤٤) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فی المشی أمام الجنازة (رقم-١٤٨٢) ومالك فی الموطا كتاب الجنائز/باب المشی أمام الجنازة (رقم-٨) واحمد فی المسند ٨/٢

د جنازې وړاندې یا روسته د تلو په افضلیت کښې مذاهب:-

لیکن چه کله په یوطرف کښې ضرورت نه وی نو بیا افضل څه دی آیا وړاندې تلل افضل دی که روستو تلل افضل دی. په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① دَ امام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیز وړاندې تلل افضل دی.

② دَ احناف په نیز روستو تلل افضل او بهتر دی.

داول فریق دلائل:- زیر بحث حدیث د دوی مستدل دې چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه به دَ جنازې نه وړاندې وړاندې تللو.

د اول فریق د دلیل جوابونه:- ①زیر بحث حدیث فعلی دې اودَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه حدیث قولی دې. او په حدیث فعلی اوقولی کښې چه کله تعارض راشی نوترجیح حدیث قولی ته وی.

② بل دَ جنازې نه مخکښې تلونکی روایات دَ جواز دَ بیان دَپاره دی او افضل هم دغه دی چه جنازې پسې شاته لاړشې. بهرحال دادَ اولی او غیر اولی مسئله ده دومره لوئی اختلاف نه دې.

دویم فریق دلائل:- ① راتلونکې دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه روایت نمبر ۲۴ د دوی مستدل دې. په کوم کښې چه "الجنازة متبوعة" الفاظ دی یعنی جنازې پسې شاته تلل پکاردی چه جنازه ستا تابع نه وی چه ته دَدې نه مخکښې ئی اودا شاته وی او کوم سړې چه دَ جنازې نه مخکښې لاړو نوهغه ورسره دَ تلو ثواب حاصل نه کړو.

② ((عن معمر عن ابن طاؤس عن ابیه قال ما مشی رسول الله صلی الله علیه وسلم الا خلف الجنازة)) (مصنف عبدالرزاق ،التعلیق الصبیح)

[١٦٦٩] جنازې پسې شاته د تلو افضلیت

١٦٦٩ـ(١)[٢٤] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «اَلْجَنَازَةُ مَتْبُوعَةٌ، [٣] وَلَا تُتْبَعُ لَيْسَ مَعَهَا مَنْ تَقَدَّمَهَا» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ [٤] قَالَ التِّرْمِذِيُّ: وَأَبُو مَاجِدٍ الرَّاوِي: رَجُلٌ مَجْهُولٌ.

ترجمه: [١] عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] جنازه متبوع ده [٣] او تابع نه ده، هغه سړي د دی سره نه دي کوم چې ځیني مخکې شو، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه [٤] امام ترمذي رحمه الله ویلي دي چې ابو ماجد راوي مجهول دي.

---

[1] اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب الإسراع بالجنازة (رقم-٣١٨٤) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی المشی خلف الجنازة (رقم-١٠١١) وابن ماجة کتاب الجنائز /باب ما جاء فی المشی أمام الجنازة (رقم-١٤٨٤) واحمد فی المسند ٤١٥/١



تسهيلات: قوله: الْجَنَازَةُ مَتْبُوعَةٌ:

د متبوعة دوه حيثيتونه:- أَيْ: حَقِيقَةً وَحُكْمًا: يعنى حقيقةً هم متبوع ده او حكماً هم، نو جنازې پسې به خلق ځی د جنازې نه به مخکښې مخکښې نه ځی نو که څوک د جنازې نه مخکښې مخکښې تلو هغه به جنازه کښې نه شمارلې کیږی.

د حدیث فوائد:- ① د جنازې سره پیدل تلل پکار دی. سوارهٔ تلل بهتر نه دی. او که څه عذر وی نو بیا اجازت دې.

② مړی سره سره فرښتې هم وی، واضحه دې وی چې دا د رحمت فرښتې وی یا د عذاب فرښتې وی چې مؤمن یا کافر سره وی. باقی کراما کاتبین یا دمحافظت فرښتې خو هر انسان سره وی.

[١٦٧٠] جنازې له اوږه ورکول

١٦٧٠ -(١)[٢٥] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «مَنْ تَبِعَ جَنَازَةً وَحَمَلَهَا ثَلَاثَ مِرَارٍ [٣] فَقَدْ قَضَى مَا عَلَيْهِ مِنْ حَقِّهَا». [٤] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] کوم سړي چې د جنازې سره لاړشی او هغه پورته کړي درې وارې (ځله) [٣] نو بیشکه هغه حق یې ادا کښې کوم چې په هغه وو، [٤] ترمذي، او هغه ویلي دي چې دا حدیث غریب دي

حل اللغات:- ① حَمَلَهَا: پورته کړی دا جنازه، ② قَضَى: پوره ئې کړو، ادائې کړو.

تسهيلات: قوله: وَحَمَلَهَا ثَلَاثَ مِرَارٍ:

درې ځله د مړی کټ ته د اوږې ورکولو حکم:- ابن الملک رحمه الله ددې مطلب بیانوی چې په لاره کښې جنازه اوړونکو سره مدد کوی. بیا ئې د ستړی والی په وجه پریږدی تر دې چې درې ځل ده د حاملینو سره مدد اوکړو نو ده د مړی حق ادا کړو. دا مؤمن میت سره خاص دی که دظالم جابر حکمران یا بدعتی، فاسق جنازه وی نو بیا دا حکم نه دې.

١٦٧١ - [٠] [١] وَقَدْ رَوَى فِي شَرْحِ السُّنَّةِ: [٢] «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَمَلَ جَنَازَةَ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ بَيْنَ الْعَمُودَيْنِ»

ترجمه: [١] او په شرح السنه کښې روایت دي [٢] چې نبي کریم ﷺ د سعد بن معاذ جنازه د دوو لرګو په مینځ کښې پورته کړي وه.

حل اللغات:- ① حَمَلَ: پورته ئې کړه، ② الْعَمُودَيْنِ: تثنیه ده، دوه لرګی

نوټ:- دترجمې څخه مطلب واضح دي.

(١) اخرجه الترمذی فی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب آخر (رقم ١٠٤١)

[١٦٧٢] په سورلۍ باندې جنازې سره تلو نکي ته تنبيه

١٦٧٢ـ(¹)[٢٦] [١] وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: [٢] «خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةٍ [٣] فَرَأَى نَاسًا رُكْبَانًا. فَقَالَ: أَلَا تَسْتَحْيُونَ؟ [٤] إِنَّ مَلَائِكَةَ اللّٰهِ عَلَى أَقْدَامِهِمْ وَأَنْتُمْ عَلَى ظُهُورِ الدَّوَابِّ». [٥] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ نَحْوَهُ. [٦] قَالَ التِّرْمِذِيُّ: وَقَدْ رُوِيَ عَنْ ثَوْبَانَ مَوْقُوفًا.

ترجمه: [١] ثوبان ﷺ روايت کوي [٢] چې مونږ د نبي کريم ﷺ سره د يوې جنازې سره ووتلو [٣] نو څه خلق يې سپاره وليدل نو وي فرمايل چې تاسو حيا نه کوئ [٤] چې د الله ﷻ فرښتې خو په قدمونو ځي او تاسو د ځاروو د شاګانو دپاسه ناست يئ (يعني سپاره ځئ) [٥] ترمذي، ابن ماجه، ابوداؤد د دې په مثل روايت کړې دې [٦] ترمذي ويلي دي چې بيشکه دا د ثوبان څخه موقف روايت شوي دي.

حل اللغات:- ① أَلَا تَسْتَحْيُونَ؟: آيا تاسو حيا نه کوئ؟.

تسهيلات: قوله : أَلَا تَسْتَحْيُونَ؟:

دحديث دوه فوائد:- ددې حديث څخه معلومه شوه چې د جنازې سره پيدل تلل پکار دي په سورلۍ باندې تلل ښه نه دي خوکه عذر وي نه بيا څه خبره نه ده

② د مړي سره فرښتې هم وي د مؤمن سره د رحمت فرښتې وي او د کافر سره د عذاب فرښتې وي باقي کراما کاتبين خو تولو خلقو سره وي.

[١٦٧٣] په جنازه باندې د سورة فاتحه قرآءت

١٦٧٣ـ(²)[٢٧] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: [٢] «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ عَلَى الْجَنَازَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] ابن عباس ﷠ څخه روايت دی [٢] چې رسول الله ﷺ په يوه جنازه کښې سورة فاتحه وويله. (ترمذي، ابوداؤد ، ابن ماجه)

تسهيلات: قوله : قَرَأَ عَلَى الْجَنَازَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ:

دامام شافعي مستدل:- دا حديث دامام شافعي رحمه الله مستدل دی چې د جنازې په مونځ کښې د سورة فاتحه لوستل جائز دي ددې جواب په مستقل بحث کښې ذکر شوی دی.

¹) اخرجه ابوداود فى كتاب الجنائز، باب الركوب فى الجنازة (رقم-٣١٧٧) والترمذى كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى كراهية الركوب خلف الجنازة (رقم-١٠١٢) وابن ماجة كتاب الجنائز /باب ما جاء فى شهود الجنائز (رقم-١٤٨٠)

²) اخرجه الترمذى كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ما جاء فى الصلاة على الأطفال (رقم-١٠٣١) وابن ماجة كتاب الجنائز /باب ما جاء فى القراءة على الجنازة (رقم-١٤٩٥)

[١٦٧٤] د جنازې په مانځه کښې د مړي د پاره د زړه د اخلاصه د دعا کولو حکم

١٦٧٤-(١)[٣٨] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«إِذَا صَلَّيْتُمْ عَلَى الْمَيِّتِ فَأَخْلِصُوا لَهُ الدُّعَاءَ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] هر کله چې تاسو په مړي باندې مونځ کوئ نو د هغه د پاره د زړه د اخلاصه دعا کوئ، (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات: - ① فَأَخْلِصُوا: یعنی په اخلاص د زړه سره دعا کوئ.

تسهیلات: قوله : فَأَخْلِصُوا لَهُ الدُّعَاءَ:

د حدیث څخه په دعا بعد صلاة الجنازه باندې استدلال: - ددې حدیث څخه بعضې ورونړو دا استدلال کړې دې چې د جنازې د مونځ څخه روسته د مړی د پاره په اخلاص سره دعا کول پکار دی لکه څنګه چې دلته په حدیث کښې دا الفاظ راغلی دی ((اذا صلیتم علی المیت فأخلصوا له الدعا)) وجه د استدلال دا ده چې په حدیث کښې شرط او جزا ده (یعنی اوله جمله شرط دې او دویمه جمله جزا ده. اونحوی قاعده ده چې په شرط او جزاء کښې تغائر وی شرط په جزا کښې داخل نه وی اوبیا په شرط کښې د ماضی صیغه او په جزاء کښې د امر صیغه ده. ددې څخه معلومه شوه چې د دعا حکم د جنازې د مونځ کولو څخه روسته دې. که د ((فأخلصوا له الدعاء)) څخه په مونځ کښې داخله دعا مراد واخستې شی نو په شرط او جزاء کښې به تغائر رانشی بلکه جزاء به د شرط جزء شی اود ماضی او د امر تقاضا به هم پوره نشی.

د استدلال جواب: - ددې رونړو دا استدلال ټیک نه دې کیدې شی چې دوی د شروع لفظ ته نه دی کتلې چې د جملې ابتداء د ،،اذا،، د کلمې څخه شوې ده. په ،،هدایه النحو،، کښې چې ئې د ،،اذا،، قاعده لیکلې ده د هغې خلاصه دا ده چې ،،اذا،، چې کله په ماضی باندې داخل شوې وی نو د استقبال معنی ورکوی عبارت دا دې ((ومنها اذا وهی للمستقبل اذا دخلت علی الماضی)) نو چې دې دواړو قاعدو ته اوکتلی شی نو کومه معنی چې زما ورونړو کړې ده هغه نه صحیح کیږی د دې مثال د قرآن پاک دا آیت دې ((واذا قرات القرآن فاستعذ بالله)) په دې کښې کلمه د اذا او فاء موجود دی خو کلمه د فاء د تعقیب د پاره نه ده او کلمه د اذا د مستقبل معنی ورکوی که چرته پورتنی د رونړو د قاعدې مطابق ترجمه اوکړې شی نو معنی به دا شی چې کله ته قرآن اولولې نو د هغې څخه روسته تعوذ وایه حالانکه دا د چا په نیز هم ټیک نه ده د غه شان په حدیث مذکور کښې هم د دوی قول صحیح نه دې پکار دی چې سوچ ورته اوکړی.

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب الدعاء للمیت (رقم-٣١٩٩) وابن ماجة کتاب الجنائز /باب ما جاء فی الدعاء فی الصلاة علی الجنازة (رقم-١٤٩٧)

[١٦٧٥] دَ جنازې جامع دعا

١٦٧٥ —(¹)[٢٩] [١] وَعَنْهُ قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى عَلَى الْجَنَازَةِ قَالَ: [٣] اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا، [٤] وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا، وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا، وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا، [٥] اللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ، [٦] وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيمَانِ، [٧] اللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ، وَلَا تَفْتِنَّا بَعْدَهُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي [٢] چې رسول الله ﷺ چې به د جنازې مونځ كولو نو فرمايل به يې [٣] اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا اللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيمَانِ اللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ وَلَا تَفْتِنَّا بَعْدَهُ (يا الهي زمونږ ژوندي وبخښې او زمونږ مړه وبخښې [٤] او زمونږ حاضر او غايب او زمونږ وړوكي او زمونږ مشران او زمونږ نارينه او زمونږ ښځې وبخښی [٥] يا الهي څوک چې زمونږ څخه ژوندي پاتې كړې نو هغه په آسلام ژوندي لرې [٦] او څوک چې زمونږ څخه وفات كړې نو په ايمان يې وفات كړې [٧] يا الهي مونږ د دې ثواب څخه محرومه مه كړې او مونږ د دې څخه روسته په فتنه كښې مه اچوې) (احمد، ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: - ① وَلَا تَفْتِنَّا: أَيْ: لَا تَجْعَلْنَا مَفْتُونِينَ بَعْدَ الْمَيِّتِ: يعنى مونږ ددې مړي نه پس په فتنه

تسهيلات: نوټ: - ددې حديث شرح په راروان حديث نمبر ١٦٧٦ كښې راروانه ده.

١٦٧٦ —(²)[٠] [١] وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ أَبِي إِبْرَاهِيمَ الْأَشْهَلِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، [٢] وَانْتَهَتْ رِوَايَتُهُ عِنْدَ قَوْلِهِ: وَأُنْثَانَا، [٣] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ: فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِيمَانِ وَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِسْلَامِ، [٤] وَفِي آخِرِهِ: وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهُ.

ترجمه: [١] او په يوروايت كې نسايي د ابي ابراهيم اشهلي څخه هغه د خپل پلار څخه نقل كړيدى [٢] او د هغه روايت تر وانثانا پورې ختم شو [٣] او د ابي داود په روايت كښې دي پس هغه په ايمان ژوندي لرې او په اسلام يې وفات كړې [٤] او د حديث په اخر كښې داسې دي چې مونږ د هغه څخه روسته ګمراه نه كړې.

تسهيلات: قوله: اللّٰهُمَّ اغْفِرْ:

د دعا جامعيت: - دادَ جنازې ډيره ښكلې اوجامع دعا ده په دې كښې دَ ژوندو مړو حاضرينو غائبينو ښځو سړو ماشومانو او مشرانو ټولو دپاره يو شان دعا ده. په دې كښې دا فرق هم نه راځي چه مخې ته مړى څوك اوڅومره دى يا ښځې دى يا ماشومان دى يا بوډاګان دى.

(¹) اخرجه الترمذى كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما يقول فى الصلاة على الميت(رقم-١٠٢٤)واحمد فى المسند ٣٦٨/٢

(²) اخرجه ابوداود فى كتاب الجنائز، باب الدعاء للميت (رقم-٣٢٠١) والترمذى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل المملوك الصالح(رقم-١٩٨٦)

خو په نورو دعاګانو کښې ضمائر دی په هغې کښې دَ مفرد او جمع ضمائر او دغه شان دَ مذکر او مؤنث ضمائر دی. فرق کول ضروری وی هم دغه وجه ده چه په سعودی عرب حرمین کښې دَ جنازې دَپاره کله اعلان کیږی نو دا هم واضح کولې شی چه مړې ښځه ده یا سړې دې یودې که زیات دی.

د جنازې په دعا کښې کمې په نښه کول: -دَ ائمه احناف په نیز عوام او خواص ټولو جنازو کښې هم دغه دعا کوی سره دَدې چه آخری دوه جملې چا ته یادې نه دی یعنی "اللهم لاتحرمنا اجره ولاتفتنا بعده" بهرحال علماء احناف له پکار دی چه دَعربو دَ علماؤ په شان هغه دعاګانې هم وائی کومې چه په احادیثو کښې ذکر دی. هغه ډیرې ښې دعاګانې دی.

[١٦٧٧] دَ یو مړی دَپاره دَ رسول الله ﷺ یو خاص دعا

١٦٧٧-(¹)[٣٠] [١] وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ: [٢] «صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، [٣] فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ فِي ذِمَّتِكَ وَحَبْلِ جِوَارِكَ، [٤] فَقِهِ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ، [٥] وَأَنْتَ أَهْلُ الْوَفَاءِ وَالْحَقِّ، [٦] اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] واثله ابن اسقع رضي الله عنه روایت کوي [٢] چې رسول الله ﷺ په مسلمانانو کښې په یو سړي مونږ ته مونځ راکړو [٣] نو ما د حضور ﷺ څخه واوریدل چې فرمایل یي یا الهي فلاني د فلاني ځوی په خپل آمان او خپله پناه کښې ولري [٤] دي د قبر د فتني څخه او د دوزخ د عذاب څخه خلاص کړي [٥] او ته صاحب وفا یي او ته صاحب حق یي [٦] یا الهي دي وبخښي او رحم پرې وکړي بیشکه ته بخښونکي مهربانه یي. (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات: - ① حَبْلِ: حبل رسئ ته وائی، خو مراد ترې قرآن دې لکه مرقات کې وائی. ② جِوَارِكَ: جوار دَ ګاونډی په معنی کښې دې. خو دلته ترې حفاظت مراد دې. ③ قِهِ: بچ کړې ده لره، ④ فِتْنَةِ الْقَبْرِ: د قبر فتنې، ددې نه مراد یا سوال او جواب دې یا نور مختلف عذابونه دی. ⑤ أَهْلُ الْوَفَاءِ: پوره کونکې ئې (وعدې لره).

تسهیلات:

قوله: وَحَبْلِ جِوَارِكَ:

د حبل الجوار غوره تفسیر: -دَدې جملې ډیرې معنې دی مګر ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه دَدې جملې دَ ټولو نه ښه معنی داده چه دَحبل نه قرآن کریم مراد واخستې شی. ﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا﴾ [سورت آل عمران: ١٠٣] کښې هم دَحبل نه مراد قرآن کریم دې او دَ جوار نه مراد امان او حفاظت دې او دلته اضافت بیانیه دې. اصل مقصود جوار دې حاصل

¹) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب الدعاء للمیت (رقم-٣٢٠٢) وابن ماجة کتاب الجنائز /باب ما جاء فی الدعاء فی الصلاة علی الجنازة (رقم-١٤٩٩)

معنی داسې شوه چه داسړې قرآن عظیم په مضبوطیاسره نیونکې وو هغه قرآن چه دَ امن او سلامتئی سبب اوذریعه دې.

[١٦٧٨] د مړو د بدئ ذکر کولو ممانعت

١٦٧٨—(١)[٣١] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٢] اذْكُرُوا مَحَاسِنَ مَوْتَاكُمْ [٣] وَكُفُّوا عَنْ مَسَاوِيهِمْ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] ابن عمر رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] تاسو د خپلو مړو نیکي ذکر کوئ [٣] او د هغوئ د بدئ د ذکر کولو څخه ځان ساتئ. (ابوداؤد ترمذي)

حل اللغات: - ① مَحَاسِنَ: خوبیانې، صفات، ② كُفُّوا: ای امْتَنِعُوا: منع شئ، ③ مَسَاوِيهِمْ: د سُوءِ جمع ده خلاف القیاس، بدئ او ګناهونه.

تسهیلات: قوله : اذْكُرُوا مَحَاسِنَ مَوْتَاكُمْ:

د مړو بنه ذکر کول: - یعنی دَ مړو شوو خلقو خوبیانې او نیکئی بیانوئی لیکن دَهغوی بدئی دَ مرګ نه پس مه بیانوئی مثلاً یوسړې یومړې لامبوی اوهغه په مړی کښې څه کرامت اولیدلو یا دَ لامبولونه علاوه دَمړی مخ اوپړقیدو یا خوشبوئی راؤچته شوه یا دَ لامبولو نه علاوه څه بله خوبی اولیدله نودا په عواموکښې بیانول مستحب دی. لیکن که هم په دې دوران کښې دَ مړی نه څه بدبوئی اوچته شی یائی مخ تور شی اوهغه اولیدلو نودا عوامو کښې بیانول حرام دی. علماؤ لیکلی دی چه دَمړو خلقو غیبت کول دَ ژوندو دَ غیبت کولو نه ډیر دَ نفرت قابل دی.

[١٦٧٩] دَ جنازې په مونځ کښې دَ امام دَ اودریدو ځائی

١٦٧٩—(٢)[٣٢] [١] وَعَنْ نَافِعٍ أَبِي غَالِبٍ قَالَ: [٢] «صَلَّيْتُ مَعَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَلَى جَنَازَةِ رَجُلٍ [٣] فَقَامَ حِيَالَ رَأْسِهِ [٤] ثُمَّ جَاءُوا بِجَنَازَةِ امْرَأَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ فَقَالُوا: [٥] يَا أَبَا حَمْزَةَ، صَلِّ عَلَيْهَا. [٦] فَقَامَ حِيَالَ وَسَطِ السَّرِيرِ [٧] فَقَالَ لَهُ الْعَلَاءُ بْنُ زِيَادٍ: هٰكَذَا رَأَيْتَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٨] قَامَ عَلَى الْجَنَازَةِ مَقَامَكَ مِنْهَا وَمِنَ الرَّجُلِ مَقَامَكَ مِنْهُ؟ قَالَ: نَعَمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. [٩] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ نَحْوُهُ مَعَ زِيَادَةٍ وَفِيهِ: فَقَامَ عِنْدَ عَجِيزَةِ الْمَرْأَةِ.

ترجمه: [١] نافع چې د هغه کنیت ابو غالب دي فرمایي [٢] چې ما د انس بن مالک رضي الله عنه سره د یوي جنازي (یعني د عبدالله ابن عمر رضي الله عنه د جنازي) مونځ اوکړو [٣] حضرت انس رضي الله عنه

[١]) اخرجه ابوداود فی کتاب الأدب/باب فی النهی عن سب الموتی (رقم-٤٩٠٠) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب آخر (رقم-١٠١٩)

[٢]) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب أین یقوم الإمام من المیت إذا صلی علیه (رقم-٣١٩٤) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء أین یقوم الإمام من الرجل والمرأة (رقم-١٠٣٤) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی أین یقوم الإمام إذا صلی علی الجنازة (رقم-١٤٩٤)

(چي امام وو) د جنازي د سر مخي ته ودريدلو (او مونځ يي ورکړو) [٤] بيا خلقو د قريشو د يوي ښځي جنازه راوړله او هغوئ اوويل [٥] اي ابوحمزه (دا د انس رضي الله عنه کنيت دي) د دې جنازي مونځ ورکړه [٦] نو حضرت انس رضي الله عنه د تخت چې په هغې جنازه وه د درميانه حصې مخې ته ودريدلو او مونځ يي ورکړو [٧] دي ليدلو سره علاء ابن زياده اوويل چې آيا تا رسول الله ﷺ د جنازي په مانځه کښې دغه شان ولاړ ليدلي دي [٨] چې رسول الله صلى الله عليه د ښځې په جنازه دغه شان ولاړ وو څنګه چې ولاړ وې (يعنى د ښځې سينې ته مخامخ) او د سړي په دغه شان ولاړ وو څنګه چې ته اودريږې حضرت انس رضي الله عنه وفرمايل هو، ترمذي ابن ماجه، [٩] ابوداؤد هم دا روايت د څه زياتي سره نقل کړي دي او د هغه په روايت کښې د فقام حيال وسط السرير په ځاي د **فَقَامَ عِنْدَ عَجِيزَةِ الْمَرَاةِ** (د ښځي په جنازه د هغې کوناټو برابرد لنډو په برابر اودريدو) الفاظ منقول دي.

حل اللغات:- ① حِيَالَ: أَيْ: حِذَاءَهُ وَمُقَابِلَهُ: يعنى ورسره برابر مخامخ، ② السَّرِيرِ: کټ،

تسهيلات: قوله : فَقَامَ حِيَالَ وَسَطِ السَّرِيرِ:

د شوافع مستدل:- په حديث نمبر١٦٥٧ کښې ددې مسئلې توضيح اوتشريح شوې ده.او داحديث دَ شوافع دليل دي. "عجيزة" شاته حصې ته عجيزه وائى دکوم ترجمه چه کوناټوسره کړې شوې ده.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٦٨٠] دَ ذمى د جنازې دَ پاره اودريدل

١٦٨٠ –(١)[٣٣] [١] عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ: [٢] «كَانَ سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ، وَقَيْسُ بْنُ سَعْدٍ قَاعِدَيْنِ بِالْقَادِسِيَّةِ، [٣] فَمَرَّ عَلَيْهِمَا بِجَنَازَةٍ فَقَامَا [٤] فَقِيلَ لَهُمَا: إِنَّهَا مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ، أَيْ: مِنْ أَهْلِ الذِّمَّةِ. [٥] فَقَالَا: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتْ بِهِ جَنَازَةٌ فَقَامَ [٦] فَقِيلَ لَهُ: إِنَّهَا جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ [٧] فَقَالَ: "أَلَيْسَتْ نَفْسًا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] عبدالرحمن ابن ابي ليلي فرمايي [٢] چې يوه ورځ سهل رضي الله عنه ابن حنيف او قيس رضي الله عنه ابن سعد په قادسيه کښې يو ځاي ناست وو [٣] د هغوئ مخې ته يوه جنازه تيره شوه د هغې په ليدو سره دواړه صحابه رضي الله عنهما ودريدل [٤] هغوئ ته اوويل شو چې دا جنازه د اهل الارض يعنى د ذمي ده [٥] نو دواړو صحابه وُ رضي الله عنهما وفرمايل چې دغه شان يوه ورځ د رسول الله ﷺ مخې ته يوه جنازه تيره شوه د هغې په ليدو سره حضور ﷺ ودريدلو [٦] حضور ﷺ ته عرض وشو چې دا خو د يو يهودي جنازه ده [٧] حضور ﷺ وفرمايل (نو څه وشو) آيا دا ساه لرونکى نه دي؟ (بخاري مسلم)

(١) اخرجه البخاري فى كتاب الجنائز/باب من قام لجنازة يهودى (رقم- ١٣١٢)

تسهيلات: قوله : بِالْقَادِسِيَّةِ:

د قادسيه مصداق: - د کوفې نه ۱۵ میله لرې عراق کښې دَ یوځائې نوم قادسیه دې چرته چه دَاسلام په اول زمانه کښې مجوسیانو سره صحابه کرامو یو تاریخي جنګ کړې وو اوفتح ئې حاصله کړې وه. مشرې دَ حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه په لاس کښې وه.

قوله : فَقَامَا: دادواړه حضرات دَ جنازې دَپاره ځکه اودریدل چه هغوی ته دَدې حکم موقوف اومنسوخ کیدوعلم نه وو. دَ حضرت علي رضي الله عنه دَ قول مطابق دا حکم منسوخ شوې دې.

قوله : مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ:

داهل ارض مصداق: - زمکې والا اهل ذمه ته وئیلی شی ځکه چه دې خلقو به دَمسلمانانو په زمکوکښې کارکولو اوهغه به ئې سمبالولې. یا دوی ته ځکه اهل الارض وائی چه دا خلق ذمي وو بې اختیاره وو لکه چه په ذلت او رسوائیئ کښې داخلق په زمکه کښې ورخښ شوی وو په دې وجه دوی ته دَ زمکې والا اووئیلې شو. دَ جنازې دَپاره پاسیدل او نه پاسیدلو مسئله مخکښې تیره شوې ده.

[١٦٨١] د جنازې د کیخودو څخه وړاندې د نه کیناستو د حکم نسخ

١٦٨١ - (١)[٣٤] [١] وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَبِعَ جَنَازَةً لَمْ يَقْعُدْ [٣] حَتَّى تُوضَعَ فِي اللَّحْدِ [٤] فَعَرَضَ لَهُ حَبْرٌ مِنَ الْيَهُودِ [٥] فَقَالَ لَهُ: إِنَّا هَكَذَا نَصْنَعُ يَا مُحَمَّدُ، [٦] قَالَ: فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: " خَالِفُوهُمْ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، [٧] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَبِشْرُ بْنُ رَافِعٍ الرَّاوِي لَيْسَ بِالْقَوِيِّ.

ترجمه: [١] عباده ابن صامت رضي الله عنه فرمایي [٢] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به د جنازې سره تلو نو تر هغه وخته پورې به نه کیناستلو [٣] تر څو پورې چې مړي به په قبر کښې نه وو ایښودل شوي [٤] یوځل یو یهودي عالم د حضور صلی الله علیه وسلم په مخکې پیش شو [٥] هغه عرض اوکړو چې اي محمده صلی الله علیه وسلم مونږ هم داسې کوو (چې تر څو پورې مړي په قبر کښې نه وي ایښودل شوي نو مونږ ولاړ یو) [٦] عباده رضي الله عنه وایي چې ددې څخه روسته حضور صلی الله علیه وسلم کیناستو اوحضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې تاسو د یهودیانو مخالفت کوئ. (ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه)
[٧] امام ترمذي رحمه الله فرمایي چې دا حدیث غریب دي او بشر ابن رافع چې د دې روأیت یو راوي دي قوي نه دي.

حل اللغات: - ① فَعَرَضَ: أَيْ: ظَهَرَ: رامخې ته شو. ② حَبْرٌ: أَيْ: عَالِمٌ: عالم (دا یهودی وو).

تسهیلات: قوله : فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

[1]) اخرجه ابوداود فی کتاب الجنائز، باب القیام للجنازة (رقم-٣١٧٦) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی الجلوس قبل أن توضع (رقم-١٠٢٠) واحمد فی المسند ٨٢/١

په جلوس کښې د یهودیانو مخالفت: – یعنی حضورپاك دَ یهودو په مخالفت کښې دَ قیام په ځائی کیناستل اختیار کړل. لکه دَ جنازې دَپاره اودریدل حضورپاك ترك کړل دې دَپاره چه په دې عمل کښې یهودو سره مشابهت رانه شی بلکه په هرڅیز کښې دَهغوی مخالفت وی. چنانچه رسول الله ﷺ امت ته حکم اوفرمائیل "خالفوهم" یعنی په دې عمل کښې دَ یهودو مخالف عمل خپل کړئی.

[١٦٨٢] دَ جنازې په لیدو نه اودریدل

١٦٨٢–(١)[٣٥] ١ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَنَا بِالْقِيَامِ فِي الْجَنَازَةِ ٢ ثُمَّ جَلَسَ بَعْدَ ذَلِكَ وَأَمَرَنَا بِالْجُلُوسِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ١ حضرت علي رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ به مخکې مونږ ته د جنازې په ليدو سره د اودريدلو د پاره فرمايل ٢ بيا وروسته به حضور ﷺ کيناستو او مونږ ته يې هم د ناستې د پاره فرمايل. (احمد)

تسهیلات:

قوله: ثُمَّ جَلَسَ بَعْدَ ذَلِكَ وَأَمَرَنَا بِالْجُلُوسِ:

جنازې ته د اودریدو دحکم نسخ: – ما قبل کښې دا مسئله وه چې جنازه لیدلو سره اودریدل پکار دی خو روستو دا حکم منسوخ شو جنازه کتلو سره اودریدل نه دی پکار.

اعتراض: – په حدیث پاك کښې راغلی دی چې حضرت نبی کریم ﷺ دیوې یهودی په جنازه لیدو اودریدلی وو؟

داعتراض درې جوابونه: – ① د حضرت نبی کریم ﷺ اودریدل صرف په دې وجه وو چې د حضرت نبی کریم ي په سر باندې دا جنازه تیره نه شی. دې کښې دې طرفته اشاره ده چې حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی (الإسلام یعلو ولا یعلی علیه) یعنی اسلام غالب کیدو دپاره راغلې دې مغلوب کیدو دپاره نه دې راغلې.

② جنازې سره فرښتې وی د فرښتو د آدب دپاره اودریدلو ،

③ د مرګ د ویرې د وجې او عبرت دپاره به جنازې ته اولیدله

[١٦٨٣] دَ جنازې دَپاره اودریدل منسوخ کیدل

١٦٨٣–(٢)[٣٦] ١ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ: ٢ «إِنَّ جَنَازَةً مَرَّتْ بِالْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ وَابْنِ عَبَّاسٍ ٣ فَقَامَ الْحَسَنُ وَلَمْ يَقُمِ ابْنُ عَبَّاسٍ ٤ فَقَالَ الْحَسَنُ: أَلَيْسَ قَدْ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِجَنَازَةِ يَهُودِيٍّ؟! ٥ قَالَ: نَعَمْ. ثُمَّ جَلَسَ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

---

(١) اخرجه احمد فی المسند ٨٢/١

(٢) اخرجه النسائی فی کتاب الجنائز /باب الرخصة فی ترک القیام (رقم- ١٩٢٤)

ترجمه: [١] محمد ابن سيرين رحمه الله فرمايي [٢] چې يو ځل د حسن ابن علي رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنه په مخکي يوه جنازه تيره شوه [٣] نو حضرت حسن رضي الله عنه د هغې په ليدو سره ودريدلو او حضرت ابن عباس رضي الله عنه ونه دريدلو [٤] حسن رضي الله عنه د ابن عباس رضي الله عنه دا عمل ليدو سره ورته وفرمايل چې آيا رسول الله ﷺ د يو يهودي د جنازي په ليدو سره ودريدلي نه وو؟ [٥] ابن عباس رضي الله عنه جواب ورکړو چې هو! بيشکه ودريدلي وو ليکن وروسته به حضور ﷺ د جنازې په ليدلو سره ناست وو. (نسايي)

تسهيلات: قوله: وَلَمْ يَقُمِ ابْنُ عَبَّاسٍ:

د يهوديانو د جنازې دپاره نه اودريدل: - حضرت حسن بصری رحمه الله به اول په فعل باندې عمل کول غوښتل او د دليل په توګه ئې هم دا عمل پيش کړو ليکن حضرت ابن عباس رضي الله عنه اوخودل چه بيشکه حضورپاك به په شروع کښې د يهودی يا غيريهودی هرې جنازې دپاره اودريدلو بيا به حضورپاك نه اودريدلو بلکه هم ناست به وو. د "ثم جلس" هم دغه مطلب دې چه دا عمل بيا متروك شوې وو.

[١٦٨٤] د يهودی د جنازې دپاره د نبی عليه السلام اودريدل

١٦٨٣ - ([١]) [٣٧] [١] وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ: [٢] «أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ كَانَ جَالِسًا فَمُرَّ عَلَيْهِ بِجَنَازَةٍ [٣] فَقَامَ النَّاسُ حَتَّى جَاوَزَتِ الْجَنَازَةُ، [٤] فَقَالَ الْحَسَنُ: إِنَّمَا مُرَّ بِجَنَازَةِ يَهُودِيٍّ [٥] وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى طَرِيقِهَا جَالِسًا [٦] وَكَرِهَ أَنْ تَعْلُوَ رَأْسَهُ جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ فَقَامَ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] جعفر ابن محمد رحمه الله (يعني حضرت جعفر صادق رحمه الله) د خپل پلار بزرګوار (حضرت محمد باقر رحمه الله) څخه دا روايت کوي [٢] چې يو ځل حضرت حسن رضي الله عنه بن علي رضي الله عنه په يو ځاي کښې ناست وو چې د هغه په مخکي يوه جنازه تيره شوه [٣] هغه خلق [چې هغوئ ته د دې مسئلي د منسوخۍ علم نه وو] د جنازی په ليدو سره ودريدل [او تر هغه پورې ولاړ وو] تر څو پورې چې جنازه تيره نه شوه [٤] حضرت حسن رضي الله عنه هغوئ ته وفرمايل چې اصل خبره دا ده چې د يو يهودي جنازه وړل کيده [٥] نو هغه وخت رسول الله ﷺ په لار کښې ناست وو [٦] حضور ﷺ دا خوښه نه کړه چې د يهودي جنازه د حضور ﷺ د سر مبارك دپاسه پورته تيره شي ځکه حضور ﷺ اودريدلو. (نسايي)

حل اللغات: - ① جَاوَزَتِ: أَيْ: تَعَدَّتِ: تيره شوه (جنازه). ② تَعْلُوَ: چه اوچت شی.

تسهيلات: قوله: فَقَالَ الْحَسَنُ:

د جنازې دپاره د نه اودريدو رائې: - خلاصه دا چه يو جنازه په مدينه منوره کښې خلقوسره تيريدله هغه خلق د جنازې دپاره اودريدل حضرت حسن رحمه الله هم موجود وو مګر اونه

[١]) اخرجه النسائی فی کتاب الجنائز /باب الرخصة فی ترک القيام (رقم-١٩٢٧)

دریدلو بلکه په خلقوباندې ئې اعتراض اوکړو چه تاسو ولې ولاړئې حضورپاک خوځکه اودریدلې ووچه حضورپاک په لاره کښې ناست وو اوذ یهودی جنازه اوړلې شوه نوحضورپاک مناسب اونه ګنړل چه دهغوی د مبارك سر دپاره دې د یهودی جنازه اوچتیدوسره تیره شی په دې وجه حضورپاك اودریدلو لهذا تاسو خلق هسې د اودریدو کوشش کوئی.

اعتراض: - دلته دا سوال پیدا کیږی چه حضرت حسن بصری رحمه الله دې نه وړاندې په حضرت ابن عباس رضی الله عنهما باندې دا اعتراض کړې وو چه ته ولې نه اودریږې لکه څنګه چه دې نه وړاندې حدیث کښې واقعه تیره شوه نودادلته په اودریدوباندې څنګه اعتراض کوی؟

جواب: - حضرت حسن رحمه الله ته چه ترکومې د دې حکم د منسوخ کیدو علم نه وو نو په دې باندې به ئې عمل کولو لیکن چه کله هغوی ته معلومه شوه اوابن عباس رضی الله عنهما ورته اوخودل نوبیاهغه پخپله منع شو څنګه چه دلته منع کول کوی. هسې داخبره وړاندې لیکلې شوې ده چه د جنازې دپاره د اودریدلو وجوهات مختلف دی کله دناګهانی واقعې دوجې نه اودریدل کیږی اوکله دملائکه د تعظیم اواحترام د وجې نه کیږی اوکله ددغه علت د وجې نه شوی دی کوم چه په دې حدیث کښې ذکر دی نوکه د څه وجوهاتو د وجې نه دقیام حکم موقوف شوې وی نودڅه نورو وجوهاتو د وجې نه باقی هم پاتې کیدې شی.

[١٦٨٥] دفرښتود تعظیم دپاره د اودریدو حکم

١٦٨٥- (١)[٣٨] [١] وَعَنْ أَبِي مُوسَى: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [٢] «إِذَا مَرَّتْ بِكَ جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ أَوْنَصْرَانِيٍّ أَوْمُسْلِمٍ فَقُومُوا لَهَا، [٣] فَلَسْتُمْ لَهَا تَقُومُونَ، إِنَّمَا تَقُومُونَ لِمَنْ مَعَهَا مِنَ الْمَلَائِكَةِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] ابو موسي رضی الله عنه روايي دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [٢] هر كله چي ستاسو په مخكي د يهودي يا د نصراني يا د مسلمان جنازه تيريږي نو د هغې په ليدو سره ودريږئ [٣] تاسو خود جنازي (د آداب او احترام) د پاره نه دريږئ بلكه د هغه فرشتو د پارره اودريږئ چي د جنازي سره وي. (احمد)

تسهیلات:

قوله: إِنَّمَا تَقُومُونَ لِمَنْ مَعَهَا مِنَ الْمَلَائِكَةِ

د فرښتو دپاره د نبی علیه السلام جنازې ته اودریدل: - ددې حدیث پاك نه معلومیږی چې حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم دیهودی جنازې دپاره اودریدلی نه وو بلکه د فرښتو د تعظیم په وجه ولاړ وو، باقی د یهودی، نصرانی او داشان دبل کافر جنازې دپاره اودریدلو حکم منسوخ دی.

(١) اخرجه احمد فی المسند ٣٩١/٤

[١٦٨٦] د فرشتو په وجه د نبی علیه السلام اودریدل

١٦٨٦ –(¹)[٣٩] [١] وَعَنْ أَنَسٍ: «أَنَّ جَنَازَةً مَرَّتْ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ [٢] فَقِيلَ: إِنَّهَا جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ [٣] فَقَالَ: "إِنَّمَا قُمْتُ لِلْمَلَائِكَةِ"». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې يوه جنازه تيره شوه نو حضور ﷺ د هغې په ليدو سره ودريدلو [٢] صحابه ؤ رضي الله عنهم عرض اوکړو چې دا خو د يو يهودی جنازه ده (د هغې په ليدلو سره ودريدل په پوهه کښې نه راځي؟) [٣] رسول الله ﷺ وفرمايل چې زه د جنازي په احترام کښې نه وم ودريدلي بلکه زه خو صرف د هغه ملايکو د تعظيم د پاره ودريدلي وم چې د جنازي سره ورسره وي. (نسايي)

تسهيلات:

نوټ: – ددې حديث شرح په د بل حديث په تسهيل کښې ذکر ده.

[١٦٨٧] په جنازه کښې کم ازکم د درې صفونو جوړولو حکم

١٦٨٧ –(²)[٤٠] [١] وَعَنْ مَالِكِ بْنِ هُبَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [٢] «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ فَيُصَلِّي عَلَيْهِ ثَلَاثُ صُفُوفٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا أَوْجَبَ» " [٣] فَكَانَ مَالِكٌ إِذَا اسْتَقَلَّ أَهْلَ الْجَنَازَةِ [٤] جَزَّأَهُمْ ثَلَاثَةَ صُفُوفٍ لِهٰذَا الْحَدِيثِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] مالک ابن هبيره رضي الله عنه روايت کوي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي [٢] هرکله چې يو مسلمان مړشي او په هغه د مسلمانانو په درې صفونو باندې مشتمل جماعت مونځ وکړي نو الله تعالى جل جلاله د هغه د پاره جنت او مغفرت واجبوي [٣] حضرت مالک رضي الله عنه چې به د جنازي په مانځه کښې سړي لږ وليدل [٤] نو د دې حديث په موجب به يې هغه په درې صفونو کښې تقسيمول. (ابوداؤد)

[١] وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ قَالَ: [٢] كَانَ مَالِكُ بْنُ هُبَيْرَةَ إِذَا صَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ [٣] فَتَقَالَّ النَّاسَ عَلَيْهَا جَزَّأَهُمْ ثَلَاثَةَ أَجْزَاءٍ، [٤] ثُمَّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٥] «مَنْ صَلَّى عَلَيْهِ ثَلَاثَةُ صُفُوفٍ أَوْجَبَ». وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ نَحْوَهُ.

ترجمه: [١] د ترمذي په روايت کښې دي [٢] چې مالک ابن هبيره چې به د جنازي مونځ کولو (يعنی د جنازي د مانځه اراده به يې وکړله) [٤] او د خلقو تعداد به يې کم وليدلو نو هغه به يې په درې حصو کښې (په درې صفونو کښې) تقسيمول [٤] بيا به يې ويل چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي [٥] د کوم سړي د جنازي مونځ چې درې صفونه وکړي الله تعالى جل جلاله د

¹) ليس تحت هذا الرقم شرح فی مرقات المفاتيح.

²) اخرجه ابوداود فی كتاب الجنائز/باب فی الصفوف علی الجنازة (رقم-٣١٦٦) والترمذی كتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/ ما جاء فی الصلاة علی الجنازة والشفاعة للميت (رقم-١٠٢٨) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فيمن صلی عليه جماعة من المسلمين (رقم-١٤٩٠)

هغه د پاره جنت واجبوي، ابن ماجه هم د دې قسم روايت نقل کړې دې.

حل اللغات: - ① أَوْجَبَ: أَيْ: مَغْفِرَتَهُ، وَعْدًا مِنْهُ وَفَضْلًا: يعنى دهغه مغفرت په الله باندې واجبونکې دې خو دا دالله تعالى مهرباني ده. ② اسْتَقَلَّ: أَيْ: عَدَّهُمْ قَلِيلًا: چه جنازې والا خلق به کم وو، ③ جَزَّأَهُمْ: أَيْ فَرَّقَهُمْ: تقسيم به ئې کړل يعنى جدا جدا صفونه به ئې کړل.

تسهيلات: قوله: أَوْجَبَ:

اشکال: -په اسلامى عقائدو کښې دَدې خبرې ذکر دې چه په الله تعالى باندې دَ چاهيڅ حکم واجب نه دې نه الله تعالى دَ چا په مخکښې جواب ورکونکې دې نه په څه وجه باندې مجبوردې. هَغه "احکم الحاکمين" دې په هغه باندې دَ چا هيڅ حکم واجب نه دې. اوس چه په دې حديث کښې دَ دريو صفونو دَ فضيلت باره کښې اووئيلې شو چه په الله تعالى باندې دَ دغه سړى مغفرت واجب کيږي؟

جوابونه: - ① دَدې مطلب دادې چه دا احساناً او اکراماً الله تعالى په خپله ذمه باندې اخستې دې پخپله ئې وعده کړې او دَ وعدې پوره کولوئې هم وعده کړې ده. لهذا دادَ بل چا دَ طرف نه لازم کړې شوې نه بلکه دَ رحمت اوشفقت په توګه الله تعالى پخپله په خپل ځان باندې لازم کړې ده. هم دغه مطلب دې دَ اوجب او وجب.

② علامه کرماني رحمه الله ليکلى دى په جنازه کښې دَ ټولو نه غوره صف هغه وى کوم چه په ټولو کښې آخرى وى ځکه چه مذهب اسلام په کامل توحيد باندې قائم دې مسلمانان نيت ترلو سره اګرچه دَمړى دَپاره دعا کوى ليکن دَمړى نعش مخې ته وى لهذا دَ جنازې دَ شروع په صفونو کښې دَدې وجې نه نقص راغلو که څوک کافر دې ته ګورى نوضرور به دَهغه خيال تيريږى چه دا خلق دَ خپل مړى عبادت کوى. په دې مشابهت سره دَ اول صفونو درجه کمه شوه.

[١٦٨٨] دجنازې په مانځه کښې د نبى عليه السلام دعا

١٦٨٨-(١)[٣١] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، ٢ «عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنَازَةِ: ٣ "اللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبُّهَا وَأَنْتَ خَلَقْتَهَا، ٤ وَأَنْتَ هَدَيْتَهَا إِلَى الْإِسْلَامِ، ٥ وَأَنْتَ قَبَضْتَ رُوحَهَا، ٦ وَأَنْتَ أَعْلَمُ بِسِرِّهَا وَعَلَانِيَتِهَا، ٧ جِئْنَا شُفَعَاءَ فَاغْفِرْ لَهُ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ ابوهريره رضي الله عنه به د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په باره کې دا روايت کولو ٢ چې حضور صلى الله عليه وسلم به د جنازې په مانځه کښې دا دُعا ويله: ٣ اللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبُّهَا وَأَنْتَ خَلَقْتَهَا وَأَنْتَ هَدَيْتَهَا لِلْإِسْلَامِ وَأَنْتَ قَبَضْتَ رُوحَهَا وَأَنْتَ أَعْلَمُ بِسِرِّهَا وَعَلَانِيَتِهَا جِئْنَا شُفَعَاءَ فَاغْفِرْ لَهُ **(ترجمه)** اي الهي ته د ده پروردګار يې، تا دي پيدا کړي دي ٤ او تا ده ته د اسلام هدايت ورکړې وو ٥ او اوس تا د ده روح

(١) اخرجه ابوداود فى كتاب الجنائز، باب الدعاء للميت (رقم-٣٢٠٠) واحمدفى المسند ٤٥٨/٢

قبض کړو [٦] (اي رب العلمين) ته د ده باطن هم د ټولو څخه زيات ښه پيژني او د ده ظاهر هم [٧] (اي الله) مونږ د دې بنده د شفاعت د پاره حاضر شوي يو ته دي او بخښي. (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: وَأَنْتَ قَبَضْتَ رُوحَهَا:

الله تعالى ته د روح قبض كولو د نسبت وجه:- اګر چې د روح قبض کول د ملك الموت کار دې مګر چونکه دا هغوئ د رب په حکم سره کوی ، په دې وجه ددې نسبت الله ﷻ طرفته دې ، لکه څنګه چې د الله ﷻ فرمان دي (اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا).

[١٦٨٩] د ماشوم په جنازې کښې د ابوهريره دعا

١٦٨٩—(١) [٤٢] [١] وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ: [٢] صَلَّيْتُ وَرَاءَ أَبِي هُرَيْرَةَ عَلَى صَبِيٍّ لَمْ يَعْمَلْ خَطِيئَةً قَطُّ [٣] فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: [٤] اللّٰهُمَّ أَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: [١] سعيد ابن مسيب فرمايي [٢] چې يوځل ما په حضرت ابوهريره رضي الله عنه پسې د يو داسې هلک د جنازې مونځ اوکړو چې د هغه څخه هيڅ کله څه ګناه شوي نه وه [٣] نو ما د ابوهريره رضي الله عنه څخه (په مانځه کښې) دا دعا کول واوريدل [٤] چې اي الله دي وړوکې ته د قبر د عذاب څخه پناه ورکړې. (مالک)

تسهيلات: قوله: لَمْ يَعْمَلْ خَطِيئَةً قَطُّ: ښکاره خبره ده چه دَماشوم ګناه نه وی او هغه ته ګناه معاف وی لهذا داسې وينا کول چه هغه چرې ګناه نه ده کړې مطلب هم دادې که هغه ګناه اوکړې هم نودَهغه ګناه کالعدم ده.

قوله: فَسَمِعْتُهُ: دَ تعليم په توګه حضرت ابوهريره رضي الله عنه په زوره دعاغوښتلې ده. "من عذاب القبر": دَدې مطلب دادې چه قبرکښې کوم خطرناك منظروی يوازې والې وی غم اوخفګان وی دَهغې نه دَدې ماشوم حفاظت اوکړه اودَ قبردَ راغونډيدلونه دې بچ کړه. دَ ماشوم نه به په قبرکښې فرښتې سوال جواب کوی که نه؟ نوراجح هم دغه دی چه سوال به نه کيږی. بعضې علماء دَدې قائل دی چه سوال جواب به کيږی. والله اعلم.

[١٦٩٠] دَماشوم دَ جنازې دعا

١٦٩٠—(٢) [٤٣] [١] وَعَنِ الْبُخَارِيِّ تَعْلِيقًا قَالَ: [٢] يَقْرَأُ الْحَسَنُ عَلَى الطِّفْلِ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ، [٣] وَيَقُولُ: اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا سَلَفًا، وَفَرَطًا وَذُخْرًا وَأَجْرًا.

ترجمه: [١] امام بخاري رحمه الله بطريقِ تعليق (يعني د صحيح بخاري په ترجمه الباب کښې بغير د سند دا حديث) نقل کړي دي [٢] چې حسن بصري رحمه الله به د ماشوم د جنازې په

(١) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الجنائز /باب التکبير علی الجنائز (رقم-١٨)
(٢) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز /باب قراءة فاتحة الکتاب علی الجنازة (تعليقا)

مانځه کښې د تکبیر اولی څخه روسته د سبحنک اللهم الخ په ځاي سورة فاتحه ویله [٣] او د دریم تکبیر څخه روسته به یي دا دعاکوله: اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا سَلَفًا وَفَرَطًا وَذُخْرًا وَأَجْرًا اي الله دا وړوکې د قیامت په ورځ زمونږ پیشوا (پیش رو) او مونږ د پاره ذخیره او ثواب جوړ کړې.

حل اللغات:- ① سَلَفًا: پیش رو، پیشوا، څوک چه مخکښې مړشی هغه د روستنو خلقو او متعلقینو دپاره سلف وی، لکه تابعین صالحین وغیره علماؤ ته چه سلف وئیلې شی ② فَرَطًا: اى أَجْرًا: یعنی ثواب، ③ ذُخْرًا: أَيْ: ذَخِيرَةً: یعنی ذخیره، ④ أَجْرًا: أَيْ: ثَوَابًا جَزِيلًا: یعنی ډیر ثواب

تسهيلات: قوله: يَقْرَأُ الْحَسَنُ عَلَى الطِّفْلِ:

دَ ماشوم په جنازه کښې دا دعا وئیلی شي "اللهم اجعله لنا فرطا واجعله لنا اجرا وذخرا واجعله لنا شافعا ومشفعا" په زیر بحث حدیث کښې دَ سلف لفظ راغلو فرط او سلف دَ معنې په اعتبار سره نیزدې نیزدې دی. سلف هغه مال ته وائی چه دَ ضرورت مطابق مخکښې منزل طرف ته اولیګلې شی دې دَ پاره چه هلته په کار راشی او فرط هغه دستې ته وائی چه دَ فوجی قافلې نه مخکښې لیګلې شی دې دَپاره چه هغه لار اوځائی هوار کړی. مراد دَ بچی شفاعت دې چه دې زمونږ دَپاره شفیع جوړشی.

[١٦٩١] د ناتمام (سقط) وړوکي ماشوم د جنازي د مونځ عدم ثبوت

١٦٩٥ ()[٤٣] [١] وَعَنْ جَابِرٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [٢] «الطِّفْلُ لَا يُصَلَّى عَلَيْهِ [٣] وَلَا يَرِثُ، وَلَا يُوْرَثُ، [٤] حَتَّى يَسْتَهِلَّ» [٥] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: وَلَا يُوْرَثُ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل [٢] د ناتمام وړوکي دي نه خو مونځ کیږی [٣] او نه دي هغه د چا وارث وګرځول شي او نه دي دهغه څوک وارث وي [٤] په شرط د دې چې نس (خیتې) څخه بهر راوتلو په وخت د هغه آواز ونه وځي (یعني په هغه وخت کښې چې د ژوند آثار پکی پیدا نشي چې دهغې تفصیل مخکې تیرشوي دي) [٥] دا روایت ترمذي او ابن ماجه نقل کړي دي خو ابن ماجه په خپل روایت کښې وَلَا يُوْرَثُ نه دي نقل کړي.

حل اللغات:- ① يَسْتَهِلَّ: اى تَصْوِيتُهُ عِنْدَ وِلَادَتِهِ: د پیدائش په وخت د ماشوم آواز کولو ته استهلال وائی.

تسهيلات:

قوله: الطِّفْلُ لَا يُصَلَّى عَلَيْهِ:

داحکامو په اعتبار دماشوم د پیدائش دوه صورتونه:-

① یعنی کوم ماشوم چې د پیدائش په وخت کښې آواز او نه کړی نو په هغه باندې به د

---

(١) اخرجه الترمذي في كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء في ترك الصلاة على الجنين حتى يستهل (رقم-١٠٣٢) وابن ماجة كتاب الفرائض/باب إذا استهل المولود ورث (رقم-٢٧٥١)

جنازې مونځ نه ادا کیږي او نه به هغه وارث وي. ځکه چې په ده باندې د حیات علامت ظاهر نه شو. او دې به صرف په یوه کپړا کښې اونغښتې شي او ښخ به کړې شي.

② دکوم ماشوم حیات چې دهغه د آواز یا حرکت نه ظاهرشي په هغه به دجنازې مونځ کیږي او دهغه نوم به ایخودې کیږي. دده به باقاعده کفن هم وي .او په ده باندې به د میراث احکام هم جاری کیږي.

[١٦٩٢] دَ جنازې په مونځ کښې د امام اومقتدی د برابر اودریدو حکم

١٦٩٢—()[٣٥] [١] وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: [٢] "«نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقُومَ الْإِمَامُ فَوْقَ شَيْءٍ [٣] وَالنَّاسُ خَلْفَهُ، يَعْنِي أَسْفَلَ مِنْهُ». وَرَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ فِي الْمُجْتَبَى فِي كِتَابِ الْجَنَائِزِ.

ترجمه: [١] ابو مسعود انصاري رضي الله عنه فرمايي [٢] چې رسول الله ﷺ د دي خبري څخه منع فرمايلي ده چې امام دي (تنها) په يو شي اوچت ولاړ وي [٣] او مقتديان دي په هغه پسی وروسته (د هغه څخه خکته) ولاړ وي. (دارقطني)

حل اللغات:- ① فَوْقَ: اوچت، ② أَسْفَلَ: لاندې یعنی ښکته.

تسهيلات: قوله: فَوْقَ شَيْءٍ: لکه څنګه چه په فرائض کښې ضروری دی چه دَامام اومقتدی دَاودریدو ځائی برابروی هم دغه شان دَ جنازې دَمونځ دَپاره هم ضروری دی چه امام دَ خپل مقتدی نه په زیات اوچت ځائی باندې نه وی اونه په ښکته مقام باندې وی.

قوله: وَالنَّاسُ خَلْفَهُ: دې نه صرف شاته اودریدل مرادنه دی بلکه مطلب دادې چه قوم دې دَخپل امام نه زیات ښکته نه وی داحکم صرف جنازې سره خاص نه دې بلکه دَ یوځائی دامسئله دَټولو فرائضودَپاره هم ده. کومه چه دې نه وړاندې ښه په تفصیل سره لیکلې شوې ده. صاحب مشکوة دَامام اودَ مقتدی دَ مساوات فی المکان یعنی په یوځائی دا مسئله کتاب الجنائزکښې نقل کړې ده په دې سره هغه دا اشاره کول غواړی چه څنګه دا مسئله په کتاب الصلوة کښې دَ مونځونوپه بیان کښې راغلې ده هم دغه شان دامسئله دَ جنازودَپاره هم ده، مونځونوسره خاص نه ده.

....

¹) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب الإمام یقوم مکانًا أرفع من مکان القوم (رقم-٥٩٨) والدار قطنی باب نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم أن یقوم الإمام فوق شيء والناس خلفه (رقم-١٨٨٢)

[٦] بَابُ دَفْنِ الْمَيِّتِ

دَ دفن کولو بيان

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية وعشرون حديثاً مشتملة على أربع عشرة مسئلة:

① فضيلة اللحد: ١، ٨، ٩.

② جعل القطيفة فى قبر النبى ﷺ : ٢.

③ تسنيم القبر وتسويته: ٣، ٤، ١٩.

④ الأمور المنهية على القبور: ٥، ٦، ٧، ١٦، ٢٨.

⑤ دفن الزائد من الواحد في قبر واحد: ١٠.

⑥ عدم نقل الميت من موضع الموت: ١١، ٢٥.

⑦ كيفية إدخال الميت فى القبر: ١٢، ١٣.

⑧ الذكر وقت وضع الميت فى القبر: ١٤.

⑨ فضيلة حثو التراب والرش على القبر: ١٥، ١٦، ٢٦، ٢٧.

⑩ البناء على القبر: ١٨.

⑪ ثواب انتظارمسلمين إلى تدفين الميت: ٢٠.

⑫ تعظيم الميت: ٢١، ٢٢، ٢٨.

⑬ القيام للدعاء بعد تدفين الميت :٢٣.

⑭ قراءة بعض الآيات بعد التدفين: ٢٤.

قال الله تعالى ﴿ ثُمَّ أَمَاتَهُ فَأَقْبَرَهُ ۝ ثُمَّ إِذَا شَاءَ أَنْشَرَهُ ۝ ﴾ [سورة عبس الايه: ٢١]

په اسلام کښې د جنازې مقام:- اسلام دَحضرت آدم علیه السلام اولاد او انسان ته دَعزت اواحترام مقام ورکوی نوچه کله دا انسان مړشی اودَ انسان وئیلومستحق هم پاتې نه شی بلکه دَ مرده او مړی په نوم دَده تعارف کیږی. نواسلام دغه وخت کښې هم ده ته دَ عزت مقام ورکوی چه که چرې یوانسان کافرهم وی بیا هم دَهغه وجود دَ مرغودَ شوکولواو درندګانودَ شلولونه بچ کوی چه دې دې په هغه خاوروکښې دفن کولوسره پټ کړې شی دکومې خاورې نه چه دَ ده خمبیر جوړشوې وو او په کومه باندې چه دا انسان په ژوند کښې تلو راتلو. دَدې برعکس هندوانودَ غلط سوچ لاندې دا انسان اور ته حواله کړو حالاتکه هم دغه انسان په ژرګونوحیلې اوبهانې جوړولوسره خپل ځان په اورکښې دَاچولو اوپه هغې کښې دَ

سوزیدلو نه بچ کولو. اوس چه کله هغه بې وسه شو نود ټولونه نیزدې خپلوان راغلو هغه ئې په اور کښې واچولو وې سیزلو.

دهندوانو اعتراض:- هندو که په مسلمانانو باندې دا اعتراض اوکړي چه تاسو خلقو په خپلو لاسونو باندې خپل نیزدې خپلون دَ زمکې لاندې کړو او په هغه باندې مو لوئی لوئی کانړي راوړل کیخودل داکوم احترام دې؟

داعتراض جواب:- انسان کله پخپله ژوندې وی نوهم دغه شان دَخاورې لرګو اوکانړونه دَخپل اوسیدودَ پاره مکان جوړه وی او په هغې کښې اوسیږی. قبرهم بالکل یومکان دې په کوم کښې دننه چه دَ کیناستو سملاستو ګنجائش وی خومړی ته اوس دَ تنګ راتګ یا کیناستو پاسیدو ضرورت نشته دې اونه دَهغه په وس کښې دی. لهذا دَهغه دَ ضرورت مطابق دَهغه دامکان بالکل مناسب دې سره دَدې چه دا تنګ دې خوبیاهم که دَ انسان ایمان وی اواعمال ئی ښه وی نوهم دغه تنګ مکان به دَ نظردَ حدپورې دَهغه دپارهٔ وسیع کولې شی. بهرحال اسلام دَ رحمت دین دې اودَ دې ټول احکام دَفطرت مطابق دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٦٩٣] د لحد جوړولو افضلیت

١٦٩٣-(¹)[١] ١ «عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي هَلَكَ فِيهِ: ٢ اَلْحِدُوا لِي لَحْدًا، ٣ وَانْصِبُوا عَلَيَّ اللَّبِنَ نَصْبًا، ٤ كَمَا صُنِعَ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ عامر بن سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه روایت کوي چې حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په خپله هغه مریضي کښې چې په هغې کښې وفات شو وفرمایل ٢ چې زما د دفن کولو د پاره لحد جوړ کړئ ٣ اوپه ما کچه خښتي اودروئ ٤ څرنګه چې د رسول الله ﷺ د پاره شوي وو. (مسلم)

حل اللغات:- ① لَحْدًا: بغلی قبر، ② انْصِبُوا: أَيْ: أَقِيمُوا: یعنی اودروئ، ③ اللَّبِنِ: الْمَضْرُوبُ مِنَ الطِّينِ مُرَبَّعًا لِلْبِنَاءِ: خښتو ته وائی کومې چه آبادئ دپاره د ختونه جوړیږی څلور ګوټه وی.

تسهیلات: قوله: اَلْحِدُوا لِي لَحْدًا:

د قبر جوړولو دوه طریقې:- دَ قبرجوړولودوه طریقې دی یولحددې چه دَ بغلی قبرپه نوم سره مشهوردې او دویم شاخی او صندوقی قبرپه نوم سره مشهوردې.

① دَ لحد او بغلی قبر طریقه داده چه اول په زمکه کښې دَ یوحدپورې کنده کولې شی اوبیادَ قبلې طرف ته لحد، سرنګ، غار او یوطاخ شان جوړولې شی هم په دغه طاخچه

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الجنائز/باب فی اللحد ونصب اللبن علی المیت (رقم) ٩٠ - (٩٦٦) والنسائی کتاب الجنائز/باب اللحد والشق (رقم-٢٠٠٧) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی استحباب اللحد (رقم-١٥٥٦)

کښې مرې کیخودې شي اومخې ته کاڼړې کیخودوسره بندولې شي. اوبیاچه کومه کنده کنستلې وه هغه په خاوره ډکولې شي. دَزمکې نه یولاس برابر اوچت ساتلوسره دَ اوښ دَ قوب په شان جوړولې شي دَ لحد دَپاسه دَ کاڼړو تختې کیخودوضرورت نه وي.

② د شق طریقه دا ده. چې په زمکه کښې څه حده پورې کنده اوکنستلې شي. اودهغې څلورو طرفونو ته دیوالونه جوړ کړې شي. اوکه ضرورت وي نو په مینځ کښې مړې کیخودې شي اودپاسه پرې غتې غتې تختې کیخودې شي. اود زمکې څخه ئې یو لویشت اوچت کړې شي اود اوښ د قب پشان جوړولې شي.

فوره طریقه:- دا دواړه طریقې په اسلام کښې جائزدي خوکه چرې زمکه مضبوطه وي او په لحد جوړولو کښې تکلیف نه وي نودَ شاخي قبرنه دَ لحد قبربهتردې. وړاندې حدیث نمبر۱۷۰۱ دَدې دَ فضیلت واضح دلیل دې.

د نبی کریم ﷺ د قبر کیفیت:- دَحضوراکرم دَ قبرباره کښې په صحابه کرامو کښې دَ رائې اختلاف پیداشوې ووچه لحد جوړکړې شي که شقي جوړکړې شي. بیاپه دې باندې مشوره اوشوه چه ابوطلحه رضی اللہ عنہ خوك چه په لحدجوړولو کښې ماهروو اول راغلونولحدبه جوړولې شي اوکه چرې ابوعبیده بن الجراح رضی اللہ عنہ کوم په شقي قبرجوړولو کښې ماهروو اول راغلو نو شقي قبربه جوړولې شي. ابوطلحه رضی اللہ عنہ اول راغلو نوهغه حضورپاك له لحدتیار کړو او رسول الله ﷺ په لحد کښې خښ کړې شو اودَ لحدخله په کچه خښتوسره بنده کړې شوه. وړاندې په حدیث نمبر۱۷۰۰ داقصه راروانه ده. حضرت سعدبن ابی وقاص رضی اللہ عنہ هم دغه وصیت کولو چه زما قبردَلحدجوړکړئی اوبیا ئې په کچه خښتواودرولوسره بند کړئی.

[١٦٩٤] په قبرکښې د کپړې وغیره خورولو ممانعت

١٦٩٣—([1])[٢] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: [٢] «جُعِلَ فِي قَبْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطِيفَةٌ حَمْرَاءُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضی اللہ عنہ فرمایي [٢] چې د رسول الله ﷺ په قبر کښې یو سور څادر خور کړل شوي وو. (مسلم)

حل اللغات:- ① قَطِيفَةٌ: څادر.

تسهیلات: قوله: قَطِيفَةٌ حَمْرَاءُ:

د قطیفه حمراء قصه:- دَحضورپاك یوخادم ووَدَ کوم نوم چه شقران وو. هغه دَ حضورپاك یوڅادر په پته دَحضورپاك په قبرکښې کیخودلې وو دَهغه خیال وو چه دادَ رسول الله ﷺ

[1] اخرجه مسلم فی کتاب الجنائز/باب جعل القطیفة فی القبر(رقم) ٩١ - (٩٦٧) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی الثوب الواحد یلقی تحت المیت فی القبر(رقم-١٠٤٨) والنسائی کتاب الجنائز/باب وضع الثوب فی اللحد (رقم-٢٠١٢) واحمد فی المسند ٣٥٥/١

څادر دې چه دَحضورپاك نه پس ئې بل څوك استعمال نه كړي. ليكن حضرت علي رضي الله عنه او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما هغه سخت اورټلو چه تا داحركت ولې اوكړو. بعضې علماء ليكلي دي چه كيدې شي داحضورپاك خصوصيت وو ليكن علامه ابن عبدالبر رحمه الله په استيعاب كښې ليكلي دي چه دا څادر په قبرباندې دَخاورې اچولونه وړاندې ويستلې شوې وو.

په قبر كښې لاندې د څه اچولو حكم: - علماؤ ليكلي دي چه په قبر كښې دَمړي لاندې څادر وغيره څه څيزكيخودل يا خورول مكره تحريمي دي. ځكه چه په دې كښې دَ بې ځايه مال ضياع ده اوعام خلق به دې نهَ څه نه څه جوړكړي.

[١٦٩٥] قبردَ اوښ دَ قب په شان د جوړولو افضليت

١٦٩٥ — (١) [٣] [١] وَعَنْ سُفْيَانَ التَّمَّارِ: [٢] أَنَّهُ رَأَى قَبْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسَنَّمًا، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] سفيان تمار رضي الله عنه څخه روايت دي [٢] چې هغه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم قبر مبارك وليدلو چې د اُوښ دَ قُب په شان وو. (بخاري)

حل اللغات: - ① مُسَنَّمًا: دادَ سنام نه دې دَ قب په معنى كښې دې.

تسهيلات: قوله: مُسَنَّمًا: يعنى دَ حضوراكرم صلى الله عليه وسلم قبر دَ اوښ دَ قب په شان وو. امام مالك رحمه الله امام احمد رحمه الله او امام ابوحنيفه رحمه الله مسلك داسې دې چه دَ قبر مسنم كيدل يعنى دَ اوښ دَ قب په شان كيدل افضل دي. امام شافعي رحمه الله فرمائى چه دَ قبر هوارول افضل دي. جمهورو دَ زير بحث نه علاوه دَ نورو ډيرو احاديثونه استدلال كړې دې.

[١٦٩٦] د قبرونو اوچت جوړولو ممانعت

١٦٩٦ — (٢) [٣] [١] وَعَنْ أَبِي الْهَيَّاجِ الْأَسَدِيِّ قَالَ: [٢] «قَالَ لِي عَلِيٌّ أَلَا أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٣] أَنْ لَا تَدَعَ تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهُ، [٤] وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] ابو الهياج اسدي (تابعي) رحمه الله وايي [٢] چې حضرت علي رضي الله عنه ماته وفرمايل چې آيا زه تا په هغه كار مامور نه كړم چې په هغې رسول الله صلى الله عليه وسلم زه مامور كړي وم [٣] او هغه كار دا دي چې ته كوم تصوير ووينې هغه مه په يرده بلكه هغه وران كړو [٤] او كوم قبر چې بلند ووينې هغه برابر كړه. (مسلم)

حل اللغات: - ① أَلَا أَبْعَثُكَ: آيا زه تا اونه ليږم يعنى مامور دې نه كړم، ② تِمْثَالًا: أَيْ: صُورَةً: بُت، ③ طَمَسْتَهُ: أَيْ: مَحَوْتَهُ: ورانه وه اوخراب كوه يې، ④ مُشْرِفًا: اوچت او لوړ قبر. ⑤ سَوَّيْتَهُ: برابر كوه يې.

---

[١] اخرجه البخارى فى كتاب الجنائز /باب ما جاء فى قبر النبى صلى الله عليه وسلم، وأبى بكر، وعمر رضى الله عنهما(رقم-١٣٩٠)

[٢] اخرجه مسلم فى كتاب الجنائز/باب الأمر بتسوية القبر (رقم) ٩٣ - (٩٦٩) و ابوداود كتاب الجنائز/باب فى تسوية القبر (رقم-٣٢١٨) والترمذى كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى تسوية القبور(رقم-١٠٤٩) واحمد فى المسند ٩٦/١

تسهیلات: قوله : أَنْ لَاتَدَعَ تِمْثَالًا:

په تصویرونو کښې استثنائی صورتونه:- بت او تصویرته تمثال وائی. خپل یا دَ یوژوندی څیزتصویر ساتل حرام دی اودا ورانول واجب دی البته که تصویر دومره نرې وی چه په زمکه باندې کیخودوسره ولاړ سړی ته دَدې دَ اندامونوتمیزممکن نه وی نوهغه تصویردَ وعیدنه مستثنٰی دې. دغه شان چه دَ بدن اهم حصې تصویر کښې شامل نه وی هغه تصویر هم دَوعیدنه خارج دې. دَاهم حصو مطلب دادې چه دَدې نه بغیرانسان ژوندې نه شی پاتې کیدې لکه سر اودَ سینې لاندینئی حصه چه ده.

قوله : مُشْرِفًا:

په قبر اوچتولو کښې مسنون طریقه:- اشراف دَاو چتوالی او کتلو په معنی کښې دې دلته اوچت او لوړ جوړ شوې قبر مراد دې چه هغه دومره او غورزه وه چه زمکې سره برابرشی او چه صرف دَ قبرستان نښه باقی پاتې شی دَکوم مقدار چه یوه لیشت دې اوهم دومره اوچتوالې مسنون دې.

یَو کتاب دې چه دَهغې نوم ازهار دې دَ فقه معتمد کتاب دې. په هغې کښې لیکلی دی چه دَ یو لیشت په اندازه پورې قبر دَ زمکې نه اوچت ساتل مستحب دی دې نه زیاتی مکروه دې. دا اوچته حصه په اندازه دَ یو لیشت پورې باقی ساتل مستحب دی او دَحضور پاك روضه مبارکه او ګنبد دَ دې نه مستثنٰی دی ځکه چه هلته څه عمارت روستو نه دې جوړ کړې شوې بلکه دَ اسلام حکم وو چه دَ نبی چرته انتقال اوشی هم هلته خښول ضروری دی. دَ حضور پاك وصال دَ حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها په حجره کښې اوشو اوهم هلته خښ کړې شو اودَمکان دننه راغلو په دې باندې دَ نورو خلقو قیاس کول جائزنه دی.

[١٦٩٧] دپاخه قبرونو جوړولو ممانعت

١٦٩٧- (¹)[٥] [١] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: [٢] «نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ، [٣] وَأَنْ يُبْنَى عَلَيْهِ، [٤] وَأَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه وایي [٢] چې رسول الله ﷺ منع فرمایلي ده د قبرونو د پخولو څخه [٣] او په هغې د عمارت د جوړولو څخه [٤] او په قبر دپاسه د کیناستلو څخه. (مسلم)

حل اللغات:- ① يُجَصَّصَ: چه پوخ جوړ کړې شی.

(¹) اخرجه مسلم فی کتاب الجنائز/باب النهی عن تجصیص القبر والبناء علیه (رقم) ٩٤ - (٩٧٠) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی کراهیة تجصیص القبور، والکتابة علیها (رقم-١٠٥٢) والنسائی کتاب الجنائز/الزیادة علی القبر (رقم-٢٠٢٧) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی النهی عن البناء علی القبور، وتجصیصها، والکتابة علیها (رقم-١٥٦٢) واحمد فی المسند ٢٩٩/٦

تسهیلات: قوله : أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ:

د قبرونو پخولو کراهت:- فقهاؤ لیکلی دی چه پاخه قبرونه جوړول په هغې کچه کول یا سیمنټ وغیره استعمالول ټول ناجائزدی او مکروه تحریمی دی. دغه شان په قبرونو ګنبد او قبې وغیره عمارتونه اودرول جائزنه دی بلکه په مسلمانانوباندې دَدې غورزول واجب دی سره دَدې چه دَ قبردَپاسه جمات ولې نه وی جوړشوې اودَ حضورپاك قبردَدې نه مستثنی دې. دَ حضورپاك خصوصیت دې یعنی دَ خصوصیت وجه داده چه شرعی قاعده ده چه دَ نبی کوم ځائی کښې انتقال اوشی هم هغه ځائی کښې به دفن کولې شی. دَ حضور اکرم انتقال دَعائشه بی بی په حجره کښې اوشو لهذا دَحضورپاك قبر هم په مکان کښې راغلو.

په قبرونو کښې ممنوعه کارونه:- علامه توربشتی رحمه الله فرمائی چه په قبرونوباندې دَ عمارت جوړولو هیڅ فائده هم نشته دې. او اهل جاهلیت سره مشابهت دې کوم چه حرام دې. جاهلیت کښې به خلقودَ لسو ورځوپورې دَ مړی په قبرباندې سورې کولو. په قبرونو باندې دَ عمارت په شان خیمه اودرول هم ناجائزدی. دغه شان په قبرونو باندې دَ کیناستو ټول صورتونه منع دې اونه دَ قبرطرف ته مونځ کول جائزدی. اهل بدعت دَحضورپاك دَ فرمان خلاف دی. هغه چا ښه وئیلی دی:

زندگی اس کی ہے ملت کے لئے پیغام موت   کر رہا ہو جو بجائے کعبہ قبروں کا طواف

[١٦٩٨] قبرونو ته د مونځ کولو او دې باندې د کیناستلو ممانعت

١٦٩٨-()[٦] [١] وَعَنْ أَبِي مَرْثَدٍ الْغَنَوِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «لَا تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ، [٣] وَلَا تُصَلُّوا إِلَيْهَا»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] ابو مرثد غنوي رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [٢] مه په قبرونو دپاسه کینئ [٣] او مه د قبرونو طرف ته مونځ کوئ. (مسلم)

تسهیلات: قوله : لَا تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ:

په قبرونو د کیناستو حرمت:- محقق ابن همام رحمه الله فرمائی چه په قبرونوباندې کیناستل او په دې ختل داټول منع دی اومکروه تحریمی دی. دَبعضې خلقوداطریقه ده چه هغوی دَخپلو خپلوانوقبرونوته دَ رسیدودَپاره په قبرونو باندې بې دَڅه تکلف نه خیژی دا ډیرزیات غلط کاردې. البته دَ ضرورت صورتونه دَدې نه مستثنی دی. مثلاً دَ قبرکنستل یا دَ مړی دفن

[١] اخرجه مسلم فی کتاب الجنائز/باب النهی عن الجلوس علی القبر والصلاة علیه (رقم) ٩٧ - (٩٧٢) وابوداود کتاب الجنائز/باب فی کراهیة القعود علی القبر (رقم-٣٢٢٩) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی کراهیة المشی علی القبور، والجلوس علیها، والصلاة إلیها (رقم-١٠٥٠) والنسائی کتاب القبلة/باب النهی عن الصلاة إلی القبر (رقم-٧٦٠)

کولومجبوری وی نوهغه جدا خبره ده. قبردَ تکیه په توګه استعمالول منع دی. په قبرستان کښې استنجاکول منع دی. قبرستان ته په تلوسره په ولاړه دعاغوښتل مسنون طریقه ده. ماثوردعاداهم ده. السلام علیکم دارقوم مؤمنین وانا ان شاء الله بکم لاحقون. دالاندینئی دعا اوسلام هم ثابت دي.

(السلام علیکم یا اهل القبور یغفر الله لنا ولکم انتم سلفنا ونحن بالاثروانا ان شاء الله بکم للاحقون)

قوله: وَلَا تُصَلُّوا إِلَيْهَا:

قبرونو ته د مونځ کولو حکم: - علماء لیکلی دی چه که یوسړې دَقبریا صاحب قبر دَ تعظیم په خاطر دَ قبرطرف ته مونځ کوی نودا صریح کفردي. اوکه صاحب قبر اودَ قبرعظمت په زړه کښې نه وی نوبیاهم دَ قبرونوطرف ته مونځ کول مکروه تحریمی دی. دغه یویوقبرښکلول اودَي نه چاپیره طواف کول منع دی.

[١٦٩٩] په قبربانديِ دَکیناستوسخته سزا

١٦٩٩ – (١) [٧] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«لَأَنْ يَجْلِسَ أَحَدُكُمْ عَلَى جَمْرَةٍ [٣] فَتُحْرِقَ ثِيَابَهُ [٤] فَتَخْلُصَ إِلَى جِلْدِهِ [٥] خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَجْلِسَ عَلَى قَبْرٍ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] که په تاسو کښې څوک په سکروټه (انګاره) باندې کیني [٣] او هغه انګار د هغه کپړه وسوزوی [٤] او د هغه بدن ته ورسي [٥] نو دا د دې څخه بهتره ده چې هغه د قبر دپاسه کیني. (مسلم)

حل اللغات: - ① جَمْرَةٍ: سکروټه (د اور)، ② فَتُحْرِقَ: نو اوسوزوی، ③ فَتَخْلُصَ: أَيْ: تَصِلُ: تردې چه اورسیږي.

تسهیلات: قوله: عَلَى جَمْرَةٍ فَتُحْرِقَ ثِيَابَهُ:

په قبرناستې په سکروټکې سوزیدوسره تشبیه: - په قبر د کښیناستو نقصان او ضرر په سکروټو باندې دناستې په نسبت زیات دی. ځکه چې سکروټو سره به صرف جامې او بدن اوسوزي او په قبر باندې ناستې سره ایمان او عمل ته نقصان رسی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٧٠٠] دَ نبی علیه السلام د قبر کیفیت

١٧٠٠ – (٢) [٨] [١] عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ: [٢] «كَانَ بِالْمَدِينَةِ رَجُلَانِ: أَحَدُهُمَا يَلْحَدُ، وَالْآخَرُ لَا يَلْحَدُ، [٣] فَقَالُوا: أَيُّهُمَا جَاءَ أَوَّلًا عَمِلَ عَمَلَهُ، [٤] فَجَاءَ الَّذِي يَلْحَدُ، فَلَحَدَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

[1] اخرجه مسلم فی کتاب الجنائز/باب النهی عن الجلوس علی القبر والصلاة علیه (رقم ٩٦ - (٩٧١) وابوداود کتاب الجنائز/باب فی کراهیة القعود علی القبر (رقم-٣٢٢٨) والنسائی کتاب الجنائز/التشدید فی الجلوس علی القبور (رقم-٢٠٤٤) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی النهی عن المشی علی القبور، والجلوس علیها (رقم-١٥٦٦)

[2] اخرجه البغوی فی شرح السنة ٣٨٨/٥ (رقم-١٥١٠)

ترجمه: ١ عروه بن زبير رضي الله عنه فرمايي ٢ چې په مدينه کښې دوو سړي وو (چې قبرونه به يې وښکل) په هغوئ کښې يو سړي (ابوطلحه رضي الله عنه انصاري) خو به بغلي قبر وښکلو او دويم سړي (ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه) به صندوقي قبر وښکلو ٣ حضور ﷺ چې وفات شو نو صحابه ؤ په متفقه طور سره دا اوويل چې په دې دواړو کښې چې کوم سړي مخکي راشي نو هغه دې قبر وکاږي (يعني که ابو طلحه رضي الله عنه مخکي راغې نو بغلي قبر دې وکاږي او که عبيده رضي الله عنه مخکي راغې نو صندوقي قبر دې وکاږي) ٤ آخر بغلي قبر وښکونکې مخکي راغې او د حضور ﷺ د پاره يې بغلي يعنى لحد والا قبر وښکلو. (شرح السنه)

حل اللغات: - ① يَلْحَدُ: لحد يعنى بغلى قبربه ئې جوړولو.

د راوي مختصر تعارف: —نوم عروه ابوعبدالله کنيت دَپلار نوم حضرت زبير رضي الله عنه دَمور بى بى نوم حضرت اسماء بنت ابوبکر رضي الله عنها.

ولادت: - دَحضرت عمر رضي الله عنه يا حضرت عثمان رضي الله عنه دَ خلافت په شروع کښې پيداشو. (٣) دَخپل رورحضرت عبدالله بن زبيردَشهيد کيدونه پس هم دَ هغه په وينا باندې عبدالملك دَحضرت عبدالله بن زبير دَخښولوحکم ورکړو دې دَعلم اوعلم مجمع البحرين وو ځکه چه پلار حضرت زبير بن العوام رضي الله عنه دَ رسول الله ﷺ حوارى وواودَ هغه نيکه حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه اودَهغه ترور حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها ام المؤمنين وه اودَهغه مور بى بى حضرت اسماء رضي الله عنها ذات النطاقين وه اودَ هغه رورحضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه يو صاحب علم صحابى وو. په هغه کښې ډير خصوصيات وو مثلاً صبر اواستقامت عبادت او رياضت صبراوشکر دَ دنيانه بې رغبتى اوسخاوت وغيره کښې ئې خپل يومثال وو. د حديثو سره ئې يوخاص شوق وو حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها چه اعلم الناس وه (۴) دَهغې پوره علمى ذخيره هغوى په خپله سينه کښې محفوظ کړې وه. هم پخپله فرمائى چه دَترور بى بى دَ وفات نه پس څلور پنځه کاله وړاندې ما دَهغې ټول احاديث يادکړى ووکه دَهغې وفات هم په هغه وخت کښې شوې وې نوماته به دَهغې دَيوحديث دَ باقى پاتې افسوس نه وو(۵) ۹۴ھ کښې دَمدينې په مضافاتو کښې وفات شو. (۶)

دَ نوروحالاتودَپاره به دَ دې کتابونومطالعه فائده منده وى. ① تهذيب التهذيب ۱۸۲/۷ ② ابن اثير ۲۹۱/۴ ③ طبقات ابن سعد ۱۳۴ ④ تهذيب الاسماء ۳۲۲/۱ ⑤ تذکرة الحفاظ ۵۳/۱ ⑥ ابن خلکان ۳۱۶/۱ .۳۰

تسهيلات: **قوله:** أَحَدُهُمَا يَلْحَدُ، وَالآخَرُ لَا يَلْحَدُ:

د رجلان مصداق: - ددې نه مراد حضرت طلحه انصارى رضي الله عنه ، حضرت ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه دى.

دشق اولحد په اعتبار سره د قبر دوه قسمونه:-

① حضرت طلحه ﷺ د نبی کریم ﷺ د وفات په وخت کښې قبر جوړولو دپاره زر راغلو نو هغوئ لحد جوړ کړو.

② حضرت ابوعبیده ﷺ به شق والا قبر جوړولو. ددې روایت نه هم معلومیږی چې لحد افضل دې. ځکه چې د انبیاء کرامو قبرونه لحد وی او شق هم جائز دې ، که چرې دا جائز نه وې نو هیڅ یو صحابی به دا نه خوښولو.

دلحد افضلیت:- ددې روایت نه هم معلومیږی چې لحد افضل دې. ځکه چې د انبیاء کرامو قبرونه لحد وی او شق هم جائز دې ، که چرې دا جائز نه وې نو هیڅ یو صحابی به دا نه خوښولو.

[١٧٠١] دَلحدفضیلت

١٧٠١-(١)[٩] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«اللَّحْدُ لَنَا، وَالشَّقُّ لِغَيْرِنَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضی الله عنهما روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] لحد (یعني بغلي قبر) زمونږ دپاره او شق (یعني صندوقي قبر) د نورو د پاره دي. (ترمذي، ابوداؤد ، نسایي ، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① اللَّحْدُ: بغلی قبر ، ② الشَّقُّ : شاخی او صندوقی قبر ته شق وائی.

تسهیلات: قوله : اللَّحْدُ لَنَا، وَالشَّقُّ لِغَيْرِنَا:

دحدیث په مفهوم کښې درې اقوال:-

① لحد زمونږ دَپاره دې یعنی دَ انبیاء کرامو دَپاره لحد دې او شق دَ غیر انبیاء دَ پاره دې.

② لحد دَ امت محمدیه دَپاره دې اوشق دَ پخوانو امتونو دَپاره وو یعنی دَهغوی شق ډیر خوښ وو او زمونږ لحد ډیر خوښ دې.

③ لحد زمونږ دَپاره دې یعنی دَ اهل مدینه دَپاره دې ځکه چه دَهغه ځائی زمکه دَ لحد دَپاره مناسب ده او شق دَمدینې نه علاوه مسلمانانو دَپاره دې ځکه چه دَهغه ځائی زمکه دَ لحد دَپاره سازګار نه ده بلکه دَ شق دَ پاره مناسب ده. بهرحال لحد افضل دې دکوم نوم چه بغلی قبر هم دې اودَې په مقابله کښې شق دې. کوم ته چه صندوقی قبر هم وائی.

١٧٠٢-(٢)[٠] [١] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ.

ترجمه: [١] او امام احمد رحمه الله دا روایت د جریر بن عبدالله څخه نقل کړي دي.

---

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجنائز/باب فی اللحد (رقم-٣٢٠٨) والترمذی فی السنن کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی قول النبی صلی الله علیه وسلم اللحد لنا، والشق لغیرنا (رقم-١٠٤٥) والنسائی کتاب الجنائز/باب اللحد والشق (رقم-٢٠٠٩) وابن ماجه کتاب الجنائز/باب ما جاء فی استحباب اللحد (رقم-١٥٥٤)

[2] اخرجه ابن ماجة فی السنن کتاب الجنائز/باب ما جاء فی استحباب اللحد (رقم-١٥٥٥) واحمد فی المسند ٣٥٧/٤

[۱۷۰۳] د قبر د ژوروالی مقدار

۱۷۰۳-()[۱۰] [۱] وَعَنْ هِشَامِ بْنِ عَامِرٍ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ أُحُدٍ: [۲] احْفُرُوا وَأَوْسِعُوا [۳] وَأَعْمِقُوا، وَأَحْسِنُوا، [۴] وَادْفِنُوا الِاثْنَيْنِ وَالثَّلَاثَةَ فِي قَبْرٍ وَاحِدٍ، [۵] وَقَدِّمُوا أَكْثَرَهُمْ قُرْآنًا»، رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، [۶] وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ إِلَى قَوْلِهِ: وَأَحْسِنُوا.

ترجمه: [۱] هشام ابن عامر رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ د غزوه احد په ورځ وفرمايل [۲] چې قبرونه اوکنئ او قبرونه فراخ جوړکړئ [۳] او ژور جوړکړئ او هغه ښه جوړکړئ (يعني قبرونه هوار جوړوي او د دننه څخه يي د خاوري خځلو وغيره څخه صفا کوي) [۴] او په يو يو قبر کښې دوه دوه او دري دري دفن کړئ [۵] او په هغه کښې مخکي [يعنی د قبلي طرفته] هغه ږدي چاته چې زيات قرآن ياد وو. (احمد ترمذي ابوداؤد نسايي) [۶] او ابن ماجه رحمه الله دا روايت تر لفظ احسنو پورې نقل کړي دي.

حل اللغات:- ① احْفُرُوا: قبرونه اوکنئ، ② أَعْمِقُوا: قبرونه ژور جوړ کړئ.

تسهيلات: قوله: قَالَ يَوْمَ أُحُدٍ:

په غزوه احد کښې د شهيدانو د تدفين طريقه:- دې نه مراد جنګ احد دې. په دې غزوه کښې ۷۰ صحابه کرام رضي الله عنهم شهيدان شوي وو او اکثر صحابه زخمي شوی وو. سخته ګرمي وه او په سخته زمکه کښې قبرونه جوړول وو. په دې وجه په يولحد کښې به دوه دوه دري دري صحابه کرام رضي الله عنهم دفن کولې شو او دَ اعزاز په توګه حضورپاك دَ قرآن پاك حافظ او عالم دَ نورو نه وړاندې دَ قبلې طرف ته دکيخودو حکم ورکړو. دَدې نه دَحضورپاك مقصود دَ قرآن تعظيم او اعزاز وو دې دَپاره چه خلق زيات نه زيات قرآن ياد کړي.

قوله: وَأَعْمِقُوا:

د قبر د ژور کولو مقدار:- يعنی قبر ښه ژورولوسره اوکنئی. دې نه معلومه شوه چه قبر ښه ژور کنستل مسنون دی. دغه شان مړې دَ ځناورو وغيره دَ آفات نه محفوظ پاتې کيږی. دَ شيخ مظهر رحمه الله وينا ده چه قبر دومره ژورولوسره کنستل پکاردی که يوسړې په هغې کښې ورکوز شی او په قبرکښې اودريږی اودواړه لاسونه پورته اوچت کړی نوچه دَهغه دَ لاس ګوتې دَ قبر غاړې پورې اورسی.

....

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجنائز/باب فی تعميق القبر(رقم-۳۲۱۵) والترمذی کتاب الجهاد عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی دفن الشهداء (رقم-۱۷۱۳)

[١٧٠٤] دَ مرده دَ يوځائي څخه بل ځائي ته د بدلولو حکم

١٧٠٤-(١)[١١] ١ «وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ ٢ جَاءَتْ عَمَّتِي بِأَبِي لِتَدْفِنَهُ فِي مَقَابِرِنَا، ٣ فَنَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٤ رُدُّوا الْقَتْلَى إِلَى مَضَاجِعِهِمْ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، وَلَفْظُهُ لِلتِّرْمِذِيِّ.

ترجمه: ١ حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې کوم وخت چې د اُحد غزا وشوه ٢ نو زما ترور زما د پلار مړي اخستو سره راغله چې هغه په خپل قبرستان کښې دفن کړې ٣ ليکن د رسول الله ﷺ د طرف څخه يو اعلانچي اعلان اوکړو ٤ چې شهيدان دي د هغوئ د شهيد کيدو ځاي ته ورسول شي. (احمد، ترمذي، ابوداؤد، نسايي، دارمي، الفاظ د ترمذي دي)

حل اللغات:- ① عَمَّتِي: ترور (د پلار خور). ② اَلْقَتْلَى: د قتيل جمع ده، مراد ترينه مقتول دي، دلته شهيدان مراد دى. ③ مَضَاجِعِهِمْ: أَيْ: مَقَاتِلِهِمْ: يعنى دشهادت ځايونه.

تسهيلات: قوله: رُدُّوا الْقَتْلَى:

د شهيدانو په خپل مقتل کښې د دفن کولو حکم:- يعنى حضورپاك حکم ورکړو چه دَاحد شهيدان هغه ځائى ته واپس راوړئى چرته چه هغوى شهيدان شوى وو. په جنګ احد کښې ۷۰ صحابه رضي الله عنهم شهيدان شوى وو. ګډوډ حالت وو اول خودا عالم وو چه دا مشکل کيدل چه څوك سرې خپل خپلوان پيژندلې شو ځکه چه کافرانودَ هغوى شکلونه وران کړى وو. اوس چه چا هم خپل رشته دار پيژندلو دَهغوى دَ اوچتولو اودَ مدينې منورې قبرستان ته دَ رسولو کوشش ئى شروع کړو. چنانچه دَ څه شهيدانو جنازې چه کله اوچتې شوې اوحضورپاك ته معلومه شوه نو حضورپاك دَ دغه شهيدانودَ اوړلونه منع اوفرمائيله او دَ واپس کولوحکم ئى اوکړو.

د يوځائي څخه بل ځائې د مړى منتقل کولو په حکم کښې مذاهب:-

اوس دَدې ځائى نه دا مسئله راوځى چه مړې دَ يوځائى نه بل ځائى ته منتقل کول جائز دى که نه؟ ① بعضې علماء فرمائى لکه چه څنګه په دې حديث کښې مړې دَ يوځائى او يوښار نه بل ښارطرف ته منتقل کول رسول الله ﷺ منع کړل دَدې ممانعت په رڼاکښې منتقل کول منع دى څوك منتقل کول نه دى پکار.

د عدم منتقل کولو دليل:- مخکښې دَ حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها په حديث نمبر ۱۷۱۸ کښې هم راغلى دى چه عبدالرحمن بن ابى بکر رضي الله عنه خلقو دَ مکې دَ مضافات نه مکې ته منتقل کړې

(١) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجنائز/باب فى الميت يحمل من أرض إلى أرض وكراهة ذلك (رقم-٣١٦٥) والترمذى كتاب الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى دفنّ القتيل فىّ مقتله (رقم-١٧١٧) والنسائى كتاب الجنائز/أين يدفن الشهيد (رقم-٢٠٠٤) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فى الصلاة على الشهداء ودفنهم (رقم-١٥١٦) واحمد فى المسند ٢٩٧/٣

وو نو حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل که چرې زه موجود وې نو نه به مې منتقل کولو.
کتاب ازهار کوم چه دَتجهیز اوتکفین اودَمړو دَ قبرونو متعلق یو مستند کتاب دې په هغې کښې لیکلی دی چه مړې دَ یوځائی نه بل ځائی ته نه منتقل کولوباندې زیر بحث حدیث مضبوط دلیل دې چه حضورپاك دَمنتقل کولونه منع فرمائیلې ده.

دعذر په وخت کښې د مړی منتقل کولو جواز: – علامه یحیی رحمه الله فرمائی که چرې واقعی څه شرعی عذر اومعقول مجبوری وی نومړې دَ یوځائی نه بل ځائی ته منتقل کولې شی دې نه بغیرمنتقل کول جائز نه دی.

د تدفین نه پس د مړی منتقل کولو حکم: – محقق ابن همام رحمه الله فرمائی که په دوه میله فاصله باندې مړې دې نو په دومره فاصله باندې منتقل کول جائز دی. معلومه شوه چه دَ زیاتې فاصلې پورې منتقل کول منع دی. هم په دې سلسله کښې دامسئله هم ده چه مړې دَ دفن کولونه پس راویستل یا قبر کولاوول جائز نه دی. تردې که چرته څه سخته شرعی مجبوری وی نوهغه جدا خبره ده.

صاحب هدایه دَ هدایه نه علاوه په یوکتاب کښې لیکلی دی که دَ یوسړی انتقال په یوښاریه کښې اوشی نوهغه دَ دغه ښار نه بل ښارته منتقل کول مکروه دی ځکه چه دا یوبې فائدې محنت اومشقت دې. بلکه علماؤ لیکلی دی که دَغسل او جنازې نه بغیریو مسلمان دفن کړې شو نوبیا هم هغه دَ قبر نه راویستل جائز نه دی.

[١٧٠٥] د مړی قبرته د کوزولو طریقه

١٧٠٥–(١)[١٢] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ ② «سُلَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ». رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ.

ترجمه: ① ابن عباس رضي الله عنه فرمایي ② چې رسول الله ﷺ [قبر ته د خکته کولو په وخت] د سر مبارک د طرف څخه خکته کړل شو. (شافعي)

حل اللغات: – ① سُلَّ: دمجهول صیغه ده، په مزه مزه رابښکلو ته وائی.

تسهیلات:

قوله: سُلَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ:

قبر د مړی د کوزولو کښې دوه طریقې: – مړې قبرته دکوزولودوه طریقې دی. ① مړی دَ قبرکس طرف ته کټ کښې کیخودې شی او بیاسر اوړلوسره دَ قبردَ خلې پورې راوړلې شی اوبیاقبرته کوزکړې شی دې طریقې ته سل وائی. "السلال" دَ رابښکلو په معنی کښې دې.
② مړې دَ قبر په هغه غاړه باندې کیخودې شی کوم چه دَ قبلې طرف ته دې اوبیا دَ قبلې

(١) اخرجه البیهقی فی السنن والشافعی فی مسنده ص: ٣٦٠

دَطرف نه دې قبر ته کوز کړې شي

قبر ته د مړی کوزولو په افضله طریقه کښې مذاهب:-

دواړه طریقې جائزدی. البته په دې کښې لږشان اختلاف دې چه غوره طریقه کومه یوه ده؟

① شوافع حضراتو سل غوره ګرځولې دې

② احناف دَ قبلې دَطرف نه مړې قبر ته کوزول افضل ګرځولی دی.

د اول فریق دلیل:- زیربحث حدیث د دوی مستدل دې چه حضورپاک دَ سل په ذریعه قبر کښې کوز کړې شوې وو.

داول فریق د دلیل جوابونه:- ① دَ حضوراکرم ﷺ کټ دیوال سره لګیدلې وو. کله چه دَ حضورپاک انتقال اوشو نودَ حضورپاک دَپاره هم هغه ځائی کښې قبراوکنستلې شو لهذا هلته دَ قبلې طرف نه دفن کول ممکن نه وو نوهغه دَ یوعذر اومجبورئی صورت وو.

② هغه دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم یوعمل وو اواحنافوچه دَ کوم روایت نه استدلال کړې دې هغه دَ حضورپاک خپل عمل اوخپله طریقه ده.

③ دَحضوراکرم ﷺ دفن کول او قبرته کوزولوسره متعلق احادیثوکښې اختلاف دې. دَابوداؤد یوروایت کښې په واضحه توګه موجود دی چه حضوراکرم ﷺ دَ سل په ذریعه سره نه بلکه دَ قبله طرف نه قبرکښې کوز کړې وو. ابن ماجه هم دغه شان نقل کړې دی.

د دويم فریق دلیل:- دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه په واضحه توګه ذکر دی چه حضورپاک یوصحابی رضی الله عنه دَ قبلې دَ طرف نه دفن کړې وو دَ سل طریقه ئی نه ده خپله کړې.

داختلاف نوعیت:- بهرحال که سل وی یادَ قبلې طرف وی دواړه طریقې جائزدی. اختلاف په اولی اوغیراولی کښې دې په جواز اوعدم جوازکښې نه دې. په دې باب کښې وړاندې حدیث نمبر ۱۷۱۹ کښې راځی کوم چه دَامام شافعی مضبوط دلیل دې په کوم کښې چه حضورپاک دَ یوصحابی په تدفین کښې دَ سل عمل اختیارکړې دې.

[۱۷۰۶] قبرکښې دَقبلې دَطرف څخه دَمړی کوزول

۱۷۰۶-(¹)[۱۳] ۱ وَعَنْهُ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ قَبْرًا لَيْلًا ۲ فَأُسْرِجَ لَهُ بِسِرَاجٍ فَأَخَذَهُ مِنْ قِبَلِ الْقِبْلَةِ ۳ وَقَالَ: رَحِمَكَ اللَّهُ إِنْ كُنْتَ لَأَوَّاهًا تَلَّاءً لِلْقُرْآنِ». ۴ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ: إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ.

ترجمه: ۱ ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي چې (یو ځل) یوه شپه رسول الله ﷺ [د یو مړي په قبر کښ د اینښودلو دپاره] په قبر کښې خکته شو ۲ د حضور ﷺ د پاره چراغ (ډیوه) بل کړل

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی الدفن باللیل (رقم-۱۰۵۷)

شوه حضور ﷺ مړي د قبلې طرف څخه ونيولو (او هغه يې په قبر کښې خکته کړو) [۳] او دا يې وفرمايل چې الله تعالى ﷻ دې په تا رحم وکړي، ته د الله ﷻ د خوف څخه ډير ژړيدونکې او د قرآن کريم ډير زيات ويونکې وې (او د دې څيزونو په سبب ته د رحمت او مغفرت مستحق يې) [۴] دا حديث ترمذي نقل کړي دې او په شرح السنه کښې دي چې د دې روايت اسناد ضعيف دې.

حل اللغات:- ① فَأُسْرِجَ: ډيوه بله کړې شوه (يا حضور ﷺ دپاره يا مړي دپاره) ② لَأَوَّاهًا: ډيره زياته عاجزي کول، ژړل او دعا کولو ته وائي. ③ تَلَّاءً: د مبالغې صيغه ده، أَيْ: كَثِيرَ التِّلَاوَةِ: ډير زيات قرآن لوستونکې.

تسهيلات: قوله: فَأَخَذَهُ مِنْ قِبَلِ الْقِبْلَةِ:

دقبلې د طرفه د مړده د داخلولو فضيلت:- دې نه دَ ائمه احناف مسلك ثابتيږي چه دَتدفين په عمل کښې دَ سل په ځائی دَ قبلې دَ طرف نه داخلول زيات افضل دی. اګرچه دواړه طريقې جائز دی.

د سلول د مستدلاتو دوه جوابونه:- ① احناف وائی چه کوم ځائی دَ سلول يعنی د خپو د طرفه مړې قبرته داخلول ، عمل په احاديثوکښې ذکر دې هغه خويا دَ مکان دَ تنګوالی دَ وجې نه شوې دې لکه پخپله دَ حضورپاك تدفين کښې عارضه مخې ته شوې وه

② دَ بيان دَ جواز دَپاره شوې دې چه دَ قبلې طرف نه سره دَدې چه افضل دې ليکن سل هم جائز دې.

قوله: إِنْ كُنْتَ لَأَوَّاهًا تَلَّاءً لِلْقُرْآنِ:

د مذکوره صحابی دوه خصوصيات:- حضورپاك ﷺ دَدغه صحابی دَ دوو خصوصی خوبيانو ذکرفرمائيلې دې:

① يودا چه هغه سړې دَ الله تعالی دَ ويرې نه ډيرزيات ژړاکونکې وو.

② دويم دا چه دې سړی به دَ قرآن کريم تلاوت زيات کولو. په دې حديث کښې په واضحه توګه باندې ذکر دی.

[۱۷۰۷] د مړی سپارلو دعا

١٧٠٧-(١) [١٤] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَدْخَلَ الْمَيِّتَ الْقَبْرَ قَالَ: [٢] بِسْمِ اللّٰهِ، وَبِاللّٰهِ، وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ، [٣] وَفِي رِوَايَةٍ: وَعَلَى سُنَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ» [٤] رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَرَوَى أَبُودَاوُدَ الثَّانِيَةَ.

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجنائز /باب فی الدعاء للميت إذا وضع فی قبره (رقم-٣٢١٣) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/ ما يقول إذا أدخل الميت القبر(رقم-١٠٤٦) وابن ما جة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی إدخال الميت القبر(رقم-١٥٥٠) واحمد فی المسند ٢٧/٢

ترجمه: [١] ابن عمر رضي الله عنه فرمايي چې نبي كريم ﷺ چې به مړي په قبر كښې ښكته كولو نو دا به يې فرمايل [٢] بِسْمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ دا مړي مونږ د الله جل جلاله په نوم سره، د الله جل جلاله د حكم مطابق او د رسول الله ﷺ په شريعت (په قبر كښې ښكته كوو) [٣] او په يو روايت كښې د وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ په ځاى وَعَلٰى سُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ دى (يعني دلته خو د رسول الله ﷺ په شريعت منقول دي او په يو دويم روايت كښې د دې په ځاي د رسول الله ﷺ په سنت نقل شوي دي) [٤] احمد، ترمذی، ابن ماجه، او ابوداؤد په دويم روايت كښې (چې په هغه كښې د ملة په ځاي سُنَّةِ دي) نقل كړي دي.

تسهيلات: قوله : بِسْمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ:

دمړی قبر ته د كوزولو مسنون دعا:- ما قبل احاديثو كښې دمړی قبر ته د كوزولو ذكر وو. په دې حديث پاك كښې دمړی قبر ته د كوزولو دعا ذكر ده.

[١٧٠٨] په قبر باندې خاوره اچول او اوبه شيندل

١٧٠٨-(١) [١٥] [١] وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ مُرْسَلًا": [٢] «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَثَى عَلَى الْمَيِّتِ ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ بِيَدَيْهِ جَمِيعًا، [٣] وَأَنَّهُ رَشَّ عَلَى قَبْرِ ابْنِهِ إِبْرَاهِيمَ، [٤] وَوَضَعَ عَلَيْهِ حَصْبَاءَ» " [٥] رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ، وَرَوَى الشَّافِعِيُّ مِنْ قَوْلِهِ: رَشَّ.

ترجمه: [١] او حضرت امام جعفر صادق بن محمد رحمه الله د خپل پلار (حضرت امام باقر رحمه الله) نه بطريقِ ارسال نقل كوي [٢] چې رسول الله ﷺ په خپل دواړو لاسونو سره ذري لپې دكولو سره خاوره په مړي واچوله [٣] او حضور ﷺ د خپل ځوى ابراهيم په قبر اوبه وشيندلې [٤] (او د علامت د پاره يې) په قبر سنګريزې (كاڼړی) كېښودلې. [٥] شرح السنه، او امام شافعي رحمه الله دا حديث د رش څخه تر آخره پوری نقل كړې دي.

حل اللغات:- ① حَثَى : د رَمى په وزن دې، أي: قَبَضَ التُّرَابَ وَرَمَاهُ: موټې ئې د خاورو نه ډك كړو او په قبر كښې واچولې. ② رَشَّ : اوبه ئې اوشيندلې، ③ حَصْبَاءَ: اى الْحَصَى الصِّغَارُ: واړه كاڼړی،

تسهيلات: قوله : ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ:

په قبر باندې څو موټی خاورې اچولو حكم:- موټې ډكولوسره خاوره اچولودپاره د حثيات لفظ استعمال كړې شوې دې. حثيات لپه ډكولوسره خاورې اچولوته وائی. په مسلمانانو باندې لازم دی چه دتدفين عمل مكمل كړی اود تكميل داحصه ده چه په قبر باندې خاوره واچولې شی. اګرچه كاريګراومزدوركارپه بيلچو وغيره باندې خاوره اچوی ليكن په عامو مسلمانانو باندې دمړی د عزت په توګه دا حق دې چه دهغه په قبرباندې يويو موټې ډك كړی اوخاوره پرې واچوی. د مسند احمد په يوكمزوری اوضعيف روايت كښې راغلی دی

(١) اخرجه البغوى فى شرح السنة ٤٠١/٥ حديث رقم ١٥١٥

چه حضورپاك به دَخاورې اچولو په وخت داسې عمل كولو چه كله به ئې رومبۍ موټې دکولوسره خاوره اچوله نو ﴿ مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ ﴾ [سورة طه الايه: ۵۵] به ئې لوستلو اوچه كله به ئې دويم موټې دكولوسره خاوره اچوله نو ﴿ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ ﴾ [سورة طه الايه: ۵۵] به ئې فرمائيل او په دريم ځل ﴿ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى ﴾ [سورة طه الايه: ۵۵] فرمائيل. كله چه خاوره مكمل شي اوقبردَ اوښ دَقُب په شان جوړشي نو بيا مسنون طريقه داده چه په قبر باندې اوبه چنړكاؤكړې شي دې دَپاره چه دوړې وغيره كيني اوخاوره كلكه شي. خاوره اچول هم مسنون دی او اوبه چنړكاوول هم مسنون دی.

قوله : عَلٰى قَبْرِ ابْنِهِ إِبْرَاهِيمَ:

د ماريه قبطيه تعارف:- دَ مصرمقوقس بادشاه كوم وخت دَ حضورپاك خط اولوستلو نوډير خوشحاله شو اودَ رسول الله ﷺ په خدمت كښې ئې يومصرې اس دَ تحفې په توګه راؤليږلو او يوه وينځه ئې هم راروانه كړه دَكومې نوم چه ماريه قبطيه رضي الله عنها وو. دا دَ بريره خوروه. دَ ماريه قبطيه دَ خيټې نه حضرت ابراهيم رضي الله عنه پيداشو او ۱۶يا ۱۷ مياشتې ژوندې وو بيا هغه وفات شو نوحضورپاك دَهغه په وفات باندې اوژړل. پخپله ئې هم اوژړل اونورئې هم اوژړول اودَهغه په قبرباندې ئې سره كاڼړې كيخودل دامسنون عمل اوس هم ژوندې دې.

[۱۷۰۹] په قبرونو د ختلو اوورباندې دليكلو ممانعت

۱۷۰۹ –()[۱۲] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجَصَّصَ الْقُبُورُ [۲] وَأَنْ يُكْتَبَ عَلَيْهَا، [۳] وَأَنْ تُوطَأَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ د دې خبري څخه منع فرمايلي ده چې قبرونه دي ګچ (پاخه) كړل شي، [۲] په هغې دي وليكل شي، [۳] او دا چې هغه د پښو سره پامال شي، (ترمذي)

حل اللغات:- ① يُجَصَّصَ: چه پوخ جوړ كړې شی، (په سيمټ وغيره سره). ② يُكْتَبَ: چه اوليلكې شی، ③ تُوطَأَ: أي: بِالْأَرْجُلِ: چه خپو سره پامال شی.

تسهيلات: قوله : أَنْ يُجَصَّصَ:

د قبرونو چونه كولو د ممانعت وجه :- دَدې ليوولو (پخولو) نه دَممانعت وجه داده چه قبرستان دارالبلی او دارعبرت دې هلته زينت اوتكلف كول اسراف سره سره بې فائدې هم دی او اصل خبره داده چه حضورپاك منع فرمائيلې يا كه بل څه وجه وی اويا نه وی دَ حضوراكرم

() اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی كراهية تجصيص القبور والكتابة عليها (رقم-۱۰۵۲)

ﷺ منع کول دَ تپولو نه لویه وجه ده. بعضې علماء په خاوره سره لیوولو ته جائز وائی لیکن علماء له پکاردی چه دَدې اجازت نه ورکوی ځکه عوام به وړاندې کیدو سره څه نور عمل شروع کړی.

قوله: وَأَنْ يُكْتَبَ عَلَيْهَا:

په قبر د لیکلو حکم:- یعنی حضوراکرم په قبرونو باندې دَ الله اودَهغه دَ رسول ﷺ نوم او نورې کتبې او اشعار وغیره لیکلو نه منع فرمائیلې ده ځکه چه دَالله اودَهغه دَ رسول دَ نومونو بې حرمتئی کیدو خطره ده سپی متیازې کوی. دغه شان دَ قرآن آیاتونه لیکل منع دی علماؤ دا هم مکروه لیکلی دی چه په قبر باندې څه کتبه اولګولې شی او په هغې باندې دَ مړی نوم وغیره اولیکلې شی.

بعضې علماء فرمائی چه که چرې دَ قبر نه په څه فاصله باندې دَمړی متعلق څه بورډ وغیره باندې لیکل اوکړې شی نودابه جائزوی.

بهرحال دا تپولې حیلې اوبهانې دی عوامو او خواصو لـه پکاردی چه په قبرونو باندې دې سره خواؤشا لیکلو نه منع شی. نن صبا په دې باندې صبر نه دی بلکه چرته خو په قبرونو باندې عمارتونه جوړولې شی پنکهې لګولې شی بلبونه لګولې شی او بعضې قبرونو باندې ائرکنډیشن هم لګولې شوی دی. ﴿اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ﴾

د شیخ سعدی واقعه:- شیخ سعدی بابا رحمه الله په ګلستان کښې دَ یوغریب هلك اودَ یومالدار هلك مناظره نقل کړې ده. قصه داسې اوشوه چه دَ غریب هلك غریب پلار مړ شو اودَمالدار هلك هغه مالداره پلار مړشو. دَ غریب سړی ځوئی دَ خپل پلار قبر دَ ساده خاورې نه جوړ کړو او پریخودو لیکن دَ مالداره سړی ځوئی دَ مال په نشه کښې دَ پلار په قبر باندې پوره خرچه اوکړه او سنګ مرمرلګولوسره ئی په هغې باندې کتبې اولګولې اودَ قبرپه غاړو باندې ئی آیاتونه او احادیث اولیکل اوپه ښکلی او مزیدارو کانړو باندې ئی دَ پلار قبر ښائسته کړو. او بیائی دَ فخر په توګه دَ غریب سړی ځوئی ته اووئیل ستادَ پلار په قبر باندې دَ خاورې دَ یوڅو لوټو نه علاوه نور څه کیخودل. زمادَ پلار قبر ته لږ شان اوګوره چه څنګه مې ښکلې کړې دې. دَ غریب سړی ځوئی اووئیل چه ستا دَ پلار په قبر باندې قرآنی آیت لیکلې شوې دې. دَدې بې احترامی به کیږی په دې باندې به باران وریږی او سپی به پرې متیازې کوی "واسگان بروشاشند" او کله چه په قیامت کښې خلق دَ قبرونونه پاسی نوزما پلار به جنت ته رسیدلې وی او ستا پلار به دَ دغه غټو غټو کانړو لاندې خښ پروت وی.

[١٧١٠] د تدفين په وخت په خاوره د اوبو شيندل

١٧١٠ــ(١)[١٧] [١] وَعَنْهُ قَالَ: " «رُشَّ قَبْرُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٢] وَكَانَ الَّذِي رَشَّ الْمَاءَ عَلَى قَبْرِهِ بِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ، [٣] بِقِرْبَةٍ بَدَأَ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ [٤] حَتَّى انْتَهَى إِلَى رِجْلَيْهِ» " رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.

ترجمه: [١] او حضرت جابر رضي الله عنه روايت کوي چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په قبر مبارک اوبه پاشل شوي وي [٢] او هغه سړي چې هغه اوبه پاشلي وي حضرت بلال بن رباح وو [٣] هغه مشک اخستو سره د سر د طرف څخه په قبر اوبه پاشل شروع کړل [٤] او تر پښو پورې يي وشيندلي (بيهقي)

حل اللغات:- ① رُشَّ: اوبه ئې پرې چړکاؤ کړې وې، ② قِرْبَةٍ: مشک.

تسهيلات:

قوله: رُشَّ قَبْرُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

په خاوره باندې د چړکاؤ کولو حکمت:- په حديث مبارك کښې د اوبو چړکوکولو طريقه خودلې شوې ده چې د سر طرفنه دې شروع کړې شي. او پښو باندې دې اختتام اوشي. د اوبو اچولو حکمت دا نقل کړې شوې دې چې قبر نه ښاؤره لاړه نشي او تازه ښاؤره ختيه شي او مضبوطه شي. (مرقاة).

[١٧١١] دَ قبر نشاندار کولو حکم

١٧١١ــ(١)[١٨] [١] وَعَنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ أَبِي وَدَاعَةَ قَالَ: [٢] «لَمَّا مَاتَ عُثْمَانُ بْنُ مَظْعُونٍ [٣] أُخْرِجَ بِجَنَازَتِهِ، فَدُفِنَ، [٤] أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا أَنْ يَأْتِيَهُ بِحَجَرٍ، [٥] فَلَمْ يَسْتَطِعْ حَمْلَهَا فَقَامَ إِلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَسَرَ عَنْ ذِرَاعَيْهِ. [٦] قَالَ الْمُطَّلِبُ: قَالَ الَّذِي يُخْبِرُنِي عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٧] كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِ ذِرَاعَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ حَسَرَ عَنْهُمَا، [٨] ثُمَّ حَمَلَهَا فَوَضَعَهَا عِنْدَ رَأْسِهِ، [٩] وَقَالَ: أَعْلَمُ بِهَا قَبْرَ أَخِي، [١٠] وَأَدْفِنُ إِلَيْهِ مَنْ مَاتَ مِنْ أَهْلِي». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت مطلب رضي الله عنه بن ابي وداعه فرمايي [٢] چې کوم وخت حضرت عثمان رضي الله عنه ابن مظعون وفات شو [٣] نو د هغه جنازه بهر ته راوړلې شوه او دفن شو [٤] [د دفن کولو څخه چې فراغت وشو] نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم يو سړي ته حکم اوکړو چې يو غټ کاڼي راوړي [چې په قبر باندې د علامت د پاره کيښودل شي] [٥] هغه سړي کاڼي نشو پورته کولې نو حضور صلى الله عليه وسلم پخپله د هغې د پورته کولو د پاره ودريدلو او د خپلو دواړو لاسونو لستوڼي يي راپورته کړل [٦] د حديث راوي حضرت مطلب فرمايي کوم سړي چې ما ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا حديث بيان کړو هغه اوويل [٧] لکه چې دا وخت هم د حضور صلى الله عليه وسلم د مبارکو

---

[1] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجنائز /باب فى جمع الموتى فى قبر والقبر يعلم (رقم-٣٢٠٦)
[2] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجنائز /باب فى جمع الموتى فى قبر والقبر يعلم (رقم-٣٢٠٦)

لاسونو سفین والی زما په نظر کښې ګرځي کوم وخت چې حضور ﷺ هغه خلاص کړې وو[٨] بهرحال حضور ﷺ هغه کاڼي پورته کړو او د حضرت عثمان رضي الله عنه د قبر سرته یې کیخودو [٩] او وې فرمایل چې ما د دې په ذریعه د خپل ورور په قبر علامت اولګولو[١٠] اوس چې زما په کور والؤ کښې چې څوک وفات کیږي زه به یې د ده سره دفن کوم. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① حَسَرَ: أَيْ: كَشَفَ وَأَبْعَدَ كُمَّهُ: یعنی لستوڼړی نې اوچت کړل او متې نې ښکاره کړې، ② أُعْلِمُ: اى مِنَ الْإِعْلَامِ: دمضارع متکلم صیغه ده د علامت او نښه لګولو په معنی کښې. ③ أَخِي: دخپل ورور (دا دحضور ﷺ رضاعی ورور وو).

تسهیلات: قوله : عُثْمَانُ بْنُ مَظْعُونٍ:

د عثمان د نوم دري صحابه کرام:- ① یوعثمان بن عفان رضي الله عنه دې کوم چه امیرالمؤمنین او دریم خلیفه دې. دَرسول الله ﷺ څوم وو

② عثمان بن طلحه حجبی رضي الله عنه وو چه دَ صلح حدیبیه په موقع کافروو او حضوراکرم ﷺته نې دَعمرة القضاء په موقع دَ بیت الله چابیانې ورکولونه انکارکړې وو اوبیادَفتح مکه په موقع باندې دَهغه نه په زور چابیانې واخستې شوې اوبیاورته دَ الله تعالی په حکم واپس کړې شوې. تراوسه پورې دَهغه په خاندان کښې چابیانې محفوظ دی. داعثمان هم مسلمان شوې وو.

③ دریم عثمان بن مظعون رضي الله عنه دې. دادَ هجرت نه وړاندې په مکه کښې دیارلسم انسان دې چه اسلام ئې قبول کړې وو اوبیادَهجرت نه پس په مدینه منوره کښې وفات شو. دې دَ مهاجرینونه ړومبې صحابی رضي الله عنه دې دَ چاچه په مدینه منوره کښې انتقال شوې. بل په جنت البقیع کښې خښیدونکې ړومبې انسان دې. دا دَ حضورپاك رضاعی رور وو اودَ حضور پاك هغه سره دَ زړه مینه وه په جنګ بدرکښې شریك شوې وو.

حضورپاك دَهغه تندې دَهغه دَ وفات نه پس ښکلې کړې وو اودَرسول الله ﷺ اوښکې مبارکې دَهغه په مخ باندې پریوتې وې. دَدې خوش قسمت په قبرباندې چه دَ پیژند ګلو دَپاره کوم کاڼړې دَ علامت دَپاره کیخودې شوې هغه پخپله حضورپاك راوچت کړې وو راوړلې وو. دَحضورپاك څوئی حضرت ابراهیم رضي الله عنه دَ حضورپاك دَ خاندان ړومبې بچې چه عثمان بن مظعون رضي الله عنه سره خښ کړې شو.

قوله : فَلَمْ يَسْتَطِعْ:

د نبی کریم ﷺ قوت:- یعنی حضورپاك چه دَ کوم کاڼړی راوړلوحکم ورکړې وو هغه صحابی رضي الله عنه هغه اوچت نه کړې شو نوبیا حضورپاك پخپله لستوڼړی راښکل هغه کاڼړې ئې راوړو دَ کوم نه چه معلومیږی حضورپاك ته الله تعالی ډیر طاقت ورکړې وو.

قبر نشاندار کولو کښې فائده:- ① دَ دې کانړې په کيخودوسره به دَدې قبرپيژند ګلو باقي وي نويه دې سره معلومه شوه چه دَ پيژند ګلو دَپاره کانړې کيخودل مستحب دی دې دَ پاره چه دَ قبر نشاندهی باقي پاتې شي البته دا نشانات شرکياتو ته رسول جائزنه دی خو دَ علامت په توکه دَ دې نه انکار کول هم غلط دی.

په حرمينو کښې د علاماتو ختمولو حکومتی حرکت:- دَحرمين شريفين په دواړو مقبروکښې نن صبا دَ حکومت په سطح حکمرانان دَ دغه علامتونوختمولوپسې لګيدلی دی. دَ ترکودَ زمانې دَ کانړو نشانات هغوی ختم کړی دی اودَ شاهی خاندان دَ کسانو دَ قبرونو په سرکاری اعزازسره حفاظت کوی خودَ کبار صحابه کرامو ﷡ دَ قبرونو ئی په جنت البقيع کښې هغه حشر کړې دې چه دَهغې په کتلوسره سړی ته ژړا ورځی.

[١٧١٢] دَ نبی عليه السلام او شيخينو د قبرونو نقشه

١٧١٣ـــ(١)[١٩] ١ وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ: ٢ «دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ: يَا أُمَّاهُ، ٣ اكْشِفِي لِي عَنْ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَاحِبَيْهِ، ٤ فَكَشَفَتْ لِي عَنْ ثَلَاثَةِ قُبُورٍ ٥ لَا مُشْرِفَةٍ وَلَا لَاطِئَةٍ ٦ مَبْطُوحَةٍ بِبَطْحَاءِ الْعَرْصَةِ الْحَمْرَاءِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت قاسم بن محمد (تابعي) ﷫ فرمايي ٢ چې زه د ام المؤمنين بي بي عايشي صديقي ﵂ په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مي اوکړو چې اي زما موري ٣ ما ته د زيارت کولو د پاره د رسول الله ﷺ او د هغه د دواړو ملګرو (يعني حضرت ابوبکر ﵁ او حضرت عمر فاروق ﵁) قبرونه خلاص کړه (يعنی د هغوئ د حُجري دروازه خلاصه کړه) ٤ نو هغه [کمره] يي راته خلاصه کړه ما وليدل چې دري واړه قبرونه ٥ نه ډير پورته وو او نه بالکل د زمکي سره برابر وو [بلکه د زمکي څخه يوه لويشت پورته وو] ٦ او په هغې د مديني منوري چاپيره چې کوم ميدان دي د هغې سری سنګريزی (کانړی) غوړيدلی وو. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① يَا أُمَّاهُ: اي زما موري، ② اكْشِفِي: أَيْ: أَظْهِرِي وَارْفَعِي السِّتَارَةَ: يعنی پرده لرې کړه او د نبی کريم ﷺ او دهغه دملګرو قبرونه راته اوښايه. ③ لَا مُشْرِفَةٍ: أَيْ: عَالِيَةٍ أَكْثَرَ مِنْ شِبْرٍ: يعنی د يو لیشت نه زيات اوچت نه وو، ④ وَلَا لَاطِئَةٍ: أَيْ: مُسْتَوِيَةٍ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ: يعنی بيخی زمکې سره برابر هم نه وو. ⑤ مَبْطُوحَةٍ: واړه کانړی پرې اچولې شوی وو، ⑥ بِبَطْحَاءِ: دمدينې سره نزدې کانړيزې زمکه ده، ⑦ الْعَرْصَةِ: وَهِيَ كُلُّ مَوْضِعٍ وَاسِعٍ لَا بِنَاءَ فِيهِ: هغې زمکې ته وائی چه آبادی پکښې نه وی يعنی صحرائی زمکه.

[١] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجنائز/باب فی تسوية القبر (رقم-٣٢٢٠)

تسهیلات: قوله: فَكَشَفَتْ لِي عَنْ ثَلَاثَةِ قُبُورٍ:

د نبی کریم ﷺ په قبر لیکلی شوی شعرونه:- دَ حضورپاك ﷺ دَ قبرمبارك مخې ته چه کوم دوه شعرونه لیکلې شوی دی هغه دادی:

یاخیرمن دفنت بالقاع اعظمهٗ فطاب من طیبهن القاع والاکم

ترجمه: اې دَ ټولو نه بهترین انسانه دَ چا مبارك بدن چه په کولاؤ میدان کښې مدفون دې اودَ کوم په خوشبوئی سره چه ټولې غونډئی اومیدانونه معطرشو.

نفسی الفداء لقبرانت ساکنه فیه العفاف وفیه الجود والکرم

ترجمه: زما ځان دې په دې قبر باندې قربان شی په کوم کښې چه تاسو آرام کوئی په حقیقت کښې په دې قبر کښې خو سخاوت شرافت او عفت مدفون دې.

افاطم ان جزعت فذاك عذر وان لم تجزعی ذاك السبیل

ترجمه: اې بی بی فاطمه! که چرې ته جزع اوفزع کوې نوته معذوره ئی اوکه چرې صبر دې اوکړو نوخوبنه کړې شوې لاره خو هم دغه ده.

فقبر ابیك سید کل قبر وفیه سید الناس الرسول

ترجمه: ستادَ پلار قبر خودَ ټولو قبرونو سردار دې او په دې کښې دَ ټولو رسولانو سردار مدفون دې.

[١٧١٣] دَ جنازې په ليدو چپ کيدل

١٧١٣-()[٢٠] [١] «وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: [٢] "خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ [٣] فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَبْرِ، وَلَمْ يُلْحَدْ بَعْدُ، [٤] فَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ وَجَلَسْنَا مَعَهُ»، [٥] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، [٦] وَزَادَ فِي آخِرِهِ: كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِنَا الطَّيْرَ.

ترجمه: [١] او حضرت براء بن عازب رضی الله عنه فرمایي [٢] چې مونږ د رسول الله ﷺ سره په انصارو کښې د یو سړي د جنازې سره لاړو [٣] کوم وخت چې هدیرې [قبرستان] ته ورسیدو نو اوس لا لحد جوړ شوي نه وو (یعني قبر تیار شوي نه وو) [٤] رسول الله ﷺ د قبلې طرف ته تشریف فرما شو او مونږ هم د حضور ﷺ سره شا وخوا ته کیناستلو، [٥] (ابوداؤد، نسايي، ابن ماجه) [٦] او ابن ماجه رحمه الله د دې روایت په آخر کښې دا الفاظ هم نقل کړې دي لکه چې زمونږ په سرونو مارغان ناست دي (یعني په انتهایي خاموشۍ او چپ چاپ سرونه لاندې زوړند کړې ناست وو).

حل اللغات:- ① لَمْ يُلْحَدْ: أَيْ: لَمْ يَفْرُغْ مِنْ حَفْرِ اللَّحْدِ: د قبر کنستلو نه خلق لا نه وو فارغ شوی یعنی قبر لا تیار نه وو.

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجنائز. باب الجلوس عند القبر (رقم-٣٢١٢) والنسائی کتاب الجنائز/الوقوف للجنائز (رقم-٢٠٠١) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی الجلوس فی المقابر (رقم-١٥٤٩) واحمد فی المسند ٢٨٧/٤

تسهیلات:

قوله: فَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ

د صاحب مشکاة ذهول: - ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چې صاحب د مشکوة په ماقبل کښې (باب مايقال عندمن حضرالموت) په فصل ثالث کښې دا حدیث مبارك په تفصیل سره بیان کړې دې خو دلته ئې د ذهول په وجه دوباره ذکر کړو.

دحدیث فوائد: - ① د مړی دفن کولو نه اول کښېنیاستل جائز دی

② مخ په قبله کښېناستل هم ضروري نه دی ،

③ دنیاوي خبرې کول یا مزاح وغیره کول منع دی ،

④ دالله ﷻ ذکر او درود شریف وئیل پکار دی

⑤ د مرګ تصور دې اوکړی او خاموشه دې وی.

[١٧١٤] دَمړی دهډوکو ماتولو ممانعت

١٧١٤ ـ (١) [٢١] ① وَعَنْ عَائِشَةَ: "«أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ② كَسْرُ عَظْمِ الْمَيِّتِ كَكَسْرِهِ حَيًّا»" رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او بي بي عایشه رضی الله عنها روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② د مُرده (مړی) هډوکي ماتول (باعتبار د ګناه) د ژوندي سړي د هډوکو د ماتولو په شان دي. (مالک، ابوداؤد، ابن ماجه)

تسهیلات: قوله: كَكَسْرِهِ حَيًّا:

مرده ته د تکلیف رسولو حکم: - یعنی لکه څنګه چه ژوندی سړی ته په شلولو څیرلو تکلیف کیږی هم دغه شان مړی ته هم په شلولو څیرلو تکلیف کیږی. دغه شان څنګه چه دَ ژوندی سړی سپکاوې کول منع دې څنګه چه دَ یوژوندی سړی هډوکی ماتول منع دی هم دغه شان دَ مړی هډوکی ماتول هم منع دی.

د پوسټ مارټم شرعی حکم: - په دې حدیث سره نن صباد فیرنګبانوجوړکړې شوي دَ میډیکل نظام په سختئی سره نفی اوتردید کیږی. نن صبا په هسپتالونوکښې حکومت دَ پخوانې زمانې دَ کفن چورو په شان دَمړو پټولو غله ساتلی دی. هغه داسې چه کله په قبرستان کښې تازه مړې دفن کولې شی نودَ شپې داظالمان ځی او قبرکولاوولوسره دَ مړی نعش راپټ کړی او هسپتال ته ئی راوړی اوبیا په انساني نعشونوباندې تجربه کونکی دَ

---

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجنائز /باب فی الحفار یجد العظم هل یتنکب ذلک المکان؟ (رقم-٣٢٠٧) وابن ماجة کتاب الجنائز /باب فی النهی عن کسر عظام المیت(رقم-١٦١٦) ومالک فی الموطا کتاب الطهارة ، باب ما جاء فی المسح بالرأس والأذنین(رقم-٤٠)

میډیکل مهذب څناور دَدغه نعش شلول اوڅیرل کوی اودغـه شان دوی ډاکټران جوړیږی. الله تعـالی انـسان مکرم اودَعـزت والاجـوړکړی دې. ﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ ﴾ [سـورة بنـی اسرائیل الایه: ۷۰] دَ قرآن پاك حکم دې په دې وجه دَ شریعت ضابطه ده چه هریوانسان وی دَ مرګ نه پس دَهغه دَ نعش بې حرمتی کول ناجائزدی که کافروی اوکه مسلمان وی مثله کول حرام دی. او نعش سره په هسپتالونوکښې هغه لوبې کولې شی چه دَالله تعالی پناه. که چرې څوك دوی پوهه کوی نو زر به وائی چه مونږ دَ انسانیت خدمت کوو اودا ضروری دی. حالانکه حقیقت دادې چه دا یوتجارت دې اودَ دنیـا ګټلویـوه لویـه ذریعـه ده. دَخدمت نوم صرف دَ خدمت بدنام کولودَپاره دې. کـه پـه حقیقت باندې نظر واچولې شی نوچه څومره ډاکټران زیـاتیږی هـم دومـره بیمـارئی زیـاتیږی نودَدې پیـښې څـه ضـرورت دې دَ کـومې پـه شروع کښې چه دَ شریعت مخالفت کیږی اودَهغې پـه آخر کـښې دَ صـحت مخالفـت کیـږی. (توضیحات شرح مشکاة تحت هذا الحديث)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۷۱۵] دَحضرت ام کلثوم رضی الله عنها دَ تدفین واقعه

۱۷۱۵—(۱)[۲۲] [۱] «عَنْ أَنَسٍ قَالَ: شَهِدْنَا بِنْتَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُدْفَنُ [۲] وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ عَلَى الْقَبْرِ، [۳] فَرَأَيْتُ عَيْنَيْهِ تَدْمَعَانِ، [۴] فَقَالَ: هَلْ فِيكُمْ مَنْ أَحَدٍ لَمْ يُقَارِفِ اللَّيْلَةَ؟ [۵] فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ: أَنَا. [۶] قَالَ: فَانْزِلْ فِي قَبْرِهَا، فَنَزَلَ فِي قَبْرِهَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه فرمايي چې زه هغه وخت موجود وم چې د رسول الله ﷺ لور (يعني د حضرت عثمان رضی الله عنه زوجه محترمه بي بي اُم کلثوم رضی الله عنها) خاورو ته سپارل کيده [۲] او حضور ﷺ د قبر سره تشريف فرما وو [۳] ما وليدل چې د حضور ﷺ د سترګو مبارکو څخه اوښکي جاري وي [۴] بهر حال (هغه وخت) حضور ﷺ (صحابه ؤ) ته وفرمايل چې آيا په تاسو کښې څوک داسې سړي هم موجود دي چې نن شپه خپلې بي بي سره يو ځاي شوی نه وي؟ [۵] حضرت ابو طلحه رضی الله عنه اوويل چې هو زه يم، [۶] نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چې (مړي قبر ته د خکته کولو د پاره) ته قبر ته خکته شه نو هغه قبر ته خکته شو. (بخاري)

حل اللغات: - ① تَدْمَعَانِ: اى تَسِيلَانِ دَمْعًا: اوښکي تري بهيدلي. ② لَمْ يُقَارِفِ: قارف مطلق يو ځائ کيدو او نزدې کيدو ته وائي دلته تري مراد جماع ده.

---

(۱) اخرجه البخاری کتاب الجنائز/باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «یعذب المیت ببعض بکاء أهله علیه» إذا کان النوح من سنته " (رقم-۱۲۸۵) واحمد فی المسند ۱۲٦/۳

تسهیلات:

قوله : شَهِدْنَا بِنْتَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: دې نه مراد دَ رسول الله ﷺ لوربی بی حضرت ام کلثوم رضی الله عنها ده چه دَ حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه زوجه محترمه وه. او دَ حضرت رقیه رضی الله عنها دَ وفات نه پس دَ حضرت عثمان رضی الله عنه په نکاح کښې راغلې وه.

قوله : تَدْمَعَانِ،: یعنی حضورپاك دَ قبر په غاړه باندې تشریف کیخودې وو او دَ حضور پاك اوښکې جاری وې معلومه شوه چه اوښکې تویولو سره ژړا منع نه ده بلکه جائز ده.

قوله :لَمْ يُقَارِفِ اللَّيْلَةَ:

د مذکوره جملې مفهوم:- یعنی کوم سړی چه نن شپه خپلې بی بی سره جماع نه ده کړې هغه دې وړاندې راشي او ام کلثوم رضی الله عنها دې قبر کښې کوزه کړي. دَ مقارفه معروفه معنی جماع ده سره دَدې چه دَ ګناه کولو دَپاره هم دا لفظ استعمالیږی. دلته اګرچه علماؤ تاویلات کوی مګر واضح معنی ئی هم جماع ده.

اشکال:- اوس سوال دادې چه حضورپاك داسې پټه شعبه ولې اوچیړله اودَې نه دَ حضورپاك مقصد څه وو؟

داشکال جواب:- دَ دې جواب دادې چه حضورپاك ته دَ وحی په ذریعه معلومه شوې وه چه حضرت عثمان رضی الله عنه دَ شپې خپلې وینځې سره کوروالې کړې دې کیدې شی چه په حضورپاك باندې دا خبره سخته تیره شوې وی چه یوطرف ته زما لورمړه کیدله او هم په هغه شپه کښې هغه وفات هم شوه او بل طرف ته په داسې ماحول کښې عثمان بن عفان رضی الله عنه دَ خدمت په ځائی خپلې وینځې سره په کوروالی کښې مشغول کیدل مناسب نه وو. په دې وجه حضورپاك په ډیر باریك انداز سره په حضرت عثمان رضی الله عنه باندې ملامتیا اوکړه. که چرې حضورپاك حضرت عثمان رضی الله عنه په واضحه توګه سره ملامت کړې وې یا ئی ورته ګیله کړې وې نوکیدې شی چه هغه دَ حیاء دَ وجې نه مړشوې وې. په دې وجه حضورپاك په پټه اشاره سره تنبیه اوفرمائیله بل طرف ته حضرت عثمان رضی الله عنه علماء معذور ګڼړی ځکه چه حضرت ام کلثوم رضی الله عنها دَ ډیرې مودې نه بیمارئی کښې راګیره وه او په دغه شپه هم په هغه خپل عادت باندې وه دَ زیات تکلیف څه خبر نه وو په دې وجه حضرت عثمان رضی الله عنه خپلې وینځې سره کوروالې اوکړو.

دویم اعتراض:- چه کله حضورپاك پخپله موجود وو نو ابوطلحه رضی الله عنه چه دَ ام کلثوم رضی الله عنها دَپاره یو پردې وو هغه ام کلثوم رضی الله عنها څنګه قبرته کوزه کړه؟

د اعتراض جوابونه:- ① چه کله رسول الله ﷺ دَهغې دَ کوزولوحکم ورکړو نودَ هغوی دَپاره شرعی جواز پیدا شو او دَ حضورپاك هم کیدې شی څه عذر وو چه پخپله ئی ام کلثوم رضی الله عنها قبر ته کوزه نه کړه.

② دا عمل دَ حضرت ابو طلحه رضی الله عنه دَ خصوصیات نه دي.

③ بعضې علماؤ دا جواب ورکړې دې چه حضورپاك دَ جواز دَ بيان دَپاره داسې اوکړه. بهرحال علماؤ ليکلی دی چه ښځه به هم سړي قبر ته کوزوی البته دَ سړي دَ ښځې دَ محارم نه کيدل ضروري دی که نی مجبوري ده.

[١٧١٦] دَ حضرت عمرو بن عاص رضی الله عنه وصيت

١٧١٦-()[٢٣] ١ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ لِابْنِهِ وَهُوَ فِي سِيَاقِ الْمَوْتِ: ٢ إِذَا أَنَا مُتُّ فَلَا تَصْحَبْنِي نَائِحَةٌ وَلَا نَارٌ، ٣ فَإِذَا دَفَنْتُمُونِي فَشُنُّوا عَلَيَّ التُّرَابَ شَنًّا، ٤ ثُمَّ أَقِيمُوا حَوْلَ قَبْرِي قَدْرَ مَا يُنْحَرُ جَزُورٌ ٥ وَيُقْسَمُ لَحْمُهَا، حَتَّى أَسْتَأْنِسَ بِكُمْ، ٦ وَأَعْلَمَ مَاذَا أُرَاجِعُ بِهِ رُسُلَ رَبِّي " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او د حضرت عمرو ابن عاص رضی الله عنه په باره کښې روايت دي چې کله هغه د زنکدن په حالت کښې وو نو خپل ځوی (حضرت عبدالله) ته يي دا وصيت اوکړو ٢ چې کله زه مړ شم نو زما د جنازې سره دې نه څوک نوحه کونکې ښځه وي او نه دې اور وي ٣ او هر کله چې ما دفن کړئ نو په ما دپاسه خاوره لږ لږ واچوئ ٤ بيا د دفن کولو څخه روسته زما د قبر سره (د دعائ استقامت او مغفرت او د ايصال ثواب د پاره) تر دومره وخت پورې ودريږئ په څومره وخت کښې چې اوښ ذبح کولې شي ٥ او د هغه غوښه تقسيمول کيږي تر دې چې زه ستاسو په وجه آرام بياموم ٦ او بغير د څه وحشت او ويرې پوهه شم چې زه د خپل پروردګار فرشتو ته څه جواب ورکوم. (مسلم)

حل اللغات:- ① سِيَاقِ الْمَوْتِ: اى النَّزْعُ: زنکدن ته وائی، ② فَلَا تَصْحَبْنِي: زما په جنازه کښې دې شامليږی، ③ نَائِحَةٌ: أَيْ: صَائِحَةٌ بِالْبُكَاءِ: په چغو چغو ژړيدونکې ښځې، ④ فَشُنُّوا: أَيْ: صُبُّوا: يعنی په لږه لږه راباندې خاوره واچوئ، ⑤ يُنْحَرُ: د اوښ ذبح کولو ته نحر وائی. ⑥ جَزُورٌ: اوښ، ⑦ أَسْتَأْنِسَ: چه زه آرام حاصل کړم (ستاسو په ذکرونو او دعاګانو سره). ⑧ رُسُلَ: راليږلې شوې فرښتې مراد دی کومې چه د مړي نه تپوسونه کوی.

تسهيلات: قوله: فَلَا تَصْحَبْنِي نَائِحَةٌ:

په مړی د ژړا کولو حرمت:- دَ جاهليت په زمانه کښې به په مړی پسې دَ ژړا کولو دَپاره په کرايه باندې ويناګانې کونکې ښځې راوستلې شوې. هغوی به دَ مړی اخوا ديخوا تعريفونه کولوسره پخپله هم ژړل او نور خلق به ئی هم ژړول، دَدې نه اسلام منع کړې ده.

قوله: وَلَا نَارٌ:

د فخر دپاره په مړی پسې د اور بلولو ممانعت:- دَ جاهليت په زمانه کښې به دَ فخراوتکبر اودرسم اورواج په توګه مړی سره اُور اوړلې کيدو اوپه هغې کښې به ئی خوشبوئی وغيره

[1] اخرجه مسلم فى كتاب الإيمان/باب كون الإسلام يهدم ما قبله وكذا الهجرة والحج(رقم-١٩٢ - (١٢١)

اچوله اوخلقوته به ئې خودلو. اسلام دَدې نه منع اوکړه بلکه اور خو يوخراب فال دې دا اسلام په خصوصيت سره منع کړې دې. حضرت عمروبن العاص رضي الله عنه هم دَدې دوو منکراتونه دَ بچ کيدو په غرض وصيت فرمائي.

قوله : ثُمَّ أَقِيمُوا حَوْلَ قَبْرِي:

د تدفين څخه پس د مړی دپاره د دعا کولو مسنونيت :- يعنی دَ يواوښ دَ ذبح کولو اودَهغې غوښه تقسيم کولودَ وخت پورې زما قبرسره حصارشئی اوزمادَ پاره په توګه دَ ايصال ثواب دعااوکړئی تلاوت اوکړئی او استغفاراوکړئی. ستاسودَ دعااواستغفار په برکت به زمادَ پاره په قبرکښې دَفرښتو سوال جواب آسان شی. اوزه به بغيردَ څه ويرې او خطرې دَ فرښتو جواب ورکړم. اوماته به اندازه اوشی چه زه په کومه طريقه جواب ورکوم. دَ ابوداؤد شريف په يوحديث کښې راغلی دی چه حضورپاك به کله دَ يو صحابی دَ تدفين نه فارغ شونو دَهغه قبرسره به اودريدو او صحابه کرامو ته به ئی فرمائيل چه دَخپل روردَپاره استغفار اوکړئی اودَ استقامت دعاورله اوغواړئی. ځکه چه په دې وخت قبرکښې دَ ده نه سوال کيږی حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه هم دَدې حديث دَ مضمون طرف ته اشاره فرمائي.

[۱۷۱۷] د تدفين څخه پس دَ سورت بقره دَ شروع اوآخرى رکوع لوستل

۱۷۱۷-()[۲۳] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲] "«إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمْ فَلَا تَحْبِسُوهُ، [۳] وَأَسْرِعُوا بِهِ إِلَى قَبْرِهِ، [۴] وَلْيُقْرَأْ عِنْدَ رَأْسِهِ فَاتِحَةُ الْبَقَرَةِ، [۵] وَعِنْدَ رِجْلَيْهِ بِخَاتِمَةِ الْبَقَرَةِ» " [۶] رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ وَقَالَ: وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ مَوْقُوفٌ عَلَيْهِ.[1]

ترجمه: [۱] او حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمايي چې ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل [۲] هر کله چې په تاسو کښې يو سړي وفات شي نو هغه محبوس (قيد) مه ساتئ [۳] بلکه د هغه تر قبر پورې هغه زر ورسوئ [۴] او دا هم پکار دي چې د قبر سره ودريدو سره د هغه سرته نزدې د سورة بقره ابتدايي آيتونه (يعني د شروع څخه تر مفلحون پورې) اوويل شی [۵] او پښو ته نزدې د سورة بقره آخري آيتونه (يعني د آمن الرسول څخه تر آخر پورې آيتونه) دي اوويل شي، [۶] بيهقي دا روايت په شعب الايمان کښې نقل کړې دي او وئيلی يي دی چه صحيح دا دي چې دا روايت په حضرت عبدالله رضي الله عنه باندې موقوف دي.

حل اللغات:- ① فَلَا تَحْبِسُوهُ: أَيْ: لَا تُؤَخِّرُوا دَفْنَهُ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ: يعنی په کورونو کښې ئې بند مه ساتئ اوبغير د عذر نه ئې په دفن کښې تاخير مه کوئ.

تسهيلات: قوله : فَلَا تَحْبِسُوهُ:

د مړی په تدفين کښې د تلوار حکم :- ځکه چه که مړې نيک وی نو فرښتې انتظارکوی اوکه چرې بدعمل وی نودَ کورونونه دا بدی زر اخواکړئی. چنانچه علامه ابن همام رحمه الله فرمائی

---

[1] رواه البهقی فی شعب الايمان

چه کله سړي مړشی نو دَ هغه په تجهیزاوتکفین کښې تادی کوئی.

قوله: وَأَسْرِعُوابِهِ: داجمله دَ رومبې جملې دَپاره دَ تاکید په توګه راوړلې شوې ده. ځکه چه دَ لاتحبسوه مطلب پخپله هم دغه دې چه په تادئی سره ئې اوړئی.

قوله: وَلْيُقْرَأْ: په دې جملې سره تلقین علی القبور په واضحه توګه سره معلوميږي. چنانچه په دې حدیث کښې دَ کوم تلقین ذکر دې هغه دادې چه دَمړی دَ قبر سر ته دَ سورت بقره دَ شروع رکوع یو سړې اودریدوسره په زوره اولولی او دَخپو طرف ته بل سړې دَ سورت بقره آخری رکوع اولولی. په دې تلقین کښې دَ هیچا څه اختلاف نشته دې. دې نه علاوه بل یو مروجه تلقین وی چه دَ قبر په مینځ باندې ګوته کیخودوسره دَمړی څه رهنمائی کولې شی چه اوس به فرښتې راځی هغوی به داسې سوال کوی ته داسې جواب ورکړه. که په دې تلقین کښې غلطه عقیده شامل شی اوبې کاره خبرې راشی نودَدې په ناجائزکیدوکښې هیڅ شك نشته دې. لیکن که غلطه عقیده نه وی اوغلط فرمائش نه وی نودَ شوافع په نیزداتلقین جائزدې. حضرت مولانا رشیداحمد ګنګوهی رحمه الله فتاویٰ رشیدیه کښې دَدې تلقین باره کښې لیکلی دی چه دَدې مدار دَمړو اوریدو اونه اوریدو په مسئله باندې دې. دَ کوموخلقو چه داعقیده ده مړی اوری نو هغوی دَ دې تلقین قائل دی اودَ تدفین نه پس په قبرباندې تلقین کوی لیکن دَ کوموخلقو چه داعقیده ده مړی نه اوری هغوی دَدې قسم تلقین نه انکارکوی. بهرحال په زیربحث حدیث کښې دَ کوم تلقین ذکردې دَهغې په کولوکښې دَ هیچااختلاف نشته دې.

دَ ایصال ثواب فائده اوفضیلت:- حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه کله تاسو قبرستان ته لاړشئی نوهلته سورت فاتحه، معوذتین او سورت اخلاص لوستلوسره ثواب دَ قبرستان والو ته وربخښئی نوهغه ثواب دغه مړو ته رسيږي.

یوولس ځله د سورة فاتحې لوستلو فضیلت:- حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه کوم سړې قبرستان ته لاړشی او یوولس ځل سورت فاتحه اولولی اودَ هغې ثواب قبرستان والوته وراوبخښی نودَالله تعالی دَ طرف نه دې سړی ته په قبرستان کښې دَ خښوشوو مړو دَ شمیر برابر ثواب ورکوی.

په قبرستان کښې د سورة فاتحه، اخلاص اوتکاثر وئیلو فضیلت:- حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی دَحضورپاك ارشاد مبارك دې چه کوم سړې قبرستان ته لاړشی سورت فاتحه او قل هوالله احد او سورت تکاثر لوستلو سره الله تعالی ته عرض اوکړی چه اې الله ما ستاکلام لوستلې دې ما چه دې وخت کښې کوم څه لوستلی دی دَدې ثواب په قبرستان کښې خښ مؤمنانو سړو اومؤمنانو ښځوته وربخښم نو په قبرستان کښې چه څومره مړی دی هغوی دَالله تعالی په حضوردَدغه سړی دَپاره شفاعت کونکی جوړيږي.

دَحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې چه حضورپاك فرمائی چه کوم سړې قبرستان ته لاړشی او (هلته دَ ایصال ثواب په غرض) سورت یاسین تلاوت کړی نوالله تعالی دَ قبرستان والو په عذاب کښې کمې کوی او دې سړی ته په قبرستان کښې ښخو مړو دَ شمیر په اندازه نیکئی ورکولې شی.

بهرحال قبرستان دَ لوبو او منډو ترړو ځائی نه دې بلکه دَعبرت حاصلولو ځائی دې چه څومره لوئی لوئی څتې مرګی راغورزولې دی په زمکه کښې ښخ دی اودا لوئی ستنې دَقبر خاورو څنګه اوخوړلې. هرمسلمان له د دغه وخت دَپاره تیاری کول پکاردی.

[۱۷۱۸] د حضرت عائشه رضی الله عنها دَ خپل رور په قبر حاضری

۱۷۱۸ - ([1]) [۲۵] ١ وَعَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ: ٢ لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ بِالْحُبْشِيِّ وَهُوَ مَوْضِعٌ ٣ فَحُمِلَ إِلَى مَكَّةَ فَدُفِنَ بِهَا، ٤ فَلَمَّا قَدِمَتْ عَائِشَةُ أَتَتْ قَبْرَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ ٥ فَقَالَتْ: وَكُنَّا كَنَدْمَانَيْ جَذِيمَةَ حِقْبَةً مِنَ الدَّهْرِ ٦ حَتَّى قِيلَ لَنْ يَتَصَدَّعَا ٧ فَلَمَّا تَفَرَّقْنَا كَأَنِّي وَمَالِكًا ٨ لِطُولِ اجْتِمَاعٍ لَمْ نَبِتْ لَيْلَةً مَعًا ٩ ثُمَّ قَالَتْ: وَاللهِ، لَوْ حَضَرْتُكَ مَا دُفِنْتَ إِلَّا حَيْثُ مُتَّ، ١٠ وَلَوْ شَهِدْتُكَ مَا زُرْتُكَ، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت ابن ابي مليكه وايي ٢ چې كوم وخت حضرت عبدالرحمٰن بن ابي بكر رضی الله عنه په حبشي كښې وفات شو چې يو مقام دي ٣ نو د هغه مړي مكي ته راوړل شو او هلته دفن كړې شو ٤ څه وخت چې بي بي عايشي رضی الله عنها د حج د پاره مكي ته تشريف راوړو نو د خپل ورور حضرت عبدالرحمن رضی الله عنه قبر ته هم ورغله ٥ او هلته يي دا شعرونه وويل:

وَكُنَّا كَنَدْمَانَيْ جَذِيمَةَ حِقْبَةً — مِنَ الدَّهْرِ حَتَّى قِيلَ لَنْ يَتَصَدَّعَا

فَلَمَّا تَفَرَّقْنَا كَأَنِّي وَمَالِكًا — لِطُولِ اجْتِمَاعٍ لَمْ نَبِتْ لَيْلَةً مَعًا

يعني مونږ دواړه د جذيمه د دواړو هم نشينانو په شان د يوي اُوږدي مودي څخه سره يوځاي وو ٦ تر دي چې دا ويل كيده چې دا دواړه به هيڅ كله سره جدا نشي ٧ ليكن هر كله چې مونږ دواړه يعنی زه او مالک د يو بل څخه جدا شو ٨ نو د اُوږدي زماني پوري د يو بل سره د اُسيدو باوجود ګويا د يوي شپي د پاره هم يو ځاي شوي نه وو، ٩ د دې څخه روسته بي بي عايشي رضی الله عنها وفرمايل قسم په خداي كه ستا د وفات په وخت زه موجوده وې نو ته به ما په هغه ځاي كښې دفن كړي وې، چيرته چې ته وفات شوي وې، [ځكه چې مړي د هغه ځاي څخه چيرته چې وفات شوي وي بل ځاي ته نه منتقل كول سنت او افضل دي] ١٠ او دا چې كه زه ستا د وفات په وخت ستا سره موجوده وې نو دا وخت به دې قبر له نه راتلم. (ترمذي)

حل اللغات: - ① نَدْمَانَيْ: اى جَلِيسَيْهِ وَأَنِيسَيْهِ: هم نشين او ورسره ناست دوه كسان، ② جَذِيمَةَ: د عراق او جزيره د بادشاه نوم دې ③ حِقْبَةً: أَيْ: مُدَّةً لَا وَقْتَ لَهَا: يوه موده چه محدود نه وى، يعنى اوږده

[1] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی الرخصة فی زيارة القبور (رقم -١٠٥٥)

زمانه، ④لَنْ يَتَصَدَّعَا : أَيْ: لَنْ يَتَفَرَّقَا: یعنی چه کله به هم جدا نه شی، ⑤لَمْ نَبِتْ : أَيْ: سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ: یعنی چه مونږ د شپې لږه حصه هم چرته یو ځای نه وی تیره کړې.

تسهیلات: قوله: بِالْحُبْشِيِّ:

په حاء باندې پیش دې او باساکن ده او په شین باندې کسره ده دې نه پس یاء باندې شد دې. د "نُعْلِيّ" په وزن باندې دې. په مکه معظمه کښې په ښکته علاقو کښې نعمان اراک سره د یو غر نوم دې چه د مکې مکرمې په اطرافو کښې واقع دې. احابیش قریش هم دې طرف ته منسوب دی.

د عائشې رضی الله عنها د خپل ورور عبدالرحمن د قبر زیارت کول:- علماؤ لیکلی دی چه د مکې نه په یو منزل فاصله باندې یو ځائی واقع دې بعضې شپږ میله فاصله لیکلې ده. دلته د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها رور عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه وفات شوې وو او د هغه ځائی نه خلقو راؤچت کړو مکې ته ئی راوړو او په جنت المعلاة کښې خښ کړو. حضرت عائشه رضی الله عنها د تدفین نه پس یو وخت کښې د خپل رور قبر له راغله او په عجیبه انداز سره د رفاقت او محبت اظهار کوی. او بیائی دوه شعرونه وئیلی دی چه د هغې او د هغې د رور حال سره ډیر زیات مناسب وو. معجم البلدان (ج۲ص۲۱۴) باندې تفصیل موجود دې.

د تمیم بن نویره د اشعارو پس منظر:- دا دوه شعرونه په حقیقت کښې د یو شاعر وو د کوم نوم چه تمیم بن نویره وو او د هغه د رور نوم مالك بن نویره وو کوم چه خالد بن ولید رضی الله عنه په جنګ یمامه کښې قتل کړې وو. قصه داسې وه چه د حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه د خلافت په زمانه کښې د مرتدینو خلاف لوئی جنګونه شوی وو. د بنوتمیم خلاف کاروائی اوشوه او بیا په یمامه کښې سخت جنګونه اوشو.

مالك بن نویره د خپل قوم مشر وو داسرې د مسلمانانو په قید کښې راغلو. حضرت خالد رضی الله عنه هغه سره خبرې اترې اوکړې د کومې نه چه اندازه اوشوه چه واقعی دا سړې مرتد دې او اوس هم په ارتداد باندې قائم دې. لهذا هغوی حکم ورکړو چه دې قتل کړئی نو د هغوی په حکم سره دې قتل کړې شو. بعضې لیکلی دی چه دا سړې د کومو مسلمانانو په لاس ګرفتار شوې وو په غلطئی سره د چا د لاسه اووژلې شو. بهر حال چه څنګه هم مړ کړې شو خو د هغه رور تمیم بن نویره یو ډیر زور آور شاعر وو هغه یو طوفان راؤچت کړو چه زما رور مسلمان وو. حضرت خالد رضی الله عنه هغه قصداً قتل کړې دې. لهذا د خالد رضی الله عنه نه قصاص واخلئی. دامقدمه د حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه دربار ته راغله. حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه خوبری کړو لیکن د بیت المال نه ئی د هغه دیت د دغه سړی رور ته ورکړو.

حضرت عائشه رضي الله عنها دغه شعرونه دَخپل رور دَپاره اووئیل او اشاره ئی اوکړه چه زمونږ تعلق اوخپل رور سره محبت داسې وو چه خلقو دا ګنړل چه دا دواړه به کله جدا نه شی. دَدې اوږد رفاقت او محبت نه پس چه کله رور مړ شو نواوس داسې محسوس کیږی لکه چه مونږ هډو یوځائی شوې نه وو.

تمیم بن نویره په دې دوو شعرونو کښې خپل خان اوخپل رور دَ جذیمه دَ دوو ملګرو په شان ګرځولې دی چه دَهغوی اوږد رفاقت اومحبت او اوږد تعلق داسې وو چه خلقو ګنړل چه دا دواړه به کله هم جدا نه شی لیکن چه کله دَ رور مرګ راغلو نواوس داسې محسوس کیږی لکه چه مونږ چرته هډو یوځائی شوې نه وو.

دَ جذیمه ابرش تعارف او واقعه:- دلته دا خبره ضروری ده چه جذیمه اوپیژنئی اودَ هغې دوه ملګری اوپیژندلې شی دې دَپاره چه په دې دوو شعرونو باندې په صحیح توګه پوهه شئی اودَدې حدیث پوره منظر ستاسو مخې ته راشی.

جذیمه ابرش دَ عراق او جزیرة عرب په یوه زمانه کښې مشهوربادشاه تیرشوې دې. هغه یوې ښځې زبا قتل کړې وو چه یوه ملکه ښځه وه. قصه داسې پیښه شوه چه جذیمه ابرش په یوه زمانه کښې په یوبادشاه باندې حمله اوکړه اوهغه ئی قتل کړو. دَدغه بادشاه په ځائی دَ هغه لور په بادشاهئی کیناسته. دا ښځه ډیره ښائسته وه دَدې دومره لوئی ویښته وو چه خپل ځان به ئی په هغې کښې پټولو. دا پیغله وه او واده ئی نه کولو. دَ لوئی لوئی بادشاهانو دَ نکاح پیغام ئی رد کړې وو. کله چه دَهغې پلار مړ شو نو جذیمه ابرش ورته دَ نکاح پیغام راؤلیګلو. هغې پیغام قبول کړو او په زړه کښې ئی قسم اوخوړلو چه دَ خپل پلار په بدله کښې به جذیمه ابرش قتل کوم.

چنانچه دَ واده وخت مقرر شو او جذیمه ابرش دَ خپلو خلقو سره دَ زبا طرف ته دَ واده زلمې جوړیدو سره روان شو. دَ جذیمه یو وزیر وو دَهغه نوم قصیر وو هغه ډیر هوښیار وو هغه ډیرکوشش اوکړو چه بادشاه سلامت دهوکه مه خوره. دَ مقتول دَ وارث دَ زړه نه کله هم دَ قاتل نه دَ انتقام جذبه نه شی ختمیدې. جذیمه وئیل چه دې ښځې پخپله دَ واده کولو اظهار کړې دې ته هسې په شك کښې پریوځې.

بهرحال جذیمه ابرش چه کله زبا ته اورسیدو او زبا هغه قابو کړونو هغه ئی ګرفتار کړو او ډیر په بې دردئ سره ئی هغه چت پورې زوړند کړو او په بدن کښې چړې غړولوسره قتل کړو اودَ خپل پلار قبر سره ئی دفن کړو په قبر ئی اولیکل چه ما دَ خپل پلار په بدله کښې دا بادشاه قتل کړې دې. بیا دَ جذیمه وزیر قصیر ډیرې لوئی حیلې کولوسره دَ زبا پورې رسائی حاصله کړه او په ډیره هوښیارئی سره ئی زبا قابو کړه مګر دَ هغې دَ قتل کولونه مخکښې زبا زهر اوخوړل او وئی وئیل چه زه دَ خپله لاسه مړه کیږم دَ قصیر دَ لاسه نه. دا

ځان له یو اوږد داستان دې کوم چه ابن جوزی رحمه الله په لطائف ازکیاء کښې ذکرکړې دې او په لطائف علمیه کښې دا قصه په ډیر دلچسپ انداز کښې ذکر ده.

د جذیمه ابرش د دوو ملګرو تعارف: - اوس راشئ چه دَ جذیمه ابرش دوه ملګری څوك وو. داهم یو عجیبه اتفاق دې چه دَجذیمه ابرش په دربارکښې دَ جذیمه دوو ملګرو په خپل مینځ کښې رونړه وو دَ یونوم مالك او دَ بل نوم عقیل وو. څلویښت کالو پورې دا دواړه رونړه دَ جذیمې په دربارکښې داسې یو ځائی پاتې کیدل چه دَ چا به خیال هم نه تیریدو چه دا دواړه به چرته جدا شی او عربوبه دَ هغوی رفاقت دَ مثال په توګه پیش کولو لیکن یو وخت داسې هم راغلو چه هغوی دواړه دَ مرګ په وجه داسې جدا شو چه دَ چا به خیال هم نه تیریدو چه دا دواړه چرته یوځائی هم پاتې وو. تمیم بن نویره او حضرت عائشه رضی الله عنها دواړو دَ خپلو رونړو رفاقت او بیا جدائی هم په دې پس منظر کښې پیش کړه.

قوله: مَا دُفِنْتَ إِلَّا حَيْثُ مُتَّ:

د مړی د منتقل کولو ممانعت: - حضرت عائشه رضی الله عنها دَ دوو خبرو اظهاراوکړو اوخپل خواهش او تمنا ئی ښکاره کړه یو دا چه که چرې دَ رور دَ رفاقت په وخت زه هلته وې چرته چه ئی رور وفات شوې وو نوما به دَمکې قبرستان کښې دفن کولودَپاره دَمنتقل کولو اجازت نه ورکولو ځکه چه مړې منتقل کول دَ شریعت خلاف دی اوکه چرې زه دَ رور دَ وفات نه پس دَ هغه زیارت کوم نو نن به زه دَ خپل رور په قبر باندې دَ زیارت کولو دَ پاره قبرستان ته نه راتلم ځکه چه دَ ښځودَپاره قبرستان ته تلل صحیح نه دی.

[١٧١٩] په تدفین کښې دَ "سل" د طریقې ثبوت

١٧١٩ - ( )[٣٦] [١] وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ: «سَلَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْدًا، [٢] وَرَشَّ عَلَى قَبْرِهِ مَاءً»، رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او حضرت رافع رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت سعد رضی الله عنه د سر د طرف څخه قبر ته ځکته کړو [٢] او د هغه په قبر يي اوبه وشیندلي. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① سَلَّ: په مزه مزه راښکلو ته وائی. ② رَشَّ: اوبه ئي اوشیندلي،

تسهیلات:

نوټ: - د دې حدیث شرح په د بل حدیث په تسهیل کښې ذکر ده.

....

( ) اخرجه ابن ماجة فی السنن کتاب الجنائز /باب ما جاء فی إدخال المیت القبر(رقم-١٥٥١)

[١٧٢٠] دَ سر دَ طرفه دَ خاورې اچولو شروع کول

١٧٢٠ – (١) [٢٧] [١] «وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ [٢] ثُمَّ أَتَى الْقَبْرَ فَحَثَى عَلَيْهِ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ ثَلَاثًا». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ په یوې جنازې باندې مونځ اوکړو [٢] بیاد هغه قبرته راغلو اودسر دطرف څخه یې په قبر درې موټې خاوره واچوله. (ابن ماجه)

حل اللغات: – ① فَحَثَى: أَيْ: قَبَضَ التُّرَابَ وَرَمَاهُ: موټې ئې د خاورو نه ډک کړو او په قبر کښې واچولې.

تسهیلات:

قوله: فَحَثَى عَلَيْهِ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ ثَلَاثًا:

د تدفین په وخت په قبر درې لپې خاوره اچول: – مسنون هم دادی چې د تدفین په وخت هر کس دې په دې قبر باندې درې لپې بناؤره واچوی.

[١٧٢١] په قبر باندې د کیناستو یا ډډه وهلو ممانعت

١٧٢١ – (٢) [٢٨] [١] «وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ قَالَ: [٢] رَآنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا عَلَى قَبْرٍ فَقَالَ: [٣] "لَا تُؤْذِ صَاحِبَ هَذَا الْقَبْرِ، أَوْلَا تُؤْذِهِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] او حضرت عمرو بن حزم رضي الله عنه وايي [٢] چې رسول الله ﷺ زه د یو قبر سره په څنګ وهلو ولیدم نو وي فرمايل [٣] چې ته دي قبر والا ته تکلیف مه ورکوه یا دا یې وفرمايل چې ده ته تکلیف مه ورکوه. (احمد)

....

[1]) اخرجه ابن ماجة فی السنن کتاب الجنائز /باب ما جاء فی حثو التراب فی القبر(رقم-١٥٦٥)

[2]) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز /باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «إنا بک لمحزونون» (رقم-١٣٠٣) ومسلم ١٥ - کتاب الفضائل /باب رحمته صلی الله علیه وسلم الصبیان والعیال وتواضعه وفضل ذلک (رقم-٦٢ - (٢٣١٥)) وابوداود فی السنن کتاب الجنائز /باب فی البکاء علی المیت (رقم-٣١٢٦) واحمد فی المسند ٣/١٩٤

[٧]بَابُ الْبُكَـاءِ عَلَى الْمَيِّتِ]

په مړی دَ ژړا بیان

خلاصة الباب:-

فيه أربعون حديثاً مشتملة على عشرة مسائل:

① حكم البكاء على الميت: ١، ٢، ٣، ٢٦، ٢٧۔
② بحث عذاب الميت ببكاء أهله عليه: ٣، ١٩، ٢٠ ، ٢١، ٢٤، ٢٥۔
③ النهي عن النياحة على الميت ومايقارنها: ٤، ٥، ٦، ٧، ١١، ١٩، ٢٢، ٢٣، ٢٩، ٣٠۔
④ فضيلة الصبرعلى المصيبة: ٧، ١٢، ٣٧، ٣٨، ٤٠۔
⑤عدم ضياع أجرموت الأولاد بالنياحة: ٨، ٩، ١٠، ١٤، ١٥ ،٣١، ٣٢، ٣٣، ٣٤، ٣٥، ٣٦،
⑥ بكاء المخلوقات على المؤمن: ١٣۔
⑦ فضيلة التعزية : ١٦، ١٧۔
⑧ الاطعام لأهل الميت: ١٨۔
⑨ عدم فائدة الإقامة عند القبر: ٢٨۔
⑩ فضيلة الاسترجاع عند المصيبة : ٣٨، ٣٩۔

تسهیلات:

ملحوظه:-دَمړی خښول او قبرته کوزولو دکيفيت تول تفصيلات په هغه احاديثوکښې راغلي وو اوس وړاندې په مړی باندې دَ ژړا او دعا بيان راځی.

قال الله تعالى ﴿ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ۙالَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ ۙقَالُوْٓا اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ۚ﴾ [سورة البقره الايه:١٥٦]

دَ يوخپلوان او رشته دار په مرګ، فراق، غم اوصدمه رسيدل يو فطری او طبعی أمردې زړه او دماغو ته دغه صدمه رسيدوسره دَ سترګونه اوښکې بهيدل هم يوطبعی او غيراختياری عمل دې دين اسلام چونکه کامل مکمل بلکه اکمل مذهب دې په دې وجه دې دَ انسانی ژوندون په هره شعبه کښې دَ انسان رهنمائی کړې ده. نودَ غم او خوشحالئی په هره موقع باندې په اسلام کښې قواعداوضوابط موجودی دی.

دچا په مرګ او ژړا کښې د اعتدال لار اختيارول:-په دې سلسله کښې په دې باب کښې اسلام دَ چا دَ مرګ او ژړاپه سلسله کښې دَ اعتدال لاره خودلې ده. اسلام په طبعی جذباتوپه اظهارباندې پابندی نه ده لګولې لهذا دَ ژړا اجازت ئی ورکړې دې ليکن دَ اعتدال دَ حد نه په تيريدوباندې پابندی لګولې ده. يعنی دَ ژړا اوفرياد او چغو صورو اودَ خلې نه نامناسب خبرې ويستلوباندې پابندی لګولې ده. دَغم طبعی اثرات تردريوورځوپورې زيات وی په

دي وجه دَ دریوورځوپورې غمرازی کولواجازت دې. دَ غمرازئی مطلب دادې ډول سنګار به نه کوې او دَخفګان په حالت اوسیدل دَ دریوورځونه زیات په یومړی باندې غمرازی کولواجازت نشته. او ښځه به په خپل خاوندباندې څلورمیاشتې اولس ورځوپورې دَغمرازئی اظهارکولې شی ځکه چه دَهغې خفګان ډیرزیات دې اوداځکه چه دَهغې ټول کور وران شوې دې. دَ دریوورځونه زیات خفګان کولودَ وجې نه اوښکې تویولوسره ژړل جائزدی. کله چه غم رایادشی صرف ژړا منع نه ده په ژړاکښې شریعت دا اعتدال کیخودې دې چه ویناکول حرام دی چغې صورې وهل حرام دی اودَمړی بې ځایه قصیدې وئیل اودَ تعریف بې ځایه پل تړل جائزنه دی.

د تعزیت مسنونیت: - دَ چادَخپلوانو په مرګ باندې دَهغه سره تعزیت کول مسنون دی. دَتعزیت مطلب دادې چه په دغه خفګان کښې دَ مړی پسماندګانوته دَ صبروثبات اودَ وقار تلقین اوکړې شی اودَ آخرت دَ اجر اوثواب تذکره اوکړې شی. حضورپاك دَ حضرت جعفر رضی الله عنه حضرت زید رضی الله عنه او عبدالله بن رواحه رضی الله عنه په شهادت باندې په مسجدنبوی کښې ناست وو او صحابه کرام راغلی وو تعزیت ئی کړې وولهذا په جمات کښې کیناستل زیات بهتردی.

د تعزیت موده او کلمات: - دَتعزیت وخت صرف دریوورځوپورې دې دې نه زیات تعزیت کول مکروه دی. اوکه غم وهلې سړې دغه وخت کښې موجودنه وی نوچه کله ملاقات اوشی هغه دې تعزیت اوکړی. دَمړی دَ دفن کولونه پس تعزیت کول دَ دفن کولونه وړاندې دَ تعزیت کولونه بهتر دی. دَمړی والوکور ته خوراك ورلیګل هم دَ تعزیت یوه حصه ده. دَ تعزیت کولوپه وخت دا الفاظ اداکول پکاردی. "ان لله ما اخذوله ما اعطی وکل شئ عنده باجل مسمی، ان واناالیه راجعون" دا الفاظ هم وئیلې شی "عظم اجرك وغفرمصابك"

د ایذا څخه مراد: - ایذاء نه مراد دادی چې قبر ته ډډه لګول او په قبر باندې کښیناستو باندې صاحب قبر خفه کیږی. ځکه چې دې سره حقارت لازمیږی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٧٢٢] دَ بچی په وفات باندې دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم خفګان

١٧٢٣ — (١) [١] ١ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: «دَخَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَبِي سَيْفٍ الْقَيْنِ، ٢ وَكَانَ ظِئْرًا لِإِبْرَاهِيمَ، ٣ فَأَخَذَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِبْرَاهِيمَ فَقَبَّلَهُ وَشَمَّهُ، ٤ ثُمَّ دَخَلْنَا عَلَيْهِ بَعْدَ ذٰلِكَ ٥

---

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «إنا بک لمحزونون» (رقم-١٣٠٣) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب رحمته صلی الله علیه وسلم الصبیان والعیال وتواضعه وفضل ذلک (رقم-٦٢ - (٢٣١٥) وابوداود کتاب الجنائز،/باب فی البکاء علی المیت (رقم-٣١٢٦)

وَإِبْرَاهِيمُ يَجُودُ بِنَفْسِهِ، ٦ فَجَعَلَتْ عَيْنَا رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَذْرِفَانِ، ٧ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ، وَأَنْتَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ ٨ فَقَالَ: يَا ابْنَ عَوْفٍ، إِنَّهَا رَحْمَةٌ، ثُمَّ أَتْبَعَهَا بِأُخْرَى، ٩ فَقَالَ: إِنَّ الْعَيْنَ تَدْمَعُ، وَالْقَلْبَ يَحْزَنُ، ١٠ وَلَا نَقُولُ إِلَّا مَا يُرْضِي رَبَّنَا، ١١ وَإِنَّا بِفِرَاقِكَ يَا إِبْرَاهِيمُ لَمَحْزُونُونَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې يوه ورځ مونږ رسول الله ﷺ سره د ابو سيف لوهار کور ته ورغلو ٢ چې د حضور ﷺ د ځوي حضرت ابراهيم رضي الله عنه د دايي خاوند وو ٣ حضور ﷺ حضرت ابراهيم رضي الله عنه په غيږ کښې اخستو سره ښکل کړو او بوي يي کړو (يعنى خپله خُله او پوزه يي د هغه په مخ داسې کيښودله څرنګه چې څوک خوشبو بويوي) ٤ د دې واقعي څخه څو ورځي وروسته مونږ بيا ابوسيف کره ورغلو، ٥ کوم وخت چې د ابراهيم رضي الله عنه د زنکدن حالت وو ٦ دې ليدو سره د حضور ﷺ د سترګو مبارکو څخه اوښکي وبهيدلي ٧ نوحضرت عبدالرحمٰن بن عوف رضي الله عنه عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ ته هم ژاړې؟ ٨ حضور ﷺ وفرمايل چې اي ابن عوف! د اوښکو بهيدل رحمت دي د دې څخه روسته بيا د حضور ﷺ د سترګو مبارکو څخه اُوښکي اوبهيدلي ٩ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې سترګي اُوښکي بهيوي او زړه غمجن دي ١٠ خو د دې باوجود زمونږ په ژبو هغه الفاظ دي چې په هغې سره زمونږ پروردګار راضي وي ١١ اي ابراهيمه مونږ ستا په جدايي سره بيشکه غمجن يو. (بخارى، مسلم)

حل اللغات: - ① الْقَيْنِ: أَيِ الْحَدَّادِ: لوهار ته وائى. ② ظِئْرًا: اى أَنَّهُ كَانَ زَوْجَ مُرْضِعَةِ إِبْرَاهِيمَ، وَصَاحِبَ لَبَنِهَا: يعنى داد حضور ﷺ د ځوي حضرت ابراهيم رضي الله عنه د دايي خاوند وو. ③ فَقَبَّلَهُ: ښکل ئې کړو. ④ شَمَّهُ: بوئى ئې کړو (د ډيرمحبت په وجه ئې خپله پوزه مبارکه دهغه په مخ داسې کيښودله لکه چه ګل بوئې کوى). ⑤ يَجُودُ: اى يَتَحَرَّكُ وَيَتَرَدَّدُ فِي الْفِرَاشِ لِكَوْنِهِ فِي النَّزْعِ: په بستره باندې رپيدلو زنکدن ئې وو، مرګيدلو. ⑥ تَذْرِفَانِ: أَيْ: تُسِيلَانِ دَمْعًا: د سترګونه ئې اوښکې بهيدلې.

تسهيلات:

قوله: أَبِي سَيْفٍ: دَ ابوسيف نوم براء وو اودَ هغه دَ بى بى نوم خوله رضي الله عنها وو چه دَ حضرت ابراهيم رضي الله عنه دائى وو.

قوله: وَكَانَ ظِئْرًا لِإِبْرَاهِيمَ:

حضرت ابراهيم رضي الله عنه دَ ماريه قبطيه رضي الله عنها دَ خيټې نه پيدا شوې وو دَ ١٦/١٧ مياشتو په عمر کښې هغه وفات شو.

قوله: فَجَعَلَتْ عَيْنَا رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَذْرِفَانِ:

د سترګو څخه بې اختياره د اوښکو تللو حکم: - حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه خيال اوکړو چه مرګ خودَ الله تعالى دَ تقدير لاندې راځى. عام خلق خو په داسې موقعو باندې ژاړى ليکن دَ حضورپاك نه ژړا دَ هغوى عليه السلام دَ اوچت شان دَ وجې نه اودکمال معرفت دَ وجې نه حضرت

عبدالرحمن ﷺ پورته نور هم عجیبه اوګڼړل او وئی فرمائیل چه یارسول الله ﷺ تاسو هم ژاړئی؟ حضورپاك اوفرمائیل دا رحمت دې یعنی زماسترګې د بې صبرئی او ژړا فریاد نه لمدې نه دی بلکه دَ شفقت اورحمت نتیجه ده ځکه چه کوم سړې په سینه کښې کانړې نه بلکه زړه او ځیګر لری نودَ شفقت او رحمت دَ وجې به دَسترګونه اوښکې روانیږی. دَدې فرمان نه پس دَ حضورپاك دَ سترګو مبارکونه نورې اوښکې پریوتلې او حضورپاك اوفرمائیل چه زه غمګین یم. په دې کښې حضورپاك ارشاد اوفرمائیلو چه په داسې موقعو باندې دَ چادَ سترګونه اوښکې نه روانیږی هغه په حقیقت کښې په سینه کښې درزیدونکې زړه نه لری بلکه دَ کانړی یوه ټکړه په کښې وی. په داسې احوال کښې غمګین کیدل دَ اهل کمال په نیز دَ کامل کیدو نښه ده اوکه دَزړه ټکړه دَ سترګو په وړاندې سا ورکوی اودَ سړی په مخ باندې تازګی او مسکا وی نودا دکمال نه بلکه دَ نقص اوزوال علامت دې.

[١٧٢٣] دَ نمسی په وفات دَرسول الله ﷺ دسترګواوښکې بهیدل

١٧٢٣-(١)[٢] ١ «وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: ٢ أَرْسَلَتِ ابْنَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِ ٣ إِنَّ ابْنًا لِي قُبِضَ فَأْتِنَا، ٤ فَأَرْسَلَ يُقْرِءُ السَّلَامَ وَيَقُولُ: ٥ إِنَّ لِلَّهِ مَا أَخَذَ، وَلَهُ مَا أَعْطَى، ٦ وَكُلٌّ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى، ٧ فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ ٨ فَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ تُقْسِمُ عَلَيْهِ لَيَأْتِيَنَّهَا، ٩ فَقَامَ وَمَعَهُ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ، وَرِجَالٌ، ١٠ فَرُفِعَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّبِيُّ وَنَفْسُهُ تَتَقَعْقَعُ، ١١ فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ، فَقَالَ سَعْدٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا هَذَا؟ ١٢ فَقَالَ: هَذِهِ رَحْمَةٌ جَعَلَهَا اللَّهُ فِي قُلُوبِ عِبَادِهِ، ١٣ فَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللَّهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت اسامه بن زید ﷺ فرمایي ٢ چې د نبي کریم ﷺ لور بي بي زینب ﷺ حضور ﷺ ته د چا په ذریعه پیغام ولیږلو ٣ چې زما د ځوي ساه خیژي نو سمدستي ته ﷺ ماته تشریف راوړه ٤ حضور ﷺ په جواب کښې د سلام څخه روسته دا پیغام ولیږلو ٥ چې کوم شي (یعنی اولاد وغیره) چې الله ﷻ واخستو هغه هم د هغه وو او کوم شي چې هغه ورکړي دي هغه هم د هغه دي [نو دهغې په تلو ژړا او انګولا کول نه دي پکار ځکه چې د هغه امانت وو چې هغه واپس واخستو] ٦ او د الله ﷻ په نزد د هر شي یو وخت مقرر دي (یعني ستا د ځوي ژوند د دومره ورځو د پاره لیکل شوي وو څومره ورځي چې هغه ژوندي وو) ٧ نو تاته صبرکول او د الله ﷻ څخه د ثواب طلبګاره کیدل پکار دي ٨ بي بي زینب ﷺ دوباره سړي ورولیږلو او دا ځل یي حضور ﷺ ته قسم وړاندي کړو چې ضرور تشریف راوړه ٩ نو حضور ﷺ پاڅیدو او حضرت سعد بن عباده ﷺ، معاذ بن جبل ﷺ، ابي بن کعب ﷺ، زید بن ثابت ﷺ او په صحابه ؤ کښې څه نور خلق هم د

---

١) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز /باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «یعذب المیت ببعض بکاء أهله علیه» إذا کان النوح من سننه " (رقم-١٢٨٤) ومسلم فی کتاب الجنائز /باب البکاء علی المیت (رقم) ١١ - (٩٢٣) وابوداود فی السنن

حضور ﷺ سره شو [١٠] كوم وخت چې حضور ﷺ لور ته وررورسیدو نو وړو کې د حضور ﷺ په غیږ کښې ورکړې شو چې د زنکدن په حالت کښې وه [١١] دا حالت لیدو سره د حضور ﷺ د سترګو مبارکو څخه اوښکې وبهیدې حضرت سعد رضی الله عنه اوویل چې یا رسول الله ﷺ دا څه دي؟ [١٢] حضور ﷺ وفرمایل چې دا رحمت دي چې الله جل جلاله د خپلو بنده ګانو په زړونو کښې پیدا کړې دې [١٣] (دا واورئ چه) الله تعالى جل جلاله صرف په هغه خلقو باندې رحمت یعنی مهرباني کوي چې د رحم جذبه لرونکي وي. (بخاري)

حل اللغات:- ① قُبِضَ: أَيْ: قَرُبَ قَبْضُهُ وَمَوْتُهُ: یعنی نږدې ده چه ساه ئې اوخیجی او مړشی. ② وَلْتَحْتَسِبْ: أَيْ: تَطْلُبِ الْأَجْرَ: یعنی ثواب غواړه، ③ تَتَقَعْقَعُ: أَيْ: تَضْطَرِبُ وَتَتَحَرَّكُ: یعنی ګډ وډ خوزیدو، زنکدن ئې وو.

تسهیلات: قوله: ابْنَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: حضرت زینب مراد ده چه دَحضورپاك مشره لور بی بی وه څوك چه دَ ابوالعاص رضی الله عنه په زوجیت کښې وه هم دَ هغې دَ ځوئی واقعه ده.

قوله: قُبِضَ: یعنی دَزنکدن په حالت کښې دې بس ساعت ګهړئی کښې مری لکه چه مړشوې دې. دا تاویل ځکه ضروری دې چه دَ حضورپاك دَتشریف راوړلو پورې ماشوم ژوندې وو.

قوله: تَتَقَعْقَعُ: دَ سا ورکولو په حالت کښې چه کله سا بې ربط او ښکته پورته کیږی او سلګئی شروع کیږی دغه حالت په دې لفظ کښې بیان کړې شوې دې.

قوله: تُقْسِمُ عَلَيْهِ: یعنی حضرت زینب رسول الله ﷺ ته قسم ورکولو چه تاسو ضرور راشئی. معلومه شوه چه غیرته قسم ورکول په عربو معاشره کښې وو او زمونږ په نیز هم شته سره دَدې چه دا قسم په غیر باندې لازم نه راځی.

[١٧٢٤] په مړی د غیر اختیاری ژړا جواز

١٧٢٤—(١)[٣] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: [٢] «اشْتَكَى سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ شَكْوَى لَهُ [٣] فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُهُ مَعَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ، وَسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، وَعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ، [٤] فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ وَجَدَهُ فِي غَاشِيَةٍ، [٥] فَقَالَ: قَدْ قَضَى. قَالُوا: لَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ، [٦] فَبَكَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٧] فَلَمَّا رَأَى الْقَوْمُ بُكَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكَوْا. [٨] فَقَالَ: أَلَا تَسْمَعُونَ أَنَّ اللّٰهَ لَا يُعَذِّبُ بِدَمْعِ الْعَيْنِ، [٩] وَلَا بِحُزْنِ الْقَلْبِ، [١٠] وَلٰكِنْ يُعَذِّبُ بِهٰذَا، وَأَشَارَ إِلَى لِسَانِهِ، [١١] أَوْ يَرْحَمُ، وَإِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه وايي [٢] چې حضرت سعد بن عباده رضی الله عنه ناروغه وو [٣] نو حضور ﷺ د هغه پوښتني ته راغلو عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ،سعد بن ابي وقاص

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب البکاء عند المریض (رقم-١٣٠٤) ومسلم فی کتاب الجنائز/باب البکاء علی المیت (رقم) ١٢ - (٩٢٤) وابوداود کتاب الجنائز/باب فی البکاء علی المیت (رقم-٣١٢٦) والنسائی کتاب الجنائز/الأمر بالاحتساب والصبر عند نزول المصیبة (رقم-١٨٦٨)واحمد فی المسند ٥/٢٠٤

رضي الله عنه او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه هم ورسره وو ④ هر کله چې حضور ﷺ هغه ته ورسيدو نو هغه يې د بيهوشي په حالت کښې وليدلو ⑤ حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې آيا دي وفات شوي دي؟ صحابه ؤ عرض اوکړو چې يا رسول الله! ﷺ نه دي وفات شوې ⑥ حضور ﷺ د سعد رضي الله عنه حالت ليدو سره په ژړا شو ⑦ نو صحابه ؤ چې حضور ﷺ په ژړا وليدلو نو هغوی هم په ژړا شول ⑧ بيا حضور ﷺ وفرمايل چې په ښه شان واورئ چې الله تعالی جل جلاله عذاب نه ورکوي د سترګو په اُښکو بهيولو ⑨ او دزړه په غمجن کيدو باندې ⑩ حضور ﷺ د خپلي ژبي مبارکي طرف ته اشاره کولو سره وفرمايل چې البته الله تعالی جل جلاله د دې په وجه عذاب هم ورکوي ⑪ او رحم هم کوي (يعني که د څه حادثي او مصيبت په وخت د ژبي څخه د ناشکرئ يا په بارګاه الوهيت کښې د بي ادبي څه الفاظ وځی يا وير کولو سره ژړا اوشي نو دا مستحق د عذابَ دي او که په داسې موقع باندې ژبه په حمد او شکر کښې مشغوله وي او انالله... اوويل شي نو مستحق د رحمت او ثواب دي) او مرده ته د خپل کور والو د ژړا په وجه عذاب ورکول کيږي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① غَاشِيَةٍ: أَيْ شِدَّةٍ مِنَ الْمَرَضِ: د مرض د سختئ نه د بې هوشئ په حالت کښې وو. ② بَكَوْا: هغوی ټول هم په ژړا شو.

تسهيلات: قوله: فَبَكَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حديث شان ورود: - حضرت سعدبن عباده رضي الله عنه دَ انصاردَ يوې قبيلې سردار وو. دې چه کله يوځل بيمار شو نوحضورپاك دَهغه دَ تپوس دَپاره لاړو. دَ هغوی رضي الله عنه جليل القدر ملګرې حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه او حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه هم رسول الله ﷺ سره وو. کوم وخت چه حضورپاك دَ هغه کورته اورسيدلو نو حضرت سعدبن عباده رضي الله عنه دَ بې هوشئی په عالم کښې وو. حضورپاك دکور والو نه تپوس اوکړو چه آيا دَدوی انتقال شوې هغوی اوخودل چه نه. بيا حضورپاك دَخپل ملګرې په حالت اوژړل. دَ حضورپاك ژړا چه هلته موجودو خلقو اوليدله نو ټول په ژړا شو. حضورپاك مسئله خودلوسره اوفرمائيل چه صرف خفه کيدوسره يا اوښکې تويولوسره الله تعالی چاته سزا نه ورکوی البته په ژبه سره چغې صورې او ژړا فرياد کول او دَ جاهليت په ويناګانو کولوسره عذاب ورکوی. بيا رسول الله ﷺ دا ضابطه بيان کړه چه "وان العبد يعذب ببكاء اهله عليه" يعنی چغې صورې او وينا کولوسره مړی ته عذاب ورکولې شي.

دَ سينې وهل او ګريوانونو شلولو حرمت: -

رسول الله ﷺ دَدې ارشاد لاندې يوې ضابطې طرف ته اشاره فرمائيلې ده چه قابل دَ توضيح او تشريح ده.

اعتراض: - دلته دَحديث داحصه په ظاهره قرآن دَ يو آيت سره معارض معلوميږي. آيت

دادي دَ الله تعالی فرمان دي ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرٰى﴾ [سورت بني اسرائیل:١٥] یعنی هرسړي دَ خپل فعل اوعمل ذمه وار دي. دَخپل فعل اوعمل بوج به په خپله اوچتوی. هیڅ یو سړي به دَ بل سړي دَ اعمالو بوج نه اوچتوی. دَ آیت مفهوم او مضمون خودا دي چه په مړي باندې کله دَ بال بچ اوخپل خپلوان ژاړي نودَ هغوی دَ ژړا وبال به په مړي باندې نه راځي بلکه دَ هغوی دَ وبال ذمه وار پخپله ژړا کونکي دي. خو زیر بحث حدیث په واضحه توګه ښائي چه دَ مړي دَ پسماندګانو په ژړا سره مړي ته عذاب کیږي. په آیت اوحدیث کښې دا ښکاره تعارض دې دَ دې څه جواب دې؟

جوابونه:- دا حدیث چونکه په ډیرو طریقو سره ثابت دې او صحیح دې. لهذا علماؤ دَ آیت اوحدیث په مینځ کښې تعارض لرې کولوئی ډیر توجیهات فرمائیلي دی اوحدیث مؤل ګرځولوسره تاویلونه کړي دی.

① ام المؤمنین حضرت عائشه رضی الله عنها دا توجیه فرمائیلې چه دَدې حدیث تعلق یوخاص واقعې سره دې هغه دا چه یوځل حضورپاك دَ یوې یهودی ښځې قبر سره تیرشو هلته خلق دَ هغې په قبر باندې ژړیدل نو حضورپاك ارشاد اوفرمائیلو چه په قبر کښې دې یهودی ښځې ته عذاب ورکړې کیږي اوخلق په دې باندې ژاړي یعنی خلق دا ښځه مرحومه ګنړي حالانکه دکفر دَ وجې نه هغه ملعونه ده او په سخت عذاب کښې راګیره ده. په راتلونکی حدیث نمبر ۱۷۴۳ کښې دَ حضرت عائشه رضی الله عنها کلام موجود دې.

دوارثانو په ژده مړي ته د عذاب ملاویدو مسئله:

دَ حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها خیال ذادې چه حدیث په خپل ځائی باندې صحیح او ثابت دې دَ دې نه انکار نشته دې لیکن دَدې حدیث کوم مفهوم چه ابن عمر رضی الله عنهما خودلې دې هغه صحیح نه دې ځکه چه ابن عمر رضی الله عنهما یوه خاص واقعه دَ کلیې او ضابطې په توګه پیش کړه په کوم سره چه په حدیث او آیت کښې تعارض پیدا شو. په دې کښې دَ ابن عمر رضی الله عنهما نه خطاء شوې هغه دَ دروغو وئیلو اراده نه ده کړې صرف په مفهوم کښې دهغوی نه غلطی شوې لکه چه عائشه رضی الله عنها "ان المیت یعذب ببکاء اهله علیه" الفاظ دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دَ طرف نه ګنړي. پوره بحث دَدې باب فصل ثالث حدیث نمبر ۱۷۴۳ په متن کښې ذکردې. شارحین حدیث فرمائی چه دَ حدیث دا الفاظ ځان له دَ حضرت ابن عمر نه نقل نه دی بلکه نور ډیرو صحابه کرامو نه هم دغه الفاظ نقل دی مثلاً په دې باب کښې راتلونکې حدیث ۲۱ کښې حضرت عمر رضی الله عنه پخپله دا الفاظ نقل کوی ((اتبکی علی وقد قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان المیت لیعذب ببعض بکاء اهله علیه)) دا الفاظ دَعام ضابطې طرف ته اشاره کوی جزئی واقعه نه ده. دغه شان په زیر بحث حدیث کښې هم دَیوخاص واقعې طرف ته اشاره نه ده کړې شوې لهذا عامو صحابه کرامو او عامو شارحینو دَحضرت عائشه رضی الله عنها دا تاویل نه دې قبول

کړي. بهر حال دَحضرت عائشه رضي الله عنها دَ توجيه خلاصه داده چه دَ حديث تعلق يو يهودي ښځي سره دي چاته چه د کفر په وجه په قبر کښې عذاب کيدلو دَ اهل وعيال په وجه سره نه کيدلو. دغه شان ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرَىٰ﴾ سره دَدې حديث نه تعلق پاتې دې نه تعارض پاتې دې.

② بعضې علماؤ په دې حديث کښې دا تاويل کړې دې چه دا عذاب به هغه وخت وي چه مړي ته په خپل ژوند کښې ښه معلومه ده چه په کور کښې دَماتم کولواو چغو صورو دستور او رواج دې دې نه باوجود هغه چپ پاتې شي او دَ ژړا نه کولوتاکيد اونه کړي نودا هم دَدغه سړي خپل جرم اوخپله ګناه ده. لهذا آيت سره هيڅ تعارض نشته دې.

③ مړي ته دَهغه دَ اهل وعيال په ژړا باندې عذاب کيږي چه کله مړې په خپل ژوند کښې پخپله دَدې وصيت اوکړي چه کله زه مړشم نو په ما باندې ښه اوژاړئ نودا پخپله دَمړي ګناه شوه لکه چه دَ جاهليت په زمانه کښې خلقو وصيت کولو. طرفه بن العبد داسې وصيت کوی:

④ دَدې عذاب نه هغه عذاب مراد دې چه په قبر کښې فرښتې مړي ته هغه وخت ورکوی کله چه لواحقين بې ځايه تعريفونه کوی اودَ مړي خوبيانې داسې بيانوی "واجبلاه" نوفرښتې په قبر کښې هغه مړې وهی چه اوښايه واقعی ته غروې لکه څنګه چه په حديث نمبر١٧٣٥ کښې دَدې ذکر موجود دې.

[١٧٢٥] د ځان وهلو حرمت

١٧٢٥–()[٣] ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: "قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② «لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُودَ، ③ وَشَقَّ الْجُيُوبَ، ④ وَدَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ.» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② هغه سړي زمونږ په لاره د تلونکو څخه نه دي چې مخ او سر وهي ③ ګريوان شلوي ④ او د جاهليت د ورځو په شان آواز اوچت کړي (يعني د ژړا په وخت د ژبې څخه داسې الفاظ او داسې آواز ونه اوباسي چې شرعاً ممنوع دي لکه وير يا واويلا کول وغيره وغيره) (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① لَيْسَ مِنَّا: أَيْ: مِنْ أَهْلِ سُنَّتِنَا وَطَرِيقَتِنَا: يعنی زمونږ دمسلمانانو په طريقه باندې نه دې ② الْخُدُودَ: مخونه، ③ شَقَّ: څيرې کوی، شلوی، ④ الْجُيُوبَ: ګريوانونه.

[١] اخرجه البخاري فی کتاب الجنائز/باب: ليس منا من شق الجيوب (رقم-١٢٩٤) ومسلم فی کتاب الإيمان/باب تحريم ضرب الخدود وشق الجيوب والدعاء بدعوی الجاهلية (رقم-١٦٥ - (١٠٣) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی النهی عن ضرب الخدود، وشق الجيوب عند المصيبة (رقم-٩٩٩) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی النهی عن ضرب الخدود، وشق الجيوب(رقم-١٥٨٤) والنسائی کتاب الجنائز/ضرب الخدود(رقم-١٨٦٢)

تسهیلات: قوله : لَيْسَ مِنَّا:

د مذکوره جملې تفسیر :- په کرتونو لیکلې شوی دی چه "لیس منا" زمونږ نه نه دې مطلب دادې چه دا سړې په دې خاص شعبه کښې او خاص فعل کښې زمونږ مسلمانانو په طریقه باندې نه دې بلکه په اسلام باندې قائم دې لیکن په دې مسئله کښې زمونږ نه نه دې. دَدې دا مطلب نه دې چه دَدې جرم په ارتکاب سره دا سړې کافر شو ځکه چه دَاهل سنت په نیزد یو کبیره ګناه په کولوسره سړې دَ اسلام نه نه خارج کیږی "خلافاً للخوارج والمعتزله" مخ وهل او سینه وهل او وینښته شوکول هم یوحکم دې داحرام دی.

اودَ جاهلیت نعره داده چه هغوی دَ اسلام خلاف اودَ اسلام دَ اصولو خلاف کلام اوکړی اوداسې چغې وهل شروع کړی چه دَجاهلیت په شان نعرې اولګوی او ویناګانې اوژړاګانې اوکړی که دا چا نه وی لیدلې نوهغه دې دَ شیعه اوشنیعه ماتمونه او جلوسونه اوګوری چه دیارلس سوو کالو پخوانو شهیدانوؓ باندې ویناګانې کوی او په صحابه کرامو رضی اللہ عنہم باندې غشې وروی. داحدیث په دغه بدبختانو باندې سخت رد کوی.

[١٧٢٦] په مړی باندې د چغې صورې وهلو مما نعت

١٧٢٦ـ(١)[٥] [١] وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ: [٢] «أُغْمِيَ عَلَى أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ; [٣] فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ: أُمُّ عَبْدِ اللّٰهِ تَصِيحُ بِرَنَّةٍ، [٤] ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ: أَلَمْ تَعْلَمِي وَكَانَ يُحَدِّثُهَا: [٥] أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَنَا بَرِيءٌ مِمَّنْ حَلَقَ، [٦] وَصَلَقَ، وَخَرَقَ» ؟ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَلَفْظُهُ لِمُسْلِمٍ.

ترجمه: [١] او حضرت ابو برده رضی اللہ عنہ وایي [٢] چې یو ځل حضرت ابو موسٰي رضی اللہ عنہ بیهوشه شو [٣] نو د هغه ښځه اُم عبدالله په چغو چغو په ژړا شوه [٤] کوم وخت چې ابوموسٰي رضی اللہ عنہ په هوش کښې راغې نو هغه اوویل چې آیا تاته معلومه نه ده [چې په چغو چغو ژړا څومره بده خبره ده رواې وایي چې] بیا ابوموسٰي رضی اللہ عنہ هغې ته دا حدیث بیان کړو چې [٥] رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې زه د هغه سړي یا ښځي څخه بیزاره یم چې د مصیبت او حادثي په وخت د سر ویښتان شوکوي [٦] اوپه چغو چغو ژاړي او خپلي کپړي شلوي، بخاري مسلم د حدیث الفاظ د مسلم دي.

حل اللغات:- ① تَصِيحُ: په چغو چغو ئي ژړل. ② بِرَنَّةٍ: صَوْتٌ مَعَ الْبُكَاءِ فِيهِ تَرْجِيعٌ: په چغوچغو داسې ژړل چه ویر پکښې کوی، په اوږده ساه باندې بیا بیا د ژړا آواز راوباسی. ③ أَفَاقَ: په هوش کښې راغې، ④ حَلَقَ: أَيْ: شَعْرَهُ: چه دمصیبت په وخت کښې ویښتان اوباسی. ⑤ صَلَقَ: أَيْ: رَفَعَ صَوْتَهُ بِالْبُكَاءِ: چه په ژړا کښې آواز راوباسی او تیز تیز ژاړی، یا دا معنٰی چه ځان وهی او ځان شوکوی (ای اللَّطْمُ

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب ما ینهی من الحلق عند المصیبة (رقم-١٢٩٦) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب تحریم ضرب الخدود وشق الجیوب والدعاء بدعوی الجاهلیة (رقم) ١٦٧ - (١٠٤) والنسائی کتاب الجنائز/الحلق (رقم-١٨٦٣) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی النهی عن ضرب الخدود، وشق الجیوب(رقم-١٥٨٦)

وَالْخَدْشُ)، ⑥خَرَقَ: أَيْ: قَطَعَ ثَوْبَهُ بِالْمُصِيبَةِ: چه د مصيبت په وخت کښې جامې يا ګريوان شلوی.

تسهيلات: قوله: وَخَرَقَ:

په دې حديث سره هم په شيعه شنيعه باندې زبردست رد کيږي.

[١٧٢٧] د جاهليت څلور خويونه په امت محمدی کښې

١٧٢٧-(١)[٦] [١] وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«أَرْبَعٌ فِي أُمَّتِي مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ، لَا يَتْرُكُونَهُنَّ: [٣] الْفَخْرُ فِي الْأَحْسَابِ، [٤] وَالطَّعْنُ فِي الْأَنْسَابِ، [٥] وَالِاسْتِسْقَاءُ بِالنُّجُومِ، [٦] وَالنِّيَاحَةُ. وَقَالَ: النَّائِحَةُ إِذَا لَمْ تَتُبْ قَبْلَ مَوْتِهَا [٧] تُقَامُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَعَلَيْهَا سِرْبَالٌ مِنْ قَطِرَانٍ، [٨] وَدِرْعٌ مِنْ جَرَبٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت ابو مالک اشعري رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٢] د زمانۀ جاهليت څلور خبرې داسې دي چې زما د امت بعضې خلق به يې نه پرېږدي [٣] ① په حسب باندې فخر کول [٤] ② په نسب باندې طعن کول [٥] ③ د ستورو په ذريعه اوبه (باران) غوښتل [٦] ④ نوحه يعنی وير کول او حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې نوحه کونکې ښځې که د مرګ څخه مخکې توبه ونه وښکله [٧] نو هغه به دقيامت په ورځ په داسې حال کښې اودرول شي چې د هغې په بدن به د ګوګړو پرتوګ وی [٨] او د خارښ قميص به وي. (مسلم)

حل اللغات:- ① الْفَخْرُ: أَيْ: الِافْتِخَارُ: فخر کول، ② الْأَحْسَابِ: حسب هغه صفاتو ته وائی کوم چه په ده کښې يا دده په آبا او اجداد کښې وی لکه بهادری، فصاحت او بلاغت وغيره. ③ الطَّعْنُ: په نسب کښې عيب لګول، ④ الِاسْتِسْقَاءُ: أَيْ: طَلَبُ السُّقْيَا: باران غوښتل، ⑤ النِّيَاحَةُ: په مړی باندې دښځو په چغو ژړل او دمړی صفات بيانول، مثلا داسې وئيل: وَا وَيْلَاهُ، وَا حَسْرَتَاهُ، وَا شُجَاعَاهُ، وَا أَسَدَاهُ، وَا جَبَلَاهُ. ⑥ سِرْبَالٌ: أَيْ: قَمِيصٌ: کميص، ⑦ قَطِرَانٍ: د ګوګړو، ⑧ دِرْعٌ: کميص، ⑨ جَرَبٍ: خارښ.

تسهيلات: قوله: الْفَخْرُ فِي الْأَحْسَابِ:

داحساب او انساب وضاحت:- حسب هغه خوصفاتوته وائی چه په يوانسان کښې موجودوی اودهغې دَ وجې نه هغه خپل ځان دَ نورونه غوره اوبهتر ګڼړی لکه فصاحت بلاغت او جرأت بهادرئی صفتونه دی. دلته دَحسب نه هم دغه صفات مراد دی. اګرچه حسب په اصل کښې دَ انسان دَمور طرف ته سلسله نسب ته وئيلی شی. لکه څنګه چه نسب دَ پلار طرف نه دَ نسب په سلسله کښې يادولې شی. په نسب باندې پيغور کولومطلب دادې چه يوسړې دَبل سړی په پلار باندې داسې نکته چينی اوکړی چه دَهغه په خاندان او نسب کښې عيبونه اولټوی او په هغې کښې چخچی لټوی اودَهغوی دَ پلار نيکه درجه په بده ويناکولوسره دکمولوکوشش کوی. اسلام دا دوه څيزونه په دې وجه منع کړل چه په دې سره خپله لوئی او

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الجنائز /باب التشديد فی النياحة (رقم)٢٩ - (٩٣٤) واحمد فی المسند ٣٤٢/٥

دَبل مسلمان سپکاوې کیږی. اوکه دکفرپه مقابله کښې یومسلمان دا ښه صفتونه بیانوی نو هغه جائزدی.

قوله: وَالِاسْتِسْقَاءُ بِالنُّجُومِ:

د ستورو په واسطه د باران غوښتلو حکم: - دَدې مطلب دادې چه باران الله تعالی کوی اویوسړې دَدې نسبت یوستوری ته کوی مثلاً وائی چه دا باران خو دَچیتر ستوری یا سهیل ستوری اوکړو یادَدې دَ راختلودَ وجې نه باران اوشو دادَ شرك حصه ده په دې وجه منع دې.

قوله: وَالنِّيَاحَةُ:

د نیاحت مصداق: - پخوانئی زمانـه کښې دَغـم پـه موقـع بـه دَ بـازار نـه پـه کرایـه بانـدې ژړاکونکې او نورخلق ژړونکې ښځې راوستلې شوې اوهغـوی بـه دَ مړی بې ځایـه صفتونـه بیانول. پخپله به ئی ژړل او نـور خلق بـه ئـی هم ژړول. دوی بـه پـه مړی بانـدې ښـه ژړاګانې اووینـاګانې کولوسره ښه پیسې اخستلې. هم دَدغه ممانعت خبره په دې حدیث کښې ده. نن صباهم دَ نیاحـه یعنـی ویناګـانو مختلف شکلونه موجـود دی. بعـضې وخـت دَ تعزیـت پـه جلسوکښې دَ نوحه پوره نظاره مخې ته راځی.

قوله: قَطِرَانٍ:

دقطران وضاحت: - یوه ونه ده چه دَهغې نوم ابهل دې دَهغې نه څه توره توره ماده راوځی چه ډیره بدبویـه وی او پـه هغـې کـښې دَ ګرمئـی حرارت وی اوهغـه ډیـرزر اور اخلی. دا مـاده دَ دوائی پـه توګـه دَ خـارښ والا پـه اوښـانو مړلـې شی پـه کـوم سره چه خـارښ سـوزی اوسخت تکلیف کیږی. دادَ تارکولوپـه شان یـوځیزدې دَ نـرم تـارکول پـه شـان دې پښتوکښې دې تـه رانزړه وائی. دَدې ونې دکوهستان اوکشمیر په لرې لرې اوچتو ځنګلونوکښې وی اودَدې ونو لرګی دَ تیلو په شان سوزی.

دَ حدیث مطلب داشو چه دانوحه کونکې ښځې چرته توبـه اونـه کړی نودَ قیامـت پـه ورځ بـه دې تـه دَ قطران جامې اغوستلې شی. دَدې طریقـه بـه داوی چـه اول بـه دَهغـې پـه بـدن کـښې سخت خارښ شروع شی بیابه د ده مادې نه جوړ شوې لباس وراغوستلې شی پـه کـوم سره چه به دَدې بدن سوزیدوسره اور اخلی. "ولبٰسه من قطران وتغشی وجوههم النار".

[١٧٢٨] صبر په اول د صدمې کښې

١٧٢٨ - ( ) [٧] ١ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: ٢ «مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِامْرَأَةٍ تَبْكِي عِنْدَ قَبْرٍ، ٣ فَقَالَ: اتَّقِي اللَّهَ وَاصْبِرِي. ٤ قَالَتْ: إِلَيْكَ عَنِّي، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيبَتِي، وَلَمْ تَعْرِفْهُ» ٥ فَقِيلَ لَهَا: إِنَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَتْ بَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ٦ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدَهُ بَوَّابِينَ. فَقَالَتْ: لَمْ أَعْرِفْكَ، ٧ فَقَالَ": إِنَّمَا

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب زیارة القبور (رقم-١٢٨٣) ومسلم فی کتاب الجنائز/باب فی الصبر علی المصیبة عند أول الصدمة (رقم) ١٥ - (٩٢٦) واحمد فی المسند ٣٤٢/٥

الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُولَى» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت انس ﷛ فرمايي [٢] چې يو ځل نبي كريم ﷺ د يوې ښځه په خواه كښ تير شو چې يو قبر ته نزدي په چغو چغو يي ژړل [٣] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې د الله ﷻ د عذاب څخه ويريږه (يعني نوحه مه كوه ګينى په عذاب كښې به مبتلا شې) او صبر كوه [٤] هغه ښځي حضور ﷺ ونه پيژندلو (د حضور ﷺ ارشاد اوريدو سره) هغه اوويل چې زما څخه لرې شه (تاته زما د غم څه علم دي؟) ځكه چې ته زما په شان په مصيبت كښې ګرفتار شوي نه يي [هركله چې حضور ﷺ هغې نه واپس شو] [٥] نو هغې ته اوويل شو چې دا نبي كريم ﷺ وو (بيا څه وو) هغه ښځه (په منډه) د حضور ﷺ دروازې ته حاضره شوه [٦] هغې په دروازه يو دربان يا پيره دار ونه موندلو (څرنګه چې د باشاهانو او اميرانو په دروازه دربان او پيره داران وى) بيا هغې رسول الله ﷺ ته عرض اوكړو چې زما نافرماني معاف كړه ما ته نه وي پيژندلي [٧] حضور ﷺ هغې ته وفرمايل صبر خو هغه وي چې د مصيبت په ابتدا كښې وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① إِلَيْكَ: دا اسم فعل دې په معنى د اِبْعِدْ وَتَنَحَّ: لرې شه ، جدا شه، ② بَوَّابِينَ: دربان، پهره داران لكه څنګه چه د بادشاهانو او غټو خلقو په دروازو كښې ولاړ وى.

تسهيلات: قوله: إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُولَى:

د صدمې د اول وخت صبر:- دا څوك ښځه وه دَ مدهوشئى په حالت كښې دَ يوخپلوان په قبرباندې فرياد كولوسره ژړل. حضورپاك په هغه ځائى تيريدو نوهغې ته ئى نصيحت اوكړو دَ الله تعالى نه اوويريږه او دَ صبر نه كارواخله. هغې حضورپاك اونه پيژندلو نوئى وئيل "اليك عنى" يعنى مانه لرې شه تاته دغه مصيبت نه دې رسيدلې كوم چه ماته رسيدلې دې. داجمله ډيره سخته وه ليكن هغې حضورپاك اونه پيژندلو. كله چه ورته معلومه شوه نو په منډه لاړه دَ حضورپاك كورته اومعافيانې ئى غوښتلې اوكيدې شى چه دا ئى هم اووئيل يا رسول الله ﷺ زه به اوس صبر كوم. حضورپاك اوفرمائيل دَ صبر اعتبار هغه وخت كيږى كله چه نوې غم راشى او سرې صبر اوكړى. روستو دَ صبر كولوڅه فائده هغه صبر خوهرسړې كوى ځكه چه په ژړا ژړا باندې ستړې شى نودَ صبر نه علاوه هغوى سره بل څه وى. دَ دغه پورتنو ټولو احاديثو نه معلومه شوه چه په اسلام كښې ويناګانې كول حرام دى. مسلمانانو اوخاص كر ښځو له پكار دى چه هغوى دَ شريعت خيال اوكړى دَ رشته دارو خيال اونه كړى.

[١٧٢٩] د درې نابالغه بچو مرګ د دوزخ د حراموالی سبب

١٧٢٩ـ(١)[٨] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " [٢] «لَا يَمُوتُ لِمُسْلِمٍ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ [٣] فَيَلِجُ النَّارَ إِلَّا تَحِلَّةَ الْقَسَمِ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د کوم مسلمان چې درې واړه بچی مړه شي [٣] هغه به په دوزخ کښې نه داخليږي هو د قسم پوره کولو د پاره به ځي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① فَيَلِجُ: ف په معنی د واؤ سره دې د جمع دپاره، او يلج په معنی د داخليدو سره دې. ② تَحِلَّةَ الْقَسَمِ: دقسم پوره کيدو دپاره، (ددې نه مراد مقدار يسيردې چه قسم پرې پوره شي).

تسهيلات: قوله : إِلَّا تَحِلَّةَ الْقَسَمِ:

د تحلة القسم مطلب: - يعني دَ يومسلمان درې هلکان يا جينکئی دَ بلوغ نه مخکښې دَ دغه سړی په ژوند کښې مړې شی نوالله تعالی به دغه سړی ته جنت ورکوی او په هغه باندې به دَ دوزخ اور حراميږی. اودَ قسم پوره کولودَپاره به دوزخ ته ځی. دَدې جملې مطلب دادې چه الله تعالی قسم خوړلې دې چه دَ ټولو انسانانو په دوزخ باندې تيريدل لازم دی. ﴿وَإِنْ مِّنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا﴾ دَدې قسم پوره کولودَپاره به دوزخ ته تلل وی. دَدې مطلب دادې چه په دوزخ باندې به يوپل کيخودې شی دکوم نوم چه پل صراط دې. په دې باندې به مؤمن اوکافر تيريږی. مؤمن به تيز شی اوکافر به ښکته اورکښې پريوځی دغه شان تيريدوسره به قسم پوره شی. "الاتحلة القسم" هم دغه مطلب دې.

[١٧٣٠] دَ دوؤ بچوپه مرګ صبرد جنت د داخليدو سبب

١٧٣٠ـ(٢)[٩] [١] وَعَنْهُ قَالَ: [٢] «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ: [٣] لَا يَمُوتُ لِإِحْدَاكُنَّ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَتَحْتَسِبُهُ [٤] إِلَّا دَخَلَتِ الْجَنَّةَ، [٥] فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ: أَوِ اثْنَانِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، قَالَ: أَوِ اثْنَانِ». [٦] رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: ثَلَاثَةٌ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ.

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الأيمان والنذور/ قول الله تعالى: {وأقسموا بالله جهد أيمانهم} [الأنعام: ١٠٩] (رقم-٦٦٥٦) ومسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب فضل الإحسان إلى البنات (رقم) ١٥٠ - (٢٦٣٢) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی ثواب من قدم ولدا(رقم-١٠٦٠) والنسائی کتاب الجنائز/باب من يتوفى له ثلاثة (رقم-١٨٧٥) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی ثواب من أصيب بولده (رقم-١٦٠٣) ومالك فی الموطا کتاب الجنائز/باب الحسبة فی المصيبة (رقم-٣٨) واحمد فی المسند ٢/٢٣٩

[2]) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب ما قيل فی أولاد المسلمين (رقم-١٣٨١) ومسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب فضل من يموت له ولد فيحتسبه (رقم) ١٥١ - (٢٦٣٢) والترمذی فی السنن کتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی الثناء الحسن على الميت(رقم-١٠٥٩) والنسائی کتاب الجنائز/من يتوفى له ثلاثة (رقم-١٨٧٣) وابن ماجة کتاب الجنائز/باب ما جاء فی ثواب من أصيب بولده (رقم-١٦٠٤) ومالك فی الموطا کتاب الجنائز/باب الحسبة فی المصيبة (رقم-٣٩)

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي [٢] چې رسول الله ﷺ څو انصارو ښځو ته وفرمايل [٣] په تاسو کښې چې د کومې ښځې هم درې واړه بچې مړه شي او هغه ښځه د ثواب طلبګاره وي [٤] نو هغه به په جنت کښې داخله کړل شي [٥] (دې آوريدو سره) په هغوئ کښې يوې ښځې عرض اوکړو چې دوه واړه بچې يې مړه شي؟ (يعني دا بشارت د دريو وړو سره مه خاص کوئ بلکه دا وفرمايه که درې مړه شي يا دوه مړه شي) نو حضور ﷺ وفرمايل چې هو که دوه واړه بچې يې مړه شي نو هم دا بشارت دې ورته، [٦] مسلم، د بخاري او د مسلم د دواړو په يو بل روايت کښې داسې دي چې حضور ﷺ دا هم وفرمايل چې داسې درې واړه بچې مړه شي چې د بلوغ حد ته نه وي رسيدلي (نو هغوئ ته دا بشارت دې).

حل اللغات:- ① تَحْتَسِبُهُ : د ثواب طلبګاره وی اوصبر کوی. ② الْحِنْثَ: بلوغ ته، يا داسې حد ته چه دهغوی ګناه ليکلې شی.

تسهيلات: قوله : ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَتَحْتَسِبُهُ:

د درې ماشومانو په مرګ صبر کولو دجنت زيرې: -په دې حديث کښې دَ جنت دَ داخليدودپاره دَ دريوبچو په ځائې دَ دوو ذکردې ليکن په دې حديث کښې دوه شرطونه لګولې شوی دی. يوشرط دا چه هغه مور دَ ثواب نيت اوساتی او صبر اوکړی. دويم شرط داچه دا بچې بالغ نـه وی بلکـه نابـالغ وی. دَدې دا وجـه معلـوميږی چـه ښـځو او مـورپلار تـه وړو ماشـومانو بچوسره ډيره مينه وی اودَهغوی په مرګ باندې په طبعی توګه يوعجيبه قسم غم راځی. يعنی خفګان اوغم خو وی ليکن دَ بچی دَ وړوکوالی دَ وجې نه په طبعی توګه په ماشوم باندې ترس راځی چه مرګ په دغه معصوم بدن باندې څنګه پنجې ورخښې کړې اودا معصومه مرغئی څنګه راګيره کړه. دا تصورکول کيدیشی چه يوزياتی غم وی په دې وجه دَ بالغ کيدونه دَ وړانديوالی قيد اولګولې شو. والله اعلم.

[١٧٣١] دَمحبوب په مرګ د ثواب ملاويدل

١٧٣١—(¹)[١٠] [١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«يَقُولُ اللَّهُ: مَا لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ عِنْدِي جَزَاءٌ [٣] إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا [٤] ثُمَّ احْتَسَبَهُ إِلَّا الْجَنَّةَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] الله تعالی جل جلاله فرمايي ما سره د خپل مؤمن بنده دپاره بدله نشته [٣] هر کله چې زه د خپل يو بنده عزيز او محبوب چې د ده د دنياوالو څخه وي اوچتوم [٤] او هغه بنده په دې د ثواب طلبګار وي (يعني صبر کوي) نو ما سره د هغه د پاره د جنت څخه بهتره بله څه جزاء نشته. (بخاري)

حل اللغات:- ① جَزَاءٌ: بدله، ثواب، ② صَفِيَّهُ : أَيْ: مُخْتَارَهُ وَمَحْبُوبَهُ: دهغه غوره او محبوب که هغه اولاد

(¹) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب العمل الذی يبتغی به وجه الله (رقم-٦٤٢٤) والنسائی کتاب الجنائز/ثواب من صبر واحتسب(رقم-١٨٧١) واحمد فی المسند ٢/٤١٧

کښې وی او که مور پلار وی یا بل څوک وی. ③ احْتَسَبَهُ: أَيْ: صَبَرَ عَلَيْهِ طَالِبًا لِلثَّوَابِ: د ثواب طلبګار وی او صبر کوی.

تسهیلات: قوله: إِلَّا الْجَنَّةَ:

د صبر په بدله کښې جنت: - مطلب دا دې چې دیو کس په دنیا کښې څوك عزیز لکه اولاد، پلار، مور یا ددې نه علاوه څوك داسې وی چې د ده هغه سره محبت وو وفات شی او دې په هغې باندې صبر او کړو نو ددې صبر په بدله کښې به الله ﷻ ده ته جنت ورکړی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٧٣٢] ویر (په مړی ژړا) کول او اوریدل د لعنت موجب

١٧٣٢ - (١)[١١] ١ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: ٢ «لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّائِحَةَ، وَالْمُسْتَمِعَةَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ حضرت ابوسعید الخدري رضی الله عنه وایي ٢ چې رسول الله ﷺ په نوحه کونکې ښځې او نوحه اوریدنکې ښځې دواړو باندې لعنت فرمایلې دي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① النَّائِحَةَ: نوحه کونکې ښځه، په مړی باندې په ویر سره ژړل او واویلا کول او د هغه صفتونه شمارلو ته نوحه وائی. ② الْمُسْتَمِعَةَ: نوحه کونکې ښځې ته به غور سره غوږ اینښودل.

تسهیلات:

نوټ: - ددې حدیث شرح په د بل حدیث په تسهیل کښې ذکر ده.

[١٧٣٣] د صابر او شاکر مؤمن د هرې لمحې عظمت

١٧٣٣ - (٢)[١٢] ١ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«عَجَبٌ لِلْمُؤْمِنِ! إِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ حَمِدَ وَشَكَرَ، ٣ وَإِنْ أَصَابَتْهُ مُصِيبَةٌ حَمِدَ اللَّهَ وَصَبَرَ، ٤ فَالْمُؤْمِنُ يُؤْجَرُ فِي كُلِّ أَمْرِهِ ٥ حَتَّى فِي اللُّقْمَةِ يَرْفَعُهَا إِلَى فِي امْرَأَتِهِ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ١ حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ د مؤمن (کامل) حال عجیبه دي که هغه ته راحت او خیر رسي نو د الله تعالی جل جلاله حمد او د هغه شکر ادا کوي ٣ او که هغه ته مصیبت رسي نو بیا هم هغه د الله تعالی جل جلاله حمد کوي او د صبر لار اختیاروي ٤ نو مؤمن ته د هغه په هر کار کښې ثواب حاصلیږي ٥ تر دې چې هغه نمړئ [نواله] پورته کړی او د خپلې ښځې په خُله کښې یې واچوي په دې هم ورته ثواب حاصلیږي. (بیهقي)

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجنائز، باب فی النوح (رقم-٣١٢٨) واحمد فی المسند ١٦٥/٣
(٢) اخرجه احمد فی المسند ١٨٢/١ والبیهقی فی شعب الایمان ١٨٩/٩

حل اللغات:- ① عَجَبٌ: ډير عجيبه او ناشنا، ② اللُّقْمَةِ: نمړئ، نواله، ③ فِي: دلته في حرف جر نه دې بلکه اسمي مراد دې يعنى خُله.

تسهيلات: قوله: عَجَبٌ لِلْمُؤْمِنِ:

دشکرګذار مؤمن فضيلت:- په دې حديث مبارك کښې د شاکر مؤمن ذکر دې چې په هر حال کښې دالله ﷻ شکر ادا کوی تر دې چې د خوراك په وخت کښې خپل حقوق کما حقه پورا کولو دپاره خپلې بی بی ته په خوله کښې نمړئی ورکوی په دې ورته هم ثواب ملاويږی

دحديث فوائد:- ① ددې نه معلومه شوه چې ښه نيت په يو مباح کار سره ثواب حاصليږی او عبادت جوړيږی هم په دې وجه د عالم خوب هم عبادت دې اوداشان د هيڅ يو مصيبت په وخت کښې د بې صبرئ مظاهره نه کوی بلکه مشکل حالت کښې هم زبان حال او قال سره شکر ادا کوی

② ددې مصيبت په وجه اجر عظيم ملاؤ شو او داسې کس د صبر د درې واړه قسمونو يعنى صبر عن الماصى صبر على الاطاعت او صبر على المصائب پابندى کوی

③ ددې نه دا هم معلومه شوه چې د حمداونعت په وخت کښې هم او د مصيبت په وخت کښې هم محمود دې داشان په دې حديث مبارك کښې ئې شکر په صبر باندې مقدم کړې شوې دې او دې طرفته ئې اشاره کړې ده چې دالله ﷻ د طرفه نعمتونه زيات دى او تکليفونه کم لهذا د شکر مواقع هم زياتې دى ګنی صبر دشکر نه افضل دې

[١٧٣٤] دمؤمن په مرګ د زمکې اوآسمان ژړا کول

١٧٣٤-(١) [١٣] ① وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "② «مَا مِنْ مُؤْمِنٍ إِلَّا وَلَهُ بَابَانِ بَابٌ يَصْعَدُ مِنْهُ عَمَلُهُ، ③ وَبَابٌ يَنْزِلُ مِنْهُ رِزْقُهُ، ④ فَإِذَا مَاتَ بَكَيَا عَلَيْهِ، فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: ⑤ ﴿فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ﴾ [الدخان:٢٩]» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① حضرت انس رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د هر مسلمان د پاره دوه دروازې دې يوه دروازه خو هغه ده چې د هغې څخه د هغه نيک اعمال پورته خيژي ③ او دويمه دروازه هغه ده چې د هغې څخه د هغه رزق راخکته کيږی ④ هر کله چې يو مؤمن مري نو د هغه د پاره دواړه دروازې ژاړي، دا خبره د الله تعالی جل جلاله د دی ارشاد څخه معلوميږي: ⑤ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ يعنى د هغه کافرانو د پاره نه آسمان وژړل او نه زمکې وژړل. (ترمذي)

حل اللغات:- ① يَصْعَدُ: أَيْ: يَطْلُعُ وَيُرْفَعُ: يعنى بره خيجی. ② بَكَيَا: د تثنيې صيغه ده، دواړه دروازې ژاړی (دده په جدايئ باندې).

---

[١] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الدخان (رقم-٣٢٥٥)

تسهيلات: قوله: فَإِذَا مَاتَ بَكَيَا عَلَيْهِ:

د مؤمن په مرګ د زمکې او آسمان خفګان کول: - مؤمن چه کله دَ اطاعت ژوند تيروی نودَ زمکې نه دَهغه نيك اعمال دَ آسمان په يوه دروازه باندې پورته څي او په دويمه دروازه سره دَهغه دَپاره دَ پورته نه رزق راکوزيږی. کله چه مؤمن مړ شی نودَ نيکو اعمالو سلسله بنده شی نودا دروازه هم بنده شی اودَ پورته نه دَ رزق راتلو سلسله هم بنديږی اوهغه دروازه هم بنده شی. چنانچه دَمؤمن په مرګ باندې دا دواړه دروازې ژړا کوی. بل طرف ته چه دغه مؤمن په زمکه باندې کوم نيك اعمال کړی دی مونځونه ئی کړی تلاوتونه ئی کړی هغه ټول مقامات دَ ده په فراق کښې ژاړی. هم دغه مطلب دې دَ قرآن دَ آيت چه فرعون اودَ هغه دَ پارټئ په غرقيدو باندې نه آسمان دَ هغه دَپاره اوژړل او نه زمکې اوژړل. معلومه شوه چه دَمؤمن دَپاره دا څيزونه ژاړی.

[١٧٣٥] د ماشوم مرګ دآخرت ذخيره

١٧٣٥-( )[١٤] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «مَنْ كَانَ لَهُ فَرَطَانِ مِنْ أُمَّتِي أَدْخَلَهُ اللهُ بِهِمَا الْجَنَّةَ» [٣] فَقَالَتْ عَائِشَةُ: فَمَنْ كَانَ لَهُ فَرَطٌ مِنْ أُمَّتِكَ؟ [٤] قَالَ: «وَمَنْ كَانَ لَهُ فَرَطٌ يَا مُوَفَّقَةُ» [٥] فَقَالَتْ: فَمَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ فَرَطٌ مِنْ أُمَّتِكَ؟ [٦] قَالَ «فَأَنَا فَرَطُ أُمَّتِي، لَنْ يُصَابُوا بِمِثْلِي». [٧] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] زما په اُمت کښې چې د کوم سړي دوه واړه بچی د بالغ کيدو څخه مخکي مړه شوي وي الله تعالىٰ جل جلاله به هغه د هغه دوو وړو په وجه په جنت کښې داخل کړی [٣] (د دي په اوريدو سره) بي بي عايشي رضي الله عنها پوښتنه وکړه چې که ستا ﷺ په اُمت کښې د چا يو وړوکې مړ شوي وي؟ [٤] حضور ﷺ وفرمايل چې اي موفقه د کوم سړي چې يو وړوکي مړ شوي وي د هغه د پاره هم دغه بشارت دي [٥] بي بي عايشي رضي الله عنها بيا پوښتنه اوکړه چې ښه که ستا ﷺ په امت کښې د چا يو وړوکې هم نه وي مړ شوي نو د هغه د پاره څه بشارت دي؟ [٦] حضور ﷺ وفرمايل چې بيا زه خو د خپل اُمت اميرِ منزل (د کاروان امير) يم ځکه چې زما امت به زما د وفات د مصيبت په شان د بل څه مصيبت سره نه وي مخ شوي، [٧] ترمذي دا روايت نقل کړي دي او ويلی يي دی چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات: - ① فَرَطَانِ: أَيْ: وَلَدَانِ لَمْ يَبْلُغَا أَوَانَ الْحُلُمِ: دوه ماشومان چه لا د بلوغ حد ته نه وی رسيدلي، دا د فرط تثنيه ده، فرط هغه سړی ته وائی چه دَ قافلې نه وړاندې لاړشی او منزل ته رسيږی او دَ قافلې دَ خوراک څښاك اودَ ځائی تياري اودَ ډيرې اچولو انتظام کوی. ② يَا مُوَفَّقَةُ: اي

[١]) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی ثواب من قدم ولداً (رقم-١٠٦٢) واحمد فی المسند ٣٣٤/١

توفيق ورکړې شوې. ③ لَنْ يُصَابُوا: چه نه به وی رسيدلې څه مصيبت زما امت ته،

تسهيلات: قوله: مَنْ كَانَ لَهُ فَرَطَانِ:

د فرط د لفظ وضاحت:-په دې حديث کښې دَ فرط نه مراد هغه نابالغ ماشوم دې چه دَ بلوغ نه مخکښې وفات شی. ده ته فرط ځکه اووئيلې شو چه هغه دَ مورپلار نه وړاندې لاړشی اودَهغوی دَپاره په جنت کښې ځائی جوړوی اودَ جنت دَ نعمتونو په تيارئی کښې لګيا کيږی. په ميدان محشر اوعالم برزخ کښې هم ممکن او ضروری انتظامات کوی اودَ مور پلار شفاعت کولوسره هغوی جنت ته بوځی لکه چه وړاندې حديث راځی چه دَماشوم دَ جنازې په مونځ کښې دا لفظ هم دغه شان موجود دې. "اللهم اجعله لنا فرطا واجعله لنا اجرا وذخرا واجعله لنا شافعا ومشفعا"

قوله: يَامُوَفَّقَةُ:

د عائشې په تپوس عظيم لقب ملاويدل:-حضرت عائشه رضي الله عنها تپوس اوکړو چه که دَ دوو بچو په ځائی دَ چا يو بچې مړشی نوآيا دا فضيلت به هغه ته هم حاصل وی. حضورپاك دَ حضرت عائشې رضي الله عنها سوال دَ سوچ اوپوهې خبره اوګنړله او عائشې صديقې رضي الله عنها ته ئی يوعظيم لقب ورکړو چه دَ ټولو کمالاتو او ټولو خوبيانو مجموعه ده. او هغه لقب ياموفقه خطاب دې يعنی اې هغه ښځې چاته چه الله تعالی هره ښيګړه هر هوښيارتوب او هرکمال ورکړې دې او هغه ته ئی دَدې ځيزونو دَ کولوتوفيق ورکړې دې اوهغې ته ئی لارخودنه کړې ده لکه چه دَ هغې هره فيصلې سره دَ الله تعالی شامل حال دې.

که د چا فرط نه وی:-حضرت عائشه رضي الله عنها دَدې نه هم وړاندې يوسوال اوکړو چه دَ کومو خلقو يو بچې هم نه وی مړ شوې دَهغوی دَپاره خو به فرط نه وی هغوی به څه کوی. چونکه پخپله هم دَعائشه رضي الله عنها اولاد نه وو په دې وجه دا سوال دَ نورو سره سره دَخپل ځان دَپاره هم وو. په دې وجه حضورپاك اوفرمائيل دَ چا چه څوك فرط نه وی نوهم زه دَ هغه فرط يم ځکه چه زما دَ وفات صدمه زما دَامت دَپاره داسې صدمه ده دکوم چه هيڅ مثال نشته دې.

[١٧٣٦] د اولاد په وفات د صبر او شکر ثواب

١٧٣٦-(١)[١٥] ① وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «إِذَا مَاتَ وَلَدُ الْعَبْدِ قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى لِمَلَائِكَتِهِ: ③ قَبَضْتُمْ وَلَدَ عَبْدِي، فَيَقُولُونَ: نَعَمْ. ④ فَيَقُولُ: قَبَضْتُمْ ثَمَرَةَ فُؤَادِهِ. فَيَقُولُونَ: نَعَمْ. ⑤ فَيَقُولُ: مَاذَا قَالَ عَبْدِي؟ فَيَقُولُونَ: حَمِدَكَ وَاسْتَرْجَعَ. ⑥ فَيَقُولُ اللّٰهُ: ابْنُوا لِعَبْدِي بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ، ⑦ وَسَمُّوهُ بَيْتَ الْحَمْدِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

(١) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ فضل المصيبة إذا احتسب (رقم-١٠٢١) واحمد فی المسند ٤/٤١٥

ترجمه: ١ حضرت ابو موسىٰ اشعري رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ هر کله چې د یو مؤمن بنده ورُوکې مړ شي نو الله تعالىٰ جل جلاله خپلو فرشتو (یعني ملک الموت او د هغه معاون فرشتو) ته وایي ٣ چې تاسو زما د بنده د ورُوکي روح قبض کړو؟ هغوی وائي چې هو ٤ الله تعالىٰ جل جلاله فرمایي تاسو د هغه د زړه میوه وشکوله هغوی عرض کوي چې هو ٥ بیا الله تعالىٰ جل جلاله هغوئ ته فرمایي په دي حادثه زما بنده څه وویل. هغوی عرض کوي چه هغه ستا تعریف اوکړو او انا لله وانااليه راجعون یې اوویل ٦ د دې څخه روسته الله تعالىٰ جل جلاله فرمایي چې زما د بنده د پاره په جنت کښې یو لوي کور جوړ کړئ ٧ او د هغې نوم بیت الحمد کیږدي. (احمد ترمذي)

حل اللغات: - ① قَبَضْتُمْ: أَيْ: رُوحَهُ: یعنی تاسو قبض کړو روح، ② ثَمَرَةَ فُؤَادِهِ: د زړهٔ میوه. ③ اسْتَرْجَعَ: یعنی انا لله ئې اووئیلې. ④ ابْنُوا: جوړ کړئ.

د راوي مختصر تعارف: نوم ئې عبدالله، کنیت ئې ابوموسی د پلار نوم ئې قیس دې او د مور نوم ئې طیبه وو دې د یمن اوسیدونکې وو د دوی خاندان د اشعر قبیلې سره تعلق ساتلو په دې وجه دوی په اشعری سره مشهور شو

ابوموسی اشعری رضی الله عنه چه اسلام قبول کړو نو خپل خاندان ته واپس لاړلو د خپل قوم باثر سردار وو د دوی په دعوت سره د دوی د خاندان تقریبا پنځوسو کسانو ایمان راوړلو حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه دغه کسان ځان سره مدینې ته راوستل په دغه وخت کښې حضرت جعفرطیار رضی الله عنه هم راغلې وو په دغه وخت کښې نبی کریم ﷺ د خیبر د فتحې نه واپس تشریف راوړلو نبی کریم ﷺ خلقو ته چه کوم مال غنیمت ورکولو په هغې کښې ئې د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه او د دوی ملګرو ته هم حصه ورکړه بیا په ورستو غزاګانو کښې دنبی کریم ﷺ سره شریک شوې وو

حضرت عمر رضی الله عنه دوی د بصې والې جوړ کړې وو بیا په ٣٤ هجرئ کښې دکوفې امیر مقررشو حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه په هغه اووه خوش قسمته کسانو کښې دې چاته چه د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې د فتوی ورکولو اجازت ملاو شوې وو [1]

د اوچتو صفاتو مالک: -ددوی خصوصی صفات د سنتو تابعداری، تقوی، خدمت د رسول الله، شرم او حیا، سادګی او د امت مسلمه خیرخواهی وه دحضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه د قرآن پاک سره هم خصوصي شغف وو قرآن کریم به ئې ډیر په خوش آوازئ سره لوستلو یو ځل نبی کریم ﷺ د دوی قرآن واوریدلو نو وې فرمائیل دوی ته د داود علیه السلام د آواز څه حصه

---

[1]) تذکرة الحفاظ (٢١)_(٢) طبقات ابن سعد (٨٠١٤)_ (٣) طبقات ابن سعد (٨٠١٤)_ (٤)رواه البخاري في الفتن باب اذا التقى المسلمان بسيفهما رقم ٦٥٥٦ وفی الایمان والدیات ومسلم فی الفتن باب اذا توجه المسلمان بسيفهما ٥١٣٩ وکذا نس فی تحريم الدم رقم ٤٠٥٤، وابوفى الفتن رقم ٣٧٣٣، وجه فی الفتن رقم ٣٩٥٥. واحمد. اول مسند البصريين رقم ١٩٥٢٨).

ملاؤ شوې ده (٢)

د قرآن پاک دتلاوت اثر:- يوځل ئې په مسجد کښې په اوچت آواز سره د ماسخوتن مونځ کولو ازواج مطهرات دخپلو حجرو سره نژدې ولاړې وې او د دوی قرآن ئې اوريدلو کله چه صبا دوی ته د دې خبر اوشو نو وې فرمائيل که ماته معلومه وې نو دوی به مې د قرآن نور مشتاقانې جوړې کړې وې (٢)

حديثو سره تعلق:- قرآن پاک سره سره ئې د احاديثو سره هم خصوصي تعلق وو د دوی د مروياتو شمار ٣٦٠ دې په دې کښې ٥٠ په بخاری او مسلم دواړو کښې دی ۴ کښې بخاری کښې او ۴۵ مسلم کښې منفرد دې د صحيح قول مطابق په مکه کښې په ۴٢، ۴۴، يا په ۵٢، هجری کښې بيمارشو.او وفات شو د وفات په وخت کښې ئې عمر ١٢ وو.

تسهيلات: قوله: وَسَمُّوهُ بَيْتَ الْحَمْدِ:

په جنت کښې د بيت الحمد کور جوړيدل:- يعنی چه کله دَ چا بچې مړ شی نوالله تعالی دَ فرشتو نه سوال او جواب کولونه پس ارشاد فرمائی چه هغه سړی دَ خپل ځيګرد ټکړې په مرګ باندې زما حمداوتعريف کړې دې او صبرئی کړې دې په دې وجه دَهغوی دپاره په جنت کښې يومحل تيارکړئی اودَ هغې نوم "بيت الحمد" کيږدئی. دَ بچی په وفات باندې دې سړی چه دَالله تعالی کوم تعريف کړې دې دَ هغه حمد بدله هغه ته "بيت الحمد" په صورت کښې ملاؤ شوه.

[١٧٣٧] مصيبت زده ته تسلی ورکول

١٧٣٧-(١)[١٦][١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «مَنْ عَزَّى مُصَابًا فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، [٣] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَلِيِّ بْنِ عَاصِمٍ الرَّاوِي، [۴] وَقَالَ: وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوقَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مَوْقُوفًا.

ترجمه:[١] حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] څوک چې يو مصيبت ځپلی ته تسلي ورکوي نو هغه ته هم د مصيبت ځپلی په قدر ثواب ورکول کيږي. (ترمذي ابن ماجه)[٣] امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث غريب دي مونږ دا روايت د علي بن عاصم څخه علاوه د بل چا په ذريعه مرفوع نه دي موندلي [۴] امام ترمذي رحمه الله دا هم فرمايي چې بعضې محدثين دا روايت د محمد ابن سوقه څخه په دې سند سره په ابن مسعود ﷺ باندې موقوف نقل کړي دي.

حل اللغات:- ① عَزَّي: دَ باب تفعيل نه تعزيت، دَ صبر تلقين او مصيبت وهلی ته دَتسلئ ورکولو په معنی کښې دې. ② مُصَابًا: مصيبت وهلې چاته چه مصيبت رسيدلې وی.

[١]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/ ما جاء فی أجر من عزی مصابًا(رقم-١٠٧٣) وابن ما جة کتاب الجنائز /باب ما جاء فی ثواب من عزی مصابًا(رقم-١٦٠٢)

تسهیلات: قوله :مَنْ عَزَّى مُصَابًافَلَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ:

دحدیث مطلب: - دَحدیث مطلب دادې چه کـه چرې څوك سړې دَ یومصیبت وهلی سړی تعزیت کوی مثلاً دَ یوداسې سړی تسلی کوی دَ چا دَ خپلوانونه چه څوك مړشوې وی، هغه ته تسلی ورکوی دَهغه حوصله زیاتوی او هغه تـه پـه عزت سره پاتې کیدو اودَ سکون او استقامت درس ورکوی اوهغه سړې دَ ده نصیحت قبلولوسره پـه آرام کیږی هغه تـه دَصبر حوصله ملاویږی اودَ هغه یقین جوړیږی نودغه تعزیت کونکی تـه دَ دغه مصیبت وهلی برابر ثواب ملاویږی ځکه چه هغه دَ ده لارخودنـه اوکړه نو "الـدال علی الخیرکفاعلـه" دَ ارشاد مطابق هغه ته دَ دغه مصیبت وهلی سړی په شان ثواب ورکولې شی.

[١٧٣٨] مصیبت زده ښځې ته تسلی ورکول

١٧٣٨-()[١٧]١ وَعَنْ أَبِي بَرْزَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "٢ «مَنْ عَزَّى ثَكْلَى ٣ كُسِيَ بُرْدًا مِنَ الْجَنَّةِ» ".٤ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ: وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ حضرت ابو برزه رضی الله عنه روایت کوی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ کوم سړي چې هغه ښځي ته تسلي ورکړي چې د هغه وړوکې مړ شوي وي ٣ نو هغه ته به په جنت کښې اعلي لباس ورواچول شي، ٤ امام ترمذي دا روایت نقل کړي دي او ویلې یې دی چې دا حدیث غریب دي.

حل اللغات: - ① عَزَّى: تسلی ورکړی، ② ثَكْلَى: هِيَ فُقْدَانُ الْوَلَدِ: دکومې ښځې خوې چه ورک شوې وې یا مړشوې وی. ③ كُسِيَ: دمجهول صیغه ده، أَيْ: أُلْبِسَ: یعنی وابه غوستولې شی. ④ بُرْدًا: أَيْ: أُلْبِسَ ثَوْبًا عَظِيمًا: د عظمت جامې (دې نه معلومه شوه چه جنت ته به ځی).

دراوي مختصر تعارف: -

نوم: ددوی نوم نضله او کنیت ئې ابوبرزه دې. داسلام شروع کښې ئې اسلام قبول کړې وو. ټولو غزواتو کښې شریک شوې وو. (طبقات ابن سعد) دوی خود نبی کریم ﷺ په حیات مبارک کښې په مدینه منوره کښې وو. خو دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کښې بصری ته لاړل. د صفین جنګ کښې حضرت علی کرم الله وجهه سره وو. نهروان کښې ئې د خارجیانو سره مقابله اوکړه. بیا ئې دخراسان فتوحاتو کښې هم خپله ځوانمردی اوخودله. دوی مسکینانو سره ډیر محبت ساتلو. دوی سره یو غټ لوښې وو اوهغې کښې به سحر ماښام کونډورنډو، یتیمانو او مسکینانو خوراک کولو. (طبقات ابن سعد) -

مرویات: دوی نه مرویاتو کښې اختلاف دې. ځینې وائی چه ۲۴ دی.

وفات: د وفات نیټه کښې ئې هم اختلاف دې، ځینی ۶۰ هجری ښائی او ځینی ۶۵ هجری ښائی، دویم روایت زیات اصح دې. (اصابه)

[١] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب آخر فی فضل التعزیة(رقم-١٠٧٦)

دنورو حالاتو دپاره اوګورئ تهذيب التهذيب ۴۴۶/۱۰، طبقات ابن سعد ۱/۴، اصابه تذکره نضله، تهذيب الكمال: ۴۰۲.

تسهيلات: قوله: كُسِيَ بُرْدًا مِنَ الْجَنَّةِ:

يعنی جنت کښې به دغه تعزيت کونکی ته يونااشنا څادر اغوستلې شي دا څادر په خپل ځائی ښه دې ليکن په دې حديث کښې دا لويه خوشخبری ده چه هغه سړې دَ جنت مستحق جوړشو او په جنت کښې به هغه ته څادر اغوستلې شي.

[۱۷۳۹] دَمړی کورته د خوراک ورلیږلو حکم

۱۷۳۹ـ(١)[١٨] ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ: ② «لَمَّا جَاءَ نَعْيُ جَعْفَرٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ③ اصْنَعُوا لِآلِ جَعْفَرٍ طَعَامًا، ④ فَقَدْ أَتَاهُمْ مَا يَشْغَلُهُمْ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت عبدالله بن جعفر رضي الله عنهما وايي ② کوم وخت چې د حضرت جعفر رضي الله عنه د وفات (شهادت) خبر راغې نو رسول الله ﷺ [اهل بيت ته] وفرمايل ③ چې د جعفر د اهل وعيال دپاره طعام (رو ټی وغيره) تيار کړئ ④ ځکه چې هغوئ ته داسې حادثه پيښه شوي ده چې هغوی يې د طعام پخولو څخه مشغول کړی دی. (ترمذي ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات: - ① نَعْيُ: أَيْ: خَبَرُ مَوْتِهِ: دمرګ خبر ته وائی. ② اصْنَعُوا: خوراك تيار کړئ، ③ مَا يَشْغَلُهُمْ: ای جَاءَهُمْ مَا يَمْنَعُهُمْ مِنَ الْحُزْنِ عَنْ تَهْيِئَةِ الطَّعَامِ لِأَنْفُسِهِمْ: يعنی هغوی باندې داسې غم راغلې دې چه هغوی ئې دخوراک څښاک تيارولو نه هم منع کړی دی.

تسهيلات:

قوله: اصْنَعُوا لِآلِ جَعْفَرٍ طَعَامًا:

دمړی کور دپاره د خوراک انتظام کول: - دې حديث سره امت ته دا تعليم ملاؤ شو چه کله په کور کښې مړې اوشی نودَ خواؤشا مسلمانانودَپاره مستحب دی چه دَهغوی کورته خوراك تيارولوسره اوليګی. بعضې علماء وائی چه کم نه کم دومره خوراك دې وراوليګی چه دَ کور دَ خلقو دَپاره دَ يووخت دَپاره ښه پوره شی. بعضې حضرات فرمائی دريوورځو دَپاره يو شان دا خوراك ليګل مستحب دی ځکه چه دَتعزيت درې ورځې وی.

دَ تعزيت خوراک په خوړلو کښې مذاهب: -

دَ علماء کرام په دې سلسله کښې ډير اختلاف دې اوډير ګڼړ اختلافی اقوال دی چه کوم خوراك دَ محلې دَ خپلو خپلوانو دَ طرف نه دَماتم والاکورته راځی نودَ دغه کوردَ کسانونه علاوه نور خلق دا خوړلې شی که نه؟ ① بعضې علماء دَ عدم جواز قائل دی

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجنائز، باب صنعة الطعام لأهل الميت(رقم-۳۱۳۲) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/ ما جاء فی الطعام يصنع لأهل الميت(رقم-۹۹۸)وابن ماجة کتاب الجنائز /باب ما جاء فی الطعام يبعث إلی أهل الميت(رقم-۱۶۱۰)

② بعضې علماء فرمائی چه تجهیز اوتکفین کښې مشغول خلق هم دا خوراك کولې شی. دَ وینا کونکوښځود پاره دَمړی په کورکښې خوراك تیارول اوبیا دَخلقو هلته جمع کیدل او خوراك کول بدعت او مکروه دی. دَ اهل الله دا جمله ده "طعام المیت یمیت القلب"
حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی مونږ دا میلمستیا لکه دَ نوحه او وینا په شان حرام ګڼړله.

بغیر د مجبورۍ څخه د مړی کره خوراک کولو حرمت: - دَدې نه معلومه شوه چه د پاکستان په بعضې مقاماتوکښې مړی سره کوم دیګونه پخولې شی اودَ خواؤشا خلق بغیردَ سختې مجبور ئی نه راشی دا خوراك کوی اودَ هغې نوم "شومه" ایږدی دا حرام دې. ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی که دَمړی په کورکښې یتیمانان ماشومان وی یا څوك وارث غائب وی نو په داسې صورت کښې خوراك پخپله خوړل او یا په نورو خوړل دواړه ناجائز دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٧٤٠] مړی ته په ژړا کولو عذاب ملاویدل

١٧٤٠ - (١) [١٩] ١ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ٢ "«مَنْ نِيحَ عَلَيْهِ فَإِنَّهُ يُعَذَّبُ بِمَا نِيحَ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت مغیره رضی الله عنه وایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي ٢ چې د کوم مړي د پاره چې نوحه (ساندي، په چغو ژړا) کیږی هغه ته به د قیامت په ورځ د نوحی کولو په وجه عذاب ورکول کیږی. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① نِيحَ: مجهول دې په مړی باندې ژړا، واویلا کولو ته وائی.

[١٧٤١] دَ حضرت عائشه رضی الله عنها او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما اختلاف

١٧٤١ - (٢) [٢٠] ١ «وَعَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهَا قَالَتْ: ٢ سَمِعْتُ عَائِشَةَ وَذُكِرَ لَهَا: أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ يَقُولُ: ٣ إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ الْحَيِّ عَلَيْهِ ٤ تَقُولُ: يَغْفِرُ اللَّهُ لِأَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، ٥ أَمَا إِنَّهُ لَمْ يَكْذِبْ، وَلَكِنَّهُ نَسِيَ أَوْ أَخْطَأَ، ٦ إِنَّمَا مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى يَهُودِيَّةٍ يُبْكَى عَلَيْهَا، ٧ فَقَالَ: إِنَّهُمْ لَيَبْكُونَ عَلَيْهَا، ٨ وَإِنَّهَا لَتُعَذَّبُ فِي قَبْرِهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او بي بي عمره بنت عبدالرحمٰن وایي ٢ چې هغه وخت چې بي بي عایشي رضی الله عنها ته دا اوویل شو چې حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه وایي ٣ چې مړي ته به دهغه د ژوندو د

---

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب ما یکره من النیاحة علی المیت (رقم-١٢٩١) ومسلم فی کتاب الجنائز/باب المیت یعذب ببکاء أهله علیه (رقم-٢٨ - (٩٣٣) والترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی کراهیة النوح(رقم-١٠٠٠) واحمد فی المسند ٦١/٢

(٢) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «یعذب المیت ببعض بکاء أهله علیه» إذا کان النوح من سنته " (رقم-١٢٨٩) وابوداود کتاب الجنائز،/باب فی النوح(رقم-٣١٢٩)

ژړا په وجه عذاب ورکول کيږي ④ نو ما د بي بي عايشي رضي الله عنها څخه واوريدل چې الله تعالى جل جلاله دي ابو عبدالرحمٰن وبخښي ‹دا د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه کنيت دي› ⑤ پوهه شه چې عبدالله بن عمر رضي الله عنه ‹خداي دی نه کړي› دروغ نه دي ويلي بلکه د هغه څخه خو يا هيره شوي ده يا خطا شوي دي [حضور صلى الله عليه وسلم په دي باره کښې په يوه خاص موقعه باندي ارشاد فرمايلي وو يا دا چې دا د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه اجتهادي خطا ده چې هغه د دې ارشاد څخه عام حکم مراد اخلي حقيقت خو دا دي چې] ⑥ حضور صلى الله عليه وسلم يو ځل د يوي يهودي ښځي [د قبر سره] تير شو نو [وي ليدل چې د هغې په قبر باندې] خلقو ژړل ⑦ دي په ليدو سره حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د دې عزيز او اقارب په دي ژاړا کوی ⑧ او هغه ښځه په خپل قبر کښې په عذاب کښې مبتلا ده. ‹بخاري مسلم›

تسهيلات:

نوټ:- د حديث تشريح دَدې باب دَحديث نمبر ۱۷۲۳ لاندې تيره شوې ده.

[۱۷٤۲] دَاميرالمؤمنين حضرت عمر رضي الله عنه دَشهادت قصه

۱۷٤۲-(۱)[۲۱] ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ: ② تُوُفِّيَتْ بِنْتٌ لِعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ بِمَكَّةَ، ③ فَجِئْنَا لِنَشْهَدَهَا، وَحَضَرَهَا ابْنُ عُمَرَ، وَابْنُ عَبَّاسٍ، فَإِنِّي لَجَالِسٌ بَيْنَهُمَا، ④ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ لِعَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ وَهُوَ مُوَاجِهُهُ، ⑤ أَلَا تَنْهَى عَنِ الْبُكَاءِ: فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ⑥ "«إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ»، ⑦ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: قَدْ كَانَ عُمَرُ يَقُولُ بَعْضَ ذٰلِكَ ثُمَّ حَدَّثَ، ⑧ فَقَالَ: صَدَرْتُ مَعَ عُمَرَ مِنْ مَكَّةَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ، ⑨ فَإِذَا هُوَ بِرَكْبٍ تَحْتَ ظِلِّ سَمُرَةٍ، ⑩ فَقَالَ: اذْهَبْ فَانْظُرْ مَنْ هٰؤُلَاءِ الرَّكْبُ؟ فَنَظَرْتُ فَإِذَا هُوَ صُهَيْبٌ.

ترجمه: ① حضرت عبدالله بن ابي مليکه رضي الله عنه فرمايي ② چې د حضرت عثمان ابن عفان رضي الله عنه لور په مکه کښې وفات شوه ③ نو مونږ خلق هغه ته راغلو چې د جنازي په مانځه او دفن کولو کښې ورسره شريک شو حضرت ابن عمر رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنه هم هلته راغلل زه د هغوئ دواړو په مينځ کی ناست وم ④ په دی کې حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه حضرت عمرو بن عثمان رضي الله عنه ته چې د هغه طرف ته مخ کړئ ناست وو اوويل ⑤ چې تاسو خپل کور والا په آواز او په نوحې سره د ژړا څخه ولي نه منع کوئ؟ ځکه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا ارشاد دي ⑥ چې مړي د خپل کور والا د ژړا په وجه په عذاب کښې مبتلاء کيږي ⑦ حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه ‹د دي جواب کښې› اوويل چې حضرت عمر رضي الله عنه دې باره کې څه ويل ‹يعني د حضور صلى الله عليه وسلم د دې ارشاد گرامي څخه خو په مړي باندې عام طور سره د ژړا ممانعت معلوميږي ليکن حضرت عمر رضي الله عنه به دا ممانعت صرف قريب المرګ ته آواز

[1] اخرجه البخاري فى كتاب الجنائز /باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: «يعذب الميت ببعض بكاء أهله عليه» إذا كان النوح من سنته " (رقم-١٢٨٦) ومسلم فى كتاب الجنائز /باب الميت يعذب ببكاء أهله عليه (رقم) ٢٣ - (٩٢٨)

او نوحه سره ژړا باندې محمول کولو) نو هغه دا واقعه بيان کړه ٨ چې هر کله زه د حضرت عمر رضي الله عنه سره د مکې څخه واپس شوم او مونږ مقام بيداء ته ورسيدو (چې د مکې او د مدينې په مينځ کښې يو کلې دې) ٩ نو اچانک حضرت عمر رضي الله عنه د يو کيکر دونې لاندې يوه قافله وليدله ١٠ هغه ماته وفرمايل چې ته هلته ورشه او ګوره چې په قافله کښې څوک دي زه چې هلته ورغلم نو ومې ليدل چې حضرت صهيب رضي الله عنه [او د هغه سره څه نور خلق] دي

١ قَالَ: فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ: ادْعُهُ، فَرَجَعْتُ إِلَى صُهَيْبٍ ٢ فَقُلْتُ: ارْتَحِلْ فَالْحَقْ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، ٣ فَلَمَّا أَنْ أُصِيبَ عُمَرُ دَخَلَ صُهَيْبٌ يَبْكِي، ٤ يَقُولُ: وَا أَخَاهُ، وَا صَاحِبَاهُ، ٥ فَقَالَ عُمَرُ: يَا صُهَيْبُ أَتَبْكِي عَلَيَّ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ: ٦ "إِنَّ «الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبَعْضِ بُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ»؟!" ٧ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَلَمَّا مَاتَ عُمَرُ ذَكَرْتُ ذَلِكَ لِعَائِشَةَ ٨ قَالَتْ: يَرْحَمُ اللَّهُ عُمَرَ، لَا وَاللَّهِ مَا حَدَّثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٩ «إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ، ١٠ وَلَكِنْ إِنَّ اللَّهَ يَزِيدُ الْكَافِرَ عَذَابًا بِبُكَاءِ أَهْلِهِ» ١١ وَقَالَتْ عَائِشَةُ: حَسْبُكُمُ الْقُرْآنُ "﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى﴾ [الأنعام: ١٦٤]". ١٢ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عِنْدَ ذَلِكَ: وَاللَّهُ أَضْحَكَ وَأَبْكَى ١٣ قَالَ ابْنُ مُلَيْكَةَ: فَمَا قَالَ ابْنُ عُمَرَ شَيْئًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې زه راغلم او حضرت عمر رضي الله عنه ته مې اووئيل نو حضرت عمر رضي الله عنه اوويل چې هغه راوغواړه بيا زه صهيب رضي الله عنه ته ورغلم ٢ ورته مې اوويل چې راشئ او د اميرالمؤمنين سره ووينئ [ملاو شئ] ٣ د دې څخه روسته چې په مدينه کښې حضرت عمر رضي الله عنه زخمي شو نو حضرت صهيب رضي الله عنه ورته په ژړا راغې ٤ او دا يې ويل چې اې زما اقا دا څه وشو ٥ حضرت عمر رضي الله عنه په دې حالت کښې صهيب رضي الله عنه ته وفرمايل چې اې صهيب رضي الله عنه ته زما په خوا کښې [په ما باندې] (د آواز او بيان سره) ژاړې؟ حالانکه چې د رسول الله ﷺ دا ارشادِ ګرامي دې ٦ چې مرده ته (يعني يا خو حقيقة مرده يا قريب المرګ) خپل کور والاد ژړا په وجه عذاب ورکولې شي (يعنی د داسې ژړا په وجه چې د آواز او نوحه (وير) سره وي) ٧ حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې کوم وخت حضرت عمر فاروق رضي الله عنه وفات شو نو ما د هغه دا قول د بي بي عايشې رضي الله عنها په خدمت کښې عرض اوکړو ٨ هغې اوريدلو سره وفرمايل چې الله تعالى جل جلاله دې په حضرت عمر رضي الله عنه رحم اوکړي دا خبره نه ده او نه رسول الله ﷺ داسې فرمايلي دي ٩ چې مرده ته د خپل کور والاد ژړا په وجه عذاب ورکولې شي [يعنی نه خو مطلقاً د ژړا په وجه او نه آواز، وير (نوحی) سره د ژړا په وجه مړې په عذاب کښې مبتلا کولې شي ١٠ هو البته الله تعالى جل جلاله د کافر په عذاب کښې د هغه د کور والو د ژړا په وجه زياتوالى کوي ١١ بيا بي بي عايشې رضي الله عنها وفرمايل چې (د دې په ثبوت کښې) ستاسو د پاره د قرآن کريم دا فيصله کافي ده ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى﴾ [هيڅ سړې به د دويم بوج نه اوچتوي] حضرت ابن عباس رضي الله عنه وفرمايل چې د دې آيت ﴿وَأَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَى﴾ مضمون ومفهوم هم تقريباً دا دې چې الله تعالى

ﷺ خنده وي او الله تعالى ﷻ ژړوي حضرت ابن ابي مليکه فرمايي چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه د دې په اوريدو سره هيڅ ونه ويل. ‹بخاري مسلم›

حل اللغات: - ① مُوَاجِهُهُ: أَيْ: مُقَابِله: يعنى مخامخ ورته ناست وو. ② صَدَرْتُ: أَيْ: رَجَعْتُ: يعنى زه واپس شوم، ③ الْبَيْدَاءِ: د مکې اومدينې په مينځ کښې ذوالحليفه ته نزدې ديوځاۍ نوم دې. ④ رُكْب: أَيْ: جَمَاعَةٍ مِنَ الرُّكْبَانِ: د سورو قافله ‹چه په اسونو وغيره باندې سواره وو›، ⑤ سَمُرَة: دکيکر وونه، ⑥ ارْتَحِلْ: راځه.

تسهيلات: قوله: تُوُفِّيَتْ بِنْتٌ لِعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ بِمَكَّةَ:

د حضرت عثمان د لور په وفات د خلقو ژړا: - يعنى دَ حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه دَ لور په مکه مکرمه کښې انتقال اوشو دَدې واقعې په موقع په مکه مکرمه کښې يوڅو لوئى صحابه کرام رضي الله عنهم يوځائى شو په کوم کښې چه حضرت ابن عمر رضي الله عنه اوحضرت ابن عباس رضي الله عنهما ښکاره وو. دَحضرت عثمان رضي الله عنه ځوئى عمرو بن عثمان رضي الله عنه هم په دې موقع باندې موجود وو. دَدې واقعې په وجه په کورکښې څه خلقو ژړل. نو حضرت ابن عمر رضي الله عنه حضرت عمرو بن عثمان رضي الله عنه ته اوويل ولې ته دا ژړا کونکى نه شې منع کولې حالاتکه دَخلقو په ژړا سره مړى ته عذاب کيږى په دې باندې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل ستا پلار حضرت عمر رضي الله عنه به هم څه داسې خبره کوله.

د سفر يوه واقعه: - بيا حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَ سفر يوه قصه بيان کړه په کوم سره چه هغه دا خودل غواړى چه دَ حضرت صهيب رومى رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه په خپل مينځ کښې ډيره ژوره دوستانه وو. حضرت عمر رضي الله عنه هغه په سفرکښې راؤغوښتلو او اکرام ئې اوکړو. دَدې قصې ختمولوسره حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَحضرت عمر رضي الله عنه دَ زخمى کيدو اوبيا دَ شهيد کيدو ذکر اوفرمائيلو اودَ صهيب رومى رضي الله عنه ژړا ئى ذکرکړه ليکن دا ژړل هغه وخت وو کله چه حضرت عمر رضي الله عنه په زخمى حالت کښې وو دغه وخته پورې انتقال شوې نه وو. حضرت عمر رضي الله عنه حضرت صهيب رضي الله عنه ته اوويل تاسو هم ژاړئى حالاتکه مړى ته په بعضې ژړا باندې عذاب ورکيږى. خيرداقصه هم ختمه شوه

د عائشې رضى الله عنها رائې: - حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه ما دَحضرت عمر رضي الله عنه دَ وفات نه پس دا حديث دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها په مخکښې بيان کړو چه دَ ابن عمر رضي الله عنه خودا خيال دې چه مړى ته دَ خلقو دَ ژړا دَ وجې نه عذاب کيږى. حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل په حضرت ابن عمر رضي الله عنه دې الله تعالى رحم اوکړى دَ حضورپاك حديث داسې نه دې بلکه هغه حديث داسې وو چه دَمړى په عذاب کښې دَ خلقو په ژړا سره زياتوالې کيږى بيا حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل تاسو خلقو دَپاره قرآن کريم کافى دې په کوم کښې ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾ [سورت بنى اسرائيل آيت: ١٥] موجود دې دکوم مطلب چه

دادې هرسړې به پخپله خپل بوج اوچتوی دَنورو بوج به په بل چا باندې نه شی بارکولې. لهذا دَ نورو په ژړا باندې چاته عذاب نه کیږی.

دَ حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها رائې سره ابن عباس رضی الله عنهما هم موافقت اوکړو او بیائی اوفرمائیل چه خندونکې او ژړونکې صرف الله تعالی دې. بهر حال دَدې قسم احادیثو توضیح تشریح اوتفصیل دَدې باب حدیث نمبر ۱۷۴۳ لاندې تیرشوی دی. حضرت عائشه رضی الله عنها دَ حدیث نه انکارنه کوی بلکه دَحدیث مفهوم متعین کولو کښې دَ هغې حضرت ابن عمر رضی الله عنه سره اختلاف دې. دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنه په نیز دَ حدیث مطلب دادې چه دکور والاخلقو په ژړا سره مړی ته عذاب کیږی. حضرت عائشه رضی الله عنها حیرانتیا سره فرمائی چه داسې نه د ه بلکه خلق ژاړی او مړی ته په قبر کښې ځکه عذاب کیږی چه هغه کافر دې په وجه دکفر عذاب دې نه چه دَ ژړا دَ وجې نه.

په حضرت عمر رضی الله عنه د ابولولؤ مجوسی حمله ولې اوکله شوې وه؟ ابولولؤ مجوسی دَ حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه یو غلام وو حضرت عمر رضی الله عنه عام فرمان جاری کړې وو چه په مدینه کښې یو کافر پاتې کیدو ته پرینږدئی. حضرت مغیره رضی الله عنه سفارش کولوسره خپل غلام په مدینه کښې اوساتلو بیا دَ هغه هم خپل غلام سره جګړه پیدا شوه. حضرت عمر رضی الله عنه ته چه کله دَ هغوی قصه وړاندې کړې شوه نو هغوی دَ غلام نه دَهغه دَ هنر او رضاعت باره کښې تپوس اوکړو هغه اوخودل. په دې باندې حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل چه مغیره بن شعبه رضی الله عنه په تا باندې کوم ټیکس زیاتول غواړی هغه صحیح دې ځکه چه تاسره خو ډیر زیات هنرونه دی اوما اوریدلی دی چه بهترین میچنې جوړوې. یو میچن زما دَپاره هم جوړه کړه. ابو لولؤ غصه شو او وئی وئیل چه زه به تاله داسې میچن جوړوم چه دنیا به هغه یاد لری. حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل "توفیت بنت" "هددنی العبد" دې غلام ماته دَ مرګ دړهکه راکړه. بیا دا ملعون غلام په حضرت عمر رضی الله عنه باندې دَ وار کولو په لټون کښې وو چه ۲۶ یا ۲۷ ذوالحجه کال ۲۳ هجری دَ چارشنبې په ورځ دَسحر دَ مونځ وخت کښې مسجد نبوی کښې بالکل په محراب کښې هغه په حضرت عمر رضی الله عنه باندې حمله اوکړه او شپږ زخمونه لګولو سره ئې یوڅو صحابه هم شهیدان کړل او بیائی خپل ځان هم اووژلو. حضرت عمر رضی الله عنه څوورځې په زخمونو کښې وو او اول محرم الحرام کال ۲۳ هجری کښې وفات شو.

[۱۷۴۳] په مړی باندې ژړا کونکی لره منع کول

۱۷۴۳-(^١)[۲۲][۱] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ:[۲] «لَمَّا جَاءَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَتْلُ ابْنِ حَارِثَةَ وَجَعْفَرٍ وَابْنِ

^١) اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب من جلس عند المصيبة يعرف فيه الحزن (رقم-۱۲۹۹) ومسلم فی کتاب الجنائز/باب التشديد فی النياحة (رقم) ۳۰ - (۹۳۵) والنسائی کتاب الجنائز/باب النهی عن البكاء علی الميت (رقم-۱۸٤۷) واحمد فی المسند ۵۹/۶

رَوَاحَةَ، [٣] جَلَسَ يُعْرَفُ فِيهِ الْحُزْنُ، [٤] وَأَنَا أَنْظُرُ مِنْ صَائِرِ الْبَابِ تَعْنِي شَقَّ الْبَابِ [٥] فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ: إِنَّ نِسَاءَ جَعْفَرٍ وَذَكَرَ بُكَاءَهُنَّ فَأَمَرَهُ أَنْ يَنْهَاهُنَّ، [٦] فَذَهَبَ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّانِيَةَ لَمْ يُطِعْنَهُ [٧] فَقَالَ: انْهَهُنَّ، فَأَتَاهُ الثَّالِثَةَ قَالَ: وَاللَّهِ غَلَبْنَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، [٨] فَزَعَمْتُ أَنَّهُ قَالَ: فَاحْثُ فِي أَفْوَاهِهِنَّ التُّرَابَ، [٩] فَقُلْتُ: أَرْغَمَ اللَّهُ أَنْفَكَ، [١٠] لَمْ تَفْعَلْ مَا أَمَرَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ تَتْرُكْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْعَنَاءِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي [٢] چې کوم وخت نبي کريم ﷺ ته د زيد بن حارثه رضي الله عنه، جعفر رضي الله عنه او ابن رواحه رضي الله عنه (په غزوه موته کښې) د شهيد کيدو اطلاع راغله [٣] نو حضور ﷺ په مسجد نبوي (ﷺ) کښې کيناستو د حضور ﷺ په مخ مبارک د تکليف او غم اثار ښکاره وو [٤] او ما (د حضور ﷺ کيفيت) د دروازې د سوري څخه ليدلو [٥] په دې کښې يو سړې د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او هغه اوويل چې د جعفر ﷺ د کور ښځې داسې کوي (يعني هغه د هغوئ د ژړا ذکر اوکړو) حضور ﷺ هغه ته حکم اوکړو چې لاړ شه هغوی منع کړه [٦] هغه لاړلو او لږ ساعت وروسته په دويم ځل واپس راغې چې ښځې نه منع کيږی [٧] حضور ﷺ هغه ته وفرمايل چې لاړ شه منع يې کړه هغه لاړلو لږ ساعت وروسته په دريم ځل بيا واپس راغې او هغه اوويل چې يا رسول الله! ﷺ قسم په خداي هغه ښځې په مونږ غالبې راغلې (يعني هغوی زمونږ خبره نه مني) [٨] د بي بي عايشې رضي الله عنها ګمان دې چې (د دې په اوريدو سره) حضور ﷺ دا وفرمايل چې د هغوئ په خله کښې خاورې واچوه [٩] بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي چې ما [هغه سړي ته] اوويل خداي دې ستا پوزه په خاورو کښې ککړه کړی [١٠] تا ته چې رسول الله ﷺ کوم حکم کړې دې په هغې دې عمل ولې ونه کړو او ته رسول الله ﷺ ته د تکليف سبب جوړ شوې. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① الْحُزْنُ: غم ، خفگان. ② صَائِرِ الْبَابِ تَعْنِي شَقَّ الْبَابِ: صائر د دروازې چاودی، سوړې ته وائی. ③ لَمْ يُطِعْنَهُ: دهغه خبره ئې اونه منله يعنی منع نه شوې، ④ فَاحْثُ: اى الرمى: د امرصيغه ده ويشتلو، اچولو ته وائی. ⑤ أَرْغَمَ اللَّهُ أَنْفَكَ: الله تعالى دې ستا پوزه په خاورو کښې ککړه کړی، مراد ترې تواضع او تذلل دې. ⑥ الْعَنَاءِ: أَيْ: مشقت،تکليف.

تسهيلات:

قوله: لَمَّا جَاءَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَتْلُ ابْنِ حَارِثَةَ وَجَعْفَرٍ وَابْنِ رَوَاحَةَ:

په غزوه موته کښې د درې صحابؤ د شهادت خبر: - کښې حضرت زيدبن حارثه رضي الله عنه شهيد شو اودې نه پس حضرت جعفر رضي الله عنه اوبيا عبدالله بن رواحه رضي الله عنه شهيد شو. حضورپاک د جنګ موته نقشه او ميدان د مسجد نبوی نه کتلو او خفه کيدلو. بيا رسول الله ﷺ د تعزيت دپاره کيناستو.

د حضرت جعفر په وفات د ښځو ژړا: -په حضرت جعفر رضي الله عنه باندې چه کومو ښځو ژړل د هغوی آوازونه اوچتيدل اود ژړا د شرعی حد نه زياتې کيدلو. په دې وجه حضورپاک د هغوی د منع کولو د پاره يو سړې اوليګلو ليکن هغه بار بار تلو راتلو اوهم دغه به ئی وئيل چه هغه ښځې نه منع کيږی په دې باندې حضرت عائشه رضي الله عنها اوکتل چه د دې سړی د وجې نه حضورپاک ته تکليف کيږی نو په خپله توګه باندې

قوله: فَقُلْتُ: أَرْغَمَ اللَّهُ أَنْفَكَ:

د حضرت عائشي د وينا مطلب: -حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل "ارغم الله انفك" يعنی ستا پوزه دې په خاورو شی يا ته دا ښځې د ژړا نه منع کړه او که چرې داسې نه شې کولې نو حضورپاک له بار بار راتلوسره هغوی ته ولې وائی چه هغه ښځې نه منع کيږی په کوم سره چه حضورپاک ته تکليف رسيږی يا ئی منع کړه يا شکايت مه کوه.

[١٧٤٤] په مړی په چغوسره ژړا کول د شيطان د خوشحالی سبب

١٧٤٤—(١)[٢٣] [١] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: [٢] «لَمَّا مَاتَ أَبُو سَلَمَةَ قُلْتُ: [٣] غَرِيبٌ وَفِي أَرْضِ غُرْبَةٍ، [٤] لَأَبْكِيَنَّهُ بُكَاءً يُتَحَدَّثُ عَنْهُ، [٥] فَكُنْتُ قَدْ تَهَيَّأْتُ لِلْبُكَاءِ عَلَيْهِ، [٦] إِذْ أَقْبَلَتِ امْرَأَةٌ تُرِيدُ أَنْ تُسْعِدَنِي، فَاسْتَقْبَلَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: [٧] " أَتُرِيدِينَ أَنْ تُدْخِلِي الشَّيْطَانَ بَيْتًا أَخْرَجَهُ اللَّهُ مِنْهُ مَرَّتَيْنِ، [٨] وَكَفَفْتُ عَنِ الْبُكَاءِ، فَلَمْ أَبْكِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او بي بي أم سلمه رضي الله عنها فرمايي [٢] هر کله چي [زما اول خاوند] حضرت ابو سلمه رضي الله عنه وفات شو نو ما اوويل [٣] چي ابو سلمه رضي الله عنه مسافر وو او د مسافرئ په حالت کښې مړ شو [٤] نو زه به هم د هغه د پاره داسې ژاړم چي زما ژړا به بيانولي شی [يعني په خلقو کښې به چرچه وي، مشهوره به شی چي أم سلمه رضي الله عنها دومره وژړل چي دومره هيچا نه دي ژړلي] [٥] نو زه د ژړا کولو په تياري کښې مصروفه وم [٦] اچانك يوه ښځه راغله چي په ژړا کښې ما سره د شريکيدو اراده يي لرله په دي کښې رسول ﷺ د هغې مخې ته راغلو او وي فرمايل [٧] چي آيا ستا دا اراده ده چي شيطان هغه کور ته داخل کړې د کوم کور څخه چي الله تعالی جل جلاله دوه ځله هغه ويستلي دي [٨] د حضور ﷺ دا ارشاد اوريدو سره زه د ژړا کولو څخه منع شوم او بيا په داسې اواز مي ونه ژړل (چي د هغې شريعت ممانعت کړي دي) (مسلم)

حل اللغات: -① غَرِيبٌ: مسافر، ② تَهَيَّأْتُ: قصد مي اوکړو، ③ أَنْ تُسْعِدَنِي: چه زما مدد اوکړی، ④ فَاسْتَقْبَلَهَا: مخې ته ئې راغې، ⑤ كَفَفْتُ: زه منع شوم.

[١] اخرجه مسلم فی کتاب الجنائز /باب البکاء علی الميت (رقم) ١٠ - (٩٢٢)

تسهيلات: قوله: غَرِيبٌ:

په ابوسلمه د غریب د لفظ اطلاق:-

چونکه مهاجرین حضراتو دَمکې نه مدینې ته تشریف راوړې وو لکه چه ټول مسافر وو. دَ ابوسلمه رضی الله عنه انتقال په کال ۴هجری مدینه کښې شوې وو.

قوله: لَأَبْكِيَنَّهُ بُكَاءً يُتَحَدَّثُ عَنْهُ:

یعنی داسې ژړا به کوم چه دنیابه ئی یادساتی اودَې تذکرې به کوی.

د مرتین تفسیر:- دَ اخوانه یوانصاری بښځه هم زمادَ امدادَپاره راروانه وه څوك چه حضورپاك اولیدله اووئی فرمائیل چه دَ کوم کورنه الله تعالی دوه ځل شیطان اوویستلو بیا شیطان دننه داخلول غواړئی یعنی یوځل خوشیطان هغه وخت الله تعالی دَ دې کورنه اوویستلو کله چه ابوسلمه رضی الله عنه مسلمان شو اودوباره ئی هغه وخت اوویستلو کله چه ایمان سره کامیاب شو اوابوسلمه رضی الله عنه دَ دنیانه لاړو. ابوسلمه رضی الله عنه په ۴هجری مدینه منوره کښې انتقال شوې وو.

[١٧٤٥] د مړی ستائنوباندې د مړی رټل

١٧٤٥-(١)[٢٤] ١ وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ: أُغْمِيَ عَلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ رَوَاحَةَ، ٢ فَجَعَلَتْ أُخْتُهُ عَمْرَةُ تَبْكِي: ٣ وَاجَبَلَاهُ، وَاكَذَا، تُعَدِّدُ عَلَيْهِ، ٤ فَقَالَ حِينَ أَفَاقَ: مَا قُلْتِ شَيْئًا إِلَّا قِيلَ لِي أَنْتَ كَذَلِكَ، ٥ زَادَ فِي رِوَايَةٍ: فَلَمَّا مَاتَ لَمْ تَبْكِ عَلَيْهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه فرمایي چې (یو ځل) حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه دومره سخت مریض شو چې مرګ ته نزدې شو او بیهوشي پرې راغله ٢ نو د هغه خور عمره ژړل [او دا ویل یې شروع کړل چې] ٣ اي غره! افسوس دې او اي داسې او هغه شان یعنی د هغه خوبیاني یې شمیرلو شمیرلو سره بیان کړي ٤ کوم وخت چې عبدالله په هوش کښې راغې نو (خور ته) یې اوویل څه چې تا ویلې دې هغه ماته بطور تنبیه ویل شوي دي چې ته داسې یې [مثلاً چې تا اوویل چې اي غره افسوس دې نو ماته اوویل شو چې ته غرېې چې خلق ستا پناه نیسي] ٥ او په یو روایت کښې دا الفاظ هم دي چې کوم وخت عبدالله رضی الله عنه وفات شو یعنی په غزوه موته کښې شهید شو نو د هغه خور په هغه ونه ژړیده. (بخاري)

حل اللغات:- ① أُغْمِيَ: بې هوشی پرې راغله، ② وَاجَبَلَاهُ: اي غره.

تسهیلات:

نوټ:- ددې حدیث شرح په هغه حدیث کښې ذکرده په کوم کښې چې د په مړی باندې د ژړه وعید راغلي دي.

(١) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب غزوة مؤتة من أرض الشام (رقم-٤٢٦٧)

١٧٤٦ | په مړي ژړا کوونکو باندې د فرښتو په ذريعه د مړي وهل

١٧٤٦–(١)[٣٥] [١] وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [٢] «مَا مِنْ مَيِّتٍ يَمُوتُ فَيَقُومُ بَاكِيهِمْ [٣] فَيَقُولُ: وَاجَبَلَاهُ، وَاسَيِّدَاهُ، وَنَحْوَ ذٰلِكَ [٣] إِلَّا وَكَّلَ اللّٰهُ بِهِ مَلَكَيْنِ يَلْهَزَانِهِ [٥] وَيَقُولَانِ: أَهٰكَذَا كُنْتَ». [٦] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ حَسَنٌ.

ترجمه: [١] حضرت ابو موسي رضي الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه آوريدلي دي [٢] هر کله يو سړي مري او د هغه په عزيزانو کښې څوک ژړا کونکي ژاړي [٣] او وايي چې اي غره اي سرداره وغيره وغيره [۴] نو الله تعالى جل جلاله په مړي باندې دوه فرښتې مقررووي چې هغه په سينه کښې په سوکونو وهي [٥] او پوښتنه ترې کوي چې آيا ته داسې وې؟ [٦] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړې دي او ويلې يې دي چې دا حديث غريب حسن دي.

حل اللغات: – ① وَكَّلَ: مقرر کوي، ② يَلْهَزَانِهِ: اللَّهْزُ: په سوک باندې وهلوته وائي.

تسهيلات: قوله: مَا مِنْ مَيِّتٍ يَمُوتُ:

دميت په مصداق کښې دوه اقوال: – ① ددې نه ميت حقيقي مراد دي

② قريب المرګ هم ترې مراد کيديشي د مړي کوروالو په ژړا سره مړي ته عذاب ورکړې کيږي ددې تفصيل تير شوې دي.

[١٧٤٧] دَ چغو صورو وهلو څخه بغير د ژړلو جواز

١٧٤٧–(٢)[٣٦] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: [٢] «مَاتَ مَيِّتٌ مِنْ آلِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [٣] فَاجْتَمَعَ النِّسَاءُ يَبْكِينَ عَلَيْهِ، [۴] فَقَامَ عُمَرُ يَنْهَاهُنَّ وَيَطْرُدُهُنَّ، [٥] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: دَعْهُنَّ يَا عُمَرُ، فَإِنَّ الْعَيْنَ دَامِعَةٌ [٦] وَالْقَلْبَ مُصَابٌ، وَالْعَهْدَ قَرِيبٌ».

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي [٢] چې د رسول الله ﷺ په آولاد کښې څوک (يعني د بي بي زينب رضي الله عنها چې څرنګه يي په راروان روايت کښې وضاحت دي) وفات شو [٣] نو ښځې جمع شوي او په هغه يي ژړل [۴] د دې په ليدو سره حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ودريدلو او اقرباء (خپلوان) يي د ژړا څخه منع کړل او (پردۍ) يي په وهلو وهلو وتښتولي [اوشړلې] [٥] حضور ﷺ چې دا وليدل نو وي فرمايل چې اي عمره رضي الله عنه دوي په خپل حال پريږده ځکه چې سترګي ژاړي [٦] او زړه مصيبت ځپلى دي او د جدايي وخت نژدې دي. (احمد نسايي)

حل اللغات: – ① يَطْرُدُهُنَّ: أَيِ: الْأَجَانِبَ بِضَرْبِهِنَّ: يعنى پردى خلق ئي په وهلو وهلو اوشړل. ② دَامِعَةٌ: اوښکي تويوى، ژاړى، ③ مُصَابٌ: أَيْ: أَصَابَهُ الْمُصِيبَةُ: مصيبت ورته رسيدلي دي. ④ الْعَهْدَ قَرِيبٌ: أَيْ: زَمَانَ الْمُصِيبَةِ: يعنى دمصيبت وخت نژدې دي. يعنى تازه غم دي صبر کول پرې مشکل دى.

---

(١) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الجنائزعن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى كراهية البكاء على الميت (رقم١٠٠٣)

(٢) اخرجه النسائى فى السنن كتاب الجنائز/باب الرخصة فى البكاء على الميت(رقم-١٨٥٩) وابن ماجة كتاب الجنائز/باب ما جاء فى البكاء على الميت(رقم-١٥٨٧) واحمد فى المسند ٢/٤٤٤

تسهیلات:

قوله: فَإِنَّ الْعَيْنَ دَامِعَةٌ وَالْقَلْبَ مُصَابٌ، وَالْعَهْدَ قَرِيبٌ:

په غم کښې د غیر اختیاری ژړا اجازت:-

د دې حدیث پاك نه معلومه شوه چې د شدت غم په وجه بلا اختیار د غم اظهار درست دې د امنع نه دې په دې وجه نبی کریم ﷺ حضرت عمر ﷺ منع کړې وو چې غم تازه دې او د زړه زخم لانوې دې روستو به خپل ترخپله صبر راشی .په دې وجه پرېږده چې دې خپل غم اوژاړی دومره اجازت دې ددې ځخه زیات چې نوحه شروع کړی نو دا ممنوع ده حدیث کښې دمیت ځخه مراد حضرت زینب رضی الله عنها ده.

[١٧٤٨] په لاسونو وهل شیطانی طریقه

١٧٤٨—( )[٢٧] ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: ٢ «مَاتَتْ زَيْنَبُ بِنْتُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَكَتِ النِّسَاءُ، ٣ وَجَعَلَ عُمَرُ يَضْرِبُهُنَّ بِسَوْطِهِ، ٤ فَأَخَّرَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ وَقَالَ: مَهْلًا، يَا عُمَرُ ٥ ثُمَّ قَالَ: إِيَّاكُنَّ وَنَعِيقَ الشَّيْطَانِ. ٦ ثُمَّ قَالَ: إِنَّهُ مَهْمَا كَانَ مِنَ الْعَيْنِ وَمِنَ الْقَلْبِ فَمِنَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَمِنَ الرَّحْمَةِ، ٧ وَمَا كَانَ مِنَ الْيَدِ وَمِنَ اللِّسَانِ فَمِنَ الشَّيْطَانِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ١ حضرت ابن عباس رضی الله عنه روایت کوي ٢ چې کوم وخت د رسول الله ﷺ لور بي بي زینب رضی الله عنها وفات شوه نو ښځې په ژړا شوي ٣ [حضرت عمر رضی الله عنه دا خبره کله برداشت کونکي وو] هغه يي په خپلې کوړي سره وهل شروع کړل ٤ حضور ﷺ په خپلو لاسونو سره حضرت عمر رضی الله عنه جدا کړو او ورته يي وفرمایل چې اي عمره رضی الله عنه نرمي اختیار کړه ٥ بیا ښځو ته يي وفرمایل تاسو خپل ځان د شیطان د آواز ځخه لرې وساتئ (یعني په چغو چغو او بیان کولو سره هیڅ کله مه ژاړئ) ٦ بیا يي وفرمایل څه چې د سترګو ځخه (یعني اوښکي) او د زړه ځخه (یعني غم) ظاهرشي داد الله جل جلاله د طرف ځخه دي او د رحمت سبب دي (یعني دا څیزونه د الله جل جلاله خوښ دي) ٧ او څه چې د لاس او ژبي ځخه ظاهر شی هغه د شیطان د طرف ځخه دي. (احمد)

حل اللغات:- ① بِسَوْطِهِ: سوط کوړي ته وائی. ② مَهْلًا: نرمی اختیار کړه. ③ إِيَّاكُنَّ: ځان اوساتئ، ④ نَعِيقَ: په چغو چغو، اوپه تیز آواز سره ژړل.

تسهیلات:

قوله: وَمَا كَانَ مِنَ الْيَدِ وَمِنَ اللِّسَانِ فَمِنَ الشَّيْطَانِ:

د خفګان د اظهار دوه طریقې:- ① یعنی چغې وهل نوحه کول دا ژبې سره دی دا دواړه افعال شیطانی دی یعنی که لاس او ژبې سره ددې اظهار وی نو په دې سره شیطان خوشحالیږی

---

[١] اخرجه احمد فی المسند ٣٣٥/٢

او الله ﷻ خفه کیږي ځکه چې په ژبې سره نوحه په لاس سره ماتم شیطاني عمل دې دا بنده په خپل اختیار په شیطاني لمسون سره کوي

④ که د غم اظهار د سترګو په ذریعه وی نو ددې اجازت شته الله ﷻ په دې نه خفه کیږي او ددې مواخذه هم نشته دې ددې نه معلومه شوه چې د زړه غم او د سترګو نه اوښکې بهیدل د بنده په اختیار کښې نه دی دا قدرتي څیزدې زړه کښې د رحمت اور نرمۍ نتیجه ده

[١٧٤٩] په ژړا اوماتم سره د مړی نه واپس کیدل

١٧٤٩—(٠)[٢٨] [١] وَعَنِ الْبُخَارِيِّ تَعْلِيقًا قَالَ: [٢] لَمَّا مَاتَ الْحَسَنُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ [٣] ضَرَبَتِ امْرَأَتُهُ الْقُبَّةَ عَلَى قَبْرِهِ سَنَةً، [٤] ثُمَّ رُفِعَتْ، فَسَمِعَتْ صَائِحًا يَقُولُ: [٦] أَلَا هَلْ وَجَدُوا مَا فَقَدُوا؟ [٧] فَأَجَابَهُ آخَرُ: بَلْ يَئِسُوا فَانْقَلَبُوا.

ترجمه: [١] امام بخاري رحمه الله بطریق تعلیق (یعني بغیر د سند څخه) ذکر کوي [٢] چې کوم وخت د حضرت حسن بن علي رضي الله عنهما څوي چې د هغه نوم هم حسن وو وفات شو [٣] نو د هغه ښځې د هغه په قبر تر یو کال پورې خیمه لګولې وه [٤] بیا چې هغه یې لرې کړه نو یو غیبي آواز یې واوریدې چې [٦] آیا خیمه اودرولو سره دې وفات شوی ووموندلو؟ [٧] بیا د دې په جواب کښې د دویم غیبي دا آواز یې واوریدلو چې نا اُمیده شوه او خیمه یې وښکله.

حل اللغات:- ① ضَرَبَتِ: لګولې وه، ② الْقُبَّةَ: أَيِ: الْخَيْمَةَ: خیمه، ③ رُفِعَتْ: لرې ئې کړه، ④ صَائِحًا: أَيْ: هَاتِفًا غَيْبِيًّا: غیبي آواز، ⑤ مَا فَقَدُوا: څه ئې چه ورک کړي وو. (یعنی څوک ئې چه مړ شوی وو)، ⑥ يَئِسُوا: نا امیده شو، ⑦ فَانْقَلَبُوا: أَيْ: رَجَعُوا: واپس شو.

تسهیلات: قوله: عَلَى قَبْرِهِ سَنَةً:

د خپل مړی په قبر د عربو عادت:- دَ عربو عام عادت وو چه هغوی به دَ خپلو مړو په قبرونو باندې پوره کال پورې ژړل. دَ عربو دَ قصیدو او شعرونو نه دا څیز بالکل واضح کیږي. چنانچه یو شاعر وائي:

الی الحول ثم اسم السلام علیکما ومن یبک حولا کاملا فقد اعتذر

یعنی تریو کاله پورې ما په تا پسې ژړا اوکړه اوس سلام کولو سره ځم ځکه چه تریو کال پورې څوك ژړا اوکړي هغه معذوره دې چه واپس لاړ شي. حضرت حسن رضي الله عنه دَ چاپه قبرباندې چه دَ هغوی بي بي خیمه لګولې وه. دا مشهور دَ حضرت حسن بن علی رضي الله عنه څوئی دې دَ هغه بي بي دَ څه خاص ضرورت دَ وجې نه داسې اوکړل او کله چه واپس کورته راغله نو غیبي هاتف آواز اوکړو دې ښځې ډیره موده تیره کړې ده اوس ځی نو آیا څه ورله په لاس ورغلل که خالي لاس واپس روانه ده. دویم هاتف غیبي جواب ورکړو چه هیڅ ورته ملاؤ نه

¹) اخرجه البخاري في كتاب الجنائز / باب ما يكره من اتخاذ المساجد على القبور

شو بلکه نا امیده کیدو سره واپس لاړه. دَدې نه په واضحه توګه معلومه شوه چه په یو مړي باندې ژړا فریاد کولو سره هغه واپس نه راژوندې کیږي چه څوك لاړو بس هغه لاړو.

[١٧٥٠] څادر اچول او عزت

١٧٥٠-(¹)[٢٩] [١] وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَأَبِي بَرْزَةَ، قَالَا: [٢] «خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةٍ [٣] فَرَأَى قَوْمًا قَدْ طَرَحُوا أَرْدِيَتَهُمْ يَمْشُونَ فِي قُمُصٍ، [٤] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَبِفِعْلِ الْجَاهِلِيَّةِ تَأْخُذُونَ، [٥] أَوْ بِصَنِيعِ الْجَاهِلِيَّةِ تَشَبَّهُونَ، [٦] لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَدْعُوَ عَلَيْكُمْ دَعْوَةً تَرْجِعُونَ فِي غَيْرِ صُوَرِكُمْ، [٧] قَالَ: فَأَخَذُوا أَرْدِيَتَهُمْ، وَلَمْ يَعُودُوا لِذَلِكَ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او حضرت عمران ابن حصین او حضرت ابو برزه ﷛ دواړه روایت کوي [٢] چې یوه ورځ مونږ د رسول الله ﷺ سره یوې جنازې ته لاړو [٣] نو حضور ﷺ څه داسې خلق ولیدل چې څادرونه یې غورځولي وو او په قمیصونو کښې تلل [٤] هغوی لره په دې حال کښې لیدو سره حضور ﷺ هغوئ ته وفرمایل چې آیا تاسو د جاهلیت په فعل عمل کوئ [٥] یا د جاهلیت د کارونو مشابهت اختیاروئ [٦] بیا حضور ﷺ وفرمایل (ستاسو د انتهایي نامناسبه حرکت لیدو سره) زما خو دا اراده وشوه چې زه ستاسو د پاره څه داسې بد دُعا وکړم چې تاسو خپلو کورونو ته په نورو شکلونو کښې (یعني د شادوګانو یا د خنزیرانو په شکل کښې) واپس ورشئ [٧] اوروي وایي چې د دې اوریدو سره هغه خلقو خپل څادرونه واچول او بیا دوباره یې هیڅکله داسې کار ونه کړو. (ابن ماجه)

حل اللغات:- ① طَرَحُوا: أَيْ: وَضَعُوهَا: یعنی غورزولی ئې وو، ② أَرْدِيَتَهُمْ: څادرونه خپل، ③ قُمُصٍ: د قمیص جمع ده، کمیص ته وائی. ④ هَمَمْتُ: أَيْ: قَصَدْتُ: قصد مې کړې دې.

تسهیلات: قوله: أَبِفِعْلِ الْجَاهِلِيَّةِ تَأْخُذُونَ:

دعربو د جهالت په یو رسم د نبی کریم ﷺ د خفګان اظهار: - دَ عربو دستور وو چه قمیص سره به ئې څادر هم اچولو. لکه چه دَ صوبه خیبر پښتونخواه دَ خلقو عادت دې چه په سخته ګرمئی کښې ئې هم څادر په اوګووی او څادر ساتل دَ شرافت او عظمت علامت ګنړلې شی. بیا په یوه جنازه کښې صحابه کرامو ﷡ څادرونه دَ ماتم په توګه دَ اوګونه راکوز کړل دې دَپاره چه دَ پریشانئی خفګان او ماتم ښه اظهار اوشی. په دې باندې حضورپاك سخت دَخفګان اظهار اوکړو او خلق ئې دَ دغه حرکت نه منع کړل. معلومه شوه چه په هغه وخت دَ عربو په خلقو کښې څادر اچول او ځان سره ساتل به دَ شرافت علامت ګنړلې شو او س عرب دا نه پیژنی. علامه طیبی ﷫ فرمائی چه کله په دومره معمولی خبره باندې حضورپاك داسې دَ ناراضګئی اظهار اوکړونو دَهغه خلقو به څه حال وی چه په خفګان او ماتم کښې دَدې نه لوئی رسمونه رواجونه کوی.

¹) اخرجه ابن ما جة کتاب الجنائز /باب ما جاء فی النهی عن التسلب مع الجنازة (رقم-١٤٨٥)

[١٧٥١] جنازې پسې د سندرغاړې بوتلو حرمت

١٧٥١- (١) [٣٠] ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُتْبَعَ جَنَازَةٌ ٢ مَعَهَا رَانَّةٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ د هغه جنازې سره د تلو څخه منع فرمايلي ده ٢ چې د هغې سره ساندې کونکې ښځه وي. (احمد، ابن ماجه)

حل اللغات: - ① رَانَّةٌ: نوحه کونکې او په چغه چغه واويلا کونکې ښځې.

تسهيلات:

قوله: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُتْبَعَ جَنَازَةٌ مَعَهَا رَانَّةٌ:

په ګناه کښې د اخته کيدو په وجه د مسنون عمل د پريښودو جواز: - اګر چې د جنازې سره تلل سنت دى خو ددې فعل بد په وجه دا سنت ترک کول پکار دى داشان د هر يو خلاف شرع څيز په موجودګۍ کښې جنازې سره تلل نه دى پکار.

د احاديث پاک ددې مسئلې بنياد دې چې په کوم دعوت کښې خلاف شرع خبرې وى نو هلته تلل نه دى پکار ځکه چې دعوت قبلول سنت دى خو په داسې موقع باندې د غير شرعى خبرو اوبدو افعالو په وجه په دې سنت باندې عمل نه کول بهتر او اولى دى

[١٧٥٢] د مړ شوى ماشوم د مور پلار د پاره شفاعت

١٧٥٢- (٢) [٣١] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَجُلًا قَالَ لَهُ: ٢ مَاتَ ابْنٌ لِي فَوَجَدْتُ عَلَيْهِ ٣ هَلْ سَمِعْتَ مِنْ خَلِيلِكَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ شَيْئًا ٤ يُطَيِّبُ بِأَنْفُسِنَا عَنْ مَوْتَانَا؟ ٥ قَالَ: نَعَمْ. سَمِعْتُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ٦ «صِغَارُهُمْ دَعَامِيصُ الْجَنَّةِ، ٧ يَلْقَى أَحَدُهُمْ أَبَاهُ فَيَأْخُذُهُ بِنَاحِيَةِ ثَوْبِهِ، ٨ فَلَا يُفَارِقُهُ" حَتَّى يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَأَحْمَدُ، وَاللَّفْظُ لَهُ.

ترجمه: ١ او د حضرت ابوهريره رضي الله عنه په باره کښې روايت دي چې يوه ورځ د هغه سره يو سړي يو ځاي شو هغه اوويل ٢ چې زما ماشوم بچي مړ شوي دي چې د هغې په وجه زه ډير غمجن يم ٣ آيا تاسو د خپل دوست يعنى رسول الله ﷺ څخه چې په هغه ﷺ دي د الله جل جلاله رحمتونه او د الله جل جلاله سلام نازل وي داسې خبره هم اوريدلى ده ٤ چې زمونږ د مړه ګانو (يعني د وفات شوو وړو بچو) د طرف څخه زمونږ زړونه خوشحاله کړي؟ (يعني چې د هغې څخه دا معلومه شي چې زمونږ وړوکي بچى مړه شوى دى هغه به په آخرت کښې زمونږ په څه کار راشي) ٥ حضرت ابوهريره رضي الله عنه وفرمايل چې هو ما د نبي کريم ﷺ څخه اوريدلي دي ٦ چې د مسلمانانو وړوکې بچيان به په جنت کښ د درياب د ځناورو په شان

---

١) اخرجه ابن ماجة فى السنن كتاب الجنائز/باب فى النهى عن النياحة (رقم-١٥٨٣)
٢) اخرجه مسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب فضل من يموت له ولد فيحتسبه (رقم) ١٥٤ - (٢٦٣٥) واحمد فى المسند: ٤٨٨/٢

وي [٧] هر کله چې په هغوئ کښې د چا پلار د هغه سره يو ځاي شي نو هغه ورکې به د هغه لمن ونيسي [٨] او تر هغه پورې به يي نه پرېږدي تر څو پورې چې خپل پلار په جنت کښې داخل نه کړي. (مسلم احمد) او الفاظ د احمد دي.

حل اللغات: - ① دَعَامِيصُ :داد دعموص جمع ده. دعموص په اوبو کښې دننه يو قسم تور چينجي وى هغې ته وائى. يا هغه کس ته وائى چه په کارونو کښې دخل کوى، تګ راتګ کوى، نو څوک ترې پرده هم نه کوى. ② نَاحِيَةِ: أَيْ: بِطَرَفِهِ: يعنى يو طرف د جامو.

تسهيلات: قوله : صِغَارُهُمْ دَعَامِيصُ الْجَنَّةِ:

د دعاميص په مفهوم کښې دوه اقوال: - ① داد دعموص جمع ده. دعموص په اوبو کښې دننه يو قسم تور چينجې وى هغې ته وائى. داچينجي کله اوچې ته هم راځى بعضې خلق دې ته جولاہا وائى.

② داهغه سړى ته وائى چه اميران او بادشاهان سره ډيراشنا وى يعنى هروخت هغوى له ځى راځى بلکه داسړې د بادشاهانو قوى او د هغوى په فکرونو او د هغوى په زړونو او دماغوباندې مسلط وى. اوس دلته هغه وړو مړو شوو بچوله دعموص سره تشبيه ورکړې شوې ده چه دا ماشومان په جنت کښې هرځائى ته داسې ځى راځى او سيلونه او تفريح کوى چه يو ځائى کښې هم د دوى نه پرده او حجاب نه وى لکه څنګه چه دعموص په اوبو کښې ګرځى راګرځى. يا بادشاهانو سره تعلق لرونکې سړې چه هرځائى ته ځى راځى. دا چه کوم دويم مفهوم دې دعموص د مصداق د پاره دا ډيرمناسب دې لکه چه دا وړوکى ماشومان د الله تعالى په دربار کښې مقرب کيږى او بيا د خپل والدين د پاره شفاعت کوى.

قوله : يَلْقَى أَحَدُهُمْ أَبَاهُ:

په ورکوتوالى کښې د مړ شوې ماشوم خپل پلار لره جنت ته داخلول: - يعنى په ميدان محشر او قيامت کښې به دا وړوکې بچې خپل پلار اووينى نو د هغه لمن به اونيسى او نيغ به هغه جنت ته بوځى لکه چه دوى ته د سفارش دا اعزاز حاصليږى. دلته د پلار ذکر په خاص توګه سره ځکه کړې شوې دې چه کيدې شى تذکره د پلار روانه وه ګنى دا حکم د مور پلار دواړو د پاره دې. د دې قسم په شان نور احاديث هم راتلونکى دى.

[١٧٥٣] ښځو د پاره د وعظ د مجلس انعقاد

١٧٥٣–()[٣٢][١] «وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: [٢] جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، [٣] ذَهَبَ الرِّجَالُ بِحَدِيثِكَ، [٤] فَاجْعَلْ لَنَا مِنْ نَفْسِكَ يَوْمًا، [٥] نَأْتِيكَ فِيهِ تُعَلِّمُنَا مِمَّا عَلَّمَكَ اللهُ. [٦]

[1] اخرجه البخارى فى كتاب العلم/باب: هل يجعل للنساء يوم على حدة فى العلم؟ (رقم-١٠١) ومسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب فضل من يموت له ولد فيحتسبه (رقم) ١٥٢ - (٢٦٣٣) واحمد فى المسند:٧٢/٣

فَقَالَ: اجْتَمِعْنَ فِي يَوْمِ كَذَا وَكَذَا فِي مَكَانِ كَذَا وَكَذَا، [٧] فَاجْتَمَعْنَ فَأَتَاهُنَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٨] فَعَلَّمَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَهُ اللهُ، [٩] ثُمَّ قَالَ: مَا مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تُقَدِّمُ بَيْنَ يَدَيْهَا مِنْ وَلَدِهَا ثَلَاثَةً [١٠] إِلَّا كَانَ لَهَا حِجَابًا مِنَ النَّارِ، [١١] فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَوِ اثْنَيْنِ؟ [١٢] فَأَعَادَتْهُ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ قَالَ: وَاثْنَيْنِ، وَاثْنَيْنِ، وَاثْنَيْنِ»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت ابو سعید رضي الله عنه وايي [٢] چې [يوه ورځ] يوه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او يې عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ [٣] نارينۀ خو ستا د مقدس ارشاداتو څخه استفاده وکړه [٤] ته يوه ورځ زمونږ د پاره هم مقرر کړه [٥] چې مونږ په هغه ورځ ستا په خدمت کښې حاضري شو او ته مونږ ته هغه خبري وښايي کومې چې الله تعالى جل جلاله تا ته ښودلي دي [٦] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ښه دي تاسو ښځي په فلاني ورځ فلاني وخت او په فلاني مکان کښې (يعني په جومات يا په کور کښې) او فلاني ځاي (يعني د جومات يا د مکان په مخکي يا وروستني حصه کښې) جمع شئ [٧] د ارشاد مطابق ښځي جمع شوي نو رسول الله ﷺ هغوئ ته تشريف راوړو [٨] او هغه خبري يې وروښودلي کومې چې الله تعالى جل جلاله حضور ﷺ ته ورښودلي وي [٩] بيا حضور ﷺ دا هم وفرمايل چې په تاسو کښې چا د خپل اولاد څخه دري (جينکئ يا هلکان) مخکي ليږلي وي (يعني د هغه دري واړه بچي مړه شوي وي) [١٠] نو هغې واړه بچي به د هغه د پاره د اور څخه پرده شي (يعني هغه به دوزخ ته نه پريږدي) [١١] په هغوئ کښې يوې ښځي دوه ځله اوويل چې د کومې ښځي دوه واړه بچي مړه شوي وي؟ [١٢] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې د کومې ښځي چې دوه واړه بچي مړه شوي وي هم (يعني د کومې ښځي چې دوه واړه بچي شوي وي د هغې د پاره هم دا ثواب دي) او د کومې ښځي چې دوه ورو کيان مړه شوي وي د هغې د پاره هم دا بشارت دي. (بخاري)

حل اللغات: - ① حِجَابًا: أَيْ: سَاتِرًا: پرده.

تسهيلات: قوله : فَأَتَاهُنَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دزنانۀ د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې درخواست: - خلاصه چه په عهدنبوی کښې ښځوحضورپاك ته دا درخواست اوکړوچه سړی هروخت ستاسو په مجلس کښې وی په دې وجه ستاسو احاديث او ستاسو نصيحت هغوی راغونډ کړل او مونږ محروم پاتې شو. لهذا زمونږ دپاره هم په هفته کښې يوه ورځ مقرركړئ دې دپاره چه مونږ هم ستاسو د مجلس نه فائده اوچته کړې شو. حضورپاك هغوی ته حکم ورکړو چه فلانکې ورځ فلانکی مکان کښې تاسو راجمع کيږئ چنانچه هغوی جمع شوې بيا حضورپاك هغوی له راغلو اوهغوی ته ئې نصيحت اوکړو.

اعتراض: - ملاعلی قاری رحمه الله وغيره دَ حديث شارحينو دلته يو سوال اوچت شوې دې هغه

دادي چه دَ علم دَ حصول باره کښې دا الفاظ مستند دی چه "العلم يُؤتى ولا يَأتى" يعنى علم له خلق راځى علم چاپسې نه ځی. دَدې قاعده مسلمه په رنړا کښې دا سوال دې چه حضوراکرم چه دَ علم خزانه وه هغوی دغه ښځوله څنګه تشریف یوړو داخو معامله اولټه شوه چه عالم متعلم له ورځی؟

داعتراض جواب: – علماؤ دَدې دا جواب ورکړې دې چه دلته په اصل کښې دَ یومدرسې په شان صورت جوړشوې وو ځکه چه دَ محلې ښځې دَ خوآؤشا نه راټلوسره په یومکان کښې کیناستې نودا مکان اوس دَ ښځو مدرسه جوړه شوه اودَ مدرسې طرف ته دَ عالم تلل راتلل معروف اومشهور دی. دَدې حدیث نه دا معلومه شوه اګرچه دَ صحابه کرامو ﷺ په زمانه کښې او په عهدنبوی کښې دَدې تسلسل پاتې نه شو.

[١٧٥٤] د نیمګړی بچی شفاعت

١٧٥٤–()[٣٣] وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يُتَوَفَّى لَهُمَا ثَلَاثَةٌ [٣] إِلَّا أَدْخَلَهُمَا اللهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمَا» [٤] فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، أَوِ اثْنَانِ؟ قَالَ: أَوِ اثْنَانِ. [٥] قَالُوا: أَوْ وَاحِدٌ؟ قَالَ: أَوْ وَاحِدٌ» [٦] ثُمَّ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، [٧] إِنَّ السِّقْطَ لَيَجُرُّ أُمَّهُ بِسَرَرِهِ إِلَى الْجَنَّةِ إِذَا احْتَسَبَتْهُ» [٨] رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ مِنْ قَوْلِهِ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ.

ترجمه: [١] او حضرت معاذ بن جبل ﷺ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] د کوم دوو مسلمانانو (یعني مور او پلار) چه دري واړه بچی مړه شي [٣] نو الله تعالی ﷻ به په خپل فضل او رحمت سره هغه دواړه (یعني مور او پلار) په جنت کښې داخل کړي [٤] صحابه ؤ عرض اوکړو چې یا رسول الله ﷺ دا هم وفرمایه که د چا دوه واړه بچی مړه شوي وي؟ (د هغوئ د پاره هم دا بشارت دي؟) حضور ﷺ وفرمایل هو د چا چې دوه واړه بچی مړه شوي وي هم [٥] صحابه ؤ بیا عرض اوکړو چې یا رسول الله ﷺ دا هم وفرمایه که د چا یو وړوکې مړ شوي وي؟ حضور ﷺ وفرمایل هو که د چا یو وړوکې هم مړ شي نو د هغه د مور پلار د پاره دا بشارت دي [٦] بیا حضور ﷺ وفرمایل قسم دي په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده [٧] که د یوي ښځي کچه حمل هم وغورځیږي (ناتمام بچی) نو هغه به خپله مور د نامه په ذریعه جنت طرف ته راکاږي په شرط د دې چې د هغه مور صبر اوکړي او د هغه مرګ په خپل (حق کښې) ثواب شمیر کړي، [٨] احمد، ابن ماجه دا روایت د وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ څخه تر آخره پوری نقل کړی دی.

حل اللغات: – ① السِّقْطُ: ای هُوَ مَوْلُودٌ غَيْرُ تَامٍّ: نا تمام بچې چه اندامونه ئې پوره نه وی او مړ پیدا شی، ② بِسَرَرِهِ: د بچی د نوم هغه ټکړه چه دائنړه ئې د پیدائش په وخت پرې کوی. ③ احْتَسَبَتْهُ: أَيْ: إِذَا عَدَّتْ أُمُّهُ مَوْتَهُ ثَوَابًا: یعنی کله ئې چه مور دثواب نیت وی اوصبر اوکړی.

¹) اخرجه ابن ماجة فی السنن کتاب الجنائز /باب ما جاء فی ثواب من أصیب بولده (رقم-١٦٠٥) واحمد فی المسند ٢٤١/٥

تسهیلات: قوله : إِنَّ السِّقْطَ لَيَجُرُّ أُمَّهُ:

د ماشوم په شفاعت کښې د اجازت خداوندی شرطیت : - یعنی دغه بچی ته دااختیار نشته چه په خپل حکم باندې مور پلار جنت ته بوځی. جنت ته دَداخلیدودَ پاره دَالله تعالی رحمت اصل اوبنیاددې. البته دَدغه بچی په مرګ باندې الله تعالی دااعزازورکوی چه دغه بچې بـه خپله موردَ اونال په ذیعه سره راکاږی جنت ته به ئی بوځی. انونال دَ بچی نوم سره یوه تسمه وی چه دَ پیداکیدو په وخت دَ بچی دانئی دَ جهلئي نه پرې کړې شی اونوم سره زوړنده وی.

د نوم کټ کولو غوره طریقه : - ډاکټران خلق دا دَ پیداکیدو په وخت دَ صفائی په توګه نوم سره بیخ کښې پرې کوی. په کوم سره چه روستو دغه ماشوم ته ډیرتکلیف وی اونوم ئی خرابیږی. دَ دې برعکس کلی وال نظام دادې چه دغه تسمه دَ څو ورځوپورې زوړنده پریږدی او په تارسره ئی تړی دا پخپله پرې شی او نوم صحیح سالم پاتې شی.

[١٧٥٥] دَماشومانو مرګ د حفاظت قلعه

١٧٥٥-(¹)[٣٤] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«مَنْ قَدَّمَ ثَلَاثَةً مِنَ الْوَلَدِ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ ٣ كَانُوا لَهُ حِصْنًا حَصِينًا مِنَ النَّارِ، ٤ فَقَالَ أَبُو ذَرٍّ: قَدَّمْتُ اثْنَيْنِ. قَالَ: وَاثْنَيْنِ. ٥ قَالَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ: أَبُو الْمُنْذِرِ سَيِّدُ الْقُرَّاءِ: قَدَّمْتُ وَاحِدًا. قَالَ: وَوَاحِدًا». ٦ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ٢ کوم سړي چې د خپل اولاد څخه دري داسې واړه بچی چې د بلوغت حد ته هم نه وي رسیدلي مخکي ولیږل (یعني د هغه د مرګ څخه مخکي مړه شوي وي) ٣ نو هغوی به دهغه د پاره د اُور څخه مضبوطه پناه وي ٤ (د دي په اوریدو سره) حضرت ابوذر رضی الله عنه اوویل چې ما خو دوه ماشومان لیږلي دي حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې او دوه هم، ٥ حضرت ابي بن کعب رضی الله عنه چې د هغه کنیت ابو المنذر دي هو د قاریانو سردار دي هغه اوویل چې ما خو یو وړو کې لیږلي دي حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې هو یو به هم (د اُور نه پناه وي) ٦ ترمذي ابن ماجه، او امام ترمذي رحمه الله فرمایي چې دا حدیث غریب دي.

حل اللغات: - ① الْحِنْثَ: بالغ توب، ② حِصْنًا: أَيْ: حِصَارًا: قلعه، ③ حَصِينًا: ای مُحْكَمًا: مضبوطه.

د راوي مختصر تعارف : - دحدیث د راوی نوم عبدالله، کنیت ابوعبدالرحمن: د پلار نوم مسعود او د مور نه ام عبد وو.

په اسد الغابه کښې ئې د دوی د اسلام راوړلو واقعه دا لیکلې ده چه یوه ورځ نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ابوبکر رضی الله عنه سره روان وو. په لاره :بنې حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه چیلئ څرولې.

¹) اخرجه الترمذ ی فی السنن کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی ثواب من قدم ولدا (رقم-١٠٦١) وابن ماجة کتاب الجنائز /باب ما جاء فی ثواب من أصیب بولده (رقم-١٦٠٦) واحمد فی المسند ٣٧٥/١

حضرت ابوبکر رضی الله عنه د هغه نه پیۍ اوغوښتلو ،هغوی ورته اووئیل دا چیلۍ امانت دی د دې وجې ئې زه نشم درکولې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل آیا تاسره داسې چیلۍ شته چه د هغې بچې نه وی پیدا شوې (یعنی وچه وی) عرض ئې اوکړلو آو دوی هغه چیلۍ راوستله نبی کریم صلی الله علیه وسلم په هغې باندې خپل لاس راښ:ل نو د هغې غولانځه د پیۍ نه ډکه شوه نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت ابو بکر او حضرت عبدالله بن اوڅکل اوښه ماړه شول د دې معجوې نه پس دوی مسلمان شو.بیا همیشه دپاره د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې پاتې شوې وو.(١) کله چه ئې هجرت اوکړو او مدینې ته راغلو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته د مسجد نبوی سره حجته د زمکې یوه ټکړه ورکړه.(٢)

په غزاګانو کښې شرکت:- په ټولو غزاګانو کښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره شریک وو.په ٢٠ هجری کښې په کوفه کښې قاضی شو.او لس کالو پورې هلته قاضی پاتې شوې وو.د هغوی په خاص صفتونو کښې لیکلی شوی دی چه د دوی د علم سره ډیر زیات شوق وو.او د قرآن مجید د تفسیر ماهر وو.په قراءت کښې ورته هم مهارت حاصل وو.نبی کریم صلی الله علیه وسلم هم د دوی نه قرآن اوریدلې وو.او د روایت په بیانولو کښې به ئې ډیر احتیاط کولو.او په خپله زمانه کښې د فقه هم ماهر وو.نډ دوی د خوبیانو په وجه به همیشه دپاره یو لویه ډله د دوی سره اوسیله.بلکه د شقیق د وینا مطابق مونږ به په جمات کښې ناست وو.اود حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د کور نه د راوتلو په انتظار کښې به وو.(٣)

وفات:- په ٣٢ هجری کښې د ٦٠ کالو د نه په زیات عمر کښې وفات شو.اود اجل فرشتې ته ئې لبیک اووئیل د جنازې مونځ پرې حضرت عثمان رضی الله عنه اوکړلو اود حضرت عثمان بن مظعون په خواه کښې دفن کړې شو.(۴)

مرویات:- د دوی نه ۸۴۸ روایات نقل دی په دې کښې ۶۴ متفق علیه دی او په ۲۱ کښې بخاری اوپه ۳۵ کښې مسلم منفرد دې (۵)

تسهیلات:

قوله :قَدَّمْتُ وَاحِدًا.قَالَ: وَوَاحِدًا:

دیوبچی په مرګ صبر اوجنت ته د اخلیدل:- ماقبل احادیثو د دوؤ بچو ذکر وو چې د چا دوه بچی فوت شوی وی هغه به دې جنت کښې داخلوی په دې حدیث پاك کښې دیو بچی ذکر راغلې دې چې که یو بچې هم مړ شو نو هغه هم دالله جل جلاله په فضل سره په دې بشارت کښې داخل دې

(١) اسد الغابة تذکرة عبدالله بن مسعود رضی الله عنه)- (٢)طبقات ابن سعد تذکرة عبدالله بن مسعود رضی الله عنه جلد٢)-
(٣)مسند احمد(٣٧٧\١)- (٤)طبقات ابن سعد(١١٣\١)- (٥)تهذیب الکمال (٢٣٤)- (٦)رواه البخاری فی المرضی باب ما جا فی کفارة المریض إلخ رقم ٥٢١٠، ومسلم فی البر باب ثواب المومن فیما یصیبه من مرض الخ رقم ٤٦٧٠،وتر فی الجنائزرقم،٨٨٩، وحم، باقی مسند المکثرین رقم ٧٦٨٤)

[١٧٥٦] د جنت په دروازه د والدينو انتظار

١٧٥٢-()[٣٥] [١] «وَعَنْ قُرَّةَ الْمُزَنِيِّ: [٢] أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَأْتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ ابْنٌ لَهُ، [٣] فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتُحِبُّهُ؟ [٤] فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، أَحَبَّكَ اللّٰهُ كَمَا أُحِبُّهُ، [٥] فَفَقَدَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٦] فَقَالَ: مَا فَعَلَ ابْنُ فُلَانٍ؟ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَاتَ. [٧] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمَا تُحِبُّ أَنْ لَا تَأْتِيَ بَابًا مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ [٨] إِلَّا وَجَدْتَهُ يَنْتَظِرُكَ. [٩] فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، لَهُ خَاصَّةً أَمْ لِكُلِّنَا؟ [١٠] قَالَ: بَلْ لِكُلِّكُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت قرة مزني رضي الله عنه روايت کوي [٢] چې يو سړي وو چې د نبي کريم ﷺ په خدمت کښې به حاضريدلو او د هغه وړوکي زوي به هم د هغه سره وو[٣] [يوه ورځ] نبي کريم ﷺ هغه ته وفرمايل چې آيا دی په تا ډير ګران دی (چې هر وخت ستا سره وي)[٤] هغه عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ (زه د ده سره د محبت څه اووايم بس) الله تعالی جل جلاله دي ستا سره داسې محبت وکړي څرنګه چې زه يې د دې خپل وړوکي بچي سره کوم [٥] (څه موده وروسته) حضور ﷺ هغه وړوکي د خپل پلار سره بيا ونه ليدلو[٦] نو پوښتنه يې وکړه چې د فلاني سړي وړوکي څه شو؟ نو صحابه ؤ عرض اوکړو چې يا رسول الله د هغه وړوکي خو مړ شوي دي (ددې څخه روسته چې هغه سړي حاضر شو)[٧] نو حضور ﷺ هغه ته وفرمايل چې آيا ستا دا خبره خوښه نه ده چې صبا د قيامت په ورځ د جنت په کومه دروازه چې هم ځې [٨] هلته به خپل ماشوم په خپل انتظار کښې بياموميې (چې هغه ستا سفارش وکړي او تا د ځان سره جنت ته بوزي)[٩] يو سړي عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ آيا بشارت خاص طور سره د دې سړي د پاره دي يا مونږ ټولو د پاره؟[١٠] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ستاسو د ټولو د پاره دي. (مسلم)

حل اللغات: - ① فَفَقَدَهُ: أي: ابْنَهُ مَعَهُ: يعنی هغه ماشوم ئې د خپل پلار سره اونه موندلو.

تسهيلات: قوله: أَحَبَّكَ اللّٰهُ كَمَا أُحِبُّهُ:

د ماشوم په وفات پلار ته بشارت: - يعنی څنګه چه زما د غه بچی سره سخته مينه ده يارسول الله! الله تعالی دې تاسوسره هغه شان مينه اوساتی. دا د دغه سړی د خپل بچی سره د مينې د ډير جذباتی انداز اظهار دې. د قدرت نظام ته اوګورئی چه هم دغه بچې يوڅو ورځې پس وفات شو. د کوم چه حضورپاك پوښتنه اوکړه اوبيائی د هغه پلار ته لوئی زيرې واؤرولو چه د جنت په کومه دروازه ورځې ستا بچې به ستا په انتظار کښې ولاړوی او دننه به دې راغواړی. بيا حضورپاك دا فضيلت د پوره امت د پاره عام کړو.

---

¹) اخرجه احمد فی المسند ٣٥/٥

[١٧٥٧] د نيمګړي بچي په شفاعت جنت ته تلل

١٧٥٧-(١) [٣٦] [١] وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«إِنَّ السِّقْطَ [٣] لَيُرَاغِمُ رَبَّهُ إِذَا أَدْخَلَ أَبَوَيْهِ النَّارَ، [٤] فَقَالَ: أَيُّهَا السِّقْطُ الْمُرَاغِمُ رَبَّهُ أَدْخِلْ أَبَوَيْكَ الْجَنَّةَ، [٥] فَيَجُرُّهُمَا بِسَرَرِهِ حَتَّى يُدْخِلَهُمَا الْجَنَّةَ»، رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت علي رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٢] هر كله چې الله تعالى جل جلاله دسقط (يعنى ناتمام وړوكي چې د مور د خيټي څخه د وخت څخه مخكي وغورځيږي) [٣] كله چې الله د هغه مور او پلار په دوزخ كښې د داخلولو (اراده) اوكړي نو هغه به د خپل رب سره جګړه كوي [٤] نو هغه ته به اوويل شي چې اي د پروردګار سره جګړه كونكي ناتمام وړوكيه خپل مور او پلار جنت ته بوزه [٥] نو هغه ناتمام (نيمګړي) وړو كې به خپل مور او پلار د خپل نوم (ناف) د كُلمي په ذريعه راكاږي تر دي چې هغوى به جنت ته بوزي. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① السِّقْطُ: أَيْ: اَلْوَلَدُ السَّاقِطُ قَبْلَ سِتَّةِ أَشْهُرٍ: كوم ماشوم چه د شپږ مياشتو نه مخكښې يعنى بې مودې پيدا شى. ② لَيُرَاغِمُ: مراغمه په خاورو ككړ اوډ غصې او غضبناك كيدو په معنى كښې دې. خو دلته ترې مراد د ماشوم جګړه كول او مخاصمه كول دى يعنى: يُجَادِلُ وَيُخَاصِمُ.

تسهيلات: قوله : إِنَّ السِّقْطَ لَيُرَاغِمُ رَبَّهُ:

د مراغم معنى او مفهوم: - دلته دَدې نه مراد دادې چه كله دَ نيمګړې بچى مورپلار الله تعالى دَهغوى دَ ګناه په وجه دوزخ كښې داخلول غواړي. نودا نيمګړې بچې بـه الله تعالى سره جګړه كوي چه زما مورپلار په دوزخ كښې مه داخلوه. الله تعالى بـه دَ دغـه نيمګړي بچى خبره منى او هغه ته به اووائى چه اې جګړه كونكې غصه بچيه دَخپل انونال پـه ذريعـه خپل مور پلار جنت ته بوځه نوهغه به دَ نوم په تسمه خپل مورپلار رابښكلوسره جنت ته داخل كړي.

[١٧٥٨] د مصيبت په اول كښې په صبر كولو د جنت وعده

١٧٥٨-(٢) [٣٧] [١] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [٢] "«يَقُولُ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: "ابْنَ آدَمَ [٣] إِنْ صَبَرْتَ وَاحْتَسَبْتَ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُولَى [٤] لَمْ أَرْضَ لَكَ ثَوَابًا دُونَ الْجَنَّةِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت ابو امامه رضي الله عنه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه نقل كوي [٢] چې الله تعالى جل جلاله انسان مخاطب كولو سره ورته فرمايي چې اي ابن آدمه [٣] كه ته د يو مصيبت په وخت صبر وكړې او د صدمې په ابتدايي مرحله باندې د ثواب طلبګار شى [٤] نو زه به ستا د پاره د جنت څخه په كم اجر او ثواب باندې نه راضي كيږم (يعني زه به تا د دې په بدله كښې په

(١) اخرجه ابن ماجة فى السنن كتاب الجنائز/باب ما جاء فيمن أصيب بسقط (رقم-١٦٠٨)
(٢) اخرجه ابن ماجة فى السنن كتاب الجنائز/باب ما جاء فيمن أصيب بسقطٍ (رقم-١٦٠٨)

جنت کښې داخل کړم (ابن ماجه)

حل اللغات:- ① احْتَسَبْتَ: أَيْ: طَلَبْتَ الثَّوَابَ: یعنی د ثواب طلبګار وې. ② الصَّدْمَةِ: مصیبت او تکلیف.

تسهیلات:

قوله: إِنْ صَبَرْتَ وَاحْتَسَبْتَ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُولَى:

دغم په اول کښې د صبر افضلیت:- صبر اګر چې هر وخت ښه دې خو په نوی غم باندې ډیر ښه دې ځکه چې په دې وخت کښې غم تازه وی په دې وجه ددې ثواب هم زیات دې لهذا اول غم باندې چې څوك صبر کوی نو الله ﷻ به ورته ددې په بدله کښې جنت ورکوی

[١٧٥٩] په هر ځل استرجاع لوستلو نوې ثواب ملاویدل

١٧٥٩-(١)[٣٨] ١ وَعَنِ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ٢ "«مَا مِنْ مُسْلِمٍ وَلَا مُسْلِمَةٍ يُصَابُ بِمُصِيبَةٍ فَيَذْكُرُهَا ٣ وَإِنْ طَالَ عَهْدُهَا فَيُحْدِثُ لِذَلِكَ اسْتِرْجَاعًا، ٤ إِلَّا جَدَّدَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لَهُ عِنْدَ ذَلِكَ ٥ فَأَعْطَاهُ مِثْلَ أَجْرِهَا يَوْمَ أُصِيبَ بِهَا»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ١ حضرت حسین بن علي رضي الله عنهما روایت کوي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل ٢ کوم مسلمان سړي او ښځي ته چې څه مصیبت او صدمه ورسي ٣ بیا که هر څومره اُوږده زمانه تیریدو نه وروسته هغه مصیبت او صدمه ورته رایاده شي او هغه وخت هغه انالله وانا الیه راجعون اووائی ٤ الله تعالی ﷻ د هغه د پاره ثواب ثابتوي ٥ او الله تعالی ﷻ هغه ته هغه اجر او ثواب ورکوي چې په هغه ورځ یي ورته ورکړي وو کله چې هغه د هغه مصیبت سره مخ شوي وو او په هغې یي صبر کړي وو. (احمد بیهقي)

حل اللغات:- ① يُصَابُ: أَيْ: يُبْتَلَى: یعنی په مصیبت کښې مبتلاشی، ② فَيُحْدِثُ: أَيْ: يُجَدِّدُ: یعنی غم نې تازه شی، ورته یاده شی. ③ اسْتِرْجَاعًا: یعنی إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ، اووائی. ④ جَدَّدَ: أَيْ: أَثْبَتَ: مقررکوی او ورکوی (یعنی بیا بیا).

تسهیلات: یعنی کله چه سړې په اول ځل باندې مصیبت باندې ﴿إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ﴾ وائی نوهغه ته دَ استرجاع ثواب ملاویږی لیکن که یوسړی ته روستو دَدغه حادثې احساس اوشی او استرجاع اوکړی نوالله تعالی په هرځل باندې هغه ته نوې ثواب ورکوی او په هغې کښې هیڅ کمې نه کیږی. دا ثواب به هم دومره وی څومره چه دَ مصیبت په شروع کښې وی.

[١٧٦٠] تسمه شلیدل د مصیبت په فهرس کښې

١٧٦٠-(٢)[٣٩] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«إِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ أَحَدِكُمْ فَلْيَسْتَرْجِعْ; ٣ فَإِنَّهُ مِنَ الْمَصَائِبِ».

---

(١) اخرجه احمد فی المسند: ٢٠١/١

(٢) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان حد یث رقم ٩٣٦٤

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر كله چې د يو سړي دپنړي (يا څپلي يا چپل يا بوټ) تسمه وشليږي نو هغه ته پكار دي چې انالله وانا اليه راجعون اووائي ③ ځكه چې دا هم يو مصيبت دي.

حل اللغات: - ① شِسْعُ: د پيزار يا پنړۍ وندنى ته وائى. ② فَلْيَسْتَرْجِعْ: يعنى "إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ" اووائى.

تسهيلات:

قوله: إِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ أَحَدِكُمْ:

په معمولى پريشانئ دصبر كولو فضيلت: - ددې نه د څپلۍ تسمه مراد ده يعنى چې د چا تسمه اوشليږى نو (إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ) دې اووائى دا دلږغم څخه كنايه ده چې كله لږغم هم راشى نو په دې باندې (إِنَّا لِلّٰهِ الخ) وئيل پكار دى او صبر كول پكار دى په حديث مبارك كښې دى چې رسول كريم ﷺ د ډيوې په مړ كيدو باندې هم (إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ) اووئيل لهذا د بجلۍ په تلو باندې هم استرجاع وئيل پكار دى

[١٧٦١] شكراو صبر د امت محمدى خصوصيت

١٧٦١ - (١) [٣٠] ① وَعَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ قَالَتْ: سَمِعْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ يَقُولُ: ② سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "«إِنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَالَ: ③ يَا عِيسَى، إِنِّي بَاعِثٌ مِنْ بَعْدِكَ أُمَّةً ④ إِذَا أَصَابَهُمْ مَا يُحِبُّونَ حَمِدُوا اللّٰهَ، ⑤ وَإِنْ أَصَابَهُمْ مَا يَكْرَهُونَ احْتَسَبُوا وَصَبَرُوا، ⑥ وَلَا حِلْمَ وَلَا عَقْلَ. ⑦ فَقَالَ: يَا رَبِّ، كَيْفَ يَكُونُ هَذَا لَهُمْ، وَلَا حِلْمَ وَلَا عَقْلَ؟! ⑧ قَالَ: أُعْطِيهِمْ مِنْ حِلْمِي وَعِلْمِي». رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ① بي بي أم درداء رضي الله عنها وايي چې ما د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه واوريدل ② چې ابو القاسم ﷺ ارشاد وفرمايلو چه الله تبارک وتعالى حضرت عيسي عليه السلام ته فرمايلي وو ③ چې اي عيسي زه ستا څخه روسته يو أمت پيدا كوم ④ هر كله چې به هغوئ ته څه خوښ شي رسى [يعني نعمت او راحت ورته رسى] نو هغوى به په هغې د الله تعالى جل جلاله شكر ادا كوي ⑤ او هر كله چې څه ناخوښه شي (يعني تكليف او مصيبت) ورته ورسي نو د ثواب أميد به لري او صبر به كوي ⑥ په داسې حال كښې چې نه څه (كسبي يا كامل) عقل به وي او نه برد باري ⑦ حضرت عيسي عليه السلام عرض اوكړو چې اي زما پروردګاره دا به څرنګه وي چې نه يي عقل وي نه بردباري ⑧ پروردګار وفرمايل چې زه به هغوئ ته د خپل علم او حلم څخه څه حصه وركړم، دا (او د دى څخه مخكى) روايت بيهقي په شعب الايمان كښې نقل كړي دي.

حل اللغات: - ① بَاعِثٌ: أَيْ: خَالِقٌ وَمُظْهِرٌ: يعنى پيدا كونكي اوښكاره كونكي يم. ② احْتَسَبُوا: أَيْ: طَلَبُوا الثَّوَابَ: د الله نه د ثواب طلبګار وى. ③ حِلْمَ: حلم برداشت او وقاراوسكون ته وائى.

١) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان حد يث رقم ٩٩٥٣

تسهيلات: قوله: وَلَا حِلْمَ وَلَا عَقْلَ:

د امت محمدی د خواصو صفات:- يعنې دَ امت مرحومه امت محمديه دَ خاص خاص كسانو به دا كيفيت وي چه دَ مصيبت او سختې حادثې دَ وجې نه به نې عقل او صبر كارنه كوي ليكن بيا به هم دا خلق حلم اوعلم عقل اوهوش به دَ لاس نه نه پرېږدی اودَ تقدير په وړاندې به سټ ښكته ساتي.

دَدې حيرانونكى صورت په اوريدو سره حضرت عيسى عليه السلام پوښتنه اوكړه يا الله چه كله عقل اوپوهه هم نه وى علم اوحلم هم نه وى نودا خلق به ښه كاراودَ الله تعالى تعريف څنګه كوى؟ الله تعالى دَحضرت عيسى عليه السلام دَ سوال په جواب كښې اوفرمائيل چه زه به هغوى ته دَ خپل ځان نه علم او پوهه، صبر اوسكون وركوم.

[٨] بَابُ زِيَارَةِ الْقُبُورِ

دَ قبرونو دَ زيارت كولو بيان

خلاصة الباب:-

فيه عشرة أحاديث مشتملة على ثلاث مسائل:

① الإذن فى زيارة القبور وثوابها: ١، ٢، ٧، ٨-

② السلام على الأموات عند دخول المقبرة: ٣، ٤، ٥، ٦-

③ حكم زيارة القبور للنساء: ٩، ١٠-

قال الله تعالى ﴿ثُمَّ أَمَاتَهُ فَأَقْبَرَهُ ۝ ثُمَّ إِذَا شَاءَ أَنْشَرَهُ﴾ [سورة العبس الايه: ٢١]

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٧٦٢] دَ قبرونو د زيارت كولو استحباب

١٧٦٢-(١)[١] ① عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا، ③ وَنَهَيْتُكُمْ عَنْ لُحُومِ الْأَضَاحِي فَوْقَ ثَلَاثٍ ④ فَأَمْسِكُوا مَا بَدَا لَكُمْ، ⑤ وَنَهَيْتُكُمْ عَنِ النَّبِيذِ إِلَّا فِي سِقَاءٍ ⑥ فَاشْرَبُوا فِي الْأَسْقِيَةِ كُلِّهَا، ⑦ وَلَا تَشْرَبُوا مُسْكِرًا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت بريده رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② مخكي خو ما تاسو د قبرونود زيات څخه منع كړې وئ خو اوس تاسود قبرونو زيارت كوئ ③ دغه شان ما د قرباني غوښه د دري ورځو نه د زياته ساتلو څخه تاسو منع كړي وئ ④ خو اوس چې

[١] اخرجه مسلم فى كتاب الجنائز /باب استئذان النبى صلى الله عليه وسلم ربه عز وجل فى زيارة قبر أمه (رقم) ١٠٦ - (٩٧٧) وابوداود فى السنن كتاب الأشربة/باب فى الأوعية(رقم-٣٦٩٨) والنسائى كتاب الجنائز/زيارة القبور(رقم-٢٠٣٢) واحمد فى المسند ١/١٤٥

تاسو ترڅو پورې غواړئ تر هغه پورې يې ساتلی شئ ⑤ او ما نبيذ سوا د مشک څخه (په نورو لوښو کښې اينښودلو سره د څښلو څخه) تاسو منع کړي وئ ⑥ ليکن اوس (چي تاسو په کومو لوښو کښې غواړئ) په ټولو کښې څښلي شئ ⑦ ليکن د نشي هيڅ شي هيڅ کله مه څکئ. (مسلم)

حل اللغات: - ① فَأَمْسِكُوا: ساتئ، ايساروئ، ② بَدَا لَكُمْ: أَيْ ظَهَرَ مُدَّةً بُدُوِّ الْإِمْسَاكِ: يعنى چه ترڅو پورې دا غوښه اينښودل ستاسو خوښه وی. ③ النَّبِيذ: د چوهارو يا اوسکو خوږې اوبه، ④ سِقَاءٍ: أَيْ قِرْبَةٍ: مشک، ⑤ مُسْكِرًا: نشه راوستونکې.

تسهيلات:

قوله: نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ:

په اول کښې د زيارت القبور د ممانعت وجه: - رسول الله ﷺ په شروع کښې دَ قبرونودَ زيارت نه مطلقًا منع فرمائيلې وه ځکه چه دَ جاهليت زمانه نيزدې وه. قبرونو ته په تللوباندې دَ شرك راتلو امكان وو ځکه چه شرك هم دَ قبرونو په لار راځی اودَ بې ځايه محبت دَ وجې نه راځی. کله چه په مسلمانانوکښې دَ توحيدعقيده کلکه شوه او دَ اسلام طريقه دَ جاهليت دَ طريقې نه جداشوه او په شرك کښې دَ پريوتو خطره پاتې نه شوه نوحضورپاك دَ قبرونودَ زيارت کولواجازت ورکړو. دَ زير بحث حديث دَ "زوروها" الفاظونه په واضحه توګه معلوميږی. اوس مسئله دا پاتې شوه چه دَ قبرونودَ زيارت دَ عمومی ممانعت نه پس چه کوم اجازت ورکړې شوې دې هغه دَ کومې درجې دې؟ آياسړو سره ښځودَ پاره هم دا اجازت عام دې اوکه دا اجازت صرف دَ سړو دپاره محدوددې؟ په دې کښې دَعلماء کرامو څه اختلاف دې.

د ښځو دپاره د زيارت القبور په حکم کښې مذاهب: -

① دَعلماؤ دَ يوې طبقې خيال دې چه دَ زيارتونودَ عمومی ممانعت نه پس دَ اجازت داحکم عام دې لهذا ښځې هم دَ قبرونو دَ زيارتونودَپاره تللې شی. دَدې علماؤ خيال دې چه دَ زيارت قبور دامم‌انعت دَ يو وخت دَپاره وو کوم چه روستو بيا منسوخ شو لهذا دَ ښځوقبرونوته تلل جائزدی.

② دَ علماؤ يوه لويه طبقه دې طرف ته تلې ده چه دَ ښځو دَ زيارت دَ پاره قبرونوته تلل اوس هم منع دی.

د اول فريق دلائل: - ① دَ مستدرك حاكم په يوروايت کښې راغلی دی چه حضرت فاطمه رضي الله عنها به هم دَ خپلې ترور دَ قبردَ زيارت دَپاره دَ جمعې په ورځ تلله.

② دغه شان دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها دَ قبردَ زيارت دَپاره تلل ثابت دی اوهغې دَ

حضور پاك نه دَدې طريقه هم زده كړې ده.

د دويم فريق دليل: - دَ دې حضراتو مستدل هغه حديث دی په كوم كښې چه راغلی دی "ان رسول الله صلى الله عليه لعن زوارات القبور" (رواه ترمذی) داحديث صاحب مشكوة په فصل ثالث كښې نقل كړې دې كوم چه حديث نمبر١٧٧٠ دې.

د اعتدال لاره: - محققين علماؤ دلته يوه ښه لار اختيار كړې ده هغوی فرمائی چه دَ پوخ عمر ښځې كومې چه دَ زيارتونودَ آدابو نه خبر وی هغوی دَ زيارت دَپاره تللې شی لكه چه دَ حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها نه ثابت دی خوچه كومې ښځې ځوانې وی يا بوډئی وی اودَ زيارت كولودَ آدابونه خبرنه وی مثلاً قبر ته په تللوسره دَ صاحب قبرنه امداد غواړی. جزع فزع كوی دَ قبرنه خاوره اوچته وی اودَ تبرك دَ پاره ئی كور ته اوړی. نودَداسې ښځودَپاره زيارت قبور مطلقًا منع دې. واضحه دې وی چه دا مذكوره شرطونه نن صبا نشته دې.

دزيارة القبور آداب: - علماء كرامو دَ آداب قبورنه ليكلی دی

① سړې دې قبر ته نه ټيټيږی.

② دَ قبر مخكښې دې سجده نه كوی.

③ دې نه دې نه خاوره اوچته وی

④اونه دې دَخپل بدن څه حصه دې پورې مږی.

⑤ نه دې قبر ښكلوی نه دې طواف كوی

⑥ نه دې په قبرونوباندې ګلونه اونه غلافونه خوره وی بلكه په ولاړه ولاړه دې بغيردَ لاسونو اوچتولو دعااوغواړی او لاړدې شی.

په دعا كښې د لاس اوچتولو حكم: - دَ بعضې علماؤ خيال دادې چه په دعاكښې لاس اوچتولې شی بعضې وائی چه كه لاس اوچتول وی نوبيادې دَقبر په ځائی باندې دَ قبلې طرف ته مخ كړی. نن صبا زمانه كښې دَهرقسم ښځودَپاره قبرونوته تلل دَ خطرونه خالی نه دی. احتياط هم په دې كښې دې چه ښځې دې قبرستان ته نه ځی.

د محققينو په نيز د ښځو دپاره د زيارت القبور حكم: - شاه محمد اسحاق رحمه الله فرمائی چه غوره قول دادې چه دَ ښځو قبرونوته تلل مكروه تحريمی دی. بل دَ فقه كتاب مستملی كښې ليكلی دی چه دَ قبرونو زيارت كول دَ سړو دَپاره مستحب دی ليكن دَښځودَپاره مكروه دی. مجالس واعظيه يوكتاب دې په هغې كښې ليكلی دی چه دَ ښځودَپاره حلال نه دی چه هغوی دې قبرونوته لاړې شی ځكه چه دَ حضرت ابوهريره رضی الله عنه په يوحديث كښې دی چه "انه عليه السلام لعن زوارات القبور"

نصاب الاحتساب يو معتمد كتاب دې په هغې كښې ليكلی دی چه قاضی ابوزيد رحمه الله نه

چا تپوس اوکړو چه دَ ښځو قبرونوته تلل جائزدی که نه؟ نوهغوی په جواب کښې اوفرمائیل چه دَ جواز اوعدم جواز دَخبرې تپوس مه کوه بلکه دا پوښتنه اوکړه چه قبرستان ته په تلونکې ښځه باندې څومره لعنت وریږی. په یوروایت کښې راغلی دی چه کومه ښځه مقبرې ته ځی دَ اووه زمکو او اووه آسمانونو فرښتې په هغې باندې لعنت وائی. داخبره یادساتل ضروری دی چه دَ ښځو دَپاره قبرونوته دَ تللودامسئله دَ عاموقبرونوباره کښې ده اودَ رسول الله ﷺ قبرمبارك اودَهغې زیارت دَدې نه مستثنیٰ دې اوهغه دَمخکښې نه تردغه وخته پورې جاری دې.

دَزیارت قبور قسمونه: دَمقاصدپه اعتبارسره دَ قبرونودَتللوډیر قسمونه دی. ① اول صرف دَ مرګ یادولو په غرض سره تلل اودَ انسان بې وسی په زړه اودماغوکښې دَ کینولوپه غرض سره تلل دی.

② دویم دَ ایصال ثواب په غرض قبرله تلل دی. دَدې مقصد دَحاصلولودَپاره هرمسلمان له هریوقبرته تلل جائزدی. البته دَ ښځومسئله جدا ده کومه چه دې نه وړاندې لیکلې شوې ده.

③ دریم دَ برکت او سعادت دَحاصلولودَپاره تلل دی. دَدې مقصد دَ حاصولودَپاره دَ اولیاء الله او بزرګان دین قبرونوته تلل اودَ هغې زیارت کولې شی. دَدې تللو مطلب دانه دې چه دَ اولیاء الله نه امداد غوښتل شروع کړی اوخپل حاجتونه دَهغوی په وړاندې پیش کړی بلکه مقصد دادې چه دَهغوی مزارونه دَ برکتونو مرکزونه دی. هغې ته په تللو برکت حاصلیږی. برکت ورکونکې صرف یوالله تعالی دې. صاحب قبر دَ دغه برکت دَپاره یو ذریعه جوړیږی. علماء کرامو هم داسې لیکلی دی. ماته پخپله دَ دې زیارت ډیره تجربه نشته دې.

④ څلورم دَخپلو خپلوانو او دوستانو قبرونوته دَ مغفرت دَ دعا اودَ مړو شوو دَ یادولو په غرض سره تلل دی.

⑤ پنځم دَ اولیاء قبرونو اومزارونوته تلل اومنختې کولو او امداد غوښتل اودَهغوی نه خپل حاجتونه غوښتل. دَدې مقصدونودَپاره نن صبا عام خلق ځی. داخالص بدعت اوبعضې صورتونوکښې خالص شرك دې دَ کوم نه احتراز کول چه دَهر مسلمان دَایمان ذمه واری ده.

قوله: وَنَهَيْتُكُمْ لُحُومِ الْأَضَاحِي:

د درې ورځو څخه زیات د قربانۍ د غوښو د ممانعت وجه: -دَ اسلام په شروع کښې دَ تنګدستیا دَ وجې نه حضورپاك حکم ورکړې وو چه دَ دریوورځونه زیات دې په کورونوکښې دَ قربانئی غوښې نه ساتی. دَدې نه دَحضورپاك مقصد داوو چه خلق دَ قربانئی غوښې په خپلوانو کښې تقسیم کړی اودَهغوی امداد دې اوکړی اوذخیره اونه کړی. بیاچه کله په معاشره کښې مالی وسعت پیدا شو نوداحکم موقوف شو.

قوله: وَنَهَيْتُكُمْ عَنِ النَّبِيذِ:

په ابتداء کښې د نبيذ ذخيره کولو او تيارولو د پابندۍ حکمت: - نبيذ دَ کهجورې وغيره ميوو دَخاص شيرې نوم دې. دَ نبيذ پوره تفصيل په کتاب الطهارت کښې شوې دې. دَ اسلام په شروع کښې چه کله دَ شرابو دَ حرمت حکم راغلو نودَ نفرت پيدا کولودپاره حضورپاك دَ شرابودَ چاټو ماتولو حکم ورکړو. روستوچه کله دَ شرابو حراموالې دَ مسلمانانو په زړونوکښې کلك شو نوبيادَ نبيذ ساتلو او تيارولو عام پابندي ختمه شوه. اول به دا نبيذ صرف په مشکيزه کښې دَ ساتلو اجازت ووبيا په ټولو لوښوکښې دَ کيخودلو اجازت ملاؤ شو دکوم ذکرچه په دې حديث کښې دې.

[١٧٦٣] رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ خپلې مورد قبر سره

١٧٦٣-(١)[٢] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: [٢] «زَارَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَبْرَ أُمِّهِ فَبَكَى وَأَبْكَى مَنْ حَوْلَهُ، [٣] فَقَالَ: "اسْتَأْذَنْتُ رَبِّي فِي أَنْ أَسْتَغْفِرَ لَهَا فَلَمْ يُؤْذَنْ لِي، [٤] وَاسْتَأْذَنْتُهُ فِي أَنْ أَزُورَ قَبْرَهَا فَأُذِنَ لِي، [٥] فَزُورُوا الْقُبُورَ فَإِنَّهَا تُذَكِّرُ الْمَوْتَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي [٢] کوم وخت چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم د خپلي مور بي بي قبر ته تشريف يووړو نو حضور صلی الله علیه وسلم وژړل او هغه خلق يي هم وژړول کوم چې د حضور صلی الله علیه وسلم سره ملګري وو[٣] بيا حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې ما د خپل پروردګار څخه د دې خبري اجازت غوښتي وو چې خپلي مور بي بي دپاره بخښنه (بخشش) وغواړم خو ماته د دې خبري اجازت رانه کړل شو[٤] بيا ما د خپل پروردګار څخه د دې خبري اجازت وغوښتلو چې د خپلي مور بي بي په قبر حاضري ورکړم نو ما ته د دې اجازت راکړل شو[٥] نو تاسو قبرونو ته ځئ ځکه چې قبرونو ته تلل مرګ رایاد وي. (مسلم)

حل اللغات: - ① زَارَ: زيارت ئې اوکړو، يعنې تشريف ئې يووړو.

تسهيلات: قوله: زَارَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَبْرَ أُمِّهِ:

د نبي کريم صلی الله علیه وسلم د مور قبر له تشريف وړل: - دَ حضورپاك صلی الله علیه وسلم دَ مور بي بي نوم حضرت آمنه وو اودَپلار نوم عبدالله وو. دَ بي بي آمنه انتقال مکې اومدينې په مينځ کښې په يومقام باندې اوشو دَهغې نوم ابواء دې. حضورپاك دَخپلې مور قبرته تشريف يوړو او دَ ډيروخت پورې ولاړ وو. پخپله ئې هم ژړل او نور ئې هم اوژړول اوبيائې دا ارشاد اوفرمائيلو کوم چه په دې حديث کښې دې.

[1] اخرجه مسلم في كتاب الجنائز /باب استئذان النبي صلى الله عليه وسلم ربه عز وجل في زيارة قبر أمه (رقم) ١٠٨ - (٩٧٦) وابوداود في السنن كتاب الجنائز، باب في زيارة القبور(رقم-٣٢٣٤) والنسائي كتاب الجنائز /زيارة قبر المشرك (رقم-٢٠٣٤) وابن ما جة كتاب الجنائز /باب ما جاء في زيارة قبور المشركين(رقم-١٥٧٢) واحمد في المسند ٤٤١/٢

د نبي کريم ﷺ د والدينو اسلام راوړلو کښې اقوال :-

اوس دابحث شروع دې چه دَ حضورپاك دَ والدين دَ اسلام باره کښې څه موقف اختيارکړې شى. دَعلماء سلف خيال دې چه دَهغوى انتقال دَ کفر په حالت کښې شوې وو. دَ ظاهرى احاديثونه هم دغه خبره معلوميږى. ليکن متاخرين علماء فرمائى چه په يوڅووجوهاتوسره دَ حضورپاك دَ والدين اسلام ثابت دې.

① ياخودَحضورپاك والدين په ملت ابراهيمى باندې وو په ملت شرکيه باندې نه وو.

② ياداچه هغوى په زمانه فترت کښې انتقال شوى وو اوهغوى ته څه اسلامى دعوت نه دې رسيدلې نو په اصل باندې وو په کفرباندې نه وو.

③ دَ بعضې متاخرينوخيال دادې چه دَ معجزې په توګه هغوى راژوندې کړې شوى او دَ ايمان قبلولوسره بيا واپس کړې شوى. په دې سلسله کښې متاخرين يوحديث هم پيش کوى.

احتياط:- بهرحال عام علماء فرمائى چه په دې حساس اونازکه مسئله کښې احوط او مختار قول دادې چه سړې دې په دې کښې خاموشى اختيارکړى اودافيصله په حق تعالى باندې پريږدى.

[١٧٦٤] مقبرې ته د ورداخليدو دعا

١٧٦٣ – ( )[٣][١]«وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُعَلِّمُهُمْ [٢] إِذَا خَرَجُوا إِلَى الْمَقَابِرِ: [٣] "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ، مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ، [٤] وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُونَ، [٥] نَسْأَلُ اللّٰهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت بُريده رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ به مسلمانانو ته ښودل [٢] چې هر کله هغوى قبرستان ته لاړ شي نو دا کلمات دې وايي: [٣] اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ نَسْأَلُ اللّٰهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ اې کورونو والؤ دمؤمنانو او مسلمانانوڅخه په تاسو دې سلامتي وي [٤] يقيناً مونږ به هم که الله تعالى جل جلاله وغواړي ستاسو سره ضرور يو ځاي کيږو [٥] مونږ د الله تعالى جل جلاله څخه د ځان د پاره او ستاسو د پاره عافيت (يعني عذابونو څخه ساتنه) غواړو. (مسلم)

حل اللغات:- ① لَلَاحِقُوْنَ: يوځاى کيدونکى يو، ② اَلْعَافِيَةَ: خلاصي د عذابونو نه.

تسهيلات: قوله : اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ:

قبرونو سره د دعا په الفاظو کښې څه اختلاف:- په مقبره او قبرستان کښې قبرونو سره دَ سلام نه پس څه دعائيه کلمات هم دَ احاديثونه ثابت دى مګر په هغې کښې تحديد او تعيين

---

[١] اخرجه مسلم فى كتاب الجنائز/باب ما يقال عند دخول القبور والدعاء لأهلها (رقم) ١٠٤ - (٩٧٥)وابن ماجة فى السنن كتاب الجنائز/باب ما جاء فيما يقال إذا دخل المقابر(رقم-١٥٤٧) واحمد فى المسند ٣٥٣/٥

نشته دي بلکه په الفاظ کښې څه تغاير موجود دي څنګه چه دلته زيرنظر دعا ذکرده. او په عامو رواياتو کښې هغه دعاده کومه چه دَدې حديث نه پس څلورم حديث کښې راځي. په دې کښې چه کوم سړی کومه دعا هم اولوستله دَ زيارت مسنون طريقه به پوره شي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٧٦٥] قبرستان ته د ورتلو دعا

١٧٦٥ — ()[٤] ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «مَرَّ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِقُبُورِ الْمَدِينَةِ ٢ فَأَقْبَلَ عَلَيْهِمْ بِوَجْهِهِ فَقَالَ: ٣ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ، ٤ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ، ٥ أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْأَثَرِ» ". ٦ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما روايت کوي چې [يو ځل] نبي کريم ﷺ د مديني د قبرستان سره تيريدو ٢ نو حضور ﷺ د قبرونو طرف ته مخ مبارک ور وګرځولو او وي فرمايل: ٣ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْأَثَرِ چې اي قبرونو والو ستاسو په خدمت کښې سلام پيش دي ٤ او الله تعالی جل جلاله دي مونږ او تاسو وبخښي ٥ تاسو زمونږ څخه مخکښې رسيدلي يي او مونږ هم ستاسو وروسته راتلونکي يو، ٦ امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړي دي او فرمايلي يي دي چې دا حديث حسن غريب دي.

حل اللغات: - ① سَلَفُنَا: زمونږنه مخکښې تلی يئ، ② بِالْأَثَرِ: ای تَابِعُونَ لَكُمْ مِنْ وَرَائِكُمْ: يعنی مونږهم تاسو پسې روسته راتلونکی يو.

تسهيلات: قوله: فَأَقْبَلَ عَلَيْهِمْ بِوَجْهِهِ:

قبر طرف ته متوجه کيدل او دعا لوستل: - په دې حديث کښې دا واضحه الفاظ دی چه حضورپاك دَ قبرونوطرف ته متوجه شو اوهغوی ته ئی دعا سلام پيش کړو دا مسنون طريقه ده اوټول فقهاء او مجتهدين هم دا اخستې دې او دَټولو مسلمانانو په دې باندې عمل دې.
صرف ابن حجر رحمه الله په دې مسئله کښې اختلاف کړې دې هغه فرمائی چه دَدعا په وخت مخ قبر طرف ته نه بلکه قبلې طرف ته کول پکاردی.

قبر سره دعا کولو کښې لاسونه نه پورته کول: - شيخ مظهر رحمه الله ليکی دَمړی زيارت دَ ژوندو دَ زيارت په شان دې کوم چه دَخلې او مخ طرف نه کيږی. لهٰذا چه په ژوند کښې دَملاقات کوم آداب وی په قبر باندې هم هغه آدابو خيال ساتل پکاردی. البته دَ قبر طرف ته متوجه کيدو سره په دعاکښې لاسونه اوچتول مناسب نه دی ځکه چه په دې سره به عوام هم دغه خيال کوی چه دا سړې دَ مړی نه غوښتل کوی. دَدې فتنې په خطره کښې دَ ابن حجر رحمه الله په قول عمل زيات بهتر وی ليکن لاسونه اوچتولونه بغير دعا اوسلام کښې دَ قبر طرف ته

---

١) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله عليه وسلم / ما يقول الرجل إذا دخل المقابر (رقم-١٠٥٣)

متوجه کيدل بهتردی کوم چه عام معمول دي. اګرچه دَهندوستان دَ علماؤ باره کښې اوريدلی شوی دی چه هغوی دَ قبر طرف ته متوجه کيدو سره لاسونه اوچتولوسره دعاکوی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٧٦٦] دَ شپې په وخت قبرستان ته تګ

١٧٦٦–()[٥] ١ «عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: ٢ كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كُلَّمَا كَانَ لَيْلَتُهَا مِنْ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٣ يَخْرُجُ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ إِلَى الْبَقِيعِ فَيَقُولُ: ٤ "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ، ٥ وَأَتَاكُمْ مَا تُوعَدُونَ، غَدًا مُؤَجَّلُونَ ٦ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ، ٧ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَهْلِ بَقِيعِ الْغَرْقَدِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ د مؤمنانو مور بي بي عايشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ٢ چې په کومه شپه چې به د حضور ﷺ نمبر زما سره وو ٣ نو حضور ﷺ به د شپې په آخره حصه کښې پاڅيدلو او د مدينې قبرستان بقيع ته به يي تشريف وړلو او هلته به يي فرمايل: ٤ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ وَأَتَاكُمْ مَا تُوعَدُونَ غَدًا مُؤَجَّلُونَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَهْلِ بَقِيعِ الْغَرْقَدِ اي قوم مؤمنين! په تاسو دي سلامتيا وي ٥ تاسو ته هغه څيز راغې چې د هغې ستاسو سره وعده شوي وه (يعني د ثواب او عذاب) صبا [يعنی د قيامت ورځ پورې] تاسو ته [تر يوي مقررې مودې پورې] مهلت درکول شوي دي ٦ او مونږ هم يقيناً چې الله تعالی جل جلاله وغواړي ستاسو سره يو ځاي کيدنکي يو ٧ اي الله جل جلاله بقيع غرقد والا وبخښې. (مسلم)

حل اللغات: - ① اَلْبَقِيعِ: په مدينه کښې ديو قبرستان نوم دې. ② غَدًا: صبا (يعنی ترقيامت د ورځې پورې). ③ مُؤَجَّلُونَ: أَيْ مُؤَخَّرُونَ: يعنی ثواب به تاسو ته روسته ملاويږي. ④ لَاحِقُونَ: يوځای کيدونکی يو. ⑤ بَقِيعِ الْغَرْقَدِ: دمدينې مقبرې ته بقيع الغرقد هم وائي، نن صبا ورته خلق جنت البقيع وائی.

تسهيلات: **قوله: يَخْرُجُ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ إِلَى الْبَقِيعِ:**

د بقيع وضاحت: - په مدينه منوره کښې يوقبرستان دې په کوم کښې چه دَ صحابه کرامو رضي الله عنهم اواهل مدينه قبرونه دی. هم دَ دغه قبرستان نوم بقيع دې. دې ته بقيع غرقد هم وائی. او نن صبا عام خلق دې ته جنت البقيع وائی. دې وخت دَ مسجد نبوی دلاندې دې قبرستان ته رسيدلې دې. په دې کښې صرف دَحضرت عثمان رضي الله عنه قبر ښکاره او مشهور دې. دَ باقی قبرونو نښې نښانې دَ يوې منصوبې لاندې ورانې کړې شوی دی.

() اخرجه مسلم فی كتاب الجنائز /باب ما يقال عند دخول القبور والدعاء لأهلها (رقم) ١٠٢ - (٩٧٤) والنسائی فی السنن كتاب الجنائز /الأمر بالاستغفار للمؤمنين (رقم-٢٠٣٩)

[١٧٦٧] د مقبرې يوه بله دعا

١٧٦٧-(١)[٦] ① وَعَنْهَا قَالَتْ: ② «كَيْفَ أَقُولُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ تَعْنِي فِي زِيَارَةِ الْقُبُورِ، ③ قَالَ: قُولِي: "السَّلَامُ عَلَى أَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ، ④ وَيَرْحَمُ اللّٰهُ الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِينَ، ⑤ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُونَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي چې ما عرض اوکړو ② چې يا رسول الله ﷺ زه څرنګه اووايم يعنی د قبرونو د زيارت په وخت څه اووايم؟ ③ حضور ﷺ وفرمايل چې دا کلمات وايه اَلسَّلَامُ عَلٰى أَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَيَرْحَمُ اللّٰهُ الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِيْنَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ سلامتيا دي وي په دي کورونووالؤد مؤمنانو او مسلمانانو څخه ④ الله جل جلاله دي په هغوئ رحم وکړي کوم چې مونږ څخه مخکښي وو او په هغوئ دي هم رحمت وکړي کوم چې ز مونږ څخه روسته راتلونکي دي ⑤ يقيناً مونږ هم چې الله جل جلاله وغواړي ستاسو سره يو ځاي کيدونکي يو. (مسلم)

حل اللغات:- ① اَلْمُسْتَقْدِمِيْنَ: أَيِ الَّذِيْنَ تَقَدَّمُوْا عَلَيْنَا بِالْمَوْتِ: يعنى کوم چه زمونږنه مخکښي مره شوى دى. ② اَلْمُسْتَأْخِرِيْنَ: کوم چه به زمونږ نه وروسته مره کيږى. ③ لَلَاحِقُوْنَ: يوځاى کيدونکى يو.

تسهيلات:

قوله: اَلسَّلَامُ عَلٰى أَهْلِ الدِّيَارِ:

د مړي د طرفه د سلام جواب ورکول:- عبدالبر په کتاب الاستذکار او تمهيد کښي د ابن عباس رضي الله عنه په حوالې نقل کړى دى چې کوم کس د خپل مسلمان رور د قبر سره نزدې تير شى نو که ده هغه پيژندو نو هغه به دده دسلام جواب ورکړى داشان ابن ابى الدنيا رحمه الله يو روايت نقل کړې دې چې حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه منقول دى چې کوم کس د خپل مسلمان رور قبر سره نزدې تير شى او دې دا صاحب قبر پيژنى نو چې دا ژوندې هغه ته سلام اوکړى هغه د ده د سلام جواب ورکولې شى او که هغه داسې قبر سره تير شى چې هغه دې نه پيژنى ليکن بيا هم ده صاحب قبر والاته سلام اوکړو نو دهغه د سلام جواب ورکولې کيږى (مرقاة ج/۴ص/۱۱۴).

[١٧٦٨] دَوالدينو قبرته هره جمعه دَتللو فضيلت

١٧٦٨-(٢)[٧] ① وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ النُّعْمَانِ يَرْفَعُ الْحَدِيثَ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "«مَنْ زَارَ قَبْرَ أَبَوَيْهِ أَوْ أَحَدِهِمَا فِي كُلِّ جُمُعَةٍ غُفِرَ لَهُ"، ③ وَكُتِبَ بَرًّا». ④ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ مُرْسَلًا.

[1] اخرجه مسلم فى کتاب الجنائز /باب ما يقال عند دخول القبور والدعاء لأهلها (رقم) ١٠٣ - (٩٧٤) والنسائى فى السنن کتاب الجنائز /الأمر بالاستغفار للمؤمنين (رقم-٢٠٣٨)

[2] اخرجه البيهقى فى شعب الايمان حد يث رقم ٧٦٦١

ترجمه: [١] حضرت محمد بن نعمان رحمه الله دا حدیث تر رسول الله ﷺ پورې رسوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] کوم سړي چې د هرې جمعې په ورځ (یا په هفته کښې یوه ورځ) د خپل مور او پلار یا په دوي کې د یو قبر ته لاړ شي [او هلته د هغوئ د پاره دعاء مغفرت او ایصال ثواب وکړي] نو د هغه مغفرت کیږي [٣] او هغه (په اعمال نامه کښې) د خپل مور او پلار سره نیکي کونکي لیکل کیږي [٤] دا روایت بیهقي رحمه الله په شعب کښې بطریقِ ارسال نقل کړې دې.

حل اللغات: - ① بَرًّا: نیکی کونکې (دمور اوپلارسره).

تسهیلات: قوله : غُفِرَلَهُ وَكُتِبَ بَرًّا:

دوالدینو په زیارت کولو سره د ګناهونو معاف کیدل : - دَدې مطلب دادې چه کوم سړې دَ هرې جمعې په ورځ دَخپل والدینو قبرته لاړشی اوهلته دَ ایصال ثواب دَپاره فاتحه اولولی نودَ دغه څوئی ټول ګناهونه معاف کیږی اودا څوئی فرمانبردار لیکلې کیږی. دَ دې آخری جملې نه دا مفهوم هم اخستلې شی چه سره دَدې چه په والدین کښې یویا دواړه دَدغه څوئی نه خفه وی او څوئی عاق وی نودَدې زیارت په برکت به دا څوئی فرمانبردار لیکلې کیږی. دَ اولاد دَپاره دا یو ښکلې نعمت او آسان غنیمت دې.

[١٧٦٩] قبرستان ته د تلو فائده

١٧٦٩ - (١) [٨] [١] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا [٣] فَإِنَّهَا تُزَهِّدُ فِي الدُّنْيَا، وَتُذَكِّرُ الْآخِرَةَ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت ابن مسعود رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایلو [٢] ما مخکې تاسو قبرونو ته د تلو څخه منع کړي وئ خو اوس تاسو قبرونو ته ځئ [٣] ځکه چې قبرونو ته تلل د دنیا څخه بې رغبتي پیدا کوي او آخرت رایادوي. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① تُزَهِّدُ: د دنیا سره مینه محبت ختمیدل.

تسهیلات: قوله : فَإِنَّهَا تُزَهِّدُ فِي الدُّنْيَا:

د زهد في الدنيا مطلب : - ترک دنیا اودَ دنیا دَ سازوسامان نه بې رغبتی اومخ اړولونوم تزهید دې.

د زيارة القبور دوه فائدې: - په دې حدیث کښې قبرونو ته دَ تللو فوائد اونتائجو په سلسله کښې دَ دوو فائدو ذکرکړې شوې دې.

① ړومبې علت دا خودلې شوې دې چه قبرونوته تللوسره زړه اودماغ نه دَ دنیا محبت اودَخپل ریاست قیادت سیادت اوسیاست کبراو غرور اوځی اودَ انسان په زړه او دماغو

(١) اخرجه ابن ماجة كتاب الجنائز /باب ما جاء في زيارة القبور (رقم-١٥٧١)

کښې دا نقشه کيني.

انسان چه کله ګوري چه دَ پرون دا دَ تاج په سر کونکي بادشاه نن څنګه په بې کسئی او بې وسئی کښې پروت دې دَ چاپه قبرباندې چه هواګاني خاور الوزه وی اوهغه دَ غټو صوفو او ګدو په ځائی دَ خاورې په خالي فرش باندې بغيردَ تکيه نه په تنګ او تياره مکان کښې پروت دې په کوم کښې چه اړخ بدلول ګران دی.

② چه کله دَ دنيا کموت او بې ثباتی په دماغوکښې کيني نو په دې سره دَ آخرت بقا او دوام نقشه په ذهن کښې راځی په کوم سره چه انسان سوچ وی چه په کوم ملك کښې هغه دنيا آباده وی هغه خو ختميږی اودکومې په لاکهونو نمونې چه په قبرستانونو کښې موجوددی. لهذا اوس دَ داسې وطن دَ آبادولوسوچ کول پکاردی کوم له چه زوال نشته بلکه دائمی ژوندون وی اوهم دَدې نوم آخرت دې.

[١٧٧٠] دَ ښځو قبرستان ته دتګ ممانعت

١٧٧٠-()[٩] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- ٢ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَعَنَ زَوَّارَاتِ الْقُبُورِ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ ٣ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، ٤ وَقَالَ: قَدْ رَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ ٥ أَنَّ هَذَا كَانَ قَبْلَ أَنْ يُرَخِّصَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي زِيَارَةِ الْقُبُورِ، ٦ فَلَمَّا رَخَّصَ دَخَلَ فِي رُخْصَتِهِ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ، ٧ وَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّمَا كُرِهَ زِيَارَةُ الْقُبُورِ لِلنِّسَاءِ لِقِلَّةِ صَبْرِهِنَّ ٨ وَكَثْرَةِ جَزَعِهِنَّ، تَمَّ كَلَامُهُ.

ترجمه: ١ حضرت ابوهريره رضی الله عنه فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ قبرونو ته په تلونکو ښځو باندې لعنت کړي دي. (احمد، ترمذي، ابن ماجه) ٣ او امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث حسن صحيح دي ٤ او فرمايلي يي دي چې د بعضې علماؤ خيال دا دي ٥ چې قبرونو ته تلونکو ښځو باندې لعنت کول هغه وخت وو چې حضور ﷺ د زيارت قبور اجازت نه وو ورکړي ٦ هر کله چې حضور ﷺ د تلو اجازت ورکړو نو په دې اجازت کښې سړي او ښځي دواړه شامل شو ٧ د دې بر خلاف د بعضې علماؤ تحقيق دا دي چې حضور ﷺ د ښځو قبرونو ته تلل ناخوښه کړي دي ٨ په ښځو کښې د صبر او تحمل د مادې د کمې په وجه ٨ او د هغوئ د ژړا فرياد د زياتې په وجه (نو د ښځو د پاره دا ممانعت اوس هم باقي دي) د ترمذي رحمه الله خبره پوره شوه.

حل اللغات:- ① زَوَّارَات: قبرونوته تلونکې ښځې، يا په کثرت سره تلونکې ښځې مراد دی. ② يُرَخِّصَ: اجازت ئې ورکړې دې، ③ جَزَعِهِنَّ: دښځو ژړا او فرياد کول.

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى كراهية زيارة القبور للنساء(رقم-١٠٥٦) وابن ماجة كتاب الجنائز /باب ما جاء فى النهى عن زيارة النساء القبور (رقم-١٥٧٥)

تسهیلات:

قوله: دَخَلَ فِي رُخْصَتِهِ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ:

په دې حدیث باندې دې نه مخکښې زیارت قبور دَ حدیث توضیح اوتشریح کښې مکمل کلام شوې دې. دلته دې حدیث کښې امام ترمذي رحمه الله هم بحث کړې دې چه قبرونو ته دَ تللو اجازت صرف سړو ته دې یا په دې اجازت کښې ښځې هم شامل دی. بهرحال په ظاهري حدیث کښې ډیر سخت وعید دې لهذا ښځوله پکاردی چه هغه یو مستحب فعل دپاره په دې سخت وعید کښې پریوتو نه خپل ځان بچ کړي. زیات ترلیدلې شوې دی چه ښځې دَ مزو دپاره مزارونو له ځی اوهلته بې پردګی کیږی او شرکیه اعمال کیږی.

[١٧٧١] د ښځو دپاره د مړو څخه هم حیا کول

١٧٧١—()[١٠] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [٢] كُنْتُ أَدْخُلُ بَيْتِيَ الَّذِي فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] وَإِنِّي وَاضِعٌ ثَوْبِي وَأَقُولُ: [٤] إِنَّمَا هُوَ زَوْجِي وَأَبِي، [٥] فَلَمَّا دُفِنَ عُمَرُ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - مَعَهُمْ [٦] فَوَاللَّهِ مَا دَخَلْتُ إِلَّا وَأَنَا مَشْدُودَةٌ عَلَيَّ ثِيَابِي [٧] حَيَاءً مِنْ عُمَرَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] بي بي عایشه صدیقه رضي الله عنها د مؤمنانو مور فرمایي [٢] کله چې به زه هغه حجري مبارکي ته تلم چې په هغې کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم [او حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه] دفن وو [٣] نو ما به د خپل بدن څخه کپړي (څادر) خکته کولو سره ایښودلې او په زړه کښې به مې ویل [٤] چې دلته زما خاوند (حضور صلی الله علیه وسلم) او زما پلار (حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه) دفن دي [او دا دواړه زما د پاره اجنبي نه دي نو بیا د پردي کولو څه مطلب] [٥] خو کله چې په دي حجره کښې د هغوئ سره حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هم دفن شو [٦] نو قسم په خداي زه چې به کله په دي حجره کښې داخلیدم نو خپل بدن به مې په جامو کښې رانغښتلو، [٧] د حضرت عمر رضي الله عنه څخه د حیاء په وجه (چي هغه اجنبي وو). (احمد)

حل اللغات: - ① وَاضِعٌ ثَوْبِي: ایښودلې به مې خپلې جامې، ② مَشْدُودَةٌ: اینغښتل شوي،

تسهیلات: **قوله: كُنْتُ أَدْخُلُ بَيْتِيَ:**

مړو سره د هغوی د ژوند پشان معامله کول: - دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم وصال دَ حضرت عائشه رضي الله عنها په حجره کښې شوې وو لهذا حضورپاك هم هلته دفن کړې شو. چونکه دادَ حضرت عائشه رضي الله عنها مکان وو نودعائشه رضي الله عنها دې ته تګ راتګ څه لرې خبره نه وه. بیا دَهغې نه پس حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه هلته دفن کړې شو. بیا حضرت عمر رضي الله عنه درخواست اوکړو چه که حضرت عائشه رضي الله عنها اجازت راکړی نوما رسول الله صلی الله علیه وسلم اوزما ملګری صدیق اکبر رضي الله عنه سره دفن کړئی. حضرت عائشه رضي الله عنها اجازت ورکړو نو هغوی هم هلته دفن کړې شو. اوریدلې شوی

() اخرجه احمد فی المسند رقم الحديث ٢٦٤٠٨

دی چه په دغه حجره کښې یوبل ځائی باقی دې چرته چه به حضرت عیسیٰ علیہ السلام خښیږی.
حضرت عائشه رضی اللہ عنہا فرمائی ترکومې چه حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه وو دفن کړې شوې نو زه به بې پرواه دَ حضورپاك اوصديق اكبر رضی اللہ عنہ دَ قبر زيارت له ورتللم. خوچه كله عمر فاروق رضی اللہ عنہ هلته دفن كړې شو نوزه به بيا بې پرواه زيارت كولوله نه تللم بلكه ښه په تكلف سره به مې كپړې راغونډې كړې او زيارت به مې كولو. داد حضرت عمرفاروق رضی اللہ عنہ نه دَ حياكولووجه وه ځكه چه هغه زما دَ محارم نه نه وو. داحديث په ډير وضاحت سره دا تعليم وركوى چه دَ مرګ نه پس مړو سره دَهغوى په قبرونوباندې هم هغه معامله كول پكاردى كومه چه په ژوندون كښې كيږي يعنى دَ ادب حيا اواحترام دَ ټولو اړخونو خيال ساتل پكاردى. دَ حضرت عقبه بن عامر رضی اللہ عنہ دا ارشاد نقل دې چه حضورپاك فرمائيلي دى كه چرې زه په اور كښې لاړشم ياد تيره تورې دَ پاسه لاړشم په كوم سره چه زما خپې اوسوزى يا پرې شى دا زما ډير خوښ دى دَهغې نه چه زه دَ چا په قبر لاندې لاړشى. بيا فرمائى چه زما په نيز په قبرونوباندې متيازې كول او په ډك بازاركښې بربنډيدو سره دَ خلقو په وړاندې متيازې كولو برابردى. هم دغه شان حضرت سليم بن عفيره رضی اللہ عنہ متعلق مشهوره ده چه هغوى دَ يوسړى په جواب كښې اوفرمائيل چه په الله تعالى قسم زه دَ مړونه داسې حيا كوم ځنګه چه دَ ژوندو نه كوم.

د بعضې عالمانو د مړو څخه د مدد اخستلو دقول توجيه:- دلته دَدې حديث لاندې شيخ عبدالحق محدث دهلوى رحمۃ اللہ علیہ دَمړو نه دَ امداد اخستلو خبره كړې ده اودغه شان دَ امام غزالى طرف ته داجمله منسوب ده چه "من كان يستمد فى حياته يستمد بعدموته" [انقه المعات]
دَدې په شان دَ اقوالو بهترين توجيه شاه عبدالعزيز رحمۃ اللہ علیہ داسې فرمائيلې ده چه په مزاراتوكښې دَ زړه دَ نرى كيدو كيفيت شروع كيږى په كوم سره چه دَالله تعالى بركتونه نازليږى. په حقيقت كښې دا مراقبه او مكاشفه دَ ژوندى سړى خپل محنت دې مړى څه امدادنه دې كړې. البته مړې صرف واسطه جوړشوې دې. مطلب دا شو چه په ژوند كښې دَ يوژوندى سړى نه استفاده كولې شى نودَ مرګ نه پس هم دا الله والا په دې نيكئى كښې معاون ثابتيدې شى اودَ تعاون صورت هم دغه دې چه هغه په دغه كاركښې ذريعه او واسطه جوړيږى. ګنى داعمل خودَ مړى نه دې محنت اومشقت خوپخپله دَ دغه ژوندى سړى دې اوهم دَ دغې اعتباردې. دَدې مثال دَ پرنالې دې دَ كوم په ذريعه چه دَ چت اوبه ښكته راپريوځى. كه يوسړې پرناله دَ اوبودَپاره مؤثر بالذات ګنړى نوداغلطه ده ليكن پرناله صرف ذريعه او واسطه وى اودَ اوبو لاره وى نو په دې كښې څه حرج دې.

[۶] كِتَابُ الزَّكَاةِ

دزکات بیان

خلاصة الباب:-

فيه اثنان وعشرون حديثاً مشتملة على تسع مسائل:

① فريضة الزكوة: ۱-
② عقوبة من لا يؤدى الزكوة والزجرله : ۲، ۳، ۴، ۷، ۱۰، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲-
③ الدعاء للمصدق : ۶-
④ حق المصدق وثوابه:۵، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴ -
⑤ قباحة الخيانة في مال الزكوة: ۸، ۹-
⑥ مكان أخذ الصدقات : ۱۵-
⑦ شرطية حولان الحول لفرضية الزكاة: ۱۶-
⑧ حكم تعجيل الزكوة: ۱۷-
⑨ حكم فرضية الزكاة فى مال الصبى: ۱۸ -

د عبادت درې قسمونه:- عبادات په درې قسمه دی. ①بدنی لکه مونځ، روژه ②مالی: لکه زکاة ③ ددې دواړو نه مرکب لکه حج.

د صلاة څخه پس دزکات د ذکر کولو وجوهات:- د قیاس تقاضا خودا وه.چه د کتاب الصلاة نه پس کتاب الصوم ذکرشوې وې.چه د بدنی دواړو عبادتونو ذکر پرله پسې یوځائې شوې وې.خوداسې اونکړې شو

① د کتاب الصلاه نه پس کتاب الزکاة ځکه ذکرکړې شو.چه په دې ترتیب کښې د الله تعالی د کلام اود رسول اللهﷺ د کلام د دواړو اقتداء کیږی.د الله تعالی د کلام اقتداء خو په دې وجه ده.چه الله تعالی زکاة د مونځ نه پس متصل ذکرکړیدې.لکه چه ارشاد دې.
﴿ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ اود رسول اللهﷺ دکلام اقتداء داسې ده.چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی. «بنى الاسلام على خمس شهادة أن لاإله إلا الله وأن محمدًا رسول الله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة..الحديث»

② زکاة او روژه دواړه کال ۲ھ کښې فرض شوی دی.خوصاحب د شرح نقایه ملاعلی قاریؒ د بیان مطابق زکاة ړومبې فرض شوې دې.او روژه روسته.په دې وجه د زکاة بیان وړاندې اوکړې شو.اود روژې ددې نه پس.اود بعضو حضراتو خیال دې.چه زکاة په اجمال سره د هجرت نه مخکښې فرض شوې دې.خو په تفصیل سره د هجرت نه پس

فرض شوي دي.بهرحال د فرضيت ترتيب هم ددي تقاضا كوى. چه زكاة د روژي نه مقدم ذكركړي شي.

د زكاة لغوى معنى:- ① د زكاة لغوى معنىٰ د طهارت ده.لكه﴿قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ﴾،بې شك كامياب شو هغه كس څوك چه پاك شو

② دزكاة معنى صدقه هم ده.څكه چه صدقه وركول د صدقه وركونكى د ايمان تصديق كوى.اوده د قلبى حالت يعنى صدق اوپاكوالى نښه ده.،

③ د نماء(زياتيدلو)په معنى كښې مستعمل دې.ددې معنىٰ په اعتبارسره وجه تسميه داده.چه زكاة چونكه د مال د زياتوالى سبب دې.په دې وجه ددې نوم زكاة كيخودلې شو.او زكاة سبب د نماء څكه دې.چه زكاة وركونكى ته الله تعالى په دنياكښې ددې عوض وركوى.اوپه آخرت كښې ثواب وركوى.

د زكاة اصطلاحى تعريف:- د شريعت په اصطلاح كښې زكاة وائى د نصاب حولى يو جزء فقير او دده په شان د بل په ملك كښې وركولوته.اوبعض وائى.چه زكاة د مال د هغه مقدار نوم دې.كوم چه د فقير دپاره اوبښكلې شوې وى.اود زكاة مال ورته په دې وجه وئيلې شوي دې.چه الله تعالى فرمائى﴿وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ﴾ او ،ايتاء، بغير د وركولونه محال ده.نومعلومه شوه. چه زكاة د مال نوم دې.

د زكات د فرضيت سبب:- د زكاة د وجوب سبب د نصاب نامى مالك كيدل دى.اوددې شرطونه د صاحب نصاب ازادكيدل، بالغ كيدل،عاقل كيدل،مسلمان كيدل،د قرض نه فارغ كيدل،اوپه مال نصاب باندې د كال تيريدل دى.د زكاة حكم پوره كونكې په دنياكښې د مكلف كيدلوذمه دارئ نه فارغ كيږى،او په آخرت كښې عذاب نه خلاصې موندل،او ثواب حاصلول دى.

دزكات د فرضيت حكمتونه:- ① په ښار كښې يقيناً هرقسمه خلق كمزورى او حاجت مند وغيره وى.اودا حادثات نن په يوكس اوصباله په بل باندې راتلونكى دى.نوكه د فقر اوحاجت لرې كولو طريقه په دوى كښې موجود نه وى.نودا خلق به يقيناً هلاك شى.اود اولږې خلق به مړه شى

② په دې كښې د اوچت درجه همدردى خودلې شى.دغه شان په خپل مينځ كښې گرم يخ يعنى د امير غريب ملاويدلوسره مسلمان سره يوشى.په مالدارو باندې فرض دى.چه دوى اداكړى.كه فرض نه وى.نوهم د انسانى همدردئ تقاضا ده.چه د غريبانانو امداد اوكړې شى.په انسان كښې همدردى اوچت صفت دې.نوپه زكاة وركونكى كښې ددې د اثرنښې ښكاره كيږى.اوپه هرصحيح تبعيت كښې داخبره پرته ده.چه په دې كاركولوسره

د عامو انسانانوسره همدردی ده.دا یو داسې صفت دې.چه په دې باندې ډیراخلاق موقوف دی.چه ددې انجام(او نتیجه)د خلقو سره ښه معامله ده.او په کوم کس کښې چه د عامو انسانانوسره د همدردئ جذبه نه وی.په هغه کښې ډیر زیات نقصان وی.چه ددې اصلاح په هغه باندې واجب ده.اودا اصلاح عامو غریبانانو انسانانوته په مال ورکولو سره کیږی.

③ هرکله چه انسان د الله تعالی دپاره دا خپل خوږ مال په خپل لاس ورکوی.په کومې چه دده د ژوند دارومدار اود معیشت انحصار دې.اوکوم ئې چه په محنت،تکلیف او په مشقت سره گټلې دې.بیا د بخل پلیتی دده نه اوځی.اوپه دې سره په ایمان کښې قوت او پوخوالې پیداکیږی.څکه چه په محنت سره گټلې شوې خپل مال خاص د الله د رضا حاصلولو دپاره ورکول،دا د خیرکار دې.چه په دې سره د بدن هغه ناپاکی چه کومه د ټولو پلیتو نه زیاته گنده ده.یعنی بخل لرې کیږی.څکه چه دا حالت یعنی د بخل د پاکوالی دپاره خپل مال د الله تعالی په لاره کښې خرچ کول،او په خپل محنت سره حاصل شوې مال خاص دالله تعالی درضا دپاره نوروخلقو ته ورکول دترقئ یوحالت دې.یعنی اوچت حالت دې.سخاوت دې.مال سره محبت کمول دی.اوپه دې کښې صریحی او په ښکاره طور باندې د بخل د پلیتئ نه صفائی او پاکی حاصلیږی.اود الله تعالی رحیم او کریم ذات سره تعلق زیاتیږی.څکه چه خپل عزیز مال د الله تعالی دپاره پریخودل، په نفس گران وی.په دې وجه ددې تکلیف په برداشت کولوسره د الله تعالی سره تعلق هم زیاتیږی.او ایمانی قوت او طاقت هم زیاتیږی..والله اعلم

④ زکاة صدقات گناهونه لرې کوی.اود برکاتو زیاتولو ډیرې غټې ذریعې دی.

دزکات د فرضیت تاریخ:-

دزکات د فرضیت په تاریخ کښې درې اقوال:-په دې کښې درې اقواله دی

① د هجرت نه پس سنه ٢ھ کښې، او هم دا کال د صوم د فرضیت هم دې، لیکن په دې دواړو کښې کوم یو مقدم دې، زکوة یا صوم؟ په دې کښې دواړه اقواله دی، **مال النووی فی الروضة إلى الأول** او د اکثرو رائي ددې برعکس ده، چه د صوم فرضیت مخکښې دې د زکوة نه،(ددې تائید مخکښې د حدیث نه هم کیږی) د صوم مشروعیت په شعبان سنه ٢ھ کښې اوشو، او د زکوة مشروعیت په شوال سنه ٢ھ کښې اوشو، البته د صدقة الفطر مشروعیت د زکوة نه مخکښې صوم سره شوې دې، لکه چه په مسند احمد او د نسائي په یو روایت کښې ([1])ددې تصریح ده، چه دهغې راوی قیس بن سعد دې، هغه فرمائي **أمرنا**

---

[1]) امام نسائي خو په دې حدیث باندې مستقل باب ترلې دې، باب فرض صدقة الفطر قبل نزول الزکوة)

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) بصدقة الفطر قبل أن تنزل الزكوة ثم نزلت فريضة الزكاة.
په دې حديث کښې ددې خبرې تصريح ده، چه نبى كريم ﷺ د صدقة الفطر حکم د فريضه زکوة نه مخکښې اوفرمائيلو، د زکوة نزول دهغې نه پس اوشو، او ددې نه دا خبره هم ثابته شوه، چه د صوم فرضيت هم د زکوة نه مخکښې دې، ځکه چه صدقة الفطر د صوم سره متعلق دې، نو هرکله چه صدقة الفطر د زکوة نه مقدم دې، نو صوم هم د زکوة نه مقدم شو، (قاله الحافظ)

② ابن الاثير الجزرى رحمه الله فرمائى چه د زکوة نزول په سنه ٩هـ کښې اوشو، ليکن دا قول مردود دې، ځکه چه ډير داسې احاديث دى، چه يقينا د سنه ٩هـ نه مخکښې والا دى، په هغې کښې د زکوة ذکر موجود دې، مثلا حديث د ضمام بن ثعلبة چه د سنه ٥هـ واقعه ده، هم داسې حديث دهرقل چه د سنه ٧هـ واقع ده، البته د تحصيل زکوة دپاره د عاملانو ليږل په سنه ٩هـ کښې اوشو، كما قال الشراح.

③ محدث شهير ابن خزيمه فرمائى چه د زکوة فرضيت قبل الهجرة دې، هغه دې لره د حديث ام سلمه رضي الله عنها نه ثابت کړې دې، چه د هجرة الى الحبشة سره متعلق دې، چه د نجاشى د سوال په جواب کښې حضرت جعفر ابن ابى طالب رضي الله عنه اوفرمائيل : ويأمرنا بالصلوة والزكوة والصيام، چه محمد ﷺ مونږ ته د صلوة، زکوة او صيام حکم فرمائى، او دا قصه د هجرت مدينه نه مخکښې ده.

اشکال:- د ابن خزيمه په استدلال باندې حافظ اشکال کړې دې، هغه فرمائي **وفى استدلاله بذلك نظر.** ځکه چه دغه وخت پورې خو صلوات خمسه او صيام هم فرض نه وو،

داشکال دوه جوابونه:- ① نو کيدې شى، چه د دې دواړو په مينځ کښې دا سوال او جواب د حضرت جعفر رضي الله عنه حبشي ته رسيدلو سره سمدستى نه وو. بلکه څه موده پس شوې وى، او په هغې موده کښې دا څيزونه فرض کړې شوې وى، چه دهغې اطلاع حضرت جعفر رضي الله عنه ته په حبشه کښې اورسيدله، حافظ فرمائي **ولكنه بعيدا**

② بيا مخکښې ليکي: او بهتره داده، چه داسې اوئيلې شى، چه په دې حديث کښې د صلوة او صيام او زکوة نه مطلق صلوة او روژه او صدقه مراد دى، نه صلوات خمسه، او صيام رمضان او زکوة معهود.

ليکن د ابن خزيمه نه علاوه نور هم د ډيرو علماؤ رائي هم داده، چه د زکوة فرضيت قبل الهجرة اوشو، البته دهغې تفصيلات او د نصاب مقررتيا د هجرت نه پس اوشو، ځکه چه ډير آيات قرآنيه چه مکى دى، په هغې کښې د زکوة ذکر دې، لکه چه په شروع کښې تير شوې دى، چه داسې قسمه آيتونه تقريبا اتة(٨) دى، د ملا على قارى تحقيق هم دادې، او

د مولانا انورشاه رحمه الله تحقيق هم دادي كما في فيض البارى.

په انبياء عليهم السلام باندې د زكات فرضيت:- په بعضو كتابونو د حنفيه او مالكيه كښې تصريح ده، (كما في الاوجز) چه زكوة په انبياء عليهم السلام باندې واجب نه دې، او په درمختار كښې ئې خوپه دې باندې اجماع نقل كړې ده، ليكن په ظاهر كښې د اجماع نه د علماء احناف اجماع مراد ده، ځكه چه مطلقا په دې اجماع كيدل بل يو كتاب كښې هم نه ملاويږي. بلكه صاحب روح المعاني د **واوصاني بالصلوة والزكوة مادمت حيا** په تفسير كښې په دې سلسله كښې د تردد اظهار كړې دې، بلكه بعض كتب شافعيه لكه انوار ساطعه كښې د دې خبرې صراحت موجود دى. چه د شوافع په نزد د انبياء كرامو دپاره ملك هم ثابتيږي، او كه هغوى صاحب نصاب وى، نو زكوة هم په هغوى واجب دې.

په انبياؤ باندې د عدم وجوب زكات په مقصد كښې اقوال:- د كومو علماؤ په نيز چه واجب نه دې، نو د عدم وجوب مقصد څه دې؟ په دې كښې څو اقوال دى،

① بعضې وائي: ځكه چه الله تعالى انبياء كرامو لره د دنيا د مال او متاع نه پاک ساتلې دى، هغوى سره چه څه وو هغه په حقيقت كښې د امانت او وديعة په طور باندې وو، ملک د الله تعالى وو.

② بعض داسې وائي چه زكوة ذريعه ده، د تطهيرد مال، او كسب دانبياء د مخكښې نه پاک او طيب دې، د تطهير ضرورت نشته،

③ زكوة د بخل او رذيل عاداتو د ازالې ذريعه ده، او انبياء كرام ددې نه پاک دى.

په زكات اوټيكس كښې فرق: دَ اسلام معاندين اوملحدين دَ زكوة په نظام باندې اعتراض كولوسره وائى چه دا ټيكس دې څه عبادت نه دې. دَدوى د دې اعتراض ردكولودَپاره دا ضرورى دى چه په زكوة او ټيكس كښې فرق واضح كړى. په يوڅو وجوهاتو سره دې فرق ته اوګورئ:

① زكوة دَالله تعالى دَ طرف نه په مسلمان باندې مقرردې. ټيكس دَ انسانانودَطرف نه مقرردې.

② دَ زكوة فرض كيدونه پس ئې څوک معاف كولې نه شي خو ټيكس معاف كيدې شي.

③ دَ زكوة په مقداركښې هيڅ يوانسان كمې زياتې نه شي كولې خودَ ټيكس په مقدار كښې انسان كمې زياتې كولې شي.

④ زكوة دَ يومسلمان دَ پاره دَ عبادت حيثيت لرى خو ټيكس عبادت نه دې.

⑤ دَ زكوة مقدار دَ شريعت دَ طرف نه متعين وى كوم چه په پوره دنياكښې يوشان وى. ولې ټيكس كښې داسې هيڅ تعين نشته چه دَ ټولوانسانانودَپاره يوشان وى.

⑥ زکوة دَ مالدارانو مسلمانانونه اخستې شي او غریبانانو مسلمانانوته ورکولې شی. ولې ټیکس دَ غریبانانونه اخستې شي او امیرانوته ورکولې شی.

⑦ دَ زکوة اصول او قواعد په انصاف باندې مبنی دی خودَ ټیکس قواعد په ظلم باندې قائم دی.

⑧ زکوة هله فرض کیږی کله چه سړې صاحب نصاب وی خو په ټیکس کښې دَ هیڅ نصاب اوحیثیت اعتبار نشته دې.

⑨ په نظام زکوة سره دَ زکوة اخستونکی او زیات ورکونکی په مینځ کښې محبت پیدا کیږی خودَ ټیکس په نظام سره نفرت اوعداوت پیدا کیږی.

⑩ دَزکوة په ادکولوسره په مال کښې برکت راځی خو ټیکس کښې دا څیز نشته دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٧٧٢] حضرت معاذ ته د زکاة په باره کښې احکام ښودل

١٧٧٢—(١)[١] ١ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ: ٢ "«إِنَّكَ تَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ، ٣ فَادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، ٤ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذٰلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ ٥ أَنَّ اللّٰهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ، ٦ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذٰلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ ٧ أَنَّ اللّٰهَ قَدْ فَرَضَ صَدَقَةً، ٨ تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، ٩ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذٰلِكَ ١٠ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ، ١١ وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، ١٢ فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللّٰهِ حِجَابٌ»" ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ چې معاذ رضي الله عنه قاضي جوړولو سره یمن ته لیږلو نو هغه ته يې وفرمایل ٢ چې ته په اهل کتاب کښې یو قوم (یهود او نصاري) ته ځې ٣ نو د اول ته هغوی ته د دې خبري د ګواهي ورکولو دعوت ورکړه چې د الله تعالى جل جلاله څخه سوا بل ځوک معبود نشته او بیشکه محمد ﷺ د الله جل جلاله رسول دي ٤ که هغوئ دا دعوت قبول کړي نو بیا هغوئ ته دا اوایه ٥ چې الله تعالى جل جلاله په هغوئ په ورځ او په شپه کښې پنځه مونځونه فرض کړي دي ٦ که هغوی دا اومنی نو بیا د دې څخه روسته هغوی خبر کړه ٧ چې الله تعالى جل جلاله په هغوئ زکات فرض کړي دي ٨ چې د هغوئ د مالدارو څخه به (یعني د هغه خلقو څخه چې صاحب نصاب وي) اخستل کیږی او د هغوئ فقیرانو ته ورکول کیږی ٩ که هغوئ دا هم ومني ١٠ نو ته (دا یاد ساته چې د

---

(١) اخرجه البخاری فی كتاب الزكاة/باب أخذ الصدقة من الأغنياء وترد فی الفقراء حيث كانوا (رقم-١٤٩٦) ومسلم فی كتاب الإيمان/باب الدعاء إلى الشهادتين وشرائع الإسلام (رقم-٢٩ - (١٩) وابوداود فی السنن كتاب الزكاة/باب فی زكاة السائمة (رقم-١٥٨٤) والترمذی كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی كراهية أخذ خيار المال فی الصدقة (رقم-٦٢٥) والنسائی كتاب الزكاة/باب إخراج الزكاة من بلد إلى بلد(رقم-٢٥٢٢) واحمد فی المسند ٢٣٣/١

هغوئ څخه په زكات كښي) د ښه مال د اخستو څخه پرهيز كوه [يعني چانټ كولو سره ښه مال مه آخله بلكه د هغوئ مال په دريو حصو كښي تقسيموه ښه، خراب او درميانه نو په زكات كښې درميانه مال اخله] ⑪ [او ته په زكات كښې غير قانوني سختي كولو سره يا د هغوئ څخه د داسې څيزونو مطالبه كولو سره چې په هغوئ واجب نه وي يا هغوئ ته په ژبه يا لاس سره تكليف وركولو سره] د هغوئ بد دعا (ښيرا) مه اخله ⑫ ځكه چې د مظلوم د دعاء او د الله تعالى ﷻ د طرف څخه د هغه دعا د قبوليت په مينځ كښې څه پرده نشته. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① فَإِيَّاكَ: ځان اوساته، ② كَرَائِمَ: د كَرِيمَة جمع ده، ښه مال، ③ اتَّقِ: ځان ساته، ④ دَعْوَةَ: بد دعا، خيرې، ⑤ حِجَابٌ: أَيْ مَانِعٌ: پرده او حائل.

تسهيلات: قوله: إِنَّكَ تَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ:

د اهل كتاب څخه مراد: - دَاهل كتاب نه مراد يهود اونصارى دى. سره دَدې چه په يمن كښې نور مشركان او كافران خلق هم وو ليكن يهود او نصارى چونكه زيات وو په دې وجه دَهغوى ذكر اوكړې شو.

قوله: فَادْعُهُمْ:

د دعوت الى الاسلام حكم: - ابن ملك رحمه الله فرمائي چه كافرانوته دَ جنګ او جهاد نه مخكښې دَ اسلام دعوت وركول هغه وخت واجب دى كله چه هغوى ته دعوت نه وى رسيدلې كه چرې دعوت رسيدلې وى نو دوباره دعوت وركول مستحب دى. دَاحنافو دَفقهاؤ موقف هم دغه دې.

قوله: فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا:

داحنافو د مذهب تائيد: - دَدې حديث نه معلومه شوه چه كافرانو ته دَ اسلام دَ وړومسائلوحكم نشته بلكه اول دَ توحيد او ايمان حكم دى. چه كله ايمان نه وى نودَ مونځ روژې اوزكوة اعتبارنشته دې دَ ائمه احناف موقف هم دغه دې. شوافع وغيره حضراتو په نيز كافرانوته دَ وړو مسائلوحكم نشته. بيا په دوى باندې يو اعتراض راځى چه دَ اسلام قبلولو نه مخكښې خو مونځ صحيح نه دې اودَ اسلام قبلولونه پس دَمونځ وغيره قضاء نشته نوبيا دَ دې وړومسائلودَ حكم څه مطلب دې؟ شوافع له جواب وركول پكار دى.

[١٧٧٣] دزكات نه وركونكو دپاره وعيد

١٧٧٣ —( )[٢] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «مَا مِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلَا فِضَّةٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا ③ إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ صُفِّحَتْ لَهُ صَفَائِحُ مِنْ نَارٍ ④ فَأُحْمِيَ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ، ⑤ فَيُكْوَى بِهَا جَنْبُهُ وَجَبِينُهُ وَظَهْرُهُ، ⑥ كُلَّمَا رُدَّتْ أُعِيدَتْ لَهُ، ⑦ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ ⑧ حَتَّى

[١] اخرجه البخاري فى كتاب الزكاة/باب إثم مانع الزكاة (رقم-١٤٠٢) وابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب فى حقوق المال (رقم-١٦٥٨)

يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ، ٩ فَيُرَى سَبِيلُهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ".

ترجمه: ١ حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ كوم سړي چې د سرو زرو او د سپينو زرو (د شرعي نصاب) مالک وي او د هغې حق (يعني زكات) ادا نه كړي ٣ نو د قيامت په ورځ به د هغه د پاره د اور تختي جوړي شي (يعني تختي خو به د سرو او سپينو زرو وي خو هغه به په أور كښې دومره ګرمي شي لكه چې د اور تختي به وي (هم په دې وجه حضور ﷺ مخكې وفرمايل چه) ٤ هغه تختي به په اور كښې ګرمى كړل شي ٥ او په هغه تختو سره به د هغه سړي اړخ، د هغه تندي او د هغه شا داغل كيږي ٦ بيا به هغه تختي [د هغه د بدن څخه] جدا كړل شي او په أور كښې ګرمولو سره به بيا راوړل شي (يعني هغه تختي چې يخي شي نو دوباره به د ګرمولو د پاره په أور كښې واچول شي او د هغه ځاي څخه را اوخكلو سره د هغه سړي بدن به پري داغل كيږي) ٧ او د هغه ورځې مقدار چې په هغې كښې به دا سلسله دغه شان جاري وي پنځوس زره [٥٠٠٠٠] كاله به وي ٨ تر دي چې د بنده ګانو حساب كتاب به ختم شي ٩ او هغه سړي به د جنت يا د دوزخ طرف ته خپله لار وويني.

حل اللغات: - ① صُفِحَتْ: دادَ صفيحة جمع ده تختې ته وائى. يعني دَ سرو زرو او سپينو زرو نه به دَ اور تختې جوړولې شى اوپه دې سره به زكوة نه وركونكى داغلې شى. ② فَأُحْمِيَ: يعنى دغه تختې به بنه ګرمولې شى. ③ فَيُكْوَى: په اور سره داغونه وركولو ته وائى. ④ جَنْبُهُ: اړخ، طرف، ⑤ رُدَّتْ أُعِيدَتْ: يعنى چه دسرو زرو اوسپينو زرو هغه تختې يخې شى نودَ بيا ګرمولودَپاره به اوړلې شى اوبيا دَ داغلودَپاره دوباره راوړلې شى. ⑥ جَبِينُهُ: تندې،

١ قِيلَ: يَارَسُولَ اللهِ فَالْإِبِلُ؟ ٢ قَالَ: "وَلَا صَاحِبُ إِبِلٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا ٣ وَمِنْ حَقِّهَا حَلْبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا، ٤ إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ، أَوْفَرَ مَا كَانَتْ، ٥ لَا يَفْقِدُ مِنْهَا فَصِيلًا وَاحِدًا، ٦ تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَعَضُّهُ بِأَفْوَاهِهَا، ٧ كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولَاهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا ٨ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ، ٩ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ، ١٠ فَيُرَى سَبِيلُهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ"،

ترجمه: ١ صحابه ؤ عرض اوكړو چې يا رسول الله ﷺ (دا عذاب خو به د نقدى يعنى د سرو او سپينو په باره كښې وي) د اوښانو د زكات نه وركونكو به څه حشر وي؟ ٢ رسول الله ﷺ وفرمايل چې كوم سړي د أوښانو مالک وي او د هغې حق (زكات) ادا نه كړي ٣ او د أوښانو يو حق دا هم دي چې په كومه ورځ په هغې د اوبو څكلو وار وي د هغې شيدي (پيء) ولوشل شي (دغه شيدي (پيء) په لار تيريدونكو، غريبانو، مسكينانوته وركړي [داحكم استحبابي دي په دي خو عذاب نشته بياددي ذكردلته استطراداً دي البته كه قحط سالي وي بيا د شيدو منع كول حرام اوموجب دعذاب دي .مرقاة... از مصحح] ٤ نو د قيامت په ورځ به هغه سړي د اوښانو په مخكې په آوار ميدان كښې پرمخې پري ويستل شي او د

هغه ټول اوښان به په شمير او څرب والي كښې پوره وي [٥] مالک به د هغې څخه يو بچي هم كم بيا نه مومي [يعني د هغه سړي ټول اوښان به هلته موجود وي حتى چې د هغه اوښانو ټول بچي به هم د هغې سره وي بيا دا چې اوښان به ښه څرب (څرب) غټ او تازه وي چې] [٦] خپل مالک ته په پښو كښې د ميده كولو په وخت ښه تكليف ورته وررسوي نو هغه اوښان به هغه په خپلو پښو سره مړبي (چختاړ كوي) او په خپلو غاښونه سره به يي چيچي [٧] هر كله چې د هغه اوښانو جماعت چختاړ كولو او چيچلو سره لاړ شي نو دويم جماعت به راشي [د اوښانو يو قطار به مړلو او چيچلو سره لاړ شي د هغې وروسته به بل قطار راشي دغه شان دا سلسله به جاري وي] [٨] او په كومه ورځ چې دا وي د هغه ورځي مقدار به پنځوس زره [٥٠٠٠٠]كاله وي [٩] تر دي چې د بنده ګانو حساب او كتاب به وشي [١٠] او هغه سړي به د جنت يا دوزخ طرف ته خپله لار ووينې.

حل اللغات:- ⑥حَلَبُهَا: لوشل، ⑧وِرْدِهَا: داوبو څكلو وار، نمبر، ⑨بُطِحَ: پرمخې سملولوته وائي.

[١] قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ: فَالْبَقَرُ وَالْغَنَمُ؟ [٢] قَالَ: "وَلَا صَاحِبُ بَقَرٍ وَلَا غَنَمٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا [٣] إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ، [٤] لَا يَفْقِدُ مِنْهَا شَيْئًا، [٥] لَيْسَ فِيهَا عَقْصَاءُ وَلَا جَلْحَاءُ وَلَا عَضْبَاءُ، [٦] تَنْطِحُهُ بِقُرُونِهَا، [٧] وَتَطَؤُهُ بِأَظْلَافِهَا، [٨] كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولَاهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا، [٩] فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ، [١٠] حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ، [١١] فَيَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ"،

ترجمه: [١] صحابه ؤ رضي الله عنهم عرض اوكړو چې يا رسول الله ﷺ د غويانو او بزو د مالک به څه حال وي؟ [٢] رسول الله ﷺ وفرمايل چې كوم سړي د غوايو او بزو مالک وي او د هغې زكات ادا نه كړي [٣] نو د قيامت په ورځ به هغه په آوار ميدان كښې پړمخې واچول شي [او د هغه غويان او بزي (چيلۍ) به راوستل شي] [٤] چې په هغې كښې به هيڅ كمي نه وي [٥] په هغې كښې به د يو غوا، بزې ښكر نه تاؤ وي، نه به مات وي او نه به هغه بغير د ښكرو وي يعنی د هغه د ټولو په سرونو به ښكرونه وي مات به نه وی سالم به وي [٦] چې هغه په خپلو ښكرونو سره ښه ګذار وكړی شي نو هغه غوايه او بزي (چيلۍ) به په خپلو ښكرونو سره خپل مالک وهي خپلو پنجو سره به يي پامال كوی [٨] او هر كله چې يو قطار د هغه وهلو سره ولاړ شي نو دويم قطار به راشي او خپل كار به شروع كړي [او دا سلسله به دغه شان جاري وي] [٩] او په كومه ورځ چې دا وي د هغې مقدار به پنځوس زره كاله وي [١٠] تر دي چې د بنده ګانو حساب كتاب به وشی [١١] او هغه سړي به د جنت يا د دوزخ طرف ته خپله لار ووينې

حل اللغات:-⑩قَاعٍ: ميدان. ⑪قَرْقَرٍ: هوار، صفا. ⑫أَوْفَرَ: أَيْ أَكْثَرَ: زيات پوره او څرب به وی. ⑬لَا يَفْقِدُ: يعنی هيڅ به پكښې كم نه وی. ⑬فَصِيلًا: داوښ بچي ته وائي، ⑮تَطَؤُهُ: دا اوښان به ئې په خپو كښې ښه پامال كوی. ⑯أَخْفَافِهَا: أَيْ بِأَرْجُلِهَا: په خپو سره، ⑭تَعَضُّهُ: أَيْ تَقْرِضُهُ وَتَقْطَعُ جِلْدَهُ: چكونه به پرې

لګوی او څرمن به تري شوکوی. ⑱ عَقْصَاءُ: أَيْ مُلْتَوِيَةُ الْقَرْنَيْنِ: چه ښکرونه راتاؤ او کاږه وی. ⑲ جَلْحَاءُ: أَيْ لَا قَرْنَ لَهَا: هغه غوا اوچیلئی دَ کومې ښکر چه نه وی ⑳ عَضْبَاءُ: أَيْ مَكْسُورَةُ الْقَرْنِ: هغه غوا اوچیلئ دَ کومې چه ښکر مات وی. ㉑ تَنْطِحُهُ: نطح په ښکروباندې وهلو ته وائی. ㉒ أَظْلَافِهَا: د ظِلْف جمع ده، نوکانو ته وائی.

[١] قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ فَالْخَيْلُ؟ [٢] قَالَ: "فَالْخَيْلُ ثَلَاثَةٌ: هِيَ لِرَجُلٍ وِزْرٌ [٣] وَهِيَ لِرَجُلٍ سِتْرٌ [٤] وَهِيَ لِرَجُلٍ أَجْرٌ، [٥] فَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ وِزْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا رِيَاءً وَفَخْرًا [٦] وَنِوَاءً عَلَى أَهْلِ الْإِسْلَامِ، فَهِيَ لَهُ وِزْرٌ [٧] وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ سِتْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ [٨] ثُمَّ لَمْ يَنْسَ حَقَّ اللهِ فِي ظُهُورِهَا، وَلَا رِقَابِهَا، فَهِيَ لَهُ سِتْرٌ،

ترجمه: [١] صحابه ؤ عرض اوکړو چې یا رسول الله ﷺ د آسونو په باره کې څه حکم دي؟ [٢] حضور ﷺ وفرمایل چې اسونه په دري قسمه دي ① یو خو هغه اسونه دي چې د سړي د پاره د ګناه سبب وي [٣] ② دویم هغه اسونه چې د سړي د پاره پرده وي [٤] ③ او دریم هغه اسونه چې د سړي د پاره د ثواب سبب او ذریعه جوړیږي [٥] هغه اسونه چې د ګناه سبب وی د هغه سړي اسونه دي چې د هغې مالک هغه د فخر او غرور د اظهار او مالداري او ریا د پاره د پاره تړلي وي [٦] او د مسلمانانو سره د دشمني د پاره یې تړلي وي نو هغه اسونه د خپل مالک د پاره د ګناه سبب جوړیږي [٧] او هغه اسونه چې د سړي د پاره پرده وي د هغه سړي اسونه دي چې د هغې مالک د الله جل جلاله په لاره کښې [د کار اخستو د پاره] تړلي وي [٨] او د هغې د شا او د هغې څټ (غاړې) په باره کښې هغه د الله جل جلاله حق نه وي هیرکړي نو هغه آسونه د خپل مالک د پاره پرده دي

حل اللغات: - ㉓ وِزْرٌ: أَيْ ثِقْلٌ وَإِثْمٌ: یعني بوج اوګناه، ㉔ سِتْرٌ: پرده، دي نه مراد ثواب دي. ㉕ وَنِوَاءً: أَيْ مُنَازَعَةً: جنګ او دښمنئ ته وائی.

[١] وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ أَجْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ [٢] فِي مَرْجٍ وَرَوْضَةٍ [٣] فَمَا أَكَلَتْ مِنْ ذَلِكَ الْمَرْجِ أَوِ الرَّوْضَةِ مِنْ شَيْءٍ [٤] إِلَّا كُتِبَ لَهُ عَدَدَ مَا أَكَلَتْ حَسَنَاتٌ، [٥] وَكُتِبَ لَهُ عَدَدَ أَرْوَاثِهَا وَأَبْوَالِهَا حَسَنَاتٌ [٦] وَلَا تَقْطَعُ طِوَلَهَا فَاسْتَنَّتْ شَرَفًا أَوْ شَرَفَيْنِ، [٧] إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ عَدَدَ آثَارِهَا وَأَرْوَاثِهَا حَسَنَاتٍ [٨] وَلَا مَرَّ بِهَا صَاحِبُهَا عَلَى نَهْرٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ [٩] وَلَا يُرِيدُ أَنْ يَسْقِيَهَا [١٠] إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ عَدَدَ مَا شَرِبَتْ حَسَنَاتٍ"،

ترجمه: [١] او هغه آسونه چې د سړي د پاره د ثواب سبب او ذریعه جوړیږي د هغه سړي اسونه دي چې د هغې مالک د الله تعالی جل جلاله په لار کښې د جهاد (غزا) دپاره د مسلمانانو د پاره تړلي وي [٢] او هغه په ورشو (چراګاه) او په سبزه کښې ساتي [٣] هغه اسونه چې د چراګاه او سبزه څه خوري نو څه چې هغوئ وخوړل [٤] ایعني د وابنو وغیره د تعداد په قدر] د هغه د پاره نیکي لیکل کیږی [٥] تر دي چې د هغه اسونو خاشنړه او د هغې د متیازو په اندازه هم د هغه د پاره نیکي لیکل کیږی (ځکه چې خاشنړه او متیازي هم د آس د ژوند باعث دي) [٦] او کوم اسونه چې رسي شلولو سره یو یا دوه میدان زغلي ګرځي [٧] نو

الله تعالى ﷻ د هغې د قدمونو نښو او د هغې د خاشنړو (چي هغه يي د زغليدلو په حالت کښې کوي) د تعداد په قدر د هغه سړي د پاره نيکي ليکي ⑧ او هر کله چې هغه سړي هغه اسونه نهر ته د اوبو د څکلو د پاره بوزي او هغه د نهر څخه اوبه څښني ⑨ اګر که د مالک اراده په هغې د اُوبو د څکلو نه وي ⑩ خو الله تعالى ﷻ د اسونو د اُوبو څکلو په قدر د هغه سړي د پاره نيکي ليکي.

حل اللغات: - ㉖ مَرْجٍ: دې نه مراد کولاؤ او فراخ دَ څرن ځائى دې. په کوم کښې چه جهادى اسونه ساتلې شى. ㉗ رَوْضَةٍ: سبزه زار، شينکى، ㉘ أَرْوَاثِ: د روث جمع ده، خاشنړو، او سوټو ته وائى. ㉙ أَبْوَالِ: د بول جمع ده، متيازو ته وائى. ㉚ طِوَلَهَا: أَيْ حَبْلَهَا. داهغه رسئى ته وائى چه دَ کومې يو طرف دَ ميخ وغيره سره تړلې کيږى اوبل طرف دَ اس خپې پورې تړلې شى دې دَپاره چه اس اونه تختى. ㉛ فَاسْتَنَّتْ: تيزې منډې او ټوپونو وهلوته استنان وائى. ㉜ شَرَفًا: اى مَوْضِعًا عَالِيًا: اوچت ځائ ته شرف وائى.

① قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ فَالْحُمُرُ؟ ② قَالَ: "مَا أُنْزِلَ عَلَيَّ فِي الْحُمُرِ شَيْءٌ إِلَّا هَذِهِ الْآيَةُ الْفَاذَّةُ الْجَامِعَةُ ③ ﴿فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ④ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ﴾ [الزلزلة: ٧]»" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① صحابه ؤ ﷺ عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ بيا د خرو په باره کښې څه حکم دي؟ ② حضور ﷺ وفرمايل چې د خرو په باره کښې په ما څه حکم نه دي نازل شوي ليکن د ټولو نيکو او اعمالو په باره کښې دا آيت جامع دي: ③ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ کوم سړي چې يوه زره برابر د نيکي عمل وکړي هغه به ويني ④ او کوم سړي چې يوه ذره بد عمل وکړي هغه به ويني (يعنى مثلاً که يو سړي چا ته د نيک کار د پاره خپل خر ورکړي نو ثواب به اومومى او که د بد کار د پاره يي ورکړي نو ګنهګار به وي) (مسلم)

حل اللغات: - ㉝ الْفَاذَّةُ: چه خاص او منفرد وى، ㉞ الْجَامِعَةُ: چه جامع وى ټولو ته.

تسهيلات:

قوله: فَيُكْوَى بِهَا جَنْبُهُ وَجَبِينُهُ وَظَهْرُهُ

د داغ ورکولو دپاره د درې ځايونو د تخصيص وجه: - "جنبه وجبنيه": دلته دَ داغ ورکولو دَ پاره دَدريو مقامـاتوذکرکړې شـوې دې. اول اړخ دويـم تندې او دريـم شا. دَدې تخـصيص وجـه کيدې شى چه دا وى چه دَ زکوة ورکونکى په تندى باندې دَ زکوة ورکولوپه وخت دريووالى راځى په دې وجه به ورله تندې داغلې شى. بيا صاحب مال دَ زکوة نه ورکولو دَپاره کله اړخ بدل کړى او ډډه کوى اوکله شاکړې ځى په دې وجه دغه دا مقامات داغلې شى.

قوله : مِقْدَارُهُ خَمْسِيْنَ أَلْفَ سَنَةٍ:

د روایاتو په مینځ کښې د تعارض دفع :- دَ قیامت دا ورځ به د کافرانو دَپاره دَ سختواو دَ تکلیفونو دَ وجې پنځوس زره کاله اندازه باندې اوږده معلومیږی. دَمؤمن دَپاره به دَ دوو رکعتو یا څلورو رکعتو دَ مونځ په اندازه محسوس کیږی اودَ نورو مسلمانانو دَ پاره به دَهغوی دَاعمالو دَ فرق په اعتبارسره مختصر یا اوږده وی لهذا په دې کښې هیڅ تعارض نشته دې.

قوله : وَمِنْ حَقِّهَا حَلْبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا:

په اوښانو کښې د یو بل حق اضافه :- دَ اوښانوساتونکودا قاعده چه اوښان په دویمه ورځ یا دریمه ورځ وقفه سره دَ اوبوځائی ته ور ولی اودَ اوبوڅکلو نه پس دَ اوښانو پیئی لشی اوبیا ئی هلته راجمع شوی فقیرانو او مسکینانوباندې تقسیم کوی. حضورپاك هم دَدغه حق ذکرکړې دې. داحق دَ زکوة نه علاوه دې خوداحق فرض اوواجب نه دې بلکه مستحب دې. البته دَ همدردئی او اخلاقو دَ وجې نه حضورپاك دَدې په سختئی سره تاکید فرمائیلي دې.

قوله : بِقَاعٍ: کولاؤ او هوار میدان ته قاع وائی.

قوله : "قَرْقَرٍ": دادَ قاع دَ پاره صفت دَتاکید دې هوار کولاؤمیدان ته وائی.

د اوفر په معنی کښې دوه احتمالات :- ① "اوفر" دا ابل نه حال واقع دې مراددادې چه لوئی واړه ټول اوښان به موجود وی هیڅ یواوښ به غائب نه وی.

② دویم مطلب دادې چه دااوښان به په داسې حال کښې وی چه ښه چاق او تازه به وی هیڅ یو به په دوی کښې کمزورې نه وی دې دَپاره چه دَدې مالك ته ښه درون عذاب اورسی.

دَ پوره عبارت ترجمه به داسې وی چه په یو کولاؤ هوار میدان کښې به دَ ښه چاقواوښانو مخې ته به داسې پرمخې راسملولې شی اوهغه اوښان به په هغه تیریږی اوځی به.

قوله : أُخْرَاهَا: یعنی دَ ګول دائرې په شکل کښې به دا اوښان په دغه سړی باندې ګرځی اوتاویږی به. کله چه دَ اوښانو دَ قطار آخری اوښ دَده دَپاسه اوخیژی لاړشی نوهم دَ دې قطار ړومبې اوښ به دې دَخپو لاندې کولودَپاره راورسی. دَ دې مطلب مطابق په مسلم شریف کښې دَ حدیث الفاظ داسې هم دی "کلماجازت اخراها ردت علیه اولاها" مګر دلته چه کوم روایت دې دَهغې مطلب به دااخستې شی په دې سړی باندې به په مختلفو قطارونو کښې اوښان راځی. یوقطار چه لاړشی نو بل قطار به دې دَخپولاندې کولودَپاره رارسی.

په روایاتو کښې د تعارض دفع :- علامه طیبی رحمه الله فرمائی زیربحث حدیث کښې مناسب دی چه په تقدیم اوتاخیرباندې عمل اوکړې شی یعنی چه دا داسې واخستې شی "کلمامرعلیه اخراهاردعلیه اولاها" داسې به دَ روایاتو اختلاف ختم شی اومطلب به واضح شی چه هم په

یوقطار کښې به اوښان دَ ګول دائرې په شکل کښې په دې سرې باندې ګرځي. [الکاشف: ۴/۸.]

قوله : لَيْسَ فِيهَا عَقْصَاءُ: دَباب سمع او یسمع نه دې هغه غوا اوچیلئی ته وئیلی شی دکوم ښکرې چه تاؤشوې وی دَ کوم په وهلوسره چه سړی ته کوم تکلیف کیږی. مطلب دا چه ټول به دَ نیغو او تیرو ښکرو څناور وی.

قوله : وَلَا عَضْبَاءُ: مطلب داچه دَ دغه څناورو ښکر به ښه نیغ اوږد او تیره وی دَ کوم په وهلو سره چه به ښه تکلیف پیداکیږی. المرقات: ۴/۲۶۵.

قوله : قَالَ: "فَالْخَيْلُ ثَلَاثَةٌ: صحابه کرامو تپوس اوکړویارسول الله ﷺ دَ اسونوڅه حکم دې نوحضورپاك اوفرمائیل اسونه په دریم قسم دی.

اعتراض:- حضورپاك نه صحابه کرامو دَ اسونو دَ زکوة او حقوق الله باره کښې سوال کړې وو حضور پاك ددې جواب ولې ورنه کړو؟

د شوافع جواب:- شوافع حضرات فرمائی چه حضورپاك دَ حکمت په توګه جواب ورکړو هغه داسې چه دَ اسونودَ زکوة باره کښې سوال مه کوئی څکه چه په دې کښې زکوة نشته دې بلکه داسې سوال اوکړئی چه دَ اسونو په ساتلو کښې څه فوائد او نقصانات دی. نو واؤرئی دَ اسونودرې قسمونه دی.

داحنافو جواب:- احناف فرمائی حضورپاك دَ حکمت په توګه داسې جواب ورکړې دې چه په اسونوکښې صرف دَ زکوة باره کښې سوال مه کوئی هغه خو واجب دې مګر دې سره سره په اسونوکښې دَدې دَمالك دَپاره چه کومې فائدې او نقصانونه دی دَهغې هم سوال اوکړئی

د اسونو درې قسمونه:- واؤرئی دَ اسونو درې قسمونه دی.

① دَ مالك دَپاره دَ ګناه اوبوج سبب جوړیږی. هغه داسې چه مالك دغه اسونه دَ ریاکارئی دَفخر خودلو اومسلمانانوسره دَ جنګ او دښمنئی دَپاره ساتلې وی.

② دَ خپل مالك دَپاره پرده وی. دَدې وضاحت داسې دې چه مالك اسونه دَ اسلام دَ دین دَ خدمت اوخپل ضرورت دَپاره ساتلی وی. کله چه دَهغه په نیکوکارونوکښې ضرورت پیښیږی نو په هغې کښې استعمالوی، یادَ یوغریب مسکین فقیر په خدمت کښې ورکوی اودا په استعمال کښې راولی. دغه شان دَهریونیك کاردَپاره هغه دغه اسونه تیارساتلې وی. دَ بل چانه دَ غوښتلو ضرورت نه پیښیږی. دلته په حدیث کښې چه دَ فی سبیل الله کوم لفظ راغلې دې دې نه مراد جهادنه دې بلکه مطلق دین مراد دې څکه چه دَ جهاد خبره په راتلونکی کلام کښې ذکرده.

③ دریم قسم هغه اسونه دی چه دَهغې مالك دَ اجراوثواب دَپاره دَالله تعالی په لارکښې

وقف کړې وي. دلته دَ سبيل الله نه جهاد مراد دې.

قوله: "فِي مَرْجٍ": دَ دغه جهادي اسونو هرڅيز اوهرنقل اوحرکت دَهغې دَ مالك دَپاره دَ اجر او ثواب سبب دې.

قوله: "شَرَفًا": مراددادې چه په يوه يا دوو غونډو باندې يا په اوچت ځائې باندې منډه کړي. نو په دغه اختياري اوغيراختياري حرکات اوسکنات باندې به هم مالك ته ثواب ملاويږي. دادَ جهادي اس شان دې نوپخپله دَ مجاهدبه څه شان وي.

[١٧٧٤] دزکات نه ورکولو سزا

١٧٧٤—(١)[٣] ١ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ "«مَنْ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ ٣ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ ٤ لَهُ زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ٥ ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ يَعْنِي شِدْقَيْهِ ٦ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا مَالُكَ، أَنَا كَنْزُكَ" ٧ ثُمَّ تَلَا ﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ﴾ [آل عمران: ١٨٠] الْآيَةَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ کوم سړي ته چې الله تعالىٰ جل جلاله مال او زر ورکړل او د هغې زکات يي ادا نه کړو ٣ نو د قيامت په ورځ به د هغه مال او زر د ګنجي مار په شکل کښې بدل کړي شی ٤ چې د هغه په سترګو به دوه توري نقطي وي بيا به هغه مار د هغه سړي په غاړه کښې د طوق په طور واچول شي ٥ او هغه مار به د هغه سړي د شونډانو دواړه کناری نيسي (چيچي) ٦ او ورته به وايي چې زه ستا مال زه ستا خزانه يم ٧ د دې څخه روسته آنحضرت ﷺ دا آيت اووئيلو وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ الْآيَةَ هغه خلق چې بخل کوي دا ګمان دې نه کوي تر آخري آيت پوري. (بخاري)

حل اللغات:- ① مُثِّلَ: أَيْ صُوِّرَ: شکل به ورکولې شی، ② شُجَاعًا: أَيِ الْحَيَّةُ الذَّكَرُ: نر مار، ③ أَقْرَعَ: أَيِ الَّذِي لَا شَعْرَ عَلَى رَأْسِهِ: يعنی ګنجی مار، دداسې مار په سرباندې دَ زهرودَ زياتوالی دَ وجې نه يا دَ اوږد عمر دَ وجې نه ويښته نه وی دا دَ سخت خباثت او شدت نښه ده. ④ زَبِيبَتَانِ: أَيْ نُقْطَتَانِ سَوْدَاوَانِ فَوْقَ الْعَيْنَيْنِ: دَماردَ دواړو سترګو دَپاسه دوه تور ټاکی وی، په مارانو کښې داقسم مار ډير زيات خبيث مار وی. ⑤ يُطَوَّقُهُ: په غاړه کښې به ورته واچولې شی، ⑥ بِلِهْزِمَتَيْهِ: ای شِدْقَيْهِ: أَيْ بِطَرَفَيْ فَمِهِ: د خولې اطراف يعنی وښکی.

تسهيلات:

نوټ:- ددې حديث شرح په د بل حديث په تسهيل کښې ذکر ده.

---

(١) اخرجه البخارى فى كتاب الزكاة/باب إثم مانع الزكاة (رقم-١٤٠٣) والنسائى كتاب الزكاة/باب: مانع زكاة ماله (رقم-٢٤٨١) ومالک فى الموطا كتاب الزكاة / باب ما جاء فى الكنز(رقم-٢٢) ، احمد فى المسند ٣٥٥/٢

[١٧٧٥] د څاروزکات نه ورکولو سزا

١٧٧٥–(¹)[٤] [١] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«مَا مِنْ رَجُلٍ يَكُونُ لَهُ إِبِلٌ أَوْ بَقَرٌ أَوْ غَنَمٌ لَا يُؤَدِّي حَقَّهَا [٣] إِلَّا أُتِيَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْظَمَ مَا تَكُونُ وَأَسْمَنَهُ، [٤] تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا، [٥] وَتَنْطِحُهُ بِقُرُونِهَا، [٦] كُلَّمَا جَازَتْ أُخْرَاهَا رُدَّتْ عَلَيْهِ أُولَاهَا، [٧] حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت ابوذر رضي الله عنه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه نقل كوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٢] د كوم سړي سره چې اوښان يا غوايه يا بزي (چيلۍ) وي او د هغې زكات نه وركوي [٣] نو د قيامت په ورځ به هغه څاروی په داسې حال كښې راوستل شي چې ډير غټ او په څرب شكل كښې به وي [٤] چې بيا به هغه سړي په خپلو پښو سره مړي [پامال كوي] [٥] او په خپلو ښكرونو سره به يي وهي [٦] د هغه پامال كولو سره چې آخري جماعت (ډله) لاړه شي نو بيا به اول جماعت راوستل شي [يعنى دغه شان به يي ټول څاروی بيا واپس كيدو سره يي پامال كوى [ميده كوي] او وهي به يي او دا سلسله به تر هغه وخته پورې جاري وي [٧] تر څو پورې چې د خلقو حساب او كتاب كولو سره د هغوئ فيصله ونه شي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① أَسْمَنَهُ: ډير څرب، ② تَطَؤُهُ: دا څاروی به ئې په خپو كښې ښه پامال كوى. ③ أَخْفَافِهَا: أَيْ بِأَرْجُلِهَا: په خپو سره، ④ تَنْطِحُهُ: أَيْ تَضْرِبُهُ: نطح په ښكرو باندې وهلو ته وائى

تسهيلات:

قوله: تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا، وَتَنْطِحُهُ بِقُرُونِهَا:

د زكات نه ادا كړې شوى څاروې د عذاب سبب جوړيدل:- كوم كس ددې ځناورو زكوة نه وى ادا كړې نو د قيامت په ورځ به دا ځناور به دهغه دپاره زحمت جوړيږى

[١٧٧٦] دزكات د عاملينو خوشحاله واپس كول

١٧٧٦–(²)[٥] [١] وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«إِذَا أَتَاكُمُ الْمُصَدِّقُ فَلْيَصْدُرْ عَنْكُمْ [٣] وَهُوَ عَنْكُمْ رَاضٍ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت جرير ابن عبدالله رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٢] هر كله چې (د امام د طرف څخه) زكات وصولونكي (چي د شريعت په اصطلاح كښې ورته ساعي او عامل وايي) تاسو له راشي نو هغه (زكات وصولولو سره) په داسې حال كښې دي

¹) اخرجه البخارى فى كتاب الزكاة/باب زكاة البقر (رقم-١٤٦٠) ومسلم فى كتاب الزكاة/باب تغليظ عقوبة من لا يؤدى الزكاة (رقم-٣٠ - (٩٩٠) والنسائى كتاب الزكاة/باب: مانع زكاة الغنم (رقم-٢٤٥٦) وابن ماجة كتاب الزكاة/باب ما جاء فى منع الزكاة(رقم-١٧٨٥) واحمد فى المسند ٣٢١/٣

²) اخرجه مسلم فى كتاب الزكاة/باب إرضاء السعاة (رقم) ٢٩ - (٩٨٩) والترمذى فى السنن كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى رضا المصدق (رقم-٦٤٧) وابن ماجة كتاب الزكاة/باب ما يأخذ المصدق من الإبل (رقم-١٨٠٢) والدارمى من كتاب الزكاة/باب النهى عن الفرق بين المجتمع والجمع بين المتفرق (رقم-١٦٧٠) واحمد فى المسند ٣٦٥/٤

ستاسو څخه واپس شي [٣] چې هغه ستاسو څخه راضي او خوشحاله وي. (مسلم)

حل اللغات: - ① الْمُصَدِّقُ: أَيْ آخِذُ الصَّدَقَةِ وَهُوَ الْعَامِلُ: عامل ته وائی کوم چه زکوة راټولوی. اوزکوة ورکونکی مالك ته متصدق وائی. ② فَلْيَصْدُرْ: أَيْ يَرْجِعْ: واپس دې شی.

تسهیلات: قوله: إِذَا أَتَاكُمُ الْمُصَدِّقُ:

په مصدق اومتصدق کښې فرق: - دَ زکوة وصول کونکی کارکن ته مصدق وائی (کذا فی اشعة اللمعات) [اشعة المعات.]

دَحدیث مطلب دادې چه کله دَ وخت دَ بادشاه یا اسلامی ادارو دَ طرف نه دَ زکوة وصول کونکی کارکن راشی نو هغوی سره دَ احترام اواکرام معامله کول پکاردی. په ښه شان سره پوره زکوة هغوی ته حواله کول پکاردی اوهغوی په هرحال کښې راضی کول پکاردی.
دَ اسلام دا عادلانه اوحکیمانه مزاج دې چه هغه هرسړی ته دَهغه دَ ذمه وارو احساس ورکوی. دَ مالك دَ ذمه وارو هغه ته دومره احساس ورکوی چه هغه دې په هرحال کښې زکوة وصول کونکې راضی ساتی که هغه ظالم ولې نه وی. بل طرف ته عامل اوزکوة وصول کونکی ته دَ هغوی دَ ذمه وارئی دا احساس ورکوی چه هغه دې په هیڅ یوصورت کښې په مالك باندې ظلم نه کوی. دَهغه دَ مال نه دې ښکلې مال نه اخلی اونه دې دَ رمې چیلې اخلی بلکه دَ زکوة په حق کښې دې درمیانه مال اوچت کړی دې دَپاره چه مالك پریشان نه وی. دغه شان دَ اسلام په قواعدوکښې دَ مالك اجر او ثواب په کولاؤ الفاظوکښې بیان کړې شوی دی دې دَپاره چه هغوی ته په زکوة ورکولوکښې بوج محسوس نه شی. بل دَ زکوة وصول کونکی اجر اوثواب ئی ښه بیان کړو دې دَپاره چه هغه ته دې نه صرف دَ نوکرئی اومزدورئی احساس نه وی بلکه دَ عبادت احساس وی.

[١٧٧٧] دَعامل دَپاره دَ نبی علیه السلام دعا

١٧٧٧ - (¹) [٢] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ: [٢] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَتِهِمْ قَالَ: [٣] " اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ فُلَانٍ "، [٤] فَأَتَاهُ أَبِي بِصَدَقَتِهِ، فَقَالَ: [٥] " اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ أَبِي أَوْفَى» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
[٦] وَفِي رِوَايَةٍ: «إِذَا أَتَى الرَّجُلُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِصَدَقَتِهِ [٧] قَالَ: " اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ» ".

ترجمه: [١] او حضرت عبدالله ابن اوفي وايي [٢] هر کله چې به یو جماعت حضور ﷺ ته خپل زکات اخستو سره راتلو [چې حضور ﷺ یي په مستحقینو کښې تقسیم کړی] نو فرمایل به یي [٣] اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ فُلَانٍ اي الله جل جلاله د فلاني سړي په خاندان رحمت نازل

(¹) اخرجه البخاری فی کتاب الزکاة/باب صلاة الإمام، ودعائه لصاحب الصدقة (رقم-١٤٩٧) وابوداود کتاب الزکاة/باب دعاء المصدق لأهل الصدقة(رقم-١٥٩٠) والنسائی کتاب الزکاة/باب: صلاة الإمام علی صاحب الصدقة (رقم-٢٤٥٩) وابن ماجة کتاب الزکاة/باب ما یقال عند إخراج الزکاة (رقم-١٧٩٦) واحمد فی المسند ٤/٣٥٥

كړي، [۴] زما پلار بزرګوار چې حضور ﷺ ته زكات اخستو سره حاضر شو نو حضور ﷺ وفرمايل: [۵] اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ أَبِيْ أَوْفَى اي الله ﷻ دابي اوفي په خاندان رحمت نازل كړې، بخاري مسلم، [٦] د يو دويم روايت الفاظ دا دي هر كله چې يو سړي به د خپلې صدقې سره د حضور ﷺ په خدمت كښې حاضر شو [۷] نو حضور ﷺ به وفرمايل چې اي الله ﷻ په دې سړي باندې خپل رحمت نازل كړې.

تسهيلات:

قوله: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ أَبِي أَوْفَى:

په غير النبى باندې د درود ليكلو حكم: -دَ نبى نه علاوه په غيرنبى باندې په مستقل توګه درود وئيل منع دى اوبالتبع جائز دې! حكم دَ امتى باره كښې دې پخپله رسول اكرم ﷺ كه دَ چا دَپاره دَ صلاة الفاظ استعمال كړل نو رسول الله ﷺ دَدې حكم نه مستثنى دې. دادَ حضورپاك خصوصيت دې لكه چه څنګه دلته حضورپاك دَ صلوة لفظ استعمال كړې دې.
بهر حال صدقه اخستونكى له پكار دى چه هغه دَ صدقه وركونكى دَپاره ښه دعاګانې اوكړى دې دَپاره چه دَ هغه زړه مطمئن كيدوسره خوشحال شى او هغه ته دا احساس نه وى چه زما مال په زور اخستې شى.

[١٧٧٨] دَ درې صحابوُ د زكات نه وركولو وجوهات

١٧٧٨-(١)[٧] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: [٢] «بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عُمَرَ عَلَى الصَّدَقَةِ، [٣] فَقِيلَ مَنَعَ ابْنُ جَمِيلٍ، وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، وَالْعَبَّاسُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۴] "مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ فَقِيرًا فَأَغْنَاهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ، [۵] وَأَمَّا خَالِدٌ فَإِنَّكُمْ تَظْلِمُونَ خَالِدًا، [٦] قَدِ احْتَبَسَ أَدْرَاعَهُ وَأَعْتُدَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ. [۷] وَأَمَّا الْعَبَّاسُ فَهِيَ عَلَيَّ وَمِثْلُهَا مَعَهَا" ، [٨] ثُمَّ قَالَ: "يَا عُمَرُ أَمَا شَعَرْتَ أَنَّ عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ» "، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابوهريره ﷺ وايي [٢] چې رسول الله ﷺ حضرت عمر ﷺ د زكات د وصولولو د پاره مقرر كړو [٣] يو سړي راغې او خبر يې وركړو چې ابن جميل، خالد ابن وليد او حضرت عباس ﷺ زكات ادا نه كړو د دې په اوريدو سره حضور ﷺ وفرمايل [۴] چې ابن جميل خو د زكات وركولو څخه ځكه انكار اوكړو چې هغه د مخكې څخه مفلس وو او اوس الله تعالى ﷻ او د هغه رسول ﷺ هغه دولتمند جوړ كړې دې [۵] د خالد بن وليد خبره دا ده چې په هغه تاسو ظلم كوئ [چې په اصل كښې په هغه زكات واجب نه دې خو

(١) اخرجه البخارى فى كتاب الزكاة/باب قول الله تعالى: {وفى الرقاب والغارمين وفى سبيل الله} [التوبة: ٦٠] (رقم-٤٦٨) ومسلم فى كتاب الزكاة/باب فى تقديم الزكاة ومنعها (رقم)١١ - (٩٨٣) وابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب فى تعجيل الزكاة(رقم-١٦٢٣) والنسائى كتاب الزكاة/باب: إعطاء السيد المال بغير اختيار المصدق(رقم-٢٤٦٤) واحمد فى المسند ٣٢٢/٢

تاسو د هغه څخه د زکات وصولولو خواهش مند يې[٦] ځکه چې هغه خو خپلې زغرې او سامان د جنګ (يعني هتيار، ځاروي او د جنګ نور سامان) د الله جل جلاله په لار (يعني د جهاد) د پاره وقف کړي دي [نو تاسو چې د هغه مال او اسباب د تجارت مال ګڼئ نو دا غلط دي][٧] او هر چې د حضرت عباس رضي الله عنه خبره ده نو خبره دا ده چې د هغه زکات په ما دي او نه يواځې د دې کال بلکه د دې په مثل او د آينده کال هم[٨] بيا يې وفرمايل چې اې عمره رضي الله عنه ته نه يې خبر چې د يو سړي اکا (تره) د هغه د پلار پشان وي [نو تاسو خلق عباس رضي الله عنه زما د پلار په ځاي وګڼئ د هغه تعظيم کوئ او هغه ته هيڅ قسم تکليف مه رسوئ]، (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① يَنْقِمُ: اى مَا يَكْرَهُ: نقم دَ سخت نفرت او ناخوښئ په معنى کښې دې چه په حقيقت کښې دلته دَ انکار دَپاره استعمال شوې دې أَيْ مَا يُنْكِرُ. ② احْتَبَسَ: أَيْ وَقَفَ: يعنى وقف کړى ئې دى. ③ أَدْرَاعَهُ: دَ درع جمع ده زغرې ته وائى. ④ وَأَعْتُدَهُ: دَ عتاد جمع ده دَ جنګ اسباب او آلات مراد دى. ⑤ صِنْوُ: أَيْ مِثْلُهُ وَنَظِيرُهُ: مشابه او مثل ته وائى يعنى تره دَ پلار په شان وى. دَ يوې ونې دَ تنې نه چه کله دوه ښاخونه ونه جوړه شى نوهرې يوې ته صنو وائى.

تسهيلات: قوله : مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ:

دابن جميل تعارف:- ابن جميل يومنافق سړې وو بيا لر ښه شو مګر ډير غريب وو. په حضورپاک باندې دَ مال دولت دَپاره دعااوکړه. حضورپاک دعا اوکړه نوالله تعالى ورته ډير مال ورکړو مګر هغه ناشکرى اوکړه او زکوة ورکول ئې منع کړه نوحضورپاک داکلمات ارشاد اوفرمائيل چه دغه سړى څنګه دَ نعمت ناشکرى اوکړه.

قوله : وَأَعْتُدَهُ" يعنى تاسو خلق په خالد باندې ظلم کوئى هغه غريب سړې دې مسلسل په جهاد کښې وى. خپلې ټولې زغرې اودَ جنګ سامان ئې ټول په ټول دَ الله تعالى په لار دَ جهاد کښې وقف کړې دى. په دې باندې زکوة چرته دې. دَ حضورپاک په دې کلام کښې اشاره ده چه حضرت خالد رضي الله عنه هميشه په جهاد کښې وى. چنانچه هم داسې اوشو حضرت خالد رضي الله عنه تر آخر دمه پورې يوشان په جهاد کښې لګياوو.

قوله : فَهِيَ عَلَيَّ وَمِثْلُهَا مَعَهَا:

د مذکوره جملې دوه مطلبه:- ① مطلب دا چه دَحضرت عباس رضي الله عنه طرف ته کوم زکوة دې هغه به زه اداکړم بلکه دَ راتلونکى کال به هم ادا کړم. وائى چه حضورپاک دَ دوو کالو زکوة دَ حضرت عباس رضي الله عنه نه مخکښې وصول کړې وو

② يا دا مطلب دې چه حضورپاک دَحضرت عباس رضي الله عنه په شکايت باندې دَخفګان اظهار اوکړو او وئى فرمائيل چه دَ عباس رضي الله عنه دَ طرف نه به زه پخپله زکوة اداکړم بلکه زيات به ورکړم ځکه چه کيدې شى دَ هغه څه عذر وى دَ هغه شکايت نه دى کول پکار هغه زما تره

دي او تره خود پلار په څائی وی دامطلب زیات واضح دې اود حدیث آخری ټکره ددې تائید کوی.

[١٧٧٩] په سرکاری عهده باندې مقرر کس د پاره د تحفې اخستلو ممانعت

١٧٧٩-( )[٨] [١] وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ: [٢] «اسْتَعْمَلَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَجُلًا مِنَ الْأَزْدِ يُقَالُ لَهُ ابْنُ اللُّتْبِيَّةِ عَلَى الصَّدَقَةِ، [٣] فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ: هَذَا لَكُمْ، وَهَذَا أُهْدِيَ لِي. [٤] فَخَطَبَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، [٥] ثُمَّ قَالَ: "أَمَّا بَعْدُ، فَإِنِّي أَسْتَعْمِلُ رِجَالًا مِنْكُمْ عَلَى أُمُورٍ مِمَّا وَلَّانِي اللَّهُ، [٦] فَيَأْتِي أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ: هَذَا لَكُمْ وَهَذِهِ هَدِيَّةٌ أُهْدِيَتْ لِي، [٧] فَهَلَّا جَلَسَ فِي بَيْتِ أَبِيهِ أَوْ بَيْتِ أُمِّهِ فَيَنْظُرُ أَيُهْدَى لَهُ أَمْ لَا،

ترجمه: [١] حضرت ابو حمید ساعدی رضی الله عنه وایي [٢] چې نبي کریم ﷺ د قبیلۀ ازد یو سړي چې د هغه نوم ابن اللتبیه وو په زکات وصولولو باندې مقرر کړو [٣] هغه چې (د زکات وصولولو سره) مدیني ته واپس راغې نو مسلمانانو ته یي اوویل چې دومره مال خو ستاسو دي (یعني دا د زکات د مال څخه وصول شوي دي د دې مستحق تاسو یي) او دومره مال د تحفې په طور ماته راکړې شوي دي [٤] نبي کریم ﷺ [چې دا واوریدل نو د خلقو په مخکي یي] خطبه کې وفرمایل چې په هغې کښې یي اول د الله جل جلاله حمد او ثنا بیان کړه [٥] د هغه څخه روسته یي وفرمایل چې زه په تاسو کښې څومره سړي په هغه اُمورو باندې مقرروم چې د هغې د پاره الله تعالی جل جلاله زه حاکم جوړ کړي یم [٦] په تاسو کښې یو سړي [چې ما په زکات وصولولو باندې مقرر کړي دي] خپل کار کولو سره راځي او وایي چې دا ستاسو د پاره دي او دا مال ماته په تحفه کښې راکړې شوي دي [٧] نو [د هغه څخه پوښتنه وکړئ] چې هغه د خپل مور او پلار په کور کښې ولي نه کیناستي چې تحفه ورکونکي هغه ته تحفه لیږلي شوه که نه؟

[١] وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، [٢] لَا يَأْخُذُ أَحَدٌ مِنْهُ شَيْئًا [٣] إِلَّا جَاءَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَحْمِلُهُ عَلَى رَقَبَتِهِ [٤] إِنْ كَانَ بَعِيرًا لَهُ رُغَاءٌ، [٥] أَوْ بَقَرًا لَهُ خُوَارٌ، [٦] أَوْ شَاةً تَيْعَرُ" [٧] ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى رَأَيْنَا عُفْرَةَ إِبْطَيْهِ [٨] ثُمَّ قَالَ: "اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ، اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] قسم دي په پاک ذات چې د هغه په قبضه کښې زما ساه ده [٢] (یاد لرئ) په تاسو کښې چې کوم سړي کوم شي هم واخلي [٣] هغه به د قیامت په ورځ (د رسوایي او د ذلت په طور) په خپل غاړه باندې اوچت کړی راوړي [٤] که هغه اوښ وي (چې هغه یي بغیر د استحقاقه اخستي وي) نو د هغه دپاره به آواز وي [٥] که هغه غویي وي نو د هغه آواز به وي

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الهبة وفضلها والتحریض علیها/باب من لم یقبل الهدیة لعلة (رقم-٢٥٩٧) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب تحریم هدایا العمال (رقم) ٢٦ - (١٨٣٢) وابوداود فی السنن کتاب الخراجّ والإمارة والفیء/باب فی أرزاق العمال واحمد فی المسند ٤٢٣/٥

[٦] او که بزه وي نو د هغه آواز به وي (یعني هغه په دنیا کښې کوم شي هم چې بغیر د استحقاق نه واخلي هغه څیز به د قیامت په ورځ د هغه په څټ سور وي او آواز به کوي) [٧] د دې څخه روسته حضور ﷺ خپل دواړه لاسونه مبارک دومره اوچت پورته کړل چې مونږ د حضور ﷺ د بغلونو [ترخونو] مبارکو سفینوالې ولیدلو [٨] بیا یې وفرمایل چې اې پروردګاره (تا چې کوم څه فرمایلي وو) ما خلقو ته ورسول اي پروردګاره ما خلقو ته ورسول، مسلم بخاري،

[١] قَالَ الْخَطَّابِيُّ: وَفِي قوله: "هَلَّا جَلَسَ فِي بَيْتِ أُمِّهِ أَوْ أَبِيهِ [٢] فَيَنْظُرُ أَيُهْدَى إِلَيْهِ أَمْ لَا" [٣] دَلِيلٌ عَلَى أَنَّ كُلَّ أَمْرٍ يُتَذَرَّعُ بِهِ إِلَى مَحْظُورٍ فَهُوَ مَحْظُورٌ، [٤] وَكُلُّ دَخِيلٍ فِي الْعُقُودِ يُنْظَرُ [٥] هَلْ يَكُونُ حُكْمُهُ عِنْدَ الِانْفِرَادِ [٦] كَحُكْمِهِ عِنْدَ الِاقْتِرَانِ أَمْ لَا. هَكَذَا فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: [١] او خطابي رحمه الله د حضور ﷺ ارشاد ګرامي چې هغه سړي د خپل مور پلار په کور کښې ولې نه کیناستلو [٢] بیا به یې کتلي وو، چې هغه ته څوک تحفه رالیږي یا نه؟ [٣] په دې باره کښې ویلي دي چې دا د دې خبرې دلیل دې چې د حرام کار د پاره کوم شي وسیله جوړه کړل شي نو هغه وسیله به هم حرامه وي [٤] او که یو عقد (معامله) دویم عقد (مثلاً خرید او فروخت هبه او نکاح وغیره) سره متعلق کړې شي نو هغه وخت به کتل کیږي [٥] چې آیا د هغه معاملو جدا جدا حکم دې [٦] د هغې سره د متعلق کیدو د حکم مطابق دې یا نه؟ [که دې نو درست به وي او که نه؟ دې نو درست به نه وي] (شرح السنه)

حل اللغات:- ① اِسْتَعْمَلَ: عامل ئې جوړکړو یعنی په زکوة راټولولو ئې مقررکړو. ② الْأَزْدُ: د قطحان یوه قبیله ده، ③ وَلَّانِي: أَيْ جَعَلَ حَاكِمًا فِيهِ: چه زه ئې په هغې حاکم جوړکړې یم. ④ رُغَاءٌ: دَ اوښ دَ بربړ آواز ته وائی. ⑤ خُوَارٌ: دَغواڈ اړکی آواز ته وائی. ⑥ تَيْعَرُ: دَ چیلئ دَ مې مې آواز ته وائی. ⑦ عُفْرَةَ: اى بَيَاضٌ لَيْسَ بِخَالِصٍ: داسې سپینوالې چه خاورو ته مائل وی. ⑧ يُتَذَرَّعُ: أَيْ يُتَوَسَّلُ: چه وسیله جوړه کړې شی. ⑨ مَحْظُورٌ: أَيْ مَمْنُوعٌ: یعنی منع او حرام دی. ⑩ دَخِيلٌ: یوبه بل کښې دخل انداز شی یعنی تعلق ولری. ⑪ الْعُقُودِ: د دوه کسانو په مینځ کښې معامله. مثلاً خرید او فروخت هبه او نکاح وغیره. ⑫ الِاقْتِرَانِ: یوځائ کول.

تسهیلات: قوله: ابْنُ اللُّتْبِيَّةِ:

دابن اللتبیة تعارف: - په لام باندې پیښ دې او فتحه وئیل هم صحیح دی. تاء ساکنه ده او فتحه وئیل هم صحیح دی. باء باندې کسره ده اویاء باندې شد دې. "لتبیة" دَ هغه سړی دَمور نوم دې چه دَعربو مشهورقبیلې لتب طرف ته منسوب دې. دَ دغه سړی نوم عبدالله رضی الله عنه وو. هغه دَ زکوة اموال راجمع کړل دَحضورپاک په خدمت کښې پیش کړل. لیکن دې سره ئې داهم اووئیل چه ماته خلقو په ذاتی حیثیت سره څه مال دَتحفه په توګه راکړې دې لهذا هغه زما ذاتی مال دې. په دې خبره باندې نبی کریم ﷺ سخت خفه شو او وئی فرمائیل

"فَهَلَّا جَلَسَ فِي بَيْتِ أَبِيهِ"

تهديدي الفاظ: - يعني چه دا سړي خپل پلار سره يا مور سره په کور کښې کيناستو سره انتظار کولو اوکتل ئې چه دلته په ناسته ناسته خلق ده له تحفې ورکوي که نه. که چرې نه ئې ورکولې نودَ صدقات راجمع کولو په وخت ده ته دَ تحفې اخستو حق نشته.

"تَيْعِرُ" يعني ناجائز اوښ په اوړو باندې اوچتولو سره به برړيږي غوا به هنړيږي او چيلئي مې مې کوي.

د دوؤ مسئلو استنباط: - "قال الخطابي" علامه خطابي رحمه الله دَ ذکرشوي حديث دَمضمون نه دوه اجتهادي مسئلې راويستې دي.

① **قوله: أَمْرٍ يُتَذَرَّعُ بِهِ:**

د ناجائز کار جائز سبب ناجائز گرځيدل: - يعني هرجائز کار که چرته دَ يوناجائز کاردَپاره ځان له ذريعه اووسيله جوړيږي نوهغه وسيلې هم ناجائز کيږي. په نورو الفاظو کښې داسې وئيلي شي چه وسيله هم حرام ده. دَمثال په توګه که څوك چاته قرض پيسې ورکوي نودا جائز او دَ ثواب کاردې. ليکن که هم په دغه قرض باندې څوك سود اخلي اودا قرض دَ سود وسيله جوړيږي نوبيا داقرض ورکول هم حرام دي. دغه شان دَ ګانړې په معامله کښې که چرې راهن مرهون څيز نه فائده اخلي نواوس جائز رهن هم ناجائز کيږي. دغه شان دلته دَ ابن التبيه اصل کار خوجائز ووچه صدقات راجمع کول وو ليکن دا کاردَ حرام ذريعه جوړه شوه په دې وجه دا جائز کار دَ هغه په حق کښې حرام شو. خلاصه دا چه حلاله وسيله حلال ده او حرامه وسيله حرام ده.

قوله: وَكُلُّ دَخِيلٍ فِي الْعُقُودِ يُنْظَرُ:

دعقد په انفرادي او اجتماعي صورت کښې د بدليدو قاعده: - يعني هرشراکت او اجتماعيت او يوعقد دَ بل عقدسره ملاوولو په وخت کتلې شي چه دَدې معاملاتو دَ جدا جدا کيدو په وخت څه حکم دې اودَ دواړو عقدونو دَ ملاوولو په وخت حکم څه دې. که چرې دَ جدا جدا کولودَ وخت حکم جائز دې نودَ ملاوولو دَ وخت حکم به هم جائز وي. ليکن که چرې دَ انفرادي حکم جدا دې او دَ اجتماعي حکم جدادې نوبيا دغه شان رايوځائې کول جائز نه دي. مثلاً په زير بحث مسئله کښې ابن لتبيه په يوعهده او منصب باندې فائز وو. اوس که چرې ابن لتبيه ته دَدې عهدې نه بغير خلقو تحفې ورکولې نودا تحفه دَ دغه عهدې په وخت هم قبلول جائز وو اوکه چرې عهده او منصب نه بغير ابن لتبيه ته يوکس هم تحفه نه ورکوله. نو اوس دَده دَپاره دا تحفه قبلول جائز نه وو. حضورپاك هم دې طرف ته اشاره فرمائيلې ده چه دا سړې دَ دې منصب نه جدا کيدو سره په کورکښې کيني بيادې اوګوري چه ده ته څوك تحفه ورکوي که نه.

سرکاری ملازمینو او مهتممینو ته تنبیه:- دَ علامه خطابی رحمه الله دَدې استنباطی قاعده په زدکښې دَ مدرسو مهتممان حضرات هم راځی او سرکاری عهدو باندې مقرر افسران بالا او حکام اوقضاة او ججان حضرات هم راځی. او دینی جهادی تنظیماتو عهده دار هم راځی تولو له سوچ کول پکاردی اوقومی امانتونه مال غنیمت ګڼړلو سره هرپ کول نه دی پکار. دَعلامه خطابی رحمه الله دا اجتهادی مسئله امام مالك رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله هم دغه شان قبلوی البته دَ احنافو او شوافع حضراتو په نیز په دې کښې څه تامل او څه تفصیل دې.

[١٧٨٠] په زکات کښې د خیانت کولو ممانعت

١٧٨٠-()[٩] [١] وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ عُمَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ [٣] فَكَتَمَنَا مِخْيَطًا فَمَا فَوْقَهُ [٤] كَانَ غُلُولًا يَأْتِي بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت عدي ابن عمیره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] څوك چې په یو کار (یعني د زکات وغیره په وصولو) باندې مونږ مقرر کړو [٣] او هغه سړي زمونږ څخه د ستنې برابر یا د دې څخه کم وبیش څه شی پټ کړی [٤] نو دا به په خیانت کښې شمار وي چې د قیامت په ورځ به هغه (رسوا کولو سره) راوړي. (مسلم)

حل اللغات:- ① اسْتَعْمَلْنَاهُ: أَيْ جَعَلْنَاهُ عَامِلًا: یعنی مونږ عامل جوړ کړو، په زکوة راټولولو مو مقرر کړو. ② فَكَتَمَنَا: أَيْ أَخْفَى عَلَيْنَا: پټ ئې کړو زمونږنه، ③ مِخْيَطًا: أَيْ إِبْرَةً: ستن. ④ غُلُولًا: أَيْ خِيَانَةً: خیانت به وی.

تسهیلات:

قوله: فَكَتَمَنَا مِخْيَطًا فَمَا فَوْقَهُ:

د فوق مصداق:- ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چې ددې نه اعلی او ادنی دواړه څیزونه مراد دی کما فی قوله تعالی (فَمَا فَوْقَهَا).

د حدیث الباب ترجمة الباب سره مناسبت:- دا حدیث پاك په دې باب کښې په عمل کښې د خیانت په مناسبت سره ذکر کړې شوې دې (مرقا ج/۴ ص/۱۲۹).

قوله: يَأْتِي بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

خیانت اود قیامت د ورځې رسوائی:- خیانت که وړوکې وی او که غټ قیامت کښې به درسوائی سبب ګرځی بالخصوص کوم خیانت چې په زکوة وغیره کښې اوشی نودا په عبادت کښې خیانت دې د خیانت سره دالله ﷻ حق وهل دی او فقراء دهغوئ د حق نه محرومول دی لقوله تعالی وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب تحریم هدایا العمال (رقم) ٣٠ - (١٨٣٣) وابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء/باب فی أرزاق العمال(رقم-٢٩٤٣) واحمد فی المسند ٤٨١٩٢

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٧٨١] زکات نه ورکونکو دپاره قرآنی وعید

١٧٨١ - ( ) [١٠] [١] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: [٢] «لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ ﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ﴾ [التوبة: ٣٤] [٣] كَبُرَ ذَلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ، فَقَالَ عُمَرُ: [٤] أَنَا أُفَرِّجُ عَنْكُمْ، فَانْطَلَقَ فَقَالَ: [٥] يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنَّهُ كَبُرَ عَلَى أَصْحَابِكَ هَذِهِ الآيَةُ، [٦] فَقَالَ: "إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَفْرِضِ الزَّكَاةَ إِلَّا لِيُطَيِّبَ مَا بَقِيَ مِنْ أَمْوَالِكُمْ، [٧] وَإِنَّمَا فَرَضَ الْمَوَارِيثَ وَذَكَرَ كَلِمَةً لِتَكُونَ لِمَنْ بَعْدَكُمْ، [٨] فَقَالَ: فَكَبَّرَ عُمَرُ، ثُمَّ قَالَ لَهُ: [٩] "أَلَا أُخْبِرُكَ بِخَيْرِ مَا يَكْنِزُ الْمَرْءُ الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ، [١٠] إِذَا نَظَرَ إِلَيْهَا سَرَّتْهُ، [١١] وَإِذَا أَمَرَهَا أَطَاعَتْهُ، [١٢] وَإِذَا غَابَ عَنْهَا حَفِظَتْهُ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي کوم وخت چې دا آيت کريمه وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ الآية [او کوم خلق چې سره زر او سپين زر جمع کوي] تر آخر پوري، نازل شو [٣] نو صحابه رضي الله عنهم ډير فکرمند شو د هغوئ دا حالت ليدو سره حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل [٤] چې زه ستاسو دا فکر اوس لرې کوم نو هغه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او عرض يي اوکړو [٥] چې اي د الله جل جلاله نبي صلى الله عليه وسلم دا آيت خو ستا په صحابه و رضي الله عنهم ډير بوج شوي دي [٦] حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې الله تعالى جل جلاله زکات ځکه فرض کړي دي چې هغه ستاسو باقي مال پاک کړي [٧] او الله تعالى جل جلاله ميراث ځکه مقرر کړي دي او د دې څخه روسته آنحضرت صلى الله عليه وسلم يوه کلمه ذکر وفرمايله، چې کوم خلق ستاسو څخه روسته پاتې شي هغه د هغوئ حق شي [٨] حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې حضرت عمر رضي الله عنه (د دې اوريدو سره د ډيرې خوشالۍ څخه چې يو مشکل آسان شو) الله اکبر وويلو د دې څخه روسته حضور صلى الله عليه وسلم حضرت عمر رضي الله عنه ته وفرمايل [٩] چې آيا زه تاته يو بهترين شي ونه ښايم چې انسان يي د ځان سره وساتي نو خوشحاله به وي او هغه نيک بخته ښځه ده [١٠] چې دهغې طرف ته سړي وګوري نو د هغه طبيعت خوشحاله شي [١١] او کله چې هغې ته څه حکم ورکړي نو د هغه اطاعت وکړي [١٢] او کله چې هغه په کور کښې موجود نه وي نو د هغه [د ورو] حفاظت کوي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① كَبُرَ: أَيْ شَقَّ وَصَعُبَ: سخته اوګرانه ورته ښکاره شوه، ② أُفَرِّجُ: أَيْ أُزِيلُ الْغَمَّ وَالْهَمَّ: زه ستاسوغم اوفکر لرې کوم. ③ لِيُطَيِّبَ: چه پاک کړي، ④ يَكْنِزُ: چه ساتي او جمع کوي ئې.

تسهيلات: قوله : لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ:

د مذکوره آيت په صحابه کرامو باندې اثر: - يعنى دَ زکوة متعلق چه کله په قرآن کريم کښې په سخت وعيدباندې مشتمل آيت نازل شونو صحابه کرام رضي الله عنهم ډير پريشان شوځکه چه په دغه آيت کښې دَ څه قسم مال جمع کولواو ذخيره کولوباندې وعيد اوروليې شوې دې.

---

١) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب فى حقوق المال (رقم - ١٦٦٤)

حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائيل چه زه ورځم د حضورپاك نه معلومات كوم. هغوی د رسول الله ﷺ په وړاندې د صحابه كرامو د پريشانئى ذكراوكړو نوحضورپاك په جواب كښې اوفرمائيل چه الله تعالى زكوة هم په دې وجه فرض كړې دې چه د دې په ذريعه د مسلمانانو باقي پاتې مال پاك شى. لهذا د كوم مال چه زكوة اداكړې شو هغه پاك شو اوس د دې ساتل اوجمع كول منع نه دى. په قرآن كريم كښې چه د مال په جمع كولوباندې كوم وعيدراغلې دې هغه د هغه مال باره كښې دې د كوم چه زكوة نه وى اداكړې شوې. دې اوريدوسره حضرت عمر رضی الله عنه د تكبيرنعره اوچتولوسره د خوشحالئى اظهاراوكړو

قوله : وَذَكَرَ كَلِمَةً لِتَكُونَ لِمَنْ بَعْدَكُمْ:

دصحابه كرامو احتياط :- يعنى د ميراث د ذكركولونه پس حضورپاك يوه كلمه ارشاد فرمائيلې وه مكرمانه هغه هيره شوې ده. د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په دې لفظ سره هرسړى ته اندازه كيدې شى چه صحابه كرامو به د حضورپاك احاديث بيانولو كښې څومره احتياط كولو. اود روايت بالمعنى په ځائى به ئى د اصلى لفظ بيانولو څومره اهتمام كولو.

[١٧٨٢] د عاملانو خوشحاله ساتلو د زكات په تكميل كښې كردار

١٧٨٢—(١)[١١] [١] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] " «سَيَأْتِيكُمْ رُكَيْبٌ مُبَغَّضُونَ، [٣] فَإِذَا جَاءُوكُمْ فَرَحِّبُوا بِهِمْ، [٤] وَخَلُّوا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَبْتَغُونَ، [٥] فَإِنْ عَدَلُوا فَلِأَنْفُسِهِمْ، [٦] وَإِنْ ظَلَمُوا فَعَلَيْهِمْ، [٧] وَأَرْضُوهُمْ فَإِنَّ تَمَامَ زَكَاتِكُمْ رِضَاهُمْ، [٨] وَلْيَدْعُوا لَكُمْ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه : [١] حضرت جابر بن عتيك رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] تاسو ته به يو وړه شان قافله راشي (يعني زكات وصولونكي عاملين به راشي) چې مبغوض به وي (يعني په طبعي طور سره به خلق د هغې څخه نفرت كوي ځكه چې هغوى به د هغوئ څخه د مال اخستو د پاره راځي) [٣] نو كله چې تاسو ته هغه قافله راشي نو تاسو هغوى ته مرحبا (خوش آمديد) اووائي [٤] او د هغوئ په خدمت كښې د زكات مال حاضر كړئ [يعني د هغوئ او د هغوئ د طلب كونكى شي يعنى د زكات په مينځ كښې څه شي مه حائل كوئ] [٥] كه هغوى د زكات په باره كښې د عدل څخه كار اخلي نو دا د ځان د پاره كوي (چي د عدل ثواب به بيا مومى) [٦] او كه د ظلم معامله كوي نو د هغې وبال به په هغوئ وي [٧] تاسو خو زكات وصولونكي راضي كړئ او پوهه شئ چې ستاسو د طرف څخه په پوره زكات وركولو كښې د هغوئ رضامندي ده [٨] او عامل (زكات وصولونكو) ته پكار دي چې هغوى ستاسو د پاره دعا وكړي. (ابوداؤد)

---

[١] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الزكاة/باب رضا المصدق (رقم-١٥٨٨)

حل اللغات:- ① رُكَيْبٌ: دا دَ ركب تصغير دې دَ زكوٰة دَعاملينو وړه شان قافله مراد ده. ② مُبَغَّضُونَ: أَيْ يُبْغَضُونَ طَبْعًا: دا اسم مفعول صيغه ده، يعنى طبعى طورېه ئې ناخوښه وى، ③ فَرَحِّبُوا: يعنى مرحبا او پخير راغلى ورته اووايئ. ④ خَلُّوا: أَيْ اتْرُكُوا: يعنى هغوى پرېږدئ حائل ورته مه جوړېږئ، ⑤ يَبْتَغُونَ: أَيْ مَا يَطْلُبُونَ: كوم زكوٰة چه غواړى.

تسهيلات: قوله : مُبَغَّضُونَ ": عنى زكوٰة وصول كونكى به تاسو له راځى اوچونكه معامله دَ مال وركولو ده په دې وجه به په طبعى توګه داخلق ستاسو خوښ نه وى ليكن تاسو دَدوى په خوشحالئى سره هركلې كوئى.

قوله : وَإِنْ ظَلَمُوا:

په ظلم باندې د صبر تلقين:- يعنى هغوى به بالكل په تاسو ظلم نه كوى. ليكن فرض كړه كه ستاسو خيال وى چه داخلق هم ظلم كوى نوبيا هم دوى خوشحاله ساتئى دوى مه خرابه وئ. دَدې ترغيب دامطلب نه دې چه دَدوى ظلم جائزدې بلكه مطلب دادې چه تاسو په هرحال كښې خوشحاله ساتئى. دَ خوشحالولوترغيب دې ځكه چه دَاسلام عادلانه نظام هم په دې باندې قائم دې چه دَطرفين خلق په دې باندې تياركړې شى چه هغوى دې يوبل برداشت كړى. يوطرف ته اسلام دَ زكوٰة كاركنانوته په سختئى سره دَ انصاف نصيحت كوى اوبل طرف ته مالكانوته دَمالونو دَهرقسم حكم منلوترغيب وركوى. سبحان الله څه ښكلې دين دې.

[١٧٨٣] د زكات د عاملانو په ظلم صبر كول

١٧٨٣-(١)[١٣] ① وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ: ② «جَاءَ نَاسٌ - يَعْنِي مِنَ الْأَعْرَابِ - إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالُوا: ③ إِنَّ نَاسًا مِنَ الْمُصَدِّقِينَ يَأْتُونَا فَيَظْلِمُونَا، ④ فَقَالَ: "أَرْضُوا مُصَدِّقِيكُمْ"، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَإِنْ ظَلَمُونَا؟ ⑤ قَالَ: "أَرْضُوا مُصَدِّقِيكُمْ، وَإِنْ ظُلِمْتُمْ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت جرير بن عبدالله ﷺ وايي ② چه د صحرا څه خلق د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شو او عرض يي اوكړو ③ چې زكات وصولونكي ځني خلق مونږ ته راځي او مونږ سره د ظلم معامله كوي ④ حضور ﷺ هغوئ ته وفرمايل چې زكات وصولونكي راضي كړئ هغوئ عرض اوكړو چې يا رسول الله ﷺ اګر كه هغوى په مونږ ظلم كوي؟ ⑤ حضور ﷺ وفرمايل چې تاسو زكات وصولونكي راضي كړئ اګر كه تاسو سره د ظلم معامله وكړل شي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① الْمُصَدِّقِينَ: أَيْ آخِذُ الصَّدَقَةِ وَهُوَ الْعَامِلُ: عامل ته وائى كوم چه زكوٰة راټولوى. اوزكوٰة وركونكى مالك ته متصدق وائى. ② أَرْضُوا: راضى ، خوشحاله كړئ.

(١) اخرجه مسلم فى كتاب الزكاة/باب إرضاء السعاة (رقم) ٢٩ - (٩٨٩) وابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب رضا المصدق (رقم-١٥٨٩) والنسائى كتاب الزكاة/باب: إذا جاوز فى الصدقة (رقم-٢٤٦٠) واحمد فى المسند ٣٦٢/٤.

تسهیلات:

قوله: "أَرْضُوا مُصَدِّقِيكُمْ، وَإِنْ ظُلِمْتُمْ":

اشکال:-سوال په دې حدیث مبارك کښې مصدق (عامل) لره په ظاهره د ظلم اجازت ورکړې شوې دې حالانکه ظلم دده دپاره بالکل جائز نه دې؟

داشکال جواب:-جواب صدقه وصولونکی حضرات صحابه کرام وو او دهغوئ نه د ظلم صدور مشکل وو ځینې کلی والو خلقو دهغوئ جائز وصولی هم ظلم ګڼړلو په دې وجه نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیل چې تاسو که په خپل خیال کښې دا ظلم ګڼړئی بیا هم هغوی راضی کړئی د نبی کریم ﷺ ددې اعرابیانو نه د ظلم د تفصیل تپوس نه کول هم دلیل دې چې صحابه ظلم نشی کولې

[١٧٨٣] دزکات د څه حصې پټولو ممانعت

١٧٨٣-(١)[١٣] [١] «وَعَنْ بَشِيرِ بْنِ الْخَصَاصِيَّةِ قَالَ: [٢] قُلْنَا إِنَّ أَهْلَ الصَّدَقَةِ يَعْتَدُونَ عَلَيْنَا، [٣] أَفَنَكْتُمُ مِنْ أَمْوَالِنَا بِقَدْرِ مَا يَعْتَدُونَ؟ [٤] قَالَ: "لَا"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] حضرت بشیر ابن الخصاصیة رضی الله عنه وایي [٢] چې مونږ رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چې زکات وصولونکي په مونږ زیاتي کوي (یعني په زکات کښې د واجب مقدار څخه زیات اخلي) [٣] نو آیا مونږ د خپل مال څخه هغومره حصه پټه کړو څومره چې هغه زمونږ څخه زیات وصولوي؟ [٤] حضور ﷺ وفرمایل چې نا. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① يَعْتَدُونَ: أَيْ يَظْلِمُونَ: ظلم اوزیاتې کوی. ② أَفَنَكْتُمُ: آیا مونږ پټولې شو.

تسهیلات: قوله: أَفَنَكْتُمُ مِنْ أَمْوَالِنَا بِقَدْرِ مَا يَعْتَدُونَ؟:

په اموال ظاهره کښې دزکات د عاملینو څخه د څه څیز پټولو عدم جواز:- یعنی فرض کړه که دَ زکوة راټولونکې په زکوة اخستلو کښې په مونږ باندې زیاتې کوی نو آیا مونږ داسې کولې شو چه دَمال څه حصه دَهغوی نه پټه کړو. حضورپاك منع کړل. په دې حدیث باندې دَ پوهیدلو دَپاره په دې خبره باندې ځان پوهه کړئی چه دَاسلامی حکومت حق دې چه هغوی دې دَخلقو دَ ظاهر مال نه یعنی څاروو او عشر وغیره نه پخپله زکوة وصول کړی په دغه مالونو کښې دَ صاحب مال اختیار نشته چه هغه دې په خپله خوښه یوغریب ته ورکړی. بلکه دَهغوی ذمه واری ده چه هغوی دې دغه صدقات په بیت المال کښې جمع کړی. هم دې سره متعلق دا حکم دې چه دَ مال څه حصه پټه کیخودل او دَهغې صدقه نه اداکول جائزنه دی. اودَ اموال باطنه یعنی روپو اوپیسو معامله جدا ده هغه صاحب مال په خپله خوښه باندې فقیرانوته ورکولې شی. بهرحال دَاسلامی حکومت نه دَهغه حق پټول منع دی.

[١]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب رضا المصدق (رقم-١٥٨٦)

[١٧٨٥] د زکات د عاملانو اجر

١٧٨٥–(¹)[١٤] [١] وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«الْعَامِلُ عَلَى الصَّدَقَةِ بِالْحَقِّ كَالْغَازِي فِي سَبِيلِ اللهِ [٣] حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى بَيْتِهِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت رافع بن خدیج رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] په حق سره د زکوٰة وصولونکی عامل د الله جل جلاله په لار کښې (د جهاد کونکي) غازي په شان دي [٣] تر دي چې هغه خپل کور ته واپس راشي. (ابوداؤد ترمذي)

حل اللغات:– ① الْعَامِلُ: څوک چه زکوة راټولوی هغه ته عامل او مصدّق وائی. ② الْغَازِي: څوک چه دالله ددین د سربلندئ دپاره جهاد کوی.

تسهیلات:

قوله: كَالْغَازِي فِي سَبِيلِ اللهِ:

د مزکی د غازی سره د تشبه وجه:– یعنی زکوة وصول کونکي دَ ثواب په اعتبارسره دَ یو مجاهداوغازی په شان دي ځکه هغوی دَ اسلامی حکومت اودَ دین اسلام دَ یوحکم خدمت کوی سره دَدې چه هغه تنخواه هم اخلی لیکن بیا هم هغه ته لوئی اجرملاویږی. اسلام مسلمانان نیکوعبادتونو او دَ آخرت طرف ته متوجه کوی. په دې وجه دَ زکوة کارکنان صرف دَ مزدور اونوکر دَ حده پورې نه شی ساتلې بلکه هغوی ته اجر،ثواب او دَ عبادت تصور هم ورکولې شی. اوس به هغه په دې کارکښې دَ عبادت تصور مخې ته ساتی نوکار به دیانت او امانت سره کوی په هغې کښې به شوق او رغبت هم لری نو په کارکښې به ئی ترقی وی. دَدې برعکس دَ نن صبا حکمرانانو مسلمانان دَ دین په کار لګولو سره هم بې دینه جوړکړی دی ځکه چه دوی هغوی ته صرف دَ نوکرئی او مزدورئی تصور ورکوی لکه چه دَ پاکستان فوج دې هغوی ته صرف دَ نوکرئی تصور ورکولې شی. حالانکه یوفوجی یو مجاهد وی اودَ مجاهد درجه څومره لویه وی. کله چه دَ عبادت تصور نه وی نو نه په هغوی کښې دینداری او امانت شته نه شوق اونه رغبت شته صرف مزدوری او ملازمت دې.

[١٧٨٦] د زکات په باب کښې د جَلَب او جَنَب مطلب

١٧٨٦–(²)[١٥] [١] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«لَا جَلَبَ [٣] وَلَا جَنَبَ [٤] وَلَا تُؤْخَذُ صَدَقَاتُهُمْ إِلَّا فِي دُورِهِمْ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] عمرو ابن شعیب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه دخپل نیکه څخه او هغه د نبي کریم ﷺ څخه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [٢] چې زکات وصولونکي دي (د

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الخراج والإمارة والفیء/باب فی السعایة علی الصدقة (رقم-٢٩٣٦) والترمذی كتاب الزكاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی العامل علی الصدقة بالحق(رقم-٦٤٥) واحمد فی المسند ١٤٣/٤

(²) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الزكاة/باب أین تصدق الأموال(رقم-١٥٩١) واحمد فی المسند ٢١٥/٢

زکات د پاره، څاروی نه راغواړي ۳ او نه دي د څاروو مالک لرې ځي ۴ او د څاروؤ زکات دي د هغوئ په کورونو کښې واخستل شي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① جَلَبَ: جلب دَ راښکلو او په راښکلوسره دَ راوړلو په معنی کښې دې. ② جَنَبَ: جنب دَ لرې کیدو اوجدا کیدو په معنی کښې دې داهم نهی ده. ③ دُوْرِهِمْ: دور دَ دار جمع ده کورته وائی.

تسهیلات:

قوله: لَاجَلَبَ وَلَاجَنَبَ:

دزکات په باب کښې د جلب او جنب تفسیر:- د جلب او جنب په شان کلمات که چرې دَ زکوة په ابواب کښې راشی نودَدې هم دغه مطلبونه دی کوم چه پورته بیان کړې شوی دی خوکه دا کلمات دَ کتاب الجهاد دَ اسونو په منډه او مخکښې باب کښې راشی نوهلته دَدې مطلبونه بدلیږی. هلته دَ جلب اطلاق په دې باندې کیږی چه اس پسې یوسړې اولګی او په تیزه تیزه په هغه باندې چغې وهی اوهغه په منډه کړی دې دَپاره چه هغه دَ خپل مقابلې والا اس نه وړاندې شی. او دَاسونو په منډه کښې دَ جنب مطلب دادې چه یواس سترې شی په مزه شی دَهغه په اړخ کښې یوخالی اس دې نو دغه سور په هغه خالی اس باندې ورټوپ کړو هغه ئی قابوکړو اومقابله ئی شروع کړه. دَ اسونو په منډه کښې دَدې عمل نه ځکه منع کړې شوې ده چه په جهادی تربیت کښې دَهریواس دَ طاقت اوقوت اودَ تربیت او مهارت پته اولګی چه کوم یواس تربیت یافته دې اوکوم یونه دې لیکن په دې عمل سره دا مقصد ختمیږی په دې وجه ئی منع کړې ده.

فائده:

د بیوع په باب کښې د جلب تفسیر:- دالفظ په بیوعات کښې هم استعمالیږی. هلته دَدې مطلب دادې چه دَ ښار لوئی سوداګر لاړشی او ښارته راتلونکې قافلې ټول مال واخلی او په خپله مرضئ باندې دَ ښار په خلقو خرڅه وی. دا تلقی الجلب دې کوم چه منع دې.

قوله: وَلَاتُؤْخَذُ صَدَقَاتُهُمْ إِلَّا فِي دُوْرِهِمْ:

دسابقه جملې تاکید:- داجمله دې نه وړاندې دواړو جملودَپاره تاکید دې. مطلب داچه زکوة هم کورونوسره اخلئی اوورکوئی دې دَپاره چه چاته تکلیف نه وی.

[۱۷۸۷] دَ کټلې شوی مال دَزکات حکم

۱۷۸۷—(¹)[۱۲] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ "«مَنِ اسْتَفَادَ مَالًا فَلَا زَكَاةَ فِيهِ ۳ حَتّٰى يَحُوْلَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ»". ۴ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَذَكَرَ جَمَاعَةٌ أَنَّهُمْ وَقَفُوْهُ عَلَى ابْنِ عُمَرَ.

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزکاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء لا زکاة علی المال المستفاد حتی یحول علیه الحول (رقم-۶۳۲)

ترجمه: [١] حضرت ابن عمر رضي الله عنهما روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] چا ته چې مال حاصل شو تر هغه وخته پورې په هغه زکات نه واجبیږی [٣] تر څو پورې چې په هغې یو کال تیر نشي، [٤] امام ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړي دي او د یو جماعت په باره کې یې ویلی دی چې هغه دا حدیث په حضرت ابن عمر رضي الله عنهما باندې موقوف کړې دې (یعني دا د حضور ﷺ ارشاد گرامي نه دي بلکه پخپله د ابن عمر رضي الله عنه قول دي).

حل اللغات: - ① اِسْتَفَادَ: اوئې گټلو (د کال په مینځ کښې ئې څه مال اوگټلو) ② اَلْحَوْلُ: کال.

تسهیلات:

قوله: مَنِ اسْتَفَادَ مَالًا:

د مال مستفاد تعریف: - مال مستفاد هغه مال ته وائی کوم چه اصل نصاب سره دَ کال په مینځ کښې څه نور مال حاصل شي.

دَ نصاب مکمل کیدونه پس که انسان ته د کال په مینځ کښې کوم مال حاصل شی دَهغې درې صورتونه دی دوو کښې اتفاق دی او یو کښې اختلاف دې.

د کال په درمیان کښې د مال مستفاد درې صورتونه: - ① اول صورت دادې چه دَ کال په مینځ کښې کوم مال راغلې دې هغه دَ اصل نصاب دَ جنس نه نه دې مثلاً دَ اوښانو نصاب موجود دې د کال په مینځ کښې چیلئی راغلې په دې کښې دَ ائمه اتفاق دې چه دَدې چیلو دَپاره جدا کال تیرول ضروری دی دادَ اوښانو په شان نه دی.

② دویم صورت دادې چه اول نصاب موجود دې مثلاً ٣٥ اوښان دی یا دوه سوه درهم دی مگر د کال په مینځ کښې دَ دغه اوښانو بچی پیدا شو یا دَ تجارت په مال کښې زیاتې راغلې دې ته انتاج او ارباح وائی دَ فقهاؤ په دې کښې هم اتفاق دې چه حاصل شوی مال دَ اصل نصاب تابع دې دَ جدا کال تیریدلو ضرورت نشته دې.

③ دریم صورت دادې چه نوې حاصل شوې مستفاد مال دَ اصل نصاب دَ جنس نه دې مگر دَ دې دَ انتاج او ارباح نه نه دې یعنی دَدې نه بالکلً نه دې حاصل شوې بلکه په جدا ذریعه سره لاس ته راغلې دې مثلاً اول دَ اوښانو نصاب وو بیائی نور واخستل یا چا اوښان په صدقه کښې ورکړل یا په میراث کښې راغله. په دې صورت کښې دَ فقهاء کرامو اختلاف دې.

په دریم صورت کښې مذاهب: -

① امام شافعی رحمه الله امام احمد بن حنبل رحمه الله اسحاق بن راهویه رحمه الله په نیز دَدې گټلې شوی مال دَپاره هم کال تیریدل ضروری دی دا جدا مال دې دَ اول نصاب تابع نه دې.

② دَ امام ابوحنیفه رحمه الله او امام مالك رحمه الله په نیز دا مال دَ اصل نصاب تابع دې په دې وجه دَ کال تیریدل یا نصاب ته رسیدل شرط نه دې.

د اول فریق دلیل:- زیر بحث حدیث د اول فریق دلیل دې په کوم کښې چه په واضحه توګه سره ذکردی چه دګټلې شوې مال دَ پاره کال تیریدل شرط دی.

داول فریق د دلیل څخه جوابونه:- ① داحدیث دګټلې شوې مال په هغه صورتونو باندې محمول دې په کوم کښې چه دَ ټولو فقهاؤ اتفاق دې.

② دَدې حدیث مطلب او مفهوم هغه نه دې کوم چه شوافع اوحنابله اخستې دې بلکه دا دَ نوی سر نه حاصل شوې مالونوسره متعلق دې دکوم دَ کال تیردلو چه ټول قائل دی.

د دویم فریق دلائل:- ① دویم فریق هم زیر بحث حدیث خپل دلیل ګرځوی مګر دوی دَدې حدیث مفهوم هغه نه اخلی کوم چه اول فریق اخستې دې بلکه هغوی فرمائی چه "من استفادمالاً" مطلب دادې چه یو سړی ته دَ نوې سر نه دَ شروع په توګه که چرې مال حاصل شو نوترکومې چه په دغه مال باندې کال تیر نه شی په هغې کښې زکوة نشته دې.

② دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما اوحضرت عثمان رضی الله عنه هغه آثار د دوی دلیل دې په کوم کښې چه د ګټلې شوې مال د دَ پاره هغه حضرات دَ حولان حول شرط نه لګوی. دا آثار نصب الرایه نقل کړی دی.

③ دلیل عقلی هم د دوی مستدل دې دوی فرمائی چه کال کښې دَ اوږدې مودې نه روزانه نوې مال راځی بل مال زیاتیږی کمیږی که چرته دَ هر نوی مال دَپاره کال تیریدل شرط اولګولې شو نو په دې کښې لوئی حرج دې کوم چه دَ انسان دَ طاقت نه بهر دې. "والحرج مدفوع فی الشرع".

[١٧٨٨] د وجوب زکات څخه وړاندې د زکات ورکولو حکم

١٧٨٨-(١)[١٧] ١ وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ الْعَبَّاسَ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ فِي تَعْجِيلِ صَدَقَتِهِ قَبْلَ أَنْ تَحِلَّ، ٣ فَرَخَّصَ لَهُ فِي ذَلِكَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت علي رضی الله عنه فرمايي چې حضرت عباس رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه ٢ د کال پوره کيدو څخه مخکي د زکات زر ادا کولو په باره کښې ٣ نو حضور صلی الله علیه وسلم هغه ته اجازت ورکړه، (ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات:- ① تَحِلَّ: قَبْلَ أَنْ تَصِيرَ حَالًا بِمُضِيِّ الْحَوْلِ: یعنی اوس لا کال تیرشوې نه دې، کال لانه دې پوره شوې.

[١] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب فی تعجیل الزکاة(رقم-١٦٢٤) والترمذی کتاب الزکاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی تعجیل الزکاة(رقم-٦٧٨) وابن ماجة کتاب الزکاة/باب تعجیل الزکاة قبل محلها(رقم-١٧٩٥) والدارمی من کتاب الزکاة/باب فی تعجیل الزکاة (رقم-١٦٧٦) واحمد فی المسند ١/١٠٤

تسهیلات:

قوله: فَرَخَّصَ لَهُ فِي ذَٰلِكَ:

د تعجيل الزكاة حكم: - يعنى تراوسه پورې كال پوره نه دې مگر كه يو سړې دَخپل مال زكوة ويستل غواړي نودا سره دَاحنافو اكثر ائمه په نيزجائز دى اودَدې دَپاره دا شرط دې چه زكوة ويستونكې دَ شرعى نصاب مالك وى فقير نه وى.

[١٧٨٩] دَنابالغه ماشوم دَمال زكات

١٧٨٩-()[١٨] ١ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ ٢ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَطَبَ النَّاسَ فَقَالَ: ٣ " «أَلَا مَنْ وَلِيَ يَتِيمًا لَهُ مَالٌ فَلْيَتَّجِرْ فِيهِ، ٤ وَلَا يَتْرُكْهُ حَتَّى تَأْكُلَهُ الصَّدَقَةُ» ". ٥ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ فِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ، ٦ لِأَنَّ الْمُثَنَّى بْنَ الصَّبَّاحِ ضَعِيفٌ.

ترجمه: ١ عمرو بن شعيب دخپل پلار (شعيب څخه) او هغه د خپل نيکه (يعني د عبدالله رضي الله عنه) څخه نقل کړي دي ٢ چې يوه ورځ نبي کريم ﷺ د خلقو په مخکې په خطبه کښې وفرمايل ٣ چې خبردار کوم سړي چې د يو يتيم نګران وی او هغه يتيم (بقدر د نصاب) د مال مالک وي نو هغه نګران ته پکار دي چې د هغه په مال سره تجارت وکړي ٤ بغير د تجارت څخه دي د هغه مال نه اږدي چې زکات يي وخوري (يعني د زکات ورکولو سره به پوره مال ختم شي) ٥ دا روايت ابوداؤد او ترمذي نقل کړي دي، او امام ترمذي رحمه الله ويلي دي چې د دې روايت په اسناد کښې کلام شوي دي ٦ ځکه چې د روايت يو راوي مثني ابن صباح ضعيف دي.

حل اللغات: - ① وَلِيَ: نګران جوړشو، ② فَلْيَتَّجِرْ: تجارت يعنى اخستل خرڅول دې کوى.

تسهیلات:

قوله: حَتَّى تَأْكُلَهُ الصَّدَقَةُ:

د ماشوم په مال کښې د زکات په فرضيت کښې مذاهب: -

يعنى دَ يتيم په مال كښې تجارت جارى ساتلې دې دَپاره چه په زكوة وركولو سره دَ هغه مال زكوة اونه خورى. دَدې جملې نه معلوميږى چه دَنابالغ ماشوم په مال كښې زكوة شته. په دې مسئله كښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① دَجمهورو په نيزكه چرته ماشوم دَ نصاب مالك شى نودَهغه په مال كښې زكوة فرض دې. دَ ماشوم پالونكې او مشر به دَدغه مال نه زكوة وركوى. په صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې دَ يوې طبقې هم دغه مسلك دې.

② احناف عالمان، سفيان ثورى رحمه الله او ابراهيم نخعى رحمه الله په نيز دَماشوم په مال كښې

[١] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى زكاة مال اليتيم(رقم-٦٤١)

زکوة نشته دې. په صحابه کرامو رضي الله عنهم کښې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما هم دغه مسلك دې.

د اختلاف منشاء: - دلته په حقيقت کښې دا اختلاف په يوبل اختلاف باندې متفرع دې هغه اختلاف دادې چه آيا زکوة عبادت محضه دې يا مؤنه مالی دې. نود احنافو په نيز زکوة د عبادت محضه نه دې ماشوم غیرمکلف دې په هغه باندې عبادت نشته دې لهذا زکوة هم نشته. د جمهورو په نيز زکوة مؤنة مالی دې يعنی داسې بوج دې دکوم تعلق چه د مال سره دې لهذا که چرې ماشوم غیرمکلف وی د هغه د مال نه به زکوة ويستې شی.

داول فريق دليل: - زيربحث حديث د اول فريق مستدل دې.

داول فريق د دليل ځخه جوابونه: - ① چاول فريق د زير بحث روايت جواب دادې چه دا حديث امام ترمذی رحمه الله وغيره محدثينو ضعيف ګرځولې دې.

② زير بحث حديث کښې د صدقه لفظ راغلې دې دې نه زکوة مراد نه دې بلکه نور خرچ او اخراج مراد دې. کومه چه پخپله د يتيم خرچه ده د هغه د مشر خرچه ده د ماشوم د نورو ضرورتونو خرچه ده. په داسې خرچو سره خو مال ختميږی د زکوة په اداکولو سره مال نه ختميږی ځکه چه کله د نصاب نه کم شی نوبيا خو به په هغې کښې زکوة هم نه وی. حالانکه په حديث کښې دی چه صدقه خوړلو سره مال مه ختموئی. معلومه شوه د صدقه نه مراد زکوة نه دې نور ضروريات دی او د صدقې اطلاق په نورو ضرورتونو باندې ډير دی.

د دويم فريق دلائل: - ① هغه ټول نصوص د دويم فريق مستدلات دی دکومو نه چه معلوميږی چه ماشوم ته د مسئلو حکم نشته "رفع القلم عن ثلاثة" کښې ماشوم مرفوع القلم ګرځولې شوې دې.

② کتاب الآثار کښې د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دا اثر موجود دې "انه سئل عن مال اليتيم فقال احصن ماله ولا تزكيه" يعنی د هغه د مال حفاظت کوئی د هغې نه زکوة مه ورکوئی.

③ حسن بصری رحمه الله فرمائی "ليس في مال اليتيم زكوة وقال عليه اجماع الصحابة" (زجاجة المصابيح ج٢ص١٣٩٠)

④ يوروايت دې "عن ابن عباس قال لا يجب على مال الصغير زكوة حتى تجب عليه الصلوة" (رواه الدار قطنی)

په دې روايت کښې دې قاعدې او ضابطې طرف ته واضحه اشاره ده چه ماشوم غیرمکلف دې ترکومې چه هغه د مونځ مکلف نه دې د روژې او حج نه دې بلکه د ايمان مکلف نه دې نود زکوة به څنګه مکلف شی؟

......

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۷۹۰] د مانعین زکات خلاف د ابوبکر رضی الله عنه جهاد کول

۱۷۹۰-(۱)[۱۹] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: [۲] «لَمَّا تُوُفِّيَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَاسْتُخْلِفَ أَبُوبَكْرٍ بَعْدَهُ، [۳] وَكَفَرَ مَنْ كَفَرَ مِنَ الْعَرَبِ، [۴] قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لِأَبِي بَكْرٍ: [۵] كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۶] "أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، [۷] فَمَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ عَصَمَ مِنِّي مَالَهُ وَنَفْسَهُ إِلَّا بِحَقِّهِ وَحِسَابُهُ عَلَى اللَّهِ"؟

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي [۲] كله نبي كريم ﷺ چې وفات شو او حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه يي خليفه وګرځيدلو [۳] اوپه عربو كښې چې څوک كافران شو هغوئ كافران شو [يعني د زكات منكرين شو نو حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه د هغوئ سره د جنګ كولو فيصله وكړه دا فيصله اوريدو سره] [۴] حضرت عمر فاروق رضی الله عنه حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه ته عرض اوكړو [۵] چې ته د خلقو (يعني د اهل ايمان سره) څرنګه جنګ كوې حالانكه د رسول الله ﷺ ارشاد ګرامي دي [۶] چې ماته حكم راكړې شوي دي چې زه د خلقو سره تر هغه وخته پورې جنګ كوم تر څو پورې چې هغوئ لا اله الا الله ونه وايي (يعني اسلام رانه وړي) [۷] نو چا چې لا اله الا الله اوويله (يعني اسلام يي قبول كړو) هغه زما څخه خپل مال او خپل ځان محفوظ كړو، سوا د اسلام د حق څخه او د هغوی د باطن حساب د الله جل جلاله په ذمه دي،

[۱] فَقَالَ أَبُوبَكْرٍ: وَاللَّهِ لَأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ، [۲] فَإِنَّ الزَّكَاةَ حَقُّ الْمَالِ، [۳] وَاللَّهِ لَوْ مَنَعُونِي عَنَاقًا كَانُوا يُؤَدُّونَهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] لَقَاتَلْتُهُمْ عَلَى مَنْعِهَا، [۵] قَالَ عُمَرُ: فَوَاللَّهِ مَا هُوَ إِلَّا رَأَيْتُ أَنَّ اللَّهَ شَرَحَ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ لِلْقِتَالِ، [۶] فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه وفرمايل چې قسم په الله زه به د هغه سړي سره ضرور جنګ كوم چې په مانځه او زكاة كښې فرق وكړي [۲] [او ځكه څنګه چې د بدن حق مونځ دي دغه شان] بلا شبه د مال حق زكات دي [۳] قسم په خداي كوم خلق چې د زكات څخه منكر شوي دي ترڅو چې ماته د بزو هغه بچيان رانه كړي چې رسول الله ﷺ ته به يي وركول [۴] نو زه به د هغوئ سره د دې انكار په وجه جنګ كوم [۵] حضرت عمر رضی الله عنه (دې اوريدو سره) اوويل چې قسم په خداي د دې څخه علاوه بله خبره نشته چه زه پوهه شوم چې الله تعالى جل جلاله د جنګ د پاره (د الهام په ذريعه) د حضرت ابوبكر رضی الله عنه سينه خلاصه كړې ده (د په يقين نه يي كړې ده) [۶] نو ماته هم يقين وشو چې اوس [د دې منكرينِ زكات سره

(۱) اخرجه البخاری فی كتاب الزكاة/باب وجوب الزكاة (رقم-۱۳۹۹) وابوداود كتاب الزكاة (۱۵۵۶) والنسائی كتاب الجهاد/باب: وجوب الجهاد (رقم-۳۰۹۱) واحمد فی المسند ۱۹/۱

جنګ] حق او درست دي.

حل اللغات: - ① اسْتُخْلِفَ: أَيْ جُعِلَ خَلِيفَةً: يعني خليفه جوړشو. ② عَصَمَ: أَيْ حَفِظَ وَمَنَعَ: يعني محفوظ اوبچ شو. ③ إِلَّا بِحَقِّهِ: أَيْ بِحَقِّ الْإِسْلَامِ: داسلام دحق په وجه، ④ فَرَّقَ: فرق كوى، ⑤ عَنَاقًا: دَ چيلئ وړوكى بچى ته عناق وائى دائى. ⑥ شَرَحَ: خلاصه او فراښه كړې ده.

تسهيلات:

قوله: عَنَاقًا:

دَ مبالغه په توګه فرمائيلى دى ګنى دَ چيلئ بچې نه په زكوة كښې اخستې شى او نه په داسې بچو كښې زكوة وى. بعضې روايتونو كښې دَ عقال لفظ راغلې دې كوم چه دَ رسئ په معنى كښې دې هغه هم دَ مبالغه په توګه دې.

د حديث شان ورود: - كله چه رسول الله ﷺ دَ دنيا نه تشريف يوړو اوحضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه خليفه جوړشو هغه وخت په جزيرۀ عرب دَ ارتداد يوه ډيره لويه فتنه راوچته شوه. ٧٠فيصدخلق تقريباً دَ ارتداد ښكار شو مګر دَ دغه مرتدينو احوال جدا جدا وو. بعضې خوهغه خلق وو چه دَ دروغو نبوتونو دعوىٰ ئى اوكړه او ښه پوره ګنړشمير كښې خلق هغوى سره شو. بعضې هغه خلق وو چاچه اسلام پريخودو اودَ جاهليت اولى طرف ته واپس لاړل. بعضې هغه خلق وو چه دَ زكوة نه بالكل انكار اوكړو اوبعضې هغه خلق ووچاچه دَ زكوة نه خو انكار اونه كړو مګر حضرت ابوبكر رضي الله عنه ته دَ وركولونه ئى انكاراوكړو چه مونږ به اوس زكوة په بيت المال كښې نه جمع كوو. حضرت ابوبكر رضي الله عنه دغه ټولو خلقو سره دَ جنګ كولواراده اوكړه كوم خلق چه مرتد شوې وو هغوى سره خوئى په وجه دَ ارتداد اوكفر جهاداوكړو اوكوم خلق چه مونځ روژې پابندوو او كلمه ئى وئيله مګر حضرت ابوبكر رضي الله عنه ته ئى زكوة نه وركول غوښتل. هغوى سره دوى دَ شعائراسلام دَ حفاظت او فتنې دَ ختمولو په بنياد باندې جنګ اوكړو. حضرت عمر فاروق رضي الله عنه كوم بحث مباحثه كړې ده هغه هم دَدې قسم خلقو باره كښې وه چه دا خلق كلمه وائى تاسو دوى سره څنګه جنګ كوئى. حضرت ابوبكر رضي الله عنه اوفرمائيل چه كوم خلق په مونځ او زكوة كښې فرق كوى هغه مسلمان نه شى پاتې كيدې زه به هغوى سره جنګ كوم اوبيائى اوفرمائيل "تم الدين وانقطع الوحى اينقص الدين وانا حى؟" بيائى دَ حضرت عمر رضي الله عنه باره كښې اوفرمائيل "اجبارفى الجاهلية وخوارفى الاسلام؟" دَدې خبرو اترونه پس حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل چه الله تعالى زما سينه دَدې كاردَپاره كولاؤ كړه دكوم كاردَ پاره چه ئى دَ حضرت ابوبكر رضي الله عنه سينه كولاؤكړې وه. بهرحال دَمرتدينو خلاف پوره يوكال پورې په جزيرۀ عرب كښې جهاد اوشو او اسلام بيا هم په هغه خطوط باندې قائم شو كوم چه رسول الله ﷺ پريخودې وو.

[١٧٩١] د مال څخه اژدها جوړيدل

١٧٩١ـ(¹)[٢٠] ١ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ " «يَكُونُ كَنْزُ أَحَدِكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ ٣ يَفِرُّ مِنْهُ صَاحِبُهُ، وَهُوَ يَطْلُبُهُ ٤ حَتَّى يُلْقِمَهُ أَصَابِعَهُ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ١ حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ ستاسو خزانه به د قيامت په ورځ د ګنجي مار په صورت وي ٣ مالک به د هغې څخه تښتي او هغه به وربسې زغلي ٤ تر دي چې [هغه مار به مالک رالاندي کړي، اوبه يي خوری او] ګوتي به يي لقمه (نمړي، نواله) کړي. احمد

حل اللغات:- ① كَنْزٌ: خزانه، ② شُجَاعًا: أَيِ الْحَيَّةُ الذَّكَرُ: نر مار، ③ أَقْرَعَ: أَيِ الَّذِي لَا شَعْرَ عَلَى رَأْسِهِ: يعنى ګنجى مار، دداسې مار په سربانديې د زهرود زياتوالى د وجې نه يا د اوږد عمر د وجې نه ويښته نه وى دا د سخت خباثت او شدت نښه ده. ④ يَفِرُّ: تختى به دا سړې (خزانه جمع کونکې) ⑤ يُلْقِمَهُ: نمړئ، نواله به ئې کړى. ⑥ أَصَابِعَهُ: ګوتې (ځکه چه په دې ګوتو ئې مال ګټلي وو او زکوة ئې نه ورکولو).

تسهيلات:

قوله: كَنْزٌ:

د خزانې نه مراد هغه مال دې دکوم زکوة چه نه وى اداشوې. دغه شان هرحرام مال کوم چه په ناجائزه طريقه راجمع کړې شوې وى هغه هم د کنز په حکم کښې دې.

قوله: حَتَّى يُلْقِمَهُ:

د مذكوره جملې دوه مطلبه:- ① د دې جملې دوه مطلبه دى. اول مطلب دادې چه ګنجې مار به د مال هغه مالك لتوى تردې چه هغه به اووينى اوبيابه دې نوړئى کوى او تيره وى به ئى.

② دويم مطلب دادې چه ګنجې مار به زکوة نه اداکونکې لتوى او ګرځى به. هغه به د ده نه تختى مګر تختيدې به نه شى نو مجبوراً به خپل لاس او ګوتې پخپله د هغه اژدها په خله کښې ورکوى لکه څنګه چه په دنياکښې هم کيږى چه د مجبورئى په صورت کښې سړې پخپله د لوئى مصيبت په ځائى د وړوکى مصيبت د برداشت کولو د پاره تياريږى.

[١٧٩٢] د بى زكاته مال څخه مار جوړيدل

١٧٩٢ـ(²)[٢١] ١ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢ " «مَا مِنْ رَجُلٍ لَا يُؤَدِّي زَكَاةَ مَالِهِ ٣ إِلَّا جَعَلَ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي عُنُقِهِ شُجَاعًا» "، ٤ ثُمَّ قَرَأَ عَلَيْنَا مِصْدَاقَهُ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ ٥ ﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ﴾ [آل عمران: ١٨٠] » الْآيَةَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

¹) اخرجه احمد فى المسند : ٥٣٠/٢

²) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة آل عمران(رقم-٣٠١٢) والنسائى كتاب الزكاة/باب: التغليظ فى حبس الزكاة(رقم-٢٤٤١) وابن ماجة كتاب الزكاة/باب ما جاء فى منع الزكاة(رقم-١٧٨٤)

ترجمه: [١] حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه نقل كوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٢] كوم سړي چې د خپل مال زكات نه ادا كوي [٣] د قيامت په ورځ به د هغه په غاړه كښې يو مار زوړند كړې شي [٤] بيا حضور صلى الله عليه وسلم دا آيت اووئيلو (چې د اول فصل په يو حديث كښې پوره نقل شوي دي) [٥] وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهِ او هغه خلق چې هغوئ ته الله جل جلاله په خپل فضل سره مال وركړي دي او هغوى په دي كښې بخل كوي دا گمان دي نه كوي. (ترمذي، نسايي، ابن ماجه)

حل اللغات: - ① عُنُقِهِ: په څټ كښې، ② شُجَاعًا: أَيِ الْحَيَّةُ الذَّكَرُ: نر مار ③ يَبْخَلُونَ: بخل او كنجوسى كوى.

تسهيلات:

قوله: إِلَّا جَعَلَ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي عُنُقِهِ شُجَاعًا

دمار په صورت كښې دمال زكات نه ادا كولوسزا: - يعنى اول به مال نه مار جوړ شي او خپل مالك پسې به منډې وهي بيا به دده درانيولو نه پس دده په غاړه كښې طوق جوړ شي ،بيا به دده گوتې چوپى او چيچى بهٔ ئى داشان به ده ته عذاب وركولې كيږى

[١٧٩٣] په حلال مال كښې د حرام مال يو ځائې كولو نقصان

١٧٩٣ —(¹)[٢٢] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [٢] "«مَا خَالَطَتِ الزَّكَاةُ مَالًا قَطُّ إِلَّا أَهْلَكَتْهُ» ". [٣] رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ، وَالْبُخَارِيُّ فِي تَارِيخِهِ، وَالْحُمَيْدِيُّ، [٤] وَزَادَ: قَالَ: يَكُونُ قَدْ وَجَبَ عَلَيْكَ صَدَقَةٌ فَلَا تُخْرِجُهَا [٥] فَيُهْلِكُ الْحَرَامُ الْحَلَالَ، [٦] وَقَدِ احْتَجَّ بِهِ مَنْ يَرَى تَعْلِيقَ الزَّكَاةِ بِالْعَيْنِ هَكَذَا فِي الْمُنْتَقَى، [٧] وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ عَنْ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ بِإِسْنَادِهِ إِلَى عَائِشَةَ، [٨] وَقَالَ أَحْمَدُ فِي خَالَطَتْ.. [٩] تَفْسِيرُهُ أَنَّ الرَّجُلَ يَأْخُذُ الزَّكَاةَ وَهُوَ مُوسِرٌ أَوْ غَنِيٌّ وَإِنَّمَا هِيَ لِلْفُقَرَاءِ.

ترجمه: [١] بي بي عايشه رضي الله عنها وايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي [٢] چې په كوم مال كښې چې دزكات حق يو ځاى پاتې شي (گډوډ شى يعنى زكات ترينه ادا نه شى) هغه مال ضايع كيږى، [٣] (شافعي ،بخاري ،حميدي) [٤] حميدي رحمه الله داهم زيات نقل كړي دي (يعني د حديث وضاحت يي بيان كړي دي) چې بخاري رحمه الله وفرمايل هر كله چې په تا زكات واجب شي او ته زكات نه وكاږى (نو هغه زكات په مال كښې گډوډ . مخلوط شي) [٥] نو حرام مال حلال مال ضايع كوي [٦] كوم حضرات چې د دي خبري قايل دي چې زكات د عين مال سره متعلق دي، [نه د ذمّى سره نو هغوئ دا حديث د بخاري د مذكوره بالا وضاحت سره خپل دليل گرځولي دي] منتقي، [٧] بيهقي رحمه الله په شعب الايمان كښې دا روايت د امام احمد بن حنبل رحمه الله څخه د بي بي عايشي رضي الله عنها پورې د سلسلهٔ سند سره

¹) اخرجه الشافعي في مسنده ص ٩٩

نقل كړي دي [٨] نو امام احمد رحمه الله د حديث لفظ خالطت معنى يا د دې د تاويل په سلسله كښې... [٩] دا وضاحت كړي دي چې مثلاً يو سړي مالدار يا غني دي (راوي ته شك دي چې په روايت كښې اصل لفظ مُؤسر وو يا غَنِيٌّ) خو د دې با وجود هغه زكات اخلي حالانكه زكات خو يواځې د فقراؤ اومساكينو او مستحقينو د پاره جائز دي.

حل اللغات:- ① خَالَطَتِ: يوځائ شى، ورسره گډ شى، ② قَطُّ: كله هم، ③ بِالْعَيْنِ: عين مال، ④ مُوسِرٌ أَوْغَنِيٌّ: مالدار.

تسهیلات:

قوله: مَاخَالَطَتِ الزَّكَاةُ:

د زكات د مال سره د مال مخلوط كيدو دوه مطلبه:- اختلاط دَ ملاويدلواو گډوډ كيدلو په معنى كښې دې دلته دَ زكوة گډوډ كيدل مراد دى. دَ يوسړى په مال كښې دَ زكوة گډوډ كيدل په دوو معنو دى

① يو سړې مالدار او صاحب نصاب دې مگر هغه دَ خپل مال زكوة جدا كولوسره نه وركوى نوزكوة دَ هغه مال سره گډوډ پاتې كيږى نوكه زر وى اوكه څه وخت پس دا زكوة به دَدې سړى دا مال هلاك كوى هغه مال بې فائدې اوبې بركت پاتې كيږى دا بالكل تباه كيږى. دَ حديث پورتنې مطلب حضرت امام بخارى رحمه الله بيان كړې دې او راتلونكې دويم مفهوم امام احمدبن حنبل رحمه الله بيان كړې دې.

② دويم مفهوم كوم چه امام احمد رحمه الله بيان كړې دې هغه دادې چه يو سړې پخپله مالدار دې مگر هغه دَ خلقو زكوة اخلى اوخپل مال سره ئى يوځائى كوى په دې اختلاف او گډوډ كولوسره به هم دَدې سړى مال تباه كيږى. دَ نورو حرامو مالونو اثرهم دغه شان وى.

قوله: وَقَدِاحْتَجَّ بِهِ مَنْ يَرَى:

د زكات د متعلق بها دوه مطلبه:- ① يعنى دَدې حديث نه خلقو استدلال كړې دې دَ چارائې چه داده دَ زكوة تعلق دَ مال دَ ذات سره دې ذمه سره نه دې. صاحب مشكوة په دې جمله سره دَ فقهاؤ يو اختلاف طرف ته اشاره كړې ده هغه اختلاف داسې دې چه آيا دَ زكوة تعلق ذات دَ مال سره دې يا دَدې تعلق دَ مالدار سړى سره دې. كه چرې دَ زكوة تعلق ذات دَ مال سره دې نوچه كوم مال سره دَدې تعلق شو هم دَهغه مال نه به زكوة وركولې كيږى څه قيمت وغيره ادا كول به نه جائز كيږى اوكه دَ زكوة تعلق ذمه سره وى نودَدغه مال په بدله كښې دَ نورو مالونونه دَ هغې قيمت ادا كول به جائز شى.

② دويم آسان مطلب داسې دې چه آيا په زكوة كښې دقيمت وركول جائز دې كه نه؟ په دې كښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

په زكات كښې د قيمت په وركولو كښې مذاهب:-

① امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله فرمائي دفع القيم جائز نه دي.

② احناف عالمان فرمائي زكوة كښې قيمت وركول جائز دي مثلاً اوښ واجب وو مالك ذَهغې قيمت وركړو اواوښ ئې خپل ځان سره پاتې كړو

داول فريق دليل:- د اول فريق مستدل زير بحث حديث دي. اول معلومه شوې ده چه ذَ حديث دوه مطلبه دی نودې حضراتو ذَ حديث په اول مطلب باندې استدلال كړې دې چه ذَ خالطت مطلب دا شو چه زكوة ذَ ذات ذَ مال سره ګډوډ دې اوس به هم دا وركول وی بدل نه شی وركولې ځكه چه زكوة مال سره ملاؤ شوې دې.

داول فريق د مستدل څخه جواب:- دَدې حديث تشريح په دوه شان سره كړې شوې ده. شوافع دَدې نه هله استدلال كولې شی چه ذَ اختلاط ړومبې مفهوم او اولنئی شرح متعين وی حالانكه داسې نه ده. لهذا استدلال صحيح نه دې. مونږ دَدې حديث دوه شرحې اخلو كوم چه امام احمد رحمه الله كړې دی بل په قيمت وركولو كښې ذَ فقراؤ دَپاره ډير سهولت دې او په ذات وركولو كښې اكثر حرج وی. "والحرج مدفوع في الشرع".

د دويم فريق دليل:- دَ حضرت انس رضي الله عنه په حديث نمبر ١٧٧٣ كښې په واضحه توګه سره ذكر دی كه په يوسړی باندې درې كلن ښاروې واجب شو ليكن هغه سره دا نه وی بلكه دوه كلن وی نو زكوة ټولونكې دې ذَ هغه نه دوه كلن واخلی او شل درهم يا دوه چيلئی دې هم واخلی دلته مالك چه كوم درهم وركړی دی دا آخر ذَ زكوة قيمت خو دې؟ لهذا په زكوة كښې دفع القيم جائز دې.

[١] بَابُ مَا يَجِبُ فِيهِ الزَّكَاةُ]

په کوموڅیزونوکښې چه زکات واجبیږی دهغې بیان

خلاصة الباب :-

فيه أحد وعشرون حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① نصاب الزكوة: ١، ٣، ٦، ٧، ٩-

② ما لا يجب فيه الزكوة: ٣، ٢٠، ٢١-

③ ما يجب فيه الزكوة: ١٥، ١٦، ١٧، ١٨، ١٩-

④ ما يجب فيه العشر: ٤، ١٠، ١١، ١٤-

⑤ مايجب الخمس: ٥-

⑥ الزجر بالاعتداء فى الصدقة: ٨

⑦ حكم الخرص: ١١، ١٢، ١٣-

قال الله تعالى ﴿ وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ﴾ [سورت الانعام الايه: ١٤١] وقال الله تعالى ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ ﴾ [سورت بقره: ٢٦٧]

دوجوب زكات اجناس:- په شریعت کښې چې په کومو اجناسو باندې زکات واجبیږی هغه دا دی

① سره زر، ② سپین زر③ د کال په زیاته حصه کښې څریدونکي څاروی ④ د زمکې پیداوار، لکه فصلونه او میوې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٧٩٤]دزکات د نصاب تفصیل

١٧٩٣-()[1]① عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:② " «لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ مِنَ التَّمْرِ صَدَقَةٌ،③ وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ مِنَ الْوَرِقِ صَدَقَةٌ،④ وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ مِنَ الْإِبِلِ صَدَقَةٌ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب الزكاة/باب: ليس فيما دون خمس ذود صدقة (رقم-١٤٥٩) ومسلم فى كتاب الزكاة (رقم)١ - (٩٧٩) وابوداود كتاب الزكاة/باب ما تجب فيه الزكاة (رقم-١٥٥٨) والترمذى فى السنن كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى صدقة الزرع والتمر والحبوب(رقم-٦٢٦) والنسائى كتاب الزكاة/باب: زكاة الابل (رقم-٢٤٤٥) و ابن ماجة كتاب الزكاة/باب ما تجب فيه الزكاة من الأموال(رقم-١٧٩٣) والدارمى من كتاب الزكاة/باب ما لا يجب فيه الصدقة من الحبوب والورق والذهب(رقم-١٦٧٣) ومالك فى الموطا كتاب الزكاة / باب ما تجب فيه الزكاة (رقم-٢)

ترجمه: ١ حضرت ابو سعید خدري ﷺ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ د پنځه وسق څخه په کم خرماؤ [کجورو] کښې زکات واجب نه دي ٣ د پنځو اوقیه څخه په کم سپینو زرو کښې زکات واجب نه دي ٥ او د پنځو څخه په کم اوښانو کښې زکات واجب نه دي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① أَوْسُقٍ: د وَسْقٍ جمع ده. دا یو پیمانه ده یو وسق د شپیته (٦٠) صاع برابر وی، او یو صاع د څلور مُده برابر وی. ② أَوَاقٍ: د أُوقِيَّةٍ جمع ده. دا د وزن یو معیار دې، د دوه سوه ٢٠٠ گرامو برابر وی. یو اوقیه د څلویښتو درهمو برابر وی. ③ الْوَرِقِ: أَيِ الْفِضَّةِ: چاندی، سپین زر، ④ ذَوْدٍ: د دوه نه تر نهه اوښانو پورې جماعت ته ذود وائی.

تسهیلات:

قوله: لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ مِنَ التَّمْرِ صَدَقَةٌ:

د وسق د لفظ تحقیق: - په دې حدیث کښې دَ هرقسم مال دَ نصاب ذکر کړې شوې دې او دَنصاب نه په کم مال کښې دَ زکوة نفی کړې شوې ده. چنانچه په وسق کښې دَ زکوة دَ نفی ذکردې. یو وسق دَ ٦٠ صاع برابر وی او یو صاع ٢٧٠ تولو برابر وی. یوشاعر وئیلی دی:

صاع کوفی ہست اے مردے سلیم دو صد و ہفتاد تولہ مستقیم

دَمد په اعتبار یوصاع څلورمد باندې مشتمل وی او یو مد دَ دوو رطل برابر وی په دې حساب باندې یو صاع په اته رطل باندې مشتمل دې دا دَ ائمه احناف دَ رائې مطابق دې.

قوله: وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ مِنَ الْوَرِقِ صَدَقَةٌ:

د اواق د لفظ تحقیق: - اوقیه جمع ده یو اوقیه دَ څلویښت درهم برابر وی. دغه شان پنځه اوقیه دَ سلو درهم برابر شو. دوه سو درهم دَ دوه نیم پنځوس تولې چاندئی برابر دی او هم دغه دَ چاندئی نصاب دې دې نه په کم کښې زکوة نشته دې. دوه نیم پنځوس تولې چاندئی دَ مارکیټ دَ قیمت مطابق به په پاکستانی روپو کښې زکوة اداکولې شی. په هره څلویښتمه روپئی کښې یوه روپئی زکوة دې. دَ سرو زرو نصاب ٢٠ مثقال دې چه دَ اووه نیم تولې برابر دې. دَدې نه په کم سرو زرو کښې زکوة نشته دې. دَ اووه نیم تولې مارکیټ قیمت په اعتبارسره به په پاکستانی روپو کښې زکوة ورکولې شی. که یوسړی سره څه سره زر او څه چاندی یعنی سپین زر دی مثلاً پاؤباندې شپږویش تولې چاندی وی او دَ پاؤباندې شپږ ویش تولې چاندئی دَ قیمت برابر سره زر وی نودا دَ دوه نیم پنځوس تولې چاندئی نصاب دې په دې کښې به زکوة واجب وی.

قوله: وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ مِنَ الْإِبِلِ صَدَقَةٌ:

د ذود د لفظ تحقیق: - ①دا لفظ دَ ذال فتحه سره دې په خپله مادې سره دَدې مفرد نشته دې. دَ دوو نه واخله تر نهو پورې دَ اوښانو جماعت ته ذود وائی.

② بعضې وئیلی دی دَ دریو نه واخله تر لسو پورې اوښانو باندې دَ دې اطلاق کیږي.
بهرحال دَ پنځو نه په کمو اوښانو کښې زکوة نشته دې.

دزكات درې نصابات:- په دې حديث كښې دَ زكوة دَ دريو نصابونو ذكر كړې شوې دې.
① كهجور ② چاندی ③ اوښ. دَ روستو ذكر شوو نصابونو تفصيل او تشريح واضح هم ده او په دې كښې څه دَ ذكر قابل اختلاف هم نشته دې. البته دَ اول الذكر نصاب په تشريح اوتفصيل كښې اختلاف پيدا شوې دې كوم ته چه عشر نصاب وائی.

د زرعی پيداوار په مقدار كښې مذاهب:-

① دَ جمهورو او صاحبين په نيز دَعشر نصاب مقرر اومعين دې. پنځه وسق غله كښې زكوة دې اودې نه په كم كښې نشته دې. دَ غلې نه مراد هغه غله ده چه يوكال پورې كيخودو سره نه خرابيږی. نوكه خرابيږی بيا په هغې كښې زكوة نشته دې كه هغه دَپنځه وسق نه زيات ولې نه وی لكه سبزئی وغيره.

② دَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دَ زرعی پيداوار دَپاره څه نصاب نشته لږ وی اوكه ډير پائيدار وی اوكه ناپائيدار ټولو كښې عشر واجب دې.

داول فريق دلائل:- ① زير بحث حديث د اول فريق مستدل دې چه په خپل مقصود باندې واضح دليل دې.

② دَ حضرت علی رضی الله عنه حديث هم د اول فريق مستدل دې چه "انه عليه السلام قال ليس فی الخضروات صدقة"

د دويم فريق دليل:- ①دَ قرآن كريم آيت ﴿وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ﴾ [سورة البقرة: ٢٦٧] د د وي فريق مستدل دې چه دَفصل پرې كولو په ورځ دَ هغې حق اداكړئی دَحق نه مراد عشر دې.

جواب:- دَدې حديث تعلق دَ تجارت مالونوسره دې. حضورپاك دَ هغې دَ نصاب طرف ته اشاره فرمائيلې ده ځكه چه پنځه وسق غله به هغه وخت دَ دوو سوو درهم برابر وه. نو په حديث كښې دَ صدقه نه مراد عشر نه دې بلكه زكوة دې "كذاقال صاحب الهدايه والعينی".

② دَ قرآن كريم آيت ﴿وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ﴾ هم د دويم فريق مستدل دې. چه دَدې آيت نه زرعی پيداوار مراد دې اوهم دغه دَدې عشر دې.

③ دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما حديث نمبر١٧٩٧ د دويم فريق مستدل دې دكوم الفاظ چه داسې دی: ((عن عبدالله بن عمر عن النبی صلی الله عليه وسلم قال فيما سقت السماء والعيون اوكان عثريا العشر وما سقی بالنضح نصف العشر)) (بخاری) په دې حديث كښې ماسقت السماء عام دې چه اوبه كوم څيزهم خروب كړی كه هغه لږ وی اوكه ډير په هغې كښې عشر دې.

④ په نصب الرايه كښې دَحضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله دا فرمان هم ذكر دې هغوی حكم

ورکړو: "ان يأخذوا العشر من كل قليل وكثير فلم يعترض عليه احد"

⑤ دَ امت دَ فقیرانو دَپاره مصلحت هم په دې کښې دې چه په هریو لږ او ډیر پیداوار کښې عشر وی دې دَپاره چه مستحقین دَ زکوة دَپاره آسانی او فائده وی.

معمول به عمل:- بهرحال داخودَ دلائلو خبره وه مګر په دې مسئله کښې نن صبا پاکستان کښې حکومت دَجمهورو دَ قول مطابق دَعشرحکم جاری کړې دې چه دَپنځه وسق په حساب سره عشر واخلئی په کم کښې مه اخلئی.

[١٧٩٥] دَغلامانو او اسونو دَزکات حکم

١٧٩٥ –(١)[٢] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] " «لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ صَدَقَةٌ فِي عَبْدِهِ، وَلَا فِي فَرَسِهِ» " [٣] وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: " «لَيْسَ فِي عَبْدِهِ صَدَقَةٌ إِلَّا صَدَقَةُ الْفِطْرِ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] په هیڅ مسلمان باندې د هغه په غلام او د هغه په اسونو کښې زکات (واجب) نه دي [٣] د یو بل روایت الفاظ دي چې حضور ﷺ وفرمایل په مسلمان باندې د هغه په غلام کښې زکات واجب نه دي خو صدقه فطر واجب ده. (بخاري مسلم)

تسهیلات:

قوله: فِي عَبْدِهِ:

دې نه دَ خدمت غلامان مراد دی ځکه چه که غلام دَ تجارت دَپاره وی نو په هغې کښې زکوة فرض دې او دَ خدمت په غلامانو کښې دَ هیچا په نیز هم زکوة نشته دې.

قوله: وَلَا فِي فَرَسِهِ:

د فرس درې قسمونه:- فرس په درې قسمه دی. ① دَ سورلئی دَپاره ② دَتجارت دَپاره ③ دَ نسل زیاتولو دَ پاره. په اول قسم کښې دَچا په نیز هم زکوة نشته دې. په دویم قسم کښې دَ ټولو په نیز زکوة فرض دې او دریم قسم کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

د فرس په دریم قسم کښې په وجوب زکات کښې مذاهب:-

① دجمهورو او صاحبینو په اسونو کښې زکوة نشته

② دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز که چرې اسونه څرېدونکی صرف نران وی نو دَ اصح قول مطابق په هغې کښې زکوة نشته دې. او که چرې صرف ښځې اسپې وی نو دَ اصح قول

(١) اخرجه البخارى فى كتاب الزكاة/باب: ليس على المسلم فى عبده صدقة (رقم-١٤٦٤) ومسلم فى كتاب الزكاة/باب لا زكاة على المسلم فى عبده وفرسه (رقم) ٨ - (٩٨٢) وابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب صدقة الرقيق(رقم-١٥٩٥) والترمذى كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء ليس فى الخيل والرقيق صدقة(رقم-٦٢٨) والنسائى كتاب الزكاة/باب: زكاة الخيل(رقم-٢٤٦٧) وابن ماجة كتاب الزكاة/باب صدقة الخيل والرقيق(رقم-١٨١٢) ومالك فى الموطا كتاب الزكاة / باب ما جاء فى صدقة الرقيق والخيل والعسل(رقم-٣٧)

مطابق په دې کښې زکوة واجب دې او که چرې ګډوډ وی یعنی اسونه او سپې یوځائی شوې وی او پوره کال دَ څنګل په ګیا واښو باندې ګذاره کوی نو په دې کښې یقیناً ذکور دې. دَدې اقوالو دَ وجې نه چه صرف په ذکور کښې احتمال دَ نسل دَ زیاتیدو نه دې نو ډیروالې نشته نو زکوة هم نشته اوچه صرف اناث وی یا ګډوډ وی نو احتمال دَنسل دَ زیاتیدو دې نو ډیریدل شته نوزکوة هم شته.

داول فریق دلیل: -زیر بحث حدیث د اول فریق مستدل دې چه په خپل مقصود باندې ډیر واضح دلیل دې.

داول فریق د مستدل څخه جواب: - دې نه فرس غازی یا فرس خدمت مراد دې لکه څنګه چه دَ غلام نه دَ خدمت غلام مراد دې. بهرحال فتاوی قاضی خان او فتاوی عالمګیری کښې لیکلې دی چه دې مسئله کښې فتوی دَ صاحبینو اوجمهورو په قول باندې ده.

د دویم فریق دلائل: - ① دَ حضرت عمر فاروق رضی الله عنه یوه فیصله د دویم فریق مستدل ده. قصه داسې ده چه دَحضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې اسونه ډیر هم شو او قیمتی هم چنانچه یو سړې یو اس دَ سلو اوښانو په بدله کښې خرڅ کړو او بیاهم خوشحاله نه وو. هم په دغه زمانه کښې دَ شام دَعلاقې نه خلق راغله اودَ اسونو دَ زکوة ئی دَ حضرت عمر رضی الله عنه نه دَ مسئلې تپوس اوکړو. حضرت عمر رضی الله عنه دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم شوری راغونډه کړه په دې کښې ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم دَ اسونو دَزکوة مشوره ورکړه تردې چه حضرت علی رضی الله عنه هم مشوره ورکړه. نوبیا حضرت عمر رضی الله عنه دَ اسونودَ زکوة حکم ورکړو. دَحضرت عمر رضی الله عنه نه دَ اسونو دَزکوة دَدې روایت تخریج ډیرو زیاتو محدثینو کړې دې. چنانچه مسنداحمد، طبرانی، طحاوی، دارقطنی اومستدرك حاکم کښې دا اثر دَحضرت عمر رضی الله عنه په حواله سره ذکر دې.

② هغه اوږد حدیث هم د دویم فریق مستدل دې په کوم کښې چه "ثم لم ینس حق الله فی ظهورها ولا رقابها" الفاظ دی. (مشکوة ص١٥٥)

٪ تقطیع [١٧٩٦] دَاوښانودَ زکات تفصیل

١٧٩٦- (١)[٣] ١ «وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ كَتَبَ لَهُ هَذَا الْكِتَابَ لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْبَحْرَيْنِ: ٢ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ هَذِهِ فَرِيضَةُ الصَّدَقَةِ الَّتِي فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى الْمُسْلِمِينَ، ٣ وَالَّتِي أَمَرَ اللَّهُ بِهَا رَسُولَهُ، ٤ فَمَنْ سُئِلَهَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى وَجْهِهَا فَلْيُعْطِهَا، ٥ وَمَنْ سُئِلَ فَوْقَهَا فَلَا يُعْطِ ٦ فِي أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ مِنَ

[١] اخرجه البخاری مقطعا فی ثمان امكنة فی الجزء الثالث فی الاماكن التالية الحديث: كتاب الزكاة/باب زكاة الغنم (رقم-١٤٥٤) والحديث : كتاب الزكاة/باب من بلغت عنده صدقة بنت مخاض وليست عنده (رقم-١٤٥٣) والحديث: كتاب الزكاة/باب العرض فی الزكاة (رقم-١٤٤٨) والحديث: كتاب الزكاة/باب: لا تؤخذ فی الصدقة هرمة ولا ذات عوار، ولا تيس، إلا ما شاء المصدق (رقم-١٤٥٥) والحديث كتاب الزكاة/باب: لا يجمع بين متفرق، ولا يفرق بين مجتمع (رقم-١٤٥٠)

الْإِبِلِ، فَمَا دُونَهَا مِنَ الْغَنَمِ مِنْ كُلِّ خَمْسٍ شَاةٌ ٧ فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا وَعِشْرِينَ إِلَى خَمْسٍ وَثَلَاثِينَ فَفِيهَا بِنْتُ مَخَاضٍ أُنْثَى، ٨ فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَثَلَاثِينَ إِلَى خَمْسٍ وَأَرْبَعِينَ فَفِيهَا بِنْتُ لَبُونٍ أُنْثَى، ٩ فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَأَرْبَعِينَ إِلَى سِتِّينَ فَفِيهَا حِقَّةٌ طَرُوقَةُ الْجَمَلِ، ١٠ فَإِذَا بَلَغَتْ وَاحِدَةً وَسِتِّينَ إِلَى خَمْسٍ وَسَبْعِينَ فَفِيهَا جَذَعَةٌ، ١١ فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَسَبْعِينَ إِلَى تِسْعِينَ فَفِيهَا بِنْتَا لَبُونٍ، ١٢ فَإِذَا بَلَغَتْ إِحْدَى وَتِسْعِينَ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِيهَا حِقَّتَانِ طَرُوقَتَا الْجَمَلِ، ١٣ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِي كُلِّ أَرْبَعِينَ بِنْتُ لَبُونٍ، ١٤ وَفِي خَمْسِينَ حِقَّةٌ ١٥ وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ إِلَّا أَرْبَعٌ مِنَ الْإِبِلِ فَلَيْسَ فِيهَا صَدَقَةٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا،

ترجمه: ١ د حضرت انس رضی الله عنه په باره کښې روایت دي کوم وخت چې امیر المؤمنین حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه هغه بحرین (چي بصرې ته نژدې د یو ځاي نوم دي) ته اولیږلو نو هغه ته یي دا هدایت نامه تحریر کړه ٢ د الله جل جلاله په نامه سره شروع کوم چې رحمٰن او رحیم دي دا د هغه صدقۀ فرض (زکات) په باره کښې هدایت نامه ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی جل جلاله په حکم سره په مسلمانانو فرض کړه ٣ او الله تعالی جل جلاله د دې د نافذ کیدو په باره کښې خپل رسول صلی الله علیه وسلم ته حکم وفرمایلو ٤ د کوم سړي څخه چې د قاعدي مطابق د زکات مطالبه وشي نو هغه دي ادائیګي اوکړی ٥ او د کوم سړي څخه چې د شرعي مقدار څخه زیاته مطالبه وشي هغه دي [د زائد مطالبي] ادائیګي نه کوي ٦ (د زکا ت نصاب دا دي چه) په څلورویشت (٢۴) او د څلورویشتو څخه په کم اوښانو باندې په زکات کښې د هرو پنځو اوښانو کښ یوه بزه ده [یعنی د پنځه اوښانو څخه په کم کښې زکات نشته او د پنځۀ څخه تر نهه پورې یوه بزه ده د لسو څخه تر څوارلسو پورې دوه بزې (چیلۍ) د پنځلس څخه تر نولس پورې څلور بزې (چیلۍ) او د شلو څخه تر څلورویښتو پورې څلور بزې واجب دي] ٧ هر کله چې تعداد د پنځویشت څخه پنځه دیرش پورې شی نو په هغې کښې یوه داسې اوښه ده چې د یو کال وي ٨ د شپږ دیرش څخه تر پنځه څلویښت پورې په کښې یوه داسې اوښه ده چې د دوؤ کالو وي ٩ د شپږ څلویښت څخه تر شپیتو پورې په کې یوه داسې اوښه چې د څلورو کالو وي او د اوښ سره د جفتي قابله وي ١٠ د یو شپیتو څخه تر پنځه اویا پورې په کې یوه داسې اوښه ده چې د خپل عمر څلورم کال ختمولو سره په پنځم کال کښې داخله شي ١١ او د شپږ اویا څخه تر نوي پورې په کې دوه داسې اوښې دی چې د دوو کلو وي ١٢ بیا د یو نوي څخه تر یو سل شل پورې په کښې دوه داسې اوښې دی چې د دري دري کالو وي او د اوښ سره د جفتي قابلي وي ١٣ او هر کله چې تعداد د یو سل شل څخه زیات شی نو د هغه طریقه به دا وي چې په هغه زاید اوښو کښې به د هر څلویښت په زیاتي د دوو کالو او ښه واجبیږی ١۴ اوپه پنځوسو کښې یوه حقه ده ١٥ او که د چا سره یواځی څلور اوښان وي نو په هغې زکات واجب نه دي خو که هغه سړي وغواړي نو [د نفل صدقه په طور دي] څه ورکړي

[١] فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا فَفِيهَا شَاةٌ، [٢] وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ مِنَ الْإِبِلِ صَدَقَةُ الْجَذَعَةِ [٣] وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ جَذَعَةٌ وَعِنْدَهُ حِقَّةٌ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ فِيهِ الْحِقَّةُ [٤] وَيُجْعَلُ مَعَهَا شَاتَيْنِ إِنِ اسْتَيْسَرَتَا لَهُ، أَوْ عِشْرِينَ دِرْهَمًا، [٥] وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ صَدَقَةُ الْحِقَّةِ، [٦] وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ الْحِقَّةُ وَعِنْدَهُ الْجَذَعَةُ [٧] فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ الْجَذَعَةُ، [٨] وَيُعْطِيهِ الْمُصَدِّقُ عِشْرِينَ دِرْهَمًا، أَوْ شَاتَيْنِ، [٩] وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ صَدَقَةُ الْحِقَّةِ [١٠] وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ إِلَّا بِنْتُ لَبُونٍ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ بِنْتُ لَبُونٍ [١١] وَيُعْطِي شَاتَيْنِ أَوْ عِشْرِينَ دِرْهَمًا،

ترجمه: [١] هر کله چې پنځه اوښان وي نو په هغي کښې به د زکات په طور يوه بزه واجبيږي [٢] او د کوم سړي چې دومره اوښان وي چې په هغې کښې د زکات په طور داسې اوښه واجب کيږي چې څلور کاله پوره کولو سره په پنځم کال کښې داخله شوي وي (يعني د يو شپيته څخه تر پنځه اويا پورې په تعداد کښې) [٣] او د هغه سره د څلور کالو اوښه نه وي چې د زکات په طور يې ورکړي بلکه د دريو کالو اوښه موجود وي نو د هغه څخه د دريو کالو اُوښه په زکات کښې قبليدي شي [٤] خو زکات ورکونکي به د هغه دري کالو اوښې سره سره که هغه موجود وي نو دوه بزي (چيلۍ)، ګينی په بل صورت کې شل درهم دي ادا کړی [٥] او که د چا سره د اوښانو داسې تعداد وي چې په هغه کښې د دريو کالو اوښه واجبيږی (يعني د شپږ څلويښت څخه تر شپيتو پورې تعداد) [٦] او د هغه سره دري کليزه څه اُوښه په زکات کښې د ورکولو د پاره نه وي بلکه د څلورو کلو اوښه وي [٧] نو د هغه څخه به د څلورو کالو اوښه اخستل کيږی [٨] خو زکات وصولونکي دي هغه ته دوه بزي (چيلۍ) يا شل درهم واپس کړي [٩] او که د چا سره د اوښانو دومره تعداد نور وي چې په هغې کښې د دريو کالو اوښه واجب کيږی [١٠] او هغه سره ددري کلو هيڅ اوښه نه وي بلکه د دوو کلو اوښه وی نو د هغه څخه دی دوه کليزه اوښه واخستل شي [١١] البته زکات ورکونکي دي دوه بزي (چيلۍ) يا شل درهم هم د هغې سره ورکړي

[١] وَمَنْ بَلَغَتْ صَدَقَتُهُ بِنْتَ لَبُونٍ وَعِنْدَهُ حِقَّةٌ [٢] فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ الْحِقَّةُ وَيُعْطِيهِ الْمُصَدِّقُ عِشْرِينَ دِرْهَمًا، أَوْ شَاتَيْنِ، [٣] وَمَنْ بَلَغَتْ صَدَقَتُهُ بِنْتَ لَبُونٍ وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ [٤] وَعِنْدَهُ بِنْتُ مَخَاضٍ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ بِنْتُ مَخَاضٍ، [٥] وَيُعْطِي مَعَهَا عِشْرِينَ دِرْهَمًا، أَوْ شَاتَيْنِ، [٦] وَمَنْ بَلَغَتْ صَدَقَتُهُ بِنْتَ مَخَاضٍ وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ [٧] وَعِنْدَهُ بِنْتُ لَبُونٍ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ، [٨] وَيُعْطِيهِ الْمُصَدِّقُ عِشْرِينَ دِرْهَمًا، أَوْ شَاتَيْنِ،

ترجمه: [١] او که د چا سره په دومره تعداد کښې اوښان وي چې په هغې کښې د دوو کالو اوښه واجبيږی [الکه د شپږ ديرش څخه تر پنځه څلويښت پورې تعداد] او د هغه سره [د دوه کليزه اوښی په ځاي] دري کليزه اوښه وي [٢] نو د هغه څخه دي دري کليزه اوښه واخستل شي خو زکات وصولونکي دی هغه ته شل درهم يا دوه بزي (چيلۍ) ورکړی [٣] او که د چا سره په دومره تعداد کې اوښان وي چې په هغه کښې دوه کليزه اوښه واجب کيږی او د هغه سره نه وي [٤] بلکه يو کليزه اوښه ورسره وي نو د هغه څخه دي يو کليزه اوښه واخستل

شي ٥ او هغه زکات ورکونکي دی د هغې سره شل درهم یا دوه بزي (چیلۍ) هم ورکړي ٦ او که د یو سړي سره په دومره تعداد کښې اوښان وي چې په هغې کښې د یوه کال اوښه واجبیږی [الکه د شلو څخه تر پنځه ویشت پورې تعداد] او د یو کال اوښه د هغه سره نه وي ٧ بلکه د دوو کالو اوښه ورسره وي نو د هغه څخه دي دغه د دوو کالو اوښه واخلي ٨ خو زکات وصولونکي دي هغه ته دوه بزي (چیلۍ) یا شل درهمه ورکړي.

> ١ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ عِنْدَهُ بِنْتُ مَخَاضٍ عَلَى وَجْهِهَا ٢ وَعِنْدَهُ ابْنُ لَبُونٍ فَإِنَّهُ يُقْبَلُ مِنْهُ، وَلَيْسَ مَعَهُ شَيْءٌ ٣ وَفِي صَدَقَةِ الْغَنَمِ فِي سَائِمَتِهَا إِذَا كَانَتْ أَرْبَعِينَ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ شَاةٌ، ٤ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ إِلَى مِائَتَيْنِ فَفِيهَا شَاتَانِ، ٥ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى مِائَتَيْنِ إِلَى ثَلَاثِمِائَةٍ فَفِيهَا ثَلَاثُ شِيَاهٍ، ٦ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى ثَلَاثِمِائَةٍ فَفِي كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ، ٧ فَإِذَا كَانَتْ سَائِمَةُ الرَّجُلِ نَاقِصَةً مِنْ أَرْبَعِينَ شَاةً وَاحِدَةً ٨ فَلَيْسَ فِيهَا صَدَقَةٌ، إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا ٩ وَلَا تُخْرَجُ فِي الصَّدَقَةِ هَرِمَةٌ، وَلَا ذَاتُ عَوَارٍ ١٠ وَلَا تَيْسٌ، إِلَّا مَا شَاءَ الْمُصَدِّقُ ١١ وَلَا يُجْمَعُ بَيْنَ مُتَفَرِّقٍ، وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ، خَشْيَةَ الصَّدَقَةِ، ١٢ وَمَا كَانَ مِنْ خَلِيطَيْنِ فَإِنَّهُمَا يَتَرَاجَعَانِ بَيْنَهُمَا بِالسَّوِيَّةِ ١٣ وَفِي الرِّقَةِ رُبُعُ الْعُشْرِ ١٤ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ إِلَّا تِسْعِينَ وَمِائَةً ١٥ فَلَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ او که د هغه سره د ورکولو قابله د یوه کال اوښه نه وي او نه ورسره د دوو کالو اوښه وي ٢ بلکه د دوو کالو اوښ ورسره وي نو هغه اوښ دي ځیني واخستل شي خو په دي صورت کښې څه بل شي واجب نه دي [نه خو دي زکات اخستونکي څه واپس کوي او نه دي زکات ورکونکي څه ورکوي] ٣ او د څریدونکو بزو د زکات نصاب دا دي هر کله چې د بزو تعداد د څلویښتو څخه د یو سل شلو پورې وي ٤ نو یوه بزه واجبیږی او که د یو سل شلو څخه زیاتې وي نو تر دوه سوه پورې تعداد باندې دوه بزي (چیلۍ) واجبیږی ٥ او هر کله چې د دوو سوه څخه زیاتي وي نو دري سوۀ پورې باندې دري بزي (چیلۍ) واجبیږی ٦ او هر کله چې د دري سوو څخه زیاتي شی نو بیا به دا حساب وي چې په هر سلو بزو کښې به یوه بزه واجبیږی ٧ د کوم سړي سره چې څریدونکي بزي (چیلۍ) د څلویښتو څخه یوه هم کمه وي ٨ نو په هغې کښې زکات نه واجبیږی خو که د بزو مالک وغواړي نو د نفل صدقي په طور څه ورکولي شی ٩ (د دي خبري دي خیال ساتل کیږی چه) په زکات کښې که اوښان وي که غوایان او که بزي (چیلۍ) بوډۍ (زړي) او عیب داره دي نه ورکول کیږی ١٠ او نه دي نر اوزګړۍ ورکول کیږی هو که زکات وصولونکي [د څه مصلحت تحت] اوزګړي اخستل غواړي [نو درست دي] ١١ او متفرق څاروی یو ځاي کول نه دي پکار او نه دي د زکات د خوف څخه څاروی جدا جدا کړل شي ١٢ او په کوم نصاب کښې چې دوه سړي شریک وي نو هغوئ ته پکار دي چې هغه دواړه برابر برابر تقسم وکړي ١٣ او په سپینو زرو کښې څلویښتمه حصه د زکات په طور ورکول فرض دي ١٤ خو که د چا سره یواځې یو سل نوي درهم وي (یعني د نصاب شرعي مالک نه وي) ١٥ نو په هغه هیڅ فرض نه دي خو که

هغه د نفلي صدقې په طور څه ورکول غواړي نو ورکولې يې شي. (بخاري)

حل اللغات: - ① وَجَّهَهُ: أَيْ حِينَ أَرْسَلَهُ: يعنې کوم وخت نې چه ليږلو. ② عَلَى وَجْهِهَا: أَيْ كَائِنَةً عَلَى الْوَجْهِ الْمَشْرُوعِ: دشريعت مطابق، ③ فَلْيُعْطِهَا: نوادا دې کړي. ④ بِنْتُ مَخَاضٍ: داهغه اوښه ده چه دَيوکال کيدوسره دويم کال شروع شوې وي. ⑤ بِنْتُ لَبُونٍ: دا هغه اوښه ده چه دَ دوو کالوکيدوسره دريم کال شروع شوې وي. ⑥ حِقَّةٌ: دا هغه اوښه ده چه دَدريوکالوکيدوسره څلورم کال شروع شوې وي دې ته "طروقة الجمل" هم وائي يعنې اوښه دَ اوښ سره دَملاويدو قابل شوې ده. ⑦ طَرُوقَةُ: چه نر اوښ نې جفتي کولې شي. ⑧ جَذَعَةٌ: دا هغه اوښه ده چه دَ څلورو کالوکيدوسره پنځم کال شروع شوی وي. ⑨ رَبُّهَا: أَيْ مَالِكُهَا: مالک ددې اوښانو. ⑩ سَائِمَةٌ: چه دکال اکثره حصه کښې څريدلې وي، ⑪ هَرِمَةٌ: ډيره زړه يعنې بوډئ، ⑫ ذَاتُ عَوَارٍ: أَيْ صَاحِبَةُ عَيْبٍ: عيبداره او نقصان والا، ⑬ وَلَا تَيْسُ: أَيْ فَحْلُ الْغَنَمِ: نر چيلې، ⑭ خَلِيطَيْنِ: شريک وي دوه کسان، ⑮ الرِّقَةِ: دسپينو زرو دراهم.

تسهيلات: قوله : فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا فَفِيهَا شَاةٌ:

دَ اوښانو په زکات کښې اتفاقي، مختلف استينافات: - دَ اوښانونصاب پنځه دې دَدې نه په کم کښې زکوة نشته دې.

① دَ پنځونه واخله تر څليريش پورې په هرو پنځو اوښانو باندې يوه چيلئ ده.

② دَ پنځه ويش نه تر پنځه ديرش پورې يو دوه کلن بچې دې.

③ دَ شپږ ويش نه تر پنځه څلويښت پورې يو درې کلن بچې دې.

④ دَ څلويښتو نه تر شپيتو پورې يو څلور کلن بچې دې

⑤ دَ يوشپيته نه تر پنځه اوياؤ پورې يو پنځه کلن بچې دې.

⑥ دَ شپږ اويا نه تر يوکم سل پورې دوه درې کلن بچې دې.

⑦ نهه کم سل نه تر شپږ شلې پورې دوه څلور کلن بچې دې.

په استيناف اول کښې مذاهب: -

تردې ځائې پورې دَ زکوة په حساب کښې دَچا اختلاف نشته دې. دَدې نه پس حساب کښې دَ ائمه اربعه اختلاف دې.

① دَ ائمه ثلاثه په نيز دَ شپږ شلو نه پس به استيناف نه کيږي بلکه مدار به په اربعينات او خمسينات باندې وي چنانچه دَ حنابله او شوافع په نيز ١٢١ مالکيه په نيز ١٣١ نه اربعينات او خمسينات سلسله شروع کيږي چه په هرو څلويښتو کښې يو درې کلن بچې او هر پنځوس کښې به يوڅلور کلن بچې واجب وي. مثلاً په ١٢١ کښې درې اربعينات دي نودرې درې کلن واجب دي او په ١٣٠ کښې دوه درې کلن او يو څلور کلن دي او په ١٤٠ کښې دوه څلور کلن او يو درې کلن دي.

② دَ ائمه احناف په نيز دَ ١٢٠ نه پس استيناف يعني دَ نوي سر نه به حساب شروع كيږي چه هر پنځواوښانو كښې به يوه چيلئي وي ٢٥ باندې يو دوه كلن دې. دا استيناف اول دې دا استيناف به ١٤٩ پورې چليږي كله چه اوښان ١٥٠ شي نو درې څلوركلن به واجب شي. په هرپنځوس باندې يوه څلوركلن دې دلته به استيناف اول ختم شي كه چرې دَ پنځوس نه زيات شي نو بيا په هر پنځوس باندې به دَ يوې چيلئي زياتوالي شروع كيږي او ٢٥باندې دوه كلن زياتيږي. "وقس على هذا" دا ستيناف ثاني ياديږي.

داول فريق دليل: - زيربحث حديث د اول فريق مستدل دې چه په خپله دعوىٰ باندې واضح دليل دې په دې كښې دَ اربعينات او ثمسينات ذكر موجود دې.

داول فريق د مستدل ځخه جواب: - په زير بحث حديث فريق ثاني هم زمونږ عمل دې ليكن دَعمرو بن حزم رضي الله عنه په روايت كښې چه كومه اضافه ده مونږهغه هم منو چه حضورپاك دكوم زياتي صدقې حكم وركړې دې نو دې حديث سره په دې باندې هم عمل كول پكاردي. مونږ چه څنګه په دوو حديثو باندې عمل كوو جمهورو له هم دغه شان كول پكاردي. او په دې كښې دَ فقيرانو فائده هم ده. باقي دَدې حديث څو مقامات داسې دي په كوم كښې چه دَ څناورو په ځائې دَ قيمت اداكولو ذكر دې دا هم دَائمه احناف دَپاره قيمت وركولو باندې مضبوط دليل دې دكوم اختلاف چه تيرشوې دې.

د دويم فريق دلائل: - ① حضورپاك دَ عمرو بن حزم رضي الله عنه په نوم باندې صدقات باندې مشتمل يوفرمان جاري كړې وو د هغې الفاظ دا دي: ((فاذاكانت اكثرمن عشرين ومأة يعاد الى اول فريضة الابل وماكان اقل من خمس وعشرين ففيه الغنم فى كل خمس شاة)) (مراسيل ابوداؤد)

② د حضرت علي رضي الله عنه اثر دې كوم چه دَمرفوع حديث په حكم كښې دې. الفاظ دادي: ((فاذازادت الابل على عشرين ومأة يستقبل بها الفريضة)) (مصنف ابن ابى شيبه ص ٣٨٥)

قوله: - وَلَا يُجْمَعُ بَيْنَ مُتَفَرِّقٍ، وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ، خَشْيَةَ الصَّدَقَةِ:

دخلطت دوه قسمونه: - په دې جملودَ پوهيدلودَپاره اول په خلطه باندې پوهيدل ضروري دي. خلطه دَ اختلاط نه دې اودَ اشتراك په معنى كښې دې. دَدې دوه قسمونه دي

① **خلطة الشيوع:** - مطلب دادې چه دَ دوو سړو مال دَملكيت په اعتبارسره شريك وي. ټول مال په دواړو كښې مشاع وي.

② **خلطة الجوار:** - دَ خلط الجوار مطلب دادې چه دَ دوو سړو مال دَ ملكيت په اعتبارسره جدا جدا وي اوصرف دَ انتظامي آسانئي په وجه په مال كښې اشتراك كړې شوې وي.

د خلطة الشيوع يا خلطة الجوار په وجوب زكات كښې مؤثر كيدو كښې مذاهب: -

① دَ جمهورو په نيز دَ زكوة په اداكولو كښې دَ دواړو قسمونو خلطه اعتبارشته. اودَهغوى

په نیز دَ خلطهٔ جوار دَ اشتراك دپاره یوڅو شرائط دی کوم چه لاندې درج دی:

د فریق اول په نیز د خلطت په وجه د وجوب زکات شرطونه:-

① دَ دواړو سړو دَمال دپاره دَڅرن په ځائی کښې یوځائی والې ضروری دې.
② چه نر کښې اتحاد وی.
③ چه په کور کښې اتحاد وی.
④ اوبه څکلو کښې اتحادوی.
⑤ په څرونکی کښې اتحادوی.
⑥ پئی لشونکی کښې اتحاد وی.
⑦ پئیو رالشلو کښې اتحادوی.
⑧ دَ تګ راتګ په طریقو کښې اتحادی وی.
⑨ دَ حفاظت سپی کښې اتحادوی.

② دَ احنافو په نیز دَ زکوة په اداکولو کښې صرف دَ مالك دَ ملکیت اعتبار دې دَ هیڅ قسم خلط اعتبار نشته دې.

دمذهبینو خلاصه:- دَ جمهورو په نیزکله چه په دې اختلاط باندې کال تیرشی نودې دواړو ته به خلیطین وئیلې شی اودَدواړو مال یوکیږی. دَ بحث خلاصه داشوه چه دَ جمهورو په نیز دَ زکوة مدار دَ چیلو په رمه اواشتراك اواتحادباندې دې اودَ احناف په نیزدَ زکوة مدار دَمال په ملکیت باندې دې.

د متفرق د جمع کولو صورتونه:- په زیربحث حدیث کښې په دوو څیزونوسره منع راغلې ده یو جمع بین المتفرق سره دویم تفریق بین المجتمع سره منع وارد ده. دَ احنافو په نیز دواړو څیزونو کښې منع مالك ته هم ده او څرونکی ته هم. دوه صورتونه دَ جمع کولو دی اودوه دَ جدا کولو دی ټول څلور صورتونه دی. دَ احنافو دَ تشریح مطابق دَ څلورو صورتونو مثالونه په خدمت کښې پیش کولې شی. په دې کښې په معمولی تامل سره دَ جمهورو تشریح هم په ذهن کښې راتلې شی. اول ولایجمع بین متفرق تشریح په مثالونوسره اوګورئی.

اول مثال:- فرض کړه دَ دووکسانو مشترکه اتیاچیلئی دی. دَ هریوڅلویښت څلویښت دی په کوم کښې چه په هر یو باندې یوه چلیئی واجب ده. اوس دواړو مالکانودا تدبیراوکړو چه دواړه حصې ئی راجمع کړې او یونصاب ئی جوړ کړو. په کوم کښې چه یوه چلیئی واجب ده نو په حدیث کښې دَدې نه ممانعت راغلې دې. "لایجمع بین متفرق خشیة زیادة الصدقة" په دې جمله کښې مالك ته خطاب دې.

دویم مثال:- فرض کړه دَدوو کسانو په ملکیت کښې څلویښت چیلئی وې. شل دَ یو او شل

دَ بل وی دا چیلئی په جدا جدا ملك كښې دی. په دې كښې دَ نصاب نه كيدو په وجه په يومالك باندې هم زكوة نشته دې مگر زكوة راټولونكی دا تدبير اوكړوچه دا جدا جدا ملكيت ئی رايوځائی كړو اويوملكيت ئی اوګرځولو اودَې نه ئی يوه چيلئی دَ زكوة په توګه وصول كړه. دا جمع بين المتفرق ده. دَ كوم نه چه ممانعت راغلې دې "ولايجمع الساعی بين متفرق خشية فوت الصدقة" په دې جمله كښې زكوة راټولونكی ته خطاب دې. اوس جمله ولايفرق بين مجتمع په مثال سره اوګورئی.

دريم مثال:- فرض كړه دَ يوسړی په ملكيت كښې څلويښت چيلئی وې دَ اصول مطابق په دې كښې يوه چيلئی واجب ده مگر ده دا تدبيراوكړوچه دا چيلئی ئی شل شل كولوسره جداكړې اوزكوة راټولونكی ته ئی اوويل چه دادَ دوو سړو مال دې لهذا په دې كښې زكوة نشته دې. دا "تفريق بين المجتمع" دې دكوم چه ممانعت راغلې دې. "ای لايفرق المالك بين مجتمع خشية وجوب الصدقة" په دې جمله كښې هم مالك ته خطاب دې.

څلورم مثال:- فرض كړه دَ يوسړی په ملكيت كښې اتياچيلئی جمع شوې. دَ اصول مطابق په دې كښې يوه چيلئی واجب وه ليكن زكوة راټولونكی دې تنګ كړو او وئی وئيل چه دادَ دوو كسانو مال دې په كوم كښې چه دوه چيلئی واجب دی. دلته زكوة راټولونكی تفريق بين المجتمع اوكړو. دې نه منع كړې شوې ده. "ولايفرق الساعی بين مجتمع خشية قلة الصدقة" په دې جمله كښې هم خطاب زكوة راټولونكی ته دې. "خشية الصدقة" دَ حديث داجمله مفعول له واقع ده دَدې تعلق پورته څلورو واړو صورتونوسره دې لكه چه په مثالونوسره واضح كړې شوی دی.

قوله:- وَمَاكَانَ مِنْ خَلِيطَيْنِ فَإِنَّهُمَا يَتَرَاجَعَانِ بَيْنَهُمَا بِالسَّوِيَّةِ:

د خلطة الشيوع په صورت كښې مراجعت:- يعنی كه دوو كسانو په مال كښې اختلاط او شراكت ساتلې وی اوساعی راتلوسره دَ دغه ګډوډ مال نه زكوة وصول كړو نوهريوشريك به دَ بل نه دَ خپل ملكيت دَ تناسب مطابق په قيمت كښې رجوع كوی. دَ خلطه بحث او رائطو بيان تيرشو. دلته دَ جمهورو په نيزدواړه قسم خلطه مراددی. ليكن دَ احنافو په نيزدلته صرف خلطة الشيوع مراددې.

قوله: فَإِنَّهُمَا يَتَرَاجَعَانِ بَيْنَهُمَا بِالسَّوِيَّةِ:

د تراجع بالسوية وضاحت:- دا تراجع بالسوية دَ احنافو دَ ذوق مطابق داسې ګڼړل پكاردی چه مثلاً دَ دوو كسانو په مينځ دَخلطة الشيوع په توګه شپږشلې چيلئی مشتركه وې په داسې توګه چه دَ يوكس اتياوې اودَ بل څلويښت چيلئی وې. په چيلوكښې دَ جدا ملكيت څه نښه نه وه. راټولونكې راغلو اودوه چيلئی ئی په زكوة كښې يوړې. اوس كتل دادی چه دَ

اتیا چیلو په مالك باندې څومره زكوة راځی اودَ څلویښتو په مالك به څومره راځی. نوښکاره خبره ده چه دَ اتیاؤ چیلو مالك په شپږ شلو چیلو كښې دَ دوه حصو مالك دې دَ څلویښتو چیلو مالك دَ یوې حصې مالك دې اوس به دَدواړو چیلو قیمت لګولوسره دَ یوحصې مال په حساب سره به دَ هغه مالك نه زكوة اخستې شی او زكوة به راځی په دې كښې چه كوم كمې پاتې شو چه دَ یوحصې مال والانه دَ چیلو كومه زیاته حصه په زكوة كښې تلې ده هغه به په هغې كښې دَ دوو حصو والاطرف ته رجوع كوی چه زما حصه پوره كړه هغه به برابرسرابر دَهغه حصه وركوی. دا دَ "يتراجعان بالسوية" مطلب دې. شارحینو دلته ډیر څه لیكلی دی مګر داآسان صورت دې اوهم په دې باندې صبر كافی دې.

[١٧٩٧] دعشر د مقدار بیان

١٧٩٧ –(١)[٤] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢ " «فِيمَا سَقَتِ السَّمَاءُ وَالْعُيُونُ أَوْكَانَ عَثَرِيًّا الْعُشْرُ ٣ وَمَا سُقِيَ بِالنَّضْحِ نِصْفُ الْعُشْرِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ چې كوم شي چې آسمان یا چینو سیراب (اوبه) كړي وي یا خپله زمكه سرسبزه او شادابه وي نو په هغې كښې لسمه حصه واجبیږی ٣ او كومه زمكه چې د غوایانو، اوښانو په ذریعه د كوهیانوڅخه سیراب (اوبه) كړل شوي وی دهغې په حاصل كښې شلمه حصه واجب ده. (بخاري)

حل اللغات: - ① سَقَتِ: چه اوبه ئې كړی، خړوب ئې كړی، ② الْعُيُونُ: د عین جمع ده چینې ته وائی. ③ عَثَرِيًّا: عثری اوعاثور تروتازه او آبادې زمكې ته وائی. یعنی چه په خپله د جړړو په ذریعه د زمكې نه اوبه راكاږی. ④ النَّضْحِ: چه د غویانو، اوښانو په ذریعه سیراب شوې وی، یعنی د آرټ په ذریعه.

تسهیلات: قوله: أَوْكَانَ عَثَرِيًّا:

د عشر د وجوب په اعتبار د زمكې دوه قسمونه: - ① مطلب دا چه كومه زمكه په باران یا چینو یا لختو باندې اوبه شوې وی یا پخپله تازه او آباده وی په هغې كښې چونكه په مالك باندې كم بوج راځی په دې وجه په هغې كښې لسمه حصه دَ زكوة ده

② اوكومه زمكه په ارهټ یا اوښ وغیره په ذریعه اوبه كولې شی یا ټیوب ویل لګولې شوې وی نو په هغې كښې په مالك باندې زیات بوج راځی لهذا شریعت دَ هغې په زكوة كښې كمې كولوسره شلمه حصه فرض ګرځولې ده.

---

١) اخرجه البخاري في كتاب الزكاة/باب العشر فيما يسقى من ماء السماء، وبالماء الجاري ولم ير عمر بن عبد العزيز: «في العسل شيئًا» (رقم-١٤٨٣) وابوداود في السنن كتاب الزكاة/باب صدقة الزرع (رقم-١٥٩٦) والترمذي كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الصدقة فيما يسقى بالأنهار وغيرها(رقم-٦٣٩) والنسائي كتاب الزكاة/باب: ما يوجب العشر وما يوجب نصف العشر(رقم-٢٤٨٨) و ابن ماجة كتاب الزكاة/باب صدقة الزروع والثمار(رقم-١٨١٦) ومالك في الموطا كتاب الزكاة / باب زكاة ما يخرص من ثمار النخيل والأعناب(رقم-٣٣)

په ما خرج من الارض موزوناتو کښې د عشر په وجوب کښې مذاهب:-

"ماخرج من الارض" یا دَ پیمانې والا څیز دَ قسم نه وی یا دَ وزن والا دَ قسم نه وی دَپیمانې والا دَعشر دَپاره جمهورو سره پنځه وسق کیدل شرط دي دکوم تفصیل چه تیرشوې دې او په وزنی څیزونو کښې اختلاف دې.

① امام ابویوسف رحمه الله فرمائی موزون اکثر کال باقی پاتې وی اوچه دَ ادنی مکیل پنځه وسق پورې قیمت رسیدلې وی نو بیا په دغه موزون کښې عشر دې ګنی نه دې. مثلاً ادنی مکیل شعیر دې یعنی اوربشې دی دَدې پنځه وسق قیمت پورې که زعفران یا چائی اورسی نو په دې کښې عشر دې ګنی نه دې.

② امام محمد رحمه الله فرمائی چه موزون کله دَخپلې وزن آله پنځو امثالو ته اورسی په هغې کښې عشردې ګنی نه دې. مثلاً زعفران موزونی دې دَدې دَ وزن آله یو پونډ دې کله چه پنځوپونډو ته اورسی نوزکوة به واجب وی ګنی نه به وی. دغه شان دَ چائیو یوه پیټئی دَ موزون آله ده کله چه پنځو پیټوته اورسی نوعشر به وی ګنی نه به وی. دغه شان دَمالوچو پنډ دَدې آله وزن دې کله چه پنځو پنډونو ته اورسی نو عشر دې ګنی نه دې.

③ امام شافعی رحمه الله اوامام مالک رحمه الله ماخرج من الارض دَپاره دوه شرطونه لګوی اودا چه مکیلات نه وی دویم دا چه په دې کښې اقتیات او ادخار کیدې شی اوس که چرې ماخرج من الارض کښې اقتیات او ادخار نه وی یا مکیلات نه نه وی یا دَپنځو وسق نه کم وی نو په دې کښې عشر نشته دې.

④ امام احمد رحمه الله صرف دَ پنځو وسق شرط لګوی مکیل او موزون کیدوته نه ګوری.

⑤ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه ماخرج من الارض کښې عشر دې "قليلاً كان اوكثيراً مكيلاً اوكان موزوناً يبقى اكثر السنة امرلا". په دې مسئله کښې دلائل اوجواب وغیره تفصیلات دَدې باب حدیث نمبر ۱۷۹۳ کښې تیرشوی دی.

[۱۷۹۸] د حیوان په نقصان رسولو کښې معافی

۱۷۹۸–(١)[٥] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«الْعَجْمَاءُ جَرْحُهَا جُبَارٌ، [٣] وَالْبِئْرُ جُبَارٌ، [٤] وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ، [٥] وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] که ځناور څوک زخمي کړي نو معاف دي [٣] که په کوهی خکلو کښې څوک مړ شي نو معاف دي [٤]

١) اخرجه البخاری فی کتاب الزکاة/باب: فی الرکاز الخمس (رقم-١٤٩٩) ومسلم فی کتاب الحدود/باب جرح العجماء، والمعدن، والبئر جبار (رقم)٤٥ - (١٧١٠)وابوداود فی السنن کتاب الدیات/باب فی الدابة تنفح برجلها(رقم-٤٥٩٢) والنسائی کتاب الزکاة/باب المعدن(رقم-٢٤٩٥) وابن ماجة کتاب الدیات/باب الجبار (رقم-٢٦٧٣) و الدارمی کتاب الزکوة باب فی الرکاز (رقم-)١٧١٠

که کان «درنګ» کنستلو کښې څوک مړ شي نو معاف دي ⑤ او په رکاز کښې پنځمه حصه واجبیږی. «بخاري مسلم»

حل اللغات: - ①الْعَجْمَاءُ: څاروی، ځناور، ②جَرْحُهَا: زخمی کول ددې څاروی، ③جُبَارٌ: أَيْ هَدْرٌ: معاف دې. ④الْبِئْرُ: کوهې، ⑤الْمَعْدِنُ: کان، درنګ، ⑥الرِّكَازُ: خزانه، کان.

تسهیلات: قوله: الْعَجْمَاءُ جَرْحُهَا جُبَارٌ:

دعجماء تعريف: - العجماء دَ عجم تانیث دې دَعجم لغوی معنی ګونګا ده. دلته ځناور مراد دې ځکه چه هغه په خبروکولوباندې قادر نه دی لکه چه ګونګیان دی. عرب خلق عجموته هم په دې وجه عجم وائی چه دَهغوی په نیز دوی ګونګیان دی.

قوله: جَرْحُ: زخم ته وائی

دڅاروی د نقصان په رسولو په مالک عدم ضمان: - "جبار" اي هدر یعنی دَ ځناورونقصان کول څوک چقنړی کول یا فصل خرابول بې ځایه دی په مالك باندې هیڅ تاوان او ذمه واری نشته دې. لیکن دا حکم هغه وخت دې کله چه ځناور سره نه راکب وی نه سائق وی نه قائد وی.

د نقصان رسولو د وخت په اعتبار کښې مذاهب: -

که چرې په دوی کښې یوهم هغې سره وی اوځناور دَهغه دَبې پرواهئی نه نقصان اوکړو نو ذمه واری اوتاوان به راځی. اوس که دَ ځناور دا نقصان دَ ورځې وی یا دَ شپې وی نو آیا دَدې به څه اثر په ذمه وارۍ باندې پریوځی که نه؟

① په دې کښې دَ جمهور علماؤ په نیز که چرې ځناور دَ ورځې نقصان کړې دې نو په مالك باندې ضمان نشته دې ځکه چه دَ ورځې وخت کښې دَ فصل وغیره دَ حفاظت ذمه واری دَهغې په مالك ده دَ ځناور په مالك نه ده اوکه چرې نقصان ئی دَ شپې کړې وی نودَ ځناور په مالك به ضمان راځی ځکه چه دَ شپې دَ ځناور دَحفاظت ذمه واری دَهغې په مالك وه هغه دَ غفلت نه کار اخستې.

② دَ ائمه احناف په نیز هیڅ فرق نشته دې اصل مدار دَ مالك په وجود اوعدم باندې دې په شپه ورځ سره هیڅ فرق نه پریوځی.

داول فريق دليل: - دَ ابوداؤد شریف یوکمزورې روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دَ ورځې او شپې فرق بیان کړې شوې دې.

د دويم فريق دليل: - زیر بحث حدیث د دوی مستدل دې چه «العجماء جرحها جبار» یعنی دَ ځناور نقصان بې ځایه دې.

داختلاف بنياد اود تړيفک قوانين: - بهرحال بعضې علماؤ دا اختلاف دَ عرف اختلاف ګرځولې دې ځکه چه بعضې مقاماتوکښې دَ ورځې اوشپې په نقصان کښې فرق وی او

بعضې مقاماتو کښې نه وی. دَ څناور دَ نقصان دَ ضمان راتلو اونه راتلو قاعده سره دَ نن صبا موجوده دور دَ ټريفك قوانين دَپاره اودَ ګاډی دَ جنګيدو او بيا دَ تاوان اوضمان دَپاره يو جامع ضابطه ملاويږی.

قوله: وَالْبِئْرُ جُبَارٌ:

دحديث د جملې دوه مفهومه:- ①يعنی خپله مملوګه زمکه يا غيرآباد زمکه کښې يوسړی کوهې اوکنستلو په دې کښې يو سړې راغلو پريوتلو نو په دې کښې دَ کوهی په مالك باندې ضمان نشته دې په دې شرط چه په عام دَ تيريدو لارکښې کوهې نه وی.

② دغه شان که يو سړی د کوهی کنستلودَپاره مزدور مقررکړو او کوهې کنستلو سره په کښې لاندې خښ شو نو په مالك باندې ضمان نشته دې دا دويم مفهوم حديث سره زيات نيزدې دې.

قوله: وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ:

د جبار په مفهوم او حکم کښې دوه اقوال:- ①معدن دَمعدنياتو کان ته وائی يعنی يوسړې په خپله غيرمملوکه غيرآباد زمکه کښې کان کنستلې وی اوکه کنده پاتې شوې وی په هغې کښې څوك سړې راغلو هلاك شو نو په دې کښې په مالك باندې هيڅ تاوان نشته دې.

② د دکان کنستلو وخت کښې مزدور دَ ملبې لاندې خښ شو اومړ شو دَهغه وينه بې ځايه ده په مالك باندې تاوان نشته دې. دا دويم مفهوم حديث سره زيات نيزدې دې. دا څيزونه که چا دَ مسلمانانو په لار کښې اوکنستل يا دَ بل په زمکه کښې جوړکړل اوبيا څوك په هغې کښې پريوتلو مړ شو نو ضمان به په مالك باندې راځی دَهغه دَ طرف نه به ديت عاقله ادا کيږی.

په رکاز کښې دخمس حکم:- "وفی الرکاز الخمس" که چرې چاته دَ رکاز مال ملاؤ شی نو په هغې کښې پنځمه حصه دَ بيت المال ده اوڅلور حصې دَ موندونکی ده.

دزمکې څخه د راويستې شوی څيز درې اقسام:- دَ رکاز دَ لفظ تفسير او تعيين نه مخکښې دَ تمهيد په توګه دا ګڼړل پکاردی چه دلته درې يوشان الفاظ دی يعنی چه کوم مال دَزمکې نه رااوويستلې شی دَهغې درې قسمونه دی:

① **کنز:** کنز هغه مال اوخزانه ده کومه چه انسان پخپله په زمکه کښې خښه کړې وی.

② **معدن:** معدن هغه مال دې کوم چه الله تعالی دَزمکې دَ تخليق په وخت په زمکه کښې پيداکړې وی کوم ته چه قدرتی معدن وائی يعنی اول دفنيه دَ مخلوق ده او دويمه دفنيه دَخالق ده.

③ **رکاز:** دَ رکاز دَ لفظ تفسير اوتشريح اودَدې تعيين کښې دَ فقهاء کرامو اختلاف دې.

د رکاز په مصداق کښې مذاهب:-

① دَ شوافع حضراتو په نيزدَ رکازمصداق صرف کنز دې. کنز او رکاز دواړه مترادف الفاظ دی په دې کښې خمس دې اومعدنيات کښې خمس نشته دې.

② دَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دَ رکاز لفظ دَ خښولو اوثابتولو په معنى کښې دې. دا لفظ کنز او معدن دواړو ته شامل دې. کنز دفنيه دَ مخلوق ده اومعدن دفنيه دَ خالق ده. لهذا دکنز په شان په معدن کښې هم خمس واجب دې . اصل اختلاف په معدنياتو کښې دې دَاحنافو په نيز په دې کښې خمس دې دَ شوافع په نيز نشته دې. اوکه په معدن کښې سره زر يا سپين زر ملاؤ شى نودَ شوافع په نيز په دې کښې زکوة واجب دې په يوقول کښې کال تيريدل شرط دې دويم قول کښې کال تيريدل شرط نه دې.

اول فريق دليل:- زير بحث حديث د دوى مستدل دې ځکه چه دلته دَ رکاز په معدن باندې عطف شوې دې کوم چه تغاير غواړى لهذا معدن يو څيز دې او رکاز بل څيز دې.

داول فريق د دليل جوابونه:- ① احنافو سره مرفوع احاديث هم دى دکوم په مقابله کښې چه دَ شوافع استدلال صحيح نه دې.

② ددې حديث مصداق کوم چه شوافع بيان کړې دې دې نه هغه مصداق زيات واضح دې کوم چه احناف بيان کړې دې.لهذا دا حديث دَاحنافو دليل دې نودَ جواب ضرورت نشته دې.

③ په دې حديث کښې دريو دَ داسې څيزونو ذکر دې په کوم کښې چه تاوان اوضمان معاف دې. لهذا معدن نه مراد خالى کنده زيات مناسب ده. کله چه خالى کنده مراد وى نو دَ وفى الركاز عطف هم صحيح شو په دواړو کښې ردوبدل راغلو. لکه چه يوه جمله کښې دَ ظرف دَحکم ذکر اوکړې شو کوم چه دَمعدن په نوم سره ياد کړې شو چه په دې کښې هيڅ نشته او په آخرى جمله وفى الركاز کښې دَ مظروف دَحکم ذکراوکړې شو کوم چه ماخرج من المعدن خزانه ده چه په دې کښې خمس دې. دا بيان ډير مناسب او ضرورى وو په دې وجه دَعطف سره راوړلې شو.

د دويم فريق دلائل:- ① امام محمد رحمه الله په مؤطا محمد کښې يوحديث نقل کړې دې:

① ((قال محمد الحديث المعروف ان النبى صلى الله عليه وسلم قال وفى الركاز الخمس قيل يارسول الله ! ومار کاز؟ قال المال الذي خلقه الله فى الارض يوم خلق السموات والارض فى هذه المعادن ففيها الخمس)) (مؤطامحمد)

② جوهرالنقى کښې ليکلى دى چه حضرت على رضي الله عنه به فرمائيل ((الركازهوالمعدن))

③ امام بيهقى رحمه الله په خپل کتاب المعرفة کښې دَحضرت ابوهريره رضي الله عنه يو مرفوع حديث نقل کړې دې يوځو الفاظ دادى: ((الركازالذي ينبت فى الارض)) (بيهقى)

④ امام ابويوسف رحمه الله کتاب الخراج کښې يو حديث نقل کړې دې دکوم الفاظ چه دادى:

«وفي الركاز الخمس فقيل ما الركاز؟ يارسول الله! فقال الذهب والفضة الذي خلقه الله تعالى في الارض يوم خلقت»
«كتاب الخراج»

⑤ دَ لغت كتاب المغرب كښې ليکلي دي «الركاز هو المعدن والكنز لان كلا منهما مركوز في الارض وان اختلف الراكن» دَ دې ټولو حواله جاتو او استدلالاتو نه ثابته شوه چه رکاز کښې معدن هم شامل دې لهذا په معدن کښې هم خمس دې بيا معدن په درې قسمه دی:

١- هغه معدنيات چه دَ اور په ذريعه سره ويلې کيږي لکه سره زر سپين زر خوره او چونه.

٢ - هغه معدنيات کوم چه په غرونو کښې ياقوت زمرد او عقيق وغيره قسم کانړې دی.

٣- هغه معدنيات کوم چه مائع وی لکه تيل پټرول وغيره.

اوس دَامام احمد رحمه الله په نيز دې دريوارو کښې خمس واجب دې. دَ امام مالک رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نيز صرف دَ سرو زرو او سپينو زرو کان کښې خمس دې باقی کښې نشته. دَاحناف په نيز صرف اول قسم کښې خمس دې باقی دوو کښې نشته دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٧٩٩] دَ سرو زرو او سپينو زرو نصاب

١٧٩٩—( )[٦] [١] عَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«قَدْ عَفَوْتُ عَنِ الْخَيْلِ وَالرَّقِيقِ [٣] فَهَاتُوا صَدَقَةَ الرِّقَةِ مِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمٌ، [٤] وَلَيْسَ فِي تِسْعِينَ وَمِائَةٍ شَيْءٌ [٥] فَإِذَا بَلَغَتْ مِائَتَيْنِ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ،

ترجمه: [١] حضرت علي رضي الله عنه روايت کوی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٢] ما په اسونو او غلامانو کښې زکات معاف کړي دي [يعني که غلام د تجارت د پاره نه وي نو په هغې کښې زکات نشته او د اسونو د زکات په باره کښې چې د ائمه (امامانو) کوم اختلاف دي هغه بيان شوي دي] [٣] نو تاسو د سپينو زرو زکات په هر څلويښت درهم کې د يو درهم په حساب سره ادا کوئ (هر کله چې سپين زر بقدر نصاب يعنی دوه سوه درهم وي څکه) [٤] چې يو سل نوي ١٩٠ درهم (يعني د دوه سوه درهم څخه کم) په سپينو زرو کې زکات واجب نه دي [٥] هر کله چې دوه سوه درهم سپين زر وي نو په هغې کې پنځه درهم د زکات په طور ورکول واجب دي. (ترمذي ابوداؤد)

[١] وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ عَنِ الْحَارِثِ الْأَعْوَرِ عَنْ عَلِيٍّ [٢] قَالَ زُهَيْرٌ: أَحْسِبُهُ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنَّهُ قَالَ: [٣] "«هَاتُوا رُبْعَ الْعُشْرِ مِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمٌ، [٤] وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ شَيْءٌ حَتَّى تَتِمَّ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ، [٥] فَإِذَا

[١] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب فى زكاة السائمة (رقم-١٥٧٤) والترمذى كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى زكاة الذهب والورق (رقم-٦٢٠) والنسائى كتاب الزكاة/باب: زكاة الورق (رقم-٢٤٧٧) وابن ماجة كتاب الزكاة/باب زكاة الورق والذهب (رقم-١٧٩٠) والدارمى من كتاب الزكاة/باب فى زكاة الورق (رقم-١٦٦٩) واحمد فى المسند ٩٢/١

كَانَتْ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ، [٦] فَمَا زَادَ فَعَلَى حِسَابِ ذَلِكَ، [٧] وَفِي الْغَنَمِ فِي كُلِّ أَرْبَعِينَ شَاةً شَاةٌ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ، [٨] فَإِنْ زَادَتْ وَاحِدَةٌ فَشَاتَانِ إِلَى مِائَتَيْنِ، [٩] فَإِنْ زَادَتْ فَثَلَاثُ شِيَاهٍ إِلَى ثَلَاثِمِائَةٍ، [١٠] فَإِذَا زَادَتْ عَلَى ثَلَاثِمِائَةٍ فَفِي كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ، [١١] فَإِنْ لَمْ يَكُنْ إِلَّا تِسْعٌ وَثَلَاثُونَ فَلَيْسَ عَلَيْكَ فِيهَا شَيْءٌ، [١٢] وَفِي الْبَقَرِ فِي كُلِّ ثَلَاثِينَ تَبِيعٌ، [١٣] وَفِي الْأَرْبَعِينَ مُسِنَّةٌ، [١٤] وَلَيْسَ عَلَى الْعَوَامِلِ شَيْءٌ».

ترجمه: [١] ابوداؤد رحمه الله د حارث اعور څخه د حضرت علي دا روايت نقل کړي دي چې [٢] زهير رحمه الله (چې د حارث رحمه الله څخه روايت نقل کوي) هغه وائي چې زما گمان دي چه حارث دا ويلي دي چې حضرت علي رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ دا ارشاد نقل کړي دي [٣] چې تاسو (هر کال) په هر څلويښت درهم کې يو درهم يعنی څلويښتمه حصه ادا کوئ [٤] او په تاسو تر هغه وخته پورې هيڅ واجب نه دي تر څو پورې چې تاسو سره دوه سوه درهم پوره نه شي [٥] هر کله چې دوه سوه درهمه پوره شي نو په هغې کې بطورِ زکات پنځه درهم واجبيږي [٦] او کله چې د ٢٠٠ څخه زيات شی نو په هغې کې به په هغه حسا ب سره زکات واجب کيږي [٧] او د بزو نصاب دا دي چې په هر څلويښت بزو کې يوه بزه واجبيږي او دا يوه بزه د ١٢٠ پورې تعداد د پاره ده [٨] او هر کله چې د دې تعداد څخه يوه بزه هم زياته شي نو تر دوه سوه پورې دوه بزي (چيلۍ) واجبيږي [٩] او هر کله چې د دوه ٢٠٠ سوه څخه يوه بزه هم زياتې شي نو دري سوه پورې دري بزي (چيلۍ) واجبيږي [١٠] او هر کله چې د دري سوه څخه زياتې شی (يعني څلور سوه شي) نو په هرو سلو بزو کې يوه بزه واجبيږي [١١] او که ستاسو سره بقدر د نصاب بزی نه وي (يعني نهه ديرش بزي (چيلۍ) وي) نو بيا په هغې کې ستاسو په ذمه هيڅ نه واجبيږي [١٢] او د غواګانو نصاب دا دي چې په هر ديرشو کې د يو کال د عمر يو غوايي [١٣] او په څلويښت کې دوه کليزي غوا (چې قندهارئ ژبه کښې ورته ګيلګۍ وائی) واجب ده [١٤] او د کار روزګار په څاروو کې هيڅ هم (يعنی زکات) واجب نه دي.

حل اللغات:- ① الرِّقَةِ: دچاندئ، سپينو زرو درهم، ② تَبِيعٌ: دغوا د يوکال بچی تـه وائـی، سخي، ③ مُسِنَّةٌ: چه د دوه کالو وی او غابنونه ئې راختلې وی. ګيلګۍ ④ الْعَوَامِلِ: د کـار روزګـار څـاروو تـه عوامل وائی.

تسهيلات:

قوله: فَعَلَى حِسَابِ ذَلِكَ:

دَ سرو زرو او سپينو زرو نصاب بغيردَ څه اختلاف نه متعين دي چه دَچاندئی نصاب دوه سوا درهم دي په کوم کښې چه پنځه درهم زکوة دي په هرڅلويښت باندې يو درهم واجب دي اودَ سرو زرو نصاب ٢٠ مثقال دي. په کوم کښې چه نصف مثقال زکوة واجب دې. دَ تولې په حساب سره دوه نيمې پنځوس تولې چاندی نصاب دي او اووه نيمې تـولې سره زر نصاب دي.

په کسورو (دنصاب نه زیاتی مقدار) باندې د زکات په فرضیت کښې مذاهب:-
اوس که سره زر او سپین زرو مقدار دَ نصاب نه لږ شان زیاتی شی نودَ هغې څه حکم دې؟ په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.
① جمهور سره دَصاحبینو فرمائی که دَ نصاب نه یو درهم هم زیات شو دَهغې حساب به کولې شی اودَ هغې څلویښتمه به په زکوة کښې ورکولې شی.
② امام ابوحنیفه رحمه الله سفیان ثوری رحمه الله او امام شعبی رحمه الله فرمائی په دغه زیاتی حصه باندې زکوة نشته دې اوکه چرته دا زیاتی حصه څلویښت درهم ته اورسی بیا به زکوة واجب وی په هغې کښې به یو درهم ورکولې شی هم دغه شان دَ ۲۰ مثقال نه دَ زیاتی حصې حکم دې.
داول فریق دلیل:- زیربحث حدیث د دوی مستدل دې په کوم کښې "فمازادفعلی حسابه" واضح الفاظ موجود دی.
داول فریق د دلیل جواب:- په دې کښې دَزیادت نه تر څلویښتو پورې زیاتوالې مراد دې چه کله ترڅلویښتو پورې زیات شی نوبیا زکوة دې. دا مطلب مراد اخستل څکه ضروری دی چه په نورو احادیثو کښې دَ څلویښتو دَ شمیر تصریح موجود ده په دې سره به په ټولو احادیثو کښې تطبیق هم راشی.
د دویم فریق دلائل:- ① حضورپاك حضرت معاذ رضي الله عنه دکُسور نه زکوة اخستلو نه منع کړې وو بل دکُسوردَ زکوة حساب کښې حرج عظیم دې. "والحرج مدفوع فی الشرع".
② دَ بیهقی او دارمی هغه روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه حضوراکرم صلی الله علیه وسلم دَعمرو بن حزم رضي الله عنه په نوم خط کښې لیکلی دی. الفاظ دادی: «ان فی کل خمس اواق من الورق خمسة دراهم فمازادففی کل اربعین درهما درهم» (کذافی زجاجة المصابیح ج۱ص ۵۱۰).

[۱۸۰۰] دَغواګانو نصاب

۱۸۰۰-(۱)[۷] [۱] «وَعَنْ مُعَاذٍ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْيَمَنِ [۲] أَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنَ الْبَقَرِ مِنْ كُلِّ ثَلَاثِينَ تَبِيعًا أَوْ تَبِيعَةً، [۳] وَمِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ مُسِنَّةً». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] د حضرت معاذ رضي الله عنه په باره کې منقول دي چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم چې هغه (عامل جوړولو سره) يمن ته وليږلو [۲] نو دا حکم يي ورکړو چې هغه دې د زکات په طور د هر ديرش غواګانو څخه يو کليز غوايي (کيلګي) يا يو کليزي غوا (کيلګي) اخلي [۳] او هر څلويښت غواګانو څخه دوه کليزه غوا (سخی) يا دوه کليزي غوايي (سخې) دي وصولوي.
(ابوداؤد، ترمذي، نسايي، دارمي)

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب فی زکاة السائمة (رقم-۱۵۷۸) والترمذی کتاب الزکاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی زکاة البقر(رقم-۶۲۳) والنسائی کتاب الزکاة/باب: زکاة البقر(رقم-۲۴۵۰) وابن ماجة کتاب الزکاة/باب صدقة البقر(رقم-۱۸۰۳) والدارمی من کتاب الزکاة/باب زکاة البقر(رقم-۱۶۶۳)

حل اللغات:- ① وَجَّهَهُ: أَيْ حِينَ أَرْسَلَهُ: يعنی کوم وخت ئې چه ليږلو. ② تَبِيعًا: دغوا د يو کال بچې ته وائی، (نر يا ماده)، ③ مُسِنَّةً: د غوا هغه بچې چه دَ دوو کالو پوره کيدوسره دريم کال ئې شروع شوې وی.

تسهيلات:

قوله : مِنْ كُلِّ ثَلَاثِينَ تَبِيعًا أَوْتَبِيعَةً:

د غواګانو نصاب:- دَ غوا غوائی دَزکوة باره کښې په دې خبره باندې اتفاق دې چه دَدې نصاب ديرش دې. دَ ديرشو نه په کم باندې زکوة نشته دې. په ديرش باندې يو تبيع يا يوه تبيعه واجب دی. تبيع هغه سخې دې چه دَ يو کال کيدوسره دويم کال ئی شروع شوې وی. کله چه غواګانې څلويښت شی نو په هغې کښې يو مسنه ده. مسنه هغه سخا سخې دې چه دوه کاله مکمل کولوسره په دريم کال کښ قدم کيخودې وی. دَدې نه پس به هم په دې ترتيب سره حساب روان وی چه په هرو ديرشو باندې يوه تبيعه او هرو څلويښت باندې يوه مسنه راځی په دې خبره دَټولو فقهاؤ اتفاق دې.

په اوقاصو باندې په وجوب زکات کښې مذاهب:-

البته په دې کښې اختلاف دې چه دَ ديرشو اوڅلويښتو په مينځ کښې کوم زياتی شمير دې په هغې باندې څه واجب دی که نه؟ ① دَ صاحبينو په نيزيه دې کښې هيڅ هم نشته دې ② اوامام ابوحنيفه رحمه الله نه دې باره کښې روايات مختلف دی. مشهور هم دغه دی چه دَدې اعداد حساب لګولو سره زکوة اداکول پکاردی مثلاً په څلويښتو باندې يوه غوا ده که زياتی وی نو يو مسنه او دويمه مسنه څلويښتمه حصه به اداکولې شی.

[١٨٠١] په زکاة کښې د واجب مقدار څخه د زيات وصولولو حرمت

١٨٠١-(¹)[٨] [١] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«الْمُعْتَدِي فِي الصَّدَقَةِ كَمَانِعِهَا» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د زکات اخستلو کې د واجب مقدار څخه زياتي کونکي د زکات نه ورکونکي په شان دي (يعني څرنګه چې زکات نه ورکول ګناه ده دغه شان په زکات کې د واجب مقدار څخه زيات وصولول هم ګناه ده) (ابوداؤد، ترمذي)

حل اللغات:- ① الْمُعْتَدِي: أَيِ السَّاعِي الْمُتَجَاوِزُ عَنْ قَدْرِ الْوَاجِبِ: څوک چه په اخستلو کښې د واجب حق نه زيات وصولوی.

(¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب فی زکاة السائمة (رقم-١٥٨٥) والترمذی کتاب الزکاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی المعتدی فی الصدقة (رقم-٦٤٦) وابن ماجة کتاب الزکاة/باب ما جاء فی عمال الصدقة (رقم-١٨٠٨)

تسهیلات:

قوله: المعتدی فی الصدقة

په صدقه کښې د معتدی په مراد کښې اووه اقوال:-

① یعنی هغه ساعی چې هغه دصدقې په وصولولو کښې د واجب مقدار نه تجاوز اوکړی نو هغه په ګناه کښې د هغه کس پشان دې کوم چې زکوة نه ورکوی

② ابن الملک رحمه الله فرمائی کوم مالک څینې مال پټوی او تعدی کوی هغه ګناه کښې د هغه کس پشان دې کوم چې زکوة نه ورکوی

③ کوم ساعی چې د واجب مقدار څخه تجاوز کوی نو هغه په ګناه کښې د هغه شان دې څوک چې رب المال د زکوة ورکولو نه منع کوی

④ ددې نه هغه کس مراد دې څوک چې غیر مستحق ته زکوة ورکوی

⑤ معتدی نه مراد هغه ساعی دې څوک چې خپل اختیار سره مال واخلی داهم د مانع پشان ګناهګار دې

⑥ ددې څخه مراد هغه رب المال دې چې په زکوة کښې ټول مال ورکوی ا وخپل اهل و عیال دپاره هیڅ نه پریږدی

⑦ ددې څخه هغه رب المال مراد دې چې زکوة ورکولوڅخه پس پرې احسان کوی او تکلیف رسوی

د حدیث خلاصه:- الحاصل دې په زکوة خوشحالۍ سره عبادت ګڼړلو نه پس مستحق دې ورکړې شی په ځان بوج نه دی ګنړل پکار او نه غیر مستحق ته ورکول پکار دی داشان چاته چې زکوة ورکړی نو هغه ته پیغور وغیره نه دی ورکول پکار. په دې سره د صدقې ثواب ضائع کیږی کما فی القرآن ﴿لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى﴾

[١٨٠٢] د غلې او کجورې د زکات حکم

١٨٠٢-(١)[٩] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«لَيْسَ فِي حَبٍّ وَلَا تَمْرٍ صَدَقَةٌ ③ حَتَّى يَبْلُغَ خَمْسَةَ أَوْسُقٍ»". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت کوي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② په غله او کجورؤ کې تر هغه وخته پورې زکات واجب نه دي ③ تر څو پورې چې د هغې مقدار پنځه وسق (٢٥ من ١٢١/٢سیره) نه وي. (نسایي)

حل اللغات:- ① حَبّ: غَله، غنم وغیره، ② أَوْسُق: د وَسْق جمع ده. دا یو پیمانه ده یو وسق د شپیته (٦٠) صاع برابر وی، او یو صاع د څلور مُده برابر وی.

(١) اخرجه مسلم ١٢ - کتاب الزکاة (رقم) ٥ - (٩٧٩) والنسائی کتاب الزکاة/باب: زکاة الحبوب(رقم-٢٤٨٥) واحمد فی المسند ٥٠٢/٣

تسهيلات:

قوله: حَتَّى يَبْلُغَ خَمْسَةَ أَوْسُقٍ:

دامام شافعي دليل:-دا د امام شافعي دليل دې چه ترکومې پوري غله پنځو وسقو ته نه وى رسيدلې نوترهغې پورې په دې کښې زکات نشته. د دې جوابونه مخکښې تير شوی دی.

[١٨٠٣] د مختلفو څيزونو زکات وصولول

١٨٠٣-()[١٠] [١] وَعَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ قَالَ: [٢] «عِنْدَنَا كِتَابُ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَالَ: [٣] إِنَّمَا أَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ الصَّدَقَةَ مِنَ الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ». [٤] مُرْسَلٌ رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: [١] موسى ابن طلحه (تابعي) رحمه الله وايي [٢] چې مونږ سره د حضرت معاذ ابن جبل رضي الله عنه هغه مکتوب ګرامي دي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم هغه ته ليږلي وو حضرت معاذ بيان اوکړو [٣] چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ماته دا حکم راکړي دي چې زه دغنمو، وربشو، انګورو او خرماؤ زکات وصول کړم، [٤] دا حديث مرسل دي او په شرح السنه کې نقل کړې شوي دي.

حل اللغات:- ① الْحِنْطَةِ: غنم، ② الشَّعِيرِ: وربشې، ③ الزَّبِيبِ: انګور.

تسهيلات:

قوله: الْحِنْطَةِ:

يوه تنبيه:-په دې حديث کښې دَ څلورو څيزونونه دَ صدقې اخستلوچه کوم حکم ورکړې شوي دې دا دَهغه علاقې دَ حالت په وجه سره وو. هلته هم دغه څلورقسمه غلې وې بل څه غله نه وه. دَدې مطلب دانه دې چه دَ دغه څلورو څيزونونه علاوه غلوکښې زکوة نشته دې. دلته دَ امر واقعي بيان دې دَ نورو څيزونونفی مقصودنه ده.

[١٨٠٤] دونوپه ميووکښې دَعشر ورکولو حکم

١٨٠٤-()[١١] [١] وَعَنْ عَتَّابِ بْنِ أَسِيدٍ [٢] أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ «فِي زَكَاةِ الْكُرُومِ: [٣] "إِنَّهَا تُخْرَصُ كَمَا تُخْرَصُ النَّخْلُ، [٤] ثُمَّ تُؤَدَّى زَكَاتُهُ زَبِيبًا، [٥] كَمَا تُؤَدَّى زَكَاةُ النَّخْلِ تَمْرًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] حضرت عتاب ابن اسيد رضي الله عنه راوي دي [٢] چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د انګورو د زکات په باره کې وفرمايل [٣] د انګورو دي داسې اندازه وکړل شي څرنګه چې د خرماؤ اندازه کيږي [٤] بيا دهغه انګورو زکات دي هغه وخت اداء کړې شی کله چې هغه وچ شی [٥] څرنګه چې د وچيدو څخه روسته د خرماؤ زکات ادا کولی شي. (ترمذي ابوداؤد)

[١] اخرجه احمد فى المسند ٢٢٨/٥ والدار قطنى حديث رقم ٨

[٢] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب فى خرص العنب(رقم-١٦٠٣) والترمذى كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الخرص(رقم-٦٤٤) والنسائى كتاب الزكاة/باب شراء الصدقة (رقم-٢٦١٨) وابن ماجة كتاب الزكاة/باب خرص النخل والعنب(رقم-١٨١٩)

حل اللغات:- ① الْكُرُومِ: دا دَ كَرْم جمع ده انګور ترې مراد دى. ② تُخْرَصَ: أَيْ تُحْزَرُ وَتُخَمَّنُ: دا دَ خرص نه دې اندازه کولـو او تخمينه لګولـو سره دَ حساب لګولوبه معنـى کښې دې. ③ زَبِيبًا: انګور، ④ النَّخْلِ: هغه کجورې چه په اونه کښې موجود وى، ⑤ تَمْرًا: کجورې.

تسهيلات:

قوله: إِنَّهَا تُخْرَصُ كَمَا تُخْرَصُ النَّخْلُ:

د خرص د ضرورت پيښيدو پس منظر:- دې وخت کښې دَدې خرص ضرورت څکه پيښ شو چه دَ خيبر دَ يهودو زمکې کله دَ مسلمانانو لاس ته راغلې نو يهودو په زميندارئى باندې دغه زمکې آبـادول شروع کـړل. نيمـه غلـه دَهغـوى او نيمـه غلـه دَ مـسلمانانو مقررشـوه لـيکن دَهغوى په زړونو کښې داخبره وه چه دا زمکې زمونږ دى مسلمانانو فتح کولوسره زمونږ نه په زور اخستې دى. په دې وجه هغـوى پـه ميوو کښې خيانت کول جائز ګڼړلو اودَ ميوو دَ پخيدو پورې دَ انتظارکولو نه مخکښې دَهغې دَ ضائع کيدو خطره پيدا شوې وه. پـه دې وجه حضورپاك دَخرص نظام قائم کړو او داسې چه يوماهر سړې به باغ ته تلو او په ونوکښې بـه ئـى دَ کهجـورو انـدازه کولـه او بيابـه ئـى حکـم ورکولـو چـه دومـره مـن کهجـورې دى پـه اوچيدو باندې په دې کښې دومره زکوة دې. وړاندې ذمـه وارى دَ زميندار ده چـه هغـه دَدې حفاظت کوى اوکه نه کوى. دغه شان به غله محفوظ شوه. اوس مسئله داده چه آيا اندازه لګول او دَخرص عمل په شرعى توګه باندې حجت مُلزمه دې که نه دې؟

د خرص په حجيت کښې مذاهب:-

① دَ بعضې فقهاؤ په نيز دَ خرص داعمل حجت ملزمه دې.

② ائمه احناف دَخرص دَدې عمل جائز ګڼړلو قائل دى ليکن داحجت مُلزمـه نـه منـى چـه پـه نورو باندې دا حساب قطعى حجت جوړشى.

[١٨٠٥] په زکات کښې دَ مزکى خيال ساتل

١٨٠٥-([1]) [١٢] [١] وَعَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ حَدَّثَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يَقُولُ: [٢] "«إِذَا خَرَصْتُمْ فَخُذُوا وَدَعُوا الثُّلُثَ، [٣] فَإِنْ لَمْ تَدَعُوا الثُّلُثَ فَدَعُوا الرُّبُعَ»"، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] سهل ابن ابي حثمه ﷺ به د رسول کريم ﷺ دا حديث بيانولو چې حضور ﷺ وفرمايل [٢] هرکله چې تاسو د انګورو او د کجورو د زکات اندازه وکړئ نو د هغې څخه دوه حصې واخلئ او يوه حصه پريـږدئ [٣] که يوه حصه مو پري نه ښوده نو څلورمه خو پريږدئ. (ترمذي، ابوداؤد، نسايي)

[1]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب فى الخرص(رقم-١٦٠٥) والترمذى كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الخرص(رقم-٦٤٣) والنسائى كتاب الزكاة/باب كم يترک الخارص(رقم-٢٤٩١) والدارمى ومن كتاب البيوع/باب: فى الخرص(رقم-٢٦٦١)

د راوي مختصر تعارف:-نوم سهل، کنیت ابومحمد يا ابويحيى وو. دَ پلار نوم ئې ابوحثمه عبدالله بن ساعده وو. په ٣هـ کښې پيداشو او دَ شروع نه په مدينه منوره کښې اوسيدو بياکوفې ته لاړو. دَهغوی عمر دَ حضور دَ وفات په وخت کښې اته کاله خودلې شي.

وفات:- دَ مصعب بن زبير په زمانه کښې مدينه منوره کښې وفات شو.

مرويات:- دَدوی نه تقريباً ٢٥ احاديث نقل دی په کوموچه بخاری اومسلم اتفاق کړې دې.

تسهيلات:

قوله: خَرَصْتُمْ:

مالکانو سره د نرمئ کولو حکم:-په دې حديث کښې دَ اندازې لګونکو مالکانوسره دَ نرمئ کولو هدايت کړې شوې دې. دَدې حديث په مفهوم باندې دَ پوهيدلودَپاره دَدې نه دَمخکينی حديث توضيح وئيل ضروری دی چه دَ حديث پوره پس منظر اندازه اوشي.

قوله: وَدَعُوا الثُّلُثَ:

د مذکوره جملې په توجيه کښې مختلف اقوال:-

① دَدې حديث نه معلوميږی چه ساعی اوخرص اوتخمينه لګونکې دَدې تخمينې دوران کښې په زکوة اوعشر کښې څه تخفيف يعنی کمې کولوسره معاف کولې شی. امام احمدبن حنبل رحمه الله دَدې ظاهری حديث دَ وجې نه دَدې کمی قائل دی.

② ليکن ائمه ثلاثه فرمائی چه خارص او ساعی ته دا حق نشته دې چه هغه دې دَ زکوة څه حصه معاف کړی څکه چه عشر اوزکوة حقوق الله اوفرائض اسلام نه دی په کوم کښې چه کمې زياتې کول جائز نه دی. لهذا جمهور دَدې حديث مفهوم دا بيانوی چه دلته دَزکوة دَمعاف کولو حکم نشته دې بلکه دَحضورپاك دَفرمان مطلب دادې چه دَ زکوة څه حصه مالك سره پريخودې شی دې دَ پاره چه هغه ئی خپلو مستحقينو خپلوانو باندې تقسيم کړی نودا ثلث يا ربع مالك دَ مال په خپله طبع باندې تقسيم کړی. دا توجيه امام شافعی رحمه الله کړې ده.

③ امام ابوحنيفه رحمه الله او امام مالك رحمه الله فرمائی چه زکوة راټولونکې او دکهجورو اندازه لګونکې له پکاردی چه هغه دې دَ حساب لګولو په وخت په ميوو باندې راټلونکی آفتونو هم خيال اوکړی چه دَميوو غلا هم کيدې شی ضائع کيدې هم شی څوك غوښتونکې دَ غوښتو دَپاره هم راتلې شی. په دې وجه دَ کهجورو اندازه لګونکې دَ يوثلث يا يو ربع ميوې په اصل ميوو کښې شمير نه کړی دې دَپاره چه مالك دا دَ ضرورت په موقع باندې خرج کړی.

[١٨٠٦] د تجورد مقدار معلوملو وخت

١٨٠٦—(١)[١٣] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: [٢] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَبْعَثُ عَبْدَ اللهِ بْنَ رَوَاحَةَ إِلَى يَهُودَ [٣] فَيَخْرُصُ النَّخْلَ حِينَ يَطِيبُ، [٤] قَبْلَ أَنْ يُؤْكَلَ مِنْهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] ام المؤمنين حضرت عایشه صدیقه رضي الله عنها فرمایي [٢] چې نبي کریم ﷺ به عبدالله ابن رواحه رضي الله عنه د خیبر یهودیانو ته لیږلو [هلته چې به ورسیدو] نو د خرماؤ د مقدار به یي هغه وخت اندازه کوله کله چې به په هغې کې خوړوالي پیدا شوي وو [٤] خو د خوراك قابلي به لا نه وي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① يَطِيبُ: أَيْ يَظْهَرُ فِي الثِّمَارِ الْحَلَاوَةُ: چه کله به په میوه کښې خوږوالي پیدا شو.

تسهیلات:

قوله: فَيَخْرُصُ النَّخْلَ حِينَ يَطِيبُ، قَبْلَ أَنْ يُؤْكَلَ مِنْهُ:

د یهودو د زمکې د خرص وجه: - چونکه یهودو به د خپلې زمکې په پیداوار کښې خیانت کولو په دې وجه به داسې کیدل

[١٨٠٧] په شاتو کښې دَعشر حکم

١٨٠٧—(٢)[١٤] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "«فِي الْعَسَلِ [٢] فِي كُلِّ عَشْرَةِ أَزُقٍّ زِقٌّ»". [٣] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ فِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ، [٤] وَلَا يَصِحُّ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي هَذَا الْبَابِ كَثِيرُ شَيْءٍ.

ترجمه: [١] حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وایي چې رسول الله ﷺ د شاتو د زکات په باره کې وفرمایل [٢] چې په هر لس مشکو کې یو مشك (په طور د زکات) واجب دي، [٣] ترمذي، او امام ترمذي رحمه الله فرمایلي دي چه د دې حدیث په اسناد کې کلام شوي دي [٤] او په دې باره کې دحضور ﷺ اکثر احادیث چې نقل کیږي هغه صحیح نه دي.

حل اللغات: - ① الْعَسَلِ: شهد، شات. ② أَزُقٍّ: وَهُوَ ظَرْفٌ مِنْ جِلْدٍ: دځرمن لوښي، مشک.

تسهیلات: **قوله:** فِي الْعَسَلِ:

په شاتو (عسل) کښې د عشر به فرضیت کښې مذاهب: -

که په عشري زمکه کښې شات حاصل شي نو آیا په دې کښې عشر شته که نه؟ په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دي.

① دَامام شافعي رحمه الله او امام مالك رحمه الله په نیز په شاتو کښې عشر نشته دي.

---

[١]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب متی یخرص التمر(رقم-١٦٠٦) وابن ماجة کتاب الزکاة/باب خرص النخل والعنب(رقم-١٨٢٠) ومالک فی الموطا باب ما جاء فی المساقاة(رقم-١) واحمد فی المسند ٢٤/٢

[٢]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزکاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی زکاة العسل(رقم-٦٢٩)

② دَامام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیزپه شاتوکښې عشردې. البته بیا دَ احنافو په خپل مینځ کښې اختلاف دې.
دَ امام ابوحنیفه په نیزدَدې څه نصاب نشته قلیل اوکثیر کښې عشردې. دَ امام ابویوسف رحمه الله په نیزچه لس مشکیزو ته رسیدو کښې عشر دې کم کښې نشته دې.
داول فریق دلیل: -اول فریق سره هیڅ یومرفوع حدیث نشته دې صرف دَ حضرت معاذ رضی الله عنه دَ یوقول نه استدلال کوی هغه قول داسې دې: ((انه سئل عن العسل فی الیمن فقال لم ومرفیه بشیئ)).
داول فریق د دلیل جواب: -دَ حضرت معاذ رضی الله عنه دا فرمائیل چه مونږ ته څه حکم نه دې راکړې شوې نو په عدم حکم سره عدم وجوب نه ثابتیږي. په زیر بحث روایت کښې دَ ډیرو احادیثو نفی ده دکوم نه چه معلومیږي چه دَ قلیل احادیثو وجود شته کوم چه دَ وجوب دَپاره کافی دې.
د دویم فریق دلائل: -زیر بحث حدیث د دوی مستدل دې په کوم کښې چه په واضحه توګه باندې دَ زکوة حکم دې چه په هرولسو مشکیزوکښې یوه مشکیزه ادا کړئی. دا حدیث سره دَدې چه ضعیف دې لیکن دَ مسلك دَ تائیددَپاره کافی دې.
② ((عن عبدالله بن عمرو عن النبی صلی الله علیه وسلم انه اخذ من العسل العشر)) (رواه ابن ماجه و ابوداؤد) ابوداؤد رحمه الله دا حدیث نقل کړو او په دې باندې خاموشی اختیارکړه چه کم نه کم دَ حسن په حکم کښې راغلو. امام ابوحنیفه رحمه الله "ماسقت السماء الخ، ما اخرجت الارض ففیه العشر" نه هم استدلال کړې دې.

[١٨٠٨] دَښځو په کالوکښې دَزکات حکم

١٨٠٨-(¹)[١٥] ١ وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ قَالَتْ: ٢ خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: ٣ "«يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ، وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ، ٤ فَإِنَّكُنَّ أَكْثَرُ أَهْلِ جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه زوجه محترمه بي بي زینب رضی الله عنها وایي ٢ چې رسول الله ﷺ زمونږ په مخکې خطبه وفرمایله ٣ چې اي د ښځو جماعته! تاسو د خپل مال زکات ادا کوئ اګر که هغه زیور ولي نه وي ٤ ځکه چې د قیامت په ورځ به په تاسو کې اکثر د دوزخیانوڅخه وي. (ترمذي)
حل اللغات: - ① حُلِيِّكُنَّ: کالی (په کومو سره چه ښځې خپل ښائست کوی).
دراوي مختصر تعارف: -نوم زینب، عرف رائطه دَ ثقیف دَ قبیلې سره ئې تعلق وو. دَدې نکاح دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه سره شوې وه. دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دَ

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الزکاة/باب الزکاة علی الزوج والأیتام فی الحجر (رقم-١٤٦٦) والترمذی کتاب الزکاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی زکاة الحلی(رقم-٦٣٥) والنسائی کتاب الزکاة/باب الصدقة علی الأقارب(رقم-٢٥٨٣) والدارمی من کتاب الزکاة/باب أی الصدقة أفضل؟(رقم-١٦٩٤) واحمد فی المسند ٥٠٢/٣

معاش څه ذریعه نه وه اوحضرت زینب رضی الله عنها دَ لاس کار کولو نوچې دې نه به کومه ګټه کیدله هغه به ئې په خپل خاوند اوبال بچ خرچ کوله. یوځل هغې وئیل چه زه څه ګټم نو هم په تائی خورم په دې کښې زما څه فائده. حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه جواب ورکړو ته دَ خپلې فائدې څه صورت راوباسه ماته ستا نقصان منظورنه دې. دَ دې دَ پاره چه کله هغوی دَ رسول الله ﷺ په وړاندې خبره بیان کړه نوحضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه هم په خپل خاوند اوبال بچ خرچ کوه ثواب به ملاویږی. (۴)

وفات:- دَ وفات باره کښې څه پوره تحقیقی خبره معلومه نه کړې شوه.

مرویات:- دَ هغې نه اته احادیث نقل دی په دې کښې دوه په بخاری اومسلم کښې موجوددی او په یو کښې دواړه متفق دی په یوکښې مسلم ځان له دې. ()

تسهیلات: قوله : وَلَوْمِنْ حُلِيِّكُنَّ:

د زیر استعمال کالو(زیوراتو) په وجوب زکاة کښې مذاهب:-

دَ ښځوکالی کوم چه دَهغوی په استعمال کښې وی په هغې کښې زکوة شته که نه؟ په دې باره کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① دَ څه معمولی فرق سره دَ ائمه ثلاثه په نیز دَ ښځو دَ استعمال په کالوکښې زکوة نشته دې.

② دَائمه احناف په نیز مطلقًا په کالوکښې زکوة واجب دې که په استعمال کښې وی اوکه نه وی.

داول فریق دلیل:- داول فریق سره څه قوی اومستند دلیل نشته دې صرف دَ احنافو دَ دلائلو تضعیف کولوسره خپل دلیل جوړوی. هغوی سره یو روایت دې چه مصنف عبدالرزاق کښې په دې الفاظو سره نقل دې: "لیس فی الحلی زکوة".

داول فریق د دلیل جواب:- اول فریق چې په نفی زکوة باندې چې دَ کوم بعضې روایاتونه استدلال کړې دې هلته دَ مرغلرو اوغمو دَ کالو نفی مقصود ده دَ سرو زرو اوسپینو زرو کالوکښې دَ زکوة صریح حکم موجود دې. حدیث نمبر۱۸۰۹ او حدیث نمبر ۱۸۱۰ اوګورئی.

د دویم فریق دلائل:- زیر بحث حدیث نمبر۱۸۰۷ د دوی مستدل دې

② حدیث نمبر۱۸۰۹ د دوی مستدل دې

③ دَ ام سلمه رضی الله عنها حدیث نمبر۱۸۱۰ د دوی مستدل دې. دا ټول احادیث په خپله دعویٰ باندې ډیر واضحه دلائل دی.

---

۱) مختصرالتلقیح). (۲)اخرجه البخاری فی الایمان باب ما جآء ان الاعمال بالنیة ومسلم فی الزکاة باب فضل النفقة والصدقة علی الاقربین والزوج والاولاد واحمد (۱۷۰۸/۶) والترمذی والنسائی وابن حبان (۴۲۳۹) والدارمی وهکذا البیهقی (۱۷۸/٤)۔

په زیر بحث حدیث دامام ترمذی اعتراض:- "ولا یصح فی هذا الباب" امام ترمذی رحمه الله د دې روایتونو دَ ضعیف ګرځولو کوشش کړې دې؟

داعتراض جواب:- په دې باندې علامه منذری رحمه الله فرمائی "لایصح فی هذا الباب مؤل والاخطاء" یعنی یادَ امام ترمذی رحمه الله په قول کښې تاویل کړې شوې دې ګنی دا به خطا ګرځولې شی څکه چه په دې باب کښې ډیرزیات روایات ثابت دی محدثینو دَ امام ترمذی رحمه الله په دې قول باندې دَ حیرانتیا اظهار کړې دې څکه چه په دې کښې دَ بعضې احادیثو توثیق کړې شوې دې.

[١٨٠٩] دزیوراتوزکات نه اداکولوسزا

١٨٠٩-()[١٦] ① وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ ② «أَنَّ امْرَأَتَيْنِ أَتَتَا رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ③ وَفِي أَيْدِيهِمَا سِوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ، ④ فَقَالَ لَهُمَا: "تُؤَدِّيَانِ زَكَاتَهُ؟" قَالَتَا: لَا. ⑤ فَقَالَ لَهُمَا رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ⑥ "أَتُحِبَّانِ أَنْ يُسَوِّرَكُمَا اللهُ بِسِوَارَيْنِ مِنْ نَارٍ؟" قَالَتَا: لَا، ⑦ قَالَ: "فَأَدِّيَا زَكَاتَهُ» "⑧ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ قَدْ رَوَى الْمُثَنَّى بْنُ الصَّبَّاحِ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ نَحْوَ هَذَا، ⑨ وَالْمُثَنَّى بْنُ الصَّبَّاحِ وَابْنُ لَهِيعَةَ يُضَعَّفَانِ فِي الْحَدِيثِ. ⑩ وَلَا يَصِحُّ فِي هَذَا الْبَابِ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- شَيْءٌ.

ترجمه: ① عمرو ابن شعیب د خپل پلار بزرګوار څخه او هغه دخپل نیکه محترم څخه نقل کوي ② چې یوه ورځ دوه ښځې د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضري شوي ③ هغه د دوارو په خپلو لاسونو کې د سرو زرو بنګړي اچولي وو ④ حضور صلی الله علیه وسلم هغه بنګړو ته کتلو سره وفرمایل چې آیا تاسو د دې زکات ادا کوئ؟ هغوئ دواړو اوویل چې نا ⑤ حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل ⑥ چې آیا تاسو دا خبره خوښوي چې (صبا د قیامت په ورځ) الله تعالی جل جلاله تاسو ته د اور دوه کړي واچوي؟ هغوئ عرض وکړو چې نا، ⑦ حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې بیا تاسو د دې کړو زکات ادا کوئ، ⑧ ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړي دي او ویلي يې دی چې دا حدیث دغه شان مثنّي ابن صباح د عمرو ابن شعیب څخه نقل کړي دي ⑨ او مثنّي ابن صباح او ابن لهیعه چې د دې حدیث یو دویم راوي دي دواړه د حدیث په باره کې ضعیف شمیرل کیږی ⑩ اوپه دي باره کې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه هیڅ صحیح حدیث منقول نه دي.

حل اللغات:- ① سِوَارَانِ: کړې، بنګړی.

[١] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب الکنز ما هو؟ وزکاة الحلی(رقم-١٥٦٣) والترمذی کتاب الزکاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی زکاة الحلی(رقم-٦٣٧) والنسائی کتاب الزکاة/باب: زکاة الحلی (رقم-٢٤٧٩) واحمد فی المسند ١٧٨/٢

تسهيلات:

قوله: يُضَعَّفَانِ فِي الْحَدِيثِ:

اشكال:- په دې حديث مبارک کښې دوه راويان مثنى بن صباح او ابن الهيعة متكلم فيه دي ددوئ متعلق امام ترمذى رحمه الله اشكال کړې دې چې هيڅ يو حديث په دې باب کښې ثابت نه دې؟

داشكال دوه جوابونه:- ① د كثرت طرق په وجه په سند کښې ضعف ختميږی

② امام ترمذى رحمه الله هغه احاديثو متعلق فرمائيلى دی کوم چې په ترمذى کښې دی او هغوئ پخپله نقل کړی دی دا نه چې په ټولو احاديثو باندې اعتراض دې لهذا دا اعتراض قابل قبول نه دې

[١٨١٠] د زکات اداشوی مال په کنز کښې عدم دخول

١٨١٠-( )[١٧] ١ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: ٢ «كُنْتُ أَلْبَسُ أَوْضَاحًا مِنْ ذَهَبٍ» ٣ فَقُلْتُ: يَارَسُولَ اللهِ أَكَنْزٌ هُوَ؟ ٤ فَقَالَ: "مَا بَلَغَ أَنْ تُؤَدَّى زَكَاتُهُ فَزُكِّيَ فَلَيْسَ بِكَنْزٍ» ". رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ١ بي بي ام سلمه رضي الله عنها فرمايي ٢ چې ما به د سرو زرو اوضاح (چې د يو زيور نوم دې) اچول ٣ يوه ورځ ما عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ! آيا د دې شمير هم په جمع کړې شوو خزانو کې دې؟ ٤ حضور ﷺ وفرمايل چې کوم شي په دومره مقدار کې وي چې د هغې زکات ادا شی (يعني حدِ نصاب ته رسي) نو د زکات د ادا کولو څخه روسته د هغې شمير په جمع کولو کې نه کيږي. (مالك ابوداؤد)

حل اللغات:- ① أَوْضَاحًا: د وَضَحٍ جمع ده. د سپينو زرو نه جوړيږی او دا سپين وی نو ځکه ورته وضح اووئيلې شو.

تسهيلات:

قوله: فَقُلْتُ: يَارَسُولَ اللهِ أَكَنْزٌ هُوَ؟:

د ام سلمه رضى الله عنها د سوال کولو مقصد:- د حضرت ام سلمه رضى الله عنها د سوال مطلب دا وو چې قرآن كريم د مال په جمع کولو باندې کوم وعيد فرمائيلې دې (وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ الاية) کوم خلق چې سره زر او سپين زر جمع کوی او په دې کښې دالله ﷻ په لار کښې خرچ نه کوی نو دوئ دپاره به دردناک عذاب وی.

نوآيا دا زما سره زر په دې وعيد کښې داخل دی؟ ددې جواب نبى كريم ﷺ دا ورکړو چې کوم مال د نصاب په قدر وی او ددې زکوة ادا کړې شی نو هغه مال په دې وعيد کښې نه

---

[١] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الزكاة /باب الكنز ما هو؟ وزكاة الحلى(رقم-١٥٦٤) ومالک فى الموطا كتاب الزكاة / باب الزكاة فى المعادن (رقم-٨)

دې داخل څکه چې قرآن کریم خو د دردناك عذاب خبر په هغه مال سره ورکوی کوم چې بغیر د زکوة نه جمع کړې شی.

[١٨١١] د تجارت په مال کښې زکاة

١٨١١ـ(١)[١٨] [١] وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَأْمُرُنَا أَنْ نُخْرِجَ الصَّدَقَةَ [٢] مِنَ الَّذِي نُعِدُّ لِلْبَيْعِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] سمره ابن جندب رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ به مونږ ته حکم راکولو چې مونږ دې زکات ورکوو [٢] د هغه مال کوم چه مونږ تجارت د پاره تیاروو. (ابوداؤد)

تسهیلات: قوله: الذی نُعِدُّ لِلْبَيْعِ:

په مال تجارت کښې د زکات وجوب: - ددې حدیث مبارك څخه معلومه شوه چې په مال تجارت کښې زکاة شته دې که نقود وی اوکه سامان تجارت وی.

[١٨١٢] په کانونوکښې دَزکات حکم

١٨١٢ـ(٢)[١٩] [١] وَعَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ [٢] أَنَّ «رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَقْطَعَ لِبِلَالِ بْنِ الْحَارِثِ الْمُزَنِيِّ مَعَادِنَ الْقَبَلِيَّةِ [٣] وَهِيَ مِنْ نَاحِيَةِ الْفُرُعِ» [٤] فَتِلْكَ الْمَعَادِنُ لَا تُؤْخَذُ مِنْهَا إِلَّا الزَّكَاةُ إِلَى الْيَوْمِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] ربیعه ابن ابي عبدالرحمٰن (تابعي) رحمه الله د ډیرو صحابه ؤ څخه نقل کوي [٢] چې نبي کریم ﷺ بلال ابن حارث مزني رضی الله عنه ته د قبيلي کانونه په طور د جاګیر ورکړي وو [٣] په مقام فرع کې [٤] نو د هغه کانونو څخه تر اوسه پورې یواځی زکات اخستي شي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① أَقْطَعَ: أَيْ خَصَّ: خاص کړی یعنی جدا کړی او ورکړی ئې وو. ② مَعَادِنَ: دَ معدن جمع ده، معدن هم هغه خزانه وی دَ کوم تفصیل چه تیرشوې دې. ③ نَاحِيَةِ: الْقَبَلِيَّةِ: دا د فُرُعِ یوه قبیله ده، دَ مدينې اومکې په مینځ کښې یومشهور مقام دې دَ کوم نوم چه فرع دې، د مدينې نه د پنځو ورځو په مسافت باندې دې.

یواشکال: - دلته یوسوال دې چه دَمعدن داسې اقطاع جائزنه ده. بیا حضورپاك دَ حضرت بلال بن حارث رضی الله عنه دَ پاره څنګه جدا کړو؟

داشکال جوابونه: - ① حضورپاك ﷺ حضرت بلال رضی الله عنه ته خالی زمکه ورکړې وه خزانه خو روستو ښکاره شوه.

② دامعادن دَعامو مسلمانانو په کار نه شو راتلې په دې وجه ئې هغه ته ورکړو.

③ امیرالجیش ته دومره حق حاصل دې چه هغه دَ خپل اختیار مطابق چاته دَ معادن نه څه

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب العروض إذا كانت للتجارة، هل فيها من زكاة (رقم-١٥٦٢)
(٢) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء/ باب فی إقطاع الأرضین(رقم-٣٠٦١)

ورکړي. اوس پاتې شوه دا مسئله چه په معادن کښې زکوة واجب دې که خمس واجب دې نودَ شوافع اومالکيه په نيز زکوة واجب دې خمس نه دې. دَ احنافو په نيز معدن کښې خمس واجب دې تفصيل تيرشوې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٨١٣] په ترکاريانو اودَ عرايا په کهجورو کښې عدم زکات

١٨١٣-(١)[٢٠] ١ عَنْ عَلِيٍّ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ٢ "«لَيْسَ فِي الْخَضْرَاوَاتِ صَدَقَةٌ، ٣ وَلَا فِي الْعَرَايَا صَدَقَةٌ، ٤ وَلَا فِي أَقَلَّ مِنْ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ، ٥ وَلَا فِي الْعَوَامِلِ صَدَقَةٌ، ٦ وَلَا فِي الْجَبْهَةِ صَدَقَةٌ» "، ٧ قَالَ الصَّقْرُ: الْجَبْهَةُ الْخَيْلُ وَالْبِغَالُ وَالْعَبِيدُ، رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت علي ﷺ روايت کوي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ٢ په سبزئ کې زکات واجب نه دي ٣ د عاريت په ونو کې زکات واجب نه دي ٤ د پنځه وسق څخه په کم کې زکات واجب نه دي ٥ د کار او روزګار په څاروو کې زکات واجب نه دي ٦ او په جبهه کې زکات واجب نه دي ٧ صقر رحمه الله وايي چې د جبهه څخه اس، غاتره [خچر] او غلام مراد دي. (دار قطني)

حل اللغات:- ① اَلْخَضْرَاوَاتِ: سبزيانې مثلا کدو، بادرنګ، باتينګړ وغيره، ② اَلْعَرَايَا: د عَرِيَّة جمع ده، عريه عطيه ته وائی. ③ أَوْسُق: د وَسْق جمع ده. دا يو پيمانه ده يو وسق د شپيته (٦٠) صاع برابر وی، او يو صاع د څلور مُده برابر وی. ④ اَلْعَوَامِلِ: دَعاملة جمع ده هغه څناور مراددی چه دَ کار روزګاردَپاره ساتلې شوې وی. ⑤ اَلْجَبْهَةِ: په حقيقت کښې داجبهه ميدان دَ جنګ ته وائی ليکن دلته راوی دَ کوم نوم چه صقر دې. جبهه نه قچر اسونه او غلام مراداخستې دی ځکه چه هغه په ميدان باندې جنګيږی.

تسهيلات:

قوله: فِي الْعَرَايَا: دَدې تفصيل به انشاء الله په کتاب البيوع کښې راشي.

قوله: لَيْسَ فِي الْخَضْرَاوَاتِ صَدَقَةٌ:

په سبزياتو کښې په وجوب عشر کښې مذاهب:-

سبزيانو او ترکاريانو ته وائی. دَدې متعلق بحث تير شوې دې چه دَ جمهورو په نيزيه دې کښې عشر نشته دې اودَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزيه دې کښې عشر واجب دې.

(١) اخرجه الدارقطني في السنن رقم الحديث ١ من باب: ليس في الخضراوات صدقة

[١٨١٤] د څناورو په وقص مقدار کښې د زکات حکم

١٨١٤ـ()[٢١] [١] وَعَنْ طَاوُسٍ «أَنَّ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ أُتِيَ بِوَقَصِ الْبَقَرِ فَقَالَ: [٢] لَمْ يَأْمُرْنِي فِيهِ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِشَيْءٍ». [٣] رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ وَالشَّافِعِيُّ، وَقَالَ: الْوَقَصُ مَا لَمْ يَبْلُغِ الْفَرِيضَةَ.

ترجمه: [١] حضرت طاؤس (تابعي) رحمه الله وايي چې حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ته وقص غواګانې راوستل شو (چې د هغې څخه زکات وصول کړي) خو هغه اوويل [٢] چې رسول الله ﷺ د دي څخه ماته د څه آخستو حکم نه دی فرمايلی (يعني حضور ﷺ په دي د زکات په طور څه نه دي واجب کړي) [٣] دار قطني شافعي، او امام شافعي رحمه الله فرمايلي دي چه وِقص هغه څاروو ته وايي چې (په ابتدايي طور باندې يا مخکې د دويم نصاب څخه پس) حدِ نصاب ته نه وي رسيدلي.

حل اللغات:- ① بِوَقَصِ: دَ وقص جمع اوقاص ده. دڅاروو د دوه نصابونو پـه مينځ کښې تعداد ته وائی دکوم په زکوة کښې چه اختلاف دې.

تسهيلات:

قوله: أُتِيَ بِوَقَصِ الْبَقَرِ:

دوقص تشريح:- دَ نصاب نه کم عدد مثلاً څلور اوښان دغـه شان دَ دوو اوښـانو دَپاره هم وقص اطلاق کيږی اودَ فريضه په مينځ کښې په اعدادباندې هم دَ وقص اطلاق کيږی. دلتـه دَ دوو نصابونو په مينځ کښې مثلاً دَ پنځونـه ترلسو اوښـانو پـه مينـځ کـښې او ديرشونه دَ څلويښتو غواګـانو درميـانی شمير بانـدې دَ وقـص اطـلاق شـوې دې. پـه دې عدد کـښې دَ صاحبينو په نيزباندې هيڅ زکوة نشتـه دې البتـه دَ امام صاحب په نيز نصاب سره زکوة شتـه دې. تفصيل تيرشوې دې.

....

[١] اخرجه الدارقطني باب: ليس فى الخضراوات صدقة (رقم-١٩٢٧)

[٢] بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

دَصدقه فطر بیان

خلاصة الباب:-

فيه ستة أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① مقدار صدقة الفطر: ١، ٢، ٣، ٥، ٦.

② من تجب عنه الصدقة: ١، ٣، ٥، ٦.

③ وقت أداء صدقة الفطر: ١.

④ فوائد صدقة الفطر: ٤، ٦.

دصدقه فطر نومونه:- ① صدقة الفطر ② زکوة الصوم ③ صدقة الصوم دي ④ صدقة الرؤس دي. ⑤ زکوة رمضان

دصدقه فطر د وجوب حکمت:- وکیع بن جراح رحمه الله فرمائي چه صدقة الفطر په مانځه کښې دَ سجده سهو په شان دي. لهذا دَ روژو دَ نقصاناتو دَ پوره کولو دَپاره صدقه فطر ده.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٨١٥] د صدقه فطر حکم

١٨١٥-([1]) [١] ⓵ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: ⓶ «فَرَضَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- زَكَاةَ الْفِطْرِ ⓷ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ ⓸ عَلَى الْعَبْدِ وَالْحُرِّ وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى وَالصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، ⓹ وَأَمَرَ بِهَا أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⓵ ابن عمر رضی الله عنهما روایت کوي ⓶ چي رسول الله ﷺ زکات فطر (د صدقهٔ فطر په طور) فرض کړخولي دي ⓷ یو صاع کجوري وي یا یو صاع وربشي ⓸ په مسلمانانو کي په هر غلام، آزاد سړي، ښځي او وړوکي او لوي باندې ⓹ او حضور ﷺ د صدقهٔ فطر په باره کي دا حکم هم فرمایلي دي چي هغه دي خلقو ته د عید الفطر (وړوکي اختر) د مانځه د پاره د تلو څخه مخکي ورکول شي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① صَاعًا: دا یو پیمانه ده چه یو صاع ٢٧٠ تولو برابر وی یا یو صاع په اته رطل باندې مشتمل دي.

---

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الزکاة/باب فرض صدقة الفطر (رقم-١٥٠٣) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب زکاة الفطر علی المسلمین من التمر والشعیر (رقم)١٢ - (٩٨٤) ابوداود کتاب الزکاة/باب کم یؤدی فی صدقة الفطر؟(رقم-١٦١٢) والترمذی کتاب الزکاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صدقة الفطر(رقم-٦٧٦) والنسائی کتاب الزکاة/باب فرض زکاة رمضان علی المسلمین دون المعاهدین (رقم-٢٥٠٤) وابن ماجة کتاب الزکاة/باب صدقة الفطر(رقم-١٨٢٦) والدارمی من کتاب الزکاة/باب فی زکاة الفطر(رقم-١٧٠٢)ومالک فی الموطا کتاب الزکاة / باب مکیلة زکاة الفطر(رقم-٥٢)

تسهیلات:

قوله: فَرَضَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- زَكَاةَ الْفِطْرِ

په صدقه فطر د فرض د اطلاق توجیه: –په حدیث کښې صدقه فطر ته فرض وئیلې شوې دې خودا په لغوی اعتبار سره یعنی د مقرر کولو په معنی کښې دې په اصطلاحی معنی کښې نه دې مستعمل چې صدقه فطر ته مونځ د مونځ وغیره فرائضو پشان فرض اووایو.

د صدقه فطر څلور مسائل: –په صدقه دَفطر کښې ټولې څلور مسئلې دی:

① د دې حکم څه دې؟

② دا په چا واجبیږی ؟

③ د چا د طرف نه واجبیږی؟

④ څومره مقدار کښې واجبیږی؟

اوله مسئله دا ده.

د صدقه فطر په حکم کښې مذاهب: -

صدقة الفطر فرض ده که واجب دې یا سنت دې. په دې کښې دَ فقهاء کرامو اختلاف دې.

① دَ امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نیز صدقة الفطر فرض دې.

② دَ امام مالك رحمه الله په نیز سنت دې. [الکاشف: ۵۰/۴.]

③ دَ ائمه احناف په نیز صدقة الفطر واجب ده.

داول فریق دلائل: –زیر بحث حدیث کښې لفظ د "فرض" د دوی مستدل دې چه په خپله حقیقی معنی باندې واضح دلیل دې.

د دویم فریق دلیل: –دوی هم فرض دَ قَدَرَ په معنی کښې اخستې دې. لیکن دوی قدر په سنت باندې حمل کړې.

د اول او دویم فریق د دلائلو جواب: –دا خبر واحد دې په دې سره فرض نه شی ثابتولې لهذا فرض به په معنی دَ قدر مقررولې شی. بیا شریعت دا تقدیر دَ واجب طرف ته منتقل کړو لکه چه احادیث کښې دی لهذا سنت پاتې نه شو نو مالکیه استدلال نه شی کولې.

د دریم فریق دلائل: – ① دَ عمرو بن شعیب رضي الله عنه حدیث نمبر ۱۸۱۹ د دوی مستدل دې په کوم کښې "الاان صدقة الفطر واجبة" واضح الفاظ موجود دی.

② دَ فرض دَپاره دَ قطعی الثبوت او قطعی الدلالة نص ضرورت دې کوم چه دلته نشته دې. لهذا صدقه فرض نه بلکه واجب ده چه عملاً دَ فرض په حکم کښې ده.

په من وجب عليه صدقة الفطر کښې مذاهب:-

یعنی صدقه دَ فطر په چا باندې واجب ده. ① دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز صدقه فطر صرف په مالك دَ نصاب باندې واجب کیږي یعنی په صاحب دَ یسار یعنی فراخئی باندې واجب ده په غریب باندې نه ده ځکه چه غریب خو اخستونکې دې. دا صدقه دَغربت دَختمولو دَپاره ده دَ غریب دَ ختمولو دَپاره نه ده.

② دَ شوافع په نیز صدقه دَ فطر په هرهغه سړي باندې فرض ده چاسره چه دَ یو ورځې شپې نه زیاتی خرچه موجود وي.

داول فریق دلیل:- دَ حضرت عبدالله بن ثعلبه حدیث نمبر۱۸۱۹ د دوی مستدل دې په هغې کښې دا الفاظ دي: "امافقيركم فيردالله عليه اكثرمماعطاه".

د دویم فریق دلیل:- "لاصدقة الاعن ظهرغنی" د دوی مستدل دې

په من وجب عليه الصدقة کښې مذاهب:-

یعنی صدقه فطربه دَچا چا دَ طرف نه ادا کیږي. په دې کښې

④ دَ فقهاء کرامو اختلاف دې اودَ اختلاف بنیاد په حدیث کښې من المسلمين لفظ دې چه دا چاسره متعلق دې.

① دَ ائمه ثلاثه په نیز صرف دَ مسلمان مملوك دَ طرف نه مولی باندې صدقه واجب ده دکافر دَطرف نه نه. دَ ائمه احناف په نیز دَهرقسم غلام دَ طرف نه په مولی باندې صدقه ورکول واجب دي.

داول فریق دلیل:- زیر بحث حدیث د دوی مستدل دې دلته دَ من المسلمین جمله دَ علی الحر والعبدنه حال ده کوم چه دَدې دَپاره قید دې لهذا دَ حر مسلمان کیدل هم شرط دې اودَ عبدمسلمان کیدل هم شرط دې.

داول فریق د دلیل جواب:- "من المسلمين" کلماتو تعلق دَ ائمه احناف په نیز دَ حر او عبدسره نه دی بلکه صدقه اداکونکی سره دی چه صدقه اداکونکې مسلمان کیدل پکاردي. اوس مسلمان ئې چه دَچا دَطرف نه اداکول غواړي جائز ده که هغه غلام مجوسي وي یا هندو غلام وي یا عیسائی وي دلته مطلق غلام ذکر دې که هغه مسلمان وي اوکه کافر دا مقید کول مناسب نه دي. او په نورو احادیثو کښې دَدې تائیددې ځکه چه هلته دَ حال او ذوالحال دَقید نه آزادیدو سره په احادیثو کښې دَ مطلق غلام ذکرراغلې دې.

د دویم فریق دلیل:- مصنف عبدالرزاق او دارقطنی کښې دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما حدیث د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه دادي: ((يخرج زكوة الفطرعن كل مملوك وان كان يهودياً اونصرانياً)) دغه شان دا الفاظ هم نقل دي: ((ادواعن كل حروعبد يهودي اونصراني اومجوسي)).

[١٨١٦] دَ صدقې دَ فطر مقدار

١٨١٦ —(¹)[٢][١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: [٢] «كُنَّا نُخْرِجُ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ طَعَامٍ [٣] أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ [٤] أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ [٤] أَوْ صَاعًا مِنْ أَقِطٍ [٥] أَوْ صَاعًا مِنْ زَبِيبٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابو سعيد خدري رضي الله عنه وايي [٢] چې مونږ به صدقهٔ فطر ويستله د طعام څخه يو صاع [٣] يا د وربشو څخه يو صاع [٤] يا د خرماؤ څخه يو صاع [٤] يا د پنير څخه يو صاع [٥] يا د وچو انګورو [اوسکو] څخه يو صاع . (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① زَكَاةَ الْفِطْرِ: صدقه فطر، سرسايه، ② أَقِطٍ: پنير (دا په يو خاص طريقه پئ، شودې اوچولو سره جوړولې شی). ③ زَبِيبٍ: اوچ انګور، اوسکې.

تسهيلات: -

قوله: صَاعًا مِنْ طَعَامٍ:

د غنمو د صدقه فطر په مقدار کښې مذاهب: -

په صدقه دَ فطر کښې چه دَ څومره غلو ذکر کړې شوې دې په هغې کښې په يو کښې هم اختلاف نشته دې په ټولو څيزونو کښې يوصاع صدقه دَفطر ده صرف په غنمو کښې اختلاف دې چه آيا په دې کښې نصف صاع دې که يو صاع.

① دَ ائمه ثلاثه په نيز لکه څنګه چه په نورو څيزونو کښې يوصاع صدقه دَ فطر ده دغه شان په غنمو کښې هم يوصاع واجب دې.

② دَ ائمه احناف په نيز په غنمو کښې نصف صاع صدقه دَ فطر ده.

داول فريق دليل: -زيربحث د حضرت ابوسعيد خدری رضي الله عنه د دوی روايت دې په کوم کښې چه "صاعامن طعام" الفاظ راغلی دی اودَ طعام نه غنم مراددی ځکه چه دَ نورو څيزونو ذکر دَغنمو نه پس دې کوم چه په دې باندې عطف دې لهذا تغاير ضروری دې.

د ددويم فريق دلائل: - ① فصل ثانی کښې دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما حديث نمبر١٨١٧ کښې "اونصف صاع من قمح" صريح الفاظ موجوددی ځکه چه دَ "قمح" لفظ دَ غنمودَپاره خاص دې.

② دغه شان په فصل ثالث کښې دَ حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه حديث نمبر١٨١٩ کښې "مدان من قمح" الفاظ راغلی دی په دې دواړه روايآتو کښې په صراحت سره په غنمو او بيا نصف صاع باندې دلالت کوی. بيا دَعطف په ذريعه سره ئی طعام جدا ذکرکړې دې.

¹) اخرجه البخاري فی كتاب الزكاة/باب: صدقة الفطر صاع من طعام (رقم-١٥٠٦) ومسلم فی كتاب الزكاة/باب زكاة الفطر على المسلمين من التمر والشعير (رقم) ١٧ - (٩٨٥) وابوداود كتاب الزكاة/باب كم يؤدى فی صدقة الفطر؟(رقم-١٦١٤) والترمذی كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صدقة الفطر(رقم-٦٧٣) والنسائی كتاب الزكاة/باب: التمر فی زكاة الفطر(رقم-٢٥١٢) وابن ماجة كتاب الزكاة/باب صدقة الفطر(رقم-١٨٢٩) والدارمی من كتاب الزكاة/باب فی زكاة الفطر(رقم-١٧٠٤)

③ په فصل ثالث کښې دَ حضرت عبدالله بن ثعلبه رضي الله عنه حدیث نمبر ۱۸۲۰ کښې "صاع من بر" صریح الفاظ راغلی دی. دَ احادیثو په نورو کتابونو کښې هم دَ نصف صاع غنمو ذکر موجود دې.

داول فریق د دلیل جوابونه:- ① دا حدیث متحمل دې څکه چه دَطعام لفظ غنمو سره خاص نه دې بلکه په نورو غلو باندې دَدې اطلاق کیږی خاص کر چه جوار دَ دې نه مراد واخستلې شی. په دې حدیث کښې دَ صاع نه پس چه کوم عطف کړې شوې دې دا عطف دَ خاص علی العام دَقبیل نه دې. بهرحال په لفظ دَ طعام کښې ډیر احتمالات دی او لفظ "قمح" یا لفظ "بر" غنمو سره خاص دې. لهذا دَمتحمل په ځائی دَ متعین نه استدلال کول پکاردی. جوهری لیکلی دی چه دَطعام اطلاق په هرخوړلووالا څیز باندې کیږی غنمو سره خاص نه دې. هسې هم په عربو کښې غنم نایاب وو دَهغوی په نیز دَ طعام اطلاق په نورو غلو باندې کیدلو.

② څه بنه ټیك شوه مونږ دَ څه وخت دَپاره منو چه دَ طعام نه مراد هم غنم دی اودلته هم یو صاع غنم ورکړې شوې دی لیکن مونږ وایو چه نصف صاع په صدقه دَ فطر کښې ورکړې شو او نصف صاع په توګه دَ تطوع او تبرع وو نودا اوس هم جائز دی چه سړې دې زیاته صدقه کوی. پخپله دَحضرت ابوسعید خدری رضي الله عنه الفاظ "کنا نخرج" نه معلومیږی چه دا دَ حضورپاك حکم نه وو بلکه هغوی به پخپله داسې کول.

قوله: أَقِطٍ:

د قرط تعریف او ددې د جوړولو طریقه:- دې ته قرط هم وائی پنیر ته وائی. دَدې دَ جوړولو طریقه داسې ده چه تازه لسی اوخوټکولې شی چه دَهغې اوبه جدا شی او اقط ئی جدا شی بیا دا په کپړا کښې راغونډ کړې شی دې دَپاره چه اوچ شی. په مظاهرحق جدید کښې غلط لیکلې شوی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٨١٧] په صدقه فطر کښې د غنمو مقدار

١٨١٧ –(١)[٣] [١] «عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فِي آخِرِ رَمَضَانَ: [٢] أَخْرِجُوا صَدَقَةَ صَوْمِكُمْ، [٣] فَرَضَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - هٰذِهِ الصَّدَقَةَ [٤] صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، أَوْ شَعِيرٍ، [٥] أَوْ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ قَمْحٍ، [٥] عَلَى كُلِّ حُرٍّ، أَوْ مَمْلُوكٍ، ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى، صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] روایت دې چې ابن عباس رضي الله عنه د رمضان په آخري ورځو کې خلقو ته اوویل [٢]

[١] اخرجه ابوداود کتاب الزکاة/باب من روی نصف صاع من قمح (رقم-١٦٢٢) والنسائی کتاب الزکاة/مکیلة زکاة الفطر(رقم-٢٥٠٨)

چې تاسو د خپلو روژو زکات وکاږئ (یعني صدقهٔ فطر ادا کړئ) [٣] رسول الله ﷺ دا صدقه فرض (یعني واجب) ګرځولي ده [٤] په خرماؤ او وربشو کې یو صاع [٥] او په غنمو کې نیم صاع [٦] په هر مسلمان آزاد، غلام، وینځې، سړي، ښځې او وړو او لوئي باندې. (ابوداؤد نسايي)

حل اللغات: - ① قَمْحٍ: أَيْ حِنْطَةٍ: غنمو ته وائی.

تسهیلات: - **قوله: أَوْشَعِيرٍ:**

په اوربشو کښې دامام ابوحنیفه مستدل: - امام اعظم رحمه الله هم د دې مطابق قول کړې دې که په صدقه فطر کښې اوربشې ورکوی نو ددې مقدار نیم صاع یعنی یو کلو (٦٣٣) ګرام دې.

[١٨١٨] د صدقه فطر د وجوب وجه

١٨١٨ - (١) [٣] [١] وَعَنْهُ قَالَ: «فَرَضَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - زَكَاةَ الْفِطْرِ طُهْرَ الصِّيَامِ [٢] مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ، [٣] وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِينِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضي الله عنهما روایت کوي چې رسول الله ﷺ روژې د پاکولو د پاره صدقه فطر لازمه ګرځولي ده [٢] د بیهوده خبرو او لغوکلام څخه [٣] او په مسکینانو باندې د خوړلو دپاره. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① اللَّغْوِ: وَهُوَمَالَايَعْنِى: عبث او فضول، باطل خبرې، ② الرَّفَثِ: أَيِ الْفُحْشُ مِنَ الْكَلَامِ: دګناه او د بې حیایئ خبرې، ③ طُعْمَةً: خوراک، رزق.

تسهیلات:

قوله: وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِينِ:

اسلام دَعدل اومساوات علمبردار مذهب دې. دَ وړوکی اختر په موقع به غنیان خوشحالئی کوی او فقیران به ورته په کتلوسره سوزیږی اوترقیږی. په دې وجه اسلام په مالدارانو باندې واجب اوګرځول چه تاسو په وړوکی اختر کښې صدقه فطر ورکوئی دې دَپاره چه غریبانان خلق هم تاسو سره په خوشحالو کښې شرکت اوکړې شی. هم دغه وجه ده چه صدقه فطر دَ وړوکی اختر دَ مونځ نه وړاندې اداکول پکاردی اوهم دغه وجه ده چه فطره دومره عام کړې شوې ده چه په معمولی مالداربانداې هم واجب کړې شوې ده او په لوئی، وړوکی، ښځه، سړی، غلام او آزاد ټولوباندې واجب ګرځولې شوې ده. تردې چه دَ وړوکی اختر په شپه دَ صبح صادق نه وړاندې پیداکیدونکی بچی باندې دَهغه دَ طرف نه هم واجب ده. په زیربحث حدیث کښې هم دَدې حکمت طرف ته په پورتنو الفاظو کښې اشاره کړې شوې ده.

---

[١] اخرجه ابوداود کتاب الزکاة/باب زکاة الفطر(رقم-١٦٠٩) وابن ماجة کتاب الزکاة/باب صدقة الفطر(رقم-١٨٢٧)

دویم حکمت دادې چه په روژو کښې څه کمزورۍ پاتې شوې وي دَهغه ټولو کوتاهیانو دَ ختمولو دَپاره صدقه فطر مقرر کړې شوې ده. دَ اخترد مانځه نه وړاندې او پس په دواړو وختونو کښې صدقه دَ فطر اداکولې شي البته اول اداکول بهتر دي. دَ شيخ وکيع رحمه الله قول دې چه څنګه دَ مونځ دَ کوتاهودَ ازاله دَپاره سجده دَ سهوې مقرر ده هم دغه شان دَ روژو دَ نقصان دَ ازالې دَپاره صدقه دَ فطر مقرر ده.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٨١٩] په صدقه فطر کښې د غنمو مقدار

١٨١٩-(١)[٥] ١ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ ٢ أَنَّ «النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَعَثَ مُنَادِيًا فِي فِجَاجِ مَكَّةَ: ٣ "أَلَا إِنَّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ، ٤ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى، حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ، صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ ٥ مُدَّانِ مِنْ قَمْحٍ، أَوْ سِوَاهُ، أَوْ صَاعٌ مِنْ طَعَامٍ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ عمرو بن شعيب رحمه الله د خپل پلار څخه اوهغه دخپل نيكه څخه نقل كوي ٢ چې نبي كريم ﷺ د مكې په كوڅو كې اعلان كونكي وليږلو ٣ چې واورئ صدقهٔ فطر (سرسايه) په هر مسلمان باندې واجب ده ٤ كه سړي وي كه ښځه، آزاد وي كه غلام، ماشوم وي او كه لوی ٥ (او د دې مقدار) د غنمو يا د هغې په شان څيزونه (مثلاً وچ انګور وغيره) څخه دوه مُد او د غنمو څخه علاوه په نورو غلو كې يوه صاع ده. (ترمذي)

حل اللغات: - ① فِجَاجِ: أَيْ فِي طُرُقِهَا: لارې او كوڅې، ② قَمْحٍ: أَيْ حِنْطَةٍ: غنمو ته وائي.

تسهيلات:

قوله: أَوْ صَاعٌ مِنْ طَعَامٍ:

د صاع او مد مقدار: - د دوؤ مدو نه مراد نيم صاع دی ځكه چې د يو مد غلې وزن تقريبا څوارلس چټاكۍ وی او يو صاع د درې نيمو سيرو برابر وی لهذا د صدقه فطر په طور غنم پاؤ كم دوه سيره يعنی يو كلو ۶۳۳ ګرام وركول پكار دی چونكه د غنمو اوړهٔ هم د غنمو په مثل دی نو په دې وجه دواړه څيزونه هم په دې مقدار وركول پكار دی.

[١٨٢٠] مالدار او فقير دواړو ته د صدقه فطر اداكولو ترغيب

١٨٢٠-(٢)[٦] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ، أَوْ ثَعْلَبَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، بْنِ أَبِي صُعَيْرٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ "«صَاعٌ مِنْ بُرٍّ، أَوْ قَمْحٍ عَنْ كُلِّ اثْنَيْنِ، ٣ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ، حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ، ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى، ٤ أَمَّا غَنِيُّكُمْ فَيُزَكِّيهِ اللَّهُ، ٥ وَأَمَّا فَقِيرُكُمْ فَيَرُدُّ عَلَيْهِ أَكْثَرَ مِمَّا أَعْطَاهُ» "، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

---

(١) اخرجه الترمذی كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صدقة الفطر(رقم-٦٧٤)
(٢) اخرجه ابوداود كتاب الزكاة/باب من روى نصف صاع من قمح (رقم-١٦١٩)

ترجمه:١ عبدالله ابن ثعلبه يا حضرت ثعلبه ابن عبدالله بن ابي صعير د خپل پلار څخه نقل كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ چې [سرسايه (صدقهٔ فطر) واجب ده] د غنمو څخه يوه صاع يا د دوو كسانو د طرف څخه (چي د هر يو د طرف څخه به نيمه نيمه صاع وي) ٣ كه ماشوم وي او كه لوي، آزاد وي او كه غلام، سړي وي كه ښځه،٤ د غني معامله دا ده چې الله تعالى ﷻ (د سرسايي وركولو په وجه) هغه پاكيزه جوړوى ٥ او د فقير معامله دا ده چې الله تعالى ﷻ هغې ته د هغه څخه زيات وركوي څومره چې هغه د صدقهٔ فطر په طور وركړل. (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله :عَبْدِاللّٰهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ:

د راوى د نوم تصحيح:- دمشكوة په نسخو كښې اګر چې د دې حديث مبارك د راوى نوم داشان ليكلې شوې دې خو صحيح عبدالله ابن ثعلبه ابن ابى صغير يا ابن ابى صعير عن ابيه إلخ دې.

حضرت ثعلبه ﷺ صحابى دې او ددوئ نه ددوئ څوئې عبدالله ذا روايت نقل كوى.

قوله :أَمَّا غَنِيُّكُمْ فَيُزَكِّيهِ اللّٰهُ، وَأَمَّا فَقِيرُكُمْ فَيَرُدُّ عَلَيْهِ أَكْثَرَ مِمَّا أَعْطَاهُ:

غريب ته د صدقه فطر وركولو ترغيب:- د حديث مبارك د آخرى جملې مطلب دادې چې غنى دې هم صدقه فطروركوى او فقير دې هم صدقه فطر ادا كوى الله ﷻ د دواړو باره كښې فرمائى چې الله ﷻ به غنى لره دده د صدقه فطر د وركولو په وجه پاك كړى او فقير لره ددې نه زيات وركوى څومره چې ده صدقه فطر وركړې ده دا بشارت اګر چې غنى دپاره هم دې چې الله ﷻ دده په مال كښې ددې نه زيات بركت اچوى څومره چې ده وركړې دې خو دا بشارت ئې فقير سره په دې وجه مخصوص كړو چې ده ته همت ملاؤ شى او دې په صدقه فطر وركولو كښې سستى اونه كړى.

....

[٣] بَابُ مَنْ لَاتَحِلُّ لَهُ الصَّدَقَةُ

دَکوموخلقودَپاره زکات اخستل حلال نه دی

خلاصة الباب:-

فيه أربعة عشر حديثاً مشتملة على ثلاث مسائل:

① من لا تحل له الصدقة: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۴-

② حل الهدية للنبى ﷺ : ۴، ۵، ۶، ۷

③ من تحل له الصدقة: ۸، ۱۲، ۱۳-

په تمهیدی توګه باندې په دې خبره باندې پوهیدل پکاردی چه په دې باب کښې به هغه احادیث نقل کولې شی دکومونه چه معلومه شی چه دَ کوموخلقودَپاره زکوة اخستل جائزدی اودَ کومودَپاره ناجائزدی. څکه دَ مالدارانودَ پاره زکوة اخستل جائزنه دی.

د مالدارانو درې قسمونه:- اغنیاء یعنی مالداران په درې قسمه دی.

① یوغنی هغه دې چاسره چه دَزیاتیدونکی مال نه نصاب موجوددې په دوی باندې زکوة صدقه فطر او قربانی کول واجب دی. اوده له هرقسم صدقه اخستل جائزنه دی.

② دویم غنی هغه دې چاسره چه دَ ضرورت اصلیه نه زیات مال موجود دې مګر هغه زیاتیدونکې مال نه دې اوپه هغې کښې دَ تجارت نیت هم نشته دې. په داسې سړی خوزکوة ورکول واجب نه دی لیکن قربانی اوصدقه دَ فطر په ده باندې واجب دی. اودَده دَپاره هرقسم زکوة صدقات اخستل حرام دی.

③ دریم هغه سړې دې چاسره چه دَ حاجت اصلیه نه زیات نه زیاتیدونکې مال شته اونه ورسره نه زیاتیدونکې یعنی دَ نصاب مالك نه دې لیکن دَده ضرورت پوره کیږی دَده هیڅ ضرورت بندنه دې. په ده باندې نه زکوة فرض دې نه صدقه فطر اونه قربانی واجب ده خودَده دَپاره سوال کول هم جائزنه دی اوکه چاده ته زکوة ورکړو نوهغه قبلولې شی.

چاته زکات ورکول ناجائز دی؟:-

① بهرحال کوم سړې چه صاحب دَ نصاب وی هغه خپل زکوة په خپل فروع او اصول کښې نه شی ورکولې. دَامام صاحب په نیزخاوند ښځې ته یا ښځه خپل خاوندته زکوة نه شی ورکولې. مګر صاحبین فرمائی چه ښځه خپل خاوند ته زکوة ورکولې شی.

② دَ زکوة مال خپلې وینځې غلام وغیره ته نه شی ورکولې کیدې.

③ دَ سخرګنئی خپلوان کښې زکوة ورکول صحیح دی کله چه اخستونکې مستحق وی.

④ دَ زکوة مال یوغنی ته ورکول جائزنه دی څه اغنیاء مستثنی دی تفصیل وړاندې راځی.

⑤ هاشمی ته زکوة ورکول جائزنه دی سید ته هاشمی وائی.

⑥ کافر له زکوة ورکول جائزنه دی.

⑦ دَ جمات یا مدرسې دَ آبادولو دَپاره اودَ مرمت دَپاره یادَ یو مړی دَ کفن دفن دَپاره زکوة ورکول صحیح نه دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۸۲۱] په نبی علیه السلام د زکات اخستلو حرمت

١٨٢١ — (١) [١] ١ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: «مَرَّ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِتَمْرَةٍ فِي الطَّرِيقِ ٢ فَقَالَ: "لَوْلَا أَنِّي أَخَافُ أَنْ تَكُونَ مِنَ الصَّدَقَةِ لَأَكَلْتُهَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت انس رضي الله عنه وايي چې نبي کريم ﷺ په يوي کجوري باندې تير شو چې په لار کې پرته وه ٢ د هغې په ليدو سره حضور ﷺ وفرمايل چې که ما سره دا خوف نه وې چې دا خرما به د زکات وي نوما به [د الله د نعمت د تعظيم په خاطر] دا ضرور خوړلي وی. (بخاري مسلم)

تسهیلات:

قوله: لَوْلَا أَنِّي أَخَافُ أَنْ تَكُونَ مِنَ الصَّدَقَةِ لَأَكَلْتُهَا

د حدیث بعضې فوائد: —① صدقه په نبی علیه السلام په بنو هاشم او په بنوعبدالمطلب باندې حرامه ده.البته په کوم غلام چې نبی علیه السلام آزاد کړی وی نود هغه په باره کښې دوه اقوال دی صحیح قول دا دې چې په هغه باندې هم حرام ده.باقی نفلی صدقه صرف په نبی علیه السلام باندې حرامه ده او اصح قول دا دې چې په بنو هاشم او بنو عبدالمطلب باندې حرامه نه ده.

② په لاره کښې چې کوم معمولی څیز پروت وی نودا اوچتول او خوړل او په استعمال کښې راوستل په هغه وخت کښې جائز دی چې دا ګمان وی چې مالک به ددې لټون نه کوی.

③ د متقی دپاره غوره دی چې د داسې مشتبه څیزونو څخه ځان ساتی.

....

(١) اخرجه البخاری فی کتاب البیوع/باب ما یتنزه من الشبهات (رقم-٢٠٥٥) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب تحریم الزکاة علی رسول الله صلی الله علیه وسلم وعلی آله وهم بنو هاشم وبنو المطلب دون غیرهم (رقم) ١٦٤ - (١٠٧١)

[۱۸۲۲] په بنوهاشم د صدقه فطر اخستلو حرمت

۱۸۲۲—(¹)[٢] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: [٢] «أَخَذَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ تَمْرَةً مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ، [٣] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "كِخْ كِخْ" لِيَطْرَحَهَا، [٤] ثُمَّ قَالَ: "أَمَا شَعَرْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابوهريره ﷺ روايت کوي [٢] چې يو ځل حضرت حسن بن علي ﷺ د زکات اېښودل شوو خرماؤ څخه يوه خرما پورته کولو سره په خپله خُله کې واچوله [٣] د دې په ليدو سره حضور ﷺ ورته وفرمايل چې دا راوکاږه راوکاږه (او دغه شان يي فرمايل چه هغه د خُلي څخه ويستلو سره يي وغورځی [٤] بيا ورته حضور ﷺ وفرمايل چې آيا تاته نه ده معلومه چې مونږ (بني هاشم) د صدقي د مال څخه نه خورو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① كِخْ كِخْ: بِمَعْنَى اتْرُكْ وَارْمِ: يعنى مه خوره اوغورزوه، د يوخراب او نامناسب کار نه د ماشومانو منع کولودپاره دا لفظ استعمالولې شی. دا د فارسی الفاظ دی عربۍ ته رامنتقل شوی دی، تکرار دتاکيد دپاره دي. ② لِيَطْرَحَهَا: چه راؤ ئې غورزوی. ③ أَمَا شَعَرْتَ: أَيْ مَا عَلِمْتَ: آيا تاته معلومه نه ده؟

تسهيلات:

قوله: أَمَا شَعَرْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ

د حديثو څخه معلومې شوې فائدې:-

دَدې حديث اودې نه مخکښې حديث نه څه فائدې حاصلیږی.

① دَ حضورپاك دَ پاره دَ زکوة مال خوړل حرام وو.

② په لارکښې پروت څيز خوړلې شی هرکله چه هغه په لږ مقدار کښې وی.

③ دَبنوهاشم دَپاره صدقه واجبه اخستل حرام دي مګر صدقه نافله خوړل جائز دی.

④ په مورپلار باندې فرض دی چه هغوی دې دَاولاد صحيح تربيت اوکړی اودَمنکرات نه دې خپل اولاد بچ کړی. او په څه منکرکښې دَې دَهغوی امداد نه کوی لکه ماشومانو ته ريښم اغوستل يا دَ سرو زرو او سپينو زرو کالی ماشومانوهلکانوته اچول ټول ناجائز دی.

⑤ په کوم څيزکښې چه دَ حرمت لږ شان هم شك وی دَمؤمن دَپاره هغې ته نيزدې کيدل مناسب نه دی.

---

¹) اخرجه البخارى فى كتاب الزكاة/باب ما يذكر فى الصدقة للنبى صلى الله عليه وسلم وآله (رقم-١٤٩١) ومسلم فى كتاب الزكاة/باب تحريم الزكاة على رسول الله صلى الله عليه وسلم وعلى آله وهم بنو هاشم وبنو المطلب دون غيرهم (رقم) ١٦١ - (١٠٦٩) والنسائى كتاب الزكاة/باب استعمال آل النبى صلى الله عليه وسلم على الصدقة(رقم-٢٦٠٩) واحمد فى المسند ١٦٦/٤

[١٨٢٣] دَ بنوهاشم دَپاره دَ زكات خوړلو حرمت

١٨٢٣—(١)[٣] ١ وَعَنْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «إِنَّ هَذِهِ الصَّدَقَاتِ إِنَّمَا هِيَ أَوْسَاخُ النَّاسِ، ٣ وَإِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِمُحَمَّدٍ، وَلَا لِآلِ مُحَمَّدٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ عبد المطلب رضي الله عنه ابن ربيعه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ دا صدقه (يعني زكات) د انسانانو خيري دي ٣ صدقه نه خو د محمد ﷺ د پاره حلاله ده او نه د آل محمد (بني هاشم) د پاره حلاله ده. (مسلم)

حل اللغات: - ① أَوْسَاخُ: دا دَ وسخ جمع ده دَ خيرى وغيره په معنى كښې دې.

تسهيلات: **قوله** "وَإِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِمُحَمَّدٍ، وَلَا لِآلِ مُحَمَّدٍ"

بنوهاشم ته د زكات نه وركولو حكمت: - هاشمي يعنى سادات او آل رسول ته صدقات واجبه وركول هم جائزنه دى اوهغوى له اخستل هم جائزنه دى. زير بحث حديث په واضحه توګه په دې باندې دلالت كوى. دغه شان دَ سادات غلامانو او وينځوته له هم صدقات اخستل اووركول جائزنه دى ځكه چه زكوة دَ خلقو دَ مالونو خيرې دې اودَ بنى هاشم بنياد پاك دې چرته هغه په دې سره ككړنه شى. په دې وجه به حضورپاك صدقه نه قبلوله اوتحفه به ئى قبلوله ځكه چه په تحفه كښې اكرام اواعزاز مقصود وى او په صدقه كښې دَمصدق له دَ پاره اكرام اواعزاز اړخ نشته دې.

د بنو هاشم مصداق: - دَپنځوبزرګانو اولاد ته هاشمى وئيلى شى.

① دَحضرت على رضي الله عنه اولاد كه هغه دَ فاطمه بى بى رضي الله عنها نه وى اوكه دَ بلې بى بى نه وى.

② دَحضرت عباس رضي الله عنه اولاد. ③ دَحضرت جعفر رضي الله عنه اولاد.

④ دَحضرت عقيل رضي الله عنه اولاد.

⑤ دَحارث بن عبد المطلب اولاد. دَ بنوهاشم دَ اوچتې مرتبې دَ وجې نه بعضې احكام دَدوى دَپاره ناجائزګرځولې شوى دى سره دَدې چه دَ امت دَپاره هغه جائزوى.

[١٨٢٤] د صدقې د مال څخه د نبى عليه السلام احتياط

١٨٢٤—(٢)[٤] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: ٢ «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أُتِيَ بِطَعَامٍ سَأَلَ عَنْهُ ٣ أَهَدِيَّةٌ أَمْ صَدَقَةٌ؟ ٤ فَإِنْ قِيلَ: صَدَقَةٌ قَالَ لِأَصْحَابِهِ كُلُوا، وَلَمْ يَأْكُلْ، ٥ وَإِنْ قِيلَ: هَدِيَّةٌ ضَرَبَ بِيَدِهِ فَأَكَلَ مَعَهُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

١) اخرجه مسلم فى كتاب الزكاة/باب ترک استعمال آل النبى على الصدقة (رقم) ١٦٧ - (١٠٧٢)

٢) اخرجه البخارى فى كتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها/باب قبول الهدية (رقم-٢٥٧٦) ومسلم فى كتاب الزكاة/باب قبول النبى الهدية ورده الصدقة (رقم) ١٧٥ - (١٠٧٧) والترمذى كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية الصدقة للنبى صلى الله عليه وسلم وأهل بيته ومواليه(رقم-٦٥٦) والنسائى كتاب الزكاة/الصدقة لا تحل للنبى صلى الله عليه وسلم(رقم-٢٦١٣)

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي [٢] چې د رسول الله ﷺ دا معمول وو چې کله به د خوراك د پاره ورته څه شي راوړل شو نو مخکې به يي دا پوښتنه کوله [٣] چې دا هديه (تحفه) ده که صدقه؟ [٤] که به ورته اوويل شو چې صدقه ده نو حضور ﷺ به [د بني هاشم څخه علاوه خپلو نورو] صحابه ؤ ته وفرمايل چې دا وخورئ او حضور ﷺ به پخپله نه خوړله [٥] او که به ورته اوونيل شو چې دا هديه ده نو لاس مبارك به يي ور مخکې کړو او د صحابه ؤ سره به يي هغه خوړله. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

نوټ: – په نبي عليه السلام د صدقې د حرمت بيان د بل حديث په تسهيل کښې ذکر شوې دې.

[١٨٢٥] په زکات کښې د تمليك حکم

١٨٢٥ –(١) [٥] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: [٢] «كَانَ فِي بَرِيرَةَ ثَلَاثُ سُنَنٍ [٣] إِحْدَى السُّنَنِ أَنَّهَا عُتِقَتْ، فَخُيِّرَتْ فِي زَوْجِهَا، [٤] وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ"، [٥] وَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَالْبُرْمَةُ تَفُورُ بِلَحْمٍ، [٦] فَقُرِّبَ إِلَيْهِ خُبْزٌ وَأُدْمٌ مِنْ أُدْمِ الْبَيْتِ، [٧] فَقَالَ: "أَلَمْ أَرَ بُرْمَةً فِيهَا لَحْمٌ؟" [٨] قَالُوا: بَلَى، وَلَكِنَّ ذَلِكَ لَحْمٌ تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ، وَأَنْتَ لَا تَأْكُلُ الصَّدَقَةَ، [٩] قَالَ: "هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ، وَلَنَا هَدِيَّةٌ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي [٢] چې د بريره (وينځې) متعلق دري احکام مخې ته راغلل [٣] ① اول حکم خو دا چې کوم وخت هغه آزاده شوه نو هغې ته د خپل خاوند په باره کې اختيار ورکړې شو [٤] ② دويم حکم دا چې حضور ﷺ وفرمايل چه د ولاء يعني دميراث حق د هغه سړي د پاره دي چې چا آزاد کړو [٥] ③ دريم حکم دا چې يوه ورځ حضور ﷺ کور ته تشريف راوړو د غوښې کټوئ پخيده [٦] د حضور ﷺ مخې ته روټۍ او د کور سالن را وړل شو [٧] حضور ﷺ وفرمايل چې آيا ما هغه کټوئ اونه ليده چې په هغې کې غوښه وه [يعني چې غوښه پخيږي نو هغه ماته ولې رانه کړل شوه] [٨] عرض وشو چې بيشکه په کټوئ کې غوښه پخيږي ليکن هغه غوښه بريده (وينځې) ته د صدقې په طور ورکړې شوي ده او تاسو ﷺ خو صدقه نه خورئ [٩] حضور ﷺ وفرمايل چې هغه غوښه د بريره د پاره صدقه ده او زمونږ د پاره هديه ده. (بخاري مسلم)

حل اللغات: – ① سُنَنٍ: أَيْ أَحْكَامٌ وَمَسَائِلُ شَرْعِيَّةٌ: يعنى احکام اوشرعى مسئلې، ② الْوَلَاءُ: دميراث حق، ③ الْبُرْمَةُ: أَيِ الْقِدْرُ: کټوئ، ④ تَفُورُ: أَيْ تَغْلِي: خوټکيده، جوشيدله، ⑤ أُدْمٌ: سالن، اينګلې چه روټئ ورسره خوړلې شي.

(١) اخرجه البخارى فى كتاب الطلاق/باب لا يكون بيع الأمة طلاقًا (رقم-٥٢٧٩) ومسلم فى كتاب العتق/باب إنما الولاء لمن أعتق (رقم) ١٤ - (١٥٠٤) والنسائى كتاب الزكاة/باب إذا تحولت الصدقة(رقم-٢٦١٤) وابن ماجة كتاب النكاح/ خيار الأمة إذا أعتقت(رقم-٢٠٧٦) والدارمى باب فى تخيير الأمة تكون تحت العبد فتعتق(رقم-٢٣٣٥) ومالك فى الموطا كتاب الطلاق/باب ما جاء فى الخيار(رقم-٢٥) واحمد فى المسند ٢٨١/١

تسهيلات:

قوله: كَانَ فِي بَرِيرَةَ ثَلَاثُ سُنَنٍ:

د بريرې په وجه د درې مسئلو معلوميدل:- يعنی دَ بريره رضي الله عنها دَ وجې نه دَ اسلام درې مسئلې واضحه شوې. ① "خيارعتق" ② "الولاء لمن اعتق" يعنی ميراث به آزادونکی ته ملاوېږی. ③ په تبدلی د يد سره به په ملکيت کښې بدلون راځی چه دَ يودَ پاره يوڅيز زکوة دې مگر هغه چه کله بل ته ورکړو نودَهغه دَپاره هديه ده. دَ فقهاء په اصطلاح کښې دې بدلون ته تمليك وائی کوم چه جائز دې په دې شرط چه ناجائز حيله نه وی.

[١٨٢٦] د هديه قبلول او بدل خلاصول

١٨٢٦-(١)[٦] [١] وَعَنْهَا قَالَتْ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ [٢] وَيُثِيبُ عَلَيْهَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ به تحفه قبلوله [٢] او د هغې بدله به يې ورکوله. (بخاري)

حل اللغات:- ① يُثِيبُ: أَيْ يُجَازِي: يعنی عوض او بدله به ئې ورکوله.

تسهيلات:

قوله: يقبل الهدية:

د تحفې ورکولو ترغيب:- ددې حديث مبارك تشريح هم واضح ده چې هديه ورکونکی ته په بدله کښې د تهادو تحابوا پيش نظر څه ورکول پکار دی.

[١٨٢٧] د معمولي تحفې قبلول

١٨٢٧-(٢)[٧] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «لَوْ دُعِيتُ إِلَى كُرَاعٍ لَأَجَبْتُ [٣] وَلَوْ أُهْدِيَ إِلَيَّ ذِرَاعٌ لَقَبِلْتُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] که ماته د کراع (پنډۍ) هم دعوت راکړل شي نو زه به يي قبول کړم [٣] او که ليچه په تحفه کې راکړل شي نو قبوله به يي کړم. (بخاري)

حل اللغات:- ① كُرَاعٍ: د چيلی پنډۍ، ② ذِرَاعٌ: ليچه، لاس (مخکنۍ خپې).

تسهيلات:

قوله: لَوْ دُعِيتُ إِلَى كُرَاعٍ لَأَجَبْتُ:

د کراع په مفهوم کښې دوه اقوال:- ① د چيلۍ پتون ته کراع وائی په دې صورت کښې به د

---

(١) اخرجه البخار فی کتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها/باب المكافأة فی الهبة (رقم-٢٥٨٥)

(٢) اخرجه البخار فی کتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها/باب القليل من الهبة (رقم-٢٥٦٨) واحمد فی المسند ٤٢٤/٢

نبی کریم ﷺ د ارشاد مطلب دا وی که زه د یو معمولی کس دعوت او معمولی هدیه قبوله کړم نو زه په دې کښې هیڅ شرم نه محسوسوم بلکه زه به ئې ضرور قبلوم

② کراع د مکې او مدینې په مینځ کښې د یو ځائې نوم دې دې صورت کښې به ددې مطلب دا وی چې که دومره لرې څخه ما څوك دعوت ته اوبلی نو زه به هغه قبلوم

دحدیث څخه د دوؤ مسئلو استنباط:- ① د محدثینو په نزد اوله معنی راجح او درست ده په دې حدیث پاك کښې مالدارو ته تعلیم ورکړې شوې دې چې د خپلو ماتحتو او غریبانانو هدیې مه واپس کوئی بلکه د هغوئ دخلوص قدر اوکړئی

② دا هم معلومه شوه چې نبی کریم ﷺ به خپل امت سره ډیر تواضع او شفقت او عاجزئ معامله کوله

[١٨٢٨] د مسکین تعریف

١٨٢٨—()[٨] ١ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ "«لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِي يَطُوفُ عَلَى النَّاسِ ٣ تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ، وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ، ٤ وَلَكِنَّ الْمِسْكِينَ الَّذِي لَا يَجِدُ غِنًى يُغْنِيهِ، ٥ وَلَا يُفْطَنُ بِهِ فَيُتَصَدَّقَ عَلَيْهِ، ٦ وَلَا يَقُومُ فَيَسْأَلَ النَّاسَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ مسکین هغه سړي نه دي چې د خلقو څخوسوال کوي (خیر غواړي) ٣ او خلق هغه ته یوه نمړئ یا دوه نمړئ او یوه کجوره یا دوه کجوره وي ورکړي ٤ بلکه مسکین سړي هغه دي چې دومره مال هم نه لري چې هغه د هغې په وجه مستغني شی ٥ او د هغه د ظاهري حالاتو په وجه خلق په دي هم نه پوهیږي چې هغه محتاج او ضرورت مند دي چې هغه ته صدقه ورکړې شي ٦ او د خلقو په مخکښې د سوال لاس غزولو د پاره د کور څخه نه وځي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① اللُّقْمَةُ: نمړئ، نوړئ ② غِنًى: أَيْ شَيْئًا أَوْ مَالًا: هیڅ څیز یا مال. ③ يُفْطَنُ: أَيْ لَا يُعْلَمُ بِاحْتِيَاجِهِ: یعنی خلق دده په محتاجئ نه پوهیږی.

تسهیلات:

قوله: لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِي يَطُوفُ عَلَى النَّاسِ:

په مسکین او فقیر کښې فرق:- ① علامه زبیدی د ابن سکیت حوالې سره لیکی چې مسکین هغه دې چې هغه سره هیڅ څیز نه وی او فقیر هغه دې چې د هغه خرچ باندې د

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الزکاة/باب قول الله تعالی: {لا یسألون الناس إلحافًا} [البقرة: ٢٧٣] وکم الغنیٰ (رقم-١٤٧٩) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب المسکین الذی لا یجد غنًی، ولا یفطن له فیتصدق علیه (رقم) ١٠١ - (١٠٣٩) وابوداود کتاب الزکاة/باب من یعطی من الصدقة، وحد الغنی (رقم-١٦٣١) والنسائی کتاب الزکاة/باب تفسیر المسکین(رقم-٢٥٧١) والدارمی من کتاب الزکاة/باب المسکین الذی یتصدق علیه(رقم-١٦٥٦) ومالک فی الموطأ کتاب صفة النبی صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی المساکین(رقم-٧) وا حمد فی المسند ٣٨٤/١

هغه ژوند تیریږی.

② و قال الأصمعی: مسکین هغه دې چې هغه دفقیر څخه په احسن حالت کښې وی لقوله تعالی ﴿أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِينَ﴾ (الکهف: ٧٩) او د فقیر په حق کښې فرمائی چې ﴿أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ﴾ (البقرة: ٢٧٣)

③ وقال صاحب القوت فقیر هغه دې چې سوال نه کوی او مسکین هغه دې چې سوال کوی

④ فقیر هغه دې چې په کټلو کښې کوشش اوکړی او مسکین هغه دې چې ګټه نه کوی

⑤ فقیر هغه دې چې دهغه د ظاهری حالت څخه د هغه فقر معلوم شی او مسکین هغه دې چې د هغه باره کښې هیڅ معلوم نه وی هم په دې بناء په حدیث مبارك کښې تعریف کړې شوې دې چې مسکین هغه نه دې چې سوال کوی بلکه مسکین هغه دې چې سوال نه ځان بچ اوساتی او خلقو ته خپل مشکل نه بیانوی.

⑥ فقهاء کرامو وئیلی دی چې مسکین هغه دې چې د خپلې پیشې د تنګسیا په وجه محتاج شوې وی یا د اهل و عیال د ډیر والی په وجه محتاج شوې وی

⑦ صاحب هدایه رحمه الله د مسکین تعریف داشان کړې دې چې هغه سره څه څیز نه وی او فقیر هغه دې چې هغه سره ادنی څیز موجود وی

⑧ اوچا د صاحب هدایه د تعریف بالعکس تعریف کړې دې.

دحدیث مطلب:- ددې حدیث پاك حاصل دادې چې په مسکینیت باندې ثواب دې او هغه د صابرینو په زمره کښې داخل دې دا هغه سوال کوؤنکې فقیر نه دې بلکه دا خو په عام حالاتو کښې هم داسې سوال باندې ګناهنګاریږی چې کله هغه سوال کولو دپاره دومره کوشش کولې شی نو دې د ګټلو دپاره کوشش هم کولې شی خو صابر مسکین هغه دې چې هغه واقعی ضرورت مند وی لیکن خپل ضرورت چا ته نه ښکاره کوی بلکه د پټولو فکر ورسره وی او په قرآن کریم کښې دمسکین تعریف کړې شوې دې ﴿لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ﴾........الأية)

د یوتعارض جواب:- واضحه دې وی چې نبی کریم ﷺ چې د کوم مسکینیت دعا کړې ده هغه د زړه مسکینیت دې یعنی زړه کښې عاجزی وی او تکبر په کښې نه وی کوم کس چې د مالداره کیدو باوجود د زړه مسکین وی هغه مبارك دې او کومو احادیثو کښې چې د مسکینیت نه پناه غوښتلې شوې ده هغه داسې محتاجی او تنګسیا ده چې یو انسان په فتنه کښې اخته کوی لهذا احادیثو کښې تعارض نشته دې.

....

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٨٢٩] د بني هاشم د غلامانو د پاره صدقې اخستلو حرمت

١٨٢٩-(١)[٩] [١] عَنْ أَبِي رَافِعٍ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بَعَثَ رَجُلًا مِنْ بَنِي مَخْزُومٍ عَلَى الصَّدَقَةِ [٢] فَقَالَ لِأَبِي رَافِعٍ: اصْحَبْنِي كَيْمَا تُصِيبُ مِنْهَا، [٣] فَقَالَ: لَا حَتَّى آتِيَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَسْأَلَهُ، [٤] فَانْطَلَقَ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَسَأَلَهُ، فَقَالَ: [٥] " إِنَّ الصَّدَقَةَ لَا تَحِلُّ لَنَا وَإِنَّ مَوَالِيَ الْقَوْمِ مِنْ أَنْفُسِهِمْ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] ابو رافع ﷛ روايت كوي چې نبي كريم ﷺ د بني مخزوم يو سړي د زكات اخستو د پاره وليږلو [٢] هغه ابو رافع ﷛ ته اوويل چې ته هم ما سره لاړ شه چې تاته هم د هغې څخه څه حصه حاصله شي [٣] ابو رافع ﷛ اوويل چې زه درسره نه زم ترڅوچې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه ونكړم [چې زه د دې سړي سره د زكات اخستو د پاره لاړ شم كه نه؟] [٤] نو هغه د حضور ﷺ په خدمت كې حاضر شو او د حضور ﷺ څخه يې د خپلو تلو متعلق پوښتنه وكړه حضور ﷺ ورته وفرمايل [٥] چې صدقه زمونږ [د بني هاشمو] د پاره حلاله نه ده او مولي (يعني آزاد شوی غلام د زكات اخستو په معامله كې) د هغه آزاد قوم په حكم كې دي. (ترمذي، ابوداؤد، نسايي)

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الصَّدَقَةَ لَا تَحِلُّ لَنَا وَإِنَّ مَوَالِيَ الْقَوْمِ مِنْ أَنْفُسِهِمْ:

د بنو هاشم غلام دپاره د صدقې اخستلو عدم جواز: -حضرت ابو رافع د رسول كريم ﷺ آزاد كړې شوې غلام وو رسول كريم ﷺ دې د زكوة مال اخستلو څخه منع كړې وو چې څنګه مونږ لره د زكوة اخستل جائز نه دی داشان ستا دپاره هم د زكوة مال اخستل جائز نه دی ددې نه معلومه شوه چې د بنی هاشم غلام دپاره هم د زكوة مال اخستل جائز نه دی كه غلام دده په ملكيت وی او كه آزاد شوې وی.

[١٨٣٠] د مالدار دپاره د صدقې اخستلو عدم جواز

١٨٣٠-(٢)[١٠] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] " «لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ، [٣] وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

---

[1]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب الصدقة على بنى هاشم(رقم-١٦٥٠) والترمذى كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية الصدقة للنبى صلى الله عليه وسلم وأهل بيته ومواليه(رقم-٦٥٧) واحمد فى المسند ١٠/٦

[2]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب من يعطى من الصدقة، وحد الغنى (رقم-١٦٣٤) والترمذى كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب من لا تحل له الصدقة(رقم-٦٥٢) والدارمى من كتاب الزكاة/باب من تحل له الصدقة(رقم-١٦٧٩) واحمد فى المسند ٣٨٩/٢

ترجمه: ١ عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ نه خو غني ته د زكات مال اخستل حلال دي ٣ او نه روغ او جوړ او توانايي لرونكى ته (چې د محنت او مزدوري كولو قابل وي) (ترمذي، ابوداؤد، دارمي)

حل اللغات:- ① ذِي مِرَّةٍ: اى ذِى الْقُوَّةُ: چه طاقت ئې وى، ② سَوِيّ: أَيْ صَحِيحِ الْبَدَنِ: بدن ئې صحيح وى، اندامونه ئې پوره وى. (يعنى محنت مزدورى كولې شى).

تسهيلات:

قوله: لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ:

د غنى درې قسمونه:- ① هغه غنى دې چې په هغه باندې زكوة فرض دې يعنى دا كس د نصاب مالك وى او حولان حول هم شوې وى

② هغه غنى دې چې هغه لره صدقه اخستل حرام وى او په هغه باندې صدقه فطر او قربانى واجب شوى وى لكه چې دې كس سره دومره روبۍ وى چې د نصاب قيمت ته رسيدلې وى

③ دريم هغه غنى دې چې هغه لره سوال كول حرام وى او صدقه ورله حلال لكه چې د يوې ورځې په خوراك څكاك باندې قادر وى (مرقاة ج/٤ص/١٦٩)

قوله: وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ

د مذكوره جملې مطلب:- حديث پاك ددې جملې مطلب دادې چې څنګه غنى دپاره زكوة اخستل جائز نه دى داشان تندرست او صحت مند كس لره زكوة اخستل جائز نه دى

١٨٣١-(١)[٥] ١ وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

ترجمه: ١ او احمد، نسائي، او ابن ماجه رحمه الله دا روايت د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه نقل كړى دي.

[١٨٣٢] دصحتمند دپاره دزكات اخستلوحكم

١٨٣٢-(٢)[١١] ١ وَعَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ قَالَ: ٢ «أَخْبَرَنِي رَجُلَانِ أَنَّهُمَا أَتَيَا النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٣ وَهُوَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ، ٤ وَهُوَ يُقَسِّمُ الصَّدَقَةَ فَسَأَلَاهُ مِنْهَا، ٥ فَرَفَعَ فِينَا النَّظَرَ، وَخَفَضَهُ ٦ فَرَآنَا جَلْدَيْنِ، فَقَالَ: ٧ "إِنْ شِئْتُمَا أَعْطَيْتُكُمَا ٨ وَلَا حَظَّ فِيهَا لِغَنِيٍّ وَلَا لِقَوِيٍّ مُكْتَسِبٍ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ١ عبيدالله بن عدي بن خيار وايي ٢ چې ماته دوو سړو خبر راكړو چې هغوئ د رسول الله ﷺ په خدمت كې هغه وخت حاضر شو ٣ كوم وخت چې حضور ﷺ په حجة

١) اخرجه النسائى كتاب الزكاة/باب إذا لم يكن له دراهم وكان له عدلها(رقم-٢٥٩٧) وابن ماجة كتاب الزكاة/باب من سأل عن ظهر غنًى (رقم-١٨٣٩) واحمد فى المسند ١٦٤/٢

٢) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب من يعطى من الصدقة. وحد الغنى (رقم-١٦٣٣) والنسائى كتاب الزكاة/باب إذا لم يكن له دراهم وكان له عدلها(رقم-٢٥٩٨)

الوداع کې وو [۴] او په دغه موقع یې په خلقو کښې د زکات مال تقسیمولو هغه دواړو هم [د حضور ﷺ په مخکې د هغه مال څخه] د څه آخستو خواهش ظاهر کړو [۵] هغه دواړه وایې چې حضور ﷺ زمونږ د طلب خواهش لیدو سره په مونږ د سر څخه تر پښو پورې نظر واچولو [٦] او زمونږ تندرست او توانا لیدو سره یې وفرمایل [٧] چې که تاسو اخستل غواړئ نو زه به یې درکړم [٨] (لیکن یاد لرئ چه) په صدقات او زکات کې نه خو د غني څه حصه شته او نه د هغه سړي څه حصه شته چې تندرست او توانا وي او په ګټه وټه کولو باندې قادر وي. (ابوداؤد نسایي)

حل اللغات:- ① خَفَضَهُ: ښکته ئې کړو (نظر). ② جَلْدَيْنِ: أَيْ قَوِيَّيْنِ: تثنیه ده، مضبوط، طاقت لرونکی، ③ لَاحَظَّ: أَيْ لَانَصِيبَ: حصه نشته، ④ مُكْتَسِبٍ: په ګټه وټه کولو باندې قادر وی.

تسهیلات:

قوله: وَهُوَفِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ،

د حجة الوداع مطلب:- حجة الوداع د حضرت رسول اکرم ﷺ آخری حج ته وائی کوم کښې چې حضرت رسول اکرم ﷺ د الله ﷻ احکام په وضاحت سره بیان کړی وو او خلقو ته ئې وداع وئیلې وه او بیا ددې څخه څو میاشتې پس وفات شوی وو.

[١٨٣٣] په پنځو صورتونو کښې د مالدار د پاره د زکات اخستلو جواز

١٨٣٣-(¹)[١٣] [١] وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ مُرْسَلًا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ إِلَّا لِخَمْسَةٍ، [٣] لِغَازٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ، [۴] أَوْ لِعَامِلٍ عَلَيْهَا، [۵] أَوْ لِغَارِمٍ، [٦] أَوْ لِرَجُلٍ اشْتَرَاهَا بِمَالِهِ، [٧] أَوْ لِرَجُلٍ كَانَ لَهُ جَارٌ مِسْكِينٌ فَتَصَدَّقَ عَلَى الْمِسْكِينِ، [٨] فَأَهْدَى الْمِسْكِينُ لِلْغَنِيِّ»". رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [١] عطاء بن یسار بطریقِ ارسال روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] د غني د پاره د زکات مال حلال نه دي خوپه پنځو صورتونو کې د غني د پاره هم د زکات مال حلالیږي [٣] ① د الله ﷻ په لار کې د جهاد کونکی غنی د پاره هر کله چې د هغه سره د جهاد سامان نه وي [۴] ② د زکات وصولونکي غني د پاره [۵] ③ تاوان برداشت کونکی [تاوان ډکونکی] غني د پاره [٦] ④ د زکات مال د خپل مال په بدله کې اغستونکی غني د پاره [یعنی یو سړي یو مفلس ته د زکات مال ورکړو او یو مالدار او غني د هغه مفلس څخه د زکات مال واخلی او هغه ته د هغې بدل ورکړي نو په دې صورت کې به د غني د پاره هغه مال جائز او حلال وي] [٧] ⑤ او د هغه غني د پاره چې د هغه په ګاونډ کې یو مفلس وسیږي او یو سړي هغه ته د زکات مال ورکړي [٨] او هغه مفلس خپل یو ګاونډی مالدار او غنی ته

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب من یجوز له أخذ الصدقة وهو غنی(رقم-١٦٣٥) وابن ماجة کتاب الزکاة/باب من تحل له الصدقة(رقم-١٨٤١)

د هغې څخه څه حصه د تحفې په طور ولیږي نو هغه به د غنی د پاره جائز او حلال وي.
(مالك ابوداؤد).

حل اللغات:- ① عَامِلٍ: څوک چه زکوة راټولوی هغه ته عامل او مصدّق وائی. ② غَارِمٍ: تاوان ډکونکې یا برداشت کونکې، د دوو کسانو په مالی معامله (مثلاً د دیت یا قرض وغیره) کښې صلح او روغه کونکې.

تسهيلات: قوله : إِلَّا لِخَمْسَةٍ:

دپنځه قسمه مالدارو دپاره د زکات اخستلو جواز :-

یعنی پنځه غنیان داسې دی چه زکوة اخستې شی.

① اول غازی اومجاهد دې دَ چادَ پاره چه زکوة اخستل حلال دی دَدې تفصیل به ان شاء الله په کتاب الجهاد کښې راځی.

② دویم عامل یعنی دَ زکوة په وصول کولوباندې مقررکارکن خپله تنخواه او خرچ دَ زکوة دَ مالونونه اخستې شی.

③ دریم غارم یعنی تاوان ډکونکې سړې سره دَدې چه غنی دې مګردَ تاوان پوره کولوسره هغه دَدې لاندې خښ پروت دې هغه زکوة اخستې شی. دَ تاوان دوه صورتونه دی. اول دا چه دې غنی اومالدار سړې دَ چادَطرف نه دَ دیت ضمانت واخستلو دَ دغه تاوان پوره کولو دَپاره زکوة اخستې شی. دَ تاوان دویم صورت دادې چه په دوو فریقوکښې ئی صلح اوکړه اوپه هغې کښې ئی خپل ذاتی مال خرچ کړو اوس هغه دا قرض دَ زکوة په مال سره پوره کولې شی. غارم عام قرض دارئ ته هم وئیلی شی هغه هم دَ فقر اوفاقې دَ وجې نه دَ زکوة مستحق دې.

④ خلورم دَ مشتری دَپاره دَ زکوة مال دَ چانه په قیمت اخستل جائزدی یعنی یوسړی غریب ته په زکوة کښې څه څیزورکړو. دغه غریب هغه دَ زکوة مال په چامالدار باندې خرڅ کړو. دَ مالداردَپاره دغه اخستل جائزدی ځکه چه دَ ملك بدلیدل راغلل.

⑤ پنځم مسکین ته چا زکوة ورکړو اوس ئی هغه یوغنی ته ورکوی نودَغنی دَپاره جائزدې. په دغه پنځوصورتونوکښې په ټولو کښې اتفاق دې البته په غازی کښې دومره اختلاف دې چه احناف فقیرغازی ته زکوة ورکول افضل ګڼړی دَ شوافع په نیزټول جائزدی.

١٨٣٣—(١)[٥] [١] وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ: أَوِ ابْنِ السَّبِيلِ.

ترجمه: [١] او د دابؤداود په یو روایت کې چې د ابوسعید رضي الله عنه څخه منقول دي لفظ أو ابن السبیل (یعني د هغه غني د پاره هم چې مسافر وي د زکات مال حلال دي) مذکور دي.

---

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب من یجوز له أخذ الصدقة وهو غنی(رقم -١٦٣٧)

[١٨٣٥] د زکات مصارف

١٨٣٥—(١)[١٣] ١ وَعَنْ زِيَادِ بْنِ الْحَارِثِ الصُّدَائِيِّ قَالَ: ٢ «أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَبَايَعْتُهُ ٣ فَذَكَرَ حَدِيثًا طَوِيلًا: ٤ فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ: أَعْطِنِي مِنَ الصَّدَقَةِ، ٥ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "إِنَّ اللهَ لَمْ يَرْضَ بِحُكْمِ نَبِيٍّ وَلَا غَيْرِهِ فِي الصَّدَقَاتِ، ٦ حَتَّى حَكَمَ هُوَ فِيهَا، فَجَزَّأَهَا ثَمَانِيَةَ أَجْزَاءٍ ٧ فَإِنْ كُنْتَ مِنْ تِلْكَ الْأَجْزَاءِ أَعْطَيْتُكَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ زیاد رضي الله عنه ابن حارث صدایي وایي ٢ چې زه د نبي کریم ﷺ په خدمت اقدس کې حاضر شوم او د حضور ﷺ په لاس مي بیعت اوکړو ٣ د دې څخه روسته زیاد رضي الله عنه یو طویل حدیث بیانولو سره اوویل ٤ چې یو سړي نبي کریم ﷺ ته راغي هغه اوویل چې ماته د زکات مال راکړئ ٥ حضور ﷺ ورته وفرمایل چې د زکات د تقسیمولو په باره کې چې چا چا ته دي زکات ورکړې شي الله تعالی جل جلاله نه خو د یو پیغمبر او نه د بل چا په حکم کولو راضي شوی دی ٦ بلکه د دی حکم حق تعالی جل جلاله پخپله ارشاد وفرمایلو (یعني الله تعالی جل جلاله دمستحقین زکات د پاره د تعین ذمه واری په نبی یا په علماؤ او مجتهدینو باندی نه ده اچولی بلکه د دی تعین یي پخپله فرمایلی دی) الله تعالی جل جلاله د زکات اته [٨] مصارف (مستحقین) ذکر کړي دي ٧ که ته د هغه اتو [٨] څخه یي نو زه به درته د زکات مال درکړم. (ابوداؤد)

حل اللغات: – ① فَجَزَّأَهَا: أَيْ فَقَسَّمَ أَصْحَابَهَا: تقسیم ئې کړل مصارف او مستحقین د زکوة.

تسهیلات: **قوله:** إِنَّ اللهَ لَمْ يَرْضَ بِحُكْمِ نَبِيٍّ وَلَا غَيْرِهِ فِي الصَّدَقَاتِ:

د عدم رضا مطلب: – یعنی الله ﷻ نیغ په نیغه څنګه چې د زکوة د مصارفو تفصیل اوفرمائیلو دومره تفصیل ئې په نورو احکامو کښې نه دې بیان کړی لکه څنګه چې د مونځ وغیره اجمالي ذکر ئې اوفرمائیلو د لم یرض معنی داده چې دزکوة د مصارفو په تفصیل کښې الله ﷻ د رسول کریم ﷺ بیان باندې اکتفاء او نه کړه بلکه پخپله ئې بیان کړل لهذا په دې حدیث پاك کښې د عدم رضا څخه مراد عدم کفایت دی.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٨٣٦] د صدقې د پیو څکلو حکم

١٨٣٦—(٢)[١٤] ١ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ قَالَ: ٢ شَرِبَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لَبَنًا فَأَعْجَبَهُ، ٣ فَسَأَلَ الَّذِي سَقَاهُ: مِنْ أَيْنَ هَذَا اللَّبَنُ؟ ٤ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ وَرَدَ عَلَى مَاءٍ قَدْ سَمَّاهُ فَإِذَا نَعَمٌ مِنْ نَعَمِ الصَّدَقَةِ، ٥ وَهُمْ يَسْقُونَ فَحَلَبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا ٦ فَجَعَلْتُهُ فِي سِقَائِي فَهُوَ هَذَا، ٧ فَأَدْخَلَ عُمَرُ يَدَهُ فَاسْتَقَاءَ، رَوَاهُ مَالِكٌ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة /باب من یعطی من الصدقة، وحد الغنی (رقم-١٦٣٠)
(٢) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الزکاة / باب ما جاء فی أخذ الصدقات والتشدید فیها(رقم-٣١)

ترجمه: ١ زيد ابن اسلم رحمه الله وايي ٢ چې يوه ورځ امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه شيدې (پئ) وڅکل نو په هغه ډيرې ښه ولګيدل ٣ کوم سړي چې شيدې (پئ) ورباندې څکلي وو د هغه څخه يې پوښتنه وکړه چې دا شيدې (پئ) د کوم ځاي دي؟ ٤ هغه ورته اووئيل چې په اوبو باندې (يعني نوم اخستو سره يي اووئيل چه) د فلاني ځاي [کوم ځاي چې اوبه وي] زه هلته ورغلم څه ګورم چې د زکات ډير اوښان موجود دي ٥ او هغه اوبه کولې شو بيا اوښو والاړ شان شيدې ولوشل ٦ د هغې څخه لږ څه ما هم اخستو سره په خپل مشک کې واچول نو دا هغه شيدې (پئ) دي ٧ (د دي آوريدو سره) حضرت عمر رضي الله عنه خپل لاس په خپله خُله کې ورکړو او هغه شيدې (پئ) يې قي کړل. (مالك بيهقي)

حل اللغات: - ① فَأَعْجَبَهُ: ډير ښه پرې اولګيدل، ② فَحَلَبُوا: نو اوئې لوشلې اوښې، ③ فَاسْتَقَاءَ: أي فَتَقَيَّأَهُ: يعنى قئ ئې کړل او دخيتې نه ئې راؤ ويستل.

تسهيلات:

قوله: مِنْ أَيْنَ هَذَا اللَّبَنُ؟

دحضرت عمر رضى الله عنه فراست: -ددې حديث مبارك حاصل دادې چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه خپل فراست سره محسوس کړل چې په دې کښې څه راز شته دې چې نفس دومره خوشحاليږي هم ددې فراست باره کښې نبى کريم ﷺ فرمائى چې (اتقوا فراسة المؤمن فإنه ينظر بنور الله).

اشكال: - په احاديثو کښې دی چې حضرت رسول کريم ﷺ د حضرت بريره رضي الله عنها دصدقې د غوښې څخه خوراك اوکړو او دلته حضرت عمر فاروق رضي الله عنه احتياط کوی؟

داشكال دوه جوابونه: - ① يوه فتوى ده او بله تقوى د حضرت رسول کريم ﷺ د حضرت بريره رضي الله عنها غوښه په طور د هديه قبولول فتوى وه چې په دې کښې آسانى ده حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د تقوى په وجه داسې فعل او کړو ځکه چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دا ګنړل چې ددې معدې ته تلل بيا د زړه د قساوت سبب جوړيږي

② حضرت عمر فاروق رضي الله عنه داسې په دې وجه اوکړل چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته شك وو چې شايد پئ ورکونکى شپونکى ته د پيئو ورکولو اختيار نه وی يا د پيئو اخستلو والاد پئيو اخستلو مستحق نه وی ددې شبهې په وجه دوئ احتياط اوکړو همداشان واقعه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه هم ده چې هغوئ هم دمشتبه څيز خپل غلام نه واخستلو او هغه ئې اوخوړلو او کله چې ورته معلومه شوه نو قئ (التيى) ئې کړې او وې فرمائيل چې ددې په راويستلو باندې که زما ساه هم لاړه شي نو زما هيڅ پرواه نشته دې بهر حال د ډير زيات احتياط ضرورت دې

[٤] بَابُ مَنْ لَا تَحِلُّ لَهُ الْمَسْأَلَةُ وَمَنْ تَحِلُّ لَهُ

ذكوموخلقو دپاره سوال كول جائز او ذكومو دپاره ناجائز دي

خلاصة الباب:-

فيه تسعة وعشرون حديثاً مشتملة على مسئلتين:

① الترغيب في الانفاق وفضيلته: ١، ٢، ٣، ٤، ٥، ٦، ٧، ٨، ٩، ١٠، ١١، ١٢، ١٧، ١٨، ١٩، ٢٠، ٢١، ٢٤، ٢٥، ٢٦، ٢٨، ٢٩.

② قباحة الإمساك والانفاق عند الموت: ٢، ٣، ٥، ٦، ٧، ٩، ١١، ١٣، ١٤، ١٥، ١٦، ٢٠، ٢١، ٢٤، ٢٥، ٢٦، ٢٨، ٢٩.

د سوال د جواز په حكم كښې اقوال:- ① بحرالرائق كښې ليكلى دى چه كوم سړى سره د يوې شپې او يا د يوې ورځې د ضرورت مطابق مال وى نو دهغه د پاره سوال كول جائزنه دى.

② د شوافعو د بعضې كتابونو نه معلوميږى چه كوم سړى سره پنځوس درهم موجود وى دهغه د پاره سوال كول حرام دى.

③ بعضې د څلويښتو درهمو ذكر كړې دې په احاديثو كښې هم ددې ذكر دې.

④ امام غزالى رحمه الله فرمائى چه كوم سړى بال بچ نه لرى نو دهغه دپاره د يوې ورځې او شپې خوراك نصاب دې او كه د بال بچ والا دې نو بيا پنځوس درهم نصاب دې.

⑤ په دې باب كښې ذكرشوى احاديثو كښې بعضې كښې داسې حكم دې چه كله د قبيلې درې كسان ګواهى وركړى چه فلانكې فقير اومفلس دې نو بيا سوال كول جائزدى ګنى نه دى جائز.

⑥ بعضې رواياتو كښې داسې ذكر دى كه څرګ غوښتل وى نو څرته د نيك سړى دې غوارى.

په اقوالو كښې تطبيق:- د دې ټولو روايتونو د تطبيق د پاره امام طحاوى رحمه الله فرمائى چه د خلقو مختلف صورتونه اومختلف حالات وى. د چا د حال مطابق به د پنځوسو درهمو ضرورت وى او چاته به ددې نه د زيات ضرور وى. چاته به ددې نه د كم ضرورت وى. د هرسړى د معروضى حالت لاندې به دهغه د سوال د جواز اوعدم جواز فيصله كولې شى.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٨٣٧] د درې كسانو د پاره د سوال كولو جواز

١٨٣٧-([1])[١] ①«عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ مُخَارِقٍ قَالَ: ② تَحَمَّلْتُ حَمَالَةً، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَسْأَلُهُ فِيهَا، ③ فَقَالَ: "أَقِمْ حَتَّى تَأْتِيَنَا الصَّدَقَةُ، فَنَأْمُرَ لَكَ بِهَا"، ④ ثُمَّ قَالَ: "يَا قَبِيصَةُ إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَحِلُّ إِلَّا لِأَحَدِ ثَلَاثَةٍ: ⑤ رَجُلٍ تَحَمَّلَ حَمَالَةً فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ ⑥ حَتَّى يُصِيبَهَا ثُمَّ يُمْسِكُ، ⑦ وَرَجُلٍ أَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب الزكاة/باب من تحل له المسألة (رقم) ١٠٩ - (١٠٤٤) وابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب ما تجوز فيه المسألة(رقم-١٦٤٠) والنسائى كتاب الزكاة/باب الصدقة لمن تحمل بحمالة(رقم-٢٥٨٠) والدارمى من كتاب الزكاة/باب من تحل له الصدقة(رقم-١٧٢٠) واحمد فى المسند ٤٧٧/٣

اجْتَاحَتْ مَالَهُ، [٨] فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتَّى يُصِيبَ قِوَامًا مِنْ عَيْشٍ، [٩] أَوْقَالَ سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ، [١٠] وَرَجُلٍ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ حَتَّى يَقُولَ ثَلَاثَةٌ مِنْ ذَوِي الْحِجَا مِنْ قَوْمِهِ: [١١] لَقَدْ أَصَابَتْ فُلَانًا فَاقَةٌ [١٢] فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتَّى يُصِيبَ قِوَامًا مِنْ عَيْشٍ، [١٣] أَوْقَالَ سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ، [١٤] فَمَا سِوَاهُنَّ مِنَ الْمَسْأَلَةِ يَا قَبِيصَةُ سُحْتٌ، [١٥] يَأْكُلُهَا صَاحِبُهَا سُحْتًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] قبیصه رضی الله عنه ابن مخارق وايي [٢] چې ما د يو داسې قرضي ضمانت واغستلو چې د ديت د وجې څخه وو زه د رسول الله ﷺ په خدمت اقدس کې حاضر شوم او د حضور ﷺ څخه مې د قرض د ادائيګي د پاره د څه رقم يا مال سوال اوکړه [٣] نو حضور ﷺ وفرمايل چې څه ورځې انتظار اوکړه هر کله چې مونږ ته د زکوٰة مال راشي نو د هغې څخه به تاته د درکولو د پاره اووايو [٤] بيا حضور ﷺ وفرمايل اي قبيصه صرف دري قسمه خلقو ته سوال کول جائز دي [٥] ① يو خو د هغه سړي د پاره چې د چا د قرض ضامن جوړ شوي وي [په شرط د دې چې په غوښتلو کې مبالغه نه کوي] [٦] بلکه د دومره قدر مال سوال وکړي چې په هغې سره قرضه ادا کړي او د هغې څخه روسته يي بيا نه غواړي [٧] ② دويم د هغه سړي د پاره چې په څه آفت او مصيبت (مثلاً قحط او سيلاب وغيره) کې مبتلاء شي او د هغه ټول مال هلاك او ضايع شي [٨] نو هغه ته صرف دومره قدر غوښتل جائز دي چې په هغې سره د هغه د غذا او لباس ضرورت پوره شي [٩] يا وي فرمايل دومره وغواړي چې د هغه محتاجي لرې شي او د هغه د ژوند د پاره سهاره شي [١٠] ③ دريم د هغه سړي د پاره چې غني وي خو هغه ته څه داسې سخت حاجت پيښ شي چې ګاونډيان هم باندې پوهيږي [١١] چې واقعي هغه ته سخت حاجت پيښ شوي دي [١٢] نو د هغه د پاره دومره غوښتل جائز دي چې په هغې سره د هغه ضرورت پوره شي [١٣] يا وي فرمايل چې د هغې په وجه د هغه محتاجي لرې شي [او د هغه د ژوند سهاره شي] [١٤] اي قبيصه د دې دريو څخه علاوه بل چا ته سوال کول حرام دي [١٥] که يو سړي د دې دريو مجبوريانو څخه علاوه د سوال کولو سره د چا څخه څه اخلي اوخوري يي، نو هغه حرام خوري. (مسلم)

حل اللغات:- ① أَقِمْ: امر دې د إِقَامَة نه، په معنى د اثْبُتْ وَاصْبِرْ سره، يعنى صبر اوکړه ايسارشه، ② تَحَمَّلَ: ضامن جوړشو، ذمه واری ئې واخستله، ③ حَمَالَةً: بوج د قرض، ④ جَائِحَةٌ: أَيْ آفَةٌ وَحَادِثَةٌ: آسمانی آفت اومصيبت ته جائحه وئيلې شی. ⑤ اجْتَاحَتْ: أَيِ اسْتَأْصَلَتْ وَأَهْلَكَتْ: ټول مال ورلـه هلاک کړی. ⑥ قِوَامًا: هغه څيز چه هغه پرې خپل حاجت او ضرورت پوره کړې شی. ⑦ سِدَادًا: مَا يُسَدُّ بِهِ الْفَقْرُ: څه سره چه محتاجی لرې کيږی او حاجت پرې پوره کيږی، ⑧ ذَوِي الْحِجَا: أَيِ الْعَقْلِ الْكَامِلِ: عقلمند او هوښيار خلق، ⑨ فَاقَةٌ: حاجت، محتاجی، ⑩ سُحْتٌ: اى الْحَرَامُ: حرام دی (سوال کول)، سُحت په معنى د بوټللو سره دې داهم برکت ختموی ځکه ورته سُحت وئيلې شوی دی.

د راوي مختصر تعارف:- نوم قبيصة دپلارنوم مخارق او کنيت ئې ابوبشر وو. دَ نسب سلسله ئې داسې ده قبيصة بن مخارق بن عبدالله بن شداد بن ربيعه بن نهيك بن حلال بن عامر الحلالي البصرى. دَ خپلې قبيلې سره په وفدکښې راغلو مسلمان شو. دَ بصرې اوسيدونکې وو دَ هغه نه شپږ احاديث مروى دی په دې کښې يو په مسلم کښې او ابوداؤد او نسائی کښې هم دَ هغه نه څورروايتونه نقل شوی دی.

تسهیلات: قوله: حَمَالَةً:

دې جملې نه مراد هغه سړې دې چاچه د یوسړی دیت په خپله ذمه واخستو اوقرض دار کیدوسره دیوالیه شو دې د ضرورت د حدپورې سوال کولې شي.

[۱۸۳۸] بغیر مجبورۍ د سوال کولو وعید

١٨٣٨ –(١)[٢] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أَمْوَالَهُمْ تَكَثُّرًا [٣] فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا، [٤] فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْلِيَسْتَكْثِرْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] کوم سړي چې محض د مال د زیاتولو د پاره د خلقو د مال څخه غواړي [٣] نو هغه لکه چې د اور سکروټه غواړي [٤] اوس د هغه خوښه ده چه کم غواړي اوکه زیات. (مسلم)

حل اللغات: – ① تَكَثُّرًا: أَيْ لِيَكْثُرَ مَالُهُ: چه مال ئې زیات شي، ② جَمْرًا: د اور سکروټه، ③ فَلْيَسْتَقِلَّ: نو (که خوښه ئې وی) کم دې کړی (أور)، ③ لِيَسْتَكْثِرْ: او (که خوښه ئې وی) نو زیات دې کړی (أور).

تسهیلات:

قوله: فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا:

د مال د زیاتولو مطلب: – د مال د اضافې مطلب دادې چې یو کس د خپل ضرورت او احتیاج دپاره نه بلکه صرف ددې دپاره خلقو څخه سوال کوی چې دده په مال کښې اضافه اوشي.

د حدیث مطلب: – ددې څخه مراد د دوزخ د اور سکروټه ده ددې مطلب دادې چې داسې کس چې دخپل حاجت پورا کولو دپاره نه بلکه صرف د مال د زیاتوالی دپاره چا څخه سوال کوی نو دې به د خپل حرص او لالچ په وجه د دوزخ په اور کښې اچولې کیږی ډیر یا لږ. نبی کریم ﷺ دتنبیه په طور اوفرمائیل. ددې وضاحت دادې چې بغیر د ضرورت نه دخلقو نه سوال کول په آخرت کښې د نقصان او د ذلت اورسوائی باعث دی که د یو حقیر او کم تر څیز دپاره سوا ل کوی او که د یو قیمتی او اعلی څیز دپاره سوال کوی.

[۱۸۳۹] د قیامت په ورځ د سوالګرو د حشر کیفیت

١٨٣٩ –(٢)[٣] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «مَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَسْأَلُ النَّاسَ [٣] حَتّٰى يَأْتِيَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَيْسَ فِي وَجْهِهِ مُزْعَةُ لَحْمٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] عبد الله ابن عمر ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] کوم سړي چې همیشه د خلقو څخه سوال کوي [٣] هغه به د قیامت په ورځ په داسې حال کې وي چې د هغه په مخ به د غوښې یوه ټوټې نه وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: – ① مُزْعَةٌ: أَيْ قِطْعَةٌ يَسِيرَةٌ: دغوښې وړې ټکړې ته وائي.

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب الزکاة/باب کراهة المسألة للناس (رقم) ١٠٥ - (١٠٤١) وابن ماجة کتاب الزکاة/باب من سأل عن ظهر غنًى (رقم-١٨٣٨)

[٢]) اخرجه البخاری فی کتاب الزکاة/باب من سأل الناس تکثرًا (رقم-١٤٧٤) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب کراهة المسألة للناس (رقم) ١٠٤ - (١٠٤٠) والنسائی کتاب الزکاة/باب الصدقة علی الأقارب(رقم-٢٥٨٥) واحمد فی المسند ١٥/٢

تسهيلات:

قوله: لَيْسَ فِي وَجْهِهِ مُزْعَةُ لَحْمٍ:

د غوښې نه کیدو په مفهوم کښې دوه اقوال:- ① یعنی په دنیاکښې ناجائز سوال کونکې سړې به دَ محشر میدان کښې داسې ذلیل اوخوار راځي چه دَهغه په مخ باندې به غوښه نه وی لکه چه دا یوتعبیر اوکنایه ده دَ دغه سړي دَ ذلت او رسوائۍ نه.

② بعضې شارحینو حضراتو دا په حقیقت باندې حمل کړې ده چه دَ قیامت په ورځ به دَ سوال کونکې په مخ باندې غوښه نه وی دَ کوم په وجه چه به د هغه دَمخ دَ هډوکو ډهانچه ښکاری او دَ اهل محشر دَپاره به دَعبرت یوه نمونه جوړيږی. [الکاشف: ۶۸/۴.]

[١٨٤٠] په چمبړ (اصرار) سره د سوال کولو ممانعت

١٨٣٠-(١)[۴] وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] " «لَا تُلْحِفُوا فِي الْمَسْأَلَةِ، [٣] فَوَاللّٰهِ لَا يَسْأَلُنِي أَحَدٌ مِنْكُمْ شَيْئًا [۴] فَتُخْرِجَ لَهُ مَسْأَلَتُهُ مِنِّي شَيْئًا وَأَنَا لَهُ كَارِهٌ [۵] فَيُبَارَكَ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتُهُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت معاویه رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [٢] په غوښتلو (سوال کولو) کې مبالغه مه کوئ [٣] قسم په الله په تاسو کې چې کوم سړي (د مبالغې سره) زما څخه څه غواړي [۴] نو زه هغه ته په دې حال کې څه ورکوم چې زه هغه ته ورکول بد ګنم [۵] او ظاهره ده چې په داسې صورت کې دا څرنګه ممکنه ده چې کوم شي ما هغه ته ورکړي وي په هغې کې دې برکت وي. (مسلم)

حل اللغات:- ① لَاتُلْحِفُوا: أَيْ لَاتُبَالِغُوا: مبالغه مه کوئ، یعنی ډیرمنتونه مه پکښې مه کوئ. ② كَارِهٌ: بد ګنړم.

تسهيلات: قوله: لَاتُلْحِفُوا فِي الْمَسْأَلَةِ:

دحديث د بعضې جملو وضاحت:- ① لَا تُلْحِفُوا: یعنی په غوښتلو کښې مبالغه کول لکه څنګه چې فرمان دې (لَايَسْئَلُوْنَ النَّاسَ إِلْحَافًا) (بقرة ٢٧٣)

② أَعْطَيْتُهُ: یعنی په غوښتلو کښې څه برکت نه راځي یعنی دا نشی کیدې چې لاس خور کړی او سوال اوکړی او په دې مال کښې دې برکت هم راشي.

[١٨٤١] د خپل محنت کټه خوړل اود سوال څخه ځان ساتل

١٨٣١-(٢)[۵] وَعَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ [٣] فَيَأْتِيَ بِحُزْمَةِ حَطَبٍ عَلَى ظَهْرِهِ فَيَبِيعَهَا [۴] فَيَكُفَّ اللّٰهُ بِهَا وَجْهَهُ [۵] خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ النَّاسَ أَعْطَوْهُ أَوْمَنَعُوهُ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

---

[١] اخرجه مسلم فی کتاب الزکاة/باب النهی عن المسألة(رقم) ٩٩ - (١٠٣٨) والنسائی کتاب الزکاة/باب الإلحاف فی المسألة (رقم-٢٥٩٣) والدارمی من کتاب الزکاة/باب التشدید علی من یسأل وهو غنی(رقم-١٦٨٤) واحمد فی المسند ٩٨/١

[٢] اخرجه البخاری فی کتاب الزکاة/باب الاستعفاف عن المسألة (رقم-١٤٧١) والنسائی کتاب الزکاة/باب الصدقة علی الأقارب(رقم-٢٥٨٤) وابن ماجة کتاب الزکاة/باب کراهیة المسألة(رقم-١٨٣٦)

ترجمه: [١] زبير بن عوام رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې په تاسو كې يو سړي يوه رسۍ واخلي [٣] او د لرګو يو پيټي ترلو سره په شا راوړي او هغه خرچ كړي [٤] او الله جل جلاله د دې په وجه د هغه عزت او ابرو برقرار وساتي (چې د سوال كولو سره نه پاتې كيږي) [٥] نو دا هغه د پاره د دې څخه بهتر دي چې هغه د خلقو څخه سوال كوي او خلق څه وركړي يا يي ورنه كړي. (بخاري)

حل اللغات: - ① حَبْلَهُ: رسۍ، ② بِحُزْمَةِ: د لرګو كيډۍ، بار څومره چه په شا كولې شي. ③ حَطَب: لرګي، ④ فَيَكُفَّ: نو بچ اوساتي.

تسهيلات:

قوله: لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ فَيَأْتِيَ بِحُزْمَةِ حَطَبٍ عَلَى ظَهْرِهِ:

د محنت او مزدورۍ عظمت: - مطلب دا چه په اوږو باندې لرګي وغيره بوج اوچتولوسره مزدوري كول دې نه بهتردې چه سړې د خلقو نه غوښتلوسره ګرځي اوهريوكس ته لاس خوروي. كه څوك هغه ته څه وركړي اوكه ورنه كړي اسلام يومسلمان ته د عزت نفس او محنت درس وركوي دا هم دَهغې حصه ده.

[١٨٤٢] د وركونكي په اخستونكي باندې فوقيت

١٨٤٢-(١)[٦] وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ: [٢] «سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَعْطَانِي، [٣] ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي، [٤] ثُمَّ قَالَ لِي: "يَا حَكِيمُ إِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرٌ حُلْوٌ، [٥] فَمَنْ أَخَذَهُ بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ بُورِكَ لَهُ فِيهِ، [٦] وَمَنْ أَخَذَهُ بِإِشْرَافِ نَفْسٍ لَمْ يُبَارَكْ لَهُ فِيهِ، [٧] وَكَانَ كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ، [٨] وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى"، [٩] قَالَ حَكِيمٌ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ [١٠] لَا أَرْزَأُ أَحَدًا بَعْدَكَ شَيْئًا حَتَّى أُفَارِقَ الدُّنْيَا»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حكيم ابن حزام رضي الله عنه وايي [٢] چې ما (يو ځل) د رسول الله ﷺ څخه څه وغوښتل نو حضور ﷺ راكړل [٣] ما بيا دوباره وغوښتل نو حضور ﷺ هغه وخت هم راته عطا كړل [٤] بيا يي ماته وفرمايل چې اي حكيم! دا مال سبز او شيرين دي (يعني په نظر كې خوشنما او زړه ته لذت وركونكي دي) [٥] كوم سړي چې دا مال بې پروايي سره (يعني بغير د سوال كولو او بغير دطمع او حرص) حاصلوي نو په هغې كې ورله بركت اچولې كيږي [٦] او څوك چې يي په طمع او حرص سره حاصلوي نو په هغې كې بركت نه وي [٧] او د هغه حالت د هغه سړي په شان وي چې طعام خو خوري خو د هغه نس (خيټه) نه ډكيږي (لكه چې د بې بركتي او د حرص د كثرت په وجه يي دا حال وي) [٨] او ياد لره دپاسه لاس (يعني نورو ته وركونكي لاس) د لاندې لاس (يعنى د نور څخه غوښتونكي لاس) څخه بهتر دى [٩] حكيم رضي الله عنه وايي

(١) اخرجه البخاری فی كتاب الزكاة/باب الاستعفاف عن المسألة (رقم-١٤٧٢) ومسلم فی كتاب الزكاة/باب بيان أن اليد العليا خير من اليد السفلى، وأن اليد العليا هى المنفقة وأن السفلى هى الآخذة (رقم) ٩٦ - (١٠٣٥) والترمذى فى السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب(رقم-٢٤٦٣) والنسائى كتاب الزكاة/باب مسألة الرجل فى أمر لا بد له منه(رقم-٢٦٠١) والدارمى من كتاب الزكاة/باب التشديد على من يسأل وهو غنى(رقم-١٦٨٤) واحمد فى المسند ٣/٤٣٤

چې (د دې په اوريدو سره) ما عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ قسم دې په هغه ذات چې ته ﷺ يې د حق سره رالیږلې يې [١٠] اوس به زه د هيچا څخه سوال ونه کړم تر دې چې زه د دې دنيا څخه جدا شم (يعني وفات شم) (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① خَضِرٌ: أَيْ طَرِيٌّ نَاعِمٌ: ترو تازه او خوندور. ② حُلْوٌ: أَيْ لَذِيذٌ: خوږ او مزيدار دې. ③ بُورِكَ: برکت به واچولې شي. ④ بِإِشْرَافٍ: أَيْ بِطَمَعٍ أَوْ حِرْصٍ: په طمع او لالچ سره، د نفس خوشحالولو دپاره. ⑤ يَدُ الْعُلْيَا: اى الْمُنْفِقَةُ: پورتنې لاس يعنى خرچ کونکې او ورکونکې لاس، ⑥ يَدُ السُّفْلَى: اى السَّائِلَةُ: لاندينې لاس يعنى غوښتونکې لاس، ⑦ لَا أَرْزَأُ: رَزَءَ يَرْزَءُ فتح يفتح نه دې. چاته تکليف ورکول پريشانه کول او سوال کولو سره دَ چانه مال اخستل. ⑧ أُفَارِقَ: جدا شم، يعنى وفات شم.

د راوي مختصر تعارف: د حديث د راوى نوم حکيم، کنيت ابوالخالد دپلار نوم حزام دې دوى د قبيله قريشى اسدى سره تعلق ساتلو او د حضرت ام المؤمنين خديجې وراره وو.

د فيل د واقعه نه ١٣ کاله وړاندې پيدا شوې وو. د جاهليت او اسلام په دواړو زمانو کښې ورته ډير دعزت په نظر سره کتلې شو. روستو ددوى اسلام ډير ښه وو. اوپه صحابؤ کښې ډيره زيرک، پوهه، دلاور او پرهيزګار وو. په شروع کښې په مؤلفة القلوب کښې وو. په زمانه د جاهليت کښې ئې سل غلامان آزاد کړى وو اوبيا د اسلام قبلولو نه پس ئې هم سل غلامان آزاد کړل

وفات: - ٥۴ هجرى کښې د ١٢٠ کالو په عمر کښې په مدينه منوره کښې په خپل کور کښې وفات شو د دوى د ژوند سره عجيبه خبره دا ده چه په يوسل شل کاله عمر کښې ئې شپيته کاله په جاهليت کښې تير کړى وو او شپيته کاله ئې په اسلام کښې تير کړل

مرويات: -د وى نه ۴٠ احاديث منقول دى په څلور احاديثو کښې بخارى او مسلم متفق دى (١)

تسهيلات:

قوله: بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ: دادَ بې نيازئى نه کنايه ده چه په زړه کښې دَ چانه څه غرض نه لرى.

قوله: بِإِشْرَافِ نَفْسٍ: دادَ حرص اولالچ نه کنايه ده چه دَ سينې دننه لکه چه دَ ده زړه په کتوسره طمع او لالچ کوى.

[١٨٤٣] د پورتنى لاس د ښکتنى لاس څخه غوره والى

١٨٤٣ـ (٢)[٤] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ [٢] وَهُوَ يَذْكُرُ الصَّدَقَةَ وَالتَّعَفُّفَ عَنِ الْمَسْأَلَةِ: [٣] " الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى، [۴] وَالْيَدُ الْعُلْيَا هِيَ الْمُنْفِقَةُ [٥] وَالسُّفْلَى هِيَ السَّائِلَةُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

(١) روضة الصالحين (٢٠٨١١)-

(٢) اخرجه البخارى فى كتاب الزكاة/باب لا صدقة إلا عن ظهر غنًى (رقم-١٤٢٩) ومسلم فى كتاب الزكاة/باب بيان أن اليد العليا خير من اليد السفلى، وأن اليد العليا هى المنفقة وأن السفلى هى الآخذة (رقم) ٩٤ - (١٠٣٣) وابوداود كتاب الزكاة/باب فى الاستعفاف(رقم-١٦٤٨) والنسائى كتاب الزكاة/باب اليد السفلى (رقم-٢٥٣٣) ومالک فى الموطا كتاب الصدقة /باب ما جاء فى التعفف عن المسألة(رقم-٨) واحمد فى المسند ٦٧/٢

ترجمه: [١] ابن عمر رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ په هغه موقعه باندې چې په منبر وو [٢] او د صدقې ذکر يې کولو او د سوال څخه د ځان ساتلو په باره کې يې خطبه ورکوله دا ارشاد يې وفرمايلو [٣] چې دپاسه لاس د لاندې لاس څخه بهتر دي [٤] دپاسه لاس خرچ کونکي (خلقو ته ورکونکي) لاس دي [٥] او لاندې لاس غوښتونکي (يعني د سوالګري لاس) دي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① التَّعَفُّفُ: هُوَالْكَفُّ عَنِ الْحَرَامِ: دحرام (سوال وغيره) نه ځان ساتل.

[١٨٤٤] دَسوال نه کولو فضيلت

١٨٤٤ - (١) [٨] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: [٢] «إِنَّ أُنَاسًا مِنَ الْأَنْصَارِ سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَعْطَاهُمْ، [٣] ثُمَّ سَأَلُوهُ فَأَعْطَاهُمْ حَتَّى نَفِدَ مَا عِنْدَهُ، [٤] فَقَالَ: "مَا يَكُونُ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ أَدَّخِرَهُ عَنْكُمْ، [٥] وَمَنْ يَسْتَعِفَّ يُعِفَّهُ اللَّهُ، [٦] وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ، [٧] وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللَّهُ، [٨] وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً هُوَ خَيْرٌ وَأَوْسَعُ مِنَ الصَّبْرِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابو سعيد خدري رضي الله عنه وايي [٢] چې يوه ورځ په انصارو کې څو سړو د حضور ﷺ څخه څه وغوښتل، حضور ﷺ هغوئ ته ور کړل [٣] هغوئ بيا وغوښتل حضور ﷺ بيا ورکړل تر دې چې د حضور ﷺ سره چې څه ووهغه ټول ختم شو [٤] د دې څخه روسته حضور ﷺ وفرمايل ما سره چې څه مال هم وي ستاسو څخه يې منع کولو سره نه ذخيره کوم [٥] (او ياد لرئ) کوم سړي چې د خلقو څخه د سوال کولو څخه ځان ساتي خداي ﷻ هغه (د خرابو ځيزونو څخه) ساتي [او هغه خلقوته نه محتاج کوي دغه شان د هغه خود داري باقي ساتي] [٦] او کوم سړي چې په انتهايي معمولي شي باندې قناعت کوي او د چا څخه سوال نه کوي نو الله ﷻ هغه ته قناعت آسانوي. [٧] او څوک چې (د سوالوکولوڅخه) صبر کوي (او د سوال څخه ځان بچ کوي (نو الله هغه ته د صبر توفيق ورکړي) او څوک چه صبر اوکړي نو الله ﷻ هغه ته صبر ورکوي (يعني کوم سړي چې د الله ﷻ څخه د صبر د توفيق طلب کوي الله ﷻ د هغه د پاره صبر آسانوي) [٨] او ياد لرئ چې د صبر څخه زيات بهتر او وسيع هيڅ يو بل شي چا ته نه دي عطا شوي (يعني د الله ﷻ په ټولو عطايا او بخشش کې صبر د ټولو څخه بهتره ورکړه ده) (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① نَفِدَ: أَيْ فَنِيَ: يعنى ختم شو. ② أَدَّخِرَهُ: ذخيره نې کړم ③ يَسْتَعِفَّ: سوال نه ځان ساتل، ④ يَسْتَغْنِ: ځان مستغنى ګنړی، بې پرواه شي. ⑤ يَتَصَبَّرْ: ځان صبر کوی (د سوال نه) ⑥ عَطَاءً: څه ورکړه، بخشش.

تسهيلات:

نوټ: - ددې حديث شرح په د بل حديث په تسهيل کښې ذکر ده.

(١) اخرجه البخاري في كتاب الزكاة/باب الاستعفاف عن المسألة (رقم-١٤٦٩) ومسلم في كتاب الزكاة/باب فضل التعفف والصبر (رقم) ١٢٤ - (١٠٥٣) وابوداود كتاب الزكاة/باب في الاستعفاف(رقم-١٦٤٤) والترمذى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الصبر(رقم-٢٠٢٤) والنسائى كتاب الزكاة/باب الاستعفاف عن المسألة(رقم-٢٥٨٨) والدارمي من كتاب الزكاة/باب في الاستعفاف عن المسألة(رقم-١٦٨٦) ومالك في الموطا كتاب الصدقة /باب ما جاء في التعفف عن المسألة(رقم-٧) واحمد في المسند ١٢/٣

[١٨٤٥] بغير د طمعې څخه د حاصليدونكې څيز قبلول

١٨٤٥–(١)[٩] ١ وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: ٢ «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُعْطِينِي الْعَطَاءَ، فَأَقُولُ: ٣ أَعْطِهِ أَفْقَرَ إِلَيْهِ مِنِّي، ٤ فَقَالَ: "خُذْهُ، فَتَمَوَّلْهُ وَتَصَدَّقْ بِهِ، ٥ فَمَا جَاءَكَ مِنْ هَذَا الْمَالِ وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ فَخُذْهُ ٦ وَمَا لَا فَلَا تُتْبِعْهُ نَفْسَكَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت عمر ابن خطاب رضی الله عنه وايي ٢ چې حضور صلی الله علیه وسلم چې به ماته د زكوة د وصولولو اجرت راكولو نو ما به عرض كولو ٣ چې دا هغه چاته وركړه چې زما څخه زيات محتاج وي ٤ حضور صلی الله علیه وسلم به په جواب كې فرمايل كه تا ته حاجت او ضرورت وي نو دا واخله په خپل مال كې يي شامل كړه او كه د حاجت او ضرورت څخه زيات وي نو خپله يي د الله جل جلاله په لار كې خيرات كړه ٥ (او دا به يي هم فرمايل) او كوم شي چې تا ته بغير د څه طمع او حرص او بغير دغوښتلو حاصل شي هغه قبول كړه ٦ او كوم شي چې دغه شان يعنى بغير طمع او حرص او بغير سوال څخه په لاس رانشي نو په هغې پسې مه وريسي كيږه. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① الْعَطَاءَ: بخشش، وركړه، ② أَفْقَرَ: أَيْ: أَحْوَجَ: چه زيات حاجت مند وى. ③ فَتَمَوَّلْهُ: أَيْ: اقْبَلْهُ وَأَدْخِلْهُ فِي مَالِكَ: يعنى دا زكوة قبول كړه او خپل مال كښې ئي شامل كړه. ④ غَيْرُ مُشْرِفٍ: أَيْ بِغَيْرِ طَمَعٍ أَوْ حِرْصٍ: دطمع او لالچ نه بغيء، د نفس خوشحالولو دپاره نه وى،

تسهيلات:

قوله: وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ فَخُذْهُ:

د مذكوره جملې مطلب: - د دې جملې مطلب دادې چې كوم څيز بغير د طمعې او حرص او غوښتلو څخه حاصل نشى نو دهغې د حاصلولو دپاره طمع مه كوئى او نه دهغې انتظار كښې اوسئ لكه څنګه چې وئيلې كيږى (لاردولاكد).

بغير طمعې حاصليدونكې څيزنه واپس كول: - په يو بل حديث مبارك كښې منقول دى چې كوم كس ته څه مال يا يو څيز بغير د طمعې او حرص څخه حاصل شو او هغه دې واپس كړى نو داداسې دى لكه چې ده دا څيز الله ﷻ ته واپس كړو يعنى ده دالله ﷻ د نعمت ناشكرى اوكړه

د نصيحت نه ډكه يوه واقعه: - منقول دى چې يو ځل حضرت امام احمد رحمه الله بازار ته لاړو او هلته دوئ څه سامان واخستو دا بنان جلال (مزدور) رااوچت كړواو حضرت امام احمد رحمه الله سره ئي كور ته راوړو هر كله چې دوئ كور ته داخل شو نو څه كورى چې روټې د يخيدو دپاره ايښودې شوى وې حضرت امام صاحب رحمه الله خپل ځوې ته اووئيل چې يوه روټې بنان ته وركړه ددوئ ځوئې چې كله بنان ته روټې وركوله نو هغه انكار اوكړو. كله چې بنان د كور نه بهر شو او واپس لاړو نو حضرت امام صاحب رحمه الله خپل ځوئې ته اووئيل چې ده پسې ورشه او روټې ورته وركړه ددوئ ځوئې بهر لاړو او روټې ئي ورته وركړه او هغه زر واخسته

١) اخرجه البخاري في كتاب الزكاة/باب من أعطاه الله شيئًا من غير مسألة ولا إشراف نفس {وفي أموالهم حق للسائل والمحروم} [الذاريات: ١٩] (رقم-١٤٧٣) ومسلم في كتاب الزكاة/باب إباحة الأخذ لمن أعطي من غير مسألة ولا إشراف (رقم) ١١٠ (١٠٤٥) والنسائي كتاب الزكاة/باب من آتاه الله عز وجل مالًا من غير مسألة(رقم-٢٦٠٨)واحمد في المسند ١٧/١

هغوئ ډير حيران شو چې اول ئې انکار اوکړو او اوس ئې روټې. واخستې آخر په دې کښې څه قصه ده هغه د حضرت امام احمد رحمه الله نه دې باره کښې تپوس اوکړو نو امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائيل چې کله بنان کور ته داخل شو نو هغه د خوراك يو شکلې څيز اوليدو دبشرى تقاضې مطابق د هغه په زړه کښې ددې خواهش پيدا شو او په زړه کښې ئې ددې طمعې او خواهش تابعدارى اوکړى نو د روټې. اخستلو څخه ئې انکار اوکړو خو کله چې هغه بهر لاړو او ددې روټې. څخه ئې طمع قطعي شوه او بيا تا هغه روټې. ورکړه نو اوس چونکه هغه ته دا روټې. بغير د طمعې او خواهشه په غير متوقع طريقې سره حاصله شوه په دې وجه هغوئ دا دالله ﷻ نعمت اوګنړلو او زړئې قبول کړه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٨٤٦] د ضرورت په وخت د مالدار څخه د سوال کولو جواز

١٨٤٦ — ([1]) [١٠] [١] عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«الْمَسَائِلُ كُدُوحٌ يَكْدَحُ بِهَا الرَّجُلُ وَجْهَهُ، [٣] فَمَنْ شَاءَ أَبْقَى عَلَى وَجْهِهِ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ [٤] إِلَّا أَنْ يَسْأَلَ الرَّجُلُ ذَا سُلْطَانٍ أَوْ فِي أَمْرٍ لَا يَجِدُ مِنْهُ بُدًّا»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] سمره ابن جندب رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] سوال کول يو زخم دي چې د هغې په ذريعه انسان خپل مخ زخمي کوي (په دې طور چې د چا په مخکې لاس نيول خپل آبرو او عزت په خاورو کې يو ځاي کول دي چې دا د خپل مخ زخمي کولو برابر دي) [٣] کوم سړي چې خپل عزت باقي ساتل غواړى [هغه دى د سوال کولو څخه شرم وکړى [او د چا په مخکې د لاس نه غوړولو سره دې خپل عزت باقى وساتى] او که يو سړى خپله آبرو باقي ساتل نه غواړي نو [د خلقو په مخکې دى د لاس په غزولو سره] خپل عزت په خاورو کې يو ځاي کړي [يعنى هغه دې باقي نه ساتي دا لکه چې د سوال کونکي د پاره تهديد او تنبيه ده چې د چا څخه سوال کول نه دي پکار] [۴] خو که سوال کول وي نو بيا د حاکم څخه دي سوال وکړى يا په داسې صورت کې دي سوال وکړي چې د هغه د پاره څه واقعي ضرورت او مجبوري وي. (ابوداؤد، ترمذي، نسايي)

حل اللغات: - ① كُدُوحٌ: الْجُرْحُ: زخم، دكَدَحَ يَكْدَحُ فتحَ يَفْتَحُ نه دَمخ خراش زخمونوته وائى. دَخپلو لاسونو په نوكونو سره خپل مخ پرې كولوسره زخمى كول مراد دى. ② بُدًّا: د خلاصون څه لار او علاج،

تسهيلات:

قوله: ذَاسُلْطَانٍ:

دې نه دَ ملك لوئى حاكم هم مراد كيدې شى اودَ لوئى حاكم نائب وړوكى حكمرانان مثلاً ګورنر يا وزير يا قاضى هم مراد اخستې شى.

---

[1] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب ما تجوز فيه المسألة(رقم-١٦٣٩) والترمذى كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى النهى عن المسألة(رقم-٦٨١) والنسائى كتاب الزكاة/باب مسألة الرجل ذا سلطان(رقم-٢٥٩٩) واحمد فى ا لمسند ٢٢/٥

قوله: إِلَّاأَنْ يَسْأَلَ الرَّجُلُ ذَاسُلْطَانٍ:

دحديث مطلب: - دَحديث مطلب دادې چه که ته هم سوال کول غواړې نوبيا کم نه کم داسې سړې نه کوه په چاچه ستاحق هم وی اوهغه حاکم يا دَ هغه نائب خلق دی. دچا په تصرف کښې چه بيت المال وی او په بيت المال کښې دَهرمسلمان حق دې. که چرې هغه تا مستحق ګنړې نو دربه کړی.

دحاكمانو څخه د هديه قبلولو دوه شرطونه: - دَ حکام ورکړه قبلولو کښې دَدوو خبرو خيال ساتل ضروری دی. ① بيت المال کښې که چرې حرام مال زيات وی نودَ هغه نه غوښتل يا دَ هغه ورکړه قبلول حرام دی اوکه چرې حلال مال زيات وی نوبيا قبلول جائز دی.
② په دې ورکړه سره دَ سړی مذهبی آزادی اودَ حق آواز اوچتولو باندې څه قدغن نه لګی.

[١٨٤٧] بغيرد مجبورئ څخه په سوال کولو باندې وعيد

١٨٤٧ — (¹) [١١] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ " «مَنْ سَأَلَ النَّاسَ وَلَهُ مَا يُغْنِيهِ ٣ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَسْأَلَتُهُ فِي وَجْهِهِ خُمُوشٌ أَوْخُدُوشٌ أَوْكُدُوحٌ "، ٤ قِيلَ: يَارَسُولَ اللّٰهِ وَمَا يُغْنِيهِ؟ ٥ قَالَ: " خَمْسُونَ دِرْهَمًا أَوْقِيمَتُهَا مِنَ الذَّهَبِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ کوم سړي چې د خلقو څخه د يو داسې شي په موجودګئ کې سوال کوي چې هغه لره مستغني جوړونکي وي ٣ نو هغه به د قيامت په ورځ په داسې حال کې پيښ شي چې د هغه په مخ به د هغه سوال په صورت د خموش يا خدوش يا کدوح کښې وي ٤ عرض وشو چې يا رسول الله! ﷺ مستغني جوړونکي څه څيز دي؟ ٥ حضور ﷺ ورته وفرمايل پنځوس درهم يا د دې د قيمت زر سره. (ابوداؤد، ترمذي، نسايي، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات: - ① مَا يُغْنِيهِ: چه دده دپاره کافی وی او د سوال نه ئې بې پرواه کوی، ② خُمُوشٌ أَوْخُدُوشٌ أَوْكُدُوحٌ: دا درې واړه قريب المعنٰی دی، زخم ته وائی، فرق صرف دا دې چه خمش هغه زخم چه په مخ کښې وی، او خدش چه په نوره ځرمن کښې وی، او کدح چه د ځرمن دپاسه وی.

تسهيلات: نوټ: - ددې حديث شرح په د بل حديث په تسهيل کښې ذکر ده.

[١٨٤٨] دغنی پيژندګلو

١٨٤٨ — (²) [١٢] ١ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ " «مَنْ سَأَلَ وَعِنْدَهُ مَا يُغْنِيهِ، فَإِنَّمَا يَسْتَكْثِرُ مِنَ النَّارِ» ٣ " قَالَ النُّفَيْلِيُّ وَهُوَ أَحَدُ رُوَاتِهِ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ ٤ " وَمَا الْغِنَى الَّذِي لَا تَنْبَغِي مَعَهُ الْمَسْأَلَةُ؟ ٥ قَالَ: قَدْرُ مَا يُغَدِّيهِ وَيُعَشِّيهِ " ٦ وَقَالَ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ " أَنْ يَكُونَ لَهُ شِبَعُ يَوْمٍ أَوْلَيْلَةٍ وَيَوْمٍ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ سهل ابن حنظليه رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ د کوم سړي سره

---

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب من يعطی من الصدقة، وحد الغنی (رقم-١٦٢٦) والنسائی کتاب الزکاة/باب حد الغنی (رقم-٢٥٩٢) وابن ما جة کتاب الزکاة/باب من سأل عن ظهر غنًی (رقم-١٨٤٠)

²) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب من يعطی من الصدقة، وحد الغنی (رقم-١٦٢٩) واحمد فی المسند ١٨٠/٤

چې دومره مال وي چې هغه مستغني کړي خو هغه د دې باوجود د خلقو څخه سوال کوي نو لکه چې هغه د اور زیاتوالي غواړي [یعنی کوم سړي چې بغیر د ضرورت او حاجت د خلقو څخه په غوښتلو غوښتلو سره مال وزر جمع کوي نو هغه لکه چې د دوزخ اور جمع کوي] [٣] نفیلي رحمه الله چې د دې حدیث د راویانو څخه یو راوي دې په یو بل ځاي (یعني په یو دویم روایت) کې نقل کوي [٤] چې [د حضور ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې] د مستغني کیدو څه حد دي چې د هغې په موجودګي کې د نورو خلقو څخه غوښتل ممنوع دي؟ [٥] حضور ﷺ ورته وفرمایل چې د سحر او ماښام په قدر خوراک، [٦] نفیلي رحمه الله یو بل ځاي (د حضور ﷺ جواب داسې نقل) کړي دي چې د هغه سره د یوې ورځې یا یوې شپې او ورځ په قدر خوراك وي راوي ته شك دي چې حضور ﷺ یواځې یوه ورځ فرمایلي ده یا یوه شپه او یوه ورځ یې فرمایلي ده. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① مَا یُغْنِیهِ: دومره مال چه دده دپاره کافي وي چه دسوال نه پرې بچ کیدې شي. ② یَسْتَکْثِرُ: نودې زیاتوالي کوي (د اور). ③ یُغَدِّیهِ: إِطْعَامُ طَعَامِ الْغُدْوَةِ: په چا باندې دسحر روټۍ خوړل، ④ یُعَشِّیهِ: إِطْعَامُ طَعَامِ الْعَشَاءِ: په چا باندې د ماسخوتن روټۍ خوړل ⑤ شِبَعٌ: مَا یُشْبِعُهُ مِنَ الطَّعَامِ: څومره خوراک چه دده د مړیدلو د پاره کافي وي.

تسهیلات:

قوله: مَا یُغَدِّیهِ وَیُعَشِّیهِ:

د روایاتو په مینځ کښې د تعارض دفع:- یعني چه دَ سحراوماښام دَ خوراك په اندازه سامان موجودوي نوسوال کول حرام دی لکه څنګه چه وړاندې لیکلې شوي دي چه دَ خلقودَ احوالو مختلف کیدو دَ وجې نه په احادیثوکښې غنی اوفقیر په بیان کښې فرق راغلې دې. داځه حقیقي تضاد یا تعارض نه دې. دَحضرت ابن مسعود رضی الله عنه په روایت کښې مستغني کیدودَپاره دَ پنځوس دراهم ذکردې.

د سوال د جواز دپاره د مالیت په مقدار کښې فقهاؤ مذاهب:-

① امام احمدبن حنبل، عبدالله بن مبارك اواسحاق بن راهویه رحمهم الله هم په دې روایت باندې عمل کړې دې اودا ئې خپل مسلك جوړ کړې دې.

② امام ابوحنیفه رحمه الله زیربحث دَ حضرت سهل بن حنظلیة رضی الله عنه روایت خپل مسلك قائم کړې دې.

③ بعضې علماؤ دَ عطاء بن یسار رحمه الله روایت معمول به جوړ کړې دې په کوم کښې چه دَ څلویښت دراهم ذکردې.

[١٨٤٩] د مالدار د مالدارۍ حد

١٨٤٩—(١)[١٣] [١] وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي أَسَدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] «مَنْ سَأَلَ مِنْكُمْ، وَلَهُ أُوقِيَّةٌ أَوْ عِدْلُهَا، [٣] فَقَدْ سَأَلَ إِلْحَافًا». رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

---

١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب من یعطی من الصدقة، وحد الغنی (رقم-١٦٢٧) والنسائی کتاب الزکاة/باب إذا لم یکن له دراهم وکان له عدلها(رقم-٢٥٩٦) واحمد فی ا لمسند ٤٣٠/٥

ترجمه: [١] عطاء ابن يسار د قبيلهٔ بني اسد د يو سړي څخه نقل كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] په تاسو كې چې كوم سړي د يو اوقيه (يعني څلويښت درهم) يا د دې د قيمت په قدر دسرو زرو وغيره مالك وي او د دې باوجود هغه د خلقو څخه غواړي [٣] نو هغه بطريق الحاف (يعني هغه د څه مجبوري څخه بغير) سوال وكړو ، (مالك، ابوداؤد، نسايي)

حل اللغات: - ① أُوقِيَّةٌ: دچاندۍ روپۍ ده د څلويښت درهمو برابر وی. ② إِلْحَافًا: أَيْ: إِلْحَاحًا وَإِسْرَافًا مِنْ غَيْرِ اضْطِرَارٍ: يعنى په منت زارۍ او اسراف سره ئي بغير د مجبورۍ نه سوال اوكړو.

تسهيلات: قوله : عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي أَسَدٍ:

د رجل په جهالت عدم جرح: - دلته ئي نوم پټ ساتلې دې په دې سره په هغه صحابی څه قدح نه لازميږي لأن الصحابة كلهم عدول.

قوله : وَلَهُ أُوقِيَّةٌ أَوْ عَدْلُهَا، فَقَدْ سَأَلَ إِلْحَافًا:

په رواياتو كښې تعارض: - ماقبل كښې د حضرت ابن مسعود ﷺ حديث مبارك كښې د غنى كيدو دپاره مقدار پنځوس درهم ذكر كړې شوی دی او د سهل بن الحنظلية ﷺ په حديث مبارك كښې د غنى كيدو دپاره مقدار شپه ورځ په مړۀ خيټه خوراك كول دی او په دې مذكوره حديث پاك كښې د اوقيه مقدار په اندازه غنى كيدو ذكر دې نو په دې دريواړه رواياتو كښې په ظاهره تعارض په نظر راځى؟.

د تعارض څخه دري جوابونه: - ① امام احمدبن حنبل دا دري واړه روايات په ابتداء اسلام باندې حمل كړې دی. اوآخری خبره د يوې ورځې كفاءت دې يعنى چا سره چې د يوې ورځې په اندازه خوراک موجود وی دهغه دپاره سوال كول جائز نه دې.

② داوقيه او خمسون درهما حديثونه منسوخ دی او د دې دپاره ((من سال الناس وعنده عدل خمس فقدسال الحافا)) حديث ناسخ دې.

③ د روايت زياته حصه د بل روايت په زياته حصې سره منسوخ شوه او باقی حكم تدريجا، يعنى اول حرمت د پنځوس دراهم لرونكو دپاره بيا د څلويښتو دراهم لرونكو دپاره او بيا په آخر كښې د يوې ورځې شپې خوراک باندې قدرت لرونكو دپاره د سوال كولو حرمت نازل شو.

[١٨٥٠] د مجبورۍ په وخت كښې د سوال كولو جواز

١٨٥٠ - [١٤] [١] وَعَنْ حُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَحِلُّ لِغَنِيٍّ [٣] وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ [٤] إِلَّا لِذِي فَقْرٍ مُدْقِعٍ، [٥] أَوْ غُرْمٍ مُفْظِعٍ، [٦] وَمَنْ سَأَلَ النَّاسَ لِيُثْرِيَ بِهِ مَالَهُ [٧] كَانَ خُمُوشًا فِي وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [٨] وَرَضْفًا يَأْكُلُهُ مِنْ جَهَنَّمَ، [٩] فَمَنْ شَاءَ فَلْيُقِلَّ، وَمَنْ شَاءَ فَلْيُكْثِرْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[1]

ترجمه: [١] حبشي ابن جناده رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] نه خو د غني د پاره غوښتل حلال دي (يعني د هغه سړي د پاره چې د يوې ورځې د خوراك مالك وي) [٣] او

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب من لا تحل له الصدقة (رقم-٦٥٣)

نه د تندرست او توانا او صحيح الاعضاء د پاره غوښتل حلال دي [۴] هو د هغه فقير د پاره غوښتل حلال دي چې فقر وفاقې په زمکه غورځولي وي [۵] دغه شان هغه قرضداري د پاره هم غوښتل حلال دي چې د درونډ قرض لاندي راغلي وي [٦] (ياد لرئ) کوم سړي چې يواځې د دې د پاره د خلقو څخه غواړي چې د هغه په مال وزر کې زياتوالى اوشي [٧] نو د قيامت په ورځ به د هغه غوښتل د هغه په مخ د زخم په صورت کې وي [٨] او په دوزخ کې به دا ګرم کاڼي خپل خوراك جوړ کړې شي چې هغه به يې خوري [٩] نواوس چې دچاخوښه وي کم سوال دې وکړي اودچاخوښه وي زيات سوال دې وکړي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① ذِي مِرَّةٍ: اى ذِى الْقُوَّةُ: چه طاقت ئې وى، مراد دا چه دَ بيمارئى نه خالى وى. ② سَوِيّ: أَيْ صَحِيحِ الْبَدَنِ: بدن ئې صحيح وى، اندامونه ئې پوره وى. (يعنى محنت مزدورى كولې شى). ③ مُدْقِعٍ: وَهُوَ التُّرَابُ: دَ باب افعال نه دې دقعاء خاورې ته وائى يعنى چه دومره سخت فقير وى چه دَهغه فقر هغه په خاورو کښې ملاؤ كړې وى. ④ غُرْمٍ: أَيْ: دَيْنٍ: يعنى قرضدارې وى. ⑤ مُفْظِعٍ: أَىْ: شَنِيعٍ مِثْقَالٍ: ډير خراب او درونډ قرض وى چه سړې د ويرې سره مخامخ كوى يعنى تباه كونكې قرض وى. ⑥ يُثْرِيَ: اى ليكثرماله: يعنى ذخيره كول اومال زياتولودَپاره سوال كوى. ⑦ خُمُوشًا: په مخ به ئې زخمونه وى. ⑧ رَضْفًا: أَيْ: حَجَرًا مُحْمِيًا: هغه كاڼړې چه په اور كښې ښه ګرم كړې شوې وى يعنى ګرم واړه كاڼړى به خورى.

تسهيلات:

نوټ:- ددې حديث شرح په د بل حديث په تسهيل کښې ذکر ده.

[١٨٥١] دَخپل لاس كټې بركت

١٨٥١-(١)[١٥] [١] وَعَنْ أَنَسٍ «أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ أَتَى النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَسْأَلُهُ، [٢] فَقَالَ: "أَمَا فِي بَيْتِكَ شَيْءٌ؟"، [٣] فَقَالَ: بَلَى حِلْسٌ نَلْبَسُ بَعْضَهُ، وَنَبْسُطُ بَعْضَهُ [۴] وَقَعْبٌ نَشْرَبُ فِيهِ مِنَ الْمَاءِ، [۵] قَالَ: "ائْتِنِي بِهِمَا" فَأَتَاهُ بِهِمَا، [٦] فَأَخَذَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِيَدِهِ، وَقَالَ: "مَنْ يَشْتَرِي هَذَيْنِ؟". [٧] قَالَ رَجُلٌ: أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمٍ، [٨] قَالَ: "مَنْ يَزِيدُ عَلَى دِرْهَمٍ؟" مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا، [٩] قَالَ رَجُلٌ: أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمَيْنِ، فَأَعْطَاهُمَا إِيَّاهُ، [١٠] فَأَخَذَ الدِّرْهَمَيْنِ، فَأَعْطَاهُمَا الْأَنْصَارِيَّ،

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه وايي چې يوه ورځ د انصارو څخه يو سړي د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کې راغي او د څه شي سوال يي اوکړو [٢] حضور صلى الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل چې آيا تا سره په کور کړي هيڅ هم نشته؟ [٣] هغه عرض وکړو صرف يو غټ کمبل دي چې د هغې څه حصه دپاسه ځان باندې اچوو او څه حصه لاندي خوروو [۴] د دې څخه علاوه يوه پيالي هم شته چې په هغې کې اوبه څښو [۵] حضور صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل دا دواړه څيزونه ماته راوړه، هغه دواړه څيزونه په خدمت کې پيش کړل [٦] حضور صلى الله عليه وسلم هغه دواړه څيزونه په خپل لاس مبارك کې اخستو سره وفرمايل دا څيزونه څوك اخلي؟ [٧] يو سړي اوويل زه دا دواړه څيزونه په يو درهم اغستلو ته تيار يم [٨] حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې دا څيزونه د يو درهم

[1]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب ما تجوز فيه المسألة(رقم-١٦٤١) وابن ماجة كتاب التجارات/باب بيع المزايدة(رقم-٢١٩٨) واحمد فى المسند ١١٤/٣

څخه زيات اغستونكي څوك شته ؟ حضور ﷺ داسي دوه يا دري ځله وفرمايل [٩] يو سړي اوويل چي زه دا دواړه په دوه درهم اخلم حضور ﷺ هغه دواړه څيزونه هغه ته ورکړل [١٠] د هغه څخه يي دوه درهمه واخستل او انصاري ته يي ورکړل.

[١] وَقَالَ: "اشْتَرِ بِأَحَدِهِمَا طَعَامًا، فَانْبِذْهُ إِلَى أَهْلِكَ، [٢] وَاشْتَرِ بِالْآخَرِ قَدُومًا، فَائْتِنِي بِهِ، [٣] فَأَتَاهُ بِهِ، فَشَدَّ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عُودًا بِيَدِهِ، [٤] ثُمَّ قَالَ: "اذْهَبْ، فَاحْتَطِبْ، وَبِعْ، [٥] وَلَا أَرَيَنَّكَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا" [٦] فَذَهَبَ الرَّجُلُ يَحْتَطِبُ وَيَبِيعُ، [٧] فَجَاءَهُ، وَقَدْ أَصَابَ عَشْرَةَ دَرَاهِمَ، [٨] فَاشْتَرَى بِبَعْضِهَا ثَوْبًا وَبِبَعْضِهَا طَعَامًا،

ترجمه: [١] او هغه ته يي وفرمايل چي په دي كي په يو درهم د خوراك سامان اغستلو سره خپل كور والاته يي وركړه [٢] او په دويم درهم تبر واخله او ماته يي راوړه [٣] هغه سړي تبر واغستلو او حضور ﷺ ته يي راوړو حضور ﷺ په هغه تبر كي پخپل لاس مبارك سره د يو مضبوط لرګي لاستي ولګولو [٤] بيا هغه ته يي وفرمايل چي دا واخله څه لرګي پريكولو سره جمع كوه او خرڅوه يي [٥] اوس د دې څخه روسته چي پنځلس ورځي زه دلته تا ونه وينم (يعني اوس دلته مه پاتي كيږه په خپل كار كي مشغول شه او محنت كوه) [٦] نو هغه سړي لاړلو لرګي يي جمع كول او خرڅول يي [٧] څه ورځي وروسته چي هغه د حضور ﷺ په خدمت كي حاضر شو نو مخكي چي د غوښتلو د پاره راغلي وو اوس هغه د لس درهم مالك وو [٨] هغه په هغه درهمو كي په څه كپړه او په څه غله واغستله

[١] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "هَذَا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تَجِيءَ الْمَسْأَلَةُ نُكْتَةً فِي وَجْهِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [٢] إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَصْلُحُ إِلَّا لِثَلَاثَةٍ: [٣] لِذِي فَقْرٍ مُدْقِعٍ، [٤] أَوْ لِذِي غُرْمٍ مُفْظِعٍ، [٥] أَوْ لِذِي دَمٍ مُوجِعٍ". [٦] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ إِلَى قَوْلِهِ: "يَوْمَ الْقِيَامَةِ".

ترجمه: [١] حضور ﷺ د هغه په حالت كي تبديلي ليدو سره وفرمايل چي دا صورت حال ستا د پاره ښه دي په نسبت د دې چي صبا د قيامت په ورځ ته په داسي حالت كي راشي چي ستا سوال ستا په مخ د خرابي نښي (يعني د زخم په صورت كي) وي [٢] او ياد لره چي صرف دري قسمه خلقو له سوال كول مناسب دي [٣] ① يو د هغه محتاج د پاره چي مفلسئ په زمكه راغورځولي وي [٤] ② دويم د هغه قرضداري د پاره چي دروند او د عدم ادائيګي په صورت كي د ذليل كونكي قرض د بوج لاندي [دباو شوي] راغلي وي [٥] ③ او دريم د صاحب خون د پاره چي درد ورسوي [يعنى د هغه سړي د پاره چي په هغه ديت واجب وي خواه كه هغه خپله د چا خون كړي وي او د هغې خون بها د هغه په ذمه وي يا يو بل سړي څه خون كړي وي او ده د هغه ذيت په خپله ذمه اخستي وي خو د هغې د آدائيګي قدرت نه لري نو د هغه د پاره هم جائز دي چي د هغه خون بها په قدر د چا څخه غوښتلو سره ادائيګي وكړي] ، [٦] ابوداؤد او ابن ماجه دا روايت تر يَوْمَ الْقِيَامَةِ پورې نقل كړي دي.

حل اللغات:- ① حِلْسٌ: كِسَاءٌ غَلِيظٌ: پيړ څادر، ټاټ، ② نَسُطُ: خوروو ئې په زمكه، ③ قَعْبٌ: أَيْ: قَدَحٌ: پيالئ ته وائى. ④ فَانْبِذْهُ: أَيِ: اطْرَحْهُ: اوغورزوه، ⑤ قَدُومًا: أَيْ: فَأْسًا: تبراو تيشئ ته وائى. ⑥ فَشَدَّ: مضبوط ئې كړو، ⑦ عُودًا: لرګي، لاسكي، ⑧ فَاحْتَطِبْ: أَيِ: اطْلُبِ الْحَطَبَ: يعنى لرګى راجمع كوه او

راوړه، ⑨ نُكْتَةً: أَيْ: عَلَامَةً قَبِيحَةً: بدښکاریدونکې اورسوا کونکې داغ به وی. ⑩ مُدْقِعٍ: أَيْ: شَدِيدٍ: ډیر زیات قرض چه په زمکه ئې راسملولې وی یعنی بر داشت کولې ئې نه شی. ⑪ غُرْمٍ: قرض ته هم وائی اود څه وجې نه تاوان برداشت کولوته هم وائی. ⑫ مُفْظِعٍ: أَيْ: شَنِيعٍ مِثْقَالٍ: ډیر خراب او درون قرض وی چه سړې د ویرې سره مخامخ کوی یعنی تباه کونکې قرض وی. ⑬ ذِي دَمٍ: دخون بها دیت که خپله ئې کړې وی اوکه دبل چا ذمه واری ئې اخستې وی. ⑭ مُوجِعٍ: أَيْ: مُؤْلِمٍ: درد او تکلیف رسونکې.

تسهیلات:

قوله: مُفْظِعٍ:

یعنی چه چا قتل کړې وی دهغه د وینې قیمت چا په خپله ذمه باندې اخستې وی اواوس ئې پوره کولې نه شی ددې د وجې نه په تکلیف کښې وی نوهغه سوال کولې شی دې د پاره چه د وینې د قیمت هغه پیسې اداکړې شی. موجع: د وجع نه د دردپه معنی کښې دې.

[١٨٥٢] صرف الله تعالی څخه خپل حاجت بیانول

١٨٥٢—(¹)[١٦] [١] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«مَنْ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ، [٣] فَأَنْزَلَهَا بِالنَّاسِ لَمْ تُسَدَّ فَاقَتُهُ، [٤] وَمَنْ أَنْزَلَهَا بِاللهِ أَوْشَكَ اللهُ لَهُ بِالْغِنَاءِ، [٥] إِمَّا بِمَوْتٍ عَاجِلٍ، [٦] أَوْ غِنًى آجِلٍ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ

ترجمه: [١] ابن مسعود رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] کوم سړي چې د فاقې (یعني سخت حاجت) سره مخ شی [٣] او هغه د خلقو په مخکې (په طور د شکایت) بیانولو سره د هغوئ څخه د حاجت روایي خواهش وکړي نو د هغه حاجت به نه پوره کیږي [٤] او کوم سړي چې یواځی خپل الله جل جلاله ته خپل حاجت بیان کړي نو الله جل جلاله به هغه ته زر فائده او اطمینان ورکړي [٥] په دې طور چې هغه ته به زر مرګ راولي (چې د دنیا د مشقتونو او تکلیفونو څخه نجات موندلو سره د الله تعالی د رحمت سره یو ځای شي) [٦] یا هغه به په څو ورځو کې مالدار جوړکړي چې خپل حاجت پوره کولو سره اطمینان محسوس کړي. (ابوداؤد ترمذي)

حل اللغات:- ① فَاقَةٌ: أَيْ: حَاجَةٌ شَدِيدَةٌ: سخت حاجت اوضرورت، تنګسیا او محتاجی، ② أَوْشَكَ: أَيْ: أَسْرَعَ وَعَجَّلَ: ډیر زر او نزدې.

تسهیلات:

قوله: ،وَمَنْ أَنْزَلَهَا بِاللهِ

د الله تعالی څخه د ویرې فائده:—څوک چې د الله ﷻ څخه ویریږی نو الله ﷻ دهغه دپاره د وتلو ځائې پیداکوی او هغه ته دداسې ځائې څخه رزق ورکوی چې دهغه په وهم وګمان کښې هم نه وی او څوک چې په الله ﷻ باندې بهروسه ساتی نو الله ﷻ هغه له کافی کیږی.

---

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة /باب فی الاستعفاف(رقم-١٦٤٥) والترمذی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی الهم فی الدنیا وحبها(رقم-٢٣٢٦) واحمد فی المسند ٤٠٧/١

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[١٨٥٣] دَ مجبورئی په وخت د نیکانو څخه سوال کول

١٨٥٣—(١) [١٧] [١] عَنِ ابْنِ الْفِرَاسِيِّ، أَنَّ الْفِرَاسِيَّ قَالَ: قُلْتُ لِرَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «أَسْأَلُ يَا رَسُولَ اللهِ؟ [٣] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "لَا وَإِنْ كُنْتَ لَا بُدَّ، فَسَلِ الصَّالِحِينَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] ابن فراسي وايي چې څما پلار بزرګوار حضرت فراسي رضي الله عنه اوويل [٢] چې ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړو چې يا رسول الله! صلی الله علیه وسلم زه د خلقو څخه سوال کولې شم؟ [٣] رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل نا (بلکه په هرحالت کې په الله جل جلاله باندې بهروسه کوه) خو که د څه شديد او سخت حاجت په وجه غوښتل ضروري وي نوبيا دنيک بختو څخه يي غواړه. (ابوداؤد نسايي)

حل اللغات:- ① لَابُدَّ: أَيْ: اَلْبَتَّةَ وَلَا مَحَالَةَ، که خامخا ضروری وی.

تسهيلات:

قوله: فَسَلِ الصَّالِحِينَ:

د نيکانو څخه د سوال کولو فائدې:- دې نه نيکان صالحان اوخيرخواه خلق مراددی که چرې يوسړې مجبورشو اودَ مجبورئی دَ وجې نه هغه دَنيکانوخلقونه پيسې اوغواړی. ① دانيک سړې به دغه سوال کونکې رسوا کوی نه او په حلال ګټه سره به ئی امدادکوی.

② هغه به مسلسل دَ دغه مجبوردَپاره دَ وسعت دعا کوی.

دامام احمد بن حنبل او دهغوی د ځوی سخاوت:- ملاعلی قاری رحمه الله ليکلی دی دَ بغداد فقراء به دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله نه سوال کولو. دَ امام احمد رحمه الله دَ ځوئی دا حالت وو چه هغه به دَ محتاجودَ سهولت دَپاره به دَ کور دروازې سره اوده کيدو.

[١٨٥٤] دبيت المال څخه د کار د اجرت اخستلو جواز

١٨٥٤—(٢) [١٨] [١] «وَعَنِ ابْنِ السَّاعِدِيِّ، قَالَ: [٢] اسْتَعْمَلَنِي عُمَرُ عَلَى الصَّدَقَةِ، [٣] فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنْهَا، وَأَدَّيْتُهَا إِلَيْهِ، أَمَرَلِي بِعُمَالَةٍ، [٤] فَقُلْتُ: إِنَّمَا عَمِلْتُ لِلّٰهِ، وَأَجْرِي عَلَى اللهِ، [٥] قَالَ: خُذْ مَا أُعْطِيتَ، [٦] فَإِنِّي قَدْ عَمِلْتُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَعَمَّلَنِي، فَقُلْتُ مِثْلَ قَوْلِكَ، [٧] فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "إِذَا أُعْطِيتَ شَيْئًا مِنْ غَيْرِ أَنْ تَسْأَلَهُ، فَكُلْ وَتَصَدَّقْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] ابن ساعدي وايي [٢] چې اميرالمؤمنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه زه د زکات په وصولولو باندې مقرر کړم [٣] کوم وخت چې زه د زکات د وصولولو څخه فارغه شوم او د زکات مال مي د حضرت عمر رضي الله عنه په خدمت کې ورسولو نو ماته د زکات د وصولولو د

(١) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الزكاة/باب فی الاستعفاف(رقم-١٦٤٥) والنسائی كتاب الزكاة/باب سؤال الصالحين(رقم-٢٥٨٧) واحمد فی المسند ٣٣٤/٤

(٢) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الزكاة/باب فی الاستعفاف(رقم-١٦٤٧)

اجرت راکولو حکم يي اوکړه [۴] ما عرض وکړو چې ما دا کار يواځې د الله جل جلاله د رضا حاصلولو د پاره کړي دي نو زما د پاره د دې ثواب هم د الله جل جلاله په ذمه دي [۵] حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل چې کوم شي تا ته درکول کيږي هغه قبول کړه [۶] ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه مبارکه کې ما د زکات وصولولو کار اوکړو او حضور صلی الله علیه وسلم ماته عطا کول وغوښتل نو ماهم دغه شان عرض وکړو کوم چې اوس يي ته کوي [۷] نو حضور صلی الله علیه وسلم ماته وفرمايل چې هر کله څه شي تا ته بغير د طلب او بغير د طمع درکول شي نو ته هغه اخستو سره خوره (چيزي که بي سوال رسد داده خدا است) او [څه چې ستا د ضرورت څخه زيات وي هغه د الله جل جلاله په لار کې] خيرات کړه. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① اسْتَعْمَلَنِي: أَيْ:جَعَلَنِي عَامِلًا: عامل ئې جوړکړم يعنې په زکوة راټولولو ئې مقررکړم. ② الصَّدَقَةِ: زکوة ته وائی. ③ بِعُمَالَةٍ: أُجْرَةُ الْعَمَلِ: د زکوة راټولولو مزدوری، معاوضه.

تسهیلات:

قوله: فَقُلْتُ: إِنَّمَا عَمِلْتُ لِلّٰهِ، وَأَجْرِي عَلَى اللّٰهِ:

په دينی کار باندې د تنخواه اخستلو ثبوت:- ددې حديث پاك څخه معلومه شوه چې دخپل هر يو کار او هر يو خدمت اجرت دبيت المال څخه اخستل جائز دی هغه خدمت دې فرض ولې نه وی لکه قضاء احتساب اودرس وتدريس وغيره بلکه امام وقت دپاره ضروری دی چې هغه دې نه صرف دداسې خلقو بلکه هغه خلق کوم چې د بيت المال په معامله کنبې دده په حکم کنبې شامل دی د هغوئ هم خير خبر اخلی

بغير طمعې دڅه څيز په قبلولو کښې اختلاف:- دا حديث مبارك او ددې مخکښې تير شوې حديث چې د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه باره کښې دې په ظاهره په دې دلالت کوی چې که يو کس چا ته دهغه د طمعې او لالچ څخه بغير څه څيز ورکړی نو ددې قبلول واجب دې دامام احمد بن حنبل هم دا مذهب دې. خو جمهوردا په استحباب او اباحت باندې حمل کوی.

[١٨٥٥] په مقدسو مقاماتوکښې د سوال کولو څخه پرهيزکول

١٨٥٥—(¹)[١٩] [١] وَعَنْ عَلِيٍّ، أَنَّهُ سَمِعَ يَوْمَ عَرَفَةَ رَجُلًا يَسْأَلُ النَّاسَ، [٢] فَقَالَ: أَفِي هٰذَا الْيَوْمِ وَفِي هٰذَا الْمَكَانِ تَسْأَلُ مِنْ غَيْرِ اللّٰهِ؟ [٣] فَخَفَقَهُ بِالدِّرَّةِ. رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [١] د حضرت علي کرم الله وجهه په باره کې منقول دي چې هغه د عرفې په ورځ يو سړي د خلقو څخه په سوال کولو وليدلو [٢] نو هغه ته يي وفرمايل چې اي بدنصيبه نن او په دي ځاي ته د الله جل جلاله څخه علاوه د نورو خلقو څخه سوال کوي [٣] بيا هغه سړي يي په دوره ووهلو. (زرين)

حل اللغات:- ① فَخَفَقَهُ: أَيْ: ضَرَبَهُ: اوئې وهلو. ② الدِّرَّةِ: کوره.

(¹) اخرجه رزين

تسهیلات:

قوله: فَخَفَقَهُ بِالدِّرَّةِ:

د حضرت علی رضی الله سوال کونکی لره د وهلو وجه:- حضرت علی رضی الله عنه هغه سړي څکه په کوړه اووهلو چه هغه بې همته دَ عرفات په میدان کښې الله تعالی پریخودو او دَ خلقو نه به ئې غوښتل کول. دې نه معلومه شوه چه دَ حرمین شریفین جماتونه او په مقدس مقاماتو کښې صرف دَ الله تعالی نه سوال کول پکاردی. دَ دعا دَ قبلیدو په موقع باندې دَغیر الله نه غوښتل څومره خرابه خبره ده.

د بهاؤالدین رحمه الله عجیبه حکایت:- ملاعلی قاری رحمه الله لیکی چه شیخ بهاؤالدین نقشبندی رحمه الله حج دَپاره لاړو. چا دَهغوی نه پوښتنه اوکړه چه دَ حج په سفر کښې تاسو کومه یوه عجیبه خبره اولیدله؟ وئی فرمائیل ما په منی کښې یو ځوان هلك اولیدلو چه په خرڅولو او اخستلو کښې اخته وو خو یوشان دَالله تعالی په یاد اوذکر کښې مشغول وو. یولمحه دَ الله تعالی نه غافل نه وو. بیا ما دَ بیت الله دَ ملتزم سره یولوئی عالم فاضل شیخ اولیدلو چه هغه هلته دَ دنیا سوال کولو.

د احقر شاه فیصل واقعه:- زه یوځل په رمضان کښې حرمینو شریفینو ته تلې وو. څو روزې مې په پاکستان کښې تیرې کړې وې دلته خو مونږ په ګرمی. کښې د شربتونو عادت یو. او په حرمی مکی کښې روژه ماتې په قجورو او زمزم په اوبو باندې کیږی. خیر زه خانه کعبې ته مخامخ په مطاف کښې ناست ووم. زه چې په کوم صف کښې ناست وو. د هغې څخه یو څو صفونه وړاندې یو کس شربت تقسیمولو. زما ورته ډیر زیات زړه اوشو. نو د الله تعالی څخه مې سوال اوکړو. یا الله د غه شربت درڅخه نه غواړم. لنډه دا چې ماته د رارسیدو نه وړاندې هغه شربت ختم شو. کله چې د پلاسټک درستخوانونه راغونډول شروع شول. نو یو ماشوم ته یو ګلاس شربت ورکړې شوې وو. خو هغوی هغه شربت اونه څکلو او روان شو. هغه ئې هلته پریخودو. ما سوچ اوکړو چې دا زما د دعا قبولیت دې. چې الله تعالی د ماشوم د شربت اشتها ختمه کړه. او شربت ئې پریخودلو. زه ورغلم او هغه شربت مې راؤچت کړل اومې څکلو اوپه دې مې یقین نور هم زیات شو. چې دلته څوک څه سوال هم کوی الله تعالی ئې قبلوی.

د یو نومسلم واقعه:- شیخ فضل محمد صاحب لیکلی دی چې ،، بنده یو قاری صاحب اولیدلو چه هر کال حج او عمرې ته ځی نوې مسلمان شوې نیك سړې دې هغه وائی چه ما یوځل دَ ملتزم دَپاسه دواړه لاسونه کیخودل او دَمجبورئی دَ وجې نه مې دَالله تعالی نه نسوار اوغوښتل. ما اوکتل چه دوه پوټږئی نسوار زما په دواړو لاسونو کښې راپریوتل ما هغه استعمال کړل او څه بزرګانو ته مې هم ورکړل.،،

[١٨٥٦] دغير الله څخه طمعه کول

١٨٥٦—(١)[٢٠] [١] وَعَنْ عُمَرَ، قَالَ: تَعْلَمُنَّ أَيُّهَا النَّاسُ [٢] أَنَّ الطَّمَعَ فَقْرٌ [٣] وَأَنَّ الْإِيَاسَ غِنًى، [٤] وَأَنَّ الْمَرْءَ إِذَا يَئِسَ عَنْ شَيْءٍ اسْتَغْنَى عَنْهُ. رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [١] د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په باره کې منقول دي چې خلق مخاطب کولو سره يې ورته وفرمايل اي خلقو پوهه شي [٢] طمع محتاجي ده [٣] او د خلقو څخه نا اميده کيدل توانګري اوبې پروايي ده [٤] انسان چې کله د يوشي څخه نا اميده شي نو دهغه څخه بې پروا شي. (رزين)

حل اللغات:- ① اَلْاِيَاسَ: نا اُميدي، ② اِسْتَغْنٰى: بې پرواه کيږي.

تسهيلات: قوله: أَنَّ الطَّمَعَ فَقْرٌ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① طمع محتاجي ده ددې يومطلب دادې چې دا د محتاجۍ يو صورت دې

② طمع د محتاجۍ ذريعه ده يعنی د طمعې په وجه انسان محتاج جوړيږي هغه داسې چې دخپلې طمعې پورا کولو دپاره د نورو څخه سوال کوی او ددې نه دده محتاجي ظاهريږي

قوله: وَأَنَّ الْإِيَاسَ غِنًى:

په نااميده کيدو د غنا اطلاق:- نا اميدی دغنی کيدو سبب دې ددې مطلب دادې چې د انسان نه نااميدی مستغنی اوبې پرواه جوړوی کله چې يو کس ته د يو څيز د ملاويدو اميد نه وی نو دهغې د اخستلو کوشش به نه کوی هرکله چې کوشش نه کوی نو هم دا دده غنا ده د يو انسان نه نااميدی د دوؤ راحتونو نه يو راحت دې ابوالحسن شاذلی رحمه الله نه چا د کيمياء په باره کښې تپوس اوکړو نو وې فرمائيل چې مخلوق خدا نه نظر واړوه او څه چې ستاپه مقدر کښې ليکلې شوی دی د هغې نه علاوه د نورو څيزونو نه اميد منقطع کړه هم داکيمياء ده. (مرقاة ج/٤ص/١٨٣).

[١٨٥٧] دَسوال نه کونکودَپاره بشارت

١٨٥٧—(٢)[٢١] [١] وَعَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] «مَنْ يَكْفُلُ لِي أَنْ لَا يَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا فَأَتَكَفَّلَ لَهُ بِالْجَنَّةِ» [٣] فَقَالَ ثَوْبَانُ: أَنَا، فَكَانَ لَا يَسْأَلُ أَحَدًا شَيْئًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت ثوبان رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [٢] کوم سړي چې ما سره د دې خبرې عهد وکړي چې هغه به د خلقو څخه سوال نه کوي نو زه د هغه د پاره د جنت ضامن يم [٣] (ثوبان رضي الله عنه وايي چه) ما وعده وکړه چې زه به هيڅ کله د چا په مخکې لاس نه غزوم نو ثوبان رضي الله عنه به د هيچا مخکې لاس نه غزولو (خواه هغه به په هر څومره تنګسيا کې مبتلا ولې نه وو. (ابوداؤد نسايي)

حل اللغات:- ① مَنْ يَكْفُلُ: أَيْ: مَنْ يَضْمَنُ: ضمانت، ذمه واری،

---

(١) اخرجه رزين

(٢) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الزکاة/باب کراهية المسألة(رقم-١٦٤٣) واحمد فی المسند ٢٧٥/٥

تسهيلات:

قوله : عَنْ ثَوْبَانَ

د ثوبان مصداق: -دده شخه مراد ثوبان ابن وجد دي او دده كنيت ابو عبدالله يا عبدالرحمن دي دي د مكې او يمن د مينځ نه قيدئ جوړ شوی او راغلې وو او حضرت رسول كريم ﷺ دې اخستې وو دې د حضرت رسول كريم ﷺ د حضراوسفر ملګرې وو تر دې چې كله حضرت رسول كريم ﷺ وفات شو نو دې شام ته لاړو اورمله كښې ئې قيام اوكړو او بيا حمص ته لاړو او هم هغه ځائې كښې د ځلورپنځوسو كالو په عمر وفات شو

په خپله وعده قائم پاتې كيدل: - خلقو ته لاس نه نيولو متعلق چې ده شخه كومه وعده اخستې شوې وه هغې كښې دې هم شريك وو ده تر آخرى ژوند پورې سوال او نه كړو په دې كښې دې طرفته اشاره ده چې د سوال نه كولو والاخاتمه بهٔ بالخير كيږى

دسوال كولواستثنائی صورت: -د غوښتلو يوصورت مستثنی دې چې كله سړې مضطروی نو بيا غوښتلې شی ځكه چې اصول دادی (الضرورات تبيح المحظورات) هم په دې وجه ځينې حضراتو وئيلی دی چې كه څوك مضطر وی اودسوال كولونه بغير مړ شی نو نافرمان مړ شو

[١٨٥٨] دچاڅخه د سوال نه كولو حكم

١٨٥٨—(١)[٢٢] [١] «وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: دَعَانِي رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] وَهُوَ يَشْتَرِطُ عَلَيَّ أَنْ لَا تَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا، قُلْتُ: نَعَمْ، [٣] قَالَ: "وَلَا سَوْطَكَ إِنْ سَقَطَ مِنْكَ حَتَّى تَنْزِلَ إِلَيْهِ فَتَأْخُذَهُ"» رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] ابوذر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ زه وبللم [٢] او د دې خبرې اقرار يې را څخه واخستو چې هيڅ كله به د چا څخه څه شي نه غواړم ما د دې خبرې اقرار اوكړو [٣] بيا حضور ﷺ دا وفرمايل چې كه ستا څخه كوړه هم وغورځيږي نو د چا څخه يې مه غواړه (يعني چاته د اوچتولو د پاره مه وايه) بلكه د خپلی سورلۍ څخه را خكته كيدو سره يې اوچتوه. (احمد)

حل اللغات: - ① سَوْطَكَ: چابک، كوړه.

تسهيلات:

قوله : وَهُوَ يَشْتَرِطُ عَلَيَّ:

په حالت اضطراری كښې د سوال كولو وجوب: -په اضطراری حالت كښې دَ ځان بچ كولودپاره سوال كولوسره غوښتنه كول اوځان بچ كول ضروری دی. پورته په دواړو احاديثو كښې چه د سوال نه كولوكومه خبره كړې شوې ده داد اضطراری حالت نه علاوه صورت دې. اضطراری حالت كښې خو "الضرورات تبيح المحظورات" باندې عمل كيږی اود ځان بچ كولو د حد پورې غوښتنه كول اود ذخيره كولودپاره نه.

(الحمد لله ! ځلورم جلد ختم شو.)

....

(١) اخرجه احمد فی المسند: ١٨١/٥